فتح الهداية

شرح

هداية

د اول ځل لپاره په آسانه معیاري پښتو
د هدایې یوه جامع شرحه

ژباړه او ترتیب

مولوي حبیب الرحمن مدني
فاضل وفاق المدارس العربیه

صداقت کتب خانه
کندهار

وَاللّٰهُ يَهْدِیْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ [القرآن]

فتح الهدايه

پښتو شرح

هدايه

د اول ځل لپاره په آسانه معياري پښتو
د هدايې يوه جامع شرحه

د حديثونو تخريج
د متن بشپړ اعراب
صرفي تحقيق
د لغاتو حل

پر فقهي او ضروري معلوماتو
مشتمله يوه جامع مقدمه

تعيين د قول راجح
د هرې جملې تر څنګ ژباړه
د عنواناتو اضافه
صورت د مسئلې

خلورم ټوک

باب الإيــلاء - باب اليمين فی تقاضی الدراهم

ژباړه او ترتيب:

مولوی حبيب الرحمن مدني

فاضل وفاق المدارس العربيه

صداقت كتب خانه

بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب پېژندنه

❁ د کتاب نوم	: فتح الهدایه پښتو شرح هدایه
❁ ژباړه او ترتیب	: مولوي حبیب الرحمن مدني
❁ ټوک	:څلورم ټوک
❁ خپرندوی	: صداقت کتب خانه/ کندهار
❁ کمپوز/ ډیزاین	: صداقت د کتاب چاپولو اداره
❁ د چاپ کال	: ۱۳۹۷ ل./ ۱٤۳۷ هـ.ق. / ۲۰۱۹ م.
❁ د خپرونو لړ	: ۲٦۷
❁ چاپ شمېر	

د تر لاسه کولو ځای:

صداقت کتب خانه

کندهار – افغانستان

تلیفون: ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

ایمیل: sadaqat.books@gmail.com

فهرس



بَابُ الْإِيْلَاءِ

(دا) باب د ایلاء (د احکامو په بیان کي) دی

تشريح: ښکاره دي وي چي ښځه په څلورو طريقو سره حراميږي: ① طلاق. ② ايلاء. ③ ظهار. ④ لعان. په دې ټولو کي اول مصنف رَحِمَهُ الله د طلاق احکام او تفصيلات بيان کړل: ځکه چي طلاق په تحريم کي اصل دی او په خپل وخت کي مباح دئ. اوس تر هغه وروسته د ايلاء احکام بيانوي: ځکه چي ايلاء طلاق ته په اباحت کي ډېره نژدې ده: ځکه ايلاء مشروع يمين ته وايي. علامه اتزاري رَحِمَهُ اللهِ عَلَيْهِ فرمايي چي قياساً پکار دا وه چي صاحب د هدايې اول خلع ذکر کړې واى: ځکه چي خلع هم يو ډول طلاق دی خو څرنګه چي خلع د ښځي له طرفه وي او د مال په عوض کي وي. نو په دې وجه يې هغه تر ايلاء وروسته ذکر کړه او ايلاء يې د طلاق سره متصل ذکر کړه. (بناية ج:۵، ص:۲۶۸)

د ايلاء لغوي او اصطلاحي معنی: ايلاء د افعال د باب مصدر دی: اٰلیٰ يُوْلِيْ اِيْلَاءً. د اِيْلَاء لغوي معنیٰ ده: قسم کول (قسم اخيستل).

او د ايلاء شرعي معنیٰ ده: مَنْعُ النَّفْسِ عَنْ قِرْبَانِ الْمَنْكُوْحَةِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ فَصَاعِدًا مَنْعًا مُؤَكَّدًا بِالْيَمِيْنِ. (يعني څلور مياشتي يا تر دې زيات ښځي ته د "نه نژدې کېدلو" او جماع نه کولو قسم کول).

کله چي خاوند داسي قسم وکړي او بيا څلور مياشتي ښځي ته نژدې نه سي. نو يو طلاق بائن واقع کيږي. او که قسم مات کړي او ښځي ته نژدې سي. نو بيا به د قسم کفاره اداء کوي. او که يو سړی له څلورو مياشتو څخه کم د "نه نژدې کېدلو" قسم وکړي. نو په محاوره کي دې ته هم ايلاء وايي. لېکن په دې سره طلاق نه واقع کيږي خو بيا هم که هغه په دغه کم مودت کي ښځي ته نژدې سي. نو د قسم کفاره به اداء کوي.

د ايلاء شرعي تعريف او حکم

وَإِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِامْرَأَتِهِ: وَاللهِ لَا أَقْرَبُكِ او کله چي خاوند خپلي ښځي ته ووايي: په الله قسم! زه به تا ته نه نژدې کېږم ايعني په خداى قسم که در نژدې سم. او په خداى قسم که وطي در سره وکړم أَوْ قَالَ: وَاللهِ لَا أَقْرَبُكِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ يا داسي او وايي: په الله قسم! زه به تا ته څلور مياشتي نه نژدې کېږم فَهُوَ مُوْلٍ نو هغه ايلاء کونکی دی لِقَوْلِهِ تَعَالَى: لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ [البقرة: ۲۲۶] ځکه الله

تعالیٰ فرمايلي دي: ا او ا کوم خلک چې قسمونه کوي د خپلو ښځو اله جماع ا څخه د هغو لپاره ځلور مياشتې انتظار کول دي.

اللغات: ﴿لَا أَقْرَبُ﴾ د سمع له باب څخه د نفي صيغه ده: نژدې کېدل، نژدې راتلل (مراد ځني وطي کول دي). ﴿مُؤْلٍ﴾ د افعال له باب څخه د اسم فاعل صيغه ده. په اصل کې مُؤْلِيٌ وو پر وزن د مُفْعِلٌ: ايلاء کونکی، قسم کونکی. ﴿تَرَبُّص﴾ د تفعل مصدر دی: انتظار کړل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دې که يو سړی د ور حوالې صراحت څخه بغير مطلقاً خپلې ښځې ته ووايي: وَاللهِ لَا أَقْرَبُكِ، نو په دې صورت کې هغه بالإجماع ايلاء کونکی شمارل کيږي. لېکن که هغه د ورځو صراحت وکړي او داسې ووايي: وَاللهِ لَا أَقْرَبُكِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ. يعني أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ په ښکاره لفظو سره ذکر کړي، نو په دې صورت کې فقط زموږ په نېز هغه ايلاء کونکی ګرځي. لېکن د شوافعو او مالکيه وو په نېز هغه ايلاء کونکی نه ګرځي: ځکه چې د دې حضراتو په نېز په دغه صورت کې د ځلورو مياشتو له پوره کېدلو څخه وروسته قسم پوره کيږي او په ځلورو مياشتو کې دننه خاوند ته د رجعت کولو حق سته. لهذا تر څو چې هغه تر ځلورو مياشتو د زيات قسم نه وکړي، نو تر هغه وخته پوري ايلاء کونکي نه ګرځي (خو کله چې تر ځلورو مياشتو زيات قسم وکړي که څه هم يوه ورځ زياته کړي. نو بيا د دوی په نېز هغه ايلاء کونکي ګرځي).

لېکن دا آيت: لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ (الآية) د دغه حضراتو په خلاف حجت او دليل دی: ځکه چې په دې آيت کې تَرَبُّص او انتظار فقط پر أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ (ځلورو مياشتو) موقوف کړی سوی دی او پر ځلورو مياشتو هيڅ زياتوب نه دي سوی. لهذا بل چا ته به هم پر دې آيت د اضافه او زياتوب کولو هيڅ حق نه وي.

د ايلاء په مودت کې د وطي (جماع) کولو يا نه کولو بيان

فَإِنْ وَطِئَهَا فِي الْأَرْبَعَةِ الْأَشْهُرِ نو که [خاوند] د دغه ښځې سره په ځلورو مياشتو کې ادننه ا وطي وکړي حَنِثَ فِي يَمِيْنِهِ نو هغه په خپل قسم کې حانث کيږي وَلَزِمَتْهُ الْكَفَّارَةُ او کفاره پر لازميږي لِأَنَّ الْكَفَّارَةَ مُوْجِبُ الْحِنْثِ ځکه چې کفاره د حانث کېدلو واجبونکې ده ايعني کفاره حنث واجبوي ا وَسَقَطَ الْإِيْلَاءُ او ايلاء ساقطيږي لِأَنَّ الْيَمِيْنَ تَرْتَفِعُ بِالْحِنْثِ ځکه چې قسم په حانث کېدلو سره ختميږي وَإِنْ لَمْ يَقْرَبْهَا حَتّٰى مَضَتْ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ او که ا خاوند ا ښځې ته نژدې نه سي تر دې چې ځلور مياشتې تيرې

سي بَانَتْ مِنْهُ بِتَطْلِيقَةٍ نو ښځه په يوه طلاق سره بائنه كيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تَبِيْنُ بِتَفْرِيْقِ الْقَاضِيْ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [په دې صورت كي به] ښځه د قاضي په تفريق سره بائنه كيږي لِأَنَّهُ مَانِعٌ حَقَّهَا فِي الْجِمَاعِ ځكه چي خاوند په جماع كي د ښځي د حق مانع دى ايمتي په ايلاء كي خاوند د ښځي د جماع حق له هغې څخه منع كړى دى] فَيَنُوْبُ الْقَاضِيْ مَنَابَهُ فِي التَّسْرِيْحِ نو په تسريح كي به قاضي د هغه قائم مقام كيږي كَمَا فِي الْجَبِّ وَالْعِنَّةِ لكه په مقطوعُ الذكر او عنين كي [چي قاضي قائم مقام كيږي] وَلَنَا: أَنَّهُ ظَلَمَهَا بِمَنْعِ حَقِّهَا زموږ دليل دا دى: چي خاوند د ښځي د حق په منع كولو سره پر هغې ظلم كړى دى فَجَازَاهُ الشَّرْعُ بِزَوَالِ نِعْمَةِ النِّكَاحِ عِنْدَ مُضِيِّ هٰذِهِ الْمُدَّةِ لهذا شريعت هغه ته د ايلاء د مودت د پوره كېدلو په وخت كي د نكاح د نعمت په زائلولو سره بدله [سزا] وركړه وَهُوَ الْمَأْثُوْرُ عَنْ عُثْمَانَ وَعَلِيٍّ وَالْعَبَادِلَةِ الثَّلَاثَةِ وَزَيْدِ ابْنِ ثَابِتٍ او همدا [حكم] د عثمان، علي، عبادله ثلاثه او زيد بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِيْنَ څخه نقل سوى دى وَكَفٰى بِهِمْ قُدْوَةً او [زموږ لپاره] د هغو اقتداء [او لاربنوونه] كافي ده وَلِأَنَّهُ كَانَ طَلَاقًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ او ځكه چي ايلاء د جاهليت په زمانه كي طلاق وو فَحَكَمَ الشَّرْعُ بِتَأْجِيْلِهِ إِلَى انْقِضَاءِ الْمُدَّةِ نو شريعت [د ايلاء] د مودت تر پوره كېدلو پوري د هغه [طلاق] د مؤخر كولو حكم وكړى.

اللغات: ﴿تَسْرِيْح﴾ د تفعيل مصدر دى: په بل چا ښځه پرېښوول. ښځه ايله كول. ﴿جَبّ﴾ د تناسل آله (ذَكَر) پرېكېدل. ﴿عِنَّة﴾ د جماع قدرت نه لرل. ﴿مُضِيّ﴾ د ضرب د باب مصدر دى: تېرېدل. پوره كېدل. ختمېدل. ﴿مَأْثُوْر﴾ د مفعول صيغه ده: نقل كړى سوى، مروي. ﴿قُدْوَة﴾ قِدْوَة. قَدْوَة: لاربنوود. رهنما. مقتدا. ﴿تَأْجِيْل﴾ د تفعيل مصدر دى: وخت ټاكل. نېټه داره كول. تأخير (ځنډول). ﴿العبَادِلة الثَّلَاثة﴾ درې عبد الله ګان. له دې څخه د فقهاؤ په اصطلاح دا درې صحابه كرام مراد دي: ① عبد الله بن مسعود ﷺ. ② عبد الله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا. ③ عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا. او د محدثينو په اصطلاح له "عَبَادِلَة" څخه دا څلور صحابه مراد وي: عبد الله بن عمر، عبد الله بن عباس، عبد الله بن زبير، عبد بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ. (بناية ج:۵. ص:۲۷۱)

تشريح: صورت د مسئلي: دا دى كه تر ايلاء كولو وروسته خاوند خپل ځان كنټرول نه كړي او بې واكه سي او د ايلاء په مودت يعني په څلورو مياشتو كي د ننه د ښځي سره جماع وكړي. نو په دې صورت كي هغه په خپل قسم كي حانث كيږي او پر هغه كفارهٔ يمين لازميږي. ځكه چي كفاره د

حانث کېدلو موجب ده او هغه پر حانثېدونکي کس واجبیږي. نو کله چي پر هغه کفاره واجب سي. بیا د هغه ایلاء ختمیږي: ځکه چي د ایلاء دار ومدار پر قسم دی او کله چي قسم مات سي او ختم سي. نو ښکاره خبره ده چي ایلاء به هم ختمیږي او د څلورو میاشتو په پوره کېدلو سره به پر ښځي هیڅ طلاق نه واقع کیږي.

وإن لم يقربها إلخ: او که خاوند پر خپل قسم مضبوط او مستقیم پاته سي او څلور میاشتي ښځي ته لاس هم نه وروړي. نو د څلورو میاشتو په پوره کېدلو سره سمدستي د خاوند او ښځي په مینځ کي تفریق واقع کیږي یعني پر ښځي یو طلاق بائن واقع کیږي. امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي فقط د څلورو میاشتو په پوره کېدلو سره سمدستي تفریق نه واقع کیږي. بلکي تر څلورو میاشتو وروسته به تفریق موقوف وي یعني که تر څلورو میاشتو وروسته خاوند د ښځي سره جماع نه وکړي یا د رجعت کولو څخه انکار وکړي. نو بیا به دا مقدمه د قاضي په دربار کي وړاندي کیږي او قاضي به د دوی په مینځ کي تفریق کوي او پر ښځي به طلاق بائن واقع کوي.

لنډه دا چي زموږ او د شوافعو په مسلک کي فقط دومره فرق سته چي د هغو په نېز به تفریق د قاضي په قضاوت سره واقع کیږي. او زموږ په نېز د مودت په پوره کېدلو سره تفریق واقع کیږي.

د امام شافعي دلیل: د قاضي پر تفریق د شوافعو دلیل دا دی چي جماع او وطي د ښځي حق دی. او خاوند څلور میاشتي ښځي ته د دغه حق په نه ورکولو سره هغې ته ضرر رسولی دی. او تر څلورو میاشتو تر پوره کېدلو وروسته دا معلومه سوه چي خاوند إِمْسَاكٌ بِالْمَعْرُوْف نه کوي. لهذا کله چي خاوند إمساک بالمعروف فوتوي. نو ښکاره خبره ده چي قاضي به د هغه نائب جوړیږي او تَسْرِيْح بِالإِحْسَان به کوي. ځکه چي قرآن کریم دا اعلان کړی دی: فَإِمْسَاكٌ بِالْمَعْرُوْفِ أَوْ تَسْرِيْحٌ بِالْإِحْسَان. یعني کله چي د مطلقه ښځو عدت پوره سي. نو تاسي هغوی په شرعي طریقه یا د ځان سره وساتئ! یا یې په ښه طریقه سره پرېږدئ!.

زموږ دلیل: دا دی چي د ایلاء په مسئله کي خاوند ظالم دی او شوافع هم د دې اقرار کوي. نو ظالم ته فوراً سزا ورکول پکار دي او په دې باره کي یو ګړی هم تأخیر نه کول پکار دي. نو ځکه موږ وایو چي د څلورو میاشتو په پوره کېدلو سره به سمدستي خاوند ته د ظلم بدله ورکول کیږي او هغه به د نکاح له نعمت څخه محرومول کیږي او په دې سلسله کي به د قاضي د قضاوت انتظار نه کیږي د دې لپاره چي ژر تر ژره ښځه له خاوند څخه په پوره توګه آزاده سي او د خاوند له ضرر څخه د همېشه لپاره خلاصون تر لاسه کړي. او دا حکم موږ له خپل ځان څخه نه بیانوو. بلکي له ګڼو صحابه کرامو څخه همدغه حکم او مسئله نقل سوې ده. چي په هغو کي حضرت عثمان. حضرت علي. حضرت عبد الله

بن مسعود. حضرت عبد الله بن عباس او حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنهُمْ هم دي. او ښکاره خبره ده چې له دومره صحابه وو څخه د يوې مسئلې نقل کېدل د دې خبرې قوي دليل دی چې يقيناً به هغو دا حکم له خپل ګران پيغمبر ﷺ څخه اورېدلی وي. او د دې حضراتو فيصله او فتویٰ زموږ لپاره کافي ده.

ولأنه إلخ: زموږ عقلي دليل دا دی چې د جاهليت په زمانه کې به هم ايلاء طلاق شمارل کېدی لېکن په هغه وخت کې ايلاء طَلاق عَلَی الفَوْر وو يعني د ايلاء کولو په وخت کې سمدستي پر ښځې طلاق واقع کېدی. او اسلام هم ايلاء طلاق وشماری. لېکن فرق صرف دومره دی چې د جاهليت په زمانه کې ايلاء طلاق عَلَی الفور وو لېکن په اسلام کې دا د څلورو مياشتو تر پوره کېدلو وروسته طلاق وګرځېدی. نو څرنګه چې د جاهليت په زمانه کې د ايلاء په ذريعه واقع کېدونکي طلاق د قاضي پر تفريق موقوف نه وو. همدارنګه په اسلام کې هم هغه د قاضي پر تفريق موقوف نه کړی سو.

د ايلاء د قِسم تفصيلي بيان

فَإِنْ كَانَ حَلَفَ عَلَى أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ بيا که [خاوند] د څلورو مياشتو قسم کړی وي **فَقَدْ سَقَطَتِ الْيَمِينُ** نو قسم ساقطېږي لِأَنَّهَا كَانَتْ مُؤَقَّتَةً بِهِ ځکه چې قسم په همدغه مودت سره مؤقت [متعين] وو **وَإِنْ كَانَ حَلَفَ عَلَى الْأَبَدِ** او که هغه د همېشه لپاره قسم کړی وي **فَالْيَمِينُ بَاقِيَةٌ** نو قسم [اوس هم] پاته دی لِأَنَّهَا مُطْلَقَةٌ ځکه چې قسم کول مطلق دي وَلَمْ يُوجَدِ الْحِنْثُ لِتَرْتَفِعَ بِهِ او حانث کېدل هم موجود سوي نه دي چې په هغه سره قسم ختم سي إِلَّا أَنَّهُ لَا يَتَكَرَّرُ الطَّلَاقُ قَبْلَ التَّزَوُّجِ خو دا چې تر نکاح کولو مخکي طلاق نه مکرر کېږي لِأَنَّهُ لَمْ يُوجَدْ مَنْعُ الْحَقِّ بَعْدَ الْبَيْنُونَةِ ځکه چې تر بائنه کېدلو [فُرقت] وروسته د ښځې د حق منع کول موجود نه سو **فَإِنْ عَادَ فَتَزَوَّجَهَا** بيا که هغه واپس راسي او د دې ښځې سره [دويم ځل] نکاح وکړي عَادَ الْإِيلَاءُ نو ايلاء [هم] را ګرځي [يعني د ايلاء حکم هم را ګرځي] **فَإِنْ وَطِئَهَا وَإِلَّا وَقَعَتْ بِمُضِيِّ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ تَطْلِيقَةٌ أُخْرَى** بيا که هغه د ښځې سره وطي وکړي انو پر هغه کفاره لازمېږي] کني د څلورو مياشتو تر پوره کېدلو وروسته به دويم طلاق واقع کېږي لِأَنَّ الْيَمِينَ بَاقِيَةٌ لِإِطْلَاقِهَا ځکه قسم [اوس هم] پاته دی د خپل مطلقوالي په وجه وَبِالتَّزَوُّجِ ثَبَتَ حَقُّهَا او په نکاح کولو سره د ښځې حق ثابت سوی دی فَيَتَحَقَّقُ الظُّلْمُ نو [په دې صورت کې] به [پر ښځې]

ظلم کول ثابت سي وَيُعْتَبَرُ ابْتِدَاءُ هٰذَا الْإِيْلَاءِ مِنْ وَقْتِ التَّزَوُّجِ او د دې ايلاء د ابتداء اعتبار به د نکاح کولو د وخت څخه کيږي فَإِنْ تَزَوَّجَهَا ثَالِثًا بيا که [خاوند] د دې ښځي سره دريم وار نکاح وکړي عَادَ الْإِيْلَاءُ نو ايلاء [بيا] را واپس کيږي وَوَقَعَتْ بِمُضِيِّ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ أُخْرٰى او د څلورو مياشتو په پوره کېدلو سره بل [دريم] طلاق واقع کيږي إِنْ لَمْ يَقْرَبْهَا [په دې شرط] که [هغه] ښځي ته نژدې نه سي لِمَا بَيَّنَّاهُ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی فَإِنْ تَزَوَّجَهَا بَعْدَ زَوْجٍ آخَرَ بيا به که تر دويم خاوند وروسته [اول خاوند] د هغې سره نکاح وکړي لَمْ يَقَعْ بِذٰلِكَ الْإِيْلَاءِ طَلَاقٌ نو په هغه ايلاء سره طلاق نه واقع کيږي لِتَقَيُّدِهٖ بِطَلَاقِ هٰذَا الْمِلْكِ ځکه چي هغه د دغه [اول] ملکيت په طلاق سره مقيده ده وَهِيَ فَرْعُ مَسْأَلَةِ التَّنْجِيْزِ الْخِلَافِيَّةِ او دا [مسئله] د تنجيز د مختلف فيه مسئلې فرع ده ايعني دا مسئله د تنجيز د مسئلې فرع ده چي په هغه کي اختلاف وو] وَقَدْ مَرَّ مِنْ قَبْلُ او هغه مخکي تېره سوه وَالْيَمِيْنُ بَاقِيَةٌ لِإِطْلَاقِهَا وَعَدَمِ الْحِنْثِ او د قسم د مطلقوالي په وجه او د نه حانث کېدلو په وجه [په دې صورت کي هم] قسم پاته دی فَإِنْ وَطِئَهَا كَفَّرَ عَنْ يَمِيْنِهٖ بيا که [خاوند] د هغې سره وطي وکړي نو د خپل قسم کفاره به اداء کوي لِوُجُوْدِ الْحِنْثِ ځکه چي حانث کېدل موجود دي ايعني ځکه چي هغه په خپل قسم کي حانث سو].

اللغات: ﴿بَيْنُوْنَةٌ﴾ د ضرب مصدر دی: بائنه کېدل (فرقت واقع کېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که ايلاء کونکي خپل قسم پوره کړی او ښځي ته نژدې نه سو. نو د دې دوه صورتونه دي: ① خاوند به يا د څلورو مياشتو قسم کړی وي. ② يا به يې د همېشه لپاره قسم کړی وي، که اول صورت وي، يعني خاوند فقط د څلورو مياشتو قسم کړی وو. او هغه دا قسم پوره کړی، يعني تر څلورو مياشتو پوري يې د ښځي سره وطي نه وکړي. نو د څلورو مياشتو په پوره کېدلو سره فوراً (سمدستي) قسم ساقطيږي، ځکه چي هغه په څلورو مياشتو سره قسم مؤقت کړی وو.

او که چيري دويم صورت وي، يعني خاوند د همېشه لپاره قسم کړی وو، نو د څلورو مياشتو په پوره کېدلو سره پر ښځي يو طلاق بائن واقع کيږي، او يمين باقي پاتيږي، ځکه چي خاوند مطلق يمين (قسم) کړی دی، او بيا خاوند وطي هم کړي نه دي، نو حِنْث (حانثېدل) هم موجود نه سو چي د هغه په وجه يمين ختم سي، نو ځکه به يمين باقي پاته وي، لېکن که تر يوه طلاق بائن وروسته خاوند د ښځي سره نکاح نه وکړه او بيا څلور مياشتي پوره سوې. نو پر ښځي دويم طلاق نه واقع کيږي، ځکه چي په اول طلاق سره ښځه بائنه سوې ده. او دويم ځل خاوند د ښځي سره نکاح هم نه ده

کړي. لهذا دلته دا خبره نه سي کېدلای چي خاوند د ښځي سره ظلم وکړی او څلور میاشتي يې هغې ته د خپل وطي حق نه ورکړی. نو ځکه به تر څلورو میاشتو وروسته دويم طلاق نه واقع کيږي.

قوله عاد إلخ: فرمايي که چيري خاوند د اول طلاق تر عدت تېرېدلو وروسته دويم ځل بيا د ښځي سره نکاح وکړه. نو په دې صورت کي د ايلاء حکم هم دويم ځل راګرځي. يعني اوس که خاوند په دويمه نکاح کي په څلورو میاشتو کي دننه وطي وکړي، نو يمين ختميږي. او هغه حانث کيږي. او که وطي نه وکړي. نو د څلورو میاشتو په پوره کېدلو سره دويم طلاق واقع کيږي. ځکه چي د يمين د مطلق کېدلو په وجه يمين اوس هم پاته دی. او د دويم ځل نکاح کولو په وجه د ښځي لپاره د وطي حق هم ثابت سوی دی. نو تر څلورو میاشتو پوري ښځي ته د خپل حق نه ورکولو په وجه خاوند پر هغې ظلم کړی دی. لهذا له ښځي څخه د ضرر دفع کولو په خاطر به د څلورو میاشتو په پوره کېدلو سره سمدستي پر ښځي دويم طلاق بائن واقع کيږي. او په نورو څلورو میاشتو کي به د نکاح د وخت څخه ايلاء شروع کيږي. او د نکاح د وخت څخه به د څلورو میاشتو مودت شمارل کيږي.

قوله تزوجها ثالثا إلخ: فرمايي که چيري خاوند دريم ځل هم د ښځي سره نکاح وکړه. لېکن په دې نکاح کي يې هم تر څلورو میاشتو پوري د ښځي سره جماع نه وکړه. نو څرنګه چي قسم مطلق وو. لهذا د دريم ځل نکاح کولو په وخت کي به بيرته د ايلاء حکم راګرځي، او د وطي نه کولو په صورت کي به څلور میاشتي وروسته دريم طلاق واقع کيږي، او ښځه به په دې دريم طلاق سره مغلظه ګرځي.

قوله تزوجها إلخ: فرمايي که چيري د دريو طلاقو تر وقوع وروسته ښځي د بل خاوند سره نکاح وکړه. او بيا دويم خاوند په هغې دخول وکړی او طلاق يې ورکړی. او تر عدت ختمېدلو وروسته دا ښځه بيرته د اول خاوند په نکاح کي راغله. نو په دې صورت کي د مخکني ايلاء حکم ختميږي. او په هغه سره هيڅ طلاق نه واقع کيږي. که څه هم خاوند د ښځي سره څلور میاشتي وطي نه وکړي: ځکه چي مخکني ايلاء د اولي نکاح د ملکيت سره مقيده وه. او د اولي نکاح ملکيت دري طلاقه وو. او خاوند هغه دري سره طلاقه استعمال کړل. او اوس ښځه د نوي سره د هغه په نکاح کي راغلې ده. نو مخکني ايلاء به اوس د دويمي نکاح په ملکيت (دريو طلاقونو) کي هيڅ عمل نه کوي. ځکه چي هغه په پوره توګه ختمه سوه.

وهي فرع إلخ: فرمايي چي ايلا د طلاق د معلق کولو په معنیٰ سره ده. او دا مسئله د تنجيزي مسئلې فرع ده. کوم چي په بَابُ الأَيمَان فِي الطَّلَاقِ کي تېره سوه چي د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز تعليق نه باطليږي. او زموږ په نېز باطليږي.

په مبسوط کي ذکر سوي دي چي که يو سړی د خپلي ښځي سره ايلاء وکړي او بيا د ايلاء له مودت پوره کېدلو څخه مخکي ښځي ته له تعليق څخه بغير درې طلاقه ورکړي، نو درې سره طلاقه فوراً واقع کيږي او زموږ په نېز ايلاء باطليږي، لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز نه باطليږي: زموږ دليل دا دی چي ايلاء طلاق مؤجل دی، او ايلاء د اول ملکيت پر مملوکه دريو طلاقونو منعقد کيږي او کله چي پر ښځي درې طلاقه واقع سي، نو هيڅ مملوک طلاق نه پاتيږي، لهذا ايلاء به هم نه پاتيږي.

او همدارنګه کله چي ښځه د دغه ملکيت په ايلاء سره درې واره بائنه سي او بيا د دويم خاوند سره تر نکاح کولو وروسته بېرته د اول خاوند په نکاح کي راسي، نو هم زموږ په نېز ايلاء باطليږي (لکه لږ څه مخکي چي ذکر سوه)، او د امام زفر په نېز نه باطليږي، لېکن زموږ په نېز يمين باقي پاتيږي، ځکه چي يمين مطلق وو، لهذا کله چي هم خاوند د ښځي سره وطي وکړي، نو هغه حانث کيږي او د قسم کفاره به اداء کوي.

له څلورو مياشتو څخه کم د ايلاء کولو حيثيت

فَإِنْ حَلَفَ عَلَىٰ أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ لېکن که خاوند له څلورو مياشتو څخه پر کم [مودت] باندي قسم وکړي لَمْ يَكُنْ مُولِيًا نو هغه به ايلاء کونکی نه وي لِقَوْلِ ابْنِ عَبَّاسٍ: لَا إِيلَاءَ فِيمَا دُونَ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د دې قول [أثر] په وجه: تر څلورو مياشتو په کم [مودت] کي ايلاء نسته وَلِأَنَّ الِامْتِنَاعَ عَنْ قُرْبَانِهَا فِي أَكْثَرِ الْمُدَّةِ بِلَا مَانِعٍ او ځکه چي [په دې صورت کي] د ښځي له نژدې کېدلو څخه منع کېدل په اکثره مودت کي له مانع [قسم] څخه بغير دي وَبِمِثْلِهِ لَا يَثْبُتُ حُكْمُ الطَّلَاقِ فِيهِ او په داسي [بېله مانعه (بېله قسمه)] منع کېدلو سره په دې کي د طلاق حکم نه ثابتيږي.

اللغات: ﴿اِمْتِنَاع﴾ د افتعال مصدر دی: منع کېدل، پرهېز کول، ځان کتل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د څلورو مياشتو څخه کم داسي قسم وکړي چي زه به ښځي ته نه نژدې کېږم، نو دا سړی ايلاء کونکی نه ګرځي او د هغه ايلاء نه ثابتيږي، ځکه چي په دې سلسله کي د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فتویٰ همدغه ده چي لَا إِيلَاءَ فِيمَا دُونَ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ (يعني تر څلورو مياشتو کم ايلاء نسته)، او څرنګه چي د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا فتویٰ د مقدرات شرعيه وو ده، نو په دې سره به د ايلاء آيت لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ... إلخ نه مقيد کيږي، بلکي دا فتویٰ به د دې آيت کريمه توضيح او تفسير وي، او دا به ويل کيږي چي ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا به دا له نبي کريم ﷺ څخه اورېدلې وي.

ولأن الامتناع إلخ: دا عقلي دليل دی. صاحب د هدايې په څه مشکل اندازه سره بيان کړی دی. مطلب يې دا دی چې کله خاوند تر څلورو مياشتو کم ايلاء وکړي. مثلاً تر يوې مياشتې پورې قسم وکړي چې زه به يوه مياشت ښځې ته نه نژدې کېږم. او بيا څلور مياشتې ور نژدې نه سي. نو دلته دا نورې درې مياشتې له قسم څخه بغير پاته سوې (ځکه چې خاوند فقط د يوې مياشتې قسم کړی دی). او له قسم څخه بغير که څوک پنځوس کاله هم ښځې ته نژدې نه سي. نو هغه ايلاء کوونکې نه ګرځي. لهذا همدا ډول به داسې سړی هم ايلاء کوونکی نه ګرځي. کوم چې د څلورو مياشتو څخه د کم "نه نژدې کېدلو" قسم وکړي.

لأن الامتناع عن قربانها في أكثر المدة بلا مانع: د دې معنیٰ دا ده چې مثلاً تر يوې مياشتې چې کوم زائد او اکثر مودت دي. يعني درې مياشتې. په هغه کې بېله مانعه يعني بېله قسمه ښځې ته له نژدې کېدلو کول څخه منع کېدل. نو په داسې بېله قسمه منع کېدلو سره به ايلاء نه ثابتيږي. وبمثله لا يثبت حکم الطلاق فيه: يعني ځکه چې په دا ډول بېله قسمه منع کېدلو سره د طلاق حکم نه ثابتيږي.

د ايلاء د يو څو ځانګړو الفاظو حکم

وَلَوْ قَالَ: وَاللهِ لَا أَقْرَبُكِ شَهْرَيْنِ وَشَهْرَيْنِ بَعْدَ هٰذَيْنِ الشَّهْرَيْنِ او که [خاوند] ووايي: په خدای قسم! زه به تا ته دوې مياشتې او تر دغه دوو مياشتو وروسته دوې مياشتې [نور] نه نژدې کېږم **فَهُوَ مُوْلٍ** نو هغه به ايلاء کوونکی وي **لِأَنَّهُ جَمَعَ بَيْنَهُمَا بِحَرْفِ الْجَمْعِ** ځکه چې هغه [دلته] د جمع د حرف په ذريعه دواړې مياشتې سره جمع کړې دي **فَصَارَ كَجَمْعِهِ بِلَفْظِ الْجَمْعِ** نو دا د جمع په لفظ سره [د دوو شيانو] د جمع کولو په څير سو او ځکه به ايلاء ثابتيږي او خاوند به ايلاء کوونکی وي].

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چې که خاوند داسې قسم وکړي چې: "په خدای قسم که زه تا ته دوې مياشتې "او" تر دغه دوو مياشتو وروسته دوې مياشتې نور نژدې سم". نو په دې صورت کې هغه ايلاء کوونکی ګرځي: ځکه چې هغه دلته دوې مياشتې او دوې مياشتې د جمع په لفظ يعني په "واو" ("او") سره جمع کړي دي. او داسې سو لکه خاوند چې ووايي: "په خدای قسم که زه تا ته څلور مياشتې نژدې سم". او په داسې قسم کولو سره ايلاء ثابتيږي. نو په دغه صورت کې به هم ايلاء ثابتيږي.

د ایلاء د یو څو ځانګړو الفاظو حکم

وَلَوْمَكَثَ يَوْمًا ثُمَّ قَالَ: وَاللهِ لَا أَقْرَبُكِ شَهْرَيْنِ بَعْدَ الشَّهْرَيْنِ الْأَوَّلَيْنِ او که هغه [خاوند] یوه ورځ ودرېږي بیا ووايي: په خدای قسم! زه به تا ته تر اولو دوو میاشتو وروسته دوې میاشتي [نور] نه نژدې کېږم لَمْ يَكُنْ مُوْلِيًا نو هغه به ایلاء کونکی نه وي لِأَنَّ الثَّانِيَ إِيجَابٌ مُبْتَدَأٌ ځکه چې دویم قسم [دویمه جمله] له شروع څخه ایجاب ده وَقَدْ صَارَ مَمْنُوْعًا بَعْدَ الْيَمِيْنِ الْأُوْلَى شَهْرَيْنِ وَبَعْدَ الثَّانِيَةِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ حالانکې دا سړی تر اول قسم وروسته دوې میاشتې او تر دویم قسم وروسته څلور میاشتې منع کړی سو إِلَّا يَوْمًا مَكَثَ فِيْهِ ماسوا له يوې ورځي څخه چې په هغه کي [دا سړی له قسم څخه بغیر] پاته سوی دی ایعني دلته دغه سړي په اوله جمله کي دوې میاشتې قسم کړی دی او په دوو میاشتو سره خو ایلاء نه ثابتیږي. او په دویمه جمله کي یې له یوې ورځي څخه کم د څلورو میاشتو قسم کړی دی، نو په دې صورت کي هم د منع کېدلو مودت (څلور میاشتي) پوره نه سوې. بلکي یوه ورځ مانده سوه. نو ځکه به ایلاء نه ثابتیږي] فَلَمْ تَتَكَامَلْ مُدَّةُ الْمَنْعِ نو د منع کېدلو مودت پوره نه سو انو ځکه به ایلاء نه ثابتیږي او هغه به ایلاء کونکي نه وي].

اللغات: ﴿مَكَثَ﴾ د نصر ماضي ده: درېدل، پاتېدل، درنګ کول.

تشریح: دا مسئله هم واضحه ده چې که خاوند اول د دوو میاشتو قسم وکړي چې "په خدای قسم که زه تا ته دوې میاشتي نژدې سم". بیا یوه ورځ وروسته بیا د دوو میاشتو قسم وکړي چې "په خدای قسم که تر اولو دوو میاشتو وروسته نور دوې میاشتي زه تا ته نژدې سم". نو په دې صورت کي څلور میاشتي پوره نه سوې. بلکي د څلورو میاشتو څخه یوه ورځ کمه سوه. نو ځکه به هغه ایلاء کونکي نه وي. ځکه چې په اوله جمله کي خاوند څلور میاشتي نه دي ذکر کړي، نو په هغه سره خو ایلاء ثابته نه سوه. او بیا خاوند یوه ورځ وروسته که څه هم په دویمه جمله کي څلور میاشتي ذکر کړي دي. لېکن هغه د اولو دوو میاشتو او وروسته دوو میاشتو په مینځ کي یوه ورځ درېدلی دی. نو په دویمه جمله کي هم څلور میاشتي پوره نه سوې. نو ځکه به ایلاء نه ثابتیږي. او کله چې هم دا سړی د خپلي ښځي سره وطي کړي. نو پر هغه به د دوو قسمونو دوې کفارې واجب وي.

له یوې ورځي څخه بغیر ټوله کال د ایلاء کولو حکم

وَلَوْقَالَ وَاللهِ لَا أَقْرَبُكِ سَنَةً إِلَّا يَوْمًا او که [خاوند] ووايي: په خدای قسم! زه به تا ته یو کال نه نژدې کېږم مګر یوه ورځ لَمْ يَكُنْ مُوْلِيًا نو هغه به ایلاء کونکی نه وي خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ اللهُ وَهُوَيَصْرِفُ الْاِسْتِثْنَاءَ إِلَى آخِرِهَا او امام زفر استثناء د کال د آخري جزء [ورځي] وطرف ته ګرځوي

اِعْتِبَارًا بِالْإِجَارَةِ پر اجاره باندي په قياس کولو سره لِتَنَبُّتُ مُدَّةُ الْمَنْعِ نو د منع کېدلو مودت به پوره سي وَلَنَا أَنَّ الْمُوْلِيَ مَنْ لَا يُمْكِنُهُ الْقُرْبَانُ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ إِلَّا بِشَيْءٍ يَلْزَمُه زموږ دليل دا دی: چي ايلاء کونکی هغه کس دی چي د هغه لپاره د يو شي د لزوم څخه بغير څلور مياشتي قربت انژدېکت ا کول ممکن نه وي ايعني ايلاء کونکي هغه کس ته وايي چي هغه تر څلورو مياشتو پور د کفارې څخه بغير ښځي ته نژدې کېدای نه سي. بلکي که يو وار هم نژدې سي او وطي ور سره وکړي نو کفاره پر لازميږي ا وَيُمْكِنُهُ هٰهُنَا او دلته د هغه لپاره اد کفارې د لزوم څخه بغير ا قربت کول ممکن دي لِأَنَّ الْمُسْتَثْنٰى يَوْمٌ مُنَكَّرٌ ځکه چي استثناء سوې اجلا سوې ا ورځ غير متعينه انا معلومه ا ورځ ده او د ورځي جهالت په وجه خاوند په هره يوه ورځ کي هم قربت کولای سي. نو ځکه به ايلاء نه ثابتيږي ا بِخِلَافِ الْإِجَارَةِ په خلاف د اجارې لِأَنَّ الصَّرْفَ إِلَى الْآخِرِ لِتَصْحِيْحِهَا ځکه چي اپه اجاره کي ا د آخري جزء وطرف ته ګرځول د اجارې د صحيح کولو لپاره دي فَإِنَّهَا لَا تَصِحُّ مَعَ التَّنْكِيْرِ ځکه چي اجاره بلا تعيينه نه صحيح کيږي وَلَا كَذٰلِكَ الْيَمِيْنُ او قسم داسي نه دی وَلَوْ قَرِبَهَا فِيْ يَوْمٍ او که اخاوند ا ښځي ته يوه ورځ نژدې سي وَالْبَاقِيْ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ أَوْ أَكْثَرُ او اتر هغه وروسته هم ا څلور مياشتي يا تر دې زيات امودت ا پاته وي صَارَ مُوْلِيًا نو هغه ايلاء کونکي ګرځي لِسُقُوْطِ الْاِسْتِثْنَاءِ د استثناء د ساقطېدلو په وجه.

اللغات: ﴿يَصْرِفُ﴾ د ضرب مضارع ده: ګرځول. اړول. ﴿تَصْحِيْح﴾ د تفعيل مصدر دی: صحيح کول. سمول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که يو خاوند په داسي الفاظو سره قسم وکړي چي "په خدای قسم! که زه د يوې ورځي څخه بغير نور ټوله کال ستا سره وطي وکړم". نو په دې صورت کي زموږ په نېز دغه خاوند ايلاء کونکی نه ګرځي. لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز هغه ايلاء کونکي ګرځي. همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی. لېکن امام مالک رَحِمَهُ الله زموږ سره دی.

د امام زفر دليل: دا دی چي کله دلته خاوند د يوې ورځي استثناء وکړه. نو دا ستثناء به د کال د آخري جزء وطرف ته ګرځول کيږي. امام زفر رَحِمَهُ الله دغه (د يمين) مسئله پر إجاره قياسوي. يعني کله چي يو سړی د يوې ورځي څخه بغير د ټوله کال لپاره يو شی په اجاره واخلي. نو دغه يوه مستثنیٰ (جلا سوې) ورځ د کال د آخري جزء او د آخري ورځي وطرف ته ګرځول کيږي او پاته ورځي يعني (٣۶۴) ورځي اجاره صحيح منل کيږي. همداسي به دلته هم مستثنیٰ ورځ د کال د آخري جزء وطرف

ته ګرځول کيږي. او کله چې داورځ د کال دآخري جزء وطرف ته نقل کړی سي. نو پاته ټولي ورځي به تر دغه يوې ورځي مخکي سي. او پاته ورځي تر څلورو مياشتو زياتي دي. نو ځکه به د دغه خاوند ايلاء صحيح وي. او ايلاء کونکی به شمارل کيږي.

زموږ دليل: دا دی چې د کومي يوې ورځي استثناء چې دلته خاوند کړې ده. هغه ورځ نامعلومه او غير متعين (او مطلق) ده. او د ټوله کال په هره يوه ورځ کي خاوند لره دوطي کولو اختيار سته. او ايلاء کونکی هغه سړي ته وايي کوم چې تر څلورو مياشتو پوري د کفارې دلزوم څخه بغير دښځي سره وطي نه سي کولای (يعني که په څلورو مياشتو کي فقط يو واز دښځي سره وطي وکړي نو خامخا د قسم کفاره پر لازميږي). حالانکي دلته د دې يوې ورځي د مطلقوالي په وجه خاوند په هرو څلورو مياشتو کي بلکي له دې څخه بغير د ټوله کال په هره يوه ورځ کي دوطي کولو حق لري. او په کومه ورځ چې هم هغه وطي وکړي. نو کفاره نه پر واجبيږي. ځکه چې هغه مخکي لا ديوې ورځي استثناء کړې ده. حالانکي ايلاء کونکي تر څلورو مياشتو پوري د کفارې دلزوم څخه بغير وطي نه سي کولای. نو ځکه به خاوند د مطلقي او غير متعيني ورځي د استثناء کولو په وجه ايلاء کونکی نه شمارل کيږي.

بخلاف الإجارة إلخ: په دې سره د امام زفر د قياس جواب ورکوي. فرمايي چې يمين پر إجاره قياسول صحيح نه دي. ځکه چې إجاره د جهالت او عدم تعين سره قطعاً نه صحيح کيږي (يعني کله چې اجاره متعينه او معلومه نه کړی سي. نو بالکل نه صحيح کيږي). لېکن يمين د جهالت او عدم تعين سره هم صحيح کيږي. نو په يمين کي به مستثنیٰ ورځ د کال دآخري جزء وطرف ته په ګرځولو سره نه خاص کيږي. لېکن د إجارې د تصحيح (صحيح کولو) لپاره داسي کېدای سي. لهذا په دې هکله په يمين او اجاره کي فرق سته. نو ځکه يو پر بل قياسول صحيح نه دي.

ولو قربها إلخ: فرمايي که خاوند د وَاللهِ لَا أَقْرَبُكِ سَنَةً إِلَّا يَوْمًا تر ويلو وروسته يوه ورځ د ښځي سره وطي وکړي. او تر وطي کولو وروسته څلور مياشتي يا تر دې زيات وخت پاته وي. نو په دې صورت کي هغه ايلاء کونکی ګرځي؛ ځکه د کومي استثناء په وجه سره چې د ايلاء ثبوت او تحقق معدوم وو. هغه استثناء په خپله معدومه سوه. او څرنګه چې تر هغه وروسته د ايلاء په اندازه ورځي (بلکي تر هغه زياتي ورځي) پاته دي. نو ځکه به ايلاء ثابتيږي.

د ايلاء يو ځانګړی صورت

وَلَوْقَالَ وَهُوَبِالْبَصْرَةِ: وَاللهِ لَا أَدْخُلُ الْكُوْفَةَ او كه [خاوند] وواييي حال دا چي هغه په بصره كي وي: په خدای قسم! زه به كوفې داخل نه سم ايعني په بصره كي وواييي چي: په خدای قسم كه كوفې ته ولاړ سم] وَامْرَأَتُهُ بِهَا او د هغه ښځه په كوفه كي وي لَمْ يَكُنْ مُوْلِيًا نو [په دې صورت كي] به هغه ايلاء كونكی نه وي لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ الْقُرْبَانُ مِنْ غَيْرِشَيْءٍ يَلْزَمُهُ بِالْإِخْرَاجِ مِنَ الْكُوْفَةِ ځكه چي د دې سړي لپاره له كوفې څخه [د ښځي] په را ايستلو سره د يو شي د لزوم څخه بغير قربت ممكن دي.

اللغات: ﴿إِخْرَاج﴾ د افعال مصدر دی، متعدی باب دی: باسل، را ايستل (ويستل)، خارجول.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالكل ښكاره دی چي كه خاوند په بصره كي وي، او ښځه يې په كوفه كي وي. او خاوند كوفې ته د "نه داخلېدلو" قسم وكړي، نو په دې قسم سره هغه ايلاء كونكي (مُوْلِيْ) نه ګرځي: ځكه چي مُوْلِيْ هغه سړي ته وايي كوم چي تر څلورو مياشتو پوري د كفارې د لزوم څخه بغير د خپلي ښځي سره وطي نه سي كولای. حالانكي دا سړی تر څلورو مياشتو مخكي د كفارې د لزوم څخه بغير هم وطي كولای سي، هغه په دې توګه چي خپله ښځه له كوفې څخه بصرې ته را وغواړي. يا يو بل ځای يې را وغواړي او وطي ور سره وكړي. او ښكاره خبره ده چي كله د كفارې د وجوب او لزوم څخه بغير د هغه لپاره وطي كول ممكن دي، نو بيا به ايلاء څرنګه ثابته سي!؟. (ځكه چي د كفارې د لزوم څخه بغير هيڅكله هم ايلاء نه ثابتيږي).

د قسم بېلا بېل صورتونه كوم چي ايلاء ګرځي

قَالَ: وَلَوْحَلَفَ بِحَجٍّ أَوْبِصَوْمٍ أَوْبِصَدَقَةٍ أَوْعِتْقٍ أَوْ طَلَاقٍ فرمايي: او كه [خاوند] قسم واخلي د حج كولو يا د روژې نيولو يا د خيرات كولو يا د [غلام] آزادولو يا د طلاق وركولو فَهُوَمُوْلٍ نو هغه ايلاء كونكي دی لِتَحَقُّقِ الْمَنْعِ بِالْيَمِيْنِ ځكه چي [دلته] د قسم په وجه منع كېدل متحقق دي وَهُوَ ذِكْرُ الشَّرْطِ وَالْجَزَاءِ او هغه د شرط او جزاء ذكر كول دي وَهٰذِهِ الْأَجْزِيَةُ مَانِعَةٌ او دغه ټولي جزاګاني [د قربت] منع كونكي دي لِمَا فِيْهَا مِنَ الْمَشَقَّةِ ځكه چي په دوی [ټولو] كي مشقت [او تكليف] سته وَصُوْرَةُ الْحَلْفِ بِالْعِتْقِ: أَنْ يُعَلِّقَ بِقُرْبَانِهَا عِتْقَ عَبْدِهٖ او په آزادولو سره د قسم اخيستلو صورت دا دی: چي [خاوند] د ښځي پر قربت [وطي] باندي د خپل غلام آزادول معلق كړي وَفِيْهِ خِلَافُ أَبِيْ يُوْسُفَ او په دې مسئله كي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اختلاف دی فَإِنَّهُ يَقُوْلُ: يُمْكِنُهُ الْبَيْعُ ثُمَّ الْقُرْبَانُ ځكه هغه

فرمايي: چې [دلته] د حالف [قسم اخيستونکي] لپاره د غلام خرڅول او بيا [د ښځې سره] قُربت کول ممکن دي فَلَا يَلْزَمُهُ شَيْءٌ نو ځکه به پر هغه هيڅ شی نه لازميږي وَهُمَا يَقُوْلَانِ ۞: اَلْبَيْعُ مَوْهُوْمٌ او طرفين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې [دلته د غلام] خرڅول موهوم [او نامعلوم] دي فَلَا يَمْنَعُ الْمَانِعِيَّةَ فِيْهِ نو هغه به په ايلاء کې [د قُربت] د مانعيت لپاره مانع نه جوړيږي ايعني کله چې د غلا بيع يو موهوم امر دی نو هغه به په ايلاء کې د وطي او قربت څخه د منع کېدلو لپاره مانع نه جوړيږي. بلکې د وطي او قربت د ثبوت لپاره به مانع جوړيږي. يعني د قُربت منع کونکي به وي، نو ځکه به ايلاء په ثابتيږي [وَالْحَلِفُ بِالطَّلَاقِ: أَنْ يُعَلِّقَ بِقُرْبَانِهَا طَلَاقَهَا أَوْ طَلَاقَ صَاحِبَتِهَا او په طلاق سره د قسم اخيستلو صورت دا دی: چې [خاوند] د ښځې پر قُربت د هغې طلاق يا د هغې د ملګرې [اَبْنَ] طلاق معلق کړي وَكُلُّ ذٰلِكَ مَانِعٌ او په دې دواړو کې هر يو [د قُربت] منع کونکی دی.

اللغات: ﴿أَجْزِيَة﴾ جمع دِ جَزَاءٌ ده: جزاء. مراد ځنې د شرط جزاګاني دي. چې هغه دلته حج کول يا روژه نيول يا داسې نور دي.

تشريح: مخکې مصنف رَحِمَهُ الله د الله په قسم سره د ايلاء کولو تفصيلات ذکر کړل. اوس له دې ځای څخه د غيرُ الله په قسم سره د ايلاء کولو تفصيلات بيانوي. (يعني اوس د هغه صورتونو تفصيل بيانوي چې کله خاوند په شرط او جزاء کې له حَلف بِالله څخه بغير يو بل شی ذکر کړي).

صورت د مسئلې: دا دی که يو خاوند داسې ووايي: "که چيرې زه خپلې ښځې ته څلور مياشتې نژدې سوم او وطي مې ور سره وکړې، نو پر ما حج کول لازم دي. يا پر ما روژه نيول لازم دي. يا پر ما غلام آزادول لازم دي. يا زما ښځه پر ما طلاقه ده"، نو په دې صورتونو کې ايلاء ثابتيږي او دغه خاوند ايلاء کونکی ګرځي: دليل دا دی چې په دې صورتونو کې د قسم يعني د شرط او جزاء د ذکر کولو په وجه د قُربت او وطي څخه منع کېدل متحقق سو. او دغه جزا ګانې يعني حج، روژه، غلام آزادول. ښځه طلاقېدل د شرط د ارتکاب کولو څخه مَنع کونکي دي (يعني په دې صورتونو کې به د شرط او جزاء د تذکرې په وجه خاوند يقيناً د ښځې سره څلور مياشتې وطي نه کوي. بلکې تر هغه وروسته به هم پښې تينګې اړدي). ځکه چې په دې ټولو جزاء ګانو کې مشقت دی. ځکه کله چې خاوند د شرط ارتکاب کوي نو جزاء به يقيناً واقع کيږي. او د جزاء په واقع کېدلو کې مشقت دی. نو ځکه به جزاء د شرط لپاره مانع وي. او ايلاء همدې وايي ته چې خاوند د ښځې له وطي څخه (څلور مياشتې يا

۞ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله ، كما ذكر في الدر المختار (ج:۲، ص:۵۹۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۲۲]

زيات) منع سي (او دلته خو به ټوله عمره خاوند د ښځي له وطي څخه ځان منع کوي). لهذا په دې ټولو صورتونو کې به ايلاء ثابتيږي. او کله چي هم څلور مياشتي له وطي څخه بغير تيري سي، نو پر دغه ښځي به يو طلاقِ بائن واقع کيږي.

وصورة الحلف إلخ: فرمايي چي د حَلَف بِالعِتْق صورت دا دی چي خاوند د ښځي پر وطي او قُربت د خپل غلام آزادېدل معلق کړي (يعني داسي ووايي: که زه تا ته در نژدې سوم. نوزما غلام آزاد دی). په دې صورت کې خو د طرفينو په نېز اِيلاء ثابتيږي. لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز نه ثابتيږي: ځکه چي په دې صورت کې تر څلورو مياشتو مخکي د کفاري د لزوم څخه بغير هم د خاوند لپاره وطي کول ممکن دي. هغه په دې توګه چي خاوند تر وطي کولو مخکي غلام خرڅ کړي. او بيا د ښځي سره وطي وکړي، نو په دې صورت کې نه غلام آزاديږي او نه پر هغه کفاره واجبيږي. لهذا ايلاء به هم نه ثابتيږي.

او طرفين فرمايي چي بيع يقيني أمر نه دی. بلکي يو موهوم او نا معلوم أمر دی. کېدای سي چي خاوند غلام خرڅ کړي. او دا هم کېدای سي چي غلام خرڅ نه کړي. او موهوم أمر د يو شي لپاره مانع کېدای نه سي. لهذا دلته په ايلاء کي مَانِعُ الشَرط يعني د جزاء لپاره هيڅ مانع سته. او کله چي د جزاء لپاره هيڅ مانع نسته. نو جزاء موجوده ده. او جزاء د قُربت مانع ده (يعني دلته جزاء (د غلام آزادېدل) د وطي او قُربت څخه د خاوند د منع کولو او د هغه د شهوت يخولو لپاره کافي ده). او ايلاء د قُربت مانع ته وايي (يعني ايلاء همدې ته وايي چي خاوند څلور مياشتي يا تر هغه زيات له وطي څخه منع وي. او دلته هم هغه د جزاء د بيري په وجه منع کيږي). نو ځکه به په دې صورت کي هم ايلاء ثابتيږي.

والحلف بالطلاق إلخ: د حَلَف بِالطَلاق صورت دا دی چي خاوند د ښځي پر وطي د هغې طلاق معلق کړي يا د هغې د بَنْ طلاق پر معلق کړي. او په دې دواړو شيانو کي هر شی د ښځي د وطي او قُربت څخه مانع دی. ځکه چي د طلاق د بيري په وجه به خاوند د ښځي سره وطي نه سي کولای. او همدې ته ايلاء وايي. لهذا که هغه تر څلورو مياشتو پوري د ښځي سره وطي نه وکړي، نو پر ښځي يو طلاقِ بائن واقع کيږي. او که وطي ور سره وکړي، نو ښځه مطلقه ګرځي (يعني پر هغه طلاقيږي).

د مطلقه ښځي سره ايلاء کول

وَإِنْ آلَى مِنَ الْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ او که [خاوند] د مطلقه رجعيه ښځي سره ايلاء وکړي كَانَ مُولِيًا نو هغه به ايلاء کونکی وي وَإِنْ آلَى مِنَ الْبَائِنَةِ او که د بائني ښځي سره ايلاء وکړي لَمْ يَكُنْ مُولِيًا نو هغه به ايلاء کونکی نه وي لِأَنَّ الزَّوْجِيَّةَ قَائِمَةٌ فِي الْأُولَى دُوْنَ الثَّانِيَةِ ځکه چي زوجيت په اوله ښځه کي پاته

دی نه په دویمه ښځه کي وَمَحَلُّ الْإِيلَاءِ مَنْ تَكُوْنُ مِنْ نِسَائِنَا بِالنَّصِّ او د آیت په وجه سره د ایلاء محل هغه ښځي دي کوم چي زموږ ښځي وي ایعني کومي ښځي چي زموږ په زوجیت او نکاح کي وي ا فَلَوِ انْقَضَتِ الْعِدَّةُ قَبْلَ انْقِضَاءِ مُدَّةِ الْإِيلَاءِ بیا که د ایلاء تر مودت ختمېدلو مخکي اد مطلقه رجعیه ښځي ا عدت پوره سي سَقَطَ الْإِيلَاءُ لِفَوَاتِ الْمَحَلِّيَّةِ نو د محل د فوتېدلو په وجه به ایلاء ساقطیږي.

اللغات: ﴿آلى﴾ د افعال ماضي ده: ایلاء کول. ﴿اِنْقَضَتْ﴾ د انفعال ماضي ده: تېرېدل، ختمېدل.

تشریح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چي که خاوند د خپلي مطلقه رجعیه ښځي سره ایلاء وکړي. نو ایلاء ثابتیږي. او که د مطلقه بائنه سره ایلاء وکړي. نو ایلاء نه ثابتیږي. ځکه چي د ایلاء د ثبوت او تحقق لپاره محلیت (د طلاق او ایلاء محل کېدل) ضروري دی. او په مطلقه رجعیه ښځه کي محلیت باقي پاته دی. ځکه چي تر طلاق رجعي وروسته هم هغه د خاوند په نکاح کي پاته وي. لهذا د مطلقه رجعیه ښځي په حق کي به ایلاء ثابتیږي. لېکن د بائنې ښځي په حق کي به ایلاء نه ثابتیږي، ځکه چي د طلاق بائن په وجه ښځه په پوره توګه د خاوند له نکاح څخه وځي او ښځه د ایلاء محل نه پاتیږي. ولا يتحقق الإيلاء إلا في المحل.

د پردۍ (اجنبي) ښځي سره ایلاء کول

وَلَوْ قَالَ لِأَجْنَبِيَّةٍ: وَاللهِ لَا أَقْرَبُكِ او که [یو سړی] یو پردۍ ښځي ته ووایي: په الله قسم! تا ته به نه نژدې کېږم [یعني ستا سره به وطي نه کوم] أَوْ أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي یا [ورته ووایي] ته پر ما داسي یې لکه زما د مور شا [ملا] ثُمَّ تَزَوَّجَهَا او بیا دا سړی د هغې سره نکاح وکړي لَمْ يَكُنْ مُولِيًا وَلَا مُظَاهِرًا نو هغه به نه ایلاء کونکی وي او نه ظهار کونکی لِأَنَّ الْكَلَامَ فِي مَخْرَجِهِ وَقَعَ بَاطِلًا لِانْعِدَامِ الْمَحَلِّيَّةِ ځکه چي د محل د نشتوالي په وجه دا کلام د خپل راوتلو [تکلم] په وخت کي باطل واقع سو فَلَا يَنْقَلِبُ صَحِيحًا بَعْدَ ذٰلِكَ نو تر باطلېدلو وروسته به صحیح نه را ګرځي وَإِنْ قَرِبَهَا كَفَّرَ او که دا سړی [تر نکاح وروسته] د هغې سره وطي وکړي نو کفاره به اداء کوي لِتَحَقُّقِ الْحِنْثِ ځکه چي حانث کېدل ثابت سو إِذِ الْيَمِينُ مُنْعَقِدَةٌ فِي حَقِّهِ ځکه چي د حانث کېدلو په حق کي یمین منعقد سوی دی وَمُدَّةُ إِيلَاءِ الْأَمَةِ شَهْرَانِ او د ښځي د ایلاء مودت دوې میاشتي دی لِأَنَّ هٰذِهِ مُدَّةٌ ضُرِبَتْ أَجَلًا لِلْبَيْنُونَةِ ځکه چي دا مودت ایعني د

ايلاء څلور مياشتي مودت ادبائنه کېدو لپاره ټاکل سوی دی فَتَتَنَصَّفُ بِالرِّقِّ نو د رقيت په وجه سره به دا مودت نيم کرځي کَمُدَّةِ الْعِدَّةِ لکه څرنګه چي د عدت مودت ادرقيت په وجه نيم کرځي ا.

اللغات: ﴿ظَهر﴾ شا، ملا. ﴿کَفَّر﴾ د تفعيل ماضي ده: کفاره اداء کول. کفاره ورکول. ﴿تَحَقُّق﴾ د تفعّل مصدر دی: ثابتېدل. مضبوطېدل (پخېدل). ﴿ضُرِبَتْ﴾ د ضرب له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي مجهولي صيغه ده. د دې باب څو معناوي دي. دلته په معنیٰ سره د "ټاکل کېدلو" او "متعينولو" دی. ﴿الْبَيْنُوْنَة﴾ د ضرب مصدر دی: بائنه کېدل. جلا کېدل.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که يو سړی پردۍ ښځي ته داسي ووايي : وَاللهِ لَا اَقْرَبُکِ (په خدای قسم زه با ستا سره وطي نه کوم). يا ورته ووايي: أَنْتِ عَلَيَّ کَظَهرِ اُمِّيْ (ته پر ما داسي حرامه يې لکه زما د مور شا [ملا] چي پر ما حرامه ده). او بيا يو څو وخت وروسته دا سړی د دغه پردۍ ښځي سره نکاح وکړي. نو په دې صورت کي هغه نه ايلاء کوونکي ګرځي او نه ظهار کونکی ګرځي: دليل دا دی چي د ايلاء يا د ظهار د صحت لپاره د ښځي محل کېدل (يعني د دې سړي په نکاح کي راتلل) ضروري دي. او څرنګه چي د تکلّم په وخت کي دا ښځه د هغه په نکاح کي نه ده. نو ځکه د هغه دا کلام لغو او باطل سو. او کله چي يو وار کلام باطل سو. نو تر نکاح وروسته دويم وار د هغه کلام صحيح کېدل او بيا د هغه راګرځېدل ممکن نه دي. نو ځکه به وروسته په نکاح کولو سره ايلاء او ظهار نه ثابتيږي. خو څرنګه چي دلته د خاوند په اوله جمله وَاللهِ لَا اَقْرَبُکِ کي يمين سته. او مطلق يمين دی. نو په دې وجه که هغه تر نکاح وروسته د ښځي سره وطي وکړي. نو د دې جملې په وجه پر خاوند د يمين کفاره واجبيږي. ځکه چي د دې جملې په حق کي يمين منعقد سوی وو. نو د يمين ارتکاب به د هغه په حق کي د کفارې سبب وي.

ومدة الإيلاء إلخ: په دې سره د مينځي د ايلاء مودت بيانوي. د آزادي ښځي د ايلاء مودت خو مخکي ذکر سو چي څلور مياشتي دی. لېکن د مينځي د ايلاء مودت دوې مياشتي دی (يعني که خاوند مينځي ته ووايي چي: په خدای قسم که دوې مياشتي در نژدې سم. نو ايلاء ثابتيږي)، ځکه چي په ايلاء کي څلور مياشتي د بينونت حد ټاکل سوی دی. او د رقيت (غلامی) په وجه د مينځي په عدت او طلاق کي تنصيف کيږي. نو د مينځي د ايلاء په مودت کي به هم تنصيف کيږي. او د هغې د ايلاء مودت به د آزادي ښځي په نسبت نيم وي. چي هغه دوې مياشتي کيږي.

په کومو صورتونو کې چې جماع نه سي کېدای په هغوی کې به ايلاء کونکی څرنګه رجوع کوي؟

وَإِنْ كَانَ الْمُولِي مَرِيضًا لَا يَقْدِرُ عَلَى الْجِمَاعِ او که ايلاء کونکی ناروغه وي پر جماع قدرت نه لرئ أَوْ كَانَتْ مَرِيضَةً أَوْ رَتْقَاءَ أَوْ صَغِيرَةً لَا تُجَامَعُ يا [د هغه] ښځه ناروغه وي يا د جماع لاره يې بنده وي يا دومره کوچنی وي چې د هغې سره جماع کېدای نه سي أَوْ كَانَتْ بَيْنَهُمَا مَسَافَةٌ لَا يَقْدِرُ أَنْ يَصِلَ إِلَيْهَا فِي مُدَّةِ الْإِيلَاءِ يا د خاوند او ښځي په مينځ کي دومره [ډېره] مسافه وي چې [خاوند] هغې ته د ايلاء په مودت کي رسېدلای نه سي فَفَيْئُهُ أَنْ يَقُولَ بِلِسَانِهِ: فِئْتُ إِلَيْهَا فِي مُدَّةِ الْإِيلَاءِ نو [په دې ټولو صورتونو کي د ايلاء] څخه د خاوند د رجعت کولو طريقه دا ده چې په خپله ژبه سره [داسي] ووايي: ما هغې ته د ايلاء په مودت کي رجعت وکړی فَإِنْ قَالَ ذَلِكَ نو که چيري هغه همداسي ووېل سَقَطَ الْإِيلَاءُ نو ايلاء ساقطيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا فَيْءَ إِلَّا بِالْجِمَاعِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې رجعت فقط په جماع سره کيږي وَإِلَيْهِ ذَهَبَ الطَّحَاوِيُّ او همدې طرف ته امام طحاوي رَحِمَهُ الله هم تللی دی لِأَنَّهُ لَوْ كَانَ فَيْئًا لَكَانَ حِنْثًا ځکه که چيري هغه رجعت وای نو حانث کېدل به هم وای [لهذا کله چې په هغه سره نه حانثيږي نو فيء به هم نه په ثابتيږي] وَلَنَا: أَنَّهُ آذَاهَا بِذِكْرِ الْمَنْعِ زموږ دليل دا دی: چې خاوند د منع په ذکر کولو سره ښځي ته تکليف ورکړی دی ايعني خاوند په خوله او زبان سره د دې خبري په کولو ښځي ته تکليف رسولی دی چې زه به تا ته نه نژدې کېږم او ستا له وطي څخه منع کېږم] فَيَكُونُ إِرْضَاؤُهَا بِالْوَعْدِ بِاللِّسَانِ نو د هغې راضي کول به هم په زباني وعدې سره وي وَإِذَا ارْتَفَعَ الظُّلْمُ او کله چې ظلم ختم سو لَا يُجَازَى بِالطَّلَاقِ نو په طلاق [واقع کولو] سره به هغه [خاوند] ته بدله نه ورکول کيږي وَلَوْ قَدَرَ عَلَى الْجِمَاعِ فِي الْمُدَّةِ او که هغه د ايلاء په مودت کي پر جماع کولو قادر سي بَطَلَ ذَلِكَ الْفَيْءُ نو هغه [زباني] رجعت باطليږي وَصَارَ فَيْئُهُ بِالْجِمَاعِ او د خاوند رجعت به د جماع ذريعه سره وي لِأَنَّهُ قَدَرَ عَلَى الْأَصْلِ قَبْلَ حُصُولِ الْمَقْصُودِ بِالْخَلَفِ ځکه چې هغه د نائب په ذريعه د مقصود تر حاصلولو مخکي پر أصل قادر سو.

اللغات: ﴿رَتْقَاء﴾ هغه ښځه چې د جماع لاره يې د هډوکي په وجه يا د داسي بل شي په وجه بنده سوې وي، هغه ښځه چې د جماع او د متيازو لاره يې يو سوی وي او جماع ور سره کول مشکل وي.

﴿فَيْءِ﴾ له ايلاء څخه رجعت (رجوع) کولو ته فَيْء وايي. ﴿إِرْضَاءِ﴾ د افعال مصدر دی: راضي کول. خوشحاله کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د خپلې ښځې سره تر ايلاء کولو وروسته دومره ناروغه (ناجوړه) سي چې د جماع قدرت يې ختم سي يا ښځه دومره ناروغه سي چې د جماع قدرت يې ختم سي، يا د ښځې د جماع لاره (سوری) بند وي، يا ښځه دومره کم عمره وي چې جماع ور سره کېدای نه سي، نو په دې ټولو صورتونو کي زموږ په نېز د رجعت حکم له رجعة بالجماع څخه د رجعة بالقول وطرف ته منتقل کيږي، او که خاوند د ايلاء د مودت په دوران کي فقط فِئْتُ إِلَيْهَا ووايي (چې ما هغې ته فَيْء او رجعت وکړی)، نو ايلاء به ختميږي او رجعت به ثابتيږي.

لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې په ايلاء کي فیء او رجعت فقط د جماع سره خاص دی. او په ژبې او زبان سره فیء نه سي ثابتېدای، په احنافو کي د امام طحاوي رَحِمَهُ الله هم ودغه طرف ته ميلان دی.

د امام شافعي دليل: دا دی چې که په زبان سره (يعني که د فِئْتُ إِلَيْهَا او دا سي نورو جملو په ويلو سره) رجعت ثابتېدای، نو قسم به هم ماتېدای او خاوند به هم حانث کېدای. ځکه چې د فیء سره دوه حکمه متعلق کيږي: ① د کفارې واجبېدل، ② د فرقت حکم منع کېدل. او دا خبره تسليم سوې ده چې په زبان سره فیء کول د کفارې په حق کي معتبر نه دي، يعني فقط په خوله د رجعت او فیء په ويلو سره کفاره نه واجبيږي. لهذا دويم حکم يعني د فرقت ممانعت به هم نه ختميږي. او په ښځه او خاوند دواړو کي به هغسي فرقت باقي پاته وي، او کله چې په دوی کي فرقت باقي پاته دی. نو ايلاء به هم باقي پاته وي. نو ځکه امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د ايلاء رجعت به فقط په جماع سره ثابتيږي. او په ژبه سره هغه ثابتېدای نه سي. (بنايه ج:۵، ص:۲۸۴)

زموږ دليل: دا دی چې اصل خو همدا خبره ده چې مُوْلِيْ (ايلاء کونکي) د جماع په ذريعه فیء وکړي، لېکن کله چې هغه دومره ناروغه سي چې د جماع قدرت يې ختم سي، نو ښکاره ده چې بيا به په فَيْء بِاللِّسَان سره کار پوره کيږي، او دلته فَيْء بِاللِّسَان صحيح هم دی، ځکه کله چې خاوند د ايلاء کولو په وخت کي پر جماع قدرت نه درلودی، نو ښکاره خبره ده چې په ايلاء کولو سره هغه فقط ښځې ته دمکي ورکول او ښځه يې ېېرول، او څرنګه چې دغه دمکي زباني وي، نو د هغه تلافي به هم په زبان سره کيږي، او په زبان سره به د فِئْتُ إِلَيْهَا په ويلو سره فیء (رجوع) ثابتيږي. او بېله څه وجهي به هغه ته د ښځې د طلاقېدلو په ذريعه بدله نه ورکول. (يعني د فَيْء بِاللِّسَان څخه وروسته به پر ښځې طلاق نه واقع کيږي)، ځکه چې شريعت سزا د جرم مطابق ټاکلې ده. او کله چې خاوند د

ښځي سره تجاوز او زیاتوب کړی نه دي. نو د طلاق واقع کولو په ذریعه به پر خاوند هم تجاوز نه کیږي.

ولوقدر إلخ: د دې حاصل دا دی چي که دایلاء د مودت په دوران کي خاوند جوړ او روغ سي او پر جماع کولو قدرت پیدا کړي، نو په دې صورت کي زموږ په هم نېز فَيْء بِاللِّسَان معتبر نه دی. بلکي په دې صورت کي به هغه د جماع په ذریعه رجعت او فیء کوي، ځکه قاعده دا ده چي کوم څوک د بدل په ذریعه د مقصود تر حاصلولو مخکي پر اصل قادر سي، نو د هغه په حق کي حکم د اصل وطرف ته رجوع کوي. او هغه به فقط د أصل په ذریعه مأمور به اداء کوي. او څرنګه دلته هم خاوند د بدل یعني د فیء بِاللسان په ذریعه د مقصود تر حاصلولو مخکي پر أصل یعني پر جماع قدرت پیدا کړی دی، نو ځکه به د هغه په حق کي هم حکم د أصل وطرف ته رجوع کوي. او اوس به فقط په فیء بالجماع سره رجعت ثابتیږي.

د "أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ" ویلو حکم او تفصیل

وَإِذَا قَالَ لِامْرَأَتِهِ: أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ او که [خاوند] خپلي ښځي ته ووایي: ته پر ما حرامه یې سُئِلَ عَنْ نِيَّتِهِ نو د هغه د نیت پوښتنه کیږي فَإِنْ قَالَ: أَرَدْتُ الْكَذِبَ نو که هغه ووایي: چي ما [په دې سره] د دروغو اراده کړې ده [یعني ما ربښتیا نه ویل، بلکي دروغ مي ویل] فَهُوَ كَمَا قَالَ نو هغه به همداسي وي لکه څرنګه چي هغه وایي لِأَنَّهُ نَوَى حَقِيقَةَ كَلَامِهِ ځکه چي هغه د خپل کلام د حقیقي معنیٰ نیت کړی دی وَقِيلَ: لَا يُصَدَّقُ فِي الْقَضَاءِ او ویل سوي دي: چي په قضاء کي به [د هغه] تصدیق نه کیږي لِأَنَّهُ يَمِينٌ ظَاهِرًا ځکه چي دا [کلام] ظاهراً قسم دی وَإِنْ قَالَ أَرَدْتُ الطَّلَاقَ او که هغه ووایي: چي ما د طلاق اراده کړې ده فَهِيَ تَطْلِيقَةٌ بَائِنَةٌ نو هغه یو طلاق بائن دی إِلَّا أَنْ يَنْوِيَ الثَّلَاثَ خو دا چي هغه د دریو طلاقو نیت وکړي وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِي الْكِنَايَاتِ او دا [مسئله] موږ په کنایاتو کي ذکر کړه وَإِنْ قَالَ أَرَدْتُ الظِّهَارَ او که هغه ووایي: چي ما د ظهار اراده کړې ده فَهُوَ ظِهَارٌ نو هغه ظهار دی وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ ❁ او دا [حکم] د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَيْسَ بِظِهَارٍ او محمد

❁ القول الراجح: قول الشیخین رَحِمَهُمَاالله ، کما ذکر فی رد المحتار (ج:۲، ص:۶۰۰). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۴۴]

رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا ظهار نه دی لِانْعِدَامِ التَّشْبِيهِ بِالْمُحَرَّمَةِ ځکه چې په [په دې کلام کې] د محرمې ښځې سره تشبيه ورکول نشته وَهُوَ الرُّكْنُ فِيهِ او د محرمه ښځې سره تشبيه ورکول په ظهار کې رکن [او ضروري] دي وَلَهُمَا: أَنَّهُ أَطْلَقَ الْحُرْمَةَ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې هغه حرمت مطلق کړی دی [يعني خاوند په خپل کلام کې حرمت مطلق ذکر کړی دی] وَفِي الظِّهَارِ نَوْعُ حُرْمَةٍ او په ظهار کې يو قسم حرمت وي [يعني ظهار د حرمت يو قسم او نوع ده] وَالْمُطْلَقُ يَحْتَمِلُ الْمُقَيَّدَ او مطلق د مقيد احتمال لري وَإِنْ قَالَ أَرَدْتُ التَّحْرِيمَ أَوْلَمْ أُرِدْ بِهِ شَيْئًا او که هغه ووايي: چې ما [په دې کلام سره] د حراموللو اراده کړې ده يا ما په دې سره د هيڅ شي اراده کړې نه ده فَهُوَ يَمِينٌ نو هغه قسم دی يَصِيرُ بِهِ مُوْلِيًا او په دې سره به هغه ايلاء کونکی ګرځي لِأَنَّ الْأَصْلَ فِي تَحْرِيمِ الْحَلَالِ إِنَّمَا هُوَ يَمِينٌ عِنْدَنَا ځکه چې د حلال شي په حراموللو کې اصل دا دی چې هغه زموږ په نيز قسم دی وَسَنَذْكُرُهُ فِي الْأَيْمَانِ إِنْ شَاءَ اللهُ او دا به موږ انشاء الله په کتابُ الأيمان کې ذکر کړو وَمِنَ الْمَشَايِخِ مَنْ يَصْرِفُ لَفْظَةَ التَّحْرِيمِ إِلَى الطَّلَاقِ مِنْ غَيْرِ نِيَّةٍ بِحُكْمِ الْعُرْفِ او د مشائخو څخه ځيني حضرات د عرف د حکم په وجه سره د تحريم لفظ د نيت څخه بغير [يعني د نيت د نشتوالي په صورت کې] د طلاق وطرف ته ګرځوي. والله أعلم

اللغات: ﴿تَشْبِيْه﴾ د تفعيل مصدر دی: تشبيه ورکول. ﴿لَمْ أُرِدْ﴾ د افعال له باب څخه د جحد صيغه ده: اراده کول. نيت کول.

تشريح: په دې عبارت کې فقط د يوې جملې "أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ" په هکله څو مسئلې بيان سوي دي، چې هغه به انشاء الله په ترتيب ستاسو په مخ کې ذکر سي:

(۱)... اوله مسئله دا ده که خاوند خپلې ښځې ته ووايي: أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ (ته پر ما حرامه يې). نو د دې څه حکم دی؟ فرمايي چې په دې سلسله کې به د هغه نيت او اراده معلوميږي. ځکه چې د خاوند دا کلام د څو معناګانو احتمال لري. نو د يو معنیٰ د متعينولو لپاره به له خاوند څخه د نيت پوښتنه کيږي.

نو که خاوند ووايي چې ما په دې جملې سره د درواغو اراده کړې ده. نو د جمهورو علماؤ په نيز د هغه دا نيت او اراده شرعاً معتبره ده. لهذا نه به طلاق واقع کيږي. او نه به ايلاء او ظهار ثابتيږي: دليل دا دی چې دلته خاوند په خپل کلام سره د حقيقي معنیٰ اراده کړې ده؛ ځکه چې دا ښځه د هغه لپاره

حلاله ده. بيا د هغه دا قول أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ داسې خبر دی کوم چې د واقع مطابق نه دی. نو ځکه به کِذْب او دروغ وي. او څرنګه چې د کلام د حقيقي معنیٰ نيت کول شرعاً معتبر دی. نو دلته به هم د خاوند نيت معتبر وي.

وقيل إلخ: لېکن په دې مسئله کې د امام طحاوي او امام کرخي رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې قاضي به د کِذْب په نيت کې د دې سړي تصديق نه کوي. ځکه چې د هغه قول أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ په ښکاره قسم دی: ځکه چې دا يو حلال شی حرام ګرځول دي. او حلال شی حرام ګرځول قسم دی. لکه څرنګه چې الله تعالیٰ فرمايي: يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللهُ لَكَ (اې نبي کوم شی چې الله ستا لپاره حلال کړی دی. ته ولې هغه حرام ګرځوې؟). تر دې وروسته په دويم آيت کې الله تعالیٰ فرمايي: قَدْ فَرَضَ اللهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ (الله ستاسو د قسمونو حلالوالی هم مقرر کړی دی [په کفارې سره]). په دې دوو پرلپسې آيتونو سره په دې توګه دليل نيول کيږي چې په اول آيت کې د تَحْرِيْمُ الْحَلَال (يعني د حلال شي د حرام ګرځولو) بيان دی، او په دويم آيت کې هغه ته يمين (قسم) ويل سوي دي. نو معلومه سوه چې د تَحْرِيْمُ الْحَلَال (د حلال شي حرام ګرځول) قسم دی. لهذا خلاصه دا سوه چې په أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ کې د قسم معنیٰ ظاهر (ښکاره) ده. او د کِذْب معنیٰ يې د ظاهر خلاف ده. او مخکې ذکر سوه چې کوم شی د ظاهر خلاف وي، قضاءً به د هغه تصديق نه کيږي، نو ځکه به قاضي د کِذْب په نيت کې د دې سړي تصديق نه کوي.

(۲)... او که خاوند ووايي چې ما په أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ سره د طلاق نيت کړی دی، نو که هغه د يوه يا دوو طلاقو نيت کړی وي، نو په دواړو صورتونو کې د هغه پر ښځې يو طلاق بائن واقع کيږي. او که هغه د دريو طلاقو نيت کړی وي، نو درې طلاقه واقع کيږي. صاحب د هدايي فرمايي چې دا په کنايي الفاظو سره د طلاق واقع کولو مسئله ده، او موږ مخکې په بَابُ الْكِنَايَات کې په تفصيل سره دا مسئله بيان کړه فلا نعيد ههنا.

(۳)... او که خاوند ووايي چې ما په دې سره د ظهار د معنیٰ اراده کړې ده، نو د شيخينو په نيز به دا ظهار وي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به ظهار نه وي؛ د امام محمد دليل دا دی چې د ظهار معنیٰ دا ده چې خاوند د محلله (حلالي) ښځې تشبيه د محرمه ابديه ښځې سره ورکړي، او د ظهار رکن همدا تشبيه ورکول دي، او د خاوند په دې کلام کې تشبيه معدومه ده، ځکه چې د تشبيه هيڅ حرف پکښې نسته، نو ځکه به ظهار نه ثابتيږي.

ولهما إلخ: د شيخينو دليل دا دی چي دلته خاوند د حُرمت لفظ مطلق ذکر کړی دی، او د حُرمت لفظ د حُرْمَة بَالطَّلَاق احتمال هم لري او د حُرْمَة بَالظِّهَار احتمال هم لري، خلاصه دا چي ظهار هم د حرمت يوه نوع ده، نو ظهار د مطلق حرمت له محتملاتو څخه دی، او قاعده دا ده چي کوم څوک د خپل کلام د احتمالي معنیٰ نيت وکړي، نو د هغه تصديق به کيږي، نو ځکه به دلته د خاوند د ظهار نيت معتبر وي.

(۴)... څلورمه مسئله دا ده که خاوند ووايي چي ما په دې کلام سره د ښځي د حراموالو نيت کړی دی. يا ووايي چي ما په دې سره د هيڅ شي نيت نه دي کړی، نو دا به قسم (يمين) وي، او د دې په وجه به هغه ايلاء کونکی وي، لهذا که په دې صورت کي هغه په څلورو مياشتو کي دننه د خپلي ښځي سره وطي وکړي، نو کفاره به اداء کوي، او که وطي نه وکړي نو د ايلاء په وجه سره به د هغه پر ښځي يو طلاق بائن واقع کيږي (لکه مخکي چي دا خبره د ايلاء په حکم کي بيان سوه).

د تحريم د نيت کولو په صورت کي ځکه دا کلام پر يمين حمل کيږي چي تَحْرِيْمُ الْحَلَال يمين او قسم دی، لکه څه مخکي چي په دې آيت "يَآ أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ اللهُ...إلخ" سره ثابته سوه.

او د هيڅ نيت کولو په صورت کي به په دې وجه دا کلام يمين وي، چي په يمين سره چي کوم حرمت ثابتيږي، هغه د ادنیٰ درجې حرمت وي، ځکه چي په ايلاء کي تر کفاره مخکي وطي کول روا دي، او په ظهار کي روا نه دي، او په ايلاء کي في الحاله حرمت نه ثابتيږي، بلکي څلور مياشتي وروسته حرمت ثابتيږي، او په ظهار کي في الحاله حرمت ثابتيږي، او همدارنګه حُرمة بِالإيلاء له حُرمة بالطلاق څخه ادنیٰ دی، ځکه که طلاق مراد سي، نو طلاق بائن به واقع سي او وطي به حرام سي، او ايلاء وطي نه حراموي، لهذا کله چي د يمين حرمت ادنیٰ دی، نو د متيقن کېدلو په وجه به هغه متعين وي. صاحب د هدايې فرمايي چي په کتَابُ الأَيْمَان کي به موږ انشاء الله په تفصيل سره د يمين مسئله ذکر کړو.

ومن المشائخ إلخ: د دې حاصل دا دی چي د بلخ د مشائخو څخه د فقيه ابو جعفر هندواني، شيخ ابو بکر اسکاف او شيخ ابو بکر بن سعيد رَحِمَهُمُ الله رايه دا ده چي که په أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ سره خاوند هيڅ نيت نه وکړي، نو له دې څخه به طلاق مراديږي، ځکه چي د بلخ اوسېدونکي دا جمله د طلاق لپاره استعمالوي، ګواکي دغه حضراتو د خپلي زمانې پر عُرف فتویٰ ورکړې ده، او په شريعت کي عُرف معتبر دی، لکه څرنګه چي علامه شامي رَحِمَهُ الله هم په "رسمُ المفتي" کي داسې ليکلي دي چي: وَالْعُرْفُ فِي الشَّرْعِ لَهُ اِعْتِبَارٌ. فقط والله أعلم وعلمه أتم



بَابُ الْخُلْعِ

(دا) باب د خلع (د احکامو په بیان کي) دی

تشریح: له بَابُ الإِیلاء څخه وروسته د بَابُ الخُلع د بیانولو دوې وجهي دي: ① یوه وجه دا چي ایلاء له مال څخه خالي وي، او په خلع کي مال وي، لهذا په دې اعتبار سره ایلاء طلاق ته ډېره نژدې ده، نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله اول د ایلاء بیان وکړی، اوس د خلع بیان کوي. ② دویم دا چي په ایلاء کي د نارینه له طرفه د طلاق اقدام کیږي، او په خلع کي د ښځي له طرفه د طلاق اقدام کیږي، او نارینه وو ته په هر ډګر کي وړاندیتوب حاصل دی، نو په دې وجه هم ایلاء تر خلع مخکي بیان سوه، او خلع تر هغه وروسته بیانیږي.

د خلع لغوي او اصطلاحي معنیٰ: خُلْع د فتح د باب مصدر دی، معنیٰ یې ده: ایستل (ویستل)، جلا کول، کاږل (باسل)، په قرآن کي ذکر سوي دي: فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ (وکاږه خپلي څپلۍ).

د خلع شرعي معنیٰ ده: أَخْذُ مَالٍ مِنَ الْمَرْأَةِ بِإِزَاءِ مِلْكِ النِّكَاحِ بِلَفْظِ الْخُلْعِ. (یعني د خلع په لفظ سره د ملک نکاح په عوض کي د خپلي ښځي څخه مال اخیستل)، لنډه دا چي د خلع معنیٰ ده: "د مال په بدله کي ښځه د خپل نکاح څخه ایستل"، د خلع شرائط هغه دي کوم چي د طلاق شرائط دي، په خلع کي د ښځي له طرفه مال وي او خاوند له طرفه طلاق ورکول وي، د خلع حکم دادی چي د خلع په ذریعه پر ښځي یو طلاقِ بائن واقع کیږي. (بناية ج: ۵، ص: ۲۹۱)

د خلع تعریف او حکم

وَإِذَا تَشَاقَّ الزَّوْجَانِ او کله چي خاوند او ښځه یو د بل مخالف سي ایعني په دواړو کي مخالفت پیدا سي او ګزاره یې سخته سي ا وَخَافَا أَنْ لَا يُقِيمَا حُدُودَ اللهِ او دواړو ته دا بېره [او اندېښنه] پیدا سي چي دوی به د الله حدود قائم نه کړی سي فَلَا بَأْسَ بِأَنْ تَفْتَدِيَ نَفْسَهَا مِنْهُ بِمَالٍ يَخْلَعُهَا بِهِ نو هیڅ پروا نسته چي ښځه خپل خاوند ته د داسي مال په ذریعه د خپل ځان فدیه ورکړې چي د هغه په وجه خاوند ښځه جلا کړي ااو د ښځي سره خلع وکړي ا لِقَوْلِهِ تَعَالَى: فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ [البقرة: ۲۲۹] ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: نو پر دوی دواړو هیڅ حرج نسته په هغه فدیه کي کوم چي یې ښځه [خاوند ته]

ورکوي ﴿فَإِذَا فَعَلَا ذٰلِكَ﴾ نو کله چې خاوند او ښځه داسې وکړي ﴿وَقَعَ بِالْخُلْعِ تَطْلِيقَةٌ بَائِنَةٌ﴾ نو د خلع په ذريعه به يو طلاق بائن واقع کيږي ﴿وَلَزِمَهَا الْمَالُ﴾ او پر ښځې به مال لازميږي ﴿لِقَوْلِهِ ﷺ [1] : اَلْخُلْعُ تَطْلِيقَةٌ بَائِنَةٌ﴾ ځکه چې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: خلع طلاق بائن ده ﴿وَلِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ الطَّلَاقَ﴾ او ځکه چې خلع د طلاق احتمال لري ﴿حَتّٰى صَارَ مِنَ الْكِنَايَاتِ﴾ همدا وجه ده چې هغه له کناياتو څخه ده ﴿وَالْوَاقِعُ بِالْكِنَايَاتِ بَائِنٌ﴾ او په کناياتو سره واقع کېدونکي طلاق، طلاق بائن وي ﴿إِلَّا أَنَّ ذِكْرَ الْمَالِ أَغْنٰى عَنِ النِّيَّةِ هُنَا﴾ خو د مال تذکرې [ذکر کولو] دلته [خاوند او ښځه] د نيت څخه مستغنی کړي دي ايعني د مال د تذکرې په وجه په خلع کې د نيت ضرورت نسته] ﴿وَلِأَنَّهَا لَا تُسَلِّمُ الْمَالَ إِلَّا لِتَسَلَّمَ لَهَا نَفْسُهَا﴾ او ځکه چې ښځه فقط په دې وجه مال ورسپاري چې د هغې ځان [په پوره توګه] هغې ته حواله کړی سي [او په پوره توګه هغه له خاوند څخه خلاصه سي] ﴿وَذٰلِكَ بِالْبَيْنُوْنَةِ﴾ او دا [مقصد] په طلاق بائن سره ترلاسه کيږي.

اللغات: ﴿تَشَاقَّ﴾ د تفعل ماضي ده: يو د بل مخالفت کول، جنګ او جنجال کول. ﴿تَفْتَدِي﴾ د افتعال مضارع ده: فديه ورکول. ﴿يَخْلَعُهَا﴾ د فتح مضارع ده: جلا کول، ايستل (ويستل). ﴿جُنَاحَ﴾ پروا، حرج، ګناه. ﴿أَغْنٰى﴾ د افعال ماضي ده: بې پروا کول، مستغني کول. ﴿تُسَلِّمُ﴾ دا د تفعيل له باب څخه د واحد مؤنث غائب مضارع معلومي صيغه ده. او تُسَلَّمُ مجهوله صيغه ده. د دې باب څو معناوي راځي، او دلته د "سپارلو" او "حواله کولو" په معنیٰ سره دي (زما په اند دا دوې صيغې د تفعّل يا د مجردو له باب څخه استعمالول د قاعدې مخالف دي).

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چې که د خاوند او ښځې ګزاره سره مشکله سي. په دواړو کې اختلاف او بې اتفاقي راسي، او د دې خبرې خطره وي چې د الله حدود به پايمال او ضايع کړی سي، نو د ښځې لپاره جائز دي چې خاوند ته يو څه مال ورکړي او له هغه څخه ځان خلاص کړي. کله چې ښځه د خلع په اراده خاوند ته مال ورکړي، او خاوند هغه مال واخلي. نو د خلع کولو په وجه سمدستي پر ښځې طلاق بائن واقع کيږي. که څه هم خاوند په عليحده توګه طلاق نه ورکړي (لېکن د ځينې علماؤ رايه دا ده چې په خلع کولو سره سمدستي طلاق نه واقع کيږي، بلکې تر مال اخيستلو وروسته به خاوند مستقلاً طلاق ورکوي، نو بيا طلاق واقع کيږي).

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في كتابه الخلع والطلاق، باب الخلع هل هو فسخ أو طلاق، حديث رقم:١٤٨٦٥

د خلع د جواز دليل هغه آيت او حديث دي كوم چې په كتاب كې ذكر سوه. د ځينې مفسرينو رايه دا ده چې كله ثابت بن قيس رضي الله عنه او د هغه ښځې د نبي ﷺ په مخ كې خلع وكړه، نو دا آيت نازل سو. او نبي ﷺ تر هغه وروسته همدا حديث بيان كړى.

په هغه آيت سره په دې توګه دليل نيول كيږي چې په هغه كې د ښځې مال وركولو ته فديه ويل سوي دي، او د ښځې له طرفه د فديه وركولو مطلب دى: "چې د خاوند له قيد څخه خلاصون تر لاسه كول"، او دا معنىٰ په خلع كې سته.

نو ثابته سوه چې ښځه د خلع په ذريعه خپل ځان د خاوند له قيد څخه آزادولاى سي، او كله چې هم دا كار يعني خلع پوره سي، نو پر ښځې به يو طلاق بائن واقع كيږي، او د ښځې پر ذمه به مال وركول واجب وي. په خلع سره د طلاق بائن واقع كېدلو دليل د كتاب حديث دى. يعني اَلْخُلْعُ تَطْلِيقَةٌ بَائِنَةٌ.

ولأنه يتحمل إلخ: په خلع سره د طلاق بائن واقع كېدلو عقلي دليل دا دى چې د خلع لفظ د كنايي الفاظو څخه دى. او په كنايي الفاظو سره طلاق بائن واقع كيږي، نو د خلع په لفظ سره به هم طلاق بائن واقع كيږي؛ او په كنايي لفظ كې د طلاق نيت كول ضروري دي، لېكن څرنګه چې په خلع كې د مال تذكره كيږي، نو همدغه د مال تذكره د دې خبرې دليل دى چې خاوند طلاق وركول غواړي، نو ځكه په خلع كې د طلاق د نيت كول ضروري نه دي.

ولأنها لا تتسلم إلخ: دا دويم عقلي دليل دى چې ښځه د دې لپاره مال وركوي چې له خاوند څخه ځان خلاص كړي او په پوره توګه د هغې په لاس كې خپل ملكيت راسي، او دا كار په طلاق بائن سره پوره كيږي، نو ځكه به په خلع سره طلاق بائن واقع كيږي.

په خلع كې د مال اخيستلو بيان

وَإِنْ كَانَ النُّشُوزُ مِنْ قِبَلِهِ او كه نافرماني د خاوند له طرفه وي يُكْرَهُ لَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنْهَا عِوَضًا نو د خاوند لپاره مكروه دي چې له ښځې څخه عوض واخلي لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ... إِلَىٰ أَنْ قَالَ: فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا [النساء: ۲۰] ځكه چې الله تعالىٰ فرمايلي دي: او كه تاسي [اې خاوندانو!] اراده وكړئ! د بدلولو د يوې ښځې پر ځاى د بلې ايعني چې يوه طلاقه كړى او د هغې پر ځاى بله په نكاح كړئ!... تر دې چې الله تعالىٰ فرمايلي دي: نو مه اخلئ تاسي [اې خاوندانو! بيرته] له هغه مال څخه هيڅ شى اكوم چې تاسي خپلو ښځو ته وركړى وي] وَلِأَنَّهُ أَوْحَشَهَا بِالِاسْتِبْدَالِ او ځكه چې خاوند دا ښځه

[د ډلي ښځي] په بدلولو سره په وحشت [ډېره] مبتلا کړه فَلَا يَزِيْدُ فِي وَحْشَتِهَا بِأَخْذِ الْمَالِ نو د مال په اخيستلو سره د هغې وحشت نور نه زياتوي.

اللغات: ﴿النُّشُوْز﴾ اسمِ مصدر دی، د نصر او ضرب دواړو بابونو څخه راځي: نافرماني، سرکښي، نفرت، زياتوب (تجاوز). ﴿إِسْتِبْدَال﴾ يو شی په بل شي سره بدلول (اليشول). ﴿أَوْحَش﴾ د افعال ماضي ده: بل څوک په وحشت او ډېره کي اچول، په غم او تشويش مبتلا کول.

تشريح: مسئله: دا ده چي د خاوند لپاره په هغه صورت کي د مال اخيستل صحيح دي، کله چي نافرماني او تجاوز د ښځي له طرفه وي، لېکن که تجاوز او زياتوب په خپله د خاوند له طرفه وي، نو په دې صورت کي د هغه لپاره د خلع په بدله کي مال اخيستل مکروه دي؛ دليل دا آيت دی: "إِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا"، په دې آيت کي په واضحه توګه دې ته اشاره سوې ده چي له ښځي څخه د خلع په توګه مال اخيستل پکار نه دي او که ظلم او زياتوب د خاوند له طرفه نو بيا په طريقه اولیٰ سره اخيستل پکار نه دي، بلکي د هغه اخيستل مکروه دي.

دويم دليل دا دی چي خاوند د خلع په کولو سره ښځي ته دا ښکاره کوي چي زه به ستا پر ځای د بلي ښځي سره نکاح وکړم، او دا د ښځي لپاره ډېره مشکله خبره ده. نو په خلع کولو سره ښځه په وحشت او ډېره کي لوېږي، او دلته ظلم او تجاوز هم د خاوند له طرفه دی، نو که د هغې مظلومي څخه مال هم واخيستل سي، نو نوره به په وحشت او غم سره مبتلا سي، لهذا په دې وجه هم مال اخيستل مکروه دي.

د پورتنۍ مسئلي يو بل صورت

وَإِنْ كَانَ النُّشُوْزُ مِنْهَا او که نافرماني د ښځي له طرفه وي كَرِهْنَا لَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنْهَا أَكْثَرَ مِمَّا أَعْطَاهَا نو موږ د خاوند لپاره دا خبره مکروه ګڼو چي له ښځي څخه تر هغه مال زيات [مقدار] واخلي کوم چي يې [د نکاح په بدله کي] هغې ته ورکړی وي وَفِي رِوَايَةِ الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ: طَابَ الْفَضْلُ أَيْضًا او د جامع صغير په روايت کي دي: چي د خاوند لپاره زيات [مقدار] اخيستل هم روا دي لِإِطْلَاقِ مَا تَلَوْنَا بَدْءًا د هغه آيت د مطلقوالي په وجه کوم چي موږ [د باب] په شروع کي تلاوت کړی وَوَجْهُ الْأُخْرَى قَوْلُهُ عليه السلام [1]

---

[1] تخريج: أخرجه دار قطني في السنن، حديث رقم: ۳۶۷۱.

فِي امْرَأَةِ ثَابِتِ بْنِ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ: أَمَّا الزِّيَادَةُ فَلَا او د دويم روايت دليل د ثابت بن قيس بن شماس رضي الله عنه د ښځي په هکله د نبي ﷺ دا فرمان دی: أَمَّا الزِّيَادَةُ فَلَا (اې د ثابت ښځي! خپل خاوند ته د هغه باغ ورکړه!، او تر هغه زائد مال مه ورکوه!) وَقَدْ كَانَ النُّشُوزُ مِنْهَا او (په هغه کې) نافرماني د ښځي له طرفه وه.

اللغات: ﴿طَابَ﴾ د ضرب ماضي ده: ښه کېدل، افضل کېدل، پاکېدل، مراد ځني إباحت (روا کېدل) دي. ﴿فَضْل﴾ زياتوب، اضافه.

تشريح: مسئله: دا ده که نافرماني او تجاوز د ښځي له طرفه وي، نو د مبسوط د روايت مطابق د خاوند لپاره د مهر د مقدار څخه زيات مال اخيستل مکروه دي، لېکن د جامع صغير په روايت کي امام محمد رَحِمَهُ الله زيات مقدار هم د خاوند لپاره روا کړی دی: د جامع صغير د روايت دليل دا دی چي مخکني آيت: فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ مطلق دی، يعني په دې آيت کي مطلق فديه ذکر سوې ده، هغه که د مهر تر مقدار کمه وي يا زياته وي، نو ځکه به د خاوند لپاره د مهر د مقدار څخه زيات اخيستل روا وي.

او د مبسوط د روايت دليل د ثابت بن قيس رضي الله عنه د ښځي په هکله د نبي ﷺ دا قول دی: أَمَّا الزِّيَادَةُ فَلَا، يعني د مهر مسمیٰ د مقدار څخه زيات مال اخيستل مکروه دي، په سنن دار قطني کي پوره حديث داسي بيان سو دی: "قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ. أَنَّ ثَابِتَ بْنَ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ كَانَتْ عِنْدَهُ زَيْنَبُ بِنْتُ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُبَيِّ ابْنِ سَلُولٍ وَكَانَ أَصْدَقَهَا حَدِيقَةً فَكَرِهَتْهُ. فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: أَتَرُدِّينَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ الَّتِي أَعْطَاكِ؟. قَالَتْ: نَعَمْ. وَزِيَادَةً. فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: أَمَّا الزِّيَادَةُ فَلَا وَلَكِنْ حَدِيقَتُهُ". (سنن دار قطني، باب المهر، حديث شمېره: ۳۶۷۱)

حضرت ثابت بن قيس د نکاح په وخت کي خپلي ښځي ته يو باغ د مهر په توګه ورکړی وو. لېکن ښځه يې په هغه راضي نه وه، او د خلع مطالبه يې وکړه، نو نبي ﷺ له هغې څخه پوښتنه وکړه چي آيا ته هغه باغ بيرته ثابت ته ورکولای سې کوم چي يې تا ته په مهر کي درکړی وو. نو هغې وويل: هو! تر هغه زيات هم ورکولای سم، نو نبي ﷺ وفرمايي چي د زيات مقدار هيڅ ضرورت نسته، فقط هغه په مهر کي تاکل سوی باغ ورکړه.

له دې حديث سره دا خبره ښکاره سوه چي که نافرماني او تجاوز د ښځي له طرفه وي، نو د خاوند لپاره د مهر مسمیٰ د مقدار څخه زيات مال اخيستل مکروه دي، ځکه کله چي نبي ﷺ د دې اباحت ممنوع ګرځولی دی، نو که څه هم په دې سره حرمت نه ثابتيږي، لېکن کراهت ضرور ثابتيږي.

د پورتنۍ مسئلې یو بل صورت

وَلَوْ أَخَذَ الزِّيَادَةَ او كه [خاوند] زيات [مقدار] واخلي جَازَ فِي الْقَضَاءِ نو قضاءً جائز دي. وَكَذٰلِكَ إِذَا أَخَذَ وَالنُّشُوزُ مِنْهُ او همدارنګه [قضاءً جائز دي] كله چي [خاوند] په داسي حال كي [له ښځي څخه] مال واخلي چي نافرماني [هم] د خاوند له طرفه وي لِأَنَّ مُقْتَضٰى مَا تَلَوْنَا شَيْئَانِ ځكه كوم آيت چي موږ تلاوت كړی د هغه مقتضیٰ دوه شيان دي ايعني فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ د دوو شيانو تقاضا كوي] الْجَوَازُ حُكْمًا وَالْإِبَاحَةُ د حكماً جائز كېدلو او د روا كېدلو وَقَدْ تُرِكَ الْعَمَلُ فِي حَقِّ الْإِبَاحَةِ لِمُعَارِضٍ [لېكن د حديث] د معارض په وجه د روايښت په حق كي عمل پرېښوول سو فَبَقِيَ مَعْمُوْلًا فِي الْبَاقِيْ نو د باقي [جواز] په حق كي آيت معموله به پاته سو.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي نافرماني او تجاوز كه د ښځي له طرفه وي يا كه د خاوند له طرفه وي، په دواړو صورتونو كي د خاوند لپاره د مهر مسمیٰ څخه زيات مقدار اخيستل خو جائز دي. لېكن مكروه دي. او په جواز او كراهت كي اجتماع ممكن ده. ځكه چي د جواز ضد حرمت دی. نه كراهت. او د فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ آيت د دو شيانو تقاضا كوي: ① حكماً جائز كېدل (يعني زيات مقدار به حكماً جائز وي. كه څه هم مكروه وي). ② اباحت (يعني روا كېدل او افضل كېدل). او دلته د پورتني حديث "أَمَّا الزِّيَادَةُ فَلَا" په وجه اباحت پرېښوول سو. نو د دې آيت فقط يوه مقتضا پاته سوه چي تر مهر زيات مقدار اخيستل د كراهت سره جائز دي.

د "طَلَاقٌ عَلَى الْمَالِ" حكم

وَإِنْ طَلَّقَهَا عَلٰى مَالٍ فَقَبِلَتْ او كه [خاوند] ښځي ته د مال په عوض كي طلاق وركړي او ښځي [هغه] قبول كړي وَقَعَ الطَّلَاقُ وَلَزِمَهَا الْمَالُ نو طلاق واقع كيږي او پر ښځي مال لازميږي لِأَنَّ الزَّوْجَ يَسْتَبِدُّ بِالطَّلَاقِ تَنْجِيْزًا وَتَعْلِيْقًا ځكه چي خاوند په مُنجز او معلق دواړه قسمه طلاقونو كي مستقل دی ايعني خاوند په طلاق وركولو كي خود مختاره دی، سمدستي طلاق هم وركولای سي او معلق طلاق هم وركولای سي] وَقَدْ عَلَّقَهٗ بِقَبُوْلِهَا او هغه طلاق د ښځي پر قبلولو معلق كړی دی وَالْمَرْأَةُ تَمْلِكُ الْتِزَامَ الْمَالِ او ښځه [پر خپل ځان] د مال لازمولو ملكيت لري لِوِلَايَتِهَا عَلٰى نَفْسِهَا ځكه چي هغې ته پر خپل ځان [شپړ] ولايت حاصل دی وَمِلْكُ النِّكَاحِ مِمَّا يَجُوْزُ الْاِعْتِيَاضُ عَنْهُ او ملك نكاح له هغو شيانو څخه دی

چي د هغه عوض اخيستل جائز وي ايعني ملكِ نكاح يو داسي شی دی چي د هغه عوض او بدل اخيستل كېدای سي ا وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَالًا كه څه هم ملكِ نكاح مال نه دی كَالْقِصَاصِ لكه قصاص اچي مال نه دی ا وَكَانَ الطَّلَاقُ بَائِنًا او طلاق به بائن وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ الړ څه مخكي ا بيان كړی وَلِأَنَّهُ مُعَاوَضَةُ الْمَالِ بِالنَّفْسِ او ځكه چي دا د مال معاوضه د نفس په بدله كي ده وَقَدْ مَلَكَ الزَّوْجُ أَحَدَ الْبَدَلَيْنِ او خاوند په دوو عوضونو كي د يوه عوض مالک جوړ سو فَتَمْلِكُ هِيَ الْآخَرَ وَهِيَ النَّفْسُ تَحْقِيقًا لِلْمُسَاوَاةِ لهذا د برابری ثابتولو لپاره به ښځه د بل عوض يعني د خپل ځان مالكه جوړيږي.

اللغات: ﴿يَسْتَبِدُّ﴾ د استفعال مضارع ده. إِسْتَبَدَّ يَسْتَبِدُّ إِسْتَبْدَادًا: مستقل كېدل. خود مختاره كېدل. ﴿تَنْجِيز﴾ د تفعيل مصدر دی: فوراً (سمدستي) واقع كول. ﴿إِلْتِزَام﴾ د افتعال مصدر دی: په خپله غاړه اخيستل، پر ځان لازمول. ﴿مُعَاوَضَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: يو بل ته عوض (بدل) وركول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه خاوند د ښځي طلاق پر مال معلق كړي او داسي ووايي: طَلَّقْتُكِ عَلَى أَلْفِ دِرْهَم (ما د زرو درهمو په عوض كي تا ته طلاق دركړی). او ښځه طلاق او مال قبول كړي، نو طلاق واقع كيږي، او پر ښځي زر درهمه لازميږي.

صاحب د بنايې رَحِمَهُ الله ليكلي دي چي دا صورت پر دوو شيانو مبني دي: ① اول شی دا دی چي په خاوند او ښځي كي به د معاوضې أهليت وي، ② دويم شی دا دی چي په محل كي به د عوض او معاوضې د قبوليت صلاحيت وي، او دلته دواړه شيان موجود دي، ځكه چي خاوند د هر ډول طلاق وركولو أهل دی، يعني هم فوراً (منجز) طلاق وركولای سي، او هم طلاق پر يو شي معلق كولای سي، همدارنگه ښځي ته هم دا حق سته چي پر خپل ځان مال لازم كړي، ځكه چي ښځي ته پر خپل ځان ولايت تامه حاصل دی، او بيا په نكاح كي د معاوضې د قبوليت صلاحيت هم سته. ځكه كه څه هم نكاح مال نه ده. خو بيا هم نكاح د ختمولو عوض اخيستل جائز دي، لكه څرنگه چي د قصاص عوض اخيستل جائز دي، حالانكي قصاص مال نه دی، لنډه دا چي دلته د معاوضې د صحت ټوله شرطونه موجود دي، نو ځكه به د خاوند لپاره د مال په عوض كي طلاق وركول صحيح وي. او تر دې وروسته كه ښځه طلاق او د مال اداء كول قبول كړي، نو پر هغې به يو طلاق بائن واقع كيږي، ځكه چي ښځه په همدې وجه د مال په وركولو راضي كيږي چي په پوره توگه له خاوند څخه خلاصه سي او د خاوند له ملكيت څخه ووځي، او دا كار په طلاقِ بائن سره پوره كيږي.

ولأنه معاوضة إلخ: دويم دليل دا دی چي دلته د نفس په بدله کي خاوند ته مال ورکول کيږي او هغه د مال مالک جوړيږي. نو ښځه هم د خپل نفس (ځان) مالکه جوړېدل پکار دي. د دې لپاره چي دواړه په ملکيت کي سره برابر سي. او دا په هغه وخت کي ممکن دي. کله چي واقع کېدونکې طلاق. طلاق بائن وي. نو ځکه به طلاق بائن واقع کيږي.

پر غیرِ متقوّم شي خلع کول

قَالَ: وَإِنْ بَطَلَ الْعِوَضُ فِي الْخُلْعِ فرمايي: که چيري په خلع کي عوض باطل سي مِثْلَ أَنْ يُخَالِعَ الْمُسْلِمُ عَلَى خَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ أَوْ مَيْتَةٍ د مثال په توګه مسلمان کس پر شرابو يا پر خنزير يا پر مرداره خلع وکړي فَلَا شَيْءَ لِلزَّوْجِ نو د خاوند لپاره به هيڅ شی نه وي وَالْفُرْقَةُ بَائِنَةٌ او فرقت به بائن وي ايعني طلاق بائن به وي ا وَإِنْ بَطَلَ الْعِوَضُ فِي الطَّلَاقِ او که چيري په طلاق کي عوض باطل سي كَانَ رَجْعِيًّا نو هغه به اطلاق ا رجعي وي فَوُقُوعُ الطَّلَاقِ فِي الْوَجْهَيْنِ لِلتَّعْلِيقِ بِالْقَبُولِ او په دې دواړو صورتونو کي د طلاق واقع کېدل پر قبول اقبلولو ا د معلق کولو په وجه دي وَافْتِرَاقُهُمَا فِي الْحُكْمِ لِأَنَّهُ لَمَّا بَطَلَ الْعِوَضُ او په حکم کي د دواړو صورتونو مختلف کېدل په دې وجه دي چي کله عوض باطل سو كَانَ الْعَامِلُ فِي الْأَوَّلِ لَفْظَ الْخُلْعِ نو په اول صورت کي عامل د خلع لفظ سو وَهُوَ كِنَايَةٌ او هغه کنايي لفظ دی وَفِي الثَّانِي الصَّرِيحُ او په دويم صورت کي عامل صريح لفظ ا د طلاق لفظ ا سو وَهُوَ يُعْقِبُ الرَّجْعَةَ او صريح لفظ ا تر ځان ا وروسته رجعت ثابتوي وَإِنَّمَا لَمْ يَجِبْ لِلزَّوْجِ شَيْءٌ عَلَيْهَا او پر ښځي د خاوند لپاره ځکه هيڅ شی واجب نه سو لِأَنَّهَا مَا سَمَّتْ مَالًا مُتَقَوِّمًا حَتَّى تَصِيرَ غَارَّةً لَهُ ځکه چي ښځي ا په دې صورتونو کي ا هيڅ متقوم مال تاکلی نه دی چي هغه ا خاوند ته ا دوکه ورکونکې وګرځي ا ځکه چي شراب او داسي نور د مسلمان په حق کي متقوم مال نه دي ا وَلِأَنَّهُ لَا وَجْهَ إِلَى إِيجَابِ الْمُسَمَّى لِلْإِسْلَامِ او ځکه چي د مسلمانوالي په وجه د تاکل سوي مال د واجبولو هيڅ صورت نسته وَلَا إِلَى إِيجَابِ غَيْرِهِ او نه له دې شخه بغير ا د بل شي ا د واجبولو ا هم ا هيڅ صورت سته لِعَدَمِ الِالْتِزَامِ د التزام د نشتوالي په وجه ايعني ځکه چي ښځي له شراب او داسي نورو شخه بغير بل شی پر ځان لازم کړی نه دي ا بِخِلَافِ مَا إِذَا خَالَعَ عَلَى خَلٍّ بِعَيْنِهِ په خلاف د هغه صورت کله چي ا خاوند ا پر يوه متعينه ا تاکل سوې ا سرکه باندي خلع وکړي فَظَهَرَ أَنَّهُ خَمْرٌ بيا ښکاره سي چي هغه خو شراب دي لِأَنَّهَا سَمَّتْ مَالًا ځکه چي ا په دې صورت کي ا ښځي مال

تاکلې دی ا ځکه چې سرکه د مسلمان په حق کې متقوم مال دی ا فَصَارَ مَغْرُوْرًا نو خاوند به ادبنځې له طرفه ا دوکه سوی وي وَبِخِلَافِ مَا إِذَا كَاتَبَ أَوْ أَعْتَقَ عَلٰى خَمْرٍ او په خلاف د هغه صورت کله چې مالک د خپل غلام سره د شرابو په عوض کې بدلِ کتابت وکړي یا غلام آزاد کړي حَيْثُ تَجِبُ قِيمَةُ الْعَبْدِ نو ا په دې صورت کې ا د غلام قیمت واجبیږي لِأَنَّ مِلْكَ الْمَوْلَى فِيهِ مُتَقَوِّمٌ ځکه چې په غلام کې د مالک ملکیت متقوم دی وَمَا رَضِيَ بِزَوَالِهِ مَجَّانًا او مالک مفت [بیله عوضه] د خپل ملکیت په زائلیدلو راضي نه دی أَمَّا مِلْكُ الْبُضْعِ فِي حَالَةِ الْخُرُوْجِ غَيْرُ مُتَقَوِّمٍ او کوم چې ملکِ بضع دی نو هغه اله ملکیت څخه ا د وتلو په حالت کې متقوم نه ده عَلٰى مَا نَذْكُرُ چې هغه به موږ [انشاء الله] ذکر کړو وَبِخِلَافِ النِّكَاحِ لِأَنَّ الْبُضْعَ فِي حَالَةِ الدُّخُوْلِ مُتَقَوِّمٌ او په خلاف د نکاح. ځکه چې بضع [ملکیت ته] د داخلیدلو په حالت کې متقوم وي وَالْفِقْهُ: أَنَّهُ شَرِيْفٌ او د راز [او پوهنې] خبره دا ده: چې بضع یو محترم [او خوندور] شی دی فَلَمْ يُشْرَعْ تَمَلُّكُهُ إِلَّا بِعِوَضٍ إِظْهَارًا لِشَرَفِهِ نو د بضع د احترام [عظمت] د ښکندولو لپاره له څه عوض څخه بغیر د هغې مالک جوړیدل مشروع سوي نه دي فَأَمَّا الْإِسْقَاطُ فَنَفْسُهُ شَرَفٌ او کوم چې د ملکیت ساقطیدل دي نو هغه په خپل ذات کې د احترام [او عظمت] خبر ده فَلَا حَاجَةَ إِلٰى إِيْجَابِ الْمَالِ نو ځکه ادملکیت ساقطیدلو په وخت کې ادمال واجبولو خاص ضرورت نسته.

اللغات: ﴿مَيْتَةٌ﴾ مردار سوی حیوان. مرداره (یعني هغه حیوان چې په خپل مرګ مړ سوي وي. صاحب د مصباح یې داسي تعریف کړی دی: وَالْمَيْتَةُ مِنَ الْحَيَوَانِ مَا مَاتَ حَتْفَ أَنْفِهِ). ﴿فُرْقَةٌ﴾ جدایي. ﴿سَمَّتْ﴾ د تفعیل ماضي ده: تاکل. ذکر کول. نومول. ﴿غَارَّةٌ﴾ د نصر له باب څخه مؤنث اسمِ فاعل دی: دوکه کونکې ښځه (دوکه ورکونکې. دوکه بازه. چلبازه. ختا ایستونکې). ﴿مُتَقَوِّمٌ﴾ د تفعل اسم مفعول دی: قیمتداره (قیمت لرونکی. بیه لرونکی. نرخ لرونکی). قیمتي. ﴿مَغْرُوْرٌ﴾ د نصر له باب څخه د اسمِ مفعول صیغه ده: چا ته چې دوکه ورکول سوې وي. ﴿مَجَّانًا﴾ مفت (موت). په وړیا توګه. بیله عوضه. ﴿شَرِيْفٌ﴾ د کرُم له باب څخه د صفت مشبه صیغه ده: دلویی او عظمت خاوند. محترم.

تشریح : صورت د مسئلې : دا دی که یو مسلمان خاوند د خپلې ښځې سره د شرابو د یا خنزیر یا د مردار حیوان په عوض کې خلع وکړي (او د خلع لفظ استعمال کړي). نو څرنګه چې دا شیان د مسلمان په حق کې مال نه دي. نو ځکه دا شیان (عوض) باطلیږي او خاوند ته به هیڅ شی نه ورکول کیږي. خو څرنګه چې د خلع لفظ استعمال سوی دی کوم چې کنایي لفظ دی. او مخکې ذکر سوه چې په کنایي لفظ سره طلاق بائن واقع کیږي. نو په دې وجه به دلته پر ښځې طلاقِ بائن واقع کیږي.

او که یو مسلمان خاوند خپلې ښځې ته د شرابو یا د داسې بل حرام شي په عوض کې طلاق ورکړي (یعنې د طلاق لفظ استعمال کړي). نو ښکاره خبره ده چې عوض خو باطلیږي. لېکن په دې صورت کې پر ښځې طلاقِ رجعي واقع کیږي. ځکه چې دلته د طلاق لفظ استعمال سوی دی کوم چې صریح لفظ دی. او مخکې ذکر سوه چې په صریح لفظ سره طلاق رجعي واقع کیږي.

فوقوع الطلاق إلخ: فرمایي چې په دې دواړو صورتونو کې ځکه طلاق واقع کیږي چې خاوند طلاق د ښځې پر قبول معلق کړی دی. او په دواړو صورتونو کې ښځې عوض قبول کړی دی. نو ځکه به طلاق واقع کیږي. او د دویم صورت حکم ځکه د اول صورت څخه جلا دی. یعنې په اول صورت کې د طلاق بائن او په دویم صورت کې د طلاق رجعي واقع کېدلو وجه دا ده. چې کله په دواړو صورتونو کې عوض باطل سو. نو فقط لفظ پاته سو. او دا په اول صورت کې د خلع لفظ دی. او د خلع په لفظ سره طلاقِ بائن واقع کیږي. او په دویم صورت کې د طلاق لفظ دی کوم چې صریح دی. او په صریح لفظ سره طلاقِ رجعي واقع کیږي. نو د لفظ بدلون په وجه د دواړو صورتونو حکم بدل سو.

وإنما لم یجب إلخ: فرمایي چې په دې دواړو صورتونو کې ځکه پر ښځې د خاوند لپاره هیڅ شی نه واجبیږي. چې په دې صورتونو کې ښځې مال تاکلی نه دی (ځکه چې شراب یا بل حرام شی مال متقوم نه دي). بلکې ښځې له شروع څخه صفا دا خبره کړې ده چې زه شراب یا خنزیر.... درکوم. لهذا په دې صورتونو کې د ښځې له طرفه هیڅ دوکه نسته. نو ځکه به د عوض تر باطلېدلو وروسته پر ښځې هیڅ شی نه واجبیږي. ها! که ښځې داسې ویلي وای چې د دغه سرکې په بدله کې خلع در سره کووم. او وروسته معلومه سوه چې هغه شراب دي. نو څرنګه چې دلته ښځې مال ذکر کړی دی. حالانکې هغه مال نه دی، نو په دې صورت کې ښځه دوکه ورکونکې سوه. نو ځکه به اوس پر دې ښځې د هغه په اندازه سرکه واجب وي (د صاحبینو په نیز). یا به مهرِ مثل پر واجب وي (د امام صاحب په نیز).

وبخلاف إلخ: فرمایي د دې په خلاف که یو مالک د شرابو په بدله کې د خپل غلام سره بدل کتابت وکړي. یا د شرابو په عوض کې غلام آزاد کړي. نو د شرابو په ورکولو سره غلام نه آزادیږي. بلکې غلام

به ځپل قیمت په عوض کي ورکوي، نو بیا آزادیږي: ځکه چي غلام متقوم مال دی او د مالک په ملکیت کي دی. او شراب غیر متقوم مال دی. او مالک بېله عوضه مفت د ځپل ملکیت په زائلېدلو راضي نه دی. نو ځکه به د شرابو په عوض کي پر غلام د ځپل ځان قیمت واجب وي. د دې په خلاف د ښځي بضع که څه هم د نکاح په وخت کي متقوم ده. لېکن دقبضې ځخه د وتلو په وخت کي د بضع قیمت نسته. لهذا که هغه بېله عوضه او مفت د خاوند دلاس ځخه ووځي. نو هیڅ د حرج خبره نه ده. نو په دې وجه به په پورتني ذواړو صورتونو کي طلاق واقع کیږي. لېکن پر ښځي به هیڅ شی نه واجبیږي.

وبخلاف النکاح إلخ: فرمایي چي د خلع او طلاق په خلاف که یو سړی د یو حرام شي مثلاً د شرابو په عوض کي د ښځي سره نکاح وکړي. نو نکاح صحیح کیږي. او د حرام شي (شرابو) په عوض کي مهر مثل واجبیږي. ځکه کله چي د نکاح پر موقع بضع د خاوند په ملکیت کي داخلیږي. نو په هغه وخت کي د بضع د عظمت ښکاره کولو لپاره هغې ته قیمت ورکول سوی دی. او د خلع او طلاق په وخت کي چي کله بضع د خاوند له ملکیت ځخه وځي. نو د بل له ملکیت ځخه د بضع وتل دا په خپله د احترام خبره او د عظمت نښه ده. نو له ملکیت ځخه د بضع د وتلو په وخت کي بضع ته قیمت ورکول ضروري نه دي. لهذا کله چي د نکاح او خلع په مینځ کي دا فرق سته. نو ځکه به پر حرام شي د نکاح کولو په وخت کي مهر مثل واجبیږي.

په خلع کي کوم شیان په عوض (بدل) کي ټاکل جائز دي؟

قَالَ: وَمَا جَازَ أَنْ يَكُوْنَ مَهْرًا جَازَ أَنْ يَكُوْنَ بَدَلًا فِي الْخُلْعِ فرمایي: او کوم شی چي مهر جوړېدای سي هغه شی د خلع بدل هم جوړېدای سي لِأَنَّ مَا يَصْلُحُ عِوَضًا لِلْمُتَقَوَّمِ ځکه کوم شي چي د متقوم مال د عوض کېدلو صلاحیت لري أَوْلَى أَنْ يَصْلُحَ عِوَضًا لِغَيْرِ الْمُتَقَوَّمِ نو هغه به په درجه اولیٰ د غیر متقوم مال د عوض کېدلو صلاحیت لري.

اللغات: ﴿مُتَقَوَّمْ﴾ د تفعل له باب ځخه اسم مفعول دی: قیمتداره (قیمت لرونکی. بیه لرونکی). قیمتي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي هر هغه شی کوم چي په نکاح کي مهر جوړېدای سی. هغه په خلع کي عوض او بدل جوړېدای سي (همدا په فقه کي قاعدهٔ کلیه ده)، ځکه په تېر عبارت کي ذکر سوه چي د نکاح په حالت کي بضع مال متقوم وي. او د خلع په حالت کي هغه مال غیر متقوم وي. او کوم شی چي د متقوم مال عوض جوړېدلای سي. هغه شی په طریقه اولی سره د غیر متقوم مال عوض

جوړېدلای سي لېکن د دې برعکس نه سي کېدلای. يعني کوم شی چې د خلع عوض جوړېدلای سي. نو ضروري نه ده چې هغه دې د مهر او نکاح عوض جوړ سي. لکه څرنګه چې تر لسو کم دراهم د خلع عوض جوړېدلای سي لېکن د مهر عوض نه سي جوړېدلای. (بنايه ج۵، ص۳۰۵)

د خلع په عوض کې د نامعلوم شي ټاکلو حکم

فَإِنْ قَالَتْ لَهُ: خَالِعْنِي عَلَى مَا فِي يَدِي او که ښځه خاوند ته [داسي] ووايي: کوم شی چې زما په لاس کې دی د هغه په عوض کې ته زما سره خلع وکړه! **فَخَالَعَهَا** او [خاوند] د هغې سره خلع وکړي **فَلَمْ يَكُنْ فِي يَدِهَا شَيْءٌ** نو [که ګوري] د ښځي په لاس کې هيڅ شی نه وي **فَلَا شَيْءَ عَلَيْهَا** نو [په دې صورت کې] به پر ښځي هيڅ شی واجب نه وي **لِأَنَّهَا لَمْ تَغُرَّهُ بِتَسْمِيَةِ الْمَالِ** ځکه چې [دلته] ښځي د مال په ټاکلو [او ذکر کولو] سره خاوند ته دوکه ورکړې نه ده.

اللغات: ﴿خَالِعْنِي﴾ د مفاعلې له باب څخه د واحد مذکر أمرِ حاضر صيغه ده: خلع کول. ﴿لَمْ تَغُرَّهُ﴾ د نصر له باب څخه د جحد صيغه ده: غَرَّ يَغُرُّ غَرًّا و غِرَّةً: دوکه ورکول. ختا ايستل. بې ځايه اُميد ورکول.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چې که ښځه خپل خاوند ته داسي ووايي: زما په لاس کې چې کوم شی دی د هغه په عوض کې خلع را سره وکړه! (يعني د شي لفظ ذکر کړي او د مال لفظ ذکر نه کړي. يعني داسي نه ووايي چې زما په لاس کې چې کوم مال دی). نو په دې صورت کې خلع صحيح کېږي. لېکن پر ښځي هيڅ شی نه واجبېږي: دليل دا دی چې دلته ښځي "مال" نه دی ذکر کړی. بلکي "شی" يې ذکر کړی دی. نو ښځه دوکه ورکونکې نه سوه (ځکه چې دوکه به هغه وخت وای. کله چې ښځي مال ذکر کړي وای). او د خلع په وخت کې بضع هم غيرِ متقوم. نو ځکه به پر ښځي هيڅ شی نه واجبېږي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَإِنْ قَالَتْ: خَالِعْنِي عَلَى مَا فِي يَدِي مِنْ مَالٍ او که ښځه ووايي: زما په لاس کې چې کوم مال دی د هغه په عوض کې خلع را سره وکړه **فَخَالَعَهَا** او [خاوند] د هغې سره خلع وکړي **فَلَمْ يَكُنْ فِي يَدِهَا شَيْءٌ** نو [که ګوري] د ښځي په لاس کې هيڅ شی نه وي **رَدَّتْ عَلَيْهِ مَهْرَهَا** نو [په دې صورت کې] به ښځه خاوند ته خپل مهر واپس کوي **لِأَنَّهَا لَمَّا سَمَّتْ مَالًا** ځکه کله چې ښځي مال ټاکلی دی [ذکر کړی دی] **لَمْ يَكُنِ الزَّوْجُ رَاضِيًا بِالزَّوَالِ إِلَّا بِعِوَضٍ** نو بېله عوضه [مفت] به خاوند [د خپل ملکيت] په

زائلېدلو راضي نه وي وَلَا وَجْهَ إِلَى إِيجَابِ الْمُسَمَّى وَقِيمَتِهِ لِلْجَهَالَةِ او د نا څرګند والي وجه [يعني د معدوميت په وجه] د ټاکلي مال او د هغه د قيمت واجبولو هيڅ صورت نسته وَلَا إِلَى قِيمَةِ الْبُضْعِ أَعْنِي مَهْرَ الْمِثْلِ او نه د بضع د قيميت يعني د مهرمثل [واجبولو] هيڅ صورت سته لِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَقَوَّمٍ حَالَةَ الْخُرُوجِ ځکه چي بضع [له ملکيت څخه] د وتلو په حالت کي متقوم نه وي فَتَعَيَّنَ إِيجَابُ مَا قَامَ بِهِ عَلَى الزَّوْجِ دَفْعًا لِلضَّرَرِ عَنْهُ نو له خاوند څخه د تاوان ليري کولو لپاره د هغه مقدار واجبول متعين سو په کوم مقدار چي بضع خاوند ته ولاړه وي. [يعني هغه مهر کوم چي د نکاح په وخت کي ټاکل سوي وي (مهر مسمى)].

اللغات: ﴿رَدَّتْ﴾ د نصر له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: واپس کول. بيرته ورکول. ﴿عِوَض﴾ بدل. قيمت.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که ښځه خپل خاوند ته داسي ووايي: زما په لاس کي چي کوم مال دی، د هغه په عوض کي خلع را سره وکړه. او خاوند د ښځي خبره ومني. خلع ور سره وکړي. لېکن د ښځي په لاس کي هيڅ شی نه وي. نو په دې صورت کي حکم دا دی چي ښځه به خاوند ته هغه مهر ورکوي کوم چي يې له خاوند څخه اخيستی وي: دليل دا دی چي دلته ښځي مال ټاکلی دی (يعني مال يې ذکر کړی دی)، او د مال په لالچ او دوکه يې خاوند خلع ته تيار کړی دی. نو خاوند به بېله عوضه (مفت) د خپل ملکيت (ملک نکاح) په ختمېدلو راضي نه وي. او مال مجهول دی. ځکه چي د ښځي په لاس کي هيڅ شی نسته. لهذا دلته پر ښځي نه دا ټاکل سوی مال واجبېدای سي. او نه د هغه قيمت. او د بضع قيمت يعني مهر مثل هم واجبېدای نه سي. ځکه چي بضع د خلع په وخت کي غير متقوم وي. نو دلته فقط يو صورت پاته سوه چي هغه مهر به پر ښځي واجب وي کوم چي د نکاح په وخت کي ټاکل سوی وي. ځکه چي هغه معهود او معلوم دی. لهذا اوس به ښځه هغه مهر خاوند ته ورکوي. د دې لپاره چي د خاوند زړه مطمئن سي. او بېله عوضه د ملکيت ضايع کېدلو له ضرر څخه وساتل سي.

د پورتني مسئلي نور وضاحت

وَلَوْ قَالَتْ: خَالِعْنِي عَلَى مَا فِي يَدِي مِنْ دَرَاهِمَ أَوْ مِنَ الدَّرَاهِمِ او که ښځه ووايي: زما په لاس کي چي کوم دراهم دي د هغه په عوض کي ته زما سره خلع وکړه! فَفَعَلَ نو [خاوند] خلع [ور سره] وکړي فَلَمْ يَكُنْ فِي يَدِهَا شَيْءٌ لېکن که ګوري [د هغې] په لاس کي هيڅ شی نه وي فَعَلَيْهَا ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ نو [په دې

صورت کې! به پر ښځې درې دراهم واجب وي لِأَنَّهَا سَمَّتِ الْجَمْعَ ځکه چې ښځې د جمع صيغه ذکر کړې ده وَأَقَلُّهُ ثَلَاثَةٌ او کمه اندازه د جمع درې ده وَكَلِمَةُ مِنْ هٰهُنَا لِلصِّلَةِ دُونَ التَّبْعِيضِ او د "مِنْ" کلمه دلته د بيان لپاره ده. نه د تبعيض لپاره لِأَنَّ الْكَلَامَ يَخْتَلُّ بِدُوْنِهِ ځکه چې کلام د "مِنْ" څخه بغير غلطيږي !يعني خلل پکښې راځي!.

اللغات: ﴿سَمَّتْ﴾ د تفعيل ماضي ده: نومول. ټاکل. ذکر کول. ﴿تَبْعِيْض﴾ د تفعيل مصدر دی: بعضيت ور ښوول (بعض والی بيانول). ﴿صِلَة﴾ بيان (وضاحت). ﴿يَخْتَلُّ﴾ د افتعال مضارع ده: په يو شي کې خلل راتلل. خرابېدل (غلطېدل. فاسدېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که ښځه خاوند ته ووايي: خَالِعْنِيْ عَلٰى مَا فِيْ يَدِيْ مِنْ دَرَاهِمَ أَوْ مِنَ الدَّرَاهِمِ. او بيا خاوند د ښځې سره خلع وکړي. ليکن د هغې په لاس کې دراهم خو پرېږده يو پاولی هم نه وي. نو په دې صورت کې پر ښځې درې درهمه واجبيږي: دليل دا دی چې ښځې دراهم د جمع په صيغه سره ذکر کړي دي. او د جمع کم از کم شمېر درې وي. او أقل متعين هم وي. نو ځکه به پر ښځې درې درهمه واجبيږي.

وكلمة من إلخ: فرمايي چې د ښځې په دې قول مِنْ دَرَاهِمِ يا مِنَ الدَّرَاهِمِ کې مِنْ د بيان او وضاحت لپاره دی. د بعضيت لپاره نه دی: دليل دا دی که دلته مِنْ حذف کړی سي او فقط خَالِعْنِيْ عَلٰى مَا فِيْ يَدِيْ دَرَاهِمِ ووېل سي. نو دا کلام به مختل او مفضی إلی النزاع وګرځي. نو ثابت سوه چې دلته مِنْ د بيان لپاره دی. نه د تبعيض او بعضيت لپاره. لهذا جمع به پر خپل حال پاته وي. او د جمع أقل عدد درې دی. نو په دې وجه به پر ښځې درې درهمه واجبيږي.

تښتېدلی غلام (عبد آبق) د خلع په عوض کې ټاکل

فَإِنِ اخْتَلَعَتْ عَلٰى عَبْدٍ لَهَا آبِقٍ عَلٰى أَنَّهَا بَرِيئَةٌ مِنْ ضَمَانِهِ او که ښځه د خپل تښتېدلي !بکوړه! غلام په عوض کې پر دې شرط !د خاوند سره! خلع وکړي چې زه به د غلام د ضمان څخه بري يم لَمْ تَبْرَأْ نو ښځه نه بري کيږي وَعَلَيْهَا تَسْلِيمُ عَيْنِهِ إِنْ قَدَرَتْ او پر هغې بعينه د هغه غلام ورسپارل واجب دي که چيري ښځه !د هغه پر ورسپارلو! قدرت لري وَتَسْلِيمُ قِيمَتِهِ إِنْ عَجَزَتْ !يا! د هغه غلام قيمت ورسپارل واجب دي که چيري ښځه !د غلام د ورسپارلو څخه! عاجزه وي لِأَنَّهُ عَقْدُ الْمُعَاوَضَةِ ځکه چې خلع عقد

معاوضه دی فَيَقْتَضِي سَلَامَةَ الْعِوَضِ نو ځکه د عوض د سالم پاتېدلو تقاضا کوي وَاشْتِرَاطُ الْبَرَاءَةِ عَنْهُ شَرْطٌ فَاسِدٌ او له عوض څخه د برې کېدلو شرط لګول فاسد شرط دی فَيَبْطُلُ نو ځکه دا شرط باطلیږي إِلَّا أَنَّ الْخُلْعَ لَا يَبْطُلُ بِالشُّرُوطِ الْفَاسِدَةِ لېکن خلع په فاسدو شرطونو سره نه فاسدیږي وَعَلَى هٰذَا النِّكَاحِ او پر همدغه نکاح [قیاس کړه!] وَإِذَا قَالَتْ: طَلِّقْنِي ثَلَاثًا بِأَلْفٍ او کله چې ښځه [خاوند ته] ووايي: چې ته ما ته د زرو [درهمو] په عوض کې درې طلاقه راکړه! فَطَلَّقَهَا وَاحِدَةً لېکن [خاوند] هغې ته يو طلاق ورکړي فَعَلَيْهَا ثُلُثُ الْأَلْفِ نو پر ښځې به د زرو [درهمو] دریمه حصه واجب وي لِأَنَّهَا لَمَّا طَلَبَتِ الثَّلَاثَ بِأَلْفٍ ځکه کله چې هغې د زرو په عوض کې د دریو طلاقو مطالبه وکړه فَقَدْ طَلَبَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ بِثُلُثِ الْأَلْفِ نو [ګواکې] هغې د زرو د دریمې حصې په عوض کې د هر طلاق مطالبه وکړه وَهٰذَا لِأَنَّ حَرْفَ الْبَاءِ تَصْحَبُ الْأَعْوَاضَ او دا ځکه چې د "باء" حرف پر عوضونو داخلیږي وَالْعِوَضُ يَنْقَسِمُ عَلَى الْمُعَوَّضِ او عوض پر معوض تقسیمیږي وَالطَّلَاقُ بَائِنٌ لِوُجُوبِ الْمَالِ او طلاق به بائن [واجب وي] د مال واجبېدلو په وجه ايعني ځکه چې دلته پر ښځې د طلاق په بدله کې مال واجب دی].

اللغات: ﴿آبِق﴾ خپل د مالک څخه تښتېدلی غلام. بګوړه. ﴿ضَمَان﴾ ذمه واري. ضمانت.

﴿مُعَوَّض﴾ د تفعیل اسم مفعول دی: د کوم شي چې عوض ورکول کیږي (یعني هغه شی چې د هغه عوض او بدل اداء کیږي).

تشریح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بیان سوي دي: (۱)... اوله مسئله دا ده که يوه ښځه خپل خاوند ته د خلع په وخت کې داسي ووايي چې زما کوم غلام چې تښتېدلی دی. ولاړ سه! هغه ونیسه! او زما له طرفه يې د خلع په عوض کې واخله، او که ته غلام نیولای نه سې، نو بیا زما پر ذمه هیڅ شی نسته، يعني له هغه څخه بغیر زه بل هیڅ شی د خلع په عوض کې نه درکوم. نو د دې صورت حکم دا دی چې که خاوند د ښځې دا خبره ومني او غلام ونیسي په خپله قبضه کې يې راولي، نو صحیح خبره ده. لېکن که خاوند غلام نه سي نیولای، نو بیا که ښځه د هغه غلام په ورکولو باندي قادره وي، نو پر ښځې خاص هغه غلام ورکول واجب دي، او که ښځه د هغه غلام په ورکولو باندي قدرت نه لري، نو په دې صورت کې پر ښځې د هغه غلام قیمت اداء کول واجب دي، او تر هغه وخته د ښځې ذمه نه برې کیږي (او غاړه يې نه خلاصیږي) تر څو چې غلام يا د هغه قیمت خاوند ته حواله نه کړي: دلیل دا دی چې خلع د معاوضې عقد دی. يعني له يو طرف څخه ښځه عوض ورکوي او له بل

طرف څخه خاوند خپل ملکيت ښځې ته حواله کوي (او ښځه خپل له نکاح څخه باسي)، او په عقد معاوضه کې د عوض سلامتي ضروري ده. حالانکې د براءت ذمه (د ذمې برې کېدلو) شرط لګول د عوض د سلامتۍ مخالف دي، او فاسد شرط دی. نو دا شرط به باطليږي. او خلع به صحيح پاتېږي، ځکه چې د نکاح په څېر خلع هم په فاسد شرط سره نه فاسديږي. بلکې په خپله هغه فاسد شرط باطليږي. نو ځکه به دلته د براءت شرط فاسد وي او خلع به صحيح وي او د ښځې پر ذمه به د خلع عوض واجب وي. چې هغه غلام يا د غلام قيمت ورکول دي.

وعلى هذا النكاح إلخ: فرمايي چې بعينه همدا حکم د نکاح هم دی. يعنې که يو سړی تښتېدلی غلام د يوې ښځې په مهر کې وټاکي او د برات شرط ولګوي، نو دلته هم دا شرط فاسديږي او نکاح صحيح کيږي چې د هغه نتيجه به دا وي چې د قدرت په صورت کې به خاوند خاص هغه غلام ښځې ته ورکوي. او که د غلام په ورکولو باندې قدرت نه لري، نو د غلام قيمت به ورکوي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده که يوه ښځه خپل خاوند ته ووايي: طَلِّقْنِيْ ثَلَاثًا بِأَلْفٍ، چې ته ما ته د زرو درهمو په عوض کې درې طلاقه راکړه او ما د خپل ملکيت څخه آزاده کړه، ليکن خاوند هغې ته د دريو پر ځای يو طلاق ورکړي، نو په دې صورت کې فقط هغه يو طلاق پر ښځې واقع کيږي، او خاوند ته به د زرو درهمو دريمه حصه (يعنې ۳۳۳ درهمه) ورکول کيږي؛ دليل دا دی چې کله ښځې د زرو درهمو په عوض کې درې طلاقه طلب کړل. نو ګواکې هغې د زرو درهمو د هرې دريمې حصې په عوض کې يو طلاق طلب کړی. لهذا د هر طلاق ورکولو په صورت کې به پر ښځې د زرو دريمه حصه واجبيږي. د دې وجه دا ده چې په طَلِّقْنِيْ ثَلَاثًا بِأَلْفٍ کې چې کومه "باء" ده. هغه پر عوض داخليږي. نو به أَلْف (زر درهمه) عوض وي او درې طلاقه به معوض وي. او قاعده دا ده چې عوض پر معوض تقسيميږي. لهذا زر درهم به پر دريو طلاقو تقسيميږي.

او دلته چې کوم طلاق واقع کيږي هغه به بائن طلاق وي؛ ځکه چې خاوند د مال په بدله کې طلاق ورکړی دی، او د مال په بدله کې په طلاق ورکولو سره طلاق بائن واقع کيږي.

د "طَلِّقْنِيْ ثَلَاثًا عَلَى أَلْفٍ" بيان

وَإِنْ قَالَتْ طَلِّقْنِيْ ثَلَاثًا عَلَى أَلْفٍ او که ښځه ووايي: ما ته پر زرو [درهمو] درې طلاقه راکړه! **فَطَلَّقَهَا وَاحِدَةً** او [خاوند] هغې ته يو طلاق ورکړي **فَلَا شَيْءَ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ** ۞ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به پر هغې هيڅ شی واجب نه وي **وَيَمْلِكُ الرَّجْعَةَ** او خاوند به د رجعت مالک وي **وَقَالَا: هِيَ وَاحِدَةٌ بَائِنَةٌ بِثُلُثِ الْأَلْفِ** او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې هغه به د زرو [درهمو] د دريمې حصې

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في فتح القدير (ج:۴، ص:۷۱). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۲۵]

په عوض کې يو طلاق بائن وي لِأَنَّ كَلِمَةَ عَلَى بِمَنْزِلَةِ الْبَاءِ فِي الْمُعَاوَضَاتِ ځکه چې کلمه د "عَلَىٰ" په معاوضاتو کې د "باء" په مرتبه [او معنیٰ] سره وي حَتَّىٰ إِنَّ قَوْلَهُمْ: اِحْمِلْ هٰذَا الطَّعَامَ بِدِرْهَمٍ أَوْ عَلَىٰ دِرْهَمٍ سَوَاءٌ همدا وجه ده چې دا عربو دا قول: اِحْمَلْ هٰذَا الطَّعَامَ بِدِرْهَمٍ او [اِحْمَلْ هَذَا الطَّعَامَ] عَلَىٰ دِرْهَمٍ دواړه سره برابر دی ايعني دواړه معنیٰ يوه ده چې: دا غنم په يوه درهم پورته کړه] وَلَهُ: أَنَّ كَلِمَةَ عَلَىٰ لِلشَّرْطِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې کلمه د "عَلَىٰ" د شرط لپاره ده قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰ أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللهِ شَيْئًا [الممتحنة: ١٢] الله تعالیٰ فرمايلي دي: اکله چې ښځې مؤمناني ښځې تا ته راسي ای پېغمبره! او ا ستاسره پر دې شرط بيعت وکړي چې هغوی به هيڅوک د الله سره شريک نه نيسي ا...نو د هغوی سره بيعت وکړه!. په دې آيت کې "عَلَىٰ" د شرط په معنیٰ سره مستعمل دی ا وَمَنْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ: أَنْتِ طَالِقٌ عَلَىٰ أَنْ تَدْخُلِي الدَّارَ او کوم څوک چې خپلي ښځې ته [داسې] ووايي: ته طلاقه يې پر دې [شرط] که کور ته داخله سوې كَانَ شَرْطًا نو دا به شرط وي وَهٰذَا لِأَنَّهُ لِلُّزُومِ حَقِيقَةً او دا ځکه چې د "عَلَىٰ" کلمه په حقيقت کې دلزوم لپاره ده وَاسْتُعِيرَ لِلشَّرْطِ او د شرط لپاره په استعاره اخيستل سوې ده لِأَنَّهُ يُلَازِمُ الْجَزَاءَ ځکه چې شرط جزاء لره لازم وي وَإِذْ كَانَ لِلشَّرْطِ نو کله چې کلمه د "عَلَىٰ" د شرط لپاره سوه فَالْمَشْرُوطُ لَا يَتَوَزَّعُ عَلَىٰ أَجْزَاءِ الشَّرْطِ نو مشروط د شرط پر اجزاؤ نه تقسيميږي بِخِلَافِ الْبَاءِ لِأَنَّهُ لِلْعِوَضِ عَلَىٰ مَا مَرَّ په خلاف د "باء". ځکه چې "باء" د عوض لپاره ده لکه مخکې چې [دا خبره] تېره سوه وَإِذَا لَمْ يَجِبِ الْمَالُ كَانَ مُبْتَدَأً او کله چې مال واجب نه سو نو دا ابتداءً طلاق سو ايعني ګواکې لکه د شروع څخه چې يې طلاق ورکړی وي] فَوَقَعَ الطَّلَاقُ نو طلاق به واقع کيږي وَيَمْلِكُ الرَّجْعَةَ او خاوند به د رجعت مالک وي.

اللغات: ﴿الطَّعَام﴾ "خوراک" ته وايي (يعني هغه شی کوم چې خوړل کيږي). ليکن کله چې دا لفظ مطلق ذکر سي. نو له دې څخه غله مراد وي، خصوصاً غنم. صاحب د مصباح يې داسې تعريف کړی دی: وَإِذَا أَطْلَقَ أَهْلُ الْحِجَازِ لَفْظَ الطَّعَامِ عَنَوْا بِهِ الْبُرَّ خَاصَّةً...(مصباح المنير ج: ٢. ص: ٣٧٢. ط: بيروت). **﴿أُسْتُعِيْرَ﴾** د استفعال له باب څخه د واحد مذکر غائب ماضي مجهولي صيغه ده: په استعاره (عاريت) اخيستل. مستعار اخيستل (په بدله کې اخيستل). **﴿لَا يَتَوَزَّعُ﴾** د تفعل له باب څخه د نفي صيغه ده: تقسيمېدل (حصه. حصه کېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو ښځه د خپل خاوند څخه د طلاق مطالبه وکړي او داسي ووايي: طَلِّقْنِيْ ثَلَاثًا عَلٰى أَلْفٍ چي ما ته په زرو درهمو درې طلاقه راکړه (يعني پر عوض "عَلٰى" داخل کړي. نه "باء")، او خاوند فقط هغې ته يو طلاق ورکړي. نو په دې صورت کي د امام صاحب رحمه الله په نېز يو طلاق رجعي واقع کيږي. او خاوند لره به د رجعت اختيار وي او پر ښځي هيڅ شی نه واجبيږي. د دې په خلاف د صاحبينو په نېز پر دې ښځي يو طلاق بائن واقع کيږي. او د ښځي پر ذمه د زرو درهمو دريمه حصه (يعني ٣٣٣ درهمه) واجبيږي. او خاوند ته به د رجعت حق هم نه وي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي دلته ښځي د مال په بدله کي د طلاق مطالبه کړې ده. او د مال په بدله کي چي کوم طلاق وي هغه طلاق بائن وي. همدارنګه د مال په بدله کي طلاق عقد معاوضه دی. او په معاوضاتو کي چي کوم حکم د "باء" وي. هغه حکم د "عَلٰى" هم وي. لکه څرنګه چي عرب په اِحْمِلْ هٰذَا الطَّعَامَ بِدِرْهَمٍ او عَلٰى دِرْهَمٍ کي هيڅ فرق نه کوي (او د دواړو معنیٰ يوه ده چي "دا غنم د يوه درهم په عوض کي پورته کړه"). نو دا دې خبري ښکاره دليل دی چي په معاوضاتو کي د "باء" او "عَلٰى" په مينځ کي هيڅ فرق نسته. او کله چي په دوی کي فرق نسته. نو په حکم کي به يې هم فرق نه وي. او په تېر عبارت کي ذکره سوه چي که خاوند د طَلِّقْنِيْ ثَلَاثًا بِأَلْفٍ په صورت کي ښځي ته يو طلاق ورکړي نو پر ښځي د زرو درهمو د دريمي حصې په عوض کي طلاق بائن واقع کيږي. لهذا د عَلٰى أَلْفٍ په صورت کي به هم پر ښځي د زرو د دريمي حصې په عوض کي يو طلاق بائن واقع کيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د "عَلٰى" کلمه د شرط لپاره اسعماليږي. لکه څرنګه چي الله تعالیٰ فرمايي: يُبَايِعْنَكَ عَلٰى أَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِاللهِ (چي دا ښځي به ستا سره پر دې شرط بيعت کوي چي هغوی به شرک نه کوي). يا مثلاً که په عامه محاوره کي يو خاوند خپلي ښځي ته داسي ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ عَلٰى أَنْ تَدْخُلِي الدَّارَ. نو په دې صورت کي هم د شرط معنیٰ مراديږي. او کور ته داخلېدل د طلاق لپاره شرط وي. ځکه چي په دې کي د عَلٰى کلمه سته. او د عَلٰى کلمه که څه هم د لزوم لپاره وضع سوې ده. لېکن چيري د لزوم معنیٰ نه صحيح کيږي، هلته به دا کلمه د شرط لپاره مَنل کيږي. ځکه څرنګه چي د لازم او ملزوم په مينځ کي مناسبت وي همداسي د شرط او جزاء په مينځ کي هم لزوم او مناسبت وي. او مشروط د شرط پر اجزاؤ نه تقسيميږي (لکه عوض چي د معوض پر اجزاؤ تقسيميږي). ځکه چي مشروط هغه وخت په وجود کي راځي کله چي شرط موجود سي. او شرط د اجزاؤ بشپړتيا (تمام) ته وايي. نو د شرط د يوه جزء په موجودېدلو سره به د مشروط يو جزء نه موجوديږي. لهذا کله چي دلته د مشروط يو جزء هم موجود سوی نه دی. نو خاوند به ښځي ته هغه طلاق ورکړی نه وي د کوم طلاق مطالبه چي ښځي کړې وي. بلکي دا به د خاوند له طرفه ابتدائي طلاق وي

(يعني ګواکي خاوند د نوي سره ښځي ته طلاق ورکړی دی). اوخاوند په صريح لفظ سره طلاق ورکړی دی. نو ځکه د هغه ورکول سوی طلاق به طلاق رجعي وي.

او د دې په خلاف چي کومه د باء مسئله ده. نو هغه د على سره لاحق کول صحيح نه دي. ځکه چي د باء حرف د عوض لپاره راځي. او عوض پر معوض او د هغه پر اجزاؤ تقسيميږي.

د "طَلِّقِيْ نَفْسَكِ ثَلَاثًا بِأَلْفٍ" بيان

وَلَوْ قَالَ الزَّوْجُ: طَلِّقِيْ نَفْسَكِ ثَلَاثًا بِأَلْفٍ أَوْ عَلَى أَلْفٍ او که خاوند اخپلي ښځي ته اوواييي: ته خپل ځان ته د زرو ادرهمو ا په عوض کي يا پر زرو ادرهمو. يعني د زرو درهمو پر شرطا درې طلاقه ورکړه فَطَلَّقَتْ نَفْسَهَا وَاحِدَةً او ښځه خپل ځان ته يو طلاق ورکړي لَمْ يَقَعْ شَيْءٌ نو هيڅ شی نه واقع کيږي لِأَنَّ الزَّوْجَ مَا رَضِيَ بِالْبَيْنُونَةِ إِلَّا لِيَسْلَمَ لَهُ الْأَلْفُ كُلُّهَا ځکه خاوند فقط په هغه صورت کي ادښځي ا پر بائنه کېدلو راضي کيږي کله چي زر ادراهم ا ټوله هغه ته وسپارل سي. بِخِلَافِ قَوْلِهَا: طَلِّقْنِيْ ثَلَاثًا بِأَلْفٍ په خلاف د ښځي د دې قول: طَلِّقْنِيْ ثَلَاثًا بِأَلْفٍ اما ته د زرو درهمو په عوض کي درې طلاقه راکړه ا لِأَنَّهَا لَمَّا رَضِيَتْ بِالْبَيْنُونَةِ بِأَلْفٍ ځکه کله چي ښځه د زرو ادرهمو ا په عوض کي پر بائنه کېدلو راضي سوه كَانَتْ بِبَعْضِهَا أَرْضَى نو د زرو ادرهمو ا په بعض به په درجه اولیٰ سره راضي وي.

اللغات: ﴿بَيْنُوْنَة﴾ د ضرب مصدر دی: بائنه کېدل. ښځه له خاوند څخه جلا کېدل (فرقت واقع کېدل).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که يو سړی خپلي ښځي ته د طلاق واقع کولو حکم وکړي او ورته وواييي: طَلِّقِيْ نَفْسَكِ ثَلَاثًا بِأَلْفٍ يا عَلَى أَلْف. او ښځه خپل ځان ته يو طلاق ورکړي. نو پر هغې هيڅ طلاق نه واقع کيږي: دليل دا دی چي دلته خاوند د پوره زر درهمو په عوض کي د خپلي ښځي په بائنه کېدلو راضي سوی دی. نو د زرو درهمو په عوض کي د خپل ملکيت په زوال د خاوند راضي کېدل د دې خبري دليل نه دی چي هغه تر زر درهمه د کمو درهمو په عوض کي هم د خپل ملکيت په زوال راضي دی. د دې په خلاف که ښځه خپل خاوند ته داسي وواييي: طَلِّقْنِيْ ثَلَاثًا بِأَلْفٍ. او خاوند هغې ته يو طلاق ورکړي. نو په دې صورت کي پر ښځي د زرو درهمو د دريمي حصې په عوض کي يو طلاق واقع کيږي: ځکه کله چي دا ښځه د زرو درهمو په عوض کي د خپل ځان پر بائنه کېدلو راضي ده. نو تر هغه د کمو درهمو په عوض کي به په درجه اولیٰ د خپل ځان پر بينونت راضي وي.

د مال په عوض کي د طلاق ورکولو يو صورت

وَلَوْقَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ عَلَى أَلْفٍ او که [خاوند] ووايي: ته پر زرو [درهمو] طلاقه يې فَقَبِلَتْ او ښځه [هغه] قبول کړي طُلِّقَتْ نو ښځه طلاقيږي وَعَلَيْهَا الْأَلْفُ او پر هغې به زر [درهمه] لازم وي وَهُوَ كَقَوْلِهِ: أَنْتِ طَالِقٌ بِأَلْفٍ او دا [جمله] د خاوند د دې قول په څېر ده: أَنْتِ طَالِقٌ بِأَلْفٍ وَلَابُدَّ مِنَ الْقَبُولِ فِي الْوَجْهَيْنِ او په دواړو صورتونو کي قبول [قبلول] ضروري دي لِأَنَّ مَعْنَى قَوْلِهِ بِأَلْفٍ: بِعِوَضِ أَلْفٍ يَجِبُ لِيْ عَلَيْكِ ځکه چي د خاوند د دې قول بِأَلْفٍ معنیٰ ده: بِعِوَضِ أَلْفٍ يَجِبُ لِيْ عَلَيْكِ اد زرو درهمو په عوض کي کوم چي زما پر تا واجب دي [وَمَعْنَى قَوْلِهِ عَلَى أَلْفٍ: عَلَى شَرْطِ أَلْفٍ يَكُوْنُ لِيْ عَلَيْكِ او د هغه د دې قول عَلَى أَلْفٍ معنیٰ ده: عَلَى شَرْطِ أَلْفٍ يَكُوْنُ لِيْ عَلَيْكِ ادزرو درهمو پر شرط کوم چي ما پر تا باندي دي [وَالْعِوَضُ لَا يَجِبُ بِدُوْنِ قَبُوْلِهِ او له قبلولو څخه بغير عوض نه واجبيږي وَالْمُعَلَّقُ بِالشَّرْطِ لَا يَنْزِلُ قَبْلَ وُجُوْدِهِ او کوم شی چي پر شرط معلق وي هغه د شرط نه وجود څخه مخکي نه واقع کيږي ايعني تر څو چي شرط موجود نه سي. تر هغه وخته د شرط حکم نه موجوديږي [وَالطَّلَاقُ بَائِنٌ او د طلاق به بائن وي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی.

تشريح ،صورت د مسئلې: دا دی چي أَنْتِ طَالِقٌ عَلَى أَلْفَ او أَنْتِ طَالِقٌ بِأَلْفٍ دواړه د ښځي پر قبول موقوف دي. که ښځي په مجلس کي طلاق او مال قبول کړی. نو طلاق بائن به واقع کيږي. د بِأَلْفٍ معنیٰ ده "د زرو درهمو په عوض کي ته طلاقه يې چي هغه به ته ما ته راکوې. او د عَلَى أَلْفٍ معنیٰ ده "د زرو درهمو پر شرط...". خلاصه دا چي په اول صورت (بِأَلْفٍ) کي زر درهمه عوض دي. او په دويم صورت (عَلَى أَلْفٍ) کي زر درهمه شرط دی. او ښکاره خبره ده چي له قبول څخه بغير نه عوض واجبيږي. او نه د شرط له وجود څخه مخکي معلّق بِالشرط (مشروط) واقع کيږي. نو ځکه موږ وايو چي په دواړو صورتونو کي قبول (قبلول) شرط او ضروري دي. او کله چي ښځه طلاق قبول کړي. نو پر هغې به عوض لازميږي.

والطلاق بائن الخ: فرمايي چي په دې دواړو صورتونو کي طلاق بائن واقع کيږي: ځکه چي دا د مال په بدله کي طلاق ورکول دي. او د مال په بدله کي په طلاق ورکولو سره طلاق بائن واقع کيږي (ځکه مخکي ذکر سوه چي د مال په بدله کي طلاق ورکول خلع ده. وَالْخُلْعُ تَطْلِيْقَةٌ بَائِنَةٌ. الحديث).

د "أَنْتِ طَالِقٌ وَ عَلَيْكِ أَلْفٌ..." بيان

وَلَوْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ: أَنْتِ طَالِقٌ وَعَلَيْكِ أَلْفٌ او که [خاوند] خپلې ښځې ته ووايي: ته طلاقه يې او پر تا باندې زر [درهمه] دي فَقَبِلَتْ او ښځه [هغه] قبول کړي أَوْ قَالَ لِعَبْدِهِ: أَنْتَ حُرٌّ وَعَلَيْكَ أَلْفٌ يا [مالک] خپل غلام ته ووايي: ته آزاد يې او پر تا باندې زر [درهمه] دي فَقَبِلَ او غلام يې قبول کړي عَتَقَ الْعَبْدُ وَطُلِّقَتِ الْمَرْأَةُ نو غلام آزاديږي او ښځه طلاقيږي وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِمَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ۞ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر دوی دواړو هيڅ شی واجب نه دی وَكَذَا إِذَا لَمْ يَقْبَلَا او همدارنګه [په هغه صورت کې] کله چې دواړه قبول نه وکړي وَقَالَا: عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْأَلْفُ إِذَا قَبِلَ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې په دوی کې به پر هر يوه زر [درهمه] واجب وي کله چې قبول وکړي وَإِذَا لَمْ يَقْبَلْ لَا يَقَعُ الطَّلَاقُ وَالْعَتَاقُ او کله چې دوی دواړه [قبول نه وکړي نو طلاق او آزادي به نه واقع کيږي لَهُمَا: أَنَّ هٰذَا الْكَلَامَ يُسْتَعْمَلُ لِلْمُعَاوَضَةِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې دا کلام د معاوضې لپاره استعماليږي فَإِنَّ قَوْلَهُمْ: اِحْمِلْ هٰذَا الْمَتَاعَ وَلَكَ دِرْهَمٌ بِمَنْزِلَةِ قَوْلِهِمْ: بِدِرْهَمٍ ځکه چې د عربو دا قول: اِحْمِلْ هٰذَا الْمَتَاعَ وَلَكَ دِرْهَمٌ د [اِحْمِلْ هٰذَا الْمَتَاعَ] بِدِرْهَمٍ په مرتبه [او معنیٰ] سره دی ايعني د دواړو معنیٰ يوه ده چې: دا سامان د يوه درهم په عوض کې پورته کړه!] وَلَهُ: أَنَّهُ جُمْلَةٌ تَامَّةٌ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې عَلَيْكِ أَلْفٌ پوره جمله ده فَلَا تَرْتَبِطُ بِمَا قَبْلَهُ إِلَّا بِدَلَالَةٍ نو له دليل څخه بغير به د خپل ماقبل سره نه مربوط کيږي [يعني له دلالت حال څخه بغير به د خپل ماقبل سره نه متصل کيږي] إِذِ الْأَصْلُ فِيهَا الْاِسْتِقْلَالُ ځکه چې اصل په جمله کې مستقل کېدل دي [يعني د جملې مستقل کېدل اصل دي] وَلَا دَلَالَةَ او [دلته د ربط] هيڅ دليل نسته لِأَنَّ الطَّلَاقَ وَالْعَتَاقَ يَنْفَكَّانِ عَنِ الْمَالِ ځکه چې طلاق او عتاق دواړه له مال څخه جلا کيږي بِخِلَافِ الْبَيْعِ وَالْإِجَارَةِ په خلاف د بيع او اجارې لِأَنَّهُمَا لَا يُوجَدَانِ إِلَّا بِهِ ځکه چې دا دواړه له مال څخه بغير نه موجوديږي.

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في فتح القدير (ج:٤، ص:٧٣). [القول الراجح ج:١، ص:٢٧]

اللغات: ﴿مَتَاع﴾ سامان. ﴿تَامَّة﴾ پوره، بشپړ، مکمل. ﴿تَرْتَبِطُ﴾ دافتعال مضارع ده: ربط لرل، تعلق لرل، مربوط کېدل (متصل کېدل)، اړوند کېدل. ﴿يَنْفَكَّان﴾ دانفعال مضارع ده: جلا کېدل، بېلېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو څوک خپلې ښځې ته ووايي: أَنْتِ طَالِقٌ وَعَلَيْكِ أَلْفٌ (يعني ته طلاقه يې خو پر تا زر درهمه واجب دي چې هغه به ما ته راکوې)، او ښځه هغه قبول کړي. يا يو مالک خپل غلام ته ووايي: أَنْتِ حُرٌّ وَعَلَيْكِ أَلْفٌ، او غلام هغه قبول کړي. نو په دې صورت کې ښځه طلاقېږي او غلام آزادېږي، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز نه پر ښځې أَلف (زر درهمه) واجبېږي او نه پر غلام، لېکن د صاحبينو په نېز پر دواړو أَلف، أَلف واجبېږي.

دويمه مختلف فيه مسئله دا ده چې که ښځه او غلام د أَلف شرط قبول نه کړي، نو د صاحبينو په نېز نه طلاق واقع کېږي او نه عِتاق، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هم طلاق واقع کېږي او هم آزادي ثابتېږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې د عَلَيْکِ أَلْفٌ جمله د معاوضې لپاره استعمالېږي، او په معاوضاتو کې داسې الفاظ د "باء" په معنیٰ سره وي، لکه څرنګه چې "اِحْمَلْ هٰذَا الْمَتَاعَ وَلَكَ دِرْهَمٌ" د "اِحْمَلْ هٰذَا الْمَتَاعَ بِدِرْهَم" په معنیٰ سره دی، او څرنګه چې خلع هم عقدِ معاوضه دی، نو ځکه به دلته وعَلَيْکِ د "باء" په معنیٰ سره وي، ګواکې خاوند خپلې ښځې ته داسې وويل: أَنْتِ طَالِقٌ بِأَلْف، او د أَنْتِ طَالِقٌ بِأَلْفٍ دويلو په صورت کې حکم دا دی چې که ښځه دلته مال قبول کړي، نو طلاق واقع کېږي او مال د هغې پر ذمه لازمېږي، او که يې قبول نه کړي، نو طلاق نه واقع کېږي او د هغې پر ذمه مال نه لازمېږي (همدا حکم د أَنْتِ حُرٌّ بِأَلْفٍ دی)، لهذا دلته هم همدغه حکم دی.

د امام صاحب دليل: دا دی چې عَلَيْکِ أَلف جمله تامه (پوره جمله ده)، ځکه چې پر مبتداء او خبرې مشتمله ده، او په جمله تامه کې مستقل کېدل اصل دی، نو د دغه استقلال په وجه هغه د يو څه دليل څخه بغير د ما قبل سره نه مربوط کېږي، او دلته د ماقبل سره د مربوط کېدلو هيڅ دليل نشته. ځکه چې طلاق او عتاق دواړه د مال څخه جلا کېږي، نو ځکه موږ وايو چې که ښځه يا غلام د مال ورکول قبول نه کړي، نو پر هغو هيڅ شی نه واجبېږي.

بخلاف البيع إلخ: په دې سره د صاحبينو د قياس جواب وركوي. حاصل يې دا دى چې طلاق او عتاق پر بيع او اجاره قياسول صحيح نه دي، ځكه چې اجاره او بيع دواړه خالص عقد معاوضه دي چې له مال څخه بغير دوى نه موجوديږي. نو په دوى كي به د دلالة الحال په وجه لَكَ دِرْهَمٌ د بِدِرْهَمٍ په معنىٰ سره وي. ليكن طلاق او عتاق په عامه توګه له عوض څخه بغير وي. او د سخاوت او شرافت خاوندان د دې شيانو عوض نه اخلي. لهذا په طلاق او عتاق كي چې تر څو صراحتاً عوض ذكر نه كړى سي تر هغه وخته پر عوض هيڅ دليل قائمېداى نه سي. نو په دې وجه طلاق او عتاق پر بيع او اجاره قياسول صحيح نه دي.

په "طَلَاق عَلَى المَال" كي د خيار شرط لګول

وَلَوْقَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ عَلَى أَلْفٍ عَلَى أَنِّي بِالْخِيَارِ أَوْ عَلَى أَنَّكِ بِالْخِيَارِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ او كه [خاوند] ووايي: ته پر زرو [درهمو] طلاقه يې په دې شرط چې ما ته يا تا ته به درې ورځي خيار [اختيار] وي فَقَبِلَتْ او ښځه يې قبول كړي فَالْخِيَارُ بَاطِلٌ إِذَا كَانَ لِلزَّوْجِ نو خيار به باطل وي كله چې هغه د خاوند لپاره وي وَهُوَ جَائِزٌ إِذَا كَانَ لِلْمَرْأَةِ او هغه [خيار] به جائز وي كله چې د ښځي لپاره وي فَإِنْ رَدَّتِ الْخِيَارَ فِي الثَّلَاثِ نو كه ښځه په درې ورځو كي خيار ردّ كړي بَطَلَ نو [طلاق] به باطليږي وَإِنْ لَمْ تَرُدَّ او كه ښځه [خيار] ردّ نه كړي طُلِّقَتْ نو هغه به طلاقيږي وَلَزِمَهَا الْأَلْفُ او پر هغې به زر [درهمه] لازم وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ◆ او دا [حكم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دى وَقَالَا: اَلْخِيَارُ بَاطِلٌ فِي الْوَجْهَيْنِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې خيار په دواړو صورتونو كي باطل دى وَالطَّلَاقُ وَاقِعٌ او طلاق واقع دى وَعَلَيْهَا الْأَلْفُ دِرْهَمٍ او پر ښځي زر درهمه واجب دي لِأَنَّ الْخِيَارَ لِلْفَسْخِ بَعْدَ الْاِنْعِقَادِ لَا لِلْمَنْعِ مِنَ الْاِنْعِقَادِ ځكه چې خيار [د خلع] تر منعقد كېدلو وروسته د فسخ كولو لپاره وي. [د خلع] له منعقد كېدلو څخه د منع كولو لپاره نه وي وَالتَّصَرُّفَانِ لَا يَحْتَمِلَانِ الْفَسْخَ مِنَ الْجَانِبَيْنِ او دواړه تصرفه له دواړو طرفونو څخه د فسخ احتمال نه لري لِأَنَّهُ فِي جَانِبِهِ يَمِينٌ وَمِنْ جَانِبِهَا شَرْطُهَا ځكه چې خلع د خاوند په طرف كي يمين ده او [خلع] د ښځي په طرف كي د يمين شرط ده وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْخُلْعَ فِي جَانِبِهَا بِمَنْزِلَةِ الْبَيْعِ او د امام صاحب دليل دا دى چې خلع د ښځي په طرف كي د بيع په مرتبه او معنىٰ [

◆ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في الهندية (ج:١، ص:٤٩٩). [القول الراجح ج:٢٨]

سره ده حَتّٰى يَصِحَّ رُجُوعُهَا وَلَا يَتَوَقَّفُ عَلٰى مَا وَرَاءِ الْمَجْلِسِ همدا وجه ده چي د ښځي رجوع کول صحيح دي او [خلع د ښځي په حق کي] پر ما وراء د مجلس [هم] نه موقوفه کيږي فَيَصِحُّ اشْتِرَاطُ الْخِيَارِ فِيهِ نو په دې کي به د خيار شرط لګول صحيح وي أَمَّا فِي جَانِبِهٖ يَمِينٌ ليکن [خلع] د خاوند په طرف کي يمين ده حَتّٰى لَا يَصِحُّ رُجُوعُهٗ وَيَتَوَقَّفُ عَلٰى مَا وَرَاءِ الْمَجْلِسِ همدا وجه ده چي [له خلع څخه] د خاوند رجوع کول صحيح نه دي او [خلع د هغه په حق کي] پر ما وراء د مجلس نه موقوفه کيږي وَلَا خِيَارَ فِي الْأَيْمَانِ او په قسمونو کي هيڅ اختيار نسته وَجَانِبُ الْعَبْدِ فِي الْعَتَاقِ مِثْلُ جَانِبِهَا فِي الطَّلَاقِ او په آزادېدلو کي د غلام طرف [او درجه] داسي ده لکه په طلاق کي د ښځي طرف [او درجه].

اللغات: ﴿رَدَّتْ﴾ د ضرب ماضي ده: ردول، واپس کول، انکار کول. ﴿لَا يَتَوَقَّفُ﴾ د تفعّل نفي صيغه ده: موقوف کېدل. ﴿أَيْمَان﴾ جمع د يَمِيْنٌ ده: قسمونه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د زرو درهمو په عوض کي خپلي ښځي ته طلاق ورکړي، ليکن د خپل ځان لپاره يا د ښځي لپاره د درې ورځو خيار شرط کړي، او ښځه دا د خيار شرط قبول کړي، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حکم دا دی چي که خيار د خاوند لپاره وي، نو هغه باطلېږي او پر ښځي طلاق واقع کيږي، او که خيار د ښځي لپاره وي، نو هغه باقي پاتيږي، لهذا که ښځه په دريو ورځو کي خيار ردّ کړي، نو طلاق به باطلېږي، او که تر درې ورځو پوري خيار ردّ نه کړي، نو طلاق به واقع کيږي.

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي په دواړو صورتونو کي خيار باطلېږي هغه که د خاوند لپاره وي او که د ښځي لپاره وي، او په دواړو صورتونو کي طلاق واقع کيږي، او پر ښځي زر درهمه واجبيږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي خيار د دې لپاره وي چي د عقد تر انعقاد وروسته عقد فسخ کړی سي، او د دې لپاره نه چي د عقد انعقاد منع کړی سي، او دلته د خاوند إيجاب (طلاق ورکول) او د ښځي قبول د فسخ کېدلو احتمال نه لري، ځکه مخکي موږ وويل چي د مال په بدله کي طلاق ورکول خلع ده (يعني طَلَاق عَلَى الْمَال د خلع په معنىٰ سره دی)، او خلع د خاوند په طرف کي يمين (قسم) دی، او د ښځي په طرف کي د يمين شرط دی، او يمين فسخ نه قبلوي، لهذا د يمين شرط به هم فسخ نه قبلوي، نو ځکه به دلته عقد يعني طَلَاق عَلَى الْمَال (خلع) منعقد کيږي، او خيار به باطلېږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د ښځي په طرف کي خلع د بيع په معنىٰ سره ده، ځکه چي څرنګه په بيع کي رجوع کول صحيح وي او بيع پر ما وراء د مجلس نه موقوف کيږي، همداسي په خلع کي

هم رجوع کول صحیح دي. او خلع هم د ښځي په حق کي پر ما وراء د مجلس نه موقوف کيږي (يعني که خلع د ښځي له طرفه وي، نو په هغه مجلس کي د خاوند لپاره جواب ورکول (ايجاب) ضروري دی. نه تر مجلس وروسته. لکه په بيع کي چي هم په مجلس کي دننه جواب ورکول ضروري دي. نه تر مجلس وروسته). او په بيع کي د خيار شرط لګول صحيح دي. نو په خلع کي به هم د خيار شرط لګول صحيح وي. لهذا که خيار د ښځي لپاره وي. نو جائز به وي.

لېکن که د خاوند لپاره خيار وي، نو صحيح نه دی: ځکه چي خلع د خاوند په طرف کي يمين دی. همدا وجه ده چي تر خلع کولو وروسته خاوند (له خلع څخه) رجوع نه سي کولای. همدارنګه د خاوند په حق کي خلع پر ما وراء د مجلس موقوف کيږي (يعني که خلع د خاوند له طرفه وي. او ښځي ته په بل مجلس کي د خلع خبر ورسيږي. نو ښځه په هغه مجلس کي هم خلع قبلولای سي).

نو معلومه سوه چي خلع د خاوند په جانب کي يمين ده (ځکه چي په يمين کي هم رجوع صحيح نه ده او نه هغه پر مجلس منحصر کيږي). او يمين چي کله تر خوله ووځي. نو په هغه کي هيڅ خيار نه چليږي او نه هغه فسخ کيږي. نو ځکه به دلته د خاوند لپاره خيار جائز نه وي.

وجانب العبد إلخ: د دې حاصل دا دی چي په طَلَاق عَلَی الـمَال کي چي د خيار په هکله کومه درجه د ښځي ده. په عتاق کي هغه درجه د غلام ده. يعني که مالک د يو څه مال په عوض کي د خيار پر شرط خپل غلام آزاد کړي. نو که خيار د غلام لپاره وي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز خيار صحيح دی. او که خيار د مالک لپاره وي. نو خيار باطليږي. لېکن د صاحبينو په نېز په دواړو صورتونو کي خيار باطليږي. هغه که د مالک لپاره وي. او که دغلام لپاره وي. او غلام آزاديږي.

د "طَلَاقَ عَلَی الـمَال" په قبلولو کي د خاوند او ښځي د اختلاف بيان

وَمِنْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ: طَلَّقْتُكِ أَمْسِ عَلَى أَلْفِ دِرْهَمٍ فَلَمْ تَقْبَلِيْ او څوک چي خپلي ښځي ته (داسي) ووايي: ما د زرو (درهمو) په عوض کي پرون (تېره ورځ) تا ته طلاق ورکړی او تا (هغه) قبول نه کړی **فَقَالَتْ: قَبِلْتُ** او ښځه ووايي: چي ما هغه قبول کړی **فَالْقَوْلُ قَوْلُ الزَّوْجِ** نو قول به د خاوند معتبر وي **وَمَنْ قَالَ لِغَيْرِهِ بِعْتُ مِنْكَ هَذَا الْعَبْدَ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ أَمْسِ فَلَمْ تَقْبَلْ** او څوک چي بل سړي ته ووايي: ما د زرو (درهمو) په عوض کي پرون دا غلام پر تا خرڅ کړی او تا قبول نه کړی **فَقَالَ: قَبِلْتُ** او هغه (بل سړی) ووايي: چي ما قبول کړی **فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُشْتَرِي** نو قول به د مشتري (د دې بل سړي) معتبر وي **وَوَجْهُ الْفَرْقِ: أَنَّ الطَّلَاقَ بِالْمَالِ يَمِيْنٌ مِنْ جَانِبِهِ** او وجه د فرق دا ده: چي د مال په بدله کي طلاق

اور کول ا د خاوند له طرفه قسم دی فَالْإِقْرَارُ بِهِ لَا يَكُونُ إِقْرَارًا بِالشَّرْطِ نو د قسم اقرار کول به د شرط اقرار کول نه وي لِصِحَّتِهِ بِدُونِهِ ځکه چي قسم له شرط څخه بغیر هم صحیح کیږي أَمَّا الْبَيْعُ فَلَا يَتِمُّ إِلَّا بِالْقَبُولِ پاته سوه بیع نو هغه له قبول ا قبلولو ا څخه بغیر نه پوره کیږي وَالْإِقْرَارُ بِهِ إِقْرَارٌ بِمَا لَا يَتِمُّ إِلَّا بِهِ او د بیع اقرار کول د هغه شي اقرار کول دي چي له هغه څخه بغیر بیع نه پوره کیږي فَإِنْكَارُهُ الْقَبُولَ رُجُوعٌ مِنْهُ نو ا د مشتري ا له قبول څخه د بائع انکار کول د بائع له طرفه رجوع کول دي.

اللغات: ﴿أَمْسِ﴾ پرون. تېره ورځ. ﴿لَمْ تَقْبَلِيْ﴾ د سمع له باب څخه د جحد صیغه ده: قبلول. قبول کول.

تشریح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بیان سوي دي. او دواړي یو له بل څخه جلا دي: (۱)... اوله مسئله دا ده که یو سړی خپلي ښځي ته ووایي چي "ما د زرو درهمو په عوض کي پرون تا ته طلاق درکړی وو لیکن تا هغه قبول نه کړی". او ښځه ووایي چي "ما قبول کړی". نو په دې صورت کي به د خاوند قول (یعني د عدم قبول) معتبر وي. او د ښځي خبره به نه منل کیږي.

(۲)... دویمه مسئله دا ده که مثلاً زید خالد ته ووایي چي "وروره! ما پرون پر تا د زرو درهمو په عوض کي خپل غلام خرڅ کړی وو. لېکن تا قبول نه کړی". او خالد په جواب کي ور ته ووایي چي "ما خو هغه قبول کړی". نو په دې صورت کي به د مُشتري (خالد) قول معتبر وي. او بیع به ثابتیږي.

صاحب د هدایه فرمایي چي په دې دواړو مسئلو کي فرق دا دی چي اوله مسئله د طَلَاق عَلَى الْمَال ده. او طَلَاق عَلَى الْمَال د خاوند په طرف کي قسم دی. او قسم په حالف (قسم اخیستونکي) سره پوره کیږي. لهذا د خاوند له طرفه د قسم په اقرار کولو سره (یعني د طلاق علی المال په اقرار کولو سره) دا نه لازمیږي چي د هغه اقرار دي د ښځي د قبول اقرار هم وي (یعني د خاوند په اقرار سره دا نه ثابتیږي چي د خاوند اقرار به د ښځي د قبلولو اقرار هم وي). ځکه چي یمین له شرط یعني (د ښځي) له قبول څخه بغیر هم صحیح کیږي. لهذا د خاوند دا قول فَلَمْ تَقْبَلِيْ (تا هغه قبول نه کړی) د خپل قول څخه رجوع کول نه سو (بلکي دا د هغه له طرفه سوال سو چي تا ولي قبول نه کړی). لهذا اوس که ښځه پر خپل قول قَبِلْتُ ګواهي پېش کړي نو صحیح ده. کنې د خاوند قول به مَعَ الْيَمِيْن معتبر وي.

د دې په خلاف د بیع مسئله ده. نو په بیع کي قبول (قبلول) رکن دی. او له قبول څخه بغیر بیع نه پوره کیږي. لهذا د بیع اقرار کول د یو داسي شي اقرار کول دي چي هغه له قبول څخه بغیر نه پوره کیږي. اوس که بائع د مشتري له قبول څخه انکار کوي. نو ګواکي هغه د خپل بیع څخه رجوع کول غواړي. نو ځکه به د مشتري اقرار د بائع پر انکار غالبه کیږي او بیع به ثابتیږي.

د "مُبارات" بيان

قَالَ: وَالْمُبَارَأَةُ كَالْخُلْعِ فرمايي: او يو تر بله د خاوند او ښځي بري كول د خلع په شير دي كِلَاهُمَا يُسْقِطَانِ كُلَّ حَقٍّ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الزَّوْجَيْنِ عَلَى الْآخَرِ مِمَّا يَتَعَلَّقُ بِالنِّكَاحِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ [خلع او مبارات] دواړه هر هغه د نكاح سره متعلق حق ساقطوي كوم چي په خاوند او ښځه كي د هر يوه پر هغه بل وي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يَسْقُطُ فِيهِمَا إِلَّا مَا سَمَّيَاهُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په خلع او مبارات كي [فقط] هغه حقوق ساقطيږي كوم چي ښځي او خاوند ذكر كړي وي وَأَبُو يُوسُفَ مَعَهُ فِي الْخُلْعِ وَمَعَ أَبِي حَنِيفَةَ فِي الْمُبَارَأَةِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په خلع كي د امام محمد رَحِمَهُ الله سره دی او په مبارات كي د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی لِمُحَمَّدٍ: أَنَّ هَذِهِ مُعَاوَضَةٌ د امام محمد دليل دا دی: چي مبارات [او خلع] معاوضه ده ايعني دواړه د معاوضې عقدونه دي! وَفِي الْمُعَاوَضَاتِ يُعْتَبَرُ الْمَشْرُوطُ لَا غَيْرُهُ او په معاوضاتو كي [فقط] د مشروط اعتبار كيږي، نه د بل شي وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ الْمُبَارَأَةَ مُفَاعَلَةٌ مِنَ الْبَرَاءَةِ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي مبارات له برائت څخه د مفاعلې [د باب] صيغه ده فَتَقْتَضِيهَا مِنَ الْجَانِبَيْنِ نو له دواړو طرفونو څخه د برائت تقاضا كوي وَأَنَّهُ مُطْلَقٌ او برائت [بري كېدل] مطلق دي قَيَّدْنَاهُ بِحُقُوقِ النِّكَاحِ لِدَلَالَةِ الْغَرَضِ نو [ځكه] موږ د غرض د دلالت پر بنياد د نكاح په حقوقو سره هغه مقيد كړی أَمَّا الْخُلْعُ فَمُقْتَضَاهُ الِانْخِلَاعُ او پاته سوه خلع نو د هغې مقتضا جدايي [جلا كېدل] دي وَقَدْ حَصَلَ فِي نَقْضِ النِّكَاحِ او دا [جدايي] د نكاح په ماتېدلو [ختمېدلو] سره حاصل سوه وَلَا ضَرُورَةَ إِلَى انْقِطَاعِ الْأَحْكَامِ نو [ځكه] د نورو احكامو منقطع كولو ته ضرورت نسته وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْخُلْعَ يُنْبِئُ عَنِ الْفَصْلِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي خلع د جلا كولو [بېلولو] خبر وركوي وَمِنْهُ خَلْعُ النَّعْلِ وَخَلْعُ الْعَمَلِ او له همدغه [معنیٰ] څخه خَلْعُ النَّعْلِ [د څپلی كاږل] او خَلْعُ الْعَمَلِ [د كار پرېښوول] دي [ځكه چي د دې دواړو معنیٰ ده: څپلی له پښې څخه جلا كول. او له كار څخه ځان جلا كول] وَهُوَ مُطْلَقٌ كَالْمُبَارَأَةِ نو د مبارات په شير خلع [هم] مطلق ده فَيُعْمَلُ بِإِطْلَاقِهِمَا فِي النِّكَاحِ وَأَحْكَامِهِ وَحُقُوقِهِ نو په نكاح كي او د نكاح په احكامو او حقوقو كي به د خلع او مبارات پر اطلاق عمل كيږي.

القول الراجح: فقول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٦١٤). [القول الراجح ج:١، ص:٣٢٩]

اللغات: ﴿مُبَارَاةٌ﴾ د مفاعلې مصدر دی: یو تر بله سره بري کول (یعني چې خاوند خپله ښځه د حقوقو څخه بري [او معافه] کړي او ښځه خپل خاوند د حقوقو څخه بري کړي). ﴿سَمَّيَاهُ﴾ د تفعیل له باب څخه د تثنیه مذکر غائب ماضي صیغه ده: نومول، ټاکل، ذکر کول (بیانول). ﴿اِنْخِلَاع﴾ د انفعال مصدر دی: جلا کېدل، علیحده کېدل. ﴿نَعْل﴾ څپلۍ (له څرمني یا داسي بل شي څخه جوړ د پښو کولو شی). ﴿خَلْع﴾ د فتح مصدر دی: جلا کول، کښل (کاږل)، پرېښوول، معزوله کول (په دې ټولو معناوو کي د "جلا کولو" مفهوم سته).

تشریح: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله په دې عبارت کي دا بیانوي چي مُبارات (یعني د ښځي او خاوند یو تر بله بري کول) د خلع په څېر دي، یعني له مبارات او خلع څخه هر یو داسي دی چي خاوند او ښځه د هر هغه حق څخه بري کوي کوم چي د نکاح سره تعلق لري (یعني په دې دواړو کي هر یو خاوند او ښځه د نکاح د ټولو حقوقو څخه بري کوي)، مثلاً مهر، او د تیرو ورځو نفقه. خو په خلع او مبارات کي د عدت نفقه او سکنیٰ نه ساقطیږي. لېکن که ښځه د عدت د نفقې په عوض کي د خاوند سره خلع وکړي، نو بیا نفقه ساقطیږي، سکنیٰ نه ساقطیږي، ځکه چي سکنیٰ د شریعت حق دی. او د شریعت حق د هیچا په ساقطولو سره نه ساقطیږي. دا ټوله تفصیل د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی. او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چي په خلع او مبارات سره فقط هغه حقوق ساقطیږي کوم چي خاوند او ښځه ذکر کړي. او کوم حقوق چي ذکرنه کړي، هغه نه ساقطیږي. او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په خلع او مبارات کي فرق کوي، د خلع په صورت کي هغه د امام محمد رَحِمَهُ الله سره دی (چي په خلع کي فقط د خاوند او ښځي ذکر سوي حقوق ساقطیږي). لېکن د مبارات په صورت کي هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی (چي علی الإطلاق ټوله حقوق ساقطیږي).

د امام محمد دلیل: دا دی چي په خلع او مبارات کي د عوض او معاوضې معامله ده. نو دا دواړه عقد معاوضه دي. او په معاوضاتو کي فقط د مشروط اعتبار کیږي (یعني فقط د هغه شي اعتبار کیږي کوم چي بیان او ذکر سي). لهذا په دې دواړو کي به فقط هغه شیان ساقطیږي کوم چي خاوند او ښځه ذکر کړي.

د امام ابو یوسف دلیل: دا دی چي مباراة د مفاعلې د باب مصدر دی. او د مفاعلې د باب خاصه اشتراک ده. لهذا مبارات له دواړو طرفونو څخه د بري کېدلو تقاضا کوي (یعني چي په خاوند او ښځه کي هر یو د بل څخه بري سي).

او د برائت لفظ مطلق دی. ټولو حقوقو لره شامل دی. هغه که د نکاح سره تعلق لري. او که يې نه لري. لېکن مونږ دا د نکاح د حقوقو سره مقيد کړی دی. او دليل د هغوی (حقوقو) غرض دی. يعني غرض د هغې جګړې او جنګ ختمول دي کوم چې د نکاح (د حقوقو) په وجه سره پيدا سوې وي. نو ځکه به براءت په هغه حقوقو سره مقيد کيږي کوم چې په نکاح سره ثابت سوي وي. او پاته سوه خلع نو د هغې مقتضیٰ اِنْخِلَاع يعني "جلا کېدل" دي. او دا معنیٰ د نکاح په ماتېدلو او ختمېدلو سره حاصليږي. نو په خلع سره به نکاح ختميږي او خاوند او ښځه چې د کومو حقوقو د سقوط تذکره کړې وي. فقط هغه به ساقطيږي. او على الإطلاق د نکاح ټوله حقوق به نه ساقطيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې خلع د جلا کولو او بېلولو په معنیٰ سره ده. لکه څرنګه چې د خَلْعُ النَّعْل معنیٰ ده "په پوره توګه څپلی له پښې څخه جلا کول (کاږل)". همدارنګه د خَلْعُ الْعَمَل معنیٰ ده "په پوره توګه له کار څخه ځان جلا کول (پرېښوول)". لهذا کله چې خلع د پوره او کامل جلا کولو په معنیٰ سره ده. او مبارات هم د کامل جلا کولو په معنیٰ سره دی. نو څرنګه چې مبارات مطلق دی. همداسې به خلع هم مطلق وي. او د مبارات په څېر به په خلع سره هم على الإطلاق د نکاح ټوله حقوق ساقطيږي. هغه که خاوند او ښځې ذکر کړي وي. او که نه وي.

د کوچنۍ لور لپاره د هغې په مال سره خلع کول

وَمَنْ خَلَعَ ابْنَتَهُ وَهِيَ صَغِيرَةٌ بِمَالِهَا او کوم څوک چې د خپلې کوچنۍ لور خلع وکړي د هغې په مال سره لَمْ يَجُزْ عَلَيْهَا نو دا [خلع] پر هغې جائز نه ده لِأَنَّهُ لَا نَظَرَ لَهَا فِيهِ ځکه چې په دې کې د هغې لپاره هيڅ شفقت نسته إِذِ الْبُضْعُ فِي حَالَةِ الْخُرُوجِ غَيْرُ مُتَقَوَّمٍ ځکه چې بضع اله ملکيت څخه [د وتلو په وخت کې متقوم نه وي وَالْبَدَلُ مُتَقَوَّمٌ او بدل [د خلع] متقوم وي بِخِلَافِ النِّكَاحِ لِأَنَّ الْبُضْعَ مُتَقَوَّمٌ عِنْدَ الدُّخُولِ په خلاف د نکاح. ځکه چې بضع املکيت ته [د داخلېدلو په وخت کې متقوم وي وَلِهَذَا يُعْتَبَرُ خَلْعُ الْمَرِيضَةِ مِنَ الثُّلُثِ او له همدې وجهې د مريضې ښځې خلع [د هغې د مال] له دريمې حصې څخه معتبره ده [يعني که په مرضُ الموت مبتلا ښځه د مرض په حالت کې خلع کول وغواړي. نو د بضع قيمت نه سي ورکولای. بلکې فقط د خپل مال په دريمه حصه سره خلع کولای سي. نو معلومه سوه چې بضع د خروج په حالت کې متقوم نه وي] وَنِكَاحُ الْمَرِيضِ بِمَهْرِ الْمِثْلِ مِنْ جَمِيعِ الْمَالِ او د مريض سړي نکاح د ټوله مال پر مهر مثل معتبره ده [يعني که په مرضُ الموت مبتلا سړی په مهر مثل سره نکاح وکړي. او په هغه کې ټوله مال مصرف سي. نو هم د هغه نکاح جائزده. ځکه چې هغه د بضع په بدله کې مال ورکوي. نو

معلومه سوه چي بضع د دخول په حالت کي متقوم وي| وَإِذَا لَمْ يَجُزْلَا يَسْقُطُ الْمَهْرُوَلَا يَسْتَحِقُّ مَالَهَا او کله چي |د پلار| خلع جائز نه سوه نو مهر به نه ساقطيږي او خاوند به د نجلۍ د مال نه مستحق کيږي ثُمَّ يَقَعُ الطَّلَاقُ فِي رِوَايَةٍ وَفِي رِوَايَةٍ لَا يَقَعُ بيا په يوه روايت کي طلاق واقع کيږي او په روايت کي طلاق نه کيږي وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ |ليکن| اول روايت زيات صحيح ده لِأَنَّهُ تَعْلِيقٌ بِشَرْطِ قَبُولِهِ ځکه چي |د خاوند| طلاق ورکول د پلار د قبول پر شرط معلق دي فَيُعْتَبَرُ بِالتَّعْلِيقِ بِسَائِرِ الشُّرُوطِ لهذا په نورو شرطونو سره پر معلق کولو باندي به دا قياسيږي.

اللغات: ﴿نَظَر﴾ شفقت. ځريت. مصلحت. ﴿بضع﴾ د ښځي فرج (شرمګاه).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که پلار د خپلي کوچنۍ لور نکاح د يو چا سره وکړي. بيا تر هغه وروسته پلار د هغې په مال سره خلع وکړي، نو شرعاً دا خلع معتبره نه ده: دليل دا دی چي پلار د دې کوچنۍ نجلۍ ولي دی. او د هغه ولايت پر شفقت او اُلفت باندي مبني دي. لهذا چيري چي د ولي له طرفه شفقت نه وي، هلته به د هغه تصرف نه نافذيږي. او دلته د کوچنۍ لور په مال سره په خلع کولو کي هيڅ شفقت نسته (ځکه چي په دې کي بې ځايه د کوچنۍ نجلۍ مال مصرفيږي). نو ځکه به دا خلع صحيح نه وي. ځکه چي د ښځي بضع د خروج په حالت کي غيرِ متقوم وي (يعني کله چي ښځه د يو چا له نکاح څخه د طلاق يا د خلع په ذريعه وځي، نو په هغه حالت کي د ښځي بضع قيمت نه لري. لکه مخکي چي دا خبره په تفصيل سره ذکر سوه). حالانکي د خلع بدل او عوض متقوّم دی. او ښکاره خبره ده چي د غيرِ متقوم مال په مقابله کي متقوم مال مصرفول (خرڅول) حماقت او ناپوهي ده، نو ځکه به دلته د کوچنۍ نجلۍ خلع نه نافذيږي.

بخلاف النکاح إلخ: د دې په خلاف که پلار د خپلي کوچنۍ لور نکاح د مهرِ مثل په عوض کي د يو چا سره وکړي، نو دا نکاح به صحيح وي. ځکه چي په دې کي دوې خبري سته: ① يوه خبره د بضع دخول دی (يعني د أجنبي سړي په ملکيت کي د نجلۍ بضع داخلېدل. او د هغه په نکاح کېدل). او د دخول په حالت کي بضع متقوم وي. لهذا دلته د مال په عوض کي د مال تبادله راغله. او په دې کي د ولي له طرف څخه بشپړ شفقت سته. ② دويم خبره دا ده چي دا نکاح د مهرِ مثل په عوض سوې ده. نو په دې کي خو نور هم شفقت او رحمت موجود سو. همدا فرق په خلع او نکاح کي دی. يعني د صغيرې (کوچنۍ نجلۍ) خلع باطل ده او نکاح يې جائز ده.

لنډه دا چي کله د کوچنۍ نجلۍ خلع باطل ده، نو نه به مهر ساقطيږي. او نه به خاوند ته د دې نجلۍ له مال څخه يو شی ورکول کيږي.

ثم يقع الطلاق إلخ: فرمايي چي خلع خو صحيح او جائز نه ده. لېکن که په دې صورت کې خاوند کوچنۍ نجلۍ ته طلاق ورکړي او پلار هغه قبول کړي. نو آيا طلاق به واقع کيږي. که نه؟ په دې سلسله کې دوه روايتونه دي: ① طلاق به واقع کيږي. ② نه به واقع کيږي. لېکن صحيح روايت دا دی چي طلاق به واقع کيږي. د دې روايت دليل دا دی چي دلته د پلار د قبلولو پر شرط طلاق معلق سوی دی. او پلار هغه قبول کړی دی. نو ځکه به طلاق واقع کيږي. لکه څرنګه چي کله نور شيان د پلار د قبول پر شرط يا د يو بل چا د قبول پر شرط معلق کړی سي. نو د هغه په قبلولو سره دا شيان لازميږي. لهٰذا همداسې به دلته هم د پلار په قبلولو سره طلاق واقع کيږي.

او د اول روايت دليل دا دی چي پلار پر دې شرط طلاق قبول کړی وو چي پر نجلۍ مال لازم سي او له خاوند څخه مهر ساقط سي. او دلته نه پر نجلۍ مال لازم سو. او نه له خاوند څخه مهر ساقط سو. لهٰذا د شرط د نشتوالي په وجه د پلار قبلول صحيح نه سو. نو ځکه به طلاق هم نه واقع کيږي.

د خلع په عوض کي د لور له طرفه د پلار ضامن کېدل

وَإِنْ خَالَعَهَا عَلَىٰ أَلْفٍ عَلَىٰ أَنَّهُ ضَامِنٌ او که پلار د زرو [درهمو] په عوض کي د خپلي [کوچنۍ] لور خلع وکړي پر دې شرط چي پلار به [د هغه زرو درهمو] ضامن وي **فَالْخُلْعُ وَاقِعٌ وَالْأَلْفُ عَلَى الْأَبِ** نو خلع واقع کيږي او زر [درهمه] به پر پلار لازم وي **لِأَنَّ اشْتِرَاطَ بَدَلِ الْخُلْعِ عَلَى الْأَجْنَبِيِّ صَحِيحٌ فَعَلَى الْأَبِ أَوْلَىٰ** ځکه چي پر يو پردي سړي [هم] د خلع د بدل [عوض] شرط لګول صحيح دي نو پر پلار [خو] به په درجه اولیٰ صحيح وي [په تېره مسئله کي خلع ځکه نه صحيح کېده چي هلته د پلار له طرفه شفقت نه وو او بې ځايه د نجلۍ مال مصرفېدی. لېکن دلته د خلع بدل پر پلار لازميږي، لهٰذا دلته نقصان نسته. نو ځکه به خلع صحيح وي، ځکه چي د خلع بدل پر يو أجنبي سړي لازمول هم صحيح دي، حالانکي د أجنبي سړي د دې نجلۍ سره هيڅ شفقت او قربت نسته، نو پر پلار خو به په طريقه اولیٰ د خلع بدل لازمول صحيح وي] **وَلَا يَسْقُطُ مَهْرُهَا** او د هغې مهر به نه ساقطيږي [يعني د بالغي ښځي مهر خو په خلع سره ساقطيږي. لېکن دلته د دې کوچنۍ نجلۍ مهر نه ساقطيږي] **لِأَنَّهُ لَمْ يَدْخُلْ تَحْتَ وِلَايَةِ الْأَبِ** ځکه مهر د پلار په ولايت کي داخل نه دی [ځکه چي د پلار په ولايت کي هغه شی داخل وي په کوم شي کي چي شفقت وي. يعني کوم شی چي د دې کوچنۍ د فايدې لپاره وي. او د خلع په وخت کي مهر ساقطول د نجلۍ په حق کي نقصان دی. او د شفقت خلاف دی. نو ځکه به د پلار په خلع کولو سره د کوچنۍ نجلۍ مهر نه ساقطيږي].

اللغات: ﴿ضَامِنٌ﴾ د ضرب اسم فاعل دی: ذمه وار (ذمه دار).

تشريح: مسئله په عبارت کي تشريح سوه.

د کوچنۍ نجلۍ سره خلع کول

وَإِنْ شَرَطَ الْأَلْفَ عَلَيْهَا او که [خاوند] پر کوچنۍ نجلۍ د زرو [درهمو] شرط ولګوي تَوَقَّفَ عَلَى قَبُولِهَا نو د خلع وقوع به د ښځي پر قبوله موقوفه وي إِنْ كَانَتْ مِنْ أَهْلِ الْقَبُولِ [په دې شرط] که چیري ښځه د قبول کولو أهل وي فَإِنْ قَبِلَتْ نو که ښځه قبول وکړي وَقَعَ الطَّلَاقُ لِوُجُودِ الشَّرْطِ نو د شرط موجودېدلو په وجه به طلاق واقع کیږي وَلَا يَجِبُ الْمَالُ او مال به نه واجبیږي لِأَنَّهَا لَيْسَتْ مِنْ أَهْلِ الْغَرَامَةِ ځکه چي صَغِیْرَه د تاوان له أهل څخه نه ده فَإِنْ قَبِلَهُ الْأَبُ عَنْهَا او که د هغې له طرف څخه پلار [د خلع بدل] قبول کړي فَفِيهِ رِوَايَتَانِ نو په دې هکله دوه روایتونه دي.

اللغات: ﴿غَرَامَة﴾ تاوان (نقصان)، جرمانه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که دیو چا په نکاح کي یوه کوچنۍ نجلۍ وي، او هغه د دې نجلۍ سره د زرو درهمو په عوض کي خلع وکړي، او زر درهمه پر نجلۍ لازم کړي (چي دا به ته ما ته راکوې)، نو په دې صورت کي به د خلع وقوع پر دوو شیانو موقوفه وي: ① د نجلۍ پر قبول (قبلولو)، ② او په نجلۍ کي به د قبلولو أهلیت وي، یعني هغې ته به معلومه وي چي خلع طلاق دی او په خلع کي خاوند ته مال ورکول کیږي.

که دا دواړه شیان موجود وي، نو طلاق به واقع کیږي، لېکن پر نجلۍ به مال نه لازمیږي: ځکه پر کوچنۍ نجلۍ (صَغِیْرَه) باندي نقصان او تاوان واجبېدای نه سي، ځکه چي هغه د دې أهل نه ده. لهذا دا خلع به د مال د لزوم څخه بغیر واقع کیږي.

فإن قبله إلخ: فرمایي چي که د کوچنۍ نجلۍ د مال ذمه واري پلار قبوله کړي، نو د دې د صحت په هکله روایتونه دي: ① د یوه روایت مطابق دا قبلول صحیح دي، ② او د بل روایت مطابق صحیح نه دي. لېکن صاحب د عنایې رَحِمَهُ الله لیکلي دي چي اول روایت زیات صحیح دی. ځکه چي په دې کي د نجلۍ نفع ده چي بغیر له څه مصرفه هغه له خاوند څخه خلاصون تر لاسه کوي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَكَذَا إِنْ خَالَعَهَا عَلَى مَهْرِهَا او همدارنګه که خاوند د [کوچنۍ] نجلۍ سره د هغې پر مهر خلع وکړي وَلَمْ يَضْمَنِ الْأَبُ الْمَهْرَ او پلار د مهر ضامن نه سي تَوَقَّفَ عَلَى قَبُولِهَا نو دا [خلع] به د نجلۍ پر قبول موقوفه وي فَإِنْ قَبِلَتْ که هغې قبول وکړی طُلِّقَتْ وَلَا يَسْقُطُ الْمَهْرُ نو طلاقیږي به او مهر به نه

ساقطیږي وَإِنْ قَبِلَ الْأَبُ عَنْهَا او که پلار د هغې له طرفه [د خلع بدل] قبول کړي فَعَلَى الرِّوَايَتَيْنِ نو [دا صورت] پر دوو روایتونو دی.

تشریح: دا مسئله هم د مخکنۍ مسئلې په څیر ده. فرق صرف دا دی چې دلته د خلع بدل د کوچنۍ نجلۍ مهر دی. نو په دې صورت کې به هم د خلع وقوع د نجلۍ پر قبلولو موقوفه وي. که نجلۍ هغه قبول کړي. نو د مهر له سقوط څخه بغیر به خلع واقع کیږي او نجلۍ به طلاقیږي.

او که د نجلۍ له طرفه د هغې پلار د مهر ذمه واري قبوله کړي. نو بیا په دې صورت کې هم هغه مخکني دوه روایتونه دي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَإِنْ ضَمِنَ الْأَبُ الْمَهْرَ او که پلار د مهر ضامن سي وَهُوَ أَلْفُ دِرْهَمٍ او مهر زر درهمه وي طُلِّقَتْ نو هغه [صغیره] طلاقیږي لِوُجُودِ قَبُولِهِ ځکه چې [دلته] د پلار قبول موجود سو وَهُوَ الشَّرْطُ او هم هغه شرط وو وَيَلْزَمُهُ خَمْسُمِائَةٍ اسْتِحْسَانًا او پر پلار به استحساناً پنځه سوه درهم لازم وي وَفِي الْقِيَاسِ يَلْزَمُهُ الْأَلْفُ [لېکن] قیاساً به پر هغه زر درهمه لازم وي وَأَصْلُهُ فِي الْكَبِيرَةِ إِذَا اخْتَلَعَتْ قَبْلَ الدُّخُولِ عَلَى أَلْفٍ او د دې [حکم] أصل د بالغې ښځې په حق کې دی کله چې هغه تر دخول مخکې د زرو درهمو په عوض کې خلع وکړي وَمَهْرُهَا أَلْفٌ او د هغې مهر [هم] زر درهمه وي فَفِي الْقِيَاسِ عَلَيْهَا خَمْسُمِائَةٍ زَائِدَةٌ نو په قیاس کې به پر هغې پنځه سوه درهم نور لازم وي ایعني ټوله به زر درهمه پر لازم وي] وَفِي الِاسْتِحْسَانِ لَا شَيْءَ عَلَيْهَا او په استحسان کې به پر هغې هیڅ شی لازم نه وي لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ عَادَةً حَاصِلُ مَا يَلْزَمُ لَهَا ځکه په [داسې] خلع سره عموماً د هغه شي حاصلول مرادیږي کوم چې د ښځې لپاره لازم [سوی] وي. ایعني د داسې خلع مطلب دا وي چې پر خاوند چې د ښځې کوم شی لازم سوی وي هغه خاوند ته حاصل سي، او دلته د خاوند په خلع کولو سره ټوله مهر هغه ته حاصل سوی دی. لهذا پر ښځې نور څه لازمېدل پکار نه دي]

اللغات: ﴿ضَمِنَ﴾ د سمع له باب څخه د واحد مذکر غائب ماضي صیغه ده: ضامن کېدل. ضمانت اخیستل (ذمه واري اخیستل).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند د کوچنۍ نجلۍ سره د هغې پر مهر خلع وکړي. او د هغې مهر زر درهمه ټاکل سوی وي (او تر اوسه خاوند هغه اداء کړی نه وي) او د نجلۍ پلار د هغې له طرفه د دې زرو درهمو ضمانت واخلي. نو په دې صورت کې چې کله هم پلار ضامن وګرځي. نو

سمدستي پر هغې خلع او طلاق واقع کيږي : دليل دا دی چي کله پلار د هغې ضامن سي. نو ګواکي د پلار له طرفه قبول موجود سو، او همدا قبول کول د خلع د وقوع لپاره شرط دي. نو ځکه به د قبول په موجودېدلو سره سمدستي نجلۍ مُختَلِعة او مطلقه ګرځي.

پاته سوه دا مسئله چي پر پلار به ځومره دراهم لازوي؟ نو په دې سلسله کي د قياس او استحسان جلا جلا تقاضا ده. د استحسان تقاضا دا ده چي د پلار پر ذمه فقط پنځه سوه (۵۰۰) دراهم لازميږي. ځکه چي کوچنۍ نجلۍ به غير مدخول بها وي (يعني خاوند به تر اوسه دخول په کړی نه وي). او د خلع بدل د هغې د مهر په اندازه تاکل سوی دی. بلکي بعينهٖ د هغې مهر تاکل سوی دی. او مهر زر دراهم دي. او تر اوسه خاوند مهر اداء کړی هم نه دی. او دا ښکاره مسئله ده چي کله ښځي ته تر دخول مخکي طلاق ورکول سي نو هغه د نصف مهر حقداره ګرځي. او څرنګه چي دلته هم کوچنۍ نجلۍ غير مدخول بها منل سوې ده. او هغې ته تر دخول مخکي طلاق ورکول سوی دی (ځکه چي خلع طلاق دی). نو د هغې مهر به هم پنځه سوه دراهم پاتيږي. او دا به ويل کيږي چي خاوند پر پنځه سوه دراهمو خلع کړې ده. او دمهر (يعني د خلع د بدل) ضمانت پلار اخيستی دی. او هغه پنځه سوه دراهم دي. نو ځکه به پر پلار پنځه سوه دارهم واجب وي.

لېکن د قياس تقاضا دا ده چي پر پلار به زر درهم واجب وي. ځکه چي دلته پلار پر ځان زر دراهم لازم کړي دي.

وأصله في الكبيرة إلخ: فرمايي چي د دې مسئلې بنياد بالغه ښځه ده. يعني که د بالغي ښځي مهر زر درهمه تاکل سوی وي. او بيا خاوند تر دخول مخکي د هغې سره پر زرو درهمو خلع وکړي (يعني د هغې پر تاکل سوي مهر خلع ور سره وکړي. او خاوند تر اوسه مهر ور کړی نه وي). نو د قياس تقاضا دا ده چي پر دې ښځي پنځه سوه دراهم نور لازميږي. ځکه چي د طلاق قبل الدّخول په وجه د خاوند پر ذمه د ښځي نيم مهر (پنځه سوه دراهم) پاته سو. نو ځکه به اوس ښځه خاوند ته پنځه سوه نور دارهم ورکوي چي د خاوند زر دراهم پوره سي.

او د استحسان تقاضا دا ده چي پر ښځي هيڅ شی هم نه لازميږي. ځکه د داسې خلع کولو مطلب دا وي چي خاوند له مهر څخه خلاص سي (او ښځي ته يو پاولی هم ورنه کړي). او دلته خاوند په پوره توګه له مهر څخه خلاص دی ځکه چي د هغه له طرفه يو درهم هم ښځي ته نه ورکول کيږي. نو ځکه استحساناً پر ښځي نور پنځه سوه دراهم لازمول پکار نه دي.



بَابُ الظِّهَارِ

(دا) باب د ظهار (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: مخکې تر دې صاحب د کتاب د خلع احکام بیان کړل. اوس د ظهار احکام بیانوي. په خلع او ظهار کې مناسبت دا دی چې د دواړو بنیاد پر نافرمانۍ او سرکښۍ دی. خو څرنګه چې په خلع کې نکاح هم ختمیږي او حرمت هم ثابتیږي. او په ظهار کې فقط حرمت ثابتیږي او نکاح باقي پاتیږي، نو په دې وجه خلع تر ظهار مخکې بیان سوه.

د ظهار لغوي او اصطلاحي معنیٰ: په لغت کې د ظِهَار څو معناوي دي: ① خپلې ښځې ته أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ ویل (یعني ته داسې پر ما حرامه یې لکه د خپلې مور شا چې پر ما حرامه ده) ② مدد کول. ③ لاندې باندې جامې اغوستل. ④ په اوسنۍ عربي کې الظِّهَار د ملا درد ته هم وایي. (خو په لغت کې عموماً له دې لفظ څخه اوله معنیٰ مرادیږي).

د ظهار شرعي معنیٰ ده: تَشْبِيْهُ الْمُحَلَّلَةِ بِالْمُحَرَّمَةِ عَلَى التَّأْبِيْدِ (یعني د داسې ښځې سره د خپلې منکوحه ښځې تشبیه ورکول کوم چې د همېشه لپاره حرامه وي) لکه مور، خور او داسې نور ◆.

د ظهار حکم او تعریف

وَإِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِامْرَأَتِهِ: أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ او کله خاوند خپلې ښځې ته و[داسې] ووایي: أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ [ته پر ما داسې یې لکه زما د مور شا] فَقَدْ حَرُمَتْ عَلَيْهِ نو ښځه پر هغه [خاوند] حرامه سوه لَا يَحِلُّ لَهُ وَطْؤُهَا وَلَا مَسُّهَا وَلَا تَقْبِيْلُهَا او د خاوند لپاره روا نه دي د هغې [ښځې] سره وطي کول او نه د هغې مسه کول او نه د هغې مچول حَتّٰى يُكَفِّرَ عَنْ ظِهَارِهِ تر دې چې خاوند د خپل ظهار کفاره ورکړي

◆ **فایده:** صاحب د مصباح المنیر د ظهار وجه تسمیه او تفسیر داسې بیان کړی دی: ظَاهَرَ مِنِ امْرَأَتِهِ ظِهَارًا مِثْلُ قَاتَلَ قِتَالًا وَتَظَهَّرَ: إِذَا قَالَ لَهَا أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي. قِيلَ: إِنَّمَا خُصَّ ذٰلِكَ بِذِكْرِ الظَّهْرِ لِأَنَّ الظَّهْرَ مِنَ الدَّابَّةِ مَوْضِعُ الرُّكُوبِ وَالْمَرْأَةُ مَرْكُوبَةٌ وَقْتَ الْغِشْيَانِ. فَرُكُوبُ الْأُمِّ مُسْتَعَارٌ مِنْ رُكُوبِ الدَّابَّةِ ثُمَّ شُبِّهَ رُكُوبُ الزَّوْجَةِ بِرُكُوبِ الْأُمِّ الَّذِي هُوَ مُمْتَنِعٌ وَهُوَ اسْتِعَارَةٌ لَطِيفَةٌ. فَكَأَنَّهُ قَالَ رُكُوبُكِ لِلنِّكَاحِ حَرَامٌ عَلَيَّ. (مصباح المنیر ج:۲، ص:۳۸۷، مکتبة العلمیة، بیروت)

لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ... إِلَى أَنْ قَالَ: فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا [المجادلة: ٣] ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: او کوم خلک چي د خپلو ښځو سره ظهار کوي.... تر دې چي فرمایلي يې دي: نو [پر هغو لازم دي] آزادول د غلام مخکي تر دې چي [خاوند او ښځه] وطي سره وکړي وَالظِّهَارُ كَانَ طَلَاقًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ او ظهار د جاهليت په زمانه کي طلاق وو فَقَرَّرَ الشَّرْعُ أَصْلَهُ نو شريعت د هغه أصل باقي پرېښوى وَنَقَلَ حُكْمَهُ إِلَى تَحْرِيمٍ مُؤَقَّتٍ بِالْكَفَّارَةِ غَيْرِ مُزِيلٍ لِلنِّكَاحِ او د هغه حکم يې وداسي تحريم ته نقل کړى کوم چي په کفاره سره متعين دى [او] کوم چي د نکاح ختمونکى نه دى وَهٰذَا لِأَنَّهُ جِنَايَةٌ او دا ځکه چي ظهار يو جرم دى لِكَوْنِهِ مُنْكَرًا مِنَ الْقَوْلِ وَزُورًا ځکه چي هغه بده وينا او دروغ دي فَيُنَاسِبُ الْمُجَازَاةَ عَلَيْهَا بِالْحُرْمَةِ نو مناسب معلومه سوه چي [سړي ته] پر دغه بده وينا [د ښځي] په حرامولو سره سزا ورکول سي وَارْتِفَاعُهَا بِالْكَفَّارَةِ او د دې حرمت ختمېدل په کفاره سره دي [يعني د ظهار حرمت په کفاره سره ختمېږي] ثُمَّ الْوَطْءُ إِذَا حَرُمَ حَرُمَ بِدَوَاعِيهِ بيا چي کله وطي حرام کړى سوې نو د خپلو دواعيو سره حرام کړى سوې كَيْ لَا يَقَعَ فِيهِ د دې لپاره چي خاوند [د دواعيو په وجه] په وطي کي واقع نه سي كَمَا فِي الْإِحْرَامِ لکه څرنګه چي په احرام کي [دواعي د وطي حرام دي] بِخِلَافِ الْحَائِضِ وَالصَّائِمِ په خلاف د حائضي او روژتي [ښځي] لِأَنَّهُ يَكْثُرُ وُجُودُهُمَا ځکه چي د دې دوارو [حيض او روژې] وجود [پيښېدل] زيات وي [يعني بار بار پيښېږي] فَلَوْ حَرُمَ الدَّوَاعِي يُفْضِي إِلَى الْحَرَجِ لهذا که [په دوى کي] دواعي حرام کړل سي نو دا به د حرج سبب جوړ سي وَلَا كَذٰلِكَ الظِّهَارُ وَالْإِحْرَامُ او ظهار او إحرام داسي نه دي.

اللغات: ﴿تَقْبِيل﴾ د تفعيل مصدر دى: مچول (مچه اخيستل)، ښکلول. ﴿يُكَفِّر﴾ د تفعيل مضارع ده: کفاره ورکول (کفاره اداء کول). ﴿مُؤَقَّت﴾ د تفعيل اسمِ مفعول دى: نېټه دار، ټاکل سوى، تر يو خاص وخت پوري. ﴿مُزِيل﴾ د افعال فاعل دى: زائلونکى، ختمونکى. ﴿جِنَايَة﴾ جرم، غلطي. ﴿زُور﴾ دروغ (دروغ). ﴿مُجَازَاة﴾ د مفاعلې مصدر دى: بدله ورکول، سزا ورکول. ﴿اِرْتِفَاع﴾ د افتعال مصدر دى: پورته کېدل (ليري کېدل، ختمېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى که خاوند د خپلي ښځي سره ظهار وکړي. نو ښځه پر هغه حرامېږي. او د ظهار له کفاري څخه مخکي نه خاوند د هغې سره وطي کولاى سي. او نه يې مچولاى او

مسه کولای سي: د دې حکم دليل د قرآن کريم دا آيت دی: وَالَّذِيْنَ يُظَاهِرُوْنَ مِنْ نِسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا...(إلخ). يعني کوم خلک چي د خپلو ښځو سره ظهار کوي. او بيا د خپل قول او عمل تلافي کول غواړي. نو هغو ته حکم دا دی چي يو غلام به آزادوي.

له دې آيت څخه دا خبره څرګنده سوه چي تر څو چي مُظاهر (ظهار کونکی خاوند) غلام آزاد نه کړي. تر هغه وخته ښځه د هغه لپاره حلاله نه ګرځي.

وکان إلخ: فرمايي چي د جاهليت په زمانه کي على الإطلاق خلکو ظهار طلاق شماری. لېکن شريعت د هغه إطلاق مقيد او مؤقت کړی او دا حکم يې وکړی چي فقط د کفارې تر اداء کولو پوري به ښځه پر مُظاهر حرامه وي. او د شريعت د دغه حکم علت دا دی چي ظهار کول يو جرم دی. ځکه چي په دې کي فحش او بده ويناده. او د قرآن کريم په ژبه دا يو قبيح شی دی. لکه په قرآن کي چي ذکر سوي دي: وَإِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا مِنَ الْقَوْلِ وَزُوْرًا. او ښکاره خبره ده چي په شريعت کي د درواغو او د قباحت هيڅ ګنجائش نسته. نو ځکه به مظاهر ته د خپل بد قول او عمل سزا ورکول کيږي. او کومي ښځي ته چي هغه رد وبد ويلي دي. هغه به پر دغه سړي حراميږي. تر دې چي هغه کفاره اداء کړي او د دې چټل عمل داغونه پاک او صفا کړي. ځکه چي د شريعت همدا قانون دی چي إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ. يعني بدي په نېکۍ سره ختميږي. (بناية ج:٥، ص:٣٢٥)

ثم إذا حرم إلخ: د دې حاصل دا دی چي څرنګه پر مظاهر وطي حرام دي. همداسي د وطي دواعي مثلاً مسه کول او مچول داسي نور هم پر حرام دي. ځکه که دا شيان حرام نه کړی سي. نو آخر به له خاوند څخه وطي وسي او په حرام عمل به مبتلا سي. لهذا څرنګه چي د محرم (إحرام تړونکي سړي) لپاره وطي او د وطي دواعي دواړه حرام دي. همداسي به د مظاهر لپاره هم دا دواړه شيان حرام وي.

د دې په خلاف حائضه او صائمه (روژتي) ښځه ده. نو د دوی سره فقط وطي کول حرام دي. لېکن دواعي د وطي حرام نه دي. ځکه چي حيض او روژه کثيرُ الوقوع دي. بار، بار پيښيږي. نو که په هغوی کي دواعي د وطي هم حرام وګرځول سي، نو بيا به خاوند او ښځي ته حرج او تکليف لاحق سي. او په شريعت کي حرج مدفوع او ليري کړی سوی دی. نو په دې وجه د حائضې او روژتي ښځي په حق کي دواعي د وطي صحيح او جائز دي. خو څرنګه چي د حيض او روژې په مقابله کي ظهار او إحرام قليلُ الوجود او نادرُ الوقوع دي. کله نا کله پيښيږي. نو ځکه به په دوی کي وطي هم حرام وي. او دواعي د وطي به هم حرام او ممنوع وي.

له کفاره ورکولو څخه مخکې د جماع کولو حکم

فَإِنْ وَطِئَهَا قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ او که اخاوند ا د ښځې سره وطې وکړي مخکې تر دې چې کفاره اداء کړي إِسْتَغْفَرَ اللّٰهَ تَعَالىٰ نو د الله تعالیٰ څخه دې بخښنه وغواړي ایعني توبه او استغفار دې وکړي ا وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ غَيْرَ الْكَفَّارَةِ الْأُولىٰ او پر هغه له اولې کفارې څخه بغیر بل هیڅ شی واجب نه دی وَلَا يَعُودُ حَتّٰى يُكَفِّرَ او نه دې راګرځې اوطې ته، یعنې بل وار دې وطې نه کوي ا تر دې چې کفاره اداء کړي لِقَوْلِهِ عليه السلام [1] لِلَّذِيْ وَاقَعَ فِيْ ظِهَارِهٖ قَبْلَ الْكَفَّارَةِ ځکه چې نبي ﷺ وفرمایل هغه سړي ته کوم چې په ظهار کې تر کفاره ورکولو مخکې جماع کړې وه اِسْتَغْفِرِ اللّٰهَ وَلَا تَعُدْ حَتّٰى تُكَفِّرَ د الله څخه بخښنه وغواړه او مه راګرځه ایعنې بل وار وطې مه کوه! ا تر دې چې کفاره اداء کړې وَلَوْ كَانَ شَيْءٌ آخَرُ وَاجِبًا لَبَيَّنَهٗ عليه السلام او که پر دغه سړي اله اولې کفارې څخه بغیر ا بل شی واجب وای نو نبي ﷺ به اخامخا ا هغه ذکر کړې وای

قَالَ: وَهٰذَا اللَّفْظُ لَا يَكُوْنُ إِلَّا ظِهَارًا صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا لفظ فقط ظهار دی ایعنې دا فقط د ظهار لپاره دی ا لِأَنَّهٗ صَرِيْحٌ فِيْهِ ځکه چې دا په ظهار کې صریح دی ایعنې د ظهار په معنیٰ کې صریح دی ا وَلَوْ نَوىٰ بِهِ الطَّلَاقَ او که خاوند په دې سره د طلاق نیت وکړي لَا يَصِحُّ نو صحیح نه دي لِأَنَّهٗ مَنْسُوْخٌ ځکه چې د هغه طلاق کېدل منسوخ سوي دي فَلَا يَتَمَكَّنُ مِنَ الْإِتْيَانِ بِهٖ نو ځکه به خاوند ته د داسې کولو اختیار نه وي.

اللغات: ﴿وَاقَعَ﴾ د مفاعلې ماضي ده: جماع کول (کور والی کول).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو مُظاهر سړی د کفارې تر اداء کولو مخکې د خپلې ښځې سره جماع وکړي. نو هغه ته پکار دي چې توبه او استغفار وکړي. او کومه کفاره چې واجب سوې ده. هغه دې ژر تر ژره اداء کړي. او پر دې سړي له اولې کفارې (کفاره اولیٰ) څخه بغیر بل هیڅ شی واجب نه دی. دلیل دا دی چې د سلمه بن صخر بیاضي په نامه صحابي نبي کریم ﷺ ته راغلی او ویې ویل چې ما د خپلې ښځې سره ظهار وکړی او بیرته مې د هغې سره جماع وکړه. نو نبي ﷺ هغه ته حکم وکړی چې د الله څخه مغفرت او بخښنه وغواړه او د آینده لپاره توبه وکړه. او تر څو چې دې کفاره اداء کړې نه وي. تر هغه وخته بیا د ښځې سره وطې مه کوه.

---

[1] اخرجه ابن ماجه في كتاب الطلاق، باب المظاهر، حديث رقم:٢٠٦٥

په دې حديث سره موږ په دې توګه دليل نيسو چې که پر دغه صحابي له استغفار او کفاره اولیٰ ځخه علاه بل شی لازم وای، نو نبي کريم ﷺ به يقيناً هغه ذکر کړي وای او د هغه حکم به يې کړي وای. نو د نبي ﷺ حکم نه کول او د بل شي نه ذکر کول د دې خبري دليل دا دی چې پر مُظاهر له کفاره اولیٰ ځخه بغير بل شی واجب نه دی.

قال وهذا إلخ: فرمايي چې أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ د ظهار لپاره صريحه جمله ده. لهذا په دې جملې سره فقط ظهار واقع کيږي، او که يو سړی په دې جملې سره د طلاق نيت وکړي، نو د هغه نيت معتبر او صحيح نه دی: ځکه چې په دې جملې سره د طلاق مراد ول منسوخ سوي دي، او په شريعت کي د منسوخ حکم هيڅ اعتبار نسته.

د کومو اندامونو په تشبيه سره ظهار ثابتيږي؟

وَإِذَا قَالَ: أَنْتِ عَلَيَّ كَبَطْنِ أُمِّيْ أَوْ كَفَخِذِهَا أَوْ كَفَرْجِهَا او که [خاوند خپلي ښځي ته] ووايي: ته پر ما داسي يې لکه زما د مور نس يا [داسي يې] لکه د هغې ورون يا [داسي يې] لکه د هغې شرمګاه **فَهُوَ مُظَاهِرٌ** نو هغه ظهار کونکی دی **لِأَنَّ الظِّهَارَ لَيْسَ إِلَّا تَشْبِيهُ الْمُحَلَّلَةِ بِالْمُحَرَّمَةِ** ځکه چې ظهار نه دی مګر د محرمه ښځي سره د حلالي ښځي تشبيه ورکول [يعني ظهار همدې ته وايي چې د يو محرمه ښځي سره د خپلي مايني تشبيه ورکول سي] **وَهٰذَا الْمَعْنَى يَتَحَقَّقُ فِي عُضْوٍ لَا يَجُوزُ النَّظَرُ إِلَيْهِ** او دا معنیٰ په [هر] هغه اندام کي ثابتيږي چې د هغه وطرف ته کتل جائز نه وي.

اللغات: ﴿مُحَلَّلَة﴾ د تفعيل له باب ځخه د مفعول صيغه ده: حلاله کړی سوې ښځه (مانيه).

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چې ظهار فقط د دې جملې أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ سره خاص نه دی، بلکي د محرمه ښځي د هر هغه اندام په تشبيه سره ظهار ثابتيږي چې هغه‌ته د محرم سړي کتل صحيح نه وي؛ همدا وجه ده که خاوند خپلي ښځي ته ووايي: أَنْتِ عَلَيَّ كَبَطْنِ أُمِّيْ يا كَفَخِذِ أُمِّيْ يا كَفَرْجِ أُمِّيْ، نو په دې ټولو صورتونو کي هغه ظهار کونکی ګرځي، ځکه چې د هغه لپاره د محرمه ښځي و دغه اندامونو ته کتل صحيح نه دي.

د کومو ښځو په تشبيه سره ظهار ثابتيږي؟

وَكَذَا إِنْ شَبَّهَهَا بِمَنْ لَا يَحِلُّ لَهُ النَّظَرُ إِلَيْهَا عَلَى التَّأْبِيدِ مِنْ مَحَارِمِهِ او همدارنګه که [خاوند] د ښځي [ماينې] تشبيه ورکړي په خپلو محارمو کي د داسي ښځي سره چې د هغې وطرف ته ا د شهوت په نظر سره] کتل د همېشه لپاره حرام وي **مِثْلَ: أُخْتِهِ أَوْ عَمَّتِهِ أَوْ أُمِّهِ مِنَ الرَّضَاعَةِ** لکه [د هغه] خپله خور يا

خپله امه یا خپله رضاعي مور اسره تشبیه ورکول الِأَنَّهُنَّ فِي التَّحْرِيمِ الْمُؤَبَّدِ كَالْأُمِّ ځکه چي دا ښځي د همېشه لپاره په حرامېدلو کي د مور په څېر دي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي ظهار فقط د مور د تشبیه سره خاص نه دی. بلکي د هر هغه ښځي سره د خپلي مابینې په تشبیه ورکولو سره ظهار ثابتیږي چي د هغه ښځي وطرف ته د شهوت په نظر سره د محرم سړي کتل حرام وي. مثلاً: خاله، خور، امه او رضاعي مور او داسي نور. او دغه ښځو ته د شهوت په نظر سره کتل حرام دي. نو که خاوند په دوی کي د یو ښځي سره د خپلي مابینې تشبیه ورکړي، نو ظهار ثابتیږي.

د یو جزء سره تشبیه ورکول

وَكَذٰلِكَ إِذَا قَالَ: رَأْسُكِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي او همدارنګه که اخاوند خپلي ښځي ته او وایي: ستا سر پر ما داسي دی لکه د خپلي مور شا أَوْ فَرْجُكِ أَوْ وَجْهُكِ أَوْ رَقَبَتُكِ أَوْ نِصْفُكِ أَوْ ثُلُثُكِ یا ستا فرج [پر ما داسي دی لکه د خپلي مور شا] یا ستا مخ یا ستا غاړه یا ستا نیمه حصه یا ستا دریمه حصه [پر ما داسي ده لکه د خپلي مور شا] لِأَنَّهُ يُعَبَّرُ بِهَا عَنْ جَمِيعِ الْبَدَنِ ځکه چي د دې الفاظو [اندامونو] په ذریعه له ټوله بدن څخه تعبیر کیږي [یعني په دغه هر یوه اندام سره په محاوره کي ټوله بدن مرادیږي] وَيَثْبُتُ الْحُكْمُ فِي الشَّائِعِ او حکم [اول] په جزء شائع کي ثابتیږي ثُمَّ يَتَعَدّٰى بيا [په ټوله بدن کي] متعدي کیږي كَمَا بَيَّنَّاهُ فِي الطَّلَاقِ لکه په طلاق کي چي موږ د دې بیان وکړی.

اللغات: ﴿الشَّائِعِ﴾ د ټوله جسم څلورمه حصه، یا نصف، یا دریمه حصې، همدې ته جزء شائع (مشترک جزء) وایي. ځکه چي د ټوله جسم په هر هر جزء کي نصف یا څلورمه حصه یا دریمه حصه شائع ده.

تشریح: فرمایي که خاوند خپلي ښځي ته داسي ووایي: رَأْسُكِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ. یا داسي ووایي: فَرْجُكِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ. یا: رَقَبَتُكِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ. یا: نِصْفُكِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ. یا: ثُلُثُكِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ. نو په دې ټولو صورتونو کي ظهار ثابتیږي. دلیل دا دی چي په دغه ذکر سوو اندامونو کي د هر اندام په ذریعه د ښځي له ټوله جسم او بدن څخه تعبیر کیږي، ځکه مخکي ذکر سوه چي په کوم اندام سره چي ټوله جسم مرادیږي. هغه اندام ته که طلاق ورکول سي نو پر ټوله ښځي طلاق واقع کیږي. نو همداسي به په هغه اندام سره ظهار هم ثابتیږي. ځکه په کوم اندام سره چي له ټوله بدن څخه تعبیر

کيږي. د محرمه ښځي د هغه اندام سره تشبيه ورکول داسي سو لکه د ټوله محرمه ښځي سره تشبيه ورکول. نو ځکه به په دغه ذکر سوو اندامونو سره ظهار ثابتيږي.

ويثبت الحكم إلخ: د دې عبارت مطلب دا دی چي که خاوند د خپلي ښځي د جسم د څلورمي يا دريمي حصې سره يا د نصف سره ظهار وکړي. نو د جسم د هر اندام په څلورمه يا دريمه حصه يا نصف کي ظهار ثابتيږي. بيا له هغه ځخه په ټوله اندام کي سرايت کوي او همدارنګه بيا په ټوله جسم کي خپريږي او ظهار ثابتيږي. لکه کله چي د ښځي نصف ته طلاق ورکول سي. نو د هغه د سرايت کولو او خپريدلو په وجه پر پوره ښځي طلاق واقع کيږي.

د "أَنْتِ عَلَيَّ مِثْلُ أُمِّي يا كَأُمِّي" حكم

وَلَوْ قَالَ: أَنْتِ عَلَيَّ مِثْلُ أُمِّي أَوْ كَأُمِّي او که [خاوند] ووايي: ته پر ما د خپلي مور په مثل سره يې يا [ته پر ما] د خپلي مور په رقم [اخير] يې يُرْجَعُ إِلَى نِيَّتِهِ نو [په دې صورت کي] به د خاوند د نيت وطرف ته رجوع کيږي لِيَنْكَشِفَ حُكْمُهُ د دې لپاره چي د هغه حکم ښکاره سي فَإِنْ قَالَ: أَرَدْتُ الْكَرَامَةَ نو که هغه [خاوند] ووايي: چي ما په دې سره د عزت [احترام] اراده کړې ده فَهُوَ كَمَا قَالَ نو همداسي به وي لکه هغه چي وايي لِأَنَّ التَّكْرِيمَ بِالتَّشْبِيهِ فَاشٍ فِي الْكَلَامِ ځکه چي د تشبيه ورکولو په ذريعه احترام کول [د خلکو] په کلام کي رواج دي وَإِنْ قَالَ: أَرَدْتُ الظِّهَارَ او که هغه ووايي: چي ما د ظهار اراده کړې ده فَهُوَ ظِهَارٌ نو هغه به ظهار وي لِأَنَّهُ تَشْبِيهٌ بِجَمِيعِهَا ځکه چي دا [د ښځي] د ټولو اندامونو سره تشبيه ورکول دي وَفِيهِ تَشْبِيهٌ بِالْعُضْوِ او [که څه هم] په دې [ټوله ښځه] کي د اندام [يعني د شا] سره تشبيه ورکول سته ايعني په دې مثالو کي د مور د ټولو اندامونو سره د مايني تشبيه ورکول سوې ده. چي په هغه کي شا هم راغله. نو د شا سره هم تشبيه ورکول سوې ده. خو څرنګه چي په صراحت سره د شا اظهر الفظ نسته. نو ځکه به نيت ته ضرورت وي] لَكِنَّهُ لَيْسَ بِصَرِيحٍ ليکن هغه صريح نه دی ايعني په صراحت سره د شا لفظ ذکر سوی نه دی] فَيَفْتَقِرُ إِلَى النِّيَّةِ نو ځکه به نيت ته محتاج وي وَإِنْ قَالَ: أَرَدْتُ الطَّلَاقَ او که هغه ووايي: ما د طلاق اراده کړې ده فَهُوَ طَلَاقٌ بَائِنٌ نو هغه به طلاق بائن وي لِأَنَّهُ تَشْبِيهٌ بِالْأُمِّ فِي الْحُرْمَةِ ځکه چي دا په حرمت کي د مور سره تشبيه ورکول دي فَكَأَنَّهُ قَالَ: أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ نو ګواکي خاوند داسي وويل: ته پر ما حرامه يې وَنَوَى الطَّلَاقَ او په دې سره يې د طلاق نيت [هم] وکړی وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ او که [په

دې سره او د خاوند هیڅ نیت نه وي فَلَيْسَ بِشَيْءٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ ✿ نو د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز به دا هیڅ شی نه وي لِاحْتِمَالِ الْحَمْلِ عَلَى الْكَرَامَةِ پر عزت [احترام] باندې د حمل کولو د احتمال په وجه وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَكُونُ ظِهَارًا او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا به ظهار وي لِأَنَّ التَّشْبِيهَ بِعُضْوٍ مِنْهَا لَمَّا كَانَ ظِهَارًا ځکه کله چې د مور دیوه اندام سره تشبیه ورکول ظهار دي فَالتَّشْبِيهُ بِجَمِيعِهَا أَوْلَى نو [د هغې] د ټولو اندامونو سره به تشبیه ورکول په درجه اولیٰ سره ظهار وي وَإِنْ عَنَى بِهِ التَّحْرِيمَ لَا غَيْرُ او که خاوند په دې سره د تحريم اراده کړې وي، نه د بل شي فَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ هُوَ إِيلَاءٌ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز به هغه ایلاء وي لِيَكُونَ الثَّابِتُ بِهِ أَدْنَى الْحُرْمَتَيْنِ د دې لپاره چې په دې سره په دواړو حرمتونو کې ادنیٰ [سپک] حرمت ثابت سي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ ظِهَارٌ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز به ظهار وي لِأَنَّ كَافَ التَّشْبِيهِ تَخْتَصُّ بِهِ ځکه چې کاف د تشبیه د ظهار سره خاص وي.

اللغات: ﴿يَنْكَشِفُ﴾ د انفعال مضارع ده: څرګندېدل، ښکاره کېدل. ﴿كَرَامَةٌ﴾ عزت او احترام. ﴿تَكْرِيمٌ﴾ د تفعیل مصدر دی: عزت ورکول. ﴿فَاشٍ﴾ عام، رائج. ﴿يَفْتَقِرُ﴾ د افتعال مضارع ده: محتاج کېدل، ضرورت پیدا کېدل.

تشریح: په دې عبارت کې د خاوند د دوو جملو په هکله د هغه د نیت او ارادې په اعتبار سره شو مسئلې بیان سوي دي، چې هغه به انشاء الله په ترتیب سره ذکر سي، تر ټولو مخکې تاسې هغه دوو جملو ته پاملرنه وکړئ!: ① یوه جمله دا چې خاوند خپلې ښځې ته داسې ووايي أَنْتِ عَلَيَّ مِثْلُ أُمِّي. ② یا داسې ورته ووايي: أَنْتِ عَلَيَّ كَأُمِّي. نو په دې دواړو صورتونو کې به تر ټولو مخکې له هغه شخه د نیت پوښتنه کیږي، او د نیت مطابق به فیصله کیږي:

(۱)...نو که خاوند ووايي چې ما د تکریم او احترام په خاطر د مور سره دا تشبیه ورکړې ده. یعنې څرنګه چې زما زمور زما په نیز د احترام او تعظیم لائقه ده، همداسې ته هم زما په نیز د احترام او تعظیم لائقه یې، نو اوس حکم دا دی چې د هغه دا نیت به معتبر وي، او د هغه کلام به پر احترام او تعظیم حمل کیږي. دلیل دا دی چې په دې کلام کې د احترام او تعظیم احتمال هم سته، ځکه چې د خلکو په عرف او اصطلاح کې له دې کلام څخه تکریم او احترام مرادیږي.

✿ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في الدر المختار (ج:۲، ص:۶۲۶). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۵۱]

(۲)... او که چیري خاوند ووایي چي ما په دې جملې سره د ظهار نیت کړی دی، نو د هغه دا نیت به هم معتبر وي او ظهار به ثابتیږي: دلیل دا دی چي ظهار د محرمه ښځي سره د خپلي ښځي تشبیه ورکولو ته وایي. او هغه تشبیه دلته سته، ځکه چي په أَنْتِ عَلَيَّ كَأُمِّيْ کي د پوره مور سره تشبیه ورکول سوې ده (نه فقط د هغې د یو اندام سره)، او په دویمه جمله یعني په مثل اُمِّيْ کي هم د مور سره تشبیه ورکول سوې ده، او کله چي د یوه اندام په تشبیه سره ظهار ثابتیږي، نو د ټولو اندامونو د مجموعې په تشبیه سره خو به په درجه اولیٰ ظهار ثابتیږي، لېکن څرنګه چي أَنْتِ عَلَيَّ او كَأُمِّيْ تشبیهات صریحه نه دي، نو ځکه به په دوی کي نیت ته کتل کیږي، او د نیت مطابق به فیصله کیږي.

(۳)... که خاوند ووایي چي ما په دې جمله سره د طلاق نیت کړی دی، نو دا نیت هم صحیح دی، او پر ښځي به طلاقِ بائن واقع کیږي: دلیل دا دی چي دا کلام "په حرمت کي د مور سره د تشبیه ورکولو" احتمال هم لري، لهذا دا کلام داسي سو لکه خاوند چي ووایي : أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ كَأُمِّيْ یا مِثْلُ اُمِّيْ، او په أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ سره که خاوند د طلاق نیت وکړي، نو د کنایه توب په وجه په دې جمله سره طلاقِ بائن واقع کیږي (یعني ځکه چي أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ کنایه جمله ده، او په کنایاتو سره طلاقِ بائن واقع کیږي، نو دلته به هم د طلاق د نیت کولو په صورت کي طلاقِ بائن واقع کیږي).

(۴)... او که خاوند ووایي چي ما په دې کلام سره هیڅ نیت کړی نه دی، بلکي هسي مي تر خولې دا الفاظ ووتل، نو په دې صورت کي د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا کلام لغوه کیږي، او دا به پر هیڅ شي هم نه حمل کیږي: دلیل دا دی چي په دې کي د تکریم احتمال هم سته، او د طلاق او ظهار احتمال هم سته، نو د یو مُرجّح دلیل شخه بغیر به پر یوه شي هم نه حمل کیږي.

امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چي په دې صورت کي به دغه کلام ظهار وي، ځکه کله چي د مور د یوه اندام سره تشبیه ورکول ظهار دی، نو د هغې د ټوله بدن سره تشبیه ورکول به په درجه اولیٰ سره ظهار وي، نو ځکه به له نیت شخه بغیر هم په دې جملو کي ظهار ثابتیږي.

(۵)... او که خاوند په دې جملو سره د تحریم (یعني پر خپل ځان د ښځي حراملو) اراده کړې وي، نو په دې صورت کي به هم د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دا ظهار وي، لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز به ایلاء وي، د امام ابو یوسف دلیل دا دی چي د ظهار په مقابله کي د ایلاء حرمت خفیف او ادنیٰ دی، ځکه چي د ایلاء حرمت څلور میاشتې وروسته ثابتیږي، او بېله کفارې د وطي په ذریعه هغه ختم کېدای سي، او ایلاء مباح او جائز ده، نو په دې وجه سره د ایلاء حرمت د ظهار تر حرمت سپک او

ادنیٰ دی. او د فقهي قاعد دا ده چي "يُخْتَارُ أَهْوَنُ الشَّرَّيْن". يعني کله چي په يوه مسئله کي دوې بدياني جمع سي. نو په هغوی کي به سپکه او خفيفه بدي اختيارېږي.

د امام محمد دليل دا دی چي په دې دوو جملو کي د تشبيه حروف "مِثْل او کاف" ذکر سوي دي. او د تشبيه حروف د ظهار سره خاص دي. نو ځکه به په دې صورت کي هم د خاوند قول پر ظهار حمل کيږي او په دې جملو سره به ظهار ثابتيږي.

د "أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ كَأُمِّي" حکم

وَلَوْقَالَ: أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ كَأُمِّي او که [خاوند] ووايي: ته پر ما د خپلي مور په څېر حرامه يې وَنَوَى ظِهَارًا أَوْ طَلَاقًا او په دې سره د ظهار يا د طلاق نيت وکړي فَهُوَعَلَى مَانَوَى نو [حکم] به همداسي وي لکه څرنګه چي هغه نيت کړی وي [يعني حکم به د هغه د نيت مطابق وي] لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ الْوَجْهَيْنِ ځکه چي دا کلام د دواړو صورتونو احتمال لري الظِّهَارُ لِمَكَانِ التَّشْبِيهِ وَالطَّلَاقُ لِمَكَانِ التَّحْرِيمِ [۱] د تشبيه په وجه سره د ظهار [احتمال لري] [۲] او د تحريم په وجه سره د طلاق [احتمال لري] وَالتَّشْبِيهُ تَأْكِيدٌ لَهُ او تشبيه د تحريم د تأکيد لپاره ده وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ او که [په دې سره] د خاوند هيڅ نيت نه وي، فَعَلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ إِيلَاءٌ نو [دا] د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په قول ايلاء دی وَعَلَى قَوْلِ مُحَمَّدٍ ظِهَارٌ ✿ او د امام محمد رَحِمَهُ الله پر قول ظهار دی. وَالْوَجْهَانِ بَيَّنَّاهُمَا او دواړه صورتونه موږ [مخکي] بيان کړي دي.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل واضح دی چي د خاوند په دې قول "أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ كَأُمِّي" کي د طلاق احتمال هم سته او د ظهار احتمال هم سته. نو د کوم شي نيت چي خاوند کړی وي. هغه به ثابتيږي: په دې جمله کي د ظهار احتمال په دې توګه سته چي د تشبيه حرف (کاف) پکښي ذکر سوی دی. کوم چي د ظهار لپاره خاص دی. او د طلاق احتمال په دې توګه پکښي سته چي أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ کنايه جمله ده. او په کنايه جملو او الفاظو سره طلاق بائن واقع کيږي. او که په دې جملې سره خاوند د طلاق نيت کړی وي. نو د هغه پر ښځي يو طلاق بائن واقع کيږي. او تر أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ وروسته تشبيه به يعني كَأُمِّي به د همدغه تحريم لپاره تأکيد وي.

✿ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، کما ذکر في الخانية (ج:۲، ص:۲۶۴)، وکذا في رد المحتار (ج:۲، ص:۶۲۷). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۵۲]

وإن لم الخ: فرمايي كه په دې سره د خاوند هيڅ نيت نه وي نو له دې څخه به د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز ايلاء مراد وي لأنه أدنى و أخف من الظهار. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به له دې څخه ظهار مراد وي لأن كاف التشبيه تختص بالظهار كما مر آنفًا.

د ظهار يو څو الفاظ

وَإِنْ قَالَ: أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ كَظَهْرِ أُمِّي او كه [خاوند] ووايي: ته پر ما داسي حرامه يې لكه زما د مور شا وَنَوَى بِهِ طَلَاقًا أَوْ إِيلَاءً او په دې سره د طلاق يا د ايلاء نيت وكړي لَمْ يَكُنْ إِلَّا ظِهَارًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به فقط ظهار وي وَقَالَا: هُوَ عَلَى مَا نَوَى او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: هغه به داسي وي لكه ده چي يې نيت كړى وي ايعني حكم به د ده د نيت مطابق وي] لِأَنَّ التَّحْرِيمَ يَحْتَمِلُ كُلَّ ذَلِكَ ځكه چي تحريم د دې ټولو اظهار، طلاق او ايلاء] احتمال لري عَلَى مَا بَيَّنَّا لكه مو‌ږ چي امخكي] بيان كړه غَيْرَ أَنَّ عِنْدَ مُحَمَّدٍ إِذَا نَوَى الطَّلَاقَ خو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز چي كله خاوند د طلاق نيت وكړي لَا يَكُونُ ظِهَارًا نو دا به ظهار نه وي وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ يَكُونَانِ جَمِيعًا او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به طلاق او ظهار دواړه وي وَقَدْ عُرِفَ فِي مَوْضِعِهِ او دا په خپل ځاى كي پېژندل سوي [معلوم سوي] دي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ صَرِيحٌ فِي الظِّهَارِ د امام صاحب دليل دا دى: چي دا كلام د ظهار لپاره صريح دى فَلَا يَحْتَمِلُ غَيْرَهُ نو له هغه څخه بغير [د بل شي] احتمال به نه لري ثُمَّ هُوَ مُحْكَمٌ بيا هغه محكم [هم] دى فَيُرَدُّ التَّحْرِيمُ إِلَيْهِ نو تحريم به د هغه [ظهار] وطرف ته ګرځول كيږي [نو ځكه به ظهار په ثابتيږي].

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه خاوند خپلي ښځي ته ووايي: أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ كَظَهْرِ أُمِّي. او په دې كلام سره هغه د طلاق يا د ايلاء نيت وكړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به دا كلام فقط د ظهار لپاره وي (يعني د هغه په نيز په دې سره نه طلاق واقع كيږي او نه ايلاء). او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي خاوند د كوم شي نيت كړى وي هغه ثابتيږي، يعني كه نيت يې د ظهار وي، نو ظهار ثابتيږي. او كه نيت يې د طلاق يا د ايلاء وي، نو طلاق يا ايلاء واقع كيږي.

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في فتح القدير (ج:٤، ص:٩٢). [القول الراجح ج:١، ص:٣٥٣]

د صاحبينو دليل: دا دی چي دا کلام أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ... په مذکوره شيانو (ظهار، طلاق او ايلاء) کي د هر شي احتمال لري، او د احتمالي معنیٰ نيت کول صحيح دي. نو ځکه به د هغه د نيت مطابق فيصله کيږي.

لېکن د صاحبينو په اقوالو کي هم فرق سته، هغه دا چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز که خاوند په خپل دې کلام سره د طلاق نيت کړی وي نو صرف طلاق واقع کيږي، او ظهار نه ثابتيږي، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز طلاق او ظهار دواړه ثابتيږي.

د امام محمد دليل دا دی چي کله خاوند خپلي ښځي ته دا جمله أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ وويله، نو په دې سره طلاقِ بائن واقع سو، لهذا تر دې وروسته په كَظَهْرِ أُمِّيْ سره ظهار ثابتېدای نه سي، ځکه چي تر بينونت وروسته ظهار نه صحيح کيږي.

د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي طلاق خو به په أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ سره د خاوند د نيت په وجه واقع کيږي، او ظهار به په كَظَهْرِ أُمِّيْ سره ثابتيږي، ځکه چي دا جمله د ظهار لپاره صريحه ده، لهذا د دې جملې د ظاهر څخه به د خاوند لپاره د انحراف کولو گنجائش نه وي.

د امام صاحب دليل: امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايلي وو چي په پورتنی جمله سره فقط ظهار ثابتيږي، د هغه دليل دا دی چي كَظَهْرِ أُمِّيْ د ظهار د معنیٰ لپاره صريح دی، همدا وجه ده چي په دې الفاظو سره د ظهار کولو په وخت کي د نيت ضرورت نسته، نو په دې الفاظو کي د ظهار څخه بغير د بل شي يعني د طلاق او ايلاء احتمال کېدای نه سي، او د بل شي د احتمال د نشتوالي په وجه دا الفاظ يعني كَظَهْرِ أُمِّيْ د ظهار په معنیٰ کي مُحکم دي، او د أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ الفاظ څو احتمالات لري، او قاعده دا ده چي محتمل به د محکم وطرف ته گرځول کيږي، نو د دغه قاعدې په وجه به أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ هم د ظهار وطرف ته گرځول کيږي، او په دې جملې سره به يوازي ظهار ثابتيږي.

ظهار فقط دخپلي ښځي سره کېدای سي

قَالَ: وَلَا يَكُونُ الظِّهَارُ إِلَّا مِنَ الزَّوْجَةِ فرمايي: او نه کيږي ظهار مگر د خپلي ښځي څخه حَتَّى لَوْ ظَاهَرَ مِنْ أَمَتِهِ حتی که د خپلي مينځي څخه ظهار وکړي لَمْ يَكُنْ مُظَاهِرًا نو ظهار کونکی نه گرځي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: مِنْ نِسَائِهِمْ [المجادلة: ٣] ځکه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: [او کوم خلک چي ظهار کوي] د خپلو ښځو څخه وَلِأَنَّ الْحِلَّ فِي الْأَمَةِ تَابِعٌ او په دې وجه [هم] چي په مينځه کي حلال کېدل تابع دي فَلَا تُلْحَقُ بِالْمَنْكُوحَةِ نو هغه به د منکوحه ښځي سره نه لاحق کيږي وَلِأَنَّ الظِّهَارَ مَنْقُولٌ عَنِ الطَّلَاقِ

او په دې وجه (هم) چې ظهار له طلاق څخه نقل سوی دی وَلَا طَلَاقَ فِي الْمَمْلُوكَةِ او د مملوکه (مینځې) په حق کې طلاق نسته.

اللغات: ﴿أَمَةٌ﴾ مینځه. جمع: آمَاء.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې د ظهار ثابتېدلو تعلق فقط د منکوحه ښځې سره دی. او له منکوحه ښځې څخه بغیر د نورو مملوکه ښځو سره ظهار نه صحیح کیږي. همدا وجه ده که یو سړی د خپلې غیر منکوحه مینځې سره ظهار وکړي. نو هغه ته مُظاهر نه ویل کیږي. د منکوحه ښځې سره د ظهار خاصېدلو ① یو دلیل دا دی چې د ظهار په آیت یعني په وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ کې د "نِسَاء" لفظ استعمال سوی دی. او د نِسَاء لفظ که څه هم منکوحه او مملوکه ټولو ښځو ته عام دی. لېکن دلته په سیاق او سباق سره دا لفظ د منکوحه ښځو لپاره متعین دی. او له دې څخه فقط خپلې منکوحه ښځې مراد دي. نو معلومه سوه چې د غیر منکوحه ښځو سره ظهار کېدلای نه سي.

② دویم دلیل دا دی چې په مینځه کې د فرج حلّت مقصود بالذات نه دی. بلکې ملک یمین مقصود دی. لېکن په منکوحه ښځې کې د فرج حِلّت مقصود بالذات دی. لهذا غیر مقصود بالذات به د مقصود بالذات سره نه لاحق کیږي.

③ دریم دلیل دا دی چې د ظهار حکم له طلاق څخه را نقل سوی دی. په دې توګه چې ظهار به د جاهلیت په زمانه کې طلاق شمارل کېدی. او څرنګه چې د مملوکه مینځې په حق کې طلاق نسته. نو کوم شی چې د طلاق څخه منقول وي یعني ظهار. هغه به هم د مملوکه مینځې په حق کې نه وي.

د ظهار یو ځانګړې صورت

فَإِنْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً بِغَيْرِ أَمْرِهَا او (که یو شوک) د یوې ښځې سره د هغې له حکم (اجازې) څخه پرته نکاح وکړي ثُمَّ ظَاهَرَ مِنْهَا بیا له هغې څخه ظهار وکړي ثُمَّ أَجَازَتِ النِّكَاحَ (او) بیا ښځه د نکاح اجازه ورکړي فَالظِّهَارُ بَاطِلٌ نو ظهار باطل دی لِأَنَّهُ صَادِقٌ فِي التَّشْبِيْهِ وَقْتَ التَّصَرُّفِ ځکه چې دا سړی د تصرف کولو (ظهار کولو) په وخت کې (د محرمه ښځې سره) په تشبیه ورکولو کې رېښتونی دی فَلَمْ يَكُنْ مُنْكَرًا مِنَ الْقَوْلِ نو دا به بده (او غلطه) وینا (خبره) نه وي وَالظِّهَارُ لَيْسَ بِحَقٍّ مِنْ حُقُوقِهِ حَتّٰى يَتَوَقَّفَ او ظهار د نکاح د حقوقو څخه (یو حق) نه دی چې (هغه) پر (نکاح) موقوف سي بِخِلَافِ إِعْتَاقِ الْمُشْتَرِي مِنَ الْغَاصِبِ په خلاف د غاصب څخه د رانیونکي آزادول لِأَنَّهُ مِنْ حُقُوْقِ الْمِلْكِ ځکه چې آزادول د ملکیت له حقوقو څخه (یو حق) دی.

اللغات: ﴿يَتَوَقَّفُ﴾ د تفعّل مضارع ده؛ موقوف کېدل. ﴿إِعْتَاق﴾ د افعال مصدر دی؛ غلام آزادول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د يو ښځې له اجازې څخه بغير د هغې سره نکاح وکړي (يعني د ښځې له طرفه يو فضولي د هغې نکاح د دغه سړي سره وکړي). او بيا دا سړی د ښځې تر اجازه ورکولو مخکې د هغې سره ظهار وکړي، او وروسته ښځه ده ته د نکاح اجازه ورکړي، نو نکاح صحيح کيږي. او ظهار باطليږي: دليل دا دی چې دا سړی د ظهار کولو پر موقع په تشبيه ورکولو کې رېښتونی دی. ځکه چې دا ښځه رښتيا هم تر اجازه ورکولو مخکې د ده لپاره حرامه وه. لهذا د ظهار رکن يعني د محرمه ښځې سره د خپلې ښځې تشبيه ورکول موجود نه سو. نو د هغه خبره مُنْكَرًا مِنَ الْقَوْلِ وَزُورًا يعني د هغه خبره دروغ او غلطه نه سوه. او ظهار مُنْكَرًا مِنَ الْقَوْلِ وَزُورًا ته وايي. لهذا کله چې د ظهار رکن موجود نه سو. نو دا سړی به هم مُظاهر نه وي.

والظهار ليس بحقوق إلخ: په دې سره د يو مقدر سوال جواب ورکوي. سوال دا دی چې دلته که څه هم د ظهار کولو په وخت کې نکاح نسته. لېکن کله چې ښځې د نکاح اجازه ورکړه. نو تر نکاح وروسته ظهار منعقد کېدل پکار دي. د دې په جواب کې فرمايي چې ظهار د نکاح د حقوقو او لوازماتو څخه نه دی. نکاح خو د همېشه اوسېدلو لپاره ده. نه د ظهار کولو لپاره. نو ځکه به د نکاح تر اجازه ورکولو وروسته ظهار نه منعقد کيږي. بلکې ظهار به باطليږي. دغه مسئلې ته يوه بله نژدې مسئله هم سته هغه دا چې که مثلاً خالد د زيد غلام غصب کړي. او پر عُمَر يې خرڅ کړي. نو د خالد بيع صحيح نه ده. او که عُمر هغه غلام آزاد کړي. نو د عُمر آزادول هم صحيح نه دي. ځکه چې غلام په حقيقت کې د زيد دی. او خالد د هغه له اجازت څخه بغير خرڅ کړی دی. لهذا د خالد بيع هم صحيح نه ده. او د عُمر آزادول هم صحيح نه دي. لېکن که وروسته زيد د بيع اجازه ورکړه. نو بيع هم صحيح کيږي. او غلام هم آزاديږي. د دې وجه دا ده چې آزادول د ملکيت د حقوقو څخه يو حق دي او په شريعت کې د آزادولو ترغيب هم سوی دی. لهذا کله چې هم د بيع صحيح کېدلو په ذريعه د عُمر ملکيت قائم سي. نو غلام به آزاديږي. او ظهار د نکاح د حقوقو څخه نه دی. نو ځکه به تر نکاح وروسته ظهار نه واقع کيږي. نو په دغه مسئله او د مغصوب غلام د آزادولو په مسئله کې فرق سته. لهذا يوه پر بلې قياسول صحيح نه دي.

د ټولو ښځو سره په يوه وار ظهار کول

وَمَنْ قَالَ لِنِسَائِهِ: أَنْتُنَّ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي او کوم څوک چې خپلو ښځو ته ووايي: تاسې (ټوله) پر ما داسې ياست لکه زما د مور شا **كَانَ مُظَاهِرًا مِنْهُنَّ جَمِيعًا** نو هغه به له دې ټولو څخه ظهار کونکی وي **لِأَنَّهُ أَضَافَ الظِّهَارَ إِلَيْهِنَّ** ځکه چې هغه د دوی (ټولو) وطرف ته د ظهار نسبت کړی دی **فَصَارَ كَمَا إِذَا أَضَافَ الطَّلَاقَ** نو داسې سو لکه هغه چې اد ټولو وطرف ته (د) طلاق نسبت وکړي **وَعَلَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدَةٍ**

كَفَّارَةٌ او پر هغه د هري ښځي لپاره يوه كفاره واجب ده لِأَنَّ الْحُرْمَةَ تَثْبُتُ فِي حَقِّ كُلِّ وَاحِدَةٍ ځكه چي حرمت د هري يوې په حق کي ثابت دی وَالْكَفَّارَةُ لِإِنْهَاءِ الْحُرْمَةِ او كفاره د حرمت ختمولو لپاره ده فَيَتَعَدَّدُ بِتَعَدُّدِهَا نو د حرمت د تعدد [څو والي] په وجه به كفاره [هم] متعدده كيږي بِخِلَافِ الْإِيلَاءِ مِنْهُنَّ په خلاف د خپلو [ټولو] ښځو شخه د ايلاء كولو لِأَنَّ الْكَفَّارَةَ فِيهِ لِصِيَانَةِ حُرْمَةِ الِاسْمِ ځکه چي په ايلاء کي كفاره د الله تعالیٰ د نامه د حرمت [عزت] د ساتلو لپاره ده وَلَمْ يَتَعَدَّدْ ذِكْرُ الِاسْمِ او [په ايلاء کي] د الله د نامه تذکره متعدد نه وي [نو كفاره به هم نه متعدده كيږي].

اللغات: ﴿إِنْهَاءِ﴾ د افعال مصدر دی: ختمول. ﴿يَتَعَدَّدُ﴾ د تفعّل مضارع ده: څو واره کېدل (يعني ډېر واره يو كار يا يو شی کېدل). ﴿صِيَانَةِ﴾ د نصر مصدر دی: ساتنه كول (ساتل). حفاظت كول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يو سړي څلور ښځي وي، او هغه په يوه وار ټولو ته ووايي: أَنْتُنَّ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ (تاسي ټوله پر ما داسي حرامي ياست لکه زما د مور شا). نو هغه د دې ټولو ښځو سره ظهار كونكی ګرځي: دليل دا دی چي هغه د خپل ټولو ښځو وطرف ته ظهار منسوب كړی دی. نو داسي سو لکه د ټولو وطرف ته چي طلاق منسوب كړي او أَنْتُنَّ طَوَالِقُ ووايي. نو په دې سره په يوه وار پر ټولو ښځو طلاق واقع كيږي. لهذا دلته به هم په يوه وار د ټولو ښځو سره د هغه ظهار ثابتيږي.

وعليه لكل واحد إلخ: فرمايي څرنګه چي دلته د ټولو ښځو سره ظهار ثابتيږي، همداسي به پر دغه سړي د هري ښځي له طرفه كفاره هم واجب وي: دليل دا دی چي د ظهار په وجه د هري ښځي په حق كي حرمت ثابت سو. او دا حرمت فقط د كفارې په ذريعه ختميږي. نو ځکه به د هري ښځي له طرفه پر خاوند يوه كفاره واجب وي، د دې لپاره چي هر ښځه د هغه لپاره حلاله وګرځي.

بخلاف الايلاء إلخ: فرمايي د دې په خلاف که يو څوک د خپل ټولو ښځو سره پر يوه ځای ايلاء وكړي. نو په دې صورت كي د ايلاء ختمولو لپاره فقط يوه كفاره واجب ده. او د هري ښځي له طرفه جلا. جلا د كفارۀ يمين اداء كولو ضرورت نسته: دليل دا دی چي په ايلاء كي ځکه كفاره واجبيږي چي د الله د نامه (قسم) حرمت او تعظيم باقي وساتل سي. او په ايلاء كي فقط يو وار د الله نوم اخيستل كيږي. څو واره نه اخيستل كيږي. نو ځکه به د هغه لپاره فقط يوه كفاره واجبيږي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



فَصْلٌ فِي الْكَفَّارَةِ

(دا) فصل په (بيان د) کفاره (ورکولو) کي دی

تشريح: مخکي تر دې مصنف رَحِمَهُ الله د ظهار د حکم يعني د وطي د حرمت تفصيلات بيان کړل. اوس په دې فصل کي هغه شی بيانوي چي د هغه په ذريعه دا حُرمت ختميږي (يعني کفاره).

کفارۀ يمين (د ظهار کفاره)

قَالَ: وَكَفَّارَةُ الظِّهَارِ عِتْقُ رَقَبَةٍ فرمايي: او کفاره د ظهار يو غلام آزادول دي فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ لېکن که [مُظاهر] غلام پيدا نه کړي نو [بيا] دوې مياشتي پرلپسې روژه نيول دي فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ لېکن که [د دې] قدرت [هم] نه لري فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا نو [بيا] شپېتو [۶۰] مسکينانو ته خوراک ورکول دي لِلنَّصِّ الْوَارِدِ فِيهِ د هغه آيت په وجه کوم چي په دې باره کي وارد سوی دی فَإِنَّهُ يُفِيدُ الْكَفَّارَةَ عَلَى هٰذَا التَّرْتِيبِ ځکه چي هغه آيت د همدغه ترتيب مطابق د کفارې [ورکولو] فايده [او خبر] ورکوي.

اللغات: ﴿مُتَتَابِعَيْنِ﴾ د تفاعل له باب څخه د تثنيه مذکر اسمِ فاعل صيغه ده: پرلپسې (پر له پسې)، مسلسل. بې له څه وقفې. ﴿إِطْعَام﴾ د افعال مصدر دی: بل چا ته خوراک ورکول (ډوډی ورکول).

تشريح: په دې عبارت کي د کفارۀ ظهار تفسير او ترتيب ذکر سوی دی. چي د هغه تفصيل دا دی چي د مُظاهر (ظهار کونکي خاوند) لپاره تر ټوله ښه او اعلیٰ کفاره د غلام آزادول دي. لېکن که مُظاهر پر دې قدرت نه لري، نو پر دويم نمبر مسلسل دوې مياشتي روژه نيول دي. او که مُظاهر کمزوری وي او د روژو طاقت نه لري، نو اوس آخري درجه دا ده چي هغه به شپېتو (۶۰) مسکينانو ته خوارک (ډوډی) ورکوي.

صاحب د هدايې فرمايي چي دا حکم او ترتيب د قرآن په دې آيت سره ثابت دی: فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا. تر هغه وروسته دا حکم سوی دی: فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ

قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا. او تر هغه وروسته متصلاً آخري دا حکم سوی دی: فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا...(الخ). اسورة المجادلة ۳، ۴

په همدغه آيت سره د کفارهٔ ظهار حکم ثابت دی. او څرنګه چي دلته فَإِنْ لَمْ او فَإِنْ لَمْ کي د "فاء" په ذريعه يو حکم پر بل عطف سوی دی. او فاء د ترتيب لپاره راځي، نه د تخيير لپاره. نو ځکه به د آيت د ترتيب مطابق کفاره اداء کيږي.

د کفارهٔ ظهار د اداء کولو وخت

قَالَ: وَكُلُّ ذٰلِكَ قَبْلَ الْمَسِيْسِ فرمايي: او دا ټوله کفاري تر وطي مخکي دي وَهٰذَا فِي الْإِعْتَاقِ وَالصَّوْمِ ظَاهِرٌ او دا |حکم| په آزادولو او روژه نيولو کي ښکاره دی لِلتَّنْصِيْصِ عَلَيْهِ ځکه چي پر دې باندي |په آيت کي| صراحت سوی دی وَكَذَا فِي الْإِطْعَامِ او همدارنګه په خوراک ورکولو کي |هم دا حکم دی| لِأَنَّ الْكَفَّارَةَ فِيهِ مَنْهِيَّةٌ لِلْحُرْمَةِ ځکه چي کفاره په ظهار کي د حرمت ختمونکې ده فَلَا بُدَّ مِنْ تَقْدِيْمِهَا عَلَى الْوَطْءِ نو پر وطي د کفارې مخکي کول ضروري دي لِيَكُوْنَ الْوَطْءُ حَلَالًا د دې لپاره چي وطي حلالي وګرځي.

اللغات: «مَسِيْس» مصدر دی. له سمع او نصر دواړو څخه راځي، مَسَّ يَمَسُّ مَسًّا و مَسِيْسًا و مِسِّيْسَى: مسه کول. لاس ور وړل. رسېدل (مراد څني وطي او جماع کول دي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د ظهار په کفاراتو کي هره کفاره تر وطي مخکي اداء کول ضروري دي. هغه که إِعْتَاق (د غلام آزادول) وي. يا صِيَام (روژې نيول) وي. يا إِطْعَام (خوراک ورکول) وي: ځکه چي په قرآن کي د إِعتاق او صيام سره صراحتاً د مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا قيد ذکر سوی دی. او د إطعام سره که څه هم دا قيد ذکر سوی نه دی، خو دا هم تر وطي مخکي اداء کول ضروري دي. ځکه چي په کفاره سره مقصود د ظهار حرمت ختمول دي. نو په دې وجه تر وطي مخکي کفاره اداء کول ضروري دي. چي وطي حلالي او جائز وګرځي.

په کفاره کي د جائز غلام بيان

قَالَ: وَتُجْزِئُ فِي الْعِتْقِ الرَّقَبَةُ الْكَافِرَةُ وَالْمُسْلِمَةُ وَالذَّكَرُ وَالْأُنْثَى وَالصَّغِيْرُ وَالْكَبِيْرُ فرمايي: او په آزادولو کي کافر. مسلمان. نر. ماده. کوچنی او لوی |هر ډول| غلام کافي دی لِأَنَّ اسْمَ الرَّقَبَةِ يُطْلَقُ عَلَى هٰؤُلَاءِ ځکه چي پر دې ټولو د رَقَبَة د لفظ اطلاق کيږي |کوم چي په آيت کي ذکر سوی دی| إِذْ هِيَ عِبَارَةٌ عَنِ

الذَّاتِ الْمَرْقُوْقِ الْمَمْلُوْكِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ. ځکه چې رقبه عبارت ده له هغه ذات څخه کوم چې په هره توګه غلام او مملوک وي ایعني په هر ډول سره تر غلامۍ او ملکیت لاندې وي ا وَالشَّافِعِيُّ يُخَالِفُنَا فِي الْكَافِرَةِ او امام شافعي په رقبه کافره [کافر غلام] کې زموږ مخالف دی وَيَقُوْلُ: الْكَفَّارَةُ حَقُّ اللهِ تَعَالٰى او فرمايي: چې کفاره د الله حق ده فَلَا يَجُوْزُ صَرْفُهُ إِلٰى عَدُوِّ اللهِ نو د الله د دښمن وطرف ته به د کفارې ګرځول جائز نه وي كَالزَّكَاةِ لکه زکاة [چې کافر ته ورکول جائز نه دي] وَنَحْنُ نَقُوْلُ: الْمَنْصُوْصُ عَلَيْهِ إِعْتَاقُ الرَّقَبَةِ او موږ وایو: پر کوم شي چې نص [آیت] وارد سوی دی هغه رقبه آزادول دي وَقَدْ تَحَقَّقَ او [په کافر غلام سره هم] آزادول ثابتیږي وَقَصْدُهُ مِنَ الْإِعْتَاقِ التَّمَكُّنُ مِنَ الطَّاعَةِ او په آزادولو سره د هغه [کفاره ورکونکي] اراده د الله پر اطاعت قدرت ورکول دي ثُمَّ مُقَارَنَةُ الْمَعْصِيَةِ يُحَالُ بِهٖ إِلٰى سُوْءِ اخْتِيَارِهٖ بیا د ګناه سره [د کافر غلام] متصل اوسېدل د هغه د بد اختیار وطرف ته منتقل کیږي. ایعني که بیا هم غلام د اطاعت او اسلام پر لاره ولاړ نه سي، نو دا به د هغه پر بدبختۍ او د بدې لارې پر اختیارولو حمل کیږي ا

اللغات: ﴿تُجْزِئُ﴾ د افعال له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي معلومي صيغه ده: کافي کېدل. ﴿مَرْقُوْق﴾ د ضرب له باب څخه مفعول دی: غلام جوړ سوی (تر غلامۍ لاندې). ﴿صَرْف﴾ د ضرب مصدر دی: ګرځول، خرچول (مصرفول). ﴿التَّمَكُّن﴾ د تفعل مصدر دی: قدرت ورکول. ﴿مُقَارَنَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: متصل کېدل، یو ځای کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې په کفارهٔ ظهار کې د إِعْتَاق (غلام آزادولو) حکم هر ډول رقبې ته شامل دی. او په هغه کې د اسلام یا د مذکر او بالغ کېدلو هیڅ قید او تخصیص نسته. او په کافره، مؤنثه او نابالغه رقبه سره هم زموږ په نېز إعتاق ثابتیږي او کفاره اداء کیږي: دلیل دا دی چې رَقَبَة هغه ذات ته وایي، کوم چې په هر ډول سره مملوک او غلام وي. او دا صفت چې څرنګه په مسلمانه او بالغه رقبه کې سته، همداسې په کافره او صغیره رقبه کې هم سته: او څرنګه چې په دې آیت فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ کې لفظ د رَقَبَة مطلق دی، نو ځکه به هر ډول رقبه په دې لفظ کې شامل او داخل وي.

صاحب د هدایې فرمایي چې په مؤنثه او صغیره رقبه کې امام شافعي رَحِمَهُ الله زموږ سره موافق دی. لېکن په کافره رقبه کې هغه زموږ مخالف دی. او د هغه په نېز په کافره رقبه سره کفاره نه اداء کیږي. او دلیل دا بیانوي چې کفاره د الله تعالیٰ حق دی. نو د الله د دښمن وطرف ته د هغه منتقل کول جائز نه دي. لکه څرنګه چې زکاة د الله تعالیٰ حق دی. او هغه کافر ته ورکول جائز نه دي.

وقصده الخ: په دې عبارت سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل (الكفارة حق الله تعالى) جواب ورکوي. حاصل د جواب دا دی چي په رقبه آزادولو سره د کفاره اداء کونکي سړي مقصد همدغه وي چي رقبه د مالک د خدمت څخه نجات ترلاسه کړي او د الله تعالیٰ پر اطاعت قادره سي. او ډېره ممکنه ده چي د دې عمل په وجه د رقبهکافره زړه نرم سي او په اسلام سره مشرفه سي. لېکن که بيا هم هغه اسلام نه راوړي. نو دا به د رقبه کافره پر ګمراهي او بد اختيار حمل کيږي. او په دې سره په کفاره اداء کېدلو کي هيڅ فرق نه راځي.

په کفاره کي د ناجائز غلام تفصيل

وَلَا تُجْزِئُ الْعَمْيَاءُ وَلَا الْمَقْطُوعَةُ الْيَدَيْنِ أَوِ الرِّجْلَيْنِ او نه کافي کيږي [په آزادولو کي] ړنده رقبه [غلام] او هغه چي دواړه لاسونه يا دواړي پښې پرېکړی سوي وي لِأَنَّ الْفَائِتَ جِنْسُ الْمَنْفَعَةِ ځکه چي [په دوی کي] د منفعت جنس فوت سوی دی وَهُوَ الْبَصَرُ أَوِ الْبَطْشُ أَوِ الْمَشْيُ او هغه ديد [البدل] دي يا نيول دي يا تګ کول دي وَهُوَ الْمَانِعُ او دا [جنس د منفعت فوتېدل له کفارې څخه] مانع دي أَمَّا إِذَا اخْتَلَّتِ الْمَنْفَعَةُ لېکن کله چي منفعت عيبي وي [يعني خلل او يو عيب پکښې راغلی وي] فَهُوَ غَيْرُ مَانِعٍ نو هغه [له کفارې څخه] مانع نه دی حَتَّى يَجُوزُ الْعَوْرَاءُ وَمَقْطُوعَةُ إِحْدَى الْيَدَيْنِ وَإِحْدَى الرِّجْلَيْنِ مِنْ خِلَافٍ تر دې چي جائز دی يو سترګی غلام [رقبه] او هغه چي د جلا، جلا طرف څخه يې يو لاس او يوه پښه پرېکړی سوې وي لِأَنَّهُ مَا فَاتَ جِنْسُ الْمَنْفَعَةِ ځکه چي جنس د منفعت فوت سوی نه دی بَلِ اخْتَلَّتْ بلکي عيبي سوي دی بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَتَا مَقْطُوعَتَيْنِ مِنْ جَانِبٍ وَاحِدٍ په خلاف د هغه کله چي يو لاس او يوه پښه دواړه له يوه طرف څخه پرېکړی سوي وي حَيْثُ لَا يَجُوزُ نو جائز نه دی لِفَوَاتِ جِنْسِ مَنْفَعَةِ الْمَشْيِ ځکه [په دې صورت کي] د تګ کولو د منفعت جنس فوت سوی دی إِذْ هُوَ عَلَيْهِ مُتَعَذِّرٌ ځکه چي د هغه لپاره تګ کول مشکل [استونزمن] دي وَيَجُوزُ الْأَصَمُّ او جائز دی [په آزادولو کي] کوڼ غلام وَالْقِيَاسُ: أَنْ لَا يَجُوزَ او قياس دا دی: چي جائز نه دي وَهُوَ رِوَايَةُ النَّوَادِرِ او همدا د نوادر روايت دی لِأَنَّ الْفَائِتَ جِنْسُ الْمَنْفَعَةِ ځکه چي [په هغه کي] جنس د منفعت فوت سوی دی إِلَّا أَنَّا اسْتَحْسَنَّا الْجَوَازَ لېکن موږ استحساناً [هغه] جائز ګرځولی دی لِأَنَّ أَصْلَ الْمَنْفَعَةِ بَاقٍ ځکه چي [په هغه کي] اصل منفعت پاته دی فَإِنَّهُ إِذَا صِيحَ عَلَيْهِ سَمِعَ ځکه کله چي پر هغه چيغه ووهل سي نو [خامخا څه نا څه] اوري حَتَّى لَوْ

كَانَ بِحَالٍ لَا يَسْمَعُ أَصْلًا تر دې که هغه په داسې حالت کې وي چې بالکل نه اوري بِأَنْ وُلِدَ أَصَمَّ وَهُوَ الْأَخْرَسُ په دې توګه چې هغه کوڼ پیدا سوی وي او ګونګی (هم) وي لَا يُجْزِئُهُ نو (د هغه آزادول) کافي نه دي.

اللغات: ﴿فَائِت﴾ د نصر د باب اسم فاعل دی. لازمي باب دی: فوتېدونکی (فوت کړی سوی). ﴿جِنْسُ الْمَنْفَعَةِ﴾ د نفع او فایدې جنس (دلته له منفعت څخه مراد د انسان په بدن کې هغه قوت دی چې په هغه سره انسان یو نفع اخلي او یو کار په اداء کوي. مثلاً دید چې په دې سره انسان د لیدلو نفع اخلي او د لیدني. کتني کار په کوي او داسې نور. جنس د منفعت ختمېدل معنیٰ ده چې بالکل د دغه قوت ختمېدل. مثلاً د لیدلو یا تګ کولو قوت ختمېدل). ﴿بَصَر﴾ دید. بینایي. لیدنه. ﴿اِخْتَلَّتْ﴾ د افتعال ماضي ده: خلل پکښې راتلل (عیبجن کېدل. تاواني کېدل). خرابېدل. ﴿عَوْرَاء﴾ د أعْوَر مؤنث دی: هغه چې یو سترګه یې نه وي. یا د داغ او ګل په وجه په یوه سترګه نهویني. (یو سترګی). ﴿صِيحَ﴾ د ضرب له باب څخه د واحد مذکر غائب ماضي مجهول صیغه ده: چیغه وهل. په زوره نعره کول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د ظهار په کفاره کې ړنده رقبه (ړوند غلام یا مینځه) آزادول جائز نه دي. همدارنګه هغه رقبه آزادول هم جائز نه دي چې دواړه لاسونه یا دواړې پښې یې نه وي: دلیل دا دی چې په دغه دواړو رقباتو کې د منفعت جنس یعني لیدل او نیول یا تګ کول فوت سوي دي. او د کومې رقبې چې جنس د منفعت فوت سوی وي هغه د هلاک سوي رقبې په درجه کې وي. او هلاک سوې رقبه آزادول جائز نه دي. نو دې رقباتو آزادول به هم جائز نه وي.

أَمَّا إِذَا إلخ: د دې حاصل دا دی که د یو رقبې جنس د منفعت په پوره توګه فوت سوی نه وي. بلکې په منفعت کې یې خلل او عیب راغلی وي. نو داسې رقبه آزادول جائز دي. او د منفعت اختلال د کفارې د جواز مانع نه دی. لهذا د هغه رقبې آزادول جائز دي چې یوه سترګه یې نه وي. همدارنګه د هغه رقبې آزادول هم جائز دي چې له یو طرف څخه یې یو لاس پرېکړی سوی وي او له بل طرف څخه یې پښه پرېکړی سوې وي: ځکه چې په دې رقباتو کې جنس د منفعت فوت سوی نه دی. بلکې مختل او عیبي سوی دی. او اختلال د جواز مانع نه دی.

بخلاف ما إذا إلخ: فرمايي که د رقبې یو لاس او یوه پښه دواړه په یوه طرف کې پرېکړی سوي وي. یعني راسته لاس او راسته پښه یا چپه لاس او چپه پښه یې پرېکړی سوي وي. نو د داسې رقبې آزادول هم جائز نه دي: ځکه په دې کې هم جنس د منفعت فوت دی. ځکه چې په داسې حالت کې تګ کول متعذر او ستونزمن دي.

ويجوالأصم إلخ: د دې حاصل دا دی چې کڼه رقبه (کوڼ غلام او مينځه) آزادول جائز دي. لېکن قياساً جائز نه دي. او همدا د نوادر روايت دی؛ ځکه چې د ړانده په شير د کاڼه په حق کې هم جنس د منفعت فوت سوی دی. او لږ څه مخکې دا خبره ذکر سوه چې جنس د منفعت فوتېدل د جواز مانع دي. لېکن استحساناً داسې رقبه آزادول جائز دي. ځکه چې د داسې رقبې أصل منفعت فوت سوی نه دی. بلکې د کوڼوالي په وجه مختل او عيبي سوي دی. همدا وجه ده که په زوره چيغه ووهل نو کوڼ سړی يې هم څه نا څه اوري. معلومه سوه چې د کاڼه انسان أصل منفعت فوت سوی نه دی. بلکې مختل سوی دی. او د مختل منفعت والا رقبه آزادول جائز دي. لېکن که يوه رقبه مور زادہ کڼه وي او بالکل هيڅ هم نه اوري. نو د داسې رقبې آزادول جائز نه دي؛ ځکه چې په هغې کې بالکل جنس د منفعت فوت سوی دی.

فايده: صاحب د هدايې تر "وَلَدَ أَصَم" وروسته د "وَهُوَ الأَخْرَس" په ذکر کولو سره د مور زاده کوڼ علامې او نښې ته اشاره کړې ده. يعنې د مور زاده کوڼ علامه دا ده چې هغه به ګونګی وي. (عيني)

د پورتني مسئلې نور وضاحت

وَلَا يَجُوزُ مَقْطُوعُ إِبْهَامَيِ الْيَدَيْنِ او جائز نه دي [هغه رقبه آزادول] چې د دواړو لاسو بټې ګوتې يې پرېکړې سوي وي لِأَنَّ قُوَّةَ الْبَطْشِ بِهِمَا ځکه چې د نيولو قوت په همدې دوو ګوتو سره دی [يعني د لاسو د نيولو طاقت د بټو ګوتو سره تعلق لري. ځکه چې د شيانو په نيولو او را اخيستلو کې بټه ګوته يو ځانګړی رول لري] فَبِفَوَاتِهِمَا يَفُوتُ جِنْسُ الْمَنْفَعَةِ نو د دې دواړو ګوتو په فوتېدلو سره به جنس د منفعت فوتيږي وَلَا يَجُوزُ الْمَجْنُونُ الَّذِي لَا يَعْقِلُ او جائز نه دي [په آزادولو کې] هغه لېونی [رقبه] کوم چې [هيڅ] عقل نه لري لِأَنَّ الِانْتِفَاعَ بِالْجَوَارِحِ لَا يَكُونُ إِلَّا بِالْعَقْلِ ځکه چې له اندامو څخه فايده اخيستل فقط په عقل سره کيږي فَكَانَ فَائِتَ الْمَنَافِعِ نو دا [رقبه ډېرو] منافعو لره فوتونکې سوه وَالَّذِي يُجَنُّ وَيُفِيقُ او هغه رقبه کوم چې په جنون [هم] مبتلا کيږي او په سد کې [هم] راځي يُجْزِئُهُ نو هغه کافي ده اد کفارې لپاره] لِأَنَّ الِاخْتِلَالَ غَيْرُ مَانِعٍ ځکه چې د منفعت مختل کېدل [د کفارې له جواز څخه] مانع نه دی وَلَا يُجْزِئُ عِتْقُ الْمُدَبَّرِ وَأُمِّ الْوَلَدِ او د مدبر او اُمِّ ولد [رقبې] آزادول کافي نه دي لِاسْتِحْقَاقِهِمَا الْحُرِّيَّةَ بِجِهَةٍ ځکه چې دا دواړه په يوه درجه سره د آزادۍ مستحق دي فَكَانَ الرِّقُّ فِيهِمَا نَاقِصًا نو رقيت به په دوی دواړو کې ناقص وي وَكَذَا الْمُكَاتَبُ الَّذِي أَدَّى بَعْضَ الْمَالِ او همدارنګه [کافي نه دي آزادول د] هغه مکاتب چې څه

مال يې اداء کړی وي لِأَنَّ إِعْتَاقَهُ يَكُونُ بِبَدَلٍ ځکه چې د هغه آزادول په عوض سره وګرځي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ يُجْزِيهِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله روايت دی: چې [د هغه آزادول] کافي دي لِقِيَامِ الرِّقِّ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ ځکه چې [په هغه کې] په هر اعتبار سره رقيت موجود دی وَلِهٰذَا تَقْبَلُ الْكِتَابَةُ الْإِنْفِسَاخَ لَهُ همدې وجهې عقد کتابت فسخ کېدل قبلوي بِخِلَافِ أُمُومِيَّةِ الْوَلَدِ وَالتَّدْبِيرِ په خلاف د اُم ولد کېدلو او د مُدبّر کېدلو لِأَنَّهُمَا لَا يَحْتَمِلَانِ الْإِنْفِسَاخَ ځکه چې دا دواړه فسخ کېدل نه زغمي انه قبلوي!

اللغات: ﴿إِبْهَام﴾ بټه ګوته، غټه ګوته. ﴿بَطْش﴾ له نصر او ضرب دواړو څخه مصدر دی: ټينګ نيول (په سختۍ سره نيول). ﴿جَوَارِح﴾ جسماني اندامونه. ﴿يُجَنُّ﴾ د نصر له باب څخه د مضارع مجهولي صيغه ده: لېونی کېدل، عقل ختمېدل. ﴿يُفِيقُ﴾ د افعال له باب څخه د مضارع معلومي صيغه ده: جوړېدل، په سد کې راتلل، مرض ختمېدل. ﴿إِخْتِلَال﴾ د افتعال مصدر دی: خلل پکښې راتلل، عيبي کېدل، تاواني کېدل. ﴿رِقّ﴾ غلامي، غلامتوب (رقيت). ﴿إِنْفِسَاخ﴾ د انفعال مصدر دی: فسخ کېدل (زايلېدل، ختمېدل).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې د کوم غلام يا مينځې چې د دواړو لاسو بټې ګوتې نه وي، نو داسي رقبه (غلام او مينځه) په کفاره کې آزادول جائز نه دي: دليل دا دی چې د دواړو بټو ګوتو په نشتوالي سره د رقبې د نيولو قوت ختميږي، نو د نيولو د قوت په نشتوالي سره جنس د منفعت ختميږي، او جنس د منفعت فوتېدل د جواز مانع دي. نو ځکه به د داسي رقبې آزادول جائز نه وي.

ولايجوز المجنون إلخ: فرمايي د لېوني غلام يا مينځې آزادول هم جائز نه دي: دليل دا دی چې له اندامونو څخه نفع اخيستل بغير له عقل څخه ممکن نه دي، نو دا هم فائتُ المنفعة سو. لېکن کومه رقبه چې کله په حالت د لېونتوب کې وي، او کله بيا جوړه وي او عقل يې پر ځای وي، نو د هغه آزادول جائز دي: دليل دا دی چې د کله نا کله جوړېدلو په وجه هغه فقط مختلُ المنفعة سوه. او د مختل المنفعة آزادول صحيح دي.

ولايجزئ عتق المدبر: د دې حاصل دا دی چې مدبر او اُمّ ولد رقبه په کفاره کې آزادول جائز نه دي: دليل دا دی چې په قرآن کې فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ ذکر سوي دي، او رَقَبَة مطلق ده. او مطلق چې کله ذکر سي. نو له هغه څخه فرد کامل مراديږي، او مدبر او اُم ولد د رقبې فرد کامل نه دي. ځکه چې مدبر د "تدبير" په وجه د آزادېدلو مستحق سوی دی. او اُم ولد هم د "استيلاد" په وجه د آزادی مستحقه ده. لهذا معلومه

سوه چي په دې دواړو كي د رقيت معنیٰ ناقصه ده. نو د مِنْ كُل وجه مرقوق نه كېدلو په وجه د دوى آزادول جائز نه دي.

وكذا المكاتب: فرمايي چي د ظهار په كفاره كي د هغه مكاتب آزادول هم جائز نه دي چي د بدل كتابت څه حصه يې اداء كړې وي؛ دليل دا دى چي د هغه آزادول به په عوض سره وګرځي (يعني څومره پيسې چي يې اداء كړې وي، هغومره آزادي به يې د خپلو پيسو په بدله كي راسي، نه د آزادونكي). او عوض او بدل د قُربت (عبادت) معنیٰ باطلوي. همدا ظاهر روايت دى. (او بل دليل دا دى چي كله مكاتب څه پيسې [يعني د بدل كتابت څه حصه] اداء كړي، نو ګواكي هغومره حصه آزاد سو. لهذا هغه ناقص غلام سو، نو ځكه به يې آزادول جائز نه وي).

په دې سلسله كي حسن بن زياد د امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا نقل كړى دى چي داسي مكاتب آزادول هم جائز دي؛ دليل دا دى چي تر څو مكاتب خپل ټوله بدل كتابت اداء نه كړي، تر هغه وخته پوري مكاتب مِنْ كُل وجه رقيق او غلام وي. لكه څرنګه چي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: "المُكَاتَبُ عَبْدٌ مَا بَقِيَ عَلَيْهِ دِرْهَمٌ" (يعني تر څو چي پر مكاتب يو درهم هم پاته وي. هغه غلام دى). همدا وجه ده كه مكاتب تر څه بدل كتابت اداء كولو وروسته كتابت فسخ كول وغواړي. نو هغه يې فسخ كولاى سي. معلومه سوه چي په هغه كي رقيت باقي پاته دى. نو ځكه به د هغه آزادول هم جائز او صحيح وي.

د دې په خلاف "استيلاد" او "تدبير" د فسخ كېدلو احتمال نه لري. او په هغوى كي رقيت هم ناقص پاته وي. نو ځكه به د أم ولد او مدبر آزادول جائز نه وي.

مكاتب په كفاره كي آزادول

فَإِنْ أَعْتَقَ مُكَاتَبًا لَمْ يُؤَدِّ شَيْئًا او كه [مظاهر] يو داسي مكاتب آزاد كړي چي هغه هيڅ شي اداء كړى نه وي جَازَ نو جائز دي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله لَهُ: أَنَّهُ اسْتَحَقَّ الْحُرِّيَّةَ بِجِهَةِ الْكِتَابَةِ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي د كتابت په وجه سره دا غلام د آزادۍ مستحق سوى دى فَأَشْبَهَ الْمُدَبَّرَ نو هغه د مدبر سره مشابه سو وَلَنَا: أَنَّ الرِّقَّ قَائِمٌ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ او زموږ دليل دا دى: چي

[په هغه کې] په هره ټوګه رقیت موجود دی عَلٰى مَا بَيَّنَّا لکه [مخکې] چې موږ بیان کړه وَلِقَوْلِهٖ عليه السلام[1]: اَلْمُكَاتَبُ عَبْدٌ مَا بَقِيَ عَلَيْهِ دِرْهَمٌ [همدارنګه] د نبي ﷺ د دې قول په وجه چې: مکاتب [تر هغه وخته] غلام دی تر څو چې پر هغه یو درهم [هم] پاته وي وَالْكِتَابَةُ لَا يُنَافِيْهِ او کتابت [مکاتب جوړول] د آزادۍ منافي نه دی فَإِنَّهٗ فَكُّ الْحَجْرِ ځکه چې کتابت [له غلام څخه] د بندیز لیرې کول دي بِمَنْزِلَةِ الْإِذْنِ فِي التِّجَارَةِ [او کتابت] د تجارت د اجازت په درجه کې دی إِلَّا أَنَّهٗ بِعِوَضٍ خو هغه [کتابت] د عوض په بدله کې دی [یعنې کتابت د مال په عوض کې آزادولو ته وایي] فَيَلْزَمُ مِنْ جَانِبِهٖ نو ځکه به د مالک له طرفه لازم وي وَلَوْ كَانَ مَانِعًا او که کتابت [یعنې که مکاتب جوړول له إعتاق څخه] مانع وی يَنْفَسِخُ مُقْتَضَى الْإِعْتَاقِ نو [بیا] به د إعتاق په تقاضا سره کتابت فسخ کیږي إِذْ هُوَ يَحْتَمِلُهٗ ځکه چې هغه د فسخ کېدلو احتمال لري إِلَّا أَنَّهٗ تُسَلَّمُ لَهُ الْأَكْسَابُ وَالْأَوْلَادُ خو [د مکاتب] ګټه او اولاد به مکاتب ته سپارل کیږي لِأَنَّ الْعِتْقَ فِي حَقِّ الْمَحَلِّ بِجِهَةِ الْكِتَابَةِ ځکه چې آزادي د دغه محل په حق کې د کتابت په وجه سره ده أَوْ لِأَنَّ الْفَسْخَ ضَرُوْرِيٌّ لَا يَظْهَرُ فِي حَقِّ الْوَلَدِ وَالْكَسْبِ یا ځکه چې فسخ ضرورتا [د مجبورۍ په وجه] ثابته ده چې هغه به د بچي او ګټې په حق کې نه ښکاره کیږي.

اللغات: ﴿فکّ﴾ د سمع مصدر دی: ماتول، خلاصول، لیرې کول. الحِجر: پابندي، بندیز. فک الحِجر: له غلام څخه پابندي او بندیز لیرې کول (پورته کول). ﴿أکساب﴾ جمع د کَسْبٌ ده: ګټه (ګټلی مال). ﴿تُسَلَّمُ﴾ د تفعیل له باب څخه د مضارع صیغه ده: سپارل (ورسپارل).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې د ظهار په کفاره کې زموږ په نیز داسې مکاتب آزادول جائز دي چې هغه د بدل کتابت هیڅ حصه اداء کړې نه وي. لیکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز د داسې مکاتب آزادول جائز نه دي.

د امام شافعي دلیل: قیاس دی، مکاتب پر مدبر قیاسوي. یعنې څرنګه چې د "تدبیر" په وجه مدبر د آزادۍ مستحق ګرځي، او د هغه په رقیت کې کمتوب راځي، همدارنګه د عقد کتابت په وجه مکاتب هم د آزادۍ مستحق ګرځېدلی دي، او د هغه په رقیت کې کمي راغلې ده، نو د مدبر په څیر به د هغه آزادول هم جائز نه وي.

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب العتق، باب في المكاتب يؤدي بعض كتابته، حديث رقم:۳۹۲۶.

زموږ دليل: دا دی چي تر څو مکاتب د بدلِ کتابت هيڅ حصه اداء کړي نه وي. تر هغه مکاتب مِنْ كُلِّ وجه رقيق (مکمل غلام) وي. او بيا د مخکني حديث "اَلْمُكَاتَبُ عَبْدٌ مَا بَقِيَ عَلَيْهِ دِرْهَمٌ" په وجه هم پر مکاتب د رقيت او غلامۍ مُهر لګېدلی دی. لهذا هغه شرعاً مکمل غلام دی. نو ځکه به د هغه آزادول جائز وي.

والكتابة لاينافيه إلخ: مخکي ذکر سوه چي کله مکاتب څه بدل کتابت اداء کړي نو دا د آزادۍ منافي دي (يعني د داسي مکاتب آزادول جائز نه دي). لېکن له غلام څخه فقط مکاتب جوړول د آزادۍ منافي نه دي. ځکه چي په کتابت کي هم د غلاميت (رقيت) ليري کول دي (لکه په آزادي کي چي د غلاميت ليري کول سته). نو څرنګه چي د تجارت اجازت ورکول د غلاميت منافي نه دي، همداسي مکاتب جوړول هم د آزادۍ منافي نه دي. لېکن څرنګه چي دا (کتابت) د قيمت او مال په عوض کي آزادول دي، نو ځکه به دا د مالک له طرفه لازم وي (يعني هغه به خامخا مکاتب غلام آزادول غواړي. ځکه چي هغه ته پيسې ورکول کيږي)، که هغه د کتابت فسخ کېدل وغواړي، نو د مکاتب له رضا څخه بغيرې فسخ کولای نه سي. لېکن څرنګه چي د تجارت اجازت د مالک پر ذمه لازم نه دی. نو ځکه هغه د مَأْذُوْن فِى التِّجَارَة غلام له رضا څخه بغير اجازت ختمولای سي. او غلام له تجارت څخه منع کولای سي. ځکه چي اجازت په خپله د مالک په لاس کي دي. د هغه پر ذمه لازم نه دی.

ولوكان مانعا إلخ: اوس ذکر سوه چي مکاتب جوړول د آزادولو منافي نه دي. لېکن که بيا هم هغه د آزادلو منافي وي. نو هم د مکاتب پر آزادېدلو هيڅ اثر نه پرېوځي. ځکه کله چي هم مُظاهر يو مکاتب آزادوي. نو د آزادولو د تقاضا په وجه به تر آزادېدلو مخکي. مخکي عقدِ کتابت فسخ کيږي. او هغه به مکمل غلام جوړيږي. او د مکمل غلام آزادول جائز دي.

إلّا أنه يسلم إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چي کله تر آزادېدلو مخکي عقدکتابت فسخ کيږي. نو بايد د مکاتب د عقدِکتابت د زمانې ګټه او بچی د هغه د مالک وي (ځکه چي د عقد کتابت په وجه هغه رقيق او غلام سو. او د غلام ټوله شيان د خپل مالک وي). لکه څرنګه چي مالک مَأْذُوْن فِى التِّجَارَة غلام آزاد کړي. نو د هغه ګټه او بچی د خپل مالک وي. لهذا د دغه مکاتب ګټه او بچی هم د مالک په ملکيت کي راتلل پکار دي. نو د هغه جواب ورکوي چي دلته آزادي د مکاتب کېدلو په وجه سره ده. نو ځکه به د عقد کتابت (مکاتب کېدلو) د زمانې بچی او ګټه ټوله د مکاتب وي. او مالک ته به نه ورکول کيږي.

ولأن الفسخ: دويم جواب دا دی چي دلته په دې مسئلې کې د مجبورۍ او ضرورت په وجه تر آزادۍ مخکې، مخکې کتابت فسخ سوی دی (چې هغه ته اقتضاء فسخ کېدل وايي). لهذا څومره چې ضرورت او مجبوري وي، فقط د هغه اعتبار به کيږي. او د بچي او ګټې په حق کې به کتابت نه فسخ کيږي (لِأَنَّ الضَّرُوْرَةَ تَتَقَدَّرُ بِقَدرِهَا)، نو ځکه به دا دواړه شيان فقط د مکاتب وي. او مالک ته به نه ورکول کيږي.

اصول: اصول دا دی چي د کتابت په زمانه کې چې کوم مال مکاتب وګټي، تر آزادېدلو وروسته به هغه ټوله مکاتب ته ورکول کيږي، نه مالک ته. مالک ته به فقط بدل کتابت ورکول کيږي.

پلار يا زوی د کفارې په نيت رانيول

وَإِنْ اشْتَرَى أَبَاهُ أَوِ ابْنَهُ او که [مظاهر] خپل پلار يا خپل زوی رانيسي يَنْوِي بِالشِّرَاءِ الْكَفَّارَةَ [او] په رانيولو سره يې نيت د کفارې [اداء کولو] وي جَازَ عَنْهَا نو د کفارې څخه جائز دي [يعني د هغه په کفاره کي د دې دواړو آزادول جائز دي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي جائز نه دي وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافِ كَفَّارَةُ الْيَمِينِ او پر همدغه اختلاف د قسم کفاره ده وَالْمَسْأَلَةُ تَأْتِيكَ فِي كِتَابِ الْأَيْمَانِ إِنْ شَاءَ اللهُ او دا مسئله به انشاء الله تعالىٰ په کتاب الأيمان کي تا ته راسي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی د کفارې اداء کولو په نيت خپل پلار يا خپل زوی رانيسي (کوم چي د يو بل سړي په ملکيت کي وي)، نو زموږ په نيز د هغه کفاره اداء کيږي (ځکه که څه هم په دې کي د قرابت او د ذی رحم محرم اړخ سته، ليکن هغه د کفارې په نيت رانيولی دی). ليکن د ائمه ثلاثه وو په نيز د هغه کفاره نه اداء کيږي. زموږ او د دوی دا اختلاف د قسم په کفاره کي هم دی، چي د هغه پوره تفصيل او تشريح به انشاء الله په کتاب الأيمان کي ذکر سي.

د مشترک غلام يوه حصه آزادول

فَإِنْ أَعْتَقَ نِصْفَ عَبْدٍ مُشْتَرَكٍ وَهُوَ مُوسِرٌ او که [مظاهر] د مشترک غلام نيمه حصه آزاده کړي حال دا چي هغه [مظاهر] مالدار [هم] وي وَضَمِنَ قِيمَةَ بَاقِيهِ او د پاته [نيمي] حصې ضامن سي لَمْ يَجُزْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ۞ نو دا [إعتاق] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز جائز نه دی وَيَجُوزُ عِنْدَهُمَا او د صاحبينو په نيز جائز دی لِأَنَّهُ يَمْلِكُ نَصِيبَ صَاحِبِهِ بِالضَّمَانِ ځکه چي هغه به د ضامن کېدلو په وجه د خپل ملګري

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الدر المختار (ج:۲، ص:٦٣٠). [القول الراجح ج:۱، ص:۳٥٥]

اشریک ا د حصې مالک وي فَصَارَ مُعْتِقًا كُلَّ الْعَبْدِ عَنِ الْكَفَّارَةِ نو هغه په کفاره کي د ټوله غلام آزادونکی سو وَهُوَ مِلْكُهُ او دا غلام د هغه ملکیت دی ایعني آزادونکی سړی (مظاهر) د دې غلام مالک دی ا بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ الْمُعْتِقُ مُعْسِرًا په خلاف د هغه صورت کله چي آزادونکی تنګ لاسی اغریب ا وي لِأَنَّهُ وَجَبَ عَلَيْهِ السِّعَايَةُ فِي نَصِيبِ الشَّرِيكِ ځکه چي اپه دې صورت کي ا پر غلام د ادویم ا شریک په حصه کي کوښښ کول ضروري سو فَيَكُونُ إِعْتَاقًا بِعِوَضٍ نو دا به په عوض سره آزادول وي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ نَصِيبَ صَاحِبِهِ يَنْتَقِصُ عَلَى مِلْكِهِ د امام صاحب دلیل دا دی: چي د دې اآزادونکي ا سړي د ملګري حصه به د هغه په ملکیت کي ناقصه سي ایعني کله چي آزادونکی مشترک غلام آزاد کړي، نو د شریک په حصه کي به نقص راسي ا ثُمَّ يَتَحَوَّلُ إِلَيْهِ بِالضَّمَانِ بیا به په ضمان اضامن کېدلو ا سره د ده اآزادونکي ا وطرف ته نقل سي ایعني تر نقص وروسته به د آزادونکي د ضمان په وجه دا حصه د آزادونکي وطرف ته نقل سي ا وَمِثْلُهُ يَمْنَعُ الْكَفَّارَةَ او داسي کېدل اد ظهار ا له کفارې څخه مانع دي ایعني په دې توګه د ظهار کفاره اداء کول ممنوع دي ا.

اللغات: ﴿السِّعَايَةِ﴾ د فتح مصدر دی: کوښښ کول (زیار ایستل، خواري کښل).

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو مظاهر د ظهار په کفاره کي مشترک غلام آزاد کړي (کوم چي د ده او د خپل ملګري په مینځ کي مشترک وي)، او د خپل ملګر د حصې د قیمت ضمانت واخلي، اوس د دې إعتاق (آزادولو) څه حکم دی؟ په دې سلسله کي به تر ټولو مخکي د مُعتق (آزادونکي) یعني د مظاهر حالت ته کتل کیږي، که هغه غریب او تنګ لاسی وي، نو د ټولو په نیز غلام نه آزادیږي، لیکن هغه مالدار وي، نو په دې صورت کي د امام صاحب او صاحبینو اختلاف دی، د صاحبینو په نیز إعتاق جائز دی، لیکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز جائز نه دی.

د صاحبینو دلیل: دا دی چي کله مظاهر د خپلي حصې نصف غلام آزاد کړی او د شریک (ملګري) د حصې د قیمت ضامن سو، نو ګواکي هغه د شریک حصې هم مالک سو، لهذا په دې توګه هغه د ټوله غلام آزادونکی سو، نو ځکه به د هغه إعتاق (آزادول) جائز وي.

ها! که مُعتق (مظاهر) غریب او تنګ لاسی وي، نو په دې صورت کي په داسي کولو سره غلام نه آزادیږي، ځکه چي اوس به پر غلام دا واجب وي چي هغه د خپل دویم مالک د حصې قیمت وګټي او اداء یې کړي، ځکه چي د هغه مُعتق غریب دی، نو په دې صورت کي به دا إعتاق بالعوض وګرځي

(کوم چي څه مخکي د مکاتب په مسئله کي تېر سو)، او إعتاق بالعوض په شريعت کي معتبر نه دی، لهذا د مُعتق د غربت او تنګلاسی په صورت کي به هم إعتاق هم جائز نه وي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي کله مُعتق د خپلي حصې نصف آزاد کړی، نو د هغه د شريک حصه له نصف څخه څه کمه سوه، ځکه چي د غلام رقيت په ټوله مجموعه کي وو، نه په نصف کي، لهذا اوس د شريک په نصف کي ملکيت باقي پاتېدل مشکل سو، او همدې ته "نقص" وايي، اوس که څه هم مُعتق خپل شريک ته د دې حصې قيمت ورکړي او غلام څني رانسي، نو هم هغه نقصان باقي پاتېږي، ځکه چي په هغه کي مخکي نقصان راغلی دی، لهذا هغه نقصان به پاته وي، او داسي به ګڼل کېږي چي معتق (مظاهر) کامل غلام نه دی آزاد کړی، بلکي تر هغه يې څه ناقص آزاد کړی دی، حالانکي د إعتاق د جواز لپاره د کامل او مکمل غلام آزادول ضروري دي، نو ځکه به دلته د امام صاحب په نيز إعتاق جائز نه وي.

په کفاره کي په نصف، نصف سره خپل غلام آزادول

وَإِنْ أَعْتَقَ نِصْفَ عَبْدِهِ عَنْ كَفَّارَتِهِ او که [مظاهر] په خپله کفاره کي د خپل غلام نيمه حصه آزاده کړي ثُمَّ أَعْتَقَ بَاقِيَهُ عَنْهَا بيا د هغه پاته حصه [هم] په کفاره کي آزاده کړي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّهُ أَعْتَقَهُ بِكَلَامَيْنِ ځکه چي هغه [ګواکي] په دوه واره کلام کولو سره غلام آزاد کړی دی وَالنُّقْصَانُ مُتَمَكِّنٌ عَلَى مِلْكِهِ بِسَبَبِ الْإِعْتَاقِ بِجِهَةِ الْكَفَّارَةِ او هغه نقصان کوم چي د آزادونکي سړي [مظاهر] په ملکيت کي داخل سوی دی هغه په کفاره کي د آزادولو په وجه دی وَمِثْلُهُ غَيْرُ مَانِعٍ او داسي نقصان [د کفارې له جواز څخه] مانع نه دی كَمَنْ أَضْجَعَ شَاةً لِلْأُضْحِيَةِ فَأَصَابَ السِّكِّينُ عَيْنَهَا لکه يو څوک چي د قرباني کولو لپاره پسه پرې باسي او چاړه د هغه پر سترګه ولګيږي [نو د دې پسه قرباني جائز ده] بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د هغه [مسئلې] کوم چي مخکي تېره سوه لِأَنَّ النُّقْصَانَ تَمَكَّنَ عَلَى مِلْكِ الشَّرِيكِ ځکه چي [هلته] د شريک په ملکيت کي نقصان داخل سوی [او پيدا سوی] دی وَهَذَا عَلَى أَصْلِ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ او دا تفصيل د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر اُصول دی أَمَّا عِنْدَهُمَا فَالْإِعْتَاقُ لَا يَتَجَزَّأُ لېکن د صاحبينو په نيز آزادول حصه، حصه [ټوکړه، ټوکړه] نه کيږي [يعني داسي نه سي کېدلای چي يو وار د غلام يوه حصه آزاده سي، او بله وار د هغه بله حصه آزاده سي] فَإِعْتَاقُ النِّصْفِ إِعْتَاقُ الْكُلِّ نو به د نيم

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في مجمع الأنهر (ج:۱، ص:۴۵۹)، وكذا في الدر المختار (ج:۲، ص:۶۲۹). [القول الراجح: ۳۵۶].

اغلام اآزادول د ټوله اغلام اآزادول وي فَلَا يَكُونُ إِعْتَاقًا بِكَلَامَيْنِ نو دا به په دوه واره كلام كولو سره آزادول نه وي.

اللغات: ﴿أَضْجَعَ﴾ د انفعال ماضي ده: پرې ايستل (پرې باسل). ﴿لَا يَتَجَزَّى﴾ د تفعّل له باب څخه د نفي صيغه ده: ټوكړه ټوكړه كېدل، حصه حصه كېدل، پر څو حصو تقسيمېدل.

تشريح: صورتِ د مسئلې: دا دى كه څيرې يو سړي د ظهار په كفاره كې اول فقط نيم غلام آزاد كړي، او تر هغه وروسته بيا د هغه بل نصف آزاد كړي، نو دا إعتاق جائز دى، يعني كفاره اداء كيږي، دا جواز استحساناً دى، كنې د قياس مطابق د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز إعتاق ناجائز دى، لكه په مشترك غلام كې چې مخكې د عدمِ جواز حكم تېر سو، ځكه چې په دويم نصف (نصفِ آخَر) كې نقصان راغلى.

د استحسان وجه دا ده چې دغه سړي په دوه واره كلام كولو سره غلام آزاد كړى دى، او كوم نقصان چې په دويم نصف كې راغلى دى، په هغه كې هيڅ حرج نسته، ځكه چې هغه نقصان د همدغه معتِق (آزادونكي سړي) په ملكيت كې يعني په يوه ملكيت كې واقع سوى دى، او د إعتاق او كفارې په وجه سره واقع سوى دى، او داسې نقصان د كفارې له جواز څخه مانع نه دى، لكه يو سړى چې د قربانۍ لپاره پسه پر ځمكه پرې باسي، او د پسه پر سترګه چاړه ولګيږي او سترګه يې ختمه سي، نو دا نقصان له قربانۍ څخه مانع نه دى.

د دې په خلاف په تېره سوې مسئله كې نقصان د شريك په ملكيت كې پيدا سوى وو (نه د معتِق په ملكيت كې)، نو هغه په دې وجه مانع وو.

دا ټوله تفصيل د امام صاحب رَحِمَهُ الله د اُصول او مسلک مطابق دى، او څرنګه چې د صاحبينو په نيز إعتاق نه متجزي كيږي (يعني داسې نه سي كېداى چې يو وار د غلام يوه حصه آزاده سي، او تر هغه وروسته بله حصه آزاده سي)، نو په دې وجه كله چې دغه سړي د خپل غلام نصف آزاد كړى، نو په هغه ګړي ټوله غلام آزاد سو، او په يوه كلام سره معامله پوره سوه، او كفاره اداء سوه.

د پورتنۍ مسئلې د اختلاف ثمره

وَإِنْ أَعْتَقَ نِصْفَ عَبْدِهِ عَنْ كَفَّارَتِهِ او كه څيري امظاهر | په خپله كفاره كې د خپل غلام نيمه حصه آزاده كړي ثُمَّ جَامَعَ الَّتِي ظَاهَرَ مِنْهَا بيا د خپل هغه ښځي سره جماع وكړي چې ظهار يې ځني كړى وي ثُمَّ أَعْتَقَ بَاقِيَهُ بيا د غلام پاته انيمه | حصه آزاده كړي لَمْ يَجُزْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ۞ نو د امام صاحب

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في فتح القدير (ج:۴، ص:١٠١)، وكذا في رد المحتار (ج:٢، ص:٦٣٠). [القول الراجح ج:١، ص:٣٥٧]

رَحِمَهُ الله په نېز دا [إعتاق] جائز نه دي لِأَنَّ الْإِعْتَاقَ يَتَجَزَّأُ عِنْدَهُ ځکه چي د هغه په نېز إعتاق متجزي کيږي وَشَرْطُ الْإِعْتَاقِ أَنْ يَكُونَ قَبْلَ الْمَسِيْسِ بِالنَّصِّ او د آيت پر بناء د إعتاق شرط دا دی چي هغه به تر جماع مخکي وي وَإِعْتَاقُ النِّصْفِ حَصَلَ بَعْدَهُ حالانکي [دلته] د نيم [غلام] آزادول تر جماع وروسته واقع سوی دی وَعِنْدَهُمَا إِعْتَاقُ النِّصْفِ إِعْتَاقُ الْكُلِّ او د صاحبينو په نېز د نيم آزادول د ټوله [غلام] آزادول دي فَحَصَلَ الْكُلُّ قَبْلَ الْمَسِيْسِ نو ټوله [غلام آزادول] تر جماع مخکي واقع سو انو ځکه به إعتاق او کفاره جائز وي]

اللغات: ﴿يَتَجَزّٰى﴾ د تفعّل له باب څخه د مضارع صيغه ده: ټوکره ټوکره کېدل. حصه حصه کېدل، پر څو حصو تقسيمېدل. ﴿مَسِيْس﴾ له نصر او سمع دواړو څخه مصدر دی: مسه کول (مراد ځني جماع ده).

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړی د ظهار په کفاره کي خپل نيم (نصف) غلام آزاد کړي. او بيا د خپلي ښځي سره وطي وکړي، او تر هغه وروسته پاته نيم غلام آزاد کړي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا إعتاق جائز نه دی، او د صاحبينو په نېز جائز دی.

د امام صاحب: دليل دا دی چي د هغه په نېز په إعتاق کي تجزی کېدای سي (يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز عتق حصه، حصه کېدای سي). لهذا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به د نيم غلام آزادول (إعتاق) د کُل غلام آزادول نه وي. او د إعتاق شرط دا دی چي هغه به تر جماع کولو مخکي وي. ځکه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا. او دلته نيم غلام تر جماع وروسته آزاد سوی دی. نو ځکه به جائز نه وي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي د هغو په نېز إعتاق متجزي کېدای نه سي. نو د نيم غلام آزادول به د ټوله غلام آزادول وي. لهذا د صاحبينو په نېز دلته تر جماع مخکي ټوله غلام آزاد سوی دی. نو ځکه به إعتاق صحيح او جائز وي.

په کفاره کي د روژو نيولو بيان

وَإِذَا لَمْ يَجِدِ الْمُظَاهِرُ مَا يَعْتِقُ او کله چي ظهار کونکی داسي شی [غلام] پيدا نه کړي چي آزاد يې کړي فَكَفَّارَتُهُ صَوْمُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ نو [بيا] د هغه کفاره دوې مياشتي پرلپسې [مسلسل] روژه نيول دي لَيْسَ فِيْهِمَا شَهْرُ رَمَضَانَ وَلَا يَوْمُ الْفِطْرِ وَلَا يَوْمُ النَّحْرِ وَلَا أَيَّامُ التَّشْرِيْقِ چي په هغه دوو مياشتو کي به د

رمضان مياشته نه وي او نه به [په هغو کي] د کوچني او لوی اختر ورځ او نه به د تشريق ورځي وي أما التتابع فلأنه منصوص عليه کوم چي پرلپسې روژه نيول دي نو ځکه چي پر هغه آيت وارد سوی دی وشهر رمضان لا يقع عن الظهار او د رمضان مياشته له ظهار څخه نه واقع کيږي لما فيه من إبطال ما أوجبه الله ځکه چي په دې کي د هغه شي باطلول دي کوم چي الله واجب کړی دی والصوم في هذه الأيام منهي عنه او روژه په دغه ورځو [د تشريق او اخترونو] کي منع کړی سوې ده فلا ينوب عن الواجب الكامل نو [د دې ورځو روژه] به د کامل واجب قائم مقام نه کيږي.

اللغات: ﴿مُتَتَابِعَيْنِ﴾ د تفاعل له باب څخه د تثنيه اسم فاعل صيغه ده: پرلپسې، مسلسل، بې له وقفې. ﴿مَنْهِيٌّ﴾ د فتح له باب څخه اسم مفعول دی: منع کړی سوی، ممنوع. ﴿لَا يَنُوْبُ﴾ د نصر له باب څخه د نفي صيغه ده: نائب کېدل، قائم مقام کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو مُظاهر د غلام پر آزادولو قدرت نه لري، په دې توګه چي غلام نه پيدا کيږي. يا غلام خو پيدا کيږي، لېکن د ده سره خوشمړي (پېسې) نه وي چي غلام په رانيسي، نو په دې صورت کي د هغه کفاره دا ده چي دوې مياشتي به پرلپسې روژه نيسي، او د دې دوو مياشتو په مينځ کي به نه د رمضان مياشته وي، او نه به د کوچني اختر، لوی اختر او د أيامِ تشريق ورځي وي.

صاحب د هدايې فرمايي چي تتابع (پرلپسې والی) ځکه شرط او ضروري دی چي په دې آيت فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ کي تتابع لازم او ضروري ګرځول سوی دی، نو په دې وجه تتابع شرط وي. او د دوو مياشتو په مينځ کي د رمضان د مياشتي نه کېدل (نشتوالی) ځکه ضروري دی چي که په رمضان کي د ظهار روژې واقع سي، نو هغه شی به باطل سي کوم چي الله تعالیٰ فرض کړی دی. او دا ښکاره خبره ده چي بنده ته د دې هيڅ حق نسته چي د الله فرض کړی سوی شی باطل کړي. نو ځکه به په هغه دوو مياشتو کي روژې نيول ضروري وي چي په مينځ کي يې د رمضان مياشت نه وي.

او د أيامِ تشريق او د اخترونو د ورځو نشتوالي ځکه ضروري دی، چي په دې ورځو کي له روژې نيولو څخه منع سوې ده. لکه څرنګه چي د ابن عباس رضي الله عنهما په حديث کي ذکر سوي دي: لَا تَصُوْمُوْا فِيْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ فَإِنَّهَا أَيَّامُ أَكْلٍ وَّ شُرْبٍ وَّ بِعَالٍ (يعني په دې ورځو کي روژه مه نيسئ! ځکه چي دا د خوراک، څښاک او جماع کولو ورځي دي).

د کفارې د روژو په مينځ کې د جماع کولو حکم

وَإِنْ جَامَعَ الَّتِي ظَاهَرَ مِنْهَا فِي خِلَالِ الشَّهْرَيْنِ بيا كه [مظاهر] د دوو مياشتو په دوران کې د هغه ښځې سره جماع وکړي چې د هغې څخه يې ظهار کړی وي لَيْلًا عَامِدًا أَوْ نَهَارًا نَاسِيًا برابره ده که [د شپې قصداً [جماع وکړي] يا د ورځې په هېره [جماع وکړي] اِسْتَأْنَفَ الصَّوْمَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ ◆ نو هغه به د طرفينو په نېز له نوي سره [له شروع څخه] روژې نيسي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: لَا يَسْتَأْنِفُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې له شروع څخه به روژې نه نيسي لِأَنَّهُ لَا يَمْنَعُ التَّتَابُعَ ځکه چې [دلته] وطې له تتابع څخه مانع نه دي إِذْ لَا يَفْسُدُ بِهِ الصَّوْمُ ځکه چې په هغه سره روژه نه فاسديږي وَهُوَ الشَّرْطُ او همدا شرط دي وَإِنْ كَانَ تَقْدِيمُهُ عَلَى الْمَسِيسِ شَرْطًا او که څه هم پر جماع د روژې مخکې کول شرط دي فَفِيمَا ذَهَبْنَا إِلَيْهِ تَقْدِيمُ الْبَعْضِ [لېکن] کوم طرف ته چې موږ تګ کړی دی ايعني کوم صورت چې موږ اختيار کړی دی] په هغه کې [پر جماع] د ځينو روژو تقديم سته وَفِيمَا قُلْتُمْ تَأْخِيرُ الْكُلِّ عَنْهُ او کوم چې تاسي [طرفين] وايي، په هغه کې ټوله روژې له وطې څخه مؤخر دي وَلَهُمَا: أَنَّ الشَّرْطَ فِي الصَّوْمِ أَنْ يَكُونَ قَبْلَ الْمَسِيسِ د طرفينو دليل دا دی: چې په روژه کې شرط دا دي چې هغه به له جماع څخه مخکې وي وَأَنْ يَكُونَ خَالِيًا عَنْهُ ضَرُورَةً بِالنَّصِّ او [همدارنګه] هغه به له جماع څخه خالي وي د آيت د ضرورت په وجه وَهٰذَا الشَّرْطُ يَنْعَدِمُ بِهِ او دا شرط په جماع کولو سره ختميږي فَيَسْتَأْنِفُ نو ځکه به هغه [مظاهر] له شروع څخه روژې نيسي وَإِنْ أَفْطَرَ مِنْهَا يَوْمًا بِعُذْرٍ أَوْ بِغَيْرِ عُذْرٍ او که هغه له دې [دوو مياشتو] څخه يوه ورځ د عذر په وجه يا بېله عذره روژه ماته کړي اِسْتَأْنَفَ نو له شروع څخه به روژې نيسي لِفَوَاتِ التَّتَابُعِ ځکه چې تتابع [پرلپسې والی] فوت سو وَهُوَ قَادِرٌ عَلَيْهِ عَادَةً حالانکې هغه [مظاهر] عادتاً پر دې قادر [هم] دی.

◆ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله ، كما قال العلامة داماد امدي رَحِمَهُ الله : والصحيح قولهما أي الطرفين. لأن المأمور به صيام شهرين متتابعين، لا مسيس فيهما (مجمع الأنهر ج:۱، ص:۴۶۰)، وكذا في رد المحتار (ج:۲، ص:۶۳۱). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۵۸]

اللغات: ﴿اِسْتَأْنَفَ﴾ د استفعال ماضي ده: له نوي سره شروع کول. له شروع څخه يو کار راګرځول.

﴿تَقْدِيمٌ﴾ د تفعيل مصدر دی: مقدم کول. مخکي کول.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که د کفارې د روژو په مينځ کي مُظاهر د خپلي ښځي سره د شپې قصداً يا د ورځي په هېره جماع وکړي. نو د طرفينو په نيز حکم دا دی چي هغه به له شروع څخه بيا روژې نيسي. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به له شروع څخه روژې نه‌نيسي. بلکي مخکنی روژې به يې پاته وي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي د شپې په قصداً جماع کولو سره همدارنګه د ورځي په ناسياً جماع کولو سره روژه نه فاسديږي. او کله چي روژه نه فاسديږي. نو ښکاره ده چي تتابع (پرلپسې والي) به هم فاسد نه وي. او کله چي تتابع فاسد نه دی. نو د استيناف (يعني له شروع څخه د روژو نيولو) ضرورت به هم نه وي. ځکه د عدمِ استيناف لپاره چي کوم شی شرط دی (يعني دوې مياشتي پرلپسې روژه نيول او په مينځ کي نه فاسديدل). هغه شرط دلته موجود دی.

وإن كان تقديمه إلخ: په دې سره د يو سوال جواب ورکوي. سوال دا دی چي د دې آيت مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا په وجه د کفارهٔ روژې پر وطي او جماع مقدم کول شرط دي. او په مينځ کي د جماع کولو په وجه دا شرط موجود نه سو. لهذا په دې صورت کي به کفاره اداء کېدل يکار نه وي؟

د دې په جواب کي امام ابو يوسف فرمايي چي موږ ته هم معلومه ده چي روژې تر وطي مخکي کول شرط دي. لېکن کوم صورت چي موږ اختيار کړی دی. په هغه کي خو څه روژې له وطي څخه مخکي دي. لېکن د طرفينو په اختيار سوي صورت کي ټولي روژې له وطي څخه وروسته (مؤخر) دي. او دا خبره تسليم سوې ده چي تقديمُ البَعْض او تأخير البَعْض له تأخير الکُلّ څخه سپک او آسانه دی. لهذا د کفارې نه اداء کېدل (عدمُ اداء الكفارة) ستاسو د مسلک مطابق دي. نه زموږ د مسلک مطابق. نو ځکه به مخکنی روژې پاته وي.

د طرفينو دليل: دا دی چي د روژو په ذريعه د کفارې اداء کولو په وخت کي د آيت پر بناء دوه شيان شرط دي: ① روژې به تر جماع مخکي، مخکي نيول کيږي. ② او دا ټوله روژې به له جماع څخه خالي وي. او په مينځ کي د جماع کولو په وجه سره دويم شرط فوتيږي. او د هغه په ضمن کي اول شرط هم فوتيږي (ځکه چي دا دواړه شرطونه سره لازم او ملزوم دي). او کله چي دواړه شرطونه فوت سي. نو تتابع به هم فوت سي. لهذا اوس ښکاره خبره ده چي د استيناف حکم به بيرته راګرځي. او هغه به بيرته له شروع څخه روژې نيسي.

وإن أفطر الخ: د دې حاصل دا دی که یو سړی د دوو میاشتو په مینځ کې یوه روژه ماته کړي، نو پر هغه لازم دي چې بیا له شروع څخه روژې ونیسي؛ دلیل دا دی چې هغه تتابع فوت کړی (او په آیت کې د تتابع حکم سوی دی)، او هغه عادتاً پر تتابع قادر دی (چې دوې میاشتې پرلپسې روژې ونیسي. ځکه چې د هغه په حق کې د ښځې په څیر د حیض مانع نسته چې تتابع یې ورختم کړي)، نو ځکه به استیناف پر هغه لازم وي.

غلام به په کوم شي سره کفاره اداء کوي؟

وَإِنْ ظَاهَرَ الْعَبْدُ او که غلام [د خپلې ښځې سره] ظهار وکړي لَمْ يُجْزِئْ فِي الْكَفَّارَةِ إِلَّا الصَّوْمُ نو [د هغه] په کفاره کې له روژې څخه بغیر [بل شی] جائز نه دی لِأَنَّهُ لَا مِلْكَ لَهُ ځکه چې هغه لره هیڅ ملکیت نسته فَلَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِ التَّكْفِيرِ بِالْمَالِ نو ځکه به د مال په ذریعه د کفاره اداء کولو أهل نه وي وَإِنْ أَعْتَقَ الْمَوْلَى أَوْ أَطْعَمَ عَنْهُ او که چیري مولیٰ [مالک] د هغه له طرفه [غلام] آزاد کړي یا [د هغه له طرفه مسکینانو ته] خوراک وکړي لَمْ يُجْزِهِ نو دا [هم] د هغه لپاره کافي نه دي لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ الْمِلْكِ ځکه چې هغه [غلام] د مالک جوړېدلو أهل نه دی فَلَا يَصِيرُ مَالِكًا بِتَمْلِيكِهِ نو ځکه به د مولیٰ په مالک کولو سره هغه مالک نه جوړیږي.

اللغات: ﴿لَمْ يُجْزِ﴾ د افعال له باب څخه د جحد صیغه ده. په اصل کې لَمْ يُجْزِئْ وو: کافي نه دي، جائز نه دي. ﴿تَكْفِير﴾ د تفعیل مصدر دی: کفاره ورکول (کفاره اداء کول).

تشریح: **مسئله**: دا ده که غلام د خپلې ښځې سره ظهار وکړي، نو د هغه کفاره فقط په روژو سره اداء کیږي. له روژو څخه بغیر په بل شي سره د هغه کفاره نه اداء کیږي. نه په إعتاق (غلام آزادولو) سره او نه په إطعام (خوراک ورکولو) سره؛ دلیل دا دی چې غلام د هیڅ شي ملکیت نه لري. حال دا چې د إعتاق او إطعام لپاره مال ضروري دي، او غلام خالي لاسی دی. او بیا په هغه کې د مالک جوړېدلو صلاحیت هم نه سته. نو که مالک د هغه له طرفه غلام آزاد کړي. یا خوراک ورکړي. نو هم جائز نه دي. ځکه چې په غلام کې بالکل د مالک جوړېدلو صلاحیت نسته. نو د بل په تملیک سره هغه مالک کېدلای نه سي. لهذا لازماً به هغه په روژو سره کفاره اداء کوي.

په کفاره کې د خوراک ورکولو بیان

وَإِذَا لَمْ يَسْتَطِعِ الْمُظَاهِرُ الصِّيَامَ او کله چې ظهار کونکی د روژو [نیولو] قدرت نه لري أَطْعَمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا نو شپېتو [۶۰] مسکینانو ته دې خوراک ورکړي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا [المجادلة: ۴] ځکه چې الله تعالیٰ فرمایلي دي: او څوک چې [د روژو نیولو] طاقت نه لري نو بیا [د ظهار کفاره] شپېتو مسکینانو ته خوراک ورکول دي وَيُطْعِمُ كُلَّ مِسْكِينٍ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيرٍ أَوْ قِيمَةَ ذٰلِكَ او مُظاهر به هر مسکین ته نیم صاع غنم یا یو صاع خورما یا یو صاع اوربشي یا د دې شیانو قیمت ورکوي لِقَوْلِهِ [1] فِي حَدِيثِ أَوْسِ بْنِ الصَّامِتِ وَسَهْلِ بْنِ صَخْرٍ ځکه چې د أوس بن صامت او سهل بن صخر په حدیث کې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: لِكُلِّ مِسْكِينٍ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ "د هر مسکین لپاره به نیم صاع غنم وي" وَلِأَنَّ الْمُعْتَبَرَ دَفْعُ حَاجَةِ الْيَوْمِ لِكُلِّ مِسْكِينٍ او ځکه چې معتبر د هر مسکین د یوې ورځې حاجت لیري کول دي فَيُعْتَبَرُ بِصَدَقَةِ الْفِطْرِ نو دا به پر صدقه فطر [سرسایه] باندې قیاسیږي وَقَوْلُهُ: أَوْ قِيمَةَ ذٰلِكَ مَذْهَبُنَا او [په متن کې] د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول: أَوْ قِيمَتُهُ ذٰلِكَ زمونږ مذهب دی وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِي الزَّكَاةِ او په کتابُ الزکاة کې مونږ دا [مسئله] ذکر کړه.

اللغات: ﴿نِصْفَ صَاعٍ﴾ نیم صاع (پاو کم دوه کېلو کیږي [په پاکستاني کېلو سره]، او یو صاع درې نیم کېلو کیږي)، ﴿بُرٍّ﴾ غنم.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې د مظاهر په حق کې د کفارې تر ټولو اعلیٰ درجه دا ده چې غلام آزاد کړي، لېکن که مظاهر پر غلام قدرت نه لري، نو حکم دا دی چې روژې ونیسي. دا دویمه درجه ده. او که د روژو نیولو قدرت هم نه لري، نو اوس دریمه او آخري وجه دا ده چې شپېتو (۶۰) مسکینانو ته خوراک یا غله ورکړي؛ دلیل دا آیت دی: فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا.

ښکاره دې وي چې کله څوک د ظهار کفاره د طَعَام په ذریعه اداء کوي، نو هغه ته دا خبره په پام کې نیول پکار دي چې د طعَام مقدار به هم پوره او مکمل وي او تعداد به هم پوره وي، یعني پوره شپېتو مسکینانو ته به طعام ورکوي، او هر، هر مسکین ته به د نیم صاع په مقدار غنم ورکوي، تر دې مقدار به نه کم ورکوي، او نه زیات؛ د دې مسئلې دلیل هغه أحادیث دي کوم چې له حضرت أوس بن صامت او

[1] تخریج: أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه باب في كفارة اليمين من قال نصف صاع، حديث رقم: ۱۲۲۰۴

حضرت سهل بن صخر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روایت سوی دی. چې په هغوی کې د دې خبرې وضاحت سوی دی چې د روژې نه نیولو په صورت کې به مظاهر شپېتو مسکینانو ته خوراک ورکوي یا غله به ورکوي او د هغه مقدار به له غنمو څخه نصف صاع وي. او له خورما یا اُوربشو څخه به یو صاع وي.

د دې مسئلې عقلي دلیل دا دی چې د کَفَّارَه بِالطَّعَام مقصد دا دی چې د هر. هر مسکین د یوې ورځې حاجت پوره کړی سي. نو د ظهار کفاره به د مقدار په هکله پر صدقۃ الفطر قیاسیږي. او څرنګه چې د صدقۃ الفطر مقدار د غنمو نیم صاع یا د خورما او اُوربشو یو صاع دی. نو په کفارۂ ظهار کې به هم د هر مسکین په حق کې همدغه مقدار وي. او ټولو مسکینانو ته به دېرش (۳۰) صاعه غنم ورکوي. یا شپېته (۶۰) صاعه خورما یا اُوربشي. یا به د دې شیانو په اندازه قیمت ورکوي.

وقوله إلخ: صاحب د هدایې فرمایي چې په متن کې د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول أَوْ قِيْمَتُهُ ذٰلِكَ. دا زموږ د احنافو مسلک دی چې زموږ په نېز په صدقۃ الفطر. ظهار او داسي نورو کې د غلې (غنمو. خورما...) قیمت ورکول کېدای سي. لېکن د شوافعو په نېز خاص د غلې اداء کول ضروري دي. او د هغو په نېز په قیمت ورکولو سره واجب فِي الذمه نه ساقطیږي. فرمایي چې دا اختلاف موږ په کتاب الزكاة کې په تفصیل سره بیان کړی. فأنتظروا إني معكم من المنتظرين

په کفاره کې دوه جلا قسمه خوراک ورکول

فَإِنْ أَعْطٰى مَنًّا مِنْ بُرٍّ وَمَنَوَيْنِ مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيْرٍ او که [مظاهر په کفاره کې] یو مَن غنم او دوه مَنه خورما یا اُوربشي ورکړي **جَازَ** نو جائز دي **لِحُصُوْلِ الْمَقْصُوْدِ** ځکه چې مقصود حاصل سو **إِذِ الْجِنْسُ مُتَّحِدٌ** ځکه چې [د دوی] جنس سره یو دی [من حيث الإطعام ودفع الجوع]

اللغات: ﴿مَنّ﴾ له دې څخه مراد د عربو من چې هغه د صاع څلورمه حصه کېږي. او څلور منه یو صاع کېږي.

تشریح: یو صاع ټوله څلور منه کېږي. نو په دې اعتبار سره یو من د صاع رُبع (څلورمه حصه) سوه. اوس که یو مظاهر مسکینانو ته یو من غنم ورکړي او دوه منه خورما ورکړي. نو څرنګه چې دا ټوله د نیم صاع غنمو سره برابره سول. نو ځکه د إطعام مقصود حاصل سو. او بیا د غنم. خورما او اُوربشو جنس هم د خوراک او لوږې دفع کولو په اعتبار سره متحد دی (یعني دا ټوله شیانو په مقصود کې سره یو دي). لهذا داسي کول صحیح او جائز دي.

بل چا ته د خوراک ورکولو حکم

وَإِنْ أَمَرَ غَيْرَهُ أَنْ يُطْعِمَ عَنْهُ مِنْ ظِهَارِهِ او که [مظاهر] بل چا ته دا حکم وکړي چې هغه د ده د ظهار له طرفه [مسکینانو ته] خوراک ورکړي فَفَعَلَ او هغه [بل سړی] دا کار وکړي أَجْزَأَهُ نو دا [د مظاهر له طرفه] کافي دي لِأَنَّهُ اِسْتِقْرَاضٌ مَعْنًى ځکه چې دا د معنیٰ په اعتبار سره قرض اخیستل دي یعنې دا د پور غوښتلو په معنیٰ سره دي وَالْفَقِيرُ قَابِضٌ لَهُ أَوَّلًا او فقیر اول د مظاهر لپاره قبضه کونکی دی ثُمَّ لِنَفْسِهِ بیا د خپل ځان لپاره [قبضه کونکی دی] فَتَحَقَّقَ تَمَلُّكُهُ ثُمَّ تَمْلِيكُهُ نو [په دې صورت کې] د مظاهر مالک کېدل او د فقیر مالک جوړول ثابت سو.

اللغات: ﴿إِسْتِقْرَاض﴾ د استفعال مصدر دی: قرض اخیستل. پور غوښتل. ﴿تَمَلُّک﴾ د تفعل مصدر دی: په خپله (دیو شي) مالک جوړېدل. ﴿تَمْلِیک﴾ د تفعیل مصدر دی: بل څوک (دیو شي) مالک جوړول.

تشریح: مسئله: دا ده که مظاهر یو بل سړي ته حکم وکړي چې زما له طرفه مسکینانو ته خوراک ورکړه. او هغه همداسې وکړي، نو جائز او صحیح دي؛ دلیل دا دی چې دا شکل معناً د قرض اخیستلو په څېر دی. یعنې ګواکې مظاهر له هغه سړي څخه قرض واخیستی. او پر دغه قرض (خوراک) قبضه داسې وسوه چې فقیر ګواکې اول د مظاهر له طرفه پر خوراک قبضه وکړه. وروسته یې د خپل ځان له طرفه قبضه وکړه. نو کله چې فقیر د مظاهر له طرفه قبضه وکړه. نو په دې سره د مظاهر مالک کېدل ثابت سو. او کله چې فقیر د خپل ځان له طرفه قبضه وکړه. نو هغه د مسکین مالک جوړېدل هم ثابت سو (یعنې ګواکې مظاهر په خپله د دې خوراک مالک وو او مساکین یې د دې مالکان جوړ کړل. او همدغه مقصود دي). نو ځکه به په دې توګه کفاره ورکول جائز وي.

شپېتو (۶۰) مسکینانو ته (له تملیک څخه بغیر) خوراک ورکول

فَإِنْ غَدَّاهُمْ وَعَشَّاهُمْ نو که [مظاهر] دوی [مساکینو] ته سهار او ماښام خوراک ورکړي جَازَ نو جائز دي قَلِيلًا كَانَ مَا أَكَلُوا أَوْ كَثِيرًا هغه که دوی [مساکین] لږ خوراک وکړي او که ډېر وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يُجْزِئُهُ إِلَّا التَّمْلِيكُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې له تملیک [مالک جوړولو] څخه بغیر [بل شی] د مظاهر لپاره کافي نه دی اِعْتِبَارًا بِالزَّكَاةِ وَصَدَقَةِ الْفِطْرِ په زکاة او صدقه فطر [سرسایه] باندې په قیاسولو سره وَهٰذَا لِأَنَّ التَّمْلِيكَ أَدْفَعُ لِلْحَاجَةِ او دا [حکم] ځکه دی چې تملیک زیات لیرې کونکی

[پوره کونکی] دی د حاجت فَلَا يَنُوبُ مَنَابَهُ الْإِبَاحَةُ نو ځکه به إباحت [مباح کول] د هغه نه قائم مقام کیږي وَلَنَا. أَنَّ الْمَنْصُوصَ عَلَيْهِ هُوَ الْإِطْعَامُ او زموږ دلیل دا دی: چي د کوم شي په باره کي آیت وارد سوی دی هغه إطعام [خوراک ورکول] دي وَهُوَ حَقِيقَةٌ فِي التَّمْكِينِ مِنَ الطَّعْمِ او إطعام په حقیقت کي پر طعام [خوراک کولو] باندي قدرت ورکول دي وَفِي الْإِبَاحَةِ ذَلِكَ كَمَا فِي التَّمْلِيكِ او د تملیک په څیر په مباح کولو کي [هم] دا معنیٰ سته أَمَّا الْوَاجِبُ فِي الزَّكَاةِ الْإِيتَاءُ لیکن په زکاة کي واجب إِيتَاء [ورکول] دي وَفِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ الْأَدَاءُ او په صدقه فطر کي واجب اداء [اداء کول] دي وَهُمَا لِلتَّمْلِيكِ حَقِيقَةً او دا دواړه د حقیقتاً مالک جوړولو لپاره دي.

اللغات: ﴿غَدّٰی﴾ د تفعیل ماضي ده: د سهار خوراک ورکول (د سهار په وخت کي خوراک ورکول). ﴿عَشّٰی﴾ د تفعیل ماضي ده: د ماخوستن ډوډۍ ورکول (د ماخوستن په وخت کي خوراک ورکول). ﴿إِبَاحَة﴾ د افعال مصدر دی: مباح کول، روا کول، اجازه ورکول. ﴿تَمْكِين﴾ د تفعیل مصدر دی: قدرت ورکول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو مظاهر یوه شپه او ورځ شپېتو مسکینانو ته خوراک ورکړي. نو دا جائز دي. برابر ده که دا مساکین زیات خوراک وکړي یا کم: دلیل دا دی چي د إطعام (خوراک ورکولو) مقصود د مساکینو د یوې ورځي ضرورت پوره کول دي. او دا ضرورت د سهار او ماښام په خوراک ورکولو سره پوره کیږي. نو ځکه دا جائز دي. لیکن امام شافعي رَحِمَهُ الله خوراک پر زکاة او صدقه فطر قیاسوي. یعني څرنګه چي په زکاة او صدقه فطر کي تملیک (مالک جوړول) ضروري دي همداسي په طعام کي هم تملیک ضروري دی. او إطعام (یعني خوراک ورکول) د تملیک قائم مقام نه دي.

زموږ دلیل دا دی چي په قرآن کریم کي د إطعام لفظ راغلی دی (فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا). او د إطعام حقیقي معنیٰ ده: "پر طعام قدورت ورکول". نو څرنګه چي دا معنیٰ په تملیک (مالک جوړولو) کي سته همداسي په إطعام کي هم سته. بلکي که غور وسي، نو په إطعام کي په پوره توګه د تملیک معنیٰ سته او په إطعام سره د مساکینو ضرورت زیات پوره کیږي. ځکه چي په دې

صورت کي نه هغو ته د خوراک پخولو ضرورت پرېوځي، او نه د هغوی غوړي، مرچ، مساله او داسي نور مصرفيږي (ځکه چي هغوی ته تيار خوراک ورکول کيږي).

أما الواجب إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چي د ظهار د کفارې إطْعَام پر زکاة او صدقه فطر قياسول صحيح نه دي؛ ځکه چي په زکاة کي اِيْتَاء (ورکول) او په صدقه فطر کي اَدَاء (اداء کول) فرض دي، او اِيْتَاء او اَدَاء دواړه د تمليک لپاره دي، او دا معنیٰ په دې دواړو کي (پر مال) په قدرت ورکولو سره نه ثابتيږي، لېکن د ظهار په کفاره کي اِيْتَاء او اداء ضروري نه دي، نوځکه به پر طعام په قدرت ورکولو سره کفاره اداء کيږي (سره د دې چي په طعام ورکولو کي د تمليک معنیٰ هم سته).

د پورتني مسئلې يو بل صورت

وَلَوْ كَانَ فِيْمَنْ عَشَّاهُمْ صَبِيٌّ فَطِيْمٌ او كه په هغو مسكينانو كي يو شپږ خواره كوچنی وي چي هغو ته [ظهار كونكي] د مابنام خوراک ورکړی وي ايعني داسي کوچنی وي کوم چي له شيدو څخه تازه پرېکړی سوي وي] لَا يُجْزِئُهُ نو دا [د هغه لپاره] کافي نه دي [يعني کفاره نه اداء کيږي] لِأَنَّهُ لَا يَسْتَوْفِي كَامِلًا ځکه چي داسي کوچنی پوره خوراک کولای نه سي وَلَا بُدَّ مِنَ الْإِدَامِ فِي خُبْزِ الشَّعِيْرِ او د اُوربشو د ډوډۍ په صورت کي کتغ [سالن] ورکول ضروري دي لِيُمْكِنَهُ الْاِسْتِيْفَاءُ إِلَى الشِّبَعِ د دې لپاره چي هغه [مساکينو] لره په ماړه نس خوراک کول ممکن وي وَفِي خُبْزِ الْحِنْطَةِ لَا يُشْتَرَطُ الْإِدَامُ او د غنمو د ډوډۍ په صورت کي سالن [ورکول] شرط نه دي.

اللغات: ﴿فَطِيْمٌ﴾ هغه کوچنی کوم چي له شيدو څخه تازه پرېکړی سوي وي او خوراک ور شروع سوي وي. ﴿لَا يَسْتَوْفِيْ﴾ د استفعال له باب څخه د نفي صيغه ده، اِسْتَوْفَى يَسْتَوْفِيْ اِسْتِيْفَاءً: خپل حق پوره اخيستل، په پوره توګه يو شی تر لاسه کول (مراد ځني کاملاً خوراک کول دي). ﴿إِدَام﴾ کتغ، سالن، ترکاري، لمده بل، داسي شی چي ډوډۍ ور سره وخوړل سي. ﴿الشِّبْع﴾ موړتيا (نس مړېدل). ﴿حِنْطَة﴾ غنم، په عربي کي د غنمو لپاره څو نومونه استعماليږي، چي هغه دا دي: الحِنْطَة، البُر، القَمْح، الطَّعَام، لکه څرنګه چي صاحب د مصباح المنير وايي: "اَلْحِنْطَةُ وَالْقَمْحُ وَالْبُرُّ وَالطَّعَامُ وَاحِدٌ". (مصباح المنير ج:۱، ص:۱۵۳)

تشریح : مسئله : دا ده کومو مسکینانو ته چي مظاهر سهار او ماښام خوراک ورکړی وي، که په هغو کي شپږ خواره کوچني وي، نو کفاره نه اداء کیږي؛ دلیل دا دی چي شپږ خوراه کوچني پوره خوراک (طعام) نه سي خوړلای، ځکه چي د هغه غذا طعام نه ده، بلکي څه شیدې او څه طعام. لهذا فقط په طعام سره هغه پوره خوراک کونکي نه شمارل کیږي، نو ځکه به کفاره هم نه اداء کیږي.

ولا بد إلخ: فرمایي که په خوراک کي د اوربشو ډوډۍ وي، نو د هغه سره کتنغ (ترکاري) ورکول هم ضروري دي، د دې لپاره چي ښه په ماړه نس خوراک وکړي. لیکن که د غنمو ډوډۍ وي، نو له کتنغ څخه بغیر هم کار کیږي، ځکه چي د غنمو ډوډۍ له کتنغ څخه بغیر هم په خوند سره خوړل کیږي (خصوصاً په پخوا زمانه کي خو د غنمو ډوډۍ د مسکین لپاره د کتنغ په درجه کي وه).

فقط یوه مسکین ته خوراک ورکول

وَإِنْ أَطْعَمَ مِسْكِينًا وَاحِدًا سِتِّينَ يَوْمًا او که [مظاهر] یوه مسکین ته شپېته ورځي خوراک ورکړي أَجْزَأَهُ نو [د هغه لپاره] کافي دي وَإِنْ أَعْطَاهُ فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ او که یوه مسکین ته یې په یوه ورځ ورکړي لَمْ يُجْزِهِ إِلَّا عَنْ يَوْمِهِ نو دا نه کافي کیږي مګر د هغه یوي ورځي له طرفه لِأَنَّ الْمَقْصُودَ سَدُّ خَلَّةِ الْمُحْتَاجِ ځکه چي مقصود د محتاج [مسکین] حاجت پوره کول دي وَالْحَاجَةُ تَتَجَدَّدُ فِي كُلِّ يَوْمٍ او حاجت هره ورځ نوی پیدا کیږي فَالدَّفْعُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ الثَّانِي كَالدَّفْعِ إِلَى غَيْرِهِ نو هغه [یوه] مسکین ته دویمه ورځ ورکول داسي دي لکه بل مسکین ته ورکول وَهٰذَا فِي الْإِبَاحَةِ مِنْ غَيْرِ خِلَافٍ او دا [حکم] په مباح کولو کي بغیر له اختلاف څخه دی وَأَمَّا التَّمْلِيكُ مِنْ مِسْكِينٍ وَاحِدٍ فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ بِدَفَعَاتٍ او کوم چي په یوه ورځ کي په څو وارو سره یو مسکین مالک جوړول دي فَقَدْ قِيلَ: لَا يُجْزِئُهُ نو ویل سوي دي: چي دا کافي نه دي وَقَدْ قِيلَ: يُجْزِئُهُ او ویل سوي دي: چي کافي دي لِأَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى التَّمْلِيكِ تَتَجَدَّدُ فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ ځکه چي د تملیک ضرورت په یوه ورځ کي [څو واره] نوي پیدا کیږي بِخِلَافِ مَا إِذَا دَفَعَ بِدَفْعَةٍ وَاحِدَةٍ په خلاف د هغه صورت کله چي [یوه مسکین ته] په یوه وار [ټوله مقدار] ورکړي انو په دې صورت کي کفاره نه اداء کیږي] لِأَنَّ التَّفْرِيقَ وَاجِبٌ بِالنَّصِّ ځکه چي په متفرقه توګه [ورکول] په نص سره واجب دي.

اللغات: ﴿يَوْمِهِ﴾ په هغه ورځ. ﴿سَدّ﴾ د نصر مصدر دی: بندول، ختمول. خَلَّة: حاجت، ضرورت. سَدُّ خَلَة: حاجت ليري كول، حاجت پوره كول. ﴿تَتَجَدَّدُ﴾ د تفعل مضارع ده: نوي كېدل، جديد كېدل. ﴿إِبَاحَة﴾ د افعال مصدر دی: روا كول، مباح كول، اجازه وركول. ﴿دَفَعَات﴾ جمع د دَفْعَةٌ ده: وار، ځل، نوبت. دَفَعَات: ډېر وارونه. ﴿تَفْرِيق﴾ د تفعيل مصدر دی: جلا كول، عليحده كول، دوه شيان سره بېلول (مراد ځني په جلا، جلا توګه او په وقفه، وقفه سره طعام وركول دي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه يو مظاهر فقط يوه مسكين ته شپېته ورځې خوراک وركړي، نو كفاره اداء كېږي. او كه په يوه ورځ كي ټوله خوراک (شپېته واره) وركړي. نو په دې سره فقط د يوې ورځې كفاره اداء كېږي: دليل دا دی چي په كفاره سره مقصود د مسكين حاجت ليري كول دي. او حاجت هره ورځ نوی پيدا كېږي. نو دويم وار همدغه مسكين ته خوراک وركول داسي سو لكه بل مسكين ته چي خوراک وركړي. نو تر شپېتو ورځو پوري يوه مسكين ته خوراک وركول داسي سو لكه شپېتو مسكينانو ته چي خوراک وركړي. نو ځكه به په دې صورت كي كفاره اداء كېږي.

وهذا في الإباحة إلخ: فرمايي چي هره ورځ مسكين ته خوراک وركول او هغه ته مباح كول دا بغير له اختلاف څخه جائز دي. يعني د دې په جواز كي د هيڅا اختلاف نسته. پاته سو د مسئلې دويم صورت يعني كه يوه مسكين ته د اباحت په توګه شپېته واره ټوله خوراک وركول سي. نو بالاتفاق جائز نه دي. ځكه چي واجب شپېتو مسكينانو ته خوراک وركول دي. او هغه دلته موجود نه سو. نه حقيقتاً او نه حكماً. حقيقتاً خو ځكه موجود نه سو چي دا يو مسكين دی. او حكماً ځكه موجود نه سو. چي يوه سړي ته فقط په يوه ورځ كي شپېته واره د خوراک حاجت نه پېښېږي.

او پاته سوه دا مسئله چي كه يو مسكين ته په يوه ورځ كي شپېته واره (جلا جلا) غله وركول سي (يعني په يوه ورځ كي په شپېتو وارو سره هغه د كفارې د ټوله مقدار غلې مالک جوړ كړی سي). نو په دې باره كي اختلاف دی. ځيني فقهاء فرمايي چي دا هم ناجائز دی؛ ځكه چي معتبر حاجت ليري كول دي. او د ځيني فقهاؤ رايه دا ده چي دا صورت جائز دی؛ ځكه چي د تمليک ضرورت په يوه ورځ كي څو واره نوي كېدلای سي (يعني يو انسان ته فقط په يوه ورځ كي هم ډېر واره حاجت پېش كېدلای سي).

د دې په خلاف كه په يوه ورځ كي په يوه وار سره د ټوله مقدار مالک جوړ كړی سي، نو بالاتفاق جائز نه دي. ځكه چي په متفرقه توګه (جلا، جلا وركول) د قرآن په دې آيت سره واجب دي: فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا. نو ځكه به په يواره د ټوله مقدار په وركولو سره كفاره نه اداء كېږي.

"إِطْعَام" (خوراک ورکولو) په دوران کې جماع کول

وَإِنْ قَرُبَ الَّتِيْ ظَاهَرَ مِنْهَا فِيْ خِلَالِ الْإِطْعَامِ او که [مظاهر. مسکینانو ته] د خوراک ورکولو په دوران کې د هغه ښځې سره وطې وکړې چې له هغې ښځه یې ظهار کړی وو لَمْ يَسْتَأْنِفْ نو له شروع ښځه به خوراک نه ورکوي لِأَنَّهُ تَعَالٰى مَا شَرَطَ فِي الْإِطْعَامِ أَنْ يَكُوْنَ قَبْلَ الْمَسِيْسِ ځکه چې الله تعالیٰ په خوراک ورکولو دا شرط نه دی لګولی چې هغه [إِطْعَام] به تر وطې کولو مخکې وي إِلَّا أَنَّهُ يُمْنَعُ مِنَ الْمَسِيْسِ قَبْلَهُ لیکن تر خوراک ورکولو مخکې به هغه له وطې کولو ځخه منع کیږي لِأَنَّهُ رُبَّمَا يَقْدِرُ عَلَى الْإِعْتَاقِ أَوِ الصَّوْمِ ځکه کېدای سي چې هغه [مظاهر] پر آزادولو او روژې نیولو قدرت پیدا کړي فَيَقَعَانِ بَعْدَ الْمَسِيْسِ نو دا دواړه [صوم یا إعتاق] به تر وطې کولو وروسته واقع سي وَالْمَنْعُ لِمَعْنًى فِيْ غَيْرِهِ او هغه ممانعت کوم چې د داسې معنیٰ په وجه وي چې هغه [معنیٰ] په غیر [بل شي] کې وي لَا يُعْدِمُ الْمَشْرُوعِيَّةَ فِيْ نَفْسِهِ [هغه ممانعت] داسې مشروعیت نه ختموي کوم چې فی ذاته وي.

اللغات: ﴿قَرُبَ﴾ د واحد مذکر غائب ماضي صیغه ده، له کَرُم او سمع دواړو بابونو ځخه راځي: نږدې کېدل. مراد ځنې وطې او جماع کول دي. ﴿لَمْ يَسْتَأْنِفْ﴾ د استفعال له باب ځخه د جحد صیغه ده. اِسْتَأْنَفَ يَسْتَأْنِفُ اِسْتِيْنَافًا: له نوي سره راګرځول. له شروع ځخه کول. ﴿لَا يُعْدِمُ﴾ د افعال له باب ځخه د نفي صیغه ده. أَعْدَمَ يُعْدِمُ إِعْدَامًا: نیستي کول (معدوم کول). وَرکول. ختمول (د إعدام او پانسي حکم جاري کول).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که مظاهر خاوند یوه مسکین ته خوراک ورکول شروع وکړي. او شپېته ورځې لا پوره سوي نه وي چې مظاهر د خپل هغه ښځې سره وطې وکړي چې له هغې ښځه یې ظهار کړی وي. نو په دغه وطې سره په هغه کفاره کې هیڅ خلل نه راځي او پر خاوند له شروع ځخه خوراک ورکول لازم نه دي: دلیل دا دی چې په قرآن کریم کې د إِطْعَام (خوراک ورکولو) سره د مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا قید او شرط نه دی ذکر سوی. نو ځکه به د إِطْعَام په دوران کې د وطې کولو په وجه استیناف نه لازمیږي.

ها! دا خبره ضروري ده چې د إِطْعَام تر تکمیل او بشپړتیا مخکې به مظاهر له وطې ځخه منع کیږي. ځکه کېدای سي (یعني دا احتمال سته) چې دغه مظاهر د إِطْعَام تر تکمیل مخکې پر صَوْم یا

إِعْتَاق قدرت پیدا کړي او د هغه کفاره به د صوم یا إعتاق وطرف ته نقل سي او د وطي کولو په وجه به صوم یا إعتاق تر وطي وروسته واقع سي، حالانکي په قرآن کي د صوم او إعتاق سره د قَبْلَ أَنْ يَتَمَاسَّا قید ذکر سوی دی (چي دا دواړه به تر وطي مخکي پوره کیږي)، نو ځکه د احتیاطا تقاضا همدا ده چي دغه سړی د إِطْعَام تر تکمیل مخکي له وطي څخه منع کړی سي.

والمنع لمعنى الخ: د دې حاصل دا دی چي تر إِطْعَام مخکي یا د هغه په دوران کي وطي کول ممنوع لغیره دي (یعني د یو بل احتمال په وجه منع دی، کوم چي موږ ذکر کړی)، او إِطْعَام (خوراک ورکول) مشروع لذاته دي، او قاعده دا ده چي ممنوع لغیره د مشروع لذاته منافي نه دی. لهذا د إِطْعَام په دوران کي یا تر إِطْعَام مخکي به وطي کول إِطْعَام نه فاسدوي، او کله چي إِطْعَام نه فاسدوي، نو د وطي کولو په صورت کي به د استیناف ضرورت هم نه وي.

په یوه وخت کي دوو کفارو اداء کول

وَإِذَا أَطْعَمَ عَنْ ظِهَارَيْنِ سِتِّينَ مِسْكِينًا او کله چي [مظاهر] د دوو ظهارونو [له کفارې] څخه شپېتو مسکینانو ته خوراک ورکړي كُلَّ مِسْكِينٍ صَاعًا مِنْ بُرٍّ هر مسکین ته یو صاع د غنمو [ورکړي] لَمْ يُجْزِهِ إِلَّا عَنْ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ * نو د شیخینو په نیز دا فقط د یوه ظهار له طرفه کافي کیږي وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يُجْزِئُهُ عَنْهُمَا او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د دواړو ظهارونو له طرفه کافي کیږي وَإِنْ أَطْعَمَ ذَلِكَ عَنْ إِفْطَارٍ وَظِهَارٍ او که هغه د افطار او ظهار [له کفارې] څخه خوراک ورکړي أَجْزَأَهُ عَنْهُمَا نو [بالاتفاق] د دواړو له طرفه کافي کیږي لَهُ: أَنَّ بِالْمُؤَدَّى وَفَاءً بِهِمَا د امام محمد رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي کوم طعام چي اداء سوی دی هغه کافي دی د دواړو ظهارونو [کفارو] لپاره وَالْمَصْرُوفُ إِلَيْهِ مَحَلٌّ لَهُمَا او پر چا چي طعام خرچ کړی سوی دي [یعني چا ته چي طعام ورکول سوی دی] هغه د دې محل هم دی فَيَقَعُ عَنْهُمَا لهذا دا طعام به د دواړو ظهارونو له طرفه واقع کیږي [اداء کیږي] كَمَا لَوِ اخْتَلَفَ السَّبَبُ أَوْ فَرَّقَ فِي الدَّفْعِ لکه په هغه صورت کي [چي دواړو له طرفه اداء کیږي] کله چي سبب مختلف سي یا [مظاهر] په ورکولو کي تفریق وکړي [یعني یو صاع جلا جلا ورکړي] وَلَهُمَا: أَنَّ

* القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٦٣٢)، وكذا في الهندية (ج:١، ص:٥١٢). [القول الراجح ج:١، ص:٣٥٩]

النِّيَّةَ فِي الْجِنْسِ الْوَاحِدِ لَغْوٌ د شيخينو دليل دا دی: چي په يوه جنس کي نيت لغو دی وَفِي الْجِنْسَيْنِ مُعْتَبَرَةٌ او په دوو جنسونو کي معتبر دی وَإِذَا لَغَتِ النِّيَّةُ او کله چي نيت لغو سو وَالْمُؤَدَّى يَصْلُحُ كَفَّارَةً وَاحِدَةً او اداء کړی سوی طعام [هم فقط] د يوې کفارې جوړېدلو صلاحيت لري لِأَنَّ نِصْفَ الصَّاعِ أَدْنَى الْمَقَادِيرِ ځکه چي نيم صاع ادنیٰ [کم] مقدار دی فَيَمْنَعُ النُّقْصَانَ دُونَ الزِّيَادَةِ نو نقصان ايمني له نصف صاع څخه په کم کي[به منع کيږي نه په زيات کي فَيَقَعُ عَنْهَا لهذا [اداء کړی سوی طعام به فقط] له يوې کفارې څخه واقع کيږي كَمَا إِذَا نَوَى أَصْلَ الْكَفَّارَةِ لکه په هغه صورت کي کله چي [مظاهر] د أصل کفارې نيت کړی وي بِخِلَافِ مَا إِذَا فَرَّقَ فِي الدَّفْعِ په خلاف د هغه صورت کله چي [مظاهر] په ورکولو کي تفريق کړی وي لِأَنَّهُ فِي الدَّفْعَةِ الثَّانِيَةِ فِي حُكْمِ مِسْكِينٍ آخَرَ ځکه چي هغه [مسکين] په دويم وار کي د بل مسکين په درجه کي دی.

اللغات: ﴿مُؤَدَّى﴾ د تفعيل له باب څخه د اسمِ مفعول صيغه ده: اداء کړی سوی (کوم شی چي اداء سوی وي)، ﴿وَفَاء﴾ په پوره توګه اداء کول، ﴿مَصْرُوْف﴾ د ضرب له باب څخه د اسمِ مفعول صيغه ده: پر چا چي خرڅ او مصر سوی وي (مراد ځني هغه مسکين دی چي خوراک ورکول سوی وي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که پر يو سړي دوې د ظهار کفارې واجب وي (يعني يو وار د ظهار کولو په وجه يو کفاره پر واجب سوې وي، او بل وار بيا د ظهار په وجه دويمه کفاره پر واجب سي)، او هغه د طعام (خوراک) په ذريعه کفاره اداء کول شروع کړي، او په شپېتو مسکينانو کي هر مسکين ته يو، يو صاع غنم ورکړي، نو په دې صورت کي د شيخينو په نېز فقط يوه کفاره اداء کيږي، يعني هغه سړی فقط د يوه ظهار له کفارې څخه بري کيږي. لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دا طعام د دواړو ظهارونو لپاره کفاره جوړيږي او هغه سړی بري کيږي. ها! که پر مظاهر يوه د ظهار کفاره وي او بله د إفطار (يعني د قصداً روژې ماتولو) کفاره وي، او هغه شپېتو مسکينانو ته يو، يو صاع غنم ورکړي، نو په دې صورت کي د ټولو په نېز د هغه دواړې کفارې اداء کيږي. لېکن په اول صورت کي د شيخينو په نېز فقط يوه کفاره اداء کيږي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د دواړو ظهارونو کفارې اداء کيږي.

د امام محمد دليل: دا دی چي په يوه کفاره کي د يوه مسکين حصه نيم صاع ده. او کله چي مظاهر هر مسکين ته يو صاع غنم ورکړي، نو ښکاره خبره ده چي دا مقدار به د دواړو کفارو لپاره کافي وي. او بيا چي کومو مسکينانو ته مظاهر غنم ورکوي، هغه د کفارې محل هم دي. لهذا د دواړو ظهارونو کفاره

به اداء کیږي. لکه څرنګه چي په هغه صورت کي هم دواړي کفارې اداء کیږي، کله چي سبب مختلف وي. یعني یوه د ظهار کفاره وي. او بله د إفطار کفاره وي. یا لکه په هغه صورت کي چي هم دوې کفارې اداء کیږي کله چي هغه هر صاع دوه ځایه کړي (یعني هر صاع سره نیم. نیم کړي). او هر مسکین ته یې په متفرقه توګه ورکړي (یعني یو وار نیم صاع ورکړي. او بل وار بل نیم صاع ورکړي). نو څرنګه چي په دې صورتونو کي دوې کفارې اداء کیږي. همداسي به په پورتني صورت کي هم دوې کفارې اداء کیږي.

د شیخینو دلیل: دا دی چي په واحد جنس کي نیت لغو کیږي، ځکه چي نیت خو په مختلفه اجناسو او اشیاؤ کي د امتیاز (او توپیر) لپاره کیږي. او دلته چي کله دواړه د ظهار کفارې دي. نو په هغه کي د دواړو کفارو نیت کول لغو دي. او کله چي نیت لغو دی. نو د طعام (خوراک) اداء کړی سوی مقدار چي څرنګه دلته فقط د یوې کفارې صلاحیت لري، ځکه چي نیم صاع د کفاري ادنیٰ مقدار دی (ځکه چي کفاره ټوله دېرش [۳۰] صاعه کیږي په غنمو کي). لهذا تر هغه کم مقدار خو به مانع د کفارې وي. لېکن تر هغه زیات به مانع د کفارې نه وي. نو ځکه به د یوه. یوه صاع په ورکولو سره هغه سړی فقط د یوه ظهار له کفارې څخه بري کیږي. لېکن که هغه هر مسکین ته په متفرقه توګه یو صاع ورکړي. یعني یو وار نیم صاع ورکړي. او بل وار بیا نیم صاع ورکړي. نو په دې صورت کي دواړې کفارې ځکه اداء کیږي. چي په متفرقه توګه ورکول داسي دي لکه جلا. جلا مسکین ته ورکول. لهذا پر دې قیاس کول صحیح نه دي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَمَنْ وَجَبَتْ عَلَيْهِ كَفَّارَتَا ظِهَارٍ او پر کوم سړي چي د ظهار دوې کفارې واجب سي فَأَعْتَقَ رَقَبَتَيْنِ او دوه غلامه آزاد کړي لَا يَنْوِي عَنْ إِحْدَاهُمَا بِعَيْنِهَا حال دا چي په دې دواړو کي د یوې متعیني کفارې نیت نه و کړي ایعني د غلام آزادولو په وخت کي د اولي کفارې یا دویمي کفارې نیت نه وکړي. بلکي په نیت کي یې هسي یوه کفاره وي ا جَازَ عَنْهُمَا نو ادا کفاره ا د دواړو اظهارونو ا له طرفه جائز ده وَكَذَا إِذَا صَامَ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ أَوْ أَطْعَمَ مِائَةً وَعِشْرِينَ مِسْكِينًا او همدارنګه کله هغه څلور میاشتي روژې ونیسي یا یو سل و شلو ا ۱۲۰ ا مسکینانو ته خوراک ورکړي جَازَ نو اهم ا جائز دي لِأَنَّ الْجِنْسَ مُتَّحِدٌ ځکه چي اد دوی ا جنس سره یو دی فَلَا حَاجَةَ إِلَى نِيَّةٍ مُعَيَّنَةٍ نو ځکه به د یو متعین سوي نیت اکولو ا ضرورت نه وي.

تشريح: مسئله: دا ده چي پر کوم سړي د يوه جنس دوې کفارې واجب وي، که هغه له تعيين څخه بغير دوه غلامان آزاد کړي، يا پرلپسې څلور مياشتي روژې ونيسي، يا ۱۲۰ مسکينانو ته خوراک ورکړي، نو دا سړی له دواړو کفارو څخه بري کيږي؛ ځکه کله چي دواړي کفارې له يوه جنس څخه دي، نو بيا په هغوی کي د نيت او تعيين هيڅ ضرورت نسته، او دوه غلامان، يا څلور مياشتي روژې، يا ۱۲۰ مسکينانو ته خوراک ورکول د يوه جنس د دواړو شيانو لپاره د کفارې جوړېدلو صلاحيت هم لري، نو ځکه به دا سړی په هره توګه سره بري کيږي.

دوې مختلفه کفارې پر يوه ځای اداء کول

وَإِنْ أَعْتَقَ عَنْهُمَا رَقَبَةً وَاحِدَةً أَوْ صَامَ شَهْرَيْنِ او که [مظاهر] د دوو ظهارونو له طرفه يو غلام آزاد کړي يا دوې مياشتي روژې ونيسي كَانَ لَهُ أَنْ يَجْعَلَ ذٰلِكَ عَنْ أَيِّهِمَا شَاءَ نو ده ته به اختيار وي چي دا [کفاره] متعين کړي په دې دواړو کي د هر هغه ظهار لپاره کوم چي د ده خوښه وي وَإِنْ أَعْتَقَ عَنْ ظِهَارٍ وَقَتْلٍ او که هغه د ظهار او قتل [دواړو] له طرفه يو غلام آزاد کړي لَمْ يَجُزْ عَنْ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نو دا به په دې دواړو کي له يوه طرفه هم جائز نه وي وَقَالَ زُفَرُ: لَا يُجْزِيْهِ عَنْ أَحَدِهِمَا فِي الْفَصْلَيْنِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا [کفاره] به په دواړو صورتونو کي له يوه طرفه هم کافي نه وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَهُ أَنْ يَجْعَلَ ذٰلِكَ عَنْ أَحَدِهِمَا فِي الْفَصْلَيْنِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: هغه ته به اختيار وي چي په دواړو صورتونو کي دا [کفاره] د [هسي] يوه لپاره متعين کړي لِأَنَّ الْكَفَّارَاتِ كُلَّهَا بِاعْتِبَارِ اتِّحَادِ الْمَقْصُوْدِ جِنْسٌ وَاحِدٌ ځکه چي ټولي کفارې د مقصود په اعتبار سره يو جنس دی وَجْهُ قَوْلِ زُفَرَ: أَنَّهُ أَعْتَقَ عَنْ كُلِّ ظِهَارٍ نِصْفَ الْعَبْدِ د امام زفر رَحِمَهُ الله د قول دليل دا دی: چي ادلته[مظاهر د هر ظهار له طرفه نصف غلام آزاد کړی دی وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَجْعَلَ عَنْ أَحَدِهِمَا بَعْدَمَا أَعْتَقَ عَنْهُمَا او د دواړو له طرفه تر آزادولو وروسته هغه ته دا حق نسته چي دا [کفاره] د يوه لپاره متعين کړي لِخُرُوْجِ الْأَمْرِ مِنْ يَدِهِ؛ ځکه چي [اوس] معامله [او اختيار] د هغه د لاس څخه وتلی دی وَلَنَا أَنَّ نِيَّةَ التَّعْيِيْنِ فِي الْجِنْسِ الْمُتَّحِدِ غَيْرُ مُفِيْدٍ او زموږ دليل دا دی: چي په متحدُ الجنس [صورت] کي د تعيين نيت کول فايده [او أثر] نه کوي فَتَلْغُو نو ځکه به [په متحدُ الجنس کي] نيت لغو کيږي وَفِي الْجِنْسِ الْمُخْتَلِفِ مُفِيْدَةٌ او په مختلفُ الجنس [صورت] کي [د تعيين نيت کول] فايده [او أثر] کوي وَاخْتِلَافُ الْجِنْسِ فِي الْحُكْمِ

او د جنس مختلف کېدل په حکم کي دي ايعني دلته د جنس اختلاف د حکم په اعتبار سره دی] وَهُوَ الْكَفَّارَةُ هٰهُنَا بِاخْتِلَافِ السَّبَبِ او هغه دلته کفاره ده د سبب مختلف کېدلو په وجه ايعني ځکه چي سبب مختلف دی] نَظِيرُ الْأَوَّلِ: إِذَا صَامَ يَوْمًا فِي قَضَاءِ رَمَضَانَ عَنْ يَوْمَيْنِ د اول [صورت] مثال دا دی: چي کله [يو سړی] د رمضان د دوو قضائي روژو له طرفه يو ورځ روژه ونيسي يُجْزِئُهُ عَنْ قَضَاءِ يَوْمٍ وَاحِدٍ نو دا به د يوې ورځي له قضائي روژې څخه کافي وي وَنَظِيرُ الثَّانِي: إِذَا كَانَ عَلَيْهِ صَوْمُ الْقَضَاءِ وَالنَّذْرِ او د دويم صورت مثال دا دی: چي کله پر يو سړي قضائي روژه او د نذر روژه وي فَإِنَّهُ لَا بُدَّ فِيهِ مِنَ التَّمْيِيزِ نو [په دې صورت کي] تمييز [او تعيين] کول ضروري دي.

اللغات: ﴿نَظِيرٌ﴾ مثال، جمع: نَظَائِر، ﴿صَوْمُ الْقَضَاءِ﴾ قضائي روژه (هغه روژه کوم چي د چا پر ذمه پاته وي).

تشريح: په عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي، او دواړي مختلف فيه دي: (١)... اوله مسئله دا ده که پر يو سړي د دوو ظهارونو دوې کفارې واجب سي، او هغه د دواړو کفارو له طرفه يو غلام آزاد کړي، نو اوس هغه ته اختيار دی که د هري کفارې لپاره دا غلام متعين کوي، د هغه لپاره يې متعين کولای سي. (٢)... دويمه مسئله دا ده که پر هغه يوه د ظهار کفاره واجب وي، او بله د قتل کفاره واجب وي، او هغه له تعيين څخه بغير يو غلام آزاد کړي، نو په دې صورت کي دا غلام د يوې کفارې له طرف څخه هم نه صحيح کيږي، دا حکم زموږ په نېز دی.

امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دواړو مسئلو کي له يوه طرفه هم کفاره نه اداء کيږي، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دواړو مسئلو کي هغه ته د کفارې د متعينولو اختيار سته.

د امام شافعي دليل: دا دی چي ټولي کفارې د مقصد په اعتبار سره متحد دي؛ ځکه چي د ټولو مقصود ستر (پرده پوشي) او د ګناه زائلول دي، او په واحد جنس کي د نيت هيڅ ضرورت نسته، لهذا څرنګه چي په اوله مسئله کي هغه ته د تعيين حق سته، همداسي به په دويمه مسئله کي هغه ته د تعيين حق وي.

د امام زفر دليل: دا دی چي کله هغه د کفارې نيت نه وکړي، او د جرم (ظهار يا قتل) له تعيين څخه بغير کفاره اداء کړي، نو ګواکي دا دواړو جرمونو کفاره سوه، او ګواکي نصف، نصف غلام د هري کفارې په حق کي راغلی، او نصف غلام آزادول معتبر نه دي، نو ځکه به د يوه جرم کفاره هم نه اداء کيږي، او څرنګه چي په يوه وار د دواړو جرمونو له طرفه د کفارې اداء کولو په وجه سره اوس د سړي د لاس څخه معامله او اختيار وتلی دی، نو ځکه به تر دې وروسته هغه ته د تعيين اختيار نه وي.

زموږ دليل: دا دی چې جرم كه چيري متحدُ الجنس وي، نو نيت لغو كيږي. او كه مختلفُ الجنس وي، نو نيت مفيد ګرځي، اوس دلته په اوله مسئله كي جنس متحدُ الجنس دی. يعني دواړې د ظهار كفارې دي، نو ځكه به هلته له بېله تعيينه آزادولو څخه وروسته (يعني له إعتاق بدون التعيين څخه) وروسته هم د تعيين اختيار وي، او څرنګه چې په دويمه مسئله كي جرم مختلفُ الجنس دی. يعني يوه كفاره د ظهار ده او دويمه كفاره د قتل ده. نو ځكه به په دويمه مسئله كي نيت لغو كيږي. او ګواكي يو غلام به د دواړو كفارو له طرف څخه آزاديږي. لېكن څرنګه چې د هري كفارې په حق كي نصف غلام راځي، نو ځكه به د يوې كفارې له طرف څخه هم نه صحيح كيږي: ځكه چي نصف لره هيڅ اعتبار نسته.

واختلاف الجنس في الحكم إلخ: په دې سره د يو مقدر سوال جواب وركوي. سوال دا دی چې كله د قتل او ظهار په دواړو كفارو كي د غلام آزادول (إعْتَاقُ الرَّقبة) موجود سو. نو بيا دا متحدُ الجنس سو. نه مختلفُ الجنس. لهذا څرنګه چې په اوله مسئله كي مظاهر لره د هري كفارې لپاره نيت او تعيين كول صحيح دي، همداسي په دويمه كي هم نيت او تعيين صحيح كېدل پكار دي. حالانكي تاسو په دويمه كي تعيين ممنوع ګرځولی دی! آخر د دې څه وجه ده؟

د دې په جواب كي صاحب د هدايې فرمايي چي دلته د جنس مختلف كېدل حكماً دي (يعني د حكم په اعتبار سره د دواړو جنسونه مختلف دي)، ځكه كه څه هم د دواړو كفاره إعتاق (آزادول) دي. خو د إعتاق د وجوب سبب جلا دی، ځكه چي د يوه په كفاره كي دا سبب ظهار دی او په بله كي قتل دی، او ښكاره خبره ده چي قتل او ظهار دواړه سره جلا دي. لهذا په دويمه مسئله كي د جنس اختلاف حكماً دی، او حكماً اختلاف هم مؤثر او مانع ګرځي.

نظير الأول إلخ: فرمايي چي د متحد الجنس والا د صورت (يعني د اولي مسئلې) مثال دا دی چي كه پر يوه سړي د رمضان د دوو روژو قضاء واجب وي. او هغه له تعيين څخه بغير د يوې روژې قضاء را وګرځوي، نو هغه ته اختيار سته. په دواړو قضائي روژو كي د هري يوې لپاره دا روژه متعين كولای سي، ځكه چي دلته دواړي روژې متحدُ الجنس دي.

د مختلفُ الجنس مثال دا دی چي كه د يو چا پر ذمه يوه د رمضان قضائي روژه وي. او بله د نذر روژه وي، نو كه هغه له تعيين څخه بغير د يوې روژې قضاء راوګرځوي، نو له هيڅ طرف څخه هم روژه نه اداء كيږي. ځكه چي په مختلفُ الجنس شيانو كي د توپير او امتياز پيدا كولو لپاره نيت ضروري دی. او دلته هغه سړي نيت نه دی كړی. فقط والله أعلم وعلمهُ أتم

بَابُ اللِّعَانِ

(دا) باب دلعان (د احکامو په بیان کي) دی

تشریح: تر ظهار وروسته دلعان بیانولو وجه دا ده چي دلعان په نسبت ظهار إباحت (روایښت) ته زیات نژدې دی، دویمه خبره دا ده چي که دلعان نسبت دغیرِ منکوحه ښځي وطرف ته وکړی سي. نو حد قذف واجبیږي. او د حد واجبیدل خالص معصیت دی چي په هغه کي یوه ذره إباحت هم نه پیاتیږي. لیکن په ظهار کي حتماً دإباحت شائبه او شبهه پیاتیږي. نو په دې وجه لعان تر ظهار وروسته بیان سوی دی. (عنایه او بنایه)

د لعان لغوي او اصطلاحي معنیٰ: لعان د مفاعلې د باب مصدر دی. لغوي معنیٰ یې ده: لعنت کول. له رحمت څخه لیري کول. شړل.

او د لعان شرعي معنیٰ ده: شَهَادَاتٌ تَجْرِیْ بَیْنَ الزَّوْجَیْنِ مَقْرُوْنَةٌ بِاللَّعنِ وَالْغَضَبِ (یعني دلعنت او غضب سره متصل هغه څلورو شهادتونه [ګواهیاني] کوم چي د ښځي او خاوند په مینځ کي جاري کیږي). مطلب دا چي کله خاوند پر خپله ښځه د زنا تور ولګوي، او هیڅ ګواه نه لري. نو په دې صورت کي به ښځه له خاوند څخه د څلورو قسمونو مطالبه کوي. او همدې ته لعان وایي (چي پوره تفصیل به یې په عبارت کي ذکر سي).

د لعان رکن، سبب او شرط: دلعان رکن هغه شهادت دی کوم چي په قسم سره مؤکد وي. او دلعان سبب دا دی چي خاوند پر خپله ښځه داسي تور (تهمت) ولګوي چي هغه د قذف موجب وي. دلعان شرط د نکاح قیام او بقاء ده.

د لعان حکم: تر لعان وروسته وطي او له ښځي څخه نفع اخیستل (اِسْتِمَاعِ مِنَ الْمَرْأَةِ) حرامیږي. (بنایه ج:۵، ص:۳۶۳، بیروت)

د لعان حقیقت او حیثیت

قَالَ: إِذَا قَذَفَ الرَّجُلُ اِمْرَأَتَهُ بِالزِّنَا فرمایي: کله چي خاوند پر خپلي ښځي د زنا تهمت [تور] ولګوي وَهُمَا مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِ او دوی دواړه د شهادت [ګواهی] أهل وي وَالْمَرْأَةُ مِمَّنْ يُحَدُّ قَاذِفُهَا او ښځه داسي وي چي د هغې پر تهمت لګونکي حد لګېدای سي؛ ایمني ښځه عاقله، بالغه، آزاده، محصنه او پاک لمنې

وي چې مخکې هیڅکله د زنا تور پر لګېدلی نه وي أَوْ نَفَى نَسَبَ وَلَدِهَا يا [خاوند] د خپلې ښځې د بچي د نسب نفي وکړي وَطَالَبَتْهُ بِمُوجِبِ الْقَذْفِ او [بیا] ښځه له هغه شخصه د قذف د واجبونکي [لعان] مطالبه وکړي فَعَلَيْهِ اللِّعَانُ نو پر هغه لعان کول واجب دي وَالْأَصْلُ: أَنَّ اللِّعَانَ عِنْدَنَا شَهَادَاتٌ مُؤَكَّدَاتٌ بِالْأَيْمَانِ مَقْرُونَةٌ بِاللَّعْنِ او أصل دا دی: چې زموږ په نیز لعان هغه شهادتونه [ګواهیانې] دي کوم چې په قسم سره مؤکد وي [او] د لعنت سره متصل وي قَائِمَةٌ مَقَامَ حَدِّ الْقَذْفِ فِي حَقِّهِ وَمَقَامَ حَدِّ الزِّنَا فِي حَقِّهَا او [چې هغه شهادتونه] د خاوند په حق کې د حدّ قذف قائم مقام وي او د ښځې په حق کې د حدّ زنا قائم مقام وي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ [النور: ۶] ځکه چې الله تعالیٰ فرمایلي دي: او چې د هغو لعان کونکو سره ګواهان نه وي ماسوا له خپلو ځانو شخصه وَالِاسْتِثْنَاءُ إِنَّمَا يَكُونُ مِنَ الْجِنْسِ او استثناء فقط له جنس شخصه کیږي وَقَالَ اللهُ تَعَالَى: فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللهِ [النور: ۶] الله تعالیٰ فرمایلي دي: نو په هغو [لعان کونکو] کې د یوه [لعان کونکي] شهادت څلور شهادتونه دي د الله په قسم سره نَصَّ عَلَى الشَّهَادَةِ وَالْيَمِينِ الله تعالیٰ د شهادت او قسم دواړو صراحت کړی دی فَقُلْنَا: الرُّكْنُ هُوَ الشَّهَادَةُ الْمُؤَكَّدَةُ بِالْيَمِينِ نو ځکه موږ وایو: چې [د لعان] رکن داسې شهادت دی کوم چې په قسم سره مؤکد وي ثُمَّ قَرَنَ الرُّكْنَ فِي جَانِبِهِ بِاللَّعْنِ لَوْ كَانَ كَاذِبًا بیا الله د خاوند په طرف کې رکن [شهادت] د لعن سره متصل کړی دی که چیرې هغه دروغجن وي وَهُوَ قَائِمٌ مَقَامَ حَدِّ الْقَذْفِ او دا د خاوند په حق کې د حدّ قذف قائم مقام دی وَفِي جَانِبِهَا بِالْغَضَبِ او [الله تعالیٰ رکن] د ښځې په طرف کې د غضب سره [متصل کړی دی] وَهُوَ قَائِمٌ مَقَامَ حَدِّ الزِّنَا او هغه د حدّ زنا قائم مقام دی. إِذَا ثَبَتَ هٰذَا نَقُولُ: لَا بُدَّ أَنْ يَكُونَا مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِ کله چې دا ثابته سوه نو موږ وایو: چې ضروري دي دا چې ښځه او خاوند به دواړه د شهادت أهل وي لِأَنَّ الرُّكْنَ فِيهِ الشَّهَادَةُ ځکه چې رکن په لعان کې شهادت دی وَلَا بُدَّ أَنْ تَكُونَ هِيَ مِمَّنْ يُحَدُّ قَاذِفُهَا او دا [هم] ضروري دي چې ښځه به داسې وي چې پر تهمت لګونکي یې حد لګېدای سي لِأَنَّهُ قَائِمٌ فِي حَقِّهِ مَقَامَ حَدِّ الْقَذْفِ ځکه چې لعان د خاوند په حق کې د حدّ قذف قائم مقام دی فَلَا بُدَّ مِنْ إِحْصَانِهَا لهذا د ښځې محصنه کېدل [سپېڅلتوب] ضروري دی وَيَجِبُ بِنَفْيِ الْوَلَدِ او د بچي [د نسب] په نفي کولو سره هم [لعان]

واجبيږي لِأَنَّهُ لَمَّا نَفَى وَلَدَهَا ځکه کله چي خاوند د ښځي د بچي [د نسب] نفي وکړي صَارَ قَاذِفًا لَهَا ظَاهِرًا نو په ظاهري توګه هغه پر ښځي تهمت لګونکی سو وَلَا يُعْتَبَرُ احْتِمَالُ أَنْ يَكُونَ الْوَلَدُ مِنْ غَيْرِهِ بِالْوَطْءِ مِنْ شُبْهَةٍ او د دې احتمال به هيڅ اعتبار نه وي چي [کېدای سي] هغه کوچنی به د وطي بالشبهه په وجه له خاوند څخه بغير [د بل چا] وي كَمَا إِذَا نَفَى أَجْنَبِيٌّ نَسَبَهُ عَنْ أَبِيهِ الْمَعْرُوفِ لکه کله چي يو پردی سړی د کوچني د نسب نفي وکړي د هغه د معلوم پلار څخه وَهٰذَا لِأَنَّ الْأَصْلَ فِي النَّسَبِ الْفِرَاشُ الصَّحِيحُ او دا ځکه چي اصل په نسب کي صحيح فراش دی وَالْفَاسِدُ مُلْحَقٌ بِهِ او فاسد فراش د صحيح فراش سره ملحق دی فَنَفْيُهُ عَنِ الْفِرَاشِ الصَّحِيحِ قَذْفٌ نو له صحيح فراش څخه د خاوند نفي [او انکار] کول تهمت دی حَتَّى يَظْهَرَ الْمُلْحَقُ بِهِ تر دې چي ښکاره سي هغه کوم چي د صحيح فراش سره ملحق دی وَيُشْتَرَطُ طَلَبُهَا او د ښځي مطالبه کول شرط دي لِأَنَّهُ حَقُّهَا ځکه چي مطالبه کول د هغې حق دی فَلَا بُدَّ مِنْ طَلَبِهَا نو [ځکه] د هغې مطالبه کول ضروري دي كَسَائِرِ الْحُقُوقِ لکه نور حقونه [يعني لکه په نورو حقونو کي چي همدا شرط دی].

اللغات: ﴿قَذَف﴾ د ضرب مصدر دی: پر يو چا تهمت (تومت) لګول، تور لګول، تور تړل. ﴿يُحَدّ﴾ د نصر له باب څخه د واحد مذکر غائب مضارع مجهولي صيغه ده: حد جاري کول (سزا ورکول)، حد تاکل. ﴿قَاذِف﴾ د ضرب اسم فاعل دی: تهمت لګونکی، تومتګر. ﴿إِحْصَان﴾ د افعال مصدر دی: د ښځي پاک لمنه کېدل، پاک لمني، سپېڅلتوب، له ګناه او کونيتوب څخه ځان ساتل (واده والا کېدل). ﴿الفِرَاش الصَّحِيْح﴾ کله چي خاوند په صحيح نکاح کي د ښځي سره وطي کړي وي او له هغې څخه بچی پيدا سوي وي، نو دې ته الفراش الصحيح وايي (او داسي بچي ته "له صحيح فراش څخه پيدا سوی کوچنی" وايي). ﴿الفِرَاش الفَاسِد﴾ او که په فاسده نکاح کي دوطي په وجه بچی پيدا سوی وي، يا د وطي بالشبهه په وجه بچی پيدا سوي وي، نو دې ته الفراش الفاسد وايي.

تشريح: په دې اوړده عبارت کي د لعان حقيقت او د هغه حيثيت څرګند سوی دی. تفصيل يې دا دی چي کله يو سړی پر خپلي ښځي د زنا تهمت ولګوي، يا د خپلي ښځي د بچي له نسب څخه انکار وکړي چي دا زما بچی نه دی بلکي د بل چا بچی دی. او خاوند او ښځه دواړه د شهادت (ګواهۍ) أهل

وي، يعني غلام او مينځه نه وي همدارنګه له فسق او فجور څخه پاک وي او ښځه پاک لمنه وي او د هغې پېره هيڅ مجهولَ النسب يا ولدُ الزنا (ارمونی) نه وي، او هغه د خپل خاوند څخه د لعان مطالبه کوي، نو پر خاوند لعان کول يعني په څلورو قسمونو سره د خپل برائت إظهار کول واجب او ضروري دي، همدارنګه پر ښځي هم قسم کول واجب دي.

صاحب د هدايې فرمايي چي د لعان په باب کي اصل دا دی چي زموږ په نيز د لعان شهادتونه د الله په قسم سره مؤکد دي، او دا شهادتونه د "لعان" د لفظ سره متصل دي، او لعان د خاوند په حق کي د حدِ قذف قائم مقام دی، ځکه د جاهليت په زمانه کي د قذف (تهمت لګولو) حدّ او سزا حدّ قذف وو.

او دا حکم د اسلام په شروع کي هم باقي وو، لکه څرنګه چي په قرآن کي ذکر سوي دي: "وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ". (يعني کوم خلک چي پر پاک لمنو (صفا) ښځو د زنا تهمت ولګوي، لېکن بيا څلور ګواهان پېش نه کړي، نو هغو ته اتيا (۸۰) دُرې سزا ورکړئ!، او د آينده لپاره د هغو ګواهي مه قبلوئ! او همدا خلک فاسقان دي). دا حکم تر ډېرو ورځو پاته وو، لېکن وروسته د لعان آيتونه نازل سول، او هغه حکم منسوخ سو، او لعان د حدّ قذف قائم مقام کړی سو، د لعان آيتونه دا دي: "وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ○ وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَةَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ○ وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ ○ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ" (يعني کوم خلک چي پر خپلو ښځو د زنا تهمت ولګوي، او د هغو سره تر خپلو ځانو علاوه بل هيڅوک ګواه نه وي، نو په هغو کي د يوه ګواهي همدا ده چي څلور واره د الله قسم وکړي چي زه ريښتونی يم او په پنځم وار کي دا ووايي چي پر ما دي د خدای لعنت وي که زه دروغجن يم، تر دې وروسته له ښځي څخه په دې توګه سزا ليري کېدای سي چي هغه څلور قسمه وکړي چي زما خاوند دروغجن دی او په پنځم وار کي ووايي چي پر ما دي د خدای غضب وي که هغه (زما خاوند) ريښتونی وي).

صاحب د بنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي په دې آيت سره زموږ استدلال په دې توګه دی چي الله د "شُهَدَاء" د لفظ څخه د "أَزْوَاج" (خاوندانو) استثناء کړې ده، او په استثناء کي اصل دا دی چي مستثنیٰ به د مستثنیٰ منه له جنس څخه وي، لهذا زَوج به له شُهَدَاء څخه وي، يعني هغه به هم شاهد (ګواه) وي، او له شهادت څخه بغير د شاهد (ګواه) تحقق کېدای نه سي، او څرنګه چي په دې مسئله

کي د لعان د حکايت بيانولو ته (او د لعان خبرو ته) شهادت وايي. لهذا لعان به د شهات سره متصل وي. او شهادت به د الله په قسم سره مؤکد وي.

ثم قرن إلخ: فرمايي چي د خاوند او ښځي په شهادت کي فرق دا دی چي د خاوند په حق کي د لعان رکن (يعني شهادت) د لعان د لفظ (لعنت) سره متصل سوی دی په دې شرط چي کله خاوند په خپل قسم کي درواغجن وي (يعني أَنَّ لَعْنَةَ اللّٰهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِيْنَ). او لعان د خاوند په حق کي د حدِ قذف قائم مقام دی. د دې په خلاف د ښځي په حق کي د لعان رکن (يعني شهادت) د غضب سره متصل سوی دی (يعني أَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِيْنَ). او د ښځي په حق کي لعان د حدِ زنا قائم مقام دی.

إذا ثبت هذا إلخ: فرمايي چي کله تاسي ته د لعان حقيقت او حيثيت معلوم سو نو دا په ياد لرئ! چي د خاوند او ښځي لپاره د شهادت أهل کېدل ځکه شرط او ضروري دي چي شهادت د لعان رکن دی. او څرنګه چي د خاوند په حق کي لعان د حدِ قذف قائم مقام دی. نو ځکه د ښځي د محصنه کېدلو (پاک لمنوالي) شرط لګول سوی دی.

ويجب بنفي إلخ: فرمايي چي د بچي د نسب په نفي او انکار کولو سره هم لعان واجبيږي. ځکه چي د بچي د نسب نفي کول په حقيقت کي د هغه پر مور تهمت لګول دي. او لعان د همدغه تهمت لګولو په وجه واجبيږي، نو ځکه به د بچي د نسب په نفي سره هم لعان واجبيږي. لکه يو أجنبي (پردی) سړی چي کله د يو معلوم پلار شخه د يو کوچني د نسب نفي وکړي. نو هغه سړی هم د دې کوچني پر مور تهمت لګونکی دی. او پر هغه به هم لعان واجب وي.

ولا يعتبر إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چي که خاوند د خپلي ښځي د زوی نفي وکړي. نو په دې سره لعان واجبېدل پکار نه دي. ځکه ممکنه ده (دا احتمال سته) چي دا کوچنی د هغې بچی نه وي او هغه دي زناکاره هم نه وي. په دې توګه چي د هغې سره به وطي بالشبهه سوي وي. او د هغه وطي په سبب به دا کوچنی پيدا سوی وي. د دې په جواب کي فرمايي چي د دې احتمال او شبهي هيڅ اعتبار نسته. ځکه پر دې خبره اجماع سوې ده چي که يو أجنبي سړی له معلوم پلار شخه د يو کوچني د نسب نفي وکړي. نو په دې سره أجنبي سړی قاذف (تهمت لګونکی) شمارل کيږي. او لعان واجبيږي. همداسي به دلته هم خاوند قاذف وي. او لعان به هم واجب وي.

او د دې حکم دليل دا دی چي د نسب په سلسله کي د فراش صحيح کېدل اصل دي. او فاسد فراش د هغه صحيح فراش فرع ده. لهذا تر څو چي په يقيني توګه د فراش د فاسد کېدلو علم نه وي. تر

هغه وخته به صحيح فراش نفي که ل (يعني تر هغه وخته به د خپلې ښځې د بچي نسب نفي کول) تهمت شمارل کيږي.

ويشترط طلبها الخ: فرمايي چې د لعان د وجوب لپاره دا شرط او ضروري دي چې ښځه به د لعان مطالبه کوي (او د ښځې له مطالبې څخه بغير لعان نه واجبيږي)، ځکه چې لعان د هغې حق دی. او ښکاره خبره ده چې له مطالبې څخه بغير ځا ته حق نه ورکول کيږي. فقط والله أعلم

له تهمت لګولو څخه وروسته د لعان څخه د خاوند د انکار کولو حکم

فَإِنِ امْتَنَعَ مِنْهُ او که [خاوند] د لعان کولو څخه منع سي [انکار وکړي] **حَبَسَهُ الْحَاكِمُ** نو حاکم [واکمن] دې هغه قيد کړي **حَتّٰى يُلَاعِنَ أَوْ يُكَذِّبَ نَفْسَهُ** تر دې چې لعان وکړي يا خپل ځان درواغجن کړي [يعني ووايي: چې ما درواغ ويلي دي، ښځه زناکاره نه ده] **لِأَنَّهُ حَقٌّ مُسْتَحَقٌّ عَلَيْهِ** ځکه چې دا پر خاوند يو واجب سوی حق دی **وَهُوَ قَادِرٌ عَلٰى إِيْفَائِهِ** او خاوند د هغه [حق] پر پوره کولو قادر [هم] دی **فَيُحْبَسُ بِهِ حَتّٰى يَأْتِيَ بِمَا هُوَ عَلَيْهِ أَوْ يُكَذِّبَ نَفْسَهُ** نو ځکه به د هغه په بدله کې قيد کيږي تر دې چې هغه حق اداء کړي کوم چې پر ده واجب دی [يعني لعان کول] يا خپل ځان درواغجن کړي **لِيَرْتَفِعَ السَّبَبُ** د دې لپاره چې سبب پورته سي **وَلَوْ لَاعَنَ** او که چيري [خاوند] لعان وکړي **وَجَبَ عَلَيْهَا اللِّعَانُ** نو [بيا] به پر ښځې [هم] لعان کول واجب وي **لِمَا تَلَوْنَا مِنَ النَّصِّ** د هغه آيت په وجه کوم چې موږ تلاوت کړی **إِلَّا أَنَّهُ يُبْتَدَأُ بِالزَّوْجِ** خو [د لعان] شروع به له خاوند څخه کيږي **لِأَنَّهُ هُوَ الْمُدَّعِيْ** ځکه چې همدا خاوند [د لعان] دعوه کونکي دی [ځکه چې د هغه د تهمت لګولو په وجه لعان کيږي].

اللغات: ﴿إِمْتَنَعَ﴾ د افتعال ماضي ده: منع کېدل (انکار کول). ځان د بو شي څخه ساتل. ﴿حَبِسَهُ﴾ د سمع ماضي ده: قيدول. بندي کول. مجرم بندي خانې ته اچول. ﴿إِيْفَاء﴾ پوره کول (اداء کول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله خاوند پر خپلې ښځې د زنا تهمت ولګوي. او بيا ښځه د لعان مطالبه وکړي. نو پر خاوند لعان کول واجب دي. لېکن که خاوند د لعان کولو څخه منع سي او انکار وکړي. نو د وخت حاکم به هغه قيدوي (او بندي خانې ته به يې اچوي). تر دې چې هغه لعان وکړي. يا خپل ځان درواغجن ثابت کړي: دليل دا دی چې د تهمت لګولو په وجه پر خاوند دا حق يعني لعان کول واجب دي. او خاوند د دې حق د پوره کولو قدرت هم لري. لهذا اوس د خاوند د خلاصون لپاره فقط دوې لارې دي، يا به هغه لعان کوي. يا به خپل ځان درواغجن بولي. د دې لپاره

چې د لعان سبب (یعني په خپل مینځ کې د ښځې او خاوند یوه او بل ته درواغجن ویل) ختم سي او پر خاوند حدّ قذف جاري سي.

او که چیرې خاوند لعان وکړي، نو بیا به ښځې ته هم د لعان کولو حکم کیږي، ځکه چې په دې آیت "وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ...إلخ" کې د ښځې لپاره هم د لعان حکم سوی دی. خو د لعان شروع او ابتداء به ځکه له خاوند څخه کیږي چې اول هغه تهمت لګولی دی او هغه د لعان دروازه خلاصه کړې ده. لهذا هغه مدعي سو، نو ځکه به اول هغه لعان کوي. او د هغه تر لعان وروسته به پر ښځې لعان کول واجب وي.

د لعان څخه د ښځې د انکار کولو حکم

> **فَإِنِ امْتَنَعَتْ** او که چیرې ښځه [د لعان کولو څخه] منع سي **حَبَسَهَا الْحَاكِمُ** نو حاکم دې هغه قید کړي **حَتَّى تُلَاعِنَ أَوْ تُصَدِّقَهُ** تر دې چې هغه لعان وکړي یا د خاوند تصدیق وکړي [چې زما خاوند رښتیا وایي، ما زنا کړې ده] لِأَنَّهُ حَقٌّ مُسْتَحَقٌّ عَلَيْهَا ځکه چې [د خاوند تر لعان کولو وروسته] لعان پر هغې واجب سوی حق دی وَهِيَ قَادِرَةٌ عَلَى إِيفَائِهِ او ښځه د هغه [حق] پر پوره کولو قدرت [هم] لري فَتُحْبَسُ فِيهِ نو ځکه به د هغه [حق] په بدله کې قید کیږي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که چیرې ښځه د لعان کولو څخه انکار وکړي، نو د خاوند په څیر به ښځه هم قیدي کیږي، تر دې چې هغه لعان وکړي، یا د خپل خاوند تصدیق وکړي: دلیل دا دی چې د خاوند تر لعان کولو وروسته پر ښځې هم دا حق یعني لعان کول واجب دي. او څرنګه چې ښځه د دې حق د پوره کولو قدرت هم لري، نو ځکه به د انکار په صورت کې ښځه هم قیدي کیږي.

کله چې خاوند د شهادت أهل نه وي

> **وَإِذَا كَانَ الزَّوْجُ عَبْدًا أَوْ كَافِرًا أَوْ مَحْدُودًا فِي قَذْفٍ** او کله چې خاوند غلام وي یا کافر وي یا د تهمت لګولو په وجه حد پر جاري سوی وی **فَقَذَفَ امْرَأَتَهُ** او [بیا] هغه پر خپلې ښځې تهمت ولګوي **فَعَلَيْهِ الْحَدُّ** نو پر هغه حد واجب دی لِأَنَّهُ تَعَذَّرَ اللِّعَانُ لِمَعْنًى مِنْ جِهَتِهِ ځکه چې د خاوند له طرفه د یو معنیٰ په وجه لعان متعذر سوی دی فَيُصَارُ إِلَى الْمُوجِبِ الْأَصْلِيِّ نو ځکه به د اصلي موجب و طرف ته رجوع کیږي وَهُوَ الثَّابِتُ بِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ [النور: ۴] او هغه د الله تعالیٰ په دې فرمان: وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنٰتِ سره ثابت دی وَاللِّعَانُ خَلَفٌ عَنْهُ او لعان د هغه خلیفه انائب ادی.

اللغات: ﴿يَرْمُوْنَ﴾ د ضرب له باب څخه د جمع مذكر غائب مضارع صيغه ده: إلزام لګول. تهمت لګول. ﴿مُحْصَنٰت﴾ د افعال له باب څخه د جمع مؤنث اسم مفعول صيغه ده: پاک لمني ښځې. ﴿خَلَف﴾ خليفه، نائب، بدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله خاوند پر خپلې ښځې د زنا تهمت ولګوي. او خاوند د شهادت (ګواهۍ) أهل نه وي. مثلاً غلام وي يا کافر وي يا مخکې هم د تهمت لګولو په وجه حدّ قذف پر جاري سوی وي، نو په دې صورت کې به هغه ته د لعان حکم نه کيږي. بلکې پر هغه به حدّ جاري کيږي: دليل دا دی چې دلته نقص د خاوند له طرفه دی (يعني هغه د خپل غلامتوب يا کفر يا محدود في القذف کېدلو په وجه د شهادت أهل نه دی). لهذا د لعان حکم ور ته کول متعذر او ناممکن سو، نو ځکه به د قذف (تهمت لګولو) د اصلي موجب و طرف ته رجوع کيږي. چې هغه حدّ قذف دی، ځکه چې د قذف همدا سزا ده. او دغه سزا د قرآن کريم په دې آيت سره ثابته ده: " وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا ". او څرنګه چې لعان د دغه اصل (يعني د حد قذف) نائب او خليفه دی. نو په دې وجه به د نائب د ناممکنوالي په صورت کې د أصل (حد قذف) حکم بيرته راګرځي. او حدّ قذف به جاري کيږي.

کله چې ښځه د شهادت أهل نه وي

وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِ او که [خاوند] د شهادت أهل وي وَهِيَ أَمَةٌ أَوْ كَافِرَةٌ أَوْ مَحْدُودَةٌ فِي قَذْفٍ الېکن [د هغه ښځه مينځه وي يا کافره وي يا د تهمت لګولو په وجه حد پر جاري سوی وي أَوْ كَانَتْ مِمَّنْ لَا يُحَدُّ قَاذِفُهَا يا له داسې ښځو څخه وي چې د هغو پر تهمت لګونکي حد نه جاري کيږي بِأَنْ كَانَتْ صَبِيَّةً أَوْ مَجْنُونَةً أَوْ زَانِيَةً په دې توګه چې کوچنۍ نجلۍ [نابالغه] وي يا لېونۍ وي يا زناکاره وي فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ وَلَا لِعَانَ نو [په دې ټولو صورتونو کې] پر خاوند نه حد واجب دی او نه لعان لِانْعِدَامِ أَهْلِيَّةِ الشَّهَادَةِ ځکه چې [د هغه په ښځې کې] د شهادت اهليت نسته وَهُوَ عَدَمُ الْإِحْصَانِ فِي جَانِبِهَا او هغه د ښځې په طرف کې د پاک لمنه کېدلو [سپېڅلتوب] نشتوالی دی وَامْتِنَاعُ اللِّعَانِ لِمَعْنًى مِنْ جِهَتِهَا او د لعان ممانعت د يو داسې سبب په وجه دی کوم چې د ښځې له طرفه [ثابت سوی] دی فَيَسْقُطُ

الْحَدُّ نو ځکه به [له خاوند څخه] حد ساقطیږي كَمَا إِذَا صَدَّقَتْهُ لکه په هغه صورت کې [چې حد ساقطیږي] کله چې ښځه د خاوند تصديق وکړي وَالْأَصْلُ فِي ذٰلِكَ قَوْلُهُ ﷺ [1]: أَرْبَعَةٌ لَا لِعَانَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ أَزْوَاجِهِمْ او په دې باره کې د نبي ﷺ دا فرمان أصل دی: چې څلور [خاوندان] داسي دي چې د هغو او د هغوی د خپلو ښځو په مینځ کې لعان نسته ایعني څلور صورتونه داسي دي چې په هغوی کې د خاوند او ښځي تر مینځ لعان جاري کېدای نه سي[اَلْيَهُودِيَّةُ وَالنَّصْرَانِيَّةُ تَحْتَ الْمُسْلِمِ وَالْمَمْلُوكَةُ تَحْتَ الْحُرِّ وَالْحُرَّةُ تَحْتَ الْمَمْلُوكِ [او هغه دا دي] ①،② هغه يهودي او نصراني ښځه کوم چې د يو مسلمان په نكاح کې وي. ③ هغه مینځه کوم چې د آزاد سړي په نكاح کې وي. ④ هغه آزاده ښځه کوم چې د غلام په نكاح کې وي وَلَوْ كَانَا مَحْدُودَيْنِ فِي قَذْفٍ او که خاوند او ښځه دواړه محدود فی القذف وي فَعَلَيْهِ الْحَدُّ نو پر خاوند به حد واجب وي.

اللغات: ﴿إِحْصَان﴾ د افعال مصدر دی: د ښځي پاک لمنه کېدل. پاک لمني، سپېڅلتوب. له ګناه او کونيتوب څخه ځان ساتل. ﴿صَدَّقَتْهُ﴾ د تفعيل له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي معلومي صيغه ده: تصديق کول. رښتوني ګڼل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيري خاوند د شهادت أهل وي. لېکن د هغه ښځه د شهادت أهليت نه لري، په دې توګه چې هغه مینځه وي. يا كافره وي. يا د تهمت لګولو په وجه مخکې حد قذف پر جاري سوی وي. يا هغه کوچنۍ نجلۍ وي. يا لېونۍ وي. يا زانيه وي. نو په دې ټولو صورتونو كه به نه د هغې پر خاوند حد جاري کیږي. او نه به لعان ثابتیږي. لعان خو به ځکه نه ثابتیږي، چې ښځه د شهادت أهل او لائق نه ده. حالانکې د لعان لپاره د خاوند او ښځي دواړو د شهادت أهل کېدل ضروري دي. او حد به ځکه نه جاري کیږي، چې د هغه ښځه محصنه او پاک لمنې نه ده.

وامتناع اللعان إلخ: فرمايي څرنګه چې دلته ښځه د شهادت أهل نه ده. او بيا هغه محصنه هم نه ده. نو په دې وجه د لعان منع کېدلو سبب په خپله د هغې له طرفه متحقق سوی دی. لهذا هغه به د خاوند له ذمې څخه حدّ ساقطوي.

والأصل إلخ: فرمايي چې د لعان د وجوب او عدمِ وجوب په سلسله کې د نبي كريم ﷺ دا حديث أصل دی چې: "څلور جوړې (ښځه او خاوند) داسي دي چې د هغو په مینځ کې لعان نه جاري کیږي: ① چې خاوند مسلمان وي. لېکن ښځه يهوديه وي. ② خاوند مسلمان وي. لېکن ښځه نصرانيه وي. ③ خاوند آزاد وي. لېکن ښځه مینځه وي. ④ خاوند غلام وي او ښځه آزاده وي.

---

[1] تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الطلاق، باب اللعان، حديث رقم: ۲۰۷۱.

د دې په خلاف که ښځه او خاوند دواړه محدود في القذف وي، او بيا خاوند پر ښځه د زنا تهمت ولګوي. نو په دې صورت کې به پر خاوند حدِّ قذف واجب وي؛ ځکه چې د محدود في القذف کېدلو په وجه خاوند د شهادت أهل نه دی، او څرنګه چې د لعان شروع د خاوند له طرفه کيږي، نو ځکه به د هغه په حق کې عدمِ أهليت د لعان د منع کېدلو سبب ګرځول کيږي (يعني دا حکم به کيږي چې لعان د خاوند د ناأهل کېدلو په وجه منع سوی دی. يعني د لعان د ممانعت سبب په خپله خاوند دی. نو ځکه به پر هغه حد جاري کيږي)، او ښځه که څه هم د محدود في القذف کېدلو په وجه د شهادت أهل نه ده او د لعان د ممانعت سبب ده، خو څرنګه چې شروع د خاوند له طرفه کيږي، نو ځکه به د لعان په ثبوت او واقع کېدلو کې تر ټولو مخکې د خاوند أهليت ته کتل کيږي. (عنايه)

د لعان طريقه

وَصِفَةُ اللِّعَانِ: أَنْ يَبْتَدِئَ الْقَاضِي بِالزَّوْجِ او د لعان طريقه دا ده: چې قاضي به په خاوند شروع وکړي فَيَشْهَدُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ يَقُولُ فِي كُلِّ مَرَّةٍ نو خاوند به څلور واره ګواهي ورکړي او په هر وار کې به ووايي أَشْهَدُ بِاللهِ إِنِّي لَمِنَ الصَّادِقِينَ فِيمَا رَمَيْتُهَا بِهِ مِنَ الزِّنَا زه د الله په قسم سره ګواهي ورکوم ايا زه الله ګواه جوړوم] چې زه رښتونی يم په هغه باره کې کوم چې ما پر ښځې د زنا تهمت لګولی دی [يعني زه رښتونی يم په هغه د زنا په تهمت کې کوم چې ما پر ښځې لګولی دی] وَيَقُولُ فِي الْخَامِسَةِ: لَعْنَةُ اللهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ فِيمَا رَمَاهَا بِهِ مِنَ الزِّنَا او په پنځم وار کې به ووايي: د الله لعنت دې وي پر ما که چېرې زه دروغجن يم په هغه د زنا په تهمت کې کوم چې ما پر ښځې لګولی دی يُشِيرُ إِلَيْهَا فِي جَمِيعِ ذٰلِكَ [او په هر وار کې به د ښځې و طرف ته اشاره کوي ثُمَّ تَشْهَدُ الْمَرْأَةُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ تَقُولُ فِي كُلِّ مَرَّةٍ بيا به ښځه څلور واره ګواهي ورکړي او په هر وار کې به ووايي أَشْهَدُ بِاللهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ فِيمَا رَمَانِي بِهِ مِنَ الزِّنَا زه د الله په قسم سره ګواهي ورکوم چې دغه سړی [زما خاوند] دروغجن دی په هغه تهمت د زنا کې کوم چې يې پر ما لګولی دی وَتَقُولُ فِي الْخَامِسَةِ: غَضَبُ اللهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ فِيمَا رَمَانِي بِهِ مِنَ الزِّنَا او په پنځم وار کې به ووايي: پر ما دې الله غضب وکړي که چېرې هغه [زما خاوند] رښتونی وي په هغه تهمت د زنا کې کوم چې يې پر ما لګولی دی وَالْأَصْلُ فِيهِ مَا تَلَوْنَاهُ مِنَ النَّصِّ او دليل په دې سلسله کې هغه آيت دی کوم چې موږ تلاوت کړی وَرَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ يَأْتِي بِلَفْظَةِ الْمُوَاجَهَةِ او حسن بن زياد له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت کړی دی چې خاوند به د خطاب لفظ ا د مخاطب

صيغه [استعمالوي يَقُولُ: فِيمَا رَمَيْتُكِ بِهٖ مِنَ الزِّنَا [او] داسي به وايي: فِيمَا رَمَيْتُكِ بِهٖ مِنَ الزِّنَا [په هغه تهمت د زنا سي کوم چي ما پر تا لګولی دی] لِأَنَّهٗ أَقْطَعُ لِلِاحْتِمَالِ ځکه چي هغه [د خطاب لفظ] په پوره توګه [د غير] احتمال لره ختمونکی دی وَجْهُ مَا ذُكِرَ فِي الْكِتَابِ: أَنَّ لَفْظَةَ الْمُغَايَبَةِ إِذَا انْضَمَّتْ إِلَيْهَا الْإِشَارَةُ انْقَطَعَ الِاحْتِمَالُ او په متن کي چي کوم عبارت ذکر سوی دی د هغه دليل دا دی: چي کله د غائب د لفظ سره اشاره يو ځای سي [ملاؤ سي] نو [هم] احتمال ختميږي.

اللغات: ﴿صِفَةٌ﴾ د دې لفظ څو معناوي دي. يوه معنی يې د "طريقې" او "کيفيت" ده. ﴿رَمَيْتُ﴾ د ضرب له باب څخه د واحد متکلم ماضي معلوم صيغه ده: تهمت لګول. تور او إلزام لګول.

﴿مُوَاجَهَةٌ﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: مخامخ کېدل. مراد ځني د خطاب صيغه ده. ﴿إِنْضَمَّتْ﴾ د انفعال ماضي ده: يو ځای کېدل (ملاوېدل). متصل کېدل.

تشريح: په دې عبارت کي د لعان کيفيت او طريقه بيان سوې ده. تر هغه مخکي تاسي دا خبره په ياد لرئ! چي کله خاوند پر خپلي ښځي تهمت ولګوي. او بيا ښځه د لعان مطالبه وکړي. نو تر ټولو مخکي دي قاضي د ښځي سره د معافی او بخښني خبره وکړي (چي خپل خاوند وبخښه. د لعان معامله پرېږده!). لېکن که ښځه دې ته تياره نه سي. او خاوند د تهمت (قذف) انکار وکړي. نو قاضي دي له ښځي څخه دوه عادل ګواهان طلب کړي. که ښځه ګواهان پېش نه کړی سي. يا خاوند په خپله د تهمت (قذف) اقرار وکړي. نو بيا دي له خاوند څخه بينه (ګواهان) طلب کړي. که چيري د خاوند سره هم بينه نه وي. نو بيا لعان واجبيږي. (مختصر من البناية ج:٥، ص: ٣٧٣)

د لعان طريقه: دا ده چي قاضي به تر ټولو مخکي خاوند ته د لعان حکم وکړي. او خاوند به د ښځي وطرف ته په اشاره کولو سره پنځه واره شهادت (ګواهي) ورکړي. چي په هغه کي به څلور شهادتونه (ګواهياني) داسي ورکوي: "زه د الله په قسم سره ګواهي ورکوم چي ما د زنا کوم عيب پر ښځي لګولی دی. په هغه کي زه رېښتونی يم". او پنځم وار به ووايي: "که چيري په دې عيب لګولو کي زه درواغجن يم (يا درواغجن سم). نو پر ما دي د الله لعنت وي".

تر دې وروسته به ښځه پنځه واره شهادت ورکړي. د شروع په څلور وارو کي به داسي ووايي: "زه د الله په قسم سره ګواهي ورکوم چي دغه سړي پر ما کوم د زنا عيب لګولی دی. په هغه کي دئ درواغجن دی". او پنځم وار به ووايي: "که چيري دغه سړی په خپل عيب لګولو کي رېښتونی وي. نو پر ما دي د الله غضب وي". دا د لعان طريقه ده. او د دې دليل د الله تعالیٰ دا فرمان دی. کوم چي د باب

په شروع کې هم تېر سو: " وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ... إلخ".

وروى الحسن إلخ: فرمايي چي حسن بن زياد د امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا نقل كړى دى چي خاوند به په خپل شهادت كي د غائب پر ځاى د مخاطب ضمير استعمالوي. او د فِيْمَا رَمَيْتُهَا بِهِ مِنَ الزِّنَا پر ځاى به داسي وايي: فِيْمَا رَمَيْتُكِ بِهِ مِنَ الزِّنَا. ځكه چي په رَمَيْتُهَا كي "هَا" د غائب ضمير دى. او په غائب كي د غير احتمال هم پاتيږي. لېكن په حاضر او مخاطب كي په بشپړه توګه د غير احتمال ختميږي.

خو وروسته صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي په كتاب كي چي د غائب كوم ضمير استعمال سوى دى. په هغه سره هم د غير احتمال ختميږي. ځكه چي هغه د اشارې سره متصل سوى دى (او هغه ته اشاره سوې ده). او دا ښكاره خبره ده چي اشاره هر ډول احتمال ختموي.

تر لعان وروسته د فرقت (جدايي) بيان

قَالَ: وَإِذَا الْتَعَنَا لَا تَقَعُ الْفُرْقَةُ حَتَّى يُفَرِّقَ الْحَاكِمُ بَيْنَهُمَا فرمايي: كله چي [خاوند او ښځه] دواړه لعان وكړي نو فرقت نه واقع كيږي تر دې چي قاضي د دوى په مينځ كي تفريق وكړي [يعني كله چي دواړه د لعان څخه فارغ سي. نو فقط د دوى په لعان كولو سره فرقت نه واقع كيږي. بلكي قاضي به د دوى په مينځ كي تفريق كوي. نو بيا فرقت واقع كيږي] وَقَالَ زُفَرُ: تَقَعُ بِتَلَاعُنِهِمَا او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [فقط] د دواړو په لعان كولو سره فرقت واقع كيږي [يعني تر لعان وروسته د قاضي د تفريق كولو ضرورت نسته. بلكي تر هغه وروسته سمدسي په خپله تفريق واقع كيږي] لِأَنَّهُ تَثْبُتُ الْحُرْمَةُ الْمُؤَبَّدَةُ بِالْحَدِيْثِ ځكه چي [د لعان] په حديث سره دائمي حُرمت ثابتيږي [يعني ځكه چي په دې حديث الْمُتَلَاعِنَانِ لَا يَجْتَمِعَانِ سره حرمت مؤبده ثابت سوى دى. او بل دا چي په دې حديث كي د قاضي د تفريق شرط او قيد ذكر سوى نه دى. نو فقط په لعان سره به فرقت ثابتيږي. د قاضي تفريق ته به هيڅ ضرورت نه وي. دا حديث به په راتلونكي عبارت كي د تخريج او تشريح سره بيان سي] وَلَنَا أَنَّ ثُبُوْتَ الْحُرْمَةِ يُفَوِّتُ الْإِمْسَاكَ بِالْمَعْرُوْفِ زموږ [اول] دليل دا دى: چي د حُرمت ثبوت إمساك بالمعروف [په شرعي توګه ښځه په نكاح كي ساتل] فوتوي [يعني د لعان په وجه حرمت ثابت سو او د هغه په وجه إمساك بالمعروف ساقط سو] فَيَلْزَمُهُ التَّسْرِيْحُ بِالْإِحْسَانِ نو ځكه به پر خاوند تسريح بالإحسان [په ښه توګه د ښځي پرېښوول] لازم وي [يعني كله چي د خاوند د خپل لعان په وجه إمساك بالمعروف ختم كړى. نو د آيت په وجه سمدستي پر هغه تسريح بالإحسان واجب سو. يعني چي په خپله و

ښځې ته طلاق ورکړي! فَإِذَا امْتَنَعَ نَابَ الْقَاضِي مَنَابَهُ دَفْعًا لِلظُّلْمِ لیکن کله چي خاوند اله تسریح بالأحسان ځخه امنع سو نو د ظلم لیري کولو لپاره قاضي د هغه قائم مقام سو ایعني کله چي هغه په خپله ښځي ته طلاق نه ورکړی، نو ښکاره خبره ده چي قاضي به د هغه قائم مقام جوړیږي. د دې لپاره چي ښځه د ظلم ځخه وساتل سي، ځکه چي خاوند هسي په زوره پردی (أجنبي) ښځه راګرځولې ده! دَلَّ عَلَيْهِ قَوْلُ ذٰلِكَ الْمُلَاعِنِ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ ❶ ازموږ دویم دلیل دا دی! چي پر دې باندي دلالت کوي اد نبي ﷺ په مخ کي! د لعان کونکي صحابي [دغه] قول كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ اې الله د رسوله! ما پر هغه ښځي درواغ وتړل فَقَالَ لَهُ: أَمْسِكْهَا نو نبي ﷺ ورته وفرمایل: چي هغه را وګرځوه! ایعني بیرته یې په خپل نکاح کي وساته! فَقَالَ: إِنْ أَمْسَكْتُهَا فَهِيَ طَالِقٌ ثَلَاثًا نو هغه وویل: که چیري زه دا ښځه راوګرځوم نو هغه [پر ما] په دریو طلاقو سره طلاقه ده قَالَهُ بَعْدَ اللِّعَانِ هغه دا [جمله] تر لعان کولو وروسته وویل ایعني زموږ دویم دلیل دا دی چي کله حضرت عویمر عجلاني ﷺ د خپلي ښځي سره لعان وکړی نو تر لعان وروسته یې ښځي ته دري طلاقه ورکړل، له دې ځخه معلومه سوه چي تر لعان وروسته هغه وخت فرقت واقع کیږي کله چي خاوند ښځي ته طلاق ورکړي یا قاضي د تفریق فیصله وکړي، فقط په لعان سره فرقت نه واقع کیږي، ځکه که فقط په لعان سره فرقت واقع کېدای، نو بیا به نبي ﷺ خامخا هغه ته د دې خبر ورکړی وای چي په لعان سره په خپله فرقت او طلاق واقع کیږي نو ستا د طلاق ورکولو هیڅ ضرورت نسته، همدارنګه نبي ﷺ به هغه ته د ښځي د راګرځولو حکم هم نه کولای! وَتَكُونُ الْفُرْقَةُ تَطْلِيقَةً بَائِنَةً عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ ۞ او دا فرقت به طلاقِ بائن د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز ایعني تر لعان وروسته چي کوم فرقت واقع کیږي، هغه د طرفینو په نېز طلاقِ بائن شمارل کیږي، او دامام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز حرمت مؤبده شمارل کیږي! لِأَنَّ فِعْلَ الْقَاضِي انْتَسَبَ إِلَيْهِ كَمَا فِي الْعِنِّينِ ځکه چي د قاضي فعل به د خاوند وطرف ته منسوب وي لکه په عنین کي [چي منسوب کیږي]. [یعني ځکه چي دلته د قاضي تفریق کول د خاوند د تفریق وطرف ته منسوب سوي دي، لکه کله چي قاضي عنین

---

❶ تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الطلاق باب اللعان ومن طلق بعد اللّعان حديث رقم:٥٣٠٨.

حديث دا دی: أَنَّ عُوَيْمِرًا الْعَجْلَانِيَّ جَاءَ إِلَى عَاصِمِ بْنِ عَدِيٍّ الْأَنْصَارِيِّ... فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، أَرَأَيْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا، أَيَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُونَهُ، أَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: قَدْ أُنْزِلَ فِيكَ وَفِي صَاحِبَتِكَ، فَاذْهَبْ فَأْتِ بِهَا. قَالَ سَهْلٌ: فَتَلَاعَنَا وَأَنَا مَعَ النَّاسِ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ. فَلَمَّا فَرَغَا مِنْ تَلَاعُنِهِمَا، قَالَ عُوَيْمِرٌ: كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنْ أَمْسَكْتُهَا، فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا، قَبْلَ أَنْ يَأْمُرَهُ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ.

۞ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله (فتح القدير ج:٤، ص:١٢١)، وكذا في الهداية (ج:١، ص:٥١٦). [القول الراجح ج:١، ص:٣٦١]

(نامرد سړي) ته د علاج لپاره يو کال مهلت ورکړي لېکن هغه جوړ نه سي، نو بيا به قاضي د عنين او د هغه د ښځې په مينځ کي تفريق کوي، او هلته د قاضي تفريق د عنين د تفريق وطرف ته منسوب کېږي او طلاق بائن شمارل کيږي. همداسي به دلته هم د قاضي تفريق طلاق بائن وي].

اللغات: ﴿فُرْقَت﴾ جدايي، بېلتون (مراد څني د ښځې او خاوند تر مينځ طلاق واقع کېدل دي). ﴿مُؤَبَّدَة﴾ أبدي، دائمي، د همېشه لپاره. ﴿إِمْسَاك﴾ د افعال مصدر دی: منع کول، راګرځول، باقي ساتل، ﴿تَسْرِيْح﴾ د تفعيل مصدر دی: پرېښوول، ايله کول. ﴿عِنِّيْن﴾ نامرد، يعني هغه سړی چي د جماع کولو قدرت نه لري.

تشريح: مسئله په عبارت کي تشريح سوه.

تر لعان وروسته دويم وار د واده کولو حکم

وَهُوَ خَاطِبٌ إِذَا أَكْذَبَ نَفْسَهُ عِنْدَهُمَا او [هغه لعان کونکی] خاوند نکاح کونکي دي [يعني نکاح کولای سي] کله چي خپل ځان دروغجن کړي د طرفينو په نيز وَقَالَ أَبُوْيُوسُفَ: هُوَتَحْرِيْمٌ مُؤَبَّدٌ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي لعان دائمي حرمت دی لِقَوْلِهِ ❶: اَلْمُتَلَاعِنَانِ لَا يَجْتَمِعَانِ أَبَدًا ځکه چي نبي ﷺ فرمايلي دي: دوه لعان کونکي [خاوند او ښځه] هيڅکله هم سره يو ځای کېدای نه سي نَصَّ عَلَى التَّأْبِيْدِ [په دې حديث کي] نبي کريم ﷺ د حرمت همېشتوب صراحت کړی دی وَلَهُمَا: أَنَّ الْإِكْذَابَ رُجُوْعٌ د طرفينو دليل دا دی: چي خپل ځان دروغجن کول [له خپل قول څخه] رجوع کول دي وَالشَّهَادَةُ بَعْدَ الرُّجُوْعِ لَا حُكْمَ لَهَا او تر رجوع کولو وروسته د شهادت هيڅ حکم نه پاتيږي وَلَا يَجْتَمِعَانِ مَا دَامَا مُتَلَاعِنَيْنِ او تر څو چي [خاوند او ښځه] دواړه لعان کونکي وي تر هغه وخته سره يو ځای کېدای نه سي وَلَمْ يَبْقَ التَّلَاعُنُ وَلَا حُكْمُهُ بَعْدَ الْإِكْذَابِ او له [خپل ځان] دروغجن کولو څخه وروسته نه لعان پاتيږي او نه د هغه حکم فَيَجْتَمِعَانِ نو ځکه به [تر هغه وروسته خاوند او ښځه] دواړه سره جمع کېدای سي.

اللغات: ﴿تَكْذِيْب﴾ د تفعيل مصدر دی: يو څوک دروغجن ګڼل، چا ته دروغجن ويل، دروغجن ګرځول (دروغجن کول)، د إِكْذَاب هم دغه معنیٰ ده.

❶ تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطلاق، باب اللعان، حديث رقم: ۲۲۵۰.

تشریح : صورت د مسئلې : دا دی که د لعان او تفریق څخه وروسته خاوند خپل ځان درواغجن وګڼي (چي ما درواغ ویلي وو)، نو آیا هغه دویم وار د دې ښځي سره نکاح کولای سي. که نه؟ په دې سلسله کي د طرفینو مسلک دا دی چي خاوند دویم وار د هغې سره نکاح کولای سي. لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي تر لعان وروسته ښځه د همېشه لپاره پر دغه سړي حرامیږي. او د آینده لپاره دا سړی هیڅکله هم د هغې سره نکاح کولای نه سي.

د امام أبو یوسف دلیل : دا حدیث دی : الْمُتَلَاعِنَانَ لَا يَجْتَمِعَانِ أَبَدًا. (یعني کوم خاوند او ښځي چي لعان کړی وي. هغه هیڅکله هم سره یو ځای کېدلای نه سي). په دې حدیث کي په واضحو الفاظو سره أبدي او دائمي حرمت بیان سوی دی، نو ځکه به د همېشه لپاره د لعان کونکي خاوند او ښځي نکاح حرامه وي.

د طرفینو دلیل : دا دی چي کله تر لعان کولو وروسته خاوند خپل ځان درواغجن وګڼي. نو ګواکي هغه له خپل قول څخه رجوع وکړه. او نه خپل قول څخه تر رجوع کولو وروسته د شهادت حکم باطل سو. او کله چي د شهادت حکم باطل سو. نو لعان هم ختم سو. نو ځکه به اوس دویم وار دوی دواړه سره یو ځای کېدای سي.

پاته سو د امام أبو یوسف رَحِمَهُ الله حدیث، نو د هغه اول جواب دا دی چي د هغه حدیث صحیح مطلب دا دی "چي تر څو لعان کونکي خاوند او ښځه پر خپل لعان کولو قائم پاته وي او لعان کوي، تر هغه وخته دوی سره جمع کېدای نه سي. لېکن تر لعان وروسته سره جمع کېدای سي". او دویم جواب دا دی چي دا حدیث موقوف دی. او په موقوف حدیث سره دومره قوي حکم ثابتېدای نه سي چي د همېشه لپاره یوه حلاله ښځه حرامه وګرځول سي.

د نسب نفي کولو د تهمت لعان

وَلَوْ كَانَ الْقَذْفُ بِنَفْيِ الْوَلَدِ او که تهمت لګول د کوچني په نفي کولو سره وي نَفَى الْقَاضِي نَسَبَهُ وَأَلْحَقَهُ بِأُمِّهِ نو قاضي به د دغه کوچني نسب نفي کوي او هغه به د ده [کوچني] د مور سره ملحق کوي وَصُورَةُ اللِّعَانِ: أَنْ يَأْمُرَ الْحَاكِمُ الرَّجُلَ فَيَقُولُ او د لعان صورت به دا وي: چي حاکم به هغه [خاوند] ته حکم وکړي نو هغه به [داسي] ووایي أَشْهَدُ بِاللهِ إِنِّي لَمِنَ الصَّادِقِينَ فِيمَا رَمَيْتُكِ بِهِ مِنْ نَفْيِ الْوَلَدِ زه د الله په قسم سره ګواهي ورکوم چي زه رښتونی یم د کوچني نفي کولو په تهمت کي کوم چي ما پر تا لګولی دی وَكَذَا فِي جَانِبِ الْمَرْأَةِ او همدا [حکم] د ښځي په طرف کي دی [چي هغې ته به حاکم حکم کوي او هغه به د الله په قسم سره ګواهي ورکوي]

اللغات: ﴿نَفْی﴾ د ضرب مصدر دی: نفي کول، انکار کول، مراد ځني "د کوچني د نسب انکار کول" دي.

تشریح: مسئله: دا ده که چیري خاوند پر خپلي ښځي د بچي د نسب نفي کولو تهمت لګولی وي. او دا انکار یې کړی وي چي دا زما بچی نه دي (بلکي د بل چا له نطفې ځخه دی)، نو په دې صورت کي به قاضي خاوند ته د لعان حکم کوي، او تر لعان وروسته به قاضي د دې سړي ځخه د کوچني نسب ساقطوي، او د کوچني د مور سره به یې یوځای کوي (یعني تر دې وروسته به کوچنی د مور په نامه سره بلل کیږي، نه د پلار په نامه سره).

او په دې صورت کي د لعان طریقه دا ده چي خاوند به داسي وایي: "ما چي پر تا د کوچني د نسب په نفي کولو کوم تهمت (د زنا) لګولی دی، په هغه کي زه ریښتونی یم"، او ښځه به داسي وایي: "د کوچني د نسب په انکار سره چي تا کوم تهمت پر ما لګولی دی، په هغه کي ته درواغجن یې!". (یعني ښځه او خاوند به دواړه به خپل لعان کي د کوچني د نسب نفي کولو تذکره کوي).

د زنا او د کوچني د نسب نفي کولو لعان

وَلَوْ قَذَفَهَا بِالزِّنَا وَنَفْيِ الْوَلَدِ او که چیري [خاوند] پر ښځي د زنا او د کوچني نفي کولو [دواړو] تهمت ولګوي [یعني که خاوند د کوچني د نسب انکار هم وکړي او پر ښځي د زنا تهمت هم ولګوي] ذَكَرَ فِي اللِّعَانِ الْأَمْرَيْنِ نو په لعان کي دي دواړي خبري ذکر کړي [یعني خاوند ته پکار دي چي د لعان کولو په وخت کي د دواړو خبرو وضاحت وکړي او داسي ووایي: فيما رميتک به من الزنا و نفي الولد] ثُمَّ يَنْفِي الْقَاضِي نَسَبَ الْوَلَدِ وَيُلْحِقُهُ بِأُمِّهِ بیا به قاضي [له پلار ځخه] د کوچني نسب نفي کړي او د هغه د مور سره به یې ملحق کړي [د دې دلیل را روان حدیث دی چي په هغه کي هم له پلار ځخه د کوچني د نسب نفي کولو او د مور سره د ملحق کولو یادونه سوې ده] لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1] نَفَى وَلَدَ امْرَأَةِ هِلَالِ بْنِ أُمَيَّةَ عَنْ هِلَالٍ وَأَلْحَقَهُ بِهَا ځکه روایت سوی دی چي نبي کریم ﷺ د حضرت هلال بن أمیه د ښځي کوچنی د حضرت هلال ځخه نفي کړی او د هغه د مور سره یې لاحق کړی [یعني کله چي حضرت هلال د خپل زوی د نسب انکار وکړی او بیا یې لعان وکړی، نو نبي ﷺ د هغه د زوی نسب د خپل مور سره ملحق کړی او له پلار (حضرت هلال) ځخه یې قطع کړی] وَلِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْ هَذَا اللِّعَانِ نَفْيُ الْوَلَدِ او ځکه چي مقصود له دغه لعان

---

[1] تخریج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطلاق، باب اللعان حديث رقم: ۲۲۵۶.

څخه اکوم چې د کوچني د نفي په باره کې وي ا د کوچني نفي کول دي فَيُوَفِّرُ عَلَيْهِ مَقْصُودَهٗ نو ځکه به د خاوند مقصود ا په بشپړه توګه ا پوره کيږي فَيَتَضَمَّنُهُ الْقَضَاءُ بِالتَّفْرِيقِ نو ا د قاضي ا د جلا کولو فيصله به هغه لره شامله وي ايعني ځکه چې د دغه لعان مقصد له پلار څخه د کوچني نفي کول دي، نو د دغه مقصد پوره کول به د قاضي ذمه واري وي چې کوچنی له پلار څخه جلا کړي او د هغه نسب د مور سره ملحق کړي ا

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ۞: أَنَّ الْقَاضِيَ يُفَرِّقُ وَيَقُولُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چې قاضي به تفريق کوي او ا داسې ا به ا هم ا وايي قَدْ أَلْزَمْتُهُ أُمَّهُ وَأَخْرَجْتُهُ مِنْ نَسَبِ الْأَبِ چې ما دا کوچنی د هغه د مور سره لازم کړی او د پلار له نسب څخه مې وېستی لِأَنَّهُ يَنْفَكُّ عَنْهُ ځکه چې د کوچني نفي کول له تفريق څخه جلا دي فَلَا بُدَّ مِنْ ذِكْرِهٖ نو ځکه د نفي کولو يادونه ا تذکره ا کول ضروري دي.

[يعني له امام ابو يوسف څخه روايت دا دی چې د خاوند او ښځې په مينځ کې تفريق کول جلا خبره ده، او له پلار څخه د کوچني نسب قطع کول او د مور سره ملحق کول جلا خبره ده، نو په دې وجه د دواړو تذکره کول ضروري دي، يعني قاضي به تفريق هم کوي او په عليحده توګه به داسې هم وايي: چې ما له پلار څخه د کوچني نسب قطع کړی او د مور سره مې د هغه نسب ومنښلوي، همداسې په حديث کې هم ذکر سوي دي ا.

اللغات: ﴿يُوَفَّر﴾ د تفعيل له باب څخه د مضارع مجهولي صيغه ده: پوره کول. ﴿يَتَضَمَّنُ﴾ د تفعل مضارع ده: ضمناً شاملېدل. ﴿يَنْفَكُّ﴾ د انفعال مضارع ده: جلا کېدل، بېلېدل (يعني تفريق جلا خبره ده، او د کوچني نسب نفي کول جلا خبره ده، يعني دا دواړه يو له بل څخه جلا دي).

تشريح: مسئله په عبارت کې تشريح سوه.

له تهمت څخه د خاوند د رجوع کولو حکم

فَإِنْ عَادَ الزَّوْجُ وَأَكْذَبَ نَفْسَهٗ او که خاوند اله خپل قول څخه ا رجوع وکړي او خپل ځان دروغجن کړي اچې ما دروغ وويل، ښځې زنانه ده کړې ا حَدَّهُ الْقَاضِيْ نو قاضي دې پر هغه حد جاري کړي لِإِقْرَارِهٖ بِوُجُوْبِ الْحَدِّ عَلَيْهِ ځکه چې هغه پر خپل ځان د حدّ واجبېدلو اقرار کړی دی وَحَلَّ لَهٗ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا او د هغه لپاره د دې ښځې سره نکاح کول روا دي وَهٰذَا عِنْدَهُمَا او دا ا حکم ا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز

۞ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٦٤٠)، وكذا في البحر الرائق (ج:٢، ص:١١٩). [القول الراجح ج:١، ص:٣٦٢]

دی لِأَنَّهُ لَمَّا حُدَّ لَمْ يَبْقَ أَهْلًا لِلِّعَانِ ځکه کله چې پر هغه حد جاري کړی سو نو هغه دلعان أهل پاته نه سو فَارْتَفَعَ حُكْمُهُ الْمَنُوطُ بِهِ نو کوم حکم چې د هغه سره متعلق وو هغه [هم] ختم سو وَهُوَ التَّحْرِيمُ او هغه حکم تحریم دی وَكَذَلِكَ إِنْ قَذَفَ غَيْرَهَا فَحُدَّ بِهِ او همداسي [حکم دی] کله چي [خاوند له خپلي ښځي څخه بغير] پر بلي ښځي د زنا تهمت ولګوي او د هغه په سبب پر هغه حد جاري کړی سي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ [اوس] بيان کړی وَكَذَا إِذَا زَنَتْ فَحُدَّتْ او همداسي [حکم دی] کله چي ښځه زنا وکړي او [بيا] پر هغې حد جاري کړی سي لِانْتِفَاءِ أَهْلِيَّةِ اللِّعَانِ مِنْ جَانِبِهَا ځکه چي [په دې صورت کي] د ښځي له طرفه دلعان اهليت منتفي [ختم سوی] دی.

اللغات: ﴿حَدّ﴾ د نصر ماضي ده: پر مجرم حد لګول، حدّ جاري کول. تاکل سوې شرعي سزا ورکول. ﴿مَنُوط﴾ متعلق.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که د زنا د تهمت لګولو څخه وروسته خاوند د خپل قول څخه رجوع وکړي، او خپل ځان دروغجن وګڼي، نو په دې صورت کي د قاضي لپاره حکم دا دی چي پر هغه حدّ جاري کړي. او اتيا (۸۰) دُرې يې ووهي؛ دليل دا دی چي څه وخت خاوند په خپله د قذف اقرار وکړي، نو ګواکي هغه په خپله پر خپل ځان د حدّ لازمونکي سو، او په خپل حق کي د انسان اقرار معتبر وي، نو ځکه به پر هغه حدّ جاري کيږي.

او تر حدّ وروسته هغه خاوند او ښځه د طرفينو په نېز نکاح کولای سي؛ ځکه چي تر حدّ جاري کېدلو وروسته خاوند د لعان أهل پاته نه سو. ځکه چي لعان "شهادت" ته وايي. او د محدود فی القذف کېدلو په وجه هغه د شهادت أهل پاته نه سو، نو په دې وجه هغه د لعان أهل هم پاته نه سو. لهذا کله چي د هغه په حق کي لعان ختم او معدوم سو. نو د لعان په وجه چي کوم حکم ثابت سوی وو يعني تحريم. هغه به هم ختميږي. او دواړه به يو د بل سره نکاح کولای سي.

وكذلك إلخ: فرمايي که يو سړی له خپلي ښځي څخه بغير پر يو بلي ښځي د زنا تهمت ولګوي. او بيا پر هغه سړي د تهمت لګولو په وجه حد جاري کړی سي. نو د هغه لپاره د دغه ښځي سره نکاح کول جائز دي. د مخکني دليل په وجه.

وكذا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که خاوند او ښځه تر نکاح وروسته او تر دخول مخکي لعان وکړي. بيا ښځه زنا وکړي، او بيا پر هغې حد جاري کړی سي. نو تر دې وروسته د خاوند لپاره د دې ښځي

سره نكاح كول جائز دي؛ ځكه تر حد جاري كېدلو وروسته په دغه ښځه كي د لعان أهليت ختم سو (ځكه چي هغه دِ شهادت أهل پاته نه سو)، نو په دې وجه د لعان حكم يعني تحريم هم ختم سو فَلَا حَرَجَ فِي التَّزَوُّجِ.

له تهمت لګولو څخه وروسته د لعان نه واجبېدلو صورتونه

وَإِذَا قَذَفَ اِمْرَأَتَهُ وَهِيَ صَغِيرَةٌ أَوْ مَجْنُونَةٌ او كله چي [خاوند] پر خپلي ښځي تهمت ولګوي حال دا چي هغه كوچنۍ [نجلۍ] وي يا لېونۍ وي فَلَا لِعَانَ بَيْنَهُمَا نو [په دې صورت كي] به د خاوند او ښځي په مېنځ كي لعان نه وي لِأَنَّهُ لَا يُحَدُّ قَاذِفُهَا لَوْكَانَ أَجْنَبِيًّا ځكه چي د داسي ښځي پر تهمت لګونكي حد نه جاري كيږي كه چيري [تهمت لګونكى] پردى سړى وي فَكَذَا لَا يُلَاعَنُ الزَّوْجُ نو همداسي به په خاوند هم لعان نه كيږي [يعني د لعان حكم به نه ورته كيږي] لِقِيَامِهِ مَقَامَهُ ځكه چي لعان د حدِ قذف قائم مقام دى وَكَذَا إِذَا كَانَ الزَّوْجُ صَغِيرًا أَوْ مَجْنُونًا او همدارنګه كله چي خاوند كوچنى وي يا لېونى وي [نو د خاوند او ښځي په مېنځ كي به لعان نه جاري كيږي] لِعَدَمِ أَهْلِيَّةِ الشَّهَادَةِ ځكه چي [په هغه كي] د شهادت اهليت نسته وَقَذْفُ الْأَخْرَسِ لَا يَتَعَلَّقُ بِهِ اللِّعَانُ او د ګونګي د تهمت لګولو سره لعان نه متعلق كيږي [يعني د ګونګي سړي د تهمت لګولو په وجه به پر هغه لعان نه لازميږي] لِأَنَّهُ يَتَعَلَّقُ بِالصَّرِيحِ ځكه چي لعان د صريح [جملې] سره متعلق كيږي كَحَدِّ الْقَذْفِ لكه حدّ قذف وَفِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ او په دې كي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دى وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَا يَعْرَى عَنِ الشُّبْهَةِ او دا [حكم] ځكه دى چي د ګونګي تهمت لګول د شبهې څخه خالي نه وي وَالْحُدُودُ تَنْدَرِئُ بِهَا او حدود په شبهې سره ختميږي [ساقطيږي]

اللغات: ﴿قَذْف﴾ د ضرب مصدر دى: تهمت لګول. ﴿أَخْرَس﴾ ګونګى. ﴿لَا يَعْرَى﴾ د فتح له باب څخه د نفي صيغه ده: خالي كېدل. ﴿تَنْدَرِئُ﴾ د انفعال له باب څخه د مضارع صيغه ده: ختمېدل. زائلېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه ديو سړي ښځه كوچنۍ (نجلۍ) وي يا لېونۍ وي، او خاوند پر هغې تهمت ولګوي، نو پر خاوند لعان نه لازميږي: دليل دا دى چي د كوچنيوالي يا لېونتوب په وجه ښځه د شهادت أهل نه ده او كه يو أجنبي (پردى) سړي پر دغه صغيره يا مجنونه باندي تهمت

ولګوي، نو پر هغه حد نه جاري کيږي. او څرنګه چي د خاوند په حق کي لعان د حد قائم مقام دی او پر هغه حد نه جاري کيږي، نو لعان به هم نه لازميږي.

همدارنګه که ښځه روغه وي، لېکن د هغي خاوند صغير يا مجنون وي. او پر ښځي تهمت ولګوي، نو په دې صورت کي هم لعان نه لازميږي، ځکه چي لعان د شهادت (ګواهي) څخه عبارت دی. او هغه د شهادت أهل نه دی.

وقذف الأخرس إلخ: د دې حاصل دا دی که ګونګی سړی پر خپلي ښځي يا پر يو بلي ښځي په اشاره سره د زنا تهمت ولګوي، نو په دې سره هم لعان نه لازميږي. دليل دا دی چي حد او لعان په صريح تهمت لګولو سره لازميږي. او ګونګی سړی په صريحه توګه تهمت نه سي لګولای. نو ځکه به لعان هم نه لازميږي. لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي څرنګه په نکاح، طلاق او داسي نورو کي د ګونګي سړي اشاره معتبره ده. همداسي په لعان کي هم د هغه اشاره معتبره ده. او د هغه په تهمت لګولو سره هم لعان واجبيږي. لېکن زموږ له طرفه امام شافعي ته دا جواب ورکول کيږي چي د ګونګي په اشاره کي د تهمت نه لګولو شبهه هم سته. او په شبهي سره حد ساقطيږي. نو ځکه به لعان هم ساقطيږي (ځکه چي لعان او حد سره تړلي دي).

د حمل د نفي کولو حکم

وَإِذَا قَالَ الزَّوْجُ: لَيْسَ حَمْلُكِ مِنِّيْ او کله چي خاوند اخپلي ښځي ته اوواېي: ستا ا په نس کي موجودا حمل زما څخه نه دی فَلَا لِعَانَ نو لعان نسته ايعني په دې صورت کي پر خاوند لعان نه لازميږيا وَهٰذَا قَوْلُ أَبِيْ حَنِيفَةَ وَزُفَرَ او دا د امام صاحب او امام زفر رَحِمَهُمَا الله قول دی لِأَنَّهُ لَا يَتَيَقَّنُ بِقِيَامِ الْحَمْلِ ځکه چي د حمل وجود يقيني نه دی فَلَمْ يَصِرْ قَاذِفًا نو هغه اخاونداتهمت لګونکی نه سو وَقَالَ: أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ ۞: اللِّعَانُ يَجِبُ بِنَفْيِ الْحَمْلِ إِذَا جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د حمل په نفي کولو سره به لعان واجبيږي کله چي دغه امتهمه اښځه له شپږو مياشتو څخه په کم اموداتا کي کوچنی راوړي وَهُوَ مَعْنٰى مَا ذُكِرَ فِي الْأَصْلِ او همدغه معنیٰ ده د هغه احکما کوم چي په مبسوط کي ذکر سوی دی لِأَنَّا تَيَقَّنَّا بِقِيَامِ الْحَمْلِ عِنْدَهُ ځکه چي د قذف ا تهمت لګولو ا په

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة ابن الهمام (فتح القدير ج:٤، ص:١٢٤)، وكذا في الهندية (ج:١، ص:٥١٨). [القول الراجح ج:١، ص:٣٦٣]

وخت كې موږ ته د حمل د موجودېدلو يقين حاصل سو فَيَتَحَقَّقُ الْقَذْفُ نو ځكه قذف [تهمت لګول] ثابت سو قُلْنَا: إِذَا لَمْ يَكُنْ قَذْفًا فِي الْحَالِ موږ وايو: چې كله في الحاله قذف نسته يَصِيرُ كَالْمُعَلَّقِ بِالشَّرْطِ نو هغه به داسي وګرځي لكه پر شرط چې معلق كړى سوى وي فَيَصِيرُ كَأَنَّهُ قَالَ: إِنْ كَانَ بِكِ حَمْلٌ فَلَيْسَ مِنِّيْ لهذا داسي به وګرځي لكه خاوند چې ويلي وي: كه چيري په تا كي حمل وي [يعني كه چيري تا حامله يې!] نو هغه [حمل] زما څخه نه دى وَالْقَذْفُ لَا يَصِحُّ تَعْلِيقُهُ بِالشَّرْطِ او پر شرط باندي د قذف معلق كول صحيح نه دي [نو ځكه به لعان نه لازميږي].

اللغات: ﴿يَتَيَقَّنُ﴾ د تفعّل مضارع ده: يقين كېدل (يقيني كېدل)، يقين حاصلېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه يو سړى خپلي ښځي ته ووايي: لَيْسَ حَمْلُكِ مِنِّيْ چي "ستا دغه حمل زما (د نطفې) څخه نه دى"، نو د امام صاحب او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په نېز په دې قول سره لعان نه لازميږي، لېكن صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي كه ښځه تر دې قول وروسته له شپږو مياشتو څخه په كم وخت كي كوچنى وزېږوي، نو لعان لازميږي. او په مبسوط كي همدغه حكم ذكر سوى دى.

دليل: د امام صاحب او امام زفر رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى چي په كوم وخت كي چي خاوند لَيْسَ حَمْلُكِ مِنِّيْ ويلي دي، په هغه وخت كي د حمل وجود (د ښځي حامله كېدل) يقيني نه دي. لهذا په هغه وخت كي خاوند قاذف (تهمت لګونكى) نه سو، نو ځكه به وروسته هم هغه قاذف نه وي او لعان به نه پر لازميږي.

د صاحبينو دليل: دا دى چي كه له شپږو مياشتو څخه په كم مودت كي كوچنى پيدا سي، نو دا خبره به يقيني سي چي د خاوند د قول لَيْسَ حَمْلُكِ مِنِّيْ په وخت كي ښځه حامله وه، لهذا هغه به قاذف او پر ښځي تهمت لګونكى وګرځي، نو ځكه به پر هغه لعان لازم وي.

قلنا الخ: په دې سره صاحب د هدايې صاحبينو ته د امام صاحب رَحِمَهُ الله له طرفه جواب وركوي، فرمايي چي د خاوند قول (لَيْسَ حَمْلُكِ مِنِّيْ) في الحاله قذف او تهمت نه دى (ځكه دا به هغه وخت تهمت وګرځي، كله چي كوچنى پيدا سي)، نو دا د معلق بالشرط په څېر سو يعني داسي سو لكه خاوند چي: إِنْ كَانَ بِكِ حَمْلٌ فَلَيْسَ مِنِّيْ ويلي وي، او تهمت پر شرط معلق كول صحيح نه دي، لهذا كله چي ابتداءً (في الحاله) دا كلام تهمت (قذف) نه سو، نو وروسته به هم تهمت نه وي.

د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

فَإِنْ قَالَ: لَهَا زَنَيْتِ وَهَذَا الْحَمْلُ مِنَ الزِّنَا او كه [خاوند] خپلې ښځې ته ووايي: تا زنا كړې ده او دا حمل له زنا څخه دى تَلَاعَنَا نو دواړه دې لعان وكړي لِوُجُودِ الْقَذْفِ ځكه [دلته] قذف موجود دى حَيْثُ ذَكَرَ الزِّنَا صَرِيحًا ځكه چې خاوند صراحتاً زنا ذكر كړې ده وَلَمْ يَنْفِ الْقَاضِيُ الْحَمْلَ او قاضي به [د دغه] حمل نفي نه كوي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَنْفِيهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې هغه به د حمل نفي كوي لِأَنَّهُ الطَّلِيلاً [1] نَفَى الْوَلَدَ عَنْ هِلَالٍ ځكه چې نبي كريم ﷺ د حضرت هلال څخه [د هغه] زوى نفي كړى وو وَقَدْ قَذَفَهَا حَامِلًا [په داسې حال كې] چې حضرت هلال پر خپلې ښځې د حمل په حالت كې قذف لګولى وو وَلَنَا أَنَّ الْأَحْكَامَ لَا تَتَرَتَّبُ عَلَيْهِ إِلَّا بَعْدَ الْوِلَادَةِ او زموږ دليل دا دى: چې پر حمل أحكام نه مرتب كيږي مګر تر ولادت [پيدا كېدلو] وروسته لِتَمَكُّنِ الِاحْتِمَالِ قَبْلَهُ ځكه چې تر ولادت مخكې [بل] احتمال [هم] امكان لري وَالْحَدِيثُ مَحْمُولٌ عَلَى أَنَّهُ عَرَفَ قِيَامَ الْحَبَلِ بِطَرِيقِ الْوَحْيِ او حديث پر دې [تأويل] حمل كړى سوى دى چې نبي كريم ﷺ د وحي په ذريعه د حمل وجود [يعني د حضرت هلال د ښځې حامله والى] معلوم كړې وو.

اللغات: ﴿حَبَل﴾ حمل. ﴿تَلَاعَنَا﴾ د تفاعل ماضي ده: يو د بل سره لعان كول (يو تر بله لعان كول).

تشريح: **مسئله**: دا ده كه يو سړى پر خپلې ښځې د زنا تهمت ولګوي او دا هم ورته ووايي چې "ستا دغه حمل هم له زنا څخه دى"، نو لعان لازميږي؛ دليل دا دى چې دلته د خاوند له طرفه په صريحو الفاظو سره تهمت لګول (قذف) موجود سو. نو ځكه به لعان لازميږي. خو زموږ په نيز به قاضي د كوچني (حمل) نسب (له پلار) څخه نه نفي كوي. لېكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز به يې نفي كوي.

د امام شافعي دليل دا دى چې كله حضرت هلال بن اميه رضي الله عنه د حمل په حالت كې پر خپلې ښځې تهمت لګولى وو. نو نبي ﷺ د هغه د بچي نسب نفي كړى وو. له دې څخه معلومه سوه چې د كوچني نسب به نفي كيږي.

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الطلاق، باب يلحق الولد بالملاعنة، حديث رقم: ٥٣١٥ تعداد.

زموږ دليل: دا دی چې د کوچني سره تړله احکام تر ولادت (پيدايښت) وروسته متعلق کيږي. ځکه چې تر ولادت مخکې حمل يقيني نه وي، او د غير حمل شبهه وي، نو بېله څه وجهې به د کوچني نسب (له پلار څخه) نه نفي کيږي.

والحديث محمول إلخ: پاته سوه دا مسئله چې نبي کريم ﷺ د حضرت هلال څخه د هغه د کوچني نسب نفي کړی وو، نو د هغه وجه دا ده چې نبي کريم ﷺ ته د وحي په ذريعه دا خبره معلومه سوې وه چې د حضرت هلال ښځه حامله ده، لهذا پر هغه به بله مسئله نه قياسيږي.

د کوچني د نسب نفي کولو مودت

وَإِذَا نَفَى الرَّجُلُ وَلَدَ امْرَأَتِهِ عَقِيبَ الْوِلَادَةِ او کله چې خاوند [د کوچني] تر ولادت وروسته د خپلې ښځې د کوچني نفي وکړي أَوْ فِي الْحَالَةِ الَّتِي تُقْبَلُ التَّهْنِئَةُ وَتُبْتَاعُ آلَةُ الْوِلَادَةِ يا په هغه حالت کې [د کوچني نفي وکړي] کله چې [د کوچني] مبارکي قبليږي [او ورکول کيږي] يا د پيدايښت سامان رانيول کيږي صَحَّ نَفْيُهُ نو د هغه [خاوند] نفي کول صحيح دي وَلَاعَنَ بِهِ او د هغه په وجه به [خاوند] لعان کوي وَإِنْ نَفَاهُ بَعْدَ ذَلِكَ او که تر دې وروسته نفي وکړي لَاعَنَ وَيَثْبُتُ النَّسَبُ نو [هم] به هغه لعان کوي او نسب به ثابتيږي هَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [دی] وَقَالَ: أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ ❁: يَصِحُّ نَفْيُهُ فِي مُدَّةِ النِّفَاسِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د خاوند نفي کول د نفاس په [ټوله] مودت کې صحيح کيږي لِأَنَّ النَّفْيَ يَصِحُّ فِي مُدَّةٍ قَصِيرَةٍ وَلَا يَصِحُّ فِي مُدَّةٍ طَوِيلَةٍ ځکه چې نفي کول په معمولي مودت کې صحيح کيږي او په اوږده مودت کې نه صحيح کيږي فَفَصَلْنَا بَيْنَهُمَا بِمُدَّةِ النِّفَاسِ نو ځکه موږ د دواړو مودتونو په مينځ کې د نفاس په مودت سره فصل کړی دی [يعني د نفاس مودت مو فاصل ګرځولی دی] لِأَنَّهُ أَثَرُ الْوِلَادَةِ ځکه چې نفاس د ولادت أثر دی وَلَهُ: أَنَّهُ لَا مَعْنَى لِلتَّقْدِيرِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې د مودت ټاکلو هيڅ فايده نسته لِأَنَّ الزَّمَانَ لِلتَّأَمُّلِ ځکه چې زمانه د غور [او فکر] کولو لپاره وي وَأَحْوَالُ النَّاسِ فِيهِ مُخْتَلِفَةٌ او په دې کې د خلکو حالتونه بېلابېل وي فَاعْتَبَرْنَا مَا يَدُلُّ عَلَيْهِ نو ځکه موږ د هغه

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة علاء الدين الحصكفي رَحِمَهُ الله: والصحيح قول الإمام رَحِمَهُ الله: وكذا في الهندية (ج:١، ص:٥١٩). [القول الراجح ج:١، ص:٣٦٢]

شي اعتبار کړی دی کوم چې پر عدم نفي [د نفي پر نشتوالي] دلالت کوي وَهُوَقَبُولُهُ التَّهْنِئَةَ أَوْ سُكُوتُهُ عِنْدَ التَّهْنِئَةِ أَوِ ابْتِيَاعُهُ مَتَاعَ الْوِلَادَةِ او هغه د خاوند مبارکي قبلول يا د مبارکۍ په کې وخت د هغه چپ [خاموش] پاتېدل يا ولادت سامان رانيول دي أَوْ مُضِيُّ ذٰلِكَ الْوَقْتِ وَهُوَ مُمْتَنِعٌ عَنِ النَّفْيِ يا د دغه وخت تېرېدل دي په داسې حال کې چې خاوند [د کوچني] د نفي کولو څخه منع وي وَلَوْكَانَ غَائِبًا وَلَمْ يَعْلَمْ بِالْوِلَادَةِ ثُمَّ قَدِمَ او که [خاوند] غائب وي او [د کوچني] په ولادت خبر نه وي [او بيا] هغه راسي تُعْتَبَرُ الْمُدَّةُ الَّتِي ذَكَرْنَاهَا عَلَى الْأَصْلَيْنِ نو [په دې صورت کې] به د هغه موده اعتبار کيږي کوم چې موږ د دواړو [يعني د امام صاحب او صاحبينو] د اُصولو مطابق بيان کړې.

اللغات: ﴿تَهْنِيَة﴾ د تفعيل مصدر دی: مبارکي ورکول. ﴿تُبْتَاعَ﴾ د افتعال له باب څخه د واحد مؤنث غائب مضارع مجهولي صيغه ده: رانيول. ﴿تَأَمُّل﴾ د تفعّل مصدر دی: غور او فکر کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند د ښځې تر لنګوالي وروسته سمدستي د هغې د پيدا سوي کوچني نسب له خپل ځان څخه نفي کړي، يا په هغه وخت کې د کوچني نسب نفي کړي کله چې خلک يو بل ته او خاوند ته د کوچني د پيدايښت مبارکي ورکوي، يا په هغه وخت کې نسب نفي کړي، کله چې د کوچني د ولادت سامان رانيول کيږي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په دې دريو سره صورتونو کې نفي کول صحيح دي، او د دغه نفي په وجه پر خاوند لعان واجب دی. او که تر دې شيانو وروسته (يعني تر لنګېدلو، يا تر مبارکيانو، يا تر سامان رانيولو وروسته) خاوند د کوچني نفي وکړي، نو نفي نه صحيح کيږي. او د هغه کوچني نسب د دغه سړي (پلار) سره ثابتيږي او پر دې سړي لعان هم واجبيږي، ځکه چې قذف (تهمت) موجو سو.

د دې په خلاف د صاحبينو مسلک دا دی چې تر څو ښځه په نفاس کې وي، تر هغه وخته به د نسب په نفي کولو سره نفي ثابتيږي، او د کوچني نسب به له پلار څخه نفي کيږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې د کوچني نسب خو په کم او معمولي موده کې نفي کېدای سي، لېکن په اوږده موده کې نفي کېدای نه سي، او څرنګه چې د نفاس موده يو معمولي موده دی او نفاس د ولادت اثر هم دی، نو ځکه موږ د نفاس موده د اوږده او کوچني مودې تر مينځ فاصل وټاکی. او په دغه موده کې مو د کوچني د نسب نفي کول معتبر او صحيح وګرځول.

زموږ دليل: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې موده او وخت ځکه ټاکل کيږي، چې په هغه کې غور او فکر وکړی سي، لېکن څرنګه چې د انسان ذهني حالت په هر موده او هر وخت کې يو ډول

نه پاتيږي، او هر ګړى د هغه په سوچ او فکر کي تبديلي راځي، نو په دې وجه د مودت په تعيين او ټاکلو کي هيڅ فايده نسته، نو ځکه موږ هغه شيان معتبر ګرځولي دي کوم چي پر عدمِ نفي (د نفي پر نښتوالي) دلالت کوي، ځکه کله چي د خلګو د مبارکيانو په وخت کي خاوند خاموش (چپ) وي. يا خاوند په خپله د خلګو مبارکي قبلوي، يا د ولادت د سامان رانيولو په وخت کي خاوند چپ ولاړ وي، نو بيا به همدا ګڼل کيږي چي هغه د کوچني پر ولادت خوشاله دى، او کوچنى خپل زوى ګڼي. او که د دغه شيانو د وقوع په وخت کي هغه د کوچني د نسب نفي وکړي، نو همدا به ګڼل کيږي چي هغه دا کوچنى خپل زوى نه ګڼي، نو ځکه موږ وايو چي د دغه شيانو په وخت کي به د هغه نفي معتبره وي، لېکن تر دې شيانو وروسته به د هغه نفي لره هيڅ اعتبار نه وي.

ولوكان غائبا إلخ: فرمايي که د کوچني د ولادت (پيدايښت) په وخت کي خاوند نه وي، او چيري چي خاوند وي، هلته هم د کوچني په ولادت خبر نه سي، او بيا کور ته راسي، نو تر راتللو وروسته د کوچني د نسب نفي کولو په صورت کي به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د خپل اُصول او مودت اعتبار کيږي (کوم چي موږ اوس بيان کړې)، او د صاحبينو په نيز به د دوى د خپل مودت او اُصول اعتبار کيږي.

د يوه غبرګولي کوچني نسب نفي کول

قَالَ: وَإِذَا وَلَدَتْ وَلَدَيْنِ فِي بَطْنٍ وَاحِدٍ فرمايي: او کله چي ښځه له يوه نس څخه دوه کوچنيان وزيږوي فَنَفَى الْأَوَّلَ وَاعْتَرَفَ بِالثَّانِي او [خاوند] د اول کوچني نفي وکړي او د دويم کوچني اقرار وکړي يَثْبُتُ نَسَبُهُمَا نو د دواړو نسب به ثابتيږي لِأَنَّهُمَا تَوْأَمَانِ خُلِقَا مِنْ مَاءٍ وَاحِدٍ ځکه چي دوى دواړه غبرګوليان دي کوم چي له يوه مني څخه پيدا سوي دي وَحُدَّ الزَّوْجُ او پر خاوند به حدّ جاري کيږي لِأَنَّهُ أَكْذَبَ نَفْسَهُ بِدَعْوَى الثَّانِي ځکه چي د دويم کوچني په دعوىٰ کولو سره هغه خپل ځان دروغجن ثابت کړى دى وَإِنِ اعْتَرَفَ بِالْأَوَّلِ وَنَفَى الثَّانِيَ او که [خاوند] د اول کوچني اقرار وکړي او د دويم کوچني نفي وکړي يَثْبُتُ نَسَبُهُمَا نو [هم] به د دواړو نسب ثابتيږي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړى وَلَاعَنَ او [په دې صورت کي به خاوند لعان کوي لِأَنَّهُ قَاذِفٌ بِنَفْيِ الثَّانِي وَلَمْ يَرْجِعْ عَنْهُ ځکه چي هغه د دويم کوچني په نفي کولو سره [پر ښځي] تهمت لګونکى دى او هغه د خپل قول څخه رجوع [هم] کړې نه ده وَالْإِقْرَارُ بِالْعِفَّةِ سَابِقٌ عَلَى الْقَذْفِ او د ښځي اد

عفت [پاک لمنوالي] اقرار کول تر تهمت لګولو مخکي دي فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: إِنَّهَا عَفِيفَةٌ ثُمَّ قَالَ: هِيَ زَانِيَةٌ نو داسي سو لکه [خاوند] چي ووايي: هغه [زما ښځه] پاک لمنې ده [او] بيا ووايي: هغه زناکاره ده وَفِي ذٰلِكَ التَّلَاعُنُ او په داسي [ويلو] کي [پر خاوند او ښځي] يو د بل سره لعان کول واجبيږي كَذَا هٰذَا نو همداسي به په دغه صورت کي [هم لعان واجبيږي].

اللغات: ﴿تَوْأَم﴾ غبرګولی، ﴿عِفَّة﴾ پاک لمنې، سپېڅلتوب، ﴿تَلَاعُن﴾ د تفاعل مصدر دی: يو د بل سره لعان کول (يو تر بله لعان کول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که ديوه نس څخه ديوې ښځي دوه کوچنيان پيدا سي. يعني د دواړو کوچنيانو د پيدايښت په مينځ کي له شپږو مياشتو څخه کمه فاصله وي (همدې ته بَطْن وَاحِد وايي)، او بيا خاوند د اول کوچني د نسب نفي او انکار وکړي او د دويم کوچني د نسب اقرار وکړي، نو د دغه سړي سره د دواړو کوچنيانو نسب ثابتيږي؛ ځکه چي دا دواړه غبرګوليان کوچنيان دي او ديوه مني څخه پيدا سوي دي، لهذا دا کېدلای نه سي چي يو کوچنی دي د هغه وي، او بل کوچنی دي د بل چا وي. نو په دې وجه به د دواړو کوچنيانو نسب د هغه سره ثابتيږي. او پر هغه به حدّ قذف جاري کيږي، ځکه چي هغه ديوه کوچني په انکار سره او د بل کوچني په اقرار سره خپل ځانَ دوراغجن ثابت کړی (يعني د خپل ځان تکذيب يې وکړی).

وإن اعترف إلخ: او که خاوند د اول کوچني د نسب اقرار وکړي، او د دويم کوچني د نسب نفي وکړي، نو په دې صورت کي هم د دواړو کوچنيانو نسب ثابتيږي، د مخکني دليل په وجه چي دا دواړه غبرګوليان دي، خو په دې صورت کي به پر خاوند حدّ نه جاري کيږي. بلکي لعان به پر واجب وي؛ حد به ځکه نه پر جاري کيږي چي د دويم کوچني تر نفي کولو وروسته هغه د خپل قول څخه رجوع نه ده کړې او د خپل ځان تکذيب يې نه دي کړی، او لعان به ځکه پر واجب وي چي د دويم کوچني په نفي کولو سره هغه پر ښځي تهمت لګونکی سو، ځکه چي د اول کوچني د نسب په اقرار کولو سره ګواکي هغه د خپلي ښځي د پاکوالي (سپېڅلتوب) اقرار کړی دی چي دا ښځه پاک لمنه ده. لېکن د دويم کوچني د نسب په انکار سره ګواکي هغه پر خپلي ښځي د زنا تهمت ولګوی چي دا ښځه زناکاره ده. او وروسته يې د هغه تکذيب هم نه وکړی، نو ځکه به لعان پر واجب وي.



بَابُ الْعِنِّيْنِ وَغَيْرِهٖ

(دا) باب د عنّین او داسې نورو (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: مخکې د هغو خلګو احکام بیان سول. کوم چې روغ رمټ (صحیح سالم) او د نکاح صلاحیت لري. اوس له دې ځایه د هغو خلګو احکام بیانیږي کوم چې د نکاح قابل نه وي. او ښکاره خبره ده چې سالم پر غیرِ سالم مخکې وي. نو په دې وجه د عِنین أحکام د روغو (سالمو) خلګو تر احکامو وروسته بیانیږي.

عِنِّیْن: هغه سړي ته وایي کوم چې د جماع او کوروالي قدرت نه لري، برابره ده د هغه آله (ذکر) دریږي او که نه دریږي. صاحب د بنایې د قاضي خان په حواله سره د هغه په تعریف کې لیکلي دي: اَلْعِنِّیْنُ مَنْ لَّا یَصِلُ إِلَی النِّسَاءِ مَعَ قِیَامِ الْآلَةِ (یعنې عنین هغه سړي ته وایي کوم چې ذکر هم لري، خو بیا هم د ښځې سره پر جماع کولو قدرت نه لري)، وفي الجواهر: اَلْعِنِّیْنُ مَنْ لَّا یَنْتَشِرُ ذَکَرُهٗ (په جواهر کې ذکر سوي دي چې: عنین هغه کس ته وایي چې ذکرې نه منتشر کیږي، یعنې ذکرې نه دریږي او نه لکیږي)، او ویل سوي دي چې عنین ته په همدې وجه عنین وایي چې د هغه ذکر سست او ځوړند پاته وي، هیڅ انتشار نه پکښې راځي. (بنايه ج:٥، ص:٣٩١)

د عنین احکام

وَإِذَا كَانَ الزَّوْجُ عِنِّيْنًا او کله چې خاوند عنین اغير قادر على الجماع اوي أَجَّلَهُ الْحَاكِمُ سَنَةً نو حاکم دې هغه ته یو کال مهلت ورکړي فَإِنْ وَصَلَ إِلَيْهَا نو که هغه ادیوه کال په دوران کې اخپلې ښځې ته ورسیږي ایعنې د هغې سره جماع وکړی سي، نو صحیح ده ا وَإِلَّا فَرَّقَ بَيْنَهُمَا إِذَا طَلَبَتِ الْمَرْأَةُ ذٰلِكَ کنې حاکم دې د دوی په مینځ کې تفریق وکړي اپه دې شرط ا کله چې ښځه د تفریق مطالبه وکړي هٰكَذَا رُوِيَ عَنْ عُمَرَ وَعَلِيٍّ وَابْنِ مَسْعُوْدٍ همداسې له حضرت عمر، حضرت علي او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه روایت سوي دي وَلِأَنَّ الْحَقَّ ثَابِتٌ لَهَا فِي الْوَطْءِ او ځکه چې د وطي په سلسله کې د ښځې حق ثابت دی وَيَحْتَمِلُ أَنْ يَكُوْنَ الْاِمْتِنَاعُ لِعِلَّةٍ مُعْتَرِضَةٍ او احتمال لري ایعنې کېدای سي ا چې له وطي

څخه د خاوند منع کېدل د یو پیښېدونکي مرض په وجه وي وَيَحْتَمِلُ لِآفَةٍ أَصْلِيَّةٍ او دا احتمال [هم] لري چي [دهغه منع کېدل] د یو اصلي آفت په وجه وي فَلَا بُدَّ مِنْ مُدَّةٍ مُعَرِّفَةٍ لِذٰلِكَ نو د یو داسي مودت [ټاکل] ضروري دي چي هغه د دې معلومونکي وي وَقَدَّرْنَاهَا بِالسَّنَةِ او موږ هغه مودت یو کال ټاکلی دی لِاشْتِمَالِهَا عَلَى الْفُصُولِ الْأَرْبَعَةِ ځکه چي کال پر څلورو فصلونو مشتمل وي فَإِذَا مَضَتِ الْمُدَّةُ وَلَمْ يَصِلْ إِلَيْهَا لهذا کله چي [یو کال] مودت تېر شو او [خاوند] ښځي ته نه ورسېدی [او پر جماع یې قدرت پیدا نه کړی] تَبَيَّنَ أَنَّ الْعَجْزَ بِآفَةٍ أَصْلِيَّةٍ نو ښکاره سوه چي اله جماع څخه د هغه [عا...] کېدل د اصلي آفت په وجه دي فَفَاتَ الْإِمْسَاكُ بِالْمَعْرُوفِ وَوَجَبَ عَلَيْهِ التَّسْرِيحُ بِالْإِحْسَانِ نو إمساك بالمعروف فوت سو او پر هغه [خاوند] تسریح بالإحسان واجب سو فَإِذَا امْتَنَعَ نَابَ الْقَاضِي مَنَابَهُ [لیکن] کله چي هغه اله تسریح بالإحسان څخه [منع سو نو قاضي د هغه قائم مقام سو فَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا نو ځکه به [قاضي] د هغه او د ښځي په مینځ کي تفریق کوي وَلَا بُدَّ مِنْ طَلَبِهَا او [د تفریق لپاره] د ښځي مطالبه کول ضروري دي لِأَنَّ التَّفْرِيقَ حَقُّهَا ځکه چي تفریق د هغې حق دی.

اللغات: ﴿أَجَّلَ﴾ د تفعیل ماضي ده: مهلت ورکول. مودت ټاکل. ﴿مُعْتَرِضَة﴾ د افتعال مؤنث اسم فاعل دی: عارضي. پیښېدونکې. ﴿آفَة﴾ مصیبت (مرض). ﴿مُعَرِّفَة﴾ د تفعیل مؤنث اسم فاعل دی: ور پېژندونکی. معلومونکی. ﴿نَابَ﴾ د نصر ماضي ده: نائب کېدل. قائم مقام کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی عنین وي (پر جماع قدرت نه لري). او د هغه ښځه د قاضي په دربار کي د تفریق مطالبه وکړي، نو تر ټولو مخکي به قاضي د هغې خاوند ته د علاج او درملني لپاره یو کال مهلت ورکوي. که چیري هغه دیوه کال په دوران کي علاج او درملنه وکړي او پر جماع قادر سي او د ښځي د شهوت پوره کولو قدرت پیدا کړي. نو صحیح ده. او که تر یوه کال وروسته هم هغه پر جماع قادر نه سي. نو بیا به قاضي د هغه او د ښځي په مینځ کي تفریق کوي.

صاحب د هدایې فرمایي چي عنین ته د یوه کال د مهلت ورکولو حکم له حضرت عمر. حضرت علي او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ څخه نقل سوی دی. لکه څرنګه چي صاحب د بنایې د مصنف عبد الراق په حواله سره د هغو اقوال داسي نقل کړي دي: " عن سعيد بن المسيب رضي الله عنه: قال قضى عمر بن الخطاب في العنين أن يؤجّل سنة". "وعن علي رضي الله عنه: يؤجّل العنين سنة. فإن وصل إليها وإلا

فرّق بينهما". "وعن ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قال: يؤجل العنين سنةً. فإن جامع. وإلا فرق بينهما". (بنايه ج:٥. ص:٣٩٢). له دې ټولو آثارو څخه دا ښکاره سوه چي عنين ته به يو کال مهلت ورکول کيږي.

او د دې حکم عقلي دليل دا دی چي وطي د ښځې يو ثابت سوی حق دی، لېکن کله چي خاوند له وطي څخه منع سي، نو دا احتمال هم سته چي هغه به په يو عارضي مرض مبتلا وي، او دا احتمال هم سته چي د هغه مرض به اصلي او پيدائشي وي (يعني هغه به همداسي نامرد پيدا سوی وي). او د اصلي او عارض مرض معلومولو لپاره يو مودت تاکل ضروري دي، نو څکه موږ په دې سلسله کي د هغه د ازماينبت لپاره د يوه کال مودت ټاکلی دی، څکه چي کال ټوله پر څلورو فصلونو مشتمول وي: ژمی، دوبی، پسرلی، منی (خزان)، او په دې ټولو فصلونو کي په ښه توګه د مرض هيئت او کيفيت معلوميږي، اوس که خاوند يو کال وروسته حقيقتاً پر جماع قدرت پيدا کړي، او ښځه خوشحاله کړي، نو صحيح ده، کنې همدا به ګڼل کيږي چي د هغه مرض اصلي او پيدائشي دی، نو څکه هغه پر جماع قادر کېدای نه سي، لهذا د هغه د نه قادر کېدلو په وجه د ښځي په حق کي إمساک بالمعروف فوت سو. نو څکه به تسريح بالإحسان (په ښه توګه د ښځي جلا کول او طلاق ورکول) واجب وي، لېکن کله چي خاوند له دې څخه منع سي، او د تسريح بالإحسان حکم عملي نه کړي، نو بيا به قاضي د خاوند قائم مقام کيږي او د دواړو په مينځ کي به تفريق کوي، د دې لپاره چي ښځه له نا أهل او نامرد خاوند څخه وژغورل سي.

د عنين په باب کي د قاضي د تفريق حيثيت

وَتِلْكَ الْفُرْقَةُ تَطْلِيقَةٌ بَائِنَةٌ او دا فرقت به يو طلاق بائن وي لِأَنَّ فِعْلَ الْقَاضِي أُضِيفَ إِلَى فِعْلِ الزَّوْجِ څکه چي د قاضي فعل به د خاوند [د فعل] وطرف ته منسوب کيږي فَكَأَنَّهُ طَلَّقَهَا بِنَفْسِهِ نو ګواکي خاوند په خپله هغې طلاق ورکړی دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: هُوَفَسْخٌ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا فرقت به فسخ وي لَكِنَّ النِّكَاحَ لَا يَقْبَلُ الْفَسْخَ عِنْدَنَا لېکن زموږ په نيز نکاح فسخ نه قبلوي وَإِنَّمَا تَقَعُ بَائِنَةً او دا فرقت به څکه طلاق بائن وي لِأَنَّ الْمَقْصُودَ وَهُوَ دَفْعُ الظُّلْمِ عَنْهَا لَا يَحْصُلُ إِلَّا بِهَا څکه چي [د فرقت] مقصود يعني له ښځي څخه ظلم ليري کول هغه فقط په فرقت بائنه سره حاصليږي لِأَنَّهَا لَوْلَمْ تَكُنْ بَائِنَةً تَعُودُ مُعَلَّقَةً بِالْمُرَاجَعَةِ څکه که چيري دا فرقت طلاق بائن نه وي

نو ښځه به [بيرته د خاوند] په مراجعت کولو سره څوړنده وګرځي وَلَهَا كَمَالُ مَهْرِهَا إِنْ كَانَ خَلَا بِهَا او د دغه ښځي لپاره به پوره مهر وي که چيري [عنين خاوند] د هغې سره خلوت کړی وي فَإِنَّ خَلْوَةَ الْعِنِّينِ صَحِيحَةٌ ځکه چي د عنين خلوت صحيح دي وَيَجِبُ الْعِدَّةُ او عدت به [هم پر ښځي] واجب وي لِمَا بَيَّنَّا مِنْ قَبْلُ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ مخکي بيان کړی دی هٰذَا إِذَا أَقَرَّ الزَّوْجُ أَنَّهُ لَمْ يَصِلْ إِلَيْهَا او دا ټوله [تفصيل] هغه وخت دی کله چي خاوند دا اقرار وکړي چي هغه ښځي ته رسيدلی نه دی.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي کله قاضي د عنين خاوند او ښځي په مينځ کي تفريق وکړي (يا عنين په خپله ښځه پرېږدي)، نو دغه فرقت (او پرېښوول) زموږ په نيز طلاق بائن دی؛ ځکه چي د قاضي دا فعل به د خاوند وطرف ته منسوب کيږي او دا به ګڼل کيږي چي په خپله خاوند هغې ته طلاق ورکړی دی، لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله دا فرقت فسخ ګڼي، او په دليل کي فرمايي چي دغه فرقت ځکه واقع سوی دی چي ښځي د تفريق مطالبه کړې ده، او هر هغه فرقت کوم چي د ښځي له طرفه وي، هغه ته فسخ ويل کيږي، ځکه چي ښځه د طلاق أهل نه دي، خو زموږ له طرفه امام شافعي ته دا جواب ورکول کيږي چي نکاح کله پوره سي، نو بيا فسخ نه قبلوي، نو ځکه به دا فرقت فسخ نه وي، او دا فرقت که څه هم د ښځي په مطالبه سره واقع سوی دی خو د دې مطالبې اصلي سبب خاوند دی، لهذا دا فرقت اصلاً د خاوند له طرفه راغلی دی، نو ځکه به طلاقِ بائن شمارل کيږي.

وإنّما تقع إلخ: فرمايي چي دلته واقع سوی فرقت په دې وجه هم طلاقِ بائن دي چي له دغه فرق څخه مقصود دا ده چي ښځه د نا أهل خاوند څخه خلاصه سي، او دا خلاصون فقط په طلاقِ بائن سره ممکن دی، ځکه که طلاق رجعي واقع سي، نو بيا به خاوند د مراجعت کولو په ذريعه بيرته پر ښځه ومنبلي، او ښځه به بېله جماع هسي څوړنده پاته سي (ځکه چي عنين پر جماع قدرت نه لري) او پورتنی مقصود به حاصل نه سي.

وإنما تقع إلخ: فرمايي که عنين د دغه ښځي سره خلوت وکړي، نو د هغه خلوت صحيح دی او د دې خلوت په وجه پر هغه کامل مهر واجبيږي او پر ښځي به عدت هم اجب وي؛ ځکه چي دا وهم سته چي د هغې رحم به د خاوند په مني سره مشغول وي، او دا وهم فقط د عدت په ذريعه ليري کيدای سي، نو ځکه به عدت واجب وي.

هٰذا إذا أقرّ إلخ: فرمايي چي دغه حکم او تفصيل هغه وخت دی، کله چي خاوند دا اقرار کوي چي زه ښځي ته نژدې سوی نه يم، يعني تر اوسه مي پر وطي او جماع قدرت پيدا کړی نه دی، لېکن که خاوند انکار وکړي، نو بيا څه حکم دی؟ راتلونکي عبارت ته وګورئ!

که خاوند له خپل عنت (عنين کېدو) څخه انکار وکړي؟

وَلَوِاخْتَلَفَ الزَّوْجُ وَالْمَرْأَةُ فِي الْوُصُوْلِ إِلَيْهَا او که خاوند او ښځه اختلاف وکړي هغې ته په رسېدلو کې ايعني دهغې سره په وطي کولو کې ا فَإِنْ كَانَتْ ثَيِّبًا فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ مَعَ يَمِيْنِهِ نو که چيرې ښځه ثيبه وي نو د خاوند قول به د هغه د قسم سره معتبر وي لِأَنَّهُ يُنْكِرُ اسْتِحْقَاقَ حَقِّ الْفُرْقَةِ ځکه چې هغه د فرقت د حق د حقداره کېدلو انکار کوي اچې ښځه د فرقت حقداره نه ده ا وَالْأَصْلُ هُوَ السَّلَامَةُ فِي الْجِبِلَّةِ او اصل په پيدايشي [فطري] توګه [د ذکر] سالم پاتېدل دي ايعني اصل همدا دي چې د پيدايښت په وخت کې د هر سړي د تناسل آله (ذکر) صحيح، سالم وي ا ثُمَّ إِنْ حَلَفَ بَطَلَ حَقُّهَا بيا که [عنين خاوند] قسم وکړي نو د ښځې حق به باطليږي وَإِنْ نَكَلَ يُؤَجَّلُ سَنَةً او که هغه اله قسم څخه انکار وکړي نو يو کال مهلت ته به ورکول کيږي وَإِنْ كَانَتْ بِكْرًا او که [د هغه] ښځه باکره وي نَظَرَ إِلَيْهَا النِّسَاءُ نو ښځې به هغې ته ګوري ايعني د هغې معاينه او کتنه به کوي ا فَإِنْ قُلْنَ: هِيَ بِكْرٌ نو که هغوی ووايي: چې هغه باکره ده أُجِّلَ سَنَةً نو [په دې صورت کې به ا خاوند ته يو کال مهلت ورکول کيږي لِظُهُوْرِ كَذِبِهِ ځکه چې د هغه درواغ ښکاره سو وَإِنْ قُلْنَ: هِيَ ثَيِّبٌ او که ښځې ووايي: چې هغه ثيبه ده اا و عنين په وطي سره د هغې بکارت ختم کړی دی ا يَحْلِفُ الزَّوْجُ نو خاوند به قسم کوي فَإِنْ حَلَفَ لَا حَقَّ لَهَا نو که هغه قسم وکړي نو ښځې لره به هيڅ حق [او اختيار] نه وي وَإِنْ نَكَلَ يُؤَجَّلُ سَنَةً او که [خاوند له قسم څخه] انکار وکړي نو هغه ته به يو کال مهلت ورکول کيږي.

اللغات: ﴿ثَيِّب﴾ واده سوې ښځه، هغه ښځه چې د بکارت پرده يې ختمه سوې وي. ﴿جِبِلَّة﴾ فطرت. ﴿نَكَل﴾ د ماضي صيغه ده، له نصر، سمع او ضرب ټولو څخه راځي: له يو کار څخه شا ته کېدل (بې ننګي ښکاره کول)، له قسم څخه انکار کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که عنين خاوند دا دعوی وکړي چې "زه خپلې ښځې ته نږدې سوی يم او وطي مې ور سره کړې دي" لېکن ښځه انکار کوي او هغه ثيبه وي، نو په دې صورت کې به د خاوند قول د قسم سره معتبر وي؛ دليل دا دی چې دلته خاوند د فرقت د حق نه ثابتېدلو او د وطي د ثابتېدلو دعوی کونکی (مدعي) دی، چې د دې مطلب دا دی چې د هغه آله (ذکر) صحيح، سالم دی، او أصل هم دا دی چې په فطري او پيدائشي توګه د سړي ذکر صحيح، سالم پاتيږي (نو د خاوند دعوه د أصل او ظاهري حال موافق ده)، لېکن ښځه د هغه (ذکر) د سلامتی انکار کوي، نو په دې وجه د ښځې قول د ظاهر (ظاهري حال) خلاف دی، او د

خاوند قول د ظاهر مطابق دی. او قاعده دا ده چې د چا قول د ظاهر موافق وي، د هغه قول به د قسم سره معتبر وي، د قاعدې الفاظ دا دي: اَلْأَصْلُ أَنَّ مَنْ سَاعَدَهُ الظَّاهِرُ. فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ مَعَ يَمِيْنِهِ. نو ځکه به د قسم سره د خاوند قول معتبر وي.

ثم إن حلف إلخ: فرمايي که چيرې خاوند قسم وکړي، نو بيا د ښځې حق باطليږي، ليکن که هغه له قسم څخه انکار وکړي، نو بيا د علاج او درملنې لپاره هغه ته يو کال مهلت ورکول کيږي، دا ټوله تفصيل هغه وخت دی کله چې ښځه ثيبه وي.

ليکن که ښځه باکره وي، نو بيا به د هغې معامله خو ښځو ته سپارل کيږي چې هغوی به د دې باکرې ښځې د بکورت او ثيوبت معاينه او کتنه کوي، نو که هغوی د دې ښځې د باکره والي (بکورت) فيصله وکړي، نو بيا به د هغې خاوند ته يو کال مهلت ورکول کيږي، ځکه چې خاوند درواغجن ثابت سو. او که هغوی د دې ښځې د ثيبه والي (ثيوبت) فيصله وکړي، نو بيا به له خاوند څخه قسم اخيستل کيږي، ځکه کيدای سي چې د هغې بکارت به له وطي څخه بغير د ټوپ وهلو يا داسې بل شي په وجه زائل سوی دی. لهذا که خاوند قسم وکړي (چې ما وطي ور سره کړې دي)، نو بيا به همدا طرف مؤکد سي او د ښځې حق به ختم سي. ليکن که خاوند له قسم څخه انکار وکړي، نو بيا به د ښځې دعوې ته يو ډول تقويت حاصل سي. او خاوند ته به يو کال مهلت ورکول کيږي، د دې لپاره چې هغه د علاج او درملنې په ذريعه خپل ځان روغ، جوړ کړي.

صاحب د بنايې او عنايې ليکلي دي چې د ښځې د بکورت او ثيوبت معلومولو لپاره درې طريقې دي: ①... د ښځې شرمګاه (فرج) ته دې د چرګې کوچنۍ هګۍ داخله کړی سي، که هغه هګۍ په آسانۍ سره د ښځې په شرمګاه کې ولاړه سي، نو هغه به ثيبه ګڼل کيږي. ليکن که هغه په آسانۍ سره ولاړه نه سي، نو بيا به هغه باکره ګڼل کيږي. ②... دويم صورت دا دی چې د هغې ښځې لپاره پر ديوال متيازې کول ممکن وي، نو باکره ده. کنې ثيبه ده. ③... دريم صورت دا دی چې هګۍ دې ماته کړی سي او د ښځې شرمګاه ته دې واچول سي، که د هګۍ مواد دننه ولاړ سي. نو هغه ثيبه ده. کنې باکره ده. (بنايه ج:۵، ص: ۳۹۵)

د مقطوعُ الذکر خاوند او خصي خاوند حکم

وَإِنْ كَانَ مَجْبُوبًا او که [خاوند] مقطوع الذکر وي فُرِّقَ بَيْنَهُمَا فِي الْحَالِ نو د ښځې او خاوند په مينځ کې به فی الحاله [سمدستي] تفريق کيږي إِنْ طَلَبَتْ [په دې شرط] که چيرې ښځه [د تفريق] مطالبه وکړي لِأَنَّهُ لَا فَائِدَةَ فِي التَّأْجِيلِ ځکه چې [هغه ته] په مهلت ورکولو کې هيڅ فائده نسته [يعني کله د خاوند ذکر پرېکړی سوی وي نو د علاج لپاره په مهلت ورکولو سره هغه نه جوړېدلای او نه پر وطي قدرت پيدا کولای سي. نو ځکه د ښځې په مطالبه سره قاضي د دوی په مينځ کې تفريق کوي] وَالْخَصِيُّ يُؤَجَّلُ كَمَا

يُؤَجَّلُ الْعِنِّيْنُ او خصي خاوند ته به داسي مهلت ورکول کيږي لکه څرنګه چي عنين ته مهلت ورکول کيږي لِأَنَّ وَطْأَهُ مَرْجُوٌّ ځکه چي د هغه د وطي کولو اُميد سته ائحکه چي د خصي ذکر موجود وي، فقط په خصيتينو (خوټو) کي يې خامي وي، نو دا اُميد سته چي په علاج کولو او په معجون يا داسي بل طاقتور درمل سره هغه جوړ سي او پر وطي قادر سي، نو ځکه به هغه ته هم د علاج لپاره يو کال مهلت ورکول کيږي.

اللغات: ﴿مَجْبُوْب﴾ هغه سړی چي ذکر يې پرېکړی سوي وي. ﴿خَصِيّ﴾ خسي هغه سړی چي خوټي (خصيتين) يې ټکول سوي وي.

تشريح: مسئله په عبارت کي تشريح سوه.

که تر مهلت وروسته عنين د جماع کولو دعویٰ وکړي او ښځه انکار وکړي؟

وَإِذَا أُجِّلَ الْعِنِّيْنُ سَنَةً او کله چي عنين ته يو کال مهلت ورکول سي وَقَالَ: قَدْ جَامَعْتُهَا وَأَنْكَرَتْ او [په دې دوران کي] هغه ووايي: چي ما د ښځي سره جماع وکړه او ښځه [د هغه] انکار وکړي نَظَرَ إِلَيْهَا النِّسَاءُ نو ښځي به هغې ته وګوري [يعني د هغې معاينه به وکړي] فَإِنْ قُلْنَ: هِيَ بِكْرٌ که ښځي ووايي: چي هغه باکره ده خُيِّرَتْ نو هغې ته به اختيار ورکول کيږي لِأَنَّ شَهَادَتَهُنَّ تَأَيَّدَتْ بِمُؤَيِّدٍ وَهِيَ الْبَكَارَةُ ځکه چي د ښځو شهادت په يو مؤيد سره قوي سو چي هغه بکارت دی [د دې جملې مطلب همدا دی چي د ښځو شهادت د دې خبري تائيد وکړی چي هغه باکره ده] وَإِنْ قُلْنَ: هِيَ ثَيِّبٌ او که ښځي ووايي: چي هغه ثيبه ده حَلَفَ الزَّوْجُ نو خاوند به قسم کوي فَإِنْ نَكَلَ او که [خاوند له قسم څخه] انکار وکړي خُيِّرَتْ نو هغې ته به اختيار ورکول کيږي لِتَأَيُّدِهَا بِالنُّكُوْلِ ځکه چي [د خاوند] په انکار سره د هغې تائيد وسو وَإِنْ حَلَفَ او که [خاوند] قسم وکړي لَا تُخَيَّرُ نو هغې ته به اختيار نه ورکول کيږي.

اللغات: ﴿تَأَيَّدَتْ﴾ د تفعّل ماضي ده: مضبوطېدل، مؤيّد کېدل، تأئيد حاصلېدل. ﴿بَكَارَة﴾ باکره کېدل (او د ښځي په فرج کي هغه پرده کوم چي د پېغلتوب او د ښځي د سالمتوب او سپېځلتوب نښه وي).

تشريح: مسئله: دا ده چي کله قاضي عنين خاوند ته يو کال مهلت ورکړي، او د کال په دوران کي عنين قاضي صاحب ته ووايي چي ما خو د ښځي سره وطي وکړي او د هغې کار مي وکړی (ثيبه مي وګرځول)، لېکن ښځه بيا د دې انکار کوي، نو قاضي دي د ښځو يوه غونډه تشکيل کړي چي د دغه د

بکورت او ثيوبت معاينه وکړي، نو که هغوی دا ښځه باکره وګڼي، نو بيا به هغې ته د تفريق او عدمِ تفريق اختيار سي، او د هغې د خوښې مطابق به فيصله کيږي، ځکه چي د ښځو په شهادت سره د هغې دا دعوی (چي زه ثيبه نه يم، بلکي باکره يم) نوره مؤکده او مضبوطه سوه. نو ځکه به هغه ربښتونې شمارل کيږي او خاوند به دروغجن ګڼل کيږي او د ښځي د خوښی مطابق به فيصله کيږي.

لېکن که هغه ښځو وويل چي دا ښځه ثيبه ده، نو له خاوند څخه به قسم اخيستل کيږي. که چيري خاوند له قسم کولو څخه انکار وکړي، نو بيا به ښځي ته (د تفريق او عدمِ تفريق) اختيار وي. ځکه چي د قسم په انکار سره د ښځي دعوی مظبوطه سوه، نو ځکه به د ښځي د خوښې او اختيار مطابق فيصله کيږي، او که خاوند قسم وکړي، نو د دې ښځي حق به باطليږي او فيصله به د خاوند په لاس کي وي. ځکه چي د معاينه کونکو ښځو په شهادت او د هغه په خپل قسم سره د هغه دعوی مظبوطه سوه.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَإِنْ كَانَتْ ثَيِّبًا فِي الْأَصْلِ او که ښځه په اصل کي [يعني د عنين سره تر نکاح کولو مخکي] ثيبه وي فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ مَعَ يَمِينِهِ نو د قسم سره به د هغه قول معتبر وي وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ او موږ د دې [دليل] ذکر کړی دی فَإِنِ اخْتَارَتْ زَوْجَهَا بيا که ښځه خپل خاوند اختيار کړي لَمْ يَكُنْ لَهَا بَعْدَ ذٰلِكَ خِيَارٌ نو تر دې وروسته به هغې ته اختيار نه وي لِأَنَّهَا رَضِيَتْ بِبُطْلَانِ حَقِّهَا ځکه چي هغه د خپل حق په باطلېدلو راضي سوه وَفِي التَّأْجِيلِ تُعْتَبَرُ السَّنَةُ الْقَمَرِيَّةُ او په مهلت ورکولو کي به د قمري کال اعتبار کيږي هُوَ الصَّحِيحُ ✿ همدا صحيح [او ظاهر روايت] دی [لېکن غيرِ ظاهر روايت دا دی چي د شمسي کال اعتبار به کيږي] وَيُحْتَسَبُ بِأَيَّامِ الْحَيْضِ وَبِشَهْرِ رَمَضَانَ او د حيض ورځي او د رمضان مياشته به [په هغه کال کي هم] شمارل کيږي لِوُجُودِ ذٰلِكَ فِي السَّنَةِ ځکه چي دا په کال کي موجود دي [يعني دا ورځي او دا مياشته خامخا په کال کي راځي] وَلَا يُحْتَسَبُ بِمَرَضِهِ وَمَرَضِهَا او د خاوند او ښځي [دا] مرض [ورځي] به نه شمارل کيږي لِأَنَّ السَّنَةَ قَدْ تَخْلُو عَنْهُ ځکه چي کله نا کله کال د مرض څخه خالي وي.

✿ القول الراجح: هو غير ظاهر الرواية، يعني أنه يؤجل سنة شمسية، كما قال العلامة ابن الهمام (فتح القدير ج:۴، ص: ۱۳۲)، كذا في رد المحتار (ج:۲، ص:۶۴۶). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۶۵]

اللغات: ﴿بُطْلَان﴾ د نصر مصدر دی: باطلېدل. ﴿تَأْجِيل﴾ د تفعيل مصدر دی: وخت تاكل. مهلت وركول. ﴿يُحْتَسَبُ﴾ د افتعال له باب څخه د مضارع مجهولي صيغه ده: شمارل. حسابل.

تشريح: **مسئله:** دا ده كه ښځه له ړخوا څخه ثيبه وي او بيا د جماع په هكله د عنين خاوند او ښځې اختلاف سي، نو په دې صورت كي به د خاوند قول د قسم سره معتبر وي، دليل مخكي تېر سو چي خاوند د فرقت د ثبوت منكر دی، او ښځه مدعيه ده، او كله چي د مدعي سره بينه نه وي نو د قسم سره به د منكر قول معتبر وي. او كه له قسم څخه د خاوند د انكار كولو په وجه ښځې ته اختيار وركول سي، او ښځه خپل خاوند اختيار كړي، اوس به د آئيده لپاره د هغې خيار حق ساقط كيږي (يعني بيا به هغې د تفريق د مطالبه كولو اختيار نه وي)، ځكه چي هغې د خاوند په اختيارولو سره خپل حق باطل كړی، او د خپل حق پر باطلولو راضي هم سه.

وفي التأجيل: فرمايي كله چي عنين ته يو كال مهلت وركول كيږي، نو په هغه كي به د قمري كال اعتبار كيږي (چي هغه ټوله ۳۵۴ ورځي دی). همدا ظاهر روايت دی، او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي په هغه كي به د شمسي كال اعتبار كيږي (چي هغه ټوله ۳۶۵ ورځي دی). او صحيح ظاهر روايت دی (چي د قمري كال اعتبار به كيږي). لېكن صاحب د "قول الراجح" ليكلي دي چي راجح او مفتیٰ به غير ظاهر روايت دی چي په مهلت وركولو كي به د شمسي كال اعتبار كيږي.

او د يوه كال په مودت كي به د ښځې د حيض ورځي او د رمضان مياشته هم شمارل كيږي، ځكه چي دا شيان خامخا په يوه كال كي راځي، نو ځكه به هغه له حساب څخه نه جلا كيږي، خو داسي كېداى سي چي په يوه كال كي هم مرض را نه سي، نو ځكه به د خاوند د مرض مودت او د ښځې د مرض مودت د كال په ورځو كي نه شمارل كيږي. مثلاً كه يوه مياشت خاوند په مرض (ناجوړي) مبتلا سي، او يوه مياشت ښځه په مرض مبتلا سي. نو بيا به خاوند ته له يو كال څخه بغير دوې مياشتي نور مهلت وركول كيږي، ځكه چي دا دوې مياشتي شمارل سوي نه دي.

د ښځې د عيبونو (مرضونو) په وجه د نكاح نه فسخ كېدلو بيان

وَإِذَا كَانَ بِالزَّوْجَةِ عَيْبٌ او كه په ښځه كي يو عيب وي فَلَا خِيَارَ لِلزَّوْجِ نو خاوند لره به د نكاح فسخ كولو اختيار نه وي وَقَالَ: الشَّافِعِيُّ: يُرَدُّ بِالْعُيُوبِ الْخَمْسَةِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د پنځو عيبونو په وجه نكاح فسخ كېدلاى سي وَهِيَ الْجُذَامُ وَالْبَرَصُ وَالْجُنُونُ وَالرَّتَقُ وَالْقَرَنُ او هغه جذام. پيس. لېونتوب. د جماع د لاري بندېدل او د جماع په لار كي د هډوكي پيدا كېدل دي لِأَنَّهَا تَمْنَعُ الِاسْتِيفَاءَ حِسًّا أَوْ طَبْعًا ځكه چي دا عيبونه په حسي يا طبعي توګه له مقصود حاصلولو او استفاده كولو څخه مانع دي وَالطَّبْعُ مُؤَيَّدٌ بِالشَّرْعِ او د طبع تائيد په شريعت سره سوی دی قَالَ:

[الحديث] ❶ :فِرَّ مِنَ الْمَجْذُوْمِ فِرَارَكَ مِنَ الْأَسَدِ نبي ﷺ فرمایلي دي: له جذام نیولي سړي څخه داسي تښته! [څغله] لکه له شېر څخه چي تښتې وَلَنَا أَنَّ فَوْتَ الْاِسْتِيفَاءِ أَصْلًا بِالْمَوْتِ لَا يُوجِبُ الْفَسْخَ زموږ دليل دا دی: چي د مرګ په وجه سره په پوره توګه د استفادې ختمېدل هم فسخ نه واجبوي ایعني د مرګه په وجه په پوره استفاده کول ختمېږي لیکن بیا هم نکاح نه فسخ کیږي| فَاخْتِلَالُهُ بِهٰذِهِ الْعُيُوبِ أَوْلٰى نو په دې عیبونو سره به د استفادې مختل کېدل [عیبي کېدل] په درجه اولیٰ سره فسخ نه واجبوي وَهٰذَا لِأَنَّ الْاِسْتِيفَاءَ مِنَ الثَّمَرَاتِ او دا ځکه چي استفاده [فایده اخیستل] د نکاح له ثمراتو څخه دي وَالْمُسْتَحَقُّ هُوَ التَّمَكُّنُ او [اصلي] د حق وړ هغه [پر ښځي] قدرت حاصلېدل دي وَهُوَ حَاصِلٌ او هغه [دلته خاوند ته] حاصل دي.

اللغات: ﴿جُذَام﴾ خوراړه، پړنګ، یو ډول بده ساري ناروغي ده. ﴿بَرَص﴾ د پیس مرض. ﴿رَتْق﴾ د ښځي په شرمګاه (فرج) کي دوې لاري دي: یوه د متیازي کولو لاره ده، او بله د وطي کولو لاره ده. لیکن که دواړې لاري یو سوي وي (یعني د متیازو د لاري څخه بغیر بله لاره نه وي)، او جماع ور سره کول مشکل وي، نو دې ته رَتْق وایي. ﴿قَرْن﴾ ښکر. دا هغه مرض ته وایي چي د ښځي په شرمګاه په کي د ښکر په شير هډوکي پيدا سي، او لاره دومره تنګه کړي چي د سړي لپاره خپل ذکر داخلول ناممکن وي، ﴿إِسْتِيْفَاء﴾ د استفعال مصدر دی: په پوره توګه حاصلول (مراد ځني مقصود حاصلول او له ښځي څخه استفاده کول دي). ﴿مَجْذُوْم﴾ جذام نیولی (جذام وهلی)، په خوراړه مبتلا. ﴿تَمَكُّن﴾ د تفعل مصدر دی: قدرت حاصلول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که په یوه ښځه کي داسي خطرناک عیب او مرض پیدا سي چي هغه له جماع څخه مانع وي، نو په دې صورت کي هم زموږ په نیز خاوند ته د نکاح فسخ کولو حق نسته. لیکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي که په مذکوره پنځو عیبونو کي یو عیب په ښځه کي پیدا سي، نو د دغه عیب په وجه به خاوند ته د نکاح فسخ کولو (ماتولو) حق او اختیار حاصل وي، هغه پنځه عیبونه دا دي: ① جذام، ② برص (د پس مرض)، ③ جنون (لیونتوب)، ④ رَتْق (چي د ښځي په فرج کي د متیازو د لاري څخه بغیر بله لاره نه وي)، ⑤ قَرْن (چي د ښځي په شرمګاه کي هډوکي پیدا سي، او لاره دومره تنګه سي چي سړي دخول کولای نه سي)، دا پنځه عیبونه دي، او په دوی کي هر عیب له جماع څخه طبعاً مانع دی. یا حساً. لکه څرنګه چي آخري دوه یعني رتق او قرن په حسّي توګه د جماع مانع دي، ځکه که په ښځي کي دا عیبونه وي، نو بیا له ښځي څخه استفاده کول ناممکن دي، او اول درې عیبونه طبعاً د جماع مانع دي. ځکه په

❶ تخريج: أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه، باب من كان يتقي المجذوم، حديث رقم: ٢٤٥٤٣

داسي عيبونو مبتلا ښځي ته د انسان خواهش نه کيږي، بلکي طبيعت يې له داسي ښځي څخه کرکه او انکار کوي، او دا انکار دومره قوي دی چي په خپله نبي کريم ﷺ د دغه تائيد کړی دی، فرمايي: فِرَّمِنَ الْمَجْذُوْمِ فِرَارَكَ مِنَ الأَسَدِ (يعني څرنګه چي ته له شېر څخه په تېزه تښتې هغسي له جزام نيولي مريض څخه هم تښته)، نو معلومه سوه چي که په ښځه کي له دې عيبونو څخه يو عيب پيدا سي، نو بيا له هغې څخه فايده اخيستل او جماع ورسره کول ناممکن دي، لهذا د نکاح مقصد به حاصل نه سي، نو ځکه به د دې هر عيب د پيدا کېدلو په وجه خاوند لره د نکاح فسخ کولو حق وي.

ولنا إلخ: زموږ دليل دا دی چي عيب که هر څومره قوي او خطرناک هم وي، لېکن تر مرګ قوي کېدلای نه سي، او د مرګ په وجه سره د جماع ناممکن کېدل او فوتېدل د نکاح فسخ کولو سبب نه دي (بلکي تر مرګ وروسته هم نکاح پاته وي، مهر او داسي نور حقوق لازم وي)، او په دې عيبونو کي که څه هم جماع کول نا ممکن دي لېکن بيا هم خاوند ته پر ښځي پوره قدرت حاصل دی، او له وطي څخه بغير هر ډول استفاده ځني کولای سي، نو دلته به په طريقه اولی د نکاح فسخ کولو اجازه نه وي.

وهذا إلخ: فرمايي چي جماع او وطي کول د نکاح مقصد نه دي، جماع خو د نکاح له ثمراتو او منافعو څخه ده، د نکاح مقصد پر ښځي قدرت حاصلېدل دي، او د دې عيبونو په وجود کي هم انسان ته پر ښځي قدرت حاصل وي، او له نکاح څخه همدغه مقصود دي، نو ځکه به خاوند ته د نکاح فسخ کولو حق او اختيار نه ورکول کيږي.

د خاوند د عيبونو په وجه د نکاح نه فسخ کېدلو بيان

وَإِذَا كَانَ بِالزَّوْجِ جُنُوْنٌ أَوْ بَرَصٌ أَوْ جُذَامٌ او کله چي وي په خاوند باندي لېونتوب يا د پيس مرض يا د جذام مرض فَلَا خِيَارَ لَهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ ❁ نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به [د دغه] ښځي ته [د نکاح فسخ کولو] اختيار نه وي وَقَالَ: مُحَمَّدٌ: لَهَا الْخِيَارُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي هغې ته به اختيار وي دَفْعًا لِلضَّرَرِ عَنْهَا له هغې څخه د ضرر ليري کولو لپاره كَمَا فِي الْجَبِّ وَالْعُنَّةِ لکه په مقطوع الذکر کېدلو او عنين کېدلو کي [چي هم دغه حکم دی] بِخِلَافِ جَانِبِهِ په خلاف د خاوند د طرف لِأَنَّهُ مُتَمَكِّنٌ مِنْ دَفْعِ الضَّرَرِ بِالطَّلَاقِ ځکه چي خاوند د طلاق په ذريعه د ضرر پر دفع کولو قادر دی وَلَهُمَا: أَنَّ الْأَصْلَ عَدَمُ الْخِيَارِ د شيخينو دليل دا دی: چي اصل خو د اختيار

❁ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامه ابن الهمام (فتح القدير ج:۴، ص:۱۳۵). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۶۷]

نشتوالي دی اُچي ښځي لره د دې اختيار نه وي ا لِمَا فِيهِ مِنْ إِبْطَالِ حَقِّ الزَّوْجِ ځکه چي په دې کي د خاوند حق باطلول دي وَإِنَّمَا يَثْبُتُ فِي الْجَبِّ وَالْعِنَّةِ لېکن په مجبوب او عنين کېدلو ځکه اښځي لره اخيار ثابتيږي لِأَنَّهُمَا يُخِلَّانِ بِالْمَقْصُودِ الْمَشْرُوعِ لَهُ النِّكَاحُ ځکه چي دا دواړه اعيبونه ا په هغه مقصود کي خلل اچونکي دي دکوم امقصود ا لپاره چي نکاح مشروع سوې ده وَهَذِهِ الْعُيُوبُ غَيْرُ مُخِلَّةٍ بِهِ او دا عيوب په هغه مقصود کي خلل اچونکي نه دي فَافْتَرَقَا نو ځکه يو له بل څخه جلا سو ايعني په دواړو کي فرق ښکاره سو ا.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يوې ښځي خاوند لېونی (پاګل) وي يا د برص او جذام په مرض مبتلا وي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د هغه وښځي ته د نکاح فسخ کولو (ماتولو) اختيار نسته، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي ښځي ته به د دې اختيار ورکول کيږي.

د امام محمد دليل : قياس دی، يعني امام محمد رَحِمَهُ الله د خاوند دا مرضونه پر جَبّ (قطع الذکر) او عِنَّة (عدم القدرة على الجماع) باندي قياسوي، او د دواړو په مينځ کي علت مشترکه له ښځي څخه ضرر ليري کول دي. يعني کله چي خاوند مقطوع الذکر يا عنين وي، نو له ښځي څخه د ضرر ليري کولو لپاره هغې ته اختيار ورکول کيږي، همداسي به دلته هم له ښځي څخه د ضرر ليري کولو لپاره هغې ته اختيار ورکول کيږي. د دې په خلاف که ښځه په دې عيبونو مبتلا وه، نو خاوند ته به اختيار نه ورکول کيږي، ځکه چي خاوند د طلاق په ذريعه له خپل ځان څخه د ضرر پر دفع کولو قدرت لري، نو ځکه به هغه ته د نکاح فسخ کولو هيڅ اختيار نه وي.

د شيخينو دليل : دا دی چي اصل خو همدا خبره ده چيَ ښځي لره د دې اختيار نه وي، ځکه که ښځي ته د نکاح فسخ کولو اختيار ورکول سي، نو د خاوند حق به باطل سي. لېکن د قطع الذکر او عِنة په صورت کي به ښځي ته ځکه اختيار ورکول کيږي چي دا دواړه عيبونه د نکاح شرعي مقصود يعني وطي فوت کوي، او برص او داسي نور عيبونه په پوره توګه دا مقصود نه فوت کوي، نو په مقيس (يعني برص او پاته څلور عيبونه) او په مقيس عليه (يعني په قطع الذکر او عِنّة) کي فرق راغلی، لهذا يو پر بل قياسول صحيح نه دي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم

﴿د نکاح فسخ کولو ټوله اسباب په يوه نقشه کي﴾

زموږ په اوسني زمانه کي کله نا کله د ځيني وجوهاتو پر بناء د نکاح فسخ کولو او ختمولو ته سخت ضرورت پيښ سي، نو د دې ضرورت په خاطر صاحب د اثمار الهدايې د نکاح فسخ کولو ټوله اسباب په تفصيل سره بيان کړي دي، چي هغه به موږ په اختصار سره په يوه نقشه کي بيان کړو، هغه فرمايي که په دې اسبابو کي هر سبب پيدا سي، نو بيا نکاح فسخ کول او د ښځي او خاوند تر مينځ تفريق واقع کول صحيح او جائز دي، خو بايد په تفريق کولو کي تلوار نه وسي، بلکي اول د خاوند او ښځي په مينځ کي بايد د صلح کوښښ وکړی سي، او د هغوی د شکاياتو د حل کولو او د نکاح پاته کولو لپاره هره طريقه اختيار کړی سي، لېکن کله چي ټولي حربې ناکامه سي، او د نکاح پاته کولو او يو ځای اوسېدلو هيڅ صورت نه جوړېږي، نو بيا به د مجبوری په وجه نکاح فسخ کيږي او د ښځي او خاوند په مينځ کي به تفريق واقع کيږي، او هغه اسباب په لاندي ډول دي:

شمېر	د فسخ اسباب
(١)	په خاوند او ښځه کي سخت نفرت او شقاق پيدا کېدل (چي بالکل د دواړو ګزاره ناممکنه سي).
(٢)	د زوجيت حقوق نه اداء کول (يعني کله چي خاوند د قدرت باوجود د ښځي سره وطي نه کوي)، که څه هم نفقه او داسي نورو حقوق اداء کوي.
(٣)	د قدرت باوجود ښځي ته نفقه نه ورکول.
(٤)	له نفقې څخه د خاوند عاجزه کېدل (په دې صورت کي که د ښځي سره هم د نفقې هيڅ انتظام نه وي، نو مجبوراً به نکاح فسخ کيږي، خو زموږ اصل فتویٰ دا ده چي بايد ښځه ګرسره په قرض او پور ګزاره وکړي او نکاح فسخ نه کړي)
(٥)	د ښځي سخت وهل او رټل (که خاوند ښځه سخته وهي، يا داسي بده ښکنځا ورته کوي، چي هغه د ښځي لپاره انتهايي د تحقير او تکليف سبب وي، چي د هغه په وجه د خاوند سره ګزاره کول مشکل وي، نو په دې صورت کي هم ښځي ته د نکاح فسخ کولو حق سته چي له قاضي څخه د تفريق مطالبه وکړي او نکاح فسخ کړي)
(٦)	د خاوند ورکېدل (يعني چي د ژوند او مرګ درک يې معلوم نه وي)
(٧)	د خاوند درک ورکېدل (يعني دا معلومه وي چي خاوند ژوندی دی، لېکن درک او پته يې نا معلومه وي، يا يې درک معلوم وي، خو ښځي ته نه راځي او نه ښځه را غواړي او نه يې نفقه اداء کوي، په داسي صورت کي هم نکاح فسخ کول صحيح دي)

(۸)	د اختلافُ الدارين په وجه د زوجيت حقوق نه اداء کېدل (له دې څخه دارُ الحرب او دارُ الاسلام مراد نه دي، بلکې مطلب يې دا دی چې کله د دوو ملکو په مينځ کې د ويزې نظام وي، او ويزه نه پيدا کيږي، مثلاً خاوند د پاکستان وي، او ښځه د هندوستان وي، او خاوند نه خلع کوي، او نه طلاق ورکوي، نو په دې صورت کې ښځې ته د نکاح فسخ کولو اختيار سته).
(۹)	پر وطي د خاوند نه قادر کېدل (يعني عنين کېدل، يا د هغه ذکر پرېکېدل. يا دا چې د خاوند ذکر دومره کوچنی وي چې پر جماع قدرت نه لري).
(۱۰)	د خاوند مجنون کېدل (يعني چې د خاوند لېونتوب داسې حدّ ته ورسيږي چې ښځه خطره ځنې محسوس کړي چې هسې نه يو چم راوکړي، خو په دغه صورت او راتلونکي صورت کې به خاوند ته د علاج لپاره يو کال مهلت ورکول کيږي).
(۱۱)	په موذي او خطرناک مرض د خاوند مبتلا کېدل (لکه د پيس مرض او داسې نور)
(۱۲)	په غيرِ کفو کې نکاح کول (د دې ډېر صورتونه دي چې په ځينو صورتونو کې نکاح فسخ کول صحيح دي، او په ځينې صورتونو کې صحيح نه دي، د تفصيل لپاره بايد فقهي کتابونو ته مراجعه وسي).
(۱۳)	په ډېر کم مهر نکاح کول (يعني که بالغه ښځه د خپل ولي له اجازت څخه بغير په داسې مهر نکاح وکړي، چې هغه له مهرِ مثل څخه ډېر کم وي، نو په دې صورت کې به اول خاوند ته د مهرِ مثل پوره کولو حکم کيږي، کنې بيا به نکاح فسخ کيږي).
(۱۴)	د ښځې سره په دوکه نکاح کول (چې مثلاً زه په فلانکې ځای کې دومره جائيداد لرم، يا دومره مهر درکوم او حقيقتاً هغسې نه وي...).
(۱۵)	خيارِ بلوغ (يعني کله چې له پلار او نيکه څخه بغير بل څوک د نابالغ هلک يا نجلۍ نکاح وکړي، که څه هم په کفو کې وي، نو تر بلوغ وروسته هغه هلک يا نجلۍ ته دا اختيار سته چې نکاح فسخ کړي يا يې باقي وساتي).
(۱۶)	د حرمت مصاهرت په وجه تفريق (مثلاً ښځه دعوی وکړي چې خاوند زما په اُصولو او فروعو کې يو چا ته په شهوت سره لاس ور وړی دی، او خاوند د هغه تصديق وکړي، يا داسې يو بل صورت پېښ سي، نو د دائمي حرمت پيدا کېدلو په وجه به د دوی په مينځ کې تفريق کيږي).
(۱۷)	د نکاحِ فاسد په وجه تفريق (مثلاً له ګواهانو څخه بغير نکاح وسي، او داسې نور).



بَابُ العِدَّةِ

(دا) باب د عدت (د احکامو په بیان کې) دی

تشريح: مخکې تر دې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله فرقت او د فرقت اسباب بيان کړل. او څرنګه چې عدت هم د فرقت أثر او نښه ده. او أثر له مؤثر څخه وروسته وي، نو په دې وجه له طلاق او فسخ څخه وروسته اوس د عدت احکام او مسائل بيانوي.

د عدت لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د عدت لغوي معنیٰ ده: شمارل، د حيض ورځې شمارل. او څرنګه چې عدت تېرونکې ښځه (معتده) د عدت په وخت کې خپلې ورځې شماري (چې څومره ورځې به په عدت کې تېروم، او څو ورځې تيرې سوې دي...)، نو ځکه هغه ته "عدة" وايي.

او د عدت شرعي معنیٰ ده: تَرَبُّصٌ يَلْزَمُ الْمَرْأَةَ عِنْدَ زَوَالِ مِلْكِ الْمُتْعَةِ مُؤَكَّدًا بِالدُّخُولِ. أَوِ الْخَلْوَةِ. أَوِ الْمَوْتِ (يعني داسې انتظار او درنګ کول کوم چې پر ښځې هغه وخت لازميږي کله چې په دخول. يا په خلوت. يا په مرګ سره مؤکّد ملک متعه [ملک نکاح] زائل سي).

د عدت تېرولو درې صورتونه دي: ① د حيض په ذريعه عدت تېرول. ② د مياشتو په ذريعه عدت تېرول. ③ د وضع حمل (کوچنې زېږولو) په ذريعه عدت تېرول. د تفصيل لپاره لاندې نقشې ته وګورئ!

﴿ د آزادې ښځې عدت ﴾

شمېر	طلاق يا وفات (مړينه)	حيض يا حمل	څومره
(۱)	د طلاق يا نکاح فسخ کېدلو عدت	که ښځه حائضه وي	درې حيضونه
(۲)	=	که حائضه نه وي	درې مياشتې
(۳)	=	که حامله وي	وضع حمل
(۴)	د خاوند د وفات عدت	که ښځه حائضه وي	څلور مياشتې او لس ورځې
(۵)	=	که حائضه نه وي	څلور مياشتې او لس ورځې
(٦)	=	که حامله وي	وضع حمل

﴿ د مېنځې عدت ﴾

شمېر	طلاق یا وفات (قرینه)	حیض یا حمل	څومره
(١)	د طلاق یا نکاح فسخ کېدلو عدت	که مېنځه حائضه وي	دوه حیضونه
(٢)	=	که حائضه نه وي	یونیمه میاشت
(٣)	=	که حامله وي	وضع حمل
(۴)	د خاوند د وفات عدت	که مېنځه حائضه وي	دوې میاشتې او پنځه ورځې
(۵)	=	که حائضه نه وي	دوې میاشتې او پنځه ورځې
(۶)	=	که حامله وي	وضع حمل

د حائضې آزادې ښځې د طلاق عدت

وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ طَلَاقًا بَائِنًا أَوْ رَجْعِيًّا او کله چې سړی خپلې ښځې ته طلاقِ بائن یا طلاقِ رجعي ورکړي أَوْ وَقَعَتِ الْفُرْقَةُ بَيْنَهُمَا بِغَيْرِ طَلَاقٍ یا له طلاق څخه بغیر په دوی دواړو کې فرقت واقع سي وَهِيَ حُرَّةٌ مِمَّنْ تَحِيضُ او ښځه آزاده وي او له هغو ښځو څخه وي چې حیض ورته راځي فَعِدَّتُهَا ثَلَاثَةُ أَقْرَاءٍ نو د هغې عدت درې حیضه دي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ [البقرة: ٢٢٧] ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: او طلاقې سوې ښځې به ایساروي خپل ځانونه تر درېو میاشتو پورې وَالْفُرْقَةُ إِذَا كَانَتْ بِغَيْرِ طَلَاقٍ فَهِيَ فِي مَعْنَى الطَّلَاقِ او هغه فرقت کوم چې له طلاق څخه بغیر [واقع سوی] وي هغه [هم] د طلاق په معنیٰ سره دی لِأَنَّ الْعِدَّةَ وَجَبَتْ لِلتَّعَرُّفِ عَنْ بَرَاءَةِ الرَّحِمِ فِي الْفُرْقَةِ الطَّارِئَةِ عَلَى النِّكَاحِ ځکه عدت د دې لپاره واجب سوی دی چې [له حمل څخه] د رحم خالي والی معلوم سي په هغه فرقت کې کوم چې په نکاح کې واقع سوی [یعنې د نکاح په حالت کې راغلی] دی وَهَذَا يَتَحَقَّقُ فِيهَا او دا معنیٰ په هغه [بېله طلاقه] فرقت کې هم ثابتېږي. وَالْأَقْرَاءُ الْحِيَضُ عِنْدَنَا او زموږ په نیز له أقراء څخه حیض مراد دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: الْأَطْهَارُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې طهرونه [څنې] مراد دي وَاللَّفْظُ حَقِيقَةٌ فِيهِمَا او لفظ د قُرُوْء په دواړو معناوو کې حقیقت دی [یعنې د حیض او طهر دواړو لپاره په حقیقي توګه استعمالیږي، نه په مجازي توګه] إِذْ هُوَ مِنَ الْأَضْدَادِ ځکه چې دا لفظ له أضدادو څخه دی كَذَا قَالَهُ ابْنُ السِّكِّيتِ همداسې ابن سکیت ویلي دي وَلَا يَنْتَظِمُهُمَا جُمْلَةً او دا لفظ

دواړو معناوو ته په يوه وار شامليداى نه سي لِلِاشْتِرَاكِ ځکه چي هغه مشترک دى [په دواړو معناوو کي] وَالْحَمْلُ عَلَى الْحَيْضِ أَوْلَى او [دا لفظ] پر حيض حمل کول ډېر غوره دي إِمَّا عَمَلًا بِلَفْظِ الْجَمْعِ يا خو د جمع په لفظ باندي په عمل کولو سره لِأَنَّهُ لَوْ حُمِلَ عَلَى الْأَطْهَارِ ځکه که دا [لفظ (قروء)] پر طهر حمل کړى سي وَالطَّلَاقُ يُوقَعُ فِي طُهْرٍ او طلاق په طهر کي واقع کيږي [لهٰذا کله چي طلاق په طهر کي واقع سي] لَمْ يَبْقَ جَمْعًا نو هغه به [لفظ د] جمع پاته نه سي أَوْ لِأَنَّهُ مُعَرِّفٌ لِبَرَاءَةِ الرَّحِمِ يا ځکه چي هغه [قروء (حيض)] د رحم د خالي والي معلومونکى دى [يعني د رحم خالي والي فقط په حيض سره پېژندل کېداى سي] وَهُوَ الْمَقْصُودُ او همدا [په عدت کي] مقصود دي أَوْ لِقَوْلِهِ ﷺ [1]: وَعِدَّةُ الْأَمَةِ حَيْضَتَانِ يا د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه: چي د مينځي عدت دوه حيضه دي فَيَلْتَحِقُ بَيَانًا بِهِ نو دا فرمان [حديث] به د دې لفظ [قروء] سره د بيان [او تفسير] په توګه ملحق کيږي.

اللغات: ﴿فُرْقَة﴾ جدايي، عليحدګي، بېلتون (ښځه او خاوند سره جلا کېدل)، ﴿بَرَاءَةُ الرَّحِم﴾ له حمل څخه د رحم پاکوالى (خالي والي)، ﴿يَتَرَبَّصْنَ﴾ د تفعّل له باب څخه د جمع مؤنث غائب مضارع صيغه ده، تَرَبَّصَ يَتَرَبَّصُ تَرَبُّصًا: انتظار کول، درنګ کول، ايساريدل، تم کېدل، پاتېدل، (ځان) راګرځول، ﴿الطَّارِئَة﴾ د فتح له باب څخه د مؤنث اسم فاعل صيغه ده، طَرَأَ يَطْرَأُ طَرْأً: ناڅاپه راتلل، نابېره واقع کېدل، ناڅاپه يو مصيبت غورېدل، ﴿مُعَرِّف﴾ د تفعيل اسم فاعل دى: ور پېژونکى (معلومونکى)، تعريف کونکى.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى که يو سړي خپلي ښځي ته طلاق بائن ورکړي، يا طلاق رجعي ورکړي، يا له طلاق څخه بغير د خيارِ بلوغ يا خيارِ عتق او داسي نورو په وجه نکاح فسخ سي، او د دوى په مينځ کي فرقت واقع سي، او ښځه آزاده او د حيض والا وي (يعني حيض ورته راځي)، نو زموږ په نيز د داسي ښځي عدت درې حيضه دى، دليل دا دى چي الله تعالىٰ فرمايلي دي: "کومو ښځو ته چي درې طلاقه ورکول سوي وي، هغوى به درې حيضونه انتظار کوي"، له دې څخه معلومه سوه چي د مطلقه ښځو عدت درې حيضه دى، او له طلاق څخه بغير چي کوم فرقت واقع سي، هغه هم د طلاق په حکم کي دى، نو ځکه به په هغه کي هم عدت واجب وي، ځکه چي د عدت واجبېدلو

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد فى كتاب الطلاق، باب سنة طلاق العبد، حديث رقم:۲۱۸۹. والترمذى فى كتاب الطلاق، باب ما جاء أن طلاق الأمة تطليقتان، حديث رقم:۱۱۸۲.

مقصد همدا دی چې دا خبره معلومه سي چې د ښځې رحم د خاوند په اوبو سره مشغول دی او که نه (یعني ښځه حامله ده او که نه)، او څرنګه چې دا معنیٰ (او احتمال) په هغه فرقت کې هم سته کوم چې له طلاق څخه بغیر وي، نو ځکه به په هغه فرقت کې هم عدت واجبیږي.

والأقراء: فرمایي چې د أقرَاء لفظ له أضدادو څخه دی، یعني طهر او حیض دواړو ته وایي. په دواړو معناوو کې مشترک او د دواړو لپاره حقیقت دی، همدا د مشهور لغت پوه "امامُ اللغه" ابن سکیت رایه ده، خو پر یوه ځای له دې لفظ څخه دوې معناوې مراد کېدلای نه سي، نو ځکه أحنافو له دې څخه د حیض معنیٰ مراد کړې ده، او شوافعو دا پر طهر حمل کړی دی، لېکن صاحب د هدایې فرمایي چې دا د حیض پر معنیٰ حمل کول اولیٰ او غوره دي، ځکه چې په آیت کې ثَلَاثَةَ قُرُوْء ذکر سوي دي، او قُرُوْء جمع د قَرْءٌ ده، او د جمع أقل عدد (کمه اندازه) درې ده، اوس که له دې لفظ څخه حیض مراد کړی سي، نو د درې پر عدد (یعني پر درې حیضونو باندې) به پوره عمل وسي، او که طهر مراد کړی سي، نو بیا به د دریو پر عدد باندې پوره عمل کول ناممکن وي، ځکه چې هغه به یا دوه نیم طهرونه جوړ سي، یا درې نیم طهرونه، پوره درې طهرونه به پاته نه سي، ځکه چې د حدیث پر بناء په طهر کې طلاق ورکول سنت دي، نو په کوم طهر کې چې طلاق ورکول سوی وي، د هغه څه نا څه حصه خو به خامخا تېره سوې وي، اوس که ښځه دا طهر او را روان دوه طهرونه په عدت کې شمار کړي، نو ټوله به دوه نیم طهره وګرځي، او که دا طهر شمار نه کړي، بلکې را روان درې طهرونه شمار کړي، نو څه حصه به د دغه طهر هم وي، لهذا ټوله به درې نیم طهرونه سي، او که له قُرُوْء څخه حیض مراد سي، نو په پوره درې حیضونو باندې عمل کیږي، ځکه چې د سنت طریقې مطابق طلاق بالکل د طهر په آخر کې ورکول کیږي، او تر هغه وروسته سمدستي حیض شروع کیږي، نو درې حیضه به بېله شبهې مکمّل سي، او پر ثَلَاثَةَ قُرُوْء به پوره عمل وسي، نو ځکه دا لفظ د حیض پر معنیٰ حمل کول اولیٰ او غوره دي.

د دې سلسلې دویم دلیل دا دی چې د عدت مقصد د رحم برائت او خالي والی معلومول دي، او دا مقصد په حیض سره حاصلیږي، نه په طهر سره، نو په دې وجه به هم قُرُوْء پر حیض حمل کیږي.

دریم دلیل دا دی چې په دې حدیث کې طَلَاقُ الْأَمَةِ تَطْلِیْقَتَانِ وَعِدَّتُهَا حَیْضَتَانِ کې نبي کریم ﷺ دې ته اشاره کړې ده چې عدت به د حیض په حساب سره وي، ځکه چې مینځه د آزادې ښځې

تابع ده. نو د آزادي ښځې عدت به هم په حیض سره شمارل کیږي. او دا حدیث به د پورتني آیت (ثَلَاثَةَ قُرُوْء...) لپاره بیان او مفسّر وي.

د غیر حائضې او حاملې ښځې د طلاق عدت

وَإِنْ كَانَتْ مِمَّنْ لَا تَحِيضُ مِنْ صِغَرٍ أَوْ كِبَرٍ او که هغه له داسي ښځو څخه وي چې د کم عمرۍ یا د زیات عمر [سپین سرتوب] په وجه حیض نه ورته راځي فَعِدَّتُهَا ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ نو د هغې عدت درې میاشتي دی لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِنْ نِسَائِكُمْ [الطلاق: ۴] ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: او کومي ښځې چې له حیض څخه نا اُمیده سي [هغه که په هره وجه وي، نو د هغوی عدت درې میاشتي دی] اله دې آیت څخه په واضحه توګه ثابته سوه چې د آئسه او غیر حائضه ښځو عدت به درې میاشتي وي] وَكَذَا الَّتِي بَلَغَتْ بِالسِّنِّ وَلَمْ تَحِضْ بِآخِرِ الْآيَةِ او همدارنګه هغه ښځه کوم چې د عمر په اعتبار سره بالغه سوې وي او حیض نه ورته راځي [د هغې عدت هم درې میاشتي دی] د آیت په آخري حصې سره [یعني کومه ښځه چې پنځلسو کالو ته ورسیږي، او هغې ته نه حیض راځي او نه حمل، نو تر پنځلس کالو وروسته به هغه بالغه شمارل کیږي، او څرنګه چې هغې ته حیض نه راځي، نو ځکه به د هغې عدت په میاشتو سره شمارل کیږي، دلیل د پورتني آیت آخري حصه ده، چې هغه داسي ده: وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ (سورة الطلاق: ۴) یعني کومو ښځو ته چې حیض نه راځي، د هغوی عدت هم درې میاشتي دی] وَإِنْ كَانَتْ حَامِلًا او که ښځه حامله [بلاربه] وي [ابرابره ده هغه آزاده وي، که مینځه وي، مطلقه وي، او که خاوند یې مړی سوی وي] فَعِدَّتُهَا أَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا نو د هغې عدت دا دی چې حمل وزیږوي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ [الطلاق: ۴] ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: او د حمل والا [حامله] ښځو عدت دا دی چې حمل وزیږوي. [په دې آیت کي أَحْمَال د جمع صیغه ده، چې د هغه مطلب دا دی چې د ټولو حمل والا ښځو عدت وضعُ الحمل دی، هغه که آزاده وي، که مینځه...].

اللغات: ﴿صِغَر﴾ کوچنیوالي، کم عمري، کم سني، ﴿كِبَر﴾ لوی والی، زیات عمري، بوډاتوب (سپین سرتوب)، ﴿أَجَل﴾ تاکل سوی مودت، نېټه (مراد ځني عدت دی).

تشریح: مسئله په عبارت کي تشریح سوه.

د مینځې د طلاق عدت

وَإِنْ كَانَتْ أَمَةً او که ښځه مینځه وي لِعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ نو د هغې عدت دوه حیضه دي لِقَوْلِهِ الْعَلِيّة ❶: طَلَاقُ الْأَمَةِ تَطْلِيقَتَانِ ځکه چې نبي ﷺ فرمایلي دي: د مینځې الپاره ا دوه طلاقه دي وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ او د هغې عدت دوه حیضه دی اله دې حدیث څخه ثابته سوه چې د مینځې عدت دوه حیضه دی ا وَلِأَنَّ الرِّقَّ مُنَصِّفٌ [عقلي دليل] او ځکه چې رقيت نیمونکی [تنصیف کونکی] دی وَالْحَيْضَةُ لَا تَتَجَزَّأُ او یو حیض نه متجزي کیږي [یعني یو حیض څو أجزاء او ټوټې کېدلای نه سي. او تقسیم نه قبلوي] فَكُمِّلَتْ نو هغه [یو حیض] پوره کړی سو فَصَارَتْ حَيْضَتَيْنِ نو دواړه دوه حیضه وګرځېدل اد عقلي دليل خلاصه دا ده چې غلامتوب د مینځې او غلام په حق کي نعمت او سزا دواړه نیمايي کوي. او د آزادي ښځې عدت درې حیضه دی، نو باید د مینځې عدت یونیم حیض وای. لېکن څرنګه چې حیض نیمايي کېدلای نه سي. نو ځکه د هغې عدت دوه حیضه وګرځول سو] وَإِلَيْهِ أَشَارَ عُمَرُ* بِقَوْلِهِ او همدې ته حضرت عمر ﷺ په خپل دې فرمان سره اشاره کړې ده لَوِ اسْتَطَعْتُ لَجَعَلْتُهَا حَيْضَةً وَنِصْفًا "که چیري زما په وس کي وای [چې طلاق نيم کړی سي] نو ما به د ښځې عدت یو نیم حیض ټاکلي وای" وَإِنْ كَانَتْ لَا تَحِيضُ او که مینځې ته حیض نه راځي فَعِدَّتُهَا شَهْرٌ وَنِصْفٌ نو د هغې عدت به یو نیمه میاشته وي لِأَنَّهُ مُتَجَزٍّ ځکه چې میاشته متجزي کېدای سي فَأَمْكَنَ تَنْصِيفُهُ عَمَلًا بِالرِّقِّ نو په رقيت باندي په عمل کولو سره د هغه [میاشتې] نیمول ممکن دي. [دائسه آزادي ښځې عدت درې میاشتې وي، نو دائسه مینځې په حق کي به دا مودت نیمايي کیږي. او میاشته نیمايي کېدلای هم سي، نو ځکه به دائسه مینځې عدت د غلامتوب په وجه یونیمه میاشته وي]

اللغات: ﴿رِقّ﴾ غلامتوب. غلامي. ﴿مُنَصِّف﴾ د تفعیل اسمِ فاعل دی: نیمونکی (هغه چې بل شی نیمايي کوي). ﴿لَا تَتَجَزَّأُ﴾ د تفعّل نفي صیغه ده: جزء. جزء کېدل. حصه. حصه کېدل. ټوکره. ټوکره کېدل. تقسیمېدل.

تشریح: مسئله په عبارت کي تشریح سوه.

---

❶ تخريج: أخرجه ابو داؤد فی كتاب الطلاق، باب سنة طلاق العبد، حديث رقم: ۲۱۸۹. والترمذی فی كتاب الطلاق باب ما جاء أن طلاق الأمة تطليقتان حديث رقم: ۱۱۸۲.

* أثر: دا اثر په سنن بیهقي، باب عدة الأمة (ج:۷،ص:۶۹۹) کي ذکر سوی دی. شمېره: ۱۵۴۵۳. پوره أثر داسي دی: أنه سمع عمر بن الخطاب يقول: لو استطعت أن أجعل عدة الأمة حيضة ونصفا، فقال رجل: فاجعلها شهرا ونصفا، فسكت عمر رضى الله عنه.

د خاوند د وفات عدت

وَعِدَّةُ الْحُرَّةِ فِي الْوَفَاةِ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ او د آزادي ښځي عدت په وفات کي ځلور میاشتي او لس ورځي دي لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا [سورة البقرة:۲۳۴] ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: او [کوم خلک چي وفات سي او تر شا خپلي] ښځي پرېږدي نو [د هغو] ښځي به ځلور میاشتي او لس ورځي خپل ځانونه ایساروي وَعِدَّةُ الْأَمَةِ شَهْرَانِ وَخَمْسَةُ أَيَّامٍ او د مینځي عدت دوې میاشتي او پنځه ورځي دي لِأَنَّ الرِّقَّ مُنَصِّفٌ ځکه چي رقیت تنصیف کونکی دی وَإِنْ كَانَتْ حَامِلًا او که ښځه حامله وي فَعِدَّتُهَا أَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا نو د هغې عدت دا دی چي خپل حمل وزېږوي لِإِطْلَاقِ قَوْلِهِ تَعَالَىٰ: وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ [الطلاق: ۴] ځکه چي د الله دا فرمان مطلق دی: وأولات الأحمال... إلخ وَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ * او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمایلي دي. مَنْ شَاءَ بَاهَلْتُهُ أَنَّ سُورَةَ النِّسَاءِ الْقُصْرَىٰ نَزَلَتْ بَعْدَ الْآيَةِ الَّتِي فِي سُورَةِ الْبَقَرَةِ که څوک غواړي نو د هغه سره زه [پر دې خبره] مباهله کولای سم [یعني د دې خبري د نه صحیح کېدلو په صورت کي زه د هغه ملامتیا او توبیخ ته تیار یم] چي سورة نساء القُصریٰ [سورة الطلاق] تر هغه آیت وروسته نازل سوی دی کوم چي په سورة البقره کي دی وَقَالَ عُمَرُ *: لَوْ وَضَعَتْ وَزَوْجُهَا عَلَىٰ سَرِيرِهِ او حضرت عمر ﷺ فرمایلي دي: که حامله ښځه په داسي حال کي کوچنی وزېږوي چي د هغې خاوند [د مرګ] پر تخته وي [او تر اوسه ښخ کړی سوی نه وي] لَانْقَضَتْ عِدَّتُهَا نو [هم] د هغې عدت پوره کیږي وَحَلَّ لَهَا أَنْ تَتَزَوَّجَ او د هغې لپاره روا دي چي [د دویم خاوند سره] نکاح وکړي.

اللغات: ﴿النِّسَاءُ الْقُصْرَىٰ﴾ له دې څخه مراد "سورةُ الطلاق" دی، او "له النِّسَاء الکُبْرَیٰ" څخه مراد "سورةُ النساء" دی، ﴿بَاهَلْتُه﴾ د مفاعلې له باب څخه د واحد متکلم ماضي صیغه ده، بَاهَلَ يُبَاهِلُ مُبَاهَلَةً: یو پر بل لعنت کول (یو بل ته ښېرا کول)، رد و بد ویل، ملامتول، د شریعت په اصطلاح کي د "مباهله" تعریف دا دی: یوه مختلف فیه او متنازع فیه مسئله الله ته پر ښوول او ښرا کول چي څوک دروغجن وي پر هغه دي لعنت وي او هغه دي برباد سي (فیروز اللغات)، لکه زموږ د پښتو په محاوره کي چي هم

* أثر: دا أثر په سنن بیهقي، باب عدة الحامل من الوفاة (ج: ۷، ص: ۷۰۶) کي ذکر سوی دی، شمېره: ۱۵۴۷۴. او په بخاري شریف کي هم په نورو الفاظو سره دغه أثر ذکر سوی دی. (بخاري شریف، باب تفسیر سورة الطلاق، ص: ۸۷۲، شمېره: ۴۹۱۰)

* أثر: دا أثر هم په سنن بیهقي، باب عدة الحامل من الوفاة (ج: ۷، ص: ۷۰۶) کي ذکر سوی دی، شمېره: ۱۵۴۷۶.

كله چا ته د خپلې خبرې يقين وي، او بل څوک اختلاف ور سره کوي، نو هغه لوړه کوي او وايي: چې که فلانکی کار داسې نه وي يا داسې وي، نو بيا زه هر شي ته تيار يم او پر ما دې د الله غضب نازل سي، يا پر ما دې د الله او رسول لعنت وي او داسې نور. ﴿سَرِيْر﴾ چارپايي، کټ (چپر کټ)، مراد څنې د جنازې کټ او تخته ده.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيرې د آزادې ښځې خاوند وفات وسي، او هغه حامله نه وي، نو د هغې عدت څلور مياشتې او لس ورځې دي؛ دليل دا آيت دی: "وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا"، او که د مينځې خاوند وفات سي، نو د هغې عدت دوې مياشتې او پنځه ورځې دي، ځکه چې هغه رقيقه ده او رقيت (غلامتوب) په نعتمونو کې تنصيف کوي، او که هغه ښځه (چې خاوند يې وفات سوی وي، يا مطلقه ښځه) حامله وي، نو بيا د هغې عدت وضعُ الحمل دی، هغه که آزاده وي يا مينځه وي، دليل دا دی چې دا آيت "وَأُولَاتِ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ...إلخ" مطلق دی، هيڅ قيد پکښې نسته، نو ځکه به د هرې حاملې ښځې عدت وضعُ الحمل وي، هغه که مطلقه وي او که متوفیٰ عنها زوجها وي، او که آزاده وي، يا مينځه وي، ټولو ته به دا آيت شامل وي.

وقال عبد الله إلخ: د دې حاصل دا دی چې د اسلام په شروع کې د متوفیٰ عنها زوجها ښځې عدت مطلقاً څلور مياشتې او لس ورځې وو، هغه که حامله وي يا غيرِ حامله وي، لېکن کله چې دا آيت نازل سو: وَأُولَاتِ الْأَحْمَالِ...إلخ"، نو بيا هغه مطلق حکم منسوخ سو، او د حامله ښځو عدت وضعُ الحمل وګرځول سو، له همدې وجهې حضرت ابن مسعودؓ فرمايي: "چې د سورة البقرة آيت يعني "وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ...إلخ" اول نازل سوی دی، او د سورُ النساء القصریٰ (سورة الطلاق) آيت يعني "وَأُولَاتِ الْأَحْمَالِ...إلخ" وروسته نازل سوی دی، او دا آيت د سورة البقرة د آيت لپاره ناسخ دی، او ما پر دې خبره دومره يقين دی چې په دې باره کې زه مُباهله کولو ته تيار يم"، د عبد الله ابن مسعودؓ د دې قول تائيد د حضرت عمرؓ په دې فرمان سره هم کيږي چې هغه وفرمايل: "که چيرې ښځه حامله وي او د هغې خاوند مړ سي، لېکن په قبر کې د خاوند تر پټولو مخکې، مخکې ښځه کوچنی وزېږوي، نو په دې صورت کې هم د هغې عدت پوره کيږي، او د هغې سره د بل سړي نکاح کول روا دي"، ځکه چې د هغې عدت وضعُ الحمل وو، او هغه موجود سو.

د طلاق او وفات (مريني) د عدت يو ځای کېدلو صورت

وَإِذَا وَرِثَتِ الْمُطَلَّقَةُ فِي الْمَرَضِ او کله چې طلاقه سوې ښځې په مرضُ الموت کي وارثه وګرځي فَعِدَّتُهَا أَبْعَدُ الْأَجَلَيْنِ نو د هغې عدت به له دواړو عدتونو څخه هغه عدت وي دېر ليري [اوږدا عدت وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا [حکم] د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَقَالَ أَبُويُوسُفَ (۱): ثَلَاثُ حِيَضٍ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چي [د هغې عدت] درې حيضه دی وَمَعْنَاهُ: إِذَا كَانَ الطَّلَاقُ بَائِنًا أَوْ ثَلَاثًا او ددې مطلب دا دی: چي کله طلاق بائن وي يا درې طلاقه وي أَمَّا إِذَا كَانَ رَجْعِيًّا لېکن کله چې طلاق رجعي وي فَعَلَيْهَا عِدَّةُ الْوَفَاةِ بِالْإِجْمَاعِ نو بالإتفاق پر هغې د وفات عدت واجب دی لِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ النِّكَاحَ قَدِ انْقَطَعَ قَبْلَ الْمَوْتِ بِالطَّلَاقِ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي نکاح د طلاق په وجه سره تر مرګ مخکي ختمه سوه وَلَزِمَتْهَا ثَلَاثُ حِيَضٍ او پر هغې درې حيضونه لازم سول وَإِنَّمَا تَجِبُ عِدَّةُ الْوَفَاةِ إِذَا زَالَ النِّكَاحُ فِي الْوَفَاةِ او د وفات عدت خو هغه وخت واجبيږي کله چي د وفات په وجه نکاح ختمه سوې وي إِلَّا أَنَّهُ بَقِيَ فِي حَقِّ الْإِرْثِ لَا فِي حَقِّ تَغَيُّرِ الْعِدَّةِ خو د ميراث په حق کي [اوس هم] نکاح پاته ده، نه د عدت متغير کېدلو [بدلېدلو] په حق کي بِخِلَافِ الرَّجْعِيِّ لِأَنَّ النِّكَاحَ بَاقٍ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ په خلاف د طلاق رجعي، ځکه چي [په هغه کي] په هر اعتبار سره نکاح پاته وي وَلَهُمَا: أَنَّهُ لَمَّا بَقِيَ فِي حَقِّ الْإِرْثِ او د طرفينو دليل دا دی: چي کله نکاح د ميراث په حق کي باقي پاته ده يُجْعَلُ بَاقِيًا فِي حَقِّ الْعِدَّةِ احْتِيَاطًا نو احتياطاً به د عدت په حق کي هم باقي پاتيږي فَيُجْمَعُ بَيْنَهُمَا نو دواړه به جمع کيږي وَلَوْ قُتِلَ عَلَى رِدَّتِهِ حَتَّى وَرِثَتْهُ امْرَأَتُهُ او که خاوند د مرتد کېدلو په وجه قتل کړی سي تر دې چي ښځه د هغه وارثه وګرځي فَعِدَّتُهَا عَلَى هٰذَا الِاخْتِلَافِ نو د هغې عدت [هم] پرهمدغه اختلاف دی وَقِيلَ: عِدَّتُهَا بِالْحَيْضِ بِالْإِجْمَاعِ او ويل سوي دي: چي د هغې عدت بالإتفاق په حيض سره دی لِأَنَّ النِّكَاحَ حِينَئِذٍ مَا اُعْتُبِرَ بَاقِيًا إِلَى وَقْتِ الْمَوْتِ فِي حَقِّ الْإِرْثِ ځکه چي په دغه صورت کي نکاح د ميراث په حق کي د مرګ تر وخته پوري باقي منل سوې نه ده لِأَنَّ الْمُسْلِمَةَ

(۱) القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في خلاصة الفتاوى (ج:۲، ص:۱۱۷)، وكذا في الدر المختار (ج:۲، ص:٦٥٧). [القول الراجح ج:۱، ص:۳٦۹]

لَاتَرِثُ مِنَ الْكَافِرِ ځکه چې مسلمانه ښځه له کافر شخه وارثه نه ګرځي.

اللغات: ﴿وَرِثَتْ﴾ د حَسِبَ ماضي ده: وارث کېدل. وارث ګرځېدل (د مړي ميراث خور جوړېدل).

﴿رِدَّة﴾ إرتداد، مرتد کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی په خپل مرضُ الموت کي ښځي ته يو طلاقِ بائن ورکړي يا درې طلاقه ورکړي، او بيا د ښځي په عدت کي مړ سي، نو ښځه د هغه وارثه ګرځي. او د هغې عدت به أبعد الأجلين وي، يعني د طلاقِ او وفات په عدتونو کي چي کوم عدت اوږد وي، هغه به د ښځي عدت وي، نو پر ښځي خو د طلاقِ په وجه درې حيضه تېرول واجب دي. او د خاوند د وفات په وجه څلور مياشتي او لس ورځي تېرول واجب دي. نو که درې حيضونه پوره سي، لېکن څلور مياشتي او لس ورځي پوره نه سي، نو ويل کيږي به چي تر اوسه د هغې عدت پوره سوی نه دی، تر دې چي څلور مياشتي او لس ورځي پوره سي، او که چيري څلور مياشتي او لس ورځي پوره سي لېکن درې حيضه پوره نه سي، په دې توګه چي ښځه مُمْتَدَّةُ الطُّهر وي (يعني هر طهر يې ډېر وخت پاتيږي)، نو هم دا به ويل کيږي چي تر اوسه يې عدت پوره سوی نه دی، تر دې چي هغې ته درې حيضه راسي، که څه هم په مينځ کي څو کاله تېر سي، دا حکم د طرفينو په نېز دی، او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي د هغې عدت فقط درې حيضه دی.

ومعناه إلخ: فرمايي چي دا اختلاف په هغه صورت کي دی کله چي دغه ښځي ته طلاقِ بائن يا درې طلاقه ورکول سوي دي، او که طلاقِ رجعي ورکول سوی وي، نو بيا بالإتفاق پر هغې د وفات عدت يعني څلور مياشتي او لس ورځي واجبيږي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي دلته خو د ښځي نکاح د مرګ او وفات څخه مخکي د طلاق په وجه ختمه سوې ده. او څرنګه چي د طلاق عدت درې حيضه دي، نو ځکه به اوس پر هغې درې حيضه تېرول واجب وي. او پاته سو د وفات عدت په هغه وخت کي واجبيږي، کله چي نکاح د خاوند په وفات (مرګ) سره زائله سوې وي. حالانکي دلته معامِله داسي نه ده. نو ځکه به پر دغه ښځي د وفات عدت نه واجبيږي، بلکي فقط د طلاق عدت به پر واجب وي.

إلا أنه بقي إلخ: په دې سره د يو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي کله دلته د طلاقِ بائن په وجه تر مرګ مخکي نکاح ختمه سوې ده. نو دغه ښځي ته ميراث ورکول پکار نه دي. حالانکي ابو يوسف رَحِمَهُ الله هغه د وراثت حقداره ګڼي.

جواب دا دی چي دلته نکاح د صحابه وو په اجماع سره د میراث په حق کي باقي پاتيږي، مطلب دا دی چي دا ښځه اِمْرَئةُ الفَارّ ده، او مخکي په تفصيل سره د دې خبري بحث تېر سوي چي د اِمْرَأَةُ الفَارّد وراثت پر استحقاق د صحابه وو اجماع سوې ده، نو د دې دليل په وجه به دا ښځه د خپل خاوند وارثه ګرځي.

د دې په خلاف که خاوند دغه ښځي ته طلاقِ رجعي ورکړی، نو بالإتفاق پر دغه ښځي د وفات عدت واجبيږي، او هغه وارثه ګرځي، ځکه چي په طلاقِ رجعي کي په هر اعتبار سره نکاح باقي پاته وي.

د طرفينو دليل: دا دی چي کله نکاح (د صحابه وو په اجماع سره) د وراثت په حق کي باقي پاته ده، نو د احتياط لپاره به د عدت په حق کي هم باقي شمارل کيږي، لهذا دواړه عدتونه به سره جمع کيږي، ځکه چي دا ښځه خو حقيقتاً بائنه ده، او حکماً متوفیٰ عنها زوجها ده.

ولوقتل على ردته: په دې سره د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د استدلال جواب ورکوي، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په يو مسئلې سره دليل نيولی دی، هغه مسئله دا ده چي مرتد کله مړ سي يا ووژل سي، نو د هغه مسلمانه ښځه د خپل دغه مرتد خاوند وارثه ګرځي، حالانکي بالإجماع پر هغې د وفات عدت واجب نه دی، ځکه چي دلته نکاح د ردّت (مرتد کېدلو) په وجه زائل سوې ده، نه د مرګ په وجه، نو همدغه ډول په پورتنۍ مسئله کي هم نکاح د طلاقِ بائن په وجه سره زائل سوې ده، نه د مرګ په وجه سره، نو صاحب د هدايې فرمايي چي په دې مسئله سره د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله استدلال (دليل نيول) صحيح نه دی، ځکه چي دا مسئله هم مختلف فيه ده چي په دې کي به د طرفينو په نېز د ښځي عدت أبعد الأجلين وي، او د ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز به عدت درې حيضه وي.

وقيل إلخ: او د مرتد د ښځي په هکله د ځينو مشائخو رايه دا ده چي زموږ د ټولو امامانو په نېز د هغې عدت په حيض سره دی (يعني هغه به د خاوند د وفات عدت نه تېروي، بلکي د طلاق عدت (يعني درې حيضه) به تېروي)، ځکه چي د هغې خاوند د إرتداد په وجه د کفر په حالت کي ووژل سوی دی، او مسلمانه ښځه د کافر وارثه نه ګرځي، نو ځکه به دا ښځه نه د هغه وارثه ګرځي، او نه به عدت تېروي.

د عدت په دوران کي د مينځي آزادېدل

فَإِذَا أُعْتِقَتِ الْأَمَةُ فِي عِدَّتِهَا مِنْ طَلَاقٍ رَجْعِيٍّ او کله چي مينځه د خپل طلاقِ رجعي په عدت کي آزاده کړی سي اِنْتَقَلَتْ عِدَّتُهَا إِلَى عِدَّةِ الْحَرَائِرِ نو د هغې عدت به د آزادو ښځو وطرف ته منتقل کيږي ايعني که مينځي ته طلاقِ رجعي ورکول سوي وي او هغه د خپل غدت په پوره کولو لګيا وي چي په دې مينځ کي هغه آزاده کړی سي، نو اوس به هغه دآزادي ښځي په څېر درې حيضه عدت تېروي ا لِقِيَامِ النِّكَاحِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ ځکه چي په هره توګه نکاح پاته ده ايعني ځکه چي د طلاقِ رجعي په وجه اوس هم هغه د خاوند په نکاح کي پاته

ده، نو ګواکي هغې ته دآزادۍ په حالت کي طلاق ورکول سوی دی، او دآزادي ښځي عدت درې حيضه وي، نو ځکه به د هغې عدت هم درې حيضه وي] وَإِنْ أُعْتِقَتْ وَهِيَ مَبْتُوتَةٌ أَوْ مُتَوَفًّى عَنْهَا زَوْجُهَا او که دا مينځه [په داسي حال کي] آزاده کړی سي چي هغه معتدة بائنه وي [يعني د طلاقِ بائن عدت تېروي] يا د هغې خاوند مړ سوي وي لَمْ تَنْتَقِلْ عِدَّتُهَا إِلَى عِدَّةِ الْحَرَائِرِ نو [په دې صورت کي] به د هغې عدت د آزادو ښځو وطرف ته نه منتقل کيږي لِزَوَالِ النِّكَاحِ بِالْبَيْنُونَةِ أَوِ الْمَوْتِ په بينونت يا مرګ سره د نکاح زائلېدلو په وجه [يعني ځکه چي د طلاق په وجه يا د خاوند د مرګ په وجه هغه د خاوند په نکاح کي پاته نه سوه، لهذا د عدت په مينځ کي آزاده سوه، نو ځکه به د هغې عدت د آزادي ښځي د عدت وطرف ته نه منتقل کيږي].

اللغات: ﴿حَرَائِر﴾ جمع د حُرَّةٌ ده: آزادي ښځي، ﴿مَبْتُوتَة﴾ بائنه، هغه ښځه چي طلاقِ بائن ورکول سوی وي.

تشريح: مسئله په عبارت کي تشريح سوه.

د آئسي ښځي پر عدت د حيض راتللو أثر

وَإِنْ كَانَتْ آيِسَةً او که هغه [طلاقه سوې ښځه له حيض څخه] نا اُميده وي فَاعْتَدَّتْ بِالشُّهُورِ او د مياشتو په حساب سره عدت تېروي ثُمَّ رَأَتِ الدَّمَ بيا وينه ووينې اِنْتَقَضَ مَا مَضَى مِنْ عِدَّتِهَا نو تېر سوی عدت به ماتيږي وَعَلَيْهَا أَنْ تَسْتَأْنِفَ الْعِدَّةَ بِالْحَيْضِ او پر هغې به لازم وي چي له شروع څخه د حيض په حساب عدت تېر کړي وَمَعْنَاهُ: إِذَا رَأَتِ الدَّمَ عَلَى الْعَادَةِ د دې مطلب دا دی: چي کله هغه د خپل [اول] عادت مطابق وينه ووينې لِأَنَّ عَوْدَهَا يُبْطِلُ الْإِيَاسَ ځکه چي [دويم ځل] د ويني راګرځېدل نا اُميدي ختموي [چي ښځه آيسه نه ده بلکي حائضه ده] هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح دي فَظَهَرَ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ خَلَفًا نو [دا خبره] ښکاره سوه چي عدة بالشهور خليفه [بدل] نه وو وَهٰذَا لِأَنَّ شَرْطَ الْخَلْفِيَّةِ تَحَقُّقُ الْيَأْسِ او دا ځکه دي چي د خليفه شرط د نا اُميدۍ [آئسه والی] ثابتېدل دي وَذٰلِكَ بِاسْتِدَامَةِ الْعَجْزِ إِلَى الْمَمَاتِ او دا تر مرګه پوري د عاجزۍ په پاتېدلو سره ثابتيږي كَالْفِدْيَةِ فِي حَقِّ الشَّيْخِ الْفَانِي لکه څرنګه چي د ډېر بوډا سړي په حق کي فديه ده.

اللغات: ﴿آيِسَة﴾ له حيض څخه نا اُميده ښځه. ﴿اِعْتَدَّتْ﴾ د افتعال له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي مجهولي صيغه ده: عدت تېرول. ﴿اِسْتِدَامَة﴾ د استفعال مصدر دی: همېشه پاتېدل. ﴿الشَّيْخُ الْفَانِي﴾ هغه بوډا (سپين ږيرى) کوم چي د روژې نيولو طاقت نه لري.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره او آسانه دی چي که يوه ښځه له حيض څخه نا اُميده وي (او څو مياشتي پرلپسې حيض ورته راغلی نه وي). بيا هغې ته طلاق ورکول سي. او هغه د مياشتو په حساب خپل عدت تېرول شروع کړي. لېکن د عدت په دروان کي يو وار هغې ته وينه راسي. او دا وينه د هغې د مخکني عادت مطابق وي. يعني بهېدونکې وينه وي او د حيض د وينو په څير ډېره بدبويه وي (بنايه). نو اوس حکم دا دی چي د هغې په حق کي عِدة بالشهور باطل سو. اوس پر هغې باندي له شروع څخه عِدة بالحيض تېرول لازم او ضروري دي. ځکه چي د عادت مطابق د وينې په راګرځلاو سره دا خبره ښکاره سوه چي عدة بالشهور د هغې په حق کي د عدة بالحيض بدل نه سو. ځکه چي د بدل لپاره دا شرط دی چي انسان په خپل ټوله ژوند کي پر أصل قادر نه سي (يعني بدل هغه وخت د أصل پر ځای دريږي کله چي د همېشه لپاره انسان پر أصل قدرت پيدا نه کړي). او کله چي پر أصل قدرت پيدا کړي. نو د بدل او نائب حکم ختمېږي. او څرنګه چي دلته هم دا ښځه د بدل په ذريعه (يعني د عدة بالشهور په ذريعه) د مقصود تر حاصلولو مخکي پر أصل قادره سوه. نو ځکه به د هغې په حق کي شرعي حکم د أصل (يعني د عدة بالحيض) وطرف ته راګرځي. او اوس به د هغې لپاره د حيض په حساب سره عدت تېرول ضروري وي.

کالفدية إلخ: مثلاً که يو ضعيف بوډا د روژې نيولو طاقت نه لري، نو د هغه په حق کي د شريعت فيصله دا ده چي هغه به فديه ورکوي، لېکن که تر فديه ورکولو مخکي هغه روغ رمټ سي او د روژې نيولو قدرت پيدا کړي. نو اوس به هغه له شروع څخه روژې نيسي، او د فديې حکم باطليږي. همداسي به دلته هم د حيض راتللو په صورت کي د عدة بالشهور حکم باطليږي. او پر ښځي به عدة بالحيض لازم او ضروري وي.

د حائضې ښځي پر عدت ذ هغې د آئسه کېدلو أثر

وَلَوْحَاضَتْ حَيْضَتَيْنِ ثُمَّ أَيِسَتْ او که ښځي ته دوه واره حيض راسي او بيا (له حيض څخه) نا اُميده سي تَعْتَدُّ بِالشُّهُوْرِ نو هغه به د مياشتو په حساب سره عدت تېروي تَحَرُّزًا عَنِ الْجَمْعِ بَيْنَ الْبَدَلِ وَالْمُبْدَلِ اد دې لپاره (چي د بدل او مبدل له اجتماع (يو ځای کېدلو) څخه ځان وساتل سي.

اللغات: ﴿تَحَرُّز﴾ د تفعّل مصدر دی: ځان ساتل (بچاو بدل، ځان کتل، ځان ژغورل.).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مطلقه ښځه ابتداءً حائضه وي، او د حيض په شمار سره عدت تېروي، او تر دوو حيضو وروسته هغه آئسه وګرځي. نو اوس به هغه له شروع څخه درې مياشتي عدت تېروي. ځکه چي د عدت پوره کولو لپاره همدا دوې لاري دي: ① عدة بالحيض (د حيض په

حساب عدت تېرول). ② عدت بالشهور (د میاشتو په حساب عدت تېرول) او څرنګه چې دغه ښځه اوس پر عدة بالحیض قادره نه ده. نو ځکه به اوس د هغې په حق کې عدة بالشهور متعین وي. او دا عدت به له نوي سره شروع کیږي. او د دې سره به عدت بالحیض نه متصل کیږي (یعني ښځه به هغه دوه تېر سوي حیضونه په دغه عدة بالشهور کې نه شماري). کنې أصل او بدل به سره جمع سي. کوم چې صحیح نه دي.

د "منکوحه فاسده" او د "موطوءهٔ بالشبهة" ښځې عدت

وَالْمَنْكُوحَةُ نِكَاحًا فَاسِدًا وَالْمَوْطُوْءَةُ بِشُبْهَةٍ او هغه ښځه چې فاسده نکاح ور سره سوې وي ایا هغه ښځه چې په شبهه وطي ور سره سوي وي عِدَّتُهُمَا الْحَيْضُ فِي الْفُرْقَةِ وَالْمَوْتِ د دې دواړو ښځو عدت حیض دی د فرقت او مرګ په حالت کې لِأَنَّهَا لِلتَّعَرُّفِ عَنْ بَرَاءَةِ الرَّحِمِ ځکه چې عدت د رحم د پاکوالي پېژندلو لپاره وي لَا لِقَضَاءِ حَقِّ النِّكَاحِ نه د نکاح د حق اداء کولو لپاره وَالْحَيْضُ هُوَ الْمُعَرِّفُ او همدا حیض ور پېژندونکی دی.

اللغات: ﴿الْمَنْكُوحَة﴾ د فتح اسمِ مفعول دی: هغه ښځه چې نکاح ورسره سوې وي (په نکاح سوې ښځه). ﴿الْمَوْطُوْءَة﴾ د سمع اسمِ مفعول دی: وطي سوې ښځه. هغه ښځه چې جماع ور سره سوې وي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو چا دیوې ښځې سره فاسده نکاح کړې وي (مثلاً له ګواهانو څخه بغیر یې د ښځې سره نکاح کړې وي. دا نکاح فاسده ده. او داسې ښځې ته منکوحه فاسده وایي). یا یو څوک د شپې په تیاره کې دیوې ښځې سره په دې شبهه او ګومان وطي وکړي چې دا زما ښځه ده (او داسې ښځې ته موطوءة بالشبهه وایي). نو اوس خو د منکوحه فاسده ښځې او د خپل خاوند په مینځ کې یا د موطوءة بالشبهه ښځې او د خپل واطي (وطي کونکي) په مینځ کې تفریق کول ضروري دي. نو تر تفریق وروسته یا د خاوند او واطي تر مرګ وروسته پر دې دواړو ښځو عدت واجبیږي. او هغه به عدة بالحیض وي. دلیل دا دی چې پر دغه دوو ښځو په دې وجه عدت واجبیږي چې د رحم خالي والي معلوم سي (چې آیا د دوی رحم خو به د خاوند یا واطي په اوبو سره مشغول نه وي). او دا مقصد فقط په حیض سره حاصلیږي. ځکه چې کله حیض راسي. نو معلومه به سي چې رحم خالي دی. او که حیض نه راسي نو بیا به د رحم مشغولېدل معلوم سي. نو په دې وجه د دوی عدت حیض ټاکل سوی دی. ها! که دغه دوې ښځې آئسه وي او د دوی په حق کې د حیض هیڅ

أمید نه وي. یا دواړي صغیره وي. نو بیا د دوی په حق کي میاشت د حیض قائم مقام کیږي. او د میاشتو په حساب سره به عدت پوره کیږي.

د "أمِّ وَلَد" د وفات عدت

وَإِذَا مَاتَ مَوْلَى أُمِّ الْوَلَدِ عَنْهَا أَوْ أَعْتَقَهَا او که د أم ولد مالک مړ سي یا مالک هغه آزاده کړي فَعِدَّتُهَا ثَلَاثُ حِيَضٍ نو د هغې عدت درې حیضه دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: حَيْضَةٌ وَاحِدَةٌ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي یو حیض دی لِأَنَّهَا تَجِبُ بِزَوَالِ مِلْكِ الْيَمِينِ ځکه چي (د أم ولد) عدت د ملک یمین د زائلېدلو په وجه واجبیږي فَشَابَهَتِ الِاسْتِبْرَاءَ نو دا (عدت) د استبراء سره مشابه سو وَلَنَا: أَنَّهَا وَجَبَتْ بِزَوَالِ الْفِرَاشِ او زموږ دلیل دا دی: چي (د هغې) عدت د فراش زائلېدلو په وجه واجبیږي فَأَشْبَهَ عِدَّةَ النِّكَاحِ نو دا د نکاح د عدت سره مشابه سو ثُمَّ إِمَامُنَا فِيهِ عُمَرُ بیا په دې حکم کي زموږ پېشوا حضرت عمر رضي الله عنه دی فَإِنَّهُ قَالَ: عِدَّةُ أُمِّ الْوَلَدِ ثَلَاثُ حِيَضٍ ځکه هغه فرمایلي دي: چي د أم ولد عدت درې حیضه دي وَلَوْ كَانَتْ مِمَّنْ لَا تَحِيضُ او که أم ولد له هغه ښځو څخه وي چي حیض نه ورته راځي فَعِدَّتُهَا ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ نو د هغې عدت درې میاشتي دي كَمَا فِي النِّكَاحِ لکه څرنګه چي په نکاح کي دي.

اللغات: ﴿شَابَهَت﴾ د مفاعلې ماضي ده: مشابه کېدل. ورته کېدل. ﴿إِسْتِبْرَا﴾ د استفعال مصدر دی: د رحم د پاکوالي او خالي والي معلومات کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که د أم ولد مالک مړ سي. یا مالک هغه آزاده کړي. نو د هغې عدت درې حیضه دی. او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي د هغې عدت یو حیض دی. همدا د امام مالک او امام محمد مسلک دی.

د امام شافعي دلیل: دا دی چي پر أم ولد د ملک یمین زائلېدلو په وجه عدت واجبیږي. نو د هغې عدت د استبراء سره مشابه سو. او د استبراء لپاره یو حیض کافي وي. لهذا د هغې لپاره به هم یو حیض کافي وي.

زموږ دلیل: دا دی چي پر أم ولد د فراش زائلېدلو په وجه عدت واجبیږي. نو د هغې عدت د نکاح د عدت سره مشابه سو (ځکه چي په نکاح کي هم د فراش زائلېدلو په وجه عدت واجبیږي). او څرنګه چي د نکاح عدت درې حیضه دی. نو ځکه به د أم ولد عدت هم درې حیضه وي. او بیا په دې مسئله

کي حضرت عمر رضي الله عنه هم زموږ مقتدا او پیشوا دی. ځکه چي هغه د اُم ولد عدت درې حیض ټاکلي دي. نو ځکه به د هغې عدت درې حیضه وي.

او که اُم ولد صیغره یا آئسه وي. حیض نه ورته راځي. نو بیا به د هغې عدت درې میاشتي وي. لکه د منکوحه غیرِ حائضه ښځي چي همدومره عدت دی.

د نابالغه هلک د حامله ښځي د وفات عدت

وَإِذَا مَاتَ الصَّغِيرُ عَنْ اِمْرَأَتِهِ وَبِهَا حَبَلٌ او که چیري نابالغ هلک له خپلي ښځي څخه مړ سي ایعني که چیري د یوې ښځي نابالغ خاوند مړ سي] حال دا چي ښځه حامله وي وَعِدَّتُهَا أَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا نو د هغې عدت دا دی چي حمل وزیږوي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ ◈ او دا [حکم] د طرفینو په نیز دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: عِدَّتُهَا أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د هغې عدت څلور میاشتي او لس ورځي دي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّ الْحَمْلَ لَيْسَ بِثَابِتِ النَّسَبِ مِنْهُ ځکه چي [د دغه] حمل نسب له خاوند [صغیر] څخه ثابت نه دی فَصَارَ كَالْحَادِثِ بَعْدَ الْمَوْتِ نو [دا حمل] داسي سو لکه [د خاوند] تر مرګ وروسته چي پیدا سوی وي وَلَهُمَا إِطْلَاقُ قَوْلِهِ تَعَالَى: وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ [الطلاق: ۴] او د طرفینو دلیل د الله د دې فرمان مطلق والی دی: وَ أُوْلَاتِ الأَحْمَالِ... [یعني د حامله ښځو عدت دا دی چي هغوی حمل وزیږوي] وَلِأَنَّهَا مُقَدَّرَةٌ بِمُدَّةٍ وَضْعِ الْحَمْلِ فِي أُولَاتِ الْأَحْمَالِ او ځکه چي په حامله ښځو کي عدت د [هغوی] د وضعُ الحمل په مودت سره اندازه کړی سوی دی قَصُرَتِ الْمُدَّةُ أَوْ طَالَتْ [برابره ده] که د وضعُ الحمل مودت لږ سي یا اوږد سي لَا لِلتَّعَرُّفِ عَنْ فَرَاغِ الرَّحِمِ او دا عدت د رحم د فراغت معلومولو [پېژندلو] لپاره نه دی لِشَرْعِهَا بِالْأَشْهُرِ مَعَ وُجُودِ الْأَقْرَاءِ ځکه چي دا عدت [یعني د وفات عدت] د حیض په موجودګي کي [یعني د حیض باوجود هم] په میاشتو سره مشروع سوی دی لٰكِنْ لِقَضَاءِ حَقِّ النِّكَاحِ بلکي د نکاح د حق اداء کولو لپاره دی [یعني د وفات عدت د دې لپاره نه دی چي د رحم فراغت په معلوم کړی سي. بلکي د دې لپاره دی چي د نکاح حق په اداء کړی سي] وَهٰذَا الْمَعْنٰى يَتَحَقَّقُ فِي الصَّبِيِّ او دا معنی په نابالغ

◈ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله ، كما ذكر في الخانية (ج:٢، ص:٢٧٠)، وكذا في الهندية (ج:١، ص:٥٣٠).

[القول الراجح ج:١، ص:٣٧١]

هلک کي هم ثابتیږي ځکه چي د هغه نکاح هم موجوده، نو باید د هغه د نکاح حق اداء کړی سي ا وَإِنْ لَمْ يَكُنِ الْحَبَلُ مِنْهُ که څه هم حمل له هغه ځخه نه دی انکاح خوسته ا بِخِلَافِ الْحَبَلِ الْحَادِثِ په خلاف د هغه حمل کوم چي اد خاوند تر مرګ وروسته ا پیدا سوی وي لِأَنَّهُ وَجَبَتِ الْعِدَّةُ بِالشُّهُورِ ځکه اکله چي په هغه کي ا عدت د میاشتو په حساب سره واجب سو فَلَا تَتَغَيَّرُ بِحُدُوثِ الْحَبَلِ نو ابیا ا به د حمل په پیدا کېدلو سره نه متغیر کیږي وَفِيمَا نَحْنُ فِيهِ كَمَا وَجَبَتْ وَجَبَتْ مُقَدَّرَةً بِمُدَّةِ الْحَبَلِ او زموږ په دې مسئله کي چي ځرنګه عدت واجب سو نو اسمدستي ا له هغه وخت څخه د حمل په موده سره متعین واجب سو فَافْتَرَقَا نو ځکه دواړي مسئلې سره جلا سوې ایعني په دواړو کي فرق راغلی ا وَلَا يَلْزَمُ امْرَأَةُ الْكَبِيرِ إِذَا حَدَثَ لَهَا الْحَبَلُ بَعْدَ الْمَوْتِ او اپر دې باندي ا د بالغ سړي د ښځي اعتراض نه واردیږي کله چي د بالغ سړي تر مرګ وروسته د هغې حمل ښکاره سوی وي لِأَنَّ النَّسَبَ يَثْبُتُ مِنْهُ ځکه چي اپه دې صورت کي د حمل انسب د هغه ابالغ خاوند ا سره ثابتیږي فَكَانَ كَالْقَائِمِ عِنْدَ الْمَوْتِ حُكْمًا نو دا حمل داسي سو لکه د حکم په اعتبار سره چي د مرګ په وخت کي موجود وي وَلَا يَثْبُتُ نَسَبُ الْوَلَدِ فِي الْوَجْهَيْنِ او په دواړو صورتونو کي به د کوچني ایعني د حمل انسب نه ثابتیږي لِأَنَّ الصَّبِيَّ لَا مَاءَ لَهُ ځکه چي نابالغ هلک لره هیڅ نطفه نه وي فَلَا يُتَصَوَّرُ مِنْهُ الْعُلُوقُ نو د هغه له طرف څخه د حامله کولو اد ښځي د بلاربولو ا هیڅ تصور کېدای نه سي وَالنِّكَاحُ يَقُومُ مَقَامَهُ فِي مَوْضِعِ التَّصَوُّرِ او نکاح د تصور په ځای کي د وطي قائم مقام کیږي.

اللغات: ﴿حَادِث﴾ د ضرب اسمِ فاعل دی: وروسته پیدا سوی (واقع سوی). ﴿عُلُوق﴾ د ښځي په رحم کي نطفه قرار نیول. د ښځي حامله کېدل (بلاربېدل). حامله کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو نابالغه هلک مړ سي. او د هغه ښځه حامله وي. نو د طرفینو په نېز د هغې عدت وضعُ الحمل دی. او امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چي د هغې عدت څلور میاشتي او لس ورځي دي. همدا د امام شافعي، امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمُ اللهُ قول دی.

د امام ابو یوسف دلیل: دا دی چي د دې ښځي د حمل نسب د دغه صغیر (نابالغه هلک) سره ثابت نه دی. ځکه دا خبره تسلیم سوې ده چي د نابالغه هلک په وطي سره ښځه نه حامله کیږي. نو داسي سو لکه د صغیر تر مرګ وروسته چي دا حمل ښکاره سوي وي (یعني لکه د صغیر تر مرګ وروسته چي

ښځه حامله سوې وي). او تر مرګ وروسته د حمل ښکاره کېدلو په صورت کې بالاتفاق پر ښځې ځلور میاشتې او لس ورځې واجبېږي. نو همداسې به دلته هم د دې ښځې عدت ځلور میاشتې او لس ورځې وي.

د طرفینو دلیل: دا دی چې الله تعالیٰ په دې آیت "وَأُوْلَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ" کې مطلقاً حکم کړی دی چې د حامله ښځو عدت وضعُ الحمل دی. برابره ده هغه که د طلاق عدت وي یا د وفات عدت وي. او برابره ده حمل که د خپل خاوند وي یا د بل چا وي. نو دا آیت به د خپل إطلاق په وجه د نابالغ هلک ښځې لره هم شامل وي. ځکه چې هغه حامله ده. که څه هم د هغې حامل ثابتُ النسب نه دی. او دویم دلیل دا دی چې د حامله ښځو په حق کې د وفات د عدت اندازه په وضعُ الحمل سره تماکل سوې ده. هغه که د وضعُ الحمل مودت لږ وي. او که زیات وي: او د وفات د عدت مقصد د نکاح حق اداء کول دي. د رحم خالي والي معلومول نه دي. د دې وجه دا ده چې په شریعت کې د وفات عدت د حیض باوجود په میاشتو سره تماکل سوی دی. نو ثابته سوه چې د دغه عدت مقصد د نکاح حق اداء کول دي. نه د رحم خالي والي (فراغت) معلومول. او دا مقصد په صغیر کې هم موجود دی. که څه هم حمل له هغه څخه نه دی. نو ځکه به د هغه د ښځې په حق کې هم عدت وضعُ الحمل وي.

بخلاف الحمل إلخ: په دې سره د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د قیاس جواب ورکوي. حاصل یې دا دی چې کوم حمل د وفات په وخت کې موجود وي. داسې حمل پر هغه حمل قیاسول صحیح نه دي کوم چې تر وفات وروسته ښکاره سوی وي. ځکه چې د وفات په وخت کې د حمل د نشتوالي په صورت کې د نکاح د حق اداء کولو لپاره عدة بالشهور واجب سوی دی. لهذا اوس که تر دې وروسته حمل ښکاره سي. نو د هغه په وجه به دغه عدت نه متغیر کیږي. بلکې عدة بالشهور به پر خپل حالت پاته وي.

او په دې مسئله کې عدت له ابتداء څخه وضعُ الحمل تماکل سوی دی. ځکه چې د حامله ښځو عدت همدا دی چې هغوی حمل وزیږوي. لهذا په مقیس او مقیس علیه کې فرق راغلی. نو په دې وجه به یو پر بل قیاسول صحیح نه وي.

ولا يلزم إلخ: دا د یو مقدر سوال جواب دا دی. سوال دا دی چې د بالغ سړي د ښځې په حق کې عدت ولې متغیر کیږي. یعني که د بالغ سړي د مرګ په وخت کې حمل ښکاره سوی نه وي. نو د هغه د ښځې عدت د میاشتو په حساب سره وي. او که تر مرګ وروسته حمل ښکاره سي. نو بیا د هغې عدت په وضعُ الحمل سره بدلیږي. لهذا د صغیر (نابالغه هلک) د ښځې عدت هم متغیر کېدل پکار دي. د دې په جواب کې فرمایي چې له بالغ څخه د نطفې او وطي تصور کېدای سي (یعني د هغه په وطي سره د ښځې حامله کېدل ممکن دي). نو په دې وجه به تر مرګ ورسته پیدا کېدونکی حمل د

هغه ګرځول کیږي (چي دا حمل د هغه دی. او د وفات په وخت کي هم موجود وو. او اوس ښکاره او غټ سو)، نو په دې وجه به د هغه د ښځي په حق کي عدت متغیر کیږي. د دې په خلاف چي څرنګه د صغیر په حق کي نطفه او وطي بالکل متصور نه دي. لهذا د هغه د ښځي حمل به نه د وفات په وخت کي موجود مثل کیږي. او نه به د صغیر سره د حمل نسب ثابتیږي.

ولایثبت إلخ: فرمایي که حمل د صغیر د مرګ په وخت کي موجود وي او که موجود نه وي. په دواړو صورتونو کي د صغیر سره د حمل نسب نه ثابتیږي، ځکه چي د نسب د ثبوت لپاره نطفه او وطي ضروري دي. او له صغیر څخه بالکل نطفه او وطي متصور نه دي. او د هغه نکاح د وطي قائم مقام مثل کېدلای هم نه سي. ځکه کله چي له هغه څخه بالکل د وطي امکان او تصور نسته. نو نکاح به یې څرنګه د وطي قائم مقام سي.

د حیض په حالت کي د طلاق سوي ښځي عدت

وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ فِي حَالَةِ الْحَيْضِ او کله چي خاوند خپلي ښځي ته د حیض په حالت کي طلاق ورکړي لَمْ تَعْتَدَّ بِالْحَيْضَةِ الَّتِي وَقَعَ فِيهَا الطَّلَاقُ نو [داسي ښځه] به هغه حیض په عدت کي نه شماري په کوم حیض کي چي طلاق واقع سوی وي لِأَنَّ الْعِدَّةَ مُقَدَّرَةٌ بِثَلَاثِ حِيَضٍ كَوَامِلَ ځکه چي عدت په پوره دریو حیضو سره متعین سوی [ټاکل سوی] دی انو که ښځه هغه حیض هم په عدت کي شمار کړي، نو درې حیضه به پوره نه سي] فَلَا يَنْقُصُ عَنْهَا لهذا تر دریو حیضو به عدت نه کمیږي.

اللغات: ﴿كَوَامِل﴾ جمع د كَامِلَة ده: پوره، بشپړ.

تشریح: صورت د مسئلې بالکل ښکاره دی، د تشریح ضرورت یې نسته.

که د معتدة ښځي سره وطي بالشبهة وسي نو د دواړو عدتونو د تداخل حکم

وَإِذَا وُطِئَتِ الْمُعْتَدَّةُ بِشُبْهَةٍ او کله چي د عدت تېرونکي ښځي سره وطي بالشبهه وسي فَعَلَيْهَا عِدَّةٌ أُخْرَى نو پر هغې به بل عدت [هم] واجب وي وَتَدَاخَلَتِ الْعِدَّتَانِ او دواړه عدتونه به په یو بل کي داخلیږي وَيَكُونُ مَا تَرَاهُ الْمَرْأَةُ مِنَ الْحَيْضِ مُحْتَسَبًا مِنْهُمَا جَمِيعًا او دا ښځه چي کوم حیضویني هغه به له دواړو عدتونو څخه شمارل کیږي وَإِذَا انْقَضَتِ الْعِدَّةُ الْأُولَى وَلَمْ تَكْمُلِ الثَّانِيَةُ او که چیري اول عدت پوره سي او دویم عدت پوره نه سي فَعَلَيْهَا تَمَامُ الْعِدَّةِ الثَّانِيَةِ نو پر هغې به دویم عدت پوره کول واجب وي وَهٰذَا عِنْدَنَا او دا [حکم] زموږ په نېز دی. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا تَتَدَاخَلَانِ او امام شافعي رَحِمَهُ

الله فرمايي: چي دواړه عدتونه به په يو بل کي نه داخليږي لِأَنَّ الْمَقْصُودَ هُوَ الْعِبَادَةُ ځکه [د عدت] مقصود خو عبادت دى فَإِنَّهَا عِبَادَةُ كَفٍّ عَنِ التَّزَوُّجِ وَالْخُرُوجِ ځکه چي دا [عدت] له نکاح او [دباندي] وتلو څخه د منع کېدلو عبادت دى فَلَا تَتَدَاخَلَانِ لهذا دواړه عدتونه به يو په بل کي نه داخليږي كَالصَّوْمَيْنِ فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ لکه په يوه ورځ کي چي دوې روژې [نه داخليږي] وَلَنَا: أَنَّ الْمَقْصُودَ التَّعَرُّفُ عَنْ فَرَاغِ الرَّحِمِ او زموږ دليل دا دى: چي [د عدت] مقصود د رحم د فراغت معلومول دي وَقَدْ حَصَلَ بِالْوَاحِدَةِ او دا مقصد په يوه عدت سره حاصليږي فَتَتَدَاخَلَانِ لهذا دواړه عدتونه به په يو بل کي داخليږي وَمَعْنَى الْعِبَادَةِ تَابِعٌ او د عبادت معنىٰ تابع ده أَلَا تَرَى أَنَّهَا تَنْقَضِي بِدُونِ عِلْمِهَا وَمَعَ تَرْكِهَا الْكَفَّ آيا ته نه ګورې! چي عدت د ښځي له خبرېدلو څخه بغير او د ځان منع کولو [د حکم] د پرېښودلو باوجود [هم] تيرېږي.

اللغات: ﴿تَدَاخَلَتْ﴾ د تفاعل ماضي ده: يو په بل کي داخلېدل. ﴿مُحْتَسَبًا﴾ د افتعال اسم مفعول دى: شمارل سوى، حسابل سوى (محسوب). ﴿كَفٌّ﴾ د نصر مصدر دى: منع کېدل، ځان منع کول، ځان راګرځول. ﴿التَّعَرُّفُ﴾ د تفعّل مصدر دى: پېژندل، معلومېدل.

تشريح: په متن کي له "الْمُعْتَدَّةُ" څخه مراد هغه ښځه ده کوم چي د طلاق بائن په عدت کي وي.

د مسئلې حقيقي صورت دا دى چي که يو سړى خپلي ښځي ته طلاق بائن ورکړي، او ښځه د عدت په دوران کي د يو بل سړي نکاح وکړي، او بيا د فساد دفع کولو په خاطر قاضي د دوى په مينځ کي تفريق وکړي، نو اوس ښکاره خبره ده چي پر دغه ښځه به دوه عدته واجب وي، يو د مخکني خاوند عدت، او بل د دويم خاوند عدت. لېکن زموږ په نيز به په دغه دواړو عدتونو کي تداخل کيږي. او دغه ښځي ته چي هر حيض راځي، هغه به په دواړو عدتونو کي شمارل کيږي، چي د هغه صورت به داسي وي چي که چيري ښځي تر يوه حيض تېرېدلو وروسته (د دويم خاوند سره) نکاح کړې وي، نو تر تفريق وروسته به پر هغې درې حيضونه نور واجب وي چي له هغه څخه به دوه حيضه په دواړو عدتونو کي شمارل کيږي (يعني دوه حيضه به څلور حيضه ګڼل کيږي، او له هر عدت څخه به شمارل کيږي)، او څرنګه چي په اول عدت کي يو حيض مخکي لا تېر سوى وو، نو ځکه به هغه عدت پوره ګڼل کيږي (ځکه چي دوه حيضه د دې عدت په هغه کي شمارل سول او يو حيض د هغه عدت سو، نو دا يې درې حيضونه)، او پاته سو دريم حيض به په دويم عدت کي شمارل کيږي، نو په دې توګه به دويم عدت هم پوره سي.

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دواړو عدتونو کي به تداخل نه کيږي، بلکي د هر عدت لپاره به جلا، جلا درې حيضه شمارل کيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د عدت د وجوب مقصد عبادت دی، ځکه چي د عدت په دوران کي معتده ښځه د بل سړي سره نکاح کولای نه سي، او نه بېله شرعي ضرورته له کور څخه وتلای سي، او په عباداتو کي تداخل نه کيږي، مثلاً که يو سړی په يوه ورځ کي دوې روژې ونيسي، نو نه صحيح کيږي، بلکي فقط يوه يوه روژه صحيح کيږي، همداسي به يو حيض هم په دواړو عدتونو کي نه شمارل کيږي.

زموږ دليل: دا دی چي د عدت مقصود د رحم برائت او فراغت معلومول دي، او څرنګه چي دا مقصود په يوه عدت سره حاصليږي، لهذا بېله څه وجهي به د عدت په واجبولو سره پر ښځي انتظار (تربص) نه زياتول کيږي، او په دواړو عدتونو کي به تداخل کيږي.

ومعنى العبادة إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چي موږ هم دا خبره منو چي عدت يو عبادت دی، خو په عدت کي د عبادت معنیٰ تابع ده، ځکه چي د عدت اصلي مقصود خو د رحم د فراغت طلب کول دي، همدا وجه ده که معتده ښځه خپل ځان له "کف" څخه منع نه کړي او پر "کف" عمل نه وکړي يعني بېله ضرورت له کور څخه ووځي نو هم عدت تيريږي او صحيح کيږي، يا که مثلاً هغه په دې خبره نه وي چي ما ته طلاق راکول سوی دی او درې حيضه په دغه ناخبرۍ کي تېر سي، نو هم عدت تيريږي او صحيح کيږي، لهذا که چيري د عدت اصل مقصود عبادت وای، نو بيا به په دې کارونو سره عدت باطلېدلای، لهذا د عدت نه باطلېدل د دې خبري دليل دی چي په عدت کي د عبادت معنیٰ تابع ده، او کله چي هغه تابع ده، نو ځکه به تداخل پکښي کيږي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَالْمُعْتَدَّةُ عَنْ وَفَاةٍ إِذَا وُطِئَتْ بِشُبْهَةٍ او د وفات عدت تېرونکې ښځه چي کله په شبهه سره وطي کړی سي ايعني کله چي له خاوند څخه بغير يو بل څوک په شبهه جماع ور سره وکړي ا تَعْتَدُّ بِالشُّهُوْرِ نو هغه به د مياشتو ا په حساب ا عدت تېروي وَتَحْتَسِبُ بِمَا تَرَاهُ مِنَ الْحَيْضِ فِيهَا او په دې دوران کي چي کوم حيض ووينې هغه به ا هم په عدت کي ا شماري تَحْقِيقًا لِلتَّدَاخُلِ بِقَدْرِ الْإِمْكَانِ د دې لپاره چي حتى الإمكان تداخل ثابت سي.

اللغات: ﴿الْمُعْتَدَّةِ﴾ د افتعال اسمِ مفعول دی: عدت تېرونکې ښځه (هغه ښځه کوم چي په عده کي وي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو خاوند مړ سي، او ښځه د وفات عدت (يعني څلور مياشتي او لس ورځي) تېرول شروع کړي. او د عدت په دوران کي د هغې سره وطي بالشبهه وسي. نو دا ښځه به هغسي د مياشتو په حساب خپل عدت پوره کوي، او په دې دوران کي چي کوم حيضونه هغې ته راځي، دا به له دويم حيض څخه شماري، د دې لپاره چي حتی الإمکان تداخل وسي. (مثلاً که د خاوند تر مرګ وروسته هغې دوې مياشتي عدت پوره کړی وي او دوې مياشتي او لس ورځي عدت لا پاته وي. او په دې حالت کي د هغې سره وطي بالشبهه وسي، نو اوس به دا ښځه هغه پاته دوې مياشتي او لس ورځي پوره کوي. او په دې دوو مياشتو او لس ورځو کي چي کوم دوه حيضه راځي، هغه به په دويم عدت يعني د وطي بالشبهه په عدت کي شماري. او کله چي دغه دوې مياشتي او لس ورځي هم پوره سي. نو يو حيض به بل تېروي چي د وطي بالشبهه عدت هم پوره سي).

د عدت شروع کېدلو وخت

وَابْتِدَاءُ الْعِدَّةِ فِي الطَّلَاقِ عَقِيبَ الطَّلَاقِ او په طلاق کي به د عدت شروع له طلاق څخه وروسته وي وَفِي الْوَفَاةِ عَقِيبَ الْوَفَاةِ او [د خاوند] په وفات کي به تر وفات وروسته وي فَإِنْ لَمْ تَعْلَمْ بِالطَّلَاقِ أَوِ الْوَفَاةِ حَتَّى مَضَتْ مُدَّةُ الْعِدَّةِ نو که چيري ښځه په طلاق يا وفات خبره نه سي تر دې چي د عدت مودت تېر سي فَقَدِ انْقَضَتْ عِدَّتُهَا نو د هغې عدت پوره سو لِأَنَّ سَبَبَ وُجُوبِ الْعِدَّةِ الطَّلَاقُ أَوِ الْوَفَاةُ ځکه چي د عدت واجبېدلو سبب طلاق دی يا وفات دی فَيُعْتَبَرُ ابْتِدَاؤُهَا مِنْ وَقْتِ وُجُودِ السَّبَبِ نو د عدت د شروع اعتبار به [هم] د سبب موجودېدلو له وخت څخه کيږي [يعني پر ښځي د دوو سببونو په وجه عدت واجبيږي، يو دا چي خاوند طلاق ورکړي، دويم دا چي خاوند يې مړ سي، لهذا هر کله چي هم په دې دواړو کي يو سبب پېښ سي، نو عدت به شروع کيږي، که څه هم ښځه خبره نه وي، ځکه چي سبب موجود سو] وَمَشَايِخُنَا يُفْتُونَ فِي الطَّلَاقِ أَنَّ ابْتِدَاءَهَا مِنْ وَقْتِ الْإِقْرَارِ او زموږ [د بخارئ او سمرقند] مشائخو به د طلاق په صورت کي دا فتوئ ورکول چي د عدت شروع به [په طلاق کي] د اقرار له وخت څخه وي نَفْيًا لِتُهْمَةِ الْمُوَاضَعَةِ د دې لپاره چي د خپل مينځوي اتفاق کولو تهمت ليري سي. [يعني د طلاق د عدت په هکله به د بلخ او سمرقند علماؤ دا فتوئ ورکوله چي له هغه ورځي څخه به عدت شروع کيږي په کومه ورځ چي خاوند د طلاق اقرار وکړي، مثلاً که د رجب په اوله ورځ خاوند اقرار وکړي چي ما د ربيع الثاني په

اوله ورځ ښځي ته طلاق ورکړی وو نو د قاعدې خو مطابق باید د ربیع الثاني له اولي ورځي څخه عدت شروع سي. لېکن د بلخ او سمرقند مشائخو به دا فتویٰ ورکوله چي د تهمت لیري کولو لپاره به د رجب له اولي ورځي څخه عدت شروع کیږي. "تهمت دا دی چي شاید خاوند او ښځي به دا پلان جوړ کړی وي چي ما او تا به د خپلو قریبانو په مخ کي پر دې خبره اتفاق وکړو چي ما څو میاشتي مخکي تا ته طلاق ورکړی دی او اوس عدت پوره سوی دی او ته اجنبیه ګرځېدلې یې. نو په دې توګه به زه تا ته د میراث له حق څخه د زیات مال وصیت وکړم". د دغه تهمت د نفي کولو په وجه به د اقرار له ورځي څخه عدت شروع کیږي.

اللغات: ﴿يُفْتُوْن﴾ د افعال د باب مضارع ده. أَفْتَىٰ يُفْتِيْ اِفْتَاءً: فتویٰ ورکول. ﴿مُوَاضَعَة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: کله چي دوه خلک پر یوه خبره اتفاق وکړي. نو دې ته "مواضعت" وایي.

تشریح: مسئله په عبارت کي تشریح سوه.

د نکاح فاسد د عدت شروع کېدلو وخت

وَالْعِدَّةُ فِي النِّكَاحِ الْفَاسِدِ عَقِيْبَ التَّفْرِيْقِ أَوْ عَزْمِ الْوَاطِئِ عَلٰى تَرْكِ وَطْئِهَا او په نکاح کي به [شروع دا] عدت تر تفریق وروسته یا د وطي پر پرېښوولو د واطئ تر عزم کولو وروسته وي وَقَالَ زُفَرُ: مِنْ آخِرِ الْوَطَآتِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چي [د عدت شروع به] له آخري وطي څخه وي لِأَنَّ الْوَطْءَ هُوَ السَّبَبُ الْمُوْجِبُ ځکه چي همدا وطي د عدت واجبونکي سبب دی وَلَنَا: أَنَّ كُلَّ وَطْءٍ وُجِدَ فِي الْعَقْدِ الْفَاسِدِ يَجْرِيْ مَجْرَى الْوَطْأَةِ الْوَاحِدَةِ زموږ دلیل دا دی: چي هر هغه وطي کوم چي په فاسد عقد کي پیدا سي [هغه] د یوه وطي قائم مقام کیږي لِاسْتِنَادِ الْكُلِّ إِلٰى حُكْمِ عَقْدٍ وَاحِدٍ ځکه چي د ټولو [وطؤ] نسبت د یوه عقد وطرف ته کیږي وَلِهٰذَا يُكْتَفٰى فِي الْكُلِّ بِمَهْرٍ وَاحِدٍ او له همدې وجهي د ټولو [وطؤ] لپاره یو مهر کافي کیږي فَقَبْلَ الْمُتَارَكَةِ أَوِ الْعَزْمِ لَا تَثْبُتُ الْعِدَّةُ نو ځکه به تر تفریق یا تر عزم کولو مخکي عدت نه ثابتیږي مَعَ جَوَازِ وُجُوْدِ غَيْرِهٖ ځکه چي له دې وطي څخه بغیر [د نورو وطؤ] د وجود امکان سته [یعني ځکه چي تر تفریق او عزم مخکي د نورو وطؤ موجودېدل ممکن دي] وَلِأَنَّ التَّمَكُّنَ عَلٰى وَجْهِ الشُّبْهَةِ أُقِيْمَ مَقَامَ حَقِيْقَةِ الْوَطْءِ او ځکه چي د شبهه په توګه پر وطي قدرت درلودل د حقیقي وطي قائم مقام سوی دي لِخَفَائِهٖ دوطي د پټوالي [مخفي والي] په وجه [یعني ځکه چي وطي یو مخفي شی دی] وَمَسَاسُ الْحَاجَةِ إِلٰى مَعْرِفَةِ الْحُكْمِ فِيْ حَقِّ غَيْرِهٖ او د ضرورت محسوسېدل له واطئ څخه بغیر [د بل چا] په حق کي د حکم

وپېژندلو ته دی. ايعني وطي ځکه مخفي او پټ أمر دي چي له واطئ څخه بغير بل څوک هم د حکم يعني د عدت معلومولو ته مجبوره کيږي، نو د بل چا په حق کي وطي يو مخفي أمر دی ا.

اللغات: ﴿وَاطِئ﴾ د سمع اسم فاعل دی: وطي کونکی، جماع کونکی. ﴿عَزْم﴾ د ضرب مصدر دی: پخه اراده کول. ﴿تَمَكُّن﴾ د تفعل مصدر دی: قدرت حاصلېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يو سړي او ښځي په مينځ کي فاسده نکاح وتړل سي. نو ښکاره خبره ده چي دا نکاح به فسخ کيږي او د دوی په مينځ کي به تفريق واقع کيږي. خو په دې صورت کي به زموږ په نيز د عدت شروع له هغه وخت څخه کيږي کله چي قاضي د خاوند او ښځي په مينځ کي تفريق وکړي او نکاح فسخ کړي. يا به له هغه وخت څخه کيږي کله چي واطي د وطي د پرېښوولو پخه اراده وکړي (او ټينګ عزم وکړي چي بيا به هيڅکله د دې ښځي سره جماع نه کوم).

لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي په نکاحِ فاسد کي به د وطي شروع له آخري وطي څخه کيږي. ځکه چي همدا وطي د عدت واجبېدلو سبب دی، ځکه که دغه سړي وطي نه کولای. نو پر ښځي به عدت نه واجبېدلای. معلومه سوه چي د عدت د وجوب مُحرک او سبب وطي دي. نو ځکه به د عدت شروع له آخري وطي څخه کيږي.

ولنا إلخ: زموږ دليل دا دی چي په عقدِ فاسد کي چي څومره وطي کيږي. هغه ټوله د يوه وطي (وطي واحد) په درجه کي دي. ځکه چي هغوی ټوله د يوه عقد وطرف ته منسوب دي. او د هغوی ټولو په وجه فقط يو مهر واجبيږي. لهذا تر تفريق يا د وطي نه کولو تر ټينګ عزم مخکي به تفريق نه ثابتيږي. ځکه چي تر تفريق او تر ټينګ عزم کولو مخکي د دويم ځل وطي کولو امکان سته. نو ځکه موږ وايو چي تر څو تفريق واقع سوی نه وي يا د وطي د پرېښوولو ټينګ عزم سوی نه وي. تر هغه وخته به عدت نه شروع کيږي.

ولأن التمكن إلخ: له دې ځايه دويم دليل بيانوي. حاصل يې دا دی چي حقيقي وطي يو مخفي او پټ کار دی. او وطي بالشبهه د هغه قائم مقام دي. ځکه هر هغه شی کوم چي مخفي وي او د هغه ظاهري سبب موجود وي نو دا ظاهري سبب د هغه شي قائم مقام جوړيږي. نو ځکه به قدرة على وجه الشبهة د وطي قائم مقام وي. او ښکاره خبره ده چي په نکاحِ فاسد کي تر تفريق يا د وطي نه کولو تر ټينګ عزم مخکي د قدرة على الوطي شبهه پاته وي (يعني په نکاحِ فاسد کي تر تفريق او ټينګ عزم مخکي

دا شبهه کېدای سي چي شايد خاوند به بيا د ښځي سره وطي وکړي)، نو ځکه به تر تفريق واقع کېدلو يا ټينګ عزم کولو مخکې عدت نه شروع کيږي (ځکه چي د عدت شروع له هغه وخت څخه کيږي، کله چي په هره توګه د وطي شبهات ختم سي).

ومساس الحاجة إلخ: په دې سره د يو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي دا خبره مو‌ږ نه منو چي حقيقي وطي يو مخفي أمر دی، ځکه چي د عدت معلومولو ضرورت خاوند او ښځي ته دی، او د خاوند او ښځي په نيز حقيقي وطي يو معلوم أمر دی، نه مخفي أمر (يعني خاوند او ښځي ته معلومه ده چي آخري وطي کله سوي دي، نو له هغه وخت څخه به ښځه عدت شروع کوي)، لهذا د خاوند او ښځي په حق کي وطي يو مخفي أمر ګرځول صحيح نه دي، د دې په جواب کي فرمايي چي کله نا کله د خاوند او ښځي څخه بغير بل چا ته هم د عدت معلومولو ضرورت پيښيږي، مثلاً که د دغه ښځي سره يو سړی صحيح نکاح کول غواړي، نو هغه سړي دې ته مجبوره دی چي د ښځي د عدت د ابتداء او انتهاء په هکله معلومات تر لاسه کړي، نو که څه هم وطي د خاوند او ښځي په حق کي مخفي أمر نه دی، ليکن د بل چا په حق کي هغه مخفي أمر دی، نو ځکه به هغه مخفي منل کيږي.

په عدت تېرېدلو کي د خاوند او ښځي د اختلاف په صورت کي د چا قول معتبر دی؟

وَإِذَا قَالَتِ الْمُعْتَدَّةُ: اِنْقَضَتْ عِدَّتِيْ وَكَذَّبَهَا الزَّوْجُ او کله چي معتده ښځه ووايي: چي زما عدت تېر سو كَانَ الْقَوْلُ قَوْلَهَا مَعَ الْيَمِيْنِ نو قول به د ښځي معتبر وي د قسم سره لِأَنَّهَا أَمِيْنَةٌ فِيْ ذٰلِكَ ځکه چي ښځه په دې باره کي امانتداره ده وَقَدْ اُتُّهِمَتْ بِالْكَذِبِ]ليکن[هغه په دروغو سره متهم ده فَتَحْلِفُ كَالْمُوْدَعِ نو ځکه به د مودَع په څېر قسم خوري]يعني ښځه د عدت تېرېدلو په سلسله کي امانتداره ده، او خاوند پر هغې تهمت لګولی دی چي ته دروغ وايې، او قاعده دا ده چي کله د امانت په خلاف هيڅ ګواه نه وي، نو أمين به قسم خوري[.

اللغات: ﴿فَتَحْلِفُ﴾ د ضرب مضارع ده: قسم خوړل (قسم کول)، لوړه کول. ﴿الْمُوْدَعُ﴾ د افعال اسم مفعول دی: هغه څوک چي امانت ور ته ايښول سوی وي، أمين، امانتدار (امانت ساتونکی).

تشريح: عبارت او صورت د مسئلې ښکاره دي، تشريح ته ضرورت نه لري.

د هغه ښځې عدت کوم چې د طلاق په عدت کې دويم ځل نکاح وکړي او بيا طلاق ورکول سي

وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ إِمْرَأَتَهُ طَلَاقًا بَائِنًا او کله چې خاوند خپلې ښځې ته طلاق بائن ورکړي ثُمَّ تَزَوَّجَهَا فِي عِدَّتِهَا بيا د هغې په عدت کې د هغې سره نکاح وکړي وَطَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا او ابيا ا تر دخول مخکې هغې ته طلاق ورکړي فَعَلَيْهِ مَهْرٌ كَامِلٌ وَعَلَيْهَا عِدَّةٌ مُسْتَقِلَّةٌ نو پر خاوند به پوره مهر واجب وي او پر ښځې به مستقل اعليحده اعدت واجب وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ ۞ او دا احکم ا د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَقَالَ: مُحَمَّدٌ: عَلَيْهِ نِصْفُ الْمَهْرِ وَعَلَيْهَا إِتْمَامُ الْعِدَّةِ الْأُولٰى او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر خاوند به نيم مهر واجب وی او ا د هغه ا پر ښځې به افقط ا د اول عدت پوره کول واجب وي لِأَنَّ هٰذَا طَلَاقٌ قَبْلَ الْمَسِيسِ ځکه چې دا طلاق قبل الدخول دی فَلَا يُوجِبُ كَمَالَ الْمَهْرِ وَلَا اِسْتِئْنَافَ الْعِدَّةِ لهذا نه به پوره مهر واجبوي او نه به له نوي سره د عدت شروع کول ايعني مستقل عدت ا واجبوي وَإِكْمَالُ الْعِدَّةِ الْأُولٰى إِنَّمَا يَجِبُ بِالطَّلَاقِ الْأَوَّلِ او د اول عدت پوره کول خو د اول طلاق په وجه واجب سوي دي إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَظْهَرْ حَالَ التَّزَوُّجِ الثَّانِي خو دا چې د دويمې نکاح په وخت کې هغه ااول عدت ا ښکاره نه سو ايعني د دويمې نکاح په وجه پټ سوا فَإِذَا ارْتَفَعَ بِالطَّلَاقِ الثَّانِي ظَهَرَ حُكْمُهُ البکن کله چې دويمه نکاح په دويم طلاق سره ختمه سوه نو د اول طلاق حکم ښکاره سو كَمَا لَوِ اشْتَرٰى أُمَّ وَلَدِهِ ثُمَّ أَعْتَقَهَا لکه يو څوک چې خپل أم ولد رانيسي او آزاده يې کړي وَلَهُمَا: أَنَّهَا مَقْبُوضَةٌ فِي يَدِهِ حَقِيقَةً بِالْوَطْأَةِ الْأُولٰى او د شيخينو دليل دا دی: چې دا ښځه په اوله جماع سره حقيقتاً د خپل خاوند په قبضه کې مقيده ده وَبَقِيَ أَثَرُهُ وَهُوَ الْعِدَّةُ او د اولې جماع أثر اوس هم ا پاته دی او هغه عدت دی فَإِذَا جُدِّدَ النِّكَاحُ وَهِيَ مَقْبُوضَةٌ لهذا کله چې نکاح نوې سوه په داسې حال کې چې دا ښځه ا د خاوند ا په قبضه کې ده نَابَ ذٰلِكَ الْقَبْضُ عَنِ الْقَبْضِ الْمُسْتَحَقِّ فِي هٰذَا النِّكَاحِ نو دا قبضه د دغه ا دويمې ا نکاح د واجبې قبضې قائم مقام سوه كَالْغَاصِبِ يَشْتَرِي الْمَغْصُوبَ الَّذِي فِي يَدِهِ لکه غاصب چې هغه مغصوب شی رانيسي کوم چې د هغه په قبضه کې وي يَصِيرُ قَابِضًا بِمُجَرَّدِ الْعَقْدِ نو محض په عقد سره هغه

۞ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٦٦٦). [القول الراجح ج:١، ص: ٢٧١]

قابض ګرځي فَوَضَحَ بِهٰذَا أَنَّهُ طَلَاقٌ بَعْدَ الدُّخُوْلِ نو په دې سره ښکاره سوه چي دا طلاق [ګواکي] تر دخول وروسته دی وَقَالَ زُفَرُ: لَا عِدَّةَ عَلَيْهَا أَصْلًا او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چي پر دغه ښځي بالکل عدت واجب نه دی لِأَنَّ الْأُوْلٰى قَدْ سَقَطَتْ بِالتَّزَوُّجِ ځکه چي اول عدت په [دویمه] نکاح سره ساقط سو فَلَا تَعُوْدُ نو ځکه به هغه نه راګرځي وَالثَّانِيَةُ لَمْ تَجِبْ او دویم عدت [تر اوسه] واجب سوی نه دی وَجَوَابُهُ مَا قُلْنَا او ددې جواب هغه دی کوم چي موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿إِتْمَام﴾ د افعال مصدر دی: پوره کول، بشپړ کول. ﴿مَسِيْس﴾ جماع کول، وطي کول. ﴿اِسْتِئْنَاف﴾ د استفعال مصدر دی: له نوي سره شروع کول. ﴿جُدِّدَ﴾ د تفعیل مضارع مجهوله ده: نوي کول، جدید کول، تازه کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی خپلي ښځي ته طلاق بائن ورکړي، او د عدت په دوران کي دویم ځل د هغې سره نکاح وکړي، لېکن تر وطي او خلوتِ صحیحه مخکي بیا هغې ته طلاق ورکړي، نو د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز به پر دغه خاوند ټوله مهر واجب وي، او دده پر ښځي به مستقل دویم عدت واجب وي، امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چي پر خاوند به نیم مهر واجب وي، او پر ښځي به د اول (مخکني) عدت پوره کول واجب وي.

صاحب د ذخیرې لیکلي دي چي دا مسئله پر یوه فقهي قاعدې باندي مبني ده. د قاعدې حاصل دا دی چي د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د اولي نکاح دخول د دویمي نکاح دخول شمارل کیږي، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د اولي نکاح دخول د دویمي نکاح دخول نه شمارل کیږي.

او څرنګه چي دغه سړي ښځي ته په دویمه نکاح کي تر دخول او خلوت مخکي طلاق ورکړی دی، او د طلاق قبل الدخول په صورت کي پر خاوند نیم مهر واجبیږي او پر ښځي عدت نه واجبیږي، نو ځکه به دلته د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز پر خاوند نیم مهر واجب وي، او د دغه طلاق عدت به هم واجب نه وي، ها! د اول طلاق عدت پوره کول به پر ښځي لازم وي، ځکه چي هغه عدت د اول طلاق په وجه واجب سو، او دویمي نکاح هغه لاندي او مخفي کړی، لېکن کله چي خاوند په دویمه نکاح کي تر دخول او خلوت مخکي طلاق ورکړی، نو د دویمي نکاح حکم ختم سو، او اوس د اول طلاق أثر بیر ته ښکاره سو، او څرنګه چي اول طلاق تر وطي او خلوت وروسته ورکول سوی دی، نو ځکه به هغه د عدت موجب وي، او پر ښځي به د اول (مخکني) عدت پوره کول لازم وي.

صاحب د کتاب د يو مثال په ذريعه د دې نور وضاحت کوي فرمايي چي مثلاً که يو څوک د بل سړي د مينځي سره نکاح وکړي او له هغې څخه يې کوچنى پيدا سي. او بيا هغه مينځه له دغه بل سړي (مالک) څخه رانيسي او بيا يې آزاده کړي. نو د هغه نکاح به فاسده وي او پر دې مينځي به درې حيضه واجب وي. دوه حيضه د نکاح زائلېدلو په وجه او يو حيض د آزادېدلو په وجه. ځکه چي دوه حيضه د نکاح فاسدېدلو په وجه د عدت په توګه واجب سول. او تر نکاح فاسدېدلو وروسته د هغې په حق کي د عدت حکم ښکاره نه سو. ځکه چي ملکِ يمين اوس هم موجود دی. او ملکِ يمين د عدت مانع دی. لېکن کله چي خاوند هغه آزاده کړه. نو د عدت مانع ختم سو. او د مينځي په حق کي هم د عدت حکم ښکاره سو. او پر هغې مخکښي دوه حيضه او يو بل حيض واجب سو. همدغسي دلته هم په دويمه نکاح کي د اول طلاق حکم معدوم سو. لېکن کله چي له وطي او خلوت څخه بغير ښځي ته په دويمه نکاح کي بيا طلاق ورکول سو. نو د اول طلاق حکم واپس راوګرځېدی او پر ښځي د اول عدت پوره کول لازم سو.

ولهما إلخ: د شيخينو دليل دا دی چي دغه ښځه د اولي جماع (وطي) په وجه د خپل خاوند په قبضه کي مقيده ده. او تر اوسه د هغه اولي جماع أثر د عدت په توګه پاته دی. لهذا کله چي خاوند د عدت په حالت کي د هغې سره دويمه نکاح وکړه. نو اوله نکاح د دويمي نکاح د قبضې قائم مقام سوه. او څرنګه چي د شيخينو په نېز د اولي نکاح دخول د دويمي نکاح دخول شمارل کيږي. نو که څه هم په دويمه نکاح کي تر وطي مخکي طلاق ورکول سوی دی خو هغه به ګواکي طلاق بعد الدخول وي. او د طلاق بعد الدخول په صورت کي پر خاوند پوره مهر واجبيږي او پر ښځي مستقل عدت واجبيږي. نو ځکه موږ وايو چي په دې مسئله کي به پر خاوند پوره مهر او پر ښځي مستقل عدت واجب وي. مثلاً زيد د خالد پُسه غصب کړی او په خپل قبضه کي يې را وستی. بيا غاصب يعني زيد له خالد څخه هغه پُسه رانيوی. نو فقط په رانيولو سره زيد پر هغه پُسه قبضه کونکی شمارل کيږي. او د نوي قبضې (قبضه جديده) ضرورت نه پيدا کيږي. بلکي اوله قبضه د دويمي قبضې يعني د اشتراء د قبضې قائم مقام کيږي. همداسي به دلته هم د اولي نکاح دخول د دويمي نکاح د دخول قائم مقام کيږي او د دويمي نکاح طلاق به بعد الدخول شمارل کيږي.

وقال زفر إلخ: فرمايي چي د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز په دې مسئله کي پر ښځي بالکل عدت واجب نه دی. يعني نه د اول عدت پوره کول پر هغې واجب دي. او نه يو بل مُستقل عدت. ځکه چي د دويمي نکاح په وجه اول عدت ساقط سو. نو ځکه به دويم ځل نه راګرځي. او په دويمه نکاح کي هم تر وطي او خلوت مخکي طلاق ورکول سوی دی. نو ځکه به هلته هم عدت واجب نه وي.

د ذمیه او حربیه ښځې عدت

قال: وَإِذَا طَلَّقَ الذِّمِّيُّ الذِّمِّيَّةَ او که یو ذمي سړی ذمیه ښځې ته طلاق ورکړي فَلَا عِدَّةَ عَلَيْهَا نو پر هغې عدت واجب نه دی وَكَذَا إِذَا خَرَجَتِ الْحَرْبِيَّةُ إِلَيْنَا مُسْلِمَةً او همدارنګه کله چې حربیه ښځه اله دارُ الحرب څخه هجرت وکړي او ازموږ وطرف ته مسلمانه راسي انو پر هغې هم عدت واجب نه دی ا فَإِنْ تَزَوَّجَتْ نو که هغه نکاح وکړي جَازَ انو د هغې نکاح ا جائز ده إِلَّا أَنْ تَكُونَ حَامِلًا خو دا چې هغه حامله وي انو نکاح یې ممنوع ده ا وَهَذَا كُلُّهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا ټوله د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دي وَقَالَا: عَلَيْهَا وَعَلَى الذِّمِّيَّةِ الْعِدَّةُ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چې پر حربیه ښځې او پر ذمیه ښځې عدت واجب دی أَمَّا الذِّمِّيَّةُ فَالِاخْتِلَافُ فِيهَا نَظِيرُ الِاخْتِلَافِ فِي نِكَاحِهِمْ مَحَارِمَهُمْ پاته سوه ذمیه ښځه نو د هغې په هکله ازموږ د امامانو ا دا اختلاف د هغه اختلاف په څېر دی کوم چې د خپلو محارمو سره د ذمیانو د نکاح کولو په سلسله کې دی وَقَدْ بَيَّنَّاهُ فِي كِتَابِ النِّكَاحِ او موږ [دا مسئله او اختلاف] په کتابُ النکاح کې بیان کړی دی وَقَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ فِيمَا إِذَا كَانَ مُعْتَقَدُهُمْ أَنَّهُ لَا عِدَّةَ عَلَيْهَا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول په هغه صورت کې دی کله چې د ذمیانو دا عقیده وي چې [د هغوا] پر مطلقه ښځې عدت نسته وَأَمَّا الْمُهَاجِرَةُ فَوَجْهُ قَوْلِهِمَا: أَنَّ الْفُرْقَةَ لَوْ وَقَعَتْ بِسَبَبٍ آخَرَ وَجَبَتِ الْعِدَّةُ پاته سوه مهاجره [حربیه] ښځه نو د هغې په هکله د صاحبینو د قول وجه دا ده چې: که چیرې په یو بل سبب سره [د خاوند او مهاجره ښځې په مینځ کې] فرقت واقع کېدای نو عدت به واجبېدای فَكَذَا بِسَبَبِ التَّبَايُنِ نو همداسې به [د دارینو] د تباین په سبب هم [عدت واجبیږي] بِخِلَافِ مَا إِذَا هَاجَرَ الرَّجُلُ وَتَرَكَهَا په خلاف د هغه صورت کله چې سړی [اله دارُ الحرب څخه] هجرت وکړي او ښځه [په دارُ الحرب کې] پریږدي لِعَدَمِ التَّبْلِيغِ د اشرعي حکم [انه رسېدلو په وجه [یعني ځکه چې په دارُ الحرب کې حربیه ښځې ته د شریعت حکم او دا مسئله رسېدلې نه ده. او نه پر هغې د دارُ الاسلام إجبار سته] وَلَهُ قَوْلُهُ تَعَالَى: وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ [الممتحنة: ۱۰] او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا الله تعالیٰ دا فرمان دی: او پر تاسو هیڅ حرج نسته چې د هغو [حربیه مهاجرو ښځو] سره نکاح وکړی وَلِأَنَّ الْعِدَّةَ حَيْثُ وَجَبَتْ كَانَ فِيهَا حَقُّ بَنِي آدَمَ او ځکه چیرې چې [هم] عدت واجبیږي نو په هغه کې د انسان حق وي وَالْحَرْبِيُّ مُلْحَقٌ بِالْجَمَادِ او حربي اګرسره انسان نه دی بلکې [د جماداتو سره ملحق دی حَتَّى كَانَ مَحَلًّا لِلتَّمَلُّكِ همدا وجه ده چې هغه د ملکیت

محل دی (یعني هغه د مسلمان سړي مملوک کېدلای سي او مسلمان سړی هغه رانیولای سي او خرڅولای سي.
لکه نور جمادات (مثلاً اوسپنه. ډبري او خاوري. . .) چي د ملکیت محل دي (إِلَّا أَنْ تَكُونَ حَامِلًا خو دا چي هغه
حامله وي انو بیا د هغې سره نکاح جائز نه ده (لِأَنَّ فِي بَطْنِهَا وَلَدًا ثَابِتَ النَّسَبِ ځکه چي د هغې په نس کي
ثابتُ النسب کوچنی دی وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ يَجُوزُ نِكَاحُهَا او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت دی:
چي د دغه حاملې سره نکاح جائز ده وَلَا يَطَؤُهَا كَالْحُبْلَى مِنَ الزِّنَا (ليکن (د هغې سره به (خاوند (وطي نه
کوي لکه د زنا څخه بلاربه سوې ښځه (چي هم دا حکم لري (وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ او اول (قول (زيات
صحیح دی.

اللغات: ﴿حُبْلَى﴾ بلاربه ښځه. حامله (حملداره).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو ذمي سړي خپلې ذمیه ښځي ته طلاق ورکړي. یا یوه
حربیه ښځه له دارُ الحرب څخه دارُ الاسلام ته راسي او اسلام راوړي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز
پر دې دواړو ښځو عدت واجب نه دی. او دا ښځي که وغواړي نو بېله عدته نکاح کولای سي. ها! که
حربیه ښځه حامله وي نو بیا هغه په دارُ الاسلام کي له وضعُ الحمل څخه مخکي نکاح نه سي کولای.
صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چي په دواړو صورتونو کي پر دواړو ښځو عدت واجب دی. لېکن ښکاره
دي وي چي د ذمي ښځي په هکله د امام صاحب دا قول "چي عدت نه واجبيږي" په هغه وخت کي
دی. کله چي د ذمیانو دا عقیده وي چي د هغو پر مطلقه ښځي عدت لازم نه دی.
پاته سوه مهاجره حربیه کوم چي له دارُ الحرب څخه و دارُ الاسلام ته هجرت کړی وي. نو پر هغې
د عدت واجبېدلو په هکله د صاحبینو دلیل دا دی چي که د دارَینو له تباین څخه بغیر په یوه بله وجه
مثلاً د وفات یا طلاق په وجه د دوی په مینځ کي فرقت واقع سي نو په هغه سره عدت واجبيږي. نو د
دارَینو د تباین په وجه چي کوم فرقت واقع کیږي. په هغه سره به هم عدت واجبيږي.
ها! که چیري د ښځي پر ځای خاوند له دارُ الحرب څخه هجرت وکړي دارُ الاسلام ته راسي. نو
بیا د هغه پر ښځي عدت نه واجبیږي. ځکه چي په دارُ الحرب کي د هغه ښځي ته د شریعت حکم
رسېدلی نه دی. لهذا کله چي هغې ته د شریعت حکم رسېدلی نه دی. نو عدت به څرنګه واجب سي!.

ولأبي حنيفة إلخ: د امام صاحب دليل دا آيت دی "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ" وروسته الله تعالىٰ فرمايي: "وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ ..إلخ". د دې ټوله آيت خلاصه دا ده چې که حربيه ښځې اسلام راوړي او دارُ الاسلام ته هجرت وکړي. نو تاسي له هغوی څخه ايماني امتحان واخلئ! او بيا د هغوی سره نکاح وکړئ. په دې کي هيڅ حرج نشته.

صاحب د بنايې فرمايي چې په دې آيت سره په دې توګه دليل نيول کيږي چې الله تعالىٰ مطلق "لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ" فرمايلي دي. او په دې آيت کي د عدت تېرولو هيڅ قيد نشته. لهذا که عدت واجب کړی سي نو د قرآن پر آيت به اضافه او زياتوب راسي کوم چې صحيح نه دي.

ولأن العدة حيث إلخ: عقلي دليل دا دی چې د عدت واجبېدلو مطلب دا دی چې د انسان حق اداء سي او د هغه د اوبو حفاظت وسي. او کافر د انسانانو له فهرس څخه وتلی دی او د جماداتو او حيواناتو سره ملحق دی. همدا وجه ده چې د هغه خرڅول او رانيول صحيح دي او پر هغه د انسان ملکيت ثابتيږي. نو ځکه به د هغه د اوبو هيڅ حفاظت نه کيږي او د هغه پر ښځې به عدت نه واجبيږي. ها! که د هغه ښځه حامله وي. نو تر وضعُ الحمل مخکي د هغې سره نکاح کول جائز نه دي. ځکه چې د حربي سړي سره د هغې حمل ثابتُ النسب دی او فراش يې ثابت دی. نو د دې حديث: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَسْقِيَنَّ مَاءَهُ زَرْعَ غَيْرِهِ" په وجه به د حربيه ښځې سره تر وضعُ الحمل مخکي نکاح کول جائز نه وي.

وعن أبي حنيفة إلخ: فرمايي چې له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې د حربيه مهاجره ښځې سره نکاح جائز ده. که څه هم هغه حامله وي. لېکن تر وضعُ الحمل مخکي به د هغې سره وطي نه کيږي. لکه څرنګه چې د حامله مِن الزنا ښځې سره نکاح جائز ده او تر وضعُ الحمل مخکي وطي ور سره کول ممنوع دي. لېکن اول قول (يعني د نکاح نه جائز کېدلو قول) زيات صحيح دی. ځکه کله چې د هغې حمل ثابتُ النسب دی. نو بيا په هغه کي څه لاس وهل مناسب نه دي. فقط والله أعلم



فَصْلٌ فِي الْحِدَادِ

(دا) فصل په (بیان د) ماتم (او غم) کولو کي دی

تشریح: مخکي تر دې خودې د عدت د وجوب په هکله بیان وسو چي پر کومو ښځو عدت واجبیږي. او پر کومو ښځو نه واجبیږي. په دې فصل کي مصنف رَحِمَهُ الله هغه شیان بیانوي چي پر معتده ښځو د هغوی کول یا نه کول واجب دي.

په عدت کي ماتم کول (سینګار او داسي نور پرېښوول)

قَالَ: وَعَلَى الْمَبْتُوتَةِ وَالْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا إِذَا كَانَتْ بَالِغَةً مُسْلِمَةً الْحِدَادُ فرمایي: او پر جلا سوي ښځي اکوم چي له خاوند څخه په قطعي توګه جلا سوې وي ا او پر هغه ښځي چي خاوند يې مړ سوي وي ,کله چي هغه بالغه مسلمانه وي ماتم کول واجب دي أَمَّا الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا فَلِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَام [1] کوم چي متوفی عنها زوجها ده نو ځکه چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ إِلَّا عَلَى زَوْجِهَا أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا روا نه دي د هغه ښځي لپاره کوم چي په الله او په ورځ د آخرت ایمان لري چي هغه تر دریو ورځو زیات پر یو مړي ماتم وکړي مګر پر خپل خاوند څلور میاشتي او لس ورځي (ماتم کول د هغې لپاره روا دي) وَأَمَّا الْمَبْتُوتَةُ فَمَذْهَبُنَا او کوم چي مبتوته (او د هغې مسئله) ده نو دا زموږ مذهب دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا حِدَادَ عَلَيْهَا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي پر هغې حداد کول واجب نه دي لِأَنَّهُ وَجَبَ إِظْهَارًا لِلتَّأَسُّفِ عَلَى فَوْتِ زَوْجٍ وَفَّى بِعَهْدِهَا إِلَى مَمَاتِهِ ځکه چي "حداد" د داسي خاوند پر مرګ باندي د افسوس څرګندولو لپاره واجب سوی دی چي هغه تر خپل مرګه پوري د ښځي معاهده پوره کړې وي (یعني تر خپل مرګه پوري يې د ښځي سره وفاء کړي وي) وَقَدْ أَوْحَشَهَا بِالْإِبَانَةِ حالانکي خاوند دغه مبتوته ښځه د جلا کولو په وجه په وحشت کي واچوله فَلَا تَأَسُّفَ بِفَوْتِهِ لهذا د داسي خاوند پر جدایی هیڅ افسوس لازم نه دی وَلَنَا مَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [2] نَهَى

---

[1] تخریج: أخرجه البخاري في كتاب الجنائز، باب إحداد المرأة على غير زوجها، حديث رقم: ١٢٨٠، ١٢٨١.

[2] تخریج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطلاق، باب فيما تجتنب المعتدة في عدتها، حديث رقم: ٢٣٠٥، ٢٣٠٢.

الْمُعْتَدَّةَ أَنْ تَخْتَضِبَ بِالْحِنَّاءِ وَقَالَ: الْحِنَّاءُ طِيبٌ او زموږ دليل دا روايت دی چي نبي ﷺ معتده ښځه د نکريزو لګولو څخه منع کړه او ويې فرمايل: چي نکريزي ايو دولا خوشبويي ده ايعني په نکريزو کي هم يو رقم ښه بوی سته ا وَلِأَنَّهُ يَجِبُ إِظْهَارًا لِلتَّأَسُّفِ عَلَى فَوْتِ نِعْمَةِ النِّكَاحِ الَّذِي هُوَ سَبَبٌ لِصَوْنِهَا وَكِفَايَةِ مُؤَنِهَا او ځکه چي حداد په دې وجه واجبيږي چي د نکاح د نعمت پر فوتېدلو د افسوس اأو غم ا إظهار وسي چي هغه اد نکاح نعمت ا د ښځي د حفاظت او د هغې د ضروورياتو د کفايت سبب دی وَالْإِبَانَةُ أَقْطَعُ لَهَا مِنَ الْمَوْتِ او ابانت د ښځي لپاره اد خاوند ا تر مرګ هم زيات اد دغه نعمت ا زائلونکی دی ايعني د ښځي د قطعي جلا کېدلو په وجه د نکاح نعمت په پوره توګه سملستي ختميږي. لېکن د خاوند تر مرګ وروسته د دې نعمت أثر د عدت تر ورځو پوري پاته وي ا حَتَّى كَانَ لَهَا أَنْ تَغْسِلَهُ مَيِّتًا قَبْلَ الْإِبَانَةِ لَا بَعْدَهَا همدا وجه ده چي تر إبانت مخکي د ښځي لپاره جائز دي چي خپل مړه سوي خاوند ته غسل ورکړي اأو ا تر إبانت وروسته جائز نه دي.

اللغات: ﴿حِدَاد﴾ له نصر او ضرب څخه مصدر دی: ماتم کول. افسوس او غم ښکاره کول. ښکلا او سينګار پرېښوول او له کور څخه دباندي نه وتل. ﴿إِبَانَة﴾ د افعال مصدر دی: بائنه کول. جلا کول. فرقت واقع کول. ﴿تَخْتَضِبُ﴾ د افتعال مضارع ده: رنګول. نکريزي لګول. ﴿حِنَّاء﴾ نکريزي. ﴿طِيب﴾ خوشبويي. عطر. ﴿صَوْن﴾ د نصر مصدر دی: حفاظت. ساتنه. ﴿مُؤَن﴾ جمع د مَؤُنَةٌ ده: خرڅي (ضروريات).

تشريح: په دې عبارت کي د حداد (ماتم کولو) بيان دی. حاصل يې دا دی چي پر مبتوته ښځي او پر متوفیٰ عنها زوجها ښځي واجب دي چي ماتم وکړي او غم او پرېشاني ښکاره کړي (مبتوته هغه ښځي ته وايي چي د هغې او خاوند په مينځ کي فرقت واقع سي. هغه که په طلاق بائن سره وي. يا که په طلاقِ مغلظ يا خلع سره وي. متوفیٰ عنها زوجها هغه ښځي ته وايي چي خاوند يې مړ سي). پر متوفیٰ عنها زوجها ښځي باندي د حداد واجبېدلو دليل دا حديث مبارک دی: لَا تَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تَحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ إِلَّا عَلَى زَوْجِهَا أَرْبَعَةَ شَهْرٍ وَعَشْرًا (يعني کومه ښځه چي په الله او په آخرت باندي ايمان لري. پر هغې واجب دي چي د خپل خاوند پر مرګ څلور مياشتي او لس ورځي ماتم وکړي).

د متوفی عنها ښځي لپاره خو د ټولو په نیز حداد کول واجب دي. لېکن پر مبتوته ښځي د حداد واجبېدلو حکم فقط زموږ په نیز دی. د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز پر مبتوته ښځي حداد کول واجب نه دي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي حداد فقط د هغه خاوند د مرګ په وجه واجبیږي. کوم چي تر مرګه پوري د ښځي سره ملګري او وفاء کړي وي. او د خپل ژوند تر آخري ګړي پوري د ښځي په غم او دوک کي شریک سوی وي. او څرنګه چي بائنه کونکی خاوند ښځه په خپل ژوند کي د طلاق په وحشت او ترهه کي اچوي. لهذا د داسي خاوند پر بېلتون او جدایی به هیڅ افسوس نه کیږي. بلکي فقط عدت به واجب وي.

د امام صاحب دليل: دا حدیث دی: "أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى الْمُعْتَدَّةَ أَنْ تَخْتَضِبَ بِالْحِنَاءِ..." یعني نبي کریم ﷺ معتده ښځه د نکریزو له استعمال څخه منع کړې ده. په دې حدیث کي مطلقاً معتده ښځه د نکریزو له استعمال څخه منع سوې ده. او د معتدةُ الطلاق یا معتدةُ الوفاة ښځي هیڅ تفصیل پکښي ذکر سوی نه دی. نو ځکه به پر هري معتده ښځي ماتم کول واجب وي. هغه که طلاق عدت تېروي یا د وفات عدت تېروي.

ولأنه يجب إلخ: پر معتدةُ الطلاق او مبتوته ښځي د عدت واجبېدلو عقلي دلیل دا دی چي د حداد واجبېدلو وجه دا ده چي د نکاح په څیر د غټ نعمت پر فوتېدلو د غم او افسوس اظهار وسي. ځکه چي ښځه د نکاح په ذریعه له ګناهونو څخه ساتل کیږي. او د نفقې او نورو ضروري شیانو خرچه د خاوند له طرفه ورکول کیږي. او دا نعمت چي څرنګه د خاوند د مرګ په وجه زائلیږي. همداسي په إبانت (جلا کېدلو) سره هم زائلیږي. بلکي په ابانت سره زیات زائلیږي. ځکه د مرګ په صورت کي خو څلور میاشتي او لس ورځي د زوجیت او نکاح اثر پاته وي. لېکن تر ابانت وروسته نه پاتیږي. همدا وجه ده چي د خاوند تر مرګ وروسته ښځه هغه ته غسل ورکولای سي. لېکن تر إبانت وروسته غسل نه سي ورکولای. نو په دې وجه هم پر مبتوته ښځي حداد واجبېدل مفید او مناسب معلومیږي.

لېکن صحیح خبره دا ده چي پر مبتوته ښځي د حداد نه واجبېدل غوره او مناسب دی. ځکه چي نن سبا په معمولي وجهه سره ابانت واقع کیږي. نو ښځه خوار کی به د څومره خاوندانو لپاره ماتم او غم کوي. لهذا همدا غوره ده چي پر مبتوته ښځي حداد واجب نه سي.

د حداد تعریف او وضاحت

وَالْحِدَادُ وَيُقَالُ الْإِحْدَادُ وَهُمَا لُغَتَانِ او حداد چې هغه ته إحداد [هم] ويل کيږي او دا دواړه دوه لغتونه دي أَنْ تَتْرُكَ الطِّيبَ وَالزِّينَةَ وَالْكُحْلَ وَالدُّهْنَ الْمُطَيَّبَ وَغَيْرَ الْمُطَيَّبِ [هغه دا دی] چې ښځه پرېږدي خوشبويي [عطر] لګول او ښکلا [سينګار] کول او رانجه لګول او بوی لرونکي يا نا بويه تېل [روغن] لګول إِلَّا مِنْ عُذْرٍ مګر د عذر په وجه اد دې شيانو استعمالول روا دي [وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: إِلَّا مِنْ وَجَعٍ او په جامع صغير کي دي: مګر د درد په وجه وَالْمَعْنَى فِيهِ وَجْهَانِ او د حداد کولو په باره کي دوه قسمه دليل دې ايعني پر مړي د ماتم کولو دوې وجهي او دوه دليلونه دي [أَحَدُهُمَا مَا ذَكَرْنَاهُ مِنْ إِظْهَارِ التَّأَسُّفِ [۱] يو [دليل] له دوی څخه هغه دی کوم چې موږ [مخکي] ذکر کړی يعني د افسوس إظهار کول [غم او پرېشاني څرګندول] وَالثَّانِي: أَنَّ هَذِهِ الْأَشْيَاءَ دَوَاعِي الرَّغْبَةِ فِيهَا او دويم [دليل] دا دی: چې دغه شيان ايعني عطر يا رانجه استعمالول او داسي نور] د رغبت [او خواهش] اسباب دي وَهِيَ مَمْنُوعَةٌ عَنِ النِّكَاحِ حالانکي هغه [معتده ښځه] له نکاح څخه منع سوې ده فَتَجْتَنِبُهَا كَيْ لَا تَصِيرَ ذَرِيعَةً إِلَى الْوُقُوعِ فِي الْمُحَرَّمِ نو له دې شيانو څخه به پرهېز کوي د دې لپاره چې دا شيان په حرام کار کي د واقع کېدلو ذريعه جوړه نه سي وَقَدْ صَحَّ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ [1] لَمْ يَأْذَنْ لِلْمُعْتَدَّةِ فِي الِاكْتِحَالِ او دا صحيح دي ايعني په صحيح روايت کي ذکر سوي دي] چې نبي ﷺ معتده ښځي ته د رانجو لګولو اجازه نه ورکړه وَالدُّهْنُ لَا يَعْرَى عَنْ نَوْعِ طِيبٍ او تېل له يو ډول خوشبويي څخه خالي نه وي وَفِيهِ زِينَةُ الشَّعْرِ او په دې کي د وړېښتانو ښکلا [هم] سته وَلِهَذَا يُمْنَعُ الْمُحْرِمُ عَنْهُ له همدې وجهي احرام تړونکی کس له هغه څخه منع کيږي قَالَ: إِلَّا مِنْ عُذْرٍ امام قدوري رَحِمَهُ الله [ځکه] فرمايلي دي: مګر د عذر په وجه اد دې شيانو استعمالول روا دي] لِأَنَّ فِيهِ ضَرُورَةً ځکه چې په دې کي ضرورت دی وَالْمُرَادُ الدَّوَاءُ لَا الزِّينَةُ او مقصود دواء ده نه ښکلا وَلَوِ اعْتَادَتِ الدُّهْنَ او که ښځه په تېلو لګولو عادت وي فَخَافَتْ وَجَعًا او له درد څخه وبيرېږي ايعني غالب ګومان يې دا وي چې که تېل نه ولګوم نو پر سر به مي درد سي يا مثلاً پښې او لاسونه به مي وچاودي] فَإِنْ كَانَ ذَلِكَ أَمْرًا ظَاهِرًا نو که دا يو ښکاره خبره وي ايعني غالب ګومان همدا وي چې که تېل او

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الطلاق، باب الكحل للحادة، حديث رقم: ٥٣٣٨ بمعناه.

روغن استعمال نه کړي نو خامخا به يې پر سر درد سي يا داسي نور؛ يُبَاحُ لَهَا نو د هغې لپاره به؛ تېل لګول؛ روا وي لِأَنَّ الْغَالِبَ كَالْوَاقِعِ ځکه چي غالب شی د واقع شي په څېر دی ايعني د کوم شي چي غالب ګومان وي هغه داسي دی لکه واقع سوی شی؛ وَكَذَا لُبْسُ الْحَرِيرِ إِذَا احْتَاجَتْ إِلَيْهِ لِعُذْرٍ او همدارنګه که د عذر په وجه ښځه د وربښمو اغوستلو ته مجبوره سي لَا بَأْسَ بِهِ نو په دې کي هيڅ حرج نسته وَلَا تَخْتَضِبُ بِالْحِنَّاءِ او؛ معتده؛ ښځه به نه رنګوي اخپل پښې. لاسونه او وربېنتان؛ په نکريزو سره ايعني نکريزي به نه استعمالوي؛ لِمَا رَوَيْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ روايت کړی دی وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا بِعُصْفُرٍ وَلَا بِزَعْفَرَانٍ او نه به؛ معتده ښځه؛ داسي جامې اغوندي کوم چي رنګول سوي وي په عصفر او زعفران سره لِأَنَّهُ يَفُوحُ مِنْهُ رَائِحَةُ الطِّيبِ ځکه چي له هغه څخه؛ هم؛ خوشبويي؛ د عطرو بوی؛ راپورته کېږي.

اللغات: ﴿حِدَاد﴾ او إِحْدَاد دواړه په يوه معنیٰ سره دي. له نصر او ضرب څخه مصدر دی: ماتم کول. افسوس او غم څرګندول. ﴿مُطَيَّب﴾ د تفعيل اسمِ مفعول دی: هغه شی چي ښه بوی لري. خوشبوداره. ښه بوی والا. ﴿تَجْتَنِب﴾ د افتعال مضارع ده: پرهېز کول. ځان ساتل. ﴿حِنَاء﴾ نکريزي. ﴿العُصْفُر﴾ يو ډول بوټي دی چي له هغه څخه ژړ رنګ جوړېږي.

تشريح: په دې عبارت کي د حداد تعريف او حقيقت بيان سوی دی. فرمايي چي د حداد او إحداد معنیٰ دا ده چي ښځه د عدت په دوران کي د زينت. ښکلا او سينګار ټوله شيان پرېږدي. مثلاً عطر (خوشبويي). رانجه. تېل. روغن. سورخي. کريم (او زموږ د زمانې ډول. ډول د سينګار اسباب) او داسي نور. هاا که د مرض او مجبورۍ په وجه د زينت او ښکلا يو شی استعمال کړي. مثلاً سر غوړ کړي د دې لپاره چي پر سر يې درد نه سي (يا بدن غوړ کړي د دې لپاره چي نه وچاودي) او داسي نور. نو بيا د دې شيانو په استعمالولو کي هيڅ حرج او پروا نسته.

صاحب د هدايې فرمايي چي د معتده ښځي په حق کي د ماتم او حداد کولو دوه دليلونه دي. يو دليل خو هغه دی کوم چي مخکي تېر سو يعني د نکاح په څېر د غټ نعمت پر زوال باندي افسوس او ماتم څرګندول. دويم دليل دا دی چي که ښځه د زينت او ښکلا شيانْ استعمال کړي. نو د خلکو زړه به هغې ته مائل سي او د هغې سره به د نکاح کولو رغبت څرګند کړي او ښځه به هم نکاح ته رغبت وکړي. حالانکي د عدت په دوران کي ښځه له نکاح څخه منع سوې ده. نو ځکه به احتياطاً معتده ښځه د دې شيانو له استعمال څخه پرهېز کوي چي په يو حرام کار مبتلا نه سي.

همدا وجه ده چي کله د نبي کريم ﷺ څخه يوې ښځي د رانجو لګولو اجازه وغوښتل. نو د همدغه خرابيو په وجه نبي ﷺ هغې ته اجازه نه ورکړه. او د معتده ښځي لپاره روغن (تېل) استعمالول هم ممنوع دي. ځکه چي په روغنو کي هم يو ډول خوشبويي او د وړېښتانو ښکلا وي. له همدې وجهي مُحرم (احرام تړونکي کس) د روغنو له استمال څخه منع سوی دی. ځکه چي په إحرام کي هم زينت او ښکلا اختيارول ممنوع دي.

قال إلا من عذر إلخ: په متن کي وويل سوه چي معتده ښځه د عذر په وجه د ښکلا او زينت شي استعمالولای سي. ځکه چي په هغه کي ضرورت دی. او د هغه په استعمالولو سره زينت مقصود نه دی. بلکي دواء او علاج مقصود دی. همدارنګه که ښځه د تېلو او روغنو په استعمال عادي وي. او که هغه پريږدي. نو دا يې غالب ګومان وي چي پر سره به يې درد سي يا د بدن پوست به يې وچادي او په تکليف به متبلا سي. نو هغې ته د تېلو د استعمالولو اجازه سته. ځکه کوم شی چي غالب وي هغه د واقع په څېر وي (يعني د کوم شي د واقع کېدلو چي غالب ګومان وي. هغه داسي دی لکه واقع سوی). نو ځکه به د ښځي لپاره تېل استعمالول جائز وي. پر همدغه قياس که يو څوک د عذر (مثلاً د خارښت) په وجه د وړېښمو اغوستلو مجبور سي. نو بيا د وړېښم اغوستل هم جائز دي.

ولا تختضب: فرمايي چي د معتده ښځي لپاره د نکريزو استعمالول هم جائز نه دي. ځکه چي نبي ﷺ نکريزو ته خوشبويي (عطر) ويلي دي. همدارنګه د معتده ښځي لپاره په عصفر يا زعفران سره رنګول سوې جامې اغوستل هم ممنوع دي. ځکه چي له دې څخه هم خوشبويي را پورته کيږي. او معتده ښځه له خوشبويۍ څخه منع سوې ده.

د کافري ښځي لپاره د حداد حکم

قال: وَلَا حِدَادَ عَلَى كَافِرَةٍ فرمايي: او پر کافري ښځي حداد [ماتم] کول لازم نه دي لِأَنَّهَا غَيْرُ مُخَاطَبَةٍ بِحُقُوقِ الشَّرْعِ ځکه چي هغه د شريعت په حقوقو مخاطبه نه ده [ځکه چي د شريعت خطاب هغه کس ته وي کوم چي اسلام راوړی وي. او بل دا چي پر کافري او ذميه ښځي عدت نسته. نو حداد به هم پر لازم نه وي] وَلَا عَلَى صَغِيرَةٍ او نه پر نابالغه نجلۍ باندي احداد کول لازم دي [لِأَنَّ الْخِطَابَ مَوْضُوعٌ عَنْهَا ځکه چي له نابالغه نجلۍ څخه [د شريعت] خطاب پورته سوی دی [کافره ښځه د کفر په وجه د شريعت مخاطبه نه ده او نابالغه نجلۍ د کوچنيوالي په وجه د شريعت مخاطبه نه ده. نو ځکه به پر دواړو حداد نه وي] وَعَلَى الْأَمَةِ الْإِحْدَادُ او پر مينځي حداد کول واجب دی ايعني که خاوند مينځي ته طلاق ورکړي يا د هغې خاوند مړ سي. نو پر هغې د عدت سره ماتم کول هم لازم دي] لِأَنَّهَا مُخَاطَبَةٌ بِحُقُوقِ اللهِ تَعَالَى فِيمَا

لَيْسَ فِيهِ إِبْطَالُ حَقِّ الْمَوْلٰى ځکه چي مينځه په هغه کارو کي د الله په حقوقو مخاطبه وي چي په هغوى کي د مالک حق نه باطليږي [او په ماتم کولو سره د مالک حق نه باطليږي. ځکه په کومه زمانه کي چي ښځه عدت تېروي. په هغه زمانه کي مالک هم د هغې سره وطي نه سي کولای. نو ځکه هغې ته هم د زينت او سينګار ضرورت نسته او په ماتم کولو کي هيڅ حرج نسته] بِخِلَافِ الْمَنْعِ مِنَ الْخُرُوجِ په خلاف د دباندي وتلو د ممانعت [يعني مينځه د عدت په زمانه کي دباندي وتلای سي، او که هغه له دباندي وتلو څخه منع سي، نو د مالک کار به ودريږي او د مالک حق به باطل سي] لِأَنَّ فِيهِ إِبْطَالَ حَقِّهِ ځکه چي په دې کي د مالک حق باطليږي وَحَقُّ الْعَبْدِ مُقَدَّمٌ لِحَاجَتِهِ او د بنده حق د هغه د ضرورت پر بناء مخکي سوی دی [يعني د ضرورت پر بناء د بنده حق د الله پر حق مقدم دی. نو ځکه به مينځه له دباندي وتلو څخه نه منع کيږي].

اللغات: ﴿حِدَاد﴾ له نصر او ضرب څخه مصدر دی: ماتم کول. افسوس او غم څرګندول. ښکلا او سينګار پرېښوول او له کور څخه دباندي نه وتل.

تشريح: مسئله په عبارت کي تشريح سوه.

د اُمِّ ولد او منکوحهٔ فاسده ښځي لپاره د حداد حکم

قَالَ: وَلَيْسَ فِي عِدَّةِ أُمِّ الْوَلَدِ وَلَا فِي عِدَّةِ النِّكَاحِ الْفَاسِدِ إِحْدَادٌ فرمايي: چي د اُم ولد په عدت کي او د نکاح فاسد په عدت کي حِداد کول نسته لِأَنَّهَا مَا فَاتَهَا نِعْمَةُ النِّكَاحِ لِتُظْهِرَ التَّأَسُّفَ ځکه چي د هغې [اُمِ ولد او منکوحه فاسده] په حق کي د نکاح نعمت فوت سوی نه دی چي د افسوس إظهار وکړي وَالْإِبَاحَةُ أَصْلٌ او [د زينت او سينګار] روا کېدل أصل دي.

تشريح: مسئله: دا ده که مالک خپل اُمِ ولد مينځه آزاده کړي يا مالک مړ سي. يا يو څوک د ښځي سره نکاحِ فاسد وکړي (او د نکاح د فساد په وجه فرقت واقع سي). نو پر دې دواړو ښځو ماتم کول (حداد) واجب نه دی: ځکه چي حداد هغه وخت واجبيږي کله چي د نکاح په څير غټ نعمت زائل سي. او د اُمِ ولد او منکوحه فاسده ښځي په حق کي نکاح زائله سوې نه ده. نو ځکه به د افسوس د إظهار لپاره پر هغي ماتم او غم کول واجب نه وي. ځکه چي د زينت اوسينګار اباحت اصل دی. لهذا دا حکم به پر خپل اصل باقي پاته وي.

معتده ښځي ته د نکاح پېغام استول

وَلَا يَنْبَغِي أَنْ تُخْطَبَ الْمُعْتَدَّةُ او پکار نه دي چي د معتده ښځي سره کوزده وسبي ايعني هغې ته د نکاح پېغام استول مناسب نه دي ا وَلَا بَأْسَ بِالتَّعْرِيضِ فِي الْخِطْبَةِ اخو ا په کوزده کي اشاره کول څه پروا نه لري ايعني اشارتاً د نکاح پېغام ورکول پروا نه لري ا لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ... إِلَى أَنْ قَالَ: وَلٰكِنْ لَا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّا أَنْ تَقُولُوا قَوْلًا مَعْرُوفًا [البقرة: ۲۳۵] ځکه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: او نسته هيڅ گناه په تاسي باندي په دې کي چي تاسي اشاره کوئ! د ا معتده ا ښځو د نکاح په پېغام ا کوزده ا کي... تر دې چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: او لېکن تاسو په پټه ا هم ا د هغو سره ا د نکاح ا وعده مه کوئ! خو دا چي د ا د شريعت او ا قاعدې مطابق يوه خبره ا ورته ا وکړئ وَقَالَ ﷺ: السِّرُّ النِّكَاحُ ❶ او نبي ﷺ فرمايلي دي: چي ا په لَا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا کي ا له سِرّ څخه مراد نکاح ده وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: التَّعْرِيضُ أَنْ يَقُولَ: إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أَتَزَوَّجَ او له ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه نقل سوي دي: تعريض دا دی چي سړی ووايي: زه غواړم چي نکاح وکړم وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ فِي الْقَوْلِ الْمَعْرُوفِ: إِنِّي فِيكِ لَرَاغِبٌ وَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ نَجْتَمِعَ او د قول معروف په هکله له سعيد بن جبير رضي الله عنه څخه نقل سوي دي: چي زه ستا خواهشمند يم ا او تا ته رغبت کيږي ا او زه غواړم چي سره يو ځای سو.

اللغات: ﴿تُخْطَبُ﴾ د نصر مضارع مجهوله ده: کوزده کول. د نکاح پېغام ورکول. ﴿تَعْرِيضٌ﴾ د تفعيل مصدر دی: يو خبره په اشاره سره کول. ﴿خِطْبَةٌ﴾ کوزده. د نکاح پېغام.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چي کومه ښځه په عدت کي وي. هغې ته صراحتاً د نکاح پېغام استول ممنوع او نامناسب دي؛ ځکه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: "وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ" (يعني ا د معتده ښځو سره ا د نکاح اراده هم مه کوئ! تر دې چي د عدت زمانه پوره سي). لېکن اشارتاً او کنايتاً د نکاح په پېغام ورکولو کي هيڅ حرج نسته. ځکه قرآن کريم په خپله په دې آيت سره د دې اجازه ورکړې ده: "وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ".

❶ تخريج: أحمد، وقال الزيلعي: هذا الحديث غريب جدًا.

د تعریض مطلب دا دی چې سړی د ښځې په مخ کې داسې خبره ذکر کړي چې هغه پر نکاح کولو دلالت کوي. حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي : تعريض دا دی چې سړی داسې ووايي : زه نکاح کول غواړم". يا "زه غواړم چې ما ته خدای نېکه ښځه راکړي" او داسې نور.

لېکن ښکاره دې وي چې په تعريض کې به بالکل د نکاح هيڅ وعده نه کوي. نه صراحتاً او نه کنايتاً. ځکه چې الله تعالیٰ د نکاح له وعدې څخه هم منع کړې ده. فرمايي : وَلٰكِنْ لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا إِلَّا أَنْ تَقُوْلُوْا قَوْلًا مَّعْرُوْفًا". نبي ﷺ فرمايلي دي چې له "سِرّ" څخه مراد نکاح ده. لهذا په دې سره د نکاح د وعدې ممانعت ثابت سو. او د "قَوْل مَعْرُوْف" په هکله سعيد بن جبير رحمه الله فرمايلي دي چې د دې معنیٰ دا ده : چې سړی داسې ووايي : ما تا ته رغبت کېږي (ما ته خوښه يې!). يا زه غواړم چې دواړه سره يو ځای سو.

د معتده ښځې لپاره د کور څخه وتل

وَلَا يَجُوْزُ لِلْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ وَالْمَبْتُوْتَةِ الْخُرُوْجُ مِنْ بَيْتِهَا لَيْلًا وَلَا نَهَارًا او د مطلقه رجعيه او مبتوته ښځې لپاره د خپل کور څخه وتل جائز نه دي نه په شپه کې او نه په ورځ کې وَالْمُتَوَفّٰى عَنْهَا زَوْجُهَا تَخْرُجُ نَهَارًا وَبَعْضَ اللَّيْلِ وَلَا تَبِيْتُ فِيْ غَيْرِ مَنْزِلِهَا او متوفیٰ عنها زوجها [کونډه سوې ښځه] په ورځ کې او د شپې په څه حصه کې وتلای سي [لېکن] د خپل کور څخه بغير [بل ځای] به شپه نه تېروي أَمَّا الْمُطَلَّقَةُ فَلِقَوْلِهِ تَعَالٰى: لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّا أَنْ يَّأْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ [الطلاق: ۱] کوم چې مطلقه ښځه ده نو ځکه چې الله تعالیٰ فرمايلي دي : مه باسئ! مطلقه ښځې له خپلو کورنو څخه او هغوی دې هم نه وځي مګر دا چې هغوی ښکاره بې حيايي وکړي قِيْلَ: الْفَاحِشَةُ نَفْسُ الْخُرُوْجِ ويل سوي دي : چې مراد له فاحشه څخه په خپله وتل دي وَقِيْلَ: الزِّنَا او ويل سوي دي : چې امراد له هغه څخه] زنا ده وَيَخْرُجْنَ لِإِقَامَةِ الْحَدِّ او هغه ښځې به د حد جاري کېدو لپاره وځي وَأَمَّا الْمُتَوَفّٰى عَنْهَا زَوْجُهَا فَلِأَنَّهُ لَا نَفَقَةَ لَهَا او کوم چې کونډه سوې ښځه ده نو ځکه اله کور څخه وتلای سي] چې د هغې لپاره نفقه نه وي فَتَحْتَاجُ إِلَى الْخُرُوْجِ نَهَارًا لِطَلَبِ الْمَعَاشِ نو هغه په ورځ کې د رزق [او روزۍ] د طلب لپاره وتلو ته مجبوره وي وَقَدْ يَمْتَدُّ إِلٰى أَنْ يَهْجُمَ اللَّيْلُ او کله نا کله دا طلب [د روزۍ] د شپې تر راتګو پورې ځنډېږي وَلَا كَذٰلِكَ الْمُطَلَّقَةُ او مطلقه ښځه داسې نه ده لِأَنَّ النَّفَقَةَ دَارَّةٌ عَلَيْهَا مِنْ مَالِ زَوْجِهَا

ځکه چي نفقه د هغې د خاوند د مال څخه پر هغې [مسلسل] جاري وي حَتّٰى لَوِ اخْتَلَعَتْ عَلٰى نَفَقَةِ عِدَّتِهَا تر دی که چیري هغه د خپل عدت پر نفقه خلع وکړي قِيلَ: إِنَّهَا تَخْرُجُ نَهَارًا نو ویل سوي دي: چي [په دې صورت کي د روزۍ د طلب لپاره] هغه د ورځي وتلای سي وَقِيلَ: لَا تَخْرُجُ او ویل سوي دي: چي نه سي وتلای لِأَنَّهَا أَسْقَطَتْ حَقَّهَا ځکه چي هغې خپل حق ساقط کړی فَلَا يَبْطُلُ بِهِ حَقٌّ عَلَيْهَا نو د دې په وجه به هغه حق نه باطلیږي کوم چي پر هغې لازم دی.

اللغات: ﴿مَبْتُوْتَةٌ﴾ له خاوند څخه جلا سوې ښځه، بائنه. ﴿فَاحِشَةٌ مُبَيِّنَةٌ﴾ څرګنده بدي، ښکاره بې حیائي. ﴿دَارَّةٌ﴾ بهېدونکي، جاري.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي کومي ښځي ته طلاق رجعي یا طلاق بائن ورکول سوی وي، د هغه ښځي لپاره جائز نه دي چي له یو شرعي یا انساني ضرورت څخه بغیر د شپې او ورځي په هیڅ حصه کي له کور څخه ووځي. لېکن د شرعي ضرورت مثلاً د حدّ جاري کېدلو لپاره یا د انساني ضرورت مثلاً د قضاءِ حاجت یا خوراک راوړلو لپاره له کور څخه د معتده ښځي وتل جائز دي. د دې په خلاف د متوفیٰ عنها زوجها ښځه په ورځ کي هم له کور څخه وتلای سي، او د شپې په څه حصه کي هم وتلای سي. خو د خوب او شپه تېرولو انتظام به په هغه کور او خونه کي کوي چیري چي دا ښځه عدت تېروي: د دې دلیل چي مطلقه ښځي به له کور څخه نه وځي د قرآن کریم دا آیت دی: "لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّا أَنْ يَّأْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ" (یعني تر څو چي معتده ښځو ښکاره بې حیائي کړې نه وي. تر هغه وخته پوري تاسي هغوی له کورو څخه مه باسئ! او نه دي هغوی په خپله وځي). یعني کله چي معتده ښځه فَاحِشَةٌ مُبَيِّنَةٌ وکړي. نو بیا خاوند هغه له کور څخه ایستلای سي. د فَاحِشَةٌ مُبَيِّنَةٌ درې مطلبه دي: ① ... ابراهیم نخعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي د فاحشة مبینة مطلب دا دی چي ښځه بېله ضرورته له کور څخه ووځي. نو په دې صورت کي به خاوند هغه له کور څخه باسي. یا یې مطلب دا دی چي د معتده ښځي بېله ضرورته وتل فحش او بې حیائي ده. یعني که هغه یو وار په خپله ووځي بې حیائي وکړي. نو بیا د هغې لپاره وتل جائز دي. ② ... ابن مسعود ﷺ فرمایي چي له دې څخه مراد زناء ده. یعني که معتده ښځي زنا وکړي. نو د حد جاري کېدو لپاره هغه له کور څخه ایستل کېدلای سي. اول مطلب امام صاحب رَحِمَهُ الله اختیار کړی دی. او دویم مطلب امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله اختیار کړی دی. ③ ... دریم مطلب یې دا دی چي که معتده ښځه د خاوند أهل او خاندان ته ښکنځا او رد و بد وایي، نو بیا هغه له کور څخه ایستل کېدای سي.

والمتوفی عنها زوجها إلخ: د متوفیٰ عنها زوجها لپاره جائز دي چې توله ورځ یا د شپې په څه حصه کې له کور څخه ووځي، ځکه چې د خاوند د مرګ په وجه کېدای سي چې هغې ته د عدت د ورځو خرچه او نفقه پاته سوې نه وي، نو د روزي او معاش ګټلو ته به هغه مجبوره وي. او ښکاره خبره ده چې کاروبار کله نا کله په شپه کې هم راځي (یا مثلاً کله چې هغه کور ته راځي نو شپه پر راځي)، نو ځکه به د هغې لپاره د شپې په لږ حصه کې وتل هم جائز وي.

د دې په خلاف د مطلقه ښځې دا حالت نه دی، ځکه چې د عدت په زمانه کې مطلقه ښځې ته مسلسل د خاوند له طرفه نفقه او خرچه ورکول کیږي، نو ځکه د هغې لپاره دباندې وتل جائز نه دي. همدا وجه ده که یو ښځه د خپلې نفقې په بدله کې خلع وکړي، نو د ځینې حضراتو رایه دا ده چې په دې صورت کې د هغې لپاره د معاش د طلب په خاطر وتل جائز دي. او د ځینې حضراتو رایه دا ده چې په دې صورت کې د هغې لپاره وتل جائز نه دي، ځکه چې هغې په خپله خلع کړې ده او خپل حق یې په خپله ساقط کړی دی. نو د هغې په خپل فعل سره به د شریعت حق نه باطلیږي.

عدت به په کوم کور کې تېرول کیږي؟

وَعَلَى الْمُعْتَدَّةِ أَنْ تَعْتَدَّ فِي الْمَنْزِلِ الَّذِي يُضَافُ إِلَيْهَا بِالسُّكْنَى حَالَ وُقُوعِ الْفُرْقَةِ وَالْمَوْتِ او پر معتده ښځې واجب دي چې په هغه کور کې عدت تېر کړي چې د فرقت او (د خاوند) د مرګ په وخت کې د ښځې وطرف ته د استوګنې په توګه د هغه کور نسبت کیږي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ [الطلاق: ۱] ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: او دا ښځې له خپلو کورو څخه مه باسئ! وَالْبَيْتُ الْمُضَافُ إِلَيْهَا هُوَ الْبَيْتُ الَّذِي تَسْكُنُهُ او ښځې ته چې د کوم کور نسبت کیږي دا هماغه کور وي چې ښځه پکښې اوسیږي وَلِهَذَا لَوْ زَارَتْ أَهْلَهَا وَطَلَّقَهَا زَوْجُهَا همدا وجه ده که ښځه د خپلې کورنۍ د زیارت لپاره ولاړه سي او د هغې خاوند (هلته) طلاق ورکړي كَانَ عَلَيْهَا أَنْ تَعُودَ إِلَى مَنْزِلِهَا فَتَعْتَدَّ فِيهِ نو پر هغې به لازم وي چې خپل کور ته واپس راسي او په هغه کې عدت تېر کړي وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ لِلَّتِي قُتِلَ زَوْجُهَا اُسْكُنِي فِي بَيْتِكِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ[1] او نبي ﷺ وفرمایل هغه ښځې ته چې خاوند یې وژل سوی وو: ته په خپل کور کې اوسه! تر دې چې د عدت نېټه پوره سي.

اللغات: ﴿يُضَافُ﴾ د افعال مضارع مجهوله ده: نسبت کول. منسوب کېدل. ﴿أَجَل﴾ نېټه. مودت (موده).

---

[1] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الطلاق، باب أن تعتد المتوفى عنها زوجها، حديث رقم: ۱۲۰۴.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی د طلاق یا د خاوند وفات په وخت کي چي ښځه په کومه خونه (کوټه) کي اوسيږي، پر ښځي لازم دي چي په هغه خونه کي عدت تېر کړي: دليل دا آيت دی: "وَلَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْ بُيُوْتِهِنَّ". او د ښځي بَيْت (کور) هغه دی چي په هغه کي ښځه اوسيږي. همدا وجه ده که ښځه د خپل پلار په کور کي وي، او خاوند هلته طلاق ورکړي، نو هم پر ښځي واجب دي چي له هغه ځای څخه خپل کور ته راسي، او عدت په کور کي تېر کړي: دليل يې دا دی چي د يوې ښځي خاوند شهيد سو، نو نبي کريم ﷺ هغې ته وفرمايل چي "په خپل کور کي اووسه! او تر څو چي د شرعي قاعدې مطابق ستا عدت پوره سوی نه وي، تر هغه وخته پوري له کور څخه مه وځه!". له دې څخه دا خبره ښکاره سوه چي پر ښځي واجب دي چي په خپل استوګنځي کي عدت تېر کړي.

که د خاوند په کور کي د اوسېدلو امکان نه وي؟

وَإِنْ كَانَ نَصِيبُهَا مِنْ دَارِ الْمَيِّتِ لَا يَكْفِيهَا او که د مړه خاوند له کور څخه د ښځي حصه د هغې لپاره کافي نه وي فَأَخْرَجَهَا الْوَرَثَةُ مِنْ نَصِيبِهِمْ او ورثه [هم] هغه له خپلي حصې څخه وباسي اِنْتَقَلَتْ نو دا ښځه دي ابل ځای ته [منتقل سي لِأَنَّ هٰذَا الْاِنْتِقَالَ بِعُذْرٍ ځکه چي دا منتقل کېدل د عذر په وجه دي وَالْعِبَادَاتُ تُؤَثِّرُ فِيهَا الْأَعْذَارُ او عذرونه په عباداتو کي اغېز کوي فَصَارَ كَمَا إِذَا خَافَتْ عَلٰى مَتَاعِهَا نو داسي سو لکه کله چي ښځه پر خپل سامان وېرېږي [چي غلا به سي] أَوْ خَافَتْ سُقُوطَ الْمَنْزِلِ يا ښځه د کور پر نړېدلو وېرېږي أَوْ كَانَتْ فِيهَا بِأَجْرٍ وَلَا تَجِدُ مَا تُؤَدِّيهِ يا ښځه په هغه کور کي په کرايه [استوګنه] وي او [اوس] يو داسي شی پيدا نه کړي چي کرايه په اداء کړي.

اللغات: ﴿نَصِيب﴾ برخه، حصه. ﴿وَرَثَة﴾ جمع د وَارِث ده. لکه طَلَبَة چي جمع د طَالِب ده: ميراث خوره (هغه کسان کوم چي د مړي په مال کي د ميراث حق لري). ﴿سُقُوْط﴾ د نصر مصدر دی: را لوېدل (نړېدل). ﴿أَجْر﴾ أجرت، کرايه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د ښځي خاوند مړ سي، او ورثه د ميراث مال سره تقسيم کړي، او په کوم ځای کي چي خاوند اوسيږي، هغه هم تقسيم کړي، او د ښځي په برخه کي دومره ځای راسي چي په هغه کي ښځه اوسېدلای نه سي، او ورثه هم دې ته تيار نه وي چي خپله حصه هغې ته ورکړي، نو په دې صورت کي د ښځي لپاره صحيح دي چي بل محفوظ او پرده ناک ځای ته نقل سي او هلته عدت تېر کړي: دليل دا دی چي دا انتقال د عذر په وجه دی، او په عباداتو کي أعذار مؤثر او اغېزمن دي، لهذا دا عذر به هم د "كَفّ عَنِ الْخُرُوْج" په عبادت کي مؤثر وي.

وصار كما إلخ: صاحب د هدايې فرمايي چي د دې مثال داسي دی لکه کله چي معتده ښځه پر دې ویریږي چي مال به مي غلا سي یا خونه به ونړیږي. یا مثلاً هغه د کرایې په کور کي اوسیږي او د کرایې وس نه لري. نو په دې صورتونو کي هم متعده ښځه انتقال کولای سي. ځکه چي عذر موجود سو. همداسي به په پورتني صورت کي (یعني کله چي د استوګني لپاره لږ حصه پاته سي) انتقال کول صحیح او جائز وي.

په عدت کي له خاوند څخه د ستر (پردې) کولو حکم

ثُمَّ إِنْ وَقَعَتِ الْفُرْقَةُ بِطَلَاقٍ بَائِنٍ أَوْ ثَلَاثٍ بیا که چیري په طلاقِ بائن یا په دریو طلاقو سره فرقت واقع سي لَا بُدَّ مِنْ سُتْرَةٍ بَيْنَهُمَا نو د خاوند او ښځي په مینځ کي پرده ضروري ده ثُمَّ لَا بَأْسَ او بیا اتر پرده کولو وروسته په استوګنه کي (هیڅ پروا نسته لِأَنَّهُ مُعْتَرِفٌ بِالْحُرْمَةِ ځکه چي خاوند (د ښځي) د حرمت اقرار کونکی دی إِلَّا أَنْ يَكُونَ فَاسِقًا يُخَافُ عَلَيْهَا مِنْهُ مګر دا چي خاوند فاسق وي او له هغه څخه پر ښځي (د حملې کولو) بېره وي فَحِينَئِذٍ تَخْرُجُ نو په دې وخت کي به ښځه (د خاوند له کور څخه) وځي لِأَنَّهُ عُذْرٌ ځکه چي دا یو عذر دی وَلَا تَخْرُجُ عَمَّا انْتَقَلَتْ إِلَيْهِ او کوم ځای ته چي ښځه منتقل سي له هغه ځای څخه دي نه وځي وَالْأَوْلَى أَنْ يَخْرُجَ هُوَ وَيَتْرُكَهَا او غوره دا ده چي خاوند په خپله ووځي او ښځه پرېږدي.

اللغات: ﴿فُرْقَةٌ﴾ جدايي، بېلتون. ﴿سُتْرَةٌ﴾ پرده.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی که چیري د خاوند او ښځي په مینځ کي طلاقِ بائن یا طلاقِ مغلظ واقع سي. نو اوس له نکاح څخه بغیر یو ځای د دوی اوسېدل صحیح نه دي. بلکي په کومه خونه (کوټه) کي چي ښځه عدت تېروې. په هغه کي به د پردې او ستر بندوبست کوي او له خاوند څخه به پرده کوي. او کله چي پرده وکړي. نو بیا هیڅ حرج او ګناه نسته. ځکه چي خاوند او ښځه دواړه د حرمت معترف او منونکي سول. نو یقین همدا دی چي اوس به دواړه یو بل ته نه نژدې کیږي او معامله به نه خرابوي. لېکن که چیري خاوند فاسق وي او دا خطره وي چي اوس به خاوند ټوله معامله خرابه کړي او ناجائز کار به وکړي. نو په دې وخت کي جائز دي چي ښځه له کور څخه بل ځای ته نقل سي. ځکه چي په ناجائز کار کي د مبتلا کېدلو عذر موجود سو. لېکن کوم ځای ته چي ښځه یو وار نقل سي. نو بیا به له یو سخت عذر څخه بغیر له هغه ځای څخه نه نقل کیږي. ځکه چي اوس هماغه ځای د ښځي د عدت لپاره متعین سو.

والأولى إلخ: مخکي په آيت سره ثابته سوه چي پر ښځي په خپله خونه (استوګنځي) کي عدت تېرول واجب دي او پر خاوند په خپله خونه کي اوسېدل واجب نه دي، فقط مباح دي. نو په دې وجه غوره خبره دا ده چي په خپله خاوند له خوني (استوګنځي) څخه ولاړ سي او بل ځای ته نقل سي.

د خاوند په کور کي د عدت نه تېرولو يو عذر

وَإِنْ جَعَلَا بَيْنَهُمَا امْرَأَةً ثِقَةً تَقْدِرُ عَلَى الْحَيْلُوْلَةِ او که ښځه او خاوند په خپل مينځ کي داسي باوري ښځه متعينه کړي چي هغه [د دوی په مينځ کي] د حايل جوړېدلو قدرت لري فَحَسَنٌ نو ښه [کار] دی وَإِنْ ضَاقَ عَلَيْهِمَا الْمَنْزِلُ فَلْتَخْرُجْ وَالْأَوْلَى خُرُوْجُهُ او که پر دوی دواړو ځای تنګ سي نو ښځه دي ووځي [او] غوره د خاوند وتل دي

تشريح: فرمايي چي غوره خبره دا ده چي ښځه او خاوند دواړه په خپل مينځ کي يوه ثقه او باوري ښځه د پردې او ستر په توګه هم وساتي. د دې لپاره چي معامله خرابه نه سي او يو بل نه نژدې نه سي. او که کور دومره تنګ وي چي درې خلک پکښي اوسېدلای نه سي. نو بيا د ښځي لپاره جائز دي چي بل ځای ته نقل سي. او ښه خبر دا ده چي خاوند بل ځای ته نقل سي. د دې وجهه په مخکني عبارت کي تېره سوه.

د ښځي او خاوند د سفر په حالت کي د خاوند د مرګ بيان

وَإِذَا خَرَجَتِ الْمَرْأَةُ مَعَ زَوْجِهَا إِلَى مَكَّةَ او کله چي ښځه د خپل خاوند سره د مکې وطرف ته روانه سي فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا او خاوند [په لاره کي] هغې ته درې طلاقه ورکړي أَوْ مَاتَ عَنْهَا فِيْ غَيْرِ مِصْرٍ يا له ښار څخه بغير [په صحراء] کي خاوند مړ سي فَإِنْ كَانَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ مِصْرِهَا أَقَلُّ مِنْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ نو که د ښځي او د هغې د ښار په مينځ کي تر دريو ورځو کمه مسافه وي رَجَعَتْ إِلَى مِصْرِهَا نو ښځه دي د خپل ښار وطرف ته واپس وګرځي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِابْتِدَاءِ الْخُرُوْجِ مَعْنًى بَلْ هُوَ بِنَاءٌ ځکه چي دا خروج د معنیٰ په اعتبار سره د خروج ابتداء نه ده بلکي دا بناء ده [يعني ځکه چي دا له شروع څخه وتل نه دي. بلکي بناءً وتل دي] وَإِنْ كَانَتْ مَسِيْرَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ او که د دريو ورځو مسافه وي إِنْ شَاءَتْ رَجَعَتْ وَإِنْ شَاءَتْ مَضَتْ نو که وغواړي واپس دي وګرځي [خپل ښار ته] او که وغواړي نو ولاړه دي سي [خپل د مقصد ځای ته] سَوَاءٌ كَانَ مَعَهَا وَلِيٌّ أَوْ لَمْ يَكُنْ برابره ده د هغې سره يو ولي [محرم] وي او که نه وي مَعْنَاهُ إِذَا كَانَ إِلَى الْمَقْصِدِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ أَيْضًا د دې مطلب دا دی چي کله د مقصد [د ځای] وطرف ته هم درې ورځي مسافه وي لِأَنَّ

الْمُكْثُ فِي ذٰلِكَ الْمَكَانِ أَخْوَفُ عَلَيْهَا مِنَ الْخُرُوجِ ځکه چي په دې ځای کي پاتېدل د ښځي په حق کي له وتلو څخه زيات خطرناک دي إِلَّا أَنَّ الرُّجُوعَ أَوْلٰى خو واپس اخپل ښار ته ا تلل زيات غوره دي لِيَكُونَ الِاعْتِدَادُ فِي مَنْزِلِ الزَّوْجِ د دې لپاره چي عدت تېرول د خاوند په کور کي وي.

اللغات: ﴿مَسِيْرَةً﴾ تګ، مسافه، فاصله. ﴿مَضَتْ﴾ د ضرب له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: تېرېدل، جاري ساتل، پوره کول (مراد ځني خپل سفر جاري ساتل دي).

تشريح: د دې حاصل دا دی که چيري خاوند او ښځه مثلاً له افغانستان څخه مکې مبارکي ته روان وي، او په لاره کي خاوند هغې ته طلاق ورکړي يا خاوند مړ سي، نو په کوم ځای کي چي دا معامله پېښه سي، که چيري د هغه ځای او د ښځي د ښار په مېنځ کي د سفر تر مودت کمه مسافه وي، يعني تر دريو ورځو په کم وخت کي ښځه خپل ښار ته رسېدلای سي، نو حکم دا دی چي دا ښځه بېرته خپل ښار ته واپس راسي او په خپل استوګنځي کي عدت تېر کړي؛ ځکه چي دغه واپس راتلل د معنیٰ په اعتبار سره ابتداءً خروج نه دي، بلکي کوم چي اول خروج وو، دا پر هغه مبني دی. او ابتداءً خروج ځکه نه دی چي د سفر تر مودت کمه مسافه وتل د مُعتدّې ښځي لپاره جائز او مباح دي. لهذا کور ته په واپس راتللو کي هيڅ حرج نسته.

وإن كانت مسيرة إلخ: او که چيري د هغه ځای او مکې مبارکي په مېنځ کي هم درې ورځي مسافه وي او د ښځي ښار هم د دريو ورځو پر مسافه وي، نو په دې صورت کي ښځي ته اختيار دی، که زړه يې غواړي نو خپل وطن ته دي واپس راسي، او که زړه يې نه غواړي نو مقصود ځای يعني مکې ته دي ولاړه سي، برابره ده د هغې سره ولي (ذی رحم محرم) وي او که نه وي، خو خپل وطن ته واپس راتلل زيات غوره دي، ځکه چي پر هغه ځای (يعني د خاوند د مرګ يا د طلاق پر ځای) پاتېدل او هلته د بېګانه توب په حالت کي عدت تېرول د ښځي د واپس راتللو په نسبت زيات خطرناک دي، نو ځکه له هغه ځای څخه نقل کېدل او بېرته خپل وطن ته واپس راتلل زيات غوره دي، د دې لپاره چي دغه ښځه د خپلوانو سره ووېني او د خاوند د مرګ غم يې لږ سپک سي او د خاوند په کور کي عدت تېر کړي.

(او که چيري د هغه ځای او د مکې مبارکي په مېنځ کي تر دريو ورځو کمه مسافه وي او د ښار مسافه زياته وي، نو په دې صورت کي مکې ته تلل پکار دي، ځکه چي د هغې لپاره کمه مسافه پرېکول ستونزمن نه دي، صاحب د هدايې دا صورت نه دي ذکر کړی).

يادونه: پورتني ټوله صورتونه په هغه وخت کي دي، کله چي د ټکټ او د جهاز پرېشاني نه وي، لېکن که ټکټ داسي وي چي واپس خپل وطن ته راتلل ممکن نه وي، نو بيا د مقصد ځای ته تلل جائز دي، ځکه چي مجبوري ده.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

قال: إِلَّا أَنْ يَكُونَ طَلَّقَهَا أَوْ مَاتَ عَنْهَا زَوْجُهَا فِي مِصْرٍ [امام محمد رَحِمَهُ الله] فرمايي: خو دا چې خاوند ښځې ته په ښار کې درې طلاقه ورکړې وي يا مړ سوی وي فَإِنَّهَا لَا تَخْرُجُ حَتَّى تَعْتَدَّ نو [په دې صورت کې] به ښځه اله هغه ښار څخه] نه وځي تر دې چې عدت پوره کړي ثُمَّ تَخْرُجُ إِنْ كَانَ لَهَا مَحْرَمٌ بيا به [په هغه وخت کې له ښار څخه وځي] که چيرې د هغې سره يو محرم [ولي] وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ۞ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: إِنْ كَانَ مَعَهَا مَحْرَمٌ فَلَا بَأْسَ بِأَنْ تَخْرُجَ مِنَ الْمِصْرِ قَبْلَ أَنْ تَعْتَدَّ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: که چيرې د دې ښځې سره يو محرم وي نو دا هيڅ پروا نه لري چې هغه تر عدت پوره کولو مخکې له ښار څخه ووځي لَهُمَا: أَنَّ نَفْسَ الْخُرُوجِ مُبَاحٌ دَفْعًا لِأَذَى الْغُرْبَةِ وَوَحْشَةِ الْوَحْدَةِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې خودې وتل روا دي د بېګانه توب او د تنهايي د وحشت لېرې کولو لپاره فَهٰذَا عُذْرٌ او دا يو عذر [هم] دی وَإِنَّمَا الْحُرْمَةُ لِلسَّفَرِ او حرمت [فقط] د سفر په وجه دی وَقَدِ ارْتَفَعَتْ بِالْمَحْرَمِ او د محرم په وجه هغه [هم] لېرې سو وَلَهُ: أَنَّ الْعِدَّةَ أَمْنَعُ مِنَ الْخُرُوجِ مِنْ عَدَمِ الْمَحْرَمِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې د بېله محرمه سفر کولو څخه به په عدت کې وتل زيات ممنوع وي فَإِنَّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَخْرُجَ إِلَى مَا دُونَ السَّفَرِ بِغَيْرِ مَحْرَمٍ ځکه چې د ښځې لپاره له محرم څخه بغير د سفر تر مسافې کمه اندازه وتل جائز دي وَلَيْسَ لِلْمُعْتَدَّةِ ذٰلِكَ [لېکن] د معتده ښځې لپاره دا جائز نه دي فَلَمَّا حَرُمَ عَلَيْهَا الْخُرُوجُ إِلَى السَّفَرِ بِغَيْرِ الْمَحْرَمِ لهذا کله چې د ښځې لپاره بېله محرمه په سفر وتل حرام دي فَفِي الْعِدَّةِ أَوْلَى نو په عدت کې خو به په طريقه اولی سره حرام وي.

اللغات: ﴿غُرْبَة﴾ پرديسي، مسافري، بېګانه توب. ﴿وَحْدَة﴾ تنهايي، يوازېتوب (يوازې والی).

تشريح: مخکې چې کوم د طلاق او د خاوند د مرګ په وجه خپل وطن ته د واپس تللو يا نه تللو مسئله بيان سوه، هغه د صحراء او بيابان په هکله وه (يعني کله چې له ښار څخه بغير په صحراء کې

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله (فتح القدير ج:۴، ص:۱۶۹)، وكذا في الدر المختار (ج:۲، ص:۶۷۶). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۷۳]

خاوند مړ سي یا ښځي ته طلاق ورکړي)، اوس په دې عبارت کي د مصر او ښار مسئله بیانوي. د مسئلې حاصل دا دی چي که خاوند د سفر په دوران کي ښځي ته په یو ښار کي طلاق ورکړي. یا په یو ښار کي خاوند مړ سي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي دا ښځه به هلته عدت پوره کوي او تر عدت پوره کولو مخکي به له هغه ښار څخه قدم هم نه باسي. بیا چي کله عدت پوره سي. نو هم به له محرم څخه بغیر له هغه ځای څخه نه وځي، صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: که چیري د ښځي سره یو محرم وي، نو له هغه ځای څخه تر عدت پوره کېدلو مخکي هم وتل صحیح دي او په هغه ښار کي عدت پوره کول ضروري نه دي، ځکه چي د مسافرۍ او بېګانه توب د تکلیف لیري کولو لپاره او د وحشت ختمولو لپاره نفسِ خروج مباح او جائز دی. او د مسافرۍ تکلیف او د تنهایۍ بېره یو ډول عذر هم دی. او تاسو مخکي ووېل چي د عذر په وجه انتقال کول صحیح دي. نو ځکه به د دغه معتده ښځي لپاره هم له ښار څخه وتل جائز وي، او بیا د ښځي په حق کي د سفر د حرمت سبب د محرم قریب نشتوالی دی. او څرنګه چي دلته د هغې سره محرم قریب موجود دی. نو په دې وجه به هم د ښځي لپاره وتل جائز وي.

ولهٔ أن العدة إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دلیل حاصل دا دی چي که یو ښځه له محرم څخه بغیر سفر وکړي، نو دا ممنوع دي. لېکن دا ممانعت د کمي درجې دی، ځکه چي د ښځي لپاره د سفر له مودت څخه په کمه مسافه وتل جائز دي، لېکن د عدت له ځای څخه د ښځي وتل بالکل جائز نه دي. نو دا ممانعت د غټي درجې سو. نو ځکه امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمایي چي که څه هم محرم موجود وي. نو بیا هم له هغه ښار څخه وتل صحیح نه دي، بلکي هلته عدت تېرول ضروري دي.

یادونه: دا په هغه صورت کي کله چي په هغه ښار کي د عدت تېرولو سهولت وي. او که هیڅ سهولت او ګنجائش نه وي. یا مثلاً د ټکټ. وېزې او جهاز مشکلات وي. نو بیا کور ته د ښځي راتلل جائز دي. ځکه چي دا سخت عذر دی.



بَابُ ثُبُوتِ النَّسَبِ

(دا) باب د نسب ثابتېدلو (د احکامو په بیان کي) دی

تشریح: مخکي تر دې صاحب د کتاب د معتده ښځي د درې قسمونو په هکله بیان وکړی یعني: ذواتُ الحیض، ذواتُ الأشهر، ذواتُ الأحمال (حامله ښځي)، اوس په دې باب کي د هغه شي بیان کوي کوم چي د ذواتُ الأحمال ښځو سره لازم دی چي هغه "ثبوتُ النسب" دی، د دې لپاره چي د ملزوم او لازم په مینځ کي مناسبت او مطابقت باقي پاته سي.

د نسب ثابتېدلو یو مثال

وَمَنْ قَالَ: إِنْ تَزَوَّجْتُ فُلَانَةً فَهِيَ طَالِقٌ او څوک چي ووايي: که ما د فلانی ښځي سره نکاح وکړه نو هغه طلاقه ده فَتَزَوَّجَهَا بیا دا سړی د هغې ښځي سره نکاح وکړي فَوَلَدَتْ وَلَدًا لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ يَوْمِ تَزَوَّجَهَا او [بیا] ښځه د نکاح له ورځي څخه پر شپږمه میاشته کوچنی وزېږوي فَهُوَ ابْنُهُ وَعَلَيْهِ الْمَهْرُ نو دا کوچنی د دې سړي زوی دی او پر ده تبوله مهر واجب دی أَمَّا النَّسَبُ فَلِأَنَّهَا فِرَاشُهُ پاته سو [ثبوت د] نسب نو هغه ځکه چي دا ښځه د ده فراش ده لِأَنَّهَا لَمَّا جَاءَتْ بِالْوَلَدِ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ وَقْتِ النِّكَاحِ ځکه کله چي دې ښځي د نکاح له وخت څخه پر شپږمه میاشته کوچنی راوړی فَقَدْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْهَا مِنَ وَقْتِ الطَّلَاقِ نو [ګواکي] هغې د طلاق له وخت څخه تر شپږو میاشتو په کم [مودت] کي کوچنی راوړی دی فَكَانَ الْعُلُوقُ قَبْلَهُ فِي حَالَةِ النِّكَاحِ نو [ګواکي] تر طلاق مخکي د نکاح په حالت کي علوق [حمل] وسو وَالتَّصَوُّرُ ثَابِتٌ او [په نکاح کي د علوق] تصور ثابت دی ایعني دلته د حمل امکان هم سته] بِأَنْ تَزَوَّجَهَا وَهُوَ يُخَالِطُهَا فَوَافَقَ الْإِنْزَالُ النِّكَاحَ [هغه] په دې توګه چي هغه سړی د دې ښځي د مخالطت [وطي] کولو په حالت کي نکاح وکړي نو انزال به د نکاح سره موافق سي وَالنَّسَبُ يُحْتَاطُ فِي إِثْبَاتِهِ او د نسب په ثابتولو کي احتیاط کیږي وَأَمَّا الْمَهْرُ فَلِأَنَّهُ لَمَّا ثَبَتَ النَّسَبُ مِنْهُ او کوم چي مهر دی نو ځکه کله چي د هغه سړي سره اد کوچني انسب ثابت سو جُعِلَ وَاطِئًا حُكْمًا نو هغه د حکم په اعتبار سره واطئ وګرځېدی فَتَأَكَّدَ الْمَهْرُ بِهِ نو د هغه په وجه سره مهر مؤکد سو.

اللغات: ﴿عُلُوْق﴾ مصدر دی: د ښځي رحم ته نطفه رسېدل (په رحم کي د نطفې قرار نیول)، حامله کېدل، حمل، ﴿يُخَالِط﴾ د مفاعلې مضارع ده: ګډون کول (مرځني وطي او جماع کول دي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چیري یو سړي داسي ووایي: که زه د فلانی ښځي سره نکاح وکړم نو هغې ته طلاق دی، لېکن بیا دا سړی د هغې سره نکاح وکړي، او ښځه د نکاح له وخت څخه شپږ میاشتي وروسته کوچنی وزېږوي، نو د دې کوچني نسبت له همدغه سړي سره ثابتيږي. او پر دې سړي به پوره مهر واجب وي، صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي د کوچني نسب به ځکه د دې سړي سره ثابتيږي چي دا ښځه د دې سړي فراش ده، او په حدیث کي د صاحبُ الفراش لپاره نسب ثابت منل شوی دی، لکه څرنګه چي نبي ﷺ فرمایلي دي: "اَلْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ، وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ"، (یعني کوچنی به د صاحبُ الفراش وي، او د زاني لپاره به ډبره (رجم) وي)، نو ځکه به د کوچني نسب د دې سړي سره ثابت وي.

او بل دا چي کله ښځه د نکاح له وخت څخه شپږ میاشتي وروسته کوچنی وزېږوي، نو دا خبره ښکاره سوه چي دا کوچنی د طلاق له وخت څخه تر شپږو میاشتو په کم مودت کي پیدا سوی دی. او دا ثابته سوه چي تر طلاق مخکي د نکاح پر وخت د ښځي په نس کي علوق (یعني د نطفې وجود) وو، او د دې علوق د ثبوت امکان هم سته، هغه په دې توګه چي دغه سړی د ښځي سره د مخالطت او جماع په وخت کي نکاح وکړي، او د ایجاب او قبول په وخت کي انزال وکړي، او د طلاق واقع کېدلو سره متصل خاوند له خپل کار (جماع) څخه فارغ سي، لهذا د دې امکان په وجه به کوچنی د دې سړي وي، ځکه چي د نسب د ثبوت په معامله کي احتیاط کيږي، او حتی الإمکان دا کوښښ کيږي چي د کوچني نسب ثابت سي، او بیا د فقهې دا قاعده هم د دې تأئید کوي چي: "الأَصْلُ عِنْدَنَا أَنَّ الْعِبْرَةَ فِيْ ثُبُوْتِ النَّسَبِ بِصِحَّةِ الْفِرَاشِ وَكَوْنِ الزَّوْجِ مِنْ أَهْلِه، لَا بِالتَّمَكُّنِ مِنَ الْوَطْیِ" (یعني د نسب د ثبوت په هکله زموږ په نېز [فقط] د دې خبري اعتبار کيږي چي فراش به صحیح وي او خاوند به د وطي قابل وي، او قدرت علی الوطي شرط نه دي)، او دلته دواړه شیان موجود دي.

وأما المهر الخ: فرمایي کله چي د دې سړي سره د کوچني نسب ثابت سي، نو دا سړی به حکماً واطئ شمارل کيږي، او د ښځي طلاق به طلاق بعد الدخول منل کيږي، او د طلاق بعد الدخول په صورت کي پر خاوند پوره مهر واجبيږي، لهذا دلته به هم پر خاوند پوره مهر واجب وي.

د مطلقه رجعیه ښځې د کوچني (بچي) نسب

قال: وَيَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِ الْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ إِذَا جَاءَتْ بِهِ لِسَنَتَيْنِ أَوْ أَكْثَرَ فرمايي: او د مطلقه رجعيه ښځې د کوچني نسب ثابتيږي کله چې هغه په دوه کاله يا تر دې په زيات مودت کې کوچنی وزيږوي مَالَمْ تُقِرَّ بِانْقِضَاءِ عِدَّتِهَا [په دې شرط] تر څو چې هغې د عدت تيريدلو اقرار کړی نه وي لِاحْتِمَالِ الْعُلُوقِ فِي حَالَةِ الْعِدَّةِ ځکه چې [دلته] د عدت په حالت کې د علوق [او وطي] احتمال سته لِجَوَازِ أَنَّهَا تَكُونُ مُمْتَدَّةَ الطُّهْرِ ځکه ممکنه ده چې دا ښځه ممتدةُ الطهر وي وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سَنَتَيْنِ او که هغه ښځه له دوو کالو څخه په کم مودت کې کوچنی وزيږوي بَانَتْ مِنْ زَوْجِهَا بِانْقِضَاءِ الْعِدَّةِ نو د عدت تيريدلو په وجه هغه له خاوند څخه بائنه کيږي وَثَبَتَ نَسَبُهُ او د کوچني نسب ثابتيږي لِوُجُودِ الْعُلُوقِ فِي النِّكَاحِ أَوْ فِي الْعِدَّةِ ځکه چې [په دې صورت کې] په نکاح يا عدت کې علوق موجود سو وَلَا يَصِيرُ مُرَاجِعًا او خاوند به رجعت کونکي نه ګرځي لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ الْعُلُوقَ قَبْلَ الطَّلَاقِ ځکه چې [دلته] تر طلاق مخکې هم د علوق احتمال سته وَيَحْتَمِلُ بَعْدَهُ او تر طلاق وروسته [هم د علوق احتمال سته] فَلَا يَصِيرُ مُرَاجِعًا بِالشَّكِّ نو د شک په وجه به هغه رجعت کونکی نه ګرځي وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِأَكْثَرَ مِنْ سَنَتَيْنِ او که هغه ښځه له دوو کالو څخه په زائد مودت کې کوچنی وزيږوي كَانَتْ رَجْعَةً نو دا به رجعت وي لِأَنَّ الْعُلُوقَ بَعْدَ الطَّلَاقِ ځکه چې [دلته] علوق تر طلاق وروسته دی وَالظَّاهِرُ أَنَّهُ مِنْهُ او ظاهري حالت همدا دی چې دا [علوق] به له خاوند څخه وي لِانْتِفَاءِ الزِّنَا مِنْهَا ځکه له ښځې څخه زنا منتفي ده [ځکه چې د مسلماني ښځې په حق کې د دې إمکان نسته چې هغې به زنا کړې وي] فَيَصِيرُ بِالْوَطْءِ مُرَاجِعًا نو په وطي کولو سره به هغه رجعت کونکی وګرځي.

اللغات: ﴿اِنْقِضَاء﴾ د انفعال مصدر دی: تيريدل، پوره کيدل. ﴿عُلُوق﴾ د ښځې رحم ته نطفه رسيدل (په رحم کې د نطفې قرار نيول)، حامله کيدل، حمل. ﴿بَانَت﴾ د ضرب ماضي ده: بائنه کيدل، جلا کيدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د احنافو په نيز امکاني او خيالي نسب هم ثابتيږي. همدا وجه ده که يو سړی خپلې ښځې ته طلاق رجعي ورکړي. او دا ښځه د طلاق له وخت څخه په دوو کالو کې دننه يا له دې څخه په زيات مودت کې کوچنی وزيږوي. نو د دې کوچني نسب د همدغه سړي سره

ثابتیږي په دې شرط چي ښځي په دې دوران کي د عدت تېرېدلو (انقضاء عدت) اقرار کړی نه وي. ځکه چي د انقضاءِ عدت د اقرار نه کولو په صورت کي موږ دا ښځه ممتدةُ الطهر شمارلای سو. او د هغې د عدت د اوږدوالي په وجه دا امکان سته چي د عدت په زمانه کي به خاوند د هغې سره وطي کړې وي. او د مطلقه رجعیه ښځي سره وطي کول روا دي. لهذا په دې وطي سره خو به یوه طرف ته د کوچني نسب ثابتیږي. او بل به رجعت ثابتیږي.

وإن جاءت به لأقل إلخ: او که دا ښځه تر دوو کالو په کم مودت کي کوچنی وزېږوي. نو دا ښځه له خپل خاوند څخه بائنه کیږي: ځکه چي د حامله کېدلو په وجه به د هغې عدت وضعُ الحمل وي. او په وضعُ الحمل سره هغه بائنه ګرځي. خو په دې صورت کي هم د کوچني نسب د دې سړي (خاوند) سره ثابتیږي. ځکه چي دغه وطي خو به یا د نکاح په حالت کي سوي وي. یا به په عدت کي سوي وي. او څرنګه چي دا ښځه معتده رجعیه ده. لهذا د عدت په حالت کي به د هغې سره وطي کول شرعاً صحیح وي. نو ځکه به هغه کوچنی د همدغه سړي سره ثابتُ النسب وي. خو په دې وطي سره به دا سړی رجعت کونکي نه ګرځي. ځکه چي دلته په دغه وطي کي شک دی چي هغه قبل الطلاق دي او که بعدُ الطلاق دي. لهذا په دې حواله سره په رجعت کي شبهه راغله. او د شک او شبهې په وخت کي رجعت نه ثابتیږي.

وإن جاءت به لأكثر إلخ: د دې حاصل دا دی که د طلاق له وقت څخه تر دوو کالو وروسته (یعني له دوو کالو څخه په زیات مودت کي) کوچنی پیدا سي. نو په دې صورت کي نسب هم ثابتیږي او رجعت هم ثابتیږي. ځکه چي تر دوو کالو په زیات مودت کي د کوچني پیدا کېدل د دې خبري دلیل دا دی چي علوق تر طلاق وروسته د عدت په حالت کي واقع سوی دی. ځکه چي د حمل اکثره مودت دوه کاله وي. او دا کوچنی تر دوو کالو وروسته (یعني تر دوو کالو په زیات مودت کي) پیدا سوی دی. او د ښځي له طرفه د زناء منتفي کېدلو په وجه ظاهري حال هم دا دی چي دغه علوق به د خاوند وي. لهذا کله چي دا علوق د عدت په دوران کي واقع سوی دی. نو ځکه به د رجعت موجب او سبب وي.

د بائنه ښځي د کوچني نسب

وَالْمَبْتُوتَةُ يَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِهَا إِذَا جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سَنَتَيْنِ او کومي ښځي ته چي طلاقِ بائن ورکول سوی وي د هغې د کوچني نسب ثابتیږي کله چي هغه تر دوو کالو په کم مودت کي کوچنی وزېږوي **لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ أَنْ يَكُونَ الْوَلَدُ قَائِمًا وَقْتَ الطَّلَاقِ** ځکه چي احتمال دی د طلاق په وخت کي د

کوچني د موجودېدلو احتمال سته فَلَا يُتَيَقَّنُ بِزَوَالِ الْفِرَاشِ قَبْلَ الْعُلُوقِ لهذا تر علوق مخکې به د فراش زائلېدل يقيني نه وي فَيَثْبُتُ النَّسَبُ احْتِيَاطًا نو ځکه به احتياطاً نسب ثابتيږي وَإِذَا جَاءَتْ بِهِ لِتَمَامِ سَنَتَيْنِ مِنْ وَقْتِ الْفُرْقَةِ او که ښځه د فرقت [طلاق] له وخت څخه پر پوره دوو کالو کوچنی وزېږوي لَمْ يَثْبُتْ نو [د هغه نسب د خاوند سره] نه ثابتيږي لِأَنَّ الْحَمْلَ حَادِثٌ بَعْدَ الطَّلَاقِ ځکه چې حمل تر طلاق وروسته پيدا سوی دی فَلَا يَكُونُ مِنْهُ نو ځکه به هغه له خاوند څخه نه وي لِأَنَّ وَطْأَهَا حَرَامٌ ځکه چې [په دې صورت کې] د ښځې سره وطي کول حرام دي إِلَّا أَنْ يَدَّعِيَهُ مګر دا چې خاوند د کوچني دعویٰ وکړي لِأَنَّهُ الْتَزَمَهُ ځکه چې خاوند د هغه التزام وکړی ايعني ځکه چې په دې صورت کې خاوند د هغه نسب پر ځان لازم کړی] وَلَهُ وَجْهٌ بِأَنْ وَطِئَهَا بِشُبْهَةٍ فِي الْعِدَّةِ او د دې يو توجيه دا ده چې خاوند به په عدت کې د دې ښځې سره وطي بالشبهه کړې وي.

اللغات: ﴿مَبْتُوتَة﴾ مؤنث اسمِ مفعول دی: مُطلقه بائنه (هغه ښځه چې بائن طلاق ورکول سوی وي)، ﴿إِلْتِزَمَ﴾ د افتعال ماضي ده: ديو شي التزام کول، پر ځان يو شی لازمول، په خپله غاړه اخيستل.

تشريح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱)... اوله مسئله دا ده که خاوند ښځې ته طلاقِ بائن ورکړي يا درې طلاقه (طلاقِ مغلظ) ورکړي، او بيا دا ښځه د طلاق له وقت څخه تر دوو کالو په کم مودت کې کوچنی وزېږوي، نو دا کوچنی له همدغه خاوند څخه ثابتُ النسب ګرځي: دليل دا دی چې تر دوو کالو په کم مودت کې د کوچني په پيدايښت سره دا خبره ښکاره سوه چې د طلاق په وخت کې د ښځې په نس کې کوچنی وو. لهذا تر علوق مخکې د ښځې د فراش زائلېدل يقيني نه سو، نو ځکه به احتياطاً د دې کوچني نسب ثابتيږي، ځکه چې د نسب په ثبوت کې ډېر احتياط کيږي (او دا کوښښ کيږي چې په يو ډول نه يو ډول د بچي نسب ثابت سي، کنې ټوله ژوند به دارموني په تور تورن وي).

وإذا جاءت به لتمام الخ: (۲)... دويمه مسئله دا ده که د طلاق له وخت څخه ښځه ټيک د دوو کالو د پوره کېدلو په وخت کې کوچنی وزېږوي، نو د خاوند سره د هغه نسب نه ثابتيږي؛ ځکه چې په دې صورت کې همدا خبره يقيني ده چې دا علوق (حمل) تر طلاق وروسته پيدا سوی دی، ځکه که دا تر طلاق مخکې ومنل سي نو دلته به د حمل اکثره مودت تر دوو کالو زيات منل کيږي او دا صحيح نه

دي, لهذا دا حمل به بعد الطلاق وي، نو ځکه به د خاوند سره د کوچني نسب نه ثابتيږي. او دلته بله توجيه او تأويل هم کېدای نه سي، ځکه چي د مطلقه بائنه ښځي سره په هيڅ صورت کي وطي کول روا نه دي.

ها! که خاوند د کوچني د نسب دعوىٰ وکړي او د هغه منلو ته تيار سي، نو بيا د هغه سره د کوچني نسب ثابتيږي، ځکه چي په دې صورت کي هغه په خپله د کوچني نسب د خپل ځان سره لازم کړی، لهذا اوس د هغه د منع کولو هيڅ ضرورت نسته. او دلته دا توجيه هم کېدای سي چي شايد خاوند به د مطلقه بائنه ښځي سره په عدت کي وطي بالشبهه کړي وي. لهذا د دې احتمال په خاطر به احتياطاً د دغه کوچني نسب ثابتيږي.

د مطلقه صغيره نجلۍ د کوچني نسب

فَإِنْ كَانَتِ الْمَبْتُوتَةُ صَغِيرَةً يُجَامَعُ مِثْلُهَا او که مُطلّقه بائنه دومره کوچنۍ [نجلۍ] وي چي د هغه ډول نجلۍ سره جماع کېدای سي [يعني د هغې سره جماع کول ممکن وي] فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ لِتِسْعَةِ أَشْهُرٍ او بيا هغه [د طلاق له وخت څخه] پر نهمه مياشته کوچنی وزېږوي لَمْ يَلْزَمْهُ نو هغه کوچنی [يعني د هغه نسب] د خاوند سره نه لازميږي حَتَّى تَأْتِيَ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ تِسْعَةِ أَشْهُرٍ تر دې چي هغه له نهو مياشتو څخه په کم مودت کي کوچنی وزېږوي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز وَقَالَ: أَبُو يُوسُفَ[*]: يَثْبُتُ النَّسَبُ مِنْهُ إِلَى سَنَتَيْنِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي تر دوو کالو پوري له خاوند څخه [د کوچني] نسب ثابتيږي لِأَنَّهَا مُعْتَدَّةٌ ځکه چي دا صغيره معتده ده يُحْتَمَلُ أَنْ تَكُونَ حَامِلًا او دا احتمال سته چي هغه به حامله وي وَلَمْ تُقِرَّ بِانْقِضَاءِ الْعِدَّةِ او هغې د عدت تېرېدلو اقرار [هم] کړی نه دي فَأَشْبَهَتِ الْكَبِيرَةَ نو هغه د کبيره [بالغې] ښځي سره مشابه سوه وَلَهُمَا: أَنَّ لِانْقِضَاءِ عِدَّتِهَا جِهَةً مُتَعَيِّنَةً او د طرفينو دليل دا دی: چي د هغې د عدت تېرېدلو لپاره يو متعين وخت سته [يعني د هغې د عدت لپاره يو معلوم مودت تاکل سوی دی] وَهُوَ الْأَشْهُرُ او هغه [د عدت] مياشتي دي فَبِمُضِيِّهَا يَحْكُمُ الشَّرْعُ بِالِانْقِضَاءِ نو د هغوی [مياشتو] په تېرېدلو سره شريعت د عدت تېرېدلو حکم کوي وَهُوَ فِي الدَّلَالَةِ فَوْقَ إِقْرَارِهَا او د شريعت حکم په دلالت کي د ښځي تر اقرار [ډېر] لوړ دی لِأَنَّهُ لَا

[*] القول الراجح: قول الطرفين، كما ذكر في رد المحتار (ج:٢، ص:٦٧٩). [القول الراجح ج:١، ص:٢٧٤]

يَحْتَمِلُ الْخِلَافَ ځکه چي د شريعت حکم د خلاف [او درواغو] احتمال نه لري وَالْإِقْرَارُ يَحْتَمِلُهُ او اقرار د خلاف احتمال لري وَإِنْ كَانَتْ مُطَلَّقَةً طَلَاقًا رَجْعِيًّا او که دا صغيره په طلاق رجعي سره مطلقه وي [طلاق رجعي ورکول سوی وي] فَكَذٰلِكَ الْجَوَابُ عِنْدَهُمَا نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هم دغه حکم دی وَعِنْدَهُ يَثْبُتُ إِلىٰ سَبْعَةٍ وَعِشْرِينَ شَهْرًا او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز [په دې صورت کي] تر اوويشت [۲۷] مياشتو پوري [د کوچني] نسب ثابتيږي لِأَنَّهُ يُجْعَلُ وَاطِئًا فِي آخِرِ الْعِدَّةِ ځکه چي د عدت په آخر کي به خاوند وطي کونکی ګرځول کيږي وَهِيَ الثَّلَاثَةُ الْأَشْهُرُ او هغه [عدت] دري مياشتي دی ثُمَّ تَأْتِي بِهِ لِأَكْثَرِ مُدَّةِ الْحَبَلِ بيا هغې [صغيرې] د حمل په اکثر مودت کي کوچنی وزيږوی وَهُوَ سَنَتَانِ او هغه دوه کاله دی وَإِنْ كَانَتِ الصَّغِيرَةُ ادَّعَتِ الْحَبَلَ فِي الْعِدَّةِ او که سغيره د عدت په دوران کي د حمل دعوىٰ وکړي فَالْجَوَابُ فِيهَا وَفِي الْكَبِيرَةِ سَوَاءٌ نوو د هغې او د بالغي ښځي حکم برابر دی لِأَنَّ بِإِقْرَارِهَا يُحْكَمُ بِبُلُوغِهَا ځکه چي د صغيرې په اقرار سره به د هغې د بلوغت حکم کيږي.

اللغات: ﴿حَبَل﴾ حامله کېدل (بلاربېدل). ﴿بُلُوغ﴾ بالغه کېدل (بلوغت).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که خاوند داسي کوچنۍ نجلۍ (صغيره) ته طلاق بائن ورکړي چي د هغې سره جماع کېدلای سي. او بيا دا صغيره د طلاق له وخت څخه پر نهمه مياشته کوچنی وزيږوي او په دې دوران کي د عدت تېرېدلو اقرار هم نه وکړي. نو د طرفينو په نيز د هغې د خاوند سره د کوچني نسب لازميږي (يعني د هغه سره په لازمي توګه د کوچني نسب ثابتيږي). ها! که صغيره له نهو مياشتو څخه په کم مودت کي کوچنی وزيږوي. نو بيا د صاحبينو په نيز د کوچني نسب د خاوند سره لازميږي او د هغه سره ثابتيږي. د دې په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول دا دی چي تر دوو کالو پوري به د هغه نسب د خاوند سره لازميږي او د طلاق له وقت څخه به په دوو کالو کي د پيدا کېدونکي کوچني نسب د خاوند سره ثابتيږي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي دا ښځه صغيره معتده ده. او د هغې سره جماع کول امکان لري. نو د دې امکان په خاطر د هغې د حامله کېدلو احتمال هم سته. او دا احتمال دوه ډوله کېدلای سي: ① دا صغيره به د طلاق په وخت کي حامله وي. ② يا تر دريو مياشتو وروسته به له عدت تېرولو څخه بعد هغه حامله سوې وي. په اول صورت کي به د هغې عدت وضعُ الحمل وي. او په دويم صورت کي به هغه د بالغه (کبيره) ښځي سره مشابه وي. او څرنګه چي هغې د عدت تېرېدلو اقرار کړی نه دي. نو

ځکه به د بالغه (کبیره) ښځې په شان تر دوو کالو پورې د هغې د کوچني نسب (د خاوند سره) ثابتیږي. (عنایه)

د طرفینو دلیل: دا دی چې د دې نجلۍ د عدت تېرېدلو وخت متعین او تاکل سوی دی چې هغه درې میاشتې دي، ځکه چې الله تعالیٰ فرمایي: "وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ" (یعني کومو ښځو ته چې بالکل حیض نه راځي، د هغو عدت هم درې میاشتې دی). لهذا له درې میاشتو څخه وروسته شریعت د هغې د عدت د تېرېدلو حکم کړی دی، برابره ده که هغې د عدت اقرار کړی وي، که نه وي. او د شریعت فیصله او حکم د ښځې له اقرار څخه زیات مضبوط او مستحکم دی، ځکه چې هغه د خلاف واقع احتمال نه لري، لېکن د ښځې اقرار د دې احتمال لري. لهذا د شریعت د حکم په مقابله کې به د ښځې د اقرار هېڅ حیثیت نه وي.

وإن كانت إلخ: فرمایي که چیرې دا صغیره مطلقه رجعیه وي (یعني خاوند طلاق رجعي ورکړی وي). نو هم د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز همدا حکم دی، یعني که د طلاق له وخت څخه تر نهو میاشتو په کم مودت کې کوچنی پیدا سي، نو نسب ثابتیږي، کنې نه ثابتیږي. لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز په دې صورت کې تر اوویشت (۲۷) میاشتو پورې د کوچني نسب ثابتیږي، ځکه چې د طلاق رجعي په صورت کې د ښځې سره د عدت په دوران کې وطي کول صحیح دي، لهذا دا به ویل کیږي چې خاوند به د عدت په آخري ورځو کې د هغې سره وطي کړې وي. او دا کوچنی به د حمل په اکثر مودت کې پیدا سوی وي، نو څلورویشت (۲۴) میاشتې به د حمل د اکثر مودت لپاره وي. او درې میاشتې به د عدت وي چې ټوله به اوویشت میاشتې کیږي.

وإن كانت إلخ: د دې حاصل دا دی که چیرې صغیره نجلۍ د خپل عدت په دوران کې د حمل دعویٰ وکړي (چې زه حامله یم)، نو په دې صورت کې د هغې حکم د کبیره (بالغې) ښځې د حکم په شان دی، ځکه چې د حمل د دعویٰ په وجه هغه د کبیره ښځې سره لاحقه سوه. او بالغې ښځې ته که طلاق بائن ورکول سوي وي، نو تر دوو کالو په کم مودت کې له هغې څخه د پیدا سوي کوچني نسب ثابتیږي. او که هغې ته طلاق رجعي ورکول سوي وي، نو تر اوویشت میاشتو پورې یې د کوچني نسب ثابتیږي. (عنایه)

د معتدة الوفات ښځې د کوچني نسب

وَيَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا مَا بَيْنَ الْوَفَاةِ وَبَيْنَ السَّنَتَيْنِ او د کونډې سوي ښځې د بچي نسب به د خاوند د مرګ او د دوو کالو په مینځ کې ثابتیږي (یعني د خاوند له مرګ څخه وروسته به تر دوو کالو

پوري ثابتيږي] وَقَالَ زُفَرُ: إِذَا جَاءَتْ بِهِ بَعْدَ انْقِضَاءِ عِدَّةِ الْوَفَاةِ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: که چيري دا ښځه د وفات تر عدت پوره کېدلو شپږ مياشتي وروسته کوچنی وزيږوي لَا يَثْبُتُ النَّسَبُ نو [د هغه] نسب نه ثابتيږي لِأَنَّ الشَّرْعَ حَكَمَ بِانْقِضَاءِ عِدَّتِهَا بِالشُّهُورِ ځکه چي شريعت [د هغې په حق کي] د مياشتو په ذريعه د هغې د عدت تېرېدلو حکم کړی دی لِتَعَيُّنِ الْجِهَةِ ځکه چي [د هغې د عدت] جهت متعين دی فَصَارَ كَمَا إِذَا أَقَرَّتْ بِالِانْقِضَاءِ نو داسي سو لکه هغې چي [په خپله د عدت تېرېدلو اقرار کړی وي كَمَا بَيَّنَّا فِي الصَّغِيرَةِ لکه د صغيرې په هکله چي موږ [د دې] بيان وکړی إِلَّا أَنَّا نَقُولُ: لِانْقِضَاءِ عِدَّتِهَا جِهَةٌ أُخْرَى لېکن موږ وايو: چي د هغې د عدت تېرېدلو بل جهت [او صورت] هم سته وَهُوَ وَضْعُ الْحَبَلِ او هغه د حمل زيږول دي بِخِلَافِ الصَّغِيرَةِ په خلاف د صغيرې لِأَنَّ الْأَصْلَ فِيهَا عَدَمُ الْحَبَلِ ځکه چي اصل په هغې کي د حمل نشتوالی دی لِأَنَّهَا لَيْسَتْ بِمَحَلٍّ قَبْلَ الْبُلُوغِ ځکه چي هغه [صغيره] تر بلوغ مخکي [د حمل] محل نه ده وَفِيهِ شَكٌّ او [د هغې] په بلوغت کي شک دی.

اللغات: ﴿إِنْقِضَاء﴾ د انفعال مصدر دی: پوره کېدل، تېرېدل.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که چيري د يوې ښځي خاوند مړ سي، او هغه ښځه کبيره بالغه وي، نو زموږ په نېز که هغه د خاوند تر مرګ (وفات) وروسته په دوو کالو کي دننه کوچنی وزيږوي، نو د دې کوچني نسب د خاوند سره ثابتيږي، امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي که د وفات تر عدت وروسته يعني که د څلورو مياشتو او لسو ورځو تر تکميل وروسته شپږ مياشتي بعد (يعني پر شپږمه مياشته) دا ښځه کوچنی وزيږوي، نو د هغه کوچني نسب د خاوند سره نه ثابتيږي.

د امام زفر دليل: دا دی چي کله د عدت په دوران کي د دې ښځي حمل ښکاره نه سو، او هغې د حمل دعویٰ او اقرار هم نه وکړه، نو د شريعت له طرفه چي د وفات د عدت کوم مودت ټاکل سوی دی يعني څلور مياشتي او لس ورځي، پر هغه مودت به د دې ښځي عدت پوره کيږي، او دا به په خپله د ښځي د عدت تېرېدلو د اقرار په څېر وي (يعني کله چي دا ټاکل سوی مودت پوره سي، نو ګواکي په خپله ښځي د خپل عدت تېرېدلو اقرار وکړ)، او تر عدت تېرېدلو وروسته شپږ مياشتي يا له دې څخه په زيات مودت کي د پيدا سوي کوچني نسبت نه ثابتيږي، لهذا دلته به هم شپږ مياشتي يا تر هغه وروسته د پيدا سوي کوچني نسبت نه ثابتيږي، لکه په تېر عبارت کي چي د صغيره نجلۍ په هکله د دې وضاحت وسو.

الا انقول الخ: موږ د امام زفر رَحِمَهُ الله په جواب کي وايو چي کبيره پر صغيره قياسول صحيح نه دي. ځکه چي کبيره بالغه وي، او د هغې حامله کېدل يقيني وي. او بيا تر عدت تېرېدلو مخکښي د حامله کېدلو په صورت کي د هغې عدت وضعُ الحمل وي. نو ځکه موږ وايو چي که په دوو کالو کي دننه د هغې کوچنی پيدا سي، نو د کوچني نسب به ثابتيږي. د دې په خلاف صغيره له بلوغ څخه مخکښي د حمل محل نه وي. نو د صغيرې نه حامله کېدل أصل او متيقن دي. او د هغې د بلوغت مسئله مشکوکه ده. او څرنگه چي د شک په مقابله کي د يقين درجه لوړه ده. نو ځکه به د صغيره په حق کي پر يقين يعني پر عدم بلوغ عمل کيږي. او پر شک يعني پر بلوغ او حمل به عمل نه کيږي. لهذا د امام زفر قياس به هم صحيح نه وي.

د عدت تېرېدلو تر اقرار کولو وروسته د کوچني پيدا کېدل

وَإِذَا اعْتَرَفَتِ الْمُعْتَدَّةُ بِانْقِضَاءِ عِدَّتِهَا او کله چي معتده ښځه د خپل عدت تېرېدلو اقرار وکړي ثُمَّ جَاءَتْ بِالْوَلَدِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ بيا تر شپږو مياشتو په کم مودت کي کوچنی وزېږوي يَثْبُتُ نَسَبُهُ نو د هغه نسب ثابتيږي لِأَنَّهُ ظَهَرَ كَذِبُهَا بِيَقِينٍ ځکه چي [په دې صورت کي] په يقيني توگه د هغې دروغ ښکاره سوه فَبَطَلَ الْإِقْرَارُ نو [په دې وجه] اقرار باطل سو وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ او که هغه پر شپږمه مياشته کوچنی وزېږوي لَمْ يَثْبُتْ نو [د هغه نسب] نه ثابتيږي لِأَنَّا لَمْ نَعْلَمْ بِبُطْلَانِ الْإِقْرَارِ ځکه چي [په دې صورت کي] موږ [په يقيني توگه] د اقرار په باطلېدلو خبر نه سو لِاحْتِمَالِ الْحُدُوثِ بَعْدَهُ ځکه چي [دلته] تر اقرار وروسته [د حمل] پيدا کېدلو احتمال سته وَهٰذَا اللَّفْظُ بِإِطْلَاقِهِ يَتَنَاوَلُ كُلَّ مُعْتَدَّةٍ او [په متن کي] دا [د الْمُعْتَدَّةُ] الفظ د مطلق کېدلو په وجه هري معتده ښځي لره شامليږي.

اللغات: ﴿يَتَنَاوَلُ﴾ د تفاعل مضارع ده: شامليدل.

تشريح: **مسئله**: دا ده که چيري معتده ښځه د خپل عدت پوره کېدلو اقرار وکړي. او تر دې وروسته له شپږو مياشتو څخه په کم مودت کي کوچنی وزېږوي، نو د دې کوچني نسب د خاوند سره ثابتيږي: ځکه چي تر اقرار وروسته له شپږو مياشتو څخه په کم مودت کي د کوچني پيدا کېدل د دې خبري دليل دا دی چي د اقرار په وخت کي دا ښځه حامله وه. نو په دې وجه د هغې عدت وضعُ الحمل سو. نه تاکل سوی جهت (کوم چي دري حيضه يا څلور مياشتي او لس ورځي کيږي). لهذا دا ښځه د عدت تېرېدلو په اقرار کي دروغجنه سوه. نو ځکه به د هغې اقرار باطليږي او نسب به ثابتيږي.

لېکن که تر اقرار شپږ میاشتې وروسته یا تر دې په زیات مودت کې هغه کوچنی وزېږوي. نو بیا د کوچني نسب نه ثابتیږي؛ ځکه په دې صورت کې دا احتمال سته چې تر اقرار وروسته به دا ښځه حامله سوې وي. لهذا په دې صورت کې د اقرار باطلېدل یقیني نه دي. نو ځکه به د هغې اقرار نه باطلیږي او نسب به هم نه ثابتیږي.

وهذا اللفظ الخ: فرمایي چې په متن کې د "الْمُعْتَدَّة" لفظ مطلق دی. نو ځکه به هغه هري معتده ښځي لره شامل وي. هغه که معتدةُ الوفاة وي، یا معتده رجعیه یا بائنه وي، د ټولو به همدغه حکم وي.

د معتدةُ الطلاق ښځې د کوچني نسب

وَإِذَا وَلَدَتِ الْمُعْتَدَّةُ وَلَدًا او کله چې معتده ښځه بچی وزېږوي لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ إِلَّا أَنْ يَشْهَدَ بِوِلَادَتِهَا رَجُلَانِ أَوْ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ نو [د هغې] د بچي نسب نه ثابتیږي تر دې چې دوه سړیان یا یو سړی او دوې ښځې د دې بچي د ولادت ګواهي ورکړي إِلَّا أَنْ يَكُونَ هُنَاكَ حَبَلٌ ظَاهِرٌ أَوْ اعْتِرَافٌ مِنْ قِبَلِ الزَّوْجِ مګر دا چې هلته [د عدت په زمانه کې] حمل ښکاره وي، یا د خاوند له طرفه اقرار وسي فَيَثْبُتُ النَّسَبُ مِنْ غَيْرِ شَهَادَةٍ نو [په دې دوو صورتونو کې] له ګواهۍ څخه بغیر [د کوچني] نسب ثابتیږي وَقَالَ[*]: أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَثْبُتُ فِي الْجَمِيعِ بِشَهَادَةِ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چې په ټولو صورتونو کې [فقط] د یوې ښځې په ګواهۍ سره نسب ثابتیږي لِأَنَّ الْفِرَاشَ قَائِمٌ بِقِيَامِ الْعِدَّةِ ځکه چې [دلته] د عدت د موجود والي په وجه فراش ثابت دی وَهُوَ مُلْزِمٌ لِلنَّسَبِ او همدا فراش د نسب لازمونکی [او ثابتونکی] دی وَالْحَاجَةُ إِلَى تَعْيِينِ الْوَلَدِ أَنَّهُ مِنْهَا او ضرورت د بچي و تعیین ته دی چې هغه د همدغه ښځې څخه دی [یعني اوس فقط د دې خبرې د ثبوت ضرورت دی چې بچی د دغه ښځې دی] فَيَتَعَيَّنُ بِشَهَادَتِهَا نو هغه به د یوې ښځې په ګواهۍ سره متعین کیږي كَمَا فِي حَالِ قِيَامِ النِّكَاحِ لکه د نکاح د موجود والي په حالت کې [چې هغه د یوې ښځې په ګواهۍ سره متعین کیږي] وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْعِدَّةَ تَنْقَضِي بِإِقْرَارِهَا بِوَضْعِ الْحَمْلِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې د ښځې د وضع

---

[*] القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في الخانية (ج:۲، ص:۲۷۲)، وكذا في رد المحتار (ج:۲، ص:٦٨٠). [الفوز الراجح ج:۱، ص: ۳۷٦]

الحمل په اقرار کولو سره عدت تیریږي [ختمیږي] وَالْمُنْقَضِي لَيْسَ بِحُجَّةٍ او تېر سوی شی حجت نه وي فَمَسَّتْ الْحَاجَةُ إِلَى إِثْبَاتِ النَّسَبِ ابْتِدَاءً نو له شروع څخه د نسب ثابتولو ته ضرورت محسوس سو فَيُشْتَرَطُ كَمَالُ الْحُجَّةِ نو [ځکه] به [په هغه کي] کامل حجت شرط وي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ ظُهُرَ الْحَبَلُ أَوْ صَدَرَ الِاعْتِرَافُ مِنَ الزَّوْجِ په خلاف د هغه صورت کله چي حمل ښکاره وي یا د خاوند له طرفه اقرار صادر سي لِأَنَّ النَّسَبَ ثَابِتٌ قَبْلَ الْوِلَادَةِ ځکه چي [په دې صورت کي] نسب تر ولادت مخکي ثابت سوی دی وَالتَّعْيِينُ يَثْبُتُ بِشَهَادَتِهَا او تعیین [فقط] د یوې ښځي په ګواهي سره ثابتیږي.

اللغات: ﴿مُلْزِم﴾ د افعال اسم فاعل دی: لازمونکی.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که معتده ښځه کوچنی وزیږوي، او خاوند د هغه انکار وکړي (چي دا زما بچی نه دی)، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هغه وخت د دې کوچني نسب ثابتیږي کله چي دوه خلک یا یو سړی او دوې ښځي د دې کوچني د ولادت ګواهي ورکړي (چي دا کوچنی ستا له ښځي څخه پیدا سوی دی)، ها! که چیري حمل ښکاره او څرګند وي، یا خاوند د هغه ومنلو ته تیار وي، نو له ګواهي څخه بغیر د هغه نسب ثابتیږي، صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چي په ټولو صورتونو کي فقط د یوې ښځي (دایي) په ګواهي سره نسب ثابتیږي، برابره ده حمل ښکاره او څرګند وي، که نه وي، او برابره ده خاوند د حمل اقرار کړی وي یا یې انکار کړی وي، په هر صورت کي د یوې ښځي په ګواهي سره نسب ثابتیږي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چي د عدت موجودېدلو په وجه د ښځي فراش کېدل ثابت او متیقن دي (چي هغه د خپل خاوند فراش ده او په یقیني توګه د هغه تر نکاح لاندي ده)، او همدا "فراش کېدل" د نسب د ثبوت لپاره کافي دي، نو ځکه دلته د نسب ثابتېدو لپاره د هیڅ ګواهي ضرورت نسته، خو فقط د دې ضرورت سته چي دا معلومه سي چي دغه کوچنی د همدغه ښځي څخه پیدا سوی دی. او د دې کار لپاره فقط د یوې ښځي (دایي) ګواهي کافي ده، نو ځکه موږ وایو چي په ټوله صورتونو کي د یوې ښځي په ګواهي سره نسب ثابتیږي، لکه په هغه صورت کي چي هم د یوې ښځي په ګواهي سره نسب ثابتیږي، کله چي نکاح باقي وي او ښځه کوچنی وزیږوي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چي کله دې ښځي د وضع الحمل اقرار وکړی (چي زما کوچنی پیدا سو)، نو د هغې د اقرار په وجه د هغې عدت تېر سو، او کوم شی چي تېر سي، هغه حجت جوړېدلای نه سي، نو ځکه به د خاوند د انکار په صورت کي له نوي سره د نسب ثابتولو ته ضرورت او حاجت

وي، او له نوي سره د نسب ثابتولو لپاره كامل شهادت او كامل حجت ضروري دی. نو ځکه موږ وايو چې د خاوند د انکار په صورت کې به د شهادت نصاب يعني د دوو عادلو خلكو يا د يوه سړي او دوو ښځو ګواهي شرط وي. د دې په خلک که حمل ظاهر او ښکاره وي، يا خاوند د هغه اقرار کړی وي، نو بيا د نسب ثابتولو ضرورت نسته، لهذا كامل شهادت به هم شرط نه وي، او فقط د يوې ښځې ګواهي به کافي وي.

د معتدة الوفات ښځې د کوچني د نسب ثابتېدلو طريقه

فَإِنْ كَانَتْ مُعْتَدَّةً عَنْ وَفَاةٍ او که ښځه د وفات عدت تېرونکې وي [او بيا هغه د ولادت دعویٰ وکړي] فَصَدَّقَهَا الْوَرَثَةُ فِي الْوِلَادَةِ او وراثان د ولادت په هکله د هغې تصديق وكړي وَلَمْ يَشْهَدْ عَلَى الْوِلَادَةِ أَحَدٌ [لېکن] پر ولادت هيڅ ګواهي نه ورکړي فَهُوَ ابْنُهُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا نو دا کوچنی [زموږ] د ټولو امامانو پر قول د هغه [خاوند] زوی دی وَهٰذَا فِي حَقِّ الْإِرْثِ ظَاهِرٌ او دا [حکم] خو د وراثت په حق کې ښکاره دی لِأَنَّهُ خَالِصُ حَقِّهِمْ ځکه چې ميراث د وارثانو خالص حق دی فَيُقْبَلُ فِيهِ تَصْدِيقُهُمْ نو [ځکه] به په دې کې د هغو تصديق کېږي أَمَّا فِي حَقِّ النَّسَبِ هَلْ يَثْبُتُ فِي حَقِّ غَيْرِهِمْ او پاته سو د نسب په حق کې! نو آيا له وارثانو څخه بغير [د بل چا] په حق کې نسب ثابتيږي قَالُوا: إِذَا كَانُوا مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِ علماؤ فرمايلي دي: که چيري وارثان د شهادت أهل وي يَثْبُتُ نو ثابتيږي لِقِيَامِ الْحُجَّةِ د حجت قائمېدلو په وجه [يعني ځکه چې کامل او شرعي حجت قائم سو] وَلِهٰذَا قِيلَ: تُشْتَرَطُ لَفْظَةُ الشَّهَادَةِ او له همدې وجهې ويل سوي دي: چې د شهادت [ګواهی] لفظ شرط دی وَقِيلَ: لَا تُشْتَرَطُ او [دا هم] ويل سوي دي: چې د شهادت لفظ شرط نه دی لِأَنَّ الثُّبُوتَ فِي حَقِّ غَيْرِهِمْ تَبَعٌ لِلثُّبُوتِ فِي حَقِّهِمْ بِإِقْرَارِهِمْ ځکه چې د وارثانو د اقرار په وجه د نسب ثبوت له دوی څخه بغير د بل چا په حق کې د ثبوت تابع دی وَمَا ثَبَتَ تَبَعًا لَا يُرَاعَى فِيهِ الشَّرَائِطُ او کوم شی چې د تابع په توګه ثابت سي په هغه کې د شرائطو مراعات نه کيږي.

اللغات: ﴿لَا يُرَاعَى﴾ د مفاعلې له باب څخه د نفي صيغه ده: مراعات کول، خيال ساتل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يوې ښځې خاوند مړ سي، او بيا دا ښځه د دوو کالو له پوره کېدلو څخه مخکې د کوچني پيدا کېدلو دعویٰ وکړي، او د خاوند له وارثانو څخه يو څو خلک د دې

دعوىٰ تصديق هم وکړي، لېکن دا خلک د ولادت ګواهي نه ورکړي، نو فقط د هغو تصدق د ولادت د ثبوت لپاره کافي دی، او د هغو په تصديق سره د دې کوچني نسب د خپل پلار سره ثابتيږي، دا مسئله متفق عليها ده.

صاحب د هدايې فرمايي چې د وراثت په حق کې د دې کوچني د نسب ثابتېدل ښکاره دي (يعني د نورو ورثه ؤ (ميراث خوړونکو) په څير به د غه کوچني ته هم د پلار په مال او جائيداد کې حصه ورکول کيږي، او کوچنی به وراث شمارل کيږي)، ځکه چې ميراث خالص د ورثه ؤ حق دی، لهذا د هغو په حق کې به د هغو تصديق خامخا منل کيږي، او په هغه کې به د ګواهی يا د بل قيد شرط نه لګول کيږي.

أما في حق النسب إلخ: د دې عبارت حاصل دا دی چې که وارثان اقرار او تصديق وکړي چې دا کوچنی د فلانکي سړي بچی دی (د دې خاوند بچی نه دی)، نو آيا د دوی په اقرار سره د کوچني نسب د هغه سړي ثابتيږي، که نه؟ نو په دې سلسله کې د علماؤ رايه دا ده چې که اقرار کونکي وارثان د شهادت أهل وي، يعني ټوله نارينه وي، يا ځيني نارينه او ځيني ښځې وي، او ټوله عادلان وي، نو د هغو په اقرار سره د بل چا په حق کې هم نسب ثابتيږي، کنې نه ثابتيږي، ځکه چې دا حجت كامله دی او شهادت تامه دی، او شهادت تامه په هر طرف کې نسب ثابتوي.

ولهذا قيل إلخ: صاحب د کتاب وفرمايل چې اقرار کونکي وارثان به د شهادت أهل وي، نو له همدې وجهې ځيني علماؤ دا شرط لګولی دی چې دا وارثان به د شهادت په لفظ سره ګواهي ورکوي، د دې لپاره چې شهادت مکمل او بشپړ سي، او ځيني حضراتو فرمايلي دي چې د شهادت په لفظ سره ګواهي ورکول شرط نه دي، ځکه چې د دغه وارثانو د اقرار په وجه أصلاً د دوی په حق کې نسب ثابتيږي، او بيا د دوی په واسطه د بل چا په حق کې ثابتيږي (يعني د وارثانو د اقرار په وجه د کوچني نسب د هغو په حق کې أصل دی، او د بل چا په حق کې تابع دی)، او په تابع شي کې د شرائطو خيال نه ساتل کيږي، بلکې هغه له شرائطو څخه بغير هم ثابتيږي.

د منکوحه ښځې د کوچني د نسب ثابتېدلو مودت

وَإِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ إِمْرَأَةً او کله چې سړی د يوې ښځې سره نکاح وکړي فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مُنْذُ يَوْمِ تَزَوَّجَهَا او (بيا) دا ښځه د نکاح له ورځې څخه تر شپږو مياشتو په کم مودت کې بچی وزيږوي لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ نو د هغه نسب نه ثابتيږي لِأَنَّ الْعُلُوقَ سَابِقٌ عَلَى النِّكَاحِ ځکه چې (په دې

صورت کې [علوق پر نکاح مخکې دی فَلَايَكُونُ مِنْهُ نو [ځکه] به هغه له خاوند څخه نه وي وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ فَصَاعِدًا او که دا ښځه پر شپږمه میاشت یا تر دې په زائد مودت کې کوچنی وزېږوي يَثْبُتُ نَسَبُهُ مِنْهُ نو له خاوند څخه د هغه نسب ثابتيږي اعْتَرَفَ بِهِ الزَّوْجُ أَوْ سَكَتَ هغه که خاوند اقرار وکړي یا چپ پاته سي لِأَنَّ الْفِرَاشَ قَائِمٌ وَالْمُدَّةَ تَامَّةٌ ځکه چې فراش [هم] موجود دی او [د ولادت] مودت [هم] پوره دی فَإِنْ جَحَدَ الْوِلَادَةَ بیا که خاوند د ولادت انکار وکړي يَثْبُتُ بِشَهَادَةِ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ تَشْهَدُ بِالْوِلَادَةِ نو هغه [ولادت] د یوې داسي ښځې په ګواهی سره ثابتيږي کوم چې د ولادت ګواهي ورکړي حَتَّى لَوْ نَفَاهُ الزَّوْجُ تر دې که خاوند د هغه [بچي] نفي وکړي يُلَاعِنُ نو لعان به کوي لِأَنَّ النَّسَبَ يَثْبُتُ بِالْفِرَاشِ الْقَائِمِ ځکه چې په قائم [او موجود] فراش سره [خامخا] نسب ثابتيږي وَاللِّعَانُ إِنَّمَا يَجِبُ بِالْقَذْفِ او [دلته] لعان [فقط] د تهمت لګولو په وجه واجبيږي وَلَيْسَ مِنْ ضَرُورَتِهِ وُجُودُ الْوَلَدِ او د لعان لپاره د بچي موجودېدل ضروري نه دي فَإِنَّهُ يَصِحُّ بِدُونِهِ ځکه چې لعان بغیر له بچي څخه [هم] صحیح کيږي.

اللغات: ﴿عُلُوق﴾ د ښځې په رحم کې نطفه قرار نیول. حامله کېدل (اِسْتِقْرَارُ الْحَمْلِ). ﴿فَصَاعِدًا﴾ یا تر دې زیات. ﴿نَفَا﴾ د ضرب ماضي ده: نفي کول (د کوچني د نسب انکار کول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که یو څوک د یوې ښځې سره نکاح وکړي. او هغه ښځه د نکاح له ورځې څخه تر شپږو میاشتو مخکې کوچنی وزېږوي. نو د هغه کوچني نسب د دې سړي سره نه ثابتيږي، ځکه چې د حمل أقل مودت شپږ میاشتي دی. او څرنګه چې دا کوچنی تر شپږو میاشتو مخکې پیدا سوی دی، نو ځکه به هغه د خاوند له وطي او نطفې څخه نه وي. نو نسب به يې هم د خاوند سره نه ثابتيږي. لېکن که د نکاح له وخت څخه شپږ میاشتي وروسته یا له هغه څخه په زیات مودت کې کوچنی پیدا سي، نو بیا د هغه نسب د خاوند (پلار) سره ثابتيږي. برابره ده خاوند د هغه د ولادت اقرار وکړي یا سکوت اختیار کړي، په دې دواړو صورتونو کې د کوچني نسب د خاوند سره ثابتيږي. ځکه چې د هغه مور د خاوند فراش ده. او د ولادت مودت (یعني شپږ میاشتي) هم پوره سوي دي.

هو! که تر شپږو میاشتو وروسته کوچنی پیدا سي او خاوند د هغه د ولادت انکار وکړي. نو په دې صورت کې فقط د یوې داسي ښځې په ګواهي سره د کوچني ولادت ثابتيږي چې هغه د ولادت (یعني د ښځې د لنګوالي) په وخت کې موجوده وي (هغه که دایي وي یا بله ښځه وي). او د بل

شهادت هيڅ ضرورت نسته. لېکن که خاوند اوس هم هغه خپل بچی نه شماري او د هغه نفي ذکړي.
نو بيا پر خاوند لعان واجب دی، ځکه کله چي صحيح فراش موجود وي، نو د بيا د نسب په ثبوت کي
هيڅ تردّد پکار نه دی. لېکن کله چي خاوند په دې صورت کي هم تردّد پيدا کړي، نو د هغه دا تردّد او
انکار د هغه پر بد معاشۍ او سر زورۍ دلالت کوي، نو ځکه به هغه لعان کوي.

والـلعان إنمـا تجب إلـخ: دا د يـو مقدر اعتراض جواب دی، اعتراض دا دی چي دلته د يـوې ښځي په
ګواهۍ سره د کوچني ولادت ثابت سوی دی، او بيا د خاوند د انکار کولو په وجه پر هغه لعان واجب
سو، نو حاصل يې دا سو چي دلته د يوې ښځي په ګواهۍ سره لعان واجب سو! حالانکي لعان د حدّ
په درجه کي دی چي د هغه لپاره کامل شهادت ضروري دی (يعني دوه خلک يا يـو سړی او دوې
ښځي)، نو د دې په جواب کي فرمايي چي دلته د ښځي په ګواهۍ سره لعان واجب سوی نه دی، او نه د
خاوند د انکار کولو په وجه لعان واجب سوی دی، بلکي لعان په دې وجه واجب سو چي خاوند په
خپل انکار سره پر ښځي د زنا تهمت ولګوی (او مخکي ذکر سوه چي لعان د همدغه تهمت په وجه
واجبيږي)، همدا وجه ده که تر اوسه د يو ښځي کوچنی پيدا سوی نه وي، او خاوند پر هغې دَزنا
تهمت ولګوي، نوهم پر خاوند لعان واجبيږي، لهذا دا اعتراض کول صحيح نه دي (چي دلته د يوې
ښځي په ګواهۍ سره لعان واجب سو).

د نکاح په مودت کي د اختلاف پر وخت د معتبر قول بيان

فَإِنْ وَلَدَتْ ثُمَّ اخْتَلَفَا او که ښځه بچی وزيږوي [او] بيا خاوند او ښځه [په هغه کي] اختلاف وکړي
فَقَالَ الزَّوْجُ: تَزَوَّجْتُكِ مُنْذُ أَرْبَعَةِ او خاوند ووايي: ما له څلورو مياشتو څخه ستا سره نکاح کړې ده
[يعني زما او ستا د نکاح فقط څلور مياشتي کيږي] وَقَالَتْ هِيَ: مُنْذُ سِتَّةِ أَشْهُرٍ او ښځه ووايي: چي له شپږو
مياشتو څخه [تا زما سره نکاح کړې ده] فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا نو قول به د ښځي معتبر وي وَهُوَ ابْنُهُ او دا کوچنی
به د خاوند زوی دی لِأَنَّ الظَّاهِرَ شَاهِدٌ لَهَا ځکه چي ظاهري حالت د ښځي لپاره ګواه دی فَإِنَّهَا تَلِدُ
ظَاهِرًا مِنْ نِكَاحٍ لَا مِنْ سِفَاحٍ ځکه چي ظاهري حالت همدا دی چي هغې له نکاح څخه کوچنی زيږولی
دی، نه له زنا څخه وَلَمْ يَذْكُرِ الِاسْتِحْلَافَ وَهُوَ عَلَى الِاخْتِلَافِ او [دلته] امام محمد رَحِمَهُ الله د قسم
اخيستلو يادونه کړې نه ده [ځکه چي] دا مسئله پر اختلاف ده.

اللغات: ﴿سِفَاح﴾ بدکاري، زنا. ﴿إِسْتِحْلَاف﴾ د استفعال مصدر دی: قسم اخيستل. قسم خوړل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د کوچني تر پيدا ينبت وروسته خاوند او ښځه اختلاف وکړي، خاوند ووايي چي څلور مياشتي مخکښي نکاح سوې وه، نو دا کوچنی زمانه دی. او ښځه ووايي چي شپږ مياشتي مخکي نکاح سوې وه، لهذا دا ستا بچی دی. او د خاوند سره هيڅ ګواه نه وي. نو په دې صورت کي به د ښځي خبره منل کيږي؛ ځکه چي دا ښځه اوس د خاوند فراش ده. نو ظاهري حالت د همدې ګواهي ورکوي چي دا کوچنی له نکاح څخه پيدا سوی دی، نه له زنا څخه. لهذا تر څو چي خاوند د دې په خلاف ګواهي پېش نه کړي، تر هغه وخته به د کوچني نسب د خاوند سره ثابت منل کيږي.

ولم يذکر إلخ: قاعده دا ده چي کله د يو کس (منکر) خبره منل کيږي نو د قسم سره د هغه خبره منل کيږي (يعني له هغه څخه به قسم اخيستل کيږي). ليکن دلته په متن کي (کوم چي د جامع صغير عبارت دی) د قسم اخيستلو تذکره نسته. د دې وجه دا ده چي د نکاح او طلاق شپږ مسئلې داسي دي چي په هغه کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د منکر خبره له قسم څخه بغير منل کيږي. او د صاحبينو په نيز د قسم سره منل کيږي. او له هغه شپږو مسئلو څخه يوه مسئله همدا ده. نو ځکه دلته د قسم يادونه سوې نه ده.

که خاوند طلاق پر ولادت معلق کړی وي نو په دې صورت کي د ولادت په هکله د يوې ښځي د ګواهۍ حکم

وَإِنْ قَالَ: لِامْرَأَتِهِ إِذَا وَلَدْتِ وَلَدًا فَأَنْتِ طَالِقٌ او که [خاوند] خپلي ښځي ته ووېل: کله چي ته کوچنی وزېږوې نو [پرما] طلاقه يې **فَشَهِدَتْ اِمْرَأَةٌ عَلَى الْوِلَادَةِ** [او] بيا يوې ښځي [د کوچني] پر زېږېدلو ګواهي ورکړه **لَمْ تَطْلُقْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ** ۞ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله هغه نه طلاقيږي **وَقَالَ: أَبُوْيُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: تَطْلُقُ** او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي طلاقيږي **لِأَنَّ شَهَادَتَهَا حُجَّةٌ فِي ذٰلِكَ** ځکه چي د ولادت په هکله د يوې ښځي ګواهي حجت ده **قَالَ ﷺ ❶: شَهَادَةُ النِّسَاءِ جَائِزَةٌ فِيمَا لَا يَسْتَطِيعُ الرِّجَالُ النَّظَرَ إِلَيْهِ** نبي ﷺ فرمايلي دي: په هغه اُمورو کي د ښځو ګواهي جائز ده چي خلک هغوی ته د کتلو قدرت نه لري **وَلِأَنَّهَا لَمَّا قُبِلَتْ فِي الْوِلَادَةِ** او ځکه کله چي په ولادت کي د يوې ښځي

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، کما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله (فتح القدير ج:۴، ص:۱۸۰)، و کذا في الهندية (ج:۱، ص:۲۲۲). [القول الراجح ج:۱، ص: ۳۷۷]

❶ تخريج: أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه، باب ما يجوز فيه شهادة النساء، حديث رقم: ۲۰۷۰۸ بمعناه.

گواهي مقبوله ده تُقْبَلُ فِيمَا يَنْبَنِي عَلَيْهَا نو په هغه شي كي به هم قبليږي كوم چي پر ولادت مبني وي وَهُوَ الطَّلَاقُ او هغه طلاق دى وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهَا ادَّعَتِ الْحِنْثَ او د امام صاحب دليل دا دى: چي [دلته] ښځي [د خاوند] د حانث كېدلو دعوىٰ كړې ده فَلَا يَثْبُتُ إِلَّا بِحُجَّةٍ تَامَّةٍ لهذا د كامل حجت څخه بغير به هغه نه ثابتيږي وَهٰذَا لِأَنَّ شَهَادَتَهُنَّ ضَرُورِيَّةٌ فِي حَقِّ الْوِلَادَةِ او دا [حكم] ځكه [دى] چي د ولادت په حق كي د ښځو گواهي د ضرورت پر بناء [جائز] ده فَلَا تَظْهَرُ فِي حَقِّ الطَّلَاقِ نو [ځكه] به د طلاق په حق كي هغه [د ولادت گواهي] نه ښكاره كيږي [او د طلاق په حق كي به أثر نه كوي] لِأَنَّهُ يَنْفَكُّ عَنْهَا ځكه چي طلاق له ولادت څخه جلا كېداى سي.

اللغت: ﴿إِدَّعَتْ﴾ د افتعال له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي مجهولي صيغه ده. په اصل كي إِدْتَعَتْ وو: دعوىٰ كول (دعوه كول). **﴿حِنْث﴾** مصدر دى: حانث كېدل. قسم ماتېدل (قسم نه پوره كول). **﴿إِنْشَاء﴾** د افعال مصدر دى: پيدا كېدل (د مشروط شرط موجودېدل). **﴿حُجَّة تَامَّة﴾** كامل حجت. د دوو خلكو شهادت ته يا د يوه سړي او دوو ښځو شهادت ته "حجت تامّه" وايي. او د يوې ښځي شهادت ته "حجت ناقصه" وايي. **﴿يَنْفَكُّ﴾** د انفعال مضارع ده: جلا كېدل.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دى كه يو سړى خپلي ښځي ته داسي وويل: كله چي ستا كوچنى پيدا سي. نو ته پر ما طلاقه يې. او يو څو مياشتي وروسته يو بلي ښځي گواهي وركړه چي د هغې ښځي كوچنى پيدا سو. او حالت دا وو چي تر اوسه د هغې په نس كي نه حمل ښكاره سوى وو او نه خاوند د هغې د حمل اقرار كړى وو. او اوس هم خاوند د ولادت انكار و كړى (چي ته درواغ وايې! له دې ښځي څخه زما بچى نه دي پيدا سوى). نو په دې صورت كي د امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمان دا دى چي دا ښځه مطلقه نه گرځي. ليكن صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي پر دې ښځي طلاق واقع كيږي.

د صاحبينو دليل: دا دى چي د ولادت مسئله او مرحله د ښځو سره خاص ده. او د ولادت د ثبوت لپاره فقط د يوې ښځي گواهي هم كافي ده. لكه څرنگه چي دا حديث هم د دې تائيد كوي: "شهادة النساء جائزة فيما لا يستطيع الرّجال النظر إليه" (يعني كومو شيانو ته چي د سړي كتل جائز نه وي. په هغوى كي فقط د ښځو گواهي جائز ده. [او هلته به د ښځي د گواهى مطابق فيصله كيږي]). نو ځكه به د يوې ښځي په گواهى سره ولادت ثابتيږي. او څرنگه چي دلته خاوند طلاق پر ولادت

معلق کړی وو. لهذا کله چې ولادت ثابت سو. نو خامخا به طلاق هم واقع کیږي. او دا ښځه به مطلقه ګرځي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې دلته ښځې د ولادت په دعوی سره د خاوند د حانث کېدلو يعني د طلاق واقع کېدلو دعوی کړې ده (يعني کله چې خاوند طلاق پر ولادت معلق کړی. او ښځې وويل چې زما کوچنی پيدا سو. نو د دې مطلب دا دی چې زه طلاقه يم. او ته (خاوند) په خپل قسم کې حانث سوې). او څرنګه چې خاوند د دې مُنکر دی. او دا يوه أهمه معامله ده. نو ځکه به د دې د ثبوت لپاره حجت کامله او شهادت تامه پکار وي، او د يوې ښځې ګواهي حجت ناقصه دی. نو ځکه به د هغې په ګواهی سره د طلاق وقوع نه ثابتيږي. ها! د هغې په ګواهی سره به فقط ولادت او نسب ثابتيږي. ځکه چې د ولادت په باره کې د ضرورت پر بناء د ښځو ګواهي معتبره ده. او قاعده دا ده چې "الضَّرُوْرَةُ تَتَقَدَّرُ بِقَدْرِهَا" (يعني کوم شی چې ضرورتاً ثابت وي. هغه د ضرورت په اندازه ثابتيږي. تر ضرورت تجاوز نه کيږي). لهذا د يوې ښځې (دايي) ګواهي به فقط د ولادت په ثبوت کې مؤثره وي. لېکن د طلاق په وقوع کې به د هغه هيڅ أثر نه وي. ځکه چې طلاق له ولادت څخه عليحده شی دی. يعني په دې دواړو کې تلازم نسته چې که ولادت وو نو طلاق به خامخا وي. ځکه کله نا کله طلاق وي او ولادت نه وي، او کله ولادت وي او طلاق نه وي. لهذا کله چې د يوې ښځې په ګواهی سره ولادت ثابت سي نو له هغه څخه دا نه لازميږي چې طلاق دې هم په هغه ګواهي سره ثابت سي (بلکې د طلاق لپاره حجت تامه او کامل شهادت پکار دی).

په پورتني صورت کې د حمل په هکله د خاوند د اقرار حکم

وَإِنْ كَانَ الزَّوْجُ قَدْ أَقَرَّ بِالْحَبَلِ او که خاوند [د ښځې] د حامله کېدلو اقرار کړی وي طَلُقَتْ مِنْ غَيْرِ شَهَادَةٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا ښځه له ګواهی څخه بغير طلاقيږي وَعِنْدَهُمَا[*] تُشْتَرَطُ شَهَادَةُ الْقَابِلَةِ او د صاحبينو په نيز به د دايي ګواهي شرط وي لِأَنَّهُ لَابُدَّ مِنْ حُجَّةٍ لِدَعْوَاهَا الْحِنْثَ ځکه چې د ښځې د حنث د دعوی لپاره حجت ضروري دی [يعني د ښځې دا دعوی کول چې خاوند حانث سوی دی د هغه لپاره حجت ضروري دي] وَشَهَادَتُهَا حُجَّةٌ فِيهِ او د دايي [يعني د يوې ښځې] ګواهي په دې هکله حجت ده عَلَى مَا بَيَّنَّا لکه [مخکې] چې موږ [د دې] بيان وکړی وَلَهُ: أَنَّ الْإِقْرَارَ بِالْحَبَلِ إِقْرَارٌ بِمَا

---

[*] القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله (فتح القدير ج:۴، ص:۱۸۰)، وكذا في الكفاية (ج:۴، ص:۱۸۰)، وكذا في رد المحتار (ج:۲، ص:۶۸۳). [القول الراجح ج:۱، ص: ۳۷۸]

يُفْضِي إِلَيْهِ د امام صاحب دليل دا دی: چي د حمل إقرار د هغه شي اقرار دی چي د هغه وطرف ته حمل رسېدل کوي [يعني د حمل په اقرار کي د هغه شي اقرار هم شامل دی چي حمل د هغه سبب دی] وَهُوَ الْوِلَادَةُ او هغه ولادت دی [يعني حمل د ولادت سبب دی. نو د حمل اقرار به ولادت لره هم شامل وي] وَلِأَنَّهُ أَقَرَّ بِكَوْنِهَا مُؤْتَمِنَةً او په دې وجه [هم] چي خاوند د ښځي د امانتداری اقرار کړی دی فَيُقْبَلُ قَوْلُهَا فِي رَدِّ الْأَمَانَةِ نو د امانت په واپس کولو کي به د ښځي خبره منل کیږي.

اللغات: ﴿حَبَل﴾ مصدر دی: حمل، حامله کېدل. ﴿قَابِلَة﴾ دایي، دایه، هغه ښځه چي د لنګوالي په وخت کي د لنګي ښځي خدمت کوي او د کوچني په زېږيدو کي د هغې مرسته کوي. ﴿مُؤْتَمِنَة﴾ د افتعال مؤنث اسمِ فاعل دی: امان ساتونکې ښځه (امانتداره).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که خاوند خپلي ښځي ته ووايي: کله چي ستا کوچنی پیدا سي، نو ته پر ما طلاقه يې، او تر دې وروسته خاوند د خپلي ښځي د حمل اقرار وکړي (چي هغه حامله ده)، او بيا چي کله ښځه د ولادت دعویٰ وکړي (چي زما کوچنی پيدا سو)، نو خاوند د هغه انکار نه وکړي، نو دا ښځه له شهادت او ګواهۍ څخه بغير د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز طلاقيږي. لېکن صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي په دې صورت کي هم د طلاق د وقوع لپاره د مخکي په څير د يوې ښځي (يعني د دايي) ګواهي شرط ده.

د صاحبينو دليل: دا دی چي دغه ښځي د ولادت د دعویٰ کولو په وجه د خپل خاوند د حانث کېدلو دعویٰ کړې ده. لهذا د دې لپاره يو حجت ضروري دی، او دا حجت د يوې ښځي (دايي) په ګواهۍ سره ثابتيږي. نو ځکه به د طلاق د وقوع لپاره د يوې ښځي ګواهي شرط وي، ځکه چي د ولادت په سلسله کي همدا يوه ګواهي حجت ده.

د امام صاحب دليل: دا دی چي دلته د خاوند اقرار د ولادت د ثبوت لپاره تر ټولو ښکاره او څرګند دليل دی. او په دې اقرار کي د ولادت اقرار هم شامل دی، يعني د حمل په اقرار کولو سره ګواکي خاوند د ولادت اقرار هم کړی دی. نو ځکه اوس به د ګواهۍ هيڅ ضرورت نه وي.

دويم دليل دا دی چي کله خاوند د ښځي د حامله کېدلو اقرار وکړی، نو د هغه په ضمن کي د دې خبري اقرار هم راغلی چي دا ښځه امانتداره ده او د هغې په نس کي فقط د خاوند نطفه ده. او قاعده دا ده چي د امانت په سلسله کي د امانتدار (أمين) خبره منل کيږي، نو ځکه به دلته هم د ردُّ الأمانت (يعني د ولادت) په هکله د شهادت څخه بغير د ښځي خبره منل کيږي، او ښځه به طلاقيږي.

د حمل اکثره مودت

قال: وَأَكْثَرُ مُدَّةِ الْحَمْلِ سَنَتَانِ فرمايي: چې د حمل اکثره مودت دوه کاله دی لِقَوْلِ* عَائِشَةَ ځکه چې حضرت عائشې رَحِمَهُ الله فرمايلي دي اَلْوَلَدُ لَا يَبْقَى فِي الْبَطْنِ أَكْثَرَ مِنْ سَنَتَيْنِ وَلَوْ بِظِلِّ مَغْزَلٍ کوچنی تر دوو کالو زيات د مور په نس کي نه پاتيږي که څه هم هغه د څرخې د کړی د سايې په څير اباريک او نری ا وي ادانسان کوچنی عموماً په نهو مياشتو کي پيدا کيږي، او که څه هم کوچنی د حمل په وخت کي دومره باريک وي چې ګرسره په سترګو نه ليدل کيږي، نو بيا هم په دوو کالو کي په کرار. کرار غټيدلو سره پوره کيږي او پيدا کيږي. تر دې زيات هغه په نس کي پاتېدای نه سي. نو په دې وجه د حمل اکثره مودت دوه کاله دی. نه زيات ا

وَأَقَلُّهُ سِتَّةُ أَشْهُرٍ او د حمل کم مودت شپږ مياشتي دی ايعني کم از کم په شپږو مياشتو کي هم سالم بشپړ کوچنی پيدا کېدلای سي. تر هغه مخکي سالم کوچنی امکان نه لري، او که تر شپږو مياشتو مخکي سالم کوچنی پيدا سي. نو د هغه مطلب به دا وي چې د ښځي سره تر شپږو مياشتو مخکي وطي سوي دي، دليل راتلونکی آيت دی ا لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا [الأحقاف: ۱۵] ځکه چې الله تعالیٰ فرمايلي دي: چې د بچي حمل او اله تي څخه ا د هغه پرېکول په دېرشو [۳۰] مياشتو کي وي ثُمَّ قال: وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ [لقمان: ۱۴] بيا يې فرمايلي دي: او اله تي څخه ا د هغه پرېکول په دوو کالو کي وي فَبَقِيَ لِلْحَمْلِ سِتَّةُ أَشْهُرٍ نو د حمل لپاره شپږ مياشتي پاته سوې ايعني په اول آيت کي د حمل مودت او د شيدو ورکولو مودت دېرش مياشتي ټاکل سوی دی. او په دويم آيت کي د شيدو ورکولو مودت دوه کاله ټاکل سوی دی چې ښځه به دوه کاله کوچني ته شيدې ورکوي لکه په دې آيت کي چې هم دغه مودت ذکر سوی دی: ''وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ''. نو د حمل لپاره شپږ مياشتي پاته سوې. لهذا په دې آيت سره ثابته سوه چې د حمل کم از کم مودت شپږ مياشتي دی ا وَالشَّافِعِيُّ يُقَدِّرُ الْأَكْثَرَ بِأَرْبَعِ سِنِينَ او امام شافعي رَحِمَهُ الله د حمل اکثره مودت په څلورو کالو سره اندازه کړی دی اد هغه دليل دا دی چې ځيني کوچنيان تر دوو کالو زيات د مور په نس کي پاتيږي، لکه محمد بن عجلان چې د مور په نس کي څلور کاله پاته وو، او ضحاک بن مزاحم پنځه کاله پاته وو. لهذا دوه کاله د حمل اکثره مودت ټاکل صحيح نه دي ا وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا رَوَيْنَاهُ او زموږ روايت کړی سوی أثر د هغه په خلاف حجت دی وَالظَّاهِرُ أَنَّهَا قَالَتْهُ سَمَاعًا او ظاهري حالت همدغه دی چې حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به دا أثر اله نبي ﷺ څخه ا اورېدلی او ذکر کړی وي إِذِ الْعَقْلُ لَا

* أثر: دا أثر په سنن بيهقي کي ذکر سوی دی (سنن البيهقي، باب ما جاء في أكثر الحمل، ج:۷، ص:۷۲۸، رقم:۱۵۵۵۲).

يَهْتَدِيْ إِلَيْهِ ځکه چي عقل و دې طرف ته لار نه سي پيدا کولای ايعني عقل و دغه اندازې او مودت ته نه سي رسېدلای. لهذا دا أثر د حديث په درجه کي سو. نو ځکه به د حمل أکثره مودت دوه کاله وي ا.

اللغات: ﴿ظِلّ﴾ سايه. ﴿مَغْزَل﴾ د څرخې کړی (ګردی او سپنيزه حلقه). څرخه هغه آلې ته وايي. چي د هغې په ذريعه له مالوچو (پمبې) څخه تارونه جوړيږي. د څرخې په مينځ کي د تار جوړلو لپاره د اوسپنې ګردی کړی (حلقه) وي. کله چي هغه سر- ګرځي راګرځي. نو سايه يې دومره انتهائي باريکه وي چي ګرسره نه ليدل کيږي. د ظِلّ مَغْزَل مطلب دا دی چي که حمل دومره کوچنی او باريک وي لکه د څرخې د کړي سايه. نو بيا هم هغه خامخا په دوو کالو کي غځيږي او دباندي راوځي. ﴿فِصَال﴾ له تي څخه د کوچني پرېکول. له شيدو څخه پرېکول.

تشريح: مسئله په عبارت کي تشريح سوه.

د مطلقه مينځي د رانيولو په صورت کي د هغې د کوچني د نسب حکم

وَمَنْ تَزَوَّجَ أَمَةً فَطَلَّقَهَا او کوم سړی چي د يوې مينځي سره نکاح وکړي او [بيا تر وطي وروسته] طلاق ورکړي ثُمَّ اشْتَرَاهَا او بيا دا سړی هغه مينځه رانيسي فَإِنْ جَاءَتْ بِوَلَدٍ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مُنْذُ يَوْمِ اشْتَرَاهَا نو که هغه مينځه د رانيولو له ورځي څخه تر شپږو مياشتو په کم مودت کي کوچنی وزيږوي لَزِمَهُ وَإِلَّا لَمْ يَلْزَمْهُ نو د خاوند سره به هغه [يعني د کوچني نسب] لازميږي، کني نه به لازميږي لِأَنَّهُ فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ وَلَدُ الْمُعْتَدَّةِ ځکه چي په اول صورت کي دا کوچنی د معتدې ښځي بچی دی فَإِنَّ الْعُلُوقَ سَابِقٌ عَلَى الشِّرَاءِ ځکه چي [په اول صورت کي] علوق پر رانيولو مخکي سوی دی وَفِي الْوَجْهِ الثَّانِي وَلَدُ الْمَمْلُوكَةِ او په دويم صورت کي هغه د مملوکه ښځي بچی دی لِأَنَّهُ يُضَافُ الْحَادِثُ إِلَى أَقْرَبِ وَقْتِهِ ځکه چي نوی پيدا سوی شی خپل نژدې وخت ته منسوب کيږي فَلَا بُدَّ مِنْ دَعْوَةٍ نو ځکه [د نسب] دعویٰ کول ضروري دي وَهٰذَا إِذَا كَانَ الطَّلَاقُ وَاحِدًا بَائِنًا أَوْ خُلْعًا أَوْ رَجْعِيًّا او دا تفصيل په هغه وخت کي دی کله چي يو طلاقِ بائن وي يا خلع وي يا يو طلاق رجعي وي أَمَّا إِذَا كَانَ اثْنَتَيْنِ لېکن که دوه طلاقه وي يَثْبُتُ النَّسَبُ إِلَى سَنَتَيْنِ مِنْ وَقْتِ الطَّلَاقِ نو [په دې صورت کي] د طلاق له وخت څخه تر دوو کالو پوري نسب ثابتيږي لِأَنَّهَا حَرُمَتْ عَلَيْهِ حُرْمَةً غَلِيظَةً ځکه چي مينځه [په دوو طلاقو سره] پر خپل خاوند په حرمت غليظه سره حرامه سوه فَلَا يُضَافُ الْعُلُوقُ إِلَّا إِلَى مَا قَبْلَهُ لهذا علوق به [فقط]

له طلاق څخه د مخکني حالت وطرف ته منسوب کيږي لِأَنَّهَا لَا تَحِلُّ بِالشِّرَاءِ ځکه چي په رانيولو سره دا مينځه حلاله نه ګرځي.

اللغات: ﴿يُضَافُ﴾ د مفاعلي مضارع ده: نسبت کول، منسوب کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د بل چا د مينځي سره نکاح وکړي، او تر وطي وروسته هغې ته طلاق ورکړي، او بيا (تر عدت وروسته) مينځه رانيسي، نو که د رانيولو له وخت څخه تر شپږو مياشتو په کم مودت کي دا مينځه کوچنی وزيږوي. نو د مشتري (خاوند) پر ذمه به د هغه نسب لازم وي او د مشتري سره به د هغه نسب ثابتيږي. او که له شپږو مياشتو څخه په زيات مودت کي کوچنی پيدا سي. نو بيا د مشتري (خاوند) پر ذمه د هغه نسب نه لازميږي.

دا دوه صورتونه سول. د اول صورت دليل دا دی چي تر شپږو مياشتو په کم مودت کي د کوچني په پيدا کېدلو سره دا خبره ثابته سوه چي دلته تر رانيولو مخکي دغه نطفې د مينځي په رحم کي قرار نيولی دی. او تر رانيولو مخکي مينځه معتده وه (يعني د طلاق په عدت کي وه)، نو ځکه دا د معتدې ښځي بچی سو. او د معتدې ښځي د بچي نسب له دعوىٰ څخه بغير ثابتيږي. نو ځکه به په دې صورت کي د دغه کوچني نسب پر خاوند لازم وي. او په دويم صورت کي يعني کله چي له شپږو مياشتو څخه په زيات مودت کي کوچنی پيدا سي، نو په دې صورت کي دا خبره ښکاره سوه چي تر رانيولو وروسته د ملک يمين په حالت کي نطفې قرار نيولی دی، نو دا د مملوکه مينځي بچی سو، ځکه قاعده دا ده چي حادث (نو پيدا سوی شی) هغه وخت ته منسوب کيږي کوم چي هغه ته نژدې وي، نو ځکه موږ وايو چي په دې دويم صورت کي د نسب دعوىٰ کول ضروري دي.

وهذا إذا إلخ: فرمايي چي دا مخکي بيان سوی تفصيل په هغه صورت کي دی کله چي خاوند دغه مينځي ته يو طلاق بائن يا يو طلاق رجعي ورکړی وي، يا هغې د خاوند سره خلع کړې وي، ليکن که خاوند هغې ته دوه طلاقه ورکړي وي، نو د طلاق له وخت څخه تر دوو کالو پوري نسب ثابتيږي، ځکه چي د مينځي په حق کي دوه طلاقه طلاق مغلظ دی، لهذا په دوو طلاقو سره مينځه مغلظه بائنه وګرځېده او د خاوند لپاره حرامه سوه، نو اوس د خاوند لپاره د هغې سره وطي کول ممکن نه دي، نه د نکاح په توګه او نه د ملک يمين په توګه، لهذا اوس به د مَا بَعْدَ الطَّلَاقِ وطرف ته علوق نه منسوب کيږي، بلکي هغه به د قبل الطلاق پر حالت باندي حمل کيږي، او که د طلاق له وخت څخه په دوو کالو کي دننه کوچنی پيداسو، نو د هغه نسب به ثابتيږي.

د أم ولد جوړېدلو يو صورت

وَمَنْ قَالَ: لِأَمَتِهِ: إِنْ كَانَ فِي بَطْنِكِ وَلَدٌ او کوم سړی چي خپلي مينځي ته ووايي: که چيري ستا په نس کي کوچنی وي فَهُوَ مِنِّي نو هغه زما [له نطفې] څخه دی فَشَهِدَتْ عَلَى الْوِلَادَةِ امْرَأَةٌ او بيا يوه ښځه [د کوچني] پر ولادت ګواهي ورکړي فَهِيَ أُمُّ وَلَدِهِ نو هغه مينځه به د دې سړي أم ولد وي لِأَنَّ

الْحَاجَةَ إِلَى تَعْيِينِ الْوَلَدِ ځکه چې حاجت [فقط] د کوچني وتعيين ته دی ايعني اوس فقط د دې خبرې ضرورت سته چې د کوچني ولادت متعين سي] وَيَثْبُتُ ذٰلِكَ بِشَهَادَةِ الْقَابِلَةِ بِالْإِجْمَاعِ او [د ولادت تعيين] بالاتفاق د دايي په ګواهۍ سره ثابتيږي.

اللغات: ﴿قَابِلَة﴾ دايي، دايه (هغه ښځه چې د لنګوالي په وخت کي د لنګي ښځي مرسته کوي).

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که مالک خپلي مينځي ته ووايي: که ستا په نس کي کوچنی وي، نو هغه زما بچی دی، نو په دې نسره مالک د کوچني اقرار هم وکړی او دعوی يې هم وکړه، لهذا اوس که فقط يوه ښځه د کوچني د ولادت ګواهي ورکړي (چې دا کوچنی له همدغه مينځي څخه پيدا سوی دی)، نو د کوچني نسب د مالک سره ثابتيږي، دا مسئله متفق عليها ده.

آيا د کوچني د نسب ثبوت به د هغه مور ته متعدي کيږي، که نه؟

وَمَنْ قَالَ لِغُلَامٍ: هُوَ ابْنِيْ او کوم سړی چې د يوه هلک په باره کي ووېل: چې هغه زما زوی دی ثُمَّ مَاتَ بيا دا سړی مړ سو فَجَاءَتْ أُمُّ الْغُلَامِ وَقَالَتْ أَنَا امْرَأَتُهُ او [بيا] د هلک مور راغله او ويې ويل: چې زه د دې سړي ښځه يم فَهِيَ امْرَأَتُهُ وَهُوَ ابْنُهُ يَرِثَانِهِ نو [د هلک مور] به د هغه ښځه وي او هلک به د هغه زوی وي [او] دواړه به د هغه وارثان [ميراث خوره] ګرځي وَفِي النَّوَادِرِ: جُعِلَ هٰذَا جَوَابُ الْاِسْتِحْسَانِ او په نوادر کي دا حکم استحسان ګرځول دی [يعني د استحسان همدا تقاضا ده چې هلک او ښځه (مور) دواړه وارثان وګرځي] وَالْقِيَاسُ: أَنْ لَا يَكُوْنَ لَهَا الْمِيْرَاثُ او قياس دا دی: چې د ښځي لپاره به ميراث نه وي لِأَنَّ النَّسَبَ كَمَا يَثْبُتُ بِالنِّكَاحِ الصَّحِيْحِ يَثْبُتُ بِالنِّكَاحِ الْفَاسِدِ وَبِالْوَطْءِ عَنْ شُبْهَةٍ وَبِمِلْكِ الْيَمِيْنِ ځکه نسب چې څرنګه په نکاحِ صحيح سره ثابتيږي [همداسي] په نکاحِ فاسد او وطي بالشبهه او ملکِ يمين سره هم ثابتيږي فَلَمْ يَكُنْ قَوْلُهُ إِقْرَارًا بِالنِّكَاحِ نو د هغه [مړه سړي] قول به د نکاح اقرار نه وي وَجْهُ الْاِسْتِحْسَانِ: أَنَّ الْمَسْأَلَةَ فِيْمَا إِذَا كَانَتْ مَعْرُوْفَةً بِالْحُرِّيَّةِ وَبِكَوْنِهَا أُمَّ الْغُلَامِ او د استحسان دليل دا دی: چې مسئله په هغه صورت کي فرض کړی سوې ده کله چې د هغې ښځي آزادوالی او د هلک مور کېدل مشهوره وي وَالنِّكَاحُ الصَّحِيْحُ هُوَ الْمُتَعَيِّنُ لِذٰلِكَ وَضْعًا وَعَادَةً او د نسب د ثبوت لپاره د وضع او عادت په اعتبار سره نکاحِ صحيح متعين ده.

اللغات: ﴿يَرِثَان﴾ د ضرب له باب څخه د تثنيه مذکر غائب صيغه ده: وارث کېدل (د مړي ميراث خوره جوړېدل، د مړي په مال کي د ميراث حقداره کېدل).

تشریح : صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي د یوه هلک په باره کې ووېل چې "دا زما زوی دی". او بیا هغه سړی مړ سو. او د هلک مور راغله چې زه د هغه سړي ښځه یم او دا هلک د هغه زوی دی. نو استحساناً به مور او زوی دواړه د مړ سوي کس وارثان (میراث خوره) وي. لېکن د قیاس تقاضا دا ده چې فقط زوی به د هغه وارث وي او ښځه به وارثه نه وي؛ ځکه چې پلار فقط د زوی د نسب اقرار کړی دی. نه د مور. او د زوی اقرار د مور اقرار لره مستلزم نه دی. ځکه چې له نکاحِ صحیح څخه بغیر په نکاحِ فاسد کې هم په وطي کولو سره زوی پیدا کېدای سي. همدارنګه په وطي بالشبهه او ملکِ یمین کې هم په وطي کولو سره زوی پیدا کېدای سي. لهذا د مړ سوي کس دا قول "هٰذا إبْنِيْ" به فقط د زوی په حق کې مفید وي، او دا به د نکاح اقرار نه وي. نو په دې وجه به فقط زوی د هغه وارث وي. نه مذکوره ښځه.

د استحسان دلیل دا دی چې دا مسئله په هغه صورت کې فرض کړی سوې ده چې کله په خلګو کې دا خبره مشهوره وي چې دا ښځه آزاده ده. د دې لپاره چې په ملکِ یمین کې د وطي احتمال ختم سي. او دا خبره هم مشهور وي چې دا ښځه د هغه کوچني مور ده. د دې لپاره چې د نکاحِ فاسد او د وطي بالشبهه احتمال ختم سي. او فقط (د ښځي او خاوند په مینځ کې) نکاحِ صحیح باقي پاته سي. او څرنګه چې نکاح صحیح د نسب د ثبوت لپاره متعین د. نو ځکه به هغه کوچنی د همدغه ښځي وي. او مور او زوی دواړه به وراثان ګرځي او دواړو ته به میراث ورکول کېږي.

د پورتنی مسئلې یو بل صورت

وَلَوْلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّهَا حُرَّةٌ او که معلومه او مشهوره نه وي چې هغه ښځه آزاده ده **فَقَالَتِ الْوَرَثَةُ: أَنْتِ أُمُّ وَلَدٍ** او وارثانو [ورته] ووېل: چې ته [زموږ د مړي] اُمِ ولد یې **فَلَا مِيْرَاثَ لَهَا** نو د هغې لپاره به [حق د] میراث نه وي لِأَنَّ ظُهُوْرَ الْحُرِّيَّةِ بِاعْتِبَارِ الدَّارِ حُجَّةٌ فِي دَفْعِ الرِّقِّ ځکه چې د حُریت څرګندوالی د دارُ الاسلام په اعتبار سره د رقیت [غلامي] د دفع کولو لپاره حجت دی لَا فِي اسْتِحْقَاقِ الْمِيْرَاثِ نه د میراث د حقداره کېدو لپاره [یعني د وراثت د استحقاق لپاره حجت نه دی].

تشریح: فرمايي که په تېره مسئله کې د هغې ښځي آزادوالی معلوم نه وي، او ورثاء هغه ښځه د مړ سوي کس اُمِ ولد وشماري (چې ته د هغه اُمِ ولد یې!)، نو په دې صورت کې به دا ښځه نه اُمِ ولد وي، او نه به میراث ورکول کېږي: میراث خو به ځکه نه ورکول کېږي، چې د هغې آزادوالی متعین نه دی. او که څه هم په دارُ الاسلام کې د هغې د موجودیت په وجه د هغې رقیت (غلامي) معدوم ګڼل کېږي. لېکن دارُ الاسلام فقط د رقیت په لیري کولو کې مؤثر دی، د وراثت په استحقاق کې د هغه هیڅ اثر نسته. نو ځکه به هغې ته میراث نه ورکول کېږي. خو هغه به مملوکه او اُمِ ولد هم نه شمارل کېږي، ځکه چې دارُ الاسلام له هغې څخه رقیت دفع کوي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



بَابُ حَضَانَةِ الْوَلَدِ وَمَنْ أَحَقُّ بِهِ

(دا) باب د کوچنی د پالنی او د هغه کس (په بیان کی) دی چی د
کوچني (د پالني) زیات حقدار وي

تشریح: کله چي صاحب د کتاب د کوچني د نسب د ثبوت له أحکامو څخه فارغ سو. نو اوس د کوچني د پرورش او پالني أحکام بیانوي. ځکه چي د ولادت او د نسب تر ثبوت وروسته سمدستي اوله مرحله د پرورش او پالني ده.

حضانة: د نصر د باب مصدر دی: حَضَنَ يَحْضُنُ حَضَانَةً: کوچنی په غېږ کي اخيستل. د کوچني پرورش او پالنه کول. د کوچني څارنه کول (کوچنی د ځان سره ساتل)

د کوچني د پرورش او پالني حق اول د مور دی. او که مور نه وي. نو بيا دا حق د مورني انا وطرف ته (يعني د مور، د مور وطرف) نقل کيږي. په دغه آيت کي هم دې ته اشاره سوې ده: "وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ". [سورة البقرة: ۲۳۳]

په خاوند او ښځه کي څوک د کوچني د پالني زيات حقدار دی؟

وَإِذَا وَقَعَتِ الْفُرْقَةُ بَيْنَ الزَّوْجَيْنِ او کله چي د خاوند او ښځي په مينځ کي فرقت واقع سي فَالْأُمُّ أَحَقُّ بِالْوَلَدِ نو مور د کوچني زياته حقداره ده [يعني کله چي ښځه له خاوند څخه جلا سي. نو د نابالغه کوچني د پالني او پرورش زياته حقدار د هغه مور ده] لِمَا رُوِيَ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ [2] ځکه روايت سوی دی چي يوې ښځي ووېل: اې د الله رسوله! إِنَّ ابْنِي هٰذَا كَانَ بَطْنِي لَهُ وِعَاءً وَحِجْرِي لَهُ حِوَاءً وَثَدْيِي لَهُ سِقَاءً دا زما زوی دی! زما نس د هغه لپاره لوښی وو او زما غېږه د هغه لپاره خيمه وه او زما سينه [تيان] د هغه لپاره ژی [او کوزه] وه وَزَعَمَ أَبُوهُ أَنَّهُ يَنْزِعُهُ مِنِّيْ او د هغه پلار وايي چي هغه دئ زما څخه اخلي فَقَالَ عليه السلام: أَنْتِ أَحَقُّ بِهِ مَا لَمْ تَتَزَوَّجِيْ نو نبي ﷺ وفرمايل: ته د هغه زياته حقداره يې تر څو چي تا [بله] نکاح کړې نه وي اله حديث څخه معلومه سوه چي مور د کوچني د پالني زياته حقداره ده] وَلِأَنَّ الْأُمَّ

---

[2] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطلاق، باب من أحق بالولد، حديث رقم: ۲۲۷۶.

أَشْفَقُ وَأَقْدَرُ عَلَى الْحَضَانَةِ اعقلي دليل ا او ځکه چې مور زياته مشفقه [مهربانه] وي او [د کوچني] پر پالنې زياته قدرت لرونکې وي فَكَانَ الدَّفْعُ إِلَيْهَا أَنْظَرَ نو هغې ته به د کوچني په سپارلو کې زيات مصلحت [او شفقت] وي ايعني د مور شفقت زيات وي، او د کوچني په پالنه کې ډېر مهارت هم لري، نو په دې وجه هم هغې ته کوچنى سپارل زيات غوره دي [وَإِلَيْهِ أَشَارَ الصِّدِّيْقُ: رِيْقُهَا خَيْرٌ لَهُ مِنْ شَهْدٍ وَعَسَلٍ عِنْدَكَ يَا عُمَرُ او همدې طرف ته ابو بکر صديق ﷺ [په خپل دې قول سره] اشاره کړې ده: اې عمره! د دې کوچني لپاره د خپلې مور نارې ستا له شاتو او عسلو څخه هم غوره دي قَالَهُ حِيْنَ وَقَعَتِ الْفُرْقَةُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ ابو بکر ﷺ دا خبره هغه وخت وکړه کله چې د حضرت عمر ﷺ او د هغه د ښځې په مينځ کې فرقت واقع سو وَالصَّحَابَةُ حَاضِرُوْنَ مُتَوَافِرُوْنَ او [په هغه وخت کې ادېر صحابه حاضر وه ايعني يو وخت د حضرت عمر ﷺ او د خپلې ښځې په مينځ کې اختلاف راغلی او فرقت واقع سو، او حضرت عمر ﷺ وغوښتل چې خپل بچی ځنې راوګرځوي، نو حضرت ابو بکر ﷺ ورته وفرمايل چې ستا له شاتو ورکولو څخه د مور نارې د کوچني لپاره غوره دي، نو حضرت عمر ﷺ هغه کوچنی مور ته وسپاری].

اللغات: ﴿حِجْر﴾ غېږه. ﴿حِوَى﴾ پناګاه (پناځای). خېمه. ﴿ثَدى﴾ تي (تيان). سينه. ﴿سِقَاء﴾ ژی (هغه مضبوطه خلته چې پخوا به له څرمني څخه جوړېده او د اوبو او شيدو د حفاظت لپاره به استعمالېده). د اوبو مَشک. کوزه. ﴿زَعَمَ﴾ رښتيا يا دروغ ويل (زياتره د مشکوک أمر په باره کې استعماليږي). ﴿يَنْزِعُ﴾ د ضرب مضارع ده: په زوره اخيستل. کشول. راکښل. ﴿رِيْق﴾ نارې (لاړې). لعاب. ﴿عَسَل﴾ تيار سوي شات. ﴿شَهْد﴾ هغه شات کوم چې تر اوسه له موم څخه نځوړل سوي نه وي. ﴿مُتَوَافِرُوْن﴾ د تفاعل جمع مذکر اسمِ فاعل دی. تَوَافَرَ يَتَوَافَرُ تَوَافُرًا: زياتېدل. ډېرېدل.

تشريح: مسئله واضحه ده.

تر مور وروسته به د پالنې حق چا ته حاصل وي؟

وَالنَّفَقَةُ عَلَى الْأَبِ عَلَى مَا نَذْكُرُ او [د کوچني] نفقه به [د هغه] پر پلار لازمه وي چې دا به موږ [وروسته] ذکر کړو وَلَا تُجْبَرُ الْأُمُّ عَلَيْهِ او مور به پر پالنې [او پرورش] نه مجبوره کيږي لِأَنَّهَا عَسَتْ تَعْجِزُ عَنِ الْحَضَانَةِ ځکه کېدای سي چې هغه [د کوچني] له پالنې څخه عاجزه وي فَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ أُمٌّ او که د کوچني مور نه وي فَأُمُّ الْأُمِّ أَوْلَى مِنْ أُمِّ الْأَبِ نو د مور. مور د پلار تر مور زياته حقداره ده وَإِنْ بَعُدَتْ

که څه هم هغه د ليري درجې وي لِأَنَّ هٰذِهِ الْوِلَايَةَ تُسْتَفَادُ مِنْ قِبَلِ الْأُمَّهَاتِ ځکه چې دا [د پرورش او پالنې] ولايت د مندو له طرفه حاصليږي فَإِنْ لَمْ تَكُنْ أُمُّ الْأُمِّ او که د مور، مور نه وي فَأُمُّ الْأَبِ أَوْلٰى مِنَ الْأَخَوَاتِ نو د پلار مور تر خويندو زياته حقداره ده لِأَنَّهَا مِنَ الْأُمَّهَاتِ ځکه چې هغه د مندو په درجه کې ده وَلِهٰذَا تُحْرِزُ مِيرَاثَهُنَّ السُّدُسَ او له همدې وجهې هغې ته د مندو ميراث يعنې شپږمه حصه ورکول کيږي وَلِأَنَّهَا أَوْفَرُ شَفَقَةً لِلْأَوْلَادِ اوځکه چې د مور پلار [هم] د کوچنيانو لپاره زيات شفقت لرونکې [زياته مهربانه] وي فَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ جَدَّةٌ او که د کوچني انا [د پلار مور] نه وي فَالْأَخَوَاتُ أَوْلٰى مِنَ الْعَمَّاتِ وَالْخَالَاتِ نو [بيا] خويندې له امه ګانو او خاله ګانو څخه زيات حقداره دي لِأَنَّهُنَّ بَنَاتُ الْأَبَوَيْنِ ځکه چې هغوی [د کوچني] د مور و پلار لوڼې دي وَلِهٰذَا قُدِّمْنَ فِي الْمِيرَاثِ او له همدې کبله هغوی په ميراث کې مخکې سوي دي وَفِي رِوَايَةٍ: اَلْخَالَةُ أَوْلٰى مِنَ الْأُخْتِ لِأَبٍ او په يوه روايت کې دي: چې خاله تر ميرېزې [ناسکه] خور زياته حقداره ده [يعنې هغه خور کوم چې د کوچني سره فقط په پلار شريکه وي] لِقَوْلِهِ عليه السلام [1]: اَلْخَالَةُ وَالِدَةٌ ځکه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: خاله مور ده [يعنې خاله د مور په درجه کې ده] وَقِيلَ فِي قَوْلِهِ تَعَالٰى وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ [يوسف: ۱۰۰]: أَنَّهَا كَانَتْ خَالَتَهٗ [همدارنګه] د الله د دې فرمان "وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْش" په تفسير کې ويل سوي دي: چې هغه د حضرت يوسف عليه السلام خاله وه.

اللغات: ﴿نَفَقَة﴾ خرڅه (خرڅ)، ﴿عَسَتْ﴾ کيدای سي چې، ﴿حَضَانَة﴾ د نصر مصدر دی: حَضَنَ يَحْضُنُ حِضَانَةً: کوچنی په غېږ کې اخيستل، د کوچني پرورش او پالنه کول. (کوچنی د ځان سره ساتل)، ﴿تُسْتَفَاد﴾ د استفعال مضارع مجهوله ده: فايده اخيستل، ترلاسه کول (حاصلول).
﴿أَبَوَيْه﴾ أَبَوَيْن: پلار او مور، "وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْش" (او حضرت يوسف عليه السلام خپل پلار او مور د باداشاهۍ و تخت ته پورته کړل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د کوچني د پالنې او پرورش د زمانې خرڅه به پر پلار لازمه وي (د دې پوره تفصيل به په بَابُ النَّفَقَة کې ذکر سي)، او د کوچنی د پالنې زيات حقدار د هغه مور

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الصلح باب كيف يكتب، حديث رقم: ۳۶۹۹.

ده. لېکن که مور د کوچني پالنه ونکړي، نو هغه به پر پالني او پرورش نه مجبوره کېږي. کېدای سي چي هغه به یو عذر او مجبوري لري او د کوچني د پالني قدرت به نه لري.

فإن لم تكن له إلخ: که د کوچني مور نه وي، نو بیا د هغه د تربیت او پالني حق د مورنی انا دی (یعني د مور، د مور حق دی)، که څه هم د لیري انا وي، او دا د پلار تر مور زیاته غوره ده. ځکه د پالني حق د مور د قریبانو وطرف ته نقل کیږي، ځکه چي د مور په قریبانو کي محبت زیات وي.

او که مورنی انا (د مور، مور) موجوده نه وي، یا موجوده وي، لېکن هغه دا حق اخیستل نه غواړي. نو بیا به د کوچني د پالني حق د پلار مور (پلارنی انا) ته ورکول کیږي. د خوندو په مقابله کي هغې ته ترجیح حاصل دی: ځکه چي هغه د مور په درجه کي ده. همدا وجه ده که مور نه وي، نو د پلار مور ته په میراث کي شپږمه حصه ورکول کیږي. او د تجربې لرلو په وجه هغه پر کوچني زیاته مهربانه ده. نو ځکه به تر مورنی انا وروسته هغه د پالني زیاته حقداره وي.

فإن لم تكن له جدة إلخ: که د پلار مور نه وي، نو بیا خور تر خاله او تر امه مخکي د کوچني د پالني حقداره ده: ځکه چي دا د کوچني د پلار او مور لور ده. او نسب یې هغه ته نژدې دی. همدا وجه ده که خور موجوده وي، نو خاله او امه ته میراث نه ورکول کیږي. نو ځکه به د پالني حق هم هغې ته ورکول کیږي.

وفي رواية إلخ: په یوه روایت کي ذکر سوي دي چي که د پلار مور (پلارنی انا) موجوده نه وي او حقیقي خور هم موجوده نه وي (یعني هغه خور چي د کوچني سره په پلار او مور دواړو شریکه وي). نو بیا تر علاتي خور (یعني تر مېرېزې خو کوم فقط په پلار ور سره شریکه وي) خاله زیاته حقداره ده: ځکه په حدیث کي خاله ته د مور درجه ورکول سوې ده. او تر خور د مور حق زیات دی. همدارنګه په دې آیت "وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ" کي هم د یوه تفسیر مطابق په أَبَوَيْن (پلار او مور) کي د حضرت یوسف علیه السلام مور نه، بلکي خاله داخله ده. ځکه په روایاتو کي راځي چي مصر ته د حضرت یعقوب علیه السلام تر رسېدلو مخکي د حضرت یوسف علیه السلام مور مړه سوې وه. نو په دې آیت کي هم خاله ته مور ویل سوي دي. نو ځکه به د پلار تر مور وروسته خاله د کوچني د پالني زیاته حقداره وي.

تر مور وروسته به د پالني حق چا ته حاصل وي؟

وَتُقَدَّمُ الْأُخْتُ لِأَبٍ وَأُمٍّ او په پلار او مور شریکه (حقیقي) خور به اله نورو خوندو څخه) مخکي کیږي لِأَنَّهَا أَشْفَقُ ځکه چي هغه زیاته مهربانه وي ثُمَّ الْأُخْتُ مِنَ الْأُمِّ بیا به په مور شریکه خور (مخکي کیږي) ثُمَّ الْأُخْتُ مِنَ الْأَبِ بیا به په پلار شریکه (مېرزې) خور (مخکي کیږي) لِأَنَّ الْحَقَّ لَهُنَّ مِنَ

قِبَلِ الْأُمِّ ځکه چې د دوی لپاره [د پالنې] حق د مور له طرفه ثابت دی ثُمَّ الْخَالَاتُ أَوْلَى مِنَ الْعَمَّاتِ بیا خاله ګانې تر امه ګانو زیات حقداره دي تَرْجِيحًا لِقَرَابَةِ الْأُمِّ د مور قرابت ته په ترجیح ورکولو سره وَيَنْزِلْنَ كَمَا نَزَلَتِ الْأَخَوَاتُ او هغوی به [درجه په درجه] واقع کیږي لکه څرنګه چې خوندې [درجه په درجه] واقع کیږي [یعني په خاله ګانو کې به د خوندو ترتیب جاري کیږي] مَعْنَاهُ: تَرْجِيحُ ذَاتِ قَرَابَتَيْنِ ثُمَّ قَرَابَةِ الْأُمِّ د دې مطلب دا دی: چې دوو قرابتونو والا [خاله] ته به [اول] ترجیح ورکول کیږي بیا د مور قرابت والا ته [ترجیح ورکول کیږي] ثُمَّ الْعَمَّاتُ يَنْزِلْنَ كَذَلِكَ بیا به امه ګانې هم داسې [درجه په درجه] واقع کیږي.

اللغات: ﴿يَنْزِلْنَ﴾ د ضرب له باب څخه د جمع مؤنث غائب مضارع صیغه ده: شوه کېدل، نازلېدل، واقع کېدل. ﴿تَرْجِيحًا﴾ د تفعیل مصدر دی: غوره ګڼل، غوره والي، باندې والي (یو شی تر بل شي غوره او وړاندې ګڼل).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې د پرورش او پالنې د حق دار ومدار پر قرابت او زیات شفقت باندې دی، نو په دې وجه به د مور او انا د نشتوالي په صورت کې حقیقي خور تر علّاتي او اخیافي خور زیاته مخکې وي؛ ځکه چې هغه د کوچنې سره په پلار او مور دواړو شریکه ده، او د هغې شفقت تر نورو خوندو زیات دی، بیا که حقیقي خور نه وي، نو بیا د کوچنې اخیافي خور (یعني په مور شریکه خور) تر علّاتي خور مخکې ده، او په ټولو آخر کې د علّاتي خور (مېرېزې خور) نمبر دی؛ ځکه چې د پالنې حق د مور له طرفه ثابتیږي، لهذا کومه ښځه چې مور ته زیاته نژدې وي، په هغه حساب سره به د هغې حصه او نوبت وي.

یادونه: خوندې پر درې قسمه دي: ① ... یوه هغه چې د کوچنې سره په پلار او مور دواړو شریکه وي، دې ته حقیقي او خپله خور وایي، ② ... کوم چې فقط په مور شریکه وي، دې ته اخیافي خور وایي، ③ .. کوم چې فقط په پلار شریکه وي، دې ته علّاتي او مېرېزې (ناسکه) خور وایي.

ثم الخالات إلخ: که چیرې د کوچنې خاله او امه دواړې موجوده وي، نو د کوچنې پالنې حق به خاله ته ورکول کیږي. او په هغه کې به د حقیقي، اخیافي او علّاتي خاله اعتبار درجه په درجه کیږي (یعني تر ټولو مخکې به حقیقي خاله ته د پالنې حق ورکول کیږي، بیا به...)، او که خاله نه وي، نو بیا به دا حق درجه په درجه امه ګانو ته ورکول کیږي.

په واده کولو سره د پالني او پرورش حق ساقطېدل

وَكُلُّ مَنْ تَزَوَّجَتْ مِنْ هٰؤُلَاءِ او له دې [مذکوره] ښځو څخه چې هره یوه نکاح وکړي يَسْقُطُ حَقُّهَا نو د هغې حق ساقطيږي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چې موږ روايت کړی وَلِأَنَّ زَوْجَ الْأُمِّ إِذَا كَانَ أَجْنَبِيًّا او ځکه کله چې د مور خاوند پردی سړی وي يُعْطِيهِ نَزْرًا وَيَنْظُرُ إِلَيْهِ شَزْرًا نو هغه به کوچني ته کمزوری [ناقص] شی ورکوي او هغه ته به په تېز [او سپک] نظر ګوري فَلَا نَظَرَ نو د کوچني په حق کې [به شفقت ثابت نه سي قَالَ: إِلَّا الْجَدَّةَ إِذَا كَانَ زَوْجُهَا الْجَدَّ فرمايي: مګر [مورنی] انا کله چې د هغې خاوند نيکه [د پلار، پلار] وي لِأَنَّهُ قَامَ مَقَامَ أَبِيهِ ځکه چې نيکه د هغه د پلار قائم مقام دی فَيَنْظُرُ لَهُ نو هغه به کوچني ته [د شفقت په نظر] ګوري وَكَذٰلِكَ كُلُّ زَوْجٍ هُوَ ذُو رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ او همدارنګه هر هغه خاوند کوم چې د دې کوچني ذو رحم محرم [نژدې قريب] وي لِقِيَامِ الشَّفَقَةِ ځکه چې [په هغه کې] شفقت موجود دی نَظَرًا إِلَى الْقَرَابَةِ الْقَرِيبَةِ نژدې قرابت ته په نظر کولو سره وَمَنْ سَقَطَ حَقُّهَا بِالتَّزَوُّجِ او د کومې ښځې [د پالني] حق چې ساقط سي يَعُودُ إِذَا ارْتَفَعَتِ الزَّوْجِيَّةُ نو هغه [بيرته] راګرځي کله چې زوجيت [او نکاح] ختمه سي لِأَنَّ الْمَانِعَ قَدْ زَالَ ځکه چې مانع ليرې سو.

اللغات: ﴿تَزَوَّجَتْ﴾ د تفعّل ماضي ده: واده کول. نکاح کول. ﴿نَزْر﴾ بې قيمته او بې ارزښته شی. د کمې درجې شی. کمزوري او ناقص سامان. ﴿شَزْر﴾ غصه. عيب بيانول (سپکاوی کول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله په مخکنۍ ښځو (خور، خاله او داسې نورو) کې یوه ښځه د أجنبي سړي سره نکاح وکړي (يعني چې هغه سړی د کوچني ذی رحم محرم قريب نه وي). نو د هغې ښځې د پالني حق ساقطيږي. لیکن که د کوچني د ذی رحم محرم قريب سره نکاح وکړي، نو بيا د هغې د پالني حق نه ساقطيږي. مثلاً د کوچني مورنۍ انا د هغه د پلارني نيکه سره نکاح وکړي، نو د هغې د پالني حق نه ساقطيږي: دليل دا حديث دی: "أَنْتِ أَحَقُّ بِهِ مَا لَمْ تَتَزَوَّجِي" (يعني نبي ﷺ د کوچني مور ته وويل: ته په هغه وخت کې د کوچني د پالني حقداره يې! تر څو چې دې نکاح کړې نه وي). نو ځکه به تر نکاح وروسته د پالني حق ساقطيږي. او د أجنبي (پردي) سړي سره د نکاح په وجه ځکه د پالني حق ساقطيږي. چې پر کوچني باندې د أجنبي سړي شفقت او محبت نه وي. نو کېدای سي چې کوچني ته تکليف ورکړي. او ښځه خو تر خاوند لاندې وي. د خاوند له اجازې څخه بغير هيڅ نه سي کولای. نو ځکه به د اجنبي سړي په نکاح سره د ښځې د پالني حق ساقطيږي.

وإلا الجدة إلخ: د وَكُلّ مَنْ تَزَوَّجَ څخه استثناء کوي فرمايي چي که د کوچني مورنۍ انا (د مور، مور) د هغه د پلارني نيکه (د پلار، پلار) سره نکاح وکړي، نو په دې سره د مورنۍ انا حق نه ساقطيږي، ځکه چي پلارنۍ نيکه د پلار په درجه کي دی، او هغه هم پر کوچني شفقت او مهرباني لري، نو ځکه به د انا د پالني حق نه ساقطيږي.

وكذلك إلخ: فرمايي که حقداره ښځه د کوچني د ذی رحم محرم قريب سره نکاح وکړي، نو د هغې حق نه ساقطيږي، ځکه چي په دې صورت کي به قريب خامخا پر کوچني شفقت لري، نو ځکه به د ښځي د پالني حق نه ساقطيږي، همدا قاعده کليه ده.

ومن سقط إلخ: فرمايي که د أجنبي سړي سره د نکاح کولو په وجه د حقداري ښځي حق ساقط سي، او بيا خاوند هغې ته طلاق ورکړي، يا خاوند مړ سي او نکاح ختمه سي، نو د هغې د پالني حق بيرته راګرځي، ځکه کوم شی چي د حق مانع وو، هغه ختم سو.

﴿ د پالني په حق کي د ټولو ښځو ترتيب ﴾

د کوچني د پالني حقداره اول مور ده، بيا مورنۍ انا ده، بيا پلارنۍ انا ده، بيا خپله (حقيقي) خور، بيا اخيافي خور (يعني هغه خور چي د کوچني سره په مور شريکه)، بيا علّاتي خور (يعني مېرزې خور)، بيا حقيقي خاله، بيا اخيافي خاله او بيا علّاتي خاله، بيا حقيقي امه، بيا اخيافي امه او بيا علاتي امه.

﴿ د پالني په حق کي د عصباتو ترتيب ﴾

که د کوچني د پالني لپاره په ښځو کي هيڅوک نه وي، نو بيا د کوچني اول حقدار پلار دی، بيا پلارنی نيکه (د پلار، پلار)، بيا ور نيکه....، بيا خپل (حقيقي) ورور، بيا علاتي (مېرزی) ورور، بيا د حقيقي ورور زوی (حقيقي وراره)، بيا د علّاتي ورور زوی، بيا حقيقي اکا، بيا مېرزې اکا، بيا د حقيقي اکا زوی، بيا د مېرزي اکا زوی.

د پالني د حقداره خلکو بيان

فَإِنْ لَمْ تَكُنْ لِلصَّبِيِّ إِمْرَأَةٌ مِنْ أَهْلِهِ او که د کوچني له کورنۍ څخه [د هغه د پالني لپاره] هيڅ ښځه نه وه **فَاخْتَصَمَ فِيهِ الرِّجَالُ** او [بيا] د هغه [د پالني] په باره کي د خلکو [اختلاف او] جګړه وکړه **فَأَوْلَاهُمْ أَقْرَبُهُمْ تَعْصِيبًا** نو په هغو کي به تر ټولو حقدار هغه کس وي کوم چي [کوچني ته] په عصبه والي کي زيات نژدې وي **لِأَنَّ الْوِلَايَةَ لِلْأَقْرَبِ** ځکه چي ولايت د نژدې قريب لپاره وي **وَقَدْ عُرِفَ التَّرْتِيبُ فِي**

مَوْضِعِهِ او [د عصباتو] ترتيب په خپل ځای کي معلوم سو غَيْرَ أَنَّ الصَّغِيرَةَ لَا تُدْفَعُ إِلَى عَصَبَةٍ غَيْرِ مَحْرَمٍ لېکن کوچنۍ نجلۍ به نامحرمه عصبه ته نه ورکول کيږي كَمَوْلَى الْعَتَاقَةِ وَابْنِ الْعَمِّ لکه آزادونکی مالک او د اکا زوی تَحَرُّزًا عَنِ الْفِتْنَةِ له فتنې څخه د حفاظت لپاره.

اللغات: ﴿إِخْتَصَمَ﴾ د افتعال ماضي ده: جنګ او جګړه کول. ﴿عَتَاقَة﴾ آزادونکی، مَوْلَى عَتَاقَه: هغه مالک چي خپله مينځه آزاده کړي، مولیٰ عتاقه هم په عصباتو کي داخل دی. ﴿تَحَرُّز﴾ د تفعّل مصدر دی: ځان ساتل، ځان ژغورل (حفاظت کول).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د کوچني په قريبانو کي يوه داسي ښځه نه وي چي هغه د کوچني پالنه وکړي، لېکن نارينه قريبان وي چي هغوی د پالني د حق مطالبه کوي. نو اول به هغه قريب ته ورکول کيږي کوم چي په عصبه والي کي کوچني ته زيات نژدې وي، ځکه چي دا ولايت د أقرب لپاره دی. لهذا څوک چي څومره نژدې عصبه وي، د هغه حق به مخکي وي. د عصباتو ترتيب موږ مخکي بيان کړی، هلته يې وګورئ! او د عصباتو په آخر کي د مولیٰ عتاقه نمبر دی، لېکن ښکاره ده وي چي د مولیٰ عتاق حق فقط په نارينه کوچني کي ثابتيږي، همدا وجه وه که ديوې نجلۍ د پالني لپاره په قريبانو کي هيڅوک پيدا نه سي، نو دا نجلۍ به مولیٰ عتاقه ته نه سپارل کيږي، همدارنګه دا نجلۍ به د اکا زامنو ته هم نه سپارل کيږي، ځکه که نجلۍ هغو ته وسپارل سي، نو د فتنې او ګړبړ خطره سته.

هلک به څومره مودت پالل کيږي؟

وَالْأُمُّ وَالْجَدَّةُ أَحَقُّ بِالْغُلَامِ مور او انا [تر هغه وخته] د هلک [د پالني] حقداره دي حَتَّى يَأْكُلَ وَحْدَهُ وَيَشْرَبَ وَحْدَهُ وَيَلْبَسَ وَحْدَهُ وَيَسْتَنْجِيَ وَحْدَهُ تر دې چي هغه يوازي [تنها] خوراک او څښاک کولای سي او يوازي جامې اغوستلای سي او يوازي استنجاء کولای سي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: حَتَّى يَسْتَغْنِيَ فَيَأْكُلُ وَحْدَهُ وَيَشْرَبُ وَحْدَهُ وَيَلْبَسُ وَحْدَهُ او په جامع صغير کي دي: تر دې چي هلک مستغني [بې نيازه] سي او يوازي خوراک او څښاک کولای سي او يوازي جامې اغوستلای سي وَالْمَعْنَى وَاحِدٌ او [د دواړو] مطلب يوه دی لِأَنَّ تَمَامَ الِاسْتِغْنَاءِ بِالْقُدْرَةِ عَلَى الِاسْتِنْجَاءِ ځکه چي د استغناء پوره والی پر استنجاء باندي د قدرت په ذريعه وي [يعني پوره استغناء هغه وخت حاصليږي، کله چي کوچنی پر استنجاء کولو قدرت پيدا کړي] وَوَجْهُهُ: أَنَّهُ إِذَا اسْتَغْنَى يَحْتَاجُ إِلَى التَّأَدُّبِ وَالتَّخَلُّقِ بِآدَابِ الرِّجَالِ وَأَخْلَاقِهِمْ او د دې

وجهه اچي تر مستغني والي وروسته به کوچنی د پلار و پالني ته نقل کيږي اداده: چي کله کوچنی مستغني سي نو هغه د ادب زده کړي ته او د خلکو د آدابو او اخلاقو اختيارولو ته محتاج وي وَالْأَبُ أَقْدَرُ عَلَى التَّأْدِيبِ وَالتَّثْقِيفِ او پلار د ادب او تهذيب پر ور زده کولو زيات قدرت لرونکی وي وَالْخَصَّافُ قَدَّرَ الِاسْتِغْنَاءَ بِسَبْعِ سِنِينَ اعْتِبَارًا لِلْغَالِبِ او خصاف رَحِمَهُ الله مستغني والي په اوو کالو سره اندازه کړی دی، پر غالب حالت باندي په قياس کولو سره.

اللغات: ﴿وَحَدَهُ﴾ يوازي، تنها، ﴿تَأَدُّب﴾ د تفعّل مصدر دی: ادب زده کول، ﴿تَخَلُّق﴾ د تفعّل مصدر دی: اخلاق اختيارول ﴿تَثْقِيف﴾ انسانيت ور زده کول، ثقافت او تهذيب ور زده کول (مُهذّب جوړول).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي مور او انا تر هغه وخته پوري د کوچني د پالني حقداره دي، ترڅو چي کوچنی خپل ذاتي کارونه په خپله شروع کړي، او د بل چا له خدمت څخه مستغني سي، مثلاً په خپله خوراک او څښاک کوي، او په خپله استنجاء وهي (او ځان پاکوي)، جامې اغوندي، عموماً د اوو کالو په عِمر کي کوچنی دغه حالت ته رسيږي، صاحب د کتاب فرمايي چي په قدوري کي د "قدرة على الاستنجاء" تذکره سوې ده، او په جامع صغير کي د مطلق "استغناء" تذکره سوې ده، خو د دواړو مطلب يو دی، ځکه چي کوچنی ته هغه وخت استغناء حاصليږي، کله چي هغه پر استنجاء کولو قادر سي، لنډه دا چي کله کوچنی پر دې شيانو قدرت پيدا کړي، نو اوس د مور او انا حق ختميږي، او کوچنی به د پلار نګراني او څارني ته نقل کيږي، د دې لپاره چي اوس د خلکو اخلاق، آداب او د کار او کسب طريقې زده کړي، او ښکاره خبره ده چي پلار ته پر دې شيانو زيات قدرت حاصل دی، ها! که تر دې وروسته د پلار په رضا کوچنی د انا او مور په پالنه کي پاته سي، نو څه پروا نه لري، لېکن که مور او پلار د کوچني په پالنه کي اختلاف وکړي، نو قاضي به تر اوو کالو وروسته دا کوچنی پلار ته حواله کوي، بيا د ښځي لپاره د کوچني د پالني حق نسته.

والخصاف إلخ: حضرت شيخ خصاف رَحِمَهُ الله فرمايلي دي چي هلک غالباً د اوو کالو په عمر کي د مور له خدمت څخه مستغني کيږي، لهذا تر اوو کالو خو به کوچنی د مور او انا تر پالني لاندي وي، او تر هغه وروسته به د پلار وطرف ته نقل کيږي، صاحب د بنايې ليکلي دي: وعليه الفتویٰ وکذا في الكافي وغيره. (بنايه ج:۵، ص:۴۷۹)

نجلۍ به څومره مودت پالل کيږي؟

وَالْأُمُّ وَالْجَدَّةُ أَحَقُّ بِالْجَارِيَةِ حَتَّى تَحِيضَ مور او انا [تر هغه وخته] د نجلۍ [د پالنې] حقداره تر دې چې نجلۍ ته حيض راسي لِأَنَّ بَعْدَ الِاسْتِغْنَاءِ تَحْتَاجُ إِلَى مَعْرِفَةِ آدَابِ النِّسَاءِ ځکه چې تر استغناء وروسته هغه د ښځينه آدابو پېژندنې [او زده کړې] ته محتاجه وي وَالْمَرْأَةُ عَلَى ذٰلِكَ أَقْدَرُ او ښځه پر دې زيات قدرت لري وَبَعْدَ الْبُلُوغِ تَحْتَاجُ إِلَى التَّحْصِينِ وَالْحِفْظِ او تر بلوغت وروسته نجلۍ پاکوالي او اله بد کارۍ څخه] حفاظت ته محتاجه وي وَالْأَبُ فِيهِ أَقْوَى وَأَهْدَى او په دې هکله پلار زيات قوي او زيات لارښوونکی دی وَعَنْ مُحَمَّدٍ ●: أَنَّهَا تُدْفَعُ إِلَى الْأَبِ إِذَا بَلَغَتْ حَدَّ الشَّهْوَةِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چې نجلۍ به [هغه وخت] پلار ته حواله کيږي کله چې د شهوت حدّ ته ورسيږي لِتَحَقُّقِ الْحَاجَةِ إِلَى الصِّيَانَةِ ځکه چې [په دغه وخت کې د نجلۍ] د ساتنې ضرورت ثابت سو.

اللغات: ﴿جَارِيَة﴾ نجلۍ. ﴿تَحْصِين﴾ د تفعيل مصدر دی: د ښځې حفاظت کول. ښځه پاک لمنې ساتل. ﴿أَهْدٰی﴾ د ضرب له باب څخه د اسم تفضيل صيغه ده: زيات لارښوونکی (لاره ور ښوونکی). ﴿صِيَانَة﴾ حفاظت. ساتنه (ژغورنه).

تشريح: په دې عبارت کې د نجلۍ د پرورش (پالنې) مودت بيان سوی دی. حاصل يې دا دی چې تر څو نجلۍ ته حيض راغلی نه وي او بالغه سوې نه وي، تر هغه وخته پورې مور او انا د نجلۍ د پالنې حقداره دي (او پر اووم کال به هغه پلار ته نه حواله کيږي)؛ ځکه چې په اوو کالو کې هغه د مور او انا له خدمت څخه مستغني کيږي، تر اوو کالو وروسته هغې ته د ښځينه کارونو د زده کولو ضرورت پيدا کيږي (مثلاً ډوډۍ پخول او داسې نور)، او په دې هکله ښځه زيات مهارت لري. نو ځکه به تر اوو کالو وروسته تر حيض راتلو پورې نجلۍ د مور او انا سره اوسيږي، او تر حيض راتلو وروسته د دې ضرورت پيدا کيږي چې نجلۍ له زنا او بد کارۍ څخه پاکه وساتل سي، او په دې هکله پلار زيات قوت او مهارت لري. نو ځکه به تر حيض راتلو او تر بالغه کېدلو وروسته نجلۍ د پلار حفاظت او پالنې ته حواله کيږي، او پلار به د دې زيات حقدار وي.

● القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله (فتح القدير ج:۴، ص:۱۸۸)، وكذا في البحر الرائق (ج:۴، ص:۱۷۰)، وكذا في رد المحتار (ج:۲، ص:۶۹۶) [illegible]

وعن محمد إلخ: له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دى چي كله نجلۍ د شهوت حد ته ورسيږي (چي هغه پر نهم يا لسم كال د شهوت حد ته رسيږي)، نو پلار ته به حواله كيږي، ځكه چي اوس له زنا څخه د هغې د ساتلو ضرورت پيدا سو. او په دې هكله پلار زيات قوت لري. نو ځكه به هغه ته حواله كيږي.

د پورتني مسئلې نور وضاحت

وَمَنْ سِوَى الْأُمِّ وَالْجَدَّةِ أَحَقُّ بِالْجَارِيَةِ حَتَّى تَبْلُغَ حَدًّا تُشْتَهَى او له مور او انا څخه بغير [بله ښځه، تر هغه وخته] د نجلۍ [د پالنې] حقداره ده تر دې چي هغه د شهوت حد ته ورسيږي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: حَتَّى تَسْتَغْنِيَ او په جامع صغير كي دي: تر دې چي هغه مستغني سي لِأَنَّهَا لَا تَقْدِرُ عَلَى اسْتِخْدَامِهَا ځكه چي هغه [بله ښځه] له دې نجلۍ څخه د خدمت اخيستلو قدرت [او اجازت] نه لري وَلِهَذَا لَا تُؤَاجِرُهَا لِلْخِدْمَةِ او له همدې وجهي هغه دا نجلۍ په أجرت [او كرايه] نسي نيولاى فَلَا يَحْصُلُ الْمَقْصُودُ نو [د ادب زده كولو] مقصود به حاصل نه سي [يعني كه دا نجلۍ پلار ته حواله نه كړى سي، او هغه بله ښځي له دې څخه خپل كار او خدمت اخلي، نو دا نجلۍ به د ادب او اخلاقو له زده كړي څخه محرومه سي] بِخِلَافِ الْأُمِّ وَالْجَدَّةِ په خلاف د مور او انا لِقُدْرَتِهِمَا عَلَيْهِ شَرْعًا ځكه چي دا دواړه شرعاً پر خدمت اخيستلو قدرت لري.

- **اللغات:** ﴿إِسْتِخْدَام﴾ د استفعال مصدر دى: خدمت اخيستل (له يو چا څخه كار اخيستل). ﴿لَا تُؤَاجِر﴾ د مفاعلې له باب څخه د نفي صيغه ده: أجر وركول (أجرت او كرايه وركول).

تشريح: مسئله: دا ده كه له مور او انا څخه بغير بله ښځه (مثلاً خاله، يا امه...) د نجلۍ پالنه كوي، نو دا ښځه به تر هغه وخته د نجلۍ پالنه او څارنه كوي، تر څو چي هغه د شهوت حد ته ورسيږي، او كله چي هغه د شهوت قابله سي، نو پلار ته به حواله كيږي، او په جامع صغير كي ذكر سوي دي چي تر هغه وخته به يې پالنه كوي، چي نجلۍ د بل چا له خدمت څخه مستغني سي؛ ځكه كله چي نجلۍ د شهوت حد ته ورسيږي، يا له خدمت څخه مستغني سي، نو په هغې كي د كار او خدمت ورتيا پيدا كيږي او ممكنه ده چي دغه بله ښځه (خاله، يا امه...) خپل خدمت او كار ځني واخلي، او د كور په كار كي يې مصروفه كړي، حالانكي له مور او انا څخه بغير بل چا ته شرعاً دا حق نسته چي له نجلۍ څخه خدمت واخلي، همدا وجه ده چي بله ښځه هغه د خدمت لپاره په اجُرت او مزدورۍ هم نيولاى نه سي، لهذا غوره همدا ده چي كله نجلۍ د شهوت حد ته ورسيږي، نو پلار ته دي حواله كړى سي، د دې لپاره چي د تعليم، آدابو او اخلاقو مقصد حاصل سي. كنې دا مقصد به فوت سي.

د مینځې لپاره د پالنې حق

قَالَ: وَالْأَمَةُ إِذَا أَعْتَقَهَا مَوْلَاهَا وَأُمُّ الْوَلَدِ إِذَا أُعْتِقَتْ كَالْحُرَّةِ فِي حَقِّ الْوَلَدِ فرمايي: او مينځه چې کله خپل مالک آزاده کړي او اُم ولد چې کله آزاده کړی سي نو د کوچني په حق کې دا دواړې د آزادې ښځې په څېر دي لِأَنَّهُمَا حُرَّتَانِ أَوَانَ ثُبُوتِ الْحَقِّ ځکه چې د حق ثابتېدلو په وخت کې دا دواړې ښځې آزادې دي وَلَيْسَ لَهُمَا قَبْلَ الْعِتْقِ حَقٌّ فِي الْوَلَدِ [لېکن] تر آزادېدلو مخکې د هلک [د پالنې] په باره کې د دې دواړو ښځو لپاره هيڅ حق نسته لِعَجْزِهِمَا عَنِ الْحَضَانَةِ بِالِاشْتِغَالِ بِخِدْمَةِ الْمَوْلَى ځکه چې [په هغه وخت کې] د مالک په خدمت باندې د مشغولېدلو په وجه دا دواړې ښځې [د کوچني] له پالنې [او پرورش] څخه عاجزه وي.

اللغات: ﴿أَوَان﴾ وخت، دوران، موسم. ﴿اِشْتِغَال﴾ د افتعال مصدر دی: مشغول کېدل (مشغولتیا)، مصروفه کېدل، په یو بل کار اخته کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که مالک د یو سړي سره د خپلې مینځې نکاح وکړي، او هغه مینځه کوچنی وزېږوي، یا یوه مینځه د مالک اُم ولد وي (یعني له مالک څخه یې کوچنی پیدا سوی وي)، نو تر حرّیت (آزادېدلو) مخکې دا مینځه او اُم ولد د کوچني د پالنې نه حقداره کیږي، ځکه چې تر حُریت مخکې دا دواړې ښځې د خپل مالک په خدمت کې مشغوله وي، او ښکاره خبره ده چې په داسې حالت کې هغوی د کوچني پالنه او پرورش نه سي کولای، نو ځکه به تر حُریت مخکې د هغوی لپاره د پالنې حق نه ثابتیږي، ها! کله چې مینځه او اُم ولد آزادې کړی سي، نو د هغوی دا حق بیرته راګرځي، او د آزادې مور په څېر به هغه هم تر ټولو مخکې د پالنې او پرورش حقداره وي.

د ذمي ښځې لپاره د پالنې حق

وَالذِّمِّيَّةُ أَحَقُّ بِوَلَدِهَا الْمُسْلِمِ مَا لَمْ يَعْقِلِ الْأَدْيَانَ او ذمي ښځه د خپل مسلمان کوچني زیاته حقداره ده تر څو چې دا کوچنی په أدیانو [او مذهبونو] نه پوهیږي أَوْ يُخَافُ أَنْ يَأْلَفَ الْكُفْرَ یا دا ېره [او خطره] وي چې د کفر سره به د هغه محبت پیدا سي لِلنَّظَرِ قَبْلَ ذٰلِكَ وَاحْتِمَالِ الضَّرَرِ بَعْدَهُ ځکه چې تر دې مخکې [د هغه په حق کې] شفقت سته او تر دې وروسته د ضرر احتمال سته.

اللغات: ﴿يَأْلَفُ﴾ د سمع مضارع ده: محبت کول، روږدېدل، بلد کېدل (عادت کېدل).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو مسلمان سړی د ذمي (یا کتابي) ښځې سره نکاح وکړي، او له هغې څخه یې کوچنی پیدا سي، نو د دې کوچني د تربیت او پالنې حق به مور ته سپارل کیږي، او

تر څو چي دا کوچنی د لا شعوری په حالت کي وي، يعني په دين او مذهب نه پوهيږي، تر هغه وخته به د مور تر پالني لاندي وي، ځکه چي شفقت او مصلحت همدا دی چي په کوچنيوالي کي هغه د مور تر پالني لاندي وي، لېکن کله چي هغه په دين او مذهب پوه سي، يا دا خطره پيدا سي چي شايد کوچنی به د مور له دين څخه متأثر سي او هغه به يې په فطرت کي واخېبل سي، نو بيا به پلار دا کوچنی له بې ديني مور څخه واپس اخلي، ځکه که اوس مور نه پرېښوول سي، نو کوچني ته به سخت ضرر لاحق سي، لهذا په "اَلْوَلَدُ يَتْبَعُ خَيْرَ الْاَبْوَيْنِ دِيْنًا" به عمل کيږي او کوچنی به واپس له مور څخه اخيستل کيږي.

په پالنه او تربيت کي د کوچني د اختيار مسئله

وَلَا خِيَارَ لِلْغُلَامِ وَالْجَارِيَةِ او هلک او نجلۍ لره [په خپله] هيڅ اختيار نسته [يعني څومره وخت چي مور (يا بله ښځه) د کوچني د پالني حقداره وي، هغومره وخت به کوچنی د مور (يا بلي ښځي) سره اوسيږي، په دې دوران کي به کوچني ته دا اختيار نه ورکول کيږي چي هغه په پلار او مور کي يو انتخاب کړي، دا اختيار به تر غتوالي وروسته ورکول کيږي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَهُمَا الْخِيَارُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د هغو لپاره اختيار سته لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ خَيَّرَ [1] ځکه چي نبي ﷺ اختيار ورکړی دی [د امام شافعي دليل دا دی چي نبي ﷺ د رافع بن سنان کوچني [لور] ته اختيار ورکړی او هغه مور ته ميلان وکړی، بيا نبي ﷺ دعاء وکړه "اَللّٰهُمَّ اهْدِهَا"، نو بيا هغه پلار (رافع بن سنان) ته ميلان وکړی، لنډه دا چي په دې حديث سره ثابته سوه چي نبي ﷺ کوچني ته اختيار ورکړی دی، نو ځکه به کوچني ته اختيار ورکول کيږي] وَلَنَا: أَنَّهُ لِقُصُوْرِ عَقْلِهِ يَخْتَارُ مَنْ عِنْدَهُ الدَّعَةُ زموږ دليل دا دی: چي کوچنی به د خپلي کم عقلۍ په وجه هغه يو اختيار کړي چي د هغه سره [کوچني په] راحت وي لِتَخْلِيَتِهِ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّعِبِ د دې لپاره چي هغه کوچنی لوبي ته ايله کړي [يعني کوچنی به آسانۍ والا کس انتخاب کړي چي ما لوبي ته ايله کړي] فَلَا يَتَحَقَّقُ النَّظَرُ نو شفقت به ثابت نه سي [زموږ د دليل حاصل دا دی چي کوچنی بې عقل او بې شعوره وي، که هغه ته اختيار ورکول سي، نو په پلار او مور کي به هغه يو انتخاب کړي کوم يو چي کوچنی خپل سر ته ايله کوي او پر هغه هيڅ بنديز نه لګوي، او ښکاره خبره ده چي په دې توګه به هغه خراب اموخته سي، پالنه به يې پر غلطه طريقه وسني او د هغه په حق کي به شفقت معدوم سي، نو ځکه به اختيار نه ورکول کيږي، همدارنګه په صحيح روايت سره دا خبره

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطلاق، باب من أحق بالولد، حديث رقم: ۲۲۷۷.

هم ثابته ده چي صحابه هيڅکله و هيڅ کوچني ته اختيار ورکړی نه دي؛ وَقَدْ صَحَّ أَنَّ الصَّحَابَةَ لَمْ يُخَيِّرُوا او په صحيح روايت کي [ذکر سوي] دي چي صحابه وو [کوچني ته] اختيار ورکړی نه دي أَمَّا الْحَدِيثُ فَقُلْنَا قَدْ قَالَ الطَّيْكِلا : اَللّٰهُمَّ اهْدِهِ او پاته سو [د امام شافعي] حديث! نو موږ وايو چي نبي ﷺ فرمايلي دي: اې الله هغه ته هدايت وکړه فَوُفِّقَ لاخْتِيَارِهِ الأَنْظَرِ بِدُعَائِهِ الطَّيْكِلا نو د نبي کريم ﷺ د دعاء په برکت هغه کوچني ته د زيات شفقت والا کس د اختيارولو توفيق ورکول سو [د امام شافعي د حديث دوه] جوابه ورکول سوي دي. يو جواب دا دی چي نبي ﷺ هغه کوچني (د رافع بن سنان لور) ته دعاء وکړه "اَللّٰهُمَّ اهْدِهَا" چې اې الله هغه ته هدايت وکړې. نو د نبي ﷺ د دعاء په برکت هغه ته د داسي انسان د انتخابولو توفيق حاصل سو کوم چي د هغه په حق کي مشفق او د هغه د ژوند لپاره غوره وو (يعني پلار). کنې هغه به د مور وطرف ته ميلان کړي وای. او ښکاره خبره ده چي له نبي ﷺ څخه وروسته نه چا ته د دې حق سته او نه د چا په دعاء دومره أثر سته. نو ځکه به کوچني اختيار ورکول کېدلای نه سي؛ أَوْ يُحْمَلُ عَلَى مَا إِذَا كَانَ بَالِغًا يا دا حديث به پر هغه صورت حمل کيږي کله چي کوچنی بالغ وي [دويم جواب دا دی چي هغه کوچنی بالغ وو. نو ځکه نبي ﷺ هغه ته اختيار ورکړی. او تر بلوغت وروسته خو موږ هم اختيار ورکوو. ليکن د هدايې عربي شارحينو ليکلي دي چي د مصنف رَحِمَهُ الله دا دويم جواب صحيح نه دی. ځکه چي په پورتني حديث کي د "وَهِيَ فَطِيمٌ" جمله هم ذکر سوي دی. نو ځکه به دا د کوچني پر بلوغت حمل کول صحيح نه وي]. والله أعلم وعلمه أتم

اللغات: ﴿دَعَة﴾ راحت، آرام. ﴿تَخْلِيَة﴾ د تفعيل مصدر دی: پرېښوول. ايله کول.

تشريح: مسئله په عبارت کي په تفصيل سره تشريح سوه.



● تخريج: اخرجه ابو داؤد في كتاب الطلاق، باب إذا أسلم أحد الأبوين، حديث رقم:۲۲۴۴.

فَصْلٌ (أَرَادَتِ الْمُطَلَّقَةُ أَنْ تَخْرُجَ بِوَلَدِهَا مِنَ الْمِصْرِ)

(دا) فصل (له ښار څخه د بچي د ايستلو په بيان کې) دی

د حضانت او پالني په مودت کي بچي د خپل پلار له ښار څخه نقل کول

وَإِذَا أَرَادَتِ الْمُطَلَّقَةُ أَنْ تَخْرُجَ بِوَلَدِهَا مِنَ الْمِصْرِ او کله چي طلاقه سوې ښځه اراده وکړي چي خپل بچی له ښار څخه وباسي [او بل ځای ته یې نقل کړي] فَلَيْسَ لَهَا ذٰلِكَ نو هغې لره د دې اختيار نسته لِمَا فِيهِ مِنَ الْإِضْرَارِ بِالْأَبِ ځکه چي په دې کي پلار ته تکليف رسول دي إِلَّا أَنْ تَخْرُجَ بِهِ إِلٰى وَطَنِهَا مګر دا چي هغه خپل وطن ته کوچني يووسي وَقَدْ كَانَ الزَّوْجُ تَزَوَّجَهَا فِيهِ حال دا چي خاوند [هم] په هغه وطن کي د هغې سره نکاح کړې وي لِأَنَّهُ الْتَزَمَ الْمُقَامَ فِيهِ عُرْفًا وَشَرْعًا ځکه چي [په نکاح کولو سره] خاوند د عرف او شرع دواړو په اعتبار سره هلته پر خپل ځان پاتېدل لازم کړه قَالَ الْعَلَيْهِ[1]: مَنْ تَأَهَّلَ بِبَلْدَةٍ فَهُوَ مِنْهُمْ نبي ﷺ فرمايلي دي: کوم سړی چي په يو ښار کي نکاح وکړي نو دا سړی هم له هغه خلکو څخه دی وَلِهٰذَا يَصِيرُ الْحَرْبِيُّ بِهِ ذِمِّيًّا او له همدې وجهي حربي [په دارُ الاسلام کي] په نکاح کولو سره ذمي ګرځي وَإِنْ أَرَادَتِ الْخُرُوجَ إِلٰى مِصْرٍ غَيْرِ وَطَنِهَا او که مُطلقه ښځه له خپل وطن څخه بغير [بل ځای] ته [د کوچني] د ايستلو اراده وکړي وَقَدْ كَانَ التَّزَوُّجُ فِيهِ او په هغه ځای کي نکاح [هم] سوې وي أَشَارَ فِي الْكِتَابِ إِلٰى أَنَّهُ لَيْسَ لَهَا ذٰلِكَ نو په متن کي و دې ته اشاره سوې ده چي [په دې صورت کي] ښځي لره د دې اختيار نسته وَهٰذَا رِوَايَةُ كِتَابِ الطَّلَاقِ او دا د کتابُ الطلاق روايت دی وَذُكِرَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: أَنَّ لَهَا ذٰلِكَ او په جامع صغير کي ذکر سوي دي: چي هغې لره د دې اختيار سته لِأَنَّ الْعَقْدَ مَتٰى وُجِدَ فِي مَكَانٍ يُوجِبُ أَحْكَامَهُ فِيهِ ځکه کله چي عقد يو ځای واقع کيږي نو د عقد أحکام [هم] په هغه ځای کي واجبيږي كَمَا يُوجِبُ الْبَيْعُ التَّسْلِيمَ فِي مَكَانِهِ لکه بيع چي [هم] په خپل [د بيع]

په ځاى کي د مبيع ور سپارل واجبوي وَمِنْ جُمْلَةِ ذٰلِكَ حَقُّ إِمْسَاكِ الْأَوْلَادِ او له دې جملې څخه ايعني د عقد له أحکامو څخه ا د بچيانو د راګرځولو حق هم دى ايعني د عقدِ نکاح يو حکم دا هم دى چي کوچنى به د ځان سره ساتي او د هغه پالنه به کويا وَجْهُ الْأَوَّلِ: أَنَّ التَّزَوُّجَ فِي دَارِ الْغُرْبَةِ لَيْسَ الْتِزَامًا لِلْمُكْثِ فِيهِ عُرْفًا داول روايت دليل دا دى: چي په بېګانه اپردي اوطن کي په نکاح کولو سره د عرف له رويه هلته پاتېدل نه لازميږي وَهٰذَا أَصَحُّ او دا اروايت ازيات صحيح دي وَالْحَاصِلُ: أَنَّهُ لَا بُدَّ مِنَ الْأَمْرَيْنِ جَمِيْعًا: الْوَطَنِ وَوُجُوْدُ النِّكَاحِ او حاصل دا دى: چي اد هلک د ايستلو او نقل کولو لپاره ا دوه شيان ضروري دي: وطن او اپه هغه وطن کي ا د نکاح موجودېدل وَهٰذَا كُلُّهُ إِذَا كَانَ بَيْنَ الْمِصْرَيْنِ تَفَاوُتٌ او دا ټوله تفصيل په هغه صورت کي دى کله چي د دواړو ښاونو په مينځ کي توپير [او ليري والي] وي أَمَّا إِذَا تَقَارَبَا بِحَيْثُ يُمْكِنُ لِلْوَالِدِ أَنْ يُطَالِعَ وَلَدَهُ وَيَبِيْتَ فِي بَيْتِهِ لېکن که دواړه ښارونه سره نژدې وي په دې توګه چي د پلار لپاره دا ممکنه وي چي [د ورځي] خپل بچى ويني او شپه په خپل کور کي تېره کړي فَلَا بَأْسَ بِهِ نو [په دې صورت کي د کوچني په نقل کولو کي] هيڅ حرج [او ګناه] نسته وَكَذَا الْجَوَابُ فِي الْقَرْيَتَيْنِ او د دوو کلو [او قصبو] هم دا حکم دى وَلَوِ انْتَقَلَتْ مِنْ قَرْيَةِ الْمِصْرِ إِلَى الْمِصْرِ او که ښځه د ښار له کلي څخه د ښار و طرف ته نقل سي لَا بَأْسَ بِهِ نو په دې کي هيڅ حرج نسته لِأَنَّ فِيهِ نَظَرًا لِلصَّغِيْرِ ځکه چي په دې د کوچني لپاره شفقت [او مصلحت] سته حَيْثُ يَتَخَلَّقُ بِأَخْلَاقِ أَهْلِ الْمِصْرِ ځکه چي هغه به د ښاريانو اخلاق اختيار کړي وَلَيْسَ فِيهِ ضَرَرٌ بِالْأَبِ او په دې کي د پلار لپاره هيڅ نقصان نسته وَفِي عَكْسِهِ ضَرَرٌ بِالصَّغِيْرِ البکن [د دې په برعکس صورت کي د کوچني لپاره نقصان سته لِتَخَلُّقِهِ بِأَخْلَاقِ أَهْلِ السَّوَادِ ځکه چي هغه به د أطرافي [سارايي] خلکو اخلاق اختيار کړي فَلَيْسَ لَهَا ذٰلِكَ نو ځکه به ښځي ته د دې اختيار نه وي.

اللغات: ﴿تَأَهَّلَ﴾ د تفعل مصدر دى: کورني جوړول، واده کول. ﴿إِمْسَاك﴾ د افعال مصدر دى: راګرځول (د ځان سره ساتل). ﴿دَارُ الْغُرْبَةِ﴾ بېګانه وطن، پردېس. ﴿يُطَالِعُ﴾ د مفاعلې مضارع ده: مشاهده کول، کتل. ﴿يَبِيْتُ﴾ د ضرب مضارع ده: شپه تېرول. ﴿الْقَرْيَةُ﴾ قصبه، ښار ګوټى. دلته څني مراد هغه علاقه او کلى دى کوم چي د ښار په أطرافو (صحراء) کي وي، چي هغه ته زموږ په

اصطلاح کې د صحرا کلی او علاقه وايي. ﴿أَهْلَ السَّوَادِ﴾ هغه خلک کوم چې د ښار په أطرافو (صحراء) کې استوګن وي، چې هغه ته زموږ په اصطلاح سارايي (صحرايي) خلک وايي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړي، او تر عدت تېرېدلو وروسته وغواړي چې خپل بچی له ښار څخه د باندې يو بل ځای ته يووسي، نو هغې ته شرعاً د دې اختيار نسته، ځکه چې په دې سره د پلار او زوی په مېنځ کې جدايي راځي او پلار ته تکليف رسيږي، نو له پلار څخه د تکليف لېرې کولو په خاطر به د ښځې لپاره د کوچنې د نقل کولو اختيار او اجازه نه وي، ها! که دا ښځه وغواړي چې بچی خپل وطن ته بوځي، په داسې حال کې چې خاوند هم په هغه وطن کې د دې ښځې سره نکاح کړې وي، نو بيا ښځې ته د دې اختيار او اجازه سته. ځکه کله چې خاوند د ښځې په وطن کې نکاح وکړه، نو د عرف او شرع دواړو په اعتبار سره يې هلته پر ځان اوسېدل لازم کړه، عرفاً خو په دې توګه چې عموماً خاوند په هغه ښار کې اوسيږي، چې په هغه کې يې نکاح کړې وي، او شرعاً په دې توګه چې په حديث کې ذکر سوی دی: "مَنْ تَأَهَّلَ بِبَلْدَةٍ فَهُوَمِنْهُم" (يعني کوم کس چې په يو ښار کې نکاح وکړي، دا کس د هغه ځای له خلکو څخه شمارل کيږي)، همدا وجه ده کوم سړی چې په يو ښار کې نکاح کړې وي، نو هلته به د مقيم په څېر لمونځ کوي، لکه څرنګه چې يو صحابي فرمايي: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: مَنْ تَأَهَّلَ فِيْ بَلْدَةٍ فَيُصَلِّيْ بِصَلَاةِ الْمُقِيْمِ" (يعني څوک چې په يو ښار کې نکاح وکړي، نو هغه به هلته د مقيم کس په څېر لمونځ کوي)، له دې څخه معلومه سوه چې مُطَلّقه ښځه خپل وطن ته بچی نقل کولای سي.

ولهذا يصير الحربي إلخ: د هدايې عربي شارحينو ليکلي دي چې دا جمله د کاتب غلطي ده، په نورو کتابونو کې عبارت په دې توګه ذکر سوی دی: "أَنَّ الْمُسْتَأْمِنَ إِذَا تَزَوَّجَ ذِمِّيَةً لَا يَصِيْرُ ذِمِّيًا. لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا وَيَرْجِعَ"، (يعني که يو حربي کافر دارُ الاسلام ته راسي او أمن واخلي، او هلته د يوې ذمي ښځې سره نکاح وکړي، نو هغه ذمي نه ګرځي، ځکه کېدای سي چې هغه به ذمي ښځې ته طلاق ورکړي او واپس به دارُ الحرب ته ولاړ سي)، لېکن شارح د أحسن الهداية فرمايي چې زما په نېز دا تصحيح هم مناسب نه دي، ځکه چې د "وَلِهٰذَا يَصِيْرُ" تعلق د "اِلْتَزَمَ الْمَقَامَ فِيْهِ عُرْفًا وَشَرْعًا" سره دی، نو غوره توجيه دا ده چې د هدايې دا جمله او عبارت صحيح ومنل سي او د وَلِهٰذَا يَصِيْرُ الْحَرْبِيُّ بِهِ ذِمِّيًا... إلخ حاصل او مطلب دا را وېستل سي چې "که يو حرابي دارُ الاسلام ته راسي او امن واخلي، بيا هغه د يوې ذميه ښځې سره نکاح وکړي، نو پر داسې حربي هم د ذميه ښځې احکام جاري

کیږي، او هغه هم ذمي ګرځي"، او په دې حدیث مَنْ تَأَهَّلَ بِبَلْدَةٍ فَهُوَ مِنْهُمْ سره د دې توجیه تائید هم کیږي. والله أعلم بحقیقة الحال.

وإن أرادت إلخ: فرمايي که ښځه له خپل وطن څخه بغیر يو بل وطن او ښار ته د بچي د نقل کولو اراده وکړي، نو په دې باره کي دوه روايتونه دي: ① د متن (قدوري) او د مبسوط د کتابُ الطلاق روايت دا دی چي ښځي ته دا اختيار نسته چي بل وطن ته بچی نقل کړي. ② د جامع صغير روايت دا دی چي هغې ته به دا اختيار ورکول کیږي، ځکه په کوم ځای کي چي عقد واقع کیږي. هلته د دغه عقد احکام هم جاري کیږي. مثلاً که په يو ځای کي د بيع عقد واقع سي، نو په هغه ځای کي د بيع احکام يعني د مبيع او ثمن اداء کول هم لازمیږي، او څرنګه چي د عقد په احکامو کي د بچي د راګرځولو حق هم سته (چي ښځه بچی را وګرځوي او د ځان سره يې وساتي)، نو ځکه به ښځي ته د دې اختيار ورکول کیږي. لیکن صاحب د هدايې فرمايي چي اول روايت زيات صحيح دی. او د اول روايت مطابق د بچي د نقل کولو لپاره دوې خبري ضروري دي: ① يو دا چي خپل ښار او وطن به وي. ② او په دې ښار به کي خاوند نکاح کړې وي.

خو دا ټوله تفصيلات هغه وخت دي، چي کله د دواړو ښارونو په مينځ کي دومره فاصله وي چي که پلار په ورځ کي د بچي ښار ته ولاړ سي، نو ماښام خپل ښار ته واپس نه سي راتللای (نو په دې صورت کي ښځه کوچنی هغه بل ښار ته نه سي نقل کولای)، لیکن که دواړه ښارونه دومره نژدې وي چي پلار په شپه کي خپل کور ته واپس راتللای سي (چي هغه تقريباً شپږ ميله فاصله کیږي)، نو بيا په دې کي هيڅ حرج نسته چي ښځه له يوه ښار څخه بل ښار ته بچی نقل کړي، ځکه چي په دې صورت کي پلار ته تکليف نه رسیږي، همدا حکم دوو قريو او علاقو دی، يعني که د يوه کلي او بل کلي په مينځ کي کمه فاصله وي چي پلار واپس خپل کلي او علاقې ته راتلای سي، نو داسي کلي ته هم د بچي په نقل کولو کي هيڅ حرج نسته.

ولو انتقلت من قرية المصر إلخ: فرمايي که يو کلی ښار ته نژدې وي، او ښځه له هغه کلي څخه ودغه ښار ته کوچنی نقل کړي، نو په دې کي هم هيڅ حرج او پروا نسته، ځکه په دې کي د بچي فايده ده چي هغه به د ښاريانو اخلاق زده کړه، او په ښه ژوند او غوره چاپېريال کي به غټ سي، او په دې کي د پلار هيڅ نقصان نسته.

لیکن که ښځه په ښار کي وي، او بيا بچی د صحراء کلي ته نقل کړي، نو ښځي ته د دې اختيار او اجازه نسته، ځکه چي په دې صورت کي به بچی د صحراء د خلکو اخلاق او عادات زده کړي، او د هغه ژوند به تباه وبرباد سي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



بَابُ النَّفَقَةِ

(دا) باب د نفقې (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: مخکې تر دې صاحب د کتاب د کوچنې د تربیت او پالنې احکام بیان کړل. اوس له دې ځایه د هغه شي أحکام بیانوي، کوم چې د تربیت او پالنې سره لازم دی. یعنې د نفقې أحکام بیانوي، ځکه چې له نفقې څخه بغیر پالنه او تربیت نه پوره کیږي.

نَفَقَة اسم دی د إِنْفَاق (خرچولو) په معنیٰ سره. په اصطلاح کې نفقه دې ته وايي چې یو چا ته مسلسل خوراک او د ژوند تېرولو خرچه ورکول سي. نفقه د لاندې کسانو لپاره واجبیږي:

① ښځه (مابنه)، ② اولاد، ③ مور او پلار، ⑤ ذوی الأرحام.

د دې ټولو تفصیل او تشریح به په کتاب کې ذکر سي.

د ښځې د نفقې حق

قَالَ: النَّفَقَةُ وَاجِبَةٌ لِلزَّوْجَةِ عَلَى زَوْجِهَا مُسْلِمَةً كَانَتْ أَوْ كَافِرَةً فرمايي: د ښځې نفقه د هغې پر خاوند واجبه ده. هغه که ښځه مسلمانه وي یا کافره وي إِذَا سَلَّمَتْ نَفْسَهَا إِلَى مَنْزِلِهِ [په دې شرط] کله چې هغه خپل ځان د خاوند کور ته وسپاري فَعَلَيْهِ نَفَقَتُهَا وَكِسْوَتُهَا وَسُكْنَاهَا نو پر خاوند د هغې نفقه او د هغې جامې او د هغې استوګنه واجب ده وَالْأَصْلُ فِي ذٰلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَىٰ: لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ [الطلاق: ۷] او أصل په دې باره کې د الله تعالیٰ دا فرمان دی: او نفقه دې ورکړي د وس [او طاقت] خاوند د خپل وس مطابق وَقَوْلُهُ تَعَالَىٰ: وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ [البقرة: ۲۳۳] او د الله تعالیٰ دا فرمان دی: د چا لپاره چې کوچنی زېږول سوی وي [یعنې پلار] پر هغه واجب ده د مندو روزي او د هغوی جامې د قاعدې مطابق وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي حَدِيثِ[1] حَجَّةِ الْوَدَاعِ: وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ اهمدارنګه [د حجة الوداع والا په حدیث کې د نبي ﷺ دا قول دی: [اې خلکو!] پر تاسې د خپلو ښځو روزي او د هغوی جامې د قاعدې مطابق واجب دي وَلِأَنَّ النَّفَقَةَ جَزَاءُ الْاِحْتِبَاسِ او ځکه

[1] تخریج: أخرجه ابو داؤد فی کتاب المناسک، باب صفة حجة النبی ﷺ، حدیث رقم: ۱۹۰۵.

چي نفقه د ايسار بدلو بدله ده ایعني ښځه تول عمر د خاوند د خدمت لپاره د هغه په کور کي ايسار او بندي وي،
نو هغې ته به د عوض او بدلې په توګه نفقه ورکول واجب وي] فَكُلُّ مَنْ كَانَ مَحْبُوسًا بِحَقٍّ مَقْصُودٍ لِغَيْرِهِ نو هر
هغه کس کوم چي د بل سړي د مقصود حق په وجه ايسار [او بندي] وي كَانَتْ نَفَقَتُهُ عَلَيْهِ نو د هغه
نفقه به پر دې سړي واجب وي أَصْلُهُ الْقَاضِي وَالْعَامِلُ فِي الصَّدَقَاتِ د دې أصل قاضي او د صدقاتو
[راټولونکی] عامل دی وَهَذِهِ الدَّلَائِلُ لَا فَصْلَ فِيهَا او په دې دلائلو کي هيڅ تفصيل نسته ایعني په
دې دوو آيتونو او يوه حديث کي د مسلماني او کافري ښځي تر مينځ هيڅ تفصيل او توپير سوی نه دی، بلکي مطلق
ښځي ته د نفقې ورکولو حکم سوی دی] فَتَسْتَوِي فِيهَا الْمُسْلِمَةُ وَالْكَافِرَةُ نو ځکه به په نفقه کي مسلمانه
ښځه او کافره ښځه سره برابر وي.

اللغات: ﴿كِسْوَة﴾ جامې، کالي، ﴿سُكْنَى﴾ په معنیٰ سره د "إِسْكَان" دی، یعني يو څوک په يو کور
کي اوسول (د استوګني لپاره مفت ځای ورته برابرول). صاحب د معجم الوسط يې داسي تعريف
کړی دی: "السُّكْنَى: الإسكان وأن تسكن إنسانا منزلاً بِلاَ أُجْرَة".

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي مطلقاً د هري ښځي (ماينې) نفقه پر خاوند واجب ده، هغه که
کافره وي، که مسلمانه يا کتابيه وي، په دې شرط چي هغې ښځي خپل ځان خاوند ته او د خاوند کور
ته سپارلی وي، او د ښځي په نفقه کي جامې، خوراک، او د استوګني انتظام داخل دي، او د نفقې د
وجوب دليل دا آيتونه دي: ①... لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ، ②... وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ
بِالْمَعْرُوفِ، همدارنګه نبي ﷺ د حجة الوداع په خطبه کي خلکو ته وفرمايل: وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ
وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ، په دې آيتونو او حديث سره په دې توګه دليل نيول کيږي، چي په دې ټولو
کي مطلقاً ښځي ته د نفقې ورکولو حکم سوی دی، او د مسلماني يا کافري ښځي هيڅ قيد او تميز
پکښي نسته، لهذا هر هغه ښځه کوم چي خپل ذات خاوند ته حواله کړي، هغې ته به نفقه ورکول
کيږي، هغه که مسلمانه وي، يا کافره وي.

ولأن النفقه إلخ: د نفقې د وجوب عقلي دليل دا دی چي نفقه د محبوس او بندي او سپړلو بدله ده، نو هر
هغه کس کوم چي د بل سړي د کار او خدمت لپاره ځان محبوس او بندي وساتي، نو د هغه نفقه او
خرچه پر دې سړي واجبيږي، او څرنګه چي ښځه هم خپل ځان د خاوند د مقصد او منفعت لپاره
محبوس کوي، نو ځکه به د هغې نفقه هم پر خاوند واجب وي، لکه قاضي او د زکات ټولونکی عامل
چي هغو خپل ځانونه د مسلمانانو د معاملاتو لپاره محبوس او مقيد کړي دي، نو د دوی دواړو نفقه پر

مسلمانانو ده. او د مسلمانانو له بینک (بیت المال) څخه به دوی ته نفقه او خرچه ورکول کیږي. نو له همدې (قاضي او عامل) څخه دا خبره ښکاره سوه چي که څوک دیو سړي د کار لپاره خپل ځان محبوس کړي، نو پر دې سړي به د هغه نفقه او خرچه واجب وي.

د نفقې د تعیین معیار

وَيُعْتَبَرُ فِي ذٰلِكَ حَالُهُمَا جَمِيعًا او د نفقې [د مقدار] په باره کي به د خاوند او ښځي دواړو د حالت اعتبار کیږي قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: وَهٰذَا اخْتِيَارُ الْخَصَّافِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى ناتوانه بنده [صاحب د کتاب] فرمايي: چي دا د امام خصاف رَحِمَهُ الله اختیار سوی قول دی او پر همدغه فتویٰ ده وَتَفْسِيرُهُ: أَنَّهُمَا إِذَا كَانَا مُوسِرَيْنِ تَجِبُ نَفَقَةُ الْيَسَارِ او د دې وضاحت دا دی: چي که خاوند او ښځه دواړه مالداره [شتمن] وي نو د مالدارۍ والا [د اعلیٰ درجې] نفقه واجبیږي وَإِنْ كَانَا مُعْسِرَيْنِ فَنَفَقَةُ الْإِعْسَارِ او که دواړه غریبان [مفلسه] وي نو د غریبۍ والا [د کمي درجې] نفقه واجبیږي وَإِنْ كَانَتْ مُعْسِرَةً وَالزَّوْجُ مُوسِرًا او که ښځه غریبه وي او خاوند مالدار وي فَنَفَقَتُهَا دُونَ نَفَقَةِ الْمُوسِرَاتِ وَفَوْقَ نَفَقَةِ الْمُعْسِرَاتِ نو د هغې نفقه به له مالدارو ښځو څخه کمه وي او له غریبو ښځو څخه به زیاته وي ایعني په دې صورت کي د مینځوی درجې نفقه واجبیږي] وَقَالَ الْكَرْخِيُّ: يُعْتَبَرُ حَالُ الزَّوْجِ او امام کرخي رَحِمَهُ الله فرمایلي دي: چي د خاوند د حالت اعتبار به کیږي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لِقَوْلِهِ تَعَالٰى: لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ [الطلاق: ۷] ځکه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: نفقه دي ورکړي د وس [او طاقت] څښتن د خپل وس مطابق وَجْهُ الْأَوَّلِ قَوْلُهُ ﷺ لِهِنْدَ امْرَأَةِ أَبِي سُفْيَانَ[1] د اول قول دلیل دا دی چي نبي ﷺ د ابو سفیان ښځي "هند" ته وفرمایل خُذِي مِنْ مَالِ زَوْجِكِ مَا يَكْفِيكِ وَوَلَدَكِ بِالْمَعْرُوفِ ته د خپل خاوند له مال څخه دومره اندازه [نفقه] اخله! چي ستا او ستا د بچي لپاره په اعتدال سره کفایت کوي اِعْتَبَرَ حَالَهَا نبي ﷺ د ښځي د حالت اعتبار کړی دی وَهُوَ الْفِقْهُ او همدا د پوهي [مطابق] خبره ده فَإِنَّ النَّفَقَةَ تَجِبُ بِطَرِيقِ الْكِفَايَةِ ځکه چي نفقه د کفایت په توګه واجبیږي وَالْفَقِيرَةُ لَا تَفْتَقِرُ إِلٰى كِفَايَةِ الْمُوسِرَاتِ او غریبه ښځه د مالدارو ښځو کفایت ته اړتیا نه لري فَلَا مَعْنٰى لِلزِّيَادَةِ لهذا ادهغې په حق

[1] تخریج: أخرجه ابو داؤد في كتاب البيوع، باب في الرجل يأخذ حقه من تحت يده، حديث رقم: ۳۵۳۲. وابن ماجه في كتاب التجارات، باب ما للرجل من مال ولده، حديث رقم: ۲۲۹۳.

کي د زياتي نفقې اواجبولو لره هيڅ معنیٰ پاتې نه سوه وَأَمَّا النَّصُّ فَنَحْنُ نَقُولُ بِمُوجَبِهِ أَنَّهُ يُخَاطَبُ بِقَدْرِ وُسْعِهِ وَالْبَاقِي دَيْنٌ فِي ذِمَّتِهِ او کوم چي د امام شافعي ذکر سوی آيت دی نو مونږ اهم د هغه د حکم قائل يو چي خاوند اوس د خپل وس مطابق مخاطب دی او پاته نفقه به د هغه پر ذمه قرض وي وَمَعْنَى قَوْلِهِ بِالْمَعْرُوفِ: الْوَسَطُ او د الله تعالیٰ د دې فرمان "بِالْمَعْرُوفِ" معنیٰ ده: د مېنځوی درجې نفقه وَهُوَ الْوَاجِبُ او همدا واجب ده وَبِهِ يَتَبَيَّنُ أَنَّهُ لَا مَعْنَى لِلتَّقْدِيرِ او په همدې بِالْمَعْرُوفِ سره دا ښکاره سوه چي د ايو معلوم مقدار متعينولو لره هيڅ معنیٰ نسته كَمَا ذَهَبَ إِلَيْهِ الشَّافِعِيُّ أَنَّهُ عَلَى الْمُوسِرِ مُدَّانِ وَعَلَى الْمُعْسِرِ مُدٌّ وَعَلَى الْمُتَوَسِّطِ مُدٌّ وَنِصْفُ مُدٍّ لکه څرنګه چي امام شافعي رَحِمَهُ الله و دې طرف ته تګ کړی دی چي د مالدار خاوند پر ذمه دوه مده واجب دي او د غريب خاوند پر ذمه يو مُد واجب دی او د متوسط خاوند پر ذمه يو نيم مُد واجب دی لِأَنَّ مَا وَجَبَ كِفَايَةً لَا يَتَقَدَّرُ شَرْعًا فِي نَفْسِهِ ځکه کوم شی چي د کفايت په توګه واجبيږي هغه د خپل ذات په اعتبار سره شرعاً متعيّن کېدلای نه سي.

اللغات: ﴿مُوْسِر﴾ د افعال اسم فاعل دی: پراخ لاسی، مالدار، شتمن، ﴿مُعْسِر﴾ د افعال اسم فاعل دی: تنګلاسی، غريب، مفلس، ﴿يَكْفِيْكِ﴾ د ضرب مضارع ده: کافي کېدل، کفايت کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د نفقې د حقيقت او مقدار په سلسله کي مفتیٰ به قول دا دی چي د خاوند او ښځي دواړو د حالت اعتبار به کيږي، او د دوی د حالت او حيثيت مطابق به نفقه متعين کيږي. همدا قول امام خصاف رَحِمَهُ الله اختيار کړی دی، او د دې قول تفسير دا دی چي که خاوند او ښځه دواړه مالدار وي، نو پر خاوند به نَفَقَةُ الْيَسَار (د مالدارۍ او فراخۍ نفقه) واجب وي، او که دوی دواړه تنګ لاسي او غريبان وي، نو پر خاوند نَفَقَةُ الإِعْسَار (د غريبۍ او مفلسۍ والا نفقه) واجب وي. او که په خاوند او ښځه کي يو مالدار وي او بل غريب وي، نو په دې صورت کي به د مېنځوی درجې نفقه واجب وي، يعني هغه به د مالدارۍ ښځي له نفقې څخه کمه وي او د غريبۍ ښځي له نفقې څخه به څه زياته وي، همدا معتبر او معتمد قول دی. د دې په خلاف د امام کرخي او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله رايه دا ده چي که په خاوند او ښځه کي يو مالدار وي او بل غريب وي، نو په دې صورت کي به د خاوند د حالت اعتبار کيږي، لهذا که هغه مالدار وي، نو پر هغه به نفقةُ اليَسَار واجب وي، او که هغه غريب وي، نو نفقةُ الإعسَار به واجب وي.

دليل: د دې حضراتو دليل دا آيت دی: "لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهٖ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا اٰتَاهُ الله"، (يعني وس او طاقت لرونکی سړی دې د خپل وس مطابق نفقه ورکوي، او تنګلاسی (غريب) سړي ته چې الله څه ورکړي وي، د هغه مطابق دې نفقه ورکوي)، امام شافعي او امام کرخي رَحِمَهُمَا الله په دې آيت سره په دې توګه دليل نيسي چې الله تعالیٰ د مالدارۍ او غريبۍ (يُسْر او عُسْر) په دواړونو حالتونو کې د خاوند د حالت اعتبار کړی دی، نو ځکه موږ د هغه اعتبار کوو. او بل دا چې که د ښځې د حالت اعتبار وسي، او پر غريب سړي د مالدارې ښځې نفقه واجب سي، مثلاً د مالدارې ښځې نفقه هره ورځ پنځه درهمه وي، او د هغې خاوند هره ورځ دوه درهمه ګټي، نو پاته درې درهمه به هغه غريب له کومې خوا ورکړي، دا خو بې فايدې خبره ده او تکليف ما لا يُطاق دی، نو ځکه به د سړي د حالت اعتبار کيږي.

وجه الأول إلخ: د اول (مفتیٰ به) قول دليل دا دی چې نبي ﷺ ته د ابو سفيان ښځې هنده بنت عتبه شکايت وکړی او ويې ويل: "يَا رَسُوْلَ الله! إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيْحٌ لَا يُعْطِيْنِيْ مَا يَكْفِيْنِيْ وَوَلَدِيْ إِلَّا مَا أَخَذْتُ مِنْهُ وَهُوَ لَا يَعْلَمُ" (اې د الله رسوله! [زما خاوند] ابو سفيان يو بخيل سړی دی او هغه ما ته دومره نفقه نه راکوي چې هغه زما او زما د بچيانو لپاره کفايت وکړي، مګر هغه [زموږ لپاره کفايت کوي] چې زه يې د ده د ناخبرۍ په حالت کې [په پټه] واخلم)، نو نبي ﷺ ورته وفرمايل: "خُذِيْ مِنْ مَالِ زَوْجِكِ مَا يَكْفِيْكِ وَوَلَدَكِ بِالْمَعْرُوْفِ" (يعني د خپل خاوند له مال څخه دومره اندازه اخله چې هغه ستا او ستا د بچيانو لپاره د اعتدال په توګه کافي سي). څرنګه چې په دې روايت کې نبي ﷺ د ښځې د حالت اعتبار کړی دی، لهذا موږ هم د ښځې د حالت اعتبار کوو، او د هوښياری خبره هم دا ده چې د ښځې د حالت اعتبار وسي، ځکه چې نفقه د کفايت په توګه واجبيږي. او کومه ښځه چې غريبه وي، هغې لره د مالدارې ښځې کفايت پکار نه دی، نو ځکه به د ښځې د حالت او کفايت په اعتبار سره هغې ته نفقې ورکول کيږي او له ضرورت څخه زيات شی به نه ورکول کيږي.

وأما النص إلخ: په دې عبارت سره امام شافعي رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي، امام شافعي په دې آيت "لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ ...إلخ" سره دليل نيولی وو، چې په دې آيت کې د سړي د حالت اعتبار سوی دی او س که د ښځې د حالت اعتبار وسي، او پر غريب سړي د مالدارې ښځې نفقه واجب سي، نو دا به تکليف ما لا يُطاق وي، د دې په جواب کې صاحب د هدايې فرمايي چې موږ هم د دې آيت په حکم عمل کوو، هغه په دې توګه چې غريب سړی به په اوس حالت کې د خپل وس مطابق نفقه اداء کوي،

او پاته نفقه به د هغه پر ذمه قرض وي، مثلاً که د مالداري ښځې نفقه هره ورځ پنځه درهمه وي، او غريب خاوند هغې ته هره ورځ فقط دوه درهمه نفقه ورکوي، نو د هرې ورځې درې درهمه به پر هغه قرض پاتې کيږي، او کله چې هم غريب خاوند مالدار او شتمن سي، نو په هغه وخت کې به دا قرض اداء کوي.

ومعنیٰ قوله إلخ: فرمايي چې په مخکنې آيت "وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ" کې له "بِالْمَعْرُوْفِ" څخه "بِالْوَسَطِ" مراد دی، يعنې د أوسط درجې نفقه واجب ده (چې د هغه مطلب او حاصل دا سو چې که ښځه مالداره وي، او خاوند غريب وي، نو د أوسط درجې نفقه به واجب وي).

وبه يتبين إلخ: په پورتنې آيت او حديث کې چې کوم دا خبره وسوه چې ښځه به معروف نفقه يعنې د اعتدال مطابق نفقه اخلي او خاوند به معروف نفقه ښځې ته ورکوي، په هغه کې د معروف مطلب دا دی چې نفقه به د خاوند د حالت او د هغه وخت او موسم سره مناسب وي، نو په دې سره معلومه سوه چې په هيڅ حالت کې به هم د نفقې لپاره يو معلوم مقدار نه ټاکل کيږي، لکه څرنګه چې امام شافعي رَحِمَهُ الله پر مالدار سړي دوه مُده، او پر متوسط سړي يو نيم مُد او پر غريب سړي يو مُد واجبوي، دا صحيح نه دي ځکه چې په شريعت کې نفقه د کفايت او اعتدال په اندازه واجب سوې ده (چې د هر سړي د حالت او د هغه وخت مطابق به نفقه واجب وي)، او أحوال او أوقات بېلا بېل دي، نو ځکه به د نفقې لپاره يو معلوم مقدار نه ټاکل کيږي.

د هغه ښځې نفقه کوم چې د مهر په وجه خپل ځان خاوند ته نه سپاري

وَإِنِ امْتَنَعَتْ مِنْ تَسْلِيمِ نَفْسِهَا حَتّٰى يُعْطِيَهَا مَهْرَهَا او که ښځه [خاوند ته] د خپل ځان له ور سپارلو څخه منع سي تر دې چې [خاوند] هغې ته مهر ورکړي فَلَهَا النَّفَقَةُ نو د هغې لپاره به نفقه [واجب] وي لِأَنَّهٗ مَنْعٌ بِحَقٍّ ځکه چې دا [د خپل] حق په وجه منع کېدل دي فَكَانَ فَوْتُ الِاحْتِبَاسِ لِمَعْنًى مِنْ قِبَلِهٖ لهذا د احتباس فوتېدل [ختمېدل] به د يو داسې معنیٰ په وجه سره وي کوم چې د خاوند له طرفه وي فَيُجْعَلُ كَلَا فَائِتٍ نو هغه [احتباس] به داسې ګڼل کيږي لکه فوت سوی چې نه وي.

اللغات: ﴿إِحْتِبَاس﴾ د افتعال مصدر دی: ځان محبوس او بندي ساتل، ښځه چې خپل ځان د خاوند د خدمت لپاره د هغه په کور کې ايسار او بندي وساتي او خاوند ته پر خپل ځان د جماع قدرت ورکوي، نو دې ته "احتباس" وايي، د همدغه "احتباس" په وجه ښځه د نفقې حقداره جوړيږي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که ښځه په دې وجه خاوند ته ځان نه حواله کوي چې ما ته خپل مهر راکړه (بیا زه تا ته خپل ځان حواله کوم)، نو په دې صورت کې به ښځې ته نفقه ورکول کیږي؛ ځکه چې ښځه د خاوند د مهر نه ورکولو په وجه بضع نه ورته سپاري، نو داسې سو لکه د خاوندد شرارت وجه چې ښځه له خپل ځان څخه احتباس ختم کړي (او خپل ځان آزاد وساتي)، او د خاوند د شرارت او د خپل حق په وجه احتباس ختمول داسې دي لکه احتباس نه ختمول. نو ځکه به ښځې ته نفقه ورکول کیږي، یعني ښځه د خپل حق په وجه ځان او بضع نه ورته سپاري. لهذا هغه ناشزه (نافرمانه) نه سوه، او ګواکې هغې خپل ځان او بضع ورته وسپارل. نو ځکه به نفقه ورکول کیږي.

د نافرمانې ښځې نفقه

وَإِنْ نَشَزَتْ او که ښځه نافرماني [او د خاوند د حکم مخالفت] وکړي فَلَا نَفَقَةَ لَهَا حَتّٰى تَعُودَ إِلٰى مَنْزِلِهِ نو د هغې لپاره به نفقه نه وي تر دې چې هغه خپل کور ته واپس راسي لِأَنَّ فَوْتَ الِاحْتِبَاسِ مِنْهَا ځکه چې د احتباس فوتېدل د ښځې له طرفه دي وَإِنْ عَادَتْ جَاءَ الِاحْتِبَاسُ او که هغه واپس [کور ته] راسي نو احتباس [هم واپس] راغلی فَتَجِبُ النَّفَقَةُ نو نفقه به واجب وي بِخِلَافِ مَا إِذَا امْتَنَعَتْ مِنَ التَّمْكِينِ فِي بَيْتِ الزَّوْجِ په خلاف د هغه صورت کله چې ښځه [خاوند ته پر خپل ځان باندې] له قدرت ورکولو څخه منع سي د خاوند په کور کې لِأَنَّ الِاحْتِبَاسَ قَائِمٌ ځکه چې [په هغه صورت کې] احتباس موجود دی وَالزَّوْجُ يَقْدِرُ عَلَى الْوَطْءِ كَرْهًا او خاوند په زوره پر وطي کولو قدرت [هم] لري.

اللغات: ﴿نَشَزَتْ﴾ له نصر او ضرب دواړو څخه د ماضي صیغه ده: نافرماني کول (سرکښي کول)، نفرت کول. ﴿تَمْكِين﴾ د تفعیل مصدر دی: (بل چا ته) قدرت ورکول. ﴿كَرْهًا﴾ او كُرْهًا: جبراً، په زوره.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که ښځه له یو شرعي عذر څخه بغیر نافرماني وکړي او له کور څخه ولاړه سي، نو تر څو چې هغه واپس کور ته نه راسي، تر هغه وخته به نفقه نه ورکول کیږي؛ ځکه چې بلته په خپله ښځې احتباس ختم کړی او فوت کړی دی. نو ځکه به د هغې نفقه هم بندیږي، لیکن کله چې هغه بیا واپس راسي او خپل ځان د خاوند په کور کې محبوس او بندي کړي، نو بیرته به نفقه ور شروع کیږي.

بخلاف ما الخ: او که ښځه د خاوند په کور کې اوسیږي لیکن خاوند ته پر خپل ځان د جماع قدرت نه ورکوي، نو په دې صورت کې به هم نفقه ورکول کیږي، ځکه چې په کور کې د اوسېدلو په وجه

احتباس موجود دی، او خاوند په زوره هم جماع ور سره کولای سي، نو ځکه به دا ښځه د نفقې حقداره وي (لېکن که ښځه دومره قوي وي یا ملکي قانون داسي وي چي د هغې سره په زوره جماع کېدلای نه سي، نو بیا په کور کي د هغې د اوسېدلو باوجود به نفقه نه ورکول کیږي، ځکه چي په حقیقت کي احتباس پاته نه سو).

د کوچنی نجلی نفقه

وَإِنْ كَانَتْ صَغِيرَةً لَا يُسْتَمْتَعُ بِهَا او که ښځه دومره کوچنی [نابالغه] وي چي نفع ځني اخیستل کېدلای نه سي [یعني د هغې سره جماع کول ممکن نه وي] فَلَا نَفَقَةَ لَهَا نو د هغې لپاره به نفقه [واجب] نه وي لِأَنَّ امْتِنَاعَ الِاسْتِمْتَاعِ لِمَعْنًى فِيهَا ځکه چي د استمتاع [جماع] ممانعت د یو داسي سبب په وجه دی چي هغه سبب په ښځي کي دی وَالِاحْتِبَاسُ الْمُوجِبُ مَا يَكُونُ وَسِيلَةً إِلَى مَقْصُودٍ مُسْتَحَقٍّ بِالنِّكَاحِ حالانکي [د نفقې] واجبونکی احتباس هغه دی کوم چي د نکاح په ذریعه د ثابت سوي مقصود وسیله وي وَلَمْ يُوجَدْ او [دلته] هغه احتباس موجود نه سو بِخِلَافِ الْمَرِيضَةِ عَلَى مَا نُبَيِّنُ په خلاف د مریضې [ناروغې] ښځي چي موږ به [د هغه حکم وروسته] بیان کړو وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَهَا النَّفَقَةُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي د صغیرې [نا بالغه نجلی] لپاره به نفقه [واجب] وي لِأَنَّهَا عِوَضٌ مِنَ الْمِلْكِ عِنْدَهُ ځکه چي د هغه په نېز نفقه د ملکیت عوض ده كَمَا فِي الْمَمْلُوكَةِ بِمِلْكِ الْيَمِينِ لکه په ملک یمین سره د مملوکه [مینځي] نفقه وَلَنَا: أَنَّ الْمَهْرَ عِوَضٌ عَنِ الْمِلْكِ او زموږ دلیل دا دی چي د ملکیت عوض مهر دی وَلَا يَجْتَمِعُ الْعِوَضَانِ عَنْ مُعَوَّضٍ وَاحِدٍ او د یوه معوض په حق کي دوه عوضونه سره جمع کېدلای نه سي فَلَهَا الْمَهْرُ دُونَ النَّفَقَةِ لهذا د هغې لپاره به [فقط] مهر وي، نه نفقه وَإِنْ كَانَ الزَّوْجُ صَغِيرًا لَا يَقْدِرُ عَلَى الْوَطْءِ وَهِيَ كَبِيرَةٌ او که خاوند دومره کوچنی [او نابالغ] وي چي پر جماع کولو قدرت نه لري او ښځه غټه [بالغه] وي فَلَهَا النَّفَقَةُ مِنْ مَالِهِ نو د هغې لپاره به د خاوند له مال څخه نفقه [واجب] وي لِأَنَّ التَّسْلِيمَ قَدْ تَحَقَّقَ مِنْهَا ځکه چي د هغې له طرفه اخپل ځان او بضع او ورسپارل ثابت سو وَإِنَّمَا الْعَجْزُ مِنْ قِبَلِهِ او عاجزي [فقط] د خاوند له طرفه ده فَصَارَ كَالْمَجْبُوبِ وَالْعِنِّينِ نو هغه [نابالغ خاوند] داسي سو لکه مقطوع الذکر او عنین.

اللغات: ﴿لَا يُسْتَمْتَعُ﴾ د استعال له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: نفع اخيستل، فايده حاصلول. ﴿مَجْبُوْب﴾ هغه سړی چې د تناسل آله (ذکر) يې پرېکړې سوې وي. ﴿عِنِّيْن﴾ هغه سړی چې پر جماع کولو هيڅ قدرت نه لري (نامرد).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند غټ او بالغ وي او ښځه کوچنۍ او نابالغه وي (مثلاً د اُوو کالو وي)، او د هغې سره جماع کول ممکن نه وي، نو زموږ په نيز پر خاوند د هغې لپاره نفقه واجب نه ده، ځکه چې دلته پر جماع باندې قدرت نه ورکول د يو داسې سبب په وجه دي چې هغه په ښځه کې موجود دی، يعنې د هغې کوچنيوالی او نابالغتوب، لهذا که څه هم احتباس موجود دی، خو هغه ناقص دی، نو د دې سبب په وجه به هغه له مستحقي نفقې څخه منع کيږي، ځکه چې نفقه د هغه احتباس په وجه واجبيږي کوم چې کامل او بشپړ وي، او چې په هغه کې د خاوند لپاره کما حقهٗ د وطي او استمتاع قدرت وي، او دلته داسې کامل احتباس نسته، نو ځکه به نفقه هم نه واجبيږي.

د دې په خلاف د مريضې ښځې مسئله ده، نو هغه به وروسته بيان سي، لهذا اوس تاسو په مريضې ښځې سره دليل مه نيسئ او اعتراض مه کوئ!.

وقال الشافعي إلخ: په دې سلسله کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې د صغيره (کوچنۍ نجلۍ) لپاره نفقه واجب ده، او خاوند به هغې ته نفقه ورکوي، ځکه چې د هغه په نيز نفقه د ملکيت عوض ده، او دلته هم د نکاح ملکيت (ملکِ نکاح) موجود دی او ښځه د خاوند په کور کې ده، نو ځکه به پر خاوند نفقه واجب وي، لکه يو سړی چې مينځه رانيسي او د هغې مالک سي، نو پر هغه باندې هم د مينځې نفقه واجب ده.

زموږ دليل دا دی چې نفقه د ملکيت (ملکِ نکاح) عوض نه ده، بلکې د ملکيت عوض خو مهر دی، لهذا اوس نفقه د ملکيت (ملکِ نکاح) عوض نه سي جوړېدلای، کنې د يوه معوض په بدله کې به دوه عوضونه سره جمع سي، او داسې نه سي کېدلای، نو د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره به صحيح نه وي چې نفقه د ملکيت (ملکِ نکاح) عوض ده.

وإن كان إلخ: او که خاوند دومره کوچنی (نابالغه هلک) وي چې پر جماع قدرت نه لري، او ښځه بالغه وي او خپل ځان يې هغه ته سپارلی وي، نو په دې صورت کې به ښځه د نفقې مستحقه وي، او د خاوند له مال څخه به هغې ته نفقه ورکول کيږي؛ ځکه ښځې خپله بضع او خپل ځان هغه ته سپارلی دی، او د ښځې له طرفه احتباس ثابت او کامل دی، نو ځکه به نفقه ورکول کيږي، پاته سوه د خاوند عاجزي، نو هغه په خپله د خاوند له طرفه ده، په هغه کې د ښځې هيڅ دخل نسته، لهذا د دې شي په وجه به د ښځې په نفقه کې خلل نه راځي، لکه څرنګه چې د مقطوعُ الذکر او عنين ښځې ته نفقه ورکول کيږي، همداسې به د صغير او نابالغه هلک ښځې ته هم نفقه ورکول کيږي.

د قيدي ښځې نفقه

وَإِذَا حُبِسَتِ الْمَرْأَةُ فِي دَيْنٍ او كله چې د قرض په وجه ښځه قيدي كړى سي فَلَا نَفَقَةَ لَهَا نو د هغې لپاره به نفقه [واجب] نه وي لِأَنَّ فَوْتَ الِاحْتِبَاسِ مِنْهَا بِالْمُمَاطَلَةِ ځكه چې د احتباس فوتېدل د ښځې له طرفه دي د ټال متهول كولو په وجه [نه د خاوند له طرفه] وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مِنْهَا بِأَنْ كَانَتْ عَاجِزَةً او كه د ښځې له طرفه احتباس نه وي په دې توګه چې هغه [د قرض له اداء كولو څخه] عاجزه وي فَلَيْسَ مِنْهُ نو [هم] [د احتباس [فوتېدل] د خاوند له طرفه نه دي وَكَذَا إِذَا غَصَبَهَا رَجُلٌ كَرْهًا فَذَهَبَ بِهَا او همدارنګه كه يو څوک په زوره [يوه] ښځه غصب كړي او [د خپل ځان سره يې] بوځي انو د هغې لپاره به هم نفقه واجب نه وي] وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّ لَهَا النَّفَقَةَ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله روايت دى: چې د هغې لپاره به نفقه [واجب] وي وَالْفَتْوَى عَلَى الْأَوَّلِ او فتوىٰ پر اول قول ده لِأَنَّ فَوْتَ الِاحْتِبَاسِ لَيْسَ مِنْهُ لِيُجْعَلَ بَاقِيًا تَقْدِيرًا ځكه چې د احتباس فوتېدل د خاوند له طرفه نه دي چې حكماً احتباس باقي ومنل سي وَكَذَا إِذَا حَجَّتْ مَعَ مَحْرَمٍ او همدارنګه [د ښځې لپاره به نفقه واجب نه وي] كله چې هغه د يو محرم سره حج وكړي لِأَنَّ فَوْتَ الِاحْتِبَاسِ مِنْهَا ځكه چې د احتباس فوتېدل د هغې له طرفه دي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّ لَهَا النَّفَقَةَ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دى: چې د هغې لپاره به نفقه [واجب] وي لِأَنَّ إِقَامَةَ الْفَرْضِ عُذْرٌ ځكه چې فرض اداء كول يو عذر دى وَلَكِنْ تَجِبُ عَلَيْهِ نَفَقَةُ الْحَضَرِ لېكن پر خاوند به د حضر [د ښځې د مقيم والي] نفقه واجب وي دُونَ السَّفَرِ نه د سفر لِأَنَّهَا هِيَ الْمُسْتَحِقَّةُ عَلَيْهِ ځكه چې همدا [د حضر] نفقه پر خاوند واجب ده وَلَوْ سَافَرَ مَعَهَا الزَّوْجُ او كه خاوند [هم] د هغې سره سفر وكړي تَجِبُ النَّفَقَةُ بِالِاتِّفَاقِ نو په اتفاق سره نفقه واجبېږي لِأَنَّ الِاحْتِبَاسَ قَائِمٌ ځكه چې احتباس موجود سو لِقِيَامِهِ عَلَيْهَا ځكه چې خاوند [هم] د ښځې سره موجود دى وَتَجِبُ نَفَقَةُ الْحَضَرِ دُونَ السَّفَرِ او [په دې صورت كې هم] د حضر نفقه واجبېږي، نه د سفر وَلَا يَجِبُ الْكِرَاءُ او كرايه نه واجبېږي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه كوم چې موږ [اوس] ذكر كړى.

اللغات: ﴿حُبِسَتْ﴾ د ضرب له باب څخه د ماضي مجهولي صيغه ده: بندي كول. قيدي كول (بنديخاني ته اچول). ﴿مُمَاطَلَة﴾ د مفاعلې مصدر دى: ټال متهال كول (ټال متهول كول). چا ته په يو

کار کي پلمه کول، غولول، (د قدرت باوجود د يو چا قرض نه ورکول). ﴿حَضَر﴾ د سفر ضد. مقيم والي (په خپل وطن کي حاضر والي)، ﴿كِرَاءٌ﴾ کرايه (أجرت).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يو سړي ښځه د قرض (او پور) په وجه قيدي کړی سي، او د هغه په وجه احتباس فوت سي، نو پر خاوند د هغې نفقه واجب نه ده؛ ځکه چي دلته د ښځي په وجه احتباس فوت سوی او ختم سوی دی، ځکه که چيري ښځي په قرض اداء کولو کي ټال متهول نه کولای نو هغه به نه قيد کېدلای. لهذا د هغې ټال متهول کول د احتباس سبب او دليل دی. نو ځکه به د هغې واجبه نفقه ساقطيږي.

او که د قرض نه اداء کول د مماطلت او ټال متهول په وجه نه وي، بلکې د ښځي د مجبوری او غريبی په وجه دوي، او ښځه د قرض پر اداء کولو قدرت نه لري، نو په دې صورت کي هم ښځي لره دا حق نسته چي له خاوند څخه د نفقې د حق مطالبه وکړي، ځکه چي په دې صورت کي استقراض يعني قرض اخيستل د احتباس د ختمولو سبب دی. او د دې سبب په وجه به دا ښځه له واجبې نفقې څخه محروميږي.

وكذا إذا الخ: فرمايي که يو بل سړی د يو چا ښځه غصب کړي او احتباس ختم سي. نو هم به دا مغصوبه ښځه د نفقې حقداره نه وي، همدا مفتیٰ به قول او ظاهر روايت دی. له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه (په نوادر کي) يو روايت دا دی چي مغصوبه ښځي ته به نفقه ورکول کيږي، ځکه چي هغه په دې سلسله کي مجبوره ده، او هغې په خپله خوښه او رضا خپل ځان قيدي کړی نه دی. لهذا د ښځي له طرفه د احتباس ختمول ثابت نه سو. د اول (مفتیٰ به) قول دليل دا دی چي کله دلته د خاوند له طرفه په هيڅ ډول د احتباس ختمول ثابت سوي نه دي، نو هغه (احتباس) به حکماً هم باقي نه منل کيږي. او له احتباس څخه بغير ښځه د نفقې مستحقه نه ګرځي. نو ځکه به مغصوبه ښځي ته هم نفقه نه ورکول کيږي، همدارنګه که يوه ښځه د يو محرم (قريب) سره د حج په سفر ولاړه سي. نو هغې ته به هم نفقه نه ورکول کيږي، ځکه چي په دې صورت کي د احتباس ختمول د ښځي له طرفه دي کوم چي د نفقې د وجوب منافي دي.

لېکن امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په دې صورت کي هم د ښځي لپاره نفقه واجبوي. او حج کول يو عذر ګڼي، خو هغه هم پر خاوند د حَضَرْ نفقه واجبوي، نه د سَفر نفقه. ځکه چي پر خاوند فقط د حَضَر نفقه واجب سوې ده. نه د سفر (ځکه چي د سفر نفقه خو ډېره ګرانه پرېوځي او د خاوند مال ور ختموي).

ولو سافر إلخ: فرمايي که د ښځي سره په سفر کي د هغې خاوند هم موجود وي، نو بالاتفاق د ښځي لپاره نفقه واجبيږي، ځکه چي إحتباس موجود سو، خو په دې صورت کي به هم ښځي ته د حضر نفقه ورکوي، نه د سفر (يعني د سفر مصارف او لګښتونه به نه ورکوي)، ليکن که خاوند په خپله د تبرع او احسان په توګه هغې ته د سفر نفقه ورکړي، نو دا ښه خبره ده، همدارنګه پر خاوند د هغې کرايه هم واجب نه ده. ځکه چي کرايه هم د سفر په نفقې کي داخله ده، او پر خاوند فقط د حضر نفقه واجب ده.

د مريضي ښځي نفقه

وَإِنْ مَرِضَتْ فِي مَنْزِلِ الزَّوْجِ او که ښځه د خاوند په کور کي ناروغه سي **فَلَهَا النَّفَقَةُ** نو د هغې لپاره به [استحسانا] نفقه [واجب] وي [همدا ظاهر روايت دی] **وَالْقِيَاسُ: أَنْ لَا نَفَقَةَ لَهَا إِذَا كَانَ مَرَضًا يَمْنَعُ مِنَ الْجِمَاعِ** او قياس دا دی: چي د هغې لپاره به نفقه [واجب] نه وي کله چي هغه يو داسي مرض وي کوم چي له جماع څخه مانع وي **لِفَوْتِ الِاحْتِبَاسِ لِلِاسْتِمْتَاعِ** ځکه چي د استمتاع [جماع] لپاره احتباس فوت سو **وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ الِاحْتِبَاسَ قَائِمٌ** د استحسان دليل دا دی: چي احتباس [اوس هم] موجود دی **فَإِنَّهُ يَسْتَأْنِسُ بِهَا** ځکه چي خاوند په هغې [مريضي ښځي] سره وحشت ليري کوي [يعني د هغې په ذريعه د خاوند ديفت او أفکار ختميږي] **وَيَمَسُّهَا** او [خاوند] هغه مسه کولای سي **وَتَحْفَظُ الْبَيْتَ** [همدارنګه] دا ښځه [د خاوند] د کور ساتنه کوي **وَالْمَانِعُ بِعَارِضٍ** او مانع د يو عارض [مرض] په وجه دی **فَأَشْبَهَ الْحَيْضَ** نو دا د حيض سره مشابه سو **وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهَا إِذَا سَلَّمَتْ نَفْسَهَا ثُمَّ مَرِضَتْ** او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چي که دا ښځه [اول] خپل ځان [خاوند ته] وسپاري او بيا مريضه سي **تَجِبُ النَّفَقَةُ** نو نفقه واجبيږي **لِتَحَقُّقِ التَّسْلِيمِ** ځکه چي ورسپارل موجود سو **وَلَوْ مَرِضَتْ ثُمَّ سَلَّمَتْ** او که [اول] دا ښځه مريضه سي بيا [خپل ځان] ور وسپاري **لَا تَجِبُ** نو نفقه نه واجبيږي **لِأَنَّ التَّسْلِيمَ لَمْ يَصِحَّ** ځکه چي ورسپارل صحيح نه سو **قَالُوا** ●: **هٰذَا حَسَنٌ**

● القول الراجح: هو ظاهر الرواية، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله : ورواية عن أبى يوسف وليس الفتوىٰ عليه، بل ظاهر الرواية ... الأصح... والمختار وجوب النفقة لتحقق الاحتباس...وهو ظاهر الرواية (فتح القدير ج:۴، ص:۱۹۹)، وقال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله : أو مرض فى بيت الزوج فإن لها النفقة استحساناً، لقيام الاحتباس، وكذا لو مرضت، ثم إليه نقلت، أو فى ها نفت ولنفسها ما منعت، وعليه الفتوىٰ (رد المحتار ج:۲، ص:۷۰۱). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۸۱]

مشائخو فرمایلي دي: چي همدا ښه (قول) دی وَفِي لَفْظِ الْكِتَابِ مَا يُشِيْرُ إِلَيْهِ او د کتاب (متن) لفظ (هم) اودي وطرف ته اشاره کوي.

اللغات: ﴿إِسْتِمْتَاع﴾ د استفعال مصدر دی: (له ښځي څخه) نفع اخیستل (مراد څني جماع ورسره کول دي). ﴿يَسْتَأْنِسُ﴾ د استفعال مضارع ده: اُنس حاصلول، روږدېدل (بلد کېدل). دیو چا په ذریعه خپل وحشت (او دیغت) لیري کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که ښځه د خاوند کور ته راسي او هلته ناروغه (مریضه) سي، نو پر خاوند د هغې نفقه واجب ده. هغه که د ښځي مرض له جماع څخه مانع وي او که نه وي. او د قیاس تقاضا دا ده چي که د هغې مرض له جماع څخه مانع وي، نو نفقه واجبېدل پکار نه دي، ځکه چي د جماع په حق کي د ښځي له طرفه احتباس ختم سو، نو د هغې احتباس کامل پاته نه سو، او ښځه له کامل احتباس څخه بغیر د نفقې نه حقداره کیږي.

د استحسان دلیل دا دی چي احتباس اوس هم موجود دی، ځکه چي ښځه د خاوند په کور کي محبوسه ده، او خاوند په هغې سره وحشت لیري کوي (یعني د هغې په وجود یې زړه یې خوشحاله وي او په زړه کي یې دیغت او خوابدي نه وي)، او له جماع څخه بغیر د هغې د هر اندام څخه نفع او خوند اخیستلای سي (او جماع هم د ډېر عمر لپاره ناممکنه ده، بلکي خدای به یې بیرته جوړه کړي)، همدارنګه هغه د خاوند د کور حفاظت کوي کوم چي د احتباس یو غټ جزء دی، او مرض یو عارضي شی دی چي په هغه کي د ښځي هیڅ دخل نسته، نو څرنګه چي حیض من جانبِ الله او عارضي دی، او په هغه سره نفقه نه بندیږي. همداسي مرض هم عارضي او من جانب الله دی، نو د هغه په وجه هم نفقه بندول پکار نه دي.

وعن أبي يوسف إلخ: او په دې سلسله کي له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه دا روایت نقل سوی دی چي که چیري ښځه اول خپل ځان خاوند ته حواله کړي (او د جماع لپاره خپله بضع ورته وسپاري)، او بیا مریضه سي، نو د هغې لپاره به نفقه واجب وي، او که اول هغه مریضه سي او بیا یې ورته وسپاري، نو نفقه به واجب نه وي؛ ځکه چي په اول صورت کي د ښځي له طرفه خپل ځان (او بضع) ور سپارل موجود سو. او په دویم صورت کي د مرض په وجه ور سپارل صحیح نه سو (یعني تر مرض وروسته ورسپارل داسي سو لکه نه ورسپارل). او زموږ علماؤ همدغه تفصیل مناسب او ښه ګڼلی دی، او د قدوري په عبارت (یعني په متن کي) هم و دې طرف ته اشاره سوې ده (ځکه چي په متن کي ذکر سوي دي: مَرِضَتْ فِيْ مَنْزِلِ الزَّوْجِ. په دې جمله کي ودې ته اشاره سوې ده چي که ښځه اول ځان ورته وسپاري او بیا ناروغه سي، نو نفقه به ورکول کیږي).

پر مالدار خاوند د خپلي ښځي د خادم نفقه

قَالَ: وَتُفْرَضُ عَلَى الزَّوْجِ النَّفَقَةُ إِذَا كَانَ مُوسِرًا وَنَفَقَةُ خَادِمِهَا فرمایي: کله چي خاوند مالدار (شتمن) وي نو پر هغه به (د خپلي ښځي) نفقه او د هغې د خادم نفقه (هم) واجب وي وَالْمُرَادُ بِهٰذَا بَيَانُ نَفَقَةِ

الْخَادِمِ او مقصود په دې [عبارت] سره د خادم نفقه بيانول دي وَلِهٰذَا ذُكِرَ فِي بَعْضِ النُّسَخِ: وَتُفْرَضُ عَلَى الزَّوْجِ إِذَا كَانَ مُوسِرًا نَفَقَةُ خَادِمِهَا او له همدې وجهې [د قدوري] په ځينې نسخو کې داسې ذکر سوي دي: او کله چې خاوند مالدار وي نو پر هغه به د ښځې د خادم نفقه [هم] واجب وي وَوَجْهُهُ: أَنَّ كِفَايَتَهَا وَاجِبَةٌ عَلَيْهِ او د دې وجه دا ده: چې پر خاوند د ښځې کفايت واجب دی وَهٰذَا مِنْ تَمَامِهَا او د خادم نفقه د ښځې د کفايت له بشپړتيا څخه ده [يعني د ښځې کفايت په خادم سره پوره کيږي] إِذْ لَا بُدَّ لَهَا مِنْهُ ځکه چې له خادم څخه د ښځې چاره نسته.

اللغات: ﴿مُوْسِر﴾ د افعال اسم فاعل دی: مالدار، شتمن، دلته مراد له مالدار څخه هغه خاوند دی چې دومره مال ور سره وي چې هغه ته خيرات او صدقه ورکول حرام وي، دومره مال ضروري نه دی چې پر هغه زکاة واجبيږي.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که خاوند مالدار وي، نو پر هغه د ښځې د نفقې سره د ښځې د خادم (مزدور) نفقه هم واجب ده، خادم که نر وي او که ښځه وي. او په دې عبارت سره اصل مقصود د خادم نفقه بيانول دي (ځکه د ښځې د نفقې بيان خو مخکې هم وسو)، له همدې وجهې د قدوري په ځينو نسخو کې دا عبارت داسې ذکر سوی دی: "وَتُفْرَضُ عَلَى الزَّوْجِ إِذَا كَانَ مُوْسِرًا نَفَقَةُ خَادِمِهَا"، يعني په هغه کې فقط د خادم د نفقې وضاحت او صراحت موجود دی؛ د خادم د نفقې د وجوب دليل دا دی چې پر خاوند د ښځې کفايت کول ضروري دي، او د ښځې د خدمت لپاره د يوه خادم موجودېدل د هغې له کفايت څخه دی، نو ځکه به د ښځې د خادم نفقه هم واجب وي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَلَا تُفْرَضُ لِأَكْثَرَ مِنْ نَفَقَةِ خَادِمٍ وَاحِدٍ او د يوه خادم له نفقې څخه به د زيات نه واجبيږي [يعني پر مالدار خاوند به فقط د ښځې يوه خادم ته نفقه ورکول واجب وي، نه بل خادم ته] وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا [حکم] د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَقَالَ أَبُويُوسُفَ ۞: تُفْرَضُ لِخَادِمَيْنِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د دوو خادمانو لپاره به نفقه واجبيږي لِأَنَّهَا تَحْتَاجُ إِلَى أَحَدِهِمَا لِمَصَالِحِ الدَّاخِلِ وَإِلَى الْآخَرِ

۞ القول الراجح: قول أبی یوسف رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله :...المرأة إذا كانت من بنات الأشراف، ولها خدم، يجبر الزوج على نفقه الخادمين...وامأخوذ به عند المشائخ قول ابی يوسف (ردّ المحتار ج:۲، ص:۷۱۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۸۲]

لِمَصَالِحِ الْخَارِجِ ځکه چې ښځه یوه خادم ته د داخلي [کورني] مصالحو [او ضروریاتو] لپاره اړتیا لري او بل خادم ته د بهرني مصالحو لپاره اړتیا لري وَلَهُمَا: أَنَّ الْوَاحِدَ يَقُومُ بِالْأَمْرَيْنِ او د طرفینو دلیل دا دی: چې یو خادم [داخلي او بهرني] دواړه کارونه پوره کولای سي فَلَا ضَرُورَةَ إِلَى اثْنَيْنِ لهذا دوو خادمانو ته اړتیا نسته وَلِأَنَّهُ لَوْ تَوَلَّى كِفَايَتَهَا بِنَفْسِهِ او ځکه که خاوند په خپله د ښځي د کفایت ذمه واري واخلي [چي ستا ټول کارونه زه کوم] كَانَ كَافِيًا نو دا کافي دي فَكَذَا إِذَا أَقَامَ الْوَاحِدَ مَقَامَ نَفْسِهِ نو همداسي [به دا هم کافي وي] کله چي خاوند پر خپل ځای یو [خادم] ودروي وَقَالُوا: إِنَّ الزَّوْجَ الْمُوسِرَ يَلْزَمُهُ مِنْ نَفَقَةِ الْخَادِمِ مَا يَلْزَمُ الْمُعْسِرَ مِنْ نَفَقَةِ امْرَأَتِهِ مشائخو فرمایلي دي: پر مالدار خاوند به د خادم د نفقي دومره مقدار لازم وي څومره مقدار چي پر غریب سړي د خپلي ښځي له نفقي څخه لازمیږي [یعني مالدار خاوند به د خپلي ښځي خادم ته دومره نفقه ورکوي، څومره نفقه چي غریب سړی خپلي ښځي ته ورکوي] وَهُوَ أَدْنَى الْكِفَايَةِ او هغه د ادنیٰ درجې کفایت دی [یعني د غریب سړي نفقه د ادنیٰ درجې نفقه ده کوم چي د ښځي لپاره کافي سي] وَقَوْلُهُ فِي الْكِتَابِ: إِذَا كَانَ مُوسِرًا إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهُ لَا تَجِبُ نَفَقَةُ الْخَادِمِ عِنْدَ إِعْسَارِهِ او په متن کي د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول: "إِذَا كَانَ مُوسِرًا" و دې طرف ته اشاره ده چي د خاوند د غریبوالي په وخت کي پر هغه د خادم نفقه نه واجبیږي وَهُوَ رِوَايَةُ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د حسن بن زیاد روایت دی وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا صحیح [روایت] دی خِلَافًا لِمَا قَالَهُ مُحَمَّدٌ په خلاف د هغه کوم چي امام محمد رَحِمَهُ الله ویلي دي لِأَنَّ الْوَاجِبَ عَلَى الْمُعْسِرِ أَدْنَى الْكِفَايَةِ ځکه چي واجب پر غریب سړي د ادنیٰ درجې کفایت دی وَهِيَ قَدْ تَكْتَفِي بِخِدْمَةِ نَفْسِهَا او کله ښځه [په خپله] د خپل خدمت لپاره کافي وي [لهذا د خادم د نفقي ضرورت نسته].

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی چي د طرفینو رَحِمَهُمَا الله او د جمهورو علماؤ په نیز پر خاوند فقط د ښځي د یوه خادم نفقه واجب ده، لیکن د امام ابویوسف رَحِمَهُ الله په نیز د ښځي د دوو خادمانو نفقه پر خاوند واجبیدای سي، ځکه چي د کور او بهر د ضروریاتو په حساب سره ښځي ته د دوو خادمانو ضرورت وي. نو د هغي د ضرورت پوره کولو لپاره به دوه خادمان مقرر کیږي. او پر خاوند به د دواړو نفقه واجب وي.

ولهما إلخ: د طرفينو دليل دا دی چې يو خادم هم د کور او بهر ضروريات پوره کولای سي، لهذا د دوو خادمانو ضرورت نسته، دويم دليل دا دی چې که خاوند په خپله د ښځې ضروريات پوره کوي، نو دا کافي دي، لهذا کله چې خاوند پر خپل ځای يو خادم د ښځې د ضرورياتو لپاره مقرر کړي، نو هغه به هم کافي وي.

قالوا إلخ: فرمايي چې د خادم د نفقې د مقدار په هکله مشائخو فرمايلي دي چې د خادم لپاره پر مالدار سړي ډومره نفقه واجب ده، څومره چې پر غريب سړي د خپلې ښځې لپاره واجب ده، او پر غريب سړي د ادنیٰ درجې نفقه واجب ده، يعني د ډوډۍ سره مالک يا شيدې ورکول (ډوډۍ او غوښې د اعلیٰ درجې نفقه ده، او ډوډۍ او د زيتون تېل د مېنځوې درجې نفقه ده، او ډوډۍ، مالګه او شيدې د ادنیٰ درجې نفقه ده).

وقوله في الكتاب إلخ: په متن کې ذکر سوي دي "إِذَا كَانَ مُوسِرًا"، په دغه قيد سره ودې خبرې ته اشاره سوې ده چې د خادم نفقه په هغه صورت کې پر خاوند واجب ده، کله چې هغه مالدار وي، لېکن که خاوند غريب او مفلس وي، نو بيا پر هغه د خادم نفقه واجب نه ده، همدا روايت حسن بن زياد له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه نقل کړی دی، او همدا صحيح روايت دی، لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې که د ښځې سره مخکې يو خادم وي، نو د هغه نفقه هم پر غريب خاوند لازم ده، خو د صحيح روايت په مقابله کې د هغه قول هيڅ حيثيت نه لري، د صحيح روايت دليل دا دی چې پر غريب خاوند د ښځې د ادنیٰ درجې کفايت واجب دی (ځکه چې نفقه د هر سړي د حالت مطابق واجبېږي)، او ښځه (د مجبورۍ په وخت کې) خپل کار په خپله هم کولای سي، نو ځکه به پر غريب خاوند د خادم نفقه واجب او لازم نه وي.

که خاوند له نفقې څخه عاجز سي؟

> وَمَنْ أَعْسَرَ بِنَفَقَةِ امْرَأَتِهِ او څوک چې د خپلې ښځې له نفقې څخه عاجز سي لَمْ يُفَرَّقْ بَيْنَهُمَا نو په دوی دواړو کې به تفريق نه کېږي [يعني قاضي به د دوی په مېنځ کې تفريق نه واقع کوي، او نکاح به نه فسخ کوي، او ښځې ته هم پکار دي چې له قاضي او حاکم څخه د نکاح فسخ کولو مطالبه نه وکړي] وَيُقَالُ لَهَا: اِسْتَدِينِيْ عَلَيْهِ او ښځې ته به ويل کېږي: چې د خپل خاوند پر ذمه [يعني د خپل خاوند په نامه] قرض اخله! [او په هغه ګزاره کوه!] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُفَرَّقُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې [د دوی په مېنځ کې به] تفريق کېږي [يعني کله چې خاوند له نفقې څخه عاجزه سي، نو قاضي به د دوی په مېنځ کې تفريق واقع

کوي) لِأَنَّهُ عَجَزَعَنِ الْإِمْسَاكِ بِالْمَعْرُوفِ ځکه چې خاوند له إمساک بالمعروف څخه عاجز سو فَيَنُوبُ الْقَاضِي مَنَابَهُ فِي التَّفْرِيقِ لهذا په تفريق کولو کې به قاضي د هغه قائم مقام کيږي كَمَا فِي الْجَبِّ وَالْعُنَّةِ لکه په قطع الذکر او عنين کېدلو کې (چې قاضي قائم مقام کيږي) بَلْ أَوْلَى بلکې دا کار (تفريق) به په درجه اولیٰ کيږي لِأَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى النَّفَقَةِ أَقْوٰى ځکه چې د نفقې ضرورت قوي دی (د امام شافعي د دليل حاصل دا دی چې څرنګه قاضي په هغه وخت کې د خاوند نائب جوړيږي او تفريق واقع کوي کله چې خاوند له جماع څخه عاجز سي، همداسې به له نفقې څخه د خاوند د عاجزه کېدلو په صورت کې قاضي په درجه اولیٰ تفريق واقع کوي، ځکه چې له جماع څخه بغير انسان ژوندی پاتېدای سي، لېکن له نفقې څخه بغير ژوندی پاتېدل مشکل دي، نو ځکه به دلته په درجه اولیٰ تفريق واقع کيږي) وَلَنَا: أَنَّ حَقَّهُ يَبْطُلُ زموږ دليل دا دی: چې د خاوند حق باطليږي (يعني په تفريق واقع کېدلو سره د خاوند حق باطليږي) وَحَقُّهَا يَتَأَخَّرُ او د ښځې حق مؤخر کېدای سي (په دې توګه چې قاضي تفريق واقع نه کړي، بلکې د نفقې حق د خاوند پر ذمه قرض متعين کړي او ښځې ته ووايي: چې ته د خاوند په نامه قرض اخله. او کله چې خاوند مالدار سي نو ستا قرض به اداء کوي) وَالْأَوَّلُ أَقْوٰى فِي الضَّرَرِ او په نقصان کې اول زيات قوي دی (يعني که تفريق واقع سي او د خاوند حق باطل سي، نو دا د خاوند او ښځې دواړو په حق کې ښکاره نقصان دی، لېکن که تفريق واقع نه سي، بلکې نفقه دخاوند پر ذمه قرض سي، نو دا دواړو په حق کې مفيده خبره ده) وَهٰذَا لِأَنَّ النَّفَقَةَ تَصِيرُ دَيْنًا بِفَرْضِ الْقَاضِي او دا ځکه چې نفقه د قاضي په متعينولو سره (د خاوند پر ذمه) قرض ګرځي (يعني د ښځې د نفقې حق ځکه مؤخر کېدای سي چې که چېرې قاضي د خاوند پر ذمه نفقه د قرض په توګه متعين کړي (او ښځې ته ووايي چې د خاوند په نامه قرض اخله!). نو هغه قرض ګرځي، او کله چې خاوند مالدار سي، په هغه زمانه کې به ښځه له خاوند څخه خپل د نفقې قرض اخلي (يعني د قرض اداء کولو مطالبه به ځنې کوي) ، لهذا له نفقې څخه د خاوند د عاجزه کېدلو په صورت کې به تفريق نه واقع کيږي) فَتَسْتَوْفِي فِي الزَّمَانِ الثَّانِي او ښځه به په بله زمانه کې (له خاوند څخه) هغه (د نفقې قرض) په پوره توګه واخلي وَفَوْتُ الْمَالِ وَهُوَ تَابِعٌ فِي النِّكَاحِ لَا يَلْحَقُ بِمَا هُوَ الْمَقْصُودُ وَهُوَ التَّنَاسُلُ او د مال فوتېدل به (حال دا چې هغه په نکاح کې تابع دي) د هغه شي سره نه لاحق کيږي کوم چې مقصود دی چې هغه نسل (او اولاد) پيدا کول دي (په دې سره امام شافعي ته جواب ورکوي، هغه فرمايلي وو چې کله له جماع څخه د عاجزی په صورت کې تفريق واقع کيږي، نو له نفقې څخه د عاجزی په صورت کې به خامخا تفريق واقع کيږي، نو په دې جمله سره د هغه جواب ورکوي چې په نکاح کې مال يعني نفقه تابع ده، لېکن جماع يعني توالد او تناسل په نکاح کې أصل دی، نو ځکه به له جماع څخه د عاجزی په صورت کې تفريق واقع کيږي، او تابع پر أصل قياسول او يو د بل سره لاحق کول صحيح نه دي، لهذا د امام شافعي دليل او قياس به صحيح نه وي) وَفَائِدَةُ الْأَمْرِ

بِالِاسْتِدَانَةِ مَعَ الْفَرْضِ أَنْ يُمْكِنَهَا إِحَالَةُ الْغَرِيمِ عَلَى الزَّوْجِ او دِ نفقې د فرضیت باوجود د قرض اخیستلو د حکم فایده دا ده چې د ښځې لپاره دا ممکن سي چې قرض غوښتونکی پر خاوند حواله کړی سي

[یعني قاضي به ځکه ښځې ته وایي "اِسْتَدِيْنِيْ عَلَيْه" (چې د خاوند په نامه قرض اخله!)، د دې فایده دا ده چې وروسته به ښځه دا قرض پر خاوند حواله کولای سي او قرض غوښتونکی به له خاوند څخه د قرض مطالبه کوي، نه له ښځې څخه. او که قاضي د خاوند په نامه د قرض اخیستلو حکم نه ورته وکړي، نو قرض غوښتونکی به له ښځې څخه د قرض مطالبه کوي او ښځه به پر خاوند قرض نه سي حواله کولای، نو ځکه به قاضي د "اِسْتَدِيْنِيْ عَلَيْه" حکم هم ورته کوي] فَأَمَّا إِذَا كَانَتِ الِاسْتِدَانَةُ بِغَيْرِ أَمْرِ الْقَاضِيْ كَانَتِ الْمُطَالَبَةُ عَلَيْهَا دُوْنَ الزَّوْجِ لېکن که قرض اخیستل د قاضي له حکم څخه بغیر وي نو [د قرض غوښتونکي] مطالبه به پر ښځې وي، نه پر خاوند.

اللغات: ﴿أَعْسَرَ﴾ د افعال ماضي ده: تنګ لاسه کېدل، مفلسه کېدل، (بې وسه کېدل)، ﴿اِسْتَدِيْنِيْ﴾ د افتعال له باب څخه د واحد مؤنث امر حاضر صیغه ده: قرض اخیستل، په پور اخیستل. ﴿جَبّ﴾ ذکر (د تناسل آله) پرې کېدل، ﴿عِنَّة﴾ نامردي، له جماع څخه عاجزه کېدل، ﴿إِحَالَة﴾ پر بل چا حواله کول (مثلاً زید قرض واخلي، او د خالد پر ذمه یې واچوي چې زما قرض به له خالد څخه اخلې!. همدې ته حواله وایي)، ﴿غَرِيْم﴾ قرض غوښتونکی (هغه کس چې پر بل چا یې پور باندې وي).

تشریح: مسئله په عبارت کې تشریح سوه.

که تر غربت وروسته خاوند مالدار سي نو د نفقې د بدلون حکم

وَإِذَا قَضَى الْقَاضِيْ لَهَا بِنَفَقَةِ الْإِعْسَارِ او که چیري قاضي د ښځې لپاره د غربت والا د نفقې فیصله وکړه ثُمَّ أَيْسَرَ [او] بیا خاوند مالدار سو فَخَاصَمَتْهُ او ښځې دعوی وکړه تَمَّمَ لَهَا نَفَقَةَ الْمُوْسِرِ نو [قاضي] به د هغې لپاره د مالدار سړي [د نفقې په څېر] نفقه ور پوره کوي لِأَنَّ النَّفَقَةَ تَخْتَلِفُ بِحَسَبِ الْيَسَارِ وَالْإِعْسَارِ ځکه چې نفقه د مالدارۍ او غربت په اعتبار سره بدلیږي [بدلیږي] وَمَا قَضَى بِهِ تَقْدِيْرٌ لِنَفَقَةٍ لَمْ تَجِبْ او قاضي چې د کومې نفقې فیصله کړې ده هغه د داسې نفقې اندازه ده کوم چې تر اوسه نه ده واجبه سوې فَإِذَا تَبَدَّلَ حَالُهُ لهذا کله د خاوند حالت بدل سو فَلَهَا الْمُطَالَبَةُ بِتَمَامِ حَقِّهَا نو د ښځې پوره حق د مطالبې کولو اختیار وي.

اللغات: ﴿إِعْسَار﴾ د افعال مصدر دی: تنګلاسي، غربت، ﴿خَاصَمَتْ﴾ د مفاعلې ماضي ده: جنګ او جګړه کول، دعویٰ کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که د يوې ښځې خاوند غريب وو، او قاضي د ښځې لپاره د نَفَقَةُ الْيَسَار (د غربت والا نفقې) فيصله وکړه، او بيا خاوند مالدار سو، او ښځې د قاضي په دبار کي دعویٰ وکړه چي زما خاوند اوس مالدار سو، نو قاضي به اوس د نَفَقَةُ الْيَسَار (د مالدارۍ والا نفقې) فيصله کوي؛ ځکه چي د غربت والا نفقه د مجبورۍ او غريبۍ په وجه وه، اوس خاوند مالدار سو، نو ځکه به اوس پر هغه د اعلیٰ درجې نفقه (نفقةُ اليَسَار) واجب وي.

وما قضى إلخ: په دې سره د يو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي کله يو وار د قاضي په قضاوت (فيصله) سره د ښځې نفقه متعين سوه، نو بيا په هغه کي تغيّر او بدلون راوستل پکار نه دي، ځکه چي په تغيّر او تبدّل سره د قاضي اوله فيصله فسخ کيږي، او دا مناسب نه دي، د دې په جواب کي صاحب د هدايې فرمايي چي دلته د قاضي فيصله نه باطليږي، ځکه چي د ښځې نفقه په يوه وار نه واجبيږي، بلکي هره ورځ جلا، جلا (د خاوند د حالت مطابق) نفقه واجبيږي، لهذا قاضي چي کومه اوله فيصله کړې وه، هغه د همېشه لپاره نه وه، بلکي هغه د داسي نفقې اندازه وه، کوم چي تر اوسه واجب سوې نه وه، ځکه چي د هغې تر وجوب مخکي د وجوب د سبب بدلېدلو (يعني د خاوند د حالت بدلېدلو) امکان او احتمال وو، او د دې احتمال په وجه به دلته د قاضي فيصله حتمي او قطعي نه وي، لهذا کله چي هغه حتمي نه ده، نو وروسته به په هغه کي تغيّر او بدلون راوستل ممکن وي، او دغه بدلون ته به فسخ او بطلان نه ويل کيږي. (عنايه، بنايه ج:۵، ص:۵۱۰)

څه وخت وروسته د تېر وخت د نفقې مطالبه کول

وَإِذَا مَضَتْ مُدَّةٌ لَمْ يُنْفِقِ الزَّوْجُ عَلَيْهَا او کله چي يو څو وخت تېر سي او خاوند [په دې وخت کي] ښځي ته نفقه نه ورکړي وَطَالَبَتْهُ بِذَلِكَ او [بيا] ښځه له خاوند څخه د دې [نفقې] مطالبه وکړي فَلَا شَيْءَ لَهَا نو د هغې لپاره به هيڅ نفقه [واجب] نه وي إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْقَاضِي فَرَضَ لَهَا النَّفَقَةَ خو دا چي قاضي د هغې لپاره نفقه مُتعيّنه کړي أَوْ صَالَحَتِ الزَّوْجَ عَلَى مِقْدَارِ فِيهَا يا ښځه د خاوند سره د نفقې پر [معلوم] مقدار صلح [او موافقه] وکړي فَيَقْضِي لَهَا بِنَفَقَةِ مَا مَضَى نو [په دې صورت کي] به د ښځي لپاره د تېر وخت د نفقې فيصله کيږي لِأَنَّ النَّفَقَةَ صِلَةٌ وَلَيْسَتْ بِعِوَضٍ عِنْدَنَا ځکه چي زموږ په نېز نفقه عطيه ده او

عوض نه دی عَلَىٰ مَا مَرَّمِن قَبْلُ لکه مخکي چي [دا خبره] تېره سوه فَلَا يُسْتَحْكَمُ الْوُجُوبُ فِيهَا إِلَّا بِالْقَضَاءِ نو د قاضي له قضاء [فیصلې] څخه بغیر به په نفقه کي وجوب نه مؤکد کیږي كَالْهِبَةِ لَا تُوجِبُ الْمِلْكَ إِلَّا بِمُؤَكِّدٍ وَهُوَ الْقَبْضُ لکه هبه چي د مؤکد کونکي شي څخه بغیر نه واجبیږي چي هغه [مُؤَكِّد شی] قبضه ده وَالصُّلْحُ بِمَنْزِلَةِ الْقَضَاءِ او صُلح [او موافقه] کول [د قاضي] د قضاء په درجه کي ده لِأَنَّ وِلَايَتَهُ عَلَىٰ نَفْسِهِ أَقْوَىٰ مِنْ وِلَايَةِ الْقَاضِي ځکه چي پر خپل ځان د خاوند ولایت د قاضي تر ولایت زیات قوي دی بِخِلَافِ الْمَهْرِ لِأَنَّهُ عِوَضٌ په خلاف د مهر. ځکه چي هغه عوض دی.

اللغات: ﴿صَالَحَتْ﴾ د مفاعلې ماضي ده: صلح کول، سوله کول، موافقه کول (یعني د جنجال او جګړې پر ختمولو تړون او موافقه کول).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که ښځه مثلاً یو څو میاشتي (یا څو ورځي) له خاوند څخه نفقه نه واخلي، او بیا له خاوند څخه د تیرو میاشتو نفقه وغواړي، نو هغې ته به هیڅ نفقه نه ورکول کیږي؛ ځکه چي د تېر سوي وخت نفقه د خاوند پر ذمه قرض نه ګرځي چي ښځه کله وغواړي د هغه مطالبه وکړي. لهذا وروسته به د ښځي غوښتني او مطالبې لره هیڅ اعتبار نه وي. ها! که قاضي پر خاوند د نفقې یو معلوم مقدار ټاکلی وي (چي دومره مقدار نفقه به ته ښځي ته ورکوې). یا په خپله ښځي د خاوند سره پر یو معلوم مقدار صلح او موافقه (تړون) کړې وي (چي ته به ما ته دومره مقدار نفقه راکوې). نو په دې دواړو صورتونو کي به خاوند د تېر سوي وخت په حساب سره نفقه ورکوي: دلیل دا دی چي زموږ په نېز نفقه عوض نه دی چي پر ذمه لازم کړی سي. بلکي نفقه یو عطیه او بخشش دی. لهذا د نفقې د قطعي ثبوت او استحکام لپاره د قاضي قضاء ضروري ده. او له قضاء څخه بغیر نفقه نه مستحکم کیږي. ځکه چي په عطیاتو او صِلاتو کي زور او جبر نه چلیږي. لهذا څرنګه چي هبه له قبضې څخه بغیر ملکیت نه ثابتوي. همداسي نفقه هم له قضاء څخه بغیر نه واجبیږي.

والصلح إلخ: فرمایي چي د خاوند او ښځي په خپل مینځ کي صلح او مفوافقه کول داسي دي لکه د قاضي قضاء. ځکه قاضي چي پر یو چا څومره ولایت لري. یو سړي ته پر خپل ځان تر هغه زیات ولایت حاصل وي (یعني پر خپل ځان د خاوند ولایت د قاضي تر ولایت زیات وي). له همدې کبله خاوند ته دا اختیار سته چي هغه د قاضي په ټاکل سوي (متعین سوي) مقدار نفقه کي اضافه وکړي. لهذا هغه ته به دا اختیار هم وي چي د قاضي له قضاء او فیصلې څخه بغیر د ښځي سره پر یو مقدار صلح او تړون وکړي.

د دې په خلاف د مهر معامله ده. ځکه چې مهر عوض دی (عطيه او صله نه ده). نو په دې وجه به هغه د قاضي له قضاء څخه بغير هم واجبيږي. او که هر څو وخت وروسته ښځه د مهر مطالبه وکړي. نو ښځې ته به خپل مهر ورکول کيږي.

د تېر وخت له نفقې اداء کولو څخه مخکې د خاوند د مرګ حکم

وَإِنْ مَاتَ الزَّوْجُ بَعْدَ مَا قُضِيَ عَلَيْهِ بِالنَّفَقَةِ او که خاوند مړ سي وروسته تر دې چې پر هغه باندې ا د قاضي له طرفه ا د نفقې اورکولو ا فيصله وسي وَمَضَى شُهُورٌ او ا په دې مينځ کې ا څو مياشتي اله نفقې ورکولو څخه بغير ا تيرې سي سَقَطَتِ النَّفَقَةُ نو نفقه ساقطيږي وَكَذَا إِذَا مَاتَتِ الزَّوْجَةُ او همدارنګه انفقه ساقطيږي ا کله چې ښځه مړه سي لِأَنَّ النَّفَقَةَ صِلَةٌ ځکه چې نفقه يو عطيه ده وَالصِّلَاتُ تَسْقُطُ بِالْمَوْتِ او عطيات د مرګ په وجه ساقطيږي كَالْهِبَةِ تَبْطُلُ بِالْمَوْتِ قَبْلَ الْقَبْضِ لکه هبه چې تر قبضه کولو مخکې د مرګ په وجه ساقطيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تَصِيرُ دَيْنًا قَبْلَ الْقَضَاءِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې نفقه ا د خاوند پر ذمه ا د قاضي تر قضاء ا فيصلې ا مخکې ا هم ا قرض ګرځي وَلَا تَسْقُطُ بِالْمَوْتِ او د مرګ په وجه نه ساقطيږي لِأَنَّهُ عِوَضٌ عِنْدَهُ ځکه چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز نفقه ا د ملک نکاح ا عوض ده فَصَارَ كَسَائِرِ الدُّيُونِ نو داسې سوه لکه نور قرضونه ا او عوضونه ا وَجَوَابُهُ قَدْ بَيَّنَّاهُ او د دې جواب موږ ا مخکې ا بيان کړی دی.

اللغات: ﴿قُضِيَ﴾ د ضرب له باب څخه د واحد مذکر غائب ماضي مجهول صيغه ده (ماضي معلوم هم کېدای سي. او ضمير به يې قاضي او فيصله کونکي ته راجع وي): فيصله کول. قضاوت کول.

﴿صِلَةٌ﴾ عطيه. بخشش. له عوض څخه بغير ورکړه. چا ته يو شی مفت (په وړيا توګه) ورکول.

﴿دُيُوْن﴾ جمع د "دَيْنٌ" ده: قرضونه (پورونه). قرضې.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که قاضي د يوې ښځې لپاره د نفقې فيصله وکړه (چې خاوند به هره ورځ تا ته خپله نفقه درکوي)، تر دې وروسته خاوند مثلاً څلور مياشتې ژوندی وو. او د دې مودت نفقه يې اداء نه کړه او بيا خاوند مړ سو. نو د دې څلورو مياشتو نفقه ساقطيږي (او د خاوند له پاته سوي مال څخه به ښځې ته دغه نفقه نه ورکول کيږي). همدارنګه که د خاوند پر ځای ښځه مړه سي. نو هم نفقه ساقطيږي: دليل دا دی چې زموږ په نيز نفقه عطيه ده. او د مرګ په وجه ټول عطيات ساقطيږي. او عطيات د قرض په توګه نه واجبيږي. لکه په هبه کې چې دا حکم دی يعني که خالد

چي زيد ته يو شی هبه کړي، او بيا د زيد تر قبضه کولو مخکي خالد مړ سي يا زيد مړ سي (يعني زيد لا تر اوسه پر هغه شي قبضه کړي نه وي چي خالد [واهب] مړ سي، يا په خپله زيد [موهوب لهٗ] مړ سي)، نو په دې دواړو صورتونو کي هبه ساقطيږي (ځکه چي هبه هم يو عطيه ده). لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز نفقه عطيه نه ده، بلکي د ملک نکاح (ملک بضع) عوض ده، نو څرنګه چي مهر يانور قرضونه (او عوضونه) بغير د قاضي له قضاء څخه د سړي پر ذمه قرض دي، همداسي به نفقه هم د قاضي له قضاء څخه بغير د خاوند پر ذمه قرض وي، او د مرګ په وجه به هغه نه ساقطيږي، بلکي که خاوند مړ سي، نو د هغه له پاته سوي مال څخه به ښځي ته (د څلور مياشتو) نفقه ورکول کيږي، او که ښځه مړه سي، نو هغه نفقه به د ښځي په وارثانو کي تقسيميږي.

صاحب د هدايې فرمايي چي د دې جواب مخکي بيان سو چي نفقه عطيه ده. او د ملک نکاح عوض نه ده، د ملک نکاح عوض فقط مهر دی. او که نفقه هم د ملک نکاح عوض وګرځول سي، نو د يوه شي لپاره به دوه عوضونه ثابت سي، او دا صحيح نه دي، نو ځکه به نفقه عطيه او صله مِثل کيږي، نه عوض او بدل.

که خاوند د يو څو وخت نفقه مخکي (پر يوه ځای) ورکړي او بيا مړ سي (حکم او اختلاف)

وَإِنْ أَسْلَفَهَا نَفَقَةَ السَّنَةِ او که [خاوند] ښځي ته د يوه کال نفقه په قرض ورکړي أَيْ عَجَّلَهَا يعني اديوه کال نفقه [ورانديي ورکړي ثُمَّ مَاتَ او بيا [خاوند] مړ سي لَمْ يُسْتَرْجَعْ مِنْهَا شَيْءٌ نو له ښځي څخه به هيڅ شی واپس نه اخيستل کيږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ دا حکم د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ ● : يُحْتَسَبُ لَهَا نَفَقَةُ مَا مَضٰى وَمَا بَقِيَ لِلزَّوْجِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د ښځي لپاره به د تېر سوي مودت نفقه شمارل کيږي [ور پرېښوول کيږي] او کوم څه چي باقي پاته سي هغه به د خاوند [د وارثانو] لپاره وي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول [هم] دی وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ الْكِسْوَةُ او پر همدغه اختلاف [ښځي ته] جامې ورکول دي لِأَنَّهَا اسْتَعْجَلَتْ عِوَضًا عَمَّا تَسْتَحِقُّهُ عَلَيْهِ بِالِاحْتِبَاسِ ځکه ښځي چي د احتباس په عوض کي پر خاوند د کوم شي حق درلودی هغه يې ورانديي واخيستی وَقَدْ بَطَلَ الِاسْتِحْقَاقُ بِالْمَوْتِ او [د خاوند] په مرګ سره استحقاق

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله ، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله : والفتوىٰ على قولهما (فتح القدير ج:۴ ص:۲۰۵)، وكذا في رد المحتار (ج:۲، ص:۷۱۷). [القول الراجح ج:۱، ص: ۳۸۵]

[حقداره کېدل] باطل سو فَيَبْطُلُ الْعِوَضُ بِقَدْرِهٖ نو د هغه په اندازه به عوض [هم] باطليږي كَرِزْقِ الْقَاضِي وَعَطَاءِ الْمُقَاتِلَةِ لکه د قاضي روزينه [تنخا] او دِ مجاهدينو [او عسکرو] وظيفه [او خوراکه] وَلَهُمَا: أَنَّهُ صِلَةٌ وَقَدْ اتَّصَلَ بِهِ الْقَبْضُ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي نفقه يو عطيه ده او [دلته] د هغې سره قبضه [هم] متصل سوې ده وَلَا رُجُوعَ فِي الصِّلَاتِ بَعْدَ الْمَوْتِ او په عطياتو کي تر مرګ وروسته رجوع نه سي کېدلای لِانْتِهَاءِ حُكْمِهَا ځکه چي [په مرګ سره] د عطياتو حکم انتهاء ته رسيږي [يعني په مرګ سره دعطياتو حکم نور مستحکم کيږي، او د رجوع هيڅ ګنجائش نه پکښي پاتيږي] كَمَا فِي الْهِبَةِ لکه په هبه کي [چي هم دغه حکم دی] وَلِهٰذَا لَوْ هَلَكَتْ مِنْ غَيْرِ اسْتِهْلَاكٍ همدا وجه ده که له [قصداً] هلاکولو څخه بغير نفقه [په خپله] هلاکه سي لَا يُسْتَرَدُّ شَيْءٌ مِنْهَا بِالْإِجْمَاعِ نو له ښځي څخه به هيڅ شی واپس نه اخيستل کيږي وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهَا إِذَا قَبَضَتْ نَفَقَةَ الشَّهْرِ أَوْ مَا دُونَهٗ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چي کله ښځه د يوې مياشتي يا له هغه څخه د کم مودت پر نفقي قبضه وکړي لَا يُسْتَرْجَعُ مِنْهَا شَيْءٌ نو له هغې څخه به هيڅ شی واپس نه اخيستل کيږي لِأَنَّهٗ يَسِيرٌ ځکه چي هغه معمولي غوندي وي فَصَارَ فِي حُكْمِ الْحَالِ نو هغه د اوسني حالت په حکم کي سو.

اللغات: ﴿أَسْلَفَ﴾ د افعال ماضي ده: په قرض ورکول (په پور ورکول)، ﴿عَجَّلَ﴾ د تفعيل ماضي ده: تلوار کول، ژر اداء کول، وړاندي ورکول. ﴿مُقَاتِلَة﴾ جنګ کونکي خلک، مراد ځني فوج، عسکر او مجاهدين دي. ﴿لَا يُسْتَرَدُّ﴾ د استفعال له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: واپس اخيستل.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که يو سړی خپلي ښځي ته د يوه کال نفقه وړاندي (پر يوه ځای ورکړي). او بيا له يوه کال پوره کېدلو څخه مخکي خاوند مړ سي يا په خپله ښځه مړه سي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله مذهب دا دی چي له دې ښځي څخه به هيڅ شی واپس نه اخيستل کيږي، لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي تر مرګ مخکي چي څومره وخت تېر سوی وي (يعني څومره وخت چي خاوند ژوندی وي)، هغه ته به حساب کيږي او ښځي ته به هغومره نفقه ورکول کيږي، او کومه نفقه چي پاته سي، هغه به له ښځي څخه واپس اخيستل کيږي، او خاوند يا د هغه وارثانو ته به حواله کيږي (مثلاً که خاوند د يوه کال نفقه ورکړي، او شپږ مياشتي هغه ژوندی وي. او بيا مړ سي، نو د

شپږو میاشتو نفقه به له ښځي څخه واپس اخیستل کیږي. او هغې ته به فقط د خاوند د ژوند (شپږو میاشتو) نفقه ور پرېښوول کیږي). همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی. او ښځي ته کِسوَة یعني جامې ورکول هم پر دغه اختلاف دي.

دلیل: د امام محمد او امام شافعي دلیل دا دی چي نفقه ښځي ته د احتباس په عوض کي ورکول کیږي. لهذا څومره ورځي چي احتباس پاته وي (یعني څومره ورځي چي ښځه د خاوند په نکاح کي او د هغه په کور کي محبوسه وي). د هغومره ورځو نفقه به ښځي ته ورپرېښوول کیږي. او د څومره ورځو احتباس چي ختم سي. د هغومره ورځو نفقه به له ښځي څخه واپس اخیستل کیږي. لکه قاضي یا یو مجاهد (او عسکر) ته چي پر یوه ځای د ټوله کال وظیفه (تنخا) او خوراکه مخکي ورکول سي. او شپږ میاشتي وروسته قاضي یا مجاهد (او عسکر) له کار څخه برطرفه کړی سي. یا دوی مړه سي. نو د پاته شپږو میاشتو وظیفه او خوراکه به واپس له دوی څخه اخیستل کیږي. نو همداسي به دلته هم د پاته ورځو نفقه له ښځي څخه واپس اخیستل کیږي.

د شیخینو دلیل: دا دی چي زموږ په نیز نفقه عطیه او صله ده. او د عطیاتو قاعده دا ده چي هغوی په قبضه سره بشپړ کیږي. او په مرګ سره د هغوی حکم انتهاء ته رسیږي. او نور مستحکم کیږي. یعني تر مرګ مخکي خو د رجوع څه ګنجائش پکښې وي. لیکن تر مرګ وروسته په هغوی کي د رجوع کولو هیڅ ګنجائش نه پاتیږي. او دلته پر نفقې قبضه هم سوې ده. او مرګ هم واقع سوی دی. نو ځکه به اوس د نفقې په هکله هیڅ حساب وکتاب نه کیږي. او له ښځي څخه به واپس نه اخیستل کیږي. ځکه چي اوس د نفقې حکم بشپړ او مستحکم سو. لکه څرنګه چي هبه په قبضه او مرګ سره پوره کیږي او بیا په هغه کي هیڅ رجوع کېدلای نه سي. همدا وجه ده که د ښځي له تعدیٰ څخه بغیر نفقه هلاکه سي. نو بالإجماع له هغې څخه هیڅ شی واپس اخیستل کېدلای نه سي. ځکه چي په هلاکېدلو سره د نفقې حکم انتهاء ته ورسېدی.

وعن محمد إلخ: فرمایي چي له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه د محمد بن رستم یو روایت دا دی چي که ښځه له خاوند څخه پر یوه ځای د یوې میاشتي نفقه مخکي واخلي. یا تر یوې میاشتي کمه نفقه مخکي ځني واخلي. بیا په دواړو کي یو مړ سي. نو پاته نفقه به له ښځي څخه واپس نه اخیستل کیږي. ځکه چي د یوې میاشتي نفقه معمولي او لږ غوندي وي. او عموماً خاوند پر یوه ځای د یوې میاشتي نفقه مخکي ورکوي (ځکه چي هره ورځ نفقه ورکول مشکل وي). نو ځکه به داسي ګڼل کیږي. چي خاوند ښځي ته (فقط) د نن ورځي واجبه نفقه ورکړه. او کله چي خاوند فقط د یوې ورځي نفقه ښځي ته ورکړي او بیا په هغه ورځ مړ سي. نو د هغې یوې ورځ نفقه له ښځي څخه واپس اخیستل کېدلای نه سي. همداسي به دغه (د یوې میاشتي) نفقه هم له هغې څخه واپس اخیستل کېدلای نه سي.

د غلام خاوند پر ذمه باندي د نفقې حکم

وإِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ حُرَّةً او که غلام د يوې آزادي ښځي سره نکاح وکړي فَنَفَقَتُهَا دَيْنٌ عَلَيْهِ يُبَاعُ فِيهَا نو د هغې [آزادي ښځي] نفقه به د غلام پر ذمه قرض وي چي په هغه [قرض] کي به غلام خرڅول کيږي وَمَعْنَاهُ: إِذَا تَزَوَّجَ بِإِذْنِ الْمَوْلَى او د دې مطلب دا دی: چي کله غلام د مالک په اجازه سره نکاح وکړي لِأَنَّهُ دَيْنٌ وَجَبَ فِي ذِمَّتِهِ لِوُجُودِ سَبَبِهِ ځکه چي نفقه [د غلام په حق کي] يو قرض دی کوم چي د خپل سبب [نکاح] په وجه د غلام پر ذمه واجب سوی دی وَقَدْ ظَهَرَ وُجُوبُهُ فِي حَقِّ الْمَوْلَى او د دې قرض وجوب د مالک په حق کي ښکاره سو. فَيَتَعَلَّقُ بِرَقَبَتِهِ كَدَيْنِ التِّجَارَةِ فِي الْعَبْدِ التَّاجِرِ نو دا قرض به د غلام د غاړي سره متعلق وي لکه د تاجر غلام په حق کي د تجارت قرض [چي د هغه د غاړي سره متعلق کيږي او په هغه کي خرڅول کيږي] وَلَهُ أَنْ يَفْتَدِيَ او مالک لره دا اختيار سته چي فديه ورکړي لِأَنَّ حَقَّهَا فِي النَّفَقَةِ لَا فِي عَيْنِ الرَّقَبَةِ ځکه چي د ښځي حق په نفقه کي دی، نه خاص په رقبه کي فَلَوْ مَاتَ الْعَبْدُ سَقَطَتْ او که غلام مړ سي نو نفقه ساقطيږي وَكَذَا إِذَا قُتِلَ فِي الصَّحِيحِ او همدارنګه د صحيح قول مطابق [نفقه ساقطيږي] کله چي غلام ووژل سي لِأَنَّهُ صِلَةٌ ځکه چي نفقه يو عطيه ده.

اللغات: ﴿صِلَةٌ﴾ عطيه، له عوض څخه بغير (مفت) يو شي ورکول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که يو غلام د خپل مالک په اجازه د يوې آزادي ښځي سره نکاح وکړي، نو دا نکاح صحيح او جائز ده. او د ښځي نفقه د هغه پر ذمه واجب ده. لېکن څرنګه چي د غلام سره هيڅ مال او پيسې نسته. د هغه ټوله شيان د مالک دي. نو ځکه به نفقه د هغه پر ذمه قرض وي. او که هغه نفقه اداء نه کړي، نو د هغه په بدله کي به غلام خرڅول کيږي: دليل دا دی چي نفقه د خپل سبب په وجه يعني د نکاح په وجه د غلام پر ذمه قرض وګرځېده. او څرنګه چي مالک په خپله غلام ته د نکاح اجازه ورکړې ده. نو ځکه به دا قرض د مالک سره متعلق وي. او څرنګه چي په هغه وخت کي به غلام د خپل قرض په عوض کي خرڅول کيږي کله چي مالک غلام ته د تجارت اجازه ورکړې وي او غلام ډېر قرضونه (پوروونه) وکړي. همداسي به دلته د نفقې په قرض کي هم هغه خرڅول کيږي.

ولوأن يفتدي إلخ: او که مالک نه غواړي چي غلام خرڅ کړی سي. نو بيا هغه ته دا اختيار سته چي د غلام فديه ورکړې (يعني د ښځي چي څومره نفقه جوړيږي. هغه ټوله اداء کړي). ځکه چي د ښځي حق په نفقه کي دی. نه د غلام په رقبه او غاړه کي. لهذا د غلام خرڅول ضروري نه دي.

ولوصات إلخ: فرمايي كه تر نكاح وروسته غلام مړ سي يا ووژل سي، نو د ښځي نفقه ساقطيږي، ځكه چي نفقه زموږ په نيز صله او عطيه ده، او د مرګ په وجه سره ټوله عطيات ساقطيږي.

د مينځي نفقه

وَإِنْ تَزَوَّجَ الْحُرُّ أَمَةً او كه آزاد سړی د مينځي سره نكاح وكړي فَبَوَّأَهَا مَوْلَاهَا مَعَهُ مَنْزِلًا او مالك خپله مينځه په يو كور كي د خاوند سره شپه تېرولو [او وسېدلو] ته پرېږدي فَعَلَيْهِ النَّفَقَةُ نو پر خاوند به [د مينځي] نفقه [واجب] وي لِأَنَّهُ تَحَقَّقَ الِاحْتِبَاسُ ځكه چي احتباس ثابت سو وَإِنْ لَمْ يُبَوِّئْهَا او كه مالك مينځه [د خاوند] سره شپه تېرولو ته نه پرېږدي فَلَا نَفَقَةَ لَهَا نو د هغې لپاره به نفقه [واجب] نه وي لِعَدَمِ الِاحْتِبَاسِ ځكه چي احتباس نسته وَالتَّبْوِيَةُ أَنْ يُخَلِّيَ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ فِي مَنْزِلِهِ وَلَا يَسْتَخْدِمَهَا او تبويت [يعني شپه تېرولو ته پرېښوول] دا دي: چي مالك په خپل كور كي خاوند او ښځه سره پرېږدي او له مينځي څخه خدمت نه اخلي وَلَوِ اسْتَخْدَمَهَا بَعْدَ التَّبْوِيَةِ او كه له تبويت څخه وروسته مالك له مينځي څخه خدمت واخلي سَقَطَتِ النَّفَقَةُ نو نفقه [له خاوند څخه] ساقطيږي لِأَنَّهُ فَاتَ الِاحْتِبَاسُ ځكه چي [د خاوند په حق كي د مينځي] احتباس فوت سو وَالتَّبْوِيَةُ غَيْرُ لَازِمَةٍ عَلَى مَا مَرَّ فِي النِّكَاحِ او تبويت [پر مالك] لازم نه دی لكه په كتابُ النكاح كي چي [دا خبره] تېره سوه وَلَوْ خَدَمَتْهُ الْجَارِيَةُ أَحْيَانًا مِنْ غَيْرِ أَنْ يَسْتَخْدِمَهَا او كه مينځه كله نا كله [په خپله] د مالك خدمت وكړي بغير له دې چي مالك له هغې څخه خدمت واخلي [يعني د مالك له وينا څخه بغير مينځه د مالك خدمت وكړي] لَا تَسْقُطُ النَّفَقَةُ نو نفقه نه ساقطيږي لِأَنَّهُ لَمْ يَسْتَخْدِمْهَا لِيَكُونَ اسْتِرْدَادًا ځكه مالك له هغې څخه خدمت اخيستی نه دی چي دا واپس اخيستل وګرځي وَالْمُدَبَّرَةُ وَأُمُّ الْوَلَدِ فِي هٰذَا كَالْأَمَةِ او مدبره او اُم ولد په دې سلسله كي د مينځي په څېر دي.

اللغات: ﴿بَوَّأَ﴾ د تفعيل ماضي ده، بَوَّأَ يُبَوِّءُ تَبْوِيَةً: اوسول، د شپه تېر لپاره ځای وركول، ځای ورته تيارول، دلته يې معنیٰ دا ده كوم چي مصنف رَحِمَهُ الله بيان كړه يعني "مينځه د خاوند سره استوګني (او شپه تېر) ته پرېښوول"، ﴿يُخَلِّيَ﴾ د تفعيل مضارع ده: پرېښوول، ايله كول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی كه يو آزاد سړی د بل چا د مينځي سره نكاح وكړي، او د مينځي مالك په خپل كور كي خاوند او مينځي ته د شپه تېر لپاره يوه خونه وركړي (چي تاسو به دلته شپې

تېروي، او مالک له مینځي څخه خدمت نه اخلي. یا مالک مینځه د خاوند کور ته ایله کوي چي هلته ورځه! د خاوند سره شپې تېروه!، او په خپله له مینځي څخه خدمت نه اخلي). نو په دې صورت کي پر خاوند د مینځي نفقه واجب ده، ځکه چي د یو ځای اوسېدلو او شپې تېرولو په وجه د مینځي له طرفه احتباس ثابت سو، او نفقه د احتباس بدله او جزاء ده. نو ځکه به پر خاوند د مینځي لپاره نفقه واجب وي.

صاحب د هدایې فرمایي چي د "تَبْوِیَت" مطلب دا دی چي مالک خپلي مینځي او د هغې خاوند ته په خپل کور کي یوه علیحده خونه ورکړي او له مینځي څخه خدمت نه اخلي. ځکه که مالک له مینځي څخه خدمت اخلي، نو احتباس به فوت سي، لهذا نفقه به هم ساقطیږي (او پر خاوند به نفقه ورکول واجب نه وي)، ځکه چي د نفقې شرط همدغه احتباس دی، نو د إِذَا فَاتَ الشَّرْطُ فَاتَ الْمَشْرُوْطُ د قاعدې په وجه به د احتباس په فوتېدلو سره نفقه هم فوتیږي، او د احتباس فوتېدل ممکن هم دي، ځکه چي د مینځي په نکاح سره پر مالک تبویت (شپه تېر او استوګني ته پرېښوول) لازم نه دي، لکه په "بابُ نکاحِ الرقیق" کي چي د دې تفصیل تېر سو.

ولو خدمته إلخ: فرمایي که تر نکاح او تبویت وروسته مینځه د مالک له مطالبې څخه بغیر په خپله کله نا کله د مالک خدمت کوي، نو په دې صورت کي نفقه نه ساقطیږي او پر خاوند د نفقې اداء کول لازم دي، ځکه چي دلته مالک له مینځي څخه خدمت اخیستی نه دی، بلکي مینځه په خپله د هغه خدمت کوي، نو دا استراد نه سو (یعني له تبویت څخه د مینځي واپس اخیستل نه سو). لهذا تبویت هم باقي پاته سو، او احتباس هم موجود سو، نو ځکه به نفقه هم باقي پاته وي.

والمدبرة إلخ: فرمایي چي د نکاح، تبویت او احتباس په هکله چي څومره احکام د خالص مینځي په هکله تېر سوه، هغه ټوله احکام د مدبره مینځي او د اُمِ ولد مینځي لپاره هم دي. لهذا په کومو صورتونو کي چي خالص مینځه د نفقې مستحقه ګرځي، په هغه ټولو صورتونو کي به مدبره او اُم ولد ته هم نفقه ورکول کیږي، او چیري چي خالص مینځه محرومه ګرځي. هلته به دا دواړي مینځي هم محرومه ګرځي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



فَصْلٌ (فِيْ بَيَانِ السُّكْنٰى)

(دا) فصل (د ښځي) د استوګني (د احکامو) په بيان کي دی

تشريح: څرنګه چي نفقه او سکنیٰ دواړه د ښځي لپاره لازم او ضروري دي. نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله دواړه يو تر بل وروسته (پرلپسې) بيان کړي دي. خو څرنګه چي د سکنیٰ په نسبت نفقې ته زيات ضرورت سته. نو په دې وجه يې د نفقې أحکام او مسائل مخکي بيان کړل. او اوس د سکنیٰ أحکام او مسائل بيانوي.

سُكْنٰى: د "إِسْكَان" په معنیٰ سره دی. "إِسْكَان" د إفعال د باب مصدر دی چي د هغه يوه خاصه "متعدي کېدل" دي. نو د "سُکنیٰ" او "إِسْكَان" معنیٰ ده: بل څوک په يو ځای کي استوګن کول. أوسول. مېشتول. دا په اصل کي هغه "اوسولو (استوګن کولو)" ته وايي. کوم چي بېله عوضه وي يعني "د اوسېدلو او استوګني لپاره مفت ځای ورکول". صاحب د معجم الوسيط يې داسي تعريف کړی دی: "السُّكْنٰى هُوَ الإِسْكَانُ وَأَنْ تُسْكِنَ إِنْسَانًا مَنْزِلًا بِلَا أُجْرَةٍ". (معجم الوسيط ج: ١، ص: ٤٤٠)

د "سکنیٰ" حکم

وَعَلَى الزَّوْجِ أَنْ يُسْكِنَهَا فِيْ دَارٍ مُفْرَدَةٍ لَيْسَ فِيْهَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِهِ او پر خاوند لازم دي چي ښځه په يوازي [جلا] کور کي و أوسوي چي په هغه کي د خاوند د کورنۍ هيڅ فرد [استوګن] نه وي إِلَّا أَنْ تَخْتَارَ ذٰلِكَ خو دا چي ښځه هغه [په خپله] وغواړي [چي زما سره دي بل څوک هم استوګن وي. پروا نه لري] لِأَنَّ السُّكْنٰى مِنْ كِفَايَتِهَا ځکه چي أوسول [استوګن کول] د ښځي له کفايت څخه دي [يعني په دې سره ښځه پوره کيږي او له احتياج څخه خلاصيږي. او پر خاوند د ښځي پوره کول او : بل چا له احتياج څخه د هغې ساتل واجب دي] فَيَجِبُ لَهَا كَالنَّفَقَةِ لهذا د نفقې په شير به سکنیٰ [هم] د هغې لپاره [واجب] وي وَقَدْ أَوْجَبَهُ اللهُ تَعَالٰى مَقْرُونًا بِالنَّفَقَةِ او الله تعالیٰ سکنیٰ [استوګن کول] د نفقې سره متصل واجب کړي دي وَإِذَا وَجَبَ حَقًّا لَهَا او کله چي سکنیٰ د ښځي لپاره د حق په توګه واجب سوه لَيْسَ لَهُ أَنْ يُشْرِكَ غَيْرَهَا فِيْهِ نو د خاوند لپاره دا جائز نه دي چي له ښځي څخه بل څوک په سکنیٰ کي [د ښځي سره]

شريک کړي لِأَنَّهَا تَتَضَرَّرُ بِهِ ځکه چي په اشتراک سره ښځي ته تکليف رسيږي فَإِنَّهَا لَا تَأْمَنُ عَلَى مَتَاعِهَا ځکه چي هغه به پر خپل سامان مطمئنه نه وي او هر وخت به په دې بيره کي وي چي هسي نه زما سامان غلا سي وَيَمْنَعُهَا ذٰلِكَ مِنَ الْمُعَاشَرَةِ مَعَ زَوْجِهَا وَمِنَ الِاسْتِمْتَاعِ [همدارنګه] اشتراک ښځه منع کوي د خاوند له يو ځاى اوسېدلو څخه او له نفع اخيستلو [اجماع کولو] څخه إِلَّا أَنْ تَخْتَارَ خو دا چي ښځه [په خپله] هغه [اشتراک] وغواړي لِأَنَّهَا رَضِيَتْ بِانْتِقَاصِ حَقِّهَا ځکه چي [په دې صورت کي] هغه د خپل حق پر کمولو راضي سوه وَإِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ مِنْ غَيْرِهَا او که له بلي ښځي څخه خاوند يو زوى لري [کوم چي د دې ښځي مېرزى زوى کيږي] فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُسْكِنَهُ مَعَهَا نو خاوند لره جائز نه دي چي هغه د دې ښځي سره و اُوسوي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړى [چي په دې سره ښځي ته تکليف رسيږي] وَلَوْ أَسْكَنَهَا فِي بَيْتٍ مِنَ الدَّارِ مُفْرَدٍ وَلَهُ غَلَقٌ او که خاوند ښځه د خپل کور په عليحده خونه [کوټه] کي واُوسوي چي هغه خونه د بندېدلو دروازه [هم] لري كَفَاهَا نو دا د ښځي لپاره کافي دي لِأَنَّ الْمَقْصُودَ قَدْ حَصَلَ ځکه چي مقصود حاصل سو.

اللغات: ﴿يُسْكِن﴾ د افعال مضارع ده: اوسول، استوګن کول، استوګنه ورکول (د اوسېدلو لپاره ځاى ورکول). ﴿دَار﴾ هغه کور ته وايي چي دېوالونه پر راګرځېدلي وي. او د ضرورت ځايونه (لکه بيت الخلاء او داسي) نور پکښي وي. ﴿إِنْتِقَاص﴾ د افتعال مصدر دى: کمېدل. کمول. ﴿بَيْت﴾ د شپه تېر ځاى. په اصل کي خوني او کوټې ته وايي. ﴿غَلَق﴾ د لام په ضمه سره هغه دروازې ته وايي چي بنديږي او قلف ور اچول کيږي. او د لام په فتحه سره قلف ته وايي. او د لام په سکون سره مصدر دى په معنىٰ سره د "بندولو".

تشريح: صورت د مسئلي: دا دى چي کله سړى د ښځي سره نکاح وکړي او خپل کور ته يې راولي. نو پر هغه واجب دي چي د خپلي ښځي لپاره د يو داسي عليحده ځاى انتظام او بندوبست وکړي. چي په هغه کي د خاوند د کورنى هيڅ فرد نه اوسيږي. بلکي هلته فقط د ښځي او خاوند حکومت وي: دليل دا دى چي پر خاوند داسي نفقه واجب ده کوم چي د ښځي لپاره کافي وي. او سکنىٰ او استوګنه هم له کفايت څخه ده. ځکه چي استوګنه هم د ښځي په ضرورياتو کي داخل ده. نو ځکه به هغه هم پر خاوند واجب وي. او بل دا چي د عبد الله ابن مسعود ﷺ په قرائت کي نفقه او سکنىٰ يو

ځای متصل سره ذکر سوي دي، نو په دې وجه به هم سکنیٰ واجب وي، د عبد الله ابن مسعود ﷺ قرائت دا دی: "أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم وَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ مِن وُجْدِكُمْ" [سورة الطلاق:٦] (يعني تاسي د خپل وس مطابق ښځې په هغه ځای کې اوسوئ! چيرې چې تاسې اوسېږئ! او هغوی ته نفقه هم ورکوئ!) (دا د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قرائت دی).

له دې آيت څخه ثابته سوه چې د نفقې په څير ښځې ته د استوګنې لپاره ځای ورکول هم واجب دي. او کله چې د استوګنې لپاره ځای ورکول واجب دي؛ نو په هغه کې د بل چا شرکت مانع دی، ځکه چې په شرکت سره ښځې ته نقصان رسيږي چې هغه به هر وخت د خپل مال او سامان د غلا کېدلو په ېره کې وي. او د خاوند سره به د هغې يو ځای اوسېدل او جماع کول مشکل وي. نو په دې وجه عليحده ځای ورکول ضروري دي. لېکن که ښځه په خپله د خاوند د کورنۍ او قريبانو سره په يو ځای او يوه کور کې په اوسېدلو راضي وي. نو په دې صورت کې د ښځې لپاره د عليحده ځای انتظام کول ضروري نه دي. ځکه چې ښځې په خپله خپل حق ساقط کړی.

وإن كان له إلخ: او که چيرې خاوند له د غه ښځې څخه بغير د يو بل ښځې څخه زوی لري (چې هغه ته د دې ښځې مېرزی زوی وايي)، نو هغه هم په دې ځای کې د ښځې سره اوسول صحيح نه دي، ځکه چې په دې سره هم ښځې ته ضرر او نقصان رسيږي (او هر وخت به د سامان غلا کېدلو او نورو مشکلاتو خطره وي).

ولو أسكنها إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د خاوند کور غټ وي او ډيرې خونې (کوټې) لري، او خاوند يوه عليحده خونه ښځې ته ورکړي چې په هغه کې د بندېدلو دروازه موجوده وي (چې د ضرورت په وخت کې دروازه بنده کړی سي)، نو داسې خونه هم د ښځې د استوګنې او سکنیٰ لپاره کافي ده؛ ځکه د ښځې مقصد دا دی چې د هغې سامان محفوظ سي او د خاوند سره د تنهايي په حالت کې يو ځای سي، او دا مقصد په عليحده او جلا خونه سره هم حاصليږي.

د خپل کورنۍ (خپلوانو) سره د ښځې د ملاقات حق

وَلَهُ أَنْ يَمْنَعَ وَالِدَيْهَا وَوَلَدَهَا مِنْ غَيْرِهِ وَأَهْلَهَا مِنَ الدُّخُولِ عَلَيْهَا او خاوند لره دا حق سته چې هغه د ښځې مور و پلار او له بل خاوند څخه د ښځې زوی او د ښځې أهل انژدې قريبان ا ښځې ته له [تک] راتګ څخه منع کړي لِأَنَّ الْمَنْزِلَ مِلْكُهُ ځکه چې کور د خاوند ملکيت دی فَلَهُ حَقُّ الْمَنْعِ مِنْ دُخُولِ مِلْكِهِ لهذا هغه ته به خپل ملکيت کې له داخلېدلو څخه ا د بل چا ا د منع کولو حق وي وَلَا يَمْنَعُهُمْ مِنَ النَّظَرِ

إِلَيْهَا وَكَلَامِهَا فِي أَيِّ وَقْتٍ اخْتَارُوا او خاوند به دوی [پلار ومور او نور قريبان] د ښځي و طرف ته له کتلو او د ښځي له خبرو څخه نه منع کوي کله چي هم دوی [د ښځي ليدل او د هغې سره خبري کول] وغواړي لِمَا فِيهِ مِنْ قَطِيْعَةِ الرَّحِمِ ځکه چي په دې کي د صله رحمي [او قرابت] قطع کول دي. وَلَيْسَ لَهُ فِي ذٰلِكَ ضَرَرٌ او په دې کي د خاوند لپاره هيڅ ضرر [هم] نسته وَقِيلَ: لَا يَمْنَعُ مِنَ الدُّخُولِ وَالْكَلَامِ او [په دې مکله] ويل سوي دي: چي خاوند به [دوی] له داخلېدلو او خبرو کولو څخه نه منع کوي وَإِنَّمَا يَمْنَعُهُمْ مِنَ الْقَرَارِ بلکي دوی به له [ډېر] پاتېدلو څخه منع کوي لِأَنَّ الْفِتْنَةَ فِي اللِّبَاثِ وَتَطْوِيلِ الْكَلَامِ ځکه چي په پاتېدلو او د خبرو په اوږدولو کي فتنه وي [يعني دا د فتنې سبب ګرځي] وَقِيلَ: لَا يَمْنَعُهَا مِنَ الْخُرُوجِ إِلَى الْوَالِدَيْنِ وَلَا يَمْنَعُهُمَا مِنَ الدُّخُولِ عَلَيْهَا فِي كُلِّ جُمُعَةٍ او ويل سوي دي: چي خاوند به هره جمعه کي [يوه ورځ] ښځه مور و پلار ته له ورتګ څخه نه منع کوي او نه به مور وپلار ښځي ته له راتګ څخه منع کوي وَفِي غَيْرِهِمَا مِنَ الْمَحَارِمِ التَّقْدِيرُ بِسَنَةٍ او له مور وپلار څخه بغير د نورو محارمو [نژدې قريبانو] په حق کي يو کال تاکل سوی دی وَهُوَ الصَّحِيحُ او همدا صحيح دي.

اللغات: ﴿قَطِيْعَة﴾ قطع کول، غوڅول، ختمول، بدچلن کول. ﴿اللِّبَاث﴾ مصدر دی: پاتېدل، درنګ کول، په يو ځای کي وخت تېرول. ﴿تَقْدِيْر﴾ اندازه کول، مودت ټاکل (مقرر کول).

تشريح: مسئله: دا ده چي کله خاوند ښځي ته عليحده کور ورکړي، اوس هغه ته دا حق سته چي د ښځي پلار او مور (خسر او خواښې) او نور نژدې قريبان دغه کور ته له راتلو څخه منع کړي: ځکه چي دغه کور د خاوند ملکيت دی، او هغه ته په خپل ملکيت کي هر ډول حق او اختيار سته. لهذا د منع کولو حق به هم ورته حاصل وي، ها! که د ښځي پلار ومور يا نور نژدې قريبان د ښځي سره خبري کول وغواړي، نو خاوند هغه نه سي منع کولای؛ ځکه چي په دې سره صله رحمي قطع کيږي، او صله رحمي قطع کول حرام دي، په حديث کي ذکر سوي دي: "لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ" (يعني د قرابت او صلهٔ رحمي قطع کونکی [ختمونکی] به جنت ته داخل نه سي). (ها! که هغوی د خاوند په خلاف يو پلان او سازش جوړوي، نو بيا يې منع کولای سي).

وقيل إلخ: فرمايي چي د ځيني علماؤ رايه دا ده چي که د ښځي مور او پلار کور ته راسي او د لږ ګړي لپاره يو څو خبري کول او څه وخت تېرول غواړي، نو خاوند هغوی له دې څخه نه سي منع کولای. ځکه چي په دې سره صله رحمي قطعي کيږي. لېکن که مور او پلار د شپې پاته کيږي. يا تر ډېر

وخته پورې ګېډه شپه او ورځې خبرې کوي. نو له دې څخه يې منع کولای سي. ځکه چې ډېر وخت تېرول يا خبرې اورېدول د فتنې او فساد سبب ګرځي. لهذا کوم شی چې د فساد سبب وي. پر هغه بنديز لګول صحيح دي. بلکې ضروري دي.

وقيل إلخ: د ځينو علماؤ رايه دا ده چې په هفته (اونۍ) کې يوه ورځ ښځه د خپل مور و پلار سره همدارنګه مور و پلار د خپلې لور (ښځې) سره ملاقات او ليدنه کتنه کولای سي. او په هغه يوه ورځ خاوند لره د منع کولو حق نسته. او له مور و پلار څخه بغير د نورو نژدې قريبانو لپاره په ټوله کال کې د يو وار ملاقات کولو اجازه سته. همدا صحيح او مفتیٰ بهٖ قول دی.

د غائب خاوند له مال څخه د نفقې اداء کولو بيان

وَإِذَا غَابَ الرَّجُلُ وَلَهُ مَالٌ فِي يَدِ رَجُلٍ يَعْتَرِفُ بِهِ وَبِالزَّوْجِيَّةِ او کله چې يو سړی غائب سي او د هغه مال د يو داسې سړي په لاس کې (امانتاً پروت) وي چې هغه د مال اقرار کوي او (د يوې ښځې) د زوجيت (اقرار کوي چې دا ښځه د هغه زوجه (مابنه) ده) فَرَضَ الْقَاضِي فِي ذَلِكَ الْمَالِ نَفَقَةَ زَوْجَةِ الْغَائِبِ وَوَلَدِهِ الصِّغَارِ وَوَالِدَيْهِ نو قاضي دې په دغه مال کې د غائب سړي د ښځې او د هغه د کوچنيو بچيانو او د هغه د مور و پلار نفقه مقرره کړي وَكَذَا إِذَا عَلِمَ الْقَاضِي ذَلِكَ وَلَمْ يَعْتَرِفْ بِهِ او همدارنګه (په هغه صورت کې دې هم د دې کسانو لپاره نفقه مقرره کړي) کله چې قاضي په دې خبر وي او هغه سړی (مودَع) د دې قرار نه کوي لِأَنَّهُ لَمَّا أَقَرَّ بِالزَّوْجِيَّةِ وَالْوَدِيعَةِ ځکه کله چې مودَع د زوجيت او وديعت (امانت ايښنولو) اقرار وکړی فَقَدْ أَقَرَّ أَنَّ حَقَّ الْأَخْذِ لَهَا نو هغه د دې خبرې اقرار (هم) وکړی چې دغه ښځې ته (له دې مال څخه د نفقې) د اخيستلو حق سته لِأَنَّ لَهَا أَنْ تَأْخُذَ مِنْ مَالِ الزَّوْجِ حَقَّهَا مِنْ غَيْرِ رِضَاهُ ځکه چې ښځې ته دا اختيار سته چې د خاوند له رضا څخه بغير د خاوند له مال څخه خپل (د نفقې) حق واخلي وَإِقْرَارُ صَاحِبِ الْيَدِ مَقْبُولٌ فِي حَقِّ نَفْسِهِ او د قبضې والا (مُودَع) اقرار د منلو وړ دی لَا سِيَّمَا هٰهُنَا خصوصاً دلته فَإِنَّهُ لَوْ أَنْكَرَ أَحَدَ الْأَمْرَيْنِ ځکه که هغه (مودَع) له دوو معاملو (صورتونو) څخه انکار کولای لَا تُقْبَلُ بَيِّنَةُ الْمَرْأَةِ فِيهِ نو په دې سلسله کې به د ښځې بيّنه نه منل کېدلای لِأَنَّ الْمُودَعَ لَيْسَ بِخَصْمٍ فِي إِثْبَاتِ الزَّوْجِيَّةِ عَلَيْهِ ځکه چې مودَع مدعیٰ عليه نه دی پر هغه باندې (د ښځې) د زوجيت ثابتولو په صورت کې (يعني که ښځه پر مودع د زوجيت دعویٰ وکړي. نو هغه مدعیٰ عليه جوړېدلای نه سي (أثمار

الهدايه)] وَلَا الْمَرْأَةُ خَصْمٌ فِي إِثْبَاتِ حُقُوقِ الْغَائِبِ او نه ښځه د غائب خاوند د حقوقو په ثابتولو کي مدعي ده ايعني نه ښځه په دې دعوىٰ سره مدعيه جوړېدلاى سي چي زه د هغه غائب سړي ښځه يم] وَإِذَا ثَبَتَ فِي حَقِّهِ لهذا کله چي د مودَع [صاحبُ اليد] په حق کي [اقرار] ثابت سو تَعَدَّى إِلَى الْغَائِبِ نو د غائب خاوند وطرف ته به متعدي کيږي وَكَذَا إِذَا كَانَ الْمَالُ فِي يَدِهِ مُضَارَبَةً او همدارنګه کله چي د هغه [صاحبُ اليد] په لاس کي د مضاربت مال وي انو هم دغه حکم دى] وَكَذَا الْجَوَابُ فِي الدَّيْنِ او په قرضه کي هم دغه حکم دى وَهٰذَا كُلُّهُ إِذَا كَانَ الْمَالُ مِنْ جِنْسِ حَقِّهَا دَرَاهِمَ أَوْ دَنَانِيرَ أَوْ طَعَامًا أَوْ كِسْوَةً مِنْ جِنْسِ حَقِّهَا دا ټوله تفصيل په هغه وخت کي دى کله چي مال د ښځي د حق له جنس څخه وي يعني درهم يا دينار وي، يا خوراک وي. يا د ښځي سره لائق جامې وي أَمَّا إِذَا كَانَ مِنْ خِلَافِ جِنْسِهِ لېکن که هغه مال د ښځي د حق له جنس څخه خلاف وي لَا تُفْرَضُ النَّفَقَةُ فِيهِ نو په هغه کي به نفقه نه مقرره کيږي لِأَنَّهُ يَحْتَاجُ إِلَى الْبَيْعِ ځکه چي ادنفقې مقرر کولو لپاره به] هغه خرڅولو ته اړتيا لري ايعني که هغه مال د ښځي د حق له جنس څخه نه وي، نو هغه نه ښځه خولاړى سي او نه يو شى په رانيولاى سي، لهذا هغه به د ښځي د نفقې لپاره خامخا خرڅول کيږي] وَلَا يُبَاعُ مَالُ الْغَائِبِ بِالِاتِّفَاقِ [حالانکي] د غائب سړي مال بالاتفاق خرڅول کېدلاى نه سي أَمَّا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ فَلِأَنَّهُ لَا يُبَاعُ عَلَى الْحَاضِرِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز خو ځکه چي [کله] د حاضر سړي مال خرڅول کېداى نه سي وَكَذَا عَلَى الْغَائِبِ نو د غائب [مال] به هم خرڅول کېداى نه سي وَأَمَّا عِنْدَهُمَا فَلِأَنَّهُ إِنْ كَانَ يَقْضِي عَلَى الْحَاضِرِ ● او د صحابينو په نېز که څه هم قاضي د حاضر سړي د مال [خرڅولو] فيصله کولاى سي لِأَنَّهُ يُعْرَفُ امْتِنَاعُهُ ځکه چي [قاضي ته] د هغه انکار کول معلوميږي [ځکه چي هغه د قاضي مخ ته حاضر دى] لَا يَقْضِي عَلَى الْغَائِبِ [لېکن] د غائب سړي د مال [خرڅولو] فيصله نه سي کولاى لِأَنَّهُ لَا يُعْرَفُ امْتِنَاعُهُ ځکه چي د هغه انکار کول [قاضي ته] معلومېداى نه سي.

● القول الراجح: په دې هکله د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول راجح دى چي د قاضي لپاره د حاضر سړي مال خرڅول هم صحيح نه دي، كما قال العلامة قاضي خان رَحِمَهُ الله: ولا يباع على الزوج الحاضر عروضه في الدين والنفقة...(الخانية ج:۱، ص:۱۹۹. ۲۰۰)، وكذا في خلاصة الفتاوىٰ (ج:۲، ص:۶۱)، وكذا في الهندية (ج:۱، ص:۵۵۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۶۵]

اللغات: ﴿وَدِيْعَة﴾ هغه شی کوم چې يو چا ته په امانت ايښول سوی وي (دلته د غائب سړي مال وديعت دی، ځکه چې هغه بل سړي ته د امانت په توګه پرې ايښی دی. او دغه بل سړي ته مُوْدَع، صَاحِبُ الْيَد وايي، د مُوْدَع معنیٰ ده: "چا ته چې مال په امانت ايښول سوی وي". او صَاحِبُ الْيَد ځکه ورته وايي، چې د غائب سړي مال د ده په لاس او قبضه کې دی). ﴿لَا سِيَّمَا﴾ خصوصاً، په ځانګړې توګه، ﴿خَصْم﴾ مخالف ګروپ، د دې لفظ اطلاق کله پر مدعي کيږي، او کله پر مدعیٰ عليه کيږي، دلته په "اَلْمُوْدَعُ لَيْسَ بِخَصْمٍ" کې له خصم څخه مراد مدعیٰ عليه دی، او په "وَلَا الْمَرْأَةُ بِخَصْمٍ" کې له خصم څخه مراد مدعي دی (يعني ښځه مدعيه ده). ﴿كُسْوَة﴾ جامې، کالي، ﴿لَا يُبَاع﴾ د فتح له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: خرڅول (پلورل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی غائب وي، او هيڅ درک او پته يې معلومه نه وي، ليکن د يو معلوم سړي سره د هغه مال پروت وي. او دغه معلوم سړی (مودَع) دا خبره منې او اقرار کوي چې دا مال د هغه (غائب) سړي دی او دا ښځه هم د هغه (ماينه) ده. نو په دې صورت کې به قاضي له دغه مال څخه د غائب سړي (خاوند) د ښځې او د هغه د بچيانو او مور و پلار لپاره نفقه مقرره کوي. او همدا حکم په هغه وخت کې هم دی کله چې په خپله قاضي ته دا معلومه وي چې د غائب سړي مال د فلانکي کس سره پروت دی، هغه که فلانکی کس (مودَع) د مال اقرار کوي او که يې نه کوي. يعني په دې دويم صورت کې هم قاضي د غائب سړي له مال څخه د هغه د ښځې او بچيانو لپاره نفقه مقرره کولای سي.

دليل: د اول صورت دليل دا دی چې کله دلته مودَع سړي (صاحبُ اليد) دا خبره ومنل او اقرار يې وکړی چې دغه مال د غائب سړي دی او دا ښځه د هغه ده، نو هغه د دې خبرې اقرار هم وکړی چې دا ښځه له دې مال څخه د خپل ځان او بچيانو لپاره د نفقې اخيستلو حق لري، ځکه چې شريعت ښځې ته دومره اختيار ورکړی دی چې د خاوند له رضا څخه بغير هم هغه د خاوند له مال څخه خپله نفقه او خرڅه اخيستلای سي، لهذا کله چې ښځې ته په خپله د نفقې اخيستلو اختيار سته. نو د قاضي په قضاء سره به هغې ته په درجه اولیٰ د نفقې اخيستلو حق او اختيار وي.

واقرار صاحب اليد إلخ: په دې سره د يو مُقدّر اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چې دا مال د مودَع سړي نه دی (يعني د مال د هغه صاحبُ اليد نه دی، کوم ته چې مال پروت دی). بلکې دا مال د غائب خاوند دی، نو د غائب خاوند په حق کې به د هغه اقرار څرنګه صحيح وي، ځکه چې په دې اقرار سره هغه (غائب خاوند) ته نقصان رسيږي؟ نو د دې په جواب کې فرمايي چې دا اقرار اول په خپله د مودَع

په حق کې ثابتيږي (ځکه چې مال د هغه سره پروت دی او هغه په خپل لاس مال (نفقه) ورکوي). او بيا دا اقرار له هغه څخه د غائب خاوند وطرف ته متعدي کيږي (منتقل کيږي). او که سړی په خپل حق کې اقرار وکړي، نو صحيح دی، لهذا د مودَع اقرار به صحيح وي، او د غائب خاوند وطرف ته به د هغه متعدي کېدل هم صحيح وي. خصوصاً دلته به په طريقه اولیٰ سره د هغه اقرار صحيح او مقبول وي.

لا سيما هٰهنا: دا عبارت څه ستونزمن دی، حاصل يې دا دی چې دلته په طريقه اولیٰ سره د مودَع اقرار صحيح او مقبول دی، د هغه وجه دا ده چې که چيرې دلته مودَع (صاحبُ اليد) مدعیٰ عليه وای، نو په دې صورت کې به د هغه اقرار د غائب سړي (خاوند) په حق کې نقصان مند وای، او د هغه اقرار به صحيح نه وای، لېکن دلته هغه مدعیٰ عليه جوړېدلای نه سي، نو ځکه به د هغه اقرار صحيح وي. او تر اقرار وروسته به هغه د خاوند وطرف ته منتقل کيږي. دلته مودَع سړی په دوو صورتونو کې مدعیٰ عليه جوړېدلای سي: ①... يو دا چې ښځه پر مودَع د خپل زوجيت دعویٰ وکړي (چې مودَع زما خاوند دی). او هغه مدعیٰ عليه جوړ کړي، او ښځه داسي نه سي کولای، ځکه چې مودَع د هغې د نکاح او زوجيت سره هيڅ مطلب نه لري، نو په دې وجه هغه مدعیٰ عليه جوړېدلای نه سي. ②... دويم صورت دا دی چې ښځه پر غائب خاوند د خپل حق ثابتېدلو دعویٰ وکړي، او هغه مدعیٰ عليه جوړ کړي، لېکن دا هم نه سي کولای، ځکه چې خاوند غائب دی، او (د قاضي لپاره) پر غائب سړي فيصله کول صحيح نه دي، لهذا نه به هغه مدعیٰ عليه جوړيږي، او نه به د هغه په خلاف فيصله کيږي. لهذا کله چې دواړه صورتونه ناممکن دي، نو مودَع سړی له غائب څخه بالکل عليحده او جلا سو. نو ځکه به د مودَع اقرار په خپل حق کې وي، د غائب خاوند په حق کې نه وي. او له مودَع څخه به د غائب خاوند وطرف ته منتقل کيږي.

(په دې عبارت کې له أحدُ الأمْرَيْن څخه دغه پورتني دوه صورتونه مراد دي، اول صورت په "لأنّ المودع ليس بخصم..." سره بيان سوی دی، او دويم صورت په "ولَا المَرْأَةُ خَصْمٌ..." سره بيان سوی دی. او د خَصْم تفصيل په لغاتو کې ذکر سو).

وكذا إلخ: فرمايي که چيرې د غائب خاوند مال د مودَع سړي سره د وديعت په توګه پروت نه وي، بلکې د مضاربت په توګه وي. نو هم دغه حکم دی، يعني له هغه څخه به نفقه مقرره کيږي. او همدارنګه که د دغه سړي سره د غائب خاوند څه قرض پروت وي. او دغه سړی د قرض او زوجيت دواړو اقرار کوي، نو هم به له دې قرض څخه نفقه مقرره کيږي.

وهذا كله إلخ: فرمايي چي د نفقې مقرر کولو په هکله چي کوم تفصيل اوس ذکر سو. دا په هغه صورت کي دی کله چي دغه د وديعت مال يا د مضاربت مال يا د قرضې مال د ښځي د حق له جنس څخه وي (يعني د نفقې له جنس څخه وي)، مطلب دا چي روپۍ او پيسې وي. يا غله وي يا د ښځي د اغوستلو جامې وي. لېکن که هغه د ښځي د حق له جنس څخه نه وي، نو په دې صورت کي به له دغه مال څخه نفقه نه مقرره کيږي؛ ځکه کله چي دغه مال د ښځي د حق له جنس څخه نه وي. نو په هغه کي له خرڅولو څخه بغير نفقه مقرره کول ممکن نه دي (بلکي د نفقې لپاره به خامخا هغه مال خرڅول کيږي)، حالانکي حکم دا دی چي د غائب سړي مال بالاتفاق خرڅول جائز نه دي، نه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز او نه د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز. د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز ځکه جائز نه دی. ځکه هغه فرمايي چي کله د حاضر او موجود سړي مال خرڅول د قاضي لپاره جائز نه دي، نو د غائب او غير موجود سړي مال خرڅول به څرنګه جائز سي !، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز که څه هم د قاضي لپاره د حاضر سړي مال خرڅول جائز دي، لېکن د غائب سړي مال خرڅول جائز نه دي، د صاحبينو په نېز قاضي لپاره د حاضر سړي مال خرڅول ځکه جائز دي چي قاضي ته د دغه حاضر سړي په هکله دا معلوم دي چي هغه له حق اداء کولو څخه انکار کوي (ځکه چي هغه د قاضي په مخ کي انکار کوي)، لېکن د غائب سړي په هکله هغه ته دا نه معلوميږي چي آيا هغه له حق اداء کولو څخه انکار کوي او که حق اداء کول غواړي، نو په دې وجه به د قاضي لپاره د غائب سړي مال خرڅول جائز نه وي. والله أعلم وعلمه أتم

د پورتنۍ مسئلي بل صورت

قَالَ: وَيَأْخُذُ مِنْهَا كَفِيلًا بِهَا نَظَرًا لِلْغَائِبِ فرمايي: او قاضي به له ښځي څخه کفيل [ضامن] اخلي پر غائب خاوند د شفقت کولو په خاطر [يا د غائب خاوند د ښېګڼي او فايدې لپاره] لِأَنَّهَا رُبَّمَا اسْتَوْفَتِ النَّفَقَةَ أَوْ طَلَّقَهَا الزَّوْجُ وَانْقَضَتْ عِدَّتُهَا ځکه کېداى سي چي ښځي [مخکي] پوره نفقه اخيستې وي يا [کېداى سي چي] خاوند هغې ته طلاق ورکړی وي فَرَّقَ بَيْنَ هٰذَا وَبَيْنَ الْمِيرَاثِ إِذَا قُسِمَ بَيْنَ وَرَثَةٍ حُضُورٍ بِالْبَيِّنَةِ امام صاحب رَحِمَهُ الله د دې او د ميراث په مينځ کي فرق کړی دی کله چي ميراث د ګواهانو په ذريعه د حاضرو وارثانو په مينځ کي [د قاضي له طرفه] تقسيم کړی سي وَلَمْ يَقُولُوا: لَا نَعْلَمُ لَهُ وَارِثًا آخَرَ او وارثان دا نه وايي: چي موږ ته د مړي بل وارث معلوم نه دی [يعني د قاضي مخته دا خبره نه وکړي

چې زموږ څخه بغیر بل وارث هم سته ا حَيْثُ لَا يُؤْخَذُ مِنْهُمُ الْكَفِيلُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو په دې صورت کې به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز له هغو څخه کفیل نه اخیستل کیږي لِأَنَّ هُنَاكَ الْمَكْفُولَ لَهُ مَجْهُولٌ ځکه چې هلته ایعني په میراث کې ا مکفول له نا معلوم دی وَهٰهُنَا مَعْلُومٌ وَهُوَ الزَّوْجُ او دلته ایعني په نفقه کې مکفول له ا معلوم دی چې هغه خاوند دی وَيُحَلِّفُهَا بِاللهِ مَا أَعْطَاهَا النَّفَقَةَ نَظَرًا لِلْغَائِبِ او قاضي به له دغه ښځې څخه داسې قسم اخلي چې په خدای قسم! هغه ما ته نفقه راکړې نه ده. پر غائب خاوند د شفقت لپاره.

اللغات: ﴿كَفِيْل﴾ ضامن، ذمه وار. ﴿نَظَرًا﴾ شارحینو د دې لفظ څو معناوي کړي دي: ① د شفقت کولو په خاطر، ② د مصلحت او ښېګڼې لپاره، ③ د نفع او فایدې لپاره. ﴿إِسْتَوْفَتْ﴾ د استفعال ماضي ده: خپل حق پوره اخیستل. ﴿يُحَلِّفُ﴾ د تفعیل مضارع ده: په بل چا قسم خوړل. قسم ځني اخیستل.

تشريح: مسئله: دا ده چې کله په مخکنې صورت کې قاضي د ښځې لپاره د غائب خاوند له مال څخه نفقه مقرره کړي، نو باید قاضي پر غائب خاوند د شفقت کولو په خاطر له ښځې څخه د دې خبرې د ضمانت لپاره کفیل واخلي چې ښځه به زیات مال نه خرڅوي او بې ځایه به د هغه مال نه مصرفوي (یعني یو کفیل به متعین کړي چې هغه به پر ښځې نګراني کوي، او دا وعده به کوي چې که چیرې دغه ښځې بې ځایه د غائب نفقه مصرف کړه، نو زه د هغه ذمه وار یم، او زه یې ورکوم): د نفقې په هکله له ښځې څخه د کفیل اخیستلو وجه دا ده چې کېدای سي خاوند به دغه ښځې ته د روانېدلو او غائبېدلو په وخت کې وړاندې (پر یوه ځای) ورکړې وي، یا خاوند به هغې ته طلاق ورکړی وي او د هغې عدت به هم پوره سوې وي، نو هغه به د نفقې حقداره نه وي بلکې پر غلطه طریقه به نفقه اخلي. نو د دې خبرې د ضمانت لپاره به کفیل ځني اخیستل کیږي چې که ښځه پر غلطه طریقه د غائب خاوند مال اخلي، نو کفیل به هغه مال خاوند ته واپس ورکوي، همدا د کفیل اخیستلو او متعینولو وجه ده.

فرّق إلخ: د "فَرَّقَ" فاعل امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، یعني امام صاحب رَحِمَهُ الله په نفقه او میراث کې فرق کړی دی، حاصل یې دا دی چې کله یو څو خلک د قاضي په دربار کې د یو مَیِّت د وراثت دعویٰ وکړي چې موږ د دې مړي وارثان یو، او دا خبره نه وکړي چې زموږ څخه بغیر بل وارث هم سته، نو قاضي به د دغه موجوده وارثانو په مینځ کې د مړي میراث تقسیموي او د امام صاحب په نیز به له دوی څخه کفیل نه اخلي، خو د هغه په نیز به دلته د نفقې په مسئله کې له ښځې څخه کفیل اخلي، په دې

دوارو مسئلو کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د فرق وجه دا ده چي د میراث په صورت کي دا خبره معلومه نه ده چي آیا بل وارث (مکفول لهٗ) به پیدا سي، او که نه سي (یعني د میراث په صورت کي مکفول لهٗ مجهول دی)، نو ځکه به پر قاضي د هغه د میراث حصه محفوظه ساتل ضروري نه وي (یعني نو ځکه به پر قاضي دا ضروري نه وي چي له وارثانو څخه د ضمانت په توګه یو کفیل واخلي چي که چیري بل وارث پیدا سي او راسي نو تاسو به هغه ته خپله حصه واپس ورکوئ). او د نفقې په صورت کي خاوند (مکفول لهٗ) معلوم دی او مال هم د خاوند دی، نو ځکه به قاضي د نفقې په مسئله کي له ښځي څخه کفیل اخلي، او کفیل به د دې ضمانت ورکوي چي که ښځه په غلطه طریقه نفقه استعمال کړي، نو زه د هغه ذمه وار یم، او زه به یې واپس ور کوم.

د پورتنۍ مسئلې یو بل صورت

قَالَ: وَلَا يَقْضِي بِنَفَقَةٍ فِي مَالِ غَائِبٍ إِلَّا لِهَؤُلَاءِ فرمایي: فیصله به نه کوي قاضي د غائب په مال کي مګر د دغه کسانو لپاره [یعني د غائب سړي د ښځي او د هغه د مور وپلار او د هغه د کوچني بچیانو لپاره] وَوَجْهُ الْفَرْقِ: هُوَ أَنَّ نَفَقَةَ هَؤُلَاءِ وَاجِبَةٌ قَبْلَ قَضَاءِ الْقَاضِي او وجه د فرق دا ده چي د دې کسانو نفقه د قاضي تر قضا [فیصلې] مخکي [هم] واجب ده وَلِهَذَا كَانَ لَهُمْ أَنْ يَأْخُذُوا قَبْلَ الْقَضَاءِ او له همدې وجهې دغه کسانو ته دا اختیار سته چي د قاضي تر قضاء مخکي [هم] نفقه واخلي فَكَانَ قَضَاءُ الْقَاضِي إِعَانَةً لَهُمْ لهذا د قاضي قضاء [فیصله] به د دې کسانو لپاره د مرستې [او کومک] په توګه وي أَمَّا غَيْرُهُمْ مِنَ الْمَحَارِمِ فَنَفَقَتُهُمْ إِنَّمَا تَجِبُ بِالْقَضَاءِ لیکن له دوی څخه بغیر د نورو محارمو نفقه [فقط] د قاضي په قضاء سره واجبیږي لِأَنَّهُ مُجْتَهَدٌ فِيهِ ځکه چي هغه [یعني د نورو محارمو د نفقې مسئله] مختلف فیه ده وَالْقَضَاءُ عَلَى الْغَائِبِ لَا يَجُوزُ او پر غائب کس فیصله کول جائز نه دي انو ځکه به د نورو محارمو د نفقې فیصله پر غائب خاوند نه جاري کیږي] وَلَوْ لَمْ يَعْلَمِ الْقَاضِي بِذَلِكَ وَلَمْ يَكُنْ مُقِرًّا بِهِ او که قاضي په زوجیت خبر نه وي [چي دا ښځه د هغه زوجه ده او که نه ده؟] او مودَع هم د دې قرار کونکی نه وي فَأَقَامَتِ الْبَيِّنَةَ عَلَى الزَّوْجِيَّةِ او [بیا] ښځي پر خپل زوجیت بیّنه قائم کړه أَوْ لَمْ يُخَلِّفْ مَالًا یا [دا چي] خاوند مال پرې ایښی نه وو فَأَقَامَتِ الْبَيِّنَةَ لِيَفْرِضَ الْقَاضِي نَفَقَتَهَا عَلَى الْغَائِبِ وَيَأْمُرَهَا بِالِاسْتِدَانَةِ او [بیا] ښځي بیّنه قائم کړه د دې لپاره چي قاضي پر غائب د هغې نفقه مقرره کړي او ښځي ته د قرض اخیستلو

حکم وکړي لَا يَقْضِي الْقَاضِي بِذٰلِكَ نو [په دې دواړو صورتونو کې] به قاضي د دې فيصله نه کوي ايعني نفقه به نه مقرره کوي او ښځې به د "استدانة" حکم نه کويا لِأَنَّ فِي ذٰلِكَ قَضَاءً عَلَى الْغَائِبِ ځکه چې په دې کې [هم] پر غائب فيصله کول لازميږي [او قضاء على الغائب جائز نه ده] وَقَالَ زُفَرُ: يَقْضِي فِيهِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې قاضي به په دې [صورتونو] کې [د نفقې] فيصله کوي لِأَنَّ فِيهِ نَظَرًا لَهَا ځکه چې په دې کې د ښځې لپاره شفقت [او مصلحت] دی وَلَا ضَرَرَ فِيهِ عَلَى الْغَائِبِ او پر غائب خاوند هيڅ ضرر نسته فَإِنَّهُ لَوْ حَضَرَ وَصَدَّقَهَا ځکه که چيرې هغه حاضر سي او د ښځې تصديق وکړي فَقَدْ أَخَذَتْ حَقَّهَا نو [ثابته به سي چې] ښځې خپل حق اخيستی دی وَإِنْ جَحَدَ او که هغه انکار وکړي [چې دا زما ښځه نه ده] يُحَلَّفُ نو قسم به ځني اخيستل کيږي فَإِنْ نَكَلَ فَقَدْ صَدَّقَ بيا که هغه له قسم څخه انکار وکړي نو [ګواکي] هغه [د ښځې] تصديق وکړی وَإِنْ أَقَامَتْ بَيِّنَةً او که ښځه بيّنه پيش کړي فَقَدْ ثَبَتَ حَقُّهَا نو [هم] د هغې حق ثابتيږي وَإِنْ عَجَزَتْ او که ښځه [له بيّنه پېشولو څخه] عاجزه سي يَضْمَنُ الْكَفِيلُ أَوِ الْمَرْأَةُ نو کفيل يا ښځه به [د نفقې واپس کولو] ضامن وي وَعَمَلُ الْقُضَاةِ الْيَوْمَ عَلَى هٰذَا أَنَّهُ يَقْضِي بِالنَّفَقَةِ عَلَى الْغَائِبِ لِحَاجَةِ النَّاسِ او د قاضيانو عمل نن سبا پر همدغه دی چې قاضي د خلکو د ضرورت پر بناء پر غائب سړي باندې د نفقې فيصله کوي وَهُوَ مُجْتَهَدٌ فِيهِ او دا مسئله مختلف فيه ده وَفِي هٰذِهِ الْمَسْأَلَةِ أَقَاوِيلُ مَرْجُوعٌ عَنْهَا او په دې مسئله کې نور [هم ډېر] اقوال سته چې له هغوی څخه رجوع سوې ده [يعني هغه غير راجح او نامعتبر اقوال دي] فَلَمْ نَذْكُرْهَا نو ځکه موږ هغه ذکر نه کړل.

اللغات: ﴿إِعَانَة﴾ د افعال مصدر دی: د بل چا مرسته او کومک کول. ﴿إِسْتِدَانَة﴾ د استفعال مصدر دی: قرض اخيستل. ﴿صَدَّقَ﴾ د تفعيل ماضي ده: تصديق کول، ربښتونی ګڼل. ﴿جَحَدَ﴾ د فتح ماضي ده: انکار کول. ﴿أَقَاوِيل﴾ جمعُ الجمع د "قَوْلٌ" ده: قولونه.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې قاضي د غائب خاوند له مال څخه فقط د ښځې، او د هغه د مور و پلار او کوچني بچيانو لپاره نفقه مقرره کولای سي، او له دې څخه بغير د خاوند د نورو قريبانو لپاره مثلاً د هغه د اکا، ورور او خور لپاره نفقه نه سي مقرره کولای، ځکه چې د ښځې او د مور و پلار او بچيانو نفقه خو د قاضي تر قضاء مخکې هم د خاوند په مال کې ثابته ده، او له قضاء څخه بغير هم د دغه کسانو لپاره د نفقې او خرچې

اخيستلو اختيار سته. لهذا د دې کسانو د نفقې په سلسله کې د قاضي قضاء او فيصله فقط د دوی د اعانت او کومک لپاره ده. او د دوی په حق کې د نفقې د وجوب او لزوم سره د قاضي د قضاء هيڅ تعلق نسته. پاته سو له دوی څخه بغير د نورو قريبانو (محارمو) د نفقې مسئله. نو څرنګه چې د هغو د نفقې مسئله مختلف فيه ده. او شوافع د هغو لپاره نفقه نه ثابتوي. نو ځکه به د هغو د نفقې وجوب د قاضي پر قضاء موقوف وي. خو څرنګه چې دلته د هغو قريب (يعني خاوند) غائب دی. او پر غائب سړي فيصله کول (قضاء على الغائب) صحيح نه ده. نو ځکه به د غائب په مال کې د ښځې او د مور و پلار او کوچني بچيانو څخه بغير د نورو قريبانو لپاره نفقه مقرره کول صحيح نه وي.

ولولم يعلم إلخ: د دې حاصل دا دی چې که قاضي ته دا خبره معلومه نه وي چې آيا دا ښځه د غائب سړي زوجه (ښځه) ده او که نه ده. او مودَع (صاحبُ اليد) هم د هغې په حق کې اقرار نه کوي چې دا د هغه ښځه ده. لېکن دا ښځه په خپله پر خپل زوجيت ګواهان پېش کړي (چې زه د هغه ښځه يم). يا دا چې غائب خاوند بالکل مال پرې اينبې نه وي. لېکن بيا هم دا ښځه په دې نيت سره پر خپل زوجيت ګواهان پېش کړي چې قاضي زما لپاره پر غائب سړي نفقه مقرره کړي او ما ته د هغه پر نامه د قرض اخيستلو حکم راکړي. نو په دې دواړو صورتونو کې د قاضي لپاره د ښځې د ګواهانو پر ګواهي فيصله کول او پر غائب خاوند باندې نفقه مقرره کول صحيح نه دي. ځکه چې دا هم قضاء على الغائب ده. کوم چې زموږ په نيز ناجائز ده.

د دې په خلاف امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې قاضي ته پکار دي چې په دواړو صورتونو کې پر غائب خاوند نفقه مقرره کړي او ښځې ته د هغه په نامه د قرض اخيستلو حکم وکړي او له ښځې څخه يو کفيل (ضامن) واخلي. ځکه چې په داسې کولو کې د ښځې لپاره شفقت او نفع سته. او د غائب خاوند هيڅ نقصان پکښې نسته. ځکه کله چې غائب خاوند حاضر سي او د دې ښځې د قول تصديق وکړي (چې دا زما ښځه ده). نو دا خبره به ثابته سي چې ښځه په خپله دعوىٰ کې رښتونې وه او هغې خپل حق اخيستی دی. او که خاوند د هغې تکذيب وکړي (چې دا زما ښځه نه ده. درواغ وايي). نو بيا به له خاوند څخه قسم اخيستل کيږي. که هغه له قسم څخه انکار وکړي يا ښځه بيا ګواهان پېش کړي. نو بيا به هم د ښځې حق او رښتيا والی ثابت سي. او که خاوند قسم وکړي او د دې ښځې د دعوىٰ تکذيب وکړي. نو په دې صورت کې به هغه ټوله مال له ښځې څخه يا د هغې له کفيل څخه اخيستل کيږي. کوم چې د خاوند له مال څخه هغې ته ورکول سوی وي.

وعمل القضاة إلخ: فرمايي چې په اوسني وخت کې (يعني د مصنف رَحِمَهُ الله په وخت کې) قاضيان د امام زفر رَحِمَهُ الله پر قول عمل کوي. او د هغه د قول مطابق قاضيان د غائب خاوند په نفقه کې د نفقې حکم کوي. ځکه چې خلکو ته د دې ضرورت سته. او بيا دا مسئله مختلف فيه هم ده. او په دې کې ډېر غيرِ راجح او نامعتبر اقوال هم سته. لهذا د نامعتبر والي په وجه موږ هغه پرېښوول. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم

فَصْلٌ

تشريح: دا فصل هم د نفقه او سکنیٰ په بيان کې دی، لېکن د مخکني فصل او د دې فصل په مينځ کې فرق دا دی چې په مخکني فصل کې د هغه نفقې او سکنیٰ بيان وو کوم چې ښځې ته د نکاح په حالت کې ورکول کېږي، او په دې فصل کې هغه نفقه او سکنیٰ بيانيږي کوم چې تر نکاح ختمېدلو (او طلاق ورکولو) وروسته ښځې ته ورکول کېږي.

د مُطلقه (طلاق سوې) ښځې لپاره د نفقې او سکنیٰ حکم

وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ إِمْرَأَتَهٗ او کله چې سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړي فَلَهَا النَّفَقَةُ وَالسُّكْنٰى فِي عِدَّتِهَا نو د هغې [مطلّقه ښځې] لپاره به نفقه او سکنیٰ وي د عدت په زمانه کې رَجْعِيًّا كَانَ أَوْ بَائِنًا هغه که رجعي طلاق وي يا بائن طلاق وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا نَفَقَةَ لِلْمَبْتُوتَةِ إِلَّا إِذَا كَانَتْ حَامِلًا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د مطلقه بائنه ښځې لپاره نفقه نسته خو دا چې هغه حامله وي أَمَّا الرَّجْعِيُّ فَلِأَنَّ النِّكَاحَ بَعْدَهٗ قَائِمٌ کوم چې طلاقِ رجعي دی نو ځکه چې تر هغه وروسته نکاح باقي پاته وي لَا سِيَّمَا عِنْدَنَا خصوصاً زموږ په نيز فَإِنَّهٗ يَحِلُّ لَهُ الْوَطْءُ ځکه چې [تر طلاقِ رجعي وروسته زموږ په نيز] د خاوند لپاره وطي روا دي وَأَمَّا الْبَائِنُ فَوَجْهُ قَوْلِهٖ مَا رُوِيَ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ او پاته سو طلاقِ بائن نو [په هغه کې] د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قول دليل هغه حديث دی کوم چې له فاطمه بنت قيس رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روايت سوی دی قَالَتْ: طَلَّقَنِيْ زَوْجِيْ ثَلَاثًا [1] فَلَمْ يَفْرِضْ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ سُكْنٰى وَلَا نَفَقَةً هغې فرمايلي دي: چې ما ته خپل خاوند درې طلاقونه راکړه، نو نبي ﷺ نه زما لپاره سکنیٰ متعين کړه او نه نفقه وَلِأَنَّهٗ لَا مِلْكَ لَهٗ او ځکه چې [په بائنه ښځه کې] د خاوند هيڅ ملکيت [پاته] نه وي وَهِيَ

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطلاق، باب في نفقة المبتوتة، حديث رقم:۲۲۸۸، وابن ماجه في كتاب الطلاق، بــاب رقم:۱۰، حديث رقم:۲۰۲۰

مُرَتَّبَةٌ عَلَى الْمِلْكِ او نفقه پر ملکیت مرتب کیږي وَلِهٰذَا لَا تَجِبُ لِلْمُتَوَفّٰى عَنْهَا زَوْجُهَا او له همدې وجهې د کونډې سوي ښځې لپاره نفقه نه واجبيږي لِانْعِدَامِهِ ځکه چې [د خاوند] ملکيت ختم سي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَتْ حَامِلًا په خلاف د هغه صورت كله چې ښځه حامله وي لِأَنَّا عَرَفْنَاهُ بِالنَّصِّ ځکه چې موږ اشوافعو. د هغې په هکله د نفقې وجوب] په آيت سره معلوم کړی دی. وَهُوَ قَوْلُهُ تَعَالَى: وَإِن كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ [الطلاق: ۶] او هغه د الله تعالىٰ دا فرمان دی: او که چيري دغه ښځې حمل لرونکي [حاملاني] وي نو تاسي پر دوی نفقه کوئ! [يعني نفقه ورکوئ!] وَلَنَا: أَنَّ النَّفَقَةَ جَزَاءُ احْتِبَاسٍ عَلَى مَا ذَكَرْنَا او زموږ دليل دا دی چې نفقه د احتباس بدله ده لکه [مخکي] چې موږ ذکر کړه وَالِاحْتِبَاسُ قَائِمٌ فِي حَقِّ حُكْمٍ مَقْصُودٍ بِالنِّكَاحِ وَهُوَ الْوَلَدُ او احتباس [اوس هم] پاته دی د هغه حکم په حق کي کوم چې د نکاح مقصود دی او هغه بچی دی إِذِ الْعِدَّةُ وَاجِبَةٌ لِصِيَانَةِ الْوَلَدِ ځکه چې عدت خو د بچي [د نسب] د حفاظت لپاره واجب دی فَتَجِبُ النَّفَقَةُ نو نفقه به [هم] واجبيږي وَلِهٰذَا كَانَ لَهَا السُّكْنٰى بِالْإِجْمَاعِ او له همدې وجهې د مطلقه بائنه لپاره بالاتفاق سکنی [واجب] ده وَصَارَ كَمَا إِذَا كَانَتْ حَامِلًا نو داسي سوه لکه کله چې هغه حامله وي [يعني هغه د حاملې په درجه کي واقع سوه] وَحَدِيثُ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رَدَّهُ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د فاطمه بنت قيس حديث عمر بن خطاب رضی الله عنه رد کړی دی فَإِنَّهُ قَالَ: لَا نَدَعُ كِتَابَ رَبِّنَا وَسُنَّةَ نَبِيِّنَا بِقَوْلِ امْرَأَةٍ لَا نَدْرِي صَدَقَتْ أَمْ كَذَبَتْ حَفِظَتْ أَمْ نَسِيَتْ هغه وفرمايل: چې موږ د خپل رب کتاب او د خپل نبي سنت د يوې داسي ښځې په خبره نه سو پرېښوولای چې ادهغې په هکله] موږ ته دا معلومه نه ده چې هغه به رښتيا وايي، که دروغ؟ [او] آيا هغې ته به [د نبي ﷺ فرمان] ياد وي، او که [ځني] هېر سوی به وي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ[1]: لِلْمُطَلَّقَةِ الثَّلَاثِ النَّفَقَةُ وَالسُّكْنٰى مَا دَامَتْ فِي الْعِدَّةِ ما له نبي ﷺ څخه واورېدل چې هغه وفرمايل: کومي ښځې ته چې درې طلاقونه ورکول سوي وي د هغې لپاره به نفقه او سکنیٰ [واجب] وي تر څو چې هغه په عدت کي وي وَرَدَّهُ أَيْضًا زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَأُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَجَابِرٌ وَعَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او [همدارنګه] هغه [د فاطمه بنت قيس حديث] زيد بن ثابت، اسامه بن زيد، حضرت جابر او حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ هم رد کړی دی.

---

[1] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الطلاق، باب ما جاء في المطلقة ثلاثاً لا سكنى لها ولا نفقة، حديث رقم: ۱۱۸۹

اللغات: ﴿مَبْتُوْتَةً﴾ بائنه ښځه، له خاوند څخه جلا سوې ښځه. (ښځه په طلاقِ بائن، يا طلاق ثلاث سره مېتوته ګرځي او له خاوند څخه جلا کيږي)، ﴿لَمْ يَفْرِضْ﴾ د ضرب له باب څخه د جحد معلوم صيغه ده: متعينول، مقرر کول، ټاکل، فرض کول. ﴿إِحْتِبَاس﴾ د افتعال مصدر دی: بنديدل، محبوسه کېدل. د دې لفظ تفصيلي معنیٰ مخکې تېره سو. ﴿لَا نَدْرِيْ﴾ د ضرب له باب څخه د جمع متکلم نفي صيغه ده: خبرېدل، پېژندل، (معلومېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی کومې ښځې ته چې خاوند طلاق ورکړی وي، تر څو چې دا ښځه په عدت کې وي، تر هغه وخته پورې به د خاوند له طرفه هغې ته نفقه او سکنیٰ ورکول کيږي، هغه که مطلقه رجعيه وي، يا مطلقه بائنه وي، يا مطلقه ثلاثه وي، زموږ په نېز به هرې طلاق سوې ښځې ته د عدت په دوران کې نفقه او سکنیٰ دواړه ورکول کيږي، د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دا دی چې فقط مطلقه رجعيه ښځې ته به نفقه او سکنیٰ ورکول کيږي، او مطلقه بائنه او ثلاثه که چيرې حمل والا وي، نو هغوی ته به نفقه ورکول کيږي، کنې نه به ورکول کيږي؛ د مطلقه رجعيه ښځې مسئله خو متفق عليه ده، ځکه چې تر طلاقَ رجعي وروسته نکاح باقي پاتېږي خصوصاً زموږ په نېز، ځکه زموږ په نېز خو د مطلقه رجعيه ښځې سره (دَ عدت په وخت کې) وطي کول هم جلال دي، نو د هغې په هکله د دليل ذکر کولو هيڅ ضرورت نسته.

د امام شافعي دليل: د مطلقه بائنه او ثلاثه مسئله مختلف فيه ده، نو د دې مسئلې په هکله (د نفقې پر نه مستحق کېدلو) د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل هغه حديث دی کوم چې له حضرت فاطمه بن قيس رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روايت سوی دی چې "طَلَّقَنِيْ زَوْجِيْ ثَلاثًا فَلَمْ يَفْرِضْ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ سُكْنٰى وَلَا نَفَقَةً" (يعني زما خاوند ماته درې طلاقونه راکړه، لېکن نبي ﷺ زما لپاره نه سکنیٰ مقرر کړه، او نه نفقه)، په دې روايت سره دا خبره ثابته سوه چې د مطلقه ثلاثه لپاره نفقه او سکنیٰ نسته، او عقلي دليل دا دی چې پر مطلقه بائنه يا ثلاثه د خاوند ملکيت ختميږي، او د شوافعو په نېز نفقه د ملکِ بضع عوض ده، لهذا کله چې مِلک (ملکيت) ختم سي، نو نفقه به هم ختميږي، همدا وجه ده چې کونډې سوې ښځې ته نفقه او سکنیٰ نه ورکول کيږي، ځکه چې په مرګ سره د خاوند ملکيت له هغې څخه ختم سي. ها! که مطلقه بائنه يا ثلاثه حامله وي، نو بيا به ځکه نفقه ورکول کيږي چې د حامله ښځو د نفقې مستحق کېدل د قرآن په دې آيت سره ثابت دي: "وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ... إلخ" (يعني که مطلقه ښځې د حمل والا وي، نو تر حمل زېږولو پورې هغو ته نفقه ورکوئ!)، نو ځکه موږ (شوافع) د نفقې په هکله په مطلقه بائنه او مطلقه ثلاثه کې د حمل شرط لګوو.

زموږ دليل: دا دی چې نفقه د احتباس جزاء او بدله ده، او احتباس د هرې طلاق سوې ښځې په حق کې موجود دی، هغه که رجعيه وي، يا بائنه او ثلاثه وي، ځکه چې تر طلاق وروسته هم د نکاح د مقصود يعني د وَلَد او بچي په حق کې احتباس باقي دی، او عدت په همدغه وجه واجبيږي چې د هغه بچي حفاظت وکړ

سي (او د خاوند سره يې نسب ثابت کړی سي)، لهذا کله چي د هري مُطلّقې ښځي په حق کي احتباس موجود دی، نو هري يوې ته به نفقه او سکنیٰ هم ورکول کيږي، او د دې احتباس په وجه د مطلقه بائنې لپاره بالاتفاق سکنیٰ واجب ده. حالانکي نفقه له سکنیٰ څخه زياته ضروري دي، نو ځکه به نفقه هم ورکول کيږي او بائنه ښځي ته به د حاملې ښځي درجه ورکول کيږي.

وحديث فاطمة إلخ: پاته سو د فاطمه بنت قيس رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث، نو د هغه جواب دا دی چي زياتره صحابه وو دا حديث رد کړی دی، لکه څرنګه چي حضرت عمر ﷺ فرمايي چي "د يوې ښځي په خبره سره نه موږ د خپل رب کتاب "أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ" پرېښودلای سو، او نه د خپل نبي ﷺ سنت پرېښولای سي، حال دا چي موږ ته دا هم معلومه نه ده چي هغې ښځي به د نبي ﷺ فرمان ياد ساتلی وي او که څني هېر سوي به وي". وروسته فرمايي چي: "سمعتُ رسولَ اللهِ ﷺ يقولُ للمُطلَّقةِ الثّلاث النفقةُ والسُّكنىٰ مَا دامت فِي العِدّة" (يعني تر څو چي مطلقه ثلاثه په عدت کي وي، تر هغه وخته به نفقه او سکنیٰ ورکول کيږي)، په دې حديث سره زموږ دا خبره نوره هم مؤکده سوه چي مطلقه بائنه او ثلاثه ته به د عدت په ورځو کي نفقی او سکنیٰ دواړه ورکول کيږي، همدارنګه حضرت زيد بن ثابت، اسامه بن زيد، حضرت جابر او حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ هم دا حديث رد کړی دی، نو ځکه به دا حديث د استدلال قابل نه وي.

د کونډې سوي ښځي لپاره د نفقې حکم

وَلَا نَفَقَةَ لِلْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا او د کونډې سوي ښځي لپاره نفقه نسته لِأَنَّ احْتِبَاسَهَا لَيْسَ لِحَقِّ الزَّوْجِ بَلْ لِحَقِّ الشَّرْعِ ځکه چي د هغې احتباس د خاوند د حق لپاره نه دی، بلکي د شريعت د حق لپاره دی فَإِنَّ التَّرَبُّصَ عِبَادَةٌ مِنْهَا ځکه چي د هغې له طرفه ايسار بدل (او انتظار کول) عبادت دی أَلَا تَرَى أَنَّ مَعْنَى التَّعَرُّفِ عَنْ بَرَاءَةِ الرَّحِمِ لَيْسَ بِمُرَاعًى فِيهِ آيا ته نه ګوري! چي د رحم د خالي والي معلومولو معنیٰ د هغې په عدت کي نه مراعات کيږي حَتَّى لَا يُشْتَرَطَ فِيهَا الْحَيْضُ تر دې چي په هغې کي حيض (هم) نه شرط کيږي فَلَا تَجِبُ نَفَقَتُهَا عَلَيْهِ نو ځکه به پر (مړ سوي) خاوند د هغې نفقه نه واجبيږي وَلِأَنَّ النَّفَقَةَ تَجِبُ شَيْئًا فَشَيْئًا او ځکه چي نفقه په کراره، کراره (لږ، لږ) واجبيږي (په يوه وار د ټوله عمر نفقه نه واجبيږي) وَلَا مِلْكَ لَهُ بَعْدَ الْمَوْتِ او تر مرګ وروسته خاوند لره ملکيت نه وي (بلکي د وارثانو ملکيت وي) فَلَا يُمْكِنُ إِيجَابُهَا فِي مِلْكِ الْوَرَثَةِ او د وارثانو په ملکيت کي نفقه واجبول ممکن نه دي.

اللغات: ﴿تَرَبُّص﴾ د تفعّل مصدر دی: انتظار کول، ایسارېدل، درنګ کول، په یو ځای کې وخت تېرول.
﴿تَعَرُّف﴾ د تفعّل مصدر دی: پېژندل، معلومول. ﴿إِيْجَاب﴾ د افعال مصدر دی: واجبول.

تشریح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چې کونډې سوي ښځې ته به د عدت په دوران کې نفقه ورکول کیږي؛ دلیل دا دی چې نفقه د هغه احتباس بدله ده، کوم چې د خاوند لپاره وي. او د کونډې ښځې احتباس د شریعت د حق لپاره دی، نه د خاوند د حق لپاره، ځکه کومې څلور میاشتې او لس ورځې چې هغه خپل ځان ایساروي، هغه د کونډې ښځې له طرفه عبادت دی، همدا وجه ده چې په دې مودت کې نه د هغې د رحم برائت معلومول مقصود وي، او نه په دې مودت کې هغې ته د حیض راتلل مشروط دي. نو معلومه سوه چې په عدت کې د هغې احتباس د نکاح د مقصود یعني د وَلَد او بچي لپاره نه دی، نو ځکه به د هغې لپاره نفقه هم واجب نه وي.

ولأن النفقة إلخ: په دې هکله دویم دلیل دا دی چې (د خاوند په مال کې) د ښځې ټوله عمر نفقه په یوه وار نه واجبیږي، بلکې جلا، جلا او لږ، لږ واجبیږي، او تر مرګ وروسته په مال کې د خاوند ملکیت ختم سي. او وارثانو ته نقل سي نو د بل چا په ملکیت کې به نفقه څرنګه واجب کړی سي!!!، نو ځکه به د کونډې ښځې لپاره نفقه نه واجبیږي.

په کومو صورتونو کې به ښځې ته نفقه نه ورکول کیږي؟

وَكُلُّ فُرْقَةٍ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ الْمَرْأَةِ بِمَعْصِيَةٍ مِثْلَ الرِّدَّةِ وَتَقْبِيلِ ابْنِ الزَّوْجِ او هر هغه فرقت کوم چې د یو ګناه په سبب د ښځې له طرفه راغلی وي لکه مرتد کېدل او د خاوند زوی [یعني مېرزی زوی په شهوت سره] مچول فَلَا نَفَقَةَ لَهَا نو د هغې لپاره به نفقه [واجب] نه وي لِأَنَّهَا صَارَتْ حَابِسَةً نَفْسَهَا بِغَيْرِ حَقٍّ ځکه چې دا ښځه له یو حق څخه بغیر د خپل ځان منع کونکې وګرځېده فَصَارَتْ كَمَا إِذَا كَانَتْ نَاشِزَةً نو داسې سوه لکه کله چې هغه نافرمانه وي بِخِلَافِ الْمَهْرِ بَعْدَ الدُّخُولِ په خلاف تر دخول وروسته د مهر لِأَنَّهُ وُجِدَ التَّسْلِيمُ فِي حَقِّ الْمَهْرِ ځکه چې [په وطي او دخول سره] د مهر په حق کې [د بضع] ور سپارل موجود سو وَبِخِلَافِ مَا إِذَا جَاءَتِ الْفُرْقَةُ مِنْ قِبَلِهَا بِغَيْرِ مَعْصِيَةٍ او په خلاف د هغه صورت کله چې له یو ګناه څخه بغیر د ښځې له طرفه فرقت راغلی وي كَخِيَارِ الْعِتْقِ وَخِيَارِ الْبُلُوغِ وَالتَّفْرِيقِ لِعَدَمِ الْكَفَاءَةِ لکه خیارِ عتق او خیارِ بلوغ او د کُفو د نشتوالي په وجه تفریق [واقع کېدل] لِأَنَّهَا حَبَسَتْ نَفْسَهَا بِحَقٍّ ځکه چې [په دې صورت کې] ښځې د یو حق په وجه خپل ځان منع کړی [او محبوس کړی] دی وَذٰلِكَ لَا يُسْقِطُ النَّفَقَةَ او دا [حبس] نفقه نه سي ساقطولای كَمَا إِذَا حَبَسَتْ نَفْسَهَا لِاسْتِيفَاءِ الْمَهْرِ لکه [په هغه

صورت کي چي حَبْس نفقه نه سي ساقطولای ا کله چي ښځه د مهر اخیستلو لپاره خپل ځان اله خاوند څخه امنع کړي.

اللغات: ﴿فُرْقَة﴾ جدايي، ﴿مَعْصِيَة﴾ ګناه، نافرماني، ﴿تَقْبِيْل﴾ د تفعيل مصدر دی: مچول (ښکلول)، مچه اخيستل، ﴿حَابِسَةٌ﴾ د ضرب له باب څخه د مؤنث اسم فاعل صيغه ده، حَبَسَ يَحْبِسُ حَبْسًا و مَحْبَسًا: قيدي کول، بندي کول، منع کول (ځان راګرځول)، ﴿نَاشِزَة﴾ د نصر مؤنث اسمِ فاعل دی: نافرمانه ښځه، سرکښه، نفرت کونکې، ﴿اِسْتِيْفَاء﴾ د استفعال مصدر دی: (خپل حق) پوره اخيستل.

تشريح: په دې عبارت کي معتده ښځي ته د نفقې ورکولو او نه ورکولو په هکله يوه قاعده کليه بيان سوې ده، حاصل يې دا دی چي هر هغه فرقت کوم چي د ښځي له طرفه د يو ګناه په سبب سره واقع سي، د هغه فرقت په عدت کي به ښځي ته نفقه نه ورکول کيږي. مثلاً که ښځه مرتده سي، يا ښځه خپل مېرزی (ناسکه) زوی په شهوت سره مچ کړي، نو ښکاره خبره ده چي په دې صورتونو کي د خاوند او ښځي تر مينځ تفريق واقع کيږي، نو تر تفريق وروسته به دغه ښځي ته د عدت د ورځو نفقه نه ورکول کيږي؛ دليل دا دی چي دا تفريق د ښځي د بدعمل په وجه واقع سوی دی، لهذا هغه د نافرماني (نَاشِزَه) ښځي په څير سوه، او نَاشِزَه ښځي ته نفقه نه ورکول کيږي. نو ځکه به هغې ته هم نفقه نه ورکول کيږي، ها! د سکنىٰ حق به ورکول کيږي.' (بنايه ج:۵، ص:۵۳۲)

بخلاف المهر بعد الدخول إلخ: د دې حاصل دا دی چي که تر وطي او دخول وروسته ښځه يو داسي ګناه وکړي چي د هغه په وجه تفريق واقع سي، نو د ښځي مهر نه ساقطيږي، يعني فُرْقَة بِالْمَعْصِيَة فقط د نفقې په إسقاط کي مؤثِر دی، لېکن د مهر په إسقاط کي مؤثِر نه دی، ځکه چي په وطي سره د ښځي له طرفه خاوند ته د بضع ورسپارل ثابت سو، او مهر د تَسْلِيْمُ الْبِضْع بدل دی، يعني مهر ښځي ته د بضع سپارلو په بدله کي ورکول کيږي، نو ځکه به هغه واجب وي، او په دغه تفريق سره به هغه نه ساقطيږي.

وبخلاف ما إذا جاءت إلخ: همدارنګه که فرقت د ښځي له طرفه واقع سي، خو دا فرقت له معصيت او ګناه څخه خالي وي او د شرعي حق پر بناء وي، مثلاً منکوحه ښځه مينځه وي، او بيا آزاده سي، يا هغه نابالغه وي او بيا بالغه سي، يا ولي په غيرِ کفو کي د ښځي نکاح کړې وي، او په دې ټولو صورتونو کي ښځه له خاوند څخه فرقت او بېلتون اختيار کړي، نو که څه هم په دې صورتونو کي فرقت د ښځي له طرفه دی، خو څرنګه چي هغه له ګناه څخه خالي دی. او ښځي د يو حق په وجه ځان راګرځولی دی او فرقت يې واقع کړی دی، نو ځکه به په دې فرقت سره نفقه نه ساقطيږي، بلکي هغې ته به خپله نفقه ورکول کيږي. لکه په هغه صورت کي چي هم ښځي ته نفقه ورکول کيږي، کله چي خاوند مهرِ معجّل ټاکلی وي، او ښځه د مهر اخيستلو لپاره خپل ځان له خاوند څخه منع کړي (چي تر څو دي ما ته مهر راکړی نه وي، زه تا ته خپل ځان نه حواله کوم). نو په دې صورت کي به هم نفقه ورکول کيږي، ځکه چي دلته ځان منع کول او ځان راګرځول د يو داسي حق په وجه دي چي شريعت ښځي ته د هغه اختيار ورکړی دی.

د پور تنی مسئلې يو بل صورت

وَإِنْ طَلَّقَهَا ثَلَاثًا ثُمَّ ارْتَدَّتْ وَالْعِيَاذُ بِاللهِ او كه خاوند ښځې ته درې طلاقونه وركړې [او] بيا العياذ بالله ښځه مرتده سي سَقَطَتْ نَفَقَتُهَا نو د هغې نفقه ساقطيږي وَإِنْ مَكَّنَتْ ابْنَ زَوْجِهَا مِنْ نَفْسِهَا او كه دا ښځه د خپل خاوند زوي ته [يعني مېرزي زوي ته] پر خپل ځان [د جماع] قدرت وركړي فَلَهَا النَّفَقَةُ نو د هغې لپاره به نفقه وي مَعْنَاهُ: مَكَّنَتْ بَعْدَ الطَّلَاقِ د دې مطلب دا دی: چې تر طلاق وروسته قدرت وركړي لِأَنَّ الْفُرْقَةَ تَثْبُتُ بِالطَّلَقَاتِ الثَّلَاثِ ځكه چې فرقت خو د دريو طلاقونو په وجه ثابت سو وَلَا عَمَلَ فِيهَا لِلرِّدَّةِ وَالتَّمْكِينِ او په فرقت كي د مرتد كېدلو او قدرت وركولو هيڅ دخل نسته إِلَّا أَنَّ الْمُرْتَدَّةَ تُحْبَسُ حَتَّى تَتُوبَ خو مرتده ښځه قيدي كيږي تر دې چې توبه وكړي وَلَا نَفَقَةَ لِلْمَحْبُوسَةِ او د قيد سوي ښځي لپاره نفقه نسته [يعني د بندي سوي ښځي لپاره پر خاوند نفقه واجب نه ده] وَالْمُمَكِّنَةُ لَا تُحْبَسُ او قدرت وركونكې ښځه نه قيدي كيږي [يعني په شريعت كي د داسي ښځي د قيدي كولو حكم سوی نه دی] فَلِهَذَا يَقَعُ الْفَرْقُ نو په دې وجه [په دواړو صورتونو كي] فرق واقع سو.

اللغات: ﴿مَكَّنَتْ﴾ د تفعيل ماضي ده: د جماع قدرت وركول، ﴿تَتُوْبَ﴾ د نصر مضارع ده: توبه كول (توبه كښل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه يو سړی خپلي ښځي ته درې طلاقه وركړل، بيا نعوذ بالله هغه ښځه مرتده سوه، نو د هغې نفقه ساقطيږي، او د عدت په ورځو كي به هغې ته نفقه نه وركول كيږي، لېكن كه هغې د عدت په ورځو كي خپل مېرزي (ناسكه) زوي ته پر خپل ځان قدرت وركړی او د هغه سره يې جماع وكړه، نو هغې ته به نفقه وركول كيږي؛ په دې دواړو صورتونو كي فرق دا دی چې فرقت خو په دواړو صورتونو د درې طلاقونو په وجه واقع سوی دی، او د فرقت په وقوع كي د ښځي د ارتداد او تمكين (يعني پر ځان ناسكه زوی ته د قدرت وركولو) هيڅ دخل نسته، لېكن مرتده ښځه تر هغه وخت پوري قيدي كيږي (او په بنديخانه كي اچول كيږي) تر څو چې هغه توبه وكړي او كومه ښځه چې قيدي كړی سي، هغه پر خاوند د نفقې استحقاق نه لري (او هغې ته به نفقه نه وركول كيږي)، نو د مرتده ښځي د نفقې ساقطېدل د قيد او بندي كېدلو په وجه دي، د دې په خلاف مُمَكِّنَه ښځه (يعني ناسكه زوی ته پر خپل ځان قدرت وركونكې ښځه) نه قيدي كيږي، نو ځكه به هغه د نفقې مستحقه هم وي (او نفقه به وركول كيږي)، نو په دې اعتبار سره په دواړو صورتونو كي فرق راغلی.

❀❀❀

فَصْلٌ فِيْ بَيَانِ نَفَقَةِ الْأَوْلَادِ

(دا) فصل (د بچيانو د نفقې په بيان كي) دى

تشريح: څرنګه چي پر خاوند د ښځي نفقه واجب ده، همداسي د كوچني بچيانو نفقه هم د هغه پر ذمه واجب ده. نو ځكه مصنف رَحِمَهُ الله د ښځي تر نفقې وروسته اوس د أولاد نفقه بيانوي.

د كوچني بچيانو نفقه

وَنَفَقَةُ الْأَوْلَادِ الصِّغَارِ عَلَى الْأَبِ او د بچيانو نفقه پر پلار [واجب] ده لَا يُشَارِكُهُ فِيهَا أَحَدٌ كَمَا لَا يُشَارِكُهُ فِي نَفَقَةِ الزَّوْجَةِ چي په هغه كي به د پلار سره هيڅوک نه شريک كيږي لكه د ښځي په نفقه كي چي د هغه سره هيڅوک نه شريک كيږي لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ [البقرة: ۲۳۳] ځكه چي الله تعالىٰ فرمايلي دي: او د چا لپاره چي بچى زيږول سوى وي پر هغه [د بچي] د مندو نفقه [واجب] ده وَالْمَوْلُودُ لَهُ هُوَ الْأَبُ او مولود لهٗ همدا پلار دى.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالكل ښكاره دى چي څرنګه د ښځي نفقه فقط پر خاوند واجب ده، او په دې نفقه كي د خاوند سره د ښځي يا د خاوند بل هيڅ قريب شريک كېدلاى نه سي (چي د خاوند سره د هغې په نفقه كي مرسته وكړي)، همداسي د نابالغه بچيانو نفقه هم فقط پر خپل پلار واجب ده او د پلار سره د كوچني بچيانو په نفقه كي بل هيڅوک شريک كېدلاى نه سي، نه د بچيانو مور او نه يو بل قريب (بلكي د بچيانو د نفقې او خرچې ټوله ذمه واري به د پلار په غاړه وي)؛ د اولاد نفقه په دې آيت سره واجب ده "وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ"، په دې آيت سره داسي دليل نيول كيږي چي الله تعالىٰ په دې آيت كي د ښځو نفقه پر خاوندانو واجب كړې ده. او د دې وجوب سبب مَوْلُوْد (بچى) دى، نو كله چي د سبب په وجه د مندو (أمهاتو) نفقه پر خاوندانو واجب ده. نو د مسبب نفقه خو به په درجه اولىٰ سره پر هغو واجب وي

د شېر خواره (تي رودونکي) بچي نفقه

وَإِنْ كَانَ الصَّغِيرُ رَضِيعًا او که کوچنی شېر خوار (تی رودونکي) وي فَلَيْسَ عَلَى أُمِّهِ أَنْ تُرْضِعَهُ نو د هغه پر مور (واجب) نه دي چي هغه ته شيدې ورکړي لِمَا بَيَّنَّا أَنَّ الْكِفَايَةَ عَلَى الْأَبِ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی چي کفايت پر پلار واجب دی وَأُجْرَةُ الرَّضَاعِ كَالنَّفَقَةِ او د رضاعت (شيدو ورکولو) اُجرت د نفقي په څير دی وَلِأَنَّهَا عَسَاهَا لَا تَقْدِرُ عَلَيْهِ لِعُذْرٍ بِهَا او ځکه کېدای سي چي د يو عذر په وجه به مور پر شيدو ورکولو قدرت نه لري فَلَا مَعْنَى لِلْجَبْرِ عَلَيْهِ نو (په دې هکله) پر هغې د زور کولو هيڅ مطلب نسته وَقِيلَ فِي تَأْوِيلِ قَوْلِهِ تَعَالَى: لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا [البقرة: ۲۳۳] بِإِلْزَامِهَا الْإِرْضَاعَ مَعَ كَرَاهَتِهَا او د الله تعالیٰ د دې قول په تفسير کي ويل سوي دي: "لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا" (او په خپل بچي سره به مور ته ضرر نه رسول کيږي) په دې سره (به ضرر نه ور رسول کيږي) چي پر هغی لازم کړی سي "د شيدو ورکول" د هغې د ناخوښۍ باوجود وَهٰذَا الَّذِي ذَكَرْنَا بَيَانُ الْحُكْمِ او دا کوم څه چي موږ ذکر کړه (دا) د حکم بيان دی وَذٰلِكَ إِذَا كَانَ يُوجَدُ مَنْ تُرْضِعُهُ او دا (حکم) په هغه صورت کي دی کله چي داسي ښځه پيدا کيږي چي کوچني ته شيدې ورکړي أَمَّا إِذَا كَانَ لَا تُوجَدُ مَنْ تُرْضِعُهُ او که داسي ښځه نه پيدا کيږي چي کوچني ته شېدو ورکړي تُجْبَرُ الْأُمُّ عَلَى الْإِرْضَاعِ نو (بيا) به مور پر شيدو ورکولو مجبوره کيږي صِيَانَةً لِلصَّبِيِّ عَنِ الضَّيَاعِ د دې لپاره چي کوچنی له ضايع کېدو څخه وژغورل سي.

اللغات: ﴿رَضِيعٌ﴾ شېر خواره بچی، هغه بچي چي شيدې رودي (هغه کوچنی چي تر اوسه له تي څخه پرېکړی سوی نه وي، او کله چي پرېکړی سي نو "فَطِيم" ورته وايي) ﴿عَسٰى﴾ کېدای سي (امکان لري، ممکنه ده)، ﴿لَا تُضَارَّ﴾ د مفاعلې له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: تکليف ورکول (تکليف رسول)، ضرر رسول. ﴿إِرْضَاعٌ﴾ د افعال مصدر دی: کوچني ته شيدې ورکول، کوچني ته تی ورکول. ﴿صِيَانَةٌ﴾ د نصر د باب مصدر دی: ساتل، ژغورل، حفاظت کول.

تشريح: مسئله: دا ده چي د شېر خواره کوچني مور به پر شيدو ورکولو نه مجبوره کيږي (چي ته به خامخا او جبراً کوچني ته شيدې ورکوې)، بلکي که هغه په خپله شيدې ورکوي، نو د هغې احسان دی. کنې په دې سلسله کي به جبر او زور نه کيږي؛ د دې دليل مخکي تېر سو چي د کوچني کفالت او کفايتْ پر پلار واجب دی. لهذا څرنګه چي پر پلار د صغير نفقه واجب ده، همداسي د رضاعت اُجرت او خرچه هم پر هغه واجب

ده، دويم دليل دا دی چې کېدای سي مور د يو عذر او مجبوري په وجه پر شيدو ورکولو قدرت نه لري. لهذا هغه به پر شيدو ورکولو نه مجبوره کيږي، لکه څرنګه چې د دې آيت "وَلَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌۢ بِوَلَدِهَا" په تفسير کې ځيني مفسرينو ليکلي دي چې که د مور خوښه نه وي، نو هغه به پر شيدو ورکولو نه مجبوره کيږي. د آيت معنیٰ دا ده چې "مور ته به د کوچني په وجه ضرر نه رسول کيږي"، او د کوچني پر شيدو مور مجبوره کول هغې ته ضرر رسول دي (يعني که د هغې خوښه نه وي او پر هغې جبر او زور وکړی سي، نو په دې سره مور ته تکليف رسيږي)، نو ځکه به "مجبوره کول" په دې آيت سره جائز نه وي.

وهذا الذى إلخ: فرمايي کوم څه چې موږ بيان کړل، دا حکم او قضاء ده، او دا پر هغه صورت مبني دي. کله چې دايي (دايه) ښځه موجوده وي چې کوچني ته شيدې ورکړي، خو په دې صورت کې هم دياناً خپلې مور ته پکار دي چې کوچني ته شيدې ورکړي، لېکن که يوه دايي ښځه نه وي، يا پلار د اُجرت قدرت نه لري، يا کوچنی د بلې ښځې شيدې نه رودي (او مور هم هيڅ عذر نه لري)، نو په دې صورت کې پر مور واجب دي چې کوچني ته شيدې ورکړي، او که هغه شيدې نه ورکوي، نو د هغې مجبوره کول جائز دي، ځکه که داسې نه وسي، نو کوچني به ضايع سي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

قَالَ: وَيَسْتَأْجِرُ الْأَبُ مَنْ تُرْضِعُهُ عِنْدَهَا فرمايي: او پلار به داسې ښځه په اُجرت نيسي کوم چې د مور سره ايعني د مور په کور کې] کوچني ته شيدې ورکوي أَمَّا اسْتِئْجَارُ الْأَبِ فَلِأَنَّ الْأَجْرَ عَلَيْهِ کوم چې د پلار استيجار [په اُجرت سره د ښځې نيول] دي نو ځکه چې اُجرت پر پلار [واجب] دی وَقَوْلُهُ عِنْدَهَا مَعْنَاهُ: إِذَا أَرَادَتْ ذٰلِكَ او د ماتن رَحِمَهُ الله د دې قول "عِنْدَهَا" مطلب دا دی: چې کله مور هغه وغواړي ايعني کله چې د مور اراده او رضا وي چې ښځه به زما په کور کې بچي ته شيدې ورکوي] لِأَنَّ الْحَجْرَ لَهَا ځکه چې د پرورش [او پالنې] حق د مور لپاره دی.

اللغات: ﴿إِسْتِئْجَار﴾ د استفعال مصدر دی: بل څوک په مزدوري نيول. په اجرت نيول (په اجاره نيول).
﴿حَجر﴾ په غېږ کې اخيستل. پرروش او پالنه کول.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې پلار به د شيدو ورکولو لپاره داسې ښځه په اُجرت نيسي چې هغه د کوچني د مور سره اوسيږي (يعني دايي به د مور سره اوسيږي، په هغه صورت کې کله چې د مور خوښه وي)، او که چيرې د مور خوښه نه وي، نو بيا د مور سره د هغې اوسېدل ضروري نه دي، ځکه چې حَجر او پرورش فقط د مور حق دی.

او د شيدو ورکولو اُجرت فقط پر پلار واجب دی، ځکه چې د کوچني د تربيت او پالنې ټوله مصارف پر پلار واجب دي، نو د رضاعت اُجرت به هم پر هغه واجب وي.

خپله منکوحه یا معتده ښځه د رضاعت لپاره په اُجرت نیول

وَإِنِ اسْتَأْجَرَهَا وَهِيَ زَوْجَتُهُ أَوْ مُعْتَدَّتُهُ لِتُرْضِعَ وَلَدَهَا او که خاوند داسې ښځه په اُجرت ونیسي چې هغه د ده [منکوحه] ښځه وي یا د ده عدت تېرونکې وي د دې لپاره چې [دا ښځه] خپل بچي ته شیدې ورکړي لَمْ يَجُزْ نو [دا] جائز نه دي لِأَنَّ الْإِرْضَاعَ مُسْتَحَقٌّ عَلَيْهَا دِيَانَةً ځکه چې پر دې ښځې دیانتا [خپل بچي ته] شیدې ورکول واجب دي قَالَ اللهُ تَعَالَى: وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ [البقرة: ۲۳۳] الله تعالیٰ فرمایلي دي: او میندې به خپلو بچیانو ته شیدې ورکوي إِلَّا أَنَّهَا عُذِرَتْ لِاحْتِمَالِ عَجْزِهَا مګر دا چې [مخکې] هغه د خپلې عاجزۍ [او قدرت نه لرلو] د احتمال په وجه معذوره ګڼل سوې وه فَإِذَا أَقْدَمَتْ عَلَيْهِ بِالْأَجْرِ لېکن کله چې هغې په اُجرت سره د شیدو ورکولو إقدام وکړی ظَهَرَتْ قُدْرَتُهَا نو [پر شیدو ورکولو] د هغې قدرت ښکاره سو فَكَانَ الْفِعْلُ وَاجِبًا عَلَيْهَا نو ځکه به دا فعل [شیدې ورکول] پر هغې واجب وي فَلَا يَجُوزُ أَخْذُ الْأَجْرِ عَلَيْهِ او پر دې فعل به [د ښځې لپاره] اُجرت اخیستل جائز نه وي وَهٰذَا فِي الْمُعْتَدَّةِ عَنْ طَلَاقٍ رَجْعِيٍّ رِوَايَةٌ وَاحِدَةٌ او دا [حکم] د هغه ښځې په هکله کوم چې د طلاق رجعي عدت تېروي یو روایت [متفق علیه حکم] دی لِأَنَّ النِّكَاحَ قَائِمٌ ځکه چې [په طلاقِ رجعي کې] نکاح باقي وي وَكَذَا فِي الْمَبْتُوتَةِ فِي رِوَايَةٍ او همداسې د معتده بائنه ښځې په هکله په یوه روایت کې [هم دغه حکم دی] وَفِي رِوَايَةٍ أُخْرَى: جَازَ اسْتِئْجَارُهَا او په بل روایت کې [ذکر سوي] دي: چې معتده بائنه ښځه په اُجرت نیول جائز دي لِأَنَّ النِّكَاحَ قَدْ زَالَ ځکه چې [د هغې نکاح] ختمه سوې ده وَجْهُ الْأُولَى أَنَّهُ بَاقٍ فِي حَقِّ بَعْضِ الْأَحْكَامِ د اول حکم دلیل دا دی چې د ځینې احکامو په حق کې [اوس هم د هغې] نکاح باقي ده.

اللغات: ﴿عُذِرَتْ﴾ د تفعیل له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي مجهول صیغه ده: معذوره ګرځول (معذوره شمارل). ﴿أَقْدَمَتْ﴾ د إفعال له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي معلوم صیغه ده: إقدام کول، په یو کار شروع کول (په یو کار لاس پوري کول).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که خاوند خپل بچي ته د شیدو ورکولو لپاره د هغه مور (یعني خپله ښځه) په اُجرت ونیسي، هغه که دا ښځه د خاوند په نکاح کې وي، یا تر طلاق وروسته په عدت کې وي (یعني معتده وي)، نو دا ښځه په اُجرت نیول جائز نه دي؛ ځکه چې دیانتاً پر دې ښځې په خپله شیدې ورکول واجب دي، لکه څرنګه چې الله تعالیٰ فرمایلي دي: "وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ (یعني میندې به

خپلو بچيانو ته شيدې ورکوي)، په دې آيت کې يُرْضِعْنَ د يَتَرَبَّصْنَ په څير خبر دی او د أمر په معنیٰ سره دی، او دا ښځه د عاجزۍ د احتمال په وجه معذوره ګڼل سوې وه (چې کېدای سي د يو د عذر په وجه به هغه پر شيدو ورکولو قدرت نه لري)، خو کله چې هغې په أجرت سره بچي ته شيدې ورکول شروع کړه، نو دا خبره ښکاره سوه چې هغه پر شيدو ورکولو قدرت لري. نو د الله د حکم موافق پر هغې شيدې ورکول واجب سو، لهذا پر دې کار به د هغې لپاره اجُرت اخيستل جائز نه وي.

وهذا إلخ: فرمايي دا مذکوره حکم (چې د بچي مور په أجُرت نيول جائز نه دي) د مطلقه رجعيه ښځي په حق کي متفق عليه دی، ځکه چې تر طلاقِ رجعي وروسته نکاح قائم پاتيږي، همدا وجه ده چې د مطلقه رجعيه ښځه سره د خاوند وطي کول روا دي، او که چيرې ښځه د طلاقِ بائن په عدت کي وي، نو د هغې په هکله دوه روايتونه دي: ① په يوه روايت کي هغه د خپل بچي د شيدو لپاره په أجرت نيول جائز نه دي، ② او په بل روايت کي جائز دي، دليل دا دی چي په طلاقِ بائن سره د معتده بائنه ښځي نکاح په پوره توګه ختمه سي، او د اول روايت دليل دا دی چي تر طلاقِ بائن وروسته هم د ځيني احکامو په حق کي نکاح باقي پاته وي، مثلاً عدت، او د ښځي لپاره نفقه او سکنیٰ واجبېدل.

د پورتني مسئلې بل صورت

> وَلَوِ اسْتَأْجَرَهَا وَهِيَ مَنْكُوحَتُهُ أَوْ مُعْتَدَّتُهُ او که خاوند خپله منکوحه ښځه يا خپله معتده ښځه په أجرت ونيسي لِإِرْضَاعِ ابْنٍ لَهُ مِنْ غَيْرِهَا د هغه بچي د شيدو ورکولو لپاره کوم چې د خاوند له بلې ښځې څخه وي [يعني که خاوند د خپل بچي د شيدو لپاره د بچي مېره په أجرت ونيسي] جَازَ نو [دا] جائز دي لِأَنَّهُ غَيْرُ مُسْتَحَقٍّ عَلَيْهَا ځکه چې [مېرزي زوی ته شېدې ورکول] پر دې ښځي واجب نه دي وَإِنِ انْقَضَتْ عِدَّتُهَا فَاسْتَأْجَرَهَا او که د دې ښځي عدت تېر سي او [بيا] خاوند هغه په أجرت ونيسي يَعْنِي لِإِرْضَاعِ وَلَدِهَا يعني د هغې د خپل بچي د شيدو ورکولو لپاره [يې په أجرت ونيسي] جَازَ نو [دا] جائز دي لِأَنَّ النِّكَاحَ قَدْ زَالَ بِالْكُلِّيَّةِ ځکه چې [تر عدت وروسته] په بشپړه توګه نکاح ختمه سوه وَصَارَتْ كَالْأَجْنَبِيَّةِ او دا ښځه د پردۍ ښځي په څير وګرځېده.

اللغات: ﴿اِنْقَضَتْ﴾ د انفعال ماضي ده: (عدت) تېرېدل، پوره کېدل.

تشريح: په دې عبارت کي بچي ته د شيدو ورکولو په هکله دوې مسئلې بيان سوي دي، او دواړي جائز دي: (۱)... که خاوند خپله منکوحه يا معتده ښځه د هغې د ناسکه (مېرزي) زوی لپاره په أجرت ونيسي، نو دا جائز دي، ځکه چې ناسکه زوی ته شيدې ورکول پر هغې واجب نه دي، نه قضاءً او نه دیانتاً، نو ځکه به د هغې لپاره أجرت اخيستل ښه شکه جائز وي، (۲)... دويمه مسئله دا ده چي کله د معتدې ښځي عدت پوره سي،

او بيا خاوند دا معتده ښځه په أجرت ونيسي چي ته خپل زوی ته شيدې ورکوه!، نو دا صورت هم جائز دی، ځکه چي د عدت په پوره کېدلو سره نکاح په پوره توګه ختمه سوه. او دا ښځه أجنبيه (پردۍ) سوه. او أجنبيه ښځه په أجرت نيول جائز دي، لهذا دا ښځه به هم په أجرت نيول جائز وي.

د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

وَإِنْ قَالَ الْأَبُ: لَا أَسْتَأْجِرُهَا وَجَاءَ بِغَيْرِهَا او که پلار ووېل: چي زه د بچي مور په أجرت نه نيسم او له هغې څخه بغيرې بله [أجنبيه] ښځه راوستل فَرَضِيَتِ الْأُمُّ بِمِثْلِ أَجْرِ الْأَجْنَبِيَّةِ او [بيا] هغه [د بچي مور] د أجنبيه ښځي په أجرت راضي سوه [چي په دومره أجرت زه هم خپل بچي ته شيدې ورکوم] أَوْ رَضِيَتْ بِغَيْرِ أَجْرٍ يا له أجرت څخه بغير راضي سوه [چي ګرسره زه أجرت نه غوارم، او مفت خپل زوی ته شيدې ورکوم] كَانَتْ هِيَ أَحَقَّ نو هغه [د بچي مور] به زيات حقداره وي لِأَنَّهَا أَشْفَقُ ځکه چي هغه [د خپل بچي په حق کې] ډېره مهربانه ده فَكَانَ نَظَرًا لِلصَّبِيِّ فِي الدَّفْعِ إِلَيْهَا نو هغې ته به [د کوچني] په ورکولو کې د کوچني فايده وي [يعني د کوچني په حق کې به د شفقت او فايدې خبره همدا وي چي په دې صورت کې هغه خپل مور ته حواله کړی سي] وَإِنِ الْتَمَسَتْ زِيَادَةً او که مور د زيات أجرت مطالبه وکړي لَمْ يُجْبَرِ الزَّوْجُ عَلَيْهَا نو خاوند به پر دې نه مجبوره کېږي دَفْعًا لِلضَّرَرِ عَنْهُ له هغه څخه د ضرر لېرې کولو لپاره وَإِلَيْهِ الْإِشَارَةُ بِقَوْلِهِ تَعَالَى: لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ [البقرة: ۲۳۳] او د الله تعالیٰ په دې فرمان کې همدغه طرف ته اشاره ده: "لَا تُضَارَّ...إلخ" [چي تکليف نه به ورکول کېږي مور ته د هغې د بچي په ذريعه، او نه به پلار ته (تکليف ورکول کېږي) د هغه د بچي په ذريعه] أَيْ بِإِلْزَامِهِ لَهَا أَكْثَرَ مِنْ أُجْرَةِ الْأَجْنَبِيَّةِ يعني [تکليف به نه ورکول کېږي پلار ته] په دې سره چي پر هغه لازم کړی سي [د بچي] د مور لپاره له أجنبيه ښځي څخه زيات أجرت.

اللغات: ﴿أَشْفَقُ﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات مهربان، زيات مشفق. ﴿اِلْتَمَسَتْ﴾ د افتعال له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي معلوم صيغه ده: غوښتل، مطالبه کول، تلاش کول. ﴿مَوْلُوْدٌ لَهٗ﴾ د چا لپاره چي بچي زېږول سوی وي، مراد ځني پلار دی.

تشريح: په تېر عبارت کي دا خبره ذکر سوه چي کله د معتدې ښځي عدت پوره سي، نو بيا هغه خپل زوی ته په أجرت شيدې ورکولای سي (همدارنګه ښځه خپل ناسکه زوی ته هم په أجرت شيدې ورکولای سي)، نو که خاوند د کوچني معتده مور د کوچني لپاره په أجرت نه ونيسي، بلکي د هغې پر ځای بله أجنبيه ښځه په أجرت ونيسي، او بيا د مور محبت په جوش کي راسي او بېله أجرته زوی ته په شيدو ورکولو راضي سي، يا په

هغوىره أجرت راضي سي، څومره چي اجنبيه ښځه غواړي. نو په دې صورت کي دغه معتده مور د خپل کوچني زياته حقداره ده. دليل دا دی چي مور پر خپل کوچني زياته مهربانه وي. نو د کوچني فايده او خير په دې کي دی چي خپل مور ته وسپارل سي.

او که د کوچني مور تر أجنبيه ښځي زيات أجرت وغواړي. نو خاوند (يعني د کوچني پلار) به د زيات أجرت پر ورکولو نه مجبوره کيږي، ځکه چي په دې کي د پلار تاوان او ضرر دی. حالانکي د الله تعالىٰ په دې آيت "وَلَا مَوْلُودٌ لَّهُ بِوَلَدِهِ" کي له پلار څخه ضرر ليري کړی دی.

د هغه کوچني نفقه چي دين يې (د پلار له دين څخه) مخالف وي

وَنَفَقَةُ الصَّغِيرِ وَاجِبَةٌ عَلَىٰ أَبِيهِ وَإِنْ خَالَفَهُ فِي دِينِهِ او د کوچني [بچي] نفقه د هغه پر پلار واجب ده که څه هم کوچنی په دين کي د هغه مخالف وي كَمَا تَجِبُ نَفَقَةُ الزَّوْجَةِ عَلَى الزَّوْجِ وَإِنْ خَالَفَتْهُ فِي دِينِهِ لکه څرنګه چي د ښځي نفقه پر خاوند واجب ده که څه هم ښځه په دين کي د خاوند مخالفه وي أَمَّا الْوَلَدُ فَلِإِطْلَاقِ مَا تَلَوْنَا کوم چي بچی دی نو ځکه چي زموږ تلاوت سوی آيت وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ مطلق دی وَلِأَنَّهُ جُزْؤُهُ او ځکه چي بچی د پلار جزء دی فَيَكُونُ فِي مَعْنَىٰ نَفْسِهِ نو د هغه د ذات په معنىٰ سره به وي وَأَمَّا الزَّوْجَةُ فَلِأَنَّ السَّبَبَ هُوَ الْعَقْدُ الصَّحِيحُ او کوم چي ښځه ده نو ځکه چي [د هغې د نفقې] سبب عقد صحيح دی فَإِنَّهُ بِإِزَاءِ الْاِحْتِبَاسِ الثَّابِتِ بِهِ ځکه چي نفقه د هغه احتباس په مقابله کي [واجب] وي کوم چي په عقد صحيح سره ثابت وي وَقَدْ صَحَّ الْعَقْدُ بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالْكَافِرَةِ او د مسلمان سړي او کافري ښځي په مېنځ کي عقد [د نکاح تړون] صحيح دی وَتَرَتَّبَ عَلَيْهِ الْاِحْتِبَاسُ او پر همدغه عقد صحيح احتباس مرتب وي فَوَجَبَتِ النَّفَقَةُ نو ځکه به نفقه واجب وي وَفِي جَمِيعِ مَا ذَكَرْنَا إِنَّمَا تَجِبُ النَّفَقَةُ عَلَى الْأَبِ او په هغو ټولو صورتونو کي کوم چي موږ ذکر کړل پر پلار هغه وخت [د کوچني] نفقه واجبيږي إِذَا لَمْ يَكُنْ لِلصَّغِيرِ مَالٌ کله چي د کوچني لپاره مال نه وي أَمَّا إِذَا كَانَ لیکن که [د هغه سره] مال وي فَالْأَصْلُ أَنَّ نَفَقَةَ الْإِنْسَانِ فِي مَالِ نَفْسِهِ نو اصل دا دی چي د انسان نفقه د هغه په خپل مال کي واجبيږي صَغِيرًا كَانَ أَوْ كَبِيرًا هغه که انسان کوچنی [نابالغ] وي او که غټ [بالغ] وي.

اللغات: ﴿بِإِزَاءِ﴾ په مقابله کي، په بدله کي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د نابالغه بچي نفقه پر پلار واجب ده. برابره ده که پلار او بچی دواړه په دين کي سره متحد وي او که په دين کي يو د بل مخالف وي (مثلاً پلار مسلمان وي. او بچی

عيسائي وي). په هر صورت کي پر پلار د هغه نفقه واجب ده. لکه پر خاوند چي د ښځي نفقه واجب ده. هغه که ښځه د خاوند سره په دين کي متّحده وي او که مخالفه وي.

د بچي د نفقې واجبېدلو دليل هغه آيت دی کوم چي مخکي ذکر سو يعني "وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ" (يعني پر پلار د بچي د مور نفقه واجب ده). او څرنګه چي دغه وجوب د بچي په ذريعه او د هغه په سبب دی، نو د بچي نفقه خو به په درجه اولیٰ سره پر پلار واجب وي.

او د دې حکم عقلي دليل دا دی چي بچی د پلار جزء دی. لهذا هغه داسي سو لکه د خپل پلار نفس او ذات (يعني هغه د پلار د نفس په حکم کي سو). او څرنګه چي پر انسان خپل ذات ته نفقه ورکول واجب دي. همداسي به خپل جزء يعني بچي ته نفقه ورکول هم واجب وي.

وأما الزوجة إلخ: په دې عبارت سره د ښځي د نفقې واجبېدلو علت بيانوي، حاصل يې دا دی چي د ښځي د نفقې واجبېدلو سبب عقد صحيح (د صحيح نکاح تړون) دی، ځکه چي نفقه د احتباس جزاء ده، او احتباس په عقد صحيح سره حاصلېږي. لهذا د کوم سړي او ښځي په مينځ کي چي عقد صحيح قائم سي، په هغه عقد کي به پر سړي د ښځي نفقه واجب وي. او څرنګه چي په مسلمان سړي او مسلماني ښځي کي هم عقد صحيح قائمېږي. همدارنګه په مسلمان سړي او کتابيه ښځه کي هم د دې آيت "وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ" پر بناء عقد صحيح قائمېږي. او احتباس په عقد صحيح سره حاصلېږي. نو ځکه موږ وايو چي پر خاوند په هر صورت کي د ښځي نفقه واجب ده. هغه که ښځه د خاوند سره په دين کي متّحد وي. يا مخالف وي.

وفي جميع إلخ: فرمايي د بچي (صغير) د نفقې د وجوب په هکله چي موږ کوم صورتونه ذکر کړل. په دې ټولو صورتونو کي هغه وخت پر پلار نفقه واجبېږي. کله چي د صغير سره خپل ذاتي مال نه وي. لېکن که صغير ته په ميراث کي مال پاته سوی وي. يا په هبه يا بل شي کي مال ور ته حاصل سوی وي. او هغه د ده خپل ذاتي مال وي. نو په دې صورت کي به نفقه د ده په مال کي واجب وي، ځکه اصل دا دی چي د انسان نفقه په خپل مال کي واجبېږي. هغه که انسان کوچنی وي او که غټ وي.

فقط والله أعلم وعلمه أتم



فَصْلٌ (فِيْ نَفَقَةِ الْأَبَاءِ وَالْأَجْدَادِ وَالْخَادِمِ)

(دا) فصل (د پلرونو، نیکه گانو او د خام د نفقې په بیان کې) دی

تشریح: مخکې تر دې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د أولاد نفقه بیان کړه، اوس په دې فصل کې د پلار ومور، انا، نیکه او خادم نفقه بیانوي.

د مور وپلار او د نیکه و انا د نفقې بیان

وَعَلَى الرَّجُلِ أَنْ يُنْفِقَ عَلَى أَبَوَيْهِ وَأَجْدَادِهِ وَجَدَّاتِهِ او پر سړي [واجب] دي چې خپل مور و پلار او خپلو نیکه گانو او اناگانو ته نفقه ورکړي إِذَا كَانُوا فُقَرَاءَ [په دې شرط] کله چې هغوی غریبان وي وَإِنْ خَالَفُوهُ فِي دِيْنِهِ که څه هم هغوی په دین کې د سړي مخالف وي أَمَّا الْأَبَوَانِ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا [لقمان: ١٥] کوم چې مور وپلار دي نو ځکه چې الله تعالیٰ فرمایلي دي: او د مور وپلار سره په دنیا کې په غوره طریقه سره ژوند تېروه! نَزَلَتِ الْآيَةُ فِي الْأَبَوَيْنِ الْكَافِرَيْنِ دا آیت د کافر مور او پلار په هکله نازل سوی دی وَلَيْسَ مِنَ الْمَعْرُوفِ أَنْ يَعِيشَ فِي نِعَمِ اللهِ تَعَالَى وَيَتْرُكَهُمَا يَمُوتَانِ جُوعًا او غوره طریقه دا نه ده چې انسان [په خپله] د الله په نعمتونو کې عیش کوي او پلار ومور [په داسې حالت کې] پرېږدي چې د لوږې مړه کېږي وَأَمَّا الْأَجْدَادُ وَالْجَدَّاتُ فَلِأَنَّهُمْ مِنَ الْآبَاءِ وَالْأُمَّهَاتِ او کوم چې نیکه گان او اناگاني دي نو ځکه چې هغوی [هم] له پلرنو او مندو څخه دي [یعني هغوی هم د پلار او مور په درجه کې دي] وَلِهَذَا يَقُومُ الْجَدُّ مَقَامَ الْأَبِ عِنْدَ عَدَمِهِ او له همدې وجهې د پلار د نشتوالي په وخت کې نیکه د هغه قائم مقام کېږي وَلِأَنَّهُمْ سَبَّبُوا لِإِحْيَائِهِ او ځکه چې هغوی [نیکه گان] د انسان د زندگۍ سبب جوړ سوي وي فَاسْتَوْجَبُوا عَلَيْهِ الْإِحْيَاءَ بِمَنْزِلَةِ الْأَبَوَيْنِ نو ځکه هغوی [هم] پر انسان د مور و پلار په څېر د زندگۍ [نفقې] مستحق سول وَشَرَطَ الْفَقْرَ لِأَنَّهُ لَوْ كَانَ ذَا مَالٍ او د غربت شرط ځکه لګول سوی دی چې که هغه [پلار، یا مور، یا نیکه...] د مال خاوند وي فَإِيجَابُ نَفَقَتِهِ فِي مَالِهِ أَوْلَى مِنْ إِيجَابِهَا فِي مَالِ غَيْرِهِ نو د هغه په نفقه کې مال واجبول د بل په مال کې له نفقې واجبولو څخه زیات

غوره دي وَلَا يُمْنَعُ ذٰلِكَ بِاخْتِلَافِ الدِّيْنِ او دا [د نفقې واجبېدل] به د دين د اختلاف په وجه نه منع كيږي [يعني اختلافُ الدين د نفقې له وجوب څخه مانع نه دی] لِمَا تَلَوْنَا د هغه آيت په وجه كوم چې مونږ تلاوت كړی.

اللغات: ﴿أَجْدَاد﴾ جمع د "جَدٌّ" ده: نيكه ګان، مراد ځني د پلار، پلار او د مور پلار دی. ﴿جِدَّات﴾ جمع د "جِدَّةٌ" ده: اناګاني، مراد ځني د پلار مور، او د مور، مور ده. ﴿صَاحِبْهُمَا﴾ صَاحِبْ: د مفاعلې له باب څخه د واحد مذكر أمرِ حاضر صيغه ده. صَاحَبَ يُصَاحِبُ مُصَاحَبَةً: د يو چا سره ملګرتيا كول، د يو چا سره ژوند تېرول. ﴿سَبَّبُوْا﴾ د تفعيل ماضي ده: سبب جوړېدل، سبب ګرځېدل. ﴿إِسْتَوْجَبُوْا﴾ د استفعال ماضي ده: د واجبېدلو طلب كول (مستحق كېدل)، تقاضا كول. ﴿فَقْر﴾ غربت، تنګلاسي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې څرنګه پر سړي د خپلې ښځې او د خپلو كوچني بچيانو نفقه واجب ده، همدارنګه د الدَّينو (مور و پلار) او د نيكه او انا نفقه هم د هغه پر ذمه واجب ده، كله چې دغه كسان غريبان وي او نفقې او خرچې ته اړتيا لري، نو زوی او لمسي به دوی ته په اعتدال سره نفقه وركوي، هغه كه دوی په دين كي يو د بل سره متحد وي او كه مخالف وي.

د مور و پلار د نفقې واجبېدلو په هكله صاحب د هدايې په دې آيت سره دليل نيولی دی "وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوْفًا" (يعني په دنيا كې د مور و پلار سره په ښه توګه ژوند تېروئ، او د هغو سره غوره سلوک كوئ!). د دې آيت شانِ نزول دا دی چې كله حضرت سعد بن أبي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا اسلام راوړی، نو د هغه مور "جميله" كافره وه. او د حضرت سعد رضي الله عنه په اسلام راوړلو ډېره ناراضه سوه. چې د هغه په وجه يې خوراک او څښاک هم پرېښوول. حضرت سعد رضي الله عنه نبي صلى الله عليه وسلم ته د خپلې مور قصه بيان كړه، نو دا آيت نازل سو "وإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَنْ تُشْرِكَ بِيْ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوْفًا... إلخ". يعني د الله د وحدانيت او د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د رسالت په هكله د مور و پلار اطاعت مه كوئ! ها! په دنياوي معاملاتو كي د هغو سره معروفه طريقه او غوره سلوک او چلند اختيار كړئ. يعني كه مور و پلار په دنياوي شيانو كي يو شي ته ضرورت لري، نو هغه پوره كوئ!. او كه هغوی نفقې او خرچې ته محتاج وي، نو هغو ته نفقه او خرچه هم وركوئ!، ځكه چې "معروفه طريقه" دا نه ده چې انسان په خپله د الله په نعمتو كي عيش او عشرت كوي او خپل مور و پلار وږي پرېږدي. يعني څرنګه چې انسان د خپل ځان او د خپلو بچيانو د خوراک او ضروريا تو فكر كوي، همغسې به د مور و پلار د خوراک او ضروريا تو فكر هم كوي، په دې آيت سره دا

خبره ثابته سوه چي که مور وپلار محتاجه وي، نو پر زوی د هغو نفقه واجب ده، که څه هم مذهب او دين يې سره متحد نه وي.

همدارنګه الله تعالیٰ په بل ځای کي فرمايلي دي: "وَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ"، يعني تاسي د مور وپلار مخته "اُف" هم مه کوئ! ځکه چي په دې سره هغو ته تکليف رسيږي، او د احتياج او غربت په وخت کي هغو ته نفقه نه ورکول تر "اُف" هم زيات سخت او ضررمن دي، نو ځکه په دې آيت سره هم د مور وپلار د نفقې وجوب فهمول کيږي. (بنايه ج:۵، ص:۴۲۱).

وأما الأجداد إلخ: فرمايي چي له مور وپلار څخه بغير د نيکه او انا لپاره د نفقې واجبېدلو دليل دا دی چي نيکه او انا هم د مور وپلار په درجه کي دي، همدا وجه ده چي کله پلار نه وي، نو په وراثت او داسي نورو أحکامو کي نيکه د پلار قائم مقام کيږي، او څرنګه چي مور و پلار د نفقې مستحق دي، نو نيکه او انا هم به د فقر او حتياج په وخت کي د نفقې مستحق وي، په دې هکله دويم دليل دا دی چي نيکه او انا هم د انسان د زندګۍ سبب دي، ځکه که چيري نيکه او انا نه وای، نو د هغه مور او پلار به هم نه وای، لهذا کله چي د انسان په وجود کي د نيکه او انا دخل سته، نو د انسان په مال کي به د دوی حصه هم وي، او د فقر او احتياج په وخت کي به دوی ته هم نفقه ورکول کيږي، او د دين په اختلاف سره به د نفقې په وجوب کي هيڅ بدلون نه راځي، ځکه چي د الله دا فرمان "وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوْفًا" مطلق دی، او د حضرت سعد ﷺ د کافري مور په واقعه کي نازل سوی دی.

وشرط الفقر إلخ: فرمايي چي د مور وپلار، نيکه او انا په حق کي د نفقې واجبېدلو لپاره د هغو فقر او احتياج ځکه شرط دی، چي له فقر او احتياج څخه بغير پر انسان د هغو نفقه واجب نه ده، ها! که انسان د تبرّع او احسان په توګه هغو ته څه ورکړي، نو دا د هغه خپل احسان او مرانه ده، ځکه کله چي د يو چا خپل مال موجود وي، نو په خپل مال کي نفقه واجبيږي، همدا غوره هم ده چي انسان له خپل ذاتي مال څخه خپل ضروريات پوره کړي، ځکه چي خپل ګټل سوی مال د بل تر مال ډېر غوره دی، نبي ﷺ فرمايلي دي: "كُلْ مِنْ كَدِّ يَمِيْنِكَ وَعِرَقِ جَبِيْنِك" (يعني له هغه څخه مال خوراک کوه، کوم چي دي په خپل لاس او په خپل زحمت او محنت سره ګټلی وي)، نو ځکه د فقر او غربت شرط ولګول سو..

ولا يمنع ذلك: فرمايي چي د دين اختلاف د نفقې د وجوب مانع نه دی، دليل لې څه مخکي تېر سو چي د کافر مور او پلار سره به هم انسان په معروفه طريقه ژوند تېروي.

ديني اختلاف کله د نفقې د وجوب مانع جوړيږي؟

وَلَا تَجِبُ النَّفَقَةُ مَعَ اِخْتِلَافِ الدِّيْنِ إِلَّا لِلزَّوْجَةِ وَالْأَبَوَيْنِ وَالْأَجْدَادِ وَالْجَدَّاتِ وَالْوَلَدِ وَوَلَدِ الْوَلَدِ او د دين د اختلاف په صورت کي [پر انسان] نفقه نه واجبيږي مګر د ښځي او د مور و پلار، نيکه ګانو، انا ګانو، زوی او لمسي لپاره أَمَّا الزَّوْجَةُ فَلِمَا ذَكَرْنَا أَنَّهَا وَاجِبَةٌ لَهَا بِالْعَقْدِ او کوم چي د ښځي [مسئله] ده نو د هغې دليل هغه دی کوم چي موږ ذکر کړی چي د ښځي لپاره د عقد په وجه نفقه واجب ده لِاحْتِبَاسِهَا لِحَقٍّ لَهُ مَقْصُودٍ ځکه چي هغې خپل ځان د خاوند له مقصود حق څخه منع کړی دی وَهٰذَا لَا يَتَعَلَّقُ بِاتِّحَادِ الْمِلَّةِ او دا د ملت [دين] د متحد کېدلو سره هيڅ تعلق نه لري وَأَمَّا غَيْرُهَا فَلِأَنَّ الْجُزْئِيَّةَ ثَابِتَةٌ او کوم چي له ښځي څخه بغير [د مور و پلار، نيکه او داسي نورو کسانو مسئله] ده نو ځکه چي [په هغو کي د انسان] جزئيت ثابت دی وَجُزْءُ الْمَرْءِ فِي مَعْنَى نَفْسِهِ او د انسان جزء د هغه [د خپل] ذات په معنیٰ سره وي فَكَمَا لَا يَمْتَنِعُ نَفَقَةُ نَفْسِهِ لِكُفْرِهِ لَا يَمْتَنِعُ نَفَقَةُ جُزْئِهِ نو څرنګه چي د خپل کفر په وجه انسان پر خپل ځان نفقه نه سي منع کولای همداسي پر خپل جزء [هم] نفقه نه سي منع کولای إِلَّا أَنَّهُمْ إِذَا كَانُوا حَرْبِيِّيْنَ لَا تَجِبُ نَفَقَتُهُمْ عَلَى الْمُسْلِمِ مګر دا چي کله دا کسان حربيان وي نو پر مسلمان د هغو نفقه نه واجبيږي وَإِنْ كَانُوا مُسْتَأْمَنِيْنَ که څه هم هغوی [زموږ په دارالاسلام کي] أمان اخيستی وي لِأَنَّا نُهِيْنَا عَنِ الْبِرِّ فِي حَقِّ مَنْ يُقَاتِلُنَا فِي الدِّيْنِ ځکه چي موږ د هغه خلکو په حق کي له احسان کولو څخه منع سوي يو کوم چي د دين په باره کي زموږ سره جنګ کوي.

اللغات: ﴿مُسْتَأْمِنِيْن﴾ جمع د "مُسْتَأْمِنٌ" ده، د استفعال له باب څخه د اسمِ فاعل صيغه ده: هغه کافر ته وايي چي د مسلمانانو ملک ته پناه راوړي او أمان طلب کړي (هغه کافر چي د مسلمان حاکم له طرفه أمان ورکول سوي وي).

تشريح: مسئله: دا ده چي د ديني اختلاف په صورت کي له ښځي او له مور و پلا، نيکه او انا، او له زوی او لمسي څخه بغير پر انسان بل د هيچا نفقه نه واجبيږي، د ښځي نفقه ځکه د ديني اختلاف باوجود پر انسان واجب ده، چي د ښځي لپاره نفقه د عقد نکاح په وجه واجبيږي، ځکه چي ښځي خپل د خاوند د مقصود حق يعني د وطي او داسي نورو لپاره ځان محبوس کړی دی، او په دې کي د دې خبري هيڅ دخل نسته چي د خاوند او ښځي دين به سره متحد وي، او له ښځي څخه بغير د دغه نورو کسانو نفقه ځکه لازميږي چي له هغو څخه د انسان جزء کېدل ثابت دي، يعني انسان په يوه درجه کي

د دې حضراتو جزء دی. او جزئیت او بعضیت د نفقې په وجوب کې مؤثر دی. ځکه چې د انسان جزء د هغه د ذات په معنیٰ سره وي، او کفر له هغه څخه مانع نه دی، ځکه که انسان په خپله کافر وي، نو د هغه کفر پر خپل نفس (ځان) باندې له خرچ کولو څخه مانع نه دی (یعني که انسان کافر هم وي، نو بیا هم پر خپل نفس نفقه استعمالولای سي). لهذا کله چې د نفس کفر مانع نه دی. نو د جزء او بعض کفر به هم د نفقې مانع نه وي. او په هر صورت کې به د پلار، نیکه او داسې نورو نفقه پر سړي واجب وي، لېکن که دغه کسان حربي کافران وي. یعني پر مسلمانانو یې د جنګ اعلان کړی وي. او مسلمانانو ته ځاني یا مالي نقصان ور رسوي. یا د نقصان رسونکو مرسته او کومک کوي. نو پر انسان د هغو نفقه نه واجبیږي. که څه هم دا کسان أمان واخلي او دار الإسلام ته راسي. ځکه کوم کسان چې زموږ سره د دین په باره کې جنګ او جګړه کوي. موږ له دې څخه منع سوي یو چې د هغو سره احسان وکړو، هغه که هر څوک وي. لکه څرنګه چې الله تعالیٰ په دې آیت کې فرمایلي دي: "لَا يَنْهَاكُمُ اللهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ○ إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ○" [سورة الممتحنة: ۸، ۹]

د دې آیت خلاصه دا ده چې کوم کفار چې د مسلمانانو په دین، ایمان او د هغو پر ښارونو او ملکونو تعرّض او تجاوز نه کوي. نو د هغو سره ښه سلوک او چلند کول د مسلمانانو لپاره صحیح دي. لېکن کوم کفار چې ظلم او جبر کوي. د مسلمانانو د مذهب، دین او مکان په هکله جنګ کوي. او مسلمانان له خپلو ښارونو څخه باسي. یا کوم کسان چې د هغو مرسته او مدد کوي. نو د داسې بدبخته دښمنانو سره دوستي او تعلق قائمول د مسلمانانو لپاره صحیح نه دي. ځکه چې د هغو سره دوستي او تعلق قائمونکو خلکو ته قرآن کریم ظالمان ویلي دي.

د دیني اختلاف په صورت کې د ورور نفقه

وَلَا تَجِبُ عَلَى النَّصْرَانِيِّ نَفَقَةُ أَخِيهِ الْمُسْلِمِ او پر نصراني [عیسائي] باندې د خپل مسلمان ورور نفقه نه واجبیږي وَكَذَا لَا تَجِبُ عَلَى الْمُسْلِمِ نَفَقَةُ أَخِيهِ النَّصْرَانِيِّ او همدارنګه پر مسلمان باندې د خپل نصراني ورور نفقه نه واجبیږي لِأَنَّ النَّفَقَةَ مُتَعَلِّقَةٌ بِالْإِرْثِ بِالنَّصِّ ځکه چې د آیت په وجه نفقه د میراث سره متعلق ده بِخِلَافِ الْعِتْقِ عِنْدَ الْمِلْكِ په خلاف د ملکیت په وخت کې د آزادېدلو لِأَنَّهُ مُتَعَلِّقٌ بِالْقَرَابَةِ وَالْمَحْرَمِيَّةِ بِالْحَدِيثِ ځکه چې د حدیث پر بناء هغه [آزادي] د قرابت او محرمیت سره

متعلق ده وَلِأَنَّ الْقَرَابَةَ مُوجِبَةٌ لِلصِّلَةِ او ځکه چي قرابت صله رحمي واجبوي وَمَعَ الِاتِّفَاقِ فِي الدِّينِ آكَدُ او په دين کي د اتفاق سره [يعني د دين د متحد کېدلو په صورت کي] صله رحمه زياته مضبوطه وي وَدَوَامُ مِلْكِ الْيَمِينِ أَعْلَى فِي الْقَطِيعَةِ مِنْ حِرْمَانِ النَّفَقَةِ او [پر خپل قريب] د ملک يمين پاتېدل اد صله رحمي] په قطع کولو کي زيات [مؤثر] دي د نفقي له محرمه کولو څخه فَاعْتَبَرْنَا فِي الْأَعْلَى أَصْلَ الْعِلَّةِ وَفِي الْأَدْنَى الْعِلَّةَ الْمُؤَكَّدَةَ نو موږ په اعلیٰ [زيات مؤثر] شي کي د أصل علت اعتبار وکړی او په ادنیٰ شي کي مو د علت مؤکده اعتبار وکړي فَلِهَذَا افْتَرَقَا نو په دې وجه دواړه سره جلا سول [يعني په همدې وجهي سره په آزادۍ او نفقه کي فرق راغلی].

اللغات: ﴿صِلَةٌ﴾ صله رحمي، (د قريب سره) ښه سلوک کول، عطيه، ﴿آكَدُ﴾ د اسمِ تفضيل صيغه ده: ډېر مضبوط، زيات مؤکّد.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي نه پر نصراني د خپل مسلمان ورور نفقه واجب ده، او نه پر مسلمان د خپل نصراني ورور نفقه واجب ده؛ دليل دا دی چي په دې آيت "وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ" کي نفقه د ميراث سره متعلق سوې ده او دې طرف ته اشاره سوې ده چي په کومو دوو کسانو کي چي ميراث جاري کيږي، فقط د هغه دوو کسانو نفقه يو پر بل واجبدای سي، او څرنګه چي په مسلمان او ذمي ورور کي ميراث نه جاري کيږي، نو ځکه به ديوه نفقه پر بل نه واجبيږي، د دې په خلاف که يو مسلمان سړی خپل نصراني ورور رانيسي، نو هغه پر مسلمان ورور آزاديږي، ځکه چي د حديث په حکم سره د آزادۍ تعلق د قرابت او محرميت سره دی، حديث دا دی: "مَنْ مَلَكَ ذَا رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ عُتِقَ عَلَيْهِ" (يعني کوم کس چي د خپل ذی رحمِ محرم قريب مالک سي، نو هغه قريب پر ده آزاديږي).

په دې هکله دويم دليل دا دی چي قرابت صله رحمي کول (او پر قريب احسان کول) واجبوي، خصوصاً په هغه وخت کله چي دوه ډېر نژدې قريبان سره جمع سره او دواړه په دين او مذهب کي سره متحد وي، نو په دې صورت کي صله رحمي او احسان کول نور هم مؤکد ګرځي، او دا خبره تسليم سوې ده چي يو نژدې قريب د غلام په حيثيت په خپل ملکيت کي ساتل هغه ته تر نفقې نه ورکولو زيات بد او نقصان مند دي، او په دې سره د نفقې نه ورکولو په نسبت زياته صله رحمه قطع کيږي. نو ځکه موږ په اعلیٰ؛ يعني د قريب په مملوک (او غلام) ساتلو کي د اصل علت اعتبار وکړی، يعني محض د دې اعتبار مو وکړي چي که يو سړی د خپل قريب مالک وګرځي، نو مملوک (قريب) به پر

هغه آزادیږي، هغه که په دین کي دواړه سره متحد وي، یا مخالف وي، او په ادنیٰ یعني د نفقې په سلسله کي مو د علت مؤکده یعني د اِتِّحَاد فِي المَذْهَب اعتبار هم وکړی، یعني نفقه به فقط په هغه وخت کي واجبیږي، کله چي دواړه سره قریبان هم وي او په دین او مذهب کي سره متحد هم وي.

لهذا څرنګه چي په نفقه نه ورکولو کي صله رحمي قطع کول کم او ادنیٰ دي په نسبت د دي ته چي خپل قریب مملوک (او غلام) وساتل سي، نو په همدغه وجه په آزادی او نفقه واجبېدلو کي فرق راغلی.

د مور و پلار نفقه

وَلَا يُشَارِكُ الْوَلَدَ فِي نَفَقَةِ أَبَوَيْهِ أَحَدٌ او د مور و پلار په نفقه کي به د زوی سره هیڅوک نه شریک کیږي لِأَنَّ لَهُمَا تَأْوِيلًا فِي مَالِ الْوَلَدِ بِالنَّصِّ ځکه چي د مور و پلار لپاره د حدیث پر بناء د خپل بچي په مال کي یو تأویل سته وَلَا تَأْوِيلَ لَهُمَا فِي مَالِ غَيْرِهِ او اله بچي څخه بغیر ا د بل چا په مال کي د هغو لپاره هیڅ تأویل نسته وَلِأَنَّهُ أَقْرَبُ النَّاسِ إِلَيْهِمَا او ځکه چي بچی مور و پلار ته تر ټولو خلګو نژدې قریب دی فَكَانَ أَوْلَى بِاسْتِحْقَاقِ نَفَقَتِهِمَا عَلَيْهِ نو ځکه به پر بچي د مور و پلار د نفقې استحقاق زیات وي وَهِيَ عَلَى الذُّكُورِ وَالْإِنَاثِ بِالسَّوِيَّةِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او په ظاهر روایت کي اد مور و پلار د نفقې ا استحقاق پر نارینه ؤ او ښځینه ؤ برابر دی وَهُوَ الصَّحِيحُ همدا صحیح دي لِأَنَّ الْمَعْنَى يَشْمَلُهُمَا ځکه چي اد نفقې ا سبب دې دواړو ته ابرابر ا شاملیږي.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی چي کله زوی یا لور مالداره وي، او پلار و مور غریبان وي، نو له زوی او لور څخه بغیر پر بل هیڅ قریب د دوی نفقه نه واجبیږي، فقط پر زوی او لور واجبیږي: دلیل دا دی چي په حدیث کي ذکر سوي دي: "أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيكَ" (ابن ماجه شریف، حدیث شمیره: ۲۲۹۲). یعني د بچي مال د مور و پلار مال دی، لهذا د حدیث تأویل دا سو چي کله بچی مالدار وي، نو د هغه په وجه به مور و پلار هم مالدار شمارل کیږي، لېکن د بل قریب په حق کي دا تأویل نسته چي د هغه مال به د دوی (مور و پلار) مال وي، نو ځکه به د دوی نفقه فقط د بچي په مال کي واجب وي، او دویم دلیل دا دی چي نفقه د قرابت په وجه واجبیږي، او تر ټولو نژدې قریب بچی دی، د هغه سره هیڅ قریب مساوي نه دی، نو ځکه به فقط پر هغه نفقه واجب وي، ها! که د بچي سره مال نه وي، نو بیا به پر بل قریب واجب وي.

وهي على الذكور إلخ: فرمايي چي د ظاهر روايت مطابق د مور و پلار په نفقه کي زوی او لور دواړه سره برابر دي، ځکه چي پر بچي د نفقې د وجوب سبب ولادت او قرابت دی، او په دې حکم کي دواړه برابر دي، نو که د غريب سړي يو زوی او يوه لور وي، او دواړه مالداران وي، نو پر هر يوه د پلار نيمه نفقه واجبيږي، او داسي نه ده چي پر لور يوه حصه واجب سي او پر زوی دوې حصې واجب سي. همدا صحيح دي، د "هُوَ الصَّحِيْحُ" په ويلو سره مصنف رَحِمَهُ الله د شمس الائمه سرخسي له قول څخه احتراز وکړی، ځکه هغه نفقه پر ميراث قياسوي، يعني څرنګه چي د دې آيت "لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ" مطابق په زوی او لور کي ميراث تقسيميږي، همداسي به د دې مطابق نفقه هم پر هغو واجبيږي، يعني پر زوی به پلار ته د نفقې دوې حصې ورکول واجب وي، او پر لور به يوه حصه ورکول واجب وي، لېکن صحيح او غوره ظاهر روايت دی.

د ذی رحم محرم (نژدې قريب) نفقه کله واجبيږي؟

وَالنَّفَقَةُ لِكُلِّ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ او نفقه د هر ذی حرم محرم لپاره [وجب] ده إِذَا كَانَ صَغِيرًا فَقِيرًا أَوْ كَانَتْ امْرَأَةً بَالِغَةً فَقِيرَةً أَوْ كَانَ ذَكَرًا بَالِغًا فَقِيرًا زَمِنًا أَوْ أَعْمَى [په دې شرط] کله چي ذی رحم محرم کس کوچنی [نابالغ] محتاج وي، يا [هغه] ښځه بالغه [او] محتاجه وي، يا [هغه] داسي بالغ محتاج وي چي شل وشوټ يا ړوند وي لِأَنَّ الصِّلَةَ فِي الْقَرَابَةِ الْقَرِيبَةِ وَاجِبَةٌ دُونَ الْبَعِيدَةِ ځکه چي صله رحمي په قرابت قريبه کي واجب ده، نه په قرابت بعيده کي وَالْفَاصِلُ أَنْ يَكُونَ ذَا رَحِمٍ مَحْرَمٍ او فاصل دا دی چي هغه ذی رحم محرم وي وَقَدْ قَالَ اللهُ تَعَالَى: وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ [البقرة: ۲۳۳] الله تعالیٰ فرمايلي دي: او پر وارث د دې په مثل [واجب] دي وَفِي قِرَاءَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ: وَعَلَى الْوَارِثِ ذِي الرَّحِمِ الْمَحْرَمِ مِثْلُ ذَلِكَ او د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په قرائت کي دي: او پر ذی رحم محرم وارث د دې په مثل [واجب] دي ثُمَّ لَا بُدَّ مِنَ الْحَاجَةِ بيا حاجت [محتاج کېدل] ضروري دي وَالصِّغَرُ وَالْأُنُوثَةُ وَالزَّمَانَةُ وَالْعَمَى أَمَارَةُ الْحَاجَةِ او نابالغ کېدل، ښځه کېدل، شلېدل او ړندېدل د حاجت نښې [علامې] دي لِتَحَقُّقِ الْعَجْزِ ځکه چي [په دې امورو کي] عجز [او د قدرت نشتوالی] متحقق دی فَإِنَّ الْقَادِرَ عَلَى الْكَسْبِ غَنِيٌّ بِكَسْبِهِ ځکه چي پر ګټلو [او کار کولو] باندي قدر تلرونکی کس د خپلي ګټي په سبب مالدار وي بِخِلَافِ الْأَبَوَيْنِ په خلاف د مور و پلار لِأَنَّهُ يَلْحَقُهُمَا تَعَبُ الْكَسْبِ ځکه چي دوی ته په

[مال] ګټلو [او کار کولو] سره ستړيا [او ضرر] لاحقيږي وَالْوَلَدُ مَأْمُورٌ بِدَفْعِ الضَّرَرِ عَنْهُمَا او بچي ته له مور وپلار څخه د ضرر ليري کولو حکم سوی دی فَتَجِبُ نَفَقَتُهُمَا مَعَ قُدْرَتِهِمَا عَلَى الْكَسْبِ نو [ځکه] به د مال پر ګټلو باندي د دوی د قدرت لرلو باوجود [پر بچي] د دوی نفقه واجبيږي.

اللغات: ﴿ذِيْ رَحْمٍ مَحْرَمٍ﴾ د حرام قرابت خاوند، هغه قريب ته وايي چي د هغه سره د همېشه لپاره نکاح حرامه وي (نژدې قريب)، ﴿زَمِن﴾ شل وشوټ، هغه کس چي لاسونه او پښې يې کار نه کوي، ﴿زَمَانَة﴾ د سمع مصدر دی: شل کېدل (شلېدل)، ﴿أَمَارَة﴾ نښه، علامه، جمع: أَمَارات، ﴿تَعَب﴾ د عين په فتحه سره: مشقت، زحمت، تکليف، ستړيا، ضرر:

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي پر مالدار انسان هغه وخت د خپل ذی رحم محرم قريب نفقه واجبيږي، کله چي هغه (ذی رحم محرم قريب) نابالغ کوچنی غريب او محتاج وي، يا هغه يوه محتاجه نابالغه يا بالغه ښځه وي، همدارنګه که ذی رحم محرم بالغ وي، نو په هغه وخت کي د نفقې مستحق دی، کله چي هغه شل و شوټ يا ړوند وي او پر کسب او کار قدرت نه لري، نو کله چي په ذی رحم محرم سړي او ښځه کي دا شرطونه موجود سي، نو هغوی به د نفقې مستحق وي: او پر مالدار سړي به د هغو نفقه واجب وي، ځکه چي په قرابت قريبه (نژدې قرابت) کي صله رحمي کول واجب دي، نه په قرابت بعيده کي، لکه څرنګه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: "وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ"، او د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په قرائت کي داسي ذکر سوي دي: "وَعَلَى الْوَارِثِ ذِي الرَّحِمِ الْمَحْرَمِ مِثْلُ ذٰلِكَ"، يعني د هر ذی رحم محرم وارث لپاره د ښځي او بچيانو د نفقې په څېر نفقه واجب ده، نو له همدې وجهي موږ وايو چي که په ذی رحم محرم قريب کي غربت او داسي نور شرطونه پيدا سي، نو هغه به د نفقې مستحق وي.

والفاصل إلخ: فرمايي چي په قرابت قريبه او بعيده کي "ذی رحم محرم کېدل" فاصل دي. يعني کوم خلک چي ذی رحم محرم وي، هغوی په قرابت بعيده کي داخل دي، او کوم چي ذی رحم محرم نه وي (يعني نکاح ور سره حرامه نه وي)، هغوی په قرابت بعيده کي داخل دي.

ثم لا بد إلخ: د دې حاصل دا دی چي ذی رحم محرم قريب هغه وخت د نفقې مستحق ګرځي، کله چي هغه محتاج او ضرورت مند وي، او نابالغ کېدل، يا ښځه کېدل، يا شلېدل (او فلجېدل) او ړندېدل دا ټوله د احتياج او ضرورت مندی علامې (نښې) دي، ځکه چي په دې ټولو صورتونو کي "عَجْز عَنِ الْكَسْب" ثابت دی، او کله چي "عجز عن الکسب" ثابت دی، نو ښکاره ده چي احتياج او

ضرورت هم ثابت دی، ځکه چې احتیاج او ضرورت په هغه کس کې نه وي، کوم چې ګټه او کار کولای سي، او د خپلې ګټې په وجه د نورو خلکو له مرستې او کومک څخه مستغني وي.

خو په ذی رحم محرم قریبانو کې فقط مور وپلار داسې دي چې د "قُدْرَةٌ عَلَى الْكَسْبِ" باوجود پر انسان د هغو نفقه واجب ده، ځکه کسب او ګټه هغه وخت کیږي کله چې محنت او زیار ویستل سي، او سپین ږيري پلار او ضعیفه مور که محنت او زیار وباسي، نو هغو ته به ضرر او تکلیف ورسیږي، حالانکې انسان ته له خپل مور وپلار څخه د ضرر لیرې کولو حکم سوی دی. لهذا که څه هم مور وپلار پر کسب او ګټې قادر وي، نو بیا هم پر اولاد د هغو نفقه واجب ده.

د ذی رحم محرم قریب د نفقې مقدار

قَالَ: وَيَجِبُ ذٰلِكَ عَلٰى مِقْدَارِ الْمِيْرَاثِ فرمايي: چې [د محارمو] نفقه د میراث د مقدار مطابق واجبیږي وَيُجْبَرُ عَلَيْهِ او انسان به [د هغو] پر نفقه مجبوره کیږي لِأَنَّ التَّنْصِيصَ عَلَى الْوَارِثِ تَنْبِيهٌ عَلٰى اعْتِبَارِ الْمِقْدَارِ ځکه چې [په آیت کې] د وارث تصریح کول تنبیه ده [د میراث] د مقدار پر معتبر کېدلو وَلِأَنَّ الْغُرْمَ بِالْغُنْمِ او ځکه چې تاوان د نفع په اندازه لازمیږي وَالْجَبْرُ لِإِيفَاءِ حَقٍّ مُسْتَحَقٍّ او مجبوره کول د واجب حق پوره کولو لپاره دي ایعني هغه به ځکه د محارمو پر نفقه مجبوره کول کیږي چې واجب حق اداء کړي].

اللغات: ﴿تَنْصِيص﴾ د تفعیل مصدر دی: صراحت کول (څرګندول)، په ښکاره توګه په لفظو کې ذکر کول. ﴿الْغُرْمَ بِالْغُنْمِ﴾ دا یو محاوره ده، د "غُرْم" معنیٰ ده: تاوان، او د "غُنْم" معنیٰ ده: د غنیمت مال او نفع، د دې محاورې مطلب دا دی چې څومره غنیمت او نفع د انسان په حصه کې راځي، د هغه په اندازه به تاوان هم برداشت کوي، یعني په میراث کې چې څومره مال هغه ته حاصلیږي، په هغه حساب سره به نفقه هم اداء کوي.

تشریح: مسئله: دا ده چې ذی رحم محرم قریب ته به د هغه مقدار مطابق نفقه ورکول کیږي، په کوم مقدار سره چې هغه ته میراث ورکول کیږي (مثلاً که دوه مالداره وروڼه وي، او دوی یو ذی رحم محرم محتاج قریب لري، نو پر هر ورور د هغه نیمه نفقه واجبیږي)؛ دلیل دا آیت دی: وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ، په دې آیت کې د "الْوَارِث" په لفظ سره و دې ته اشاره سوې ده چې نفقه به د میراث د مقدار مطابق ورکول کیږي، او ځکه چې تاوان په هغه حساب سره واجبیږي، د کوم حساب مطابق چې هغه نفع اخلي، یعني په میراث کې چې څومره مال او نفع هغه ته حاصلیږي، د هغه حساب او مقدار مطابق به تاوان هم پورته کوي، او د هغه مقدار مطابق به نفقه او خرچه پر واجب وي، او هغه به د نفقې پر ورکولو مجبوره کیږي، ځکه چې دا د قرابت حق دی.

د بالغي نجلۍ او د شل اوشوټ هلک نفقه

قَالَ: وَتَجِبُ نَفَقَةُ الِابْنَةِ الْبَالِغَةِ وَالِابْنِ الزَّمِنِ عَلَى أَبَوَيْهِ أَثْلَاثًا فرمايي: چي د بالغي نجلۍ او د شل هلک نفقه پر مور و پلار په دريو حصو سره واجب ده عَلَى الْأَبِ الثُّلُثَانِ وَعَلَى الْأُمِّ الثُّلُثُ دوې دريمي حصې پر پلار [واجب] دي او يوه دريمه حصه پر مور [واجب] ده لِأَنَّ الْمِيرَاثَ لَهُمَا عَلَى هٰذَا الْمِقْدَارِ ځکه چي د دوی لپاره ميراث هم پر دغه مقدار دی [يعني که مور و پلار د خپل بچي يا لور وارثان وګرځي، نو د دغه مقدار مطابق ميراث ورته حاصليږي] قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: هٰذَا الَّذِي ذَكَرَهُ رِوَايَةُ الْخَصَّافِ وَالْحَسَنِ ناتوانه بنده وايي: دا کوم [حکم] چي امام قدوري رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی [دا] د امام خصاف او حسن بن زياد روايت دی وَفِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ: كُلُّ النَّفَقَةِ عَلَى الْأَبِ او په ظاهر روايت کي دي: چي ټوله نفقه پر پلار [واجب] ده لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ [البقرة: ۲۳۳] ځکه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: او پر پلار د بچي د مندو خوراک او جامې واجب دي وَصَارَ كَالْوَلَدِ الصَّغِيرِ او هغه [شل هلک] د کوچني [نابالغ] بچي په څير سو وَوَجْهُ الْفَرْقِ عَلَى الرِّوَايَةِ الْأُولَى: أَنَّهُ اجْتَمَعَتْ لِلْأَبِ فِي الصَّغِيرِ وِلَايَةٌ وَمَئُونَةٌ او پر اول روايت د فرق وجه دا ده: چي د پلار لپاره صغير کي ولايت او مؤنت دواړه جمع دي حَتَّى وَجَبَتْ عَلَيْهِ صَدَقَةُ فِطْرِهِ تر دې چي پر پلار د صغير صدقة الفطر [هم] واجب ده فَاخْتَصَّ بِنَفَقَتِهِ نو پلار به د صغير د نفقې سره مختص [هم] وي وَلَا كَذٰلِكَ الْكَبِيرُ او بالغ بچی داسي نه دی لِانْعِدَامِ الْوِلَايَةِ فِيهِ ځکه چي د هغه په حق کي [د پلار] ولايت معدوم دی فَتُشَارِكُهُ الْأُمُّ نو [ځکه] به مور [هم] د هغه سره شريکه کيږي وَفِي غَيْرِ الْوَالِدِ يُعْتَبَرُ قَدْرُ الْمِيرَاثِ. او له پلار څخه بغير [په بل قريب] کي د ميراث د مقدار اعتبار کيږي حَتَّى تَكُونَ نَفَقَةُ الصَّغِيرِ عَلَى الْأُمِّ وَالْجَدِّ أَثْلَاثًا تر دې چي د صغير نفقه به پر مور او نيکه د دريو حصو په حساب سره [واجب] وي وَنَفَقَةُ الْأَخِ الْمُعْسِرِ عَلَى الْأَخَوَاتِ الْمُتَفَرِّقَاتِ الْمُوسِرَاتِ أَخْمَاسًا عَلَى قَدْرِ الْمِيرَاثِ او د غريب [محتاج] ورور نفقه به پر متفرقو خوندو د پنځو حصو په حساب سره د ميراث په اندازه [واجب] وي غَيْرَ أَنَّ الْمُعْتَبَرَ أَهْلِيَّةُ الْإِرْثِ فِي الْجُمْلَةِ لَا إِحْرَازُهُ خو په [دې] ټولو کي د ميراث أهل کېدل معتبر دي نه د ميراث حاصلول فَإِنَّ الْمُعْسِرَ إِذَا كَانَ لَهُ خَالٌ وَابْنُ عَمٍّ نو که د يو غريب سړي ماما هم [مالدار] وي او د اکا زوی هم [مالدار] وي تَكُونُ

نَفَقَتُهُ عَلَى خَالِهِ نو د هغه نفقه به د هغه پر ماما [واجب] وي وَمِيرَاثُهُ يُحْرِزُهُ ابْنُ عَمِّهِ حالانکي د هغه میراث د هغه اکا حاصلوي.

اللغات: ﴿زَمِن﴾ شل وشوټ، هغه کس چي لاسونه او پښې يې کار نه کوي. ﴿مُؤْنَة﴾ خرچ، مشقت. ﴿مُعْسِر﴾ د افعال اسمِ فاعل دی تنګلاسی کس، غريب، محتاج. ﴿إِحْرَاز﴾ د افعال مصدر دی: ذخيره کول، جمع کول (حاصلول، تر لاسه کول). ﴿خَال﴾ ماما. ﴿ابنُ عَمّ﴾ د اکا زوی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د بالغي نجلۍ نفقه او د بالغ شل (او فلج) هلک نفقه به د هغو پر پلار ومور درې حصې واجب وي چي په هغه کي به دوې حصې پر پلار واجب وي او يوه حصه به پر مور واجب وي؛ دليل دا دی چي که پلار ومور د خپل هلک يا نجلۍ وارثان وګرځي نو هغو ته به هم په دغه حساب سره ميراث حاصليږي، لهذا نفقه به هم د دې مقدار مطابق واجب وي (لِأَنَّ الغُرْمَ بِالْغُنْم)، دا د قدوري د متن حاصل دی، او د امام خصاف او حسن بن زياد روايت دی. او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دی.

او ظاهر روايت دا دی چي ټوله نفقه به پر پلار واجب وي، د ظاهر روايت دليل دا دی چي په دې آيت "وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ" کي د بچي نسبت و پلار ته سوی دی د "لام" په واسطه سره. او "لام" پر اختصاص دلالت کوي. نو ثابته سوه چي د دې نسبت سره فقط پلار خاص دی او نفقه پر همدغه نسبت موقوفه ده. نو ځکه به ټوله نفقه پر پلار واجب وي. او شل (او فلج) هلک د کوچني (صغير) په څير سو. يعني څرنګه چي د صغير ټوله نفقه پر پلار واجبيږي، همداسي به د دې هلک نفقه هم فقط پر پلار واجب وي.

او د امام خصاف رَحِمَهُ الله د روايت مطابق په صغير او کبير کي د فرق وجه دا ده چي د صغير (نابالغه بچي) په حق کي د پلار ولايت او مؤنت دواړه جمع دي، حتی چي پر پلار د نابالغ بچي له طرفه صدقة الفطر ورکول هم واجب دي. نو په دې وجه به د صغير نفقه فقط پر پلار واجب وي. او د بالغ بچي حال داسي نه دی، ځکه چي پر هغه د پلار ولايت نسته. نو د هغه په نفقه کي به د هغه مور هم د پلار سره شريکه کيږي. او له پلار څخه بغير په بل نژدې قريب کي بالاتفاق د ميراث اعتبار کيږي. مثلاً که د يو کوچني پلار نه وي، بلکي مور او نيکه يې وي. نو د هغه نفقه پر مور او نيکه درې حصې کيږي، دوې حصې به پر نيکه او يوه حصه به پر مور واجب وي.

او که د یو چا وړوڼ غریب او محتاج وي، او هغه درې مالداره خوندې لري، یوه یې حقیقي خور وي، او یوه یې علاتي (میرزۍ) خور وي، او یوه یې أخیافي (مورنۍ) خور وي، نو پر هغو به د غریب وروڼ نفقه د میراث په مقدار پنځه حصې واجبیږي، یعني درې حصې به پر حقیقي خور واجب وي، او یوه حصه به پر علاتي خور او یوه حصه به پر أخیافي خور واجب وي.

ها! دا خبره یاد ساتئ! چې له پلار څخه بغیر په نورو نژدې قریبانو کې د میراث حاصلولو "لائق کېدل" کافي دي (یعني پر خپل نوبت به هغه ته میراث حاصلېدای سي، که څه هم حالاً [اوس] هغه له میراث څخه محرومیږي). مثلاً که د یو محتاج سړي ماما هم مالدار وي، او د اکا زوی یې هم مالدار وي، نو د هغه نفقه به پر ماما واجب وي، لیکن ماما ته به په دې صورت کې میراث نه حاصلیږي، ځکه کله چې د اکا زوی موجود وي، نو ماما له میراث څخه محروم ګرځي.

د دیني اختلاف په صورت کې د ذي رحم محرم قریب نفقه

وَلَا تَجِبُ نَفَقَتُهُمْ مَعَ اخْتِلَافِ الدِّيْنِ او د ذوي رحم محارمو نفقه د دین د اختلاف سره نه واجبیږي لِبُطْلَانِ أَهْلِيَّةِ الْإِرْثِ ځکه چې [د دیني اختلاف په صورت کې] د وارث کېدلو أهلیت باطل دی وَلَا بُدَّ مِنْ اعْتِبَارِهٖ حالانکي [د وارث کېدلو] اعتبار ضروري دی.

تشریح : مسئله : دا ده چې که یو محتاج ذي رحم محرم قریب د مالدار قریب سره په دین کې متحد نه وي (مثلاً مالدار قریب مسلمان وي، او هغه عیسائي وي)، نو په دې صورت کې پر مالدار قریب د هغه نفقه نه واجبیږي، ځکه چې د دیني اختلاف په صورت کې یو قریب د بل قریب نه وارث کیږي (یعني د کافر او مسلمان قریب په مینځ کې وراثت نه جاري کیږي)، حالانکي د نفقې واجبېدلو لپاره د دې اعتبار کول ضروري دي.

پر غریب (محتاج) سړي باندې د خپلې ښځې او بچیانو نفقه

وَلَا تَجِبُ عَلَى الْفَقِيْرِ او پر غریب [محتاج] سړي نفقه نه واجبیږي لِأَنَّهَا تَجِبُ صِلَةً ځکه چې نفقه د صله رحمی په توګه واجبیږي وَهُوَ يَسْتَحِقُّهَا عَلٰى غَيْرِهٖ او محتاج سړی پر بل چا [بل قریب] د صله رحمی حق لري فَكَيْفَ تَسْتَحِقُّ عَلَيْهِ لهذا پر هغه به څرنګه نفقه واجب سي بِخِلَافِ نَفَقَةِ الزَّوْجَةِ وَوَلَدِهِ الصَّغِيْرِ په خلاف د ښځې او د کوچني بچي د نفقې لِأَنَّهُ الْتَزَمَهَا بِالْإِقْدَامِ عَلَى الْعَقْدِ ځکه چې هغه په عقد [او نکاح] کولو سره پر خپل ځان نفقه لازم کړه إِذِ الْمَصَالِحُ لَا تَنْتَظِمُ دُوْنَهَا ځکه چې له نفقې څخه بغیر د مصالحو [او ضروریاتو] انتظام کېدلای نه سي وَلَا يَعْمَلُ فِيْ مِثْلِهَا الْإِعْسَارُ او په

داسي حالت کي د غربت [او احتیاج] هیڅ دخل نسته ثُمَّ الْيَسَارُ مُقَدَّرٌ بِالنِّصَابِ فِيمَا رُوِيَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ بیا مالداري په ملکِ نصاب سره اندازه سوی ده په هغه [قول] کي کوم چي له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی وَعَنْ مُحَمَّدٍ: أَنَّهُ قَدَّرَهُ بِمَا يَفْضُلُ عَلَى نَفَقَةِ نَفْسِهِ وَعِيَالِهِ شَهْرًا او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روایت دی: چي هغه په دومره مال سره مالداري اندازه کړې ده چي هغه [مال] د سړي او د هغه د عیال د یوې میاشتي له نفقې څخه زیات سي أَوْ بِمَا يَفْضُلُ عَلَى ذٰلِكَ مِنْ كَسْبِهِ الدَّائِمِ كُلَّ يَوْمٍ یا کوم [مال] چي د انسان له دائمي ګټي څخه هره ورځ پر دې مقدار [یعني د هغه او د عیال له نفقې څخه] زیات سي لِأَنَّ الْمُعْتَبَرَ فِي حُقُوقِ الْعِبَادِ إِنَّمَا هُوَ الْقُدْرَةُ دُونَ النِّصَابِ ځکه چي د بندګانو په حقوقو کي د قدرت اعتبار سوی دی، نه د نصاب فَإِنَّهُ لِلتَّيْسِيرِ ځکه چي نصاب خو د آسانۍ لپاره وي وَالْفَتْوَى عَلَى الْأَوَّلِ او فتویٰ پر اول [قول] ده لٰكِنَّ النِّصَابَ نِصَابُ حِرْمَانِ الصَّدَقَةِ لیکن له نصاب څخه د زکاة حرامېدلو نصاب مراد دی. [یعني چي د انسان سره دومره مال وي چي د هغه لپاره زکاة اخیستل حرام وي].

اللغات: ﴿صِلَة﴾ صِله رحمي، ښه سلوک، بیله عوضه (مفت) ورکول. ﴿اِلْتَزَمَ﴾ د افتعال ماضي ده: پر ځان لازمول. په غاړه اخیستل. ﴿لَا تَنْتَظِمُ﴾ د افتعال نفي صیغه ده: انتظام کېدل. برابر کېدل. سمېدل. ﴿يَسَار﴾ مالداري، شتمني، خوشحالي. ﴿تَيْسِير﴾ د تفعیل مصدر: آسانه کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي کوم سړی په خپله محتاج او ضرورت مند وي. پر هغه له ښځي او بچیانو څخه بغیر بل د هیچا نفقه نه واجبیږي. دلیل دا دی چي نفقه د احسان او صله رحمۍ لپاره واجبیږي. حالانکي محتاج سړی خپله د دې مستحق دی چي بل څوک پر هغه احسان او نفقه وکړي. نو پر هغه به څرنګه احسان او نفقه واجب سي. لیکن پر محتاج سړي د خپلي ښځي او نابالغه بچیانو نفقه واجب ده. ځکه چي هغه په نکاح (او واده) کولو سره نفقه پر خپل ځان لازم کړه. او ښکاره خبره ده چي له نفقې څخه بغیر دنیاوي ضروریات حاصلېدای نه سي. نو ځکه به پر خاوند د خپلي ښځي نفقه واجب وي. هغه که خاوند مالدار وي او که محتاج او غریب وي. لنډه دا چي د خاوند په حق کي احتیاج او غربت د نفقې له وجوب څخه مانع نه دی. او نابالغه أولاد هم د ښځي قائم مقام دي. لکه څرنګه چي په دې حدیث کي و دغه طرف ته اشاره سوې ده "خُذِيْ (مِنْ مَالِ أَبِيْ سُفْيَانَ) مَا يَكْفِيْكِ وَوَلَدَكِ". د حدیث ترجمه او تشریح مخکي ذکر سوه.

ثم اليسار إلخ: صاحب د هدايې فرمايي چې دلته له يَسار او مالدارۍ څخه مراد د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د روايت مطابق دا دی چې سړی د نصاب مالک وي (يعني دومره مال ور سره وي چې که ټوله کال له هغه څخه خپله نفقه او ضروريات پوره کړي، نو هم دومره مال ځنې پاتېږي چې پر هغه زکاة اخيستل حرام وي، او هغه دوه سوه درهمه کيږي. أثمار الهداية)، او له امام محمد رَحِمَهُ الله روايت دا دی چې د مالدارۍ (يَسار) اندازه ده چې د سړي سره دومره مال وي چې هغه د ده او د ده د ميرمنې (ښځې) د مياشتې له نفقې څخه زيات وي، يعني که د سړي سره دومره مال وي، نو پر هغه د ذي رحم محرم قريب نفقه واجبيږي، کنې نه واجبيږي، او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دويم روايت دا دی چې که د سړي د هرې ورځې له ګټې څخه دومره مال پاتيږي کوم چې د ده او بچيانو تر نفقې او ضرورياتو زياتيږي، نو هغه مالدار دی، او پر هغه د ذي رحم محرم قريب نفقه واجب ده. کنې واجب نه ده. ليکن صاحب د هدايې فرمايي چې دلته د يَسار په هکله اول قول معتبر دی (چې دومره مال به ور سره وي چې د ټوله کال له نفقې او ضرورياتو څخه وروسته هم دوه سوه درهمه پاته سي او هغه ته زکاة اخيستل حرام سي، د نفقې د وجوب لپاره همدومره مال کافي دی)، او پر همدغه قول فتویٰ هم ده.

لكن النصاب إلخ: فرمايي چې له نصاب څخه هغه نصاب مراد دی چې په هغه سره زکاة اخيستل حرام سي. يعني د چا سره چې دوه سوه درهمه مال وي، او د هغه له اصلي حاجت څخه زيات وي، نو پر هغه واجب دي چې خپل محتاج ذي رحم محرم ته نفقه ورکړي.

نصاب حرمان الصدقة: دې ته وايي چې که د سړي سره دومره مال وي چې که ټوله کال خپله نفقه او ضروريات ځنې پوره کړي، نو هم دومره مال ځنې پاتيږي چې پر هغه زکاة اخيستل حرام وي، همدې ته "نصاب حرمان الصدقة" وايي، او که پر دې نصاب کال تېر سي، نو پر هغه زکاة واجبيږي. او دې ته "نصاب الزكاة" وايي. (أثمار الهداية)

د غائب بچي له مال څخه مور وپلار ته نفقه ورکول

وَإِذَا كَانَ لِلِابْنِ الْغَائِبِ مَالٌ او کله چې د غائب زوی لپاره مال وي (يعني که زوی يو خوا ته ولاړ سي. غائب سي. او په کور کې مال پرېږدي، او پلار ومور يې غريبان وي) قُضِيَ فِيهِ بِنَفَقَةِ أَبَوَيْهِ نو په دې مال کې به د هغه د مور و پلار د نفقې فيصله کيږي (يعني قاضي به په دې مال کې د غائب زوی د مور و پلار لپاره نفقه مقرره کوي) وَقَدْ بَيَّنَّا الْوَجْهَ فِيهِ او د دې دليل موږ (مخکې) بيان کړی دی.

اللغات:

تشريح صورت د مسئلې او دليل دواړه واضح دي.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَإِذَا بَاعَ أَبُوهُ مَتَاعَهُ فِي نَفَقَتِهِ او كله چې پلار د خپل غائب زوی سامان په خپله نفقه كې خرڅ كړي جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز جائز دي وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَإِنْ بَاعَ الْعَقَارَ او كه پلار [د غائب زوی] جايداد خرڅ كړي لَمْ يَجُزْ نو جائز نه دي وَفِي قَوْلِهِمَا: لَا يَجُوزُ فِي ذٰلِكَ كُلِّهِ او د صاحبينو په قول كې په دې ټولو كې [خرڅول] جائز نه دي وَهُوَ الْقِيَاسُ او همدا قياس دی لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُ ځكه [پر غائب زوی] د پلار ولايت نسته لِانْقِطَاعِهَا بِالْبُلُوغِ ځكه چې [د زوی] د بالغ كېدلو په وجه [د پلار] ولايت ختم سوی دی وَلِهٰذَا لَا يَمْلِكُ فِي حَالِ حَضْرَتِهِ او له همدې كبله پلار د زوی د حضور په حالت كې [د زوی د مال خرڅولو] ملكيت [او اختيار] نه لري وَلَا يَمْلِكُ الْبَيْعَ فِي دَيْنٍ لَهُ سِوَى النَّفَقَةِ او له نفقې څخه بغير بې [بل] په هيڅ قرض كې خرڅولای نه سي وَكَذَا لَا تَمْلِكُ الْأُمُّ فِي النَّفَقَةِ او همدارنګه مور په نفقه كې [د هغه د مال خرڅولو] ملكيت نه لري وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّ لِلْأَبِ وِلَايَةَ الْحِفْظِ فِي مَالِ الْغَائِبِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې پلار ته د غائب زوی په مال كې د حفاظت ولايت حاصل دی أَلَا تَرَى أَنَّ لِلْوَصِيِّ ذٰلِكَ آيا ته نه ګورې! چې وصي لره دا حق حاصل دی فَالْأَبُ أَوْلٰى نو پلار ته به په درجه اولىٰ حاصل وي لِوُفُورِ شَفَقَتِهِ ځكه چې د هغه شفقت ډېر زيات دی وَبَيْعُ الْمَنْقُولِ مِنْ بَابِ الْحِفْظِ او د منقول مال خرڅول د حفاظت له باب څخه دی وَلَا كَذٰلِكَ الْعَقَارُ او جايداد داسې نه دی لِأَنَّهَا مُحَصَّنَةٌ بِنَفْسِهَا ځكه چې هغه په خپله [بذات خود] محفوظ وي وَبِخِلَافِ غَيْرِ الْأَبِ مِنَ الْأَقَارِبِ او په خلاف له پلار څخه بغير د نور قريبانو لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُمْ أَصْلًا ځكه چې هغو لره بالكل هيڅ ولايت حاصل نه دی فِي التَّصَرُّفِ حَالَةَ الصِّغَرِ وَلَا فِي الْحِفْظِ بَعْدَ الْكِبَرِ نه په كوچنيوالي كې د تصريف ولايت [ورته] حاصل دی او نه تر بلوغت وروسته د حفاظت ولايت [ورته] حاصل دی إِذَا جَازَ بَيْعُ الْأَبِ او كله چې د پلار بيع [يعني د پلار لپاره د زوی مال خرڅول] جائز دي وَالثَّمَنُ مِنْ جِنْسِ حَقِّهِ وَهُوَ النَّفَقَةُ او ثمن د پلار د حق له جنس څخه وي چې هغه نفقه ده ايعني د مال قيمت د نفقې له جنس څخه وي] فَلَهُ الْإِسْتِيفَاءُ مِنْهُ نو د پلار لپاره له مشتري څخه [د قيمت] اخيستل [هم] جائز دي كَمَا لَوْبَاعَ الْعَقَارَ وَالْمَنْقُولَ عَلَى الصَّغِيرِ جَازَ لكه كله چې پلار د خپل نابالغ بچي جايداد

او منقول [مال] خرڅ کړي نو جائز دي لِكَمَالِ الْوِلَايَةِ ځکه [د پلار] ولايت کامل دی [يعني پلار ته پر زوی بشپړ ولايت حاصل دی] ثُمَّ لَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنْهُ بِنَفَقَتِهِ بيا پلار ته دا اختيار [هم] سته چي له دې ثمن څخه خپله نفقه واخلي لِأَنَّهُ مِنْ جِنْسِ حَقِّهِ ځکه چي ثمن د هغه د حق له جنس څخه دی.

اللغات: ﴿مَتَاع﴾ سامان، ﴿عَقَار﴾ جايداد، ځمکه، غير منقول مال، ﴿إِنْقِطَاع﴾ د انفعال مصدر دی: ختمېدل، ﴿وُفُور﴾ زياتېدل، ﴿مُحْصَنَةٌ﴾ د افعال اسم مفعول دی: محفوظ، خوندي.

تشريح: مسئله: دا ده چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د پلار لپاره جائز دي چي د خپلې نفقې لپاره د غائب زوی سامان خرڅ کړي، همدا استحسان دی، لېکن د غائب زوی ځمکه او جايداد خرڅول جائز نه دي، او د صاحبينو په نېز نه سامان خرڅول جائز دي، او نه ځمکه او جايداد، او قياس هم دا دی.

د صاحبينو دليل: دا دی چي پلار پر هغه (غائب زوی) ولايت نه لري، ځکه چي د بلوغت په وجه پر هغه د پلار ولايت ختم سو، همدا وجه ده که بالغ زوی حاضر وي، نو پلار د هغه د مال خرڅولو اختيار نه لري، او له نفقې څخه بغيرېږې د هيڅ قرضې لپاره نه سي خرڅولای، او همدارنګه مور هم د هغه جائيدا په نفقه کي نه سي خرڅولای، لهذا پلاريې هم نه سي خرڅولای.

د امام صاحب دليل: دا دی چي پلار ته د خپل غائب زوی په مال کي د حفاظت ولايت حاصل دی، لکه څرنګه چي د حفاظت په خاطر وصي ته دا ولايت حاصل دی چي د خپل غائب بالغ وارث سامان خرڅ کړي، نو کله چي وصي ته ولايت حاصل دی، نو پلار ته به په درجه اولیٰ ولايت حاصل وي، ځکه چي د پلار شفقت تر بل ولي زيات وي، او منقول مال (سامان) خرڅول د حفاظت له قسم څخه دی، لېکن په غير منقول مال (جايداد) کي دا خبره نسته، ځکه چي هغه په خپله محفوظ وي، او له پلار څخه نورو قريبانو ته دا اختيار نسته، ځکه چي هغو ته هيڅ ډول ولايت حاصل نه دی، هغو ته نه د غائب قريب (زوي) په کوچنيوالي کي د تصرف اختيار وو، او نه د غائب تر بلوغت وروسته هغو ته د حفاظت ولايت سته.

وإذا جاز إلخ: مخکي ثابته سوه چي پلار ته د خپل غائب زوی د مال (سامان) خرڅولو اختيار سته، نو کله چي هغه مال خرڅ کړي، او د هغه قيمت (ثمن) د پلار د حق له جنس څخه يعني د نفقې له جنس او قسم څخه وي (مثلاً طعام، غله او داسي بل شی وي)، نو پلار ته په هغه قيمت کي پوره اختيار او اجازه سته چي هغه له مشتري څخه واخلي، همدارنګه خپل پوره حق او نفقه ځني واخلي، ځکه چي دا قيمت د هغه د حق له جنس څخه دی، لکه په هغه وخت کي چي هم پلار ته د پوره

قیمت اخیستلو اختیار سته کله چې هغه د خپل صغیر (نابالغ) بچي څمکه او جایداد خرڅ کړي، ځکه چې پلار ته پر صغیر باندي پوره ولایت حاصل دی.

د پورتنۍ مسئلې یو صورت

وَإِنْ كَانَ لِلِابْنِ الْغَائِبِ مَالٌ فِي يَدِ أَبَوَيْهِ او که د غائب زوی مال د هغه د مور و پلار په قبضه کي وي وَأَنْفَقَا مِنْهُ او مور و پلار له هغه څخه نفقه [خرچه] وکړي لَمْ يَضْمَنَا نو مور وپلار [د هغه] نه ضامن کیږي لِأَنَّهُمَا اسْتَوْفَيَا حَقَّهُمَا ځکه چې دوی خپل حق اخیستی دی لِأَنَّ نَفَقَتَهُمَا وَاجِبَةٌ قَبْلَ الْقَضَاءِ عَلَى مَا مَرَّ ځکه چې د مور و پلار نفقه [د زوی په مال کي] د قاضي تر فیصلې مخکي واجب ده لکه مخکي چې دا [مسئله] تېره سوه وَقَدْ أَخَذَا جِنْسَ الْحَقِّ او دوی [دواړو] د حق جنس اخیستی دی.

اللغات: ﴿إِسْتَوْفَيَا﴾ د استفعال له باب څخه د تثنیه مذکر غائب ماضي صیغه ده: خپل حق اخیستل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که زوی په سفر کي وي، او مور وپلار د هغه له مال څخه خپله نفقه واخلي، نو پر هغو هیڅ ضمان نه واجبیږي؛ دلیل دا دی چې د زوی په مال کي د مور و پلار د نفقې حق هم سته، او هغوی خپل حق اخیستی دی، نو ځکه به هیڅ ضمان او تاوان نه پر واجبیږي.

د پورتنۍ مسئلې یو بل صورت

وَإِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فِي يَدِ أَجْنَبِيٍّ او که د غائب زوی مال د یو پردي سړي په قبضه کي وي فَأَنْفَقَ عَلَيْهِمَا بِغَيْرِ إِذْنِ الْقَاضِي او [بیا] هغه [د غائب زوی] پر مور وپلار دا مال نفقه کړي [یعني نفقه ځني ورکړي] ضَمِنَ نو هغه ضامن کیږي لِأَنَّهُ تَصَرَّفَ فِي مَالِ الْغَيْرِ بِغَيْرِ وِلَايَةٍ ځکه چې هغه د بل چا په مال کي له ولایت څخه بغیر تصرف وکړی لِأَنَّهُ نَائِبٌ فِي الْحِفْظِ لَا غَيْرُ ځکه چې هغه [فقط] د حفاظت نائب دی، نه د بل شي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَمَرَهُ الْقَاضِي په خلاف د هغه صورت کله چې قاضي هغه ته حکم کړی وي لِأَنَّ أَمْرَهُ مُلْزِمٌ ځکه چې د قاضي حکم لازمونکی دی لِعُمُومِ وِلَايَتِهِ ځکه چې د قاضي ولایت عام دی وَإِذَا ضَمِنَ لَا يَرْجِعُ عَلَى الْقَابِضِ او کله چې أجنبی سړی ضامن سي نو هغه به پر قبضه کونکي امور وپلار رجوع نه کوي لِأَنَّهُ مَلَكَهُ بِالضَّمَانِ ځکه چې أجنبي په ضمان ورکولو سره د هغه مال مالک سو فَظَهَرَ أَنَّهُ كَانَ مُتَبَرِّعًا بِهِ نو ښکاره سوه چې هغه په خپل مال سره تبرع کونکی [صدقه کونکی] دی.

اللغات: ﴿أَنْفَقَ﴾ د افعال ماضي ده؛ خرڅول، نفقه کول. ﴿مُلْزِم﴾ د افعال اسم فاعل دی: لازمونکی. ﴿مُتَبَرِّع﴾ د تفعّل اسم فاعل دی. تَبَرَّعَ يَتَبَرَّعُ تَبَرُّعًا: صدقه کول، خیرات کول. غیر واجب شی اداء کول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی غائب وي، او د هغه مال د یو أجنبي سړي سره پروت وي. او دا أجنبي سړی د قاضي له اجازت څخه بغیر د غائب سړي له مال څخه د هغه مور وپلار ته نفقه ورکړي، نو أجنبي به د غائب سړي د مال ضامن وي؛ دلیل دا دی چي هغه (أجنبي) د بل چا په مال کي له ولایت څخه بغیر تصرف کړی دی، حالانکي هغه ته د دې حق نسته، ځکه چي هغه ته فقط د مال د حفاظت کولو ولایت حاصل دی، نو په تصرف کولو سره هغه متعدّي او تجاوز کونکي وګرځېدی. نو ځکه به ضمان پر واجب وي.

په خلاف د هغه صورت کله چي أجنبي د قاضي په حکم او اجازه سره د غائب سړي مور وپلار ته نفقه ورکړې وي، نو په دې صورت کي پر هغه ضمان نه واجبیږي، ځکه چي د قاضي ولایت عام او تامّ دی. او د هغه حکم منل او د هغه فرمان عملي کول پر ټولو واجب او ضروري دي. نو ځکه به د قاضي په ولایت سره نفقه ورکول د ضمان موجب نه وي.

وإذا ضمن إلخ: فرمايي کله چي په اول صورت کي پر أجنبي ضمان واجب سي، او غائب سړي ته خپل تاوان ورکړي، نو دا أجنبي د هغه د مور وپلار څخه تاوان نه سي اخیستلای، ځکه چي أجنبي په ضمان (تاوان) ورکولو سره د هغه مال مالک سو، نو ګواکي هغه د خپل ذاتي مال څخه دوو غریبانو ته خیرات او صدقه ورکړه، او په خیرات او صدقه (تبرّعاتو) کي هیڅ چا ته د ردّ او رجوع کولو اختیار نسته.

له نفقې څخه د خالي مودت بیان

وَإِذَا قَضَى الْقَاضِي لِلْوَلَدِ وَالْوَالِدَيْنِ وَذَوِي الْأَرْحَامِ بِالنَّفَقَةِ او کله چي قاضي [پر یو سړي] د بچي لپاره او د مور وپلار لپاره او د ذوی الأرحامو [نژدې قریبانو] لپاره د نفقې فیصله وکړي فَمَضَتْ مُدَّةٌ بیا څه مودت تېر سي سَقَطَتْ نو اد دې مودت [نفقه ساقطیږي لِأَنَّ نَفَقَةَ هَؤُلَاءِ تَجِبُ كِفَايَةً لِلْحَاجَةِ ځکه چي د دې کسانو نفقه [د دوی] د حاجت پوره کولو لپاره واجبیږي حَتَّى لَا تَجِبُ مَعَ الْيَسَارِ تر دې چي [د دوی] د مالدارۍ سره نفقه نه واجبیږي وَقَدْ حَصَلَتْ بِمُضِيِّ الْمُدَّةِ او د څه مودت په تېرېدلو سره کفایت حاصل سوی دی بِخِلَافِ نَفَقَةِ الزَّوْجَةِ إِذَا قَضَى بِهَا الْقَاضِي په خلاف د ښځي د نفقې، کله چي قاضي [پر خاوند] د هغه فیصله وکړي لِأَنَّهَا تَجِبُ مَعَ يَسَارِهَا ځکه چي د ښځي نفقه د هغې د مالدارۍ سره

ایعني د هغې د مالدار والي باوجود] واجبیږي فَلَا تَسْقُطُ بِحُصُولِ الِاسْتِغْنَاءِ فِيمَا مَضَى نو په تېر سوي مودت کي به د استغناء په حاصلېدو سره [د ښځي] نفقه نه ساقطیږي قَالَ: إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ الْقَاضِي بِالِاسْتِدَانَةِ عَلَيْهِ فرمايي: مګر دا چي قاضي [دغه کسانو ته] د غائب سړي پر نامه د قرض اخيستلو حکم کړی وي [نو بيا د تېر سوي مودت نفقه نه ساقطيږي] لِأَنَّ الْقَاضِيَ لَهُ وِلَايَةٌ عَامَّةٌ ځکه چي قاضي لره عام [او بشپړ] ولايت حاصل دی فَصَارَ إِذْنُهُ كَأَمْرِ الْغَائِبِ نو د قاضي حکم کول داسي سو لکه د غائب حکم کول فَيَصِيرُ دَيْنًا فِي ذِمَّتِهِ نو ځکه به دا د غائب پر ذمه قرض وي فَلَا تَسْقُطُ بِمُضِيِّ الْمُدَّةِ نو د مودت په تېرېدلو سره به [هم] نه ساقطيږي.

اللغات: ﴿قَضَى﴾ د ضرب ماضي ده: فيصله کول. ﴿يَسَار﴾ مالداري، شتمني (موړتيا). ﴿اِسْتِدَانَة﴾ د استفعال مصدر دی: قرض اخيستل (پور غوښتل).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که قاضي پر يو سړي د خپل زوی، مور او پلار او د محارمو (نژدې قريبانو) د نفقې فيصله وکړي (چي ته به دغه کسانو ته نفقه ورکوې!)، تر دې وروسته يو څه مودت مثلاً دوې مياشتي له نفقې ورکولو څخه بغير تيري سي، نو د دې دوو مياشتو نفقه ساقطيږي، ځکه چي د دې کسانو نفقه د دوی ضرورت پوره کولو لپاره واجبيږي، حتیٰ که دا کسان مالداره وي، نو بيا د دوی نفقه نه واجبيږي. لهذا کله چي له نفقې ورکولو څخه بغير دوې مياشتي تيري سوې، نو دا خبره ښکاره سوه چي په دغه دوو مياشتو کي دوی ته د نفقې ورکولو ضرورت نه وو، نو ځکه به د دې دوو مياشتو نفقه ساقطيږي، او د هغه پر ذمه به نه واجبيږي.

د دې په خلاف که قاضي پر يو سړي د خپلي ښځي نفقه مقرره کړي، او بيا له نفقې ورکولو څخه بغير څه مودت تېر سي، نو په دې صورت کي د تېر سوي مودت نفقه باقي پاتيږي او نه ساقطيږي، ځکه چي د ښځي د مالدار والي په صورت کي هم پر خاوند د هغې نفقه واجب ده، نو ځکه به د تېر سوي مودت نفقه نه ساقطيږي، که څه هم ښځه په تېر سوي مودت کي له نفقې څخه مستغني او مالداره وي.

قال إلخ: فرمايي که قاضي د غائب سړي مور و پلار او د هغه ښځي او بچيانو ته د قرض اخيستلو حکم وکړي (چي تاسي د خپل غائب سړي په نامه قرض اخلئ! او ګزاره په کوئ!)، او بيا دا کسان يو څه مودت قرض نه واخلي، نو په دې صورت کي نفقه نه ساقطيږي، ځکه چي قاضي ته عام او تامّ (بشپړ) ولايت حاصل دی، لهذا د قاضي حکم ورکول داسي دي لکه په خپله چي غائب سړي د قرض اخيستلو حکم کړی وي، او کله چي غائب سړي دغه کسانو ته په خپل نامه د قرض اخيستلو حکم وکړي، او بيا دا کسان يو څه مودت قرض نه واخلي، نو د دوی نفقه نه ساقطيږي، لهذا په دغه پورتني صورت کي به هم د دوی نفقه نه ساقطيږي.



فَصْلٌ (فِيْ نَفَقَةِ الْعَبْدِ وَغَيْرِهِ)

(دا) فصل (د غلام، مينځي او حيوانانو د نفقې په بيان کي) دی

د غلام او مينځي نفقه

وَعَلَى الْمَوْلَىٰ أَنْ يُنْفِقَ عَلَىٰ عَبْدِهِ وَأَمَتِهِ او پر مالک واجب دي چي پر خپل غلام او مينځي [خپل مال] نفقه کړي لِقَوْلِهِ عليه السلام فِي الْمَمَالِيكِ [1] ځکه چي نبي کريم ﷺ د غلامانو په هکله فرمايلي دي "إِنَّهُمْ إِخْوَانُكُمْ جَعَلَهُمُ اللهُ تَعَالَىٰ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ هغوی ستاسي ورونه دي، الله تعالیٰ ستاسو تر لاس لاندي کړي دي أَطْعِمُوهُمْ مِمَّا تَأْكُلُونَ وَأَلْبِسُوهُمْ مِمَّا تَلْبَسُونَ هغو ته خوراک ورکوئ! له هغه څخه کوم چي تاسي خورئ او جامې ورکوئ! له هغه څخه کوم چي تاسي اغوندی وَلَا تُعَذِّبُوا عِبَادَ اللهِ" او د الله بندګانو ته عذاب [او تکليف] مه ورکوئ! فَإِنِ امْتَنَعَ وَكَانَ لَهُمَا كَسْبٌ او که مالک [له نفقې ورکولو څخه] منع سي او د غلام او مينځي لپاره د ګټلو [او کار کولو] صلاحيت وي اكْتَسَبَا وَأَنْفَقَا نو هغوی دي ګټه وکړي او [هغه دي پر خپلو ځانو] نفقه کړي لِأَنَّ فِيهِ نَظَرًا لِلْجَانِبَيْنِ ځکه په دې کي د دواړو طرفونو لپاره فايده [او مصلحت] دی حَتَّىٰ يَبْقَى الْمَمْلُوكُ حَيًّا وَيَبْقَىٰ فِيهِ مِلْكُ الْمَالِكِ تر دې چي مملوک به [هم] ژوندی پاته سي او په هغه کي به د مالک کي ملکيت [هم] باقي پاته سي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمَا كَسْبٌ او که غلام او مينځي لره د ګټلو صلاحيت نه وي بِأَنْ كَانَ عَبْدًا زَمِنًا أَوْ جَارِيَةً لَا يُؤَاجَرُ مِثْلُهَا په دې توګه چي غلام شل وشوټ وي يا مينځه داسي وي چي د هغې په شان مينځه په اُجرت نه نيول کيږي أُجْبِرَ الْمَوْلَىٰ عَلَىٰ بَيْعِهِمَا نو [په دې صورت کي] به مالک د دوی پر خرڅولو مجبوره کيږي لِأَنَّهُمَا مِنْ أَهْلِ الِاسْتِحْقَاقِ ځکه دوی دواړه د استحقاق أهل دي [يعني غلام او مينځه د نفقې مستحق دي] وَفِي الْبَيْعِ إِيفَاءُ حَقِّهِمَا او په خرڅولو سره د دوی حق پوره کيږي وَإِبْقَاءُ حَقِّ الْمَوْلَىٰ بِالْخَلَفِ او د مالک حق

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الأدب، باب في حق المملوک، حديث رقم: ۵۱۵۷

په نائب [ثمن] سره باقي پاتېږي بِخِلَافِ نَفَقَةِ الزَّوْجَةِ په خلاف د ښځې د نفقې لِأَنَّهَا تَصِيرُ دَيْنًا ځکه چې هغه اد خاوند پر ذمه] قرض ګرځي فَكَانَ تَأْخِيرًا نو ادهغې په حق کې] به تأخير کېږي ايعنې د هغه په نفقه کې د قرض په توګه تأخير کېداى سي] عَلَى مَا ذَكَرْنَا لکه [مخکې] چې مونږ ذکر کړه وَنَفَقَةُ الْمَمْلُوكِ لَا تَصِيرُ دَيْنًا او د مملوک نفقه [د مالک پر ذمه] قرض نه ګرځي فَكَانَ إِبْطَالًا نو ادهغه حق] به باطل سي وَبِخِلَافِ سَائِرِ الْحَيَوَانَاتِ او په خلاف د ټولو حيوانانو لِأَنَّهَا لَيْسَتْ مِنْ أَهْلِ الِاسْتِحْقَاقِ ځکه چې هغوى د استحقاق أهل نه دي فَلَا يُجْبَرُ عَلَى نَفَقَتِهَا نو [ځکه] به مالک د هغوى پر نفقې نه مجبوره کېږي إِلَّا أَنَّهُ يُؤْمَرُ بِهِ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ تَعَالَى خو "فيما بينهٗ و بين الله" به هغه ته د نفقې حکم کېږي لِأَنَّهُ الطَّيِّلاً نَهَى [2] عَنْ تَعْذِيبِ الْحَيَوَانِ ځکه چې نبي کريم ﷺ حيوان ته له عذاب ورکول څخه منع کړې ده وَفِيهِ ذٰلِكَ او په دې کې ايعنې په نفقه نه ورکولو کې هغوى ته] عذاب ورکول دي وَنَهٰى [3] عَنْ إِضَاعَةِ الْمَالِ [همدارنګه] نبي ﷺ له مال ضايع کولو څخه منع کړې ده وَفِيهِ إِضَاعَتُهُ او په دې کې د مال ضايع کول دي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ يُجْبَرُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دى: چې مالک به [د حيوان پر نفقې] مجبوره کېږي وَالْأَصَحُّ [✿] مَا قُلْنَا [خو] صحيح هغه دي کوم چې مونږ ذکر کړه.

اللغات: ﴿مَمَالِيْک﴾ جمع د "مَمْلُوْکٌ" ده: هغه کس چې ديو چا تر ملکيت لاندې وي. مراد ځنې غلام او مينځه دي، ﴿أَطْعِمُوْا﴾ د افعال له باب څخه د جمع مذکر امر حاضر صيغه ده: بل چا ته خوراک ورکول، خوراک په خوړل. ﴿أَلْبِسُوْا﴾ مخکنۍ صيغه ده: جامې (کالي) ورکول، جامې په اغوستل. ﴿دَيْن﴾ قرض (قرضه)، پور. ﴿إِضَاعَة﴾ د افعال مصدر دى: ضايع کول، تلفول (له منځه وړل)، هلاکول.

---

[2] تخريج: أخرجه ابو داؤد فى كتاب الأدب، باب فى حق المملوک، حديث رقم:١٥٦١.

[3] تخريج: أخرجه البخارى فى كتاب الاستقرا فى باب ما ينهى عن إضاعة المال، حديث رقم:٢٤٠٧، ٢٤٠٨.

[✿] القول الراجح: صاحب د القول الراجح ليکلي دي، چې په دې مسئله کې راجح قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دى. لکه څرنګه چې علامه ابن همام رَحِمَهُ الله ليکلي دي: وعن أبى يوسف أنه يجبر فى الحيوان، وهو قول الشافعى ومالک وأحمد رَحِمَهُمَا الله .....والحق ما عليه الجماعة. (فتح القدير ج:٤، ص:٢٣١)، وقال العلامة ابن نجيم: ورجّح الطحاوى رواية أبى يوسف، وبه ناخذ (البحر الرائق ج:٤، ص:٢١٨). [القول الراجح ج:١، ص:٣٨٧]

تشريح: صورت د مسئلې: كه د يو چا په ملكيت كې غلام او مينځه وي، نو ده ته پكار دي چې هغو ته نفقه وركړي، او د هغو لپاره د كسوه و سكنىٰ انتظام وكړي، دليل دا حديث دى: "أَطْعِمُوْهُمْ مِمَّا تَأْكُلُوْن... إلخ". په دې حديث كې غلام او مينځې ته د خوراك او جامې وركولو تأكيد سوى دى.
لېكن ښكاره دي وي چې دلته له نفقه او كسوه څخه مراد د هغه جنس دى: يعني هغو ته نفقه او جامې وركوئ!. دا څني مراد نه دي چې خاص هغه خوراكه او جامې وركوئ! كوم چې تاسي خورئ او اغوندئ. نو كه مالك خپل غلام ته كم ارزښته جامې وركړي او په خپله ښه جامې واغوندي، نو صحيح دي.

فإن امتنع إلخ: فرمايي كه يو مالك د غلام يا مينځې له نفقې څخه انكار وكړي، نو د دې دوه صورتونه دي: ① دا غلام او مينځه به د كار او كسب (ګټلو) صلاحيت لري، ② يا به يې نه لري، كه اول صورت وي يعني د ګټې صلاحيت لري او ګټه كولاى سي، نو هغو ته پكار دي چې په خپله ګټه وكړي او په هغه سره ګزاره وكړي، د دې لپاره چې د هغو ژوند وژغورل سي، نو دوى ته به هم فايده حاصله سي او مالك ته به هم فايده حاصله سي، د دوى فايده خو ښكاره ده چې ژوند به يې وژغورل سي او په ماړه نس به خوشحاله او تازه ګرځي، او دا د مالك فايده ده چې تر څو مينځه او غلام ژوندي وي، نو د مالك ملكيت به پاته وي، او هر وخت چې مالك وغواړي، نو دوى به خرڅ كړي او جېب به په ګرم كړي.

او كه دويم صورت وي يعني غلام يا مينځه ګټه نه سي كولاى، مثلاً غلام شل وشوت وي او د كسب طاقت نه لري، يا مينځه معذوره وي، محنت او مزدوري كولاى نه سي كولاى، او هيڅوك يې په أجرت اخسيتلو ته تيار نه وي، او مالك نفقه هم نه وركوي، نو په دې صورت كې به مالك د هغو پر خرڅولو مجبوره كيږي، ځكه كله چې مالك د نفقې نه وركولو په وجه له إمساك بالمعروف څخه منع سو، نو اوس به پر هغه تسريح بالإحسان واجب وي، او د بيع په ذريعه تسريح بالإحسان ممكن دى، نو ځكه به مالك د غلام او مينځې پر خرڅولو مجبوره كيږي، او بيا دا چې غلام او مينځه د نفقې مستحق دي، او په بيع سره د دوى حق پوره كيږي، او مالك ته نائب يعني ثمن (قيمت) حاصليږي، لهذا په بيع كې د دواړو لپاره مصلحت او شفقت سته.

بخلاف نفقه إلخ: فرمايي د غلام او مينځې د مسئلې په خلاف كه خاوند د ښځې له نفقې څخه انكار وكړي، نو هغه به پر طلاق وركولو نه مجبوره كيږي، ځكه كله چې خاوند ښځې ته نفقه نه وركوي، نو د ښځې نفقه د خاوند پر ذمه قرض پاتيږي (همدا وجه ده چې ښځه د خپلې نفقې لپاره د خاوند پر نامه

قرض اخيستلای سي) لکه مخکي چي دا خبره ذکر سوه. نو په دې وجه د هغې حق نه باطليږي. بلکي مؤخر کيږي. نو ځکه به خاوند پر طلاق ورکول نه مجبوره کيږي. لېکن د مملوک (غلام او مينځي) نفقه د خاوند پر ذمه قرض نه ګرځي (او نه دوی د مالک پر نامه قرض اخيستلای سي). لهذا د دوی نفقه مؤخر کېدلای هم نه سي. نو که مالک ومملوک ته نفقه نه ورکوي. نو د هغه حق باطليږي (او د قرض نه اخيستلو په وجه به مرګ ته نژدې سي). نو ځکه به مالک پر دې مجبوره کيږي چي مملوک ته نفقه ورکړي يا هغه خرڅ کړي (د دې لپاره چي د هغه حق له بطلان څخه وساتل سي).

بخلاف سائر إلخ: فرمايي که يو سړی خپلو حيوانانو ته نفقه (وابنه. پروړ او داسي نور) نه ورکوي. نو هغه به قضاءً پر دې نه مجبوره کيږي. ځکه چي حيوانات. څارويان او داسي نور د نفقې د استحقاق أهل نه دي (ځکه چي د قضاء او فيصلې لپاره مدعي ضروري دي. او حيوان مدعي نه سي جوړېدلای. نو په دې وجه هغه د استحقاق أهل نه دي). لېکن دغه سړي ته به دياناً (فيما بينه وبين الله) د نفقې ورکولو حکم کيږي او که هغه نفقه نه ورکوي. نو پر خرڅولو به مجبوره کيږي. ځکه چي په نفقه نه ورکولو سره حيوانانو ته تکليف رسيږي او په لوږي او تندي مبتلا کيږي. حالانکي په حديث کي حيوانانو ته له تکليف ورکولو څخه منع سوې ده. همدارنګه په حديث کي له بې ځايه مال ضايع کولو څخه هم منع سوې ده. او ښکاره خبره ده چي کله د حيوانانو څخه نفقه منع سي. نو هغوی په مرګ مبتلا کيږي او ضايع کيږي. نو ځکه به دياناً هغه ته د نفقې ورکولو حکم کيږي.

وعن أبي يوسف إلخ: فرمايي چي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي که يو مالک خپلو حيوانانو ته نفقه نه ورکوي. نو هغه به قضاءً هم پر نفقه ورکولو مجبوره کيږي. لکه څرنګه چي د غلام او مينځي په حق کي مالک مجبوره کيږي. لېکن صحيح اول قول دی چي د حيوانانو په حق کي به مالک نه مجبوره کيږي (ځکه چي حيوان مدعي جوړېدلای نه سي. نو ځکه به د هغه لپاره قضاء او فيصله کول ناممکن وي. ځکه چي له مدعي څخه بغير فيصله نه کيږي). والله أعلم وعلمه أتم.



كِتَابُ العَتَاق

(دا) كتاب د آزادۍ (د احكامو په بيان كې) دى

تشريح: مخكې تر دې مصنف رَحِمَهُ الله كتابُ الطلاق بيان كړى، اوس له دې ځاى څخه په كتابُ العتاق شروع كوي، دا دواړه ځكه پرلپسې بيان سوي دي چې طلاق او عتاق دواړه د إسقاط له قبيلې څخه دي، ځكه چې طلاق ملك بضع ساقطوي، او عتاق ملكِ رقبه ساقطوي، او طلاق ځكه تر عتاق مخكې سوى دى او د نكاح سره متصل سوى دى چې د نكاح سره طلاق مناسبت لري، نه عتاق، نو د همدې مناسبت په خاطر مصنف رَحِمَهُ الله تر كتابُ النكاح وروسته متصلاً كتابُ الطلاق بيان كړى دى، او تر هغه وروسته اوس كتابُ العتاق بيانوي.

د عتق لغوي او اصطلاحي معنىٰ: د عِتق او عَتاق لغوي معنىٰ ده: قوت او طاقت، عرب وايي: عَتَقَ الفَرْخ، (د چوغكي [مرغۍ] چيچى طاقتمن سو)، دا جمله هغه وخت وايي، كله چې چيچى طاقتمن سي او په خپله الوتل شروع كړي، او "عَتِيق" هغه آس ته وايي چې تر ټولو چابک او طاقتمن وي، او كعبې مباركې ته ځكه "البَيْتُ العَتِيق" وايي چې كعبه په خداى وركړي طاقت سره د هر قابض او حمله كونكي دفع كوي.

د عتاق شرعي معنىٰ ده: "قُوَّةٌ حُكْمِيَّةٌ يَصِيرُ الْمَرْءُ بِهَا أَهْلًا لِلشَّهَادَةِ وَالْوِلَايَةِ وَالْقَضَاءِ" (يعني عتاق هغه شرعي قوت ته وايي چې د هغه په ذريعه انسان (يعني رقبه) د شهادت، ولايت او فيصلې كولو أهل ګرځي".

عِتْق: آزادېدل، إعْتَاق: آزادول، مُعْتِقْ (د تاء په كسره سره): آزادونكى (مالک)، مُعْتَق (د تاء په فتحه سره): آزاد كړې سوى (غلام)، عَتَاق: اسم دى، معنىٰ يې ده: آزادي.

د عتق سبب: پر دوه قسمه دي: ① يو دا چې د شرعي أمر په وجه د انسان پر ذمه إعتاق (د رقبې آزادول) واجب وي، لكه د نذر كفاره او داسې نور، ② دويم سبب دا دى چې إعتاق خو واجب نه وي، ليكن انسان د ثواب تر لاسه كولو په خاطر رقبه آزاده كړي.

د عتق شرط: دا دى چې مُعْتِق (آزادونكى) به بالغ، عاقل او آزاد وي، او د ملكِ يمين مالک به وي.

د عتق رکن: هغه شی چي په هغه سره آزادي واقع سي.

د عتق حکم: له محل (رقبې) څخه د رقيت او ملکيت زوال. (بنايه ج۵، ص۵۶۱، وهكذا في العناية وفتح القدير)

د إعتاق (آزادولو) شرعي حيثيت

> **الإِعْتَاقُ تَصَرُّفٌ مَنْدُوبٌ إِلَيْهِ** آزادول يو داسي عمل دی چي [په حديث کي] د هغه وطرف ته رغبت ورکول سوی دی قَالَ الْعَلِيَّةُ [1]: "أَيُّمَا مُسْلِمٍ أَعْتَقَ مُؤْمِنًا نبي ﷺ فرمايلي دي: کوم مسلمان چي يو مؤمن آزاد کړي أَعْتَقَ اللهُ تَعَالَى بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا مِنْهُ مِنَ النَّارِ" نو الله تعالىٰ به د هغه د هر اندام په بدله کي د آزادونکي مسلمان اندام [د دوږخ] له اُور څخه آزاد کړي وَلِهَذَا اسْتَحَبُّوا أَنْ يُعْتِقَ الرَّجُلُ الْعَبْدَ وَالْمَرْأَةُ الْأَمَةَ له همدې وجهي علماؤ دا خبره مستحب ګرځولې ده چي سړی غلام آزاد کړي او ښځه مينځه آزاده کړي لِيَتَحَقَّقَ مُقَابَلَةُ الْأَعْضَاءِ بِالْأَعْضَاءِ د دې لپاره چي د ټولو اندامونو سره د ټولو اندامو مقابله ثابته سي [يعني چي د هر اندام په مقابله کي اندام راسي].

اللغات: ﴿مَنْدُوبٌ إِلَيْهِ﴾ د نصر له باب څخه د اسمِ مفعول صيغه ده. نَدَبَ يَنْدُبُ نَدْبًا: د دې په باب په صله کي چي کله "إِلَىٰ" ذکر سي، لکه دلته چي ذکر سوی دی نو معنىٰ يې راځي: بلنه ورکول. رغبت ورکول، ترغيب ورکول، پارول.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چي رقبه آزادول غوره او مندوب کار دی او په حديث کي د دې ډېر ثواب بيان سوی دی او د هغه وطرف ته رغبت ورکول سوی دی. حديث په عبارت کي ذکر سو. د هغه حديث په وجه د اُمت علماؤ دا خبره مستحب ګرځولې ده چي سړی خپل غلام آزاد کړي او ښځه خپله مينځه آزاده کړي، د دې لپاره چي د مُعْتِق هر اندام د رقبې (مُعْتَق) د هر اندام په مقابله کي راسي. او الله تعالىٰ د هغه هر اندام د دوږخ له اُور څخه وساتي.

د إعتاق شرعي حيثيت

> قَالَ: **الْعِتْقُ يَصِحُّ مِنَ الْحُرِّ الْبَالِغِ الْعَاقِلِ فِي مِلْكِهِ** فرمايي: چي آزادي صحيح کيږي [واقع کيږي] له آزاد. بالغ عاقل سړي څخه په خپل ملکيت کي شَرَطَ الْحُرِّيَّةَ لِأَنَّ الْعِتْقَ لَا يَصِحُّ إِلَّا فِي الْمِلْكِ امام قدوري

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب العتق، باب أيّ الرقاب أفضل، حديث رقم:۳۹۶۵. وبخاري في كتاب العتق، بـاب فـي العتق وفضله، حديث رقم:۲۵۱۷.

رَحِمَهُ الله ځکه آزاد والی شرط کړی دی چي عتق فقط په ملکيت کي صحيح کيږي وَلَا مِلْكَ لِلْمَمْلُوكِ او د مملوک لپاره هيڅ ملکيت نه وي [ځکه چي د هغه ټوله څه د مالک وي] وَالْبُلُوغ لِأَنَّ الصَّبِيَّ لَيْسَ مِنْ أَهْلِهِ او بلوغ يې ځکه شرط کړی دی چي کوچنی د إعتاق [آزادولو] أهل نه دی لِكَوْنِهِ ضَرَرًا ظَاهِرًا ځکه چي په آزادولو کي ښکاره نقصان دی وَلِهَذَا لَا يَمْلِكُهُ الْوَلِيُّ عَلَيْهِ او له همدې وجهي اد کوچني [ولي پر کوچني د إعتاق ملکيت نه لري وَالْعَقْلَ لِأَنَّ الْمَجْنُونَ لَيْسَ بِأَهْلٍ لِلتَّصَرُّفِ او عقل يې ځکه شرط کړی دی چي لېونی د تصرف أهل نه دی وَلِهَذَا لَوْ قَالَ الْبَالِغُ: أَعْتَقْتُ وَأَنَا صَبِيٌّ همدا وجه ده که بالغ سړی ووايي: چي ما د کوچنيوالي په حالت کي [غلام] آزاد کړی وو فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ نو قول به د هغه معتبر وي [لېکن غلام نه آزاديږي] وَكَذَا إِذَا قَالَ الْمُعْتِقُ: أَعْتَقْتُ وَأَنَا مَجْنُونٌ او همدارنګه که آزادونکی کس ووايي: چي ما د جنون په حالت کي [غلام] آزاد کړی وو وَجُنُونُهُ كَانَ ظَاهِرًا او د هغه لېونتوب ښکاره وو [يعني ټولو ته معلوم وو، نو غلام نه آزاديږي] لِوُجُودِ الْإِسْنَادِ إِلَى حَالَةٍ مُنَافِيَةٍ ځکه چي د إعتاق نسبت د عتق د منافي حالت وطرف ته سوی دی وَكَذَا لَوْ قَالَ الصَّبِيُّ: كُلُّ مَمْلُوكٍ أَمْلِكُهُ فَهُوَ حُرٌّ إِذَا احْتَلَمْتُ او همدارنګه که کوچنی ووايي: د هر غلام چي زه مالک کېږم نو هغه آزاد دی کله چي زه بالغ سم لَا يَصِحُّ نو إعتاق نه صحيح کيږي [يعني غلام نه آزاديږي] لِأَنَّهُ لَيْسَ بِأَهْلٍ لِقَوْلٍ مُلْزِمٍ ځکه چي نابالغ کوچنی د داسي قول أهل نه دی چي هغه لازمونکی وي وَلَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ الْعَبْدُ فِي مِلْكِهِ او دا [اهم] ضروري دي چي غلام به د مُعْتِق په ملکيت کي وي حَتَّى لَوْ أَعْتَقَ عَبْدَ غَيْرِهِ تر دې که هغه د بل چا غلام آزاد کړي لَا يَنْفُذُ عِتْقُهُ نو د غلام عتق نه نافذيږي لِقَوْلِهِ عليه السلام: لَا عِتْقَ [1] فِيمَا لَا يَمْلِكُ ابْنُ آدَمَ ځکه چي نبي ﷺ فرمايلي دي: آزادېدل نه [نافذ] کيږي په هغه شي کي چي انسان يې مالک نه وي.

اللغات: ﴿شَرَطَ﴾ د نصر ماضي ده: شرط کول. شرط لګول. ﴿مُلْزِم﴾ د افعال اسم فاعل دی: لازمونکی. لَيْسَ بِأَهْلٍ لِقَوْلٍ مُلْزِمٍ: يعني بچی د دې أهل نه دی چي پر هغه خپل قول او خبره لازم سي. يعني د کوچنيوالي په حالت کي د هغه خبري لره هيڅ اعتبار نسته.

---

[1] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الطلاق، باب ما جاء لا طلاق قبل النكاح، حديث رقم: ١١٨١. وابو داؤد فـي كتـاب الطلاق، باب في الطلاق قبل النكاح، حديث رقم: ٢١٩.

تشريح: په دې عبارت کې امام قدوري رَحِمَهُ الله د إعتاق شرائط بيان کړي دي. حاصل يې دا دې چې پر غلام هغه وخت آزادي واقع کيږي. کله چې څلور شرطونه موجود سي. او که له دې شرطونو څخه يو شرط هم کم وي. نو بيا پر غلام آزادي نه واقع کيږي.

①... اول شرط دا دی چې انسان (مُعْتِق) به په خپله آزاد وي. د غلام او مينځې له طرفه آزادي نه واقع کيږي. ②... دويم شرط دا دی چې انسان به بالغ وي. لهذا که نابالغ هلک يو غلام آزاد کړي. نو آزادي نه واقع کيږي. ③... دريم شرط دا دی چې انسان به عاقل وي. د مجنون آزادي نه واقع کيږي. ④... څلورم شرط دا دی چې غلام به د انسان په ملکيت کې وي. که چيري د بل چا په ملکيت کې وي. نو د هغه آزادول نه صحيح کيږي. او آزادي نه واقع کيږي. د هر يوه تفصيل به لاندې ذکر سي.

شرط الحرية إلخ: د مُعْتِق (آزادونکي) لپاره شرط دا دی چې غلام به د هغه په ملکيت کې وي. او کوم څوک چې د بل چا تر ملکيت لاندې وي (يعني غلام يا مينځه). د هغه په ملکيت کې هيڅ شی نه وي. د هغه په ملکيت کې چې کوم شيان وي. هغه ټوله د مالک وي. نو ځکه مملوک کس بل څوک نه سي آزادولای. مثلاً که يو غلام ته خپل مالک د تجارت اجازه ورکړې وي. او دغه تاجر غلام يو بل غلام رانيسي او د هغه آزادول وغواړي. نو آزادي نه واقع کيږي.

والبلوغ إلخ: د مُعْتِق لپاره بلوغت هم شرط دی. د دې يوه وجه خو دا ده چې نابالغه کوچنی د آزادولو أهل نه دی. او دويمه وجه دا ده چې په ظاهري توګه په آزادولو (إعتاق) کې د کوچني نقصان دی. د دې يو مثال ورکوي فرمايي چې: همدا وجه ده چې ولي د کوچني غلام نه سي آزادولای. ځکه چې په دې کې په ظاهري توګه د کوچني نقصان دی.

والعقل إلخ: د مُعْتِق لپاره عقل هم شرط او ضروري دي. ځکه چې مجنون د هيڅ تصرف أهل نه دی. او عتاق يو أهم تصرف دی. نو ځکه د هغه لپاره عقل هم شرط دی.

ولهذا لو قال إلخ: مصنف رَحِمَهُ الله وفرمايل چې د مُعْتِق لپاره بلوغت او عقل ضروري دی. نو له دې ځای څخه په همدې باره کې درې تفريعات بيانوي: ①... اوله تفريع دا ده چې که بالغ سړی دا دعوی وکړي چې ما په کوچنيوالي کې غلام آزاد کړی وو. نو د هغه خبره به منل کيږي، لېکن غلام نه آزاديږي. ②... دويمه تفريع دا ده چې که يو سړی عاقل وي. لېکن په يوه زمانه کې مجنون پاته سوی وي. او د هغه جنون ښکاره وي يعني ټولو خلګو ته معلوم وي. او اوس د عقل په حالت کې دا خبره کوي چې د جنون په حالت کې ما غلام آزاد کړی وو. نو د هغه خبره به منل کيږي. لېکن غلام نه

آزاديږي. په پورتني دواړو صورتونو كي ځكه غلام نه آزاديږي چي مُعْتِق د خپلو آزادولو نسبت ديو داسي وخت وطرف ته كړى دى چي په هغه وخت كي مُعْتِق دآزادولو أهل او قابل نه وو. يعني هغه نابالغ وو. يا مجنون وو.

③ دريمه تفريع دا ده چي كوچني تر څو نابالغه او بچى وي نو د هغه خبري اعتبار نه كيږي. لهذا كه هغه ووايي: زما په ملكيت كي چي هر څومره غلامان راسي. هغه ټوله زما دبلوغت وخت كي آزاد دي. نو د هغه غلامان نه آزاديږي: ځكه چي اوس (په كوچنيوالي كي) د هغه قول لره هيڅ اعتبار نسته. او د هغه قول پر هغه نه لازميږي.

ولا بد أن يكون العبد إلخ: فرمايي د مُعْتِق ملكيت هم ضروري دى چي غلام به د هغه په ملكيت كي وي. نو كه يو څوك د بل سړي غلام آزاد كړي. نو إعتاق (آزادول) نه صحيح كيږي. ځكه په حديث كي ذكر سوي دي چي "لَا عِتْقَ إِلَّا فِيْمَا يَمْلِكُ ابنُ آدَمَ". يعني انسان چي د كوم شي مالك نه وي. په هغه كي عتق نه نافذيږي. او همدارنګه دا د فقهي قاعده ده چي: "لَا يَجُوْزُ التَّصرُّفِ فِيْ مِلْكِ الْغَيْرِ". يعني د بل چا په ملكيت كي تصرف جائز نه دى. نو په دې حواله سره هم د بل چا غلام آزادول صحيح نه دي.

د إعتاق الفاظ

وَإِذَا قَالَ لِعَبْدِهِ أَوْ أَمَتِهِ: أَنْتَ حُرٌّ أَوْ مُعْتَقٌ أَوْ عَتِيقٌ أَوْ مُحَرَّرٌ او كله چي مالك خپل غلام يا مينځي ته ووايي: ته آزاد يې يا ته آزاد كړى سوى يې أَوْ قَدْ حَرَّرْتُكَ أَوْ قَدْ أَعْتَقْتُكَ يا ما ته آزاد كړى يې فَقَدْ عَتَقَ نو هغه آزاديږي نَوَى بِهِ الْعِتْقَ أَوْ لَمْ يَنْوِ هغه كه مالك په دې سره د عتق [آزادېدلو] نيت وكړي. يا يې نه وكړي لِأَنَّ هٰذِهِ الْأَلْفَاظَ صَرِيحَةٌ فِيهِ ځكه دا الفاظ د عتق لپاره صريح دي لِأَنَّهَا مُسْتَعْمَلَةٌ فِيهِ شَرْعًا وَعُرْفًا ځكه چي دا الفاظ د شرع او عرف دواړو په اعتبار سره د عتق لپاره مستعمل دي فَأَغْنَى ذٰلِكَ عَنِ النِّيَّةِ نو دا صريح كېدل له نيت څخه كفايت كوي [يعني دا صريح كېدل له نيت څخه بې پروايي راولي] وَالْوَضْعُ وَإِنْ كَانَ فِي الْإِخْبَارِ او د دې الفاظو وضع كه څه هم د إخبار [خبر وركولو] لپاره ده فَقَدْ جُعِلَ إِنْشَاءً فِي التَّصَرُّفَاتِ الشَّرْعِيَّةِ لِلْحَاجَةِ لېكن د ضرورت په وجه هغه په تصرفاتِ شرعيه وو كي د انشاء په معنىٰ سره ګرځول سوي ده كَمَا فِي الطَّلَاقِ وَالْبَيْعِ وَغَيْرِهِمَا لكه په طلاق او بيع او داسي نورو كي [چي داسي كيږي] وَلَوْ قَالَ: عَنَيْتُ بِهِ الْإِخْبَارَ الْبَاطِلَ او كه مالك ووايي: چي په دې الفاظو سره ما د دروغ خبر

ورکولو نیت کړی دی أَوْ أَنَّهُ حُرٌّ مِنَ الْعَمَلِ یا ا ووایي: په دې سره ما دا نیت کړی دی ا چې هغه له کار څخه آزاد دی صُدِّقَ دِيَانَةً نو دیانتاً به د هغه تصدیق کیږي لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُهُ ځکه چې دا ا الفاظ ا د دې احتمال اهم ا لري وَلَا يُدَيَّنُ قَضَاءً ا لیکن ا قضاءً به د هغه تصدیق نه کیږي لِأَنَّهُ خِلَافُ الظَّاهِرِ ځکه چې دا د ظاهر خلاف دي.

اللغات: ﴿مُعْتَق﴾ د افعال اسمِ مفعول دی: آزاد کړی سوی. ﴿عَتِيق﴾ د اسمِ مفعول (مُعْتَق) په معنیٰ سره دی: آزاد کړی سوی. د مُحَرَّرٌ هم دغه معنیٰ ده (عربي یو فصیح ژبه ده او د یوې معنیٰ لپاره ډېر الفاظ او لغات پکښې استعمال سوي وي، حتیٰ چې د شېر ازمري ا لپاره پنځه سوه نومونه استعمال سوي دي، همدارنګه د زیاتره معناوو لپاره څو چنده الفاظ په کې استعمال سوي وي. دا یوازې د عربي ژبې خاصیت او ځانګړتیا ده). ﴿أَغْنَى﴾ د افعال ماضي ده: بې پروا کول. مستغني کول. لېکن کله چې د دې باب په صله کي عَنْ راسي. نو معنیٰ یې راځي: کافي کېدل (کفایت کول). نائب کېدل. ﴿لَا يُدَيَّن﴾ د تفعیل له باب څخه د نفي مجهول صیغه ده: تصدیق کول.

تشریح: صورت مسئلې: دا دی که مالک خپل غلام یا مینځې ته ووایي: أَنْتِ حُرٌّ یا أَنْتِ مُعْتَقٌ یا أَنْتِ عَتِيقٌ یا أَنْتِ مُحَرَّرٌ یا قَدْ حَرَّرْتُكَ یا قَدْ أَعْتَقْتُكَ. نو هغه آزادیږي. هغه که مالک په دې الفاظو سره د آزادولو نیت کړی او که نه وي: ځکه چې دا الفاظ د آزادولو په معنیٰ کي بالاتفاق صریح او څرګند دي. او شرعاً او عرفاً د آزادولو په معنیٰ کي مستعمل دي. او الفاظ صریحه په عمل کولو کي د نیت محتاج نه دي. نو ځکه به له نیت څخه بغیر هم په دې الفاظو سره آزادي واقع کیږي.

والوضع إلخ: په اصل وضع کي دا الفاظ (أَنْتِ حُرٌّ. أَنْتِ مُعْتَق...إلخ) که څه هم د إخبار په معنیٰ سره دي، مګر په تصرفات شرعیه کي د ضرورت په جه د انشاء معنیٰ ته نقل سوي دي او د إنشاء په معنیٰ سره ګرځول سوي دي. لکه څرنګه چې په طلاق او بیع کي هم أَنْتِ طَالِقٌ او بِعْتُ و اِشْتَرَيْتُ د اصل وضع په اعتبار سره د إخبار لپاره دي. مګر د شرعي ضرورت په وجه د انشاء معنیٰ ته نقل سوي دي.

ولوقال إلخ: او که مالک ووایي: چې ما په دې الفاظو (أَنْتِ حُرٌّ...إلخ) سره دا نیت کړی دی چې "ته له کار او عمل څخه آزاد یې". نو په دې صورت کي حکم دا دی چې دیانتاً د هغه تصدیق کیږي. ځکه چې په دې الفاظو کي د نیت او ارادې احتمال هم سته. یعني په دې الفاظو کي هر لفظ د خپلې احتمالي معنیٰ احتمال هم لري، نو ځکه به دیانتاً د مالک تصدیق کیږي. لېکن قضاءً به د هغه

تصديق نه کيږي، ځکه چي دا (احتمالي معنىٰ مرادول) خلافُ الظاهر دي، او په خلافُ الظاهر شيانو کي قضاءً ديو چا تصديق نه کيږي او د نيت اعتبار يې نه کيږي، نو ځکه به قضاءً د مالک نيت معتبر نه وي.

خپل غلام ته د "اې آزاد!" ويلو حکم

وَلَوْقَالَ لَهُ: يَاحُرُّيَاعَتِيْقُ او که مالک خپل مملوک ته ووايي: اې آزاد! [يا] اې آزاد کړی سوې! يُعْتَقُ نو هغه آزاديږي لِأَنَّهُ نِدَاءٌ بِمَا هُوَصَرِيْحٌ فِي الْعِتْقِ ځکه چي دا په داسي لفظ سره رابلل آواز کول [دي] کوم چي په عتق کي صريح دی وَهُوَلِاسْتِحْضَارِ الْمُنَادٰى بِالْوَصْفِ الْمَذْكُوْرِ او نداء په وصف مذکور سره د منادىٰ حاضرولو لپاره وي هٰذَا هُوَحَقِيْقَتُهُ همدا د منادىٰ حقيقت دی فَيَقْتَضِي تَحَقُّقَ الْوَصْفِ فِيْهِ نو دا به په منادىٰ کي د [مذکوره] وصف د ثابتېدلو تقاضا کوي وَأَنَّهُ يَثْبُتُ مِنْ جِهَتِهِ او دا وصف د رابلونکي [آواز کونکي] له طرفه ثابتېدای [هم] سي فَيَقْضِي بِثُبُوْتِهِ تَصْدِيْقًا لَهُ فِيْمَا أَخْبَرَ لهذا د مالک د ورکول سوي خبر د تصديق لپاره به د دې وصف د ثابتېدلو تقاضا کوي وَسَنُقَرِّرُهُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى او دا به موږ انشاء الله وروسته بيان کړو إِلَّا إِذَا سَمَّاهُ حُرًّا ثُمَّ نَادَاهُ يَاحُرُّ مګر دا چي مالک پر خپل غلام د "حُرّ" نوم ايښی وي [او بيا] هغه ته آواز وکړي: يَا حُرّ [نو غلام نه آزاديږي] لِأَنَّ مُرَادَهُ الْإِعْلَامُ بِاِسْمِ عَلَمِهِ ځکه چي [دلته] د مالک مقصد په خپل نامه سره [غلام ته] خبر ورکول [د هغه رابلل] دي وَهُوَمَا لَقَّبَهُ بِهِ يعني په هغه لقب سره کوم چي مالک غلام ته ورکړی دی وَلَوْنَادَاهُ بِالْفَارِسِيَّةِ يَا آزَادُ او که مالک په فارسي ژبه هغه ته آواز وکړي [په فارسي ژبه ورته ووايي] اے آزاد! وَقَدْ لَقَّبَهُ بِالْحُرِّ حالانکي هغه غلام ته د "حُرّ" لقب ورکړی وي قَالُوا: يُعْتَقُ نو فقهاء فرمايي: چي [په دې صورت کي] غلام آزاديږي وَكَذَا عَكْسُهُ او همدارنګه که د دې برعکس وي [نو هم غلام آزاديږي] لِأَنَّهُ لَيْسَ بِنِدَاءٍ بِاسْمِ عَلَمِهِ ځکه چي دا په خپل نامه سره [د غلام] رابلل نه دي فَيُعْتَبَرُ إِخْبَارًا عَنِ الْوَصْفِ نو د إخبار عن الوصف اعتبار به کيږي. ايعني د حُرِّيت (آزادی) په وصف سره به د خبر ورکولو اعتبار کيږي[.

اللغات: ﴿إِسْتِحْضَار﴾ د استفعال مصدر دی: طلب د حاضرېدلو کول (حاضرول. موجودول).

﴿مُنَادٰى﴾ چا ته چي آواز وسي. څوک چي راوبلل سي. هغه ته مُنَادٰى وايي. او رابللو ته نِدَاء وايي.

﴿إِعْلَام﴾ د افعال مصدر دی: خبر ورکول. دلته ځني مراد رابلل او نداء کول دي. ﴿لَقَّبَ﴾ د تفعیل ماضي ده: لقب ورکول. لقب پر ایښوول (ځانګړی نوم پر ایښوول).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو مالک خپل مملوک (غلام) په دې الفاظو سره را وبولي (یعني په دې الفاظو سره آواز ورته وکړي): يَا حُرّ. يَا يَا عَتِيق. نو هغه مملوک آزادیږي. ځکه چي دا په یو داسي لفظ سره رابلل دي کوم چي د آزادئ په معنیٰ کي صریح دی. او د نداء معنیٰ ده: منادیٰ په وصف مذکور سره حاضرول. همدا د منادیٰ حقیقي معنیٰ ده. نو دا به په منادیٰ کي د دې وصف د ثابتېدلو تقاضا کوي. او دا وصف یعني "آزادي" د را بلونکي له طرفه ثابتېدای هم سي (یعني حُرّیت او آزادي داسي وصف دی چي مالک یې په غلام کي ثابتولای سي. مطلب که هغه وغواړي نو غلام آزادولای سي). لهذا د مالک د قول د تصدیق په واسطه سره په منادیٰ یعني په مملوک کي د دې وصف ثابتېدل لازم سو. او کله چي په منادیٰ یعني په مملوک کي دا وصف ثابت سو. نو مملوک به د خپل مالک له طرفه آزادیږي.

إلاإذا إلخ: او که یو مالک پر خپل غلام د "حُرّ" (آزاد) نوم یا لقب ایښی وي. بیا هغه ته "يَا حُرُّ" ووایي. نو غلام نه آزادیږي. ځکه چي اوس د مالک مقصود په غلام کي د حُرّیت وصف ثابتول نه دي. بلکي په خپل نامه سره د هغه رابلل (راغوښتل) دي. نو ځکه به دا کلام د حُرّیت لپاره انشاء نه وي.

ولوناداه إلخ: او که دیو غلام نوم یا د هغه لقب "حُرّ" وي. او مالک په فارسي ژبه کي هغه ته "اے آزاد" ووایي. نو فقهاء فرمایي چي غلام آزادیږي. همدارنګه که د هغه نوم "آزاد" وي. او مالک په عربي ژبه "يَاحُرُّ" ورته ووایي. نو هم آزادیږي. ځکه چي په دې صورت کي په خپل نامه سره د هغه رابلل موجود نه سو. نو همدا خیال به کیږي چي مالک په دې سره په دغه غلام کي د وصف (حُرّیت) ثابتولو خبر ورکوي. او په مملوک کي د وصف (حُرّیت) په ثابتولو سره مملوک آزادیږي. نو ځکه به په دې صورت کي مملوک آزادیږي.

د جزء یا بدن وطرف ته د إعتاق نسبت کول

وَكَذَا لَوْ قَالَ: رَأْسُكَ حُرٌّ أَوْ وَجْهُكَ أَوْ رَقَبَتُكَ أَوْ بَدَنُكَ همدارنګه که مالک ووایي: ستا سر آزاد دی. یا ستا مخ. یا ستا غاړه. یا ستا بدن آزاد دی. نو غلام آزادیږي | **أَوْ قَالَ لِأَمَتِهِ: فَرْجُكِ حُرٌّ** یا خپلي مینځي ته ووایي: ستا شرمګاه آزاده ده انو مینځه آزادیږي | **لِأَنَّ هَذِهِ الْأَلْفَاظَ يُعَبَّرُ بِهَا عَنْ جَمِيعِ الْبَدَنِ** ځکه چي د دې الفاظو په ذریعه له ټوله بدن ځخه تعبیر کیږي **وَقَدْ مَرَّ فِي الطَّلَاقِ** او اد دې تفصیل | په کتاب الطلاق

کي تېر سو وَإِنْ أَضَافَهُ إِلَى جُزْءٍ شَائِعٍ او که مالک ا د غلام ا د جزءِ شائع وطرف ته د آزادۍ اعتق ا نسبت وکړي يَعْتِقُ ذٰلِكَ الْجُزْءُ نو په هغه جزء کي آزادي واقع کيږي ابيا په ټوله بدن کي نشر کيږي او ټوله بدن آزاديږي ا وَسَيَأْتِيكَ الِاخْتِلَافُ فِيهِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى او ژر به انشاء الله په دې سلسله کي اختلاف تا ته راسي.

اللغات: ﴿يُعَبَّرُ﴾ د تفعيل له باب څخه د مضارع مجهول صيغه ده: تعبير کول (مرادول). بيانول.
﴿جُزْء شَائِع﴾ مشترک جزء (مشترکه حصه). نشر سوی جزء (خپور سوی جزء). د بدن دريمه حصه. څلورمه حصه.... او د بدن نصف ته جزء شائع (مشترک جزء) وايي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مالک خپل مملوک (غلام يا مينځې) ته داسي ووايي: ستا سر آزاد دی. يا ستا مخ آزاد دی. يا ستا غاړه آزاده ده. يا ستا بدان آزاد دی. يا ستا فرج آزاد دی. نو په دې ټولو صورتونو کي پر مملوک آزادي واقع کيږي. ځکه چي په دې الفاظو سره د انسان له ټوله بدن څخه تعبير کيږي، نو ځکه به له رَأس، وَجْهُ او داسي نورو الفاظو څخه ټوله جسم او ټوله ملکيت مرادوي، او په بشپړه توګه به په مملوک کي آزادي واقع کيږي. لکه په كتابُ الطلاق کي چي د دې تفصيل تېر سو.

وإن أضافه إلخ: فرمايي که مالک د مملوک د يو جزءِ شائع وطرف آزادي منسوب کړي. مثلاً ورته ووايي: ستا دريمه حصه آزاده ده. يا ستا څلورمه حصه آزاده ده. يا مثلاً ستا لسمه حصه آزاده ده. نو اول په دې جزء کي آزادي واقع کيږي او بيا په ټوله بدن او جسم کي سرايت کوي او غلام آزاديږي. په دې سلسله کي د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله اختلاف دی چي هغه به انشاء الله ژر ستاسو په مخکي ذکر سي.

د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

وَإِنْ أَضَافَهُ إِلَى جُزْءٍ مُعَيَّنٍ لَا يُعَبَّرُ بِهِ عَنِ الْجُمْلَةِ او که مالک د يو داسي معين جزءِ وطرف ته د آزادۍ اعتق ا نسبت وکړي چي په هغه سره له ټوله بدن څخه تعبير نه کيږي كَالْيَدِ وَالرِّجْلِ لکه لاس او پښه لَا يَقَعُ عِنْدَنَا نو زموږ په نيز آزادي نه واقع کيږي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله وَالْكَلَامُ فِيهِ كَالْكَلَامِ فِي الطَّلَاقِ او په دې کي هغه بحث دی کوم چي په طلاق کي دی وَقَدْ بَيَّنَّاهُ او د طلاق بحث موږ امخکي ا بيان کړی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مالک د خپل مملوک آزادي د يو داسي معين جزء وطرف ته منسوبه کړي چي په هغه له ټوله بدن څخه تعبير نه کيږي. مثلاً ورته ووايي: يَدُكِ حُرٌّ. يا رِجْلُكِ حُرٌّ.

نو په دې صورت کې زموږ په نيز آزادي نه واقع کيږي. لېکن د امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمَا الله په نيز په دې صورت کې هم آزادي واقع کيږي. دا مسئله د طلاق د مسئلې په څير ده. او د دې پوره تفصيل موږ په کتاب الطلاق کې بيان کړی (چې که د معين جزء وطرف ته د طلاق نسبت وسي. نو آيا طلاق واقع کيږي. کنه؟ هلته يې وګورئ!).

د "لَا مِلْكَ لِيْ عَلَيْكَ" ويلو حکم

وَلَوْقَالَ: لَا مِلْكَ لِي عَلَيْكَ او که مالک ووايي: زما پر تا هيڅ ملکيت نسته وَنَوَى بِهِ الْحُرِّيَّةَ او په دې سره د آزادۍ نيت وکړي عَتَقَ نو مملوک آزاديږي وَإِنْ لَمْ يَنْوِ او که [په دې سره د آزادۍ] نيت نه وکړي لَمْ يُعْتَقْ نو نه آزاديږي لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ أَنَّهُ أَرَادَ لَا مِلْكَ لِي عَلَيْكَ لِأَنِّي بِعْتُكَ ځکه چې دا [جمله] د دې احتمال لري چې د مالک اراده به دا وي چې زما [ځکه] پر تا هيڅ ملکيت نسته ځکه چې ما ته خرڅ کړی يې وَيَحْتَمِلُ لِأَنِّي أَعْتَقْتُكَ او د دې احتمال [هم] لري [زما ځکه پر تا هيڅ ملکيت نسته] ځکه چې ما ته آزاد کړی يې فَلَا يَتَعَيَّنُ أَحَدُهُمَا مُرَادًا إِلَّا بِالنِّيَّةِ او له دې دواړه څخه يو مراد فقط په نيت سره متعين کيږي.

اللغات: ﴿حُرِّيَّة﴾ آزادي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مالک خپل مملوک ته ووايي: "لَا مِلْكَ لِيْ عَلَيْكَ" (زما پر تا هيڅ ملکيت نسته. يعني اوس پر تا زما ملکيت ختم سو). او په دې سره د آزادولو نيت وکړي. نو هغه آزاديږي. او که د آزادولو نيت نه وکړي. نو هغه نه آزاديږي. ځکه چې په لَا مِلْكَ عَلَيْکَ کې د ملکيت ختمېدلو په هکله دوه احتماله سته: ① ما ته خرڅ کړي. نو ځکه اوس پر تا زما ملکيت نسته. ② ما ته آزاد کړي. نو ځکه اوس پر تا زما ملکيت نسته. لهذا دا جمله د دوو معناوو احتمال لري. نو ځکه به د آزادېدلو (عتق) د معنی متعينولو لپاره نيت ضروري وي. ځکه له نيت څخه بغير به هيڅ يو احتمال متعين کېدلای نه سي.

د "إعتاق" کنايات

قَالَ: وَكَذَا كِنَايَاتُ الْعِتْقِ فرمايي: او همداسې د عتق کنايي الفاظ دي وَذٰلِكَ مِثْلُ قَوْلِهِ: خَرَجْتَ مِنْ مِلْكِيْ او هغه لکه د مالک دا قول: ته زما له ملکيت څخه ووتې وَلَا سَبِيْلَ لِيْ عَلَيْكَ زما پر تر هيڅ لاره نسته وَلَا رِقَّ لِيْ عَلَيْكَ پر تا زما لپاره غلامتوب نسته وَقَدْ خَلَّيْتُ سَبِيْلَكَ ما ستا لاره ايله کړه اما ستا

لاره پرېښووه؛ لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ نَفْيَ السَّبِيلِ وَالْخُرُوجَ عَنِ الْمِلْكِ وَتَخْلِيَةَ السَّبِيلِ بِالْبَيْعِ أَوِ الْكِتَابَةِ ځکه چي دا [الفاظ] د بيع او کتابت په ذريعه له ملکيت څخه د لاري نفي کولو او [له ملکيت څخه] د وتلو او د لاري ايله کولو احتمال لري كَمَا يَحْتَمِلُ بِالْعِتْقِ لکه څرنګه چي [دا الفاظ] په آزادېدلو سره [هم] [د دې اخروج عن الملكية او تخلية السبيل] احتمال لري فَلَا بُدَّ مِنَ النِّيَّةِ نو ځکه به نيت ضروري وي وَكَذَا قَوْلُهُ لِأَمَتِهِ: قَدْ أَطْلَقْتُكِ او همدارنګه د مالک دا قول خپلي مينځي ته: ما ته پرې ايښې يې لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ قَوْلِهِ: خَلَّيْتُ سَبِيلَكِ ځکه چي هغه د مالک د دې قول په شير دی: ما ستا لاره ايله کړه وَهُوَ الْمَرْوِيُّ عَنْ أَبِي يُوسُفَ او همدا [حکم] له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه نقل سوی دی بِخِلَافِ قَوْلِهِ: طَلَّقْتُكِ په خلاف د مالک د دې قول: ما تا ته طلاق درکړی دی [په دې سره آزادي نه واقع کيږي] عَلَى مَا نُبَيِّنُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللهُ چي وروسته به موږ انشاء الله د دې بيان وکړو.

اللغات: ﴿خَلَّيْتُ﴾ د تفعيل له باب څخه د واحد متکلم ماضي صيغه ده: پرېښوول. ايله کول (لاره خلاصول. لاره آزادول). خَلَّيْتُ سَبِيْلَکَ: ما ستا لاره ايله کړې ده (يعني مخ دي ايله دی. هري خوا ته چي ځې، ځه!). ﴿أَطْلَقْتُ﴾ د افعال له باب څخه مخکنۍ صيغه ده: پرېښوول. ايله کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مالک د کنايي الفاظو په ذريعه خپل مملوک آزاد کړي. مثلاً ورته ووايي: "ته زما له ملکيت څخه وتلی يې". يا ورته ووايي: "پر تا زما هيڅ لاره نسته". يا "پر تا زما لپاره غلامتوب نسته". يا "ما ستا لاره ايله کړه". نو که په دې ټولو صورتونو کي مالک د آزادېدلو (عتق) نيت کړی وي. نو پر مملوک آزادي واقع کيږي. کنې نه واقع کيږي. ځکه چي په دې الفاظو کي د بيع يا کتابت په ذريعه د ملکيت نفي کولو او د لاري ايله کولو احتمال هم سته. او د عتق په ذريعه له ملکيت څخه د وتلو او د لاري ايله کولو احتمال هم سته (يعني په دې الفاظو کي دوه احتماله سته). لهذا د يوه احتمال د تعيين لپاره نيت ضروري دی. او د نيت مطابق به د آزادېدلو او نه آزادېدلو فيصله کيږي. نو ځکه موږ وايو چي په دې الفاظو کي د عتق د وقوع لپاره د مالک له طرفه د عتق نيت ضروري دي. که نيت وکړي. نو آزادي واقع کيږي. کنې نه واقع کيږي.

وکذا قوله إلخ: فرمايي که مالک خپلي مينځي ته ووايي: قَدْ أَطْلَقْتُكِ (ما ته پرېښوولې). نو په دې سره هم له نيت څخه بغير آزادي نه واقع کيږي. ځکه چي په دې کي هم د عتق او لاري ايله کولو

(تخلیة السبیل) دواړو احتمال سته. لهذا له نیت څخه بغیر به عتق نه ثابتیږي. همدا د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله روایت دی.

د دې په خلاف که مالک خپلې مینځې ته داسې ووایي: "طَلَّقْتُكِ ما تا ته طلاق درکړی". او بیا ووایي چې ما په دې سره د آزادولو نیت کړی دی. نو په دې صورت کې د نیت کولو باوجود آزادي نه واقع کیږي. ځکه چې دا لفظ (طَلَّقْتُكِ) د طلاق لپاره صریح دی. لهذا په هیڅ صورت کې په دې سره آزادي واقع کېدلای نه سي.

د "إعتاق" کنایات

وَلَوْ قَالَ: لَا سُلْطَانَ لِي عَلَيْكِ او که مالک ووایي: پر تا زما هیڅ بادشاهت [سلطنت] نسته وَنَوَى الْعِتْقَ او په دې سره [د آزاد والي نیت وکړي لَمْ يُعْتَقْ نو مملوک نه آزادیږي لِأَنَّ السُّلْطَانَ عِبَارَةٌ عَنِ الْيَدِ ځکه چې له سلطنت څخه قبضه مراد ده وَسُمِّيَ السُّلْطَانُ بِهِ لِقِيَامِ يَدِهِ او باچا ته ځکه سُلطان وایي چې د هغه قبضه [پر ټوله ملک] قائم وي وَقَدْ يَبْقَى الْمِلْكُ دُونَ الْيَدِ او کله نا کله ملکیت له قبضې څخه بغیر پاتیږي [یعني کله حالت داسې وي چې ملکیت پاته وي. لیکن قبضه نه وي] كَمَا فِي الْمُكَاتَبِ لکه په مکاتب کې بِخِلَافِ قَوْلِهِ: لَا سَبِيلَ لِي عَلَيْكَ په خلاف د مالک د دې قول: زما پر تا هیڅ لاره نسته [یعني په دې سره آزادي واقع کیږي] لِأَنَّ نَفْيَهُ مُطْلَقًا بِانْتِفَاءِ الْمِلْكِ ځکه چې د سبیل مطلقاً نفي کول د ملکیت په نفي کولو سره ثابتیږي [مطلب دا چې په دې جمله سره ټوله ملکیت نفي کیږي] لِأَنَّ لِلْمَوْلَى عَلَى الْمُكَاتَبِ سَبِيلًا ځکه چې مالک پر مکاتب لاره لري فَلِهَذَا يَحْتَمِلُ الْعِتْقَ نو په دې وجه دا [جمله] د آزادوالي احتمال لري.

اللغات: ﴿سُلْطَان﴾ باچا، باچاهي، سلطنت (بادشاهت)، غلبه، تسلط (قبضه). ﴿سُمِّيَ﴾ د تفعیل له باب څخه د ماضي مجهولي صیغه ده: نوم ایښوول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که مالک خپل مملوک ته ووایي: "لَا سُلْطَانَ لِي عَلَيْكَ" (زما پر تا هیڅ بادشاهت نسته) او په دې جملې سره د آزادۍ هم نیت وکړي. نو هم غلام نه آزادیږي. ځکه چې د سُلطان معنیٰ ده: قبضه. باچا ته په همدې وجه سُلطان وي چې پر ملک د هغه قبضه وي. لنډه دا چې سُلطان د قبضې په معنیٰ سره دی. او کله نا کله داسې وي چې د انسان ملکیت باقي پاته وي. لیکن

قبضه يې پاته نه وي. لكه په مكاتب كي چي د مالك ملكيت پاتيږي. لېكن قبضه يې نه پاتيږي. نو ځكه به دلته په دې مسئله كي پر مملوك آزادي نه واقع كيږي.

د دې په خلاف كه مالك خپل مملوك ته "لَا سَبِيْلَ عَلَيْكَ" ووايي. او په دې سره د آزادۍ نيت وكړي. نو مملوك آزاديږي. ځكه چي د "لَا سَبِيْلَ عَلَيْكَ" مطلقاً ويل د ټوله ملكيت نفي كېدلو او ختمېدلو لره مستلزم دي. او پر مكاتب كه څه هم مالك قبضه نه لري. لېكن د ملكيت لاره پر لري. نو ځكه به د مكاتب په حق كي "لَا سَبِيْلَ عَلَيْكَ" د عتق او آزادۍ احتمال لري. او مكاتب به آزاديږي.

غلام خپل زوی ګرځول

وَلَوْقَالَ: هٰذَا اِبْنِيْ وَثَبَتَ عَلٰى ذٰلِكَ او كه مالك ووايي: دا [غلام] زما زوی دی او پر دې ثابت پاته سي [ايعني پر خپل دې خبره ټينګ پاته سي] عَتَقَ نو هغه [غلام] آزاديږي وَمَعْنَى الْمَسْأَلَةِ: إِذَا كَانَ يُوْلَدُ مِثْلُهُ لِمِثْلِهِ او د مسئلې مطلب دا دی: چي كله د هغه [غلام] په څير كس له داسي سړي [مالك] څخه پيدا كېدای سي فَإِنْ كَانَ لَا يُوْلَدُ مِثْلُهُ لِمِثْلِهِ او كه د هغه په څير كس له داسي سړي څخه نه سي پيدا كېدلای ذَكَرَهُ بَعْدَ هٰذَا نو دا [مسئله] يې وروسته ذكر كړې ده ايعني د دې مسئلې حكم به وروسته بيان سي] ثُمَّ إِنْ لَمْ يَكُنْ لِلْعَبْدِ نَسَبٌ مَعْرُوْفٌ او بيا كه د غلام نسب معلوم نه وي يَثْبُتُ نَسَبُهُ مِنْهُ نو د هغه نسب به د دې مالك سره ثابتيږي لِأَنَّ وِلَايَةَ الدَّعْوَةِ بِالْمِلْكِ ثَابِتَةٌ ځكه چي [د نسب د دعوىٰ] ولايت د ملك په وجه سره ثابت دی وَالْعَبْدُ مُحْتَاجٌ إِلَى النَّسَبِ او غلام نسب ته مجبور هم دی فَيَثْبُتُ نَسَبُهُ مِنْهُ نو ځكه به د هغه نسب د مالك سره ثابتيږي وَإِذَا ثَبَتَ عَتَقَ او كله چي نسب ثابت سي نو غلام به آزاديږي لِأَنَّهُ يَسْتَنِدُ النَّسَبُ إِلَى وَقْتِ الْعُلُوْقِ ځكه چي نسب به د علوق د وخت وطرف ته منسوب كيږي ايعني له كوم وخت چي دا غلام د مور په نس كي قرار نيولی وي. له هغه وخت څخه به هغه آزاد شمارل كيږي] وَإِنْ كَانَ لَهُ نَسَبٌ مَعْرُوْفٌ او كه د غلام نسب معلوم وي لَا يَثْبُتُ نَسَبُهُ مِنْهُ نو د دې مالك سره به د هغه نسب نه ثابتيږي لِلتَّعَذُّرِ ځكه چي دا ناممكن دي وَيُعْتَقُ او غلام به آزاديږي إِعْمَالًا لِلَّفْظِ فِي مَجَازِهٖ عِنْدَ تَعَذُّرِ إِعْمَالِهٖ بِحَقِيْقَتِهٖ ځكه چي د لفظ په حقيقي معنىٰ سره د عمل د ناممكنوالي په وخت كي د لفظ مجازي معنىٰ ته عمل وركول كيږي وَوَجْهُ الْمَجَازِ نَذْكُرُهُ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ او د مجاز وجه [او بحث] به مونږ انشاء الله وروسته ذكر كړو.

اللغات: ﴿يُسْتَرْبَدُ﴾ د استفعال مضارع ده: نسبت كېدل (منسوب كېدل). ﴿عُلُوْق﴾ د حمل قرار نيول. يعني په رحم كي نطفه قرار نيول، حامله كېدل (بلاربېدل). ﴿تَعَذُّر﴾ د تفعل مصدر دی: نا ممكن كېدل. ﴿إِعْمَال﴾ د افعال مصدر دی: عمل وركول. ﴿حَقِيْقَة﴾ لفظ په خپله اصلي معنیٰ سره استعمالول. ﴿مَجَاز﴾ لفظ په بله معنیٰ سره استعمالول. په بله معنیٰ سره د لفظ استعمالولو لپاره دا ضروري دي چي د حقيقي او مجازي معنیٰ په مينځ كي به يو مشترک علت موجود وي.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی كه يو مالک خپل غلام ته ووايي: "هٰذا إِبْنِيْ" (دا زما زوی دی). او پر همدې خبره ټينګ پاته سي، نو كه د مالک او غلام په عمر كي دومره تفاوت وي چي له مالک څخه د داسي غلام پيدا كېدل ممكن وي. نو دا غلام آزادېږي. ځكه چي په حديث كي ذكر سوي دي: "مَنْ مَلَكَ ذَا رَحْمٍ مَحْرَمٍ عَتَقَ عَلَيْهِ" (يعني كوم سړی چي د خپل ذی رحم محرم قريب مالک سي، نو هغه قريب پر ده آزادېږي)، لهذا دا غلام به فوراً آزادېږي. او كه د دې غلام نسب معلوم نه وي (يعني د يو بل چا سره يې نسب ثابت نه وي)، نو د مالک سره د هغه نسب هم ثابتېږي. ځكه چي د نسب د ثبوت لپاره د نسب د دعوىٰ ولايت د مالک (مولیٰ) د مالک كېدلو په وجه ثابت دی. او غلام ته د نسب ثابتېدلو ضرورت هم سته (ځكه چي حرامي بچی د شريعت په نظر كي ښه خبره نه ده). نو ځكه به نسب ثابتېږي. او كله چي نسب ثابتېږي، نو غلام به هم آزادېږي. ځكه چي اوس به نسب د علوق يعني د حمل د وخت وطرف ته منسوب كېږي. او له هغه وخت څخه به آزادي هم ثابتېږي. او دغه غلام به د علوق له وخت څخه آزاد شمارل كېږي.

وإن كان إلخ: فرمايي كه د غلام نسب معلوم وي، نو په دې صورت كي د مالک سره د هغه نسب نه ثابتېږي: ځكه كله چي د هغه نسب د يو بل چا سره ثابت وي، نو د مالک سره د هغه نسب ثابتېدل ستونزمن او ناممكن دي. لهذا نسب خو به نه ثابتېږي. لېكن غلام به آزادېږي. د دې لپاره چي لفظ پر خپله مجازي معنیٰ محمول كړی سي. ځكه قاعده دا ده چي كله د لفظ پر حقيقي معنیٰ عمل كول نا ممكن وي، نو په دې صورت كي به د مجاز وطرف ته رجوع كېږي. د قاعدې الفاظ دا دي: إِذَا تَعَذَّرَتِ الْحَقِيْقَةُ يُصَارُ إِلَى الْمَجَازِ.

خپل غلام ته د "مولیٰ او مالک" ویلو حکم

وَلَوْقَالَ: هٰذَا مَوْلَايَ او که چیرې مالک اخپل غلام ته اشاره وکړي او ووايي: دا زما مولیٰ دی ایعني دا زما مالک دی ا أَوْيَا مَوْلَايَ يا اورته ووايي ا: اې زما مولیٰ اای زما مالکه! ا عَتَقَ نو اغلام اآزادیږي أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِأَنَّ اسْمَ الْمَوْلَى وَإِنْ كَانَ يَنْتَظِمُ النَّاصِرَ وَابْنَ الْعَمِّ وَالْمُوَالَاةَ فِي الدِّينِ وَالْأَعْلَى وَالْأَسْفَلَ فِي الْعَتَاقَةِ او کوم چې اول لفظ دی ایعني هٰذا مولای انو ځکه چې د مولیٰ لفظ که هم څه شاملیږي مدکونکي ته او د اکا زوی ته او په دین کې موالات ته او په آزادولو کې لوړ او لاندي ته ایعني آزادونکي مالک او آزاد کړی سوي غلام ته. یعني که څه هم د مولیٰ لفظ د دې ټولو معناوو لپاره استعمالیږي ا إِلَّا أَنَّهُ تَعَيَّنَ الْأَسْفَلُ لیکن ادلته فقط ا لاندي ایعني آزاد کړی سوی غلام امتعین دی فَصَارَ كَاسْمٍ خَاصٍّ لَهُ نو اګواکي دلته ا د مولیٰ لفظ د أسفل آزاد کړی سوي غلام ا لپاره خاص وګرځېدی وَهٰذَا لِأَنَّ الْمَوْلَى لَا يَسْتَنْصِرُ بِمَمْلُوكِهِ عَادَةً او دا ځکه چې مولیٰ عموماً له مملوک شخصه د مدد طلب نه کوي الهذا دلته د مولیٰ په لفظ سره ناصر (مدد کونکي) مرادېدلای نه سي ا وَلِلْعَبْدِ نَسَبٌ مَعْرُوفٌ او د غلام نسب معلوم وي الهذا دلته د مولیٰ په لفظ سره ابن عم (د اکا د زوی) مرادېدلای نه سي ا فَانْتَفَى الْأَوَّلُ وَالثَّانِي نو اوله معنیٰ او دویمه معنیٰ ایعني ناصر او ابن عم امنتفي سوه وَالثَّالِثُ نَوْعُ مَجَازٍ او په دریمه معنیٰ ایعني په موالات فه الدین ا کي یو قسم مجازي معنیٰ سته وَالْكَلَامُ لِلْحَقِيقَةِ حالانکي ادلته ا کلام د حقیقي معنیٰ لپاره دی وَالْإِضَافَةُ إِلَى الْعَبْدِ تُنَافِي كَوْنَهُ مُعْتِقًا او د غلام و طرف ته اد مولیٰ ا نسبت کول د دې منافي دي چې هغه دي آزادونکي وي فَتَعَيَّنَ الْمَوْلَى الْأَسْفَلُ نو ځکه أسفل مولیٰ آآزاد کړی سوی غلام امتعین سو فَالْتَحَقَ بِالصَّرِيحِ او د صریح سره لاحق سو وَكَذَا إِذَا قَالَ لِأَمَتِهِ: هٰذِهِ مَوْلَاتِي او همدارنګه که مالک خپلي مینځې ته ووايي: دا زما مالکه ده انو مینځه آزادیږي ا لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ اوس ا بیان کړی وَلَوْقَالَ: عَنَيْتُ بِهِ الْمَوْلَى فِي الدِّينِ او که مالک ووايي: چې ما په دې سره د مولیٰ فی الدین نیت کړی دی أَوِ الْكَذِبَ یا د دروا غو انیت مي کړی دی ا يُصَدَّقُ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ تَعَالَى نو دیانتاً (فیما بینهٗ وبین الله) به د هغه تصدیق کیږي وَلَا يُصَدَّقُ فِي الْقَضَاءِ لیکن په قضاء اا و د قاضي په دربار ا کي به د هغه تصدیق نه کیږي لِمُخَالَفَتِهِ الظَّاهِرَ ځکه چې دا د ظاهر خلاف دي وَأَمَّا الثَّانِي فَلِأَنَّهُ لَمَّا تَعَيَّنَ الْأَسْفَلُ مُرَادًا او کوم چې

دويم لفظ دی ايعني يا مولای ا نو کله چي د أسفل مراد بدل متعين سو اَلتَّحَقَ بِالصَّرِيحِ نو دا اهم ا د صريح لفظ سره لاحق سو وَبِالنِّدَاءِ بِاللَّفْظِ الصَّرِيحِ يُعْتَقُ او په صريح لفظ ا د غلام ا په رابللو سره غلام آزاديږي بِأَنْ قَالَ: يَا حُرُّ يَا عَتِيقُ په دې توګه چي مالک وواييي: اې آزاده! ا يا ا اې آزاد کړی سوی! فَكَذَا النِّدَاءُ بِهٰذَا اللَّفْظِ لهذا په دې لفظ به هم اد غلام ا په رابللو سره اغلام آزاديږي ا وَقَالَ زُفَرُ: لَا يُعْتَقُ فِي الثَّانِي او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دويم لفظ ايعني په يا مولای ا کي غلام نه آزاديږي لِأَنَّهُ يُقْصَدُ بِهِ الْإِكْرَامُ بِمَنْزِلَةِ قَوْلِهِ يَا سَيِّدِیْ يَا مَالِكِیْ ځکه چي د يَا سَيِّدِی. يَا مَالِكِیْ په څير په دې قول سره اهم ا إکرام اعزت ورکول ا مراديږي قُلْنَا: اَلْكَلَامُ لِحَقِيقَتِهٖ موږ وايو: چي کلام د خپلي حقيقي معنیٰ لپاره وي ايعني موږ جواب ورکوو چي کله د کلام په حقيقي معنیٰ عمل کول ممکن وي. نو بيا له هغه څخه خپله حقيقي معنیٰ مراديږي ا وَقَدْ أَمْكَنَ الْعَمَلُ بِهٖ او ا دلته ا په حقيقي معنیٰ عمل کول ممکن دي بِخِلَافِ مَا ذَكَرَهٗ په خلاف د هغه ا الفاظو ا کوم چي امام زفر رَحِمَهُ الله ذکر کړه لِأَنَّهٗ لَيْسَ فِيهِ مَا يَخْتَصُّ بِالْعِتْقِ ځکه چي په هغه کي ا بالکل ا داسي معنیٰ نسته کوم چي د عتق ا د معنیٰ ا سره خاص وي فَكَانَ إِكْرَامًا مَحْضًا نو ځکه به هغه محض إکرام وي ايعني له هغه څخه به محض د إکرام او عزت معنیٰ مراديږي ا.

اللغات: ﴿مَوْلٰی﴾ آزادونکی مالک. آزاد کړی سوی غلام (دا لفظ د دې دواړو معناوو لپاره استعماليږي. خو دلته ځني مراد دويمه معنیٰ "آزاد کړی سوی غلام" دی). ﴿نَاصِر﴾ د نصر له باب څخه اسم فاعل دی: مدد کونکی (مددګار). مرستيال. ﴿مُوَالَات فِي الدِّيْن﴾ که يو سړی خپل کور پرېږدي او په يو بل خاندان کي استوګن سي او بيا دا سړی هغه خاندان والا ته وواييي: که زه مړ سم نو تاسي زما وارثان (ميراث خوره) ياست. او که پر ما يو تاوان او قرض لازم وي نو تاسي به هغه اداء کوئ. او خاندان والا د ده خبري قبول کړي. نو داسي معاملې او تړون ته "مُوَالَات فِي الدِّيْن" واييي. ﴿الْأَعْلٰی فِي الْعَتَاقَة﴾ په آزادولو کي لوړ. له دې څخه آزادونکی کس مراد دی. ﴿الْأَسْفَل فِي الْعَتَاقَة﴾ په آزادولو کي لاندي. له دې څخه غلام مراد دی. ﴿لَا يَسْتَنْصِرُ﴾ د استفعال له باب څخه د نفي صيغه ده: مدد غوښتل (د مرستې طلب کول).

يادونه: دا عبارت څه اوږد او ستونزمن دی او صاحب د أثمار الهدايې په غوره ترتيب سره حل کړی دی. نو ځکه موږ دلته د هغه ترتيب اختيار و.

تشريح : صورت د مسئلې : دا دی که مالک خپل غلام ته ووايي : يَا مَوْلَايَ (اې زما مالکه !) . يا د هغه وطرف ته اشاره وکړي او ووايي : هٰذَا مَوْلَايَ (دا زما مالک دی) . نو زموږ په نيز په دواړو صورتونو کې غلام آزاديږي . که څه هم مالک د غلام آزادېدلو نيت نه وکړي . ليکن د امام زفر او ائمه ثلاثه وو په نيز له نيت څخه بغير غلام نه آزاديږي .

زموږ دليل : زموږ د دليل خلاصه دا ده چې د "مَوْلیٰ" لفظ پنځه معناوې لري . څلور معناوې دلته نه سي مراد کېدلای ، نو ځکه به پنځمه آخري معنیٰ متعين کيږي او آزادي به واقع کيږي .

د "مولیٰ" پنځه معناوي : ① د مولیٰ اوله معنیٰ ده : مدد کونکی (مرستيال) . دا معنیٰ دلته ځکه نه سي مراد کېدلای چې مالک عموماً له خپل غلام څخه مرسته نه غواړي (بلکې خدمت په کوي) . ② د مولیٰ دويمه معنیٰ ده : د اکا زوی ، دا ځکه مراد کېدلای نه سي چې د غلام نسب مشهور او معروف دی ، نو ځکه د هغه د اکا زوی نه سي کېدلای . ③ د مولیٰ دريمه معنیٰ ده : په دين کې دنته موالات (مَوَالَاتَ فِي الدِّيْن) . دا معنیٰ ځکه نه سي مرادېدلای چې دا د مولیٰ مجازي معنیٰ ده . حالانکې کله چې پر حقيقي معنیٰ کول ممکن وي ، نو مجازي معنیٰ نه سي مرادېدلای . بلکې حقيقي معنیٰ به مراديږي . ④ د مولیٰ څلورمه معنیٰ ده : آزادونکی مالک . دا معنیٰ ځکه مراد کېدلای نه سي چې غلام آزادونکي نه سي جوړېدلای ، ځکه چې هغه په خپله غلام دی . نو بل څوک به يې څنګه آزاد کړي وي ! . ⑤ د مولیٰ پنځه معنیٰ ده : آزاد سوی غلام (آزاد شده غلام) . مخکنۍ څلور معناوې مراد کېدلای نه سي ، نو ځکه به اوس دغه آخري پنځه معنیٰ متعين کيږي او غلام به آزاديږي . او په دې کې به د نيت هيڅ ضرورت هم نه وي ، ځکه چې دلته د مولیٰ لفظ د آزادولو په معنیٰ کې صريح دی . ګواکې مالک صراحتاً ووېل : "ته آزاد يې" او صريح لفظ د نيت محتاج نه وي ، نو ځکه به له نيت څخه بغير هم غلام آزاديږي . (په عبارت کې له "الأَوَّل" څخه د مولیٰ اوله معنیٰ مراد ده يعنې مدد کونکی ، له "الثَّانِي" څخه دويمه معنیٰ مراد ده يعنې د اکا زوی ، له "الثَّالِث" څخه دريمه معنیٰ مراد ده يعنې مولیٰ في الدين ، دا د مولیٰ مجازي معنیٰ ده) .

وکذا قال لأمته إلخ : فرمايي که مالک خپلې مينځې ته اشاره وکړي او ووايي : "هٰذِهٖ مَوْلَاتِيْ" (دا زما مالکه ده) . نو دلته به هم د مولیٰ له پنځو معناګانو څخه پنځمه آخري معنیٰ متعين کيږي او مينځه به آزاديږي ، دليل پورته ذکر سو .

ولو قال عنيتُ إلخ: او که مالک ووايي چي ما په "هٰذا مَوْلَایَ" سره د مولیٰ في الدين (مَوَالَات فِي الدِّيْن) نيت کړی دی. نو يو خو دا مجازي معنیٰ ده او بل د ظاهر خلاف ده. نو ځکه به فقط ديانتاً د هغه تصديق کيږي. لیکن قضاءً به د هغه تصديق نه کيږي. همدارنګه که هغه ووايي چي "ما دروغ ووېل". نو ديانتاً به د هغه تصديق کيږي. لیکن قضاءً به يې خبره نه منل کيږي.

وأما الثاني إلخ: يعني په دويم لفظ (يَا مَوْلَایَ) کي د مولیٰ له پنځو معناګانو څخه آخري معنیٰ متعينه سوه. نو ګواکي هغه صراحتاً ووېل: "اې آزاده". نو ځکه به له نيت څخه بغير هم آزاديږي. ځکه چي په صريح لفظ کي نيت ته هيڅ ضرورت نسته.

د امام زفر دليل: دا دی چي که څوک خپل غلام ته "يَا سَيِّدِيْ" او "يَا مَالِکِيْ" ووايي نو نه آزاديږي. همداسي به د "يَا مَوْلَایَ" په ويلو سره هم نه آزاديږي. ځکه چي په دې لفظ سره إکرام او عزت ورکول مقصود دي. آزادول مقصود نه دي.

زموږ جواب دا دی چي إکرام او عزت د "يَا مَوْلَایَ" مجازي معنیٰ ده او دلته پر حقيقي معنیٰ يعني پر "آزادولو" عمل کېدای سي. نو ځکه به د مجازي معنیٰ وطرف ته رجوع نه کيږي. بلکي حقيقي معنیٰ به مراديږي او غلام به آزاديږي. او په "يَا مَالِکِيْ" او يا "يَا سَيِّدِيْ" کي بالکل د "آزادولو" معنیٰ نسته. نو ځکه به هلته فقط د إکرام او تعظيم معنیٰ مراديږي او غلام به نه آزاديږي. په دواړو الفاظو کي همدغه فرق دی.

خپل غلام ته د "زوی" يا "ورور" ويلو حکم

وَلَوْقَالَ: يَا ابْنِيْ أَوْ يَا أَخِيْ او که مالک ووايي: اې زما زويه يا اې زما وروره! لَمْ يُعْتَقْ نو غلام نه آزاديږي لِأَنَّ النِّدَاءَ لِإِعْلَامِ الْمُنَادٰى ځکه چي نداء د منادیٰ د خبرولو [رابللو] لپاره وي إِلَّا أَنَّهُ إِذَا كَانَ بِوَصْفٍ يُمْكِنُ إِثْبَاتُهُ مِنْ جِهَتِهٖ مګر که هغه په يو داسي وصف سره وي چي هغه د رابلونکي له طرفه ثابتېدای سي كَانَ لِتَحْقِيْقِ ذٰلِكَ الْوَصْفِ فِي الْمُنَادٰى نو هغه به په منادیٰ کي د هغه وصف د ثبوت لپاره وي اسْتِحْضَارًا لَهُ بِالْوَصْفِ الْمَخْصُوْصِ د دې لپاره چي منادیٰ په هغه ځانګړي وصف سره حاضر کړی سي كَمَا فِيْ قَوْلِهٖ: يَا حُرُّ لکه د مالک په دې قول کي: يَا حُرُّ عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ لکه څرنګه چي [مخکي] موږ د دې بيان وکړی وَإِذَا كَانَ النِّدَاءُ بِوَصْفٍ لَا يُمْكِنُ إِثْبَاتُهُ مِنْ جِهَتِهٖ. او که چيري نداء په داسي وصف سره وي چي

هغه د رابلونکي له طرفه نه سي ثابتېدای كَانَ لِلْإِعْلَامِ الْمُجَرَّدِ نو دا نداء به فقط د خبر ورکولو [رابللو] لپاره وي دُونَ تَحْقِيقِ الْوَصْفِ فِيهِ نه په منادیٰ کي د [هغه ځانګړي] وصف د ثابتولو لپاره لِتَعَذُّرِهٖ ځکه چي د هغه ثابتول ناممکن دي وَالْبُنُوَّةُ لَا يُمْكِنُ إِثْبَاتُهَا حَالَةَ النِّدَاءِ مِنْ جِهَتِهٖ او زوی کېدل [زوي والي] يو داسي وصف دی چي د ندا کولو [رابللو] په وخت کي د رابلونکي له طرفه نه سي ثابتېدای لِأَنَّهٗ لَوِ انْخَلَقَ مِنْ مَاءِ غَيْرِهٖ لَا يَكُونُ ابْنًا لَهٗ بِهٰذَا النِّدَاءِ ځکه که هغه [رابلل سوی غلام] د بل چا له نطفې څخه پيدا سوی وي نو په دې رابللو سره هغه د ده [رابلونکي] زوی نه ګرځي فَكَانَ لِمُجَرَّدِ الْإِعْلَامِ نو ځکه به دا نداء فقط د خبر ورکولو [رابللو] لپاره وي وَيُرْوٰى عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ شَاذًّا أَنَّهٗ يُعْتَقُ فِيهِمَا او له امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ څخه يو شاذ روايت دا دی: چي په دې دواړو [الفاظو] سره غلام آزاديږي وَالْاِعْتِمَادُ عَلَى الظَّاهِرِ لېکن اعتماد پر ظاهر روايت دی وَلَوْ قَالَ: يَا ابْنُ او که چيري مالک ووايي: اې زويه! لَا يُعْتَقُ نو غلام نه آزاديږي لِأَنَّ الْأَمْرَ كَمَا أَخْبَرَ ځکه چي معامله همداسي ده لکه څرنګه چي مالک خبر ورکړی دی فَإِنَّهُ ابْنُ أَبِيهِ ځکه چي دغه غلام د خپل پلار زوی دی وَكَذَا إِذَا قَالَ: يَا بُنَيَّ أَوْ يَا بُنَيَّةُ او همدارنګه کله چي مالک ووايي: اې زويکيه! يا اې لورکۍ انو دوی نه آزاديږي] لِأَنَّهٗ تَصْغِيرُ الْاِبْنِ وَالْبِنْتِ مِنْ غَيْرِ إِضَافَةٍ ځکه چي دا له اضافت څخه بغير [فقط] د اِبن او بِنت تصغير دی وَالْأَمْرُ كَمَا أَخْبَرَ او معامله همداسي ده لکه څرنګه چي هغه خبر ورکړی دی.

اللغات: ﴿مُنَادٰى﴾ څوک چي راوبلل سي هغه ته "مُنادیٰ" وايي. (چا ته چي آزاد وکړی سي. څوک چي را وغوښتل سي). ﴿مُجَرَّدٌ﴾ محض. صرف. فقط. ﴿بُنُوَّةٌ﴾ مصدر دی: زوي کېدل. زوي والی. ﴿إِنْخَلَقَ﴾ د انفعال ماضي صيغه ده: پيدا کېدل. په وجود کي راتلل.

تشريح: مخکي دا خبره ذکره سوه چي که مالک خپل غلام ته په يَا حُرُّ يَا عَتِيقُ او يَا مَوْلَايَ سره نداء (آواز) وکړي (او په دې الفاظو سره غلام راوبولي) نو غلام آزاديږي. په دې عبارت کي د هغه نور وضاحت کوي او د نداء نور صورتونه بيانوي فرمايي چي که مالک خپل غلام ته په يَا اِبْنِي او يَا أَخِي سره آواز وکړي (يعني اې زما زويه! يا: اې زما وروره!). نو غلام نه آزاديږي: د دې يوه دليل خو دا دی چي دغه الفاظ د محبت او ميني په توګه استعماليږي. او کله نا کله د احترام لپاره هم استعماليږي. لهذا د آزادولو (إعتاق) لپاره متعين نه سول. نو ځکه به په دې الفاظو سره غلام نه آزاديږي.

وَإِنَّ النِّدَاءَ لِإِعْلَامِ إلخ: دا دویم دلیل دی کوم چي څه مشکل دی. د ټوله اوږده دلیل آسانه خلاصه دا ده چي که مالک خپل غلام ته په یو داسي صفت سره نداء وکړي او په داسي صفت سره غلام را وبولي چي مالک هغه صفت په غلام کي ثابتولای سي، نو هغه صفت به ثابتیږي. مثلاً که مالک ووایي: یَا حُرُّ (اې آزاده!). نو مالک خو د آزادۍ صفت (حُرِّيَّت) په غلام کي ثابتولای سي. نو ځکه به په غلام کي دغه صفت ثابتیږي او غلام به آزادیږي. لیکن که مالک په یو داسي صفت سره غلام را وبولي چي مالک هغه صفت نه سي ثابتولای. نو د مالک قول به محض د آواز کولو او رابللو (نداء) لپاره وي او غلام به نه آزادیږي. مثلاً که یَا إِبْنِيْ ورته ووایي. نو مالک د إِبْن (زوي والي) صفت په غلام کي نه سي داخلولای. ځکه چي غلام د بل چا له نطفې څخه پیدا سوی دی. نو ځکه به دغه جمله محض د نداء او رابللو لپاره وي. نه د آزادولو لپاره. همدا ظاهر روایت دی. (إِعْلَام الْمُجَرَّد: محض د خبرولو لپاره. یعني محض د رابللو او آواز کولو لپاره. إِسْتِحْضَارًا لَهُ: مخامخ هغه (منادیٰ) حاضرول).

وعن أبي حنيفة إلخ: د دې په خلاف حسن بن زیاد له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه یو شاذ روایت دا هم نقل کړی دی چي که مالک خپل غلام ته یَا إِبْنِيْ او یَا أَخِيْ ووایي. نو غلام آزادیږي. لیکن دا روایت ډیر معمولي او نادر دی. نو ځکه صاحب د هدایې فرمایي چي "وَالْإِعْتِمَادُ عَلَى الظَّاهِرِ" یعني معتمد او معتبر ظاهر روایت دی.

ولو قال إلخ: د دې حاصل دا دی که مالک خپل غلام ته ووایي: "یَا اِبْن"، یعني "اې زویه!". او داسي نه ووایي: "اې زما زویه!". نو غلام نه آزادیږي. ځکه دلته د مالک خبره د واقع مطابق ده. ځکه چي دا غلام خو به خامخا د یو چا زوی وي. همدارنګه که مالک خپل غلام ته د تصغیر په توګه ووایي: "اې زویکیه!". یا مینځي ته ووایي "اې لورکۍ" او خپل طرف ته د هغه نسبت نه وکړي (یعني داسي نه ووایي: اې زما زویکیه!...). نو په دې صورت کي هم غلام او مینځه نه آزادیږي. ځکه چي دلته هم د مالک خبره د واقع او حقیقت مطابق ده. (الأَمْرُ كَمَا أَخْبَرَ: د دې جملې مطلب دا دی چي کوم څه مالک وایي معامله همداسي ده چي هغه خامخا د یو چا زوی دی).

غلام ته د "زوی" ویلو یو بل صورت

وَإِنْ قَالَ لِغُلَامٍ لَا يُولَدُ مِثْلُهُ لِمِثْلِهِ هَذَا ابْنِيْ او که مالک یو داسي غلام ته "هٰذا إِبْنِيْ" ووایي چي له داسي مالک څخه هغسي غلام پیدا کېدلای نه سي عَتَقَ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په

نېز هغه غلام آزادېږي وَقَالَا [1]: لَا يُعْتَقُ او صاحبين فرمايي: چې نه آزادېږي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لَهُمْ: أَنَّهُ كَلَامٌ مُحَالُ الْحَقِيقَةِ د دوی دليل دا دی: چې د دې كلام [پر] حقيقت [عمل كول] محال دي [يعني پر حقيقي معنیٰ دا كلام حمل كول ناممكن دي] فَيُرَدُّ فَيَلْغُو نو ځكه به [دا كلام] ردّ كيږي او لغو كيږي كَقَوْلِهِ: أَعْتَقْتُكَ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ أَوْ قَبْلَ أَنْ تُخْلَقَ لكه د مالک دا قول اچې مردود او لغو دی چې هغه ووايي] : زما تر پيدا كېدلو مخكې ما ته آزاد كړې، يا ستا تر پيدا كېدلو مخكې ما ته آزاد كړې وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ كَلَامٌ مُحَالٌ بِحَقِيقَتِهِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې دا كلام كه څه هم په خپله حقيقي معنیٰ كې محال دی لِكِنَّهُ صَحِيحٌ بِمَجَازِهِ ليكن په مجازي معنیٰ كې صحيح دي [يعني پر مجازي معنیٰ د هغه حمل كول صحيح دي] لِأَنَّهُ إِخْبَارٌ عَنْ حُرِّيَّتِهِ مِنْ حِينِ مِلْكِهِ ځكه چې دا د مولیٰ د مالک كېدلو له وخت څخه د غلام آزادېدلو خبر وركول دي وَهٰذَا لِأَنَّ الْبُنُوَّةَ فِي الْمَمْلُوكِ سَبَبٌ لِحُرِّيَّتِهِ او دا [حكم] ځكه دی چې د مملوک زوی كېدل [زوي والي] د هغه د آزادېدلو سبب دی إِمَّا إِجْمَاعًا أَوْ صِلَةً لِلْقَرَابَةِ يا خو د إجماع په وجه سره يا د قرابت د صلې په وجه [يعني يا دا خبره اجماعي ده، يا د ذی رحم محرم قريب د صله رحمی په توګه ده] وَإِطْلَاقُ السَّبَبِ وَإِرَادَةُ الْمُسَبَّبِ مُسْتَجَازٌ فِي اللُّغَةِ تَجَوُّزًا او د سبب په ويلو سره مسبب مرادول [د عربو] په لغت كې مجاز دی وَلِأَنَّ الْحُرِّيَّةَ مُلَازِمَةٌ لِلْبُنُوَّةِ فِي الْمَمْلُوكِ او په دې وجه [هم] چې په مملوک كې د زوي والي لپاره آزادولی لازم دی ايعني كه مملوک زوی وګرځي نو د هغه لپاره آزېدل لازمي دي (ځكه چې خپل زوی د چا غلام كېدلای نه سي) لنډه دا چې آزادوالی د زوی لپاره صفت لازمي دی] وَالْمُشَابَهَةُ فِي وَصْفٍ مُلَازِمٍ مِنْ طُرُقِ الْمَجَازِ او په صفت لازمي كې تشبيه وركول د مجاز له طريقو څخه يوه طريقه ده عَلَىٰ مَا عُرِفَ لكه څرنګه چې [دا] معلومه ده فَيُحْمَلُ عَلَيْهِ تَحَرُّزًا عَنِ الْإِلْغَاءِ نو ځكه به كلام پر مجاز حمل كيږي د دې لپاره چې [كلام] د لغو كېدلو څخه وساتل سي بِخِلَافِ مَا اسْتَشْهَدَ بِهِ په خلاف د هغه [جملو] چې په هغه سره اصاحبينو] دليل نيولی دی لِأَنَّهُ لَا وَجْهَ لَهُ فِي الْمَجَازِ ځكه چې په هغه كې د مجاز هيڅ صورت نشته

---

[1] القول الراجح: هو قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في العناية (ج:۴، ص:۲۴۱)، وكذا في الدر المختار (ج:۳، ص:۷).
[القول الراجح ج:۱، ص:۳۸۸]

ايعني په هغه جملو کې د مجاز هيڅ صورت نه سي جوړېداى] فَتَعَيَّنَ الْإِلْغَاءُ نو ځکه [په هغه کې] لغو کېدل متعين سو وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ لِغَيْرِهِ: قَطَعْتُ يَدَكَ او دا د هغه صورت په خلاف دي کله چې يو څوک بل چا ته ووايي: ما [په خطا سره] ستا لاس پرېکړى فَأَخْرَجَهُمَا صَحِيْحَتَيْنِ لېکن هغه خپل دواړه لاسونه صحيح سالم راوباسي حَيْثُ لَمْ يُجْعَلْ مَجَازًا عَنِ الْإِقْرَارِ بِالْمَالِ وَالْتِزَامِهِ نو دا به د مال له اقرار او د مال له التزام څخه مجاز نه ګرځول کيږي وَإِنْ كَانَ الْقَطْعُ سَبَبًا لِوُجُوبِ الْمَالِ که څه هم لاس پرېکول د مال واجبېدلو سبب دی [يعني دا به مجازاً د مال اقرار کول او پر ځان د مال لازمول نه شمارل کيږي، که څه هم د لاس پرېکول د مال د واجبېدلو سبب دی] لِأَنَّ الْقَطْعَ خَطأً سَبَبٌ لِوُجُوبِ مَالٍ مَخْصُوصٍ وَهُوَ الْأَرْشُ ځکه چې په خطا [غلطي] سره پرېکول د ځانګړي مال د واجبېدلو سبب دی چې هغه أرش دی [يعني هغه مال او قيمت ته أرش وايي] وَأَنَّهُ يُخَالِفُ مُطْلَقَ الْمَالِ فِي الْوَصْفِ او دا په وصف کې د مطلق مال مخالف دی [يعني دا أرش له مطلق مال څخه جلا شئ دی] حَتّٰى وَجَبَ عَلَى الْعَاقِلَةِ فِي سَنَتَيْنِ همدا وجه ده چې پر عاقله باندې دا [أرش] په دوو کالو کې واجبيږي وَلَا يُمْكِنُ إِثْبَاتُهُ بِدُوْنِ الْقَطْعِ او د لاس پرېکولو څخه بغير د أرش ثابتول ممکن نه دي وَمَا أَمْكَنَ إِثْبَاتُهُ فَالْقَطْعُ لَيْسَ بِسَبَبٍ لَهُ او د کوم شي ثابتول چې ممکن دي [يعني مطلق مال] قطع د هغه سبب نه ده أَمَّا الْحُرِّيَّةُ فَلَا تَخْتَلِفُ ذَاتًا وَحُكْمًا او کوم چې آزادي ده نو هغه د ذات او حکم په اعتبار سره مختلفه نه وي [يعني په ذات او حکم کې سره جلا نه وي] فَأَمْكَنَ جَعْلُهُ مَجَازًا عَنْهُ نو [په دې وجه] له إِبن [زوى] څخه مجازاً حُرِّيت مرادول ممکن دي.

اللغات: ﴿صِلَة﴾ ښه سلوک، صله رحمي، ﴿أَرش﴾ د لاس پرېکولو قيمت، يعني که خالد د يو چا لاس پرېکړي، نو پر خالد (مجرم) چې د تاوان او جرمانې په توګه کوم قيمت واجبيږي هغه قيمت ته په شريعت کې "أرش" وايي، ﴿عَاقِلَة﴾ د مجرم خاندان والا، چې هغوی به په دوو کالو کې د أرش قيمت اداء کوي.

يادونه: په دې عبارت کې صاحب د هدايې ټوله منطقي دلائل استعمال کړي دي او صاحب د أثمار الهدايې په غوره او مختصره اندازه سره حل کړي دي، نو ځکه موږ د هغه طريقه اختياروو.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو غلام په عمر کې تر خپل مالک مشر وي او د دومره عمر غلام له هغه مالک څخه نه سي پيدا کېدلای، او مالک د هغه غلام په باره کې ووايي چې: هٰذَا إِبْنِي "دا زما

زوی دی"، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز غلام آزادیږي. لېکن د صاحبینو او د امام شافعي رَحِمَهُمُ الله په نېز نه آزادیږي.

دليل: د صاحبینو او د امام شافعي رَحِمَهُمُ الله دلیل دا دی چي دلته د هٰذَا إِبْنِیْ پر حقیقت عمل کول ناممکن دی، ځکه چي د غلام عمر د مالک له عمر څخه زیات دی، نو ځکه به کلام لغو کیږي. او کله چي پر حقیقي معنیٰ عمل کول ناممکن دي نو مجازي معنیٰ هم ځني مراد کېدای نه سي (ځکه دا د صاحبینو اُصول چي که پر حقیقي معنیٰ عمل کول ناممکن وي، نو مجازي معنیٰ هم مراد کېدای نه سي)؛ صاحبین د دې لپاره دوه مثالونه ذکر کوي، یو دا چي که مالک خپل غلام ته ووایي: أَعْتَقْتُكَ قَبْلَ أَنْ اُخْلَقَ. یعني زما تر پیدایښت مخکي ما ته آزاد کړي وې!، نو دا کلام د ټولو په نېز لغو کیږي، دویم مثال دا دی که مالک خپل غلام ته ووایي: أَعْتَقْتُكَ قَبْلَ أَنْ تَخْلُقَ یعني ستا تر پیدایښت مخکي ما ته آزاد کړي وې، نو دا کلام هم د ټولو په نېز لغو کیږي، لهذا څرنګه چي دغه کلام لغو دی، همداسي به پورتنی کلام (هٰذَا إِبْنِیْ) هم لغو وي، او پر مجازي معنیٰ هم عمل نه سي کېدای، نو ځکه به غلام نه آزادیږي. (د صاحبینو اُصول دا دی چي که پر حقیقي معنیٰ عمل کول ممکن وي لېکن په یوه وجه سره عمل کول مشکل سي، نو مجازي معنیٰ به مرادیږي، لېکن که پر حقیقي معنیٰ عمل کول ناممکن وي، نو مجازي معنیٰ هم مرادېدلای نه سي).

د امام صاحب دليل: دا دی چي که څه هم د مالک دغه جمله (هٰذَا إِبْنِیْ) پر حقیقت حمل کول ناممکن دي، لېکن پر مجاز د هغه حمل کول ممکن دي، نو ځکه به له هغه څخه مجازي معنیٰ (یعني آزادېدل) اخیستل صحیح وي، او دا جمله ځکه پر مجاز حمل کېدای سي چي مجاز په لغت کي دې ته وایي چي سبب ذکر کړی سي او مسبب ځني مراد کړی سي، او دلته داسي کول ممکن دي، ځکه چي زوی کېدل سبب دي او د هغه په وجه آزادېدل مسبب دي، نو ګواکي دلته د سبب په ذکر کولو سره مسبب مراد کړی سوی دی، یعني ګواکي مالک د زوی (إِبْنِیْ) په ویلو سره د آزادۍ (حُریت) معنیٰ مراد کړې ده او همدې ته مجاز وایي. نو ځکه به غلام آزادیږي (د امام صاحب اُصول دا دی چي که د آزادوالي لږ غوندي شائبه پیدا سي، نو هم به غلام آزادیږي).

ولأن الحرية: دا پر مجاز باندي (د هٰذَا إِبْنِیْ) د حمل کولو دویم دلیل دی، حاصل یې دا دی چي دلته زوی کېدل (زوی والي) موصوف دی او د زوی لپاره آزادي لازمي صفت دی (ځکه چي زوی خامخا پر

پلار آزادېږي)، نو ګواکې مالک د موصوف (زوی) په ذکر کولو سره صفت (آزادي) مراد کړه، نو ځکه به غلام آزادېږي او د لغو کېدلو پر ځای به کلام پر مجاز محمول کېږي.

بخلاف ما استشهد به إلخ: په دې عبارت سره صاحبينو ته جواب ورکوي، هغو په خپل دليل کې دوه مثالونه ذکري کړي وه چې که مالک خپل غلام ته وايي "أَعْتَقْتُكَ قَبْلَ أَنْ أَخْلُقَ" او "أَعْتَقْتُكَ قَبْلَ أَنْ تَخْلُقَ" نو دا کلام لغو دی، لهذا پورتنی کلام (هَذَا إِبْنِيْ) به هم لغو کېږي، نو د دې جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چې په دغه دوو جملو کې هيڅ ډول مجازي معنیٰ نه سي جوړېدای او په هيڅ صورت کې مجازي معنیٰ ځني مراد کېدای نه سي، نو ځکه به دا کلام لغو او باطل وي.

وهذا بخلاف إلخ: په دې عبارت سره د "أَرش" او "حُرّيت" (آزادي) په مينځ کې فرق بيانوي، حاصل يې دا دی چې د أرش لپاره لاس پرېکول سبب دي (يعني د لاس پرېکولو په وجه أرش واجبېږي) لهذا که خالد وايي چې ما د زيد لاس (په غلطي سره) پرېکړی نو پر هغه د لاس قيمت (أرش) لازميږي، لېکن که په دغه وخت کې زيد خپل لاس صحيح سلام بنکاره کړي (يعني د هغه لاس روغ وي او خالد پرېکړی نه وي) نو پر خالد أرش نه لازميږي؛ ځکه چې لاس پرېکول او أرش دواړه سره لازم او ملزوم دي، خو کله چې د لاس پرېکول موجود نه سو نو أرش به هم نه لازميږي، د دې په خلاف آزادي د ذات (يعني د رقيت د زوال) په اعتبار سره او د حکم (يعني د قضاء، شهادت او داسي نورو) په اعتبار سره په حقيقت او مجاز کې سره مختلفه نه ده، لهذا د "إِبْنِيْ" په ويلو سره د مجاز په توګه د آزادی معنیٰ (حُرّيت) مراد کېدای سي، نو ځکه به غلام آزادېږي.

غلام او مينځه خپل پلار او مور ګرځول

وَلَوْقَالَ: هٰذَا أَبِي أَوْ أُمِّي او که مالک [غلام ته] وايي: دا زما پلار دی [يا مينځي ته وايي] دا زما مور ده وَمِثْلُهٗ لَايُوْلَدُ لِمِثْلِهِمَا او د هغه په شان سړی له داسي غلام او مينځي څخه نه سي پيدا کېدای فَهُوَعَلَى الْخِلَافِ نو دا [هم] پر [مخکني] اختلاف دي [يعني دا مسئله د مخکي په څېر مختلف فيها ده] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَلَوْقَالَ لِصَبِيٍّ صَغِيْرٍ: هٰذَا جَدِّی او که مالک يو کوچني بچي ته وايي: دا زما نيکه دی قِيْلَ: هُوَعَلَى الْخِلَافِ نو ويل سوي دي: چي دا [هم] پر اختلاف دي [يعني د هغه آزادېدل هم مختلف فيه دي] وَقِيْلَ: لَا يُعْتَقُ بِالْإِجْمَاعِ او ويل سوي دي: چي هغه بالاتفاق نه آزادېږي لِأَنَّ هٰذَا الْكَلَامَ لَا مُوْجِبَ لَهٗ فِي الْمِلْكِ إِلَّا بِوَاسِطَةٍ وَهُوَ الْأَبُ ځکه چي په دې کلام کي د ملکيت

سبب نسته مګر د پلار په واسطه سره وَهِيَ غَيْرُ ثَابِتَةٍ فِي كَلَامِهِ او د مالک په کلام کې [د پلار] واسطه ثابته نه ده فَتَعَذَّرَ أَنْ يُجْعَلَ مَجَازًا عَنِ الْمُوْجِبِ نو ځکه مجازاً هغه [د حُریت] سبب ګرځول ناممکن سو بِخِلَافِ الْأُبُوَّةِ وَالْبُنُوَّةِ په خلاف د پلار والي او زوي والي لِأَنَّ لَهُمَا مُوجِبًا فِي الْمِلْكِ مِنْ غَيْرِ وَاسِطَةٍ ځکه چې دا دواړه له څه واسطې څخه بغیر په ملک [مملوک] کې د حریت سبب دي وَلَوْ قَالَ: هٰذَا أَخِي او که مالک ووایي: دا زما ورور دی لَا يُعْتَقُ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ نو په ظاهر روایت کې غلام نه آزادیږي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: يُعْتَقُ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت دی: چې هغه آزادیږي وَوَجْهُ الرِّوَايَتَيْنِ مَا بَيَّنَّاهُ او د دواړو روایتونو دلیل هغه دی کوم چې موږ بیان کړی وَلَوْ قَالَ لِعَبْدِهِ: هٰذَا ابْنَتِي او که مالک خپلې غلام ته ووایي: دا زما لور ده فَقَدْ قِيلَ: عَلَى الْخِلَافِ نو ویل سوي دي: چې دا [هم] پر اختلاف دي وَقِيلَ: هُوَ بِالْإِجْمَاعِ او ویل سوي دي: چې دا په إجماع سره [متفق علیه] دي لِأَنَّ الْمُشَارَ إِلَيْهِ لَيْسَ مِنْ جِنْسِ الْمُسَمّٰى ځکه چې [په دې کلام کې] مشارإلیه د مسمیٰ له جنس څخه نه دی [یعني کوم شي ته چې اشاره سوې ده هغه د نجلۍ له جنس څخه نه دی] فَتَعَلَّقَ الْحُكْمُ بِالْمُسَمّٰى لهذا حکم د مسمیٰ سره متعلق سو [یعني حکم به د مسمیٰ (نجلۍ) سره متعلق کیږي] وَهُوَ مَعْدُومٌ او مسمیٰ معدوم دی فَلَا يُعْتَبَرُ نو ځکه به [د دې کلام] اعتبار نه کیږي [او غلام به نه آزادیږي] وَقَدْ حَقَّقْنَاهُ فِي النِّكَاحِ او په کتابُ النکاح کې موږ دا [د اشارې مسئله] څېړلې [او بیان کړې] ده [یعني د دې پوره تفصیل په کتابُ النکاح کې تېر سو].

اللغات: ﴿مُوجِب﴾ سبب، ﴿مُشَارإِلَيْه﴾ د کوم شي یا د کوم کس وطرف ته چې اشاره وسي هغه ته "مشارإلیه" وایي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو مالک د خپل غلام په باره کې ووایي چې "دا زما پلار دی"، یا د مینځې په باره کې ووایي چې "دا زما مور ده"، حال دا چې هغه غلام او مینځه له مالک څخه په عمر کې کوچني وي، یا یې عمر دومره وي چې له هغوی څخه مالک نه سي پیدا کېدای (یعني د دواړو په عمر کې تفاوت وي)، نو دا مسئله هم د امام صاحب او صاحبینو په نېز مختلف فیها ده، امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمایي چې غلام آزادیږي، ځکه چې دلته به مجازي معنیٰ مرادیږي، او صاحبین فرمایي چې غلام نه آزادیږي، ځکه کله چې حقیقت مراد کېدای نه سي، نو مجاز هم نه سي مراد کېدای.

ولو قال إلخ: او که مالک خپل ډېر کوچني غلام ته اشاره وکړي او ووايي چي "دا زما نيکه" دی، نو يو روايت دا دی چي په دې مسئله کي هم د امام صاحب او صاحبينو اختلاف دی، يعني د صاحبينو په نېز هغه کوچنی غلام نه آزاديږي، لېکن د امام صاحب په نېز به مجازي معنیٰ مراديږي او کوچنی آزاديږي، او بل روايت دا دی چي په دې مسئله کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هم کوچنی نه آزاديږي؛ ځکه چي کوچنی د پلار په واسطه سره د مالک نيکه جوړيږي او د مالک په کلام کي د پلار ذکر نسته، لهذا دلته مجازي معنیٰ مراد کېدای نه سي، نو کوچنی به هم نه آزاديږي، د دې په خلاف د پلار او زوی په مينځ کي هيڅ واسطه نسته، لهذا هلته مجازي معنیٰ مراد کېدای سي، نو ځکه به هلته غلام آزاديږي.

ولو قال هذا أخي إلخ: او که يو مالک خپل غلام ته اشاره وکړي چي "دا زما ورور دی"، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله يو روايت دا دی چي غلام آزاديږي؛ ځکه چي دلته به مجازي معنیٰ (يعني آزادېدل) مراديږي، او دويم روايت يې دا دی چي غلام نه آزاديږي؛ ځکه چي د ورور جوړېدلو لپاره د پلار واسطه ضروري ده او د مالک په کلام کي د پلار ذکر نسته، نو مجازي معنیٰ مراد کېدای نه سي، لهذا غلام به هم نه آزاديږي.

ولو قال لعبده إلخ: فرمايي که مالک يو غلام ته اشاره وکړي او ووايي: "هٰذَا اِبْنَتِيْ" چي "دا زما لور ده"، نو يو روايت دا دی چي په دې مسئله کي هم د امام صاحب او صاحبينو اختلاف دی، يعني دلته به د امام صاحب په نېز د اشارې اعتبار کيږي او مجازي معنیٰ به مراديږي (يعني دلته مالک وغلام ته اشاره کړې ده او غلام نر دی، نو ګواکي مالک غلام ته خپل زوی وويل) لهذا غلام به آزاديږي، لېکن د صاحبينو په نېز مجازي مرادول ناممکن دي، لهذ غلام به نه آزاديږي.

دويم روايت دا دی چي په دې مسئله کي د ټولو په نېز غلام نه آزاديږي؛ ځکه کله چي مشار إليه د مسمیٰ له جنس څخه نه وي (يعني که يو څوک په خوله يو څه ووايي او اشاره بل شي ته وکړي) نو په دې صورت کي حکم د مسمیٰ سره متعلق کيږي (يعني کوم څه چي يې په خوله ويلي وي حکم د هغه سره متعلق وي او د هغه اعتبار به کيږي)، او دلته مشار إليه يعني غلام د مسمیٰ يعني د اِبْنَتِيْ له جنس څخه نه دی، نو ځکه به د آزادۍ حکم د مسمیٰ يعني د اِبْنَتِيْ سره متعلق کيږي، خو څرنګه چي دلته مسمیٰ (اِبْنَتِيْ) معلوم دی ځکه چي غلام نجلۍ نه ده، نو ځکه به کلام لغو وي، نه به حقيقتاً په هغه سره حُريّت ثابتيږي او نه مجازاً.

د طلاق په الفاظو سره د مينځي آزادولو حکم

وَإِنْ قَالَ لِأَمَتِهِ: أَنْتِ طَالِقٌ أَوْ بَائِنٌ أَوْ تَخَمَّرِيْ او كه مالک خپلي مينځي ته ووايي: ته طلاقه يې، يا ته بائنه يې، يا پوړنى [پړونى] پر سر كړه! [زما څخه پرده وكړه!] وَنَوَى بِهِ الْعِتْقَ او په دې سره د آزادېدلو نيت وكړي لَمْ تُعْتَقْ نو مينځه نه آزاديږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تُعْتَقُ إِذَا نَوَى او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: آزاديږي كه چيري مالک [د عتق] نيت وكړي وَكَذَا عَلَى هٰذَا الْخِلَافِ سَائِرُ أَلْفَاظِ الصَّرِيحِ وَالْكِنَايَةِ عَلَى مَا قَالَ مَشَايِخُهُمْ او همدارنګه ټوله صريح او كنايي الفاظ پر دغه اختلاف دي لكه د شوافعو مشائخو چي فرمايلي دي لَهُ: أَنَّهُ نَوَى مَا يَحْتَمِلُهُ لَفْظُهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي [دلته] مالک د داسي شي نيت كړى دى چي د مالک لفظ د هغه احتمال لري [په لنډه توګه دا چي د طلاق ألفاظ د إعتاق (آزادولو) احتمال هم لري] لِأَنَّ بَيْنَ الْمِلْكَيْنِ مُوَافَقَةً ځكه چي د دواړو ملكيتونو [ملک يمين او ملک بضع] په مينځ كي موافقت شته إِذْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِلْكُ الْعَيْنِ ځكه چي هر يو له دوى څخه يو ذاتي ملكيت دى أَمَّا مِلْكُ الْيَمِينِ فَظَاهِرٌ كوم چي ملک يمين دى نو هغه ښكاره دى [چي ذاتي ملكيت دى] وَكَذٰلِكَ مِلْكُ النِّكَاحِ فِي حُكْمِ مِلْكِ الْعَيْنِ او همدارنګه ملک نكاح [هم] د ذاتي ملكيت په حكم كي ده حَتّٰى كَانَ التَّأْبِيدُ مِنْ شَرْطِهِ همدا وجه ده چي همېشه والي [همېشه توب] د نكاح شرط دى وَالتَّأْقِيتُ مُبْطِلًا لَهُ او مؤقت كول [يعني د نكاح لپاره يو معلوم وخت ټاكل] د نكاح لپاره باطلونكي دي وَعَمَلُ اللَّفْظَيْنِ فِي إِسْقَاطِ مَا هُوَ حَقُّهُ وَهُوَ الْمِلْكُ او د [عتق او طلاق] دواړو لفظونو عمل د هغه د حق يعني د ملكيت ساقطولو لپاره دى وَلِهٰذَا يَصِحُّ التَّعْلِيقُ فِيهِ بِالشَّرْطِ او له همدې وجهي په إعتاق كي پر شرط معلق كول صحيح دي أَمَّا الْأَحْكَامُ فَتَثْبُتُ بِسَبَبٍ سَابِقٍ او كوم چي أحكام دي نو هغه د مخكني سبب په وجه ثابتيږي وَهُوَ كَوْنُهُ مُكَلَّفًا او هغه [مخكنى سبب] د غلام مكلف كېدل دي وَلِهٰذَا يَصْلُحُ لَفْظَةُ الْعِتْقِ وَالتَّحْرِيرِ كِنَايَةً عَنِ الطَّلَاقِ او له همدې وجهي د عتق او تحرير لفظ له طلاق څخه د كنايه كېدلو صلاحيت لري فَكَذَا عَكْسُهُ نو همداسي به د دې برعكس [هم] صحيح وي ايعني نو د طلاق لفظ به هم له تحرير او إعتاق څخه د كنايه كېدلو صلاحيت لري] وَلَنَا: أَنَّهُ نَوَى مَا لَا يَحْتَمِلُهُ لَفْظُهُ او زموږ دليل دا دى چي [دلته] مالک [په خپل كلام سره] داسي معنىٰ مراد كړې ده چي د مالک لفظ د هغه احتمال نه لري

لِأَنَّ الْإِعْتَاقَ لُغَةً إِثْبَاتُ الْقُوَّةِ وَالطَّلَاقَ رَفْعُ الْقَيْدِ ځکه چي إعتاق په لغت کي د قوت ثابتولو ته وايي. حالانکي طلاق د قيد ليري کولو [ختمولو] ته وايي وَهٰذَا لِأَنَّ الْعَبْدَ أُلْحِقَ بِالْجَمَادَاتِ او دا ځکه چي غلام [د تصرف په حق کي] د جماداتو سره لاحق سوی دی وَبِالْإِعْتَاقِ يَحْيٰى فَيَقْدِرُ او په آزادولو سره هغه ژوندی کيږي او [پر تصرّفاتو] قادر کيږي وَلَا كَذٰلِكَ الْمَنْكُوحَةُ او منکوحه [په نکاح سوې] ښځه داسي نه وي فَإِنَّهَا قَادِرَةٌ ځکه چي هغه [له مخکي څخه پر تصرّفاتو] قادره وي إِلَّا أَنَّ قَيْدَ النِّكَاحِ مَانِعٌ خو دا [اجلا خبره ده] چي د نکاح قيد [د هغې لپاره] مانع وي [يعني د نکاح قيد د دې لپاره مانع وي چي منکوحه ښځه د خاوند له کور څخه بهر ووځي] وَبِالطَّلَاقِ يَرْتَفِعُ الْمَانِعُ او په طلاق سره مانع ختميږي فَتَظْهَرُ الْقُوَّةُ او [د هغې] قوت ښکاره کيږي وَلَا خَفَاءَ أَنَّ الْأَوَّلَ أَقْوٰى او په دې کي هيڅ پټوالي نسته چي اول [يعني إعتاق] زيات قوي دی وَلِأَنَّ مِلْكَ الْيَمِينِ فَوْقَ مِلْكِ النِّكَاحِ او ځکه چي ملک يمين له ملک نکاح څخه لوړ [بالا] دی فَكَانَ إِسْقَاطُهُ أَقْوٰى نو د هغه إسقاط به [هم] زيات قوي وي وَاللَّفْظُ يَصْلُحُ مَجَازًا عَمَّا هُوَ دُوْنَ حَقِيْقَتِهٖ او لفظ له خپل حقيقت څخه د کم [الاندي معنیٰ] لپاره د مجاز جوړېدلو صلاحيت لري لَا عَمَّا هُوَ فَوْقَهٗ نه له خپل حقيقت څخه د لوړ [پورته معنیٰ] لپاره [يعني لفظ له خپل حقيقت څخه د لوړي او قوي معنیٰ لپاره د مجاز جوړېدلو صلاحيت نه لري] فَلِهٰذَا امْتَنَعَ فِي الْمُتَنَازَعِ فِيْهِ نو له همدې وجهي به په مختلف فيه [مسئله] کي مجاز ممتنع [ناجائز] وي وَانْسَاغَ فِي عَكْسِهٖ او د هغه په برعکس کي به جائز وي.

اللغات: ﴿تَخَمَّرِيْ﴾ د تفعل له باب څخه د واحد مؤنث امر حاضر صيغه ده: پوړنی پر سر کول. پرده کول. ﴿مِلْكُ الْعَيْنِ﴾ د جسم ملکيت، د ذات ملکيت. ﴿مِلْكُ الْيَمِيْنِ﴾ د غلام او مينځي ملکيت. د رقبې ملکيت (يعني پر غلام يا مينځي د يو سړي ملکيت ثابتېدلو ته ملک يمين او ملک رقبه وايي). ﴿تَأْبِيْد﴾ د تفعيل مصدر دی: د همېشه لپاره کېدل. ﴿تَأْقِيْت﴾ د تفعيل مصدر دی: مودت ټاکل. وخت مقرر کول. ﴿اِنْسَاغَ﴾ د انفعال ماضي ده: قابل قبول کېدل (د منلو وړ کېدل). جائز کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو مالک خپلي مينځي ته أَنْتِ طَالِقٌ. يا أَنْتِ بَائِنٌ. يا تَخَمَّرِيْ ووايي او په دې الفاظو سره د عتق (آزادېدلو) نيت وکړي. نو د نيت باوجود زموږ

په نيز آزادي نه واقع کيږي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز که مالک په دې سره نيت وکړي نو آزادي واقع کيږي، لکه څرنګه چې د شوافعو فقهاؤ فرمايلي دي، همدا اختلاف په کنايي او صريحو الفاظو کي هم دی.

د امام شافعي دليل: دا دی چې دلته مالک په خپل کلام سره يو داسي معنیٰ مراد کړې ده چې هغه معنیٰ د ده د کلام احتمالي معنیٰ ده (يعني عتق او إعتاق د طلاق د الفاظو احتمالي معنیٰ ده)، ځکه چې ملکِ يمين او ملکِ نکاح يو د بل سره موافق دي (يعني د رقبې د ملکيت او د نکاح د ملکيت په مينځ کي موافقت سته)، په دې توګه چې دا دواړه ذاتي ملکيتونه دي، په ملکِ يمين کي خو ذاتي ملکيت ظاهر او څرګند دی (چې د غلام پر ټوله ذات د انسان ملکيت ثابتيږي او ټوله غلام د انسان په ذاتي ملکيت کي داخليږي)، او ملکِ نکاح هم د ذاتي ملکيت په حکم کي ده، ځکه چې په نکاح کي تأبيد او همېشه والی شرط دی (چې نکاح به د همېشه لپاره ترل کيږي) او مؤقت کېدل د نکاح لپاره مُبطل دي، نو په دې مناسبت ملکِ نکاح د ملکِ يمين په حکم کي ده، نو ځکه په دې الفاظو سره د عتق نيت کول او آزادي مرادول صحيح دي.

وعمل اللفظين إلخ: په دې سره د يو مقدّر سوال جواب ورکوي کوم چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله پر دليل وارديږي، سوال دا دی چې د طلاق ورکولو او إعتاق (آزادولو) په مينځ کي هيڅ مناسبت نسته، او د دواړو په حقيقت او حيثيت کي اختلاف دی، ځکه چې إعتاق په لغت کي قوت ثابتولو (إثباتُ القوة) ته وايي، همدا وجه ده چې تر إعتاق وروسته غلام د قضاء، شهادت او ولايت أهل ګرځي، لېکن طلاق رفعُ القيد (د نکاح قيد ليري کولو) او د ملکيت ساقطولو ته وايي، لهذا د طلاق له الفاظو څخه مجازاً او کنايتاً إعتاق مرادول صحيح نه دي، ځکه چې د إثبات او رفع په مينځ کي ډېر فرق سته.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله له طرفه د دې جواب دا دی چې په طلاق او إعتاق کي مناسبت سته، ځکه چې په دواړو کي خپل ملکيت ساقطيږي، او دا جلا خبره ده چې په إعتاق کي د ټوله جسم ملکيت ختميږي او په طلاق کي فقط د بضع ملکيت ختميږي، لنډه دا چې په دواړو کي د ملکيت ساقطېدلو معنیٰ سته، نو ځکه به د طلاق له الفاظو څخه مجازاً إعتاق مرادول صحيح او جائز وي، په طلاق او إعتاق کي په دې توګه هم مناسبت سته چې څرنګه طلاق پر شرط معلق کول صحيح دي، همداسي إعتاق هم پر شرط معلق کول صحيح دي، نو په دې حواله سره هم د طلاق له الفاظو څخه مجازاً إعتاق مراد کېدای سي.

اما الأحكام إلخ: په دې سره هم ديو مقدر سوال جواب ورکوي. سوال دا دی چي کله په طلاق او إعتاق دواړو کي د إسقاط معنیٰ ستة نو بيا تر إعتاق وروسته په غلام کي شهادت، ولايت، قضاء او داسي نور احکام ساقطيدل پکار دي، نه ثابتيدل، حالانکي تر إعتاق وروسته فوراً دغه احکام ثابتيږي، نو د دې په جواب کي امام شافعي فرمايي چي دلته د أحکامو أصل دار ومدار پر إعتاق نه دی، بلکي هغه د انسان د مکلف کيدلو په سبب سره ثابتيږي، ځکه چي هر انسان په فطري توګه د شهادت او داسي نورو احکامو أهل وي، لېکن په غلام کي د رقيت (غلامتوب) د عارض په وجه شهادت او نور احکام ممنوع وي، لېکن کله چي عارض (غلامتوب) ختم سي نو ممنوع شی به بيرته راګرځي، ځکه چي همدا قاعده ده: "إِذَا زَالَ الْمَانِعُ عَادَ الْمَمْنُوْع"، نو ثابته سوه چي د دغه احکامو ثبوت د إعتاق په سبب سره نه دی، بلکي په يو مخکني سبب سره دی چي هغه د انسان مکلف کيدل دي.

ولهذا يصح إلخ: دا د امام شافعي دويم دليل دی چي څرنګه د إعتاق او تحرير په الفاظو سره طلاق واقع کيږي نو همداسي به د طلاق په الفاظو سره آزادي هم واقع کيږي.

زموږ دليل: صاحب د هدايې زموږ دليل په منطقي توګه ذکر کړی دی، حاصل يې دا دی چي مالک دلته د طلاق په الفاظو سره کومه معنیٰ مراد کړې ده، هغه د ده د کلام احتمالي معنیٰ نه ده (يعني إعتاق د طلاق د الفاظو احتمالي معنیٰ نه سي کيدای)، ځکه چي د طلاق او إعتاق په مينځ کي هيڅ مناسبت نسته، ځکه د إعتاق معنیٰ ده "د تصرف قوت ثابتول"، او غلام په تصرف کولو کي د جماداتو (يعني د ډبري او داسي نورو) په څير دی، ځکه چي هغه هيڅ ډول تصرف نه سي کولای، او په إعتاق (آزادولو) کي هغه ته د تصرفاتو قوت ورکول کيږي، او د طلاق معنیٰ ده "د نکاح قيد ليري کول"، او ښځه له مخکي څخه پر تصرف کولو قدرت لري، لېکن په هغې کي فقط د نکاح قيد وي او په طلاق ورکولو سره دا قيد ختميږي، لهذا د طلاق او إعتاق په معنیٰ کي هيڅ مناسبت نسته، نو ځکه به د طلاق له الفاظو څخه مجازاً إعتاق مرادول صحيح نه وي. دويم دليل دا دی چي إعتاق قوي دی او طلاق کمزوری دی، او په کمزوري لفظ سره قوي شی مرادول صحيح نه دي، نو په دې حواله سره هم د طلاق له الفاظو څخه مجازاً إعتاق مرادول صحيح نه دي.

ولإن ملك اليمين: او بل دا چي ملک يمين له ملک نکاح څخه لوړ او قوي دی، نو د ملک يمين إسقاط (يعني إعتاق) به د ملک نکاح له إسقاط (يعني له طلاق) څخه لوړ او قوي وي، او قاعده دا ده چي لفظ د داسي معنیٰ لپاره مجاز جوړيدای سي چي هغه د لفظ تر حقيقي معنیٰ لاندي او کمه وي، لېکن د لوړي

معنیٰ لپاره مجاز نه سي جوړېدلای، لهذا د إعتاق د لفظ څخه به مجازاً د طلاق مرادول خو صحيح وي (ځکه چي إعتاق لوړ او قوي دی)، لېکن له طلاق څخه به مجازاً د إعتاق مرادول صحيح نه وي (ځکه چي طلاق تر إعتاق لاندي او کمزوری دی).

(مُتَنَازَع فِيْه: دلته د متنازع مطلب دا دی چي له طلاق څخه مجازاً إعتاق مرادول، ځکه چي په دې کي زموږ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله تنازع او اختلاف دی، يعني دا زموږ په نېز ناجائز دي او د امام شافعي په نېز جائز دي، او د عَکْسِهِ مطلب دا دی چي له إعتاق څخه مجازاً طلاق مرادول).

د إعتاق يو څو نور الفاظ

وَإِذَا قَالَ لِعَبْدِهِ: أَنْتَ مِثْلُ الْحُرِّ او کله چي مالک خپل غلام ته ووايي: ته د آزاد سړي په شان يې لَمْ يُعْتَقْ نو هغه نه آزادېږي لِأَنَّ الْمِثْلَ يُسْتَعْمَلُ لِلْمُشَارَكَةِ فِي بَعْضِ الْمَعَانِي عُرْفًا ځکه چي د "مثل" لفظ د عرف په اعتبار سره په ځيني معانيو کي د مشارکت لپاره استعمالېږي فَوَقَعَ الشَّكُّ فِي الْحُرِّيَّةِ نو [ځکه] په حريت کي شک واقع سو وَلَوْ قَالَ: مَا أَنْتَ إِلَّا حُرٌّ او که مالک داسي ووايي: نه يې ته! مګر آزاد عَتَقَ نو آزادېږي لِأَنَّ الِاسْتِثْنَاءَ مِنَ النَّفْيِ إِثْبَاتٌ عَلَى وَجْهِ التَّأْكِيدِ ځکه چي له نفي څخه استثناء کول په تاکيدي توګه إثبات وي كَمَا فِي كَلِمَةِ الشَّهَادَةِ لکه د شهادت په کلمه کي چي دي وَلَوْ قَالَ: رَأْسُكَ رَأْسُ حُرٍّ او که مالک ووايي: ستا سر د آزاد سر دی [يعني ستا سر د آزاد سړي د سر په شان دی] لَا يُعْتَقُ نو غلام نه آزادېږي لِأَنَّهُ تَشْبِيهٌ بِحَذْفِ حَرْفِهِ ځکه چي دا د حرفِ تشبيه په حذفولو سره تشبيه ده وَلَوْ قَالَ: رَأْسُكَ رَأْسٌ حُرٌّ او که مالک ووايي: ستا سر آزاد سر دی عَتَقَ نو هغه آزادېږي لِأَنَّهُ إِثْبَاتُ الْحُرِّيَّةِ فِيهِ ځکه چي دا په غلام کي آزادي ثابتول دي إِذِ الرَّأْسُ يُعَبَّرُ بِهِ عَنْ جَمِيعِ الْبَدَنِ ځکه چي د سر په ذريعه له ټوله بدن څخه تعبير کيږي.

اللغات: ﴿مُشَارَكَة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو د بل سره شريکېدل (اشتراک).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو مالک خپل غلام ته أَنْتَ مِثْلُ الْحُرِّ ووايي، نو په دې سره غلام نه آزادېږي، هغه که مالک په دې سره د عتق نيت وکړي او که يې نه وکړي (عنايه)؛ ځکه چي په عرفِ عام کي د "مثل" لفظ په "ځيني اوصافو کي د اشتراک" په معنیٰ سره استعمالېږي (يعني د مثل له لفظ څخه په ځيني اوصافو کي اشتراک مرادېږي)، کامل مماثلت نه ځني مرادېږي، او څرنګه

چې دلته "مثل" مطلق دی، او تر هغه وروسته مالک هيڅ وصف ذکر کړی نه دی، نو په دې وجه پر مثل فِي الحُريت باندې د دې مطلق "مثل" په حمل کولو کې شک پيدا سو، او د شک په وجه سره حُريت نه ثابتيږي.

ولوقال إلخ: فرمايي چې که مالک خپل غلام ته مَا أَنْتَ إِلَّا حُرٌّ ووايي، نو په دې صورت کې غلام آزاديږي؛ ځکه تر نفي وروسته چې کله إثبات راسي، نو په هغه کې تأکيد وي، لکه په لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ کې چې تر نفي وروسته إثبات دی او د دې معنیٰ ده چې "له الله څخه پرته بل هيڅ معبود نسته (يعني له الله څخه بغير بل هيڅوک د دې لائق نه دی چې هغه ته عبادت وسي)"، نو د مَا أَنْتِ إِلَّا حُرٌّ معنیٰ به دا وي چې "ته بالکل او بېله شکه آزاده يې"، او کله چې په أَنْتِ حُرٌّ (ته آزاده يې!) ويلو سره غلام آزاديږي، نو په مَا أَنْتِ إِلَّا حُرٌّ (بالکل ته آزاده يې!) ويلو سره به په طريقه اولیٰ غلام آزاديږي.

ولوقال إلخ: د دې حاصل دا دی چې که مالک خپل غلام ته په ترکيبِ اضافي سره "رَأْسُكَ رَأْسُ حُرٍّ" ووايي (يعني حُرّيت ته د غلام يو بشپړ جزء مضاف کړي)، نو غلام نه آزاديږي، ځکه چې په دې جمله کې د تشبيه کاف مقدر دی، او کله چې په أَنْتِ مِثْلُ الحُرِّ ويلو سره غلام نه آزاديږي نو په رَأْسُكَ رَأْسُ حُرٍّ ويلو سره به څنګه حُرّيت (آزادي) واقع سي!؟.

ولوقال إلخ: فرمايي که مالک په ترکيبِ توصيفي سره رَأْسُكَ رَأْسٌ حُرٌّ ووايي (يعني د غلام بشپړ جزء او حُرّيت د موصوف او صفت په توګه ذکر کړي)، نو غلام آزاديږي، ځکه چې دلته د موصوف او صفت کېدلو په وجه په رَأْس (سر) کې حُرّيت ثابت سو، او څرنګه چې رَأْس يو بشپړ جزء دی او په هغه له ټوله بدن څخه تعبير کيږي، نو حُريت به له رَأْس څخه د غلام په ټوله بدن کې سرايت کوي او ټوله غلام به آزاديږي.



فَصْلٌ

تشريح: مخکي تر دې د اختياري إعتاق بيان وو، اوس په دې فصل کې غيرِ اختياري إعتاق بيانوي.

که نژدې قريب د انسان غلام سي؟ (تفصيلي بيان)

وَمَنْ مَلَكَ ذَا رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ او څوک چې د خپل ذی رحم محرم [نژدې قريب] مالک سي عَتَقَ عَلَيْهِ نو هغه پر ده آزادېږي وَهٰذَا اللَّفْظُ مَرْوِيٌّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او دا لفظ له نبي کريم ﷺ څخه نقل سوی دی وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: مَنْ مَلَكَ[1] ذَا رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ فَهُوَ حُرٌّ نبي ﷺ فرمايلي دي: څوک چې د خپل ذی رحم محرم قريب مالک سي نو هغه آزاد دی وَاللَّفْظُ بِعُمُومِهِ يَنْتَظِمُ كُلَّ قَرَابَةٍ مُؤَيَّدَةٍ بِالْمَحْرَمِيَّةِ وِلَادًا أَوْ غَيْرَهُ او دا لفظ د خپل عموم په وجه هر هغه قرابت ته شامل دی چې د هغه محرم کېدل ابدي وي هغه که د ولادت په اعتبار سره [د هغه محرميت ابدي] وي يا د غيرِ ولادت [په اعتبار سره د هغه محرميت ابدي] وي وَالشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ يُخَالِفُنَا فِي غَيْرِهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله په غيرِ ولادت کې زموږ مخالف دی لَهُ: أَنَّ ثُبُوتَ الْعِتْقِ مِنْ غَيْرِ مَرْضَاةِ الْمَالِكِ يَنْفِيهِ الْقِيَاسُ د هغه دليل دا دی: چې قياس د مالک له رضا [خوښې] څخه بغير د عتق د ثابتېدلو نفي کوي أَوْ لَا يَقْتَضِيهِ يا قياس د هغه تقاضا نه کوي وَالْأُخُوَّةُ وَمَا يُضَاهِيهَا نَازِلَةٌ عَنْ قَرَابَةِ الْوِلَادَةِ او [د] ورور ګلوي [قرابت] او د دې سره مشابه [بل قرابت لکه ماماتوب، وراره توب او داسي نور] د ولادت له قرابت څخه کم [د لاندي درجې] دی فَامْتَنَعَ الْإِلْحَاقُ أَوِ الِاسْتِدْلَالُ بِهِ نو ځکه د ولادت د قرابت سره [د غيرِ ولادت قرابت] ملحق کول او [په هغه سره] دليل نيول متمنع سو وَلِهٰذَا امْتَنَعَ التَّكَاتُبُ عَلَى الْمُكَاتَبِ فِي غَيْرِ الْوِلَادِ او له همدې وجهي پر مکاتب په غيرِ ولادتي قرابت کي مکاتب جوړول منع دي [يعني همدا وجه ده چې د ولادت له قريبانو څخه بغير نور قريبان د

---

[1] تخريج: أخرجه الترمذی فی کتاب الأحکام، باب فيمن ملک ذا رحم محرم حديث رقم: ۱۳٦٤. وابو داؤد فی کتاب العتق، حديث رقم: ۳۹٤۹.

مکاتب سره مکاتب نه ګرځي] وَلَمْ يَمْتَنِعْ فِيهِ او په ولادت کي دا منع نه دي [يعني د ولادت قريبان مکاتب ګرځي] وَلَنَا مَا رَوَيْنَا او زموږ دليل هغه دی کوم چي موږ روايت کړی وَلِأَنَّهُ مَلَكَ قَرِيبَهُ قَرَابَةً مُؤَثِّرَةً فِي الْمَحْرَمِيَّةِ او ځکه چي هغه د داسي نژدې قريب مالک سو چي د هغه قرابت په محرميت کي مؤثر دی فَيَعْتِقُ عَلَيْهِ نو ځکه به هغه پر ده آزاديږي وَهَذَا هُوَ الْمُؤَثِّرُ فِي الْأَصْلِ او په اصل کي همدا اذی رحم محرم کېدل] تأثير کونکي دي وَالْوِلَادُ مُلْغًى او ولادت لغو [غيرِ مؤثر] دی لِأَنَّهَا هِيَ الَّتِي يُفْتَرَضُ وَصْلُهَا ځکه چي د همدغه قرابت وصل کول [او د ذی رحم محرم سره صله رحمي کول] فرض دي وَيَحْرُمُ قَطْعُهَا او د قرابت ختمول حرام دي حَتَّى وَجَبَتِ النَّفَقَةُ وَحَرُمَ النِّكَاحُ همدا وجه ده چي [د ذی رحم محرم] نفقه واجب ده او نکاح [ور سره] حرامه ده وَلَا فَرْقَ بَيْنَ مَا إِذَا كَانَ الْمَالِكُ مُسْلِمًا أَوْ كَافِرًا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ او هيڅ فرق نسته په دې کي چي مالک مسلمان وي يا [مالک] په دارُ الاسلام کي کافر وي لِعُمُومِ الْعِلَّةِ ځکه چي علت عام دی وَالْمُكَاتَبُ إِذَا اشْتَرَى أَخَاهُ وَمَنْ يَجْرِي مَجْرَاهُ او که مکاتب خپل ورور يا [په قرابت کي] د ورور قائم مقام [لکه وراره يا داسي بل قريب] رانيسي لَا يَتَكَاتَبُ عَلَيْهِ نو دا [رانيول سوی قريب] پر هغه مکاتب نه ګرځي لِأَنَّهُ لَيْسَ لَهُ مِلْكٌ تَامٌّ يُقْدِرُهُ عَلَى الْإِعْتَاقِ ځکه چي هغه لره [دومره] کامل ملکيت حاصل نه دی چي مکاتب پر إعتاق قادر کړي وَالِافْتِرَاضُ عِنْدَ الْقُدْرَةِ او [دا مسئله] د قدرت په وخت کي فرض کړی سوی ده [يعني دا مسئله په داسي صورت کي وضع سوې او فرض کړي سوې ده کله چي آزادونکي سړي ته پر آزادولو پوره قدرت حاصل وي] بِخِلَافِ الْوِلَادِ په خلاف د ولادت [يعني په خلاف د ولادتي قرابت] لِأَنَّ الْعِتْقَ فِيهِ مِنْ مَقَاصِدِ الْكِتَابَةِ ځکه چي عتق په دې [ولادتي قرابت] کي د کتابت له مقاصدو څخه وي فَامْتَنَعَ الْبَيْعُ نو بيع ممتنع سوه فَيَعْتِقُ تَحْقِيقًا لِمَقْصُودِ الْعَقْدِ نو د عقد کتابت د مقصود ثابتولو لپاره به هغه آزاديږي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّهُ يَتَكَاتَبُ عَلَى الْأَخِ أَيْضًا او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چي پر مکاتب د هغه ورور [هم] مکاتب ګرځي وَهُوَ قَوْلُهُمَا او همدا د صاحبينو قول دی فَلَنَا أَنْ نَمْنَعَ نو موږ ته دا اختيار سته چي موږ [د هغه نه مکاتب کېدل] منع کړو [يا معنیٰ يې دا ده: چي موږ د امام شافعي اعتراض منع کړو] وَهَذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا مَلَكَ ابْنَةَ عَمِّهِ او دا د هغه صورت په خلاف دي کله چي انسان خپل د اکا د لور مالک سي وَهِيَ أُخْتُهُ مِنَ الرَّضَاعِ او هغه د ده

رضاعي خور اهم ا وي لِأَنَّ الْمَحْرَمِيَّةَ مَاثَبَتَتْ بِالْقَرَابَةِ ځکه چي محرميت هغه معتبر دی کوم چي په قرابت سره ثابت سي وَالصَّبِيُّ جُعِلَ أَهْلًا لِهٰذَا الْعِتْقِ او کوچنی د دې عتق أهل ګرځول سوی دی وَكَذَا الْمَجْنُونُ همداسي لېونی اهم د دې عتق أهل ګرځول سوی دی ا حَتّٰى عَتَقَ الْقَرِيبُ عَلَيْهِمَا عِنْدَ الْمِلْكِ تر دې چي د مالک کېدلو په وخت کي پر دوی دواړو [اهم نژدې] قريب آزاديږي لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِهِ حَقُّ الْعَبْدِ ځکه چي د دې عتق سره د بنده حق متعلق سو فَشَابَهَ النَّفَقَةَ نو دا د نفقې سره مشابه سو.

اللغات: ﴿مُؤَبَّدَةٌ﴾ د تفعيل مؤنث اسم مفعول دی: همېشني، دائمي. ﴿يُضَاهِيْ﴾ د مفاعلې مضارع ده: مشابه کېدل. ﴿نَازِلَـةٌ﴾ کمتـر، کمې درجې والا. ﴿تَكَاتُـبٌ﴾ مکاتـب جوړول، مکاتـب ګرځول. ﴿مُلْغًى﴾ د إفعال له باب څخه د اسم مفعول صيغه ده. أَلْغٰى يُلْغِيْ إِلْغَاءً: لغو کول، باطلول. ﴿يَجْرِيْ مَجْرَاهُ﴾ کله چي دغه دوې صيغې يو ځای سره ذکر سي، نو معنی يې راځي: قائم مقام کېدل، يو شي د بل شي پر ځای درېدل، نائب کېدل. ﴿يُقَدِّرُ﴾ د تفعيـل او إفعال دواړو بابونو څخه راځي: قدرت ورکول (قادر جوړول، قادر کول).

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی کـه يـو انسان د خپـل ذی رحـم محـرم (نژدې قريـب) مالک سي (يعني داسي قريب چي د هغه سره د همېشه لپاره د انسان نکاح حرامه وي)، نو مملوک (نژدې قريب) پر هغه آزاديږي، ځکه په حديث کي ذکر سوي دي: "مَنْ مَلَكَ ذَا رَحِمٍ مِنْهُ عَتَقَ عَلَيْهِ"، او په بل حديث کي د "فَهُوَ حُرٌّ" الفاظ ذکر سوي دي، او دا د دې خبري دليل دی چي کـه يـو سړی د خپـل ذی رحـم محرم مالک سي، نو هغه پر ده آزاديږي، صاحب د بنايې فرمايي چي د "عَتَقَ عَلَيْهِ" لفظ د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په روايت کي دی کوم چي په نسائي کي ذکر سوی دی، او د "فَهُوَ حُرٌّ" لفظ د سمرة بن جندب رضي الله عنه په روايت کي دی چي هغه په سنن أربعه وو کي ذکر سوی دی، لنډه دا چي په دې حديث کي "ذَا رَحِم مَحْرَم" مطلق ذکر سوی دی، نو ځکه به هر هغه نژدې قريب تـه شامل وي چي د هغه سره په دائمي توګه نکاح حرامه وي، هغه که دا حرمت د ولادتي قرابت په وجه سره وي، يا د غير ولادتي قرابت په وجه سره وي (د ولادتي قرابت مثال دا دی چي انسان د خپـل پلار او مور يا د نيکه او انا مالک سي، يا مور او پلار د خپـل زوی يا لمسي مالکان سي، او د غير ولادتي قرابت مثال دا دی چي انسان د خپـل ورور او خور، يا د خپـل وراره او خوريي، يا د ماما او داسي نورو مالک سي)، نو زموږ په نېز په دې دواړو صورتونو کي مملوک آزاديږي، لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله د غير ولادت والا په

قرابت کي زموږ مخالف دی. د هغه په نېز فقط د ولادتي قرابت په صورت کي مملوک آزادېږي او په غیرِ ولادتي قرابت کي د هغه په نېز حُریت او عتق مؤثر نه دی.

د امام شافعي دلیل: دا دی چي د دې حدیث "مَنْ مَلَكَ ذَا رَحْمٍ...إلخ" په وجه پر مملوک د مالک له رضا څخه بغیر خلافُ القیاس آزادي واقع کیږي، او قاعده دا ده چي "مَاثَبَتَ عَلٰى خِلَافِ الْقِيَاسِ فَغَيْرُهُ لَا يُقَاسُ عَلَيْهِ" (یعني کوم شی چي خلافُ القیاس ثابت سي. پر هغه بل شی قیاس کېدای نه سي) او نه په هغه سره د دلالةُ النص په توګه پر بل شي دلیل نیول کېدلای سي. او څرنګه چي په ولادتي قرابت کي مالک کېدل د حُریت لپاره خلافُ القیاس مؤثر دي لهذا دا أثر به فقط د ولادتي قرابت سره خاص وي او له هغه څخه به د غیرِ ولادتي قرابت وطرف نه منتقل کیږي او په غیرِ ولادتي قرابت کي به مؤثر نه ګرځي. همدا وجه ده که یو مکاتب د خپل پلار یا د خپل زوی مالک سي نو څرنګه چي په دوی کي ولادتي قرابت موجود دی. نو په دې وجه به هغه دواړه هم مکاتب ګرځي. لېکن که یو مکاتب سړی د خپل ورور یا د خپل وراره. یا ماما او داسي نورو مالک سي. نو دا خلګ مکاتب نه ګرځي. ځکه چي په دوی کي ولادتي قرابت معدوم دی. نو په دې وجه د مکاتب مالک مکاتبت د دوی په حق کي مؤثر نه ګرځي. نو له دې څخه هم ښکاره سوه چي ولادتي قرابت د غیرِ ولادت پر قرابت قیاسول صحیح نه دي.

زموږ دلیل: زموږ اول دلیل هغه حدیث دی کوم چي پورته ذکر سو یعني "مَنْ مَلَكَ ذَا رَحْمٍ...إلخ". په دې حدیث سره موږ په دې توګه دلیل نیسو چي په دې حدیث کي "ذَا رَحْمٍ" مطلق دی او د ولادت یا غیر ولادت هیڅ قید پکښې ذکر سوی نه دی، نو ځکه به دا هر ډول قریب ته شامل وي. هغه که ولادتي قریب وي او که غیرِ ولادتي قریب وي.

دویم دلیل: زموږ دویم دلیل دا دی چي په حرمت کي قرابت اصل دی ولادت اصل نه دی. ځکه چي په حدیث کي د "رحم" او "محرم" لفظ راغلی دی. له "رحم" څخه قرابت مراد دی او له "محرم" څخه د نکاح حرمت مراد دی. لهذا کوم سړی چي د یو داسي ذی رحم محرم قریب مالک سي چي د هغه سره د ده لپاره نکاح حرامه وي نو هغه به پر ده آزادېږي. معلومه سوه چي د عتق او حریت اصل علت قرابت دی. او که د هغه سره ولادت هم یو ځای سي نو بیا نور مؤثر ګرځي. د قرابت د اصل کېدلو یو علت دا هم دی چي په حدیث کي قرابت کول فرض ګرځول سوي دي او د قرابت قطع کولو (ختمولو) ته حرام ویل سوي دي. همدا وجه ده چي د مَحرمي ښځي سره د نکاح د حرام والي باوجود د هغې نفقه واجب ده. معلومه سوه چي حریت او آزادي فقط د ولادت سره خاص کول صحیح نه دي.

ولافرق إلخ: فرمايي چې مالک کېدونکی کس که مسلمان وي او که کافر وي او په دارُ الاسلام کې وي، په دواړو صور تونو کې د هغه مملوک آزادیږي، ځکه چې د قرابتِ محرمه علت (یعني د نږدې قربت علت) عام دی. او هغه مسلمان او کافر ټولو ته په یوه ډول شامل دی.

والمكاتب إذا اشتراه إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دلیل "وَلِهٰذَا اِمْتَنَعَ التَّكَاتُب... إلخ." جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چې موږ دا خبره نه تسليموو چې که یو مکاتب د خپل ورور یا ماما او داسي نورو مالک سي نو هغه مکاتب نه ګرځي، بلکي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت چې که مکاتب د خپل ورور یا ماما او نورو مالک سي، نو هغه هم مکاتب ګرځي (بناية ج:۵، ص:۵۹۳)، او که بیا هم موږ د ورور یا ماما نه مکاتب کېدل د امام شافعي سره تسليم کړو، نو د هغه وجه غير ولادتي قرابت نه دی، بلکي وجه يې دا ده چې د آزادونکي (مُعْتِق) لپاره دا شرط دی چې هغه به په خپله آزادي وي او د ملک تام خاوند به وي، حالانکي مکاتب ته داسي ملکيت حاصل نه دی چې د هغه په وجه دا مکاتب پر إعتاق قادر سي، او دغه مسئله په هماغه صورت کي وضع سوې او فرض کړې سوې ده کله چې مُعْتِق ته پوره قدرت حاصل وي.

د دې په خلاف که مکاتب د ولادتي قریب مالک سي، نو هغه (ولادتي قريب) هم مکاتب ګرځي، او کله چې دغه مالک مکاتب آزاد سي، نو په هغه وخت کي د هغه مملوک (ولادتي قريب) هم آزاد ګرځي، ځکه چې په ولادتي قرابت کي آزادي د بدل کتابت مقصود ده، ځکه چې غلام په همدې وجه د بدل کتابت معامله کوي چې له هغه څخه رقيت (غلامتوب) لیرې سي او آزاد سي، لهذا څرنګه چې دا مقصود د مالک په حق کي ثابتيږي، همداسي به د هغه د مملوک په حق کي هم ثابتيږي.

صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي: "وَأَمَّا حُرِّيَة... إلخ فَلَيْسَتْ مِنْ مَقَاصِدِ عَقْدِ الْكِتَابَةِ لِعَدَمِ لُحُوْقِ الْعَارِ بِرِقِّهِ وَلَحُوْقِهِ بِرِقِّ اِبْنِهِ وَأَبِيْه". يعني د ورور حُريت (کوم چې ولادتي قريب نه دی) د عقد کتابت له مقاصدو څخه نه دی، ځکه چې انسان خو د پلار یا د زوی په رقيت (غلامتوب) شرم محسوسوي لېکن د ورور په رقيق کېدلو هغه پروا نه کوي. (أحسن الهداية ج:۵، ص:۳۱۷)

وعن أبي حنيفة إلخ: د دې تشريح موږ د بنايې په حواله سره څه مخکي بيان کړه.

وهذا بخلاف إلخ: په دې سره د يو مقدر سوال جواب ورکوي. سوال دا دی چې که چيري د ذي رحم محرم مالک کېدل د هغه د آزاد والي علت دی نو بيا د انسان دا کالور چې هغه د ده رضاعي خور هم وي بايد د هغې په رانيولو سره پر انسان آزاده سي (يعني که يو څوک خپل دا کالور رانيسي کوم چې د هغه رضاعي

خور هم وي نو بايد پر هغه آزاده سي) حالانکي داسي نه کيږي، د دې په جواب کي فرمايي چي په حُريت کي هغه قرابت مؤثر دی کوم چي د نکاح ابدي حرمت لره مستلزم وي، او دلته د نکاح حرمت د رضاعت په وجه سره دی، نه د قرابت په وجه سره، لهذا داسي بې ځايه سوال کول مناسب نه دي.

والصبي إلخ: فرمايي څرنګه چي پر عاقل او بالغ سړي خپل نژدې قريب آزاديږي، همداسي که يو کوچنی يا مجنون د خپل نژدې قريب مالک سي، نو هغه مملوک (نژدې قريب) هم پر کوچني او مجنون آزاديږي، ځکه چي د دغه عتق سره د بنده حق متعلق سو، او د عتق علت هم موجود دی، نو ځکه به عتق او حُريت واقع کيږي، او دا د نفقې سره مشابه سو، يعني کله چي انسان هيڅ قريب او وارث نه لري فقط يو کوچنی وارث لري يا يو مجنون وارث لري، نو د کوچني او مجنون په مال کي به د هغه انسان لپاره نفقه واجب وي (که چيري د بچي يا د مجنون لپاره مال وي)، همداسي به دلته هم د کوچني يا د مجنون د مالک کېدلو په صورت کي د هغو مملوک آزاديږي.

د الله د رضا لپاره يا د شيطان او بُت په نامه د آزاد سوي غلام حکم

> **وَمَنْ أَعْتَقَ عَبْدًا لِوَجْهِ اللهِ تَعَالَى** او کوم سړي چي د الله تعالیٰ د ذات [رضا] لپاره غلام آزاد کړي **أَوْ لِلشَّيْطَانِ أَوْ لِلصَّنَمِ** يا د شيطان يا بُت لپاره [غلام آزاد کړي] **عَتَقَ** نو غلام آزاديږي **لِوُجُودِ رُكْنِ الْإِعْتَاقِ مِنْ أَهْلِهِ فِي مَحَلِّهِ** ځکه چي د إعتاق رکن له خپل أهل شخصه په خپل محل کي موجود سو [يعني د إعتاق رکن د إعتاق له أهل شخصه د إعتاق په محل کي صادر سو] **وَوَصْفُ الْقُرْبَةِ فِي اللَّفْظِ الْأَوَّلِ زِيَادَةٌ** او په اول لفظ [يعني په لِوَجْهِ اللهِ] کي د قربت صفت زيات دی **فَلَا يَخْتَلُّ الْعِتْقُ بِعَدَمِهِ فِي اللَّفْظَيْنِ الْآخَرَيْنِ** لهذا په وروستني دوو لفظو کي به د دې وصف په نشتوالي سره په عتق کي خلل نه راځي [يعني څرنګه چي د "وجه" لفظ زائد دی نو په دې وجه که په وروستني دوو لفظونو کي يعني په للشيطان او للصنم کي د وجه لفظ ذکر نه سي، نو بيا هم د غلام په آزادېدلو کي هيڅ خلل نه واقع کيږي، بلکي بيله شکه غلام واقع کيږي].

اللغات: ﴿وَجْه﴾ ذات. ﴿صَنَمٌ﴾ بُت. ﴿قُرْبَة﴾ نيکي، ثواب. ﴿لَا يَخْتَلّ﴾ د افتعال له باب څخه د نفي صيغه ده: نقص پکښي راتلل، خرابېدل، عيبجن کېدل (عيبي کېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د الله د رضا لپاره خپل غلام آزاد کړي، يا يې د بُت او شيطان لپاره آزاد کړي، نو په دې صورت کي غلام آزاديږي: ځکه چي د إعتاق رکن يعني د مُعتِق عاقل او بالغ کېدل او د هغه مالک کېدل موجود سو، لهذا اوس له عتق څخه هيڅ مانع نسته، نو ځکه به غلام آزاديږي. (مِنْ أَهْلِهِ فِيْ مَحَلِهِ: دا يو محاوره ده، د أهل مطلب دا دی چي آزادونکی عاقل او بالغ

دی. او د محل مطلب دا دی چي غلام د عاقل او بالغ سړي مملوک دی. يعني دلته د عاقل او بالغ مالک له طرفه د مملوک آزادول موجود سو. نو ځکه به هغه آزادیږي).

و وصف إلخ: په دې سره د عبارت إصلاح کوي، فرمايي چي په اوله جمله "أَعْتَقَ عَبْدًا لِوَجْهِ اللهِ" کي د "وَجْه" لفظ زائد دی. که چيري هغه لفظ نه وي، نو هم غلام آزاديږي. لهذا که په دويمه جمله يعني په "لِلشَّيْطَانِ" او "لِلصَّنَمِ" کي د "وَجْه" لفظ نه وي. نو هم غلام آزاديږي. خو ښکاره دې وي چي د شيطان او بت د رضا او خوشاله کولو په نيت آزادونکی سړی ګناهګار ګرځي.

د "مُكْرَه" او "سُكْرَان" سړي إعتاق

وَعِتْقُ الْمُكْرَهِ وَالسَّكْرَانِ وَاقِعٌ او د مُکره او نشه سړي آزادول واقع دي (يعني ثوک چي پر آزادولو مجبور کړی سي يا ثوک چي نشه وي، د هغه آزادول واقع کيږي) لِصُدُورِ الرُّكْنِ مِنَ الْأَهْلِ فِي الْمَحَلِّ ځکه چي د عتق رکن له خپل أهل شخخه په محل کي صادر سو كَمَا فِي الطَّلَاقِ لکه ثرنګه چي په طلاق کي (همدا حکم دی چي د مُکره او نشه سړي طلاق واقع کيږي) وَقَدْ بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ او موږ مخکي هم دا (مسئله) بيان کړي ده.

اللغات: ﴿مُكْرَه﴾ د افعال له باب شخخه د اسم مفعول صيغه ده: مجبور (هغه کس چي په زوره پر يو کار مجبور کړی سي. هغه کس چي جبراً يو کار په وکړی سي). ﴿سَكْرَان﴾ نشه (نشه يي).

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو مالک د خپل غلام پر آزادولو مجبور کړی سي او هغه خپل غلام آزاد کړي. يا يو سړی د نشې په حالت کي خپل غلام آزاد کړي، نو په دې دواړو صورتونو کي آزادي واقع کيږي: ځکه چي د إعتاق رکن له خپل شخخه أهل شخخه صادر سو. يعني دلته عاقل او بالغ سړی خپل مملوک آزاد کړی. لهذا له عتق او آزادۍ شخخه هيڅ مانع نسته. نو ځکه به آزادي واقع کيږي. دا په مسئله په كتابُ الطلاق کي په تفصيل سره بيان سوه.

د مُعلق إعتاق بيان

وَإِنْ أَضَافَ الْعِتْقَ إِلَى مِلْكٍ أَوْ شَرْطٍ او که مالک (د غلام) آزادي د ملکيت يا د يو شرط وطرف ته منسوب کړي صَحَّ نو صحيح دي كَمَا فِي الطَّلَاقِ لکه ثرنګه چي په طلاق کي (ادا صحيح دي) أَمَّا الْإِضَافَةُ إِلَى الْمِلْكِ فَفِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ کوم چي د ملکيت وطرف ته (د آزادۍ) نسبت کول دي نو په هغه کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَقَدْ بَيَّنَّاهُ فِي كِتَابِ الطَّلَاقِ او په كتابُ الطلاق کي موږ هغه بيان

کړې دی وَأَمَّا التَّعْلِيقُ بِالشَّرْطِ فَلِأَنَّهُ إِسْقَاطٌ او کوم چې پر شرط (د آزادۍ) معلق کول دي نو (هغه) ځکه اصحیح دي (چې هغه إسقاط دی فَيُجْرَى فِيهِ التَّعْلِيقُ نو ځکه به په هغه کې تعلیق جاري کیږي بِخِلَافِ التَّمْلِيكَاتِ په خلاف د تملیکاتو عَلَى مَا عُرِفَ فِي مَوْضِعِهِ لکه څرنګه چې دا په خپل ځای کې پیژندل سوي دي.

اللغات: ﴿أَضَافَ﴾ د افعال ماضي ده: يو شي ته د بل شي نسبت کول، منسوب کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو څوک د یو غلام آزادي پر خپل ملکیت معلق کړي. مثلاً داسي وو‌ايي: "إِنْ مَلَكْتُكَ فَأَنْتَ حُرٌّ" (یعني که چیري زه ستا مالک سوم نو ته آزاد یې). یا د یو شرط وطرف ته د خپل غلام د آزادۍ نسبت وکړي. مثلاً داسي ووايي: "إِنْ جَاهَدْتَ فِيْ سَبِيلِ اللهِ فَأَنْتَ حُرٌّ" (که چیري ته د الله په لار کي جهاد وکړې نو ته آزاد یې). نو دغه دواړه صورتونه صحیح دي لکه څرنګه چې طلاق پر ملکیت یا پر شرط معلق کول صحیح دي، او د شرط د وجود په وخت کي به غلام آزادیږي. لیکن د ملکیت په هکله د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی. یعني که پر ملکیت عتق او آزادي معلق کړی سي، نو زموږ په نیز خو (د شرط د وجود په وخت کي) آزادي واقع کیږي، لیکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز آزادي نه واقع کیږي. دا مسئله په کتابُ الطلاق کي په تفصیل سره بیان سوه.

وأما التعليق إلخ: فرمايي چي عتق پر شرط معلق کول ځکه صحیح دي چي عتق د "إسقاط" له قبیلې څخه دی (یعني په عتق سره هم د طلاق په څیر ملکیت ساقطیږي) او إسقاطات پر شرط معلق کول صحیح دي. نو ځکه به عتق پر شرط معلق کول صحیح وي. د دې په خلاف تملیکات (یعني مالک کول) پر شرط معلق کول صحیح نه دي. لکه په أصول فقه کي چي به دا خبره تاسو ته معلومه سوې وي.

له دارُ الحرب څخه د تښتېدونکي غلام حکم

وَإِذَا خَرَجَ عَبْدًا لِحَرْبِيٍّ إِلَيْنَا مُسْلِمًا او کله چي د یو حربي کافر غلام زموږ وطرف ته د اسلام راوړلو په حالت کي راسي (یعني اسلام راوړي او زموږ دارُ الاسلام ته راسي) عَتَقَ نو هغه آزادیږي لِقَوْلِهِ عليه السلام فِيْ عَبِيدِ الطَّائِفِ [1] حِينَ خَرَجُوا إِلَيْهِ مُسْلِمِينَ ځکه چي نبي ﷺ وفرمایل د طائف د غلامانو په باره کي کله چي هغوی نبي ﷺ ته د اسلام راوړلو په حالت کي راغلل "هُمْ عُتَقَاءُ اللهِ تَعَالَى" "دوی د الله آزاد کړی سوي دي" وَلِأَنَّهُ أَحْرَزَ نَفْسَهُ وَهُوَ مُسْلِمٌ او په دې وجه (هم) چي هغه د مسلمان کېدلو په حالت کي

[1] تخریج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الجهاد، باب عبيد المشركين يلحقون بالمسلمين، حديث رقم: ۲۷۰۰

خپل ځان محفوظ کړی دی وَلَا اسْتِرْقَاقَ عَلَى الْمُسْلِمِ ابْتِدَاءً او ابتداءً مسلمان غلام نه سي جوړېدای.

اللغات: ﴿أَحْرَزَ﴾ دافعال ماضي ده: ذخيره کول، خوندي کول (محفوظ کول). ﴿إِسْتِرْقَاق﴾ د استفعال مصدر دی: غلام کول (غلام جوړول)، غلامي (غلامتوب).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که د يو حربي کافر غلام له دارُ الحراب څخه په تېښته بريالی سي او دارُ الاسلام ته راسي اسلام راوړي، نو دارُ الاسلام ته په راتلو سره هغه آزادېږي: ځکه چي له طائف څخه راتلونکو غلامانو ته (کوم چي ٢٣ نفره ول) نبي ﷺ "عُتَقَاءُ الله" ووېل او هغوی يې آزاد وشمارل.

ولأنه أحرز إلخ: عقلي دليل دا دی چي ابتداءً يو مسلمان غلام جوړېدای نه سي، او دغه غلام هم اسلام راوړی دی او دارُ الاسلام ته يې پناه راوړې ده، نو ځکه به هغه آزاد شمارل کېږي، نه غلام.

په إعتاق کي د حامله مينځي د حمل مختلف صورتونه

وَإِنْ أَعْتَقَ حَامِلًا او که [يو شوک خپله] حامله مينځه آزاده کړي عَتَقَ حَمْلُهَا تَبَعًا لَهَا نو د مينځي په متابعت کي د هغې حمل [هم] آزادېږي إِذْ هُوَ مُتَّصِلٌ بِهَا ځکه چي حمل د مينځي سره متصل دی وَلَوْ أَعْتَقَ الْحَمْلَ خَاصَّةً او که فقط حمل آزاد کړي عَتَقَ دُونَهَا نو له مينځي څخه بغير [فقط] حمل آزادېږي لِأَنَّهُ لَا وَجْهَ إِلَى إِعْتَاقِهَا ځکه چي د مينځي د آزادولو هيڅ صورت نسته مَقْصُودًا نه قصداً [د هغه هيڅ صورت سته] لِعَدَمِ الْإِضَافَةِ إِلَيْهَا ځکه چي [د مالک په کلام کي] د مينځي وطرف ته اضافت نسته وَلَا إِلَيْهِ تَبَعًا او نه د حمل په متابعت کي [د هغه هيڅ صورت سته] لِمَا فِيهِ مِنْ قَلْبِ الْمَوْضُوعِ ځکه چي په دې [تبعاً آزادېدلو] کي موضوع [پر بل مخ] اوړي ثُمَّ إِعْتَاقُ الْحَمْلِ صَحِيحٌ بيا [فقط] د حمل آزادول صحيح دي وَلَا يَصِحُّ بَيْعُهُ وَهِبَتُهُ او د حمل خرڅول او د هغه هبه کول صحيح نه دي لِأَنَّ التَّسْلِيمَ نَفْسَهُ شَرْطٌ فِي الْهِبَةِ ځکه چي په هبه کي د حمل ذات ورسپارل شرط دي وَالْقُدْرَةُ عَلَيْهِ فِي الْبَيْعِ او په بيع کي [د حمل] پر ورسپارلو قدرت لرل شرط دی وَلَمْ يُوجَدْ ذَلِكَ بِالْإِضَافَةِ إِلَى الْجَنِينِ او د حمل وطرف ته د نسبت کولو په صورت کي دا [تسليم او قدرت على التسليم] موجود ېدلای نه سي [ځکه چي حمل خو په نس کي دننه وي] وَشَيْءٌ مِنْ ذَلِكَ لَيْسَ بِشَرْطٍ فِي الْإِعْتَاقِ او په إعتاق کي له دې څخه

يو شی شرط نه دی فَافْتَرَقَا نو ځکه دواړه سره جلا سول ايعني په دواړو کي فرق راغلی ا.

اللغات: ﴿تَسْلِيْم﴾ د تفعيل مصدر دی: ورسپارل. ﴿جَنِيْن﴾ تر پيدايښت مخکي بچي ته "جنين" وايي، حمل. ﴿إِعْتَاق﴾ آزادول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که يو سړی خپله حامله مينځه آزاده کړي، نو حمل هم د هغې سره آزاديږي، ځکه چي حمل د مينځي سره متصل دی او د هغې تابع دي لکه خپل اندامونه چي د هغې تابع دي، نو څرنګه چي د هغې ټوله اندامونه آزاد ګرځي، همداسي به د هغې حمل هم آزاد ګرځي. او که يو مالک فقط حمل آزاد کړي، نو فقط حمل آزاديږي، او مينځه نه آزاديږي، ځکه چي جزء خو د کُل تابع کېدلای سي او په هغه کي داخلېدای سي، لېکن کُل د جزء تابع کېدلای نه سي او په هغه کي داخلېدای نه سي.

صاحب د هدايې چي کوم دليل بيان کړی، د هغه حاصل دا دی چي په دې مسئله کي د مينځي د آزادېدلو فقط دوه صورتونه دي، يا هغه به قصداً آزاده ګڼل کيږي، يا تبعاً. او دا دواړه صورتونه ناممکن دي، ځکه چي قصداً مينځه ځکه آزاده منل کېدای نه سي چي مالک فقط د هغې حمل آزاد کړی دی او د مينځي وطرف ته يې د عتق نسبت کړی نه دی. او تبعاً ځکه آزاده ګڼل کېدای نه سي چي په دې صورت کي قلبِ موضوع راځي يعني مينځه کوم چي متبوع ده هغه به تابع جوړه سي، او دا صحيح نه دي. لهذا مينځه هيڅ ډول آزادېدلای نه سي.

ثم إعتاق إلخ: د دې حاصل دا دی چي فقط حمل آزادول خو صحيح دي، لېکن فقط حمل خرڅول يا هبه کول صحيح نه دي: ځکه چي په هبه کي موهوب (هبه کړی سوی شی) ور سپارل ضروري دي، او په بيع کي د مَبيع پر ور سپارلو قدرت درلودل ضروري دي، لېکن حمل خو د مور په نس کي وي، هغه نه چا ته ور سپارل کېدای سي او نه څوک د هغه پر ورسپارلو قدرت لري، نو ځکه د حمل او جنين بيع او هبه صحيح نه ده. ها! د هغه إعتاق صحيح دی، ځکه چي د إعتاق لپاره نه تسليم (ورسپارل) شرط دي او نه قدرة على التسليم شرط دی.

حمل د مال په عوض کي آزادول

وَلَوْأَعْتَقَ الْحَمْلَ عَلَى مَالٍ او که مالک د يو څه مال په عوض کي حمل آزاد کړي صَحَّ نو آزادي صحيح ده وَلَايَجِبُ الْمَالُ او مال نه واجبيږي إِذْلَا وَجْهَ إِلَى إِلْزَامِ الْمَالِ عَلَى الْجَنِيْنِ ځکه چي پر جنين احمل ا د مال واجبولو هيڅ صورت نسته لِعَدَمِ الْوِلَايَةِ عَلَيْهِ ځکه چي پر هغه ا د يو چا ا ولايت نسته وَلَا إِلَى

إِلْزَامِهِ الْأُمَّ او ادهغه پر مور اهم د مال لازمولو هيڅ صورت نشته لِأَنَّهُ فِي حَقِّ الْعِتْقِ نَفْسٌ عَلَى حِدَةٍ ځکه چي د آزادۍ په حق کي جنين يو جلا نفس دی وَاشْتِرَاطُ بَدَلِ الْعِتْقِ عَلَى غَيْرِ الْمُعْتَقِ لَا يَجُوزُ او بدل عتق له معتَق آزاد کړی سوي اعلاوه پر يو بل چا شرط کول جائز نه دي عَلَى مَا مَرَّ فِي الْخُلْعِ لکه په خلع کي چي دا اخبره تېره سوه وَإِنَّمَا يُعْرَفُ قِيَامُ الْحَبَلِ وَقْتَ الْعِتْقِ او د عتق په وخت کي د حمل موجودېدل په هغه وخت کي معلومېږي إِذَا جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْهُ کله چي د آزاېدلو له وخت څخه تر شپږو مياشتو په کم مودت کي مينځي حمل اکوچنی ازېږولی وي لِأَنَّهُ أَدْنَى مُدَّةِ الْحَبَلِ ځکه چي دا اشپږ مياشتي اد حمل کم مودت دی.

اللغات: ﴿إِلْزَام﴾ د افعال مصدر دی: لازمول. ﴿حَبَل﴾ حمل. ﴿أَدْنَىٰ﴾ کمتر (کم از کم. لږ تر لږه).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د خپلي مينځي حمل د مال د يو مَعلوم مقدار (مثلاً د سلو درهمو) په عوض کي آزاد کړي، نو حمل خو آزادېږي، لېکن مال نه واجبېږي، ځکه چي پر جنين هيڅ ته ولايت حاصل نه دی، نو ځکه پر هغه مال (بدلِ عتق) لازمول کېدای نه سي. او د عتق او آزادۍ په حواله سره جنين ته د يو مستقل نفس حيثيت حاصل دی. نو ځکه د هغه له طرفه د هغه پر مور هم مال لازمول کېدی نه سي. ځکه چي له مُعْتَق (آزاد کړي سوي کس) څخه بغير پر بل هيڅا بدلِ عتق (د عتق عوض) لازمول صحيح نه دي. لکه په بابُ الخلع کي چي دا خبره ذکر سوه. دلته له بابُ الخلع څخه د هدايې بابُ الخلع مراد نه دی، ځکه چي دا مسئله د هدايې په بابُ الخلع کي ذکر سوې نه ده. له دې څخه يا د جامع صغير بابُ الخلع مراد دی. يا د کفاية المنتهي بابُ الخلع ځني مراد دی. کوم چي تر هدايې مخکي ليکل سوی دی. (بناية ج:۵، ص:۵۹۸، طبع: بيروت)

وإنما إلخ: د دې حاصل دا دی چي کله مالک حمل آزاد کړي (د مال په عوض کي يا بېله عوضه)، نو که د آزاېدلو له وخت څخه وروسته په شپږو مياشتو کي دننه حمل (بچی) پيدا سي. نو دا به گڼل کيږي چي د آزادولو په وخت کي حمل (بچی) د مور په نس کي موجود وو. ځکه چي د حمل کم از کم مودت شپږ مياشتي دی.

د مينځې د اولاد حکم

قَالَ: وَوَلَدُ الْأَمَةِ مِنْ مَوْلَاهَا حُرٌّ فرمايي: چي له مالک څخه به د مينځې بچى آزاد وي لِأَنَّهُ مَخْلُوقٌ مِنْ مَائِهِ ځکه چي هغه د مالک له نطفې څخه پيدا سوى دى فَيَعْتِقُ عَلَيْهِ نو ځکه به پر هغه آزاديږي هٰذَا هُوَ الْأَصْلُ همدا اصل دي وَلَا مُعَارِضَ لَهُ فِيهِ او په دې کي د مالک لپاره هيڅ معارض نسته او دا اعتراض به نه کيږي چي په دې بچي کي د مينځې نطفه هم سته لِأَنَّ وَلَدَ الْأَمَةِ لِمَوْلَاهَا ځکه چي د مينځې بچى د هغې د مالک دى.

اللغات: ﴿حُرٌّ﴾ آزاد. ﴿مَخْلُوْق﴾ د نصر له باب څخه د اسم مفعول صيغه ده: پيدا کړى سوى.

تشريح: مسئله ښکاره ده چي که د مالک له نطفې څخه د مينځې بچى پيدا سي. نو هغه بچى آزاد دى. ځکه چي د بچي د وجود سبب يعني مالک آزاد دى. نو ښکاره خبره ده چي بچى به هم آزاد وي. او أصل هم دغه دى چي د مالک له نطفې څخه پيدا سوى بچى به آزاد وي. او پاته سوه دا اعتراض چي په بچي کي خو د مينځې نطفه هم سته. نو د هغه په جواب کي فرمايي چي د مينځې نطفه هم د مالک (مولىٰ) په ملکيت کي ده. نو ګواکي بچى فقط د ملک له نطفې څخه پيدا سوى دى. لهذا هيڅ معارض پاته نه سو. نو ځکه به بچى آزاد وي.

د پورتنى مسئلې يو صورت

وَوَلَدُهَا مِنْ زَوْجِهَا مَمْلُوكٌ لِسَيِّدِهَا او له خاوند څخه به د مينځې بچى د هغې د مالک مملوک (غلام) وي لِتَرَجُّحِ جَانِبِ الْأُمِّ بِاعْتِبَارِ الْحَضَانَةِ ځکه چي (دلته) د مور جانب راجح دى د پرورش په اعتبار کولو سره أَوْ لِاسْتِهْلَاكِ مَائِهِ بِمَائِهَا يا د مينځې په نطفه کي د خاوند د نطفې هلاکېدلو (او مغلوبېدلو) په وجه وَالْمُنَافَاةُ مُتَحَقِّقَةٌ او (دلته) منافات (هم) ثابت دى وَالزَّوْجُ قَدْ رَضِيَ بِهِ او خاوند په دې راضي دى بِخِلَافِ وَلَدِ الْمَغْرُورِ په خلاف د دوکه سوي سړي د بچي لِأَنَّ الْوَالِدَ مَا رَضِيَ بِهِ ځکه چي پلار په دې راضي نه دى.

اللغات: ﴿حَضَانَة﴾ پرورش. پالنه. ﴿إِسْتِهْلَاک﴾ د استفعال مصدر دى: هلاکېدل. نيستي کېدل (معدوم کېدل). ورکېدل. ﴿مَغْرُوْر﴾ د نصر له باب څخه د اسم مفعول صيغه ده: دوکه سوى (چا ته چي دوکه ورکول سوې وي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مالک د خپلې مینځې نکاح دیو چا سره وکړي، او له هغه څخه د مینځې بچی پیدا سي، نو دا بچی به د مالک غلام وي، هغه که د مینځې خاوند آزاد وي، یا که غلام وي (یعني هغه که مالک د خپلې مینځې نکاح دآزاد سره کړې وي، یا د غلام سره. په دواړو صورتونو کې به د مینځې بچی د هغې د مالک غلام وي). یعني په دې مسئله کې به د پلار اعتبار نه کیږي، بلکې د مور اعتبار به کیږي او مور ته به ترجیح ورکول کیږي، وجه یې په لاندې عبارت کې بیان سوې ده.

لترجح جانب إلخ: فرمايي چې مور ته به په دوو وجهو ترجيح ورکول کيږي: ① يوه وجه دا چې د بچي د پالنې او پرورش حق مور ته حاصل دی. ② بله وجه دا چې کله له نطفې څخه بچی جوړ سي نو ګواکې د پلار نطفه د مور په نطفه کې ورکه او مغلوبه سي. ځکه چې بچی د مور دیو اندام په څير وي، او د هغې د بدن سره موښتی وي، همدا وجه ده چې کوچنی له مور څخه د غچې یا پَنَسر په ذریعه را جلا کيږي (ځکه چې بچی د مور سره موښتی وي). نو د دې وجوهاتو پر بناء بچی د مور تابع کيږي، او دلته مور ديو مالک مينځه ده، نو د هغې بچی هم به د هغې د مالک تابع او غلام وي.

والمنافاة متحققة إلخ: دا ديو اعتراض جواب دی، اعتراض دا دی چې ترجيح په هغه صورت کې يو شي ته ورکول کيږي، کله چې دواړو طرفونو ته دلائل او د دوو شيانو په مينځ کې منافات وي، نو د هغه جواب ورکوي. فرمايي چې دلته هم منافات سته، ځکه چې دلته د پلار او د مور د نطفې سره جنګ دی، د پلار نطفه غواړي چې بچی د پلار تابع سي او د مور نطفه غواړي چې د مور تابع سي او بچی غلام وګرځي، نو ځکه دلته د مور د پرورش په وجه او د هغې د اندام کېدلو په وجه د مور جانب ته ترجيح ورکول سوه، او کوچنی د مور تابع او غلام وګرځول سو.

والزوج قد رضي به إلخ: او پاته سو دا اعتراض چې په دې کې خو د خاوند (يعني د بچي پلار) نقصان دی چې د هغه بچی د بل چا غلام وګرځي، نو فرمايي چې خاوند د مينځې سره د نکاح کولو په وجه په خپل ضرر راضي سو، ځکه کله چې هغه د بل چا د مينځې سره نکاح وکړه، نو هغه په خپله په خپل حق کې ضرر ثابت کړی، لهذا د هغه به هيڅ پروا نه کيږي.

بخلاف ولد المغرور إلخ: د دې په خلاف که يو ښځه ووايي چې زه آزاده يم او بيا آزاد سړی (مثلاً خالد) د هغې سره نکاح وکړي او له هغې څخه يې بچی پيدا سي، وروسته معلومه سي چې دا ښځه خو د زيد مينځه ده، لهذا دا بچی به د زيد غلام شمارل کيږي، نو دغه بچي ته "وَلَدُ المَغْرُوْر" (د دوکه سوي سړي بچی) وايي، ځکه چې د هغه پلار ته دوکه ورکول سوې ده چې ښځه آزاده ده لهذا د هغې بچی

به هم آزاد وي، نو په داسي صورت کي بچی د پلار تابع گرځي او آزاد به شمارل کيږي، ځکه چي دلته پلار په خپل ضرر يعني د خپل بچي په غلام کېدلو راضي نه دی، بلکي هغه ته دوکه ورکول سوې ده، نو ځکه به بچی پلار ته حواله کيږي او آزاد به گرځي (خو پر پلار به د بچي قيمت لازم وي).

د پورتنی مسئلې يو بل صورت

وَوَلَدُ الْحُرَّةِ حُرٌّ عَلَى كُلِّ حَالٍ او د آزادي ښځي بچی به په هر حالت کي آزاد وي لِأَنَّ جَانِبَهَا رَاجِحٌ ځکه چي د ښځي جانب راجح دی فَيَتْبَعُهَا فِي وَصْفِ الْحُرِّيَّةِ نو د حُريت [آزادی] په وصف کي به بچی د خپلي مور تابع کيږي كَمَا يَتْبَعُهَا فِي الْمَمْلُوكِيَّةِ وَالْمَرْقُوقِيَّةِ وَالتَّدْبِيرِ وَأُمُومِيَّةِ الْوَلَدِ وَالْكِتَابَةِ لکه څرنګه چي بچی د خپلي مور تابع کيږي په مملوک کېدلو کي او په مدبر کېدلو کي او په اُمِ ولد کېدلو کي او په مکاتب کېدلو کي.

اللغات: ﴿مَمْلُوكِيَّة﴾ مملوک کېدل، د يو چا تر ملکيت لاندي کېدل (مراد ځني غلام کېدل دي).

﴿مَرْقُوقِيَّة﴾ غلام کېدل. ﴿التَّدْبِيْر﴾ مدبّر کېدل.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که د يو بچي مور آزاده وي، نو د هغې بچی په هر صورت کي آزاد دی، هغه که د بچي پلار غلام وي يا آزاد وي (په هر صورت کي بچی آزاد شمارل کيږي)، ځکه چي د مور جانب خو هسي هم راجح وي، او چي کله مور آزاده هم وي نو بيا خو هيڅ خبره نسته. يعني په دې صورت کي به په درجه اولیٰ بچی د مور تابع گرځي او آزاد به وي، لکه د يو بچي مور چي کله مملوکه (مينځه) وي، يا مدبره وي، يا اُمِ ولد يا مکاتبه وي، نو په دې ټولو صورتونو کي بچی د مور تابع گرځي او مملوک، مدبر، اُمِ ولد او مکاتب شمارل کيږي (يعني که مور يې اُمِ ولد وه، نو بچی به هم اُمِ ولد او د مالک تر مرګ وروسته به دواړه آزاديږي...)، همداسي به دلته هم بچی د مور تابع گرځي او آزاد به شمارل کيږي.



بَابُ العَبْدِ يُعْتَقُ بَعْضُهُ

(دا) باب د هغه غلام (په بيان کی) دی چي بعضی حصه يې آزاده کړی سي

تشريح: کله چي صاحب د کتاب د ټوله (پوره) غلام آزادولو له بيان څخه فارغ سو. نو اوس په دې باب کي د غلام د بعضي حصې د آزادولو بيان کوي، او څرنګه چي د ټوله غلام آزادول متفق عليه او کثيرُ الوقوع دي. او د هغه څه حصه آزادول مختلف فيه دي، نو ځکه يې د ټوله غلام د آزادولو احکام مخکي بيان کړل. او اوس د "عتق البعض" احکام بيانوي. (بناية ج:۵، ص:۶۰۲)

د غلام بعضي حصه آزادول

وَإِذَا أَعْتَقَ الْمَوْلَىٰ بَعْضَ عَبْدِهِ او کله چي مالک د خپل غلام بعضي حصه آزاده کړي عَتَقَ ذٰلِكَ الْقَدْرُ نو د هغه [حصې] په اندازه دا غلام آزادېږي وَيَسْعَىٰ فِي بَقِيَّةِ قِيمَتِهِ لِمَوْلَاهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به دا غلام د مالک لپاره په خپل پاته قيمت کي هڅه [او کسب] کوي ايعني کسب او خواري به کاږي چي مالک ته د خپلي پاته حصې قيمت ورکړي او په بشپړه توګه آزاد سي[وَقَالَا ۞: يُعْتَقُ كُلُّهُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي ټوله غلام آزادېږي وَأَصْلُهُ أَنَّ الْإِعْتَاقَ يَتَجَزَّأُ عِنْدَهُ او د دې اصل دا دی چي د امام صاحب په نېز إعتاق متجزي کېدای سي فَيَقْتَصِرُ عَلَىٰ مَا أَعْتَقَ نو پر هغه مقدار به آزادي منحصر وي کوم [مقدار] چي مالک آزاد کړی وي وَعِنْدَهُمَا لَا يَتَجَزَّأُ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز إعتاق متجزي کېدای نه سي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی فَإِضَافَتُهُ إِلَى الْبَعْضِ كَإِضَافَتِهِ إِلَى الْكُلِّ نو ا دوی په نېز ا د غلام بعضي حصې ته د إعتاق نسبت کول د ټوله غلام وطرف ته إعتاق د نسبت کولو په څېر دي فَلِهٰذَا يَعْتِقُ كُلُّهُ نو ځکه به د غلام ټوله حصه آزادېږي لَهُمْ: أَنَّ الْإِعْتَاقَ إِثْبَاتُ الْعِتْقِ د دوی دليل دا دی: چي إعتاق د عتق ثابتولو ته وايي وَهُوَ قُوَّةٌ حُكْمِيَّةٌ او

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله : وقالا من أعتق بعضه عتق كله، والصحيح قول الإمام (رد المحتار ج:۳، ص:۱۶)، وكذا في البحر الرائق (ج:۴، ص:۲۳۳). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۹۰]

عتق يو حکمي [شرعي] قوت دی وَإِثْبَاتُهَا بِإِزَالَةِ ضِدِّهَا او دا قوت د خپل ضد په ختمولو سره ثابتيږي وَهُوَ الرِّقُّ الَّذِي هُوَ ضَعْفٌ حُكْمِيٌّ او هغه ايعني د قوت ضد] غلامتوب دی کوم چې يو حکمي [شرعي] کمزوري ده وَهُمَا لَا يَتَجَزَّآنِ او دا دواړه متجزي کېدلای نه سي فَصَارَ كَالطَّلَاقِ وَالْعَفْوِ عَنِ الْقِصَاصِ وَالِاسْتِيلَادِ نو دا د طلاق ورکولو او د قصاص معاف کولو [بخښلو] او د ام ولد جوړولو په څېر سو وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْإِعْتَاقَ إِثْبَاتُ الْعِتْقِ بِإِزَالَةِ الْمِلْكِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې إعتاق د ملکيت په لېري کولو [ختمولو] سره د عتق ثابتولو ته وايي أَوْ هُوَ إِزَالَةُ الْمِلْكِ يا [په خپله] إعتاق د ملکيت لېري کولو ته وايي لِأَنَّ الْمِلْكَ حَقُّهُ ځکه چې ملکيت د مالک [مُعْتِق] حق دی وَالرِّقُّ حَقُّ الشَّرْعِ أَوْ حَقُّ الْعَامَّةِ او غلامتوب [غلاموالی] د شريعت حق دی يا د عوامو اعامو خلکو] حق دی وَحُكْمُ التَّصَرُّفِ مَا يَدْخُلُ تَحْتَ وِلَايَةِ الْمُتَصَرِّفِ او د تصرف حکم هغومره اندازه وي څومره چې د متصرّف تر ولايت لاندي داخل وي وَهُوَ إِزَالَةُ حَقِّهِ لَا حَقِّ غَيْرِهِ او هغه د خپل حق ختمول دي نه د بل چا حق وَالْأَصْلُ: أَنَّ التَّصَرُّفَ يَقْتَصِرُ عَلَى مَوْضِعِ الْإِضَافَةِ او أصل دا دی: چې تصرف د نسبت پر ځای منحصر [او محدود] کيږي [يعني د تصرف حکم تر هغه ځايه پوري پاتيږي، تر کومه ځايه پوري چې د هغه نسبت سوی وي] وَالتَّعَدِّي إِلَى مَا وَرَاءَهُ ضَرُورَةَ عَدَمِ التَّجَزِّي او له هغه شخصه بغير [د بل ځای] وطرف ته [د تصرف] متجاوز کېدل د نه متجزي کېدلو په وجه سره کېدای سي وَالْمِلْكُ مُتَجَزِّئٌ او ملکيت متجزي دی كَمَا فِي الْبَيْعِ وَالْهِبَةِ لکه په بيع او هبه کي [چې ملکيت متجزي کېدای سي] فَيَبْقَى عَلَى الْأَصْلِ نو ځکه به [د إعتاق] تصرف پر خپل أصل پاتيږي وَتَجِبُ السِّعَايَةُ او [پر غلام] به هڅه [او کسب] کول واجب وي لِاحْتِبَاسِ مَالِيَّةِ الْبَعْضِ عِنْدَ الْعَبْدِ ځکه چې د بعضي غلام قيمت د هغه سره محبوس [بندي] دی وَالْمُسْتَسْعَى بِمَنْزِلَةِ الْمُكَاتَبِ عِنْدَهُ او مستسعی [پر کوم غلام چې سعی او هڅه کول واجب وي] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د مکاتب په درجه کي دی لِأَنَّ الْإِضَافَةَ إِلَى الْبَعْضِ تُوجِبُ ثُبُوتَ الْمَالِكِيَّةِ فِي كُلِّهِ ځکه چې د بعضي غلام وطرف ته د إعتاق نسبت کول په ټوله غلام کي د ملکيت ثابتېدل واجبوي وَبَقَاءُ الْمِلْكِ فِي بَعْضِهِ يَمْنَعُهُ او د غلام په بعضي حصه کي [د مالک] ملکيت پاتېدل د دې لپاره مانع دي فَعَمِلْنَا بِالدَّلِيلَيْنِ بِإِنْزَالِهِ مُكَاتَبًا نو ځکه موږ د دغه غلام په مکاتب ګرځولو سره

په دواړو دليلونو عمل وکړی ايعني موږ دلته په دواړو دليلونو عمل وکړی او دغه غلام مو مکاتب وګرځوی| إِذْ هُوَ مَالِكٌ يَدًا لَا رَقَبَةً ځکه چي مکاتب د تصرّف مالک دی، نه د رقبې وَالسِّعَايَةُ كَبَدَلِ الْكِتَابَةِ او هڅه [کسب| کول د بدلِ کتابت په څير دي فَلَهُ أَنْ يَسْتَسْعِيَهُ نو [ځکه| مالک ته دا اختيار |هم| سته چي په غلام هڅه |او کسب| وکړي وَلَهُ خِيَارُ أَنْ يُعْتِقَهُ او هغه ته دا اختيار |هم| سته چي غلام آزاد کړي لِأَنَّ الْمُكَاتَبَ قَابِلٌ لِلْإِعْتَاقِ ځکه چي مکاتب دإعتاق [آزادېدلو| قابل وي غَيْرَ أَنَّهُ إِذَا عَجَزَ لَا يُرَدُّ إِلَى الرِّقِّ خو کله چي |دغه غلام له سعی او کسب څخه| عاجز سي نو هغه به د غلامتوب وطرف ته نه ردول کيږي لِأَنَّهُ إِسْقَاطٌ لَا إِلَى أَحَدٍ ځکه چي دا ساقطول دي بغير د يو چا وطرف ته |يعني دا بېله وجهي او بغير له مالک څخه ساقطول دي| فَلَا يَقْبَلُ الْفَسْخَ نو ځکه به فسخ نه قبلوي بِخِلَافِ الْكِتَابَةِ الْمَقْصُودَةِ په خلاف د مقصود کتابت |يعني په خلاف د مکاتب جوړولو| لِأَنَّهُ عَقْدٌ يُقَالُ وَيُفْسَخُ ځکه چي هغه يو داسي عقد دی چي په هغه کي اقاله [هم| کېدای سي او فسخ [هم| کېدای سي وَلَيْسَ فِي الطَّلَاقِ وَالْعَفْوِ عَنِ الْقِصَاصِ حَالَةٌ مُتَوَسِّطَةٌ او په طلاق کي او له قصاص څخه په معافی کي يو منځنی حالت |او واسطه| نسته فَأَثْبَتْنَاهُ فِي الْكُلِّ تَرْجِيحًا لِلْمُحَرِّمِ نو ځکه موږ محرم ته [پر مبيح| په ترجيح ورکولو سره په کُل کي هغه |طلاق يا قصاص| ثابت کړی وَالِاسْتِيلَادُ مُتَجَزِّئٌ عِنْدَهُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز اُم ولد جوړول متجز کېدای سي حَتَّى لَوِ اسْتَوْلَدَ نَصِيبَهُ مِنْ مُدَبَّرَةٍ تر دې که مالک له مدبره مينځي څخه خپله حصه اُم ولد جوړه کړي يَقْتَصِرُ عَلَيْهِ نو پر هغه حصې به |استيلاد| منحصر [محدود| وي |يعني فقط د هغه حصې په اندازه به مدبره مينځه اُم ولد وي| وَفِي الْقِنَّةِ لَمَّا ضَمِنَ نَصِيبَ صَاحِبِهِ بِالْإِفْسَادِ او په خالص مملوکه مينځه کي چي کله يو شريک د |خپل ملګري د حصې| فاسدولو په وجه د خپل ملګري د حصې ضامن سو |يعني کله چي يې خپل ملګري ته د هغه د حصې تاوان ورکړی| مَلَكَهُ بِالضَّمَانِ نو د ضمان |تاوان ورکولو| په وجه هغه |د خپل ملګري د حصې| مالک سو فَكَمُلَ الِاسْتِيلَادُ نو |اوس| استيلاد بشپړ سو |يعني نو ټوله مينځه اُم ولد وګرځېده|.

اللغات: ﴿يَسْعَى﴾ د فتح مضارع ده: کوښښ او هڅه کول (د يو چا په حق او حاجت پوره کولو کي هڅه کول). زحمت او خواري کښل. مراد ځني کسب او مزدوري کول دي. ﴿يَتَجَزَّى﴾ د تفعل

مضارع ده: ټوکړه ټوکړه کېدل. جزء جزء کېدل. حصه حصه کېدل. ﴿التَّعَدِّي﴾ د تفعّل اسم مصدر دی: تجاوز. ﴿إِحْتِبَاس﴾ د افتعال مصدر دی: بندي کېدل. محبوس کېدل. منع کېدل. ﴿إِسْتِيْلَاد﴾ د استفعال مصدر دی: اُمِ ولد جوړول. د خپلې مينځې سره د دې لپاره وطي کول چې بچی ځني پيدا سي. (اُمِ ولد هغه مينځې ته وايي چې له مالک څخه حامله سي او بچی يې پيدا سي. اُمِ ولد مينځه د مالک تر مرګ وروسته آزاديږي)

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی د خپل غلام څه حصه آزاده کړي او څه حصه يې راوګرځوي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز څومره حصه چې هغه آزاده کړې وي، په هغومره حصه کې آزادي واقع کيږي. او په پاته حصه کې د مځکې په څېر غلامتوب پاتيږي. او د پاته حصې لپاره به غلام کوښښ (سعايه) او ګټه کوي او مالک ته به يې ورکوي (چې پاته حصه يې هم آزاده سي). د دې په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز ټوله غلام آزاديږي او پر هغه سعايه هم واجب نه ده.

اصل خبره دا ده چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په إعتاق کې د تجزی امکان سته (يعني د امام صاحب په نېز دا صحيح دي چې يو وار د غلام يو جزء [حصه] آزاد کړی سي. او بل وار يې بل جزء [حصه] آزاد کړی سي). لېکن د صاحبينو په نېز په إعتاق کې د تجزی امکان نسته (يعني د هغو په نېز دا صحيح نه دي چې غلام جزء جزء او حصه حصه کړی سي). همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی يعني د هغه په نېز هم په إعتاق کې تجزی کېدای نه سي. نو د صاحبينو او د امام شافعي په نېز د نصف او بعضي غلام آزادول داسې دي لکه د ټوله غلام آزادول. او د بعضي غلام وطرف ته د إعتاق نسبت کول داسې دي لکه د ټوله غلام وطرف ته د إعتاق نسبت کول. نو ځکه به ټوله غلام آزاديږي.

دليل: د صاحبينو او امام شافعي رَحِمَهُمُ الله دليل دا دی چې إعتاق د عتق ثابتولو ته وايي. او عتق يو شرعي قوت (حکمي قوت) دی چې هغه په داسې وخت کې ثابتيږي کله چې د هغه ضد بالکل ختم کړی سي (عتق ته ځکه شرعي او حکمي قوت وايي چې آزاد کړی سوی غلام ته د شريعت. په حکم کې د تصرفاتو حق حاصليږي. يعني: ولايت. قضاء. شهادت او داسې نور تصرفات). او د شرعي قوت يعني د عتق ضد رقيت دی کوم چې شرعي (حکمي) ضعف دی. لهذا تر څو چې په بشپړه توګه شرعي ضعف ختم سوی نه وي، تر هغه وخت پوري شرعي قوت ثابتېدای نه سي. او څرنګه چې په شرعي ضعف او شرعي قوت کې تجزی نه سي کېدای، نو ځکه به د دوی په مأخذ او مشتق يعني په عتق کې هم تجزی نه کيږي. او څرنګه چې په طلاق کې تجزی نه سي کېدای او په قصاص کې تجزی نه سي کېدای چې معافي پکښې وسي او په اُمِ ولد جوړولو کې تجزی نه سي کېدای. همداسې په إعتاق او

عتق کي هم تجزی ممکنه نه ده. نو په دې وجهو سره به د بعضي غلام په آزادولو سره ټوله غلام آزاديږي.

د امام صاحب دليـــل: دا دی چي د إعتاق اصل معنیٰ ده "ملکيت ليري کول او په غلام کي عتق (آزادي) ثابتول". ځکه چي مولیٰ د غلام مالک وي او همدا ملکيت د مولیٰ (مالک) حق دی. پاته سو رقيت (غلامتوب) نو هغه خو يا د شريعت حق دی يا د عوامُ الناس حق دی. رقيت د شريعت حق په دې توګه دی چي کله کافر د الله له بندګۍ او غلامۍ څخه انکار وکړی نو الله هغه ته په دې توګه بدله ورکړه چي هغه يې د خپلو بندګانو غلام جوړ کړی، او رقيت د عوامو حق په دې توګه دی چي څرنګه مجاهدين د غنيمت مالونه تقسيموي. همداسي مجاهدين قيدي غلامان او مينځي هم په خپل مينځ کي تقسيموي (عنايه او بنايه). لنډه دا چي دا خبره تسليم ده چي ملکيت فقط د مولیٰ (مالک) حق دی. او هر مالکؒ په دې دائره کي دومره تصرف کولای سي څومره چي د هغه په وس کي وي. او دلته د مالک په وس کي فقط ملکيت دی، نه رقيت (ځکه چي هغه خو يا د شريعت حق دی. يا د عوامُ الناس)، نو ځکه هغه همدا خپل ملکيت ختمولای سي، نه رقيت. او څرنګه چي د انسان په ملکيت کي تجزی ممکنه ده. نو همداسي به په إعتاق کي هم تجزی ممکنه وي. او خبره په اصل کي دا ده چي تصرف پر هغه ځای منحصر کيږي او تر هغه ځايه پوري پاتيږي کوم ځای ته چي د هغه نسبت سوی وي. او له هغه ځای څخه د مخ وطرف ته هغه وخت تصرف متجاوز (او متعدي) کېدلای سي کله چي هغه (تصرف او ملکيت) متجزی کېدای نه سي، لېکن څرنګه چي دلته په دې مسئله کي د مالک ملکيت متجزي کېدای سي، نو ځکه به په اعتاق کي هم تجزی کيږي. او څرنګه چي مالک د خپل غلام نصف او بعضي حصه خرڅولای او هبه کولای سي. همداسي به هغه د خپل غلام نصف يا بعضي حصه هم آزادولای سي، د دې لپاره چي تصرف تر خپل أصل ځای پوري يعني تر موضعُ التصرف پوري باقي پاته سي.

__ويجب السعاية إلخ__: د دې حاصل دا دی چي کله د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په بعضي غلام کي عتق ثابت سي. نو د پاته بعضي حصې د خلاصون او آزادولو لپاره د هغه په نيز پر غلام سعايه او کټه کول واجب دي. او د هغه په نيز دغه غلام د مکاتب په درجه کي دی، ځکه چي دلته دوې خبري دي: ① د بعضي غلام وطرف ته د إعتاق په نسبت کولو سره دا خبره څرګندېږي چي له ټوله غلام څخه د مالک ملکيت ختم سو. ځکه چي په عتق کي تجزی نسته. ② په بعضي غلام کي د مالک د ملکيت په پاتېدو سره دا خبره څرګندېږي چي دغه ټوله غلام اوس هم د مالک تر ملکيت لاندي (مملوک) دی. ځکه چي رقيت هم نه متجزي کيږي. او کله چي دلته دغه غلام د مکاتب په درجه وګرځول سي نو

په دغه دواړو خبرو عمل کول ممکن دي. نو ځکه امام صاحب رَحِمَهُ الله دغه غلام د مکاتب په درجه وګرځوی. ځکه چې په مکاتب کې هم بعضې حصه آزاده وي او بعضې حصه يې د مالک تر ملکيت لاندې وي. يعنې هغه د رقبې په اعتبار سره مملوک او رقيق وي. او د قبضې او تصرف په اعتبار سره آزاد او مالک وي. او څرنګه چې په مکاتب کې مالک ته د اختيار سته چې هغه له مکاتب څخه خپل د پاته حصې قيمت واخلي او بيا يې آزاد او ايله کړي. يا يې تر قيمت اخيستلو مخکې آزاد کړي. همداسې به په دې مُعتَقُ البعض غلام کې (چې د هغه بعضې حصه آزاده سوې ده) هم مالک ته دغه اختيار حاصل وي.

خو په مکاتب او مُعتَق البعض غلام کې فقط دومره فرق سته چې که چيرې مُعتَق البعض غلام له کسب او مزدورۍ څخه عاجز سي. نو بيا به هغه بيرته د رقيت (غلامتوب) وطرف ته نه ردول کيږي (يعني بيرته به د غلامتوب وطرف ته نه واپس کيږي او پر هغه به د غلام مُهر نه لګول کيږي). لېکن که مکاتب له کسب څخه عاجز سي. نو هغه به بيرته د رقيت وطرف ته ردول کيږي. د دې فرق وجه دا ده چې که چيرې مورږ د مُعتَق البعض لپاره هم دا حکم وکړو چې هغه به رقيت ته ردول کيږي او واپس به غلام ګرځول کيږي. نو دا به إسقَاط لَا إِلیٰ أحَد وي. يعني له څه وجهي او مالک څخه بغير به إسقاط لازم سي. ځکه چې په إسقاط کې د معاوضې معنیٰ سته. او معاوضه د دوو خلګو په مينځ کې ثابتيږي. او دلته فقط يو سړی دی او هغه مُعتَق (آزادونکی) دی. نو ځکه به له کسب څخه د عاجزه کېدلو په صورت کې مُعتَقُ البعض د رقيت وطرف ته نه ردول کيږي. د دې په خلاف مکاتب به ځکه د عاجزه کېدلو په صورت کې رقيت ته ردول کيږي چې په هغه کې إسقَاط إلَی المُکَاتَب راځي او د معاوضې معنیٰ ثابتيږي. همدا وجه ده چې په بدلِ کتابت کې إقاله هم کېدای سي او هغه فسخ کېدای هم سي.

وليس في الطلاق إلخ: له دې ځايه د صاحبينو او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس جواب ورکوي چې هغو إعتاق پر طلاق او پر قصاص او پر استيلاد (أمِ ولد جوړولو) قياس کړی وو. د جواب حاصل دا دی چې د إعتاق او مملوکيت په مينځ کې يو حالت او واسطه سته. لکه مکاتب چې د ذات په اعتبار سره مملوک وي لېکن د تصرف په اعتبار سره مالک وي. لېکن د طلاق او نکاح په مينځ کې يا د قصاص او عفو (معافی) په مينځ کې هيڅ واسطه نسته. ځکه که يو څوک د خپلې ښځې نصف ته طلاق ورکړي. نو کوم نصف ته چې طلاق ورکول سوی وي. هغه به حرام وي او پاته نصف به حلال وي. همداسې که چيرې نصف قصاص معاف کړی سي. نو په هغه نصف کې به بدله او قصاص اخيستل حرام وي او په پاته نصف کې به قصاص حلال وي. نو په يوه شي کې به حلال او حرام دواړه سره

جمع سي، او قاعده دا ده چې کله په يوه مسئله کې حلال او حرام دواړه سره جمع سي، نو حرام غالب کيږي او حلال مغلوب ګرځي يعني حرام ته ترجيح حاصليږي، د قاعدې الفاظ دا دي: "إِذَا اجْتَمَعَ الْحَلَالُ وَالْحَرَامُ أَوِ الْمُحَرِّمُ وَالْمُبِيحُ غَلَبَ الْحَرَامُ وَالْمُحَرِّم"، لهذا د دغه قاعدې په رڼا کې موږ د طلاق او قصاص په مسئله کې د حرمت وجانب ته ترجيح ورکړه او د کامل طلاق او د کامل عفو (معافي) حکم مو وکړی.

همدارنګه پر استيلاد هم د صاحبينو او امام شافعي قياس کول صحيح نه دی؛ ځکه چې دويم فريق يعني امام صاحب رَحِمَهُ الله د استيلاد نه متجزي کېدل نه تسليموي، بلکې د هغه په نېز استيلاد هم متجزي کيږي (يعني د هغه په نېز په اُمِ ولد کې هم تجزی کېدای سي)، همدا وجه ده که يو مالک په مدبره مينځه کې فقط خپله حصه اُمِ ولد جوړه کړي، نو جائز دي او فقط د هغه حصې په اندازه مينځه اُمِ ولد ګرځي.

وفي القنة: په دې عبارت سره د دې خبرې نور وضاحت کوي چې استيلاد متجزي کېدای سي. مينځه چې مدبره نه وي بلکې خالص مينځه وي، نو هغې ته "قِنَّة" وايي، که يو قِنّه مينځه د دوو خلګو په مينځ کې مشترکه وه، او يوه شريک خپله حصه اُمِ ولد جوړه کړه، نو فقط د هغه حصه اُمِ ولد ګرځي، څرنګه چې په اُمِ ولد جوړولو سره هغه په خپله حصه کې د آزادۍ شائبه راوستله (ځکه چې د هغه تر مرګ وروسته به دا حصه آزاديږي)، نو ځکه به اوس دغه سړی (شريک) و هغه دويم سړي (دويم شريک) ته د هغه د حصې ضمان (تاوان) ورکوي، کله چې ضمان ورکړي نو اوس ټوله مينځه د دغه سړي کيږي او اوس پوره مينځه اُمِ ولد ګوري، تاسو اوګورئ! دلته اول د مينځې نيمه حصه اُمِ ولد وه، تر هغه وروسته يې بيا پاته حصه اُمِ ولد سوه، نو د دې مطلب همدا دی چې په اُمِ ولد کې تجزی کېدای سي يعني استيلاد متجزي کېدای سي.

د مشترک غلام يوه حصه آزادول

وَإِذَا كَانَ الْعَبْدُ بَيْنَ شَرِيكَيْنِ که چيرې يو غلام د دوو شريکانو په مينځ کې [مشترک] وي فَأَعْتَقَ أَحَدُهُمَا نَصِيبَهُ او [بيا] په دوی کې يو شريک خپله حصه آزاده کړي عَتَقَ نو [د هغه حصه] آزاديږي فَإِنْ كَانَ مُوسِرًا فَشَرِيكُهُ بِالْخِيَارِ بيا که آزادونکی [مُعتِق] مالدار وي نو د هغه شريک ته اختيار دی إِنْ شَاءَ أَعْتَقَ وَإِنْ شَاءَ ضَمَّنَ شَرِيكَهُ قِيمَةَ نَصِيبِهِ که خوښه يې وي نو [خپله حصه] دې [هم] آزاده کړي او که خوښه يې وي نو له خپل شريک [مُعتِق] څخه دې د خپلې حصې د قيمت ضمان [تاوان] واخلي وَإِنْ

شَاءَ اِسْتَسْعَى الْعَبْدَ او كه خوښه يې وي نو په غلام دې كسب [او مزدوري] وكړي [او د خپلې حصې قيمت دې ګټي واخلي] فَإِنْ ضَمَّنَ نو كه چيري هغه [له آزادونكي شريک څخه] تاوان واخلي رَجَعَ الْمُعْتِقُ عَلَى الْعَبْدِ نو مُعتق [آزادونكى شريک] به پر غلام رجوع كوي [او له غلام څخه به هغه قيمت اخلي] وَالْوَلَاءُ لِلْمُعْتِقِ او ولاء به د همدغه مُعتق [آزادونكي] لپاره وي وَإِنْ أَعْتَقَ أَوِ اسْتَسْعَى او كه شريک [خپله حصه هم] آزاده كړي يا [په غلام] كسب او [مزدوري] وكړي [او د خپلې حصې قيمت ګټي واخلي] فَالْوَلَاءُ بَيْنَهُمَا نو ولاء به د دوى دواړو په مينځ كي [مشتركه] وي وَإِنْ كَانَ الْمُعْتِقُ مُعْسِرًا او كه مُعتق [آزادونكى] غريب وي فَالشَّرِيكُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَعْتَقَ نو شريک ته به [همدغه] اختيار وي چي كه خوښه يې نو [خپله حصه] دې آزاده كړي وَإِنْ شَاءَ اسْتَسْعَى الْعَبْدَ او كه خوښه يې وي نو په غلام دي كسب [او مزدوري] وكړي وَالْوَلَاءُ بَيْنَهُمَا فِي الْوَجْهَيْنِ او په دې دواړو صورتونو كي به [د غلام] ولاء د دوى دواړو په مينځ كي [مشتركه] وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حكم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دى وَقَالَا❁: لَيْسَ لَهُ إِلَّا الضَّمَانُ مَعَ الْيَسَارِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي شريک ته به [د مُعتق] د مالدار والي په صورت كي فقط د ضمان اختيار وي [يعني صاحبين فرمايي چي په دې مسئله كي شريک ته فقط دا اختيار سته چي كه آزادونكى شريک (مُعتق) مالدار وي، نو دا دويم شريک دي له مُعتِق څخه تاوان واخلي، او مُعتق دغه تاوان او قيمت له غلام څخه واپس نه سي اخيستلاى] وَالسِّعَايَةُ مَعَ الْإِعْسَارِ او [د مُعتق] د غريبوالي په صورت كي به [شريک ته په غلام] د كسب [او مزدورى] كولو اختيار وي [يعني صاحبين فرمايي: كه چيري آزادونكى شريک (مُعتق) غريب وي، نو دا دويم شريک ته به فقط دا اختيار وي چي په غلام كسب او مزدوري وكړي او د خپلې حصې قيمت ګټي واخلي] وَلَا يَرْجِعُ الْمُعْتِقُ عَلَى الْعَبْدِ او مُعتق به [په اول صورت كي] پر غلام رجوع نه كوي [يعني كله چي مُعتق مالدار وي او دويم شريک له هغه څخه د خپلې حصې تاوان واخلي، نو صاحبين فرمايي چي په دې صورت كي به مُعتق له غلام څخه هغه تاوان او قيمت واپس نه اخلي] وَالْوَلَاءُ لِلْمُعْتِقِ او ولاء به [په دواړو صورتونو كي فقط] د مُعتق [آزادونكي شريک] لپاره وي.

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۷۱)، وكذا في الهندية (ج:۲، ص:۹). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۹۱]

اللغات: ﴿ضَمَّنَ﴾ د تفعیل ماضي ده: د ضمان ذمه وار جوړول. لـه یو چا څخه ضمان (تـاوان) اخیستل. ﴿اِسْتَسْعٰی﴾ د استفعال ماضي ده: په غلام زحمت او خواري کښل (هڅه او محنت په کول). یعني په غلام کسب او مزدوري کول (د دې لپاره چې غلام څه مال وګټي او د خپل پاته حصې قیمت اداء کړي او په پوره توګه آزاد سي). ﴿وَلَاء﴾ هغه میراث کوم چې لـه آزاد کړی سوي (مُعْتَق) غلام څخه انسان ته حاصل سي، یا په عقد موالات سره انسان ته حاصل سي.

تشریح: صورت د مسئلې ښکاره دی. دلائل او تفصیل به په راتلونکي عبارت کي ذکر سي.

د پورتنۍ مسئلې په باره کي دوه أصوله

وَهٰذِهِ الْمَسْأَلَةُ تَبْتَنِيْ عَلٰی حَرْفَيْنِ او دا مسئله پر دوو أصولو مبني ده أَحَدُهُمَا: تَجَزِّیءُ الْإِعْتَاقِ وَعَدَمُهُ له هغوی څخه یو [أصول] د إعتاق متجزي کېدل او نه متجزي کېدل دي عَلٰی مَا بَيَّنَّاهُ لکه [مخکي] چي مو دا [أصول] بیان کړی وَالثَّانِيْ: أَنَّ يَسَارَ الْمُعْتِقِ لَا يَمْنَعُ سِعَايَةَ الْعَبْدِ عِنْدَهُ او دویم أصول دا دی: چي د مُعتـق [آزادونکي شریک] مالـدار والی د امـام صـاحب رَحِمَهُ الله پـه نېز د غـلام لـه کسب [اومزدورۍ] څخه مانع نه دی وَعِنْدَهُمَا يَمْنَعُ او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز مانع دی لَهُمَا فِي الثَّانِيْ قَوْلُهُ عليه السلام فِي الرَّجُلِ يُعْتِقُ نَصِيْبَهُ: [1] "إِنْ كَانَ غَنِيًّا ضَمِنَ وَإِنْ كَانَ فَقِيْرًا سَعٰی فِيْ حِصَّةِ الْآخَرِ" په دویـم أصول کي د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل د نبي ﷺ دا قول دی د هغه سړي په باره کي کوم چي خپله حصه آزاده کړه [یعني نبي ﷺ د هغه په باره کي وفرمایل]: "که چیري دا سړی مالدار وي نو [د دویم شریک د حصې د قیمت] ضامن به وي او که فقیر وي نو د بل [دویم شریک] د حصې لپاره دي [په غلام] سعی [او کسب] وکړي قَسَّمَ [په دې حدیث کي] نبي ﷺ تقسیم کړی دی وَالْقِسْمَةُ تُنَافِي الشَّرِكَةَ او تقسیم د شرکت منافي دی وَلَهُ أَنَّهُ احْتَبَسَتْ مَالِيَّةُ نَصِيْبِهِ عِنْدَ الْعَبْدِ د امام صاحب دلیل دا دی: چي د شریک د حصې قیمت د دغه غلام سره محبوس [بندي] دی فَلَهُ أَنْ يُضَمِّنَهُ نو ځکه به شریک تـه دا اختیار وي چي له هغه څخه تاوان واخلي كَمَا إِذَا هَبَّتِ الرِّيْحُ فِيْ ثَوْبِ إِنْسَانٍ وَأَلْقَتْهُ فِيْ صَبْغِ غَيْرِهِ حَتّٰی انْصَبَغَ بِهِ لکه باد چي د یو چا جامې [کپړې] یوو سي او د بل چا په رنګ کي یې واچوي تر دې چي جامې رنګ سي فَعَلٰی صَاحِبِ الثَّوْبِ قِيْمَةُ صَبْغِ الْآخَرِ نو [په دې صورت کي] د جامو پر مالک د هغه بل چا قیمت

---

[1] تخریج: أخرجه مسلم فی باب ذکر سعایة العبد، ص:۶۵۳، حدیث رقم: ۱۵۰۳ - ۳۷۷۳ بمعناه.

واجب دی مُوسِرًا كَانَ أَوْ مُعْسِرًا هغه که د جامو مالک مالدار وي او که غريب وي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی فَكَذَا هٰهُنَا نو همداسي دلته [هم دغه حکم] دی إِلَّا أَنَّ الْعَبْدَ فَقِيرٌ خو دا چې [کله] غلام فقير وي فَيَسْتَسْعِيهِ نو هغه به په دې غلام سعی [او کسب] کوي ثُمَّ الْمُعْتَبَرُ يَسَارُ التَّيْسِيرِ بيا [د مُعتِق په مالدار والي کي] د ګزارې والا مالداري معتبر ده وَهُوَ أَنْ يَمْلِكَ مِنَ الْمَالِ قَدْرَ قِيمَةِ نَصِيبِ الْآخَرِ او هغه دا ده چې مُعتِق د دې بل [دويم شريک] د حصې د قيمت په اندازه مال لري لَا يَسَارُ الْغِنٰى نه د زيات مال مالداري [يعني دلته زياته مالداري مراد نه ده] لِأَنَّ بِهِ يَعْتَدِلُ النَّظَرُ مِنَ الْجَانِبَيْنِ ځکه چې په همدې [ګزارې والا مالدارۍ] سره د دواړو طرفونو رعايت [او مصلحت] معتدل پاتيږي بِتَحْقِيقِ مَا قَصَدَهُ الْمُعْتِقُ مِنَ الْقُرْبَةِ ځکه مُعتِق چې د کوم ثواب نيت کړی وي هغه به [هم] ثابت سي وَإِيصَالِ بَدَلِ حَقِّ السَّاكِتِ إِلَيْهِ او چپ پاتېدونکي [دويم شريک] ته به د هغه حق [هم] ورسول سي.

اللغات: ﴿هَبَّتْ﴾ د نصر له باب څخه د ماضي صيغه ده: هَبَّتِ الرِّيْحُ هُبُوْبًا: باد چلېدل. هوا د الوتل. کله چې د دې باب په صله کي "باء" راسي، نو معنیٰ يې راځي: په هوا کول (يعني چې باد يو شی يووسي او په هوا يې کړي)، ﴿إِنْصَبَغَ﴾ د انفعال ماضي ده: رنګېدل، په رنګ کي خشتېدل. ﴿سَاكِت﴾ د نصر اسمِ فاعل دی: خاموش، چپ پاتېدونکی، نه آزادونکی (دلته دويم شريک ته ساکت ځکه وايي چې هغه خپله حصه نه ده آزاده کړي بلکي له خپلي حصي څخه يې سکوت اختيار کړی دی)

تشريح: صاحب د هدايې فرمايي چې دا مسئله (يعني کله چې مُعتِق [آزادونکی شريک] خپل دويم شريک ته د هغه د حصې مال [ضمان] ورکړي، نو له غلام څخه د هغه مال اخيستل يا نه اخيستل) پر دوو قاعدو او اُصولو مبني دي: ① اول اُصول دا دی چې د امام صاحب په رَحِمَهُ الله په نيز إعتاق متجزي کېدای سي او د صاحبينو په نيز إعتاق نه سي متجزي کېدای. لکه د باب په شروع کي چې دا خبره تېرسوه. ② دويم اُصول دا دی چې کله مُعتِق (آزادونکی شريک) مالدار وي، نو د هغه مالداري د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د غلام له ګټي او کسب کولو څخه مانع نه ده او د صاحبينو په نيز مانع ده. د اولي قاعدې دلائل مخکي د باب په اول عبارت کي تېر سول.

په دويمه قاعده کې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د دليل حاصل دا دی چې په دې مسئله کې قياس په دوو شيانو کې ديو شي تقاضا کوي، يو د دې تقاضا کوي چې مُعتِق که مالدار وي او که غريب په دواړو صورتونو کې دې پر هغه د خپل شريک لپاره ضمان واجب وي، ځکه هغه د خپلې حصې آزادولو په وجه د خپل شريک حصه خرابه او فاسده کړه، ځکه چې اوس د هغه د شريک لپاره په خپله حصه کې تصرف کول او خپل ملکيت باقي ساتل ناممکن سو، او د إفساد ضمان د مالدارۍ او مفلسۍ په وجه سره نه مختلف کيږي.

دويم قياس د دې تقاضا کوي چې پر مُعتِق دې بالکل ضمان نه واجبيږي؛ ځکه چې مُعتِق په خپله حصه کې تصرف کړی دی (او فقط خپله حصه يې آزاد کړې ده) او په خپله حصه او ملکيت کې تصرف کونکی سړی تجاوز کونکی او متعدّي نه شمارل کيږي او نه پر هغه ضمان واجبيږي که څه هم د هغه د تصرف ضرر د بل چا ملکيت ته متجاوز سي، مثلاً که يو سړی د خپل کښت او فصل له پر يکولو او ريبلو څخه وروسته پاته وچو بوټو ته أور واچوي، او د أور په وجه د هغه د همسايه د کښت څه حصه هم وسوځل سي، نو پر دغه سړي د خپل همسايه لپاره ضمان نه واجبيږي.

څرنګه چې دا دواړه قياسونه سره متضاد دي (او هر قياس په دې مسئله کې جلا تقاضا کوي)، نو ځکه صاحبين دا دواړه قياسونه پريږدي او پر هغه حديث عمل کوي چې په صِحَاحِ سِته کې د حضرت ابو هريره رضي الله عنه په حواله سره ذکر سوی دی، يعني نبي کريم ﷺ د داسي سړي په هکله وفرمايل کوم چې په مشترک غلام کې خپله حصه آزاده کړې وه: "إِنْ كَانَ غَنِيًّا ضَمِنَ وَإِنْ كَانَ فَقِيرًا سَعٰى فِيْ حِصَّةِ الْآخَر"، يعني که هغه مُعتِق (آزادونکی شريک) مالدار وي نو هغه به د خپل شريک د حصې د قيمت ضامن وي (يعني پر هغه به د خپل شريک د حصې لپاره ضمان او تاوان واجب وي) او که هغه غريب وي، نو د شريک د حصې لپاره دي کوښښ (او ګټه) وکړي (يعني په غلام دي کسب او ګټه وکړي او د پاته حصې قيمت او ضمان دي غلام اداء کړي)، په دې حديث کې د مُعتِق (آزادونکي شريک) د غربت او مالدارۍ په اعتبار سره نبي کريم ﷺ تقسيم کړی دی، او تقسيم د شرکت منافي دی، لهذا که مُعتِق (آزادونکی شريک) مالدار وي، نو فقط هغه به ضامن وي او پر غلام به کسب او مزدوري واجب نه وي، او که مُعتِق غريب وي، نو پر غلام به کسب او مزدوري واجب وي، نو له دې څخه معلومه سوه چې د مُعتِق مالداري د غلام له کسب او مزدورۍ څخه مانع ده.

وله إلخ: د امام صاحب دليل دا دی چې د شريک د حصې قيمت د دغه غلام سره محبوس پاته سو (يعني ګواکې غلام د دې شريک د حصې قيمت را وګرځوی او له شريک څخه يې منع کړی)، نو ځکه به شريک ته اختيار وي چې له هغه څخه د خپل قيمت او مال ضمان واخلي، يعني په غلام

کسب او مزدوري وکړي، او دا مسئله داسي ده لکه ديو سړي جامې چي باد يووسي او جامې ديو رنګرېز د رنګولو په تپ کي ولوېږي چي د هغه په وجه جامې رنګ سي، يعني په جامو کي رنګ جذب سي، نو په دې صورت کي د جامو پر مالک واجب دي چي د رنګرېز د رنګ قيمت ورکړي، هغه که د جامو مالک مالدار وي او غريب وي، ځکه چي د هغه سره د رنګرېز رنګ محبوس پاته سو. نو په دې وجه د رنګريز لپاره تاوان اخيستل جائز دي، نو همدغسي حکم دلته هم دی چي شريک به له غلام څخه خپل مال اخلي، او که غلام بالکل محتاج او فقير وي، نو په هغه دي کسب او مزدوري وکړي او خپل مال دي ځني واخلي.

او د صاحبينو د ذکر سوي حديث جواب دا دی چي نبي ﷺ د شرط په توګه په تقسيم کړی دی، يعني سعي او کسب يې د مُعتِق (آزادونکي شريک) پر غربت معلق کړي دی، او دا د مُعتِق د مالدارۍ په وخت کي له استسعاء (يعني په غلام د کسب او مزدورۍ کولو) څخه منافي نه دي، ځکه کوم شی چي پر شرط معلق کړی سي نو د شرط د وجود په وخت کي د هغه موجودېدل خو ضروري دي، لېکن د شرط د نشتوالي (نا موجود والي) په وخت کي د هغه نيستي کېدل (او نه موجودېدل) ضروري نه دي، مثلاً که يو څوک خپل غلام ته ووايي: ''إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتَ حُرٌّ'' (که چيري ته کور ته داخل سې، نو آزاد يې)، که په دې صورت کي غلام کور ته داخل سي نو هغه خو يقيناً آزادېږي، لېکن د نه داخلېدلو په صورت کي نه آزادېدل ضروري نه دي بلکي آزادېدای هم سي په دې توګه چي مالک هغه ته له شرط څخه بغير ''أَنْتِ حُرٌّ'' ووايي، نو همداسي دلته هم د مُعتِق د مالدار والي باوجود په غلام کسب او مزدوري کېدای سي، معلومه سوه چي د مُعتِق مالداري په غلام د کسب او مزدورۍ کولو څخه مانع نه ده.

ثم المعتبر إلخ: د دې حاصل دا دی چي دلته پر آزادونکي سړي د ضمان د وجوب لپاره د هغه په حق کي يَسَارِ تَيْسِيْر معتبر دی، يعني که د هغه سره دومره مال وي چي د خپل شريک حصه په اداء کړي او د غه مال د هغه له ضرورياتو (يعني د هغه او د عيال له نفقې) څخه فارغ وي، نو هغه به مالدار ګڼل کيږي (مطلب دا که هغه ګزارې والا مال لري او ګزاره يې په کيږي، نو مالدار به ګڼل کيږي) او دلته يَسَارِ غِنَاء مراد نه دی چي د هغه سره به ډېر زيات مال وي؛ ځکه چي په يَسَارِ تَيْسِيْر (يعني د ګزارې په مال کي) د ضمان په واجبولو کي د دواړو شريکانو فايده سته او د دواړو په حق کي شفقت او مصلحت سته، ځکه چي په دې سره به مُعتِق (آزادونکي شريک) ته د هغه خپل مقصود (يعني ثواب او نېکي) حاصله سي او دويم شريک ته به د خپل حق عوض حاصل سي. والله أعلم وعلمه أتم

پر پورتنۍ مسئلې يوه تخريج

ثُمَّ التَّخْرِيْجُ عَلٰى قَوْلِهِمَا ظَاهِرٌ بيا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله پر قول تخريج ايعني د تيرې مسئلې حکم را ايستل ا بنکاره دي فَعَدَمُ رُجُوْعِ الْمُعْتِقِ بِمَا ضَمِنَ عَلَى الْعَبْدِ لِعَدَمِ السِّعَايَةِ عَلَيْهِ فِيْ حَالَةِ الْيَسَارِ نو د مُعتق لپاره پر غلام د ضمان رجوع نه کول ځکه دي ايعني آزادونکي به ځکه له غلام ځخه د تاوان مال واپس نه اخلي ا چې د مالدارۍ په حالت کې پر غلام سعی ا او کسب ا کول واجب نه دي وَالْوَلَاءُ لِلْمُعْتِقِ او ولاء د مُعتق ا آزادونکي ا لپاره ده لِأَنَّ الْعِتْقَ كُلَّهُ مِنْ جِهَتِهِ ځکه چې ټوله عتق د هغه له طرفه ا واقع سوی ا دی لِعَدَمِ التَّجَزِّيْ ځکه چې ا عتق ا نه متجزي کيږي وَأَمَّا التَّخْرِيْجُ عَلٰى قَوْلِهِ فَخِيَارُ الْإِعْتَاقِ لِقِيَامِ مِلْكِهِ فِي الْبَاقِيْ او کوم چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر قول تخريج کول دي نو ا شريک ته د خپلې حصې ا د آزادولو اختيار سته ځکه چې په پاته حصه کې د هغه ملکيت قائم دی إِذِ الْإِعْتَاقُ يَتَجَزَّأُ عِنْدَهُ ځکه چې اعتاق د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز متجزي کېدای سي وَالتَّضْمِيْنُ لِأَنَّ الْمُعْتِقَ جَانٍ عَلَيْهِ بِإِفْسَادِهِ نَصِيْبَهُ او د ضمان ا تاوان ا اخيستلو حق په دې وجه ا شريک ته ا سته چې مُعتق د هغه د حصې په فاسدولو سره پر هغه ظلم کونکی دی حَيْثُ امْتَنَعَ عَلَيْهِ الْبَيْعُ وَالْهِبَةُ وَنَحْوُ ذٰلِكَ مِمَّا سِوَى الْإِعْتَاقِ وَتَوَابِعِهِ وَالْاِسْتِسْعَاءُ ځکه چې ا اوس ا پر شريک له آزادولو او د هغه له توابعو او استسعاء ځخه بغير خرڅول او هبه کول ممتنع دي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی وَيَرْجِعُ الْمُعْتِقُ بِمَا ضَمِنَ عَلَى الْعَبْدِ او ا د امام صاحب په نيز به ا مُعتق پر غلام د ضمان رجوع کوي لِأَنَّهُ قَامَ مَقَامَ السَّاكِتِ بِأَدَاءِ الضَّمَانِ ځکه چې د ضمان اداء کولو په وجه هغه د ساکت ا دويم شريک ا قائم مقام سو وَقَدْ كَانَ لَهُ ذٰلِكَ بِالْاِسْتِسْعَاءِ او د ساکت لپاره دا اختيار د استسعاء په ذريعه ا حاصل ا وو فَكَذٰلِكَ لِلْمُعْتِقِ نو همداسي به د مُعتق لپاره ا هم ا دا اختيار ا حاصل ا وي وَلِأَنَّهُ مَلَكَهُ بِأَدَاءِ الضَّمَانِ ضِمْنًا او په دې وجه ا هم ا چې مُعتق د ضمان اداء کولو په وجه د دې غلام ضِمناً مالک سو فَيَصِيْرُ كَأَنَّ الْكُلَّ لَهُ نو داسي به سي لکه ټوله غلام چې د هغه لپاره وي وَقَدْ عَتَقَ بَعْضُهُ حالانکې هغه د غلام بعضي حصه آزاده کړې ده فَلَهُ أَنْ يُعْتِقَ الْبَاقِيْ نو هغه ته دا اختيار سته چې پاته حصه آزاده کړي أَوْ يَسْتَسْعِيَ إِنْ شَاءَ يا که وغواړي نو ا په غلام ا دې کسب ا او مزدوري ا وکړي وَالْوَلَاءُ لِلْمُعْتِقِ فِيْ هٰذَا الْوَجْهِ او په دې صورت

کي به ولاء د مُعتق لپاره وي لِأَنَّ الْعِتْقَ كُلَّهُ مِنْ جِهَتِهِ ځکه چي ټوله عتق د هغه له طرفه اواقع سوی ا دی حَيْثُ مَلَكَهُ بِأَدَاءِ الضَّمَانِ ځکه چي د ضمان په اداء کولو سره هغه د دغه [ټوله] غلام مالک سو.

اللغات: ﴿وِلَاء﴾ هغه ميراث کوم چي له آزاد کړی سوي (مُعْتَق) غلام څخه حاصل سي. يا له عقد موالات څخه حاصل سي. ﴿يَسَار﴾ مالداري، مالدار والی. ﴿مُعتِق﴾ د افعال اسم فاعل دی: آزادونکی (څوک چي غلام آزاد کړي). ﴿جَانِي﴾ د ضرب اسمِ فاعل دی: مجرم، جنايتکار. (ظالم).

تشريح: څرنګه چي د تېر عبارت مسئله پر دوو جلا قاعدو او اُصولو مبني وه. او هغه دواړه اُصول د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په مينځ کي مختلف فيه وو. نو ځکه به د مسئلې تخريج هم د دواړو اُصولو مطابق جلا جلا وي. د صاحبينو په نېز به د دې مسئلې تخريج داسي وي چي کله د هغه په نېز په إعتاق کي تجزی کېدای نه سي نو په دواړو شريکانو کي چي کوم شريک غلام آزاد کړي. نو ټوله غلام به د هغه له طرفه آزاديږي. او څرنګه چي د دې حضراتو (صاحبينو) په نېز د مُعتق شريک مالداري د غلام له استسعاء څخه مانع ده. نو ځکه به دويم شريک ته فقط د خپلې حصې د قيمت اخيستلو حق وي چي هغه به دئ له مُعتق څخه اخلي او د غلام ولاء به ټوله مُعتق ته حاصليږي. ځکه چي ټوله غلام د هغه له طرفه آزاد سوی دی.

د امام صاحب پر اُصول به د دې مسئلې تخريج داسي وي چي کله د هغه په نېز په إعتاق کي تجزی کېدای نه سي، او دلته اول شريک (مُعتق) فقط خپله حصه آزاد کړې ده. نو ځکه به د دويم شريک حصه (په غلام کي) قائم پاته وي. او په هغه حصه کي به د دويم شريک ملکيت باقي وي. نو ځکه به دويم شريک ته د خپلې حصې آزادولو اختيار هم وي. همدارنګه هغه ته به له مُعتق څخه د خپلې حصې د ضمان اخيستلو اختيار هم وي: ځکه کله چي اول شريک (مُعتق) خپله حصه آزاده کړه نو اوس د دويم شريک لپاره له إعتاق او د إعتاق له توابعو يعني له اُم ولد يا مکاتب او مدبر جوړولو څخه بغير په دې غلام کي د خرڅولو او هبه کولو ټولي لاري بندي سوې. يعني اوس دويم شريک خپله حصه نه خرڅولای سي او نه يې هبه کولای سي. ځکه چي اول شريک (يعني مُعتق) د خپلې حصې په آزادولو سره د هغه حصه خرابه او فاسده کړه. او دا د هغه په حق کي يو قسم ظلم دی. نو ځکه به دويم شريک ته د ضمان اخيستلو اختيار او حق هم حاصل وي. خو کله چي مُعتق دا ضمان دويم شريک ته ورکړي نو بيا به مُعتق ته دا اختيار او حق وي چي هغومره مال له غلام څخه واپس واخلي. ځکه چي مُعتق تر ضمان اداء کولو وروسته د دويم شريک قائم مقام سو. او دويم شريک ته دا

حق وو چي په غلام کسب او ګټه وکړي او خپل د حصې مال ځني واخلي، لهذا مُعتِق ته به هم دغه حق حاصل وي.

د دې سلسلې دويم دليل دا دی چي کله مُعتِق ضمان اداء کړی نو هغه ضمناً د ټوله غلام مالک سو. او څرنګه چي هغه اول فقط خپله حصه آزاد کړې وه، نو ځکه اوس به هغه ته د غلام آزادولو حق هم حاصل وي، او دا حق به هم ورته حاصل وي چي په غلام کسب او مزدوري وکړي او خپل مال ځني واخلي. او تر ضمان ورکولو وروسته به همدغه مُعتِق ته د غلام ټوله ولاء حاصليږي، ځکه چي ټوله إعتاق د هغه له طرفه ثابت سوی دی.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَفِي حَالِ إِعْسَارِ الْمُعْتِقِ إِنْ شَاءَ أَعْتَقَ او د مُعتِق [آزادونکي] د غريبوالي په حالت کي که [ساکت] شريک وغواړي نو خپله حصه دي [هم] آزاده کړي لِبَقَاءِ مِلْكِهِ ځکه چي د هغه ملکيت پاته دی وَإِنْ شَاءَ اسْتَسْعَى او که وغواړي نو [په غلام] دي کسب [او مزدوري] وکړي. لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَالْوَلَاءُ لَهُ فِي الْوَجْهَيْنِ او په دواړو صورتونو کي به د ده [ساکت شريک] لپاره [هم] ولاء وي لِأَنَّ الْعِتْقَ مِنْ جِهَتِهِ ځکه چي عتق د ده له طرفه [هم واقع سوی] دی وَلَا يَرْجِعُ الْمُسْتَسْعَى عَلَى الْمُعْتِقِ بِمَا أَدَّى او مستسعیٰ [غلام] به پر مُعتِق په هغه مال سره رجوع نه کوي کوم چي هغه اداء کړی دی بِإِجْمَاعٍ بَيْنَنَا په اتفاق سره زموږ [د امامانو] لِأَنَّهُ يَسْعَى لِفِكَاكِ رَقَبَتِهِ ځکه چي هغه خو خپل د غاړي د خلاصولو لپاره هڅه [او کسب] کوي وَلَا يَقْضِي دَيْنًا عَلَى الْمُعْتِقِ او داسي قرض نه اداء کوي کوم چي پر مُعتِق [لازم] وي إِذْ لَا شَيْءَ عَلَيْهِ لِعُسْرَتِهِ ځکه چي د خپل غربت په وجه به پر مُعتِق هيڅ شی [هم] لازم نه وي بِخِلَافِ الْمَرْهُونِ إِذَا أَعْتَقَهُ الرَّاهِنُ الْمُعْسِرُ په خلاف د مرهون غلام کله چي هغه غريب راهن آزاد کړي لِأَنَّهُ يَسْعَى فِي رَقَبَتِهِ قَدْ فُكَّتْ ځکه چي [هلته] مرهون غلام د خپل داسي غاړي لپاره هڅه [او کسب] کوي چي هغه خلاصه کړی سوې [آزاده کړی سوې] ده أَوْ يَقْضِي دَيْنًا عَلَى الرَّاهِنِ يا هغه يو داسي قرض اداء کوي کوم چي پر راهن [لازم] دی فَلِهَذَا يَرْجِعُ عَلَيْهِ نو په همدې وجه هغه پر راهن رجوع کولای سي وَقَوْلُ الشَّافِعِيِّ فِي الْمُوسِرِ كَقَوْلِهِمَا او د مالدار [مُعتِق] په باره کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د قول په څېر دی وَقَالَ فِي الْمُعْسِرِ: يَبْقَى

نَصِيبُ السَّاكِتِ عَلٰى مِلْكِهٖ يُبَاعُ وَيُوهَبُ او د غريب [مُعتَق] په باره کې هغه فرمايلي دي: چې د ساکت شريک [يعني د دويم شريک] حصه به د هغه په ملکيت کې باقي پاته وي چې هغه به خرڅول کېدای او هبه کېدای سي لِأَنَّهُ لَا وَجْهَ إِلٰى تَضْمِينِ الشَّرِيكِ لِإِعْسَارِهٖ ځکه چې د اول شريک [مُعتَق] د غريبوالي په وجه له هغه څخه د ضمان [تاوان] اخيستلو هيڅ صورت نسته وَلَا إِلَى السِّعَايَةِ او نه [په غلام] د کسب کولو [هيڅ صورت سته] لِأَنَّ الْعَبْدَ لَيْسَ بِجَانٍ وَلَا رَاضٍ بِهٖ ځکه چې غلام خو نه مجرم [جنايتکار] دی او نه په آزادۍ راضي دی وَلَا إِلٰى إِعْتَاقِ الْكُلِّ او نه د ټوله غلام د آزادولو [هيڅ صورت سته] لِلْإِضْرَارِ بِالسَّاكِتِ ځکه چې [په دې کې] د ساکت شريک نقصان دی فَتَعَيَّنَ مَا عَيَّنَّاهُ نو کوم څه چې موږ متعين کړه [چې د ساکت شريک حصه به د هغه په ملکيت کې باقي پاته وي] فقط هغه متعين سوه قُلْنَا: إِلَى الْاِسْتِسْعَاءِ سَبِيلٌ موږ جواب ورکوو: چې [په غلام] د کسب [او مزدورۍ] کولو لاره سته لِأَنَّهُ لَا يَفْتَقِرُ إِلَى الْجِنَايَةِ بَلْ يَبْتَنِي السِّعَايَةُ عَلَى احْتِبَاسِ الْمَالِيَّةِ ځکه چې استسعاء جنايت [اجرم کولو] ته محتاج نه ده بلکې استسعاء د قيمت پر احتباس مبني ده [چې دغه غلام د ساکت شريک قيمت محبوس کړی دی] فَلَا يُصَارُ إِلَى الْجَمْعِ بَيْنَ الْقُوَّةِ الْمُوجِبَةِ لِلْمَالِكِيَّةِ وَالضَّعْفِ السَّالِبِ لَهَا فِي شَخْصٍ وَاحِدٍ لهذا [فقط] په يوه غلام کې به دواړې خبرې يعني قوت کوم چې د ملکيت سبب دی او ضعف چې هغه د دې قوت سلبونکی دی نه جمع کېږي.

اللغات: ﴿إِعْسَار﴾ د افعال مصدر دی: تنګلاسي، غربت (غريبوالی)، ﴿فِكَاك﴾ د نصر مصدر دی: خلاصول (په اصل کې د قيدي او بندي لپاره استعماليږي، يعني قيدي له زولنو څخه خلاصول). خوشي کول. ﴿نَصِيب﴾ حصه، برخه. ﴿تَضْمِيْن﴾ د تفعيل مصدر دی: د ضمان ذمه وار جوړول. له يو چا څخه ضمان (تاوان) اخيستل. ﴿لَا يَفْتَقِرُ﴾ د افتعال نفي صيغه ده: محتاج کېدل. مجبور کېدل. ﴿لَا يُصَار﴾ د دې معنىٰ ده: رجوع به نه کيږي، نه به ګرځول کيږي. ﴿سَالِب﴾ د نصر اسمِ فاعل دی. سَلَبَ يَسْلُبُ سَلْبًا و سَلَبًا: سلبول. يو شی په زور اخيستل.

تشريح: مخکې چې کومې مسئلې ذکر سوې د هغوی تعلق د مُعتَق (آزادونکي) د يَسار او مالدارۍ سره وو، اوس د مُعتَق د إعسار او غربت سره اړوند مسئلې بيانيږي. چې د هغوی تفصيل دا دی که مُعتَق غريب او مفلس وي نو بيا به د هغه ساکت شريک ته دوه اختياره حاصل وي (ساکت شريک دويم شريک ته وايي، يعني يو شريک خو مُعتَق دی او بل ساکت شريک دی. ساکت ځکه ورته وايي

چې هغه خپله حصه نه ده آزاده کړې بلکې سکوت يې اختيار کړی دی. نو د مُعتق د غربت په صورت کې هغه ته دوه اختياره حاصل دي): ① که خوښه يې وي نو خپله حصه دې آزاده کړي، ځکه چې د دغه غلام په پاته حصه کې د هغه ملکيت پاته دی. ② او که خوښه يې وي، نو په دې غلام دې کسب او خواري وکاږي او د خپلې حصې قيمت دې ځني واخلي، ځکه چې د هغه د حصې قيمت د غلام سره محبوس دی (يعني ګواکې غلام د هغه د حصې قيمت راګرځولی دی)، او په دې دواړو صورتونو کې به شريک ته د خپلې حصې ولاء حاصليږي، ځکه چې په دې دواړو صورتونو کې د هغه له طرفه هم (په خپله حصه کې) عتق واقع سوی دی. او که چيرې دويم صورت وي يعني ساکت شريک په غلام کسب او مزدوري وکړي، نو د امام صاحب او صاحبينو په اتفاق دغه غلام له مُعتق شخصه خپل مال واپس نه سي اخيستلای (يعني په دې صورت کې بالاتفاق غلام ته دا حق نسته چې پر مُعتق رجوع وکړي او خپل مُکتسب مال ځني واخلي)، ځکه چې دغه غلام خو د خپلې غاړې د آزادولو لپاره کسب او مزدوري کوي، او يو داسې قرض نه اداء کوي چې هغه د مُعتق پر ذمه واجب او لازم وي او غلام ته د رجوع حق حاصل سي، ځکه چې مُعتق خو له مخکې شخصه غريب او مفلس دی. لهذا پر هغه باندې د يو شي د لازمېدلو هيڅ لاره نسته، نو په دې وجه غلام له مُعتق شخصه مُکتسب مال واپس نه سي اخيستلای. په خلاف د هغه غلام کوم چې مرهون وي او راهن هغه آزاد کړی وي په داسې حال کې چې راهن د غربت په وجه د مرتهن قرض نه سي اداء کولای، نو په دې صورت کې به غلام خپل قيمت په کسب او مزدوري ګټي او مرتهن به يې ورکوي، بيا به يې له راهن شخصه واپس اخلي (يعني د رهن په صورت کې غلام ته دا حق سته چې پر راهن رجوع وکړي او خپل مُکتسب مال ځني واخلي)، ځکه چې دلته غلام د خپلې غاړې لپاره کسب او مزدوري کړې ده. حال دا چې د هغه غاړه له مخکې شخصه آزاده سوې ده (ځکه چې راهن هغه آزاد کړی وو)، نو ځکه به دا غلام له راهن شخصه هغه مال واپس اخلي.

<u>وقول الشافعي إلخ</u>: فرمايي چې د مُعتق د مالدار والي په صورت کې د امام شافعي قول هم د صاحبينو د قول په شير دی. لېکن که مُعتق غريب او مفلس وي نو د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې په دې صورت کې به د غلام پاته حصه د ساکت شريک (دويم شريک) په ملکيت کې پاته وي او هغه ته به هر ډول اختيار حاصل وي که يې خرڅوي، يا يې هبه کوي؛ ځکه هغه نه له معتق شخصه ضمان اخيستلای سي (ځکه چې مُعتق له مخکې شخصه غريب او مفلس دی)، او نه په غلام کسب او مزدوري کولای سي، ځکه د مُعتق د آزادولو په وجه غلام مجرم نه دی، ځکه چې غلام په دې راضي نه دی (بلکې د غلام له رضاء شخه بغير مُعتق هغه آزاد کړی دی)، لهذا کله چې د غلام هيڅ جرم او



خطاء نسته، نو بيا به په څه وجه په هغه مظلوم کسب او مزدوري کيږي!. همدارنګه د ټوله غلام آزادولو هم هيڅ صورت نسته؛ ځکه چي په دې کي ساکت شريک نقصان دی. نو بس يوه لاره پاته سوه يعني ساکت شريک به د خپلي حصې مالک وي او په خپله حصه کي به هغه ته د هر ډول تصرف کولو اختيار وي.

قلنا إلخ: صاحب د هدايې د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دغه قول په جواب کي فرمايي چي په غلام د کسب او مزدورۍ کولو لپاره دا ضروري نه دي چي هغه به مجرم او جنايتکار وي بلکي د غلام سره د دويم شريک مال او ملکيت محبوس دی، نو په دې وجه په دغه غلام کسب او مزدوري کول ممکن دي، نو ځکه به په غلام کسب او مزدوري کيږي، د دې لپاره چي په يوه غلام کي د ملکيت موجب قوت يعني "عتق" او د دغه قوت سلبونکی شی يعني رقيت سره جمع نه سي.

پر پورتني مسئلي يوه بله تخريج

قَالَ: وَلَوْ شَهِدَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الشَّرِيكَيْنِ عَلَى صَاحِبِهِ بِالْعِتْقِ فرمايي: که چيري له دواړو شريکانو څخه هر يو پر خپل ملګري د غلام آزادولو ګواهي ورکړي سَعَى الْعَبْدُ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِي نَصِيبِهِ نو غلام به له دوی څخه د هر يوه لپاره د هغه په حصه کي هڅه [او کسب] کوي. ايعني غلام به د هر يوه د حصې لپاره خواري کاږي او د هغه حصه به اداء کوي[مُوسِرَيْنِ كَانَا أَوْ مُعْسِرَيْنِ هغه که دوی دواړه مالداران [شتمن] وي يا غريبان وي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ [دا حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [دی] وَكَذَا إِذَا كَانَ أَحَدُهُمَا مُوسِرًا وَالْآخَرُ مُعْسِرًا او همدارنګه که له دوی څخه يو مالدار وي او بل غريب وي لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَزْعُمُ أَنَّ صَاحِبَهُ أَعْتَقَ نَصِيبَهُ ځکه چي هر يو له دوی څخه دا ګومان کوي چي د هغه ملګري خپله حصه آزاده کړې ده فَصَارَ مُكَاتَبًا فِي زَعْمِهِ عِنْدَهُ نو د ده د ګومان مطابق د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [دا غلام] مکاتب سو وَحَرُمَ عَلَيْهِ الِاسْتِرْقَاقُ او پر ده غلام جوړول حرام سوا يعني دا ورته حرام سو چي خپله حصه غلام وګرځوي[فَيُصَدَّقُ فِي حَقِّ نَفْسِهِ نو ځکه به د خپل ځان په حق کي د ده تصديق کيږي فَيُمْنَعُ مِنْ اسْتِرْقَاقِهِ نو له جوړولو څخه به منع کيږي وَيَسْتَسْعِيهِ لېکن دئ به په غلام سعايه [کسب او مزدوري] کوي لِأَنَّا تَيَقَّنَّا بِحَقِّ الِاسْتِسْعَاءِ ځکه چي موږ ته دا يقين دی چي [ده ته] د استسعاء حق حاصل دی كَاذِبًا كَانَ أَوْ صَادِقًا هغه که دئ [په خپل دعوی کي] رښتونی وي يا درواغجن وي لِأَنَّهُ مُكَاتَبُهُ أَوْ مَمْلُوكُهُ ځکه چي غلام به يا د ده مکاتب وي يا به يې مملوک وي فَلِهَذَا يَسْتَسْعِيَانِهِ نو

ځکه هغه په ادواړو کي په هر يو۱ سعايه کولای سي وَلَا يَخْتَلِفُ ذٰلِكَ بِالْيَسَارِ وَالْإِعْسَارِ او په مالداري او غربت سره به دا حکم نه مختلف کيږي لِأَنَّ حَقَّهُ فِي الْحَالَيْنِ فِي أَحَدِ شَيْئَيْنِ ځکه چي اد مالداري او غربت۱ په دواړو حالتونو کي مالک [دإعتاق دعوىٰ کونکي] ته په دوو شيانو کي د يوه شي حق سته لِأَنَّ يَسَارَ الْمُعْتِقِ لَا يَمْنَعُ السِّعَايَةَ عِنْدَهُ ځکه چي د مُعتِق [آزادونکي شريک] مالداري د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز [د غلام] له سعايه څخه مانع نه ده وَقَدْ تَعَذَّرَ التَّضْمِينُ لِإِنْكَارِ الشَّرِيكِ او د شريک د انکار په وجه ضمان [تاوان] اخيستل ناممکن سو فَتَعَيَّنَ الْآخَرُ وَهُوَ السِّعَايَةُ نو ځکه [فقط] دويم شی متعين سو چي هغه سعايه [د غلام کسب او مزدوري] کول دي وَالْوَلَاءُ لَهُمَا او ولاء به د دواړو لپاره وي لِأَنَّ كُلًّا مِنْهُمَا يَقُولُ عَتَقَ نَصِيبُ صَاحِبِيْ عَلَيْهِ بِإِعْتَاقِهِ وَوَلَاؤُهُ لَهُ ځکه چي له دوی دواړو څخه هر يو دا خبره کوي چي زما د ملګري حصه د هغه په آزادولو سره آزاده سوې ده نو د هغه د حصې ولاء به د هغه وي [يعني هر شريک د دې خبري دعوىٰ کوي چي زما شريک خپله حصه آزاده کړې نو ځکه به ولاء د هغه وي] وَعَتَقَ نَصِيبِيْ بِالسِّعَايَةِ وَوَلَاؤُهُ لِيْ او [هر شريک دا خبره کوي چي] زما حصه په سعايه کولو سره آزاده سوې ده لهذا زما د حصې ولاء به زما وي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: إِنْ كَانَا مُوسِرَيْنِ [ليکن] صاحبين رَحِمَهُمَا الله رَحِمَهُمَا الله فرمايي: که چيري دواړه [شريکان] مالداره وي فَلَا سِعَايَةَ عَلَيْهِ نو پر غلام سعايه کول [واجب] نه ده لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يُبْرِأُ عَنْ سِعَايَتِهِ بِدَعْوَى الْعَتَاقِ عَلَىٰ صَاحِبِهِ ځکه چي هر يو [شريک] پر خپل ملګري د ضمان د دعوىٰ په وجه سره دا غلام له سعايه کولو څخه بري کوي لِأَنَّ يَسَارَ الْمُعْتِقِ يَمْنَعُ السِّعَايَةَ عِنْدَهُمَا [او] ځکه چي د مُعتِق مالدار والی د صاحبينو په نېز اله غلام څخه] سعايه منع کوي إِلَّا أَنَّ الدَّعْوَىٰ لَمْ تَثْبُتْ لِإِنْكَارِ الْآخَرِ خو د دويم [شريک] د انکار په وجه دعوىٰ ثابته نه سوه وَالْبَرَاءَةُ عَنِ السِّعَايَةِ قَدْ ثَبَتَتْ لِإِقْرَارِهِ عَلَىٰ نَفْسِهِ او له استعسناء څخه [د شريک] بري کېدل پر خپل ځان د هغه په اقرار کولو سره ثابت سو وَإِنْ كَانَا مُعْسِرَيْنِ سَعَىٰ لَهُمَا او که دواړه [شريکان] غريبان وي نو غلام به د دواړو لپاره سعايه [هڅه او کسب] کوي لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَدَّعِيْ السِّعَايَةَ عَلَيْهِ ځکه چي له دوی دواړو څخه هر [شريک] پر غلام د سعايه کولو دعوىٰ کوي صَادِقًا كَانَ أَوْ كَاذِبًا هغه که [دوی دواړه په خپله دعوىٰ کي] رېښتوني وي يا درواغجن وي عَلَىٰ مَا بَيَّنَّاهُ لکه

[اوس] چي موږ دا [خبره] بيان کړه إِذِ الْمُعْتِقُ مُعْسِرٌ ځکه چي [دلته هر] مُعتِق مالدار دی وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا مُوسِرًا وَالْآخَرُ مُعْسِرًا سَعَى لِلْمُوسِرِ مِنْهُمَا او که يو له دوی څخه مالدار وي او بل غريب وي نو غلام به د مالدار لپاره سعايه کوي لِأَنَّهُ لَا يَدَّعِي الضَّمَانَ عَلَى صَاحِبِهِ لِإِعْسَارِهِ ځکه چي هغه [مالدار شريک] پر خپل ملګري د ضمان دعویٰ نه سي کولای، د هغه د غربت په وجه وَإِنَّمَا يَدَّعِي عَلَيْهِ السِّعَايَةَ هغه فقط پر غلام د سعايه دعویٰ کولای سي فَلَا يَتَبَرَّأُ عَنْهُ نو ځکه به غلام له سعايه څخه نه بري کيږي وَلَا يَسْعَى لِلْمُعْسِرِ مِنْهُمَا او غلام به له دوی څخه د غريب [شريک] لپاره سعايه نه کوي لِأَنَّهُ يَدَّعِي الضَّمَانَ عَلَى صَاحِبِهِ لِيَسَارِهِ ځکه چي هغه [غريب شريک] پر خپل ملګري د ضمان دعویٰ کولای سي، د هغه د مالدار والي په وجه فَيَكُونُ مُبَرِّئًا لِلْعَبْدِ عَنِ السِّعَايَةِ نو ځکه به هغه له سعايه څخه د غلام بري کونکي وي وَالْوَلَاءُ مَوْقُوفٌ فِي جَمِيعِ ذٰلِكَ عِنْدَهُمَا او د صاحبينو په نيز به په دې ټولو [صورتونو کي] ولاء موقوفه وي لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يُحِيلُهُ عَلَى صَاحِبِهِ ځکه چي له دوی دواړو څخه هر يو ولاء پر خپل ملګري [دويم شريک] حواله کوي وَهُوَ يَتَبَرَّأُ عَنْهُ او هغه [دويم شريک] له دې څخه برائت [او انکار] کوي فَيَبْقَى مَوْقُوفًا إِلَى أَنْ يَتَّفِقَا عَلَى إِعْتَاقِ أَحَدِهِمَا نو ځکه به ولاء موقوفه وي تر دې چي دواړه شريکان ديوه شريک پر آزادولو اتفاق وکړي.

اللغات: ﴿شَهِدَ﴾ د سمع ماضي ده: ګواهي ورکول، ﴿يَزْعَمُ﴾ د فتح مضارع ده: ګومان کول، خيال او تصوّر کول، ﴿إِسْتِرْقَاق﴾ د استفعال مصدر دی: غلام جوړول، ﴿نَصِيب﴾ حصه، برخه، ﴿مُبَرِّئ﴾ د تفعيل اسم فاعل دی: بري کونکي (ديو چا له غاړي څخه ديو شي ساقطونکی)، معافونکی. ﴿يُحِيلُ﴾ د افعال مضارع ده: يو څوک پر بل چا حواله کول.

تشريح: عبارت خو ډېر اوږد دی لېکن په دې عبارت کي بيان سوي مسئله ډېره آسانه ده، د مسئلې حاصل دا دی چي که له دواړو شريکانو څخه هر شريک دا اقرار وکړي چي هغه غلام آزاد کړی دی (يعني هر شريک ووايي چي ما غلام آزاد کړی دی)، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر دې غلام واجب دي چي د هر شريک د حصې لپاره خواري وکاري کسب او ګټه وکړي، برابره ده که دا دواړه شريکان مالداران وي يا غريبان وي، يا که په دوی کي يو غريب وي او بل مالدار وي؛ دليل دا دی چي له دوی څخه هر شريک دا ګومان او تصور کوي چي د ده ملګري خپله حصله آزاده کړې ده.

لهذا د تصور او گومان په وجه د ده په نیز (یعني د هر یوه په نیز) دا غلام مکاتب سو. او اوس د ده لپاره دا حرام دي چي دا غلام خپل رقيق جوړ کړي (یعني اوس د هر يو لپاره دا حرام دي چي خپله حصه غلام وشماري). لهذا خاص د ده په حق کي به د ده تصديق کيږي (که څه هم د ده گومان د خپل ملکري په حق کي صحيح نه دی. لېکن په خپل حق کي به د ده تصديق کيږي). او د غلام رقيق جوړول به د ده لپاره حرام وي. او د ده لپاره به فقط په دې غلام سره د کسب او مزدورۍ کولو حق وي. ځکه چي موږ ته دا يقين دی (یعني موږ ته په تېرو مسئلو کي دا په يقيني توگه معلومه سوه) چي اوس د ده لپاره په غلام د کسب او مزدورۍ کولو (یعني د استسعاء) حق ستـه. هغه که دئ په خپل اقرار او قول کي رښتونی وي او که دروغجن وي (په دې دواړو صورتونو کي د ده لپاره د استسعاء حق سته چي په غلام کسب او مزدوري وکړي. او د خپلي حصې قيمت ځني واخلي). ځکه که دا شريک په خپل اقرار کي رښتونی وي نو غلام به مکاتب وي. او که دروغجن وي. نو غلام به مملوک وي. او د مکاتب او مملوک دواړو کسب او گټه د خپل مالک (مولیٰ) لپاره وي. نو ځکه به د صدق او كذب په دواړو صورتونو کي ده ته د استسعاء حق وي (یعني دا حق چي په غلام کسب او مزدوري وکړي. او د خپلي حصې قيمت ځني واخلي). او د غربت او مالدارۍ په وجه دا حکم نه متخلف کيږي. ځکه څوک چي دا اقرار او دعویٰ کوي چي زما شريک خپله حصه آزاده کړې ده. هغه ته د غربت او مالدارۍ په دواړو حالتونو کي له دوو شيانو څخه فقط د يوه شي حق حاصل دی او هغه دا چي د مُعتِق مالدارۍ په صورت کي به له خپل شريک څخه ضمان (تاوان) اخلي. يا په غلام کي به کسب او مزدوري (استسعاء) کوي. ځکه چي د مُعتِق يَسار (مالداري) د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز په غلام له کسب او مزدورۍ کولو څخه مانع نه ده (لکه مخکي چي دا خبره تېره سوه). او دلته ضمان اخيستل ناممکن دي. ځکه کله چي دا شريک د خپل ځان له طرفه د غلام د آزادولو منکر دی. او د دویم شريک له طرفه د غلام آزادولو مُدعي دی. نو د دې شريک لپاره د ضمان اخيستلو هيڅ صورت نسته. لهذا اوس به فقط هغه ته د استسعاء حق وي. خو بيا هم د غلام ولاء به د دواړو شريکانو په مينځ کي مشترکه وي. ځکه چي هر شريک د دې خبري مُدَّعي دی چي زما ملگري خپله حصه آزاده کړې ده. نو ځکه ولاء د هغه ده. او زما حصه د استسعاء په وجه سره آزاده سوه. نو ځکه زما د حصې ولاء زما ده.

د دې په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چي که چيري دواړه شريکان مالدار وي. نو پر غلام سعايه (کسب او مزدوري کول) واجب نه دي. ځکه کله چي دلته هر شريک پر خپل ملگري د ضمان دعویٰ کوي. نو په دې دعویٰ سره هر شريک خپل غلام له سعايه څخه بري کوي. او بل دا چي د صاحبينو په نیز د مُعتِق د مالدارۍ په صورت کي هم پر غلام سعايه نه واجبيږي. نو په دې وجه هم پر

غلام سعايه واجب نه ده. او څرنګه چې يو شريک د بل شريک د اقرار او دعویٰ منکر دی. نو ځکه به د غلام عتق نه ثابتيږي. او د هر شريک اقرار او دعویٰ به د هغه په خپل حق کي ثابت وي. او هغه مالدار هم دی، نو ځکه به د هغه اقرار د هغه پر ذات لازم وي. او هغه به له استسعاء څخه بري وي (يعني پر غلام به د هغه لپاره سعايه کول [کسب او مزدوري کول] واجب نه وي).

وإن كانا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که چيري دواړه شريکان غريبان وي، نو په دې صورت کي به غلام د دواړو لپاره سعايه (کسب او ګټه) کوي، هغه که هر مدعي (شريک) صادق وي يا کاذب وي. ځکه چي د مُعتِق د غريبوالي په وجه پر ده د استسعاء وجوب يقيني دی (يعني کله چي آزادونکی غريب وي، نو مخکي معلومه سوه چي پر دويم شريک فقط همدغه ضروري دي چي په غلام کسب او ګټه وکړي او له آزادونکي څخه ضمان نه واخلي. او دلته هر شريک مُعتِق (آزادونکی) دی. او هر يو غريب دی). نو ځکه په دې صورت کي يوازيني لاره استسعاء ده. نو ځکه به فقط همدغه لار متعين کيږي (او ضمان به نه لازميږي)

وإن كان أحدهما إلخ: فرمايي چي که له دواړو شريکانو څخه يو مالدار وي او بل غريب وي. نو په دې صورت کي حکم دا دی چي غلام به د مالدار لپاره سعايه کوي او د غريب لپاره به د هغه پر شريک ضمان واجب وي. ځکه کوم شريک چي مالدار دی، هغه پر خپل غريب شريک د ضمان دعویٰ نه سي کولای، ځکه چي د غربت په وجه غريب شريک هيڅ شی نه سي ورکولای. لهذا د مالدار له شريک په طرف کي فقط د استسعاء دعویٰ متعين سوه (يعني هغه فقط په غلام سعايه کولای سي)

او څرنګه چي دلته غريب شريک پر خپل مالدار شريک باندي د ضمان (تاوان) دعویٰ کوي. او د مدعیٰ عليه (مالدار شريک) د مالدار والي په وجه دا ممکن هم دي، نو ځکه د هغه (غريب شريک) لپاره د استسعاء لاره بنده سوه.

او د صاحبينو په نيز به په دې ټولو صورتونو کي د دغه غلام ولاء موقوفه وي. ځکه کله چي هر يو دا دعویٰ کوي چي زما ملګري خپله حصه آزاد کړې ده او هر ملګری د بل ملګري د دعویٰ انکار هم کوي. نو ښکاره خبره ده چي معامله به لانجمنه او ستونزمنه وي. او تر څو چي دواړه شريکان د يوه شريک پر إعتاق (آزادولو) اتفاق نه وکړي تر هغه وخته پوري به ولاء هم موقوفه وي.

د دوو شريکانو د مُعلق إعتاق يو صورت

وَلَوْ قَالَ أَحَدُ الشَّرِيكَيْنِ: إِنْ لَمْ يَدْخُلْ فُلَانٌ هٰذِهِ الدَّارَ غَدًا فَهُوَ حُرٌّ او که چيري له دواړو شريکانو څخه يو [شريک] ووايي: که فلانکی سړی سبا دغه کور ته داخل نه سي نو هغه [زما غلام] آزاد دی وَقَالَ الْآخَرُ: إِنْ دَخَلَ فَهُوَ حُرٌّ او بل [شريک] ووايي: که چيري فلانکی سړی [کور ته] داخل سي نو هغه آزاد دی فَمَضَى الْغَدُ وَلَا يُدْرٰى أَدَخَلَ أَمْ لَا نو د سبا ورځ تېره سي او دا معلومه نه سي چي فلانکی داخل سو، که نه؟ عَتَقَ النِّصْفُ نو [د غلام] نيمه حصه آزاديږي. وَسَعٰى لَهُمَا فِي النِّصْفِ الْآخَرِ او په [پاته] نيمه حصه کي به غلام د دوی دواړو لپاره سعايه [کسب او مزدوري] کوي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ ❁ او دا [حکم] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَسْعٰى فِي جَمِيعِ قِيمَتِهِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي غلام به د ټوله قيمت لپاره سعايه کوي لِأَنَّ الْمَقْضِيَّ عَلَيْهِ بِسُقُوطِ السِّعَايَةِ مَجْهُولٌ ځکه پر کوم [شريک] چي د سعايه د سقوط حکم سوی دی هغه مجهول [نامعلوم] دی وَلَا يُمْكِنُ الْقَضَاءُ عَلَى الْمَجْهُولِ او پر مجهول کس فيصله کول ممکن نه دي فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ لِغَيْرِهِ: لَكَ عَلٰى أَحَدِنَا أَلْفُ دِرْهَمٍ نو داسي سو لکه يو څوک چي بل چا ته ووايي: ستا لپاره په موږ کي پر يوه زر درهمه دي فَإِنَّهُ لَا يُقْضٰى بِشَيْءٍ لِلْجَهَالَةِ نو [په دې صورت کي] به د جهالت په وجه د هيڅ شي فيصله نه کيږي كَذَا هٰذَا همداسي به دا [هم] وي [يعني همداسي به دلته هم دا حکم وي] وَلَهُمَا: أَنَّا تَيَقَّنَّا بِسُقُوطِ نِصْفِ السِّعَايَةِ و د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي موږ ته د نصف سعايه [يعني د غلام د نصف قيمت په حق کي له غلام څخه د سعايه] د ساقطېدلو يقين سته [يعني د دې سقوط يقيني دی] لِأَنَّ أَحَدَهُمَا حَانِثٌ بِيَقِينٍ ځکه چي په دې دواړو شريکانو کي به يو په يقيني توګه حانث وي وَمَعَ التَّيَقُّنِ بِسُقُوطِ النِّصْفِ كَيْفَ يُقْضٰى بِوُجُوبِ الْكُلِّ نو د نصف سعايه د سقوط د يقيني کېدلو سره به څرنګه د کُل سعايه د وجوب فيصله وکړی سي وَالْجَهَالَةُ تَرْتَفِعُ بِالشُّيُوعِ وَالتَّوْزِيعِ او [دلته] جهالت [پر دواړو شريکانو] په غوړولو او وېشلو سره ليري کيږي كَمَا إِذَا أَعْتَقَ أَحَدَ عَبْدَيْهِ لَا بِعَيْنِهِ أَوْ بِعَيْنِهِ وَنَسِيَهُ لکه کله چي يو سړی له خپلو دوو

❁ القول الراجح: هو هذا قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۱۹، ۲۰). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۹۳]

غلامانو څخه يو غيرِ معين انا تاكل سوى | غلام آزاد كړي يا معين | تاكل سوى | غلام آزاد كړي ليكن هغه ابيرته | څني هيرسي وَمَاتَ قَبْلَ التَّذَكُّرِ أَوْ الْبَيَانِ او بيا د هغه له يادېدلو يا بيانولو څخه مخكې مړ سي | نو د دواړو غلامانو نصف، نصف به آزادېږي، همداسې به لته هم دا حكم وي | وَيَتَأَتَّى التَّفْرِيعُ فِيهِ عَلَى أَنَّ الْيَسَارَ يَمْنَعُ السِّعَايَةَ أَوْ لَا يَمْنَعُهَا او په دې مسئله كې تفريع پر دې بنياد حاصلېږي چې مالداري سعايه منع كوي يا يې نه منع كوي عَلَى الِاخْتِلَافِ الَّذِي سَبَقَ د هغه اختلاف مطابق كوم چې مخكې ذكر سو.

اللغات: ﴿غَدٍ﴾ سبا، را روانه ورځ، ﴿شُيُوْع﴾ غوړېدل، ﴿تَوْزِيْع﴾ د تفعيل مصدر دى: وېشل، تقسيمول، ﴿تَفْرِيْع﴾ د تفعيل مصدر دى: فرع، فرع كول، قياس كول (قياسول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه يو غلام د دوو مالكانو په مينځ كې مشترك وي، بيا له دوى څخه يو شريک ووايي: إِنْ لَمْ يَدْخُلْ فُلَانٌ هٰذِهِ الدَّارَ غَدًا فَهُوَ حُرٌّ (يعني كه فلانكى سړى سبا كور ته داخل نه سو، نو دا غلام آزاد دى)، او دويم شريک د دې برعكس ووايي: إِنْ دَخَلَ فُلَانٌ هٰذِهِ الدَّارَ فَهُوَ حُرٌّ (يعني كه فلانكى سړى سبا كور ته داخل سو، نو دا غلام آزاد دى)، (يعني يو شريک د نه داخلېدلو خبره وكړي او بل شريک د داخلېدلو خبره وكړي)، او بيا د سبا ورځ تېره سي، او دا معلومه نه سي چې فلانكى سړى كور ته داخل سو، او كه نه سو، نو په دې صورت كې حكم دا دى چې نصف غلام آزادېږي، او د نصف غلام د قيمت اداء كولو لپاره به غلام د دواړو شريكانو لپاره سعايه (كسب او مزدوري) كوي، دا د شيخينو رَحِمَهُمَا الله مذهب دى، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې غلام به د ټوله قيمت لپاره سعايه كوي، په دې شرط كه دا دواړه شريكان غريبان وي، او كه دواړه مالداره وي، نو د هيڅ لپاره به هم سعايه نه كوي، او كه يو مالدار وي او بل غريب وي، نو د مالدار لپاره به په نصف قيمت كې سعايه كوي، او د غريب لپاره به سعايه نه كوي.

د شيخينو دليل: دا دى چې په دې مسئله كې له دواړو مالكانو (شريكانو) څخه د يوه مالک حانث كېدل (يعني د يوه مالک په حصه كې آزادي واقع كېدل) يقيني او ضروري دي، ځكه چې د سبا په ورځ كې به خامخا دخول يا نه دخول موجود سوى وي (يعني يا فلانكى سړى به داخل سوى وي، يا به نه وي داخل سوى، په دې دواړو شيانو كې به خامخا يو شى موجود سوى وي)، او د دې يوه شي په وجود سره به نيم غلام په يقيني توګه آزاد سوى وي، او د كوم مالک په حصه كې چې آزادي واقع سي، د هغه لپاره د استسعاء حق ساقطېږي (يعني هغه په غلام سعايه [كسب او مزدوري] نه سي

کولای). لهذا کله چې دلته د نصف قيمت په سلسله کې د سعايه ساقطېدل يقيني دي (يعني خامخا د يوه مالک په حق کې سعايه ساقط ده). نو بيا به څنګه پر غلام د ټوله قيمت سعايه واجب وي. نو صحيح خبره هغه ده کوم چې موږ (شيخينو) بيان کړه. يعني پر غلام به فقط د نيمت قيمت لپاره سعايه کول واجب وي.

د امام محمد دليل دا دی چې د کوم مالک په حق کې چې سعايه ساقط ده. هغه دلته مجهول دی (يعني معلوم نه دی چې په دې دواړو مالکانو کې به هغه مالک کوم يو وي چې د هغه په حصه کې آزادي واقع سوې وي). او کوم کس چې معلوم نه وي پر هغه حکم لګول ممکن نه دي. نو دا مسئله داسې سوه لکه يو څوک چې بل چا ته ووايي: "په ما او تا کې پر يوچا ستا لپاره زر درهمه واجب دي". نو دلته د جهالت په وجه هيڅ فيصله او حکم کېدلای نه سي. همداسې به په پورتنۍ مسئله کې هم هيڅ حکم نه کيږي.

والجهالة إلخ: له دې ځايه دامام محمد رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي. حاصل يې دا دی چې که څه هم دلته مُقضٰی عليه بِسُقوطِ السّعايه مجهول دی (يعني که هغه څه هغه مالک معلوم نه دی چې د هغه په باره کې سعايه ساقط ده). لېکن کله چې د غلام د نيمې حصې (نصف غلام) آزادي پر دواړو مالکانو تقسيم کړی سی. نو دا جهالت به ختم سي. او کله چې جهالت ختم سي. نو بغير له څه ممانعت څخه به د غلام نصف (نيمه حصه) آزاده سي. او د پاته نصف لپاره به پر هغه سعايه او ګټه واجب وي چې هغه به د دواړو شريکانو په مينځ کې مشترکه وي. د دې مثال دا دی لکه يو سړی چې له خپلو دوو غلامانو څخه يو غيرِ مُعين غلام آزاد کړي. يا يو مُعين غلام آزاد کړي. لېکن بيا له هغه څخه هېر سي چې ما کوم يو آزاد کړی وو. او تر دې وروسته هغه سړی بيا يو غلام معين نه کړي او په همدغه وخت کې مړ سي. نو په دې صورت کې به د هغه د دواړو غلامانو نصف. نصف حصه آزاده وي. او د نصف حصې د آزادولو لپاره به پر دواړو غلامانو سعايه واجب وي. همداسې به دلته هم د نصف غلام آزادي پر دواړو مالکانو تقسيميږي. او د پاته نصف د آزادۍ لپاره به هغه غلام د دواړو مالکانو لپاره سعايه (کسب او ګټه) کوي.

ويتاتٰى إلخ: فرمايي چې دا مسئله پر دې خبره مبني ده چې آيا يَسار او مالداري د سعايه لپاره مانع ده. که نه؟ او په دې باره کې د امام صاحب او صاحبينو اختلاف تېر سو. يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز مالداري د سعايه لپاره مانع نه ده. لېکن د صاحبينو په نېز مانع ده.

د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

وَلَوْحَلَفَاعَلَى عَبْدَيْنِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِأَحَدِهِمَا او كه چيرې دوه خلك پر دوو غلامانو قسم وكړي په دوى كې هر سړى د يوه لپاره [يعنې د هر يوه جلا غلام وي او هر يو پر خپل غلام قسم وكړي] لَمْ يَعْتِقْ وَاحِدٌ مِنْهُمَا نو له دوى څخه يو غلام [هم] نه آزادېږي لِأَنَّ الْمَقْضِيَّ عَلَيْهِ بِالْعِتْقِ مَجْهُولٌ ځكه پر كوم [مالك] چې د آزادي حكم [فيصله] كيږي هغه مجهول دى. وَكَذٰلِكَ الْمَقْضِيُّ لَهٗ او همدارنګه د كوم [غلام] لپاره چې حكم كيږي هغه [هم] مجهول دى فَتَفَاحَشَتِ الْجَهَالَةُ نو جهالت فاحش سو فَامْتَنَعَ الْقَضَاءُ لهذا فيصله كول ممتنع سو وَفِي الْعَبْدِ الْوَاحِدِ الْمَقْضِيُّ بِهٖ مَعْلُوْمٌ او د يوه غلام په صورت كې چې پر چا حكم [فيصله] كيږي هغه معلوم وي فَغَلَبَ الْمَعْلُوْمُ الْمَجْهُوْلَ نو ځكه [هلته] معلوم پر مجهول غالب سو.

اللغات: ﴿تَفَاحَشَتْ﴾ د تفاعل ماضي ده: زيات ښكاره كېدل، ډېر بد كېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه چيرې په دواړو مالكانو كې د هر مالك لپاره جلا، جلا غلام وي، او په دوى كې يو مالك ووايي: "إِنْ دَخَلَ زَيْدٌ هٰذِهِ الدَّارَ فَعَبْدِيْ حُرٌّ. او بل مالك ووايي: إِنْ لَمْ يَدْخُلْ زَيْدٌ هٰذِهِ الدَّارَ غَدًا فَعَبْدِيْ حُرٌّ. او بيا د سبا ورځ تېره سي او دا معلومه نه سي چې زيد كور ته داخل سو، او كه داخل نه سو، نو په دې صورت كې يو غلام هم نه آزادېږي او دا حكم متفق عليه دى: دليل دا دى چې دلته مُقضى عليه مالك مجهول دى (يعني د كوم مالك غلام چې آزاد سوى دى، هغه نامعلوم دى)، او همدارنګه كوم غلام چې آزاد سوى دى، هغه هم مجهول دى، نو دلته جهالت فاحشه راغلى، او د جهالت فاحشه په وجه سره قاضي هيڅ حكم نه سي كولاى.

هًا! كه دا دواړه مالكان په يوه غلام كې مشترك واى، نو په دې صورت كې به نصف غلام پر دواړو تقسيم سوي واى او جهالت به ختم سوي واى (لكه په تېره مسئله كې)، نو په دې وجه په مخكنۍ مسئله كې د غلام نصف تقسيمول صحيح دي، او په دې مسئله كې ممنوع دي.

كه له دواړو شريكانو څخه يو شريك پلار وي (تفصيلي بيان)

وَإِذَا اشْتَرَى الرَّجُلَانِ ابْنَ أَحَدِهِمَا او كله چې دوه خلك رانيسي [داسي غلام چې هغه] په دوى دواړو كې د يوه زوى [وي] عَتَقَ نَصِيْبُ الْأَبِ نو د پلار حصه آزادېږي لِأَنَّهٗ مَلَكَ شِقْصَ قَرِيْبِهٖ ځكه چې پلار د خپل قريب [زوى] د حصې مالك سو وَشِرَاؤُهٗ إِعْتَاقٌ او د قريب رانيول إعتاق [آزادول] دي عَلٰى مَا مَرَّ لكه

مخکي چي دا [مسئله] تېره سوه وَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ او پر پلار به هيڅ ضمان [واجب] نه وي عَلِمَ الْآخَرُ أَنَّهُ ابْنُ شَرِيكِهِ أَوْ لَمْ يَعْلَمْ هغه که دويم [شريک] په دې خبر وي چي دا د هغه د شريک زوی دی او که خبر نه وي [يعني په دې خبر وي چي دا زما د شريک زوی دی او که خبر نه وي] وَكَذَا إِذَا وَرِثَاهُ او همدارنګه کله چي دوی دواړه د هغه وارثان سي وَالشَّرِيكُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَعْتَقَ نَصِيبَهُ وَإِنْ شَاءَ اسْتَسْعَى الْعَبْدَ او [دويم] شريک ته به اختيار وي که وغواړي نو خپله حصه دي آزاده کړي او که وغواړي نو په غلام دي هڅه [او کسب] وکړي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَا❁: فِي الشِّرَاءِ يَضْمَنُ الْأَبُ نِصْفَ قِيمَتِهِ إِنْ كَانَ مُوسِرًا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د شراء [رانيولو] په صورت کي که پلار مالدار وي نو د غلام د نصف قيمت ضامن به وي وَإِنْ كَانَ مُعْسِرًا او که چيري هغه غريب وي سَعَى الِابْنُ فِي نِصْفِ قِيمَتِهِ لِشَرِيكِ أَبِيهِ نو غلام زوی به د خپل پلار د شريک لپاره په خپل نصف قيمت کي هڅه کوي وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافُ إِذَا مَلَكَا بِهِبَةٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ وَصِيَّةٍ او پر همدغه اختلاف دي کله چي دوی دواړه د هبه يا صدقه يا وصيت په ذريعه د هغه مالکان سي وَعَلَى هٰذَا إِذَا اشْتَرَاهُ رَجُلَانِ او پر همدغه اختلاف دي کله چي دوه خلک يو غلام رانيسي وَأَحَدُهُمَا قَدْ حَلَفَ بِعِتْقِهِ إِنِ اشْتَرَى نِصْفَهُ [په داسي حال کي] چي له دوی څخه يوه دا قسم کړی وي چي که چيري هغه د دې غلام نيمه حصه رانيسي نو هغه آزاده ده [يعني که دوه خلک يو غلام رانيسي، او يوه سړي مخکي دا قسم کړی وي چي که ما نيم غلام رانيوی نو هغه آزاد دی، او اوس هغه نيم غلام رانيوی نو هغه خو آزاد سو، لهذا که په دې صورت کي آزادونکی مالدار وي، نو د صاحبينو په نيز به هغه د نصف قيمت ضامن وي] لَهُمَا: أَنَّهُ أَبْطَلَ نَصِيبَ صَاحِبِهِ بِالْإِعْتَاقِ د صاحبينو دليل دا دی: چي مُعتِق [پلار د خپلي حصې] په آزادولو سره د خپل ملګري [دويم شريک] حصه باطله کړه لِأَنَّ شِرَاءَ الْقَرِيبِ إِعْتَاقٌ ځکه چي د قريب رانيول إعتاق دي وَصَارَ هٰذَا كَمَا إِذَا كَانَ الْعَبْدُ بَيْنَ أَجْنَبِيَّيْنِ [نو] داسي سو لکه يو غلام چي د دوو أجنبي خلکو په مېنځ کي مشترک وي فَأَعْتَقَ أَحَدُهُمَا نَصِيبَهُ او له دوی څخه يو خپله حصه آزاده کړي وَلَهُ: أَنَّهُ رَضِيَ بِإِفْسَادِ

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفه رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۲۰)، وكذا في الخانية (ج:۲، ص:۲۸۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۹۵]

نَصِيبِهٖ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي هغه [دويم] شريک د خپلي حصې په فاسدېدلو راضي دی فَلَا يُضَمِّنُهٗ لهذا مُعتِق [پلار] به د هغه ضامن نه وي كَمَا إِذَا أَذِنَ لَهٗ بِإِعْتَاقِ نَصِيبِهٖ صَرِيحًا لکه [په هغه صورت کي هم چي څوک نه ضامن کيږي] کله چي هغه بل چا ته قصداً د خپلي حصې آزادولو اجازه ورکړې وي وَدَلَالَةُ ذٰلِكَ أَنَّهٗ شَارَكَهٗ فِيمَا هُوَ عِلَّةُ الْعِتْقِ وَهُوَ الشِّرَاءُ او [د دويم شريک] د رضامندی دليل دا دی چي هغه د پلار سره په داسي شي کي شرکت وکړی چي هغه د عتق علت دی او هغه رانيول دي لِأَنَّ شِرَاءَ الْقَرِيبِ إِعْتَاقٌ ځکه چي د قريب رانيول إعتاق دي حَتّٰى يَخْرُجَ بِهٖ عَنْ عُهْدَةِ الْكَفَّارَةِ عِنْدَنَا همدا وجه ده چي زموږ په نيز د قرايب رانيولو په وجه مشتري د کفارې له ذمه واری څخه وځي وَهٰذَا ضَمَانُ إِفْسَادٍ فِي ظَاهِرِ قَوْلِهِمَا او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په ظاهري قول کي دا د فاسدولو تاوان [ضمان إفساد] دی حَتّٰى يَخْتَلِفَ بِالْيَسَارِ وَالْإِعْسَارِ همدا وجه ده چي د مالداری يا غربت په وجه هغه بدليږي [رابدليږي] فَيَسْقُطُ بِالرِّضَا نو د رضاء په وجه به دا ضمان ساقطيږي وَلَا يَخْتَلِفُ الْجَوَابُ بَيْنَ الْعِلْمِ وَعَدَمِهٖ او [د دويم شريک] د خبرتيا او ناخبرتيا په وجه به [هم] حکم نه بدليږي [يعني په دې سره به هم حکم نه بدليږي چي دويم شريک په دې خبر وي چي دا زما د شريک زوی دوی او که خبر نه وي] وَهُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ عَنْهُ او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه ظاهر روايت دی لِأَنَّ الْحُكْمَ يُدَارُ عَلَى السَّبَبِ ځکه چي حکم پر سبب دائر کيږي [يعني د حکم دار ومدار پر علت دی] كَمَا إِذَا قَالَ لِغَيْرِهٖ: كُلْ هٰذَا الطَّعَامَ وَهُوَ مَمْلُوكٌ لِلْآمِرِ لکه يو څوک چي بل چا ته ووايي: دا خوراک وخوره! او هغه [خوراک] د آمر په ملکيت کي وي وَلَا يَعْلَمُ الْآمِرُ بِمِلْكِهٖ [ليکن آمر په خپل ملکيت خبر نه وي.

اللغات: ﴿شِقْص﴾ ټوکره (ټوټه)، حصه، ﴿شِرَاء﴾ د ضرب مصدر دی: رانيول، ﴿إِفْسَاد﴾ د افعال د باب مصدر دی: فاسدول، خرابول، ﴿يُدَار﴾ د مضارع صيغه ده: مدار کېدل (يو شي پر بل شي مبني کېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي مثلاً زيد د خالد زوی دی او عُمر د خالد شريک دی، او بيا خالد او عمر دواړو په ګډه د خالد زوی يعني زيد رانيوی، نو د رانيولو سره سمدستي د پلار يعني د خالد حصه آزاديږي، ځکه چي په دې حديث "مَن مَلَکَ ذا رحمٍ محرمٍ منهُ عتق عليه" کي د قريب رانيول او د قريب مالک کېدل د عتق علت ګرځول سوی دی، او پلار يعني پر خالد به هيڅ ضمان

واجب نه وي. برابره ده که د پلار شريک يعنې عمر ته دا خبره معلومه وي چې زيد د خالد زوی دی. او که معلومه نه وي، او همدا حکم په هغه صورت کې هم دی کله چې خالد او عمر د زيد وارثان سي. نو په دې صورت کې هم د خالد حصه آزادېږي، دا حکم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی. او د ميراث په مسئله کې د صاحبينو قول هم د امام صاحب د قول په څېر دی، لېکن د شراء (رانيولو) په مسئله کې د صاحبينو په نېز حکم دا دی چې که پلار (خالد) مالدار وي، نو پر هغه به د خپل شريک (يعنې د عُمر) د حصې ضمان واجب وي، او که پلار غريب وي، نو په دې صورت کې به غلام (زيد) د خپل پلار د شريک لپاره سعايه (کسب او ګټه کوي)، او همدغه اختلاف په هبه، صدقه او وصيت کې هم دی. يعنې که په هبه، يا صدقه يا وصيت سره خالد او عمر دواړه د زيد مالکان سي، نو په دې صورت کې هم د پلار حصه آزادېږي، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به پر پلار ضمان واجب نه وي، لېکن د صاحبينو په نېز به د پلار د مالدارۍ په صورت کې پر هغه ضمان واجب وي، او که پلار غريب وي، نو بيا به پر غلام سعايه واجب وي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې د خپل زوی رانيول إعتاق دي (يعنې کله چې پلار خپل زوی رانيسي نو سمدستي پر هغه خپل زوی آزادېږي)، لهذا پلار د خپلې حصې په آزادولو سره د خپل شريک حصه باطله کړه، نو ځکه به پر هغه د خپل شريک د حصې ضمان واجب وي، او دا مسئله داسې ده لکه يو غلام چې د دوو خلکو په مينځ کې مشترک وي او يو شريک خپله حصه آزاده کړي، نو که مُعتق (آزادونکی) مالدار وي، نو پر هغه ضمان به واجب وي، او که غريب وي، نو پر غلام به سعايه واجب وي، همداسې به دلته هم که پلار مالدار وي، نو پر هغه به ضمان واجب وي، او که غريب وي، نو پر غلام به سعايه واجب وي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې کله دلته شريک (عمر) ته معلومه ده چې غلام زما د ملګري زوی دی، او زما د ملګري رانيول به د هغه له طرفه إعتاق وي، نو ګواکي هغه په خپلَه د خپلې حصې په فاسدولو او خرابولو راضي دی، او کله چې په دې إعتاق کې د شريک رضا شامله ده. نو بيا پر پلار ضمان واجبول ظلم دی، او زموږ په شريعت کې د ظلم هيڅ ګنجائش نسته. نو ځکه به پر هغه ضمان واجب نه وي، لکه يو غلام چې د دوو خلکو په مينځ کې مشترک وي، او يو شريک بل شريک ته صراحتاً د خپلې حصې د آزادولو اجازه ورکړي، نو په دې صورت کې پر مُعتق (آزادونکي) هيڅ ضمان نه راځي. همداسې به دلته هم پر پلار هيڅ ضمان نه وي.

صاحب د هدايې فرمايي چې دويم شريک (عمر) په دې توګه د خپلې حصې په فاسدولو راضي دی، چې ده د خپل شريک (خالد سره) د هغه د قريب په شراء کې شرکت وکړی، او شراءُ القريب د عتق علت دی. نو ګواکي د دغه شريک (عمر) شرکت د ده د رضاء علت او دلالت دی. ځکه چې دا

خبره خو مشهوره او تسليم ده چي "شِرَاءُ الْقَرِيْبِ إِعْتَاقٌ" (يعني د قريب رانيول د هغه آزادول دي).
همدا وجه ده که پر يو سړي د غلام آزادولو کفاره واجب وي، او هغه خپل يو قريب رانيسي، نو هغه له کفارې څخه بري کيږي، ځکه چي "شِرَاءُ الْقَرِيْب" إعتاق دی.

وهذا ضمان إلخ: فرمايي چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په ظاهري قول کي دغه ضمان. ضمان إفساد دی. همدا وجه ده چي د غربت او مالدارۍ د اختلاف (بدلون) په وجه دا ضمان هم بدليږي. او ضمان إفساد په رضامندۍ سره ساقطيږي، نو ځکه به دا ضمان هم د دويم شريک د رضاء په وجه (له پلار څخه) ساقطيږي.

ولا يختلف إلخ: فرمايي مخکي چي کوم حکم بيان سو (يعني د غلام آزادي او پر پلار د ضمان نه واجبيدل)، دا حکم به په هر صورت کي پر خپل ځای پاته وي، هغه که دويم شريک (عمر) ته دا معلومه وي چي غلام زما د ملګري زوی دی او که ورته معلومه نه وي، دا حکم له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه ظاهر روايت دی، ځکه چي د حکم مدار پر علت دی، او په علت (يعني په شراء) کي دويم شريک د پلار سره شريک دی، او د دې مثال داسي دی لکه خالد چي عمر ته ووايي "دا ډوډۍ وخوره!" او هغه ډوډۍ د خالد وي، لېکن خالد ته معلومه نه وي چي دا ډوډۍ زما ده، لېکن د دې باوجود عمر هغه ډوډۍ وخوري، نو هغه ډوډۍ د عمر لپاره حلاله ده او پر عمر ضمان نه واجبيږي، که څه هم خالد په دې راضي نه دی، او د نه راضي کېدلو دليل دا دی چي هغه ته علم او خبر نسته (چي دا ډوډۍ زما ده).

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَإِنْ بَدَأَ الْأَجْنَبِيُّ فَاشْتَرَى نِصْفَهُ او که يو پردی سړی [د يو چا د زوی په رانيولو] شروع وکړي او د هغه نيمه حصه رانيسي ثُمَّ اشْتَرَى الْأَبُ نِصْفَهُ الْآخَرَ بيا پلار د هغه [زوی] بله نيمه حصه رانيسي وَهُوَ مُوسِرٌ او پلار مالدار [هم] وي فَالْأَجْنَبِيُّ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الْأَبَ نو أجنبي ته اختيار دی که وغواړي نو له پلار څخه دي د ضمان [تاوان] واخلي لِأَنَّهُ مَا رَضِيَ بِإِفْسَادِ نَصِيبِهِ ځکه چي هغه د خپلي حصې په فاسدولو راضي نه سو وَإِنْ شَاءَ اسْتَسْعَى الِابْنَ فِي نِصْفِ قِيمَتِهِ او که هغه وغواړي نو په زوی دي د هغه په نيم قيمت سعايه [کسب و مزدوري] وکړي لِاحْتِبَاسِ مَالِيَّتِهِ عِنْدَهُ ځکه چي د زوی سره د هغه [أجنبي] مال محبوس پاته دی وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی لِأَنَّ يَسَارَ

الْمُعْتِقِ لَا يَمْنَعُ السِّعَايَةَ عِنْدَهُ ځکه چې د هغه په نيز د مُعتِق آآزادونکي شريک ا مالداري سعايه نه منع کوي وَقَالَا ❁: لَا خِيَارَ لَهُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د هغه [أجنبي] لپاره به [د استسعاء] اختيار نه وي وَيَضْمَنُ الْأَبُ نِصْفَ قِيمَتِهِ او پلار به د نيم قيمت ضامن وي لِأَنَّ يَسَارَ الْمُعْتِقِ يَمْنَعُ السِّعَايَةَ عِنْدَهُمَا ځکه چې د صاحبينو په نيز د مُعتِق مالداري سعايه منع کوي.

اللغات: ﴿بَدَأَ﴾ د فتح ماضي ده: په يو کار پېل کول، شروع کول. ﴿إِحْتِبَاس﴾ د افتعال مصدر دی: قيدي کېدل، بندي کېدل (محبوس کېدل)، بند پاتېدل.

تشريح: دا مسئله د امام صاحب او صاحبينو پر خپل، خپل أصول او قاعدې مبني ده، حاصل يې دا دی چې که چيري مُعتِق (آزادونکی شريک) مالدار وي نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دويم شريک ته د ضمان او استسعاء دواړو حق سته (يعني هغه ته دا حق هم سته چې له مُعتِق څخه ضمان واخلي، او دا حق هم لري چې په غلام کسب او مزدوري وکړي او خپل د حصې قيمت ځني واخلي)، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دويم شريک ته فقط د ضمان حق سته.

د دغه عبارت مسئله پر همدغه أصول متفرع ده، حاصل يې دا دی چې که يو أجنبي سړي د يو غلام نيمه حصه رانيسي او د غلام پاته نيمه حصه پلار رانيسي، نو د پلار حصه آزاديږي، او څرنګه چې پلار مالدار فرض کړی سوی دی، نو ځکه د صاحبينو په نيز دلته دويم شريک ته يعني أجنبي سړي ته فقط د ضمان اخيستلو حق سته، او هغه په غلام سعايه (کسب او مزدوري) نه سي کولای، ځکه چې د دوی په نيز د مُعتِق مالداري له سعايه څخه مانع ده، د دې په خلاف د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د دې أجنبي سړي لپاره د سعايه حق هم سته او د ضمان اخيستلو حق هم ورته سته، کوم يو چې هغه أختيار کړي، د هغه مطابق به فيصله کيږي، ځکه چې د امام صاحب په نيز د مُعتِق مالدار له سعايه څخه مانع نه ده.

د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

وَمَنْ اشْتَرَى نِصْفَ ابْنِهِ وَهُوَ مُوسِرٌ او کوم سړی چې د خپل زوی نيمه حصه رانيسي او هغه مالدار وي فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه ضمان نسته وَقَالَا: يَضْمَنُ إِذَا كَانَ مُوسِرًا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې هغه به ضامن وي که چيري هغه مالدار وي وَمَعْنَاهُ: إِذَا اشْتَرَى نِصْفَهُ مِمَّنْ يَمْلِكُ كُلَّهُ د دې مطلب دا دی چې کله پلار له داسي سړي څخه د زوی نيمه حصه

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله (فتح القدير ج:۴، ص: ۲۷۱)، وكذا في رد المحتار (ج:۳، ص: ۲۱). [القول الراجح ج:۱، ص: ۳۹۶]

رانيسي کوم چې د ټوله زوی مالک وي فَلَا يَضْمَنُ لِبَائِعِهِ شَيْئًا عِنْدَهُ لهذا پلار به د بائع [اخرڅونکي] لپاره د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هيڅ شي ضامن نه وي وَالْوَجْهُ قَدْ ذَكَرْنَاهُ او د دې وجه موږ [مخکې] ذکر کړه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې مثلاً حامد د خالد زوی دی، او د سلمان غلام او مملوک دی. اوس که پلار (يعني خالد) د خپل زوي (حامد) نيمه حصه له سلمان څخه رانيسي، او پلار (خالد) مالدار هم وي، نو په دې صورت کې به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مشتري (خالد) و بائع (سلمان) ته يوه خاشه ضمان هم نه ورکوي، ليکن د صاحبينو په نيز به مشتري وبائع ته د غلام د نصف (نيمي حصې) د قيمت ضمان ورکوي، وَالْوَجْهُ قَدْ ذَكَرْنَاهُ: د دې مسئلې دليل موږ مخکې ذکر کړی (په دې سره صاحب د هدايې د امام صاحب او صاحبينو هغه دلائلو ته اشاره کړې ده کوم چې تر دغه مسئلې او تيرې مسئلې مخکې په اورده عبارت کې بيان سول، که ستاسي په ياد نه وي نو هلته يې اوګورئ!).

د دريو شريکانو په مينځ کې د مشترک غلام مسئله

وَإِذَا كَانَ الْعَبْدُ بَيْنَ ثَلَاثَةِ نَفَرٍ او که چيرې يو غلام د دريو خلکو په مينځ کې [مشترک] وي فَدَبَّرَهُ أَحَدُهُمْ وَهُوَ مُوسِرٌ او [بيا] په دوی کې يو [شريک] دغه غلام مدبر جوړ کړي او هغه مالدار [هم] وي ثُمَّ أَعْتَقَهُ الْآخَرُ وَهُوَ مُوسِرٌ بيا بل [شريک] دا غلام آزاد کړي او هغه مالدار [هم] وي فَأَرَادُوا الضَّمَانَ او بيا دوی [دواړه] د ضمان اراده وکړي فَلِلسَّاكِتِ أَنْ يُضَمِّنَ الْمُدَبِّرَ ثُلُثَ قِيمَتِهِ قِنًّا نو ساکت شريک ته دا حق سته چې له مدبر جوړونکي څخه د خالص غلام په حساب د قيمت دريمه حصه واخلي وَلَا يُضَمِّنَ الْمُعْتِقَ او له مُعتق [آزادونکي شريک] څخه ضمان نه واخلي وَلِلْمُدَبِّرِ أَنْ يُضَمِّنَ الْمُعْتِقَ ثُلُثَ قِيمَتِهِ مُدَبَّرًا او مدبر ته دا حق سته چې له مُعتق څخه د مدبر غلام په حساب د قيمت دريمه حصه واخلي وَلَا يُضَمِّنُهُ الثُّلُثَ الَّذِي ضَمِنَ او هغه به له مُعتق څخه د هغه دريمې حصې ضمان نه اخلي چې هغه [په خپله] د هغې ضامن سوی وي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❁ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (رد المحتار ج:۳، ص:۲۱)، وكذا في البحر الرائق (ج:۴، ص:۲۴۰). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۹۷]

نېز دی وَقَالَا: اَلْعَبْدُ كُلُّهٗ لِلَّذِیْ دَبَّرَهٗ اَوَّلَ مَرَّةٍ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې ټوله غلام د هغه شريک ا لپاره دی چې اول واريې غلام مدبر جوړ کړی وي وَيَضْمَنُ ثُلُثَىْ قِيْمَتِهٖ لِشَرِيْكَيْهِ او مدبر جوړونکی به د خپلو دوو شريکانو لپاره د غلام د دوو حصو د قيمت ضامن وي مُوْسِرًا كَانَ اَوْ مُعْسِرًا هغه که مدبر جوړونکی مالدار وي او که غريب وي.

اللغات: ﴿دَبَّرَ﴾ د تفعيل ماضي ده: (غلام) مدبر جوړول، مدبر ګرځول، مدبر کول. ﴿قِنّ﴾ خالص غلام (کوم چې نه مدبر وي، او نه مکاتب وي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو غلام د درې خلګو په مينځ کې مشترک وي او له هغو څخه يو شريک خپله حصه مُدبره جوړه کړي او هغه مالدار وي، بيا دويم شريک خپله حصه آزاده کړي او هغه هم مالدار وي، او دريم سړی چپ (ساکت) پاته سي او هيڅ قدم پورته نه کړي. او بيا ساکت شريک او مدبر جوړونکي شريک له مُعتِق (آزادونکي شريک) څخه د ضمان مطالبه وکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د دې حکم دا دی چې دغه دريم ساکت شريک ته دا حق سته چې له مدبر جوړونکي شريک څخه د خالص غلام (کوم چې مدبر او مکاتب نه وي) د قيمت دريمه حصه ضمان واخلي. يعني که د خالص غلام قيمت يو نيم سل (۱۵۰) درهمه وي، نو ساکت دي له مدبر جوړونکي څخه پنځوس (۵۰) درهمه واخلي، او بيا دي سکوت اختيار کړي، يعني بيا دي له مُعتِق څخه د هيڅ شي مطالبه نه کوي. لېکن مدبر جوړونکی دي له مُعتِق څخه د مدبر غلام د قيمت دريمه حصه ضمان واخلي، او ساکت چې له ده څخه کوم ضمان اخيستی وي، په هغه باره کې دي دئ (مدبر جوړونکی) سکوت اختيار کړي، او هغومره دي نه ځني اخلي.

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: کوم شريک چې غلام مدبر جوړ کړی وي، ټوله غلام د هغه دی، او دغه مدبر جوړونکی شريک به خپل هر شريک ته د دې غلام د قيمت دريمه حصه ورکوي (يعني مدبر جوړونکی به د غلام د قيمت د دوو ثُلثينو ضامن وي). هغه که مدبر جوړونکی غريب وي يا مالدار وي، په هر صورت کې به پر هغه د غلام د قيمت دوه ثلثه واجب وي (چې هغه به پاته دوو شريکانو ته ورکوي).

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَأَصْلُ هٰذَا أَنَّ التَّدْبِيرَ يَتَجَزَّأُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د دې اختلاف بنياد دا دی چې د امام صاحب په نيز مدبر جوړول متجزي کېدای سي [يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا صحيح دي چې فقط د غلام يو جزء [حصه] مدبر جوړ کړی سي] خِلَافًا لَهُمَا په خلاف د صاحبينو كَالْإِعْتَاقِ لکه آزادول، اچې د امام صاحب په نيز متجزي کېدای سي، او د صاحبينو په نيز متجزي کېدای نه سي] لِأَنَّهُ شُعْبَةٌ مِنْ شُعَبِهِ ځکه چې تدبير [مدبر جوړول] هم د إعتاق [آزادولو] يو ښاخ دی فَيَكُونُ مُعْتَبَرًا بِهِ نو [ځکه] به تدبير پر إعتاق قياسول کيږي وَلَمَّا كَانَ مُتَجَزِّئًا عِنْدَهُ اقْتَصَرَ عَلَى نَصِيبِهِ او کله چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز تدبير متجزي کېدای سي نو هغه [تدبير] به د مدبر جوړونکي پر حصې منحصر [او محدود] وي وَقَدْ أَفْسَدَ بِالتَّدْبِيرِ نَصِيبَ الْآخَرَيْنِ او مدبر جوړونکي په تدبير سره د پاته دوو شريکانو حصې خرابي کړې فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنْ يُدَبِّرَ نَصِيبَهُ أَوْ يُعْتِقَ أَوْ يُكَاتِبَ أَوْ يُضَمِّنَ الْمُدَبِّرَ أَوْ يَسْتَسْعِيَ الْعَبْدَ أَوْ يَتْرُكَهُ عَلَى حَالِهِ نو [ځکه اوس] به هر يوه ته دا اختيار وي [۱] چې هغه خپله حصه مدبره جوړه کړي [۲] يا يې آزاده کړي [۳] يا يې مکاتبه جوړه کړي [۴] يا له مدبر جوړونکي څخه ضمان [تاوان] واخلي [۵] يا په غلام سعايه [کسب او ګټه] وکړي [۶] يا غلام پر خپل حال پرېږدي لِأَنَّ نَصِيبَهُ بَاقٍ عَلَى مِلْكِهِ فَاسِدٌ بِإِفْسَادِ شَرِيكِهِ ځکه چې اله دې دواړو شريکانو څخه] د هر يوه حصه د هغه پر ملکيت پاته ده [خو] د مدبر جوړونکي د خرابولو په وجه هغه خرابه سوې ده حَيْثُ سَدَّ عَلَيْهِ طُرُقَ الِانْتِفَاعِ بِهِ بَيْعًا وَهِبَةً ځکه چې هغه [مدبر جوړونکي] د بيع او هبه په توګه له دې غلام څخه د نفع اخيستلو لارې بندې کړې عَلَى مَا مَرَّ لکه مخکې چې دا [خبره] تېره سوه فَإِذَا اخْتَارَ أَحَدُهُمَا الْعِتْقَ تَعَيَّنَ حَقُّهُ فِيهِ بيا چې کله له دوی دواړو [شريکانو] څخه يوه عتق [آزادي] اختيار کړه نو د هغه حق په عتق کې متعين سو وَسَقَطَ اخْتِيَارُهُ غَيْرَهُ او له عتق څخه بغير د هغه [نور پنځه] اختيارونه ساقط سول فَتَوَجَّهَ لِلسَّاكِتِ سَبَبَانِ: ضَمَانُ تَدْبِيرِ الْمُدَبِّرِ وَإِعْتَاقُ هٰذَا الْمُعْتِقِ نو د ساکت [شريک] وطرف ته دوه سببونه متوجه سول: [۱] له مدبر جوړونکي څخه ضمان اخيستل [۲] او له آزادونکي څخه ضمان اخيستل غَيْرَ أَنَّ لَهُ أَنْ يُضَمِّنَ الْمُدَبِّرَ خو دا چې [دلته] د هغه لپاره [فقط] له مدبر جوړونکي څخه د ضمان اخيستلو اختيار سته لِيَكُونَ

الضَّمَانُ ضَمَانُ مُعَاوَضَةٍ د دې لپاره چې هغه ضمان [تاوان] د معاوضې ضمان سي إِذْ هُوَ الْأَصْلُ ځکه چې همدا د معاوضې ضمان أصل دی حَتّٰى جُعِلَ الْغَصْبُ ضَمَانَ مُعَاوَضَةٍ عَلٰى أَصْلِنَا تر دې چې زموږ پر قاعده د غاصب ضمان هم د معاوضې ضمان ګرځول سوی دی وَأَمْكَنَ ذٰلِكَ فِي التَّدْبِيرِ او دا [د معاوضې ضمان] په تدبير کي ممکن دی لِكَوْنِهِ قَابِلًا لِلنَّقْلِ مِنْ مِلْكٍ إِلٰى مِلْكٍ وَقْتَ التَّدْبِيرِ ځکه چې د تدبير په وخت کي غلام له يوه ملکيت څخه و بل ملکيت ته د منتقل کېدلو قابل وي وَلَا يُمْكِنُ ذٰلِكَ فِي الْإِعْتَاقِ [لېکن] په إعتاق کي د ممکن نه وي لِأَنَّهُ عِنْدَ ذٰلِكَ مُكَاتَبٌ أَوْ حُرٌّ عَلٰى اخْتِلَافِ الْأَصْلَيْنِ ځکه چې د إعتاق په وخت کي به دا غلام مکاتب وي يا به آزاد وي [د امام صاحب او صاحبينو] دوو أصولو پر اختلاف وَلَا بُدَّ مِنْ رِضَا الْمُكَاتَبِ بِفَسْخِهِ حَتّٰى يَقْبَلَ الْاِنْتِقَالَ او د عقد کتابت فسخ کولو لپاره د مکاتب رضاء [خوښي] ضروري ده، د دې لپاره چې [ملکيت ته] منتقل کېدل قبول کړي فَلِهٰذَا يُضَمِّنُ الْمُدَبِّرُ نو په دې وجه به ساکت شريک له مدبر جوړونکي څخه ضمان اخلي ثُمَّ لِلْمُدَبِّرِ أَنْ يُضَمِّنَ الْمُعْتِقَ ثُلُثَ قِيمَتِهِ مُدَبَّرًا بيا به مدبر جوړونکي ته دا اختيار وي چې له مُعتِق [آزادونکي] څخه د مدبر غلام د قيمت دريمه حصه ضمان واخلي لِأَنَّهُ أَفْسَدَ عَلَيْهِ نَصِيبَهُ مُدَبَّرًا ځکه چې مُعتِق د غلام د مدبر کېدلو په حالت کي د هغه [مدبر جوړونکي] حصه خرابه کړه وَالضَّمَانُ يَتَقَدَّرُ بِقِيمَةِ الْمُتْلَفِ او ضمان د تلف کړی سو شي په اندازه ثابتيږي وَقِيمَةُ الْمُدَبَّرِ ثُلُثَا قِيمَتِهِ قِنًّا عَلٰى مَا قَالُوا او د مدبر غلام قيمت د خالص غلام د قيمت دوې حصې کيږي لکه څرنګه چې مشائخو فرمايلي دي وَلَا يُضَمِّنُهُ قِيمَةَ مَا مَلَكَهُ بِالضَّمَانِ مِنْ جِهَةِ السَّاكِتِ او مدبر جوړونکي چې د ساکت شريک د حِصې کوم قيمت ورکړی وي له مُعتِق څخه هغه نه سي اخيستلای لِأَنَّ مِلْكَهُ يَثْبُتُ مُسْتَنِدًا ځکه چې د مدبر جوړونکي ملکيت [د تدبير کولو د وخت وطرف ته] منسوب کيږي [او] ثابتيږي وَهٰذَا ثَابِتٌ مِنْ وَجْهٍ دُونَ وَجْهٍ او دا په يوه اعتبار سره ثابت دی او په بل اعتبار سره ثابت نه دی فَلَا يَظْهَرُ فِي حَقِّ التَّضْمِينِ نو ځکه به د ضمان اخيستلو په حق کي دا ملکيت نه ښکاره کيږي وَالْوَلَاءُ بَيْنَ الْمُعْتِقِ وَالْمُدَبِّرِ أَثْلَاثًا او د مدبر جوړونکي او مُعتِق په مينځ کي به د دريو حصو په حساب سره ولاء مشترکه وي ثُلُثَاهُ لِلْمُدَبِّرِ وَالثُّلُثُ لِلْمُعْتِقِ [يعني] د مدبر جوړنکي لپاره به دوې حصې وي

او د مُعتَق لپاره به يوه حصه وي لِأَنَّ الْعَبْدَ عَتَقَ عَلٰى مِلْكِهِمَا عَلٰى هٰذَا الْمِقْدَارِ ځکه چې غلام د همدې مقدار مطابق د دوی دواړو پر ملکيت آزاد سوی دی وَإِذَا لَمْ يَكُنِ التَّدْبِيرُ مُتَجَزِّئًا عِنْدَهُمَا او کله چې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز تدبير متجزي کېدای نه سي صَارَ كُلُّهُ مُدَبَّرًا لِلْمُدَبِّرِ نو ټول غلام به د مدبر جوړونکي لپاره وي وَقَدْ أَفْسَدَ نَصِيبَ شَرِيكَيْهِ لِمَا بَيَّنَّا او هغه [په مدبر جوړولو سره] د خپلو دوو شريکانو حصه خرابه کړه، د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی [هغه چې دا چې اوس پاته دوه شريکان غلام نه خرڅولای سي او نه يې هبه کولای سي] فَيَضْمَنُهُ نو ځکه به هغه [د دواړو] د حصې ضامن وي وَلَا يَخْتَلِفُ بِالْيَسَارِ وَالْإِعْسَارِ او د مالدار والي او غربت په وجه به دا ضمان نه مختلف کيږي لِأَنَّهُ ضَمَانُ تَمَلُّكٍ ځکه چې دا د مالک جوړېدلو [ملکيت حاصلولو] ضمان دی فَأَشْبَهَ الِاسْتِيلَادَ نو دا د استيلاد سره مشابه سو بِخِلَافِ الْإِعْتَاقِ په خلاف د إعتاق [آزادولو] لِأَنَّهُ ضَمَانُ جِنَايَةٍ ځکه چې هغه د جرم ضمان دی وَالْوَلَاءُ كُلُّهُ لِلْمُدَبِّرِ او ولاء به ټوله د مدبر جوړونکي لپاره وي وَهٰذَا ظَاهِرٌ او دا ښکاره [خبره] ده.

اللغات: ﴿تَدْبِيْر﴾ د تفعيل مصدر دی: خپل غلام مُدَبَّر جوړول. ﴿مُدَبِّر﴾ د تفعيل اسم فاعل دی: هغه مالک چې خپل غلام يې مُدَبَّر جوړ کړی وي. ﴿إِسْتِيْلَاد﴾ د استفعال مصدر دی: خپله مينځه أم ولد جوړول. ﴿جِنَايَة﴾ جرم، غلطي، خطاء.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې په تېره مسئله کي د امام صاحب او صاحبينو کوم اختلاف ذکر سو، دا په اصل کي د دوي پر خپلو أصولو او قاعدو مبني او متفرع دی، د صاحبينو أصول دا دی چې د هغو په نيز نه تدبير (مدبر جوړول) متجزي کېدای سي او نه إعتاق (آزادول)، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز إعتاق او تدبير دواړه متجزي کېدای سي، او د ټولو دليل دا دی چې تدبير د إعتاق يو ښاخ دی، لهذا د دې حضراتو په نيز چې د إعتاق کوم حکم وي، هغه حکم به د تدبير هم وي، لنډه دا چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په تدبير کي تجزی ممکن ده، لهذا کوم شريک چې خپله حصه مدبره جوړه کړې وي، نو د هغه تدبير به د هغه تر حصې پوري محدود وي (يعني فقط د هغه حصه به مدبره وي)، خو څرنګه چې دغه (مدبر جوړونکي) شريک د پاته دوو شريکانو حصه هم فاسده او خرابه کړه، نو ځکه به اوس دې دواړو شريکانو ته په خپله، خپله حصه کي هر ډول اختيار وي، هغه که دوی دواړه خپله حصه آزادوي، يا مدبره يا مکاتبه ځني جوړوي، يا له مدبر جوړونکي شريک څخه

ضمان (تاوان) اخلي، يا په غلام سعايه (كسب او مزدوري) كوي، يا غلام پر حالت پرېږدي، ځكه چي د هر شريک خپله حصه د هغه په ملكيت كي پاته او قائم ده. لېكن د مدبر جوړونكي شريک د تدبير په وجه د دوی ملكيتونه فاسد سول، او هغه د خپلي حصه په تدبير (مدبر كولو سره) د دوی دواړو لپاره د بيع او هبې ټولي لاري بندي كړي (يعني اوس د غه پاته دوه شريكان نه خپله حصه خرڅولای سي، او نه يې هبه كولای سي).

فإذ اختار إلخ: فرمايي چي كه په پاته دوو شريكانو كي يو شريک عتق اختيار كړي (يعني خپله حصه آزاده كړي)، نو د عتق (آزادی) لپاره د هغه حصه متعين سوه، او تر دې وروسته به له عتق څخه بغير د هغه لپاره د تدبير يا كتابت او داسي نورو هيڅ اختيار نه وي، او دريم ساكت شريک كوم چي بالكل چپ پاته دی، اوس د هغه لپاره د ضمان دوه سببه پيدا سول: ① د مدبر جوړونكي د تدبير ضمان ② د مُعتق (آزادونكي) د إعتاق ضمان. لېكن هغه ته به فقط له مدبر څخه د ضمان اخيستلو حق وي. نه له مُعتق څخه. د دې لپاره چي دا ضمان د معاوضې ضمان سي، ځكه چي په ضمانانو كي ضمان معاوضه أصل دی، له همدې كبله د غصب تاوان هم ضمان معاوضه گرځول سوی دی. او له مدبر جوړونكي شريک څخه د داسي ضمان اخيستل ممكن هم دي، ځكه چي غلام له يوه ملكيت څخه بل ملكيت ته د منتقل كېدلو صلاحيت لري. لېكن په إعتاق كي د ضمان معاوضه جاري كېدل او نافذېدل ممكن نه دي (يعني په إعتاق كي ضمان معاوضه جاري كېدای نه سي). ځكه چي دلته د إعتاق په وخت كي به غلام يا مكاتب وي، لكه څرنگه چي د امام صاحب مسلک دی، يا به آزاد وي، لكه څرنگه چي د صاحبينو مسلک دی.

ولا بُدّ إلخ: فرمايي چي د كتابت فسخ كېدلو لپاره د مكاتب رضاء ضروري ده، د دې لپاره چي په هغه كي د اِنتقالُ المِلک صلاحيت پيدا سي او انتقالُ الملک قبول كړي، نو له همدې وجهي ساكت شريک چي له مدبر جوړونكي شريک څخه كوم ضمان اخلي، هغه به ضمان معاوضه دي. تر دې وروسته به مدبر جوړونكي ته دا حق وي چي هغه له مُعتق څخه د مدبر غلام د قيمت د دريمي حصې په اندازه ضمان واخلي، ځكه چي مُعتق د دې مُدبر جوړونكي حصه د مدبر كېدلو په حالت كي برباد كړې ده (يعني كله چي مدبر جوړونكي خپله حصه مدبره كړه، نو د هغه حصه مدبره وگرځېده، لېكن مُعتق د خپلي حصې په آزادولو سره د هغه حصه فاسده او برباد كړه)، او څرنگه چي ضمان د برباد سوي شي په اندازه واجبيږي، نو ځكه به پر مُعتق د مدبر جوړونكي لپاره د غلام د قيمت دريمه حصه واجب وي.

او د فقهاؤ فيصله دا ده چې د مدبر غلام قيمت دومره وي لکه د خالص غلام د قيمت دوې حصې (دوه ثلثان). او مدبر جوړونکي چې ساکت شريک ته کوم ضمان ورکړی وي، هغه له مُعتِق څخه نه سي اخيستلای، ځکه مدبر جوړونکي په دې وجه ساکت شريک ته ضمان ورکړی دی چې هغه د تدبير په وخت کي د ساکت شريک د حصې مالک سو. او څرنګه چې دا ملکيت د ضمان (تاوان) ورکولو په وجه ثابت سو، په اصلي حالت يا په يو بل سبب سره ثابت سوی نه دی، نو ځکه به د ضمان موجب نه وي، يعني د دې سبب به نه وي چې مدبر جوړونکی له مُعتِق څخه زيات مال واخلي (ځکه چې دا ملکيت اصلي نه دی، بلکي د تاوان ورکولو په وجه هغه ته حاصل سوی دی).

او د دې غلام ولاء به د مُعتِق او مدبر جوړونکي تر مينځ د دريو حصو په حساب سره مشترکه وي يعني دوې حصې به د مدبر جوړونکي وي، او يوه حصه به د مُعتِق وي، ځکه چې په همدغه حساب سره د دوی په ملکيتونو کي عتق واقع سوی دی.

وإذا لم يكن إلخ: د دې حاصل دا دی چې څرنګه د صاحبينو په نيز تدبير (يعني مدبر جوړول) متجزي کېدای نه سي، نو کله چې هم يو شريک خپله حصه مدبره جوړه کړي نو په هغه وخت کي ټوله غلام د هغه له طرفه مدبر ګرځي (او ټوله غلام د هغه په ملکيت کي راځي). او څرنګه چې د هغه په تدبير سره د هغه د دواړو شريکانو حصه فاسده سوه، نو ځکه به هغه د خپلو دواړو شريکانو د حصې ضامن وي. او دا ضمان به د غربت او مالداری په دواړو حالتونو کي برابر وي، او هيڅ ډول بدلون نه پکښي کيږي، ځکه چې دا خو د ملکيت حاصلولو ضمان دی، نو د استيلاد سره مشابه سو. او د استيلاد حکم دا دی چې که په دوو شريکانو کي له مشترکي مينځي څخه د يوه شريک بچی پيدا سي (يعني يو شريک خپله حصه اُمِ ولد جوړه کړي)، نو پر هغه به د دويم شريک د حصې په اندازه ضمان واجب وي. هغه که اُمِ ولد جوړونکی شريک مالدار وي، يا غريب وي، په ضمان کي به هيڅ بدلون نه کوي. همداسي به دلته هم پر مدبر جوړونکي شريک د پاته دوو شريکانو د حصو په اندازه ضمان لازم وي. او په ضمان کي به هيڅ بدلون نه کوي.

د دې په خلاف د إعتاق مسئله ده، نو هغه له تدبير څخه جلا ده، ځکه د إعتاق په صورت کي چې کوم ضمان واجبيږي هغه ضمانِ جنايت وي (يعني د جرم ضمان وي). او پاته سوه ولاء نو په دې مسئله کي به ولاء ټوله د مدبر جوړونکي شريک لپاره وي، ځکه چې اوس ټوله غلام د هغه سو (يعني کله چې هغه خپله حصه مدبره کړه نو ټوله غلام د هغه په ملکيت کي راغلی).

د مينځي په اُمِ ولد کېدلو کي د دوو شريکانو د اختلاف بيان

وَإِذَا كَانَتْ جَارِيَةٌ بَيْنَ رَجُلَيْنِ او که چيري يوه مينځه د دوو خلکو په مينځ کي مشترکه وي وَزَعَمَ أَحَدُهُمَا أَنَّهَا أُمُّ وَلَدٍ لِصَاحِبِهِ او له دوی څخه يو دا ګومان [او دعوی] وکړي چي دا مينځه زما د ملګري اُمِ ولد ده [يعني يو شريک اقرار وکړي چي زما شريک دا مشترکه مينځه اُمِ ولد جوړه کړې ده] وَأَنْكَرَ ذٰلِكَ الْآخَرُ او دويم [شريک] له دې څخه انکار وکړي [چي ما هغه اُمِ ولد نه ده جوړه کړې] فَهِيَ مَوْقُوفَةٌ يَوْمًا وَيَوْمًا تَخْدُمُ الْمُنْكِرَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ✱ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به دا مينځه يوه ورځ توقف کوي او يوه ورځ به د منکر [انکار کونکي شريک] خدمت کوي وَقَالَا: إِنْ شَاءَ الْمُنْكِرُ اِسْتَسْعَى الْجَارِيَةَ فِي نِصْفِ قِيمَتِهَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي که منکر وغواړي نو په نصف قيمت کي دي په مينځي کسب [او مزدوري] وکړي ثُمَّ تَكُونُ حُرَّةً لَا سَبِيلَ عَلَيْهَا بيا به هغه مينځه آزاده وي او پر هغې به [د هيچا] هيڅ لاره نه وي لَهُمَا: أَنَّهُ لَمَّا لَمْ يُصَدِّقْهُ صَاحِبُهُ اِنْقَلَبَ إِقْرَارُ الْمُقِرِّ عَلَيْهِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي کله د اقرار کونکي [دعویٰ کونکي] ملګري د هغه د اُمِ ولد جوړولو تصديق نه وکړی نو د اقرار کونکي اقرار پر هغه را واوښتی كَأَنَّهُ اسْتَوْلَدَهَا ګواکي هغه مينځه اُمِ ولد جوړه کړه فَصَارَ كَمَا إِذَا أَقَرَّ الْمُشْتَرِي عَلَى الْبَائِعِ أَنَّهُ أَعْتَقَ الْمَبِيعَ قَبْلَ الْبَيْعِ نو داسي سو لکه مشتري چي پر بائع دا اقرار وکړي چي بائع تر خرڅولو مخکي مبيع [غلام] آزاد کړی دی يُجْعَلُ كَأَنَّهُ أَعْتَقَ نو [په دې صورت کي] به مبيع [غلام] داسي ګرځول کيږي لکه مشتري چي [په خپله هغه] آزاد کړی وي كَذَا هٰذَا همداسي به دغه [مسئله] وي [يعني دلته به هم دغه حکم وي] فَيَمْتَنِعُ الْخِدْمَةُ نو ځکه به خدمت اخيستل ممنوع وي [يعني نو ځکه به اُمِ ولد د اقرار کونکي خدمت نه کوي، بلکي د هغه د خدمت په ورځ به توقف کوي] وَنَصِيبُ الْمُنْكِرِ عَلَى مِلْكِهِ فِي الْحُكْمِ او په حکم کي د منکر حصه د هغه پر ملکيت پاته ده فَتَخْرُجُ إِلَى الْعَتَاقِ بِالسِّعَايَةِ نو ځکه به [اُمِ ولد] د سعايه په ذريعه د آزادۍ وطرف ته را وځي كَأُمِّ وَلَدِ النَّصْرَانِيِّ إِذَا أَسْلَمَتْ لکه د نصراني اُمِ ولد چي کله مسلمانه سي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْمُقِرَّ لَوْ صَدَقَ كَانَتِ الْخِدْمَةُ كُلُّهَا لِلْمُنْكِرِ د

✱ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله (فتح القدير ج:١، ص:٢٧٧)، وكذا في الهندية (ج:٢، ص:١٦). [القول الراجح ج:١، ص:٣٩٩]

امام صاحب دليل دا دی: چي که چيري اقرار کونکی رېښتوني وي نو ټوله خدمت به د منکر لپاره وي وَلَوْكَذَبَ كَانَ لَهُ نِصْفُ الْخِدْمَةِ او که هغه درواغجن وي نو د هغه لپاره به نيم خدمت وي فَيَثْبُتُ مَاهُوَالْمُتَيَقَّنُ بِهِ وَهُوَالنِّصْفُ نو کوم شی چي يقيني وي هغه به ثابتيږي چي هغه نيم خدمت دی وَلَا خِدْمَةَ لِلشَّرِيكِ الشَّاهِدِ وَلَا اسْتِسْعَاءَ او د ګواهي ورکونکي [مُقر] شريک لپاره به نه خدمت وي او نه د استسعاء حق لِأَنَّهُ يَتَبَرَّأُ عَنْ جَمِيعِ ذٰلِكَ بِدَعْوَى الِاسْتِيلَادِ وَالضَّمَانِ ځکه چي د استيلاد او ضمان په دعوىٰ کولو سره دا [مُقر] شريک له دې ټولو [دوارو شيانو] څخه بري دی وَالْإِقْرَارُ بِأُمُومِيَّةِ الْوَلَدِ يَتَضَمَّنُ الْإِقْرَارَ بِالنَّسَبِ او [ديو چا په حق کي] د اُم ولد کېدلو اقرار د نسب اقرار کولو ته [هم] شامليږي وَهُوَأَمْرٌ لَازِمٌ لَا يَرْتَدُّ بِالرَّدِّ او دا يو لازم امر دی کوم چي په ردولو سره [هم] نه رديږي فَلَا يُمْكِنُ أَنْ يُجْعَلَ الْمُقِرُّ كَالْمُسْتَوْلِدِ نو دا ممکن نه دي چي اقرار کونکی شريک اُم ولد جوړونکی وګرځول سي [يعني دا ممکن نه دي چي اقرار کونکی د خپل اقرار او دعوىٰ په وجه اُم ولد جوړونکی وشمارل سي].

اللغات: ﴿جَارِيَةٌ﴾ مينځه، ﴿اِنْقَلَبَ﴾ د انفعال ماضي ده: اوښتل، ګرځېدل، ﴿مُقِرّ﴾ اقرار کونکی (مراد څني اول شريک دی چي هغه په دويم شريک د اُم ولد جوړولو دعوىٰ کړې ده).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يوه مينځه د زيد او خالد په مينځ کي مشترکه وي او زيد دعوىٰ وکړي چي خالد دا مينځه خپل اُم ولد جوړه کړې ده، لېکن خالد له دې څخه انکار وکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حکم دا دی چي دا مينځه به يوه ورځ توقف کوي او يوه ورځ به د منکر شريک (خالد) خدمت کوي (يعني په کومه ورځ چي د مُدعي شريک [زيد] د خدمت نوبت وي په هغه ورځ به مينځه کښېني، د هغه به هيڅ خدمت نه کوي، او په کومه ورځ چي د منکر شريک د خدمت نوبت وي، په هغه ورځ به اُم ولد د هغه خدمت کوي)، لېکن صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي که منکر شريک وغواړي نو په دې مينځه دي کسب او کار وکړي او نصف قيمت دي څني واخلي، تر دې وروسته دا مينځه آزاديږي او پر هغې د مُقر (مُدعي شريک) هيڅ لاره نسته (يعني دا مينځه به زيد لپاره کسب او کار نه کوي او هغه ته به هيڅ شی نه ورکوي).

د صاحبينو دليل: دا دی چي کله د دويم شريک (منکر) له طرفه د مُقِر د دعوىٰ او اقرار تصديق نه وسو، نو د مُقر دعوىٰ او اقرار په خپله د هغه وطرف ته را وګرځېدی او پر هغه را وپس سو او صورت داسي سو لکه په خپله چي دغه مُقر (مدعي) هغه مينځه اُم ولد جوړه کړې وي، نو ځکه به د ده اقرار د

ده په حق کې معتبر او لازم وي او د ده لپاره به پر مينځې هيڅ لاره نه وي او له مينځې څخه خدمت اخيستل به د ده لپاره ممنوع وي، لکه د يو مبيع غلام په باره کې چې مُشتري دا دعوىٰ وکړي چې زما بائع تربيع مخکې دا غلام آزاد کړی وو لېکن بائع له دې څه انکار وکړي نو په دې صورت کې هم د إعتاق اقرار (دعوىٰ) پر هغه بيرته راګرځي او پر هغه لازميږي او دا غلام به د هغه له طرفه آزاد کړی سوي شمارل کيږي، همداسي به په دې مسئله کې هم د مينځې د اُم ولد کېدلو دعوىٰ په خپله پرمدعي شريک او مُقر (زيد) راګرځي او مينځه به د هغه اُم ولد وي، اوس به د هغه لپاره له دې مينځې څخه خدمت اخيستل صحيح نه وي، ځکه چې مينځه د هغه په خيال او ګومان کې د بل چا (خالد) اُم ولد ده (يعني د زيد دعوىٰ او اقرار دا دی چې خالد دا مينځه اُم ولد جوړه کړې ده او د هغه په حق کې آزاده ده، نه زما په حق کې)، لېکن کله چې بل ځوک (خالد) د دې منکر دی (لهذا دا مينځه به د زيد اُم ولد وي او د زيد په حق کې به آزاده وي)، او د هغه (خالد) حصه ظاهراً د هغه په ملکيت کې پاته ده، لهذا د مينځې د آزادۍ او خلاصون لپاره به (د منکر له طرفه) په هغې کسب او مزدوري (سعايه) کيږي لکه د نصراني سړي اُم ولد چې کله مسلمانه سي، نو هغې د آزادۍ لاره هم فقط سعايه ده، لهذا په دې مسئله کې هم د دغه مينځې د آزادۍ لاره فقط سعايه ده.

د امام صاحب دليل: دا دی چې که چيري دغه مُقر شريک (کوم چې د مينځې د اُم ولد کېدلو اقرار کوي) په خپل اقرار کې رېښتوني وای او د ده تصديق سوي وای، نو مينځه به د مُنکر شريک اُم ولد وای او د هغې ټوله خدمت به د همدغه مُنکر شريک لپاره وای، او که مُقر شريک په خپل اقرار کې درواغجن وای نو د مُنکر لپاره به نصف خدمت وای، ځکه چې مينځه خو د دواړو په مينځه کې مشترکه ده، لهذا د مُنکر شريک د انکار باوجود به د هغه لپاره فقط د نصف خدمت حق وای، او څرنګه چې نصف متقين دی، نو ځکه به د منکر شريک لپاره فقط هغه ثابت وي، او د مُقر شريک لپاره به نه د خدمت حق وي، او نه د استسعاء حق، ځکه چې هغه پر منکر شريک د مينځې د اُم کېدلو په حواله سره د ضمان د وجوب دعوىٰ کوي، نو ځکه به له ضمان څخه بغير د هغه لپاره بل هيڅ حق نه وي.

<u>والإقرار إلخ</u>: په دې سره د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د دليل جواب ورکول سوی دی، حاصل يې دا دی چې د مينځې د اُم ولد کېدلو اقرار "اقرار بالنسب" ته شامل دی، او اقرار بالنسب يو لازم امر دی کوم چې په ترديد او انکار سره ردّ کېدای نه سي، نو په دې وجه مُقر شريک اُم ولد جوړونکی نه سي شمارل کېدای او مدعىٰ عليه (منکر شريک) هم له دې څخه من کل وجه نه سي بري کېدای، بلکې هغه به ته فقط د نصف خدمت حق ورکول کيږي.

د پورتنی مسئلې يو بل صورت

وَإِنْ كَانَتْ أُمُّ وَلَدٍ بَيْنَهُمَا او که يوه أُم ولد د دوو خلکو په مينځ کې مشترکه وي فَأَعْتَقَهَا أَحَدُهُمَا وَهُوَ مُوسِرٌ او يو [شريک] هغه آزاده کړي، حال دا چې هغه مالدار وي فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ [1] نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه ضمان [تاوان] نشته وَقَالَا: يَضْمَنُ نِصْفَ قِيمَتِهَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې هغه به د أُم ولد د نيم قيمت ضامن وي لِأَنَّ مَالِيَّةَ أُمِّ الْوَلَدِ غَيْرُ مُتَقَوِّمَةٍ عِنْدَهُ ځکه چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د أُم ولد ماليت متقوّم [قيمتداره] نه دی وَمُتَقَوِّمَةٌ عِنْدَهُمَا [ليکن] د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز متقوّم دی وَعَلَى هٰذَا الْأَصْلِ تُبْتَنَى عِدَّةٌ مِنَ الْمَسَائِلِ أَوْرَدْنَاهَا فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهِي او پر دې أصل څو مسئلې مبني دي کوم چې موږ په كفايةُ المنتهي کې ذکر کړي دي وَجْهُ قَوْلِهِمَا: أَنَّهَا مُنْتَفَعٌ بِهَا وَطْئًا وَإِجَارَةً وَاسْتِخْدَامًا د صاحبينو د قول دليل دا دی: چې د وطي، إجاره او خدمت اخيستلو په توګه له أُم ولد څخه نفع اخيستل ممکن دي وَهٰذَا هُوَ دَلَالَةُ التَّقَوُّمِ او دا د متقوم کېدلو نښه ده وَبِامْتِنَاعِ بَيْعِهَا لَا يَسْقُطُ تَقَوُّمُهَا كَمَا فِي الْمُدَبَّرِ او د هغې د بيع په ممنوع کېدلو سره د هغې متقوم کېدل نه ساقطيږي أَلَا تَرَى أَنَّ أُمَّ وَلَدِ النَّصْرَانِيِّ إِذَا أَسْلَمَتْ عَلَيْهَا السِّعَايَةُ آيا ته نه ګورې! چې کله د نصراني أُم ولد مسلمانه سي نو پر هغې سعايه واجب ده وَهٰذَا آيَةُ التَّقَوُّمِ و دا د متقوم کېدلو نښه ده غَيْرَ أَنَّ قِيمَتَهَا ثُلُثُ قِيمَتِهَا قِنَّةً ليکن د هغې قيمت به د خالص مينځې د قيمت دريمه حصه وي عَلَى مَا قَالُوا لکه څرنګه چې فقهاؤ فرمايلي دي لِفَوَاتِ مَنْفَعَةِ الْبَيْعِ وَالسِّعَايَةِ بَعْدَ الْمَوْتِ ځکه چې [د مالک] تر مرګ وروسته [په هغې کې] د بيع او سعايه منفعت فوتيږي بِخِلَافِ الْمُدَبَّرِ لِأَنَّ الْفَائِتَ مَنْفَعَةُ الْبَيْعِ په خلاف د مدبر غلام، ځکه چې [په مدبر غلام کې] د بيع منفعت فوت سوی دی أَمَّا السِّعَايَةُ وَالِاسْتِخْدَامُ بَاقِيَانِ کوم چې سعايه او خدمت اخيستل دي نو هغوی دواړه [په مدبر غلام کې] پاته دي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ التَّقَوُّمَ بِالْإِحْرَازِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې متقوم کېدل د إحرازا [خوندي کولو] په وجه سره وي وَهِيَ مُحْرَزَةٌ لِلنَّسَبِ لَا لِلتَّقَوُّمِ او أُم ولد د نسب لپاره محرزه [خوندي]

[1] القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: وبقول الإمام قال الجمهور (الدر المنتقى ج:۳، ص:۵۲۹). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۰۰]

وي نه د تقوّم لپاره وَالْإِحْرَازُ لِلتَّقَوُّمِ تَابِعٌ او إحراز د تقوّم لپاره تابع دی وَلِهٰذَا لَا تَسْعٰى لِغَرِيْمٍ وَلَا لِوَارِثٍ او له همدې وجهې اُمِ ولد مينځه د هيڅ قرض غوښتونکي او وارث لپاره سعايه [کسب او مزدوري] نه کوي بِخِلَافِ الْمُدَبَّرِ په خلاف د مدبر غلام وَهٰذَا لِأَنَّ السَّبَبَ فِيْهَا مُتَحَقِّقٌ فِي الْحَالِ او دا [حکم] ځکه دی چې په اُمِ ولد کې اوس [هم د آزادۍ] سبب ثابت دی وَهُوَ الْجُزْئِيَّةُ الثَّابِتَةُ بِوَاسِطَةِ الْوَلَدِ او هغه د بچي په واسطه سره ثابتېدونکي جزئيت دی عَلٰى مَا عُرِفَ فِي حُرْمَةِ الْمُصَاهَرَةِ لکه په حرمت مصاهرت کې چې دا [خبره] وپېژندل سوه إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَظْهَرْ عَمَلُهُ فِي حَقِّ الْمِلْكِ ضَرُوْرَةَ الْاِنْتِفَاعِ لېکن د هغه عمل [اُمِ ولد ځخه] د نفع اخيستلو د ضرورت په وجه د ملکيت په حق کې ښکاره نه سو فَعَمِلَ السَّبَبُ فِي إِسْقَاطِ التَّقَوُّمِ نو ځکه دغه سبب د تقوم په ساقطولو کې عمل وکړی وَفِي الْمُدَبَّرِ يَنْعَقِدُ السَّبَبُ بَعْدَ الْمَوْتِ او په مدبر غلام کې تر مرګ وروسته سبب منعقد کيږي وَامْتِنَاعُ الْبَيْعِ فِيْهِ لِتَحْقِيْقِ مَقْصُوْدِهٖ او د هغه د بيع ممنوع کېدل د هغه د مقصود ثابتېدلو په وجه دي [يعني د هغه خرڅول ځکه اوس ممنوع دي چې د مالک تر مرګ وروسته په هغه کې آزادي متحققه سي] فَافْتَرَقَا نو ځکه دواړه سره جلا سول [يعني په اُمِ ولد او مدبر کې فرق راغلی] وَفِي أُمِّ وَلَدِ النَّصْرَانِيِّ قَضَيْنَا بِتَكَاتُبِهَا عَلَيْهِ او د نصراني په اُمِ ولد کې مورږ دا فيصله کړې ده چې اُمِ ولد د نصراني په حق کې مکاتبه ګرځي دَفْعًا لِلضَّرَرِ عَنِ الْجَانِبَيْنِ دې لپاره چې له دواړو طرفونو ځخه ضرر دفع سي وَبَدَلُ الْكِتَابَةِ لَا يَفْتَقِرُ وُجُوْبُهُ إِلَى التَّقَوُّمِ او د بدل کتابت وجوب تقوّم ته نه محتاج کيږي [يعني په بدلِ کتابت کې دا ضروري نه ده چې هغه به متقوم وي].

اللغات: ﴿فَائِت﴾ د نصر اسمِ فاعل دی: فوتېدونکی (فوت کړی سوی شی)، ﴿إِحْرَاز﴾ د افعال مصدر دی: محفوظول (حفاظت کول)، خوندي کول، ذخيره کول، ﴿غَرِيْم﴾ قرض غوښتونکی (هغه کس چې پر بل چايې پور باندي وي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يوه مينځه د دوو خلکو په مينځ کې مشترکه وه او له هغې ځخه يو بچی پيدا سو، او دواړو شريکانو په دې بچي دعویٰ وکړه او مينځه په مشترکه توګه د دواړو اُمِ ولد وګرځېده، تر دې وروسته يوه شريک دا مينځه آزاده کړه او هغه مالدار وو، نو په دې صورت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر مُعتِق (آزادونکي) هيڅ ضمان نه واجبيږي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله

په نيز پر هغه دأم ولد د نصف قيمت ضمان واجبيږي. د امام صاحب او صاحبينو د دغه اختلاف اصل او بنياد دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دأم ولد ماليت غيرِ متقوم دی (يعني د هغه په نيز أمِ ولد يو داسي مال دی چي قيمت نه لري، او پر هغې قيمت او بيه نه سي ايښول کېدای)، او د صاحبينو په نيز د مينځي ماليت متقوم دی، صاحب د هدايې فرمايي چي پر همدغه أصل نوري مسئلي هم مبني دي، چي هغه موږ په "كفاية المنتهي" کي ذکر کړي دي.

د صاحبينو دليل: په دې مسئله کي د صاحبينو دليل دا دی چي دأمِ ولد سره وطي هم کېدای سي او هغه په إجاره هم ورکول کېدای سي او له هغې څخه خدمت هم اخيستل کېدای سي، او ښکاره خبره ده چي دا شيان له تقوّم څخه بغير ممکن نه دي (يعني دا پر دې دلالت کوي چي مينځه متقوّم مال دی، او پر هغې بيه او قيمت لګول کېدای سي)، نو معلومه سوه چي أمِ ولد مالِ متقوّم دی او د مالِ متقوم په هلاکولو سره ضمان واجبيږي، نو ځکه به دلته پر آزادونکي شريک د هغې نصف قيمت ضمان واجب وي، او دا اعتراض دي نه کيږي چي "د هغې بيع ناجائز ده نو ځکه هغه غيرِ متقوم مال دی" (دا اعتراض صحيح نه دی) ځکه چي د مدبر بيع هم ممنوع او ناجائز ده، حالانکي مدبر متقوّم دی، همداسي به أمِ ولد هم د بيع د ممانعت باوجود متقوم وي، همدا وجه ده که د يو نصراني أمِ ولد مسلمانه سي نو پر هغې سعايه کول او خپل ځان آزادول واجب دي، او سعايه کول د تقوّم څرګند او ښکاره دليل دی، له دې څخه هم دأمِ ولد متقوم کېدل ښکاره کيږي، خو څرنګه چي په أمِ ولد کي د "استيلاد" وصف لګول سوی دی، نو ځکه به د هغې قيمت د خالص مينځي د قيمت په دريمه حصه وي، همدا د فقهاؤ فيصله ده، ځکه چي تر استيلاد وروسته دأمِ ولد د خرڅولو منفعت فوتيږي او د مالک تر مرګ وروسته په أمِ ولد کسب او سعايه کول هم نه سي کېدای، لېکن خالص مينځه خرڅول کېدای هم سي او په هغې کسب او سعايه کول هم کېدای سي، نو ځکه به دأمِ ولد قيمت حتماً د خالص د مينځي تر قيمت کم او ټيټ وي.

د دې په خلاف د مدبر مسئله ده، نو د هغه په حق کي په تدبير سره فقط د بيع منفعت فوت سوی وي لېکن سعايه او استخدام دواړه د هغه په حق کي پاته وي، نو له همدې وجهي د هغه قيمت د غلام د قيمت دوېمه حصه کيږي (يعني د خالص غلام د قيمت دوه ثلثه (دوې دريمي حصې) د هغه قيمت کيږي).

د امام صاحب دليل : دا دی چي متقوّم کېدل د هغه إحراز (خوندي کولو) په وجه وي کوم چي د مالدار والي لپاره وي (مثلاً مالک غلام خرڅ کړي او د هغه قيمت د ځان سره خوندي وساتي او په هغه سره مالدار سي، نو د داسي إحراز په وجه غلام متقوّم مال دی)، او أم ولد د نسب لپاره محرز کيږي (خوندي کيږي)، نه د تقوّم لپاره، او إحراز للتقوم د نسب تابع وي، او أم ولد ځکه د نسب لپاره محرز کيږي چي د مالک تر مرګ وروسته أم ولد د مالک د هيڅ قرض غوښتونکي او وارث لپاره کسب او ګټه نه کوي، د دې په خلاف مدبر فقط د تقوّم او مالدار والي لپاره محرز کيږي، نو په دې وجه په أم ولد او مدبر کي فرق راغلی، او وجه د فرق يې دا ده چي په أم ولد کي في الحاله سبب ثابتيږي، او هغه سبب د بچي په واسطه سره د مالک او أم ولد په مينځ کي د جزئيت او بعضيت ثبوت دی، لکه په حرمت مصاهرت کي چي د دې تفصيل تېر سو، لېکن د انتفاع د ضرورت په وجه به د ملکيت په حق کي د دغه سبب اثر نه ښکاريږي، نو ځکه به د مالک په حق کي د هغې ملکيت باقي پاته وي او مالک به له هغې څخه خدمت اخلي، ها! د تقوّم د إسقاط په حق کي به سبب مؤثر وي او د أم ولد ماليت به ختموي، او کله چي ماليت ختم سي، نو بيا به د هغې په آزادولو سره پر مُعتِق ضمان هم نه واجبيږي.

او په مدبر کي في الحاله سبب نه ثابتيږي بلکي د مالک تر وروسته (د إسقاط) سبب پيدا کيږي، او د مقصود حاصلولو په وجه د هغه بيع ممتنع وي، نو په دې وجه په أم ولد او مدبّر کي فرق راغلی.

او د نصراني په أم ولد کي زموږ فيصله دا ده چي هغه مکاتبه ګرځي، د دې لپاره چي نه أم ولد ته څه ضرر ورسيږي، او نه نصراني ته، او څرنګه چي د بدل کتابت وجوب د مال د متقوم کېدلو تقاضا نه کوي، نو په دې حواله سره په أم ولد او مدبر او د نصراني په أم ولد کي فرق دی، نو ځکه يو پر بل قياسول صحيح نه دي. فقط والله أعلم وعلمه أتم

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِشَارِحِهٖ وَلِوَالِدَيْهِ وَلِأَسَاتِذَتِهٖ وَلِمَنْ قَامَ بِنَشْرِهٖ وَطَبْعِهٖ. (آمين)

احقر ابو عباس حبيب الرحمن "مدني"



بَابُ عِتْقِ أَحَدِ الْعَبْدَيْن

(دا) باب له دوو غلامانو څخه د يوه غلام آزادولو (په بيان کې) دی

تشريح: مخکې تر دې صاحب د کتاب "بَابُ الْعَبْدِ يُعْتَقُ بَعْضُهُ" بيان کړی، او اوس "بَابُ عِتْقِ أَحَدِ الْعَبْدَيْن" بيانوي، ځکه چې په دواړو بابونو کې "عِتْقُ الْبَعْض" دی، لېکن د يوه غلام بعض د دوو غلامانو له بعض (يعني له يوه غلام) څخه مُقدّم دی، نو په دې وجه صاحب کتاب "عِتْق بَعْضِ الْعَبْد" له "عِتْق أَحَدِ الْعَبْدَيْن" څخه مخکې بيان کړی دی. (بنايه ج:۵، ص:۶۳۹)

ضروري يادونه: له دې باب څخه تر "كتابُ الأيمان" پورې مورږ په خپل کتاب "فتحُ الهدايه" کې د أثمارُ الهدايې طريقه اختيار کړې ده، ځکه چې صاحب د أثمار الهدايې دغه بابونه په ډېر ښکلي انداز سره حل کړي دي، او د طالبانو د آسانۍ لپاره يې هر عبارت پر څو اجزاؤ وېشلی دی او په ځينو مسئلو کې يې د کتاب له دليل څخه بغير نور دلائل هم ذکر کړي دي، او کومه مسئله چې پر يو اُصول مبني وي هغه اُصول يې هم ذکر کړی دی، خو څرنګه چې يې په ډېر مختصر انداز سره عبارتونه حل کړي دي نو بايد تاسي يې په دقيق نظر سره او ګورئ! چې په معمولي وخت کې به تاسي په ټوله عبارت پوه سئ.

له تعيين څخه بغير په دريو غلامانو کې د يو غلام آزادول

وَمَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثَةُ أَعْبُدٍ او که د يو سړي [مالک] لپاره درې غلامان وه دَخَلَ عَلَيْهِ اثْنَانِ [او] پر هغه دوه غلامان داخل سوه [يعني له هغو څخه دوه غلامان د مالک سره په کور کې حاضر وه] فَقَالَ: أَحَدُكُمَا حُرٌّ او مالک ورته وويل: په تاسي دواړو کې يو آزاد دی ثُمَّ خَرَجَ وَاحِدٌ وَدَخَلَ آخَرُ بيا يو غلام ووتی او بل غلام راغلی فَقَالَ: أَحَدُكُمَا حُرٌّ او [بيا] مالک وويل: په تاسي دواړو کې يو آزاد دی ثُمَّ مَاتَ وَلَمْ يُبَيِّنْ بيا مالک مړ سو او هغه [د آزاد کړی سوي غلام] وضاحت نه وکړی عَتَقَ مِنَ الَّذِي أُعِيدَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ ثَلَاثَةُ أَرْبَاعِهِ وَنِصْفُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْآخَرَيْنِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز چې پر کوم غلام د مالک د قول اعاده سوې وي اچې هغه نه وتونکی غلام دی ا د هغه درې حصې آزادېږي او د نورو

دواړو غلامانو نصف [نیمه حصه] آزادیږي ﴿وَقَالَ مُحَمَّدٌ كَذٰلِكَ إِلَّا فِي الْعَبْدِ الْآخِرِ﴾ او امام محمد رَحِمَهُ الله هم داسې فرمایلي دي ما سوا په آخري غلام کي [یعني کوم غلام چي په آخر کي راغلی دی] ﴿فَإِنَّهُ يَعْتِقُ رُبُعُهُ﴾ نو دهغه [فقط] څلورمه حصه آزادیږي.

اللغات: ﴿أُعِيدَ﴾ د إفعال ماضي مجهوله ده: راګرځول، إعاده کول. ﴿رُبُع﴾ او رُبْع: څلورمه حصه (څلورمه).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي د خالد درې غلامان وه: زید، عُمر او رشید. زید او عمر په کور کي حاضر وه، نو خالد (مالک) ورته وویل چي په تاسي دواړو کي یو غلام آزاد دی، بیا زید له کور څخه ووتی او رشید راغلی، او بیا خالد دې دواړو ته وویل: "أَحَدُكُمَا حُرٌّ" په تاسي دواړو کي یو آزاد دی، او بیا له خالد له تعیین او بیان څخه بغیر مړ سو (یعني تر دې وروسته یې غلام متعین او معلوم نه کړې چي زما کوم غلام مراد دی او بیا مړ سو)، نو د زید نیمه حصه (نصف) آزادیږي او د رشید هم نصف آزادیږي، او عُمر تـوله آزادېدل پکار دي، لېکن دلته د هغه یو نصف اول آزاد سو، او کله چي دویم وار خالد "أَحَدُكُمَا حُرٌّ" وویل، نو په دې سره د هغه څلورمه حصه (یوه ربع) آزاده سوه، نو په دې توګه په دواړو وارونو کي د هغه درې رُبع (درې څلورمي حصې) آزادي سوي.

دلیل: اول وار د "أَحَدُكُمَا حُرٌّ" په ویلو سره د عُمر نصف (نیمه حصه) آزاده سو، نو ځکه به دویم وار د نصف، نصف یعني فقط یوه رُبع آزادیږي، او چي دواړه وارونه سره یو ځای کړی سي نو د هغه درې ربع به آزادي وي، او د زید او بکر به نصف، نصف آزاد وي. (دا د شیخینو رَحِمَهُمَا الله مسلک دی، او تفصیل به یې په راروانو عبارتونو کي ذکر سي).

أَمَّا الْخَارِجُ فَلِأَنَّ الْإِيجَابَ الْأَوَّلَ دَائِرٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الثَّابِتِ کوم چي وتونکي غلام دی نو په دې وجه چي اول إیجاب [یعني اول أَحَدُكُمَا حُرٌّ] د هغه او د ثابت پاتېدونکي [نه وتونکي] غلام په مینځ کي مشترک دی وَهُوَ الَّذِي أُعِيدَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ او ثابت [نه وتونکی] غلام هغه دی چي پر هغه د قول إعاده سوې ده فَأَوْجَبَ عِتْقَ رَقَبَةٍ بَيْنَهُمَا نو اول إیجاب د دې دواړو غلامانو په مینځ کي د یوه غلام عتق [آزادي] واجب کړه لِاسْتِوَائِهِمَا ځکه چي دوی دواړه سره برابر دي فَيُصِيبُ كُلًّا مِنْهُمَا النِّصْفُ نو ځکه به په دوی کي هر یوه ته نصف، نصف عتق حاصلیږي غَيْرَ أَنَّ الثَّابِتَ اِسْتَفَادَ بِالْإِيجَابِ الثَّانِي رُبُعًا آخَرَ خو دا چي ثابت غلام په دویم إیجاب سره [د آزادی] بله رُبع حاصله کړه لِأَنَّ الثَّانِي دَائِرٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الدَّاخِلِ ځکه چي دویم إیجاب

د هغه او د داخلېدونکي غلام په مینځ کي مشترک دی [او داخلېدونکی غلام هغه دی کوم چي په آخر کي راغلی دی] فَيَتَنَصَّفُ بَيْنَهُمَا نو څکه به [دويم عتق هم] د دوی په مينځ کي نصف کرځي غَيْرُ أَنَّ الثَّابِتَ إِسْتَحَقَّ نِصْفَ الْحُرِّيَّةِ بِالْإِيجَابِ الْأَوَّلِ لېکن ثابت غلام د اول ايجاب په ذريعه د نصف حريت [آزادی] مستحق سو فَشَاعَ النِّصْفُ الْمُسْتَحَقُّ بِالثَّانِيْ فِيْ نِصْفَيْهِ نو دا [ثابت] غلام چي په دويم إيجاب سره د کوم نصف حريت [عتق] مستحق سو [آزاد سو] هغه د ده په دواړو نصفونو کي وغوړېدی اله دواړو نصفونو څخه مراد يو د هغه آزاد سوی نصف دی او بل يې فارغ نصف دی] فَمَا أَصَابَ الْمُسْتَحِقَّ بِالْأَوَّلِ لَغَا نو په اول إيجاب سره مستحق سوي [آزاد سوي] نصف ته چي کوم عتق ورسېدی هغه لغو سو وَمَا أَصَابَ الْفَارِغَ بَقِيَ او فارغ نصف ته چي کوم عتق ورسېدی هغه باقي پاته سو فَيَكُوْنُ لَهُ الرُّبُعُ نو څکه به [په دويم إيجاب کي] د هغه لپاره رُبع وي فَتَمَّتْ لَهُ ثَلَاثَةُ الْأَرْبَاعِ نو [اوس] د هغه لپاره دري رُبعي [څلورمي حصې] پوره سوې وَلِأَنَّهُ لَوْ أُرِيْدَ هُوَ بِالثَّانِيْ يَعْتِقُ نِصْفُهُ او څکه که چيري په دويم إيجاب سره همدغه [ثابت] غلام مراد کړی سي نو د هغه [پاته] نصف به آزاد سي [څکه چي يو نصف خو يې په اول إيجاب سره آزاد سوی دی] وَلَوْ أُرِيْدَ بِهِ الدَّاخِلُ لَا يَعْتِقُ هٰذَا النِّصْفُ او که چيري په دويم إيجاب سره داخل غلام مراد کړی سي نو دا [د ثابت غلام] نصف به نه آزادېږي فَيَتَنَصَّفُ نو څکه به دا نصف هم نيمايي کيږي فَيَعْتِقُ مِنْهُ الرُّبُعُ بِالثَّانِيْ وَالنِّصْفُ بِالْأَوَّلِ نو په دويم إيجاب سره به د ثابت غلام [فقط] يوه رُبع آزادېږي او [د هغه] يو نصف به په اول ايجاب سره آزاد وي [چي ټوله سره يو ځای کړل سي نو ټوله به څلور رُبعي سي].

اللغات: ﴿إِيجَاب﴾ له دې څخه مراد د مالک "إِحْدٰكُمَا حُرٌّ" ويل دي، ﴿أَوْجَبَ﴾ د إفعال ماضي ده: واجبول، سبب جوړېدل، ﴿إِسْتَفَادَ﴾ د استفعال ماضي ده: حاصلول، ﴿دَائِر﴾ د نصر اسم فاعل دی: ګرځېدونکی، ﴿يَتَنَصَّفُ﴾ د تفعّل مضارع ده: نيمايي کېدل، نصف، نصف کېدل (نيم، نيم کېدل)، ﴿شَاعَ﴾ د ضرب ماضي ده: غوړېدل.

تشريح: کله چي خالد د زيد او عُمر په حضور کي "أَحَدُكُمَا حُرٌّ" وويل، نو د دواړو نصف، نصف آزاد سو.

او کله چي يې د عمر او رشيد په حضور کي "أَحَدُكُمَا حُرٌّ" وويل، نو د رشيد نصف آزاد سو، او په دې وار د عُمر فقط يوه رُبع آزاده سوه، او په دواړه وارونو کي د هغه دري رُبعو ته آزادي حاصله سوه.

غيرأن الثابت إلخ: په دې عبارت سره د دې خبري دليل ذکر کوي چي په دويم وار کي ولي د عُمر صرف "يوه رُبع آزاده" سوه؟، د دليل حاصل دا دی چي په دويم وار کي که څه هم د عُمر نصف آزادېدل پکار وو لېکن دا

نصف د هغه پر آزاد سوي حصې هم واقع سو او پر هغه حصې هم واقع سو کوم چي تر اوسه غلام پاته ده، نو کومې چي پر آزاد سوي حصې واقع سو هغه لغو سو، او کوم چي پر غلامي حصې واقع سو هغه آزاد سو، نو ځکه د نصف، نصف (د نيمې حصې، نيمايي) ته آزادي حاصله سوه (چي هغه ته رُبع وايي)، نو په دې وجه په دويم وار کي فقط د عُمر رُبع (څلورمه حصه) آزاده سوه.

ولأنه لو أُريد إلخ: په دې عبارت سره د "ربع آزادېدلو" دويم دليل بيانوي، حاصل يې دا دی چي کله خالد دويم وار "أَحَدُكُمَا حُرٌّ" وويل، نو د هغه يو نصف خو اول آزاد سوی وو، نو په دويم وار کي به د هغه پاته نصف آزادېږي او دا نصف به د دوو غلامانو (عُمر او رشيد) په مينځ کي تقسيمېږي، لهذا د عُمر په حق کي فقط يوه رُبع پاته سوه.

وَأَمَّا الدَّاخِلُ فَمُحَمَّدٌ يَقُولُ: لَمَّا دَارَ الْإِيجَابُ الثَّانِي بَيْنَهُ وَبَيْنَ الثَّابِتِ او کوم چي داخلېدونکی غلام [رشيد] دی نو امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي کله دويم إيجاب د داخلېدونکي غلام او ثابت غلام [عُمر] په مينځ کي مشترک دی وَقَدْ أَصَابَ الثَّابِتَ مِنْهُ الرُّبُعُ او په دې دويم إيجاب سره ثابت غلام ته رُبع رسېدلې ده فَكَذٰلِكَ يُصِيبُ الدَّاخِلَ نو همداسي به داخلېدونکي غلام ته [هم] ربع رسيږي وَهُمَا يَقُولَانِ أَنَّهُ دَائِرٌ بَيْنَهُمَا او شيخينو رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي دويم إيجاب د ثابت او داخلېدونکي غلام په مينځ کي مشترک دی وَقَضِيَّتُهُ التَّنْصِيفُ او اشتراک د تنصيف [نصف، نصف کولو] تقاضا کونکي دی وَإِنَّمَا نَزَلَ إِلَى الرُّبُعِ فِي حَقِّ الثَّابِتِ لِاسْتِحْقَاقِهِ النِّصْفَ بِالْإِيجَابِ الْأَوَّلِ ليکن د ثابت غلام [عُمر] په حق کي په دې وجه [دغه نصف] ربع ته راښوه کيږي چي هغه په اول إيجاب سره د نصف [عتق] مستحق سوی دی كَمَا ذَكَرْنَا لکه [اوس] چي موږ ذکره وَلَا اسْتِحْقَاقَ لِلدَّاخِلِ مِنْ قَبْلُ او د داخلېدونکي غلام [رشيد] لپاره تر دې مخکي هيڅ استحقاق [د عتق] حاصل نه دی فَيَثْبُتُ فِيهِ النِّصْفُ نو ځکه به په هغه کي نصف [عتق] ثابتيږي.

تشريح: امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دويم وار کي د عُمر (کوم چي دواړه واره په کور کي ثابت او حاضر وو) فقط يوه رُبع آزاده سوه، نو کوم غلام چي په دويم وار کي کور ته داخلېږي يعني رشيد، نو هغه ته به هم يوه ربع آزادي حاصلېږي يعني د هغه به هم فقط يوه ربع آزادېږي.

وهما يقولان إلخ: په دې عبارت کي د شيخينو له طرفه امام محمد رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چي په "أَحَدُكُمَا حُرٌّ" سره يو پوره غلام آزادېږي، نو ځکه به رشيد ته هم د نصف حصې آزادي ورکول کېږي

او عُمر ته به هم ور کول کیږي، لیکن څرنګه چي د عُمر یو نصف مخکي آزاد سوی دی، نو ځکه به هغه ته فقط د رُبع آزادي حاصلیږي، لیکن د رشید نصف نه دی آزاد سوی، نو ځکه به د هغه نصف حصه آزادیږي. نه ربع.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

قَالَ: فَإِنْ كَانَ الْقَوْلُ مِنْهُ فِي الْمَرَضِ [امام محمد رَحِمَهُ الله] فرمايي: كه د مالک دا قول [أَحَدُكُمَا حُرٌّ] په مرضُ الموت کي وي قُسِمَ الثُّلُثُ عَلَى هٰذَا نو پر همدغه [پورتني] حساب به [د هغه د مال] دریمه حصه تقسیمیږي وَشَرْحُ ذٰلِكَ أَنْ يُجْمَعَ بَيْنَ سِهَامِ الْعِتْقِ وَهِيَ سَبْعَةٌ عَلَى قَوْلِهِمَا او د دې تشریح دا ده چي [د دریو غلامانو] د آزادېدلو حصې به سره جمع کیږي، چي هغه د شیخینو پر قول أووه حصې دي لِأَنَّا نَجْعَلُ كُلَّ رَقَبَةٍ عَلَى أَرْبَعَةٍ ځکه چي موږ هر غلام څلور حصې ګرځوو لِحَاجَتِنَا إِلَى ثَلَاثَةِ الْأَرْبَاعِ ځکه چي موږ و دريو رُبعو ته ضرورت دی فَنَقُولُ: يَعْتِقُ مِنَ الثَّابِتِ ثَلَاثَةُ أَسْهُمٍ وَمِنَ الْآخَرَيْنِ مِنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا سَهْمَانِ نو موږ وايو چي د ثابت غلام [عُمر] درې حصې به آزادیږي او له نورو دوو [زيد او رشيد] څخه به د هر يوه دوې، دوې حصې آزادیږي فَيَبْلُغُ سِهَامُ الْعِتْقِ سَبْعَةً نو د آزادېدلو حصې به [ټوله] أووه ته ورسیږي وَالْعِتْقُ فِي مَرَضِ الْمَوْتِ وَصِيَّةٌ او په مرضُ الموت کي عتق [او آزادول] وصيت دی وَمَحَلُّ نَفَاذِهَا الثُّلُثُ او د وصيت د نفاذ محل [د مال] دریمه حصه ده فَلَا بُدَّ أَنْ يُجْعَلَ سِهَامُ الْوَرَثَةِ ضِعْفَ ذٰلِكَ لهذا د وارثانو حصې د دې دوچنده ګرځول ضروري دي فَيُجْعَلَ كُلُّ رَقَبَةٍ عَلَى سَبْعَةٍ نو ځکه به هر غلام اووه، اووه حصې ګرځول کیږي وَجَمِيعُ الْمَالِ أَحَدٌ وَعِشْرُونَ او ټوله مال [يعني غلامان] به يو ويشت حصې ګرځول کیږي فَيَعْتِقُ مِنَ الثَّابِتِ ثَلَاثَةٌ وَيَسْعَى فِي أَرْبَعَةٍ نو د ثابت غلام [عُمر] به درې حصې آزادیږي او په څلورو حصو کي به هغه [د وارثانو لپاره] هڅه [او کسب] کوي وَيَعْتِقُ مِنَ الْبَاقِيَيْنِ مِنْ كُلِّ مِنْهُمَا سَهْمَانِ وَيَسْعَى فِي خَمْسَةٍ او له پاته دوو غلامانو [زيد او رشيد] څخه به د هر يوه دوې، دوې حصې آزادیږي او [له دوی څخه] به هر يو په پنځو حصو کي هڅه [او کسب] کوي فَإِذَا تَأَمَّلْتَ وَجَمَعْتَ اِسْتَقَامَ الثُّلُثُ وَالثُّلُثَانِ نو کله چي ته غور وکړې او [هغوی] سره جمع کړې نو ثلث او ثلثان به برابر پاته سي.

اللغات: ﴿سِهَام﴾ جمع د سَهْمٌ ده: حصه. ﴿يَسْعَىٰ﴾ د سمع مضارع ده: د يو چا په حاجت او حق پوره کولو کي هڅه او کوښښ کول، مراد ځني کسب او ګټه کول او خواري کاږل دي.

تشریح: په مخکنیو عباراتو کې چې د دریو غلامانو په هکله کوم د إعتاق مسئلې بیان سوې د هغوی تعلق د مالک (خالد) د صحت د حالت سره وو، لېکن که چیرې مالک د مرضُ الموت په حالت کې داسې معامله وکړي یعنې په "أَحَدُكُمَا حُرٌّ" سره إعتاق نافذ کړي، نو دا إعتاق به د هغه د مال له دریمې حصې څخه معتبر وي، ځکه چې د مرضُ الموت عتق وصیت وي، او وصیت د موصي (وصیت کونکي) د مال له دریمې حصې څخه نافذیږي، نو ځکه به د هغه إعتاق هم د مال له دریمې حصې څخه نافذیږي، همدا أصول دی.

أصول: د أصول حاصل دا دی چې که څوک په خپل مرضُ الموت کې د مال وصیت وکړي، نو د هغه وصیت به د مال په دریمه حصه (ثلث) کې نافذیږي او پاته دوې حصې (ثلثان) به په وارثانو کې تقسیمیږي.

صورت د مسئلې: دا دی چې د خالد درې غلامان وه: زید، عُمر، رشید. دوه غلامان په کور کې حاضر وه، نو خالد هغو ته په خپل مرضُ الموت کې وویل: "أَحَدُكُمَا حُرٌّ" (په تاسې دواړو کې یو آزاد دی)، بیا زید ووتی او دریم غلام رشید کور ته راغلی، بیا خالد ورته وویل "أَحَدُكُمَا حُرٌّ"، نو د خالد د صحت په حالت کې چې د دې غلامانو څومره حصې آزادیږي، له هغه څخه به دوه ثُلثه (دوې دریمې حصې) کمیږي، او یو ثُلث به آزادیږي.

تشریح یې دا ده چې مسئله به له (۴) څخه جوړیږي، ځکه کوم غلام چې په کور کې ثابت او باقي پاته سو یعنې عُمر، د هغه درې رُبع آزادیږي، نو ځکه به مسئله له څلورو څخه جوړیږي: د زید نصف آزادیږي، یعنې له څلورو حصو څخه یې دوې حصې آزادیږي، او د عُمر درې رُبع یعنې له څلورو حصو څخه یې درې حصې آزادیږي، او د رشید له څلورو حصو څخه دوې حصې آزادیږي، او ټوله حصې چې سره جمع کړل سي (۲ + ۲۳+ = ۷)، نو اووه (۷) حصې جوړیږي.

اوس تاسې په درې سره غلامانو کې اووه، اووه حصې جوړې کړئ! (۳ ضرب ۷ = ۲۱) نو ټوله یو ویشت (۲۱) حصې جوړې سوې، په دې یو ویشت حصو کې څوارلس (۱۴) حصې نه آزادیږي، فقط اووه (۷) حصې آزادیږي (یعنې څوارلس حصې د وارثانو دي، او دغه درې غلامان به هغو لپاره کسب او ګټه کوي، بیا هغه حصې آزادیږي)، او حساب داسې جوړیږي:

① ... د زید له اوو حصو څخه دوې حصې آزادیږي، او د پاته پنځو حصو د قیمت لپاره به هغه سعایه (کسب او ګټه کوي) او د خالد وارثانو ته به یې ورکوي.

② ... د عمر له اوو حصو څخه درې حصې آزادیږي، او د پاته څلورو حصو لپاره به هغه کسب او ګټه کوي او وارثانو ته به یې ورکوي.

③... د رشيد له اوو حصو څخه دوې حصې آزاديږي، او د پاته پنځو حصو لپاره به هغه کسب او ګټه وي او ورثانو ته به يې ورکوي.

قوله تأملت وجمعت الخ: د دې عبارت مطلب دا دی چې که تاسي يو ويشت (۲۱) حصې سره جمع کړی او لږ فکر وکړی، نو ښکاره به سي چې په دغه يو ويشت حصو کي يو ثلث (يعني أووه حصې) د دې غلامانو دی او پاته دوه ثلثان د وارثانو دي.

وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ: يُجْعَلُ كُلُّ رَقَبَةٍ عَلَى سِتَّةٍ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به هر غلام شپږ حصې ګرځول کيږي لِأَنَّهُ يُعْتِقُ مِنَ الدَّاخِلِ عِنْدَهُ سَهْمٌ ځکه چې د هغه په نيز د داخليدونکي غلام [رشيد] فقط يوه حصه آزاديږي فَنَقَصَتْ سِهَامُ الْعِتْقِ بِسَهْمٍ نو د عتق له [أوو] حصو څخه يوه حصه کمه سوه وَصَارَ جَمِيعُ الْمَالِ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ او ټوله مال اتلس حصې وګرځيدی وَبَاقِي التَّخْرِيجِ مَا مَرَّ او باقي تخريج هغه ده کوم چې [اوس] تېره سوه.

اللغات: ﴿نَقَصَتْ﴾ د نصر ماضي ده: کميدل.

تشريح: څرنګه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د دريم غلام (رشيد) يوه رُبع آزاديږي، نو ځکه د هغه په نيز مسئله له (۶) څخه جوړيږي، د زيد له څلورو حصو څخه دوې حصې آزاديږي، د عمر له څلورو حصو څخه درې حصې، او د رشيد له څلورو حصو څخه يوه حصه آزاديږي، چې ټوله سره جمع کړل سي نو شپږ (۶) حصې جوړيږي، او چې په هر غلام کي شپږ، شپږ حصې جوړې کړل سي، نو ټوله اتلس (۱۸) حصې جوړيږي، لهذا د امام محمد په نيز به حساب داسي وي:

①... د زيد له شپږو حصو څخه دوې حصې آزاديږي، او د پاته څلورو حصو لپاره به کسب او ګټه کوي او وارثانو ته به يې ورکوي.

②... د عمر له شپږو حصو څخه درې حصې آزاديږي، او د پاته دريو حصو لپاره به مال ګټي او وارثانو ته به يې ورکوي.

③... او د رشيد له شپږو حصو څخه يوه حصه آزاديږي، او د پاته پنځو حصو لپاره به مال ګټي او وارثانو ته به يې ورکوي.

نو په دې توګه د ټولو غلامانو شپږ حصې آزادي سوې، او د دولسو حصو لپاره به کسب او مزدوري کوي او وارثانو ته به يې ورکوي، او ټوله اتلس حصې سوې. د حساب ماشين را واخلئ! په خپله هم حساب ورته وکړئ!.

په پورتني صورت کي د طلاق حکم

وَلَوْ كَانَ هٰذَا فِي الطَّلَاقِ وَهُنَّ غَيْرُ مَدْخُولَاتٍ او که دا قول د طلاق په باره کي وي او [دري سره] ښځي غیر مدخول بها وي وَمَاتَ الزَّوْجُ قَبْلَ الْبَيَانِ او له وضاحت کولو څخه مخکي خاوند مړ سي سَقَطَ مِنْ مَهْرِ الْخَارِجَةِ رُبُعُهُ نو د وتونکي ښځي له مهر څخه به رُبع ساقطیږي [او هغې ته به رُبع ورکول کیږي] وَمِنْ مَهْرِ الثَّابِتَةِ ثَلَاثَةُ أَثْمَانِهِ او د ثابتي ښځي له مهر څخه به دري اتمي حصي ساقطیږي [یعني هغې ته به له اتو حصو څخه دري حصې ور کول کیږي] وَمِنْ مَهْرِ الدَّاخِلَةِ ثُمُنُهُ او د داخلېدونکي ښځي له مهر څخه به اتمه حصه ساقطیږي قِيلَ هٰذَا قَوْلُ مُحَمَّدٍ خَاصَّةً ویل سوي دي: چي دا فقط د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی وَعِنْدَهُمَا يَسْقُطُ رُبُعُهُ او د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز به د داخلېدونکي ښځي د مهر رُبع ساقطیږي وَقِيلَ: هُوَ قَوْلُهُمَا أَيْضًا او ویل سوي دي: چي دا د شیخینو رَحِمَهُمَا الله قول هم دی وَقَدْ ذَكَرْنَا الْفَرْقَ وَتَمَامَ تَفْرِيعَاتِهَا فِي الزِّيَادَاتِ او موږ [د طلاق او عتق] فرق او د دې مسئلې ټوله جزئیات په "زیادات" کي ذکر کړي دي.

اللغات: ﴿أَثْمَان﴾ جمع د "ثُمُنٌ" او "ثُمْنٌ" ده: اتمه حصه.

تشریح: د عبارت تر حل مخکي دا اُصول په یاد لرئ! چي "که غیرِ مدخول بها ښځي ته طلاق ورکول سي نو هغې ته به نیم مهر ورکول کیږي".

صورت د مسئلې: دا دی چي فاطمه، ساجده او شاکره دري سره د یوه سړي ښځي دي او دري سره غیرِ مدخول بها دي، اوس فاطمه او ساجده په کور کي حاضري دي، او خاوند ورته ووېل: إِحْدَاكُمَا طَالِقٌ (په تاسي دواړو کي یوه پر ما طلاقه ده)، بیا فاطمه له کور څخه ووتله او شاکره راغله. نو خاوند بیا دې دواړو ته ووېل: په تاسي دواړو کي یوه پر ما طلاقه ده، تر دې وروسته خاوند له بیان او تعیین څخه بغیر مړ سو.

نو په دې صورت کي مسئله له (۶) څخه جوړیږي، په اول وار "إِحْدَاكُمَا طَالِقٌ" سره پر فاطمې او ساجدې دواړو یو طلاق واقع سو او نیم مهر به په دواړو کي تقسیمیږي او دواړو ته به د هغه رُبع. رُبع ورکول کیږي (مثلاً که مهر ټوله اته (۸) درهمه وو، نو دواړو ته به دوه، دوه درهمه ورکول کیږي).

په دویم وار "إِحْدَاكُمَا طَالِقٌ" سره پر ساجدې او شاکرې دواړو یو طلاق واقع سو. او دلته به د امام محمد رَحِمَهُ الله پر قول هم د مهر د رُبع نصف، نصف دواړو ته ورکول کیږي یعني له اتو حصو څخه

په يوه، يوه حصه دوارو ته ور کول کيږي (مثلاً که مهر توله اته درهمه وو، نو يو، يو درهم به ورکول کيږي).

او ساجدې ته په اول وار کي له اتو حصو څخه دوې حصې ورکول سوې دي او په دويم وار کي به مغې ته له اتو حصو څخه يوه حصه ورکول کيږي. نو په دې توګه ساجدې ته له اتو حصو څخه درې حصې ورکول سوې.

حاصل دا سو چي ①... فاطمې ته به له اتو حصو څخه دوې حصې ورکول کيږي. ②... ساجدې ته به له اتو حصو څخه درې حصې ورکول کيږي. ③... او شاکرې ته به له اتو حصو څخه يوه حصه ورکول کيږي.

لنډه دا چي په دې صورت کي به دغه ښځو ته د مهر له اته حصو څخه شپږ حصې مهر ورکول کيږي او پاته دوې حصې به په وارثانو کي تقسيميږي. حساب ته په غور او توجه سره وګورئ!.

په دوو غلامانو کي د غير معين غلام له آزادولو څخه وروسته په يوه غلام کي تصرف کول

وَمَنْ قَالَ لِعَبْدَيْهِ: أَحَدُكُمَا حُرٌّ او کوم سړی [مالک] چي خپلو دوو غلامانو ته ووايي: په تاسي دواړو کي يو آزاد دی فَبَاعَ أَحَدَهُمَا أَوْ مَاتَ أَوْ قَالَ لَهُ: أَنْتَ حُرٌّ بَعْدَ مَوْتِي او بيا [مالک] په دوی کي يو غلام خرڅ کړي يا يو غلام مړ سي يا يوه غلام ته [مالک] ووايي: ته زما له مرګ څخه آزاد يې [يعني يا له يوه غلام څخه مدبر جوړ کړي] عَتَقَ الْآخَرُ نو دويم غلام آزاديږي لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ مَحَلًّا لِلْعِتْقِ أَصْلًا بِالْمَوْتِ ځکه چي مړ سوی غلام د مرګ په وجه بالکل د عتق [آزادۍ] محل پاته نه سو وَلِلْعِتْقِ مِنْ جِهَتِهِ بِالْبَيْعِ يا د مالک له طرفه په خرڅولو سره [هغه د عتق محل پاته نه سو] وَلِلْعِتْقِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ بِالتَّدْبِيرِ يا په مدبر جوړولو سره هغه من کل وجه اد عتق محل پاته نه سو] فَتَعَيَّنَ لَهُ الْآخَرُ نو ځکه هغه بل [دويم] غلام اد عتق لپاره] متعين سو وَلِأَنَّهُ بِالْبَيْعِ قَصَدَ الْوُصُولَ إِلَى الثَّمَنِ او ځکه چي مالک په بيع سره د قيمت حاصلولو [اګټلو] اراده کړې ده وَبِالتَّدْبِيرِ إِبْقَاءَ الِانْتِفَاعِ إِلَى مَوْتِهِ او په مدبر جوړولو سره يې تر خپل مرګه پوري اله مدبر غلام څخه] د نفع اخيستلو اراده کړې ده وَالْمَقْصُودَانِ يُنَافِيَانِ الْعِتْقَ الْمُلْتَزَمَ او دا دواړه مقصدونه د لازم کړی سوي عتق منافي دي فَتَعَيَّنَ لَهُ الْآخَرُ دَلَالَةً نو ځکه دويم غلام دلالتاً د عتق لپاره متعين سو.

اللغات: ﴿تَدْبِیْر﴾ د تفعیل مصدر دی: مدبر جوړول، تدبیر دې ته وايي چې مالک په خپل مرګ پوري د غلام آزادي معلق کړي (یعني ورته ووايي چې "زما تر مرګ وروسته ته آزاد یې")، ﴿ثَمَن﴾ قیمت، بیه. ﴿مُلْتَزَم﴾ د افتعال اسم مفعول دی: لازم سوی شی.

تشریح: د دغه عبارت مسئله پر دې اُصول مبني ده چې که مالک د "أَحَدُکُمَا حُرٌّ" تر ویلو وروسته یو داسې حرکت وکړی چې له هغه څخه دا معلومه سي چې مالک دغه غلام آزادول نه غواړي، نو دویم غلام به د آزادۍ (عتق) لپاره متعین کیږي، مثلاً مالک یو غلام خرڅ کړي، نو دویم غلام به د آزادۍ لپاره متعین کیږي.

دلته امام قدوري رَحِمَهُ الله درې مثالونه ذکر کړي دي: ① ... په دوو غلامانو کي یو غلام خرڅول. ② ... یو غلام په یو حادثه او واقعه کي مړ کېدل. ③ ... یو غلام مدبر کول. په دې دریو سره صورتونو کي به دویم غلام د آزادۍ لپاره متعین کیږي.

صورت د مسئلې: دا دی که دیوه سړي دوه غلامان وه، او هغه دواړو ته وویل: "أَحَدُکُمَا حُرٌّ" (په تاسي کي یو غلام آزاد دی)، او بیا مالک ① یو غلام خرڅ کړی، نو دویم (باقي مانده) غلام به د آزادۍ لپاره متعین کیږي. ② یا یو غلام د آسماني آفت په وجه مړ سو، نو دویم غلام کوم چې ژوندی وي هغه به د آزادۍ لپاره متعین کیږي، ځکه چې مړ سوی غلام د آزادېدلو (عتق) محل پاته نه سو، نو ځکه به ژوندی غلام آزادیږي. ③ یا مالک یو غلام مدبر جوړ کړی، نو دا عمل پر دې خبره دلالت کوي چې مالک دویم (باقي مانده) غلام آزادول غواړي، ځکه چې په مدبر جوړېدلو سره دغه مدبر غلام من کل وجه آزاد نه سو، بلکې فقط د آزادۍ شائبه پکښې راغله، نو ځکه به دویم غلام د آزادۍ لپاره متعین کیږي او هغه به آزادیږي.

دلیل: ځکه چې دلته د خرڅولو، مدبر جوړولو، او د مرګ په وجه یو غلام د آزادولو قابل پاته نه سو، نو کوم غلام چې باقي پاته دی هغه به د آزادۍ لپاره متعین کیږي.

ولأنه بالبیع قصد إلخ: دویم دلیل دا دی چې کوم غلام چې مالک خرڅ کړی او ګټه یې پر وکړه، نو هغه یې د لاس څخه ووتی، نو ځکه به اوس باقي مانده غلام د آزادۍ لپاره متعین کیږي. همدارنګه کوم غلام چې مالک مدبر جوړ کړی، نو هغه یې تر خپل مرګه پوري د فایدې اخیستلو لپاره متعین کړی (چې زما تر مرګه پوري به زه له هغه څخه کار او خدمت اخلم)، نو ځکه به په دې صورت کي هم فقط باقي مانده غلام د آزادۍ لپاره متعین کیږي. (العِتْقُ المُلْتَزِمُ: د دې مطلب دا دی چې کله مالک "أَحَدُکُمَا حُرٌّ" وویل، نو ګواکي مالک دیوه پوره غلام د آزادولو وعده وکړه (او پر هغه دیوه پوره غلام آزادول لازم سو)، او کله

چي يې يو غلام مدبر جوړ کړي، نو په هغه کي فقط د آزادۍ شائبه راغله او هغه ټوله آزاد نه سو. نو ځکه به او س فقط دويم (باقي مانده) غلام د آزادۍ لپاره متعين کيږي).

وَكَذَا إِذَا اسْتَوْلَدَ إِحْدَاهُمَا او همدارنګه کله چي مالک اله دوو مينځو څخه ايوه مينځه اُم ولد جوړه کړي لِلْمَعْنَيَيْنِ د اهغه ا دوو معناوو په وجه اکوم چي مخکي ذکر سوې ا.

اللغات: ﴿لِلْمَعْنَيَيْنِ﴾ د دوو معناوو په وجه. دلته دوې معناوي دا دي: ① چي په دې اُم ولد کي فقط د آزادۍ شائبه راغلې ده. لهذا هغه ټوله آزاده نه سوه. نو ځکه به دويمه مينځه آزاديږي. ② او دويمه معنیٰ دا ده چي مالک دغه اُم ولد د نفع او فايدې اخيستلو لپاره متعين کړه. نو ځکه به دويمه مينځه آزاديږي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که ديوه سړي دوې مينځي وي. او هغه دواړو ته "أَحَدُكُمَا حُرٌّ" ووايي او بيا په دواړو کي يوه اُم ولد جوړه کړي. نو دويمه (باقي مانده) مينځه آزاديږي.

دليل: ځکه چي مالک په اُم ولد جوړولو سره دګه اُم ولد مينځه د خپل ځان لپاره د فايدې اخيستلو په توګه متعين کړه (چي زه به ستا څخه خدمت او نفع اخلم). او بل دا چي په هغې کي فقط د آزادۍ شائبه راغله. نو ځکه به دويمه مينځه کوم چي په پوره توګه مينځه ده هغه به د آزادۍ لپاره متعين کيږي. (په لِلْمَعْنَيَيْنِ سره صاحب د کتاب همدغه دوو وجهو ته اشاره کړې ده).

وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْبَيْعِ الصَّحِيحِ وَالْفَاسِدِ مَعَ الْقَبْضِ وَبِدُونِهِ وَالْمُطْلَقِ وَبِشَرْطِ الْخِيَارِ لِأَحَدِ الْمُتَعَاقِدَيْنِ او هيڅ فرق نسته د بيعِ صحيح او بيعِ فاسد مع القبض يا بدون القبض په مينځ کي او اهمدارنګه هيڅ فرق نسته ا په بيعِ مطلق او د أحدُ المتعاقدين لپاره د بيع بشرط الخيار په مينځ کي لِإِطْلَاقِ جَوَابِ الْكِتَابِ ځکه چي د متن حکم مطلق دی وَالْمَعْنَى مَا قُلْنَا او مطلب او دليل ا هغه دی کوم چي موږ ا مخکي ا ذکر کړی.

تشريح: دا عبارت پر دې اُصول مبني دی چي که په بيع کي مالک يو داسي کار وکړي چي له هغه څخه د غلام خرڅول معلوم سي (يعني دا ځني معلومه سي چي مالک غلام خرڅول غواړي). نو په دې صورت کي به دويم غلام د آزادۍ لپاره منتخب کيږي.

د عبارت حاصل دی چي که په مخکنۍ مسئله کي مالک ديوه غلام صحيح بيع وکړي يا يې فاسده بيع وکړي (يعني په صحيح يا فاسده بيع سره يې خرڅ کړي). نو په دې دواړو صورتونو کي دويم (باقي مانده) غلام د آزادۍ لپاره متعين کيږي يعني فقط دويم غلام آزاديږي. همدارنګه که

مالک د خپل ځان یا مشتري لپاره په خیارِ شرط سره بیع وکړي، یا مطلق بیع وکړي، نو هم په دې صورت کې دویم غلام د آزادۍ لپاره متعین کیږي.

دلیل: له دې څلور کارونو څخه دا ثابتیږي چې مالک یو غلام خرڅول او خپل ځان مالداره کول غواړي، نو ځکه به دویم غلام د آزادۍ لپاره منتخب کیږي.

وَالْعَرْضُ عَلَى الْبَيْعِ مُلْحَقٌ بِهِ فِي الْمَحْفُوظِ عَنْ أَبِي يُوسُفَ او [یو غلام] پر بیع پېشول هم د بیع سره لاحق دي له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه په محفوظ [اوړېدل سوي] روایت کې وَالْهِبَةُ وَالتَّسْلِيمُ وَالصَّدَقَةُ وَالتَّسْلِيمُ بِمَنْزِلَةِ الْبَيْعِ او هبه مع التسلیم او صدقه مع التسلیم د بیع په درجه کې دہ لِأَنَّهُ تَمْلِيكٌ ځکه چې [هبه او صدقه] تملیک دی [لکه څرنګه چې بیع تملیک دی].

اللغات: ﴿مَحْفُوظ﴾ د ضرب اسمِ مفعول دی: خوندي کړی سوی، محفوظ کړی سوی (کوم روایت چې له یو چا څخه فقط اوړېدل سوی وی، لیکل سوي نه وي، هغه ته "محفوظ" وايي). ﴿تَمْلِيكٌ﴾ د تفعیل مصدر دی: یو څوک د یو شي مالک جوړول (مالک کول).

تشریح: په دې عبارت کې درې داسې کارونه دي چې له هغوی څخه دا معلومیږي چې مالک غلام آزادول نه غواړي، هغه دا دي ① غلام د بیع لپاره وړاندې کول، ② غلام بل چا ته هبه کول او ورسپارل، ③ غلام صدقه کول او ورسپارل. دا درې سره عملونه د دې خبرې دلیل دی چې مالک دغه غلام آزادول نه غواړي، نو ځکه به په دې صورتونو کې دویم پاته غلام د آزادۍ لپاره متعین کیږي.

یادونه: هبه او صدقه هغه وخت پوره کیږي کله چې موهوب او صدقه کړی سوی شی موهوب لهٗ او مسکین ته وسپارل سي، له ورسپارلو څخه مخکې هبه او صدقه فقط د وعدې حیثیت لري، نو ځکه مو د "ورسپارلو" شرط ولګوی، او د غلام تر ور وسپارلو مخکې به دویم غلام د آزادۍ لپاره نه متعین کیږي.

په پورتني صورت کې د طلاق مسئله

وَكَذَلِكَ لَوْ قَالَ لِامْرَأَتَيْهِ: إِحْدَاكُمَا طَالِقٌ او همدارنګه که [یو خاوند] خپلو دوو ښځو ته ووايي: په تاسي دواړو کې یوه طلاقه ده ثُمَّ مَاتَتْ إِحْدَاهُمَا [او] بیا یوه ښځه مړه سي [نو دویمه ښځه د طلاق لپاره متعین کیږي] لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی وَكَذَلِكَ لَوْ وَطِئَ إِحْدَاهُمَا او همدارنګه که هغه په دواړو کې د یوې ښځې سره وطي وکړي [نو دویمه غیرِ موطوئه ښځه د طلاق لپاره متعین کیږي] لِمَا نُبَيِّنُ د هغه دلیل په وجه چې موږ به یې بیان کړو.

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱)... يوه مسئله دا ده که د يو سړي دوې بنځي وي او هغه دوارو ته ووايي "إِحْدَاكُمَا طَالِقٌ" (په تاسي کي يوه پر ما طلاقه ده) او بيا يوه بنځه مړه سي، نو کومه بنځه چي ژوندي پاته سي، پر هغي طلاق واقع کيږي: ځکه چي اوله بنځه د مرګ په وجه د طلاق محل پاته نه سوه، د همدغه دليل وطرف ته صاحب د کتاب په لِمَا قُلْنَا سره اشاره کړې ده، (۲)... دويمه مسئله دا ده که هغه سړی د يوې بنځي سره وطي وکړي، نو پر دويمي بنځي طلاق واقع کيږي، ځکه د کومي بنځي سره چي خاوند وطي وکړي نو خاوند هغه د خپل فايدې لپاره ساتل غواړي (يعني د وطي کولو او بچي پيدا کولو لپاره يې ساتل غواړي)، نو ځکه به دويمه بنځه د طلاق لپاره منتخب کيږي. د دې مسئلې دليل به د لاندي عبارت په ضمن کي هم بيان سي.

وَلَوْقَالَ لِأَمَتَيْهِ: إِحْدَاكُمَا حُرَّةٌ او که [يو مالک] خپلو دوو مينځو ته ووايي: په تاسي دوارو کي يوه آزاده ده ثُمَّ جَامَعَ إِحْدَاهُمَا [او] بيا هغه د يوې مينځي سره جماع وکړي لَمْ تَعْتِقِ الْأُخْرٰى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دويمه [غير موطوئه] مينځه نه آزاديږي وَقَالَا*: يَعْتِقُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي آزاديږي لِأَنَّ الْوَطْءَ لَا يَحِلُّ إِلَّا فِي الْمِلْكِ ځکه چي وطي فقط په [خپل] ملکيت کي حلال دي وَإِحْدَاهُمَا حُرَّةٌ او [دلته خو] يوه آزاده ده فَكَانَ بِالْوَطْءِ مُسْتَبْقِيًا الْمِلْكَ فِي الْمَوْطُوْءَةِ نو [مالک] به په وطي کولو سره په موطوئه مينځه کي د ملکيت باقي ساتونکی وي فَتَعَيَّنَتْ الْأُخْرٰى نو ځکه به دويمه مينځه [د عتق لپاره] متعين کيږي لِزَوَالِهِ بِالْعِتْقِ ځکه چي په عتق سره ملکيت ختم سو كَمَا فِي الطَّلَاقِ لکه څرنګه چي په طلاق کي [د يوې بنځي سره وطي وسي نو پر دويمي غير موطوئه بنځي طلاق واقع کيږي] وَلَهُ: أَنَّ الْمِلْكَ قَائِمٌ فِي الْمَوْطُوْءَةِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي په موطوئه مينځه کي ملکيت موجود دی لِأَنَّ الْإِيقَاعَ فِي الْمُنَكَّرَةِ ځکه چي [د آزادی] واقع کېدل په غير مُعيّنه مينځه کي دي وَهِيَ مُعَيَّنَةٌ او موطوئه مينځه مُعيّنه [معلومه] ده فَكَانَ وَطْؤُهَا حَلَالًا نو د هغي سره به وطي کول حلال وي فَلَا يُجْعَلُ بَيَانًا نو ځکه به هغه بيان [وضاحت] نه سي شمارل کېدای وَلِهٰذَا حَلَّ وَطْؤُهُمَا عَلٰى مَذْهَبِهِ او له همدې وجهي د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر مذهب د دې دوارو [مينځو سره] وطي کول حلال دي إِلَّا أَنَّهُ لَا يُفْتٰى بِهِ خو پر دې به [احتياطاً] فتوىٰ نه ورکول کيږي ثُمَّ يُقَالُ: الْعِتْقُ

* القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۰۳]

غَيْرُنَازِلٍ قَبْلَ الْبَيَانِ بيا به وريل كيږي اجواب به وركول كيږي ا: چې د مالک تر بيان اوضاحت ا مخکې به عتق واقع كېدونكى نه وي لِتَعَلُّقِهِ بِهِ ځکه چې عتق د بيان سره متعلق دى أَوْ يُقَالُ: نَازِلٌ فِي الْمُنَكَّرَةِ يا به وريل كيږي: چې په غير مُعينه مينځې کې به عتق واقع کېدونکى وي فَيَظْهَرُ فِي حَقِّ حُكْمِ تَقَبُّلُهُ او د داسي حكم په حق كي به ښكاره كيږي چې منكره اغير مُعينه ا مينځه هغه قبلوي وَالْوَطْءُ يُصَادِفُ الْمُعَيَّنَةَ حالانكي ادلته ا د يوې مُعينه مينځې سره وطي سوي دي بِخِلَافِ الطَّلَاقِ په خلاف د طلاق لِأَنَّ الْمَقْصُودَ الْأَصْلِيَّ مِنَ النِّكَاحِ الْوَلَدُ ځکه چې له نكاح څخه اصلي مقصود بچى دى وَقَصْدُ الْوَلَدِ بِالْوَطْءِ يَدُلُّ عَلَى اسْتِبْقَاءِ الْمِلْكِ فِي الْمَوْطُوءَةِ صِيَانَةً لِلْوَلَدِ او په وطي سره د بچي اراده كول دلالت كوي پر دې چې خاوند په موطوئه ښځه کي د بچي خوندي كولو [پيدا كولو] لپاره [خپل] ملكيت باقي ساتل غواړي أَمَّا الْأَمَةُ فَالْمَقْصُودُ مِنْ وَطْئِهَا قَضَاءُ الشَّهْوَةِ دُونَ الْوَلَدِ کوم چې مينځه ده نو د هغې له وطي څخه مقصود شهوت پوره كول دي. نه بچى [پيدا كول] فَلَا يَدُلُّ عَلَى الِاسْتِبْقَاءِ نو ځکه به [د هغې سره وطي كول] د ملكيت پر باقي ساتلو دلالت نه كوي.

اللغات: ﴿يُصَادِفُ﴾ د مفاعلې مضارع ده: واقع كېدل. پيدا كول. مخامخ كېدل. ﴿صِيَانَةٌ﴾ محفوظ كول. خوندي كول. ساتل. صِيَانَةً لِلْوَلَدِ: د بچي لپاره خوندي كول. ﴿إِسْتِبْقَاء﴾ د استفعال د باب مصدر دى: په خپل ملكيت كي باقي ساتل. پاته كول (باقي پاته كول).

تشريح: د عبارت حاصل دا دى كه يو مالک خپلو دوو مينځو ته ووايي: إِحْدَاكُمَا حُرَّةٌ (په تاسي كي يوه مينځه آزاده ده) او بيا مالک د يوې مينځي سره وطي وكړي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دويمه مينځه نه آزاديږي. او د صاحبينو په نېز آزاديږي.

دليل: د صاحبينو د دليل حاصل دا دى چې د كومي مينځي سره چې مالک وطي وكړي مالک هغه مينځه د كار او نفع د اخيستلو لپاره ساتل غواړي (يعني د دې لپاره يې ساتل او راګرځول غواړي چې زه به د هغې سره وطي كوم او له هغې څخه به مي بچيان پيدا سي)، نو ځکه به په دې صورت كي دويمه مينځه د آزادي لپاره متعين كيږي. لكه څرنګه چې د طلاق وركولو په صورت كي خاوند د يوې ښځي سره وطي وكړي نو پر دويمي ښځي طلاق واقع كيږي. همداسي به دلته هم دويمه ښځه آزاديږي.

وله أن الملك قائم إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل څه پېچلى دى. حاصل يې دا دى چې مالک چې د كومي مينځي سره وطي وكړې هغه متعينه ده. او كومه يوه چې آزادېدونكې ده هغه غير متعين ده. او

متعين شی د غیرِ متعین شي لپاره بیان او وضاحت نه سي جوړېدای، نو په دې وجه د یوې مینځې سره وطي کول د دویمې مینځې د آزادېدلو دلیل نه دی تر څو چې مالک هغه بیان نه کړي او په واضحه توګه یوه مینځه متعینه نه کړي. او کله چې دویمه مینځه نه آزادیږي. نو د دواړو سره به د مالک وطي جائز وي (یعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز یوه مینځه هم نه آزادیږي. نو ځکه به د دواړو سره وطي جائز وي). لېکن احتیاطاً به د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر قول فتویٰ نه ورکول کیږي. کنې پر امام صاحب به د احتیاط پرېښوولو تهمت ولګول سي، حالانکې امام صاحب رَحِمَهُ الله انتهایي پرهېزګار او احتیاط کونکی وو.

ثم یقال إلخ: په دې سره د یو مقدر سوال جواب ورکوي. سوال دا دی چې کله د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز په "إحدَاكُمَا حُرَّة" سره یوه مینځه نه آزادیږي نو ګواکې د مالک دغه کلام لغو سو. او که چیرې آزادي واقع کیږي نو بیا د دواړو مینځو سره وطي ولې جائز دي؟ آخر د دې سوال جواب څه دی؟. صاحب د کتاب یې په جواب کې فرمایي چې د سول د اول جزء جواب دای چې دلته د مالک إعتاق (آزادول) مبهم دي. کوم چې پر بیان او وضاحت موقوف دي، لهذا تر څو چې د مالک له طرفه بیان صادر نه سي تر هغه وخت به پر یوې مینځې هم آزادي نه واقع کیږي، او د سوال د دویم جزء (چې د دواړو مینځو سره وطي ولې جائز دي؟) جواب دا دی چې دلته آزادي په غیر مُعیّنه (نامعلومه) مینځه کې واقع سوې ده. او وطي فقط په مُعیّنه (معلومه) مینځه کې واقع کیږي. ځکه چې وطي یو حسي أمر دی، او له غیرِ مُعیّنې مینځې سره وطي کول ناممکن دي. نو ځکه به د مُعیّنې مینځې سره وطي کول د غیرِ مُعیّنې مینځې د آزادۍ لپاره بیان نه وي.

بخلاف الطلاق إلخ: په دې عبارت کې د مینځې سره د وطي کولو او د منکوحه ښځې سره د وطي کولو په مینځ کې فرق بیانوي. حاصل یې دا دی چې د ښځې سره نکاح د بچي پیدا کولو لپاره کیږي. او وطي د بچي پیدا کولو وسیله ده. لهذا په منکوحه ښځه کې فقط له وطي کولو څخه دا خبره معلومیږي چې خاوند دغه ښځه د ځان لپاره ساتل غواړي. او په مینځه کې اصل مقصد بچی پیدا کول نه وي بلکې خواهش او شهوت پوره کول وي. نو په دې وجه د مینځې سره وطي کول د دې خبرې دلیل نه دی چې مالک هغه د ځان لپاره ساتل سي. نو ځکه موږ (امام صاحب رَحِمَهُ الله) وایو چې که مالک د یوې مینځې سره وطي وکړي. نو دویمه مینځه به د آزادۍ لپاره نه متعین کیږي.

د مُعلق إعتاق يو صورت

وَمَنْ قَالَ لِأَمَتِهِ: إِنْ كَانَ أَوَّلُ وَلَدٍ تَلِدِينَهُ غُلَامًا فَأَنْتِ حُرَّةٌ او څوک چي خپلي مينځي ته ووايي: كه چيري اول ته هلک بچی وزیږوې نو ته آزاده يې ايعني مالک د خپلي مينځي آزادي د هلک پر پيدا کېدلو مُعلقه کړي| فَوَلَدَتْ غُلَامًا وَجَارِيَةً او [بيا] مينځه هلک او نجلۍ دواړه وزيږوي وَلَا يُدْرَى أَيُّهُمَا وُلِدَ أَوَّلًا او دا معلومه نه وي چي په دوی کي کوم يو اول پيدا سو عَتَقَ نِصْفُ الْأُمِّ وَنِصْفُ الْجَارِيَةِ نو د مور او نجلۍ نصف، نصف آزاديږي وَالْغُلَامُ عَبْدٌ او هلک به غلام وي لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا تَعْتِقُ فِي حَالٍ ځکه چي له [مور او نجلۍ] دواړو څخه هر يو په يوه حالت کي آزاديږي وَهُوَ مَا إِذَا وَلَدَتِ الْغُلَامَ أَوَّلَ مَرَّةٍ او هغه حالت دا دی چي کله دا مينځه [مور] هلک وزيږوي الْأُمُّ بِالشَّرْطِ مور [د مالک] د شرط په وجه [آزاديږي] وَالْجَارِيَةُ لِكَوْنِهَا تَبَعًا لَهَا او مينځه ځکه [آزاديږي] چي هغه د مور تابع ده إِذِ الْأُمُّ حُرَّةٌ حِينَ وَلَدَتْهَا ځکه چي د نجلۍ زيږولو په وخت کي مور آزاده ده وَتَرِقُّ فِي حَالٍ او په يوه حالت کي مور رقيقه [مينځه] پاتيږي وَهُوَ مَا إِذَا وَلَدَتِ الْجَارِيَةَ أَوَّلًا او هغه حالت دا دی چي کله مور اول نجلۍ وزيږوي لِعَدَمِ الشَّرْطِ ځکه چي [په دې حالت کي] شرط معدوم دی فَيَعْتِقُ نِصْفُ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا نو ځکه به له [مور او نجلۍ] دواړو څخه د هري يوې نصف آزاديږي وَتَسْعَى فِي النِّصْفِ او د [پاته] نصف لپاره به هيڅه [او کسب] کوي أَمَّا الْغُلَامُ يَرِقُّ فِي الْحَالَيْنِ ليکن هلاک په دواړو حالتونو کي رقيق پاتيږي فَلِهَذَا يَكُونُ عَبْدًا نو په دې وجه به هغه [په هر حالت کي] غلام وي.

اللغات: ﴿تَرِقُّ﴾ د ضرب مضارع ده: رقيق کېدل، تر غلامۍ لاندي کېدل (غلام يا مينځه جوړېدل).

تشريح: دا مسئله پر دې اُصول مبني ده چي د مور د آزادېدلو په وخت کي چي کوم بچی پيدا سي هغه هم د مور په متابعت کي آزاديږي، او که مور نيمه آزاده سي، نو هغه بچی هم نيم آزاديږي.

صورت د مسئلې: دا دی که مالک خپلي مينځي ته ووايي: که چيري اول ستا څخه هلک پيدا سي، نو ته آزاده يې، او له مينځي څخه هلک او نجلۍ دواړه پيدا سي (يعني مينځه غبرګه لنګه سي)، او دا معلومه نه سي چي اول هلک پيدا سو، که نجلۍ، نو په صورت کي نيمه مور آزاديږي او د هغې په متابعت کي نجلۍ هم نيمه آزاديږي، او د پاته نيمي حصې لپاره به مور هم کسب او ګټه کوي او نجلۍ به يې هم کوي، يعني مور او لور به دواړه په ګډه د دې نيمي حصې قيمت اداء کوي.

او هلک به په هر صورت کي غلام وي، ځکه دغه هلک د مور تر آزادېدلو مخکي پيدا سوی دی (ځکه چي د هلک تر پيدايښت وروسته مور آزاده سوې ده)، نو ځکه به هلک په هر حالت کي غلام وي.

د مُعلق إعتاق يو بل صورت

وَإِنِ ادَّعَتِ الْأُمُّ أَنَّ الْغُلَامَ هُوَ الْمَوْلُودُ أَوَّلًا وَأَنْكَرَ الْمَوْلَى او كه مور دا دعوىٰ وكړي چي هلك اول پيدا سوى دى او مالك انكار وكړي وَالْجَارِيَةُ صَغِيرَةٌ او نجلۍ [هم] كوچنۍ [نابالغه] وي فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ مَعَ الْيَمِينِ نو د قسم سره به د مالك قول معتبر وي لِإِنْكَارِهِ شَرْطَ الْعِتْقِ ځكه چي هغه دآزادۍ د شرط مُنكر دى فَإِذَا حَلَفَ نو كله چي مالك قسم وكړي لَمْ يَعْتِقْ وَاحِدٌ مِنْهُمْ نو له دوى څخه به يو [هم] نه آزاديږي وَإِنْ نَكَلَ عَتَقَتِ الْأُمُّ وَالْجَارِيَةُ او كه مالك له قسم څخه انكار وكړي نو مور او نجلۍ به آزاديږي لِأَنَّ دَعْوَى الْأُمِّ حُرِّيَّةَ الصَّغِيرَةِ مُعْتَبَرَةٌ ځكه چي د كوچنۍ نجلۍ دآزادۍ په هكله د مور دعوىٰ معتبره ده لِكَوْنِهَا نَفْعًا مَحْضًا ځكه چي دا خالص نفع ده فَاعْتُبِرَ النُّكُولُ فِي حَقِّ حُرِّيَّتِهِمَا نو ځكه به د دوى دواړو د آزادوالي په حق كي [د مالك] د انكار اعتبار كيږي فَعَتَقَتَا او دواړي به آزاديږي وَلَوْ كَانَتِ الْجَارِيَةُ كَبِيرَةً وَلَمْ تَدَّعِ شَيْئًا او كه نجلۍ بالغه وي او هغه د هيڅ شي دعوىٰ نه وكړي وَالْمَسْأَلَةُ بِحَالِهَا او مسئله پر خپل حال وي [يعني د مخكي په شير وي] عَتَقَتِ الْأُمُّ بِنُكُولِ الْمَوْلَى خَاصَّةً دُونَ الْجَارِيَةِ نو د مالك په انكار سره فقط مور آزاديږي، نه نجلۍ لِأَنَّ دَعْوَى الْأُمِّ غَيْرُ مُعْتَبَرَةٍ فِي حَقِّ الْجَارِيَةِ الْكَبِيرَةِ ځكه چي د غټي [بالغي] نجلۍ په حق كي د مور دعوىٰ معتبره نه ده وَصِحَّةُ النُّكُولِ تَبْتَنِي عَلَى الدَّعْوَى او د انكار صحت پر دعوىٰ مبني دى [يعني دانكار دار ومدار د مور پر دعوىٰ دى] فَلَمْ يَظْهَرْ فِي حَقِّ الْجَارِيَةِ نو ځكه به د [بالغي] نجلۍ په حق كي دا انكار نه مؤثر كيږي وَلَوْ كَانَتِ الْجَارِيَةُ الْكَبِيرَةُ هِيَ الْمُدَّعِيَةُ لِسَبْقِ وِلَادَةِ الْغُلَامِ او كه همدا غټه [بالغه] نجلۍ د هلك د مخكي پيدا كېدلو دعوىٰ كونكې وي وَالْأُمُّ سَاكِتَةٌ او مور چپه وي يَثْبُتُ عِتْقُ الْجَارِيَةِ بِنُكُولِ الْمَوْلَى دُونَ الْأُمِّ نو د مالك په انكار سره د دې نجلۍ آزادي ثابتيږي، نه د مور [يعني كه په دې صورت كي مالك له قسم څخه انكار وكړي، نو دا نجلۍ آزاديږي او مور نه آزاديږي] لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ ذكر كړى وَالتَّحْلِيفُ عَلَى الْعِلْمِ فِيمَا ذَكَرْنَا او زموږ په ذكر سوو صورتونو كي به پر علم قسم اخيستل كيږي [يعني موږ چي د مالك د قسم كولو په هكله كوم صورتونه ذكر كړل، په هغوى كي به مالك د خپل علم او خبر مطابق قسم اخلي، دا ديو اعتراض جواب دى، تشريح ته مراجعه وكړئ!] لِأَنَّهُ اسْتِحْلَافٌ عَلَى فِعْلِ الْغَيْرِ ځكه چي دا د بل چا پر فعل قسم اخيستل دي وَبِهَذَا

الْقَدْرِ يُعْرَفُ مَا ذَكَرْنَا مِنَ الْوُجُوْهِ فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهِيْ او په دې مقدار [تفصيل] سره به هغه صورتونه [هم تاسي ته] معلوم سي [او ستاسي په علم کي به راسي] کوم چي موږ په كفايةُ المنتهي کي بيان کړي دي.

اللغات: ﴿إِدَّعَتْ﴾ د افتعال ماضي ده: دعویٰ کول (دعوه کول). ﴿غُلَامٌ﴾ هلک. ﴿نَكَلَ﴾ د نصر ماضي ده: له قسم اخيستلو څخه انکار کول. ﴿حُرِّيَّةٌ﴾ آزادي، آزادېدل.

تشريح: دا مسئله پر دې اُصول مبني ده چي که په دعویٰ کي د کوچني نجلۍ نفع وي، نو د هغې په حق کي به د مور دعویٰ معتبره وي، لېکن که نجلۍ بالغه او غټه وي، نو د هغې په حق کي به د مور دعویٰ ته هيڅ اعتبار نه وي.

صورت د مسئلې: دا دی که مور دا دعویٰ وکړي چي هلک اول پيدا سوی دی، او مالک د دې انکار وکړي، او د مور سره هيڅ ګواه نه وي، نو د مالک خبره به د قسم سره منل کيږي (ځکه چي هغه مُنکر دی)، لهذا که چيري مالک قسم وکړي، نو مور به نه آزاديږي، بلکي د مخکي په شير به مينځه وي، نو ځکه به د هغې په متابعت کي نجلۍ هم نه آزاديږي، او که مالک له قسم څخه انکار وکړي، نو مور به آزاديږي، او څرنګه چي نجلۍ کوچنۍ (نابالغه) ده، نو ځکه به د مور په متابعت کي هغه آزادکيږي.

دليل: دا دی چي د کوچنۍ (نابالغه) نجلۍ په هکله د مور دعویٰ معتبره ده، ځکه چي په همدې کي د کوچنۍ نجلۍ نفع ده.

ولوکانت الجارية كبيرة: دا مسئله پر دوو اُصولو مبني ده: ① يو اُصول دا دی چي نجلۍ د مور په متابعت کي نه آزاديږي، بلکي د مور د دعویٰ پر بنياد آزاديږي، ② دويم اُصول دا دی چي کوچنۍ نجلۍ خو په دعویٰ کي د مور تابع کيږي، لېکن غټه (بالغه) نجلۍ د مور نه تابع کيږي.

د مسئلې حاصل دا دی که مور دعویٰ وکړي چي هلک اول پيدا سوی دی، او مالک له قسم څخه انکار وکړي، او نجلۍ غټه (بالغه) وي، نو فقط مور به آزاديږي، نجلۍ به نه آزاديږي.

دليل: نجلۍ غټه (بالغه) ده، نو په دعویٰ کي د مور تابع کېدای نه سي، نو ځکه به نه آزاديږي.

ولو كانت الجارية كبيرة هي: فرمايي که بالغه نجلۍ دعویٰ وکړي چي هلک پيدا سوی دی او مور خاموشه (چپه) وي او د نجلۍ سره هيڅ ګواه نه وي، نو مالک ته به د قسم اخيستلو حکم کيږي، لېکن که مالک له قسم څخه انکار وکړي، نو فقط نجلۍ به آزاديږي.

دليل: ځکه چي نجلۍ غټه (بالغه) ده، نو د هغې په دعویٰ کي مور شاملېدای نه سي (ځکه چي همدا اُصول دی)، نو ځکه به نه آزاديږي.

والتحليف الخ: په دې سره د يو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چي په عامه توګه د ښځي د لنګېدلو په وخت کي خلک نه وي، لهذا نارينه ته دا نه سي معلومېدای چي اول هلک پيدا سوی دی، که نجلۍ؟ نو دلته

په څنګه مالک قسم اخلي او څنګه به هغه ته د قسم اخیستلو حکم کیږي (چې ته پر دې خبره قسم واخله! چې اول هلک پیدا سوی دی، که نجلۍ، مالک ته خو د دې هیڅ معلومات نسته!). د جواب حاصل دا دی چې څومره علم او خبر چې مالک ته سته د هغه مطابق به قسم اخلي

وبهذا القدر إلخ: صاحب د هدایې فرمایي چې په دومره تفصیل سره هغه صورتونه هم واضح سول کوم چې موږ په کفایة المنتهي کې بیان کړي دي، صاحب د عنایې فرمایي چې په کفایة المنتهي کې ټوله شپږ صورتونه بیان سوي دي چې له هغوی څخه څلور دلته په هدایه کې دي کوم چې اوس بیان سول. او (٥) پنځم صورت دا دی چې مور، نجلۍ (لور) او مالک ټوله پر دې خبره متفق سي چې نجلۍ اول پیدا سوې ده، نو په دې صورت کې به هیڅوک هم نه آزادیږي، لعدم وجود شرط العتق، (٦) شپږم صورت دا دی چې مور، نجلۍ او مالک ټوله پر دې خبره متفق سي چې اول هلک پیدا سوی دی، نو په دې صورت کې به مور او نجلۍ دواړي آزادیږي "لوجود شرط العتق". او هلک به په هر صورت کې غلام پاتیږي، ځکه چې د هغه د پیدایښت په وخت کې د هغه مور مینځه وه. (عناية)

پر إعتاق د ګواهۍ ورکولو حیثیت

وَإِذَا شَهِدَ رَجُلَانِ عَلَىٰ رَجُلٍ أَنَّهُ أَعْتَقَ أَحَدَ عَبْدَيْهِ او که چیري دوه خلک د یو سړي په باره کې دا ګواهي ورکړي چې هغه له خپلو دوو غلامانو څخه یو آزاد کړی دی فَالشَّهَادَةُ بَاطِلَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز [دا] ګواهي باطله ده إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِي وَصِيَّةٍ خو [په هغه صورت کې دا ګواهي صحیح کیږي کله] چې په وصیت کې وي ایعني ګواهان ووایي چې دغه سړي د خپل مرګ په وخت کې غلام آزاد کړی دی] اسْتِحْسَانًا ذَكَرَهُ فِي كِتَابِ الْعَتَاقِ امام محمد رَحِمَهُ الله استحساناً دا [حکم] په کتابُ العَتاق کې ذکر کړی دی ایعني د مبسوط په کتابُ العَتاق کې یې ویلي دي چې په دې مسئله کې استحساناً د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز د دواړو غلامانو نصف، نصف غلام آزادیږي، له هر غلام څخه نصف ځکه آزادیږي چې غلام غیر متعین دی] وَإِنْ شَهِدَا أَنَّهُ طَلَّقَ إِحْدَىٰ نِسَائِهِ او که چیري دوه خلک [د یو سړي په باره کې] ګواهي ورکړي چې هغه له خپلو ښځو څخه یوه ښځه طلاقه کړې ده جَازَتِ الشَّهَادَةُ نو [د هغوا ګواهي جائز ده ایعني د هغو ګواهي به قبلیږي] وَيُجْبَرُ الزَّوْجُ عَلَىٰ أَنْ يُطَلِّقَ إِحْدَاهُنَّ او هغه سړی به پر دې مجبورول کیږي چې خپلې یوې ښځې ته طلاق ورکړي ایعني هغه ته به جبراً دا حکم کیږي چې د طلاق لپاره یوه ښځه متعین کړي او هغې ته طلاق ورکړي] وَهَذَا بِالْإِجْمَاعِ او دا [مسئله] بالإتفاق ده ایعني په دې مسئله کې

د امام صاحب او صاحبينو ټولو په نيز ګواهي قبليږي] وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: الشَّهَادَةُ فِي الْعِتْقِ مِثْلُ ذٰلِكَ او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله ويلي دي: چې د عتق ګواهي هم د طلاق د ګواهۍ په شان ده [يعني مالک ته به دا حکم کيږي چې له دواړو غلامانو څخه يو آزاد کړي، لهذا دا چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د عتق شهادت مردود دی، او د طلاق شهادت مقبول دی، او د صاحبينو په نيز په دواړو صورتونو کې شهادت مقبول دی] وَأَصْلُ هٰذَا أَنَّ الشَّهَادَةَ عَلٰى عِتْقِ الْعَبْدِ لَا تُقْبَلُ مِنْ غَيْرِ دَعْوَى الْعَبْدِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د عتق په مسئله کې [د دې اختلاف اصل قاعده دا ده چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په خپله د غلام له دعوىٰ څخه بغير د غلام د آزادېدلو ګواهي ورکول نه قبليږي وَعِنْدَهُمَا تُقْبَلُ [لېکن] د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز قبليږي وَالشَّهَادَةُ عَلٰى عِتْقِ الْأَمَةِ وَطَلَاقِ الْمَنْكُوحَةِ مَقْبُولَةٌ مِنْ غَيْرِ دَعْوَى بِالِاتِّفَاقِ او د مينځې د آزاد والي او د منکوحه ښځې د طلاق ګواهي له دعوىٰ څخه بغير هم بالاتفاق قبليږي وَالْمَسْأَلَةُ مَعْرُوفَةٌ او دا مسئله مشهوره ده وَإِذَا كَانَ دَعْوَى الْعَبْدِ شَرْطًا عِنْدَهُ او کله چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د غلام دعوىٰ کول شرط دي لَا يَتَحَقَّقُ فِي مَسْأَلَةِ الْكِتَابِ نو ځکه به د متن په مسئله کې دعوىٰ نه ثابتيږي لِأَنَّ الدَّعْوٰى مِنَ الْمَجْهُولِ لَا تَتَحَقَّقُ ځکه چې د مجهول غلام له طرفه دعوىٰ نه ثابتيږي فَلَا تُقْبَلُ الشَّهَادَةُ نو ځکه به ګواهي نه قبليږي [يعني د متن په مسئله کې د غلام له طرفه دعوىٰ نشته، نو ځکه به ګواهي هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز نه قبليږي] وَعِنْدَهُمَا لَيْسَ بِشَرْطٍ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز [د غلام دعوىٰ] شرط نه ده فَتُقْبَلُ الشَّهَادَةُ وَإِنِ انْعَدَمَ الدَّعْوٰى نو ځکه به [د هغو په نيز] قبليږي که څه هم [د غلام له طرفه] دعوىٰ نه وي أَمَّا فِي الطَّلَاقِ فَعَدَمُ الدَّعْوٰى لَا يُوجِبُ خَلَلًا فِي الشَّهَادَةِ کوم چې طلاق دی نو [په هغه کې] د دعوىٰ معلوم کېدل هيڅ خلل نه ثابتوي [يعني که په طلاق کې دعوىٰ نه وي نو بيا هم په ګواهۍ کې هيڅ خلل نه راځي، بلکې ګواهي به قبليږي] لِأَنَّهَا لَيْسَتْ بِشَرْطٍ فِيهَا ځکه چې د طلاق په ګواهۍ کې دعوىٰ شرط نه ده.

اللغات: ﴿شَهِدَ﴾ د سمع ماضي ده: ګواهي ورکول، ﴿يُجْبَرُ﴾ د افعال مضارع مجهوله ده: مجبوره کول (په يو چا په زوره يو کار کول)، ﴿اِنْعَدَمَ﴾ د انفعال ماضي ده: نيستي کېدل، نه موجودېدل، نه کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې او دلائل ښکاره دي، تشريح ته يې ضرورت نشته.

* القول الراجح ...

پر إعتاق د ګواهي ورکولو حيثيت

وَلَوْ شَهِدَا اَنَّهُ أَعْتَقَ إِحْدٰى أَمَتَيْهِ او که دوه خلک ادیوه سړي په باره کي دا] ګواهي ورکړي چي هغه په خپلو دواړو مينځو کي يوه مينځه آزاده کړې ده لَا تُقْبَلُ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا ګواهي [هم] نه قبليږي وَإِنْ لَمْ تَكُنِ الدَّعْوٰى شَرْطًا فِيْهَا که څه هم په داسي ګواهي کي دعوىٰ شرط نه ده [دا يو ډول د اعتراض جواب دى، اعتراض دا دى چي کله دلته دعوىٰ شرط نه ده، نو بيا ولي ګواهي نه قبليږي، را روانه جمله جواب دى] لِأَنَّهُ إِنَّمَا لَا تُشْتَرَطُ الدَّعْوٰى لِمَا أَنَّهُ يَتَضَمَّنُ تَحْرِيْمَ الْفَرْجِ د دې وجه دا ده چي د دعوىٰ نه شرط کېدل فقط پر همدغه بناء دي چي په آزادولو سره پر مالک [د مينځي] د فرج حرامېدل لازميږي [او فرج حرامېدل هغه وخت لازميږي کله چي مينځه معلومه او متعينه وي، نه مبهمه] فَشَابَهُ الطَّلَاقَ نو دا د طلاق سره مشابه سو [يعني کله چي مينځه متعينه وي نو بيا به ګواهي قبليږي او مينځه به پر مالک آزاديږي (يعني د هغې فرج به پر مالک حراميږي)، نو داسي عتق (چي په هغه کي مينځه متعينه وي) د طلاق سره مشابه سو] وَالْعِتْقُ الْمُبْهَمُ لَا يُوْجِبُ تَحْرِيْمَ الْفَرْجِ عِنْدَهٗ عَلٰى مَا ذَكَرْنَاهُ [ليکن] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مبهم [مينځي] په آزادولو سره د فرج حرامېدل نه لازميږي لکه [مخکي] چي موږ ذکر کړه فَصَارَ كَالشَّهَادَةِ عَلٰى عِتْقِ أَحَدِ الْعَبْدَيْنِ نو [په دواړو مينځو کي د يوې مينځي د آزادولو ګواهي ورکول] داسي سو لکه په دوو غلامانو کي د يوه غلام د آزادولو ګواهي ورکول وَهٰذَا كُلُّهُ إِذَا شَهِدَا فِيْ صِحَّتِهٖ عَلٰى أَنَّهُ أَعْتَقَ أَحَدَ عَبْدَيْهِ او دا ټوله په هغه صورت کي دي کله چي دواړو ګواهانو د مالک د صحت په حالت کي دا ګواهي ورکړي چي هغه [مالک] په خپلو دوو غلامانو کي يو غلام آزاد کړى دى أَمَّا إِذَا شَهِدَا أَنَّهُ أَعْتَقَ أَحَدَ عَبْدَيْهِ فِيْ مَرَضِ مَوْتِهٖ ليکن که دواړه ګواهان دا ګواهي ورکړي چي هغه په خپل مرضُ الموت کي خپل يو غلام آزاد کړى دى أَوْ شَهِدَا عَلٰى تَدْبِيْرِهٖ فِيْ صِحَّتِهٖ أَوْ فِيْ مَرَضِهٖ يا دا ګواهي ورکړي چي هغه د خپل صحت يا مرضُ الموت په حالت کي خپل يو غلام مدبر جوړ کړى دى وَأَدَاءُ الشَّهَادَةِ فِيْ مَرَضِ مَوْتِهٖ أَوْ بَعْدَ الْوَفَاةِ او د دې ګواهي اداء کول [د مالک] د مرضُ الموت په حالت کي وي يا [د هغه] تر مړيني وروسته وي تُقْبَلُ اسْتِحْسَانًا نو استحسانًا به دا ګواهي قبليږي لِأَنَّ التَّدْبِيْرَ حَيْثُمَا وَقَعَ وَقَعَ وَصِيَّةً ځکه تدبير چي کله هم واقع کيږي نو د وصيت په توګه واقع کيږي [يعني مالک چي هر کله هم خپل غلام مدبر جوړ کړي نو دا د مالک له طرفه وصيت دى، هغه که د صحت په حالت کي وي

يا د مرض په حالت كي] وَكَذَا الْعِتْقُ فِي مَرَضِ الْمَوْتِ وَصِيَّةٌ او همدارنګه آزادول [هم] په مرضُ الموت كي وصيت دى [يعني كه مالك يو غلام د خپل مرضُ الموت او زكندن په حالت كي آزاد كړي. نو دا آزادول هم د وصيت حكم لري] وَالْخَصْمُ فِي الْوَصِيَّةِ إِنَّمَا هُوَ الْمُوْصِي او خصم په وصيت كي وصيت كونكى دى [يعني پر كوم سړي چي د وصيت كولو دعوىٰ وسي (چي تا د غلام آزادولو وصيت كړى دى) هغه ته موصي (وصيت كونكي) وايي) وَهُوَ مَعْلُومٌ او هغه سړى معلوم دى وَعَنْهُ خَلَفٌ او د هغه خليفه [هم] موجود دى وَهُوَ الْوَصِيُّ أَوْ الْوَارِثُ او هغه وصي يا وارث دى [نو ځكه به ګواهي قبليږي] وَلِأَنَّ الْعِتْقَ فِي مَرَضِ الْمَوْتِ يَشِيْعُ بِالْمَوْتِ فِيهِمَا او ځكه چي د مرضُ الموت عتق د مالك په مرګ سره په دواړو غلامانو كي غوړيږي [يعني په مرض الموت كي چي آزادي واقع سي هغه د مالك په مړه كېدلو سره په دواړو غلامانو كي نشر كيږي او د هر غلام نصف. نصف آزاديږي] فَصَارَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا خَصْمًا مُتَعَيِّنًا نو ځكه له دوى څخه هر غلام خصم [مُدعي] متعين سو [يعني كله چي د هر غلام په نصف كي آزاديږي وغوړيده نو هغه مدعي جوړ سي. نو ځكه به له دعوىٰ څخه بغير هم ګواهي قبليږي] وَلَوْ شَهِدَا بَعْدَ مَوْتِهِ أَنَّهُ قَالَ فِي صِحَّتِهِ: أَحَدُكُمَا حُرٌّ او كه چيري دواړه ګواهان د مالك تر مرګ وروسته [دا] ګواهي وركړي چي هغه [مالك] د خپل صحت په حالت كي ويلي وو: أَحَدُكُمَا حُرٌّ [يعني دا ګواهي وركړي چي هغه د خپل روغتيا په حالت كي يو غلام آزاد كړى دى] فَـقَدْ قِيلَ: لَا تُقْبَلُ نو [په دې باره كي] يو قول دا دى: چي ګواهي به نه قبليږي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِوَصِيَّةٍ ځكه چي دا وصيت نه دى وَقِيلَ: تُقْبَلُ او يو قول دا دى: چي ګواهي به قبليږي لِلشُّيُوعِ د غوړېدلو [نشر كېدلو] په وجه. [يعني ځكه چي عتق په دواړو غلامانو كي وغوړېدى، او هر غلام خصم جوړ سو. نو ځكه به ګواهي قبليږي].

اللغات: ﴿يَتَضَمَّنُ﴾ د تفعّل مضارع ده: ضمناً شاملېدل. ﴿فَرْج﴾ شرمګاه، مراد ځني د وطي حِلت دى. ﴿تَدْبِيْر﴾ د تفعيل مصدر دى: مدبر جوړول. تدبير دې ته وايي چي مالك د غلام آزادي په خپل مرګ پوري معلق كړي (يعني ورته ووايي چي "زما تر مرګ وروسته ته آزاد يې"). ﴿يَشِيْعُ﴾ د ضرب مضارع ده: غوړېدل.

تشريح: مسئله او دلائل په عبارت كي تشريح سوه، نوري تشريح ته يې ضرورت نسته.



بَابُ الْحَلْفِ بِالْعِتْقِ

(دا) باب دآزادۍ په هکله د قسم اخیستلو (په بیان کي) دی

تشریح: د "حلف بالعتق" مطلب دا دی چي مالک د خپل غلام یا مینځي آزادي پر یو شرط مُعلقه کړي، ګواکي دا د مُعلق عتق بیان دی. تر دې مخکي د مُنَجز عتق بیان وو. او دا خبره تسلیم سوې ده چي منجز تر معلق مخکي وي، نو ځکه صاحب د هدایې د منجز عتق له بیان څخه وروسته اوس د معلق عتق بیان کوي. (بناية ج:۵، ص:۶۵۷)

یادونه: څرنګه چي د را روانو بابونو زیاتره عبارات ډېر آسانه دي. وضاحت ته څه ضرورت نه لري. نو ځکه موږ هم د زیاتره عباراتو تشریحات نه دي ذکر کړي، بلکي د هغه پر ځای مو په تشریحي او سپړلي انداز سره ترجمه کړې ده. چي له ترجمې څخه انشاء الله په آسانه هر لوستونکی په عبارت پوهېدای سي.

د مُعلق إعتاق یو ځانګړی صورت

وَمَنْ قَالَ: إِذَا دَخَلْتُ الدَّارَ فَكُلُّ مَمْلُوكٍ لِي يَوْمَئِذٍ فَهُوَ حُرٌّ او کوم سړی چي ووایي: که چیري زه دغه کور ته داخل سوم نو په هغه ورځ زما هر غلام آزاد دی [یعني په هغه ورځ چي زه د هر غلام مالک یم. هغه زما له طرفه آزاد دی] وَلَيْسَ لَهُ مَمْلُوكٌ حالانکي [د دغه وینا په ورځ] د هغه سره غلام نه وي فَاشْتَرَى مَمْلُوكًا ثُمَّ دَخَلَ او اتر دې وروسته] یو غلام رانیسي بیا [کور ته] داخل سي عَتَقَ نو هغه غلام آزادیږي لِأَنَّ قَوْلَهُ يَوْمَئِذٍ تَقْدِيرُهُ يَوْمَ إِذْ دَخَلْتُ ځکه چي د دې سړي د قول "يَوْمَئِذٍ" اصل تقدیر دا دی: "يَوْمَ إِذْ دَخَلْتُ" [چي د هغه معنیٰ دا سوه: په کومه ورځ چي زه کور ته داخل سم] إِلَّا أَنَّهُ أَسْقَطَ الْفِعْلَ وَعَوَّضَهُ بِالتَّنْوِينِ خو هغه فعل [دَخَلْتُ] حذف کړی او تنوین یې د هغه عوض وګرځوی [یعني د هغه په عوض کي یې تنوین ذکر کړی] فَكَانَ الْمُعْتَبَرُ قِيَامَ الْمِلْكِ وَقْتَ الدُّخُولِ نو ځکه به [کور ته] د داخلېدلو په وخت کي د ملکیت موجودېدل معتبر وي [یعني کله چي کور ته د داخلېدلو په وخت کي د دغه سړي په ملکیت کي غلام وي نو هغه به آزادیږي، او دلته وروسته رانیول سوی غلا هم د هغه په ملکیت کي دی، نو ځکه به هغه آزادیږي] وَكَذَا لَوْ كَانَ فِي مِلْكِهِ يَوْمَ حَلَفَ عَبْدٌ همدارنګه که چیري د دې سړي په ملکیت کي د قسم [شرط] په وخت کي غلام موجود وي فَبَقِيَ عَلَى مِلْكِهِ حَتَّى دَخَلَ او غلام [تر هغه وخته] د ده په ملکیت کي پاته سي تر

څو چې دئ [کور ته] داخل سي عَتَقَ نو [دا غلام هم] آزاديږي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی [چې کور ته د داخلېدلو په وخت کې غلام دده په ملکيت کې موجود دی] قَالَ: وَلَوْلَمْ يَكُنْ قَالَ فِي يَمِينِهٖ "يَوْمَئِذٍ" او که هغه په خپل قسم کې "يَوْمَئِذٍ" (په هغه ورځ) ويلي نه وي لَمْ يَعْتِقْ نو [وروسته رانيول سوی غلام] نه آزاديږي لِأَنَّ قَوْلَهٗ: كُلُّ مَمْلُوْكٍ لِيْ لِلْحَالِ ځکه چې هغه دا قول "زما هر غلام" د حال لپاره دی ايعني د هغه دا قول "زما هر غلام" د داسي غلام په باره کې ويل صحيح وي کوم چې في الحاله (اوس) د هغه په ملکيت کې موجود وي] وَالْجَزَاءُ حُرِّيَّةُ الْمَمْلُوْكِ فِي الْحَالِ او د دې قول جزاء في الحاله د مملوک آزادېدل دي إِلَّا أَنَّهٗ لَمَّا دَخَلَ الشَّرْطُ عَلَى الْجَزَاءِ لېکن کله چې شرط پر جزاء داخل سو تَأَخَّرَ إِلٰى وُجُوْدِ الشَّرْطِ نو جزاء د شرط تر موجودېدلو پوري وځنډېده فَيَعْتِقُ إِذَا بَقِيَ عَلٰى مِلْكِهٖ إِلٰى وَقْتِ الدُّخُوْلِ لهذا غلام به [هغه وخت] آزاديږي کله چې غلام د دې سړي په ملکيت کې د داخلېدلو تر وخته پوري پاته سي [يعني کور ته د داخلېدلو په وخت کې چې کوم غلام د دې سړي په ملکيت وي، هغه غلام به آزاديږي] وَلَا يَتَنَاوَلُ مَنِ اشْتَرَاهُ بَعْدَ الْيَمِيْنِ او کوم غلام چې د سړي تر يمين [شرط] وروسته رانيولی وي، هغه ته به جزاء [آزادي] نه شامليږي. الأنّ قوله: کل مملوکٍ لِيْ: د دغه ټوله دليل حاصل دا دی: چې کله دغه سړي په خپل قول کې يَوْمَئِذٍ ذکر نه کړي، نو د قسم اخيستلو (يعني د دغه شرطيه وينا) په وخت کې غلام آزادېدل پکار دي، لېکن کله چې هغه کور ته د داخلېدلو شرط ولګوی، نو مطلب يې دا سو چې په هغه وخت کې چې کوم غلام دده په ملکيت کې دی که هغه کور ته د داخلېدلو په وخت کې موجود وو، نو آزاديږي، نو ځکه به هغه غلام نه آزاديږي کوم چې تر قسم (شرط) وروسته رانيسي او دده په ملکيت کې راسي].

اللغات: ﴿تَأَخَّرَ﴾ د تفعّل ماضي ده: ځنډېدل، مؤخر کېدل، وروسته کېدل.

تشريح: عبارت په ترجمه کې تشريح سو.

د مُعلق إعتاق يو بل صورت

وَمَنْ قَالَ: كُلُّ مَمْلُوْكٍ لِيْ ذَكَرٍ فَهُوَ حُرٌّ او کوم سړي چې ووايي: زما هر مذکر مملوک [غلام] آزاد دی وَلَهٗ جَارِيَةٌ حَامِلٌ او د هغه سره يوه حامله مينځه وي فَوَلَدَتْ ذَكَرًا او [بيا] دا مينځه هلک وزېږوي لَمْ يَعْتِقْ نو هغه هلک نه آزاديږي وَهٰذَا إِذَا وَلَدَتْ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ فَصَاعِدًا ظَاهِرٌ او دا [حکم] په هغه صورت کې دی کله چې [د وينا له وخت څخه] دا مينځه په شپږو مياشتو يا تر دې په زيات مودت کې

بچی وزیږوی، نو ښکاره دي اچي د قسم اخیستلو په وخت کي حمل (هلک) د هغې په نس کي نه وو ا لِأَنَّ اللَّفْظَ لِلْحَالِ ځکه چي دغه [د کُل مملوک...] الفظ د حال لپاره دی وَفِي قِيَامِ الْحَمْلِ وَقْتَ الْيَمِينِ احْتِمَالٌ او د یمین [شرط] په وخت کي د حمل په موجود بدلو کي شک سته لِوُجُودِ أَقَلِّ مُدَّةِ الْحَمْلِ بَعْدَهُ ځکه چي تر هغه وروسته د حمل أقل مودت [شپږ میاشتي] موجود سو [لهذا دې خبرې احتمال سته چي د قسم او شرط په وخت کي به حمل موجود نه وو، بلکي وروسته به حمل پیدا سوی وي، نو ځکه به دا حمل (هلک) نه آزادیږي] وَكَذَا إِذَا وَلَدَتْ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ او همدارنګه کله چي له شپږو میاشتو څخه په کم مودت کي دا مینځه بچی وزیږوي [نو هم هغه نه آزادیږي] لِأَنَّ اللَّفْظَ يَتَنَاوَلُ الْمَمْلُوكَ الْمُطْلَقَ ځکه چي لفظ مطلق مملوک ته شامل دی وَالْجَنِينُ مَمْلُوكٌ تَبَعًا لِلْأُمِّ لَا مَقْصُودًا او جنین د مور په متابعت کي مملوک دی او بذات خود مملوک نه دی وَلِأَنَّهُ عُضْوٌ مِنْ وَجْهٍ او په دې وجه [هم] چي جنین په یوه اعتبار سره [د مور] اندام دی وَاسْمُ الْمَمْلُوكِ يَتَنَاوَلُ الْأَنْفُسَ دُونَ الْأَعْضَاءِ او د مملوک لفظ نفوسو ته شاملیږي، نه و اندامونو ته [یعني دلته هغه سړي د مملوک لفظ ذکر کړی دی. او مملوک بشپړ نفس ته شاملیږي، او حمل د مینځي یو اندام دی، بشپړ نفس دی، همدا وجه ده چي مالک ته دا جائز نه دي چي حمل له مینځي څخه جلا خرڅ کړي، نو ځکه به دا حمل (هلک) هم نه آزادیږي] وَلِهَذَا لَا يَمْلِكُ بَيْعَهُ مُنْفَرِدًا له همدې وجهي مالک د جنین [حمل] د جلا خرڅولو ملکیت [او اختیار] نه لري قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: وَفَائِدَةُ التَّقْيِيدِ بِوَصْفِ الذُّكُورَةِ أَنَّهُ لَوْ قَالَ: كُلُّ مَمْلُوكٍ لِي صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د مذکر والي په صفت سره [د مملوک] مقید کولو فایده دا ده چي که چیري دغه سړی فقط "كُلُّ مَمْلُوكٍ لِي" ووایي [یعني د "ذَكَرٌ" لفظ ورسره ذکر نه کړي] تَدْخُلُ الْحَامِلُ نو [د هغه په قول کي] به حامله مینځه [هم] داخله سي فَيَدْخُلُ الْحَمْلُ تَبَعًا لَهَا او د حامله مینځي په متابعت کي به [د هغې] حمل [هم د هغه په قول کي] داخل سي [نو مینځه او هلک به دواړه آزاد سي].

اللغات: ﴿ذَكَر﴾ د انسان تناسلي اندام، مذکر (نارینه)، دلته ځني مراد مذکر دی. ﴿فَصَاعِدًا﴾ او تر دې زیات. ﴿جَنِيْن﴾ د مور په نس کي دننه بچی. ﴿مُنْفَرِد﴾ د إفعال اسم فاعل دی: یوازي، تنها، جلا.

تشریح: عبارت په ترجمه کي تشریح سو، نوري تشریح ته یې ضرورت نسته.

د مُعلق إعتاق يو بل صورت

وَإِنْ قَالَ: كُلُّ مَمْلُوكٍ أَمْلِكُهُ حُرٌّ بَعْدَ غَدٍ او که [يو سړی] ووايي: هر هغه مملوک چې زه يې [اوس] مالک يم هغه تر سبا ورځي وروسته آزاد دی أَوْ قَالَ: كُلُّ مَمْلُوكٍ لِي فَهُوَ حُرٌّ بَعْدَ غَدٍ يا [داسي] ووايي: زما هر مملوک تر سبا ورځي وروسته آزاد دی وَلَهُ مَمْلُوكٌ او [اوس] د هغه يو مملوک وي فَاشْتَرَى آخَرَ او [بيا] بل مملوک رانيسي ثُمَّ جَاءَ بَعْدُ غَدٍ بيا تر سبا ورځي وروسته ورځ راسي عَتَقَ الَّذِي فِي مِلْكِهِ يَوْمَ حَلَفَ نو هغه غلام آزاديږي کوم چې د قسم کولو [شرط کولو] په ورځ د هغه په ملکيت کي وي لِأَنَّ قَوْلَهُ أَمْلِكُهُ لِلْحَالِ حَقِيْقَةً ځکه چې د هغه دا قول "أَمْلِکُهُ" په حقيقت کي د حال او موجوده مملوک لپاره دی [يعني د مضارع صيغه حقيقتاً د حال لپاره راځي] يُقَالُ: أَنَا أَمْلِكُ كَذَا وَكَذَا وَيُرَادُ بِهِ الْحَالُ ويل کيږي: "چې زه د دومره او دومره [شيانو] مالک يم" په دې سره د حال زمانه [يعني فی الحاله مملوکه شيان] مراديږي وَكَذَا يُسْتَعْمَلُ لَهُ مِنْ غَيْرِ قَرِيْنَةٍ او "أَمْلِکُ" له قرينې څخه بغير د حال لپاره استعماليږي وَالِاسْتِقْبَالُ بِقَرِيْنَةِ السِّيْنِ أَوْ سَوْفَ او د "سين" يا "سَوْفَ" په قرينه سره د استقبال لپاره استعماليږي فَيَكُونُ مُطْلَقُهُ لِلْحَالِ نو [له سين او سوف څخه] مطلق ملک [أَمْلِکُ] به د حال لپاره وي فَكَانَ الْجَزَاءُ حُرِّيَّةَ الْمَمْلُوكِ فِي الْحَالِ مُضَافًا إِلَى مَا بَعْدَ الْغَدِ لهذا جزاء به د فی الحاله مملوک آزاديدل وي کوم چې د سبا نه بل سبا ورځي ته منسوب وي [يعني لهذا د دې سړي (مالک) د قول مطلب به دا وي: چې اوس زه د کوم غلام مالک يم هغه سبا نه بل سبا آزاد دی] فَلَا يَتَنَاوَلُ مَا يَشْتَرِيهِ بَعْدَ الْيَمِيْنِ نو ځکه به جزاء هغه مملوک ته نه شامليږي کوم چې يې تر يمين [شرط] وروسته رانيولی وي. [يعني کوم غلام چې يې وروسته رانيولی وي هغه به نه آزاديږي، ځکه چې د قسم او شرط په وخت کي دا سړی د هغه مالک نه دی].

اللغات: ﴿غَدٌ﴾ سبا، (د سبا ورځ)، بَعْدَ غَدٍ: سبا نه بل سبا.

تشريح: عبارت په ترجمه کي تشريح سو.

د خپلو ټولو غلامانو آزادي په مرګ پوري مُعلق کول

وَلَوْ قَالَ: كُلُّ مَمْلُوكٍ أَمْلِكُهُ أَوْ قَالَ: كُلُّ مَمْلُوكٍ لِي حُرٌّ بَعْدَ مَوْتِي او که [يو څوک] ووايي: هر هغه غلام چې زه يې [اوس] مالک يم، يا [داسي] ووايي: زما هر غلام زما تر مرګ وروسته آزاد دی وَلَهُ مَمْلُوكٌ

او اوس اد هغه لپاره يو غلام وي فَاشْتَرَى مَمْلُوكًا آخَرَ او ا بيا ا دويم غلام رانيسي فَالَّذِي كَانَ عِنْدَ وَقْتَ الْيَمِينِ مُدَبَّرٌ نو کوم غلام چي د يمين [شرط] په وخت کي د ده سره وي هغه مدبر دی [يعني هغه موجود غلام به مدبر جوړيږي] وَالْآخَرُ لَيْسَ بِمُدَبَّرٍ او هغه بل [ورروسته رانيول سوی] غلام مدبر نه دی [ځکه چي هغه د شرط او يمين په وخت کي د ده مملوک نه دی] وَإِنْ مَاتَ عَتَقَا مِنَ الثُّلُثِ او که دغه سړی [مالک] مړ سي نو دا دواړه غلامان به [د مال] له دريمې حصې څخه آزاديږي [يعني د دې سړي تر مرګ وروسته به دواړه غلامان د ده د مال له دريمې حصې څخه آزاديږي د طرفينو په نېز، ځکه چي د تدبير په وجه وصيت د دواړو لپاره ثابت سو] وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ فِي النَّوَادِرِ: يَعْتِقُ مَا كَانَ فِي مِلْكِهِ يَوْمَ حَلَفَ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نوادر کي فرمايلي دي: چي هغه غلام آزاديږي کوم چي د قسم خوړلو [شرط کولو] په ورځ د دې سړي په ملکيت کي وي وَلَا يَعْتِقُ مَا اسْتَفَادَ بَعْدَ يَمِينِهِ او هغه غلام نه آزاديږي کوم چي دې سړي تر خپل قسم [شرط] وروسته حاصل کړی وي وَعَلَى هٰذَا إِذَا قَالَ: كُلُّ مَمْلُوكٍ لِي إِذَا مِتُّ فَهُوَ حُرٌّ او پر همدغه اختلاف دي که هغه [داسي] ووايي: زما هر غلام چي کله زه مړ سم آزاد دي [نو تر دغه وينا (شرط) وروسته چي کوم غلام رانيسي هغه د طرفينو په نېز آزاديږي او د امام ابو يوسف په نېز نه آزاديږي] لَهُ: أَنَّ اللَّفْظَ حَقِيقَةٌ لِلْحَالِ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي [د أَمْلِكُ] لفظ د حال لپاره حقيقت دی عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه [مخکي] چي موږ د دې بيان وکړی فَلَا يَعْتِقُ بِهِ مَا سَيَمْلِكُهُ نو ځکه به په دې لفظ سره هغه غلام نه آزاديږي چي دغه سړی [وروسته] د هغه مالک جوړيږي [يعني امام ابو يوسف فرمايي چي مضارع حقيقتاً د حال لپاره استعماليږي، نه د استقبال لپاره، لهذا کوم غلام چي د دې لفظ په وخت کي موجود وي فقط هغه به آزاديږي، او کوم غلام چي تر دې وروسته په ملکيت کي راسي هغه به نه آزاديږي] وَلِهٰذَا صَارَ هُوَ مُدَبَّرًا دُونَ الْآخَرِ [د امام ابو يوسف دويم دليل دا دی چي] همدا وجه ده هغه غلام مدبر جوړ سو [کوم چي د شرط په ورځ د هغه په ملکيت کي وو] نه دويم غلام [له دې څخه هم معلومه سوه چي فقط پر موجود غلام به د عتق إطلاق کيږي] وَلَهُمَا: أَنَّ هٰذَا إِيجَابُ عِتْقٍ وَإِيصَاءٌ د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي دا کلام د عتق إيجاب [هم] دی او وصيت کول [هم] دی [مطلب دا چي د مالک په دغه جمله "كل ملوك أملكه... بعد موتي" کي د عتق تر څنګ وصيت هم سته، او په وصيت کي موجود غلام هم داخليږي او کوم غلام چي وروسته په ملکيت کي راسي هغه هم پکښي داخليږي، نو ځکه به دواړه غلامان آزاديږي] حَتَّى أُعْتُبِرَ مِنَ الثُّلُثِ همدا وجه ده چي [د مړي د مال] له دريمې حصې څخه [د دغه عتق] اعتبار سوی دی [نو معلومه سوه چي دغه کلام

وصيت هم دی، مطلب دا چي دلته غلام د مړي د مال له دريمي حصې څخه آزاديږي او دا تاسي معلومه ده چي وصيت د ميت د مال په دريمه حصه کي نافذيږي، نو ثابته سوه چي دا کلام وصيت هم دی] وَفِي الْوَصَايَا تُعْتَبَرُ الْحَالَةُ الْمُنْتَظَرَةُ وَالْحَالَةُ الرَّاهِنَةُ او په وصيتونو کي د متنظره حالت [يعني تر مرګه پوري د راتلونکي حالت] اعتبار [هم] کيږي او د موجوده [اوسنی] حالت اعتبار [هم] کيږي أَلَا تَرَى أَنَّهُ يَدْخُلُ فِي الْوَصِيَّةِ بِالْمَالِ مَا يَسْتَفِيدُهُ بَعْدَ الْوَصِيَّةِ آيا ته نه ګوري! چي په وصيت کي هغه مال [هم] داخليږي کوم چي تر وصيت وروسته مُوصي حاصل کړي وي وَفِي الْوَصِيَّةِ لِأَوْلَادِ فُلَانٍ مَنْ يُولَدُ لَهُ بَعْدَهَا او د فلانکي د بچيانو لپاره په وصيت کولو کي [د فلانکي] هغه بچيان هم داخليږي کوم چي تر وصيت وروسته پيدا سي. [همداسي به دلته موجود غلام هم د آزادی په وصيت کي داخليږي، او کوم غلام چي تر وصيت وروسته په ملکيت راسي هغه به هم پکښې داخليږي، او آزاديږي] وَالْإِيجَابُ إِنَّمَا يَصِحُّ... د دې عبارت ترجمه او تشريح به لاندي ذکر سي.

اللغات: ﴿يَمِين﴾ قسم، مراد ځني شرط او تعليق دی، ﴿عَتَقًا﴾ د ضرب له باب څخه د تثنيه مذکر غائب ماضي صيغه ده: آزادېدل، ﴿إِسْتَفَادَ﴾ د استفعال ماضي ده: حاصلول، ﴿إِيْصَاء﴾ د افعال مصدر دی: وصيت کول، ﴿إِيْجَاب﴾ واجبول، سبب جوړېدل.

وَالْإِيجَابُ إِنَّمَا يَصِحُّ مُضَافًا إِلَى الْمِلْكِ أَوْ إِلَى سَبَبِهِ. او د وصيت إيجاب هغه وخت صحيح کيږي کله چي هغه د ملک يا د ملک د سبب وطرف ته منسوب وي فَمِنْ حَيْثُ أَنَّهُ إِيجَابُ الْعِتْقِ يَتَنَاوَلُ الْعَبْدَ الْمَمْلُوكَ اعْتِبَارًا لِلْحَالَةِ الرَّاهِنَةِ لهذا د دې سړي [مالک] قول به د عتق د إيجاب کېدلو په حيثيت د اوسني حالت په اعتبار سره هغه غلام ته شامليږي کوم چي د يمين [شرط] په وخت کي د دغه سړي مملوک وي فَيَصِيرُ مُدَبَّرًا حَتَّى لَا يَجُوزَ بَيْعُهُ نو ځکه به دا مملوک مدبر ګرځي تر دې چي د هغه خرڅول به جائز نه وي وَمِنْ حَيْثُ أَنَّهُ إِيصَاءٌ يَتَنَاوَلُ الَّذِي يَشْتَرِيهِ اعْتِبَارًا لِلْحَالَةِ الْمُتَرَبِّصَةِ وَهِيَ حَالَةُ الْمَوْتِ او د وصيت کېدلو په حيثيت به اد دغه سړي قول] هغه غلام ته [هم] شامليږي کوم چي يې [تر شرط وروسته] رانيولی وي، د منتظره حالت يعني د مرګ د حالت په اعتبار کولو سره وَقَبْلَ الْمَوْتِ حَالَةُ التَّمَلُّكِ اسْتِقْبَالٌ مَحْضٌ او تر مرګ مخکي د مالک کېدلو حالت محض استقبالي دی فَلَا يَدْخُلُ تَحْتَ اللَّفْظِ نو ځکه به دا غلام [د دغه سړي] تر لفظ [قول] لاندي نه داخليږي وَعِنْدَ الْمَوْتِ يَصِيرُ كَأَنَّهُ قَالَ: كُلُّ مَمْلُوكٍ لِي أَوْ كُلُّ مَمْلُوكٍ أَمْلِكُهُ فَهُوَ حُرٌّ او د مرګ په وخت کي به داسي وي لکه هغه چي ويلي وي: زما هر مملوک، يا هر هغه مملوک چي زه يې [اوس] مالک يم، هغه آزاد دی.

اللغات: ﴿رَاهِنَة﴾ فی الحاله، موجوده، اوسنی. ﴿تَمَلُّک﴾ د تفعّل مصدر دی: د یو شي مالک جوړېدل (مالک کېدل).

تشریح: دا عبارت څه ستونزمن دی، خلاصه او غورچاڼ یې دا دی چې دلته (د مالک د کلام) دوه حیثیته دي: ① د عتق إیجاب (یعني آزادي واجبول)، دا و موجود غلام ته شاملیږي، نو ځکه به هغه مدبر جوړیږي، دا به د راهنه حالت یعني د اوسني (حاضره) حالت په اعتبار سره وي. ② او دویم د وصیت حیثیت دی، په دې کي هغه غلام هم شاملیږي کوم چې وروسته مالک راټیولی وي، دا به د متربصه حالت یعني د مستقبله حالت په اعتبار سره وي.

بِخِلَافِ قَوْلِهِ بَعْدَ غَدٍ په خلاف د هغه د دې قول: بَعْدَ غَدٍ [یعني په خلاف د مالک د دې قول: کل مملوک لی فهو حرّ بعد غدٍ] عَلٰی مَا تَقَدَّمَ لکه مخکي چې ذکر سوه لِأَنَّهُ تَصَرُّفٌ وَاحِدٌ ځکه چې دا یو تصرف دی وَهُوَ إِيجَابُ الْعِتْقِ او هغه د عتق إیجاب دی [یعني په دې قول او مسئله کي فقط د آزادۍ واجبول سته، وصیت نه سته، نو ځکه به وروسته راټیول سوی غلام نه آزادیږي] وَلَيْسَ فِيهِ إِيصَاءٌ او په دې کي وصیت کول نسته وَالْحَالَةُ مَحْضُ اسْتِقْبَالٍ او [د تملّک] حالت محض استقبالي دی فَافْتَرَقَا نو دواړي مسئلې سره جلا سوې [لنډه دا چې د متن په مسئله کي وصیت سته او په دې مسئله کي وصیت نسته، نو په دې وجه دواړي مسئلې سره جلا سوې او په حکم کي یې فرق راغلی] وَلَا يُقَالُ: إِنَّكُمْ جَمَعْتُمْ بَيْنَ الْحَالِ وَالِاسْتِقْبَالِ او نه دي ویل کیږي [یعني دا اعتراض دي نه کیږي]: چې تاسي حال او استقبال [دواړه] سره جمع کړي دي لِأَنَّا نَقُولُ: نَعَمْ لٰكِنْ بِسَبَبَيْنِ مُخْتَلِفَيْنِ: إِيجَابِ عِتْقٍ وَوَصِيَّةٍ ځکه چې موږ وایو [جواب ورکوو]: چې هو! [جمع خو ده] لیکن په دوو جلا سببونو سره [جمع ده]: یعني د عتق إیجاب او د وصیت إیجاب وَإِنَّمَا لَا يَجُوزُ ذٰلِكَ بِسَبَبٍ وَاحِدٍ او دا [د حال او استقبال جمع کول] خو په یوه سبب سره جائز نه دي.

اللغات: ﴿فَافْتَرَقَا﴾ د افتعال له باب څخه د تثنیه مذکر غائب ماضي صیغه ده: جلا کېدل، بېلېدل.

تشریح:

ولا یقال إلخ: فرمایي دا اعتراض دي نه کیږي چې دلته خو د "أَمْلِكُهُ" په لفظ کي د حال او استقبال دواړو معنیٰ مراد سوې ده، د دې جواب دا دی چې دلته د دوو جلا، جلا سببونو په اعتبار سره دوې جلا معناوې مراد کړل سوي دي، یعني د عتق د واجبولو په وجه د حال معنیٰ مراد کړی سوې ده او د وصیت په وجه د استقبال معنیٰ مراد کړی سوې ده، او په دوو سببونو سره دوې معناوې مرادول صحیح دي، ها! که په یوه سبب سره دوې معناوې مراد کړل سي، نو دا صحیح نه دي.



بَابُ الْعِتْقِ عَلىٰ جُعْلٍ

(دا) باب د مال په عوض کې د آزادولو (په هکله) دی

تشریح: په عتق او آزادولو کې أصل دا دی چې مالک بېله عوضه إحساناً خپل غلام آزاد کړي. لېکن که یو مالک د مال په عوض کې خپل غلام آزادول غواړي نو دا هم صحیح دي، خو د أصل خلاف او شاذ و نادر دي، نو له همدې کبله صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله دا باب په آخر کې بیانوي.

جُعْل: (د جیم په ضمه او د عین په سکون سره)، د دې معنیٰ ده: مَا جُعِلَ لِلْإِنْسَانِ مِنْ شَيْءٍ عَلَىٰ شَيْءٍ يَفْعَلُهُ (یعني "جُعْل" هر هغه شي یا مال ته وایي، کوم چې د یو کار کولو په عوض کې د انسان لپاره مقرر کړی سي)

إعتاق بالمال (د مال په بدله کې غلام آزادول)

وَمَنْ أَعْتَقَ عَبْدَهُ عَلىٰ مَالٍ او څوک چې د مال په عوض کې خپل غلام آزاد کړي فَقَبِلَ الْعَبْدُ او غلام [هغه] قبول کړي عَتَقَ نو غلام آزادیږي [او مال به د هغه پر ذمه قرض وي] وَذٰلِكَ مِثْلُ أَنْ يَقُوْلَ: أَنْتَ حُرٌّ عَلىٰ أَلْفِ دِرْهَمٍ أَوْ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ د دې مثال دا دی لکه [مالک] چې [داسې] ووایي: ته د زرو درهمو په عوض کې یا په زرو درهمو آزاد یې! وَإِنَّمَا يُعْتَقُ بِقَبُوْلِهِ لِأَنَّهُ مُعَاوَضَةُ الْمَالِ بِغَيْرِ الْمَالِ او غلام د دې تر قبلولو وروسته ځکه آزادیږي چې دا په غیر مال سره د مال معاوضه ده إِذِ الْعَبْدُ لَا يَمْلِكُ نَفْسَهُ ځکه چې غلام د خپل ځان ملکیت نه لري وَمِنْ قَضِيَّةِ الْمُعَاوَضَةِ ثُبُوْتُ الْحُكْمِ بِقَبُوْلِ الْعِوَضِ لِلْحَالِ او د معاوضې تقاضا دا ده چې په عوض قبلولو سره فی الحاله حکم ثابت سي [مطلب دا دی د معاوضې حکم دا دی چې د عوض په قبلولو سره سمدستي غلام آزادیږي] كَمَا فِي الْبَيْعِ لکه څرنګه چې په بیع کې [هم دا حکم دی] فَإِذَا قَبِلَ صَارَ حُرًّا لهذا کله چې [هم] غلام عوض قبول کړي نو هغه به آزاد ګرځي وَمَا شُرِطَ دَيْنٌ عَلَيْهِ او شرط کړی سوی مال د غلام پر ذمه قرض دی حَتّٰى تَصِحَّ الْكَفَالَةُ بِهِ تر دې چې په دې سره کفاله صحیح ده [یعني د دې کفیل جوړېدل صحیح دي] بِخِلَافِ بَدَلِ الْكِتَابَةِ په

خلاف د مالِ کتابت ایعني د مالِ کتابت کفیل جوړېدل صحیح نه دي [لِأَنَّهُ ثَبَتَ مَعَ الْمُنَافِي وَهُوَ قِيَامُ الرِّقِّ ځکه چې بدلِ کتابت د منافي شي باوجود ثابتیږي چې هغه [منافي شی] د غلامتوب موجودېدل دي عَلَى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چې [دا مسئله] پېژندل سوې ده وَإِطْلَاقُ لَفْظِ الْمَالِ يَنْتَظِمُ أَنْوَاعَهُ مِنَ النَّقْدِ وَالْعَرَضِ وَالْحَيَوَانِ وَإِنْ كَانَ بِغَيْرِ عَيْنِهِ او د مال د لفظ إطلاق د مال ټولو قسمونو ته شاملیږي یعني نغد مال، سامان او حیوان که څه هم مُعیّن نه وي لِأَنَّهُ مُعَاوَضَةُ الْمَالِ بِغَيْرِ الْمَالِ ځکه چې دا په غیرِ مال سره د مالِ معاوضه ده فَشَابَهَ النِّكَاحَ وَالطَّلَاقَ وَالصُّلْحَ عَنْ دَمِ الْعَمْدِ نو دا د نکاح او طلاق او صلح عن دمِ العمد سره مشابه سوه وَكَذَا الطَّعَامُ وَالْمَكِيلُ وَالْمَوْزُونُ إِذَا كَانَ مَعْلُومَ الْجِنْسِ همدارنګه [دلته د مالِ لفظ] غلّه او کیلي او وزوني شیانو [ته هم شاملیږي، په دې شرط] کله چې د دوی جنس معلوم وي وَلَا تَضُرُّهُ جَهَالَةُ الْوَصْفِ او د وصف جهالت دې ته تاوان نه کوي لِأَنَّهَا يَسِيرَةٌ ځکه چې هغه معمولي غوندي دی.

اللغات: ﴿صَرِيح﴾ واضح، څرګند. ﴿مُعَاوَضَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: د معاوضې معامله یعني د یوه شي په عوض کي بل شی ورکول. ﴿قَضِيَّة﴾ تقاضا، اقتضاء. ﴿يَسِيْرَة﴾ لږ، معمولي.

تشریح: صورت د مسئلې ښکاره دی.

وإنما يعتق بقبوله إلخ: د دې عبارت حاصل درې خبرې دي: ①... کله چې غلام د مالک قول (او مال) قبول کړي، نو آزادیږي. ②... غلام اوس (فوراً) آزادیږي. ③... او مال (عوض) د غلام پر ذمه قرض ګرځي (او دا صحیح قرض دی، ځکه چې غلامتوب ختم سو)، تر دې که یو څوک وغواړي چې د دغه قرض کفیل جوړ سي نو جوړېدلای سي، د دې په خلاف څوک د مالِ کتابت کفیل نه سي جوړېدلای، ځکه چې هلته رقیت او غلامتوب قائم او باقي وي (یعني د غلامتوب د بقاء سره پر مکاتب قرض (بدل کتابت) لازم وي، نو هغه صحیح قرض نه سو)، نو ځکه به په مالِ کتابت کي کفالت صحیح نه وي.

وإطلاق المال إلخ: په متن کي مال مطلق ذکر سوی دی، نو ځکه په هغه کي دا پنځه قسمه مالونه شاملیږي، که له دغه پنځو مالونو څخه مالک د هر مال په عوض کي خپل غلام آزادول وغواړي، نو غلام آزادیږي او هغه مال "جُعل" ګرځي: ① نغد مال، مثلاً دینار او درهم (افغانۍ او کلداري)، ② سامان، مثلاً سندوخ (صندوق)، کُرسۍ او داسي نور، ⑤ حیوان، که څه هم د هغه جنس معلوم نه

کړی سي، ④ کيلي شی، مثلاً غنم، ⑤ وزني شی، مثلاً اوسپنه، په کيلي او وزني شي کي جنس معلومول ضروري دي چي هغه کوم شی دی (مثلاً غنم دي يا اوسپنه ده)، لېکن د هغه صفت معلومول ضروري نه دي (چي څو کېلو غنم دي...)، ځکه چي دا لږ غوندي جهالت دی، نو د دومره جهالت باوجود معامله صحيح کيږي او غلام آزاديږي.

په کتابت او إعتاق بالمال کي فرق

قَالَ: وَلَوْعَلَّقَ عِتْقَهٗ بِأَدَاءِ الْمَالِ او که [يو مالک] د خپل غلام آزادي پر مال اداء کولو مُعلّقه کړي صَحَّ نو [هم] صحيح دي وَصَارَ مَأْذُوْنًا او هغه غلام مأذون ګرځي وَذٰلِكَ مِثْلَ أَنْ يَقُوْلَ: إِنْ أَدَّيْتَ إِلَيَّ أَلْفَ دِرْهَمٍ فَأَنْتَ حُرٌّ او د دې مثال دا دی لکه مالک چي ووايي: که ته ما ته زر درهمه را اداء کړې نو ته آزاد يې! وَمَعْنٰى قَوْلِهٖ صَحَّ أَنَّهٗ يُعْتَقُ عِنْدَ الْأَدَاءِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَصِيْرَ مُكَاتَبًا او د امام قدوري رَحِمَهُ الله د دې قول "صَحَّ" مطلب دا دی چي دا غلام د مال اداء کولو په وخت کي آزاديږي بغير له دې چي هغه مکاتب وګرځي لِأَنَّهٗ صَرِيْحٌ فِيْ تَعْلِيْقِ الْعِتْقِ بِالْأَدَاءِ ځکه چي د مالک قول صريح دی، پر "اداء" باندي د عتق په مُعلق کولو کي وَإِنْ كَانَ فِيْهِ مَعْنَى الْمُعَاوَضَةِ فِي الْإِنْتِهَاءِ که څه هم په دې کي انتهاءً د معاوضې معنىٰ [هم] سته عَلٰى مَا نُبَيِّنُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى چي وروسته به موږ انشاء الله [د دې] بيان وکړو وَإِنَّمَا صَارَ مَأْذُوْنًا لِأَنَّهٗ رَغَّبَهٗ فِي الْإِكْتِسَابِ بِطَلَبِهِ الْأَدَاءَ مِنْهُ او غلام به [په دې وجه] مأذون ګرځي ځکه چي مالک د مال اداء کولو په غوښتني سره هغه ته د ګټي [او کار وبار] کولو ترغيب ورکړی وَمُرَادُهُ التِّجَارَةُ دُوْنَ التَّكَدِّيْ او په دې سره د مالک مقصد تجارت دی، نه خيرات غوښتل فَكَانَ إِذْنًا لَهٗ دَلَالَةً نو ځکه به دا د غلام لپاره دلالتاً [د تجارت] إجازه ورکول وي.

اللغات: ﴿مَأْذُوْن﴾ د سمِع اسم مفعول دی: هغه کس چي اجازه ورکول سوې وي، (هغه غلام چي مالک د تجارت کولو اجازه ورکړې وي)، ﴿رَغَّبَهٗ﴾ د تفعيل ماضي ده: ترغيب ورکول، رغبت ورکول، پارول، ﴿إِكْتِسَاب﴾ د افتعال مصدر دی: ګټل، ﴿تَكَدِّيْ﴾ د تفعّل مصدر دی، أصلاً د فارسي لفظ دی: پر خلکو ګرځېدل، له خلکو څخه خيرات غوښتل (أحسن الهداية ج:٦، ص:٣٩).

تشريح: صورت د مسئلې ښکاره دی.

ومعنى قوله صح: په متن کي چي کوم د "صَحَّ" لفظ ذکر سو د هغه مطلب دا دی چي کله غلام زر درهمه اداء کړي، نو آزادیږي، لیکن مکاتب نه ګرځي؛ ځکه چي دلته تعلیق سوی دی (یعني مالک په خپل کلام کي د غلام عتق د مال پر اداء کولو معلق کړی دی، او غلام به هغه وخت مکاتب کېدای، کله چي د مالک دغه کلام او معامله "معاوضه" وای)، او دا جلا خبره ده چي دا کلام او معامله فقط په ابتداء کي تعلیق دی او په انتهاء کي معاوضه ده، د دې تفصیل به وروسته ذکر سي، خو اوس تاسي دلته دوه اُصوله په یاد لرئ!:

اصول: ①... په تعلیق (معلق کولو) کي مالک پر قبول (قبلولو) نه سي مجبوورول کېدای، ②... او په معاوضه کي مالک پر قبول مجبوورول کېدای سي، او دا خبره هم په یاد لرئ! چي که آزادي د مال پر اداء کولو معلقه کړی سي نو هغه په شروع کي تعلیق ده، لیکن په انتهاء کي معاوضه ده (یعني پر مال د عتق د معلق کولو معامله ابتداءً تعلیق ده او انتهاءً معاوضه ده). نو ځکه په راتلونکي عبارت کي به ستاسو مخته ذکر سي چي کله غلام مال حاضر کړي نو مالک به د هغه پر قبلولو مجبوورول کیږي (ځکه چي دا معامله په انتهاء کي معاوضه ده، او په معاوضه کي څوک پر قبول مجبوورول کېدای سي، یعني په معاوضه کي څوک پر قبول مجبوره کول صحیح دي).

وانما صار مأذونا الخ: د دې حاصل دا دی چي که څه هم دلته د مالک له طرفه غلام ته صراحتاً د تجارت او کاروبار کولو اجازه نه ده ورکول سوې، لیکن دلالتاً هغه ته د دې اجازه ورکول سوې ده. ځکه چي دلته مالک د مال پر شرط غلام آزاد کړی دی (چي ته به ما ته مال را وړې)، او په دې سره د مالک مقصد دا دی چي ته کسب او تجارت وکړه! او دا یې مقصد نه دی چي ته پر خلکو وګرځېږه! او له خلکو څخه خیرات وغواړه!، نو دا به دلالتاً د تجارت اجازه وي.

کله چي غلام مشروط مال حاضر کړي (حکم او اختلاف)

وَإِنْ أَحْضَرَ الْمَالَ او که چیري غلام [مشروط] مال حاضر کړي [یعني کله چي غلام هغه مال مالک ته راوړي کوم چي مالک د هغه د آزادۍ لپاره شرط کړی وي نو مالک ته پکار دي چي خپله وعده پوره کړي، مال ځني واخلي او غلام آزاد کړي، لیکن که هغه د خپلي وعدې او شرط مخالفت وکړي] **أَجْبَرَهُ الْحَاكِمُ عَلَى قَبْضِهِ** نو حاکم دي مالک د مال پر اخیستلو هغه مجبور کړي [ځکه چي د مالک او غلام تر مینځه دا معامله که څه هم ابتداءً تعلیق ده، لیکن انتهاءً معاوضه ده، او په معاوضه کي څوک پر قبول او اخیستلو مجبوورول کېدای سي] **وَعَتَقَ الْعَبْدُ** او غلام آزادیږي **وَمَعْنَى الْإِجْبَارِ فِيهِ وَفِي سَائِرِ الْحُقُوقِ أَنَّهُ يُنَزَّلُ قَابِضًا بِالتَّخْلِيَةِ** او په دې کي او په ټولو حقوقو کي د مجبوره کولو مطلب دا دی چي په تخلیه کولو سره [یعني فقط په مال حاضرولو

سره] به مالک قبضه کونکی [د مال اخیستونکی] شمارل کیږي قَالَ زُفَرُ: لَا يُجْبَرُ عَلَى الْقَبُولِ امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي مالک به د مال پر قبلولو [اخیستلو] نه مجبورول کیږي وَهُوَ الْقِيَاسُ او همدا قیاس دی لِأَنَّهُ تَصَرُّفُ يَمِينٍ ځکه دا د قسم [شرط] تصرّف دی إِذْ هُوَ تَعْلِيقُ الْعِتْقِ بِالشَّرْطِ لَفْظًا ځکه چي دا د لفظ په اعتبار سره عتق پر شرط مُعلق کول دي وَلِهٰذَا لَا يَتَوَقَّفُ عَلَى قَبُولِ الْعَبْدِ همدا وجه ده چي دا تصرف د غلام پر قبلولو نه موقوف کیږي وَلَا يَحْتَمِلُ الْفَسْخَ او نه د فسخ کېدلو احتمال لري وَلَا جَبْرَ عَلَى مُبَاشَرَةِ شُرُوطِ الْأَيْمَانِ او د قسم د شرط پر کولو څوک مجبورول کېدای نه سي لِأَنَّهُ لَا اسْتِحْقَاقَ قَبْلَ وُجُودِ الشَّرْطِ ځکه چي د شرط تر وجود مخکي دا استحقاق نه ثابتيږي

[وقال زفر...الخ]: د دې ټوله عبارت حاصل دا دی چي دلته (د مالک په کلام کي) د تعلیق معنیٰ اصل ده، او په تعلیق کي څوک پر قبول او اخیستلو نه سي مجبورول کېدای، نو ځکه به دلته مالک د مال پر اخیستلو نه مجبورول کیږي. ولا جبر على مباشرة: د دې مطلب دا دی چي په تعلیق کي د مشروط کار پر کولو څوک نه سي مجبورول کېدای، ځکه چي د شرط تر وجود مخکي شرط لګونکي د دې مستحق نه دی چي هغه د شرط پر کولو (يعني د مشروط کار پر کولو) مجبوره کړل سي] بِخِلَافِ الْكِتَابَةِ په خلاف د عقد کتابت لِأَنَّهُ مُعَاوَضَةٌ وَالْبَدَلُ فِيهَا وَاجِبٌ ځکه چي عقد کتابت معاوضه ده او په هغه کي بدل واجب دی وَلَنَا:... زموږ دليل او پاته عبارت به لاندي تشريح کړل سي.

اللغات: ﴿مُبَاشَرَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: په خپله کار کول.

وَلَنَا: أَنَّهُ تَعْلِيقٌ نَظَرًا إِلَى اللَّفْظِ زموږ دليل دا دی: چي د لفظ وطرف ته په نظر کولو سره دا کلام تعليق دی وَمُعَاوَضَةٌ نَظَرًا إِلَى الْمَقْصُودِ او مقصود ته په نظر کولو سره معاوضه ده لِأَنَّهُ مَا عَلَّقَ عِتْقَهُ بِالْأَدَاءِ إِلَّا لِيَحُثَّهُ عَلَى دَفْعِ الْمَالِ ځکه چي مالک په همدې وجه د غلام آزادي د مال پر اداء کولو مُعلقه کړې ده چي غلام د مال پر ورکولو آماده کړي فَيَنَالَ الْعَبْدُ شَرَفَ الْحُرِّيَّةِ نو غلام به د آزادۍ شرف [او درجه] حاصله کړي وَالْمَوْلَى الْمَالَ بِمُقَابَلَتِهِ او مالک به د هغه په مقابله کي مال حاصل کړي بِمَنْزِلَةِ الْكِتَابَةِ لکه په عقد کتابت کي [چي داسي کیږي] وَلِهٰذَا كَانَ عِوَضًا فِي الطَّلَاقِ فِي مِثْلِ هٰذَا اللَّفْظِ او له همدې وجهي د داسي لفظ په ذريعه په طلاق ورکولو سره مال په طلاق کي

عوض ګرځي حَتّٰى كَانَ بَائِنًا تر دې چې [په دې سبب] په داسي لفظ سره واقع كېدونكي اطلاق به "بائن" وي وَجَعَلْنَاهُ تَعْلِيقًا فِي الِابْتِدَاءِ نو ځکه موږ د مالک قول [كلام] په شروع كي تعليق وګرځوی عَمَلًا بِاللَّفْظِ وَدَفْعًا لِلضَّرَرِ عَنِ الْمَوْلٰى د دې لپاره چې پر لفظ عمل وسي او له مالک څخه ضرر ليري سي حَتّٰى لَا يَمْتَنِعَ عَلَيْهِ بَيْعُهُ همدا وجه ده چې پر مالک د دغه غلام خرڅول ممنوع نه دي وَلَا يَكُونُ الْعَبْدُ أَحَقَّ بِمَكَاسِبِهِ او غلام په خپلو ګټو [او كسبونو] كي خود مختاره [هم] نه دی وَلَا يَسْرِي إِلَى الْوَلَدِ الْمَوْلُودِ قَبْلَ الْأَدَاءِ او د مال تر اداء كولو مخكي د پيدا سوي بچي وطرف ته آزادي سرايت [هم] نه كوي وَجَعَلْنَاهُ مُعَاوَضَةً فِي الِانْتِهَاءِ عِنْدَ الْأَدَاءِ او موږ [د مالک قول] انتهاءً د مال اداء كولو په وخت كي معاوضه وګرځوی دَفْعًا لِلْغُرُورِ عَنِ الْعَبْدِ د دې لپاره چې له غلام څخه دوكه [فريب] ليري كړی سي حَتّٰى يُجْبَرَ الْمَوْلٰى عَلَى الْقَبُولِ تر دې چې مالک د مال پر قبلولو مجبور كړی سي فَعَلٰى هٰذَا يَدُورُ الْفِقْهُ او پر همدغه [يعني د لفظ په دوارو اعتبارونو په عمل كولو كي] د فقهي دار ومدار دی وَتَخْرُجُ الْمَسَائِلُ او [پر همدغه] د پر مسائل راوځي نَظِيرُهُ الْهِبَةُ بِشَرْطِ الْعِوَضِ او د دې مثال د عوض پر شرط هبه وركول دي.

اللغات: ﴿يَحُثُّ﴾ د نصر مضارع ده: رغبت وركول، پارول، ﴿يَنَالُ﴾ د فتح مضارع ده: حاصلول، ترلاسه كول، ﴿يَدُورُ﴾ د نصر مضارع ده: ګرځېدل، مدار كېدل، ﴿حَطَّ﴾ د نصر ماضي ده: كمول، ساقطول.

تشريح: زموږ د دليل حاصل دا دی چې د لفظ په اعتبار سره د مالک كلام (او دغه معامله) تعليق دی او د انتهاء او مقصد په اعتبار سره معاوضه ده، وروسته مصنف د دې كلام د معلق كېدلو په هكله څلور خبري ذكر كړي دي: ①... دا كلام تعليق (معلق كېدل) ځكه دی چې مالک په دې وجه آزادي د مال پر اداء كولو معلقه كړې ده چې غلام پر كار او كسب را وپاروي، او هغه ته د آزادۍ شرف حاصل سي او مالک ته د هغه په مقابله كي مال حاصل سي، ②... او مالک د دې كلام د معلق كېدلو په وجه د مال تر اداء كولو مخكي غلام خرڅولای سي، ③... غلام ته په خپل ګټل سوي مال كي پوره اختيار نسته، ④... تر اداء كولو مخكي چې د غلام كوم بچی پيدا سي په هغه كي آزادي سرايت نه كوي (ځكه چې د مال تر اداء كولو مخكي په غلام كي آزادي راغلې نه ده). (لَا يَكُونُ الْعَبْدُ أَحَقَّ

يادښت: د دې مطلب دا دی چې د مال تر اداء کولو مخکې په غلام کې آزادي راغلې نه ده، نو ځکه به غلام د خپل ګټل سوي مال مالک نه وي).

وجعلناه معاوضة إلخ: کله چې غلام مال اداء کړي، نو په هغه وخت کې به دا معامله د انتهاء په اعتبار سره مغاوضه ګرځول کيږي او مالک به د مال پر اخيستلو مجبورول کيږي، پر دغه دو طرفه اعتبار کولو باندې ډېرې مسئلې متفرع دي، د هغه مثال "هبه بشرط العوض" ده، يعني که يو څوک بل چا ته د عوض او مال پر شرط يو شی هبه کړي، بيا موهوب لهٗ د واهب مخته هغه مال حاضر کړي، نو واهب به د مال پر اخيستلو مجبورول کيږي، ځکه چې "هبه بشرط العوض" ابتداءً هبه ده، او انتهاءً معاوضه ده.

وَلَوْ أَدَّى الْبَعْضَ يُجْبَرُ عَلَى الْقَبُولِ او که غلام څه مال اداء کړي [او د مالک مخته يې حاضر کړي] نو [هم] به مالک د هغه پر قبلولو [اخيستلو] مجبورول کيږي [ځکه چې دا هم انتهاءً معاوضه ده] إِلَّا أَنَّهُ لَا يَعْتِقُ مَا لَمْ يُؤَدِّ الْكُلَّ لېکن تر څو چې غلام ټوله مال اداء کړی نه وي تر هغه وخته پوري غلام نه آزاديږي لِعَدَمِ الشَّرْطِ ځکه چې شرط معدوم دی [يعني شرط د ټوله مال اداء کول دي، نو غلام هغه وخت آزاديږي کله چې غلام ټوله شرط پوره کړي] كَمَا إِذَا حَطَّ الْبَعْضَ وَأَدَّى الْبَاقِيَ لکه [په هغه وخت کې چې هم غلام نه آزاديږي] کله چې مالک له ټوله مال څخه څه مال کم کړي او غلام باقي مال اداء کړي [مثلاً له زرو درهمو څخه مالک درې سوه درهم معاف کړي او پاته دراهم غلام اداء کړي، نو په دې صورت کې هم د پاته دراهمو له اداء کولو څخه مخکې غلام نه آزاديږي، ځکه چې شرط يعني "اداء الألف" معدوم دي، همدارنګه په پورتني صورت کې هم د کُل اداء کول معدوم دي، نو ځکه به غلام نه آزاديږي] ثُمَّ لَوْ أَدَّى أَلْفًا اكْتَسَبَهَا قَبْلَ التَّعْلِيقِ بيا که چيرې غلام داسې زر دراهم اداء کړي کوم چې يې تر تعليق مخکې ګټلي وي رَجَعَ الْمَوْلَى عَلَيْهِ وَعَتَقَ نو مالک پر هغه رجوع کولای سي [يعني دويم ځل زر درهمه نور ځني اخيستلای سي] او غلام آزاديږي لِاسْتِحْقَاقِهَا ځکه چې مالک [تر تعليق مخکې] د دې زرو درهمو مستحق وو وَلَوْ كَانَ اكْتَسَبَهَا بَعْدَهُ لَمْ يَرْجِعْ عَلَيْهِ او که غلام تر تعليق وروسته دغه دراهم ګټلي وي نو مالک پر هغه رجوع نه سي کولای [حاصل يې دا دی چې که د مالک تر معلق کولو مخکې غلام زر درهمه جمع کړي وي، او هغه دراهم مالک ته ورکړي، نو غلام خو آزاديږي، لېکن څرنګه چې تر معلق کولو مخکې دا زر دراهم د مالک دي (ځکه چې د غلام هر شی د مالک وي)، نو ځکه به مالک له غلام څخه زر درهمه نور اخلي، او که تر معلق کولو وروسته غلام زر درهمه

کټلي وي نو هغه د مالک نه دي، ځکه چي دا غلام مأذون دی يعني د مالک له طرفه د کسب کولو او مال ګټلو اجازه ورکول سوې ده، نو ځکه به مالک هغه وروسته ګټل سوي دراهم نه سي څني اخيستلای] لِأَنَّهُ مَأْذُونٌ مِنْ جِهَتِهِ بِالْأَدَاءِ مِنْهُ ځکه چي غلام ته د مالک لخوا اجازه ورکول سوې ده. د مالک له طرفه د اداء کولو [د شرط لګولو] په وجه [يعني د مالک له طرفه پر غلام د عوض اداء کول شرط سوي دي. نو دا ګواکي د مالک لخوا غلام ته د مال ګټلو او کسب کولو اجازه ورکول دي] ثُمَّ الْأَدَاءُ فِي قَوْلِهِ إِنْ أَدَّيْتَ يَقْتَصِرُ عَلَى الْمَجْلِسِ بيا د مالک په دې قول "إِنْ أَدَّيْتَ" کي به اداء کول پر مجلس منحصر وي لِأَنَّهُ تَخْيِيرٌ ځکه چي دا د تخيير صورت دی [يعني که مالک غلام ته داسي ووايي: إِنْ أَدَّيْتَ إِلَيَّ أَلْف... نو په دې صورت کي هغه وخت غلام آزاديږي کله چي غلام په هغه مجلس کي مال اداء کړي، کنې نه آزاديږي، ځکه چي "إِنْ" د تخيير لپاره استعماليږي، او په تخيير کي مال اداء کول د مجلس سره خاص وي] وَفِي قَوْلِهِ إِذَا أَدَّيْتَ لَا يَقْتَصِرُ او د مالک په دې قول "إِذَا أَدَّيْتَ" کي اداء کول پر مجلس نه منحصر کيږي [بلکي هر کله چي هم غلام مال اداء کړي نو آزاديږي، هغه که په مجلس کي دننه وي، يا تر مجلس وروسته وي] لِأَنَّ إِذَا تُسْتَعْمَلُ لِلْوَقْتِ بِمَنْزِلَةِ مَتَى ځکه چي "إِذَا" د "مَتَى" په څير د وخت لپاره استعماليږي [نو د مالک د دې قول "إذا أديت..." معنیٰ به دا وي: په کوم وخت کي چي ته مال اداء کړې په هغه وخت کي ته آزاد يې!. لهذا په کوم وخت کي چي هم غلام مال اداء کړي نو غلام به آزاديږي، هغه که هر څومره تر مجلس وروسته وي].

اللغات: ﴿تَخْيِيْر﴾ د تفعيل مصدر دی: اختيار ورکول.

تشريح: عبارت او دلائل په ترجمه کي تشريح سول.

"عتق بالمال" پر مرګ معلق کول

وَمَنْ قَالَ لِعَبْدِهِ: أَنْتَ حُرٌّ بَعْدَ مَوْتِي عَلَى أَلْفِ دِرْهَمٍ او څوک چي خپل غلام ته ووايي: ته زما تر مرګ وروسته د زرو درهمو په عوض کي آزاد يې! فَالْقَبُولُ بَعْدَ الْمَوْتِ نو قبول به تر مرګ وروسته وي [يعني غلام دا إيجاب او معامله اوس نه سي قبلولای، بلکي د مالک تر مرګ وروسته يې قبلولای سي، لهذا د مالک تر مرګ وروسته چي کله غلام وارثانو ته زر درهمه ورکړي نو بيا آزاديږي] لِإِضَافَةِ الْإِيجَابِ إِلَى مَا بَعْدَ الْمَوْتِ ځکه چي [د عتق] إيجاب تر مرګ وروسته وخت ته منسوب دی فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: أَنْتَ حُرٌّ غَدًا بِأَلْفِ دِرْهَمٍ نو داسي سو لکه مالک چي ووايي: ته سبا د زرو درهمو په عوض کي آزاد يې انو په دې

صورت کې غلام فقط سبا دغه إیجاب قبلولای سي! بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: أَنْتَ مُدَبَّرٌ عَلَى أَلْفِ دِرْهَمٍ په خلاف د هغه صورت کله چې مالک [خپل غلام ته] ووايي: ته د زرو درهمو په عوض کې ملبر يې! حَيْثُ يَكُونُ الْقَبُولُ إِلَيْهِ فِي الْحَالِ نو د غلام لپاره به فی الحاله قبلول صحيح وي [يعني په دې صورت کې غلام ته دا حق سته چې فی الحاله (فوراً) هغه قبول کړي] لِأَنَّ إِيجَابَ التَّدْبِيرِ فِي الْحَالِ ځکه چې د مدبر جوړولو إيجاب [او جبول] فی الحاله دی [يعني مالک په خپل ژوند کې غلام مدبر جوړولای سي، نو ځکه به هغه ته فی الحاله د قبول کولو حق وي، خو څرنګه چې له تدبير څخه وروسته غلام په پوره توګه نه آزاديږي، بلکې په هغه کې غلامتوب پاتې کيږي، نو په دې وجه به مال نه پر واجبيږي] إِلَّا أَنَّهُ لَا يَجِبُ الْمَالُ لِقِيَامِ الرِّقِّ خو د رقيت [غلامتوب] د پاتېدلو په وجه به [پر هغه] مال نه واجبيږي قَالُوا: لَا يَعْتِقُ عَلَيْهِ فِي مَسْأَلَةِ الْكِتَابِ وَإِنْ قَبِلَ بَعْدَ الْمَوْتِ فقهاؤ فرمايلي دي: چې د متن په مسئله کې غلام نه آزاديږي که څه هم [د مالک] تر مرګ وروسته غلام [هغه إيجاب] قبول کړي مَا لَمْ يُعْتِقْهُ الْوَارِثُ تر څو چې وارث هغه آزاد نه کړي [يعني تر هغه وخته پورې نه آزاديږي تر څو چې يې وارث آزاد نه کړي] لِأَنَّ الْمَيِّتَ لَيْسَ بِأَهْلٍ لِلْإِعْتَاقِ ځکه چې مړی د آزادولو أهل نه دی [يعني مالک تر مرګ وروسته د آزادولو أهل نه وي، نو ځکه به د وارث په آزادولو سره غلام آزاديږي] وَهَذَا صَحِيحٌ او همدا صحيح [قول] دی.

اللغات: ﴿غَدًا﴾ سبا ورځ، ﴿رِقٌ﴾ غلامي، غلامتوب.

تشريح: مسئله په عبارت کې تشريح سوه.

د خدمت پر شرط آزادول

قَالَ: وَمَنْ أَعْتَقَ عَبْدَهُ عَلَى خِدْمَتِهِ أَرْبَعَ سِنِينَ فرمايي: که چيري يو څوک خپل غلام د څلورو کالو پر خدمت آزاد کړي [يعني خپل غلام ته ووايي: ته به څلور کاله زما خدمت کوې، بيا آزاد يې] فَقَبِلَ الْعَبْدُ او غلام [هغه] قبول کړي عَتَقَ لو غلام آزاديږي ثُمَّ مَاتَ مِنْ سَاعَتِهِ بيا [که] غلام په هغه کړي [يعني تر خدمت شروع کولو مخکې] مړ سي فَعَلَيْهِ قِيمَةُ نَفْسِهِ فِي مَالِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به پر غلام په خپل مال کې د خپل نفس قيمت واجب وي [يعني مالک به تر مرګ وروسته د غلام قيمت د غلام له مال څخه اخلي] وَقَالَ مُحَمَّدٌ ✽: عَلَيْهِ قِيمَةُ خِدْمَتِهِ أَرْبَعَ سِنِينَ او امام محمد رَحِمَهُ الله

✽ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: وعند محمد تجب قيمة خدمته، وبه نأخذ (رد المحتار ج:٣، ص:٣٢). [القول الراجح ج:١، ص: ٢٠٦]

فرمايي: چي پر هغه به د څلورو کالو د خدمت قيمت واجب وي أَمَّا الْعِتْقُ فَلِأَنَّهُ جَعَلَ الْخِدْمَةَ فِي مُدَّةٍ مَعْلُومَةٍ عِوَضًا کوم چي [د غلام] آزادېدل دي نو ځکه چي مالک تر معلوم مودت پوري خدمت کول [د آزادېدلو] عوض ګرځولی دی فَيَتَعَلَّقُ الْعِتْقُ بِالْقَبُولِ نو ځکه به آزادي [د غلام] د قبول کولو سره متعلقه وي وَقَدْ وُجِدَ او [د غلام] قبول موجود سو وَلَزِمَتْهُ خِدْمَةُ أَرْبَعِ سِنِينَ نو [په دې وجه] پر غلام د څلورو کالو خدمت لازم سو لِأَنَّهُ يَصْلُحُ عِوَضًا ځکه چي خدمت د عوض جوړېدلو صلاحيت لري [يعني خدمت عوض جوړېدای سي] فَصَارَ كَمَا إِذَا أَعْتَقَهُ عَلَى أَلْفِ دِرْهَمٍ ثُمَّ مَاتَ الْعَبْدُ نو داسي سو لکه مالک چي غلام د زرو درهمو په عوض کي آزاد کړی وي [او] بيا [تر قبول کولو وروسته] غلام مړ سوی وي فَالْخِلَافِيَّةُ فِيهِ بِنَاءٌ عَلَى خِلَافِيَّةٍ أُخْرَى او په دې مسئله کي چي کوم اختلاف دی هغه پر بلې اختلافي مسئلې مبني دی وَهِيَ: أَنَّ مَنْ بَاعَ نَفْسَ الْعَبْدِ مِنْهُ بِجَارِيَةٍ بِعَيْنِهَا او هغه مسئله دا ده: چي که يو څوک د خپل غلام ذات د هغه په لاس د يوې معلومي مينځې په عوض کي خرڅ کړي [مثلاً غلام ته ووايي چي د دغه مينځې په عوض کي خپل ځان خرڅ کړه!، او غلام دا قبول کړي] ثُمَّ اسْتُحِقَّتِ الْجَارِيَةُ أَوْ هَلَكَتْ بيا مينځه [د بل چا] مستحق سي يا هلاکه سي [يعني وروسته معلومه سي چي دا مينځه د بل چا ده، يا دا مينځه هلاکه سي] يَرْجِعُ الْمَوْلَى عَلَى الْعَبْدِ بِقِيمَةِ نَفْسِهِ عِنْدَهُمَا نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به مالک پر غلام د هغه د نفس په قيمت سره رجوع کوي [يعني مالک به له غلام څخه د هغه د نفس قيمت اخلي] وَبِقِيمَةِ الْجَارِيَةِ عِنْدَهُ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به [مالک] د مينځې په قيمت سره رجوع کوي وَهِيَ مَعْرُوفَةٌ او دا يوه معلومه مسئله ده وَوَجْهُ الْبِنَاءِ أَنَّهُ كَمَا يَتَعَذَّرُ تَسْلِيمُ الْجَارِيَةِ بِالْهَلَاكِ وَالِاسْتِحْقَاقِ يَتَعَذَّرُ الْوُصُولُ إِلَى الْخِدْمَةِ بِمَوْتِ الْعَبْدِ وَكَذَا بِمَوْتِ الْمَوْلَى او [پر اختلافي مسئله باندي] د مبني کېدلو وجه دا ده چي څرنګه د مينځې د هلاکېدلو يا [د بل چا] د مستحقه کېدلو په وجه [د مينځې] ورسپارل ناممکن دي، همداسي د غلام يا د مالک د مرګ په وجه خدمت حاصلول ناممکن دي فَصَارَ نَظِيرَهَا نو ځکه دا [پورتنی] صورت د دغه اختلافي مسئلې مثال وګرځېدی [يعني نو ځکه پورتنی مسئله د دغه اختلافي مسئلې په څير سوه او پر دې مبني سوه].

اللغات: ﴿خِلَافِيَّة﴾ اختلافي معامله، اختلافي مسئله (په کومه مسئله کي چي اختلاف وي)، ﴿بِعَيْنِهَا﴾ خاص هغه، په مُعينه توګه، ﴿يَتَعَذَّر﴾ د تفعّل مضارع ده: ناممکن کېدل، ستونزمن کېدل، ﴿نَظِير﴾ مثال، مشابه.

تشريح: د عبارت له وضاحت څخه مخکي د غلام د خدمت په هکله د شيخينو او د امام محمد په أصولو ځان پوه کړئ! د شيخينو أصول دا دی چي خدمت د غلام د ذات قيمت دی، نو کله چي غلام خدمت نه وکړای سي (يعني له خدمت کولو څخه عاجزه سي، يا مړ سي)، نو د غلام د ذات چي څومره قيمت وي هغه به د غلام له مال څخه اخيستل کيږي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله أصول دا دی چي دلته خدمت اصل ګرځېدلی دی، نو که غلام خدمت نه وکړای سي نو د خدمت قيمت به د هغه له مال څخه اخيستل کيږي.

صورت د مسئلې: دا دی که مالک د څلورو کالو د خدمت په عوض کي خپل غلام آزاد کړي او غلام هغه قبول کړي، نو غلام آزاديږي، او که غلام تر خدمت کولو مخکي مړ سي، نو شيخين فرمايي چي د غلام چي څومره قيمت وي هغه به د غلام له مال څخه اخيستل کيږي، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي د څلورو کالو د خدمت چي څومره قيمت وي هغه به د غلام له مال څخه اخيستل کيږي.

أما العتق إلخ: له دې ځای څخه د غلام د آزادېدلو وجه بيانوي، فرمايي چي د معلوم مودت خدمت د دې صلاحيت لري چي عوض وګرځولسي او په عوض کي وټاکل سي، او لکه څرنګه چي مالک د زرو درهمو په عوض کي غلام آزاد کړي او غلام هغه قبول کړي، نو غلام آزاديږي، همداسي که مالک د يو معلوم مودت د خدمت په عوض کي آزاد کړي او غلام هغه قبول کړي، نو هم به غلام آزاديږي.

فالخلافية إلخ: فرمايي چي د متن مسئله پر يوې بلې اختلافي مسئلې مبني ده، مسئله دا ده چي که مالک خپل غلام د هغه په لاس د يوې مينځي په عوض کي خرڅ کړي، لېکن وروسته معلومه سي چي د مينځه د بل چا ده، يا مينځه هلاکه سي او د غلام لپاره د مينځي ورسپارل ناممکن سي، نو په دې مسئله کي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د غلام قيمت واجبيږي (يعني د غلام چي څومره قيمت وي هغه به مالک له غلام څخه اخلي)، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د مينځي قيمت واجبيږي، ځکه چي مينځه أصل وګرځېده، د متن مسئله پر همدغه مسئلې مبني ده او پر همدغه مسئلې قياس کړی سوې ده، او د مبني کېدلو وجه په عبارت کي ذکر سوه، صاحب د هدايې فرمايي چي دا يوه معلومه مسئله ده، او په دې کي چي کوم اختلاف دی هغه هم معلوم او مشهور دی.

د يو بل چا مملوک د مال په بدله کي آزادول

وَمَنْ قَالَ لِآخَرَ: أَعْتِقْ أَمَتَكَ عَلَى أَلْفِ دِرْهَمٍ عَلَيَّ عَلَى أَنْ تُزَوِّجَنِيهَا او که يو څوک بل چا ته ووايي: ته د زرو درهمو په عوض کي خپله مينځه آزاده کړه! [چي هغه زر درهمه به] پر ما الازم وي] په دې شرط چي ته به زما سره د هغه مينځي نکاح تړې [يعني په دې شرط چي هغه مينځه به ما ته په نکاح کي راکوې]

فَفَعَلَ او هغه همداسي وکړي فَأَبَتْ أَنْ تَتَزَوَّجَهُ [ليکن] مينځې د دغه سړي سره له نکاح کولو څخه انکار وکړي فَالْعِتْقُ جَائِزٌ نو ادا [آزادېدل] جائز دي وَلَاشَيْءَ عَلَى الْآمِرِ او پر حکم کونکي به هيڅ مال لازم نه وي لِأَنَّ مَنْ قَالَ لِغَيْرِهِ: أَعْتِقْ عَبْدَكَ عَلَى أَلْفِ دِرْهَمٍ عَلَيَّ ځکه که يو څوک بل چا ته ووايي: ته د زرو درهمو په عوض کې خپل غلام آزاد کړه! [چې هغه زر درهمه به] پر ما [لازم وي]. فَفَعَلَ او هغه [مأمور] همداسي وکړي لَا يَلْزَمُهُ شَيْءٌ نو پر دغه [آمر] سړي هيڅ مال نه لازميږي وَيَقَعُ الْعِتْقُ عَلَى الْمَأْمُورِ او آزادي د مأمور له طرفه واقع کيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ لِغَيْرِهِ: طَلِّقِ امْرَأَتَكَ عَلَى أَلْفِ دِرْهَمٍ عَلَيَّ په خلاف د هغه صورت کله چې [يو څوک] بل چا ته ووايي: ته خپلې ښځې ته د زرو درهمو په عوض کې طلاق ورکړه! [چې هغه به] پر ما [لازم وي]. فَفَعَلَ او هغه [مأمور] همداسي وکړي حَيْثُ يَجِبُ الْأَلْفُ عَلَى الْآمِرِ نو [په دې صورت کې] پر آمر زر درهمه واجبيږي لِأَنَّ اشْتِرَاطَ الْبَدَلِ عَلَى الْأَجْنَبِيِّ فِي الطَّلَاقِ جَائِزٌ ځکه چې په طلاق کې پر أجنبي سړي د عوض شرط لګول جائز دي وَفِي الْعَتَاقِ لَا يَجُوزُ او په عتاق [آزادۍ] کې جائز نه دي وَقَدْ قَرَّرْنَاهُ مِنْ قَبْلُ او موږ مخکې [په باب الخلع کې] دا مسئله بيان کړې ده.

اللغات: ﴿تُزَوِّجَنِيهَا﴾ د تفعيل مضارع ده، زَوَّجَ يُزَوِّجُ تَزْوِيجًا: نکاح تړل، بل چا ته نکاح ورکول، واده ورکول. ﴿أَجْنَبِيّ﴾ پردی سړی، غير قريب (هغه کس چې د چا هيڅ نه کيږي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که زيد خالد ته ووايي: أَعْتِقْ أَمَتَكَ عَلَى أَلْفِ دِرْهَمٍ عَلَيَّ عَلَى أَنْ تُزَوِّجَنِيهَا (يعني ته د زرو درهمو په عوض کې خپله مينځه آزاده کړه!، او هغه زر درهمه زما پر ذمه دي، خو زما له طرفه شرط دا دی چې د مينځې سره به زما نکاح تړې، يعني د مينځې سره به زما واده کوې، بل هيڅ شی نه غواړم!). نو خالد همداسي وکړي، خو مينځه انکار وکړي چې زه د زيد سره نکاح نه کوم، نو مينځه د خالد (مأمور) له طرفه آزاديږي او پر زيد (آمر) هيڅ شی نه لازميږي، لکه څرنګه چې په هغه صورت کې هم پر آمر هيڅ شی نه لازميږي، کله چې هغه بل چا ته ووايي: أَعْتِقْ عَبْدَكَ عَلَى أَلْفِ دِرْهَمٍ عَلَيَّ. او مأمور هغه آزاد کړي نو پر آمر هيڅ شی نه لازميږي، همداسي به دلته هم پر هغه هيڅ شی نه لازميږي، د دې وجه دا ده چې خپل ملکيت د بل چا د مال په عوض کې مشروط کول صحيح نه دي (مطلب دا چې پر بل چا د خپل إعتاق [آزادولو] عوض لازمول صحيح نه دي، همدا أصول قاعده ده). نو ځکه به پر آمر (زيد) هيڅ نه لازميږي او مينځه به آزاديږي، په خلاف د هغه

صورت کله چي مثلاً زيد خالد ته ووايي: طَلِّقْ أَمْرَأَتَكَ عَلَى أَلْفِ دِرْهَمٍ عَلَيَّ. او خالد خپله ښځه طلاقه کړي، نو په دې صورت کي پر آمر (زيد) زر درهمه لازم دي، ځکه چي په طلاق کي پر أجنبي سړي د عوض شرط لګول جائز دي (لکه په خلع کي چي هم جائز دي)، لېکن په إعتاق کي داسي شرط لګول جائز نه دي، په دواړو صورتونو کي همدغه فرق دی.

د پورتني مسئلې يو بل صورت

وَلَوْقَالَ: أَعْتِقْ أَمَتَكَ عَنِّيْ عَلَى أَلْفِ دِرْهَمٍ او که [يو څوک بل چا ته] ووايي: ته زما له طرفه د زرو درهمو په عوض کي خپله مينځه آزاده کړه! وَالْمَسْأَلَةُ بِحَالِهَا او مسئله پر خپل حال وي [يعني مسئله د مخکني حالت په څېر وي، يعني آمر دا شرط ولګوي: چي ته به زما سره د هغه مينځي نکاح تړې، لېکن مينځه د هغه له نکاح څخه انکار وکړي] قُسِمَتِ الْأَلْفُ عَلَى قِيمَتِهَا وَمَهْرِمِثْلِهَا نو دا زر درهمه به د هغې مينځي پر قيمت او د هغې پر مهرِ مثل تقسيميږي فَمَا أَصَابَ الْقِيمَةَ أَدَّاهُ الْآمِرُ نو کوم [مقدار] چي د قيمت مقابل سي هغه به آمر اداء کوي [يعني کوم مقدار چي د مينځي قيمت وي هغه به پر آمر لازم وي] وَمَا أَصَابَ الْمَهْرَبَطَلَ عَنْهُ او کوم مقدار چي د مهرِ مثل مقابل وي هغه به له آمر څخه ساقطيږي لِأَنَّهُ لَمَّا قَالَ: عَنِّيْ ځکه کله چي آمر "عَنِّيْ" [زما له طرفه] ووېل تَضَمَّنَ الشِّرَاءُ اقْتِضَاءً نو دا قول اقتضاءً رانيولو ته شامل سو عَلَى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چي دا پېژندل سوې ده [يا لکه څرنګه چي دا معلومه ده] وَإِذَا كَانَ كَذٰلِكَ فَقَدْ قَابَلَ الْأَلْفَ بِالرَّقَبَةِ شِرَاءً وَبِالْبُضْعِ نِكَاحًا لهذا کله چي داسي ده نو آمر زر درهمه د غلام د رقبې سره او د بضع د نکاح سره مقابل وګرځول فَانْقَسَمَ عَلَيْهِمَا نو ځکه به زر درهمه پر رقبې او بضع [دواړو] تقسيميږي وَوَجَبَتْ حِصَّةُ مَا سُلِّمَ لَهُ وَهُوَ الرَّقَبَةُ او آمر ته چي کوم شی سپارل سوی وي يعني رقبه [پر آمر به] د هغه د حصې [په اندازه دراهم] واجبيږي وَبَطَلَ عَنْهُ مَا لَمْ يُسَلَّمْ وَهُوَ الْبُضْعُ او کوم شی چي هغه ته سپارل سوی نه وي يعني بضع د هغه [دراهم] به له آمر څخه ساقطيږي فَلَوْزَوَّجَتْ نَفْسَهَا مِنْهُ او که چيري دا مينځه د آمر سره خپله نکاح وکړي لَمْ يَذْكُرْهُ نو دا [مسئله] امام محمد رَحِمَهُ اللهُ نه ده ذکر کړې [او موږ به يې ستاسو د خبرتيا لپاره ذکر کړو] وَجَوَابُهُ: أَنَّ مَا أَصَابَ قِيمَتَهَا سَقَطَ فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ [نو] د دې حکم دا دی: چي اله زرو درهمو څخه چي] کوم [مقدار] د مينځي د قيمت په مقابله کي وي هغه به په اول صورت کي ساقطيږي وَهِيَ لِلْمَوْلٰى فِي الْوَجْهِ الثَّانِي او په دويم صورت

کي به هغه د مالک لپاره وي وَمَا أَصَابَ مَهْرَ مِثْلِهَا كَانَ مَهْرًا لَهَا فِي الْوَجْهَيْنِ او کوم مقدار چې د مينځې د مهر مثل په مقابله کي راسي، هغه به په دواړو صورتونو کي د هغې لپاره مهر وي اَاو هغې ته به ورکول کيږي!.

اللغات: ﴿تَضَمَّنَ﴾ د تفعّل ماضي ده: شامليدل (ضمناً شامليدل).

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله د دې عبارت په شروع کي درې خبري ذکر کړي دي: ①... يوه دا چي د مينځې په هکله "عَنِّي" ويل، ②... د مأمور (عُمر) آزادول، ③... نکاح کول (نکاح تړل). مثلاً زيد عُمر ته وواېي چي خپله مينځه زما له طرفه د زرو درهمو په عوض کي آزاده کړه! او بيا د هغې سره زما نکاح وکړه!، او عُمر همداسي وکړي، نو مينځه آزاديږي. او د مينځې قيمت مثلاً شپږ سوه درهمه دي، نو پر زيد دغه شپږ سوه درهمه لازميږي، ځکه چي دا د مينځې قيمت دی او عُمر دغه مينځه آزاده کړې ده نو ګواکي عُمر دغه مينځه زيد ته ورکړې ده. او د دې مينځې مهرِ مثل مثلاً څلور سوه درهمه دي، نو څرنګه چي دغه مينځې د زيد سره نکاح نه ده کړې، نو ځکه به دا څلور سوه درهم پر زيد نه لازميږي.

فلوزوّجت نفسها إلخ: او که مينځه د زيد سره نکاح وکړي، نو په اول صورت کي (يعني کله چي زيد په خپل کلام کي "عَنِّي" نه وواېي) له زيد (آمر) څخه د مينځې قيمت (مثلاً شپږ سوه درهم) ساقطيږي او زيد به هغه عمر (مأمور) ته نه ورکوي. او په دويم صورت کي (يعني کله چي زيد أعتق أمتك عَنِّي إلخ وواېي) نو په دې صورت کي به زيد د مينځې قيمت (مثلاً شپږ سوه درهم) عُمر ته ورکوي. او کوم چي مهرِ مثل دی، نو هغه به زيد په دواړو صورتونو کي مينځې ته ورکوي، ځکه چي هغه په نکاح راضي سوې ده او زيد (آمر) ته يې خپله بضع سپارلې ده. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



بَابُ التَّدْبِيْر

(دا) باب د مُدبّر جوړولو (د احکامو په بيان کي) دی

تشريح: په إعتاق او تدبير دواړو کي عتق (آزادي) مقصود ده، فرق يې فقط دا دی چي په مطلق إعتاق کي د مُعْتِق (آزادونکي مالک) په ژوند کي عتق واقع کيږي او په تدبير کي د مُعْتِق تر مرګ وروسته عتق واقع کيږي، نو له همدې وجهې إعتاق مخکي بيان سو، او تدبير تر هغه وروسته بيان سوی دی، يا دا چي مطلق إعتاق د مفرد په درجه کي دی، او د تدبير إعتاق مُقيّد بالموت دی او د مرکب په درجه کي دی، او دا خو تاسي ته معلومه ده چي مفرد له مرکب څخه مخکي وي، نو په دې وجه صاحب د هدايې مفرد يعني مطلق إعتاق له تدبير څخه مخکي بيان کړی دی. (بنايه ج:۵، ص:۶۸۱)

د تدبير لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د تدبير لغوي معنیٰ ده: "النَّظَرُ إِلىٰ عَاقِبَةِ الإِمْر" (د يو کار آخري انجام ته کتل، د يوې معاملې آخر په پام کي نيول).

د تدبير شرعي معنیٰ ده: "إِيْجَابُ الْعِتْقِ الْحَاصِلِ بَعْدَ الْمَوْتِ بِأَلْفَاظٍ تَدُلُّ عَلَيْهِ صَرِيْحًا أَوْ دَلَالَةً" (د داسي عتق إيجاب کول چي هغه د مُوجِب (مالک) تر مرګ وروسته په داسي الفاظو سره واقع کېدونکی وي کوم چي صراحتاً يا دلالتاً پر عتق (آزادی) دلالت کوي). (عنايه)

په لنډه توګه دا چي که مالک خپل غلام ته داسي ووايي: "ته زما تر مرګ وروسته آزاد يې"، نو دې ته "تَدْبِيْر" وايي او دغه غلام ته "مُدَبَّر" وايي او مالک ته "مُدَبِّر" وايي (د باء په کسره سره)، د "دُبُر" معنیٰ ده: شا، وروسته، څرنګه چي دغه غلام هم د مالک تر مرګ وروسته آزاديږي، نو په دې وجه هغه ته مدبر وايي.

د مُدَبَّر غلام شرعي تعريف او احکام

إِذَا قَالَ الْمَوْلىٰ لِمَمْلُوكِهِ: إِذَا مِتُّ فَأَنْتَ حُرٌّ که چيري مالک خپل غلام ته ووايي: کله چي زه مړ سم نو ته آزاد يې! أَوْ أَنْتَ حُرٌّ عَنْ دُبُرٍ مِنِّي يا [ورته ووايي] ته زما تر شا وروسته آزاد يې! [يعني زما تر مرګ وروسته آزاد يې] أَوْ أَنْتَ مُدَبَّرٌ يا [ورته ووايي] ته مدبر يې! أَوْ قَدْ دَبَّرْتُكَ يا [ورته ووايي] ما ته مدبر جوړ کړې! فَقَدْ صَارَ مُدَبَّرًا نو [په دې ټولو الفاظو سره] غلام مدبر ګرځي لِأَنَّ هٰذِهِ الْأَلْفَاظَ صَرِيْحٌ فِي

تَدْبِيرٌ ځکه چې دغه الفاظ د مدبر جوړولو په معنیٰ کې صريح دي. فَإِنَّهُ إِثْبَاتُ الْعِتْقِ عَنْ دُبُرٍ ځکه چې تدبير تر امرګ او وروسته د آزادۍ ثابتول دي ثُمَّ لَا يَجُوزُ بَيْعُهُ وَلَا هِبَتُهُ وَلَا إِخْرَاجُهُ عَنْ مِلْكِهِ إِلَّا إِلَى الْحُرِّيَّةِ بيا اچې کله غلام مدبر جوړ سي، نو د مالک لپاره ا د هغه خرڅول، هبه کول او له خپل ملکيت څخه ايستل جائز نه دي، ما سوا له آزادولو څخه كَمَا فِي الْكِتَابَةِ لکه څرنګه چې په کتابت کې ا هم ده حکم دی ا وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَجُوزُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې ا د مدبر خرڅول او هبه کول ا جائز دي لِأَنَّهُ تَعْلِيقُ الْعِتْقِ بِالشَّرْطِ ځکه چې هغه ا يعني تدبير ا آزادي پر شرط معلق کول دي ايعني په مدبر جوړلو کې آزادي د مرګ پر شرط معلقه کيږي ا فَلَا يَمْتَنِعُ بِهِ الْبَيْعُ وَالْهِبَةُ نو ځکه به د تدبير په وجه بيع او هبه ممنوع نه وي كَمَا فِي سَائِرِ التَّعْلِيقَاتِ لکه په نورو تعليقاتو کې ا چې ممنوع نه دي ا وَكَمَا فِي الْمُدَبَّرِ الْمُقَيَّدِ او لکه څرنګه چې په مقيد مدبر کې ا هم دغه حکم دی چې د هغه خرڅول او هبه کول ممنوع نه دي ا وَلِأَنَّ التَّدْبِيرَ وَصِيَّةٌ وَهِيَ غَيْرُ مَانِعَةٍ مِنْ ذَلِكَ او په دې وجه ا هم ا چې تدبير وصيت دی او وصيت له دې ا بيع، هبه او داسې نورو ا څخه مانع نه دی وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَام ❶ : الْمُدَبَّرُ لَا يُبَاعُ وَلَا يُوهَبُ وَلَا يُورَثُ وَهُوَ حُرٌّ مِنَ الثُّلُثِ او زموږ دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: مدبر دې نه خرڅول کيږي او نه دې هبه کيږي او نه دې ميراث کيږي ا يعني نه دې په ميراث کې ورکول کيږي ا او مدبر ا د مړي د مال ا له دريمې حصې څخه آزاد دی وَلِأَنَّهُ سَبَبُ الْحُرِّيَّةِ او ځکه چې تدبير د آزادۍ سبب دی لِأَنَّ الْحُرِّيَّةَ تَثْبُتُ بَعْدَ الْمَوْتِ ځکه چې آزادي تر مرګ وروسته ثابتيږي وَلَا سَبَبَ غَيْرُهُ او له تدبير څخه بغير ا د هغه ا بل هيڅ سبب نسته ثُمَّ جَعْلُهُ سَبَبًا فِي الْحَالِ أَوْلَى بيا تدبير في الحاله ا له شروع څخه ا د آزادۍ سبب ګرځول غوره دي لِوُجُودِهِ فِي الْحَالِ ځکه چې هغه ا د تدبير سببيّت ا في الحاله موجود دی وَعَدَمِهِ بَعْدَ الْمَوْتِ او ا د مالک ا تر مرګ وروسته معدوم ا نيستي ا دی ايعني ځکه چې تدبير فقط في الحاله د آزادۍ سبب دی او د مالک تر مرګ وروسته سبب نه دی ا وَلِأَنَّ مَا بَعْدَ الْمَوْتِ حَالُ بُطْلَانِ أَهْلِيَّةِ التَّصَرُّفِ ځکه چې ا د مالک ا تر مرګ وروسته د تصرف د باطلېدلو حالت دی فَلَا يُمْكِنُ تَأْخِيرُ السَّبَبِيَّةِ إِلَى زَمَانٍ

---

❶ تخريج: أخرجه الدار قطني حديث ، ق: ٢٩ .

بُطْلَانِ الْأَهْلِيَّةِ لهذا د أهليت د بطلان تر زمانې پورې د سببيت ځنډول ممکن نه دي انو ځکه به هغه فی الحاله (له شروع څخه) د آزادی سبب ګرځول غوره وي] بِخِلَافِ سَائِرِ التَّعْلِيقَاتِ په خلاف د نورو تعليقاتو لِأَنَّ الْمَانِعَ مِنَ السَّبَبِيَّةِ قَائِمٌ قَبْلَ الشَّرْطِ ځکه چې [په هغوی کې] د شرط اله موجودېدلو څخه] مخکې له سببيت څخه مانع موجود دی لِأَنَّهُ يَمِينٌ ځکه چې بل تعليق [يعني نور تعليقات] قسم وي وَالْيَمِينُ مَانِعٌ او قسم [په خپله] مانع دی وَالْمَنْعُ هُوَ الْمَقْصُودُ او همدا منع کېدل [پکښې] مقصود وي وَأَنَّهُ يُضَادُّ وُقُوعَ الطَّلَاقِ وَالْعَتَاقِ ځکه چې هغه د طلاق او عتاق د واقع کېدلو ضد دی وَأَمْكَنَ تَأْخِيرُ السَّبَبِيَّةِ إِلَى زَمَانِ الشَّرْطِ او [په نورو تعليقاتو کې] د شرط [د موجودېدلو] تر وخته پورې د سببيت ځنډول ممکن دي لِقِيَامِ الْأَهْلِيَّةِ عِنْدَهُ ځکه چې [په هغوی کې] د شرط [د موجودېدلو] په وخت کې أهليت موجود وي فَافْتَرَقَا لهذا تدبير او نور تعليقات سره جلا سول وَلِأَنَّهُ وَصِيَّةٌ او ځکه چې تدبير وصيت دی وَالْوَصِيَّةُ خِلَافَةٌ فِي الْحَالِ كَالْوِرَاثَةِ او وصيت د وراثت په شان فی الحاله خلافت دی [يعني په وصيت کې فی الحاله خليفه والي ثابتيږي، که څه هم وصي ته د تصرّف حق د موصي تر مرګ وروسته حاصليږي، لېکن د تصرف سبب فی الحاله ثابتيږي لکه څرنګه چې وراثت فی الحاله ثابتيږي، او په نورو تعليقاتو کې فی الحاله خلافت نه ثابتيږي] وَإِبْطَالُ السَّبَبِ لَا يَجُوزُ او د آزادی سبب باطلول جائز نه دي وَفِي الْبَيْعِ وَمَا يُضَاهِيهِ ذَٰلِكَ او په بيع او داسې نورو کې [د هغه] باطلول سته [يعني په بيع، هبه او داسې نورو کې د آزادی سبب باطليږي، نو ځکه به د مدبر خرڅول او هبه کول جائز نه وي].

اللغات: ﴿دُبُرٍ مِنِّي﴾ زما تر شا، تر ما وروسته، ﴿دَبَّرْتُكَ﴾ د تفعيل ماضي ده: خپل غلام مدبر جوړول، مدبر ګرځول (مدبر کول)، ﴿يُضَاهِيهِ﴾ د مفاعلې مضارع ده: مشابه کېدل.

تشريح: د عبارت په شروع کې چې کوم الفاظ ذکر سول، دا ټوله د مدبر جوړولو په معنیٰ کې صريح دي، مثلاً مالک داسې ووايي "کله چې زه مړ سم، نو ته آزاد يې"، نو په دې الفاظو کې په صريحه توګه د غلام د مدبر جوړولو ذکر سوی دی، نو ځکه به په دې الفاظو سره غلام مدبر ګرځي.

ثم لا يجوز بيعه إلخ: کله چې مالک خپل غلام مدبر جوړ کړي، نو زموږ په نېز د هغه لپاره د دغه غلام خرڅول او هبه کول، يا له خپل ملکيت څخه ايستل جائز نه دي، فقط آزادولای يې سي، لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د مدبر خرڅول او هبه کول جائز دي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې په تدبير کې د غلام آزادي د مالک پر مرګ مُعلّقه کيږي، نو څرنګه چې په نورو تعليقاتو کې خرڅول جائز دي، همداسې به په دغه تعليق (تدبير) کې هم خرڅول جائز وي، او بل دا چې د مُقيّد مدبر خرڅول جائز دي، نو همداسې به مطلق مدبر خرڅول هم جائز وي، او بل دليل دا چې مدبر جوړول وصيت کول (إيصا) دي، او موصیٰ بهٖ (وصيت کړی سوی شی) خرڅول جائز دي، نو همداسې به د مدبر خرڅول هم جائز وي.

زموږ دليل: هغه حديث دی کوم چې په عبارت کې ذکر سو، د هغه مفهوم دا دی چې "د مدبر خرڅول، هبه کول، يا په وراثت کې د مدبر تقسيمول جائز نه دي، او هغه به د ميّت د مال له دريمې حصې څخه آزاديږي".

ولأنه سبب إلخ: زموږ د عقلي دليل حاصل دا دی چې تر مرګ وروسته په ميّت (مړه شوي مالک) کې د تصرف کولو اهليت ختم سي، نو ځکه به مدبر جوړول (تدبير) له شروع څخه د آزادېدلو سبب ګرځول کيږي، لهذا کله چې مدبر جوړول له شروع څخه د آزادېدلو سبب دی (او مدبر غلام له شروع څخه د آزاد په حکم کې دی)، نو ځکه به د هغه خرڅول او هبه کول جائز نه وي.

بخلاف سائر إلخ: په دې سره امام شافعي رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چې له تدبير څخه بغير چې نور کوم تعليقات دي، هغه د قسم (يمين) په معنیٰ سره دي چې د دې مقصد دا همدا دی چې د شرط تر موجودېدلو مخکې هغه (مشروط) شی په وجود کې نه راځي او د شرط تر موجودېدلو پورې په شرط لګونکي کې أهليت موجود وي، نو په دې وجه په نورو تعليقاتو کې له شروع څخه د هغوی د واقع کولو ضرورت نسته، او په تدبير کې تر مرګ وروسته په شرط لګونکي (مالک) کې أهليت نه پاتيږي، نو په دې وجه په مُدبر غلام کې له شروع څخه د آزادۍ شائبه واقع کيږي او د هغه بيع او هبه به ممنوع ګرځول کيږي.

ولأنه وصية إلخ: د دې حاصل دا دی چې مدبر جوړول (تدبير) وصيت دی، او وصيت فی الحاله (له شروع څخه) د آزادوالي سبب دی، لهذا په بيع او هبه کولو سره به د هغه باطلول جائز نه وي.

په مدبر غلام کوم کارونه کول جائز دي؟

قَالَ: وَلِلْمَوْلَى أَنْ يَسْتَخْدِمَهُ وَيُؤَاجِرَهُ فرمايي: او جائز دي مالک لره چې له مدبر څخه خدمت واخلي او هغه په أجرت [کرايه] باندې ورکړي وَإِنْ كَانَتْ أَمَةً او که مينځه مدبره وي وَطِئَهَا نو وطي ور سره کولای سي وَلَهُ أَنْ يُزَوِّجَهَا او هغه لره دا [هم] جائز دي چې [د بل چا سره] د هغې نکاح وکړي لِأَنَّ

الْمِلْكَ فِيهِ ثَابِتٌ لَهُ ځکه چي په مدبر کي د مالک ملکيت موجود دی وَبِهِ تُسْتَفَادُ وِلَايَةُ هٰذِهِ التَّصَرُّفَاتِ او په همدغه ملکيت سره د دې تصرفاتو ولايت حاصلېږي فَإِذَا مَاتَ الْمَوْلَىٰ عَتَقَ الْمُدَبَّرُ مِنْ ثُلُثِ مَالِهِ او کله چي مالک مړ سي نو مدبر غلام به د هغه د مال له دريمي حصې څخه آزادېږي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چي موږ روايت کړی وَلِأَنَّ التَّدْبِيرَ وَصِيَّةٌ او ځکه چي تدبير وصيت دی لِأَنَّهُ تَبَرُّعٌ مُضَافٌ إِلَىٰ وَقْتِ الْمَوْتِ ځکه چي تدبير يو داسې تبرع ده کوم چي د مرګ وخت ته منسوب ده وَالْحُكْمُ غَيْرُ ثَابِتٍ فِي الْحَالِ او [د هغه] حکم فی الحاله [اوس] ثابت نه دی فَيَنْفُذُ مِنَ الثُّلُثِ نو ځکه به دا [آزادي] د مال له دريمي حصې څخه نافذېږي حَتَّىٰ لَوْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُ تر دې که له مدبر څخه بغير د مالک لپاره [بل] هيڅ مال نه وي يَسْعَىٰ فِي ثُلُثَيْهِ نو غلام به په خپلو دوو حصو کي هڅه کوي [يعني د پاته دوو حصو لپاره به کسب او مزدوري کوي او مال به ګټي، او وارثانو ته به يې ورکوي] وَإِنْ كَانَ عَلَى الْمَوْلَىٰ دَيْنٌ او که پر مالک قرض [باندي] وي يَسْعَىٰ فِي كُلِّ قِيمَتِهِ نو غلام به په خپل ټوله قيمت کي هڅه کوي لِتَقَدُّمِ الدَّيْنِ عَلَى الْوَصِيَّةِ ځکه چي قرض پر وصيت مخکي دی [ځکه چي د مړي په مال کي اول قرضونه اداء کيږي، بيا وصيت پکښي جاري کيږي] وَلَا يُمْكِنُ نَقْضُ الْعِتْقِ [او د مدبر] آزادي ختمول [هم] ممکن نه دي فَيَجِبُ رَدُّ قِيمَتِهِ نو ځکه به د هغه قيمت واپس کول واجب وي [يعني پر غلام به هڅه کول او مال ګټل ضروري وي].

اللغات: ﴿يَسْتَخْدِمَهُ﴾ د استفعال مضارع ده: خدمت اخيستل، ﴿يُؤَاجِرَهُ﴾ د مفاعلې مضارع ده: په اُجرت ورکول، په کرايه ورکول، ﴿تَبَرُّع﴾ د تفعّل مصدر دی: صدقه کول، غير لازم شی اداء کول (يعني داسي کار کول چي هغه پر انسان لازم نه وي).

تشريح: مدبر غلام د مالک تر مرګ وروسته آزادېږي، لېکن د مالک تر مرګ مخکي هغه د مالک غلام وي، نو ځکه د مالک لپاره جائز دي چي له مدبر څخه د خدمت کارونه واخلي، يا يې يو چا ته په اُجرت او کرايه ورکړي، همدارنګه که مينځه مدبره وي، نو د مالک لپاره جائز دي چي د هغې سره وطي وکړي يا د بل چا سره د هغې نکاح وکړي (ځکه چي دوی تر اوسه د مالک تر غلامۍ لاندي دي، او د مالک تر مرګ وروسته آزادېږي، نو په دې وجه اوس مالک د دوی سره د غلامۍ معامله کولای سي).

فإذا مات المولیٰ: کله چي مالک مړ سي، نو مدبر غلام به د مالک د مال له دريمي حصې څخه به آزادېږي، مثلاً که مالک نهه لکه (۹۰۰۰۰۰) روپۍ تر شا پرېښوولې، او د مدبر قيمت درې لکه روپۍ وو، نو د نهو لکو

دریمه حصه (ثلث) درې لکه دي کوم چې د مدبر قیمت هم دی، نو ځکه به ټوله مدبر غلام آزادیږي، ځکه کله چې د ټوله مال دریمه حصه د مدبر غلام د قیمت په اندازه وي (یا تر دې زیاته وي)، نو ټوله مدبر غلام به آزادیږي، او که مالک فقط مدبر غلام په میراث کې پریږدي اور نو هیڅ مال نه لري، نو په دې صورت کې د مدبر دریمه حصه آزادیږي، او د پاته دوو حصو د قیمت لپاره به مدبر مال ګټي (سعایه به کوي). او هغه به د مالک وارثانو ته ورکوي چې هغوئ یې په خپل مینځ کې سره تقسیم کړي، کله چې دغه مدبر د باقي دوو حصو قیمت اداء کړي، نو بیا آزادیږي، دلیل هغه حدیث دی کوم چې په عبارت کې ذکر سو چې په هغه کې دا جمله هم ذکر سوې ده "وَهُوَ حُرٌّ مِنَ الثُّلُث" (یعني مدبر به د مال له دریمې حصې څخه آزادیږي).

ولأن التدبير وصية إلخ: عقلي دلیل دا دی چې تدبیر (مدبر جوړول) د وصیت په درجه کې دي، او وصیت د مال په دریمه حصه کې نافذیږي، نو ځکه به مدبر هم د مالک د مال له دریمې حصې څخه آزادیږي. او که له مدبر څخه بغیر د مالک لپاره بل هیڅ مال نه وي (فقط همدغه مدبر یې مال وي)، نو د غلام یوه حصه به آزادیږي (ځکه چې د مالک ټوله مال فقط دا یو غلام دی، نو فقط د همدې غلام په دریمه حصه کې به وصیت نافذیږي)، او د پاته دوو حصو لپاره به هغه مال ګټي او وارثانو ته به یې ورکوي.

وإن كان على المولى: او که چیرې پر مالک د یو چا قرض پاته وي، او له مدبر څخه بغیر د مالک لپاره بل هیڅ مال نه وي، نو په دې صورت کې د هغه دریمه حصه هم نه آزادیږي، بلکې هغه به د خپل ځان د ټوله قیمت لپاره سعایه کوي (یعني خپل ټوله قیمت به ګټي او اداء کوي)؛ ځکه چې وصیت تر قرض وروسته نافذیږي (او تدبیر هم یو وصیت دی)، او اوس په مدبر کې د آزادۍ شائبه راغلې ده (او په هغه کې آزادي ثابته سوې ده)، لهذا هغه اوس ختمول کېدای هم نه سي، او قرض اداء کول هم ضرور دي، نو غوره صورت همدا دی چې مدبر غلام خپل ټوله قیمت وګټي، چې مالک ته هم تاوان نه ورسیږي، او غلام هم آزاد سي او د غلامۍ له قید او نقصان څخه محفوظ سي.

د مدبره مینځې د بچي حکم

وَوَلَدُ الْمُدَبَّرَةِ مُدَبَّرٌ او د مدبره مینځې بچی به [هم] مدبر وي وَعَلٰى ذٰلِكَ نُقِلَ إِجْمَاعُ الصَّحَابَةِ او پر همدې [حکم] د صحابه وو أجماع نقل سوې ده وَإِنْ عَلَّقَ التَّدْبِيرَ بِمَوْتِهِ عَلٰى صِفَةٍ او که مالک په یو صفت [او شرط] سره تدبیر پر خپل مرګ مُعلق کړي مِثْلَ أَنْ يَقُولَ: إِنْ مِتُّ مِنْ مَرَضِي هٰذَا أَوْ سَفَرِي هٰذَا أَوْ مِنْ مَرَضِ كَذَا مثلاً داسي ووایي: که چیرې زه په خپل دې مرض کې، یا په خپل دې سفر کې، یا په فلانکي مرض کې مړ سوم [نو ته آزاد یې] فَلَيْسَ بِمُدَبَّرٍ نو غلام به مدبر نه وي [یعني په دې سره غلام مدبر نه جوړیږي] وَيَجُوزُ بَيْعُهُ او د هغه بیع به جائز وي لِأَنَّ السَّبَبَ لَمْ يَنْعَقِدْ فِي الْحَالِ

ځکه چي سبب فی الحاله منعقد سوی نه دی لِتَرَدُّدٍ فِي تِلْكَ الصِّفَةِ ځکه چي په هغه صفت [شرط] کي شک دی بِخِلَافِ الْمُدَبَّرِ الْمُطْلَقِ لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ عِتْقُهُ بِمُطْلَقِ الْمَوْتِ په خلاف د مطلق مدبر. ځکه چي د هغه آزادي د مطلق مرګ سره متعلق ده [يعني د هغه آزادي پر مطلق مرګ مُعلقه سوې ده] وَهُوَ كَائِنٌ لَا مَحَالَةَ او [مطلق] مرګ خامخا [واقع] کېدونکی دی فَإِنْ مَاتَ الْمَوْلَى عَلَى الصِّفَةِ الَّتِي ذَكَرَهَا [بيا] که مالک پر هغه صِفت [شرط] مړ سي کوم چي مالک ذکر کړی وي عَتَقَ نو هغه [مقيد مدبر] آزاديږي كَمَا يُعْتَقُ الْمُدَبَّرُ لکه [مطلق] مدبر چي آزاديږي مَعْنَاهُ مِنَ الثُّلُثِ يعني [د مال] له دريمې حصې څخه به آزاديږي لِأَنَّهُ ثَبَتَ حُكْمُ التَّدْبِيرِ فِي آخِرِ جُزْءٍ مِنْ أَجْزَاءِ حَيَاتِهِ ځکه چي د تدبير حکم د مالک د ژوند په آخري جزء کي ثابت سو لِتَحَقُّقِ تِلْكَ الصِّفَةِ فِيهِ ځکه چي هغه صفت په دغه آخري جزء کي متحقق سو فَلِهَذَا يُعْتَبَرُ مِنَ الثُّلُثِ نو ځکه به [د مال] له دريمې حصې څخه د آزادۍ اعتبار کيږي وَمِنَ الْمُقَيَّدِ أَنْ يَقُولَ: إِنْ مِتُّ إِلَى سَنَةٍ أَوْ عَشْرِ سِنِينَ او د مقيد مدبر له اصور تونو څخه يو] صورت دا دی چي مالک داسي ووايي: که چيري زه تر يوه کال يا لسو کالو پوري مړ سوم [نو ته آزاد يې] لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: إِلَى مِائَةِ سَنَةٍ په خلاف د هغه صورت کله چي مالک ووايي: تر سلو کالو پوري وَمِثْلُهُ لَا يَعِيشُ إِلَيْهِ فِي الْغَالِبِ حال دا چي داسي کس [يعني انسان] تر سلو کالو ژوندي نه پاتيږي لِأَنَّهُ كَالْكَائِنِ لَا مَحَالَةَ ځکه چي دا د خامخا [واقع] کېدونکې [مرګ] په شير دی [يعني پر سلو کالو د آزادۍ معلق کول هم داسي دي لکه پر مطلق مرګ د آزادۍ معلق کول، او مطلق مرګ خامخا واقع کېدونکی وي، نو دا به هم د هغه په حکم کي وي].

اللغات: ﴿كَائِنٌ﴾ د "كَانَ، يَكُونُ" څخه د اسم فاعل صيغه ده: کېدونکی. ﴿لَا مَحَالَةَ﴾ خامخا، په هر صورت کي، بالکل (بېله شکه).

تشريح: مخکي دا اُصول تېر سو چي بچي به د مور تابع کيږي، لهذا کله چي مور مدبره وي، نو د هغې بچيان به هم مدبر شمارل کيږي، او پر همدې حکم د صحابه وو إجماع نقل سوې ده. له ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه دا أثر نقل سوی دی "وَلَدُ الْمُدَبَّرَةِ يُعْتَقُونَ بِعِتْقِهَا، وَيُرَقُّونَ بِرِقِّهَا" (دار قطني، كتاب المكاتب ج:٤، ص:٧٧، شميره:٤٢١٣)، همدارنګه له حضرت عثمان ﷺ څخه د مدبره مينځي د بچي په هکله

پوښتنه وسوه، نو هغه وفرمايل "مَا وَلَدَتْهُ قَبْلَ التَّدْبِيرِ عَبْدٌ. وَمَا وَلَدَتْهُ بَعْدَ التَّدْبِيرِ مُدَبَّرٌ" (يعني مدبره مينځه چي تر تدبير مخکي کوم بچي وزېږوي، هغه غلام دی، او تر تدبير وروسته چي کوم بچي وزېږوي، هغه مدبر دی)، او دا فرمان د ټولو په صحابه وو په حضور کي صادر سو. او پر دې هيچا نکير نه و کړی، لهذا دا د إجماع په درجه کي سو.

وإن علق التدبير إلخ: د دې حاصل دا دی چي که مالک خپل غلام مقيد مدبر جوړ کړي. (د مطلق تدبير صورت دا دی چي مالک د غلام تدبير پر هيڅ شرط معلق نه کړي بلکي مطلقاً ورته ووايي "ته زما تر مرګ وروسته آزاد يې"، او د مقيد تدبير شکل دا دی چي مالک هغه پر يو شرط معلق کړي او ووايي "که زه په دې مرض کي مړ سوم، يا مثلاً زه په دې سفر کي مړ سوم، نو ته آزاد يې)، نو په دې صورت کي غلام مدبر نه جوړېږي، او د مالک لپاره به د دې غلام خرڅول او هبه کول او داسي نور جائز وي، ځکه چي د دغه غلام په حق کي في الحاله (له شروع څخه) د آزادۍ سبب موجود نه سو. ځکه مالک چي پر کوم صفت او شرط آزادي معلقه کړې ده په هغه کي تردّد او شک دی يعني کېداى سي چي مالک په دې مرض يا سفر کي مړ نه سي بلکي په بل سبب سره مړ سي يا په بل مرض کي مړ سي، نو ځکه په دې صورت کي غلام مدبر نه جوړېږي، لېکن که مالک پر مطلق مرګ آزادي معلقه کړي، نو مطلق مرګ خو خامخا يو وخت راتلونکی دی، نو ځکه په هغه صورت کي له شروع څخه په غلام کي د آزادۍ شائبه راغله او في الحاله د هغه په حق کي د آزادۍ سبب موجود سو، نو ځکه به په هغه صورت کي مدبر جوړېږي او د هغه خرڅول، هبه کول او داسي نور به جائز نه وي.

فإن مات المولى: د دې حاصل دا دی چي که هغه شرط موجود سي پر کوم چي مالک د خپل غلام آزادي معلقه کړې وي (مثلاً په هغه سفر يا مرض کي مالک مړ سي)، نو دا مقيد مدبر به د مال له دريمي حصې څخه آزادېږي، لکه څرنګه چي مطلق مدبر د مال له دريمي حصې څخه آزادېږي: دليل دا دی چي شرط موجود سو، نو ځکه به د شرط مطابق هغه آزادېږي.

ومن المقيد إلخ: د دې حاصل دا دی چي يو داسي مودت ذکر کول چي په هغه کي د مالک مرګ يقيني نه وي، هغه مقيد تدبير دی. مثلاً مالک داسي ووايي: "که زه په دې لسو کالو کي مړ سوم، نو ته آزاد يې"، نو دا د مقيد مدبر صورت دی يعني دا مقيد تدبير دی، او داسي مودت ذکر کول چي په هغه کي د مالک مرګ يقيني وي، هغه مطلق تدبير دی. مثلاً مالک داسي ووايي "که زه په سلو کالو کي مړ سوم، نو ته آزاد يې"، نو دا مطلق تدبير دی.



بَابُ الْاِسْتِيْلَاد

(دا) باب دأم ولد جوړولو (دأحكامو په بيان كي) دى

تشريح: مخكي تر دې صاحب دهدايې د "تدبير" أحكام بيان كړل، او اوس په دې باب كي د "استيلاد" احكام بيانوي؛ ځكه چي په تدبير او استيلاد دواړو سره دغلام او مينځي لپاره دآزادۍ (حُريت) حق ثابتيږي، خو څرنګه چي داستيلاد په مقابله كي تدبير كثيرُ الوقوع دى، نو په دې وجه تدبير تر استيلاد مخكي بيان كړى سو.

د استيلاد لغوي او اصطلاحي معنىٰ: د استيلاد لغوي معنىٰ ده: (له ښځي څخه) د بچي طلب كول، بچى حاصلول.

داستيلاد شرعي معنىٰ ده "وَطْءُ الْأَمَةِ الْمَمْلُوْكَةِ اِبْتِغَاءَ الْوَلَدِ مِنْهَا" (د خپلي مينځي سره د بچي حاصلولو لپاره وطي كول). يعني د خپلي مينځي سره په دې مقصد وطي كول چي زما بچى ځني پيدا سي.

أُمِ ولد: كله چي مالك د خپلي مينځي سره جماع وكړي او د جماع په نتيجه كي بچى پيدا سي او مالك د هغه بچي اقرار وكړي (چي دا زما بچى دى)، نو داسي مينځي ته أم ولد وايي، او د مالك تر مرګ وروسته آزاديږي.

د أم ولد تعريف او شرعي حكم

وَإِذَا وَلَدَتِ الْأَمَةُ مِنْ مَوْلَاهَا او كله چي مينځه د خپل مالك [له نطفې] څخه بچى وزيږوي فَقَدْ صَارَتْ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ نو هغه د خپل مالك أم ولد وګرځېده لَا يَجُوْزُ بَيْعُهَا وَلَا تَمْلِيْكُهَا [او] د هغې خرڅول او [د بل چا] په ملكيت كي وركول جائز نه دي لِقَوْلِهِ عليه السلام [1]: أَعْتَقَهَا وَلَدُهَا ځكه چي نبي ﷺ وفرمايل: هغه [ماريه قبطيه] خپل بچي آزاده كړه أَخْبَرَ عَنْ إِعْتَاقِهَا نبي كريم ﷺ [په دې حديث كي] د ښځي دآزادولو خبر وركړى دى [يعني خپل بچي هغه آزاده كړه] فَيَثْبُتُ بَعْضُ مَوَاجِبِهِ وَهُوَ

[1] تخريج: أخرجه ابن ماجه في السنن في العتق، باب رقم:٢، حديث رقم:٢٥١٦.

حُرْمَةُ الْبَيْعِ نو ځکه به د دې [آزاد والي] ځينې أحکام [هم] ثابتيږي او هغه د بيع حرامېدل دي، وَلِأَنَّ الْجُزْئِيَّةَ قَدْ حَصَلَتْ بَيْنَ الْوَاطِئِ وَالْمَوْطُوءَةِ بِوَاسِطَةِ الْوَلَدِ او ځکه چې د وطې کونکي [مالک] او د وطې کړې سوې [مينځې] په مينځ کې د بچي په واسطه سره جزئيت راغلی فَإِنَّ الْمَاءَيْنِ قَدِ اخْتَلَطَا بِحَيْثُ لَا يُمْكِنُ الْمَيْزُ بَيْنَهُمَا ځکه چې دواړې اُوبه په داسې توګه سره ګډې سوې چې د هغوی په مينځ کې توپير کول ناممکن دي عَلَى مَا عُرِفَ فِي حُرْمَةِ الْمُصَاهَرَةِ لکه څرنګه چې په حرمت مصاهرت کې دا [تاسې ته] معلومه سوه إِلَّا أَنَّ بَعْدَ الِانْفِصَالِ تَبْقَى الْجُزْئِيَّةُ حُكْمًا لَا حَقِيقَةً خو د بچي تر جلا کېدلو [پيدا کېدلو] وروسته دا جزئيت حکماً باقي پاتيږي، نه حقيقتاً فَضَعُفَ السَّبَبُ ځکه چې [اوس] سبب کمزوری سو فَأَوْجَبَ حُكْمًا مُؤَجَّلًا إِلَى مَا بَعْدِ الْمَوْتِ نو [په دې وجه] دغه سبب داسې حکم ثابت کړی کوم چې د مرګ تر وروسته پورې مؤخر وي وَبَقَاءُ الْجُزْئِيَّةِ حُكْمًا بِاعْتِبَارِ النَّسَبِ او حکماً د جزئيت پاتېدل د نسب په اعتبار سره دي وَهُوَ مِنْ جَانِبِ الرِّجَالِ او د نسب اعتبار د خلکو له طرفه کيږي فَكَذَا الْحُرِّيَّةُ تَثْبُتُ فِي حَقِّهِمْ لَا فِي حَقِّهِنَّ نو ځکه به آزادي [هم] د خلکو په حق کې ثابتيږي، نه د ښځو په حق کې حَتَّى إِذَا مَلَكَتِ الْحُرَّةُ زَوْجَهَا وَقَدْ وَلَدَتْ مِنْهُ همدا وجه ده که آزاده ښځه د خپل خاوند مالکه جوړه سي [په داسې حال کې] چې له هغه څخه د دې ښځې بچي [هم] پيدا سوی وي لَا يَعْتِقُ الزَّوْجُ بِمَوْتِهَا نو [هم] د دې ښځې په مرګ سره [د هغې] خاوند نه آزاديږي وَبِثُبُوتِ عِتْقٍ مُؤَجَّلٍ يَثْبُتُ حَقُّ الْحُرِّيَّةِ فِي الْحَالِ او د مؤخر عتق ثبوت [په اُم ولد کې] في الحاله د آزادوالي حق ثابتوي فَيَمْتَنِعُ جَوَازُ الْبَيْعِ وَإِخْرَاجُهَا لَا إِلَى الْحُرِّيَّةِ فِي الْحَالِ نو ځکه به [د هغې] في الحاله خرڅول او د نا آزادوالي [غلامۍ] و طرف ته د هغې ايستل ممنوع وي وَيُوجِبُ عِتْقَهَا بَعْدَ مَوْتِهِ و [د مؤخر عتق ثبوت به] د مالک تر مرګ وروسته د مينځې آزادي ثابتوي وَكَذَا إِذَا كَانَ بَعْضُهَا مَمْلُوكًا لَهُ او همدارنګه کله چې د مينځې بعضې حصه د مالک په ملکيت کې وي لِأَنَّ الِاسْتِيلَادَ لَا يَتَجَزَّى ځکه چې استيلاد نه متجزي کيږي فَإِنَّهُ فَرْعُ النَّسَبِ او استيلاد د نسب فرع ده فَيُعْتَبَرُ بِأَصْلِهِ نو ځکه به استيلاد پر خپل أصل قياس کيږي.

اللغات: ﴿مُصَاهَرَة﴾ د خواښي او خُسر قرابت (خواښي والی او خسر والی). ﴿إِنْفِصَال﴾ د انفعال مصدر دی: جلا کېدل، بېلېدل. ﴿إِسْتِيْلَاد﴾ د استفعال مصدر دی: خپله مینځه اُمِ ولد جوړول. ﴿لَا يَتَجَزَّى﴾ د تفعّل له باب څخه د نفي صيغه ده: ټوکره ټوکره کېدل، جزء جزء کېدل، برخه برخه کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که یو مالک د خپلې مینځې سره وطي او جماع وکړي او په دې جماع سره د مینځې بچی پیدا سي، نو دا مینځه د خپل مالک اُمِ ولد ګرځي، او بیا د مالک لپاره د هغې خرڅول او هبه کول جائز نه دي (او هغه د مالک تر مرګ وروسته آزادېږي)؛ دلیل دا حدیث دی "عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: لَمَّا وَلَدَتْ أُمُّ إِبْرَاهِيمَ. قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: أَعْتَقَهَا وَلَدُهَا" (یعني کله چي د ماریه قبطیه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بچی (إبراهیم) پیدا سو، نو نبي ﷺ وفرمایل: چي بچي (ابراهیم) خپله مور آزاده کړه).

ولأن الجزئية: عقلي دلیل دا دی چي کله د مالک او مینځې اوبه (نطفې) سره یو ځای سوې نو په دې سره جزئیت ثابت سو لېکن تر بچي پیدا کېدلو وروسته دا جزئیت حکماً پاته سو او ضعیف سو. نو ځکه د مالک تر مرګه پوري د مینځې آزادي وځنډول سوه لېکن تر مرګ مخکي د هغې خرڅول او هبه کول ناجائز وګرځول سو.

وبقاء الجزئية إلخ: جزئیت د پلار سره د نسب ثابتېدلو په وجه ثابتېږي او نسب د سړي له طرفه وي، نو ځکه به د سړي په حق کي آزادي راځي، نو که چیري د یو غلام ښځه آزاده وي او له هغې څخه د غلام بچی پیدا سوی وي، او دا ښځه د خپل خاوند مالکه جوړه سي، نو د ښځې تر مرګ وروسته خاوند نه آزادېږي، ځکه چي خاوند اُمِ ولد نه ګرځي (او بل دا چي په حدیث او آثارو کي د أُمُّ الوَلَد تذکره سوې ده، او پلار أَبُ الوَلَد دی، نو ځکه به هغه نه آزادېږي).

وبثبوت عتق مؤجل إلخ: اُمِ ولد په پوره توګه د مالک تر مرګ وروسته آزادېږي، خو د آزادۍ أثر (د مالک په ژوند کي) له شروع څخه ښکاره کېږي چي مالک هغه خرڅولای او هبه کولای نه سي، او له آزادولو څخه بغیر بل داسي حرکت نه سي کولای کوم چي د دې مینځې په آزادۍ کي حائل جوړ سي.

وكذا إلخ: او که مالک د مینځې د بعضي حصې مالک وي، او بیا د هغې سره وطي وکړي او له مینځې څخه بچی پیدا سي، نو بیا هم دا مینځه په پوره توګه د دې مالک اُمِ ولد جوړېږي؛ ځکه چي اُمِ ولد

جوړېدل د نسب فرع ده، او نسب نه متجزي کيږي (يعني داسي نه سي کېداى چي يو کوچنى د دوو خلکو زوى جوړ سي)، نو ځکه به د نسب فرع هم نه متجزي کيږي. او ټوله مينځه به د وطي کونکي مالک أم ولد جوړيږي.

په أم ولد کوم کارونه کول جائز دي؟

قَالَ: وَلَهُ وَطْئُهَا وَاسْتِخْدَامُهَا وَإِجَارَتُهَا وَتَزْوِيجُهَا فرمايي: او د مالک لپاره د هغه أم ولد سره وطي کول او له هغې څخه خدمت اخيستل او هغه په أجرت [کرايه] ور کول او د هغې نکاح [د بل چا سره] کول [ټوله] جائز دي لِأَنَّ الْمِلْكَ فِيهَا قَائِمٌ ځکه چي په هغې کي [د مالک] ملکيت موجود دى فَأَشْبَهَتِ الْمُدَبَّرَةَ نو هغه د مدبره مينځي سره مشابه سوه وَلَا يَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِهَا إِلَّا أَنْ يَعْتَرِفَ بِهِ او د هغې د بچي نسب به [د مالک سره] نه ثابتيږي مګر دا چي مالک د هغه اقرار وکړي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَثْبُتُ نَسَبُهُ مِنْهُ وَإِنْ لَمْ يَدَّعِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د هغې د بچي نسب به د مالک سره ثابتيږي که څه هم مالک د هغه دعوىٰ نه وکړي لِأَنَّهُ لَمَّا ثَبَتَ النَّسَبُ بِالْعَقْدِ فَلَأَنْ يَثْبُتَ بِالْوَطْءِ وَأَنَّهُ أَكْثَرُ إِفْضَاءً أَوْلَى ځکه کله چي د نکاح په ترون سره نسب ثابتيږي نو په وطي وسره به په طريقه اولىٰ ثابتيږي، ځکه چي وطي [د نکاح له ترون څخه] زيات رسونکي دي [و بچي ته. يعني د عقد نکاح په نسبت وطي او جماع لره د کوچني په پيدا کولو کي زيات طاقت او وړانديتوب حاصل دى] وَلَنَا: أَنَّ وَطْءَ الْأَمَةِ يُقْصَدُ بِهِ قَضَاءُ الشَّهْوَةِ دُونَ الْوَلَدِ زموږ دليل دا دى چي د مينځي په وطي سره د شهوت پوره کول مقصود وي، نه د بچي حاصلول لِوُجُودِ الْمَانِعِ عَنْهُ ځکه چي [په مينځه کي] د بچي له حاصلولو څخه مانع موجود دى [چي د مينځي قيمت به کم سي] فَلَا بُدَّ مِنَ الدَّعْوَةِ بِمَنْزِلَةِ مِلْكِ الْيَمِينِ مِنْ غَيْرِ وَطْءٍ نو ځکه [د نسب] دعوىٰ کول ضروري دي لکه له وطي څخه بغير ملک يمين [يعني لکه په هغه ميځه کي چي د نسب دعوىٰ کول ضروري دي کوم چي د مالک په ملکيت کي وي، ليکن وطي يې ور سره کړي نه وي] بِخِلَافِ الْعَقْدِ په خلاف د نکاح د ترون [د عقد نکاح] لِأَنَّ الْوَلَدَ يَتَعَيَّنُ مَقْصُودًا مِنْهُ ځکه چي د نکاح له ترون څخه د بچي [حاصلولو] مقصود کېدل متعين کيږي [يعني په نکاح کولو سره د بچي پيدا کول او د بچي حاصلول مقصود وي] فَلَا حَاجَةَ إِلَى الدَّعْوَةِ نو ځکه [په

نکاح کي [د دعوىٰ کولو ضرورت نسته فَإِنْ جَاءَتْ بَعْدَ ذٰلِكَ بِوَلَدٍ او کله چي [د مالک تر يو وار اقرار کولو وروسته] دغه مينځه [دويم] بچي وزيږوي ثَبَتَ نَسَبُهُ بِغَيْرِ إِقْرَارٍ نو د هغه نسب له اقرار څخه بغير ثابتيږي مَعْنَاهُ: بَعْدَ اعْتِرَافٍ مِنْهُ بِالْوَلَدِ الْأَوَّلِ د دې مطلب دا دی: چي د مالک له طرفه د اول بچي تر اقرار کولو وروسته [د دويم بچي نسب له اقرار څخه بغير ثابتيږي] لِأَنَّهُ بِدَعْوَى الْوَلَدِ الْأَوَّلِ تَعَيَّنَ الْوَلَدُ مَقْصُودًا مِنْهَا ځکه چي د اول بچي د دعوىٰ کولو په وجه [اوس] له دې اُم ولد څخه د بچي [حاصلولو] مقصود کېدل متعين سوه [يعني د اول بچي په دعوىٰ او اقرار کولو سره دا معلومه سوه چي د وطي مقصد "د بچي پيدا کول" دي] فَصَارَتْ فِرَاشًا كَالْمَعْقُودَةِ نو ځکه دا اُم ولد فراش وګرځېده لکه څرنګه چي په نکاح سوې ښځه [فراش ګرځي] إِلَّا أَنَّهُ إِذَا نَفَاهُ يَنْتَفِي بِقَوْلِهِ لېکن که چيري مالک د [دويم] بچي نفي وکړي نو د هغه په قول سره د بچي [نسب] نفي کيږي لِأَنَّ فِرَاشَهَا ضَعِيفٌ ځکه چي د مينځي فراش کمزوري دی حَتّٰى يَمْلِكَ نَقْلَهُ بِالتَّزْوِيجِ همدا وجه ده چي مالک په نکاح ورکولو سره [د هغې] د فراش منتقل کولو ملکيت لري [يعني همدا وجه ده چي مالک دا اختيار لري چي د دغه مينځي نکاح د بل چا سره وکړي او خپل فراش هغه ته منتقل کړي] بِخِلَافِ الْمَنْكُوحَةِ په خلاف د منکوحه [معقوده] ښځي حَيْثُ لَا يَنْتَفِي الْوَلَدُ بِنَفْيِهِ إِلَّا بِاللِّعَانِ نو د لعان څخه بغير د خاوند په نفي کولو سره [د هغې] بچی نه نفي کيږي لِتَأَكُّدِ الْفِرَاشِ ځکه چي [د منکوحه ښځي] فراش مضبوط دی حَتّٰى لَا يَمْلِكَ إِبْطَالَهُ بِالتَّزْوِيجِ همدا وجه ده چي مالک په نکاح ورکولو سره [د هغې] د فراش باطلولو ملکيت نه لري وَهٰذَا الَّذِي ذَكَرْنَاهُ حُكْمٌ او دا کوم څه چي موږ ذکر کړل دا حکم دی فَأَمَّا الدِّيَانَةُ فَإِنْ كَانَ وَطِئَهَا وَحَصَّنَهَا وَلَمْ يَعْزِلْ عَنْهَا يَلْزَمُهُ أَنْ يَعْتَرِفَ بِهِ وَيَدَّعِيَ لېکن ديانت دا دی چي که مالک د اُم ولد سره وطي کړي وي او هغه يې [د خپل ځان لپاره] محفوظه ساتلې وي او له هغې څخه يې عزل کړی نه وي نو پر هغه لازم دي چي [د هغې] د بچي اقرار وکړي او د هغه [د نسب] دعوىٰ وکړي لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ الْوَلَدَ مِنْهُ ځکه چي ظاهري حالت همدا دی چي بچی له هغه څخه دی وَإِنْ عَزَلَ عَنْهَا أَوْ لَمْ يُحَصِّنْهَا او که مالک له هغې څخه عزل کړی وي يا يې هغه [د خپل ځان لپاره]

محفوظه ساتلې نه وي جَازَ لَهُ أَنْ يَنْفِيَهُ نو جائز دي هغه لره چي (د هغې) د بچي نفي وکړي لِأَنَّ هٰذَا الظَّاهِرَ يُقَابِلُهُ ظَاهِرٌ آخَرُ ځکه چي د دې ظاهري حالت په مقابله کي يو بل ظاهري حالت هم سته ايو ظاهري حالت دا دی چي که مالک هغه د خپل ځان لپاره محفوظه کړې وي او له هغې ځخه يې عزل نه وي کړی، نو ظاهري حالت دا دی چي دا بچی د مالک دی. او دويم ظاهري حالت دا دی چي که مالک له هغې ځخه عزل کړی وي او هغه يې محفوظه کړې هم نه وي، نو ظاهري حالت همدا دی چي دا بچی د هغه نه دی. دا دواړه ظاهري حالتونه سره متعارض دي، نو ځکه په دې باره کي شک پيدا سو چي دا بچی به د مالک وي. او د شک په وجه پر مالک دعویٰ کول لازم نه دي، نو ځکه به په دې صورت کي د مالک لپاره د بچي نسب نفي کول جائز وي(هٰكَذَا رُوِيَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ همداسي له امام صاحب رَحِمَهُ الله ځخه روايت سوی دی وَفِيهِ رِوَايَتَانِ أُخْرَيَانِ عَنْ أَبِي يُوسُفَ وَعَنْ مُحَمَّدٍ او په دې باره کي له صاحبينو رَحِمَهُمَا الله ځخه دوه روايتونه نور (هم) سته ذَكَرْنَاهُمَا فِي كِفَايَةِ الْمُنْتَهَى چي هغه موږ په "كفاية المنتهي" کي بيان کړي دي.

اللغات: ﴿لَمْ يَدَّعِ﴾ د افتعال له باب ځخه د جحد صيغه ده. په اصل کي يَدَّعِيُ وو: دعویٰ کول. ﴿إِفْضَاء﴾ د افعال مصدر دی: رسول، مفضي کېدل (سبب جوړېدل). ﴿مَعْقُوْدَة﴾ د اسم مفعول صيغه ده: هغه ښځه چي نکاح ور سره تړل سوې وي (په نکاح سوې ښځه). ﴿لَمْ يُحَصِّنْهَا﴾ د تفعيل له باب ځخه د جحد صيغه ده: حفاظت کول، خوندي کول، ښځه پاکه ساتل. ﴿يَنْفِيْهِ﴾ د ضرب مضارع ده: نفي کول، انکار کول.

تشريح: څرنګه چي اُم ولد د مالک تر مرګه پوري د هغه مينځه ده، نو ځکه مالک په اُم ولد کي پورتني ټوله تصرفات او معاملات کولای سي.

ولا يثبت نسب إلخ: فرمايي که د مينځي بچی پيدا سي، او مالک اقرار وکړي چي دا زما بچی دی، نو په دې صورت کي د بچي نسب د مالک سره ثابتيږي، او که هغه اقرار نه وکړي، نو نسب نه ثابتيږي. هو! که يو وار اقرار وکړي چي دا زما بچی دی. او بيا له هغه مينځي ځخه بل بچی پيدا سي، نو د دويم بچي نسب به خپله (خود بخوده) د مالک سره ثابتيږي. د مالک د دويم وار اقرار کولو ضرورت نسته.

وقال الشافعي إلخ: امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي که مالک قرار نه وکړي. نو هم د بچي نسب د مالک سره ثابتيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي که فقط نکاح وتړل سي او وطي نه وسي، نو بيا هم نسب ثابتيږي. او دلته خو مالک د مينځي سره وطي هم کړې دي، لهذا دلته به په درجه اولیٰ نسب ثابتيږي که ځه هم مالک د بچي د نسب دعویٰ نه وکړي.

زموږ دليل: دا دی چې د مينځې سره د وطي کولو مقصد "د بچي پيدا کول" نه وي، بلکې فقط شهوت او خواهش پوره کول وي، نو ځکه به هغه وخت نسب ثابتيږي کله چې مالک د بچي دعویٰ او اقرار وکړي، او د نکاح اصل مقصد "د بچي پيدا کول" وي، نو ځکه هلته له دعویٰ او اقرار څخه بغير هم نسب ثابتيږي.

فإن جاءت إلخ: د دې حاصل دا دی چې د مالک اقرار فقط د اول بچي په حق کې ضروري دی. لېکن وروسته چې کوم بچی پيدا سي، د هغه نسب له اقرار څخه بغير هم د مالک سره ثابتيږي؛ ځکه کله چې يو وار نسب ثابت سو او مينځه اُم ولد جوړه سوه، نو ثابته سوه چې د وطي مقصد "بچی پيدا کول" دي (يعني په وطي کولو سره د مالک مقصد "د بچي پيدا کول" دي)، نو ځکه به دويم بچی له دعویٰ څخه بغير هم (په خپله) د مالک بچی شمارل کيږي، لکه په نکاح کې چې بچی له دعویٰ څخه بغير د خاوند بچی شمارل کيږي.

إلا أنه إذا نفاه إلخ: او که مالک د اول بچي د نسب اقرار وکړي، او د دويم بچي د نسب انکار وکړي، نو په دې صورت کې د دويم بچي نسب د هغه سره نه ثابتيږي؛ ځکه چې د دې مينځې فراش کېدل ضعيف او کمزوري دي، همدا وجه ده که مالک د دې مينځې نکاح د يو بل چا سره وکړي، نو بيا دا مينځه د مالک فراش نه پاتيږي، د دې په خلاف د منکوحه ښځې فراش مظبوط دی او که يو څوک د خپلې منکوحه ښځې د بچي د نسب نفي وکړي، نو هغه به لعان کوي، او له طلاق ورکولو څخه بغير د منکوحه ښځې نکاح د بل چا سره کول صحيح نه دي، او اُم ولد مينځه داسې نه ده، نو ځکه موږ وايو که مالک د مينځې د دويم بچي د نسب نفي وکړي، نو هغه به نفي کيږي.

وهذا الذي ذكرناه إلخ: د دې حاصل دا دی چې که مالک د بچي د نسب نفي کول وغواړي، نو هغه د مينځې سره د وطي کولو باوجود هم داسې کولای سي، لېکن د ديانت تقاضا دا ده چې که هغه د مينځې سره وطي کوي او عزل نه کوي، نو هغه ته (ديانتاً) پکار دي چې د بچي د نسب اقرار وکړي، او که وطي نه ورسره کوي يا وطي ور سره کوي لېکن عزل کوي، نو بيا د بچي نسب نفي کولای سي. او په دې هکله له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله او امام محمد رَحِمَهُ الله څخه يو روايت بل هم نقل سوی دی کوم چې په كفاية المنتهي کې ذکر سوی دی، او د اولې هدايې په صفحه: ۴۷۴، يوولسمه (۱۱) حاشيه کې هم د عنايه په حواله سره د هغه تفصيل ذکر سوی دی، که تاسې غواړئ نو هلته يې وګورئ!

د أم ولد د بچيانو حكم

وَإِنْ زَوَّجَهَا فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ او كه مالک د خپل أم ولد نكاح ادبل چا سره او كړي او ابيا أم ولد بچى وزيږوي فَهُوَ فِي حُكْمِ أُمِّهِ نو هغه بچى به د خپلي مور په حكم كي وي لِأَنَّ حَقَّ الْحُرِّيَّةِ يَسْرِي إِلَى الْوَلَدِ ځكه چي د حريت [آزادى] حق د بچي و طرف ته سرايت كوي كَالتَّدْبِيرِ لكه [په] تدبير اكي چي سرايت كوي ا أَلَا تَرَى أَنَّ وَلَدَ الْحُرَّةِ حُرٌّ وَوَلَدَ الْقِنَّةِ رَقِيقٌ آيا ته نه گوري! چي د آزادي ښځي بچى آزادوي او د خالص مينځي بچى خالص غلام وي وَالنَّسَبُ يَثْبُتُ مِنَ الزَّوْجِ او [د دې بچي] نسب به د خاوند سره ثابتيږي لِأَنَّ الْفِرَاشَ لَهُ ځكه چي فرش د هغه لپاره دى وَإِنْ كَانَ النِّكَاحُ فَاسِدًا كه څه هم نكاح فاسده وي إِذِ الْفَاسِدُ مُلْحَقٌ بِالصَّحِيحِ فِي حَقِّ الْأَحْكَامِ ځكه چي د أحكامو په حق كي نكاح فاسد د نكاح صحيح سره لاحق ده وَلَوْ ادَّعَاهُ الْمَوْلَى لَا يَثْبُتُ نَسَبُهُ مِنْهُ او كه مالک د دې بچي دعوى وكړي نو [هم] د مالک سره د هغه نسب نه ثابتيږي لِأَنَّهُ ثَابِتُ النَّسَبِ مِنْ غَيْرِهِ ځكه چي د هغه نسب له مالک څخه بغير [د خاوند] سره ثابت دى وَيُعْتَقُ الْوَلَدُ او بچى به آزاديږي وَتَصِيرُ أُمُّهُ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ او د بچي مور به د مالک أم ولد گرځي لِإِقْرَارِهِ ځكه چي مالک د دې [بچي] اقرار كړى دى وَإِذَا مَاتَ الْمَوْلَى عَتَقَتْ مِنْ جَمِيعِ الْمَالِ او كله چي مالک مړ سي نو أم ولد به [د هغه] له ټول مال څخه آزاديږي لِحَدِيثِ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ أَنَّ النَّبِيَّ عليه السلام أَمَرَ [1] بِعِتْقِ أُمَّهَاتِ الْأَوْلَادِ وَأَنْ لَا يُبَعْنَ فِي دَيْنٍ وَلَا يُجْعَلْنَ مِنَ الثُّلُثِ د سعيد بن المسيب رضي الله عنه د حديث په وجه چي نبي ﷺ د أم ولد مينځو د آزادولو حكم وكړى او دا [حكم يې هم وكړى] چي هغوى به په هيڅ قرض كي نه خرڅول كيږي او هغوى به [د مال] له دريمي حصې څخه نه آزاديږي [بلكي له ټوله مال څخه به آزاديږي] وَلِأَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى الْوَلَدِ أَصْلِيَّةٌ او ځكه چي د بچي حاجت أصلي دى [يعني بچى د انسان له اصلي حاجاتو څخه يو حاجت دى] فَتُقَدَّمُ عَلَى حَقِّ الْوَرَثَةِ وَالدَّيْنِ نو ځكه به دا د وارثانو پر حق او پر قرض مخكي كيږي

---

[1] تخريج: غريب، وفي هذا أحاديث منها ما أخرجه الدار قطني تحت حديث رقم: ٤٢٠٣. والنسائي في الكبرى تحت حديث رقم: ٥٠٤١.

كَالتَّكْفِيْنِ لكه كفن وركول اچي پر دې شيانو مخكې كيږي] بِخِلَافِ التَّدْبِيْرِ په خلاف د تدبير [مدبر جوړولو] لِأَنَّهٗ وَصِيَّةٌ بِمَا هُوَمِنْ زَوَائِدِ الْحَوَائِجِ ځكه چې تدبير د داسې شي وصيت كول دي كوم چې له اصلي حاجاتو څخه زائد دى [يعني تدبير يو اضافي شى دى، حاجت اصلي نه دى] وَلَا سِعَايَةَ عَلَيْهَا فِي دَيْنِ الْمَوْلٰى لِلْغُرَمَاءِ او د مالك په قرض كې پر اُم ولد د قرض غوښتونكو لپاره هڅه [او كسب] كول واجب نه دي لِمَا رَوَيْنَا دهغه حديث په وجه كوم چې موږ روايت كړى وَلِأَنَّهَا لَيْسَتْ بِمَالٍ مُتَقَوِّمٍ او ځكه چې اُم ولد متقوم [قيمت لرونكي] مال نه دى حَتّٰى لَا تُضْمَنُ بِالْغَصْبِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ تر دې چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د غصب په وجه د هغې ضمان [پر غاصب] نه لازميږي فَلَا يَتَعَلَّقُ بِهَا حَقُّ الْغُرَمَاءِ كَالْقِصَاصِ لهذا د اُم ولد سره به د قرض غوښتونكو حق نه متعلق كيږي لكه د قصاص [سره چې د قرض غوښتونكو حق نه متعلق كيږي] بِخِلَافِ الْمُدَبَّرِ په خلاف د مدبر غلام لِأَنَّهٗ مَالٌ مُتَقَوِّمٌ ځكه چې هغه متقوم [قيمت لرونكى] مال دى.

اللغات: ﴿زَوَّجَهَا﴾ د تفعيل ماضي ده: نكاح تړل، د يو چا نكاح د بل چا سره كول، واده وركول. ﴿حُرِّيَّة﴾ آزادي، آزاد والى. ﴿يَسْرِيْ﴾ د ضرب مضارع ده: سرايت كول. ﴿الْقِنَّة﴾ خالص مينځه، مملوكه من كل الوجوه (هغه مينځه چې نه مكاتبه وي، نه مدبره وي او نه اُم ولد وي). ﴿فِرَاش﴾ بستر، بستره (منكوحه او مملوكه ښځې ته ځكه فراش وايي چې هغه د بسترې په شان تر خاوند لاندې وي). ﴿حَوَائِج﴾ حاجتونه، ضروريات، اړتياوې.

تشريح: د عبارت تر وضاحت مخكې دا اُصول په ياد لرئ چې د بچي حكم د مور د حكم په څېر دى (يعني بچى د خپلې مور تابع كيږي)، كه مور اُم ولد وي، نو بچى به هم د اُم ولد په حكم كې وي.

مسئله دا ده كه مالك خپله مينځه اُم ولد جوړه كړي، وروسته د هغې نكاح د بل چا سره وكړي، او له هغه (خاوند) څخه د مينځې بچى پيدا سي، نو د مينځې په څېر به د هغې بچى هم د دغه مالك غلام وي او كله چې مالك مړ سي، نو د مور سره به بچى هم آزاديږي.

والنسب يثبت: او د بچي نسب د مينځې د خاوند سره ثابتيږي، ځكه چې دا مينځه د خاوند فراش ده، او فراش چې د چا وي، نسب د هغه سره ثابتيږي. كه څه هم په نكاح فاسد سره يو چا د ښځې فراش حاصل كړى وي نو هم نسب ثابتيږي (ځكه فراش خو د هغه دى)، ځكه چې په أحكامو كې يعني د

نسب، مهر او د عدت په ثابتېدلو کې نکاحِ فاسد هم د نکاح صحيح سره ملحق ده. او په نکاحِ صحيح کې فراش د خاوند وي، نو په نکاحِ فاسد کې به هم فراش د خاوند وي.

ولو ادّعاه إلخ: د دې حاصل دا دی که مالک د بل سړي سره د خپل اُمِ ولد نکاح وکړي، او له هغه سړي څخه د اُمِ ولد بچی پیدا سي، او بیا مالک دعویٰ وکړي چې دا زما بچی دی، نو د دې بچي نسب د مالک سره نه ثابتېږي، ځکه چې اوس د خاوند سره د بچي نسب ثابت دی، خو څرنګه چې مالک د دې بچي اقرار کوي (چې دا زما بچی دیٰ)، نو ځکه به دا بچی له اوس څخه آزادیږي، او د هغه مور به دویم وار د مالک اُمِ ولد ګرځي.

وإذا مات المولى: او کله چې مالک مړ سي، نو اُمِ ولد به له ټوله مال څخه آزادیږي، نه به هغه خرڅول کیږي، او نه به د مال له دریمي حصې څخه آزادیږي، د أثمار الهدايې مصنف وايي چې صاحب د هدايې چې کوم حديث په دليل کې ذکر کړی دی، هغه په اصل کې دا حديث دی: "عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهٰى بَيْعِ أُمَّهَاتِ الأَوْلَادِ. وَقَالَ: لَا يُبَعْنَ وَلَا يُوهَبْنَ وَلَا يُورَثْنَ. يَسْتَمْتِعُ بِهَا سَيِّدُهَا مَا دَامَ حَيًّا فَإِذَا مَاتَ فَهِيَ حُرَّةٌ" (سنن دار قطني، كتاب المكاتب، ج:۴، ص:۷۵، حديث رقم: ۴۲۰۳، سنن بيهقي، ج:۱۰، ص:۵۷۲، حديث رقم: ۲۱۷۶۳)، له دې حديث څخه معلومه سوه چې اُمِ ولد به د مالک تر مرګ وروسته آزادي، او په دې باره کې نور حديثونه هم سته.

ولأن الحاجة إلخ: د عقلي دليل حاصل دا دی چې د بچي حق له قرض (پور) او وارثانو څخه هم مخکې دی، ځکه چې د بچي حاجت اصلي حاجت دی (يعنې بچی د انسان له حوائجِ اصليه وو څخه دی)، لهذا هغه په قرض کې هم خرڅول کېدای نه سي، نو ځکه به بچی او مور دواړه په پوره ټوګه له ټوله مال څخه آزاديږي، د دې په خلاف تدبير (مدبر جوړول) يو زائد شی دی (حاجتِ اصلي نه دی)، نو ځکه به مدبر غلام د مال له دريمي حصې څخه آزاديږي.

ولا سعاية عليها إلخ: که مالک مړ سي او پر هغه د يو چا قرض پاته وي، نو اُمِ ولد به نه د هغه په قرض کې خرڅول کيږي، او نه به اُمِ ولد د قرض غوښتونکو (غرماؤ) لپاره مال ګټي (يعني د مړه سوي مالک د قرض لپاره به هغه کسب او مزدوري هم نه کوي)، ځکه چې مخکې حديث تېر سو چې اُمِ ولد به نه خرڅول کيږي، د دې مطلب دا دی چې هيڅ وارث ته جائز نه دي چې اُمِ ولد خرڅه کړي او ګټه پر وکړي (يعني خپل مال په ډېر کړي)، لهذا کله چې د هغې خرڅول (او ګټه پر کول) جائز نه دي، نو ښکاره خبره ده چې په هغې به کسب او مزدوي کول هم جائز نه وي.

ولأنها ليست بمال: په اُم ولد کې د آزادۍ شائبه راغلې ده، نو ځکه هغه غیر متقوم مال دی (یعني قیمت لرونکی مال نه دی، او پر هغې به قیمت نه لګول کیږي)، د دې دوه مثالونه ذکر کوي: ①... یو مثال دا چې که یو څوک اُم ولد غصب کړي او د غاصب سره اُم ولد مړه سي، نو پر غاصب ضمان نه واجبیږي، ځکه چې اُم ولد غیر متقوم مال دی، ②... او بل دا چې څرنګه د قصاص سره د قرض غوښتونکو (غرماؤ) حق نه متعلق کیږي (یعني د مقتول غرماؤ ته دا حق نسته چې له قاتل څخه د قصاص په عوض کې د خپلو قرضو مطالبه وکړي)، همداسې د اُم ولد سره هم د قرض غوښتونکو حق نه متعلق کیږي، نو معلومه سوه چې اُم ولد متقوم مال نه دی، لکه قصاص چې متقوم مال نه دی، په خلاف د مدبر ځکه چې هغه متقوم مال دی، نو ځکه به هغه د مالک د قرض لپاره کسب او مزدوري هم کوي، او که چیري یو څوک مدبر غصب کړي او د غاصب سره هغه مړ سي، نو پر غاصب به د هغه ضمان او تاوان هم واجب وي.

که د کافر سړي اُم ولد اسلام راوړي؟ (حکم او اختلاف)

وَإِذَا أَسْلَمَتْ أُمُّ وَلَدِ النَّصْرَانِيِّ او کله چې د نصراني [عیسائي] اُم ولد اسلام راوړي فَعَلَيْهَا أَنْ تَسْعَى فِي قِيمَتِهَا نو پر هغې ضروري دي چې په خپل قیمت کې به هڅه [او کسب] کوي وَهِيَ بِمَنْزِلَةِ الْمُكَاتَبَةِ او هغه د مکاتبې مینځې په درجه کې ده لَا تُعْتَقُ حَتَّى تُؤَدِّيَ السِّعَايَةَ [او] هغه نه آزادیږي تر دې چې سعایه [یعني قیمت] اداء کړي [یعني تر څو چې هغې خپل د ځان قیمت اداء کړی نه وي تر هغه وخته پوري نه آزادیږي] وَقَالَ زُفَرُ: تُعْتَقُ فِي الْحَالِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چې هغه فی الحاله [فوراً] آزادیږي وَالسِّعَايَةُ دَيْنٌ عَلَيْهَا او سعایه به پر هغې قرض وي وَهَذَا الْخِلَافُ فِيمَا إِذَا عُرِضَ عَلَى الْمَوْلَى الْإِسْلَامُ فَأَبَى او دا اختلاف په هغه صورت کې دی کله چې پر مالک اسلام پېش کړی سي او مالک انکار وکړي فَإِنْ أَسْلَمَ تَبْقَى عَلَى حَالِهَا او که چیري مالک اسلام راوړي نو اُم ولد به پر خپل حالت باقي پاتېږي لَهُ: أَنَّ إِزَالَةَ الذُّلِّ عَنْهَا بَعْدَ مَا أَسْلَمَتْ وَاجِبَةٌ د امام زفر رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې له اُم ولد څخه د هغې تر اسلام راوړلو وروسته [د کفر] ذلت لیرې کول ضروري دي وَذَلِكَ بِالْبَيْعِ أَوْ الْإِعْتَاقِ او دا [فقط] په خرڅولو یا آزادولو سره لیرې کیږي وَقَدْ تَعَذَّرَ الْبَيْعُ او [د اُم ولد] خرڅول ناممکن دي فَتَعَيَّنَ الْإِعْتَاقُ نو ځکه آزادول متعین سو [چې هغه به آزادول کیږي] وَلَنَا أَنَّ النَّظَرَ مِنَ الْجَانِبَيْنِ فِي جَعْلِهَا مُكَاتَبَةً زموږ دلیل دا دی: چې د اُم ولد په مکاتبه ګرځولو کې دواړو

طرفونو فايده [اوښېګڼه] سته لِأَنَّهُ يَنْدَفِعُ الذُّلُّ عَنْهَا بِصَيْرُورَتِهَا حُرَّةً يَدًا ځکه چي له اُم ولد څخه به ذلت ليري سي چي هغه به د قبضې په اعتبار سره [يعني د قيمت اداء کولو په اعتبار سره] آزاده وګرځي وَالضَّرَرُ عَنِ الذِّمِّيِّ او له ذمي څخه به [هم] ذلت [ليري سي] لِانْبِعَاثِهَا عَلَى الْكَسْبِ نَيْلًا لِشَرَفِ الْحُرِّيَّةِ ځکه چي د آزادۍ د شرف حاصلولو لپاره به هغه [اُم ولد] پر [مال] ګټلو [او پر کار کولو] آماده وي [او د آزادۍ د حصول لپاره به هغه په شوق او چسپاندي سره خپل د ځان قيمت ګټي] فَيَصِلُ الذِّمِّيُّ إِلَى بَدَلِ مِلْكِهِ او ذمي به د خپل ملکيت عوض ته ورسيږي [يعني د خپل ملکيت قيمت به حاصل کړي] أَمَّا لَوْ أُعْتِقَتْ وَهِيَ مُفْلِسَةٌ ليکن که اُم ولد [في الحاله] آزاده کړی سي [چي تر اوسه يې خپل قيمت اداء کړی نه وي] او هغه غريبه [هم] وي تَتَوَانَى فِي الْكَسْبِ نو په [مال] ګټلو کي به سستي کوي [ليکن که قيمت ګټل (او سعايه) پر هغې ضروري وګرځول سي، نو هغه به د آزادۍ د حصول لپاره په شوق او چسپاندي سره سعايه کوي، نو ځکه به سعايه پر هغې ضروري وي او تر سعايه مخکي به نه آزاديږي] وَمَالِيَّةُ أُمِّ الْوَلَدِ يَعْتَقِدُهَا الذِّمِّيُّ مُتَقَوِّمَةً او ذمي د خپل اُم ولد پر ماليت د متقوم کېدلو عقيده لري [يعني ذمي خپل اُم ولد متقوم مال ګڼي] فَيُتْرَكُ وَمَا يَعْتَقِدُهُ نو هغه او خپله عقيده به سره پرېښوول کيږي [يعني په دې هکله به د هغه د اعتقاد رعايت کيږي] وَلِأَنَّهَا إِنْ لَمْ تَكُنْ مُتَقَوِّمَةً فَهِيَ مُحْتَرَمَةٌ او ځکه چي د اُم ولد ماليت که څه هم متقوم نه دی خو محترم [خامخا] دی وَهَذَا يَكْفِي لِوُجُوبِ الضَّمَانِ او د هغه محترم کېدل د ضمان واجبېدلو لپاره کافي دي كَمَا فِي الْقِصَاصِ الْمُشْتَرَكِ إِذَا عَفَا أَحَدُ الْأَوْلِيَاءِ يَجِبُ الْمَالُ لِلْبَاقِينَ لکه کله چي په مشترک قصاص کي يو ولي معافي وکړي نو د پاته وليانو لپاره مال واجبيږي وَلَوْ مَاتَ مَوْلَاهَا عَتَقَتْ بِلَا سِعَايَةٍ او که د دې اُم ولد مالک مړ سي نو دا به له سعايه څخه بغير آزاديږي لِأَنَّهَا أُمُّ وَلَدٍ ځکه چي دا [د هغه] اُم ولد ده وَلَوْ عَجَزَتْ فِي حَيَاتِهِ لَا تُرَدُّ قِنَّةً او که دا مينځه د مالک په ژوند کي [له سعايه څخه] عاجزه سي نو [دوېم وار] به خالص مينځه نه ګرځول کيږي لِأَنَّهَا لَوْ رُدَّتْ قِنَّةً ځکه که هغه خالص مينځه وګرځول سي أُعِيدَتْ مُكَاتَبَةً نو واپس به مکاتبه وګرځول سي لِقِيَامِ الْمُوجِبِ ځکه چي سبب موجود دی [نو ځکه به خالص مينځه نه ګرځول کيږي].

اللغات: ﴿سِعَايَة﴾ د سمع مصدر دی: هڅه او کوښښ کول، د يو چا د حق اداء کولو لپاره کوښښ کول، کسب او مزدوري کول (مال ګټل)، خواري کارول، ﴿الذُّل﴾ ذِلت، ذلالت (ذليل والي)، رزالت، (نحوست)، ﴿إنْبِعَاث﴾ د انفعال مصدر دی: آماده کېدل (چمتو کېدل)، پورته کېدل، تشويقېدل (په شوق راتلل)، ﴿نَيْل﴾ د فتح مصدر دی: حاصلول، ترلاسه کول، ﴿تَتَوَانیٰ﴾ د تفاعل مضارع ده: سستي کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د نصراني مالک اُم ولد مسلمانه سي، نو زموږ په نېز هغه اوس نه آزاديږي، بلکي هغه به د خپل قيمت لپاره کسب او مزدوري کيږي (يعني خواري به کاږي او د خپل ځان قيمت به ګټي)، او تر اُم ولد کېدلو مخکي چي د مينځي توب په حالت کي د هغې کوم قيمت وي، د هغه قيمت دريمه حصه به دغه اُم ولد خپل مالک (نصراني) ته ورکوي، بيا آزاديږي، لکه څرنګه چي مکاتبه مينځه د بدل کتابت له اداء کولو څخه مخکي نه آزاديږي، همداسي دا اُم ولد هم تر خپل قيمت اداء کولو مخکي نه آزاديږي.

لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي اُم ولد له کسب او مزدوري کولو (قيمت ګټلو) څخه مخکي آزاديږي، او تر آزادېدلو وروسته به د خپل ځان قيمت ګټل پر هغې قرض وي.

د امام زفر دليل: دا دی چي کله اُم ولد اسلام راوړي نو له هغې څخه د کفر ذلت ليري کول ضروري دي، او هغه فقط په دوو طريقه سره ليري کېدای سي: ① د خرڅولو په ذريعه، ② د آزادولو په ذريعه، او د حديث پر بناء د هغې خرڅول جائز نه دي، لهذا اوس به فقط د آزادولو په ذريعه له هغې څخه د کفر ذلت او نحوست ليري کيږي، او د هغې آزادي به د قيمت تر اداء کولو او مال ګټلو پوري نه ځنډول کيږي.

وروسته مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا حکم په هغه وخت کي دی کله چي پر مالک اسلام پېش کړی سي، او هغه له اسلام راوړلو څخه انکار وکړي، لېکن که هغه اسلام راوړي، نو مينځه د هغه اُم ولد پاتيږي، ځکه چي اوس د مينځي لپاره د مالک په اُم ولد کېدلو کي هيڅ ذلت او نحوست نسته.

زموږ دليل: دا دی چي يوه طرف ته د اُم ولد إسلام دی، او بل طرف ته د مالک ملکيت دی، لهذا يو داسي صورت به اختياريږي، چي په هغه کي اُم ولد او مالک دواړو ته نقصان نه ورسيږي، او هغه صورت دا دی چي دلته اُم ولد مکاتبه وګرځول سي، په دې کي د دواړو فايده ده، ځکه چي د قيمت په ګټلو سره به هغه د مالک (نصراني) په ژوند کي آزاده سي، او ذلت به هم ختم سي (دا د اُم ولد فايده ده)، او مالک ته به د اُم ولد قيمت حاصل سي (دا د مالک فايده ده).

د دې په خلاف که موږ أم ولد تر سعايه او قيمت ګټلو مخکې آزاده وګرځوو (لکه څرنګه چې امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي)، او أم ولد غريبه هم وي، يعني د هغې سره هيڅ مال هم نه وي چې له هغې څخه واخيستل سي، نو په دې صورت کې به هغه په سعايه او مال ګټلو کې سستي کوي، او د أم ولد مقصد خو به حاصل سي، لېکن د مالک مقصد به حاصل نه سي، او د دواړو طرفونو لپاره به فايده او ښېګڼه ثابته نه سي، نو په دې وجه موږ تر سعايه مخکې أم ولد آزاده نه ګرځوو.

ومالية أم الولد إلخ: د ذمي کېدلو په وجه د نصراني خاوند عقيده همدا ده چې أم ولد آزاده نه ده. بلکې هغه خرڅول کېدای سي (يعني د نصراني مالک په نېز أم ولد متقوم مال دی)، نو ځکه د هغه د اعتقاد د رعايت کولو په وجه هم أم ولد آزاده ګرځول پکار نه دي، بلکې هغې ته به د خپل قيمت ګټلو او سعايه (کسب او مزدورۍ) کولو حکم کيږي.

ولأنها إلخ: او بل دا چې کله أم ولد مسلمانه سي، نو هغه محترمه او د تکريم لائقه وګرځېده، او د هغې محترمه کېدل د ضمان د وجوب لپاره کافي دي، د دې مثال دا دی لکه د قصاص حق چې مثلاً د څلور خلکو په مينځ کې مشترک وي، او له دوی څخه يو سړی قصاص معاف کړي، او نور يې معاف نه کړي، نو د پاته درېو خلکو لپاره مال واجبيږي (يعني قاتل به هغو ته ديت ورکوي). ځکه چې مقتول محترم دی، د هغه د احترام او تکريم تقاضا دا ده چې د پاته درېو خلکو لپاره مال واجب سي، همداسې أم ولد هم محترمه ده، نو ځکه به پر هغې ضمان لازم وي.

ولو مات مولاها إلخ: د نصراني أم ولد په هر حال کې د هغه أم ولد ده. لهذا کله چې مالک (نصراني) د أم ولد تر سعايه کولو مخکې مړ سي، نو هم أم ولد آزاديږي.

ولو عجزت إلخ: او که دا مينځه له سعايه (کسب او مال ګټلو) څخه عاجزه سي، نو هغه دويم وار مينځه نه ګرځي، بلکې هغسې أم ولد پاتيږي، ځکه که چيرې موږ هغه مينځه وشمارو، نو د هغې د اسلام او د مالک د کفر په وجه به هغه مکاتبه شمارل کيږي، ځکه چې د کتابت سبب اوس هم په دواړو طرفونو کې موجود دی، لهذا هغه به پر خپل حالت پرېښوول کيږي، او مينځه به نه ګرځول کيږي.

که يو څوک د خپلې مينځې مالک جوړ سي؟ (حکم او اختلاف)

وَمَنِ اسْتَوْلَدَ أَمَةَ غَيْرِهِ بِنِكَاحٍ او څوک چې د نکاح په ذريعه د بل چا له مينځې څخه بچی حاصل کړي ثُمَّ مَلَكَهَا بيا هغه د دې مينځې مالک جوړ سي صَارَتْ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ نو دا مينځه د هغه أم ولد ګرځي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا تَصِيرُ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د هغه أم ولد نه ګرځي

وَنَوِ اسْتَوْلَدَهَا بِمِلْكِ يَمِيْنٍ او كه [يو څوک] د ملک يمين په ذريعه له مينځي څخه بچى حاصل كړي ثُمَّ اُسْتُحِقَّتْ بيا دا مينځه [د بل چا] مستحقه سي [يعني د بل چا وخېږي] ثُمَّ مَلَكَهَا [او] بيا هغه د دې مينځي مالک جوړ سي تَصِيْرُ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ عِنْدَنَا نو زموږ په نېز دا مينځه د هغه أم ولد ګرځي وَلَهُ فِيْهِ قَوْلَانِ. او په دې [مسئله] كي د امام شافعي رَحِمَهُ الله دوه قوله دي وَهُوَ وَلَدُ الْمَغْرُوْرِ او همدا "ولدُ المغرور" (د دوكه سوي سړي بچى) دى [يعني داسي بچي ته "ولدُ المغرور" وايي] لَهُ: أَنَّهَا عَلِقَتْ بِرَقِيْقٍ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي دا مينځه په غلام سره حامله سوې ده [يعني په نس كي يې غلام حمل دى] فَلَا تَكُوْنُ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ نو ځكه به د هغه سړي أم ولد نه وي كَمَا إِذَا عَلِقَتْ مِنَ الزِّنَا ثُمَّ مَلَكَهَا الزَّانِي لكه په هغو صورت كي كله چي مينځه په زنا سره حامله سي [او] بيا زاني د هغې مالک سي [نو په دې صورت كي مينځه د زاني أم ولد نه ګرځي] وَهَذَا لِأَنَّ أُمُوْمِيَّةَ الْوَلَدِ بِاعْتِبَارِ عُلُوْقِ الْوَلَدِ حُرًّا او دا په دې وجه چي أم ولد كېدل په دې اعتبار سره دي چي بچى د آزاد والي په حالت كي په حمل كي قرار نيولى وي [يعني مينځه په هغه نطفې او بچي سره أم ولد ګرځي چي هغه د آزاد والي په حالت كي د مينځي په رحم كي قرار نيولى وي، مطلب دا چي كله مينځه په آزاد بچي سره حامله سوې وي] لِأَنَّهُ جُزْءُ الْأُمِّ فِي تِلْكَ الْحَالَةِ ځكه چي د حمل په حالت كي بچى د خپلي مور جزء وي وَالْجُزْءُ لَا يُخَالِفُ الْكُلَّ او جزء له كل څخه نه مخالف كيږي [او نه ځني جلا كيږي] وَلَنَا: أَنَّ السَّبَبَ هُوَ الْجُزْئِيَّةُ عَلَى مَا ذَكَرْنَا مِنْ قَبْلُ او زموږ دليل دا دى چي [د أم ولد جوړېدلو] سبب جزئيت دى. لكه مخكي چي موږ ذكر كړه وَالْجُزْئِيَّةُ إِنَّمَا تَثْبُتُ بَيْنَهُمَا بِنِسْبَةِ الْوَلَدِ الْوَاحِدِ إِلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا كَمَلًا او جزئيت د دوى [واطئ او موطوئه] په مينځ كي هغه وخت ثابتيږي كله چي په دوى كي د هريوه وطرف ته په بشپړه توګه د بچي نسبت [سوى] وي وَقَدْ ثَبَتَ النَّسَبُ او [په دې مسئله كي] نسب ثابت دى فَتَثْبُتُ الْجُزْئِيَّةُ بِهَذِهِ الْوَاسِطَةِ نو په همدې واسطه سره به جزئيت [هم] ثابت وي بِخِلَافِ الزِّنَا لِأَنَّهُ لَا نَسَبَ فِيْهِ لِلْوَلَدِ إِلَى الزَّانِي په خلاف د زناء. ځكه چي په زناء كي د زاني لپاره د بچي [هيڅ] نسب نه ثابتيږي وَإِنَّمَا يُعْتَقُ عَلَى الزَّانِي إِذَا مَلَكَهُ لِأَنَّهُ جُزْؤُهُ حَقِيْقَةً بِغَيْرِ وَاسِطَةٍ او

کله چي زاني د بچي مالک سي نو بچی [ځکه] پر هغه آزاديږي، ځکه چي دا بچی بيله واسطې حقيقتاً د زاني جزء دی نَظِيرُهُ: مَنِ اشْتَرٰى أَخَاهُ مِنَ الزِّنَا د دې مثال دا دی: لکه يو څوک چي خپل د زنا والا ورور رانيسي لَا يُعْتَقُ عَلَيْهِ نو هغه پر ده [رانيونکي ورور] نه آزاديږي لِأَنَّهُ يُنْسَبُ إِلَيْهِ بِوَاسِطَةِ نِسْبَتِهِ إِلَى الْوَالِدِ ځکه چي هغه [د زنا ورور] د پلار وطرف ته د منسوبېدلو په واسطه سره د دې [رانيونکي] ورور وطرف ته منسوب کيږي وَهِيَ غَيْرُ ثَابِتَةٍ او [د دوی په مينځ کي] د پلار نسبت ثابت نه دی.

اللغات: ﴿إِسْتَوْلَدَ﴾ د استفعال ماضي ده: د بچي طلب کول، بچی حاصلول، اُم ولد جوړول. ﴿إِسْتَحَقَّتْ﴾ د استفعال ماضي ده: مستحق کېدل (يعني چي مينځه د بل مالک مستحقه سي، او د بل چا وخيږي (د بل چا مملوکه ثابته سي)، ﴿عَلِقَتْ﴾ عُلُوْق: حامله کېدل (بلاربېدل)، د ښځي په رحم کي نطفه قرار نيول، ﴿زَانِيْ﴾ د ضرب اسم فاعل دی: زنا کاره، زنا کونکی، ﴿نَظِيْر﴾ مثال، مشابه.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړی د بل چا د مينځي سره نکاح وکړي، او له هغې څخه يې بچی پيدا سي، بيا هغه دا مينځه رانيسي، نو دا مينځه د هغه اُم ولد جوړيږي، که څه هم د بچي د پيدا کېدلو په وخت کي دا د هغه مينځه نه وه (ځکه دا که څه هم وروسته د مالک مينځه جوړه سوې ده، لېکن د هغه د بچي مور خو ده، نو ځکه به وروسته د هغه اُم ولد ګرځي، او د مالک تر مرګ وروسته به آزاديږي). امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا مينځه د هغه اُم ولد نه جوړيږي (ځکه چي د بچي پيدا کېدلو په وخت کي دا د هغه مينځه نه ده، بلکي منکوحه ښځه يې ده).

ولواستولدها إلخ: او که يوه مينځه د بچي پيدا کېدلو په وخت کي د يو چا مملوکه (مينځه) وي. او وروسته معلومه سي چي هغه د بل چا مينځه ده (يعني د بل چا مينځه وخيږي)، خو وروسته هغه مينځه بيرته د دې مالک په ملکيت کي راسي، نو هغه د ده اُم ولد جوړيږي، او په دې هکله له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه دوه قوله نقل سوي دي: يو قول دا دی چي دا مينځه بيرته د دې مالک اُم ولد جوړيږي. او دويم قول يې دا دی چي د ده اُم ولد نه جوړ کيږي. ځکه چي دغه پيدا سوی بچی "وَلَدُ الْمَغْرُوْر" (د دوکه سوي پلار بچی) دی. ځکه چي د دې بچي پلار ته دوکه ورکول سوه (چي دا مينځه د هيچا په ملکيت کي نه ده. لېکن وروسته معلومه سوه چي هغه د بل چا په ملکيت کي ده). او د داسي مينځي او بچي حکم دا دی چي مينځه د هغه (مغرور) اُم ولد نه جوړيږي. او د دې بچي

قيمت به اداء کيږي، او تر قيمت اداء کولو وروسته بچی آزاديږي او د پلار (مغرور) سره د هغه نسب ثابتيږي، نو ځکه به دلته مينځه د دې مالک اُم ولد نه جوړيږي.

له أنها علقت إلخ: د امام شافعي رَحِمَهُ الله د عقلي دليل حاصل دا دی چي د اُم ولد جوړيدلو لپاره دا ضروري دي چي د مينځي په نس کي به آزاد بچي حمل نيولی وي (يعني مينځه به په آزاد بچي سره حامله سوې وي)، ځکه چي د حمل په حالت کي بچی د خپلي مور جزء وي، او جزء د کُل نه مخالف کيږي (يعني فرع د أصل نه مخالف کيږي)، او دلته که مور بچی آزاد وشمارو، نو جزء (بچی) به د کُل (مور) مخالف سي، ځکه چي د هغه مور د خپل مالک مينځه او مملوکه ده (او بچی د مور تابع وي)، لهذا دا مينځه اوس په غلام سره حامله ده (يعني اوس د مملوکيت په وخت کي به د هغې حمل غلام شمارل کيږي)، او ښکاره خبره ده چي کله حمل غلام وي، نو پيدا کيږي به هم غلام. لهذا نه به دا بچی آزاد وي، او نه به د دې بچي په وجه مور اُم ولد جوړيږي (ځکه چي جزء له کُل څخه نه جلا کيږي). لکه يو سړی چي د بل چا د مينځي سره زناء وکړي، او د زناء په وجه بچی پيدا سي، بيا زاني د دې مينځي مالک سي، نو هم هغه مينځه د زاني اُم ولد نه جوړيږي. همداسي به دلته هم دا مينځه د وطي کونکي (خاوند) اُم ولد نه جوړيږي.

ولنا أن السبب إلخ: زموږ دليل دا دی چي دا بچی جزء دی، د مور هم او د پلار هم (يعني بچی د موطوئه مينځي هم جزء دی او د واطئ پلار هم جزء دی)، نو دلته به دغه بچی د جزئيت په وجه سره آزاديږي، او د بچي نسب به د پلار سره ثابتيږي، لهذا پلار چي کله هم د مور مالک جوړ سي، نو مور به اُم ولد جوړيږي، د دې په خلاف د زاني سره خو بالکل نسب نه ثابتيږي، نو ځکه به د زناء په بچي سره (مزنيه) مينځه د هغه د اُم ولد نه جوړيږي.

وإنما يعتق إلخ: دا د يو اعتراض جواب دی، اعتراض دا دی چي که مثلاً زيد د يوې مينځي سره زنا وکړه، او له هغې څخه يې بچی پيدا سو، او بيا زيد د هغې مينځي او بچي مالک سو، نو دا بچی آزاديږي، حالانکي د دې بچي نسب د پلار (زيد) سره نه ثابتيږي، نو دلته له نسب ثابتېدلو څخه بغير بچی څنګه آزاديږي!؟. نو د هغه په جواب کي فرمايي چي دلته د نسب په واسطه سره بچی نه آزاديږي، بلکي بچی په حقيقت کي د زاني جزء دی، نو د دې جزئيت په وجه آزاديږي.

نظيره إلخ: د دې مثال دا دی چي که زيد د يوې ښځي سره زنا وکړه او له هغې څخه عُمر پيدا سو. او بيا د عمر ورور خالد هغه (عمر) رانيوی، نو پر خالد باندي عمر نه آزاديږي، ځکه چي دلته د عمر نسب د زيد سره ثابت نه دی، ځکه چي هغه له زنا څخه پيدا سوی دی، او يو څوک د نسب په واسطه سره د بل چا ورور جوړيږي، او دلته نسب ثابت نه دی، نو ځکه به عمر پر خالد نه آزاديږي (ځکه چي عُمر د هغه ورور نهٔ سو). لېکن که زيد (پلار) د عمر مالک سي، نو عمر پر زيد آزاديږي، ځکه چي عمر د زيد (براهِ راست) جزء دی.

که پلار د خپل زوی مينځه ام ولد جوړه کړي؟

وَإِذَا وَطِئَ جَارِيَةَ ابْنِهِ او که چيرې پلار د زوی د مينځې سره وطي وکړي فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ او [بيا] مينځه بچی وزيږوي فَادَّعَاهُ او پلار په هغه بچي دعوی وکړي ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ نو د پلار سره د هغه بچي نسب ثابتيږي وَصَارَتْ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ او دا مينځه د هغه ام ولد ګرځي وَعَلَيْهِ قِيمَتُهَا او پر پلار به د دې مينځې قيمت لازم وي وَلَيْسَ عَلَيْهِ عُقْرُهَا وَلَا قِيمَةُ وَلَدِهَا [ليکن] د مينځې مهر به پر پلار لازم نه وي او نه به د هغې د بچي قيمت پر لازم وي وَقَدْ ذَكَرْنَا الْمَسْأَلَةَ بِدَلَائِلِهَا فِي كِتَابِ النِّكَاحِ مِنْ هٰذَا الْكِتَابِ او دا مسئله موږ د خپلو دلائلو سره د دې کتاب [هدايې] په کتاب النکاح کې بيان کړې ده [تاسي يې هلته وګورئ!] وَإِنَّمَا لَا يَضْمَنُ قِيمَةَ الْوَلَدِ لِأَنَّهُ انْعَلَقَ حُرَّ الْأَصْلِ او پلار به په دې وجه د بچي د قيمت نه ضامن کيږي، ځکه چې دغه بچي له شروع څخه د آزاد والي په حالت کې په حمل کې قرار نيولی وو [يعني دا بچی د حمل له وخت څخه آزاد دی] لِاسْتِنَادِ الْمِلْكِ إِلَى مَا قَبْلَ الِاسْتِيلَادِ ځکه چې [د پلار] ملکيت د بچي تر حاصلولو [وطي کولو] مخکې وخت ته منسوب [او منل سوی] دی [يعني ځکه چې د پلار تر وطي کولو مخکې به په دې مينځه کې د پلار ملکيت ثابت منل کيږي، ځکه چې دا د هغه د زوی مينځه ده] وَإِنْ وَطِئَ أَبُو الْأَبِ مَعَ بَقَاءِ الْأَبِ او که نيکه د پلار په وجود کې [د خپل لمسي د مينځې سره] وطي وکړي لَمْ يَثْبُتِ النَّسَبُ نو [د نيکه سره د بچي] نسب نه ثابتيږي لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لِلْجَدِّ حَالَ قِيَامِ الْأَبِ ځکه چې د پلار د وجود په حالت کې نيکه لره ولايت حاصل نه دی وَلَوْ كَانَ الْأَبُ مَيِّتًا او که پلار مړ سوی وي ثَبَتَ مِنَ الْجَدِّ نو د نيکه سره [د بچي] نسب ثابتيږي كَمَا يَثْبُتُ مِنَ الْأَبِ لکه څرنګه چې د پلار سره ثابتيږي لِظُهُورِ وِلَايَتِهِ عِنْدَ فَقْدِ الْأَبِ ځکه چې د پلار د نشتوالي [ناموجوديت] په وخت کې د نيکه ولايت ښکاره کيږي [او ثابتيږي] وَكُفْرُ الْأَبِ وَرِقُّهُ بِمَنْزِلَةِ مَوْتِهِ او د پلار کافر والي او غلام والي د هغه د مړه کېدلو په حکم کې دي لِأَنَّهُ قَاطِعٌ لِلْوِلَايَةِ ځکه چې دا [کفر او غلامي] هم د ولايت ختمونکي دي.

اللغات: ﴿عُقْر﴾ مهر، د جماع کولو جرمانه، د وطي کولو قيمت. ﴿اِنْعَلَق﴾ د انفعال ماضي ده: په حمل کې راتلل، نطفه په رحم کې قرار نيول، حمل پيدا کېدل. ﴿فَقْد﴾ د نصر مصدر دی: ورکېدل (ورکوالي، نشتوالي، معلوم والي، ناموجوديت). ﴿رِقّ﴾ غلامتوب (غلام والي).

تشريح: د عبارت تر وضاحت مخکي دا يو اُصول په ياد لرئ! چي د زوی مال د ضرورت پر موقع د پلار مال شمارل کيږي (يعني د ضرورت په وخت کي د زوی مال د پلار مال دی).

مسئله: دا ده که پلار د زوی د مينځي سره جماع وکړي او د هغه په وجه بچی پيدا سي، او بيا پلار دعویٰ وکړي چي دا زما بچی دی، نو د دې بچي نسب د پلار سره ثابتيږي، او پر پلار به د مينځي قيمت لازم وي چي هغه به پلار خپل زوی ته ورکوي، لېکن د مينځي مهر او د بچي قيمت به پر پلار لازم نه وي (دا مسئله په پورتني اُصول باندي مبني ده چي د زوی مال د ضرورت په وخت کي د پلار مال دی)، صاحب د هدايې فرمايي چي دا مسئله د کتابُ النکاح د بابُ الرقيق په آخر کي د پوره تفصيل او دلائلو سره بيان سوې ده، لهذا د را اګر ځولو ضرورت يې نسته.

وإنما لا يضمن إلخ: دلته فقط تاسي دا په ياد لرئ! چي پر پلار د بچي قيمت ځکه نه لازميږي، چي تر بچي پيدا کېدلو مخکي مينځه د پلار په ملکيت کي داخله سوه، او بچی ګواکي د هغه له خپلي مينځي څخه پيدا سو، نو ځکه به د بچي قيمت پر پلار لازم نه وي. (إنْعَلَقَ حُرُّ الأصل: د دې جملې مطلب دا دی چي کله د دغه بچي حمل د مور په نس کي قرار ونيوی [يعني کله چي په دې بچي سره مور حامله سوه]، نو ګواکي په هغه وخت کي دا بچی آزاد وو، ځکه چي په هغه وخت کي د دې بچي مور ګواکي د پلار خپله مينځه وه).

وإن وطئ ابو إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د پلار د ژوندن په حالت کي نيکه د لمسي د مينځي سره وطي وکړي، او له مينځي څخه بچی پيدا سي، نو د دې بچي نسب د پلار سره نه ثابتيږي، ځکه چي د پلار په ژوند کي نيکه لره هيڅ حق نه ثابتيږي، نو تر وطي او بچي پيدا کېدلو مخکي مينځه د هغه په ملکيت کي داخلېدای نه سي (لکه څرنګه چي د پلار په ملکيت کي داخلېده)، نو د هغه وطي به په خپل ملکيت کي واقع سوې نه وي (بلکي د بل چا په ملکيت کي به واقع سوې وي)، نو ځکه به د بچي نسب د نيکه سره نه ثابتيږي (دا مسئله پر دې اُصول مبني ده چي د پلار په وجود کي نيکه ته حق نه حاصليږي، لېکن کله چي پلار مړ سي، نو بيا د نيکه لپاره د لمسي په مال کي حق ثابتيږي).

ولو كان الأب إلخ: او که پلار مړ سوی وي، نو د نيکه لپاره د لمسي په مال کي حق سته، نو په دې صورت کي به دا ويل کيږي چي تر وطي مخکي مينځه د نيکه په ملکيت کي داخله سوه، او هغه په خپل ملکيت کي وطي وکړي، نو ځکه به د بچي نسب ثابتيږي، او مينځه به اُمِ ولد جوړيږي، لېکن د مينځي قميت به پر نيکه لازم وي (لکه څرنګه چي پر پلار هم لازمېدی).

وكفر الأب إلخ: که پلار کافر وي، يا غلام وي، نو ګواکي هغه مړ سوی دی، نو که په دې صورت کي نيکه د لمسي د مينځي سره وطي وکړي او له مينځي څخه بچی پيدا سي، نو د دې بچي نسب هم د نيکه سره ثابتيږي.

د مشترکه مينځې د أم جوړېدلو بيان

وَإِذَا كَانَتِ الْجَارِيَةُ بَيْنَ شَرِيكَيْنِ او کله چې مينځه د دوو شريکانو په مينځه کې امشترکه ا وي فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ او [بيا] مينځه بچی راوړي فَادَّعَاهُ أَحَدُهُمَا او له دوی دواړو څخه يو شريک په بچي دعوی وکړي ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ نو د هغه سره د دې بچي نسب ثابتيږي لِأَنَّهُ لَمَّا ثَبَتَ النَّسَبُ فِي نِصْفِهِ لِمُصَادَفَتِهِ مِلْكَهُ، ثَبَتَ فِي الْبَاقِي ضَرُورَةً أَنَّهُ لَا يَتَجَزَّأُ ځکه کله چې په نيم بچي کې په دې وجه [د مُدعي شريک لپاره] نسب ثابت سو چې نيم بچی د هغه په ملکيت کې واقع دی، نو په پاته [نيم بچي] کې به هم په دې وجه نسب ثابتيږي چې نسب متجزي کېدلای نه سي لِمَا أَنَّ سَبَبَهُ لَا يَتَجَزَّأُ وَهُوَ الْعُلُوقُ ځکه چې د نسب سبب يعني علوق [حامله کېدل] نه متجزي کيږي [بلکې فقط د يوه سړي په نطفې سره ښځه حامله کيږي] إِذِ الْوَلَدُ الْوَاحِدُ لَا يَنْعَلِقُ مِنْ مَاءَيْنِ ځکه چې يو بچی له دوو نطفو څخه نه پيدا کيږي وَصَارَتْ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ او دا مينځه د مُدعي شريک اُم ولد ګرځي لِأَنَّ الِاسْتِيلَادَ لَا يَتَجَزَّأُ عِنْدَهُمَا ځکه چې استيلاد د طرفينو په نيز نه متجزي کيږي وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ يَصِيرُ نَصِيبُهُ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [اول] د مدعي شريک خپله حصه د هغه لپاره اُم ولد ګرځي ثُمَّ يَتَمَلَّكُ نَصِيبَ صَاحِبِهِ تر دې وروسته به [د قيمت په اداء کولو سره] هغه د خپل شريک د حصې مالک هم ګرځي إِذْ هُوَ قَابِلٌ لِلْمِلْكِ ځکه چې هغه حصه د ملکيت قابله ده [يعني د ملکړي حصه د ملکيت قبلولو صلاحيت لري] وَيَضْمَنُ نِصْفَ عُقْرِهَا او مدعي شريک به د دې مينځې د نيم مهر ضامن وي لِأَنَّهُ وَطِئَ جَارِيَةً مُشْتَرَكَةً ځکه هغه د مشترکه مينځې سره وطي کړې دي إِذِ الْمِلْكُ يَثْبُتُ حُكْمًا لِلِاسْتِيلَادِ ځکه چې د اُم ولد جوړولو په وجه حکماً [په مينځه کې د هغه] ملکيت ثابتيږي فَيَتَعَقَّبُهُ الْمِلْكُ فِي نَصِيبِ صَاحِبِهِ نو د خپل د ملګري په حصه کې به تر استيلاد وروسته [د هغه] ملکيت ثابتيږي بِخِلَافِ الْأَبِ إِذَا اسْتَوْلَدَ جَارِيَةَ ابْنِهِ په خلاف د پلار. کله چې هغه د خپل زوی مينځه اُم ولد جوړه کړي لِأَنَّ الْمِلْكَ هُنَالِكَ يَثْبُتُ شَرْطًا لِلِاسْتِيلَادِ ځکه چې هلته [د پلار په مسئله کې] ملکيت د استيلاد لپاره د شرط په توګه ثابتيږي [يعني د پلار په مسئله

کي ملکيت د اُم ولد جوړولو لپاره شرط دی] فَيَتَقَدَّمُهُ نو [هلته] به ملکيت تر استيلاد مخکي ثابتيږي [يعني هلته به تر اُم ولد جوړولو مخکي د پلار لپاره ملکيت ثابت وي] فَصَارَ وَاطِئًا مِلْكَ نَفْسِهِ نو پلار به په خپل ملکيت کي وطي کونکي وي وَلَا يَغْرَمُ قِيمَةَ وَلَدِهَا او [مدعي شريک] د مينځي د بچي نه ضامن کيږي لِأَنَّ النَّسَبَ يَثْبُتُ مُسْتَنِدًا إِلَى وَقْتِ الْعُلُوقِ ځکه چي [د بچي] نسب د علوق وخت ته منسوبېدونکی ثابتيږي [يعني ځکه چي د بچي نسب د مينځي د حامله کېدلو وطرف ته منسوب کيږي] فَلَمْ يَتَعَلَّقْ شَيْءٌ مِنْهُ عَلَى مِلْكِ الشَّرِيكِ نو ځکه به د شريک په ملکيت کي د دې بچي هيڅ جزء [هم] حمل جوړ سوی نه وي [مطلب دا چي د شريک په ملکيت کي به بالکل مينځه حامله سوې نه وي، او دهغه په ملکيت کي به حمل قرار نيولی نه وي].

اللغات: ﴿مُصَادَفَة﴾ د مفاعلي مصدر دی: مخامخ کېدل، واقع کېدل، پيدا کول. ﴿لَا يَتَجَزَّى﴾ د تفعّل له باب څخه د نفي صيغه ده: ټوکره، ټوکره نه کيږي، جزء، جزء او حصه، حصه نه کرځي. ﴿عُلُوْق﴾ حامله کېدل، حمل قرار نيول، په رحم کي نطفه قرار نيول. ﴿يَتَعَلَّقُ﴾ د انفعال مضارع ده: حمل جوړېدل، حمل پيدا کېدل په رحم کي نطفه قرار نيول، په حمل کي راتلل. ﴿نَصِيْب﴾ حصه، برخه. ﴿يَتَمَلَّكُ﴾ د تفعّل مضارع ده: مالک جوړېدل. ﴿عُقْر﴾ مهر، د جماع جرمانه. ﴿لَا يَغْرَمُ﴾ د ضرب له باب څخه د نفي صيغه ده: ضمان ورکول، تاوان وارکول (جرمانه ورکول).

تشريح: مسئله: دا ده که يوه مينځه د خالد او زيد په مينځه کي مشترکه وه، او بيا د مينځي بچی پيدا سو، نو يو شريک (خالد) دعوی وکړه چي دا بچی زما له نطفې څخه دی او زما زوی دی، نو د دې بچي نسب د خالد سره ثابتيږي، او مينځه د هغه اُم ولد جوړيږي، او پر هغه به د خپل شريک (زيد) نيم قيمت لازم وي. او د مينځي نيم مهر به هم پر لازم وي، لېکن پر هغه به د دې بچي هيڅ قيمت لازم نه وي؛ ځکه چي د مينځي په نيمه حصه کي خو خامخا د هغه سره د بچي نسب ثابتيږي، ځکه چي نيمه حصه د هغه په ملکيت کي ده، او کله چي په نيمه حصه کي نسب ثابت سو، نو په پاته نيمه حصه کي به هم خامخا نسب ثابتيږي، ځکه نسب نه متجـ ـزي کيږي، ځکه چي د نسب سبب يعني حامله کېدل (او بلار بېدل) نه متجزي کيږي (يعني له دوو نطفو څخه حمل نه پيدا کيږي، بلکي فقط له يوې نطفې څخه حمل پيدا کيږي).

وصا ـت أم ولد له إلخ: نيمه مينځه خو د مدعي شريک (خالد) ده، نو ځکه نيمه مينځه خو د هغه اُم ولد جوړيږي، او څرنګه چي د صاحبينو په نيز استيلاد (اُم ولد جوړېدل) نه متجزي کيږي، نو ځکه ټوله مينځه د هغه اُم ولد جوړيږي.

لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي اول د دې شريک (خالد) خپله حصه اُم ولد جوړېږي، تر دې وروسته به هغه د خپل ملګري (زيد) د حصې قيمت ورکوي. او تر قيمت اداء کولو وروسته هغه د خپل د ملګري د حصې هم مالک جوړېږي. (په دې هکله د امام صاحب او صاحبينو دلائل مخکي ذکر سول).

ويضمن نصف إلخ: فرمايي چي مُدعي شريک (خالد) به د مينځي د نيم مهر هم ضامن وي، ځکه چي د هغه نيمي وطي په خپل ملکيت کي واقع سوي دي. او نيمي د بل چا په ملکيت کي واقع سوي دي. نو ځکه به مينځي ته نيم مهر ورکوي.

بخلاف الأب إلخ: مخکي دا خبره ذکر سوه چي د پلار په صورت کي حکم داسي منل کيږي چي تر وطي (استيلاد) مخکي مينځه د پلار په ملکيت کي داخله سوه او تر وطي مخکي د هغه لپاره په مينځه کي ملکيت ثابت سو. نو ځکه به پر پلار مهر (عُقر) نه لازميږي. او دلته دامِ ولد جوړونکي شريک لپاره تر وطي کولو وروسته ملکيت ثابتيږي (نه تر وطي کولو مخکي). لهذا د هغه نيمي وطي د بل چا په ملکيت کي واقع سوې، نو ځکه به نيم مهر پر هغه لازم وي، د پلار او شريک په مينځ کي همدا فرق دی.

ولا يغرم قيمة إلخ: د دې حاصل دا دی چي دلته تر وطي کولو وروسته او تر حامله کېدلو مخکي ټوله مينځه د مدّعي شريک (خالد) په ملکيت کي راغله. لهذا بچی د هغه په خپل ملکيت پيدا سو. نو ځکه به د بچي قيمت پر مُدعي شريک لازم نه وي.

د پورتني مسئلې يو بل صورت

وَإِنِ ادَّعَيَاهُ مَعًا او که دواړه شريکان يو ځای د دې بچي [د نسب] دعویٰ وکړي ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُمَا نو د دواړه سره د بچي نسب ثابتيږي مَعْنَاهُ: إِذَا حَبَلَتْ عَلَى مِلْكِهِمَا د دې مطلب دا دی: چي کله هغه مينځه د دوی دواړو په ملکيت کي حامله سي [يعني د دواړو په مينځ کي مشترکه وي. او په همدې وخت کي حامله سي] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُرْجَعُ إِلَى قَوْلِ الْقَافَةِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د قيافه شناس [قيافه پېژندونکي] و قول ته به رجوع کيږي [چي دا بچی د کوم شريک سره مشابه دی؟ او د هغه په حق کي به فيصله کيږي] لِأَنَّ إِثْبَاتَ النَّسَبِ مِنْ شَخْصَيْنِ مَعَ عِلْمِنَا أَنَّ الْوَلَدَ لَا يَنْخَلِقُ مِنْ مَاءَيْنِ مُتَعَذِّرٌ ځکه چي [پر يوه ځای] د دوو خلکو سره د نسب ثابتول (سره د دې چي موږ ته معلومه ده چي بچی له دوو نطفو څخه نه پيدا کيږي) ناممکن دي [يعني بچی له د دوو

خلګو له نطفو څخه نه جوړيږي، بلکې فقط د يوه سړي له نطفې څخه جوړيږي، نو په دې وجه د دوو خلګو سره د يوه بچي نسب ثابتول ناممکن دي] فَعَمِلْنَا بِالشَّبَهِ نو ځکه موږ [شوافعو] پر مشابهت عمل وکړی [چې دا بچی د کوم شريک سره مشابه وي، د هغه په حق کې به فيصله کيږي، او په دې کار قيافه شناس ښه پوهيږي] وَقَدْ سُرَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِقَوْلِ الْقَائِفِ فِي أُسَامَةَ [1] او [په أحاديثو کې ذکر سوي دي] چې نبي کريم ﷺ د حضرت أسامه په باره کې د يو قيافه شناس په قول خوشحاله سو [له دې څخه معلومه سوه چې د قيافه شناس کس په قول د نسب ثبوت او تعيين کېدلای سي، ځکه چې د نبي ﷺ خوشحالېدل د همدغه خبري دليل دی] وَلَنَا: كِتَابُ عُمَرَ إِلَى شُرَيْحٍ فِي هَذِهِ الْحَادِثَةِ او زموږ دليل د حضرت عمر رضي الله عنه هغه خط دی کوم چې ده د همداسې قصې [معاملې] په هکله حضرت شريح ته وليکی "لَبَّسَا فَلُبِّسَ عَلَيْهِمَا" [او په هغه خط کې يې دا حکم وکړی چې] دواړو شريکانو معامله سره مبهمه [او شکمنه] کړه لهذا ته هم پر دوی حکم مبهم [اومخلوط] کړه! وَلَوْ بَيَّنَا لَبُيِّنَ لَهُمَا او که دوی معامله ښکاره بيان کړي وای نو [ستا له طرفه] به دوی ته ښکاره حکم بيان سوي وای [يعني بيا به تا دوی په مينځ کې واضحه او ځرګنده فيصله کولای] هُوَ ابْنُهُمَا هغه [بچی] به د دوی دواړو زوی وي يَرِثُهُمَا [او] هغه [بچی] به د دې دواړو [شريکانو] وارث وي وَيَرِثَانِهِ او دوی دواړه به د هغه وارثان وي وَهُوَ لِلْبَاقِي مِنْهُمَا او بچی [او د هغه ميراث] به په دوی دواړو کې د هغه يوه لپاره کوم چې ژوندی پاته سي وَكَانَ ذَلِكَ بِمَحْضَرٍ مِنَ الصَّحَابَةِ او دا فيصله د صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په حضور کې صادره سوه وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مِثْلُ ذَلِكَ او له حضرت علي رضي الله عنه څخه هم داسې [فيصله] نقل سوې ده. ولأنهما استويا.... : زموږ عقلي دليل او پاته عبارت به له تشريح څخه وروسته جلا ذکر سي.

اللغات: ﴿قَافَة﴾ جمع د "قَائِفٌ" ده: قيافه شناس (قيافه دان)، څيره پېژاند، ښه او جونه پېژندونکی (هغه ماهر سړی چې د انسان شکل او مخ ته په کتلو سره د انسان کردار او صفات معلوموي) (هغه سړی چې د انسان له خد او خال څخه او د انسان له کړه وړه څخه د هغه په ښو او بدو صفاتو خبر لري)، ﴿مُتَعَذِّرٌ﴾ د تفعل اسم مفعول دی: ناممکن، محال، ﴿سُرَّ﴾ د نصر ماضي مجهوله

[1] تخريج: أخرجه السنة، رواه البخاري في باب:٢٣، وابو داؤد، رقم الحديث:٢٢٦٧.

ده: خوشحالېدل (خوشالېدل). ﴿لَبَّسَا﴾ د تفعيل له باب څخه د تثنيه مذكر غائب ماضي معلوم صيغه ده: تلبيس كول، حقيقت پټول (خپل عيب له نورو پټول)، په يوه معامله كي ابهام كول (قصه او خبري سره ګډول). ﴿لَبُّيِّنَ﴾ د تفعيل له باب څخه دواحد مذكر غائب ماضي مجهول صيغه ده: بيانول، څرګندول (ښكاره كول). ﴿مَحْضَر﴾ حضور، موجودوالي (موجوديت، موجودګي).

تشريح: وقال الشافعي إلخ: امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي كله د مينځي د بچي په باره كي دواړه شريكان دعوىٰ وكړي، او داسي هيڅ صورت نه وي چي يوه شريک ته ترجيح وركول سي، نو په دې صورت كي به د داسي قيافه شناس سړي په قول يوه شريک ته ترجيح وركول چي هغه د بچي له شكل او علاماتو څخه دا معلومه كړي چي دا بچى د دې شريک سره مشابه دى، پر همدې بناء نبي كريم ﷺ د حضرت اسامه بن زيد په حق كي د يو قيافه شناس په قول خوشاله سوى وو.

قصه: د حضرت اُسامه د نسب په باره كي به كفارو بد ګوماني كول چي هغه د زيد زوى نه دى، د هغه قصه په صحاح سته كي د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په حواله سره داسي ذكر سوې ده "قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ الله ﷺ ذَاتَ يَوْمٍ وَهُوَ مَسْرُورٌ. فَقَالَ: "يَا عَائِشَةُ، أَلَمْ تَرَيْ أَنَّ مُجَزِّزًا الْمُدْلِجِيَّ دَخَلَ عَلَيَّ فَرَأَى أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ وَزَيْدًا وَعَلَيْهِمَا قَطِيفَةٌ. قَدْ غَطَّيَا رُءُوسَهُمَا وَبَدَتْ أَقْدَامُهُمَا. فَقَالَ: إِنَّ هَذِهِ الأَقْدَامَ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ" (حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چي يوه ورځ نبي كريم ﷺ خوشحاله (او په مُسكا) كور ته راغلى او ويې فرمايل: چي ما ته مجزز مدلجي (قيافه شناس) راغلى، او اُسامه بن زيد او زيد يې دواړه بيده وليدل، او پر هغو يوه شړۍ (هواره) وه، او هغو خپل سرونه پټ كړي وو، او د هغو پښې ښكاره وې، نو مجزز مدلجي ووېل: چي دا پښې خو بعضي له بعضو څخه (پيدا سوي) دي [يعني دا دوه كسان سره پلار او زوى دي])، امام ابو داؤد تر دې حديث لاندي ليكلي دي چي د زيد رنګ سپين وو او د اُسامه رنګ تور وو.

په دې قصه كي د نبي ﷺ په خوشحالېدلو سره امام شافعي پر دې خبره دليل نيسي چي د قيافه شناس قول ته به رجوع كېږي.

ولنا إلخ: زموږ دليل دا دى چي د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه كي د پورتنۍ مسئلې په څېر قصه پېښه سوه (يعني دوو شريكانو د يوې مشتركي مينځي په بچي دعوىٰ وكړه)، نو حضرت عمر رضي الله عنه د قاضي شريح په نامه خط واستوى چي د هغه مضمون داسي وو "لَبَّسَا فَلُبِّسَ عَلَيْهِمَا... إلخ"، مطلب يې دا دى چي هغه دواړو خلكو حقيقي حال پټ كړى دى. لهذا ته هم پر دوى حكم مبهم او پټ وساته. او

که چيري دوی حقيقي حال بيان کړی واي، نو تا به دوی ته واضح حکم بيان کړي وای (لېکن کله چي دوی حقيقي حال ښکاره کړی نه دی) نو اوس به هغه بچی د دوی دواړو زوی وي. او د دواړو وارث به وي. او دوی به د بچي وارثان وي. او د هغه بچي تر مرګ وروسته چي په دې دواړو شريکانو کي کوم يو ژوندی پاته سي، هغه به د بچي د ميراث مستحق وي. او کوم شريک چي مړ سي. د هغه وارثان به د دې بچي د ميراث مستحق نه وي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د حضرت عمر ﷺ دا فيصله او خط د صحابه په حضور کي صادر سوی وو. او هيڅ صحابي هم پر دې نکير کړی نه وو. لهذا دا د إجماع په درجه کي سو. او له حضرت علي ﷺ څخه هم داسي فيصله نقل سوې ده. چي هغه د دې خبري تائيد کوي چي داسي بچی به د دواړو شريکانو زوی وي. او په دې هکله به قيافه شناس ته رجوع نه کيږي.

﴿زموږ عقلي دليل﴾

وَلِأَنَّهُمَا اسْتَوَيَا فِي سَبَبِ الِاسْتِحْقَاقِ او ځکه چي د استحقاق په سبب کي دواړه [شريکان] برابر دي [يعني په ملکيت او دعوىٰ کي دواړه سره برابر دي، يعني دواړه په دې مينځه کي ملکيت لري. او دواړو دعوىٰ کړې ده] فَيَسْتَوِيَانِ فِيهِ نو ځکه به په استحقاق [مستحق کېدلو] کي هم دواړه سره برابر وي وَالنَّسَبُ وَإِنْ كَانَ لَا يَتَجَزَّأُ او نسب که څه هم نه متجزي کيږي [يعني که څه هم د يوه بچي نسب د دوو جلا، جلا خلکو سره نه ثابتيږي] وَلَكِنْ تَتَعَلَّقُ بِهِ أَحْكَامٌ مُتَجَزِّئَةٌ لېکن [بيا هم] د نسب سره داسي احکام متعلق کيږي چي په هغوی کي تجزی کېدای سي [لکه ميراث او داسي نور] فَمَا يَقْبَلُ التَّجْزِئَةَ يَثْبُتُ فِي حَقِّهِمَا عَلَى التَّجْزِئَةِ نو کوم حکم چي تجزی قبلوي هغه به د دواړو [شريکانو] په حق کي په تجزی سره ثابتيږي [يعني هغه به د دواړو شريکانو په حق کي متجزي کيږي، او هر شريک ته به په هغه حکم کي حصه ورکول کيږي] وَمَا لَا يَقْبَلُهَا يَثْبُتُ فِي حَقِّ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا كَمُلًا كَأَنْ لَيْسَ مَعَهُ غَيْرُهُ او کوم حکم چي تجزی نه قبلوي [لکه نسب او داسي نور] هغه به د هر شريک حق کي په بشپړه توګه داسي ثابتيږي چي ګواکي د هر يوه سره [په هغه کي ابل هيڅوک شريک نسته [ځکه چي په استحقاق کي دواړه سره برابر دي] إِلَّا إِذَا كَانَ أَحَدُ الشَّرِيكَيْنِ أَبًا لِلْآخَرِ خو دا چي کله يو شريک د بل شريک پلار وي [يعني دواړه شرکان په خپل مينځ کي سره پلار او زوی وي] أَوْ كَانَ أَحَدُهُمَا مُسْلِمًا وَالْآخَرُ ذِمِّيًّا يا يو مسلمان وي او بل ذمي وي [نو په دې

صورت کي به پلار او مسلمان ته ترجيح ورکول کيږي او بچی به د هغه شمارل کيږي] لِوُجُودِ الْمُرَجِّحِ فِي حَقِّ الْمُسْلِمِ وَهُوَ الْإِسْلَامُ ځکه چي د مسلمان په حق کي ترجيح ورکونکی دليل سته. او هغه اسلام دی وَفِي حَقِّ الْأَبِ وَهُوَ مَا لَهُ مِنَ الْحَقِّ فِي نَصِيبِ الِابْنِ او د پلار په حق کي اهم ترجيح ورکونکی دليل سته] او هغه دا چي د زوی په حصه [او مال] کي د پلار حق سته وَسُرُورُ النَّبِيِّ ﷺ فِيمَا رُوِيَ لِأَنَّ الْكُفَّارَ كَانُوا يَطْعَنُونَ فِي نَسَبِ أُسَامَةَ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په روايت سوي حديث کي د نبي ﷺ د خوشحالېدلو وجه دا وه چي کفارو به د حضرت اُسامه ﷺ د نسب په باره کي عيب لګوی [او هغه ته به يې د خپل نسب د شکمن کېدلو پېغور او تانه ورکول] وَكَانَ قَوْلُ الْقَائِفِ مُقْطِعًا لِطَعْنِهِمْ او د قيافه شناس [مجزز مدلجي] قول د هغو د عيب [او پېغور] لپاره غوڅونکی [او ختمونکی] وو فَسُرَّ بِهِ نو په دې وجه نبي ﷺ په هغه خوشحاله سو [خلاصه د کلام دا سوه چي که چيري دواړه شريکان يو ځای دعوی وکړي (چي دا زما بچی دی)، او د دواړو په حق کي داسي خبره نه وي چي د هغه په وجه يوه شريک ته ترجيح ورکول سي، نو همدا فيصله به کيږي چي بچی به د دواړو زوی شمارل کيږي] وَكَانَتِ الْأَمَةُ أُمَّ وَلَدٍ لَهُمَا او [د هغه بچي] مور به د دواړو اُم ولد وي لِصِحَّةِ دَعْوَةِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِي نَصِيبِهِ فِي الْوَلَدِ ځکه چي د [بچي په هکله] د هر شريک دعوی په خپله حصه کي صحيح ده فَيَصِيرُ نَصِيبُهُ مِنْهَا أُمَّ وَلَدٍ لَهُ تَبَعًا لِوَلَدِهَا لهذا له مينځي څخه به د هر شريک حصه د هغه لپاره اُم ولد وي د بچي په متابعت کي [يعني د دواړو دعوی صحيح ده، نو ځکه به مور د بچي تابع کيږي او د دواړو شريکانو اُم ولد به جوړېږي] وَعَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصْفُ الْعُقْرِ او په دوی دواړو کي به پر هر شريک نيم عقر واجب وي قِصَاصًا بِمَا لَهُ عَلَى الْآخَرِ دی لپاره چي دا [نصف عقر] د هغه شي بدل سي کوم چي د يوه شريک پر هغه بل واجب دی [يعني د هر يوه نصف عقر به د هغه حصې او حق په مقابل کي راسي کوم چي په مينځه کي يوه او بل ته حاصل دی. (څو غرنګه چي دلته پر دواړو نصف عقر واجب دی، نو ځکه به دواړه مقاصه سره کوي [يعني يو شريک به بل شريک ته وايي چي زما کوم نصف عقر چي پر تا واجب دی، هغه زما په نصف عقر کي را څخه قبول کړه!]، نو په دې توګه به پر دواړو هيڅ شی واجب نه سي)] وَيَرِثُ الِابْنُ مِنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِيرَاثَ ابْنٍ كَامِلٍ او هغه بچی به په دوی کي له هر شريک څخه د کامل زوی په څېر ميراث حاصلوي [يعني بچی به د هر شريک کامل

وارث جوړېږي] لِأَنَّهُ أَقَرَّ لَهُ بِمِيرَاثِهِ كُلِّهِ ځکه چي هر شريک د بچي لپاره د ټوله ميراث اقرار کړی دی: وَهُوَ حُجَّةٌ فِي حَقِّهِ او دا اقرار د هر شريک په حق کي حجت دی وَيَرِثَانِ مِنْهُ مِيرَاثَ أَبٍ وَاحِدٍ او دا دواړه شريکان به له هغه بچي څخه ديوه پلار په څير ميراث حاصلوي لِاسْتِوَائِهِمَا فِي السَّبَبِ ځکه چي دواړه په سبب کي سره برابر دي [يعني دواړو شريکانو [پلارانو] ته به د زوی په مال کي ديوه پلار د ميراث په څير ميراث حاصلېږي، او ديوه پلار ميراث به د دواړو په مينځ کي مشترک وي، ځکه چي دواړه په دعویٰ کي سره برابر دي (يعني هواړو دعویٰ کړې ده)] كَمَا إِذَا أَقَامَا الْبَيِّنَةَ لکه په هغه صورت کي چي کله دواړه شريکان گواهان پيش کړي [نو په دې صورت کي به هم دواړو ته له بچي څخه فقط ديوه پلار په څير ميراث حاصلېږي او فقط ديوه پلار ميراث به د دواړو په مينځ کي متشرک وي].

اللغات: ﴿مُتَجَزِّئَـةً﴾ د تفعّل اسم فاعل دی: متجزي کېدونکی (جزء جزء کېدونکی)، ټوکړه ټوکړه کېدونکی، حصه حصه کېدونکی، ﴿كَمَلًا﴾ په بشپړه توګه (کاملاً)، ﴿سُرُوْر﴾ خوشحالي (خوشالي).

تشريح: عبارت په ترجمه کي تشريح سو.

د خپل مکاتب مينځه أم ولد جوړول

وَإِذَا وَطِئَ الْمَوْلَى جَارِيَةَ مُكَاتَبِهِ او کله چي مالک د خپل مکاتب د مينځي سره وطي وکړي فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ او [بيا] مينځه بچی وزېږوي فَادَّعَاهُ او مالک په هغه بچي دعویٰ وکړي فَإِنْ صَدَّقَهُ الْمُكَاتَبُ نو که مکاتب د هغه تصديق وکړي ثَبَتَ نَسَبُ الْوَلَدِ مِنْهُ نو د مالک سره د هغه بچي نسب ثابتېږي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ لَا يُعْتَبَرُ تَصْدِيقُهُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چي د مکاتب د تصديق اعتبار به نه کيږي اعْتِبَارًا بِالْأَبِ يَدَّعِي وَلَدَ جَارِيَةِ ابْنِهِ په هغه پلار باندي په قياس کولو سره کوم چي د خپل زوی په مينځي دعویٰ وکړي وَوَجْهُ الظَّاهِرِ وَهُوَ الْفَرْقُ: أَنَّ الْمَوْلَى لَا يَمْلِكُ التَّصَرُّفَ فِي أَكْسَابِ مُكَاتَبِهِ د ظاهر روايت دليل [کوم چي د مکاتب او د زوی د مينځي په مينځ کي د فرق دليل هم دی] دا دی: چي مالک د خپل مکاتب په ګټو [او مال] کي هيڅ ملکيت نه لري حَتَّى لَا يَتَمَلَّكَهُ همدا وجه ده چي مالک د خپل مکاتب د ګټي [او مال] مالک جوړېدلای نه سي وَالْأَبُ يَمْلِكُ

تَمَلُّكَهُ او پلار د زوی د کنیزې [او مال] د مالک جوړېدلو ملکیت لري [یعني پلار د زوی د مال مالک جوړېدلای سي] فَلَا مُعْتَبَرَ بِتَصْدِيقِ الِابْنِ نو ځکه به [د پلار په حق کي] د زوی تصدیق لره هیڅ اعتبار نه وي وَعَلَيْهِ عُقْرُهَا او پر مالک به د دې مینځي عُقر واجب وي لِأَنَّهُ لَا يَتَقَدَّمُهُ الْمِلْكُ ځکه چي د مالک له وطي څخه ملکیت مخکي نه دی [یعني تر وطي مخکي مالک د مینځي مالک جوړ سوی نه دی] لِأَنَّ مَا لَهُ مِنَ الْحَقِّ كَافٍ لِصِحَّةِ الِاسْتِيلَادِ ځکه مالک لره چي کوم حق حاصل دی هغه د اُمِ ولد جوړولو د صحیح کېدلو لپاره کافي دی لِمَا نَذْكُرُهُ د هغه دلیل په وجه کوم چي به موږ [وروسته] ذکر کړو وَقِيمَةُ وَلَدِهَا او [پر مالک] د دې مینځي د بچي قیمت [هم واجب دی] لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الْمَغْرُورِ ځکه چي مالک د دوکه سوي سړي په معنیٰ سره دی حَيْثُ إِنَّهُ اِعْتَمَدَ دَلِيلًا وَهُوَ أَنَّهُ كَسْبُ كَسْبِهِ ځکه چي هغه پر یو دلیل اعتبار وکړی او هغه دا چي د خپل مکاتب ګټه [او مال] یې حاصل کړی [او په هغه کي یې تصرف وکړی، یعني د مکاتب مال یې خپل مال وګڼی] فَلَمْ يَرْضَ بِرِقِّهِ لهذا هغه د دې بچي په غلام جوړولو راضي نه سو فَيَكُونُ حُرًّا بِالْقِيمَةِ ثَابِتَ النَّسَبِ مِنْهُ نو ځکه به دا بچی د قیمت په عوض کي آزادیږي او د مالک سره به یې نسب ثابتیږي وَلَا تَصِيرُ الْجَارِيَةُ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ او دا مینځه د مالک اُمِ ولد نه ګرځي لِأَنَّهُ لَا مِلْكَ لَهُ فِيهَا حَقِيقَةً ځکه چي په هغې کي حقیقتاً د مالک ملکیت نسته كَمَا فِي وَلَدِ الْمَغْرُورِ لکه څرنګه چي د مغرور [دوکه سوي سړي] په بچي کي [مینځه د مالک اُمِ ولد نه جوړېږي] وَإِنْ كَذَّبَهُ الْمُكَاتَبُ فِي النَّسَبِ او که مکاتب د نسب په هکله د خپل مالک تکذیب وکړي لَمْ يَثْبُتْ نو [د مالک سره د بچي] نسب نه ثابتیږي لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ تَصْدِيقِهِ د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی چي د مکاتب تصدیق ضروري دی فَلَوْ مَلَكَهُ يَوْمًا او که مالک یو ورځ د دې بچي مالک جوړ سي ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ نو د مالک سره د هغه نسب ثابتیږي لِقِيَامِ الْمُوجِبِ وَزَوَالِ حَقِّ الْمُكَاتَبِ ځکه چي سبب او د مکاتب حق زائلېدل قائم [او موجود] سو إِذْ هُوَ الْمَانِعُ ځکه چي همدا شی مانع وو.

اللغات: ﴿صَدَّقَهُ﴾ د تفعيل ماضي ده: تصديق كول، ريښتونی ګڼل (څوک په خپل قول کې ريښتونی شمارل، د چا سره خبره منل)، ﴿أَكْسَاب﴾ جمع د کَسْبٌ ده: ګټه (مراد ځني ګټل سوی مال دئ)، ﴿لَا يَتَمَلَّكُه﴾ د تفعّل له باب څخه د نفي معلوم صيغه ده: يو څوک د يو شي مالک جوړېدل، مالک کېدل، ﴿عُقْر﴾ مهر، دوطي او جماع جرمانه (د وطي او جماع قيمت).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو مالک د خپل مکاتب د مينځې سره وطي وکړي، او له مينځې څخه بچی پيدا سي، او مالک په هغه بچي دعوی وکړي، نو محض په دعوی سره هغه بچی د مالک سره ثابتُ النسب نه ګرځي، ها! که مکاتب د هغه تصديق وکړي چي دا زما د مالک بچی دی، نو بيا د مالک سره د هغه بچي نسب ثابتيږي، همدا د جمهورو فقهاؤ قول دی او همدا ظاهر روايت دی. د دې په خلاف له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه په غير ظاهر روايت کي دا قول نقل سوي دئ چي د مکاتب له تصديق څخه بغير محض د مالک په دعوی سره هغه بچی د مالک سره ثابتُ النسب ګرځي، او د مکاتب تصديق ته هيڅ ضرورت نسته، لکه کله چي يو سړی چي د خپل زوی د مينځې په بچي دعوی وکړي، نو محض په دعوی سر هغه بچی د زوی د پلار سره ثابتُ النسب ګرځي او د زوی تصديق ته هيڅ ضرورت نسته، همداسي به دلته هم دا حکم وي.

وجه ظاهر الرواية إلخ: د ظاهر روايت دليل دا دی چي مالک ته د خپل مکاتب په ګټل سوي مال کي د تصرف حق نسته، همدا وجه ده چي د ضرورت په وخت کي مالک (مولیٰ) د خپل مکاتب د ګټل سوي مال مالک جوړېدلای نه سي، د دې په خلاف پلار ته د "أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيْكَ" په حديث سره د خپل بچي په مال کي د تصرف کولو بشپړ حق سته، او پلار د ضرورت په وخت کي د خپل زوی د مال مالک هم جوړېدلای سي، نو په دې وجه د پلار په حق کي د زوی د تصديق هيڅ ضرورت نسته، ليکن د مالک په حق کي د مکاتب تصديق ضروري دی، او همدا د مکاتب د مينځې او د زوی د مينځې او د هغې د بچي په مينځ کي د فرق دليل هم دی.


وعليه عقرها إلخ: څرنګه چي دلته مالک د مينځې مالک جوړ سوی نه دی، نو ځکه به پر هغه عقر (د وطي قيمت) لازم وي.

وقيمة ولدها إلخ: د بل چا د مينځې سره په دې ګومان وطي کول چې دا زما مينځه ده. داسې مينځې ته د مغرور مينځه وايي (يعني د دوکه سوي سړي مينځه، ځکه چې هغه په خپل ګومان سره دوکه سو).
او د مغرور (دوکه سوي) سړي حکم دا دی چې هغه به مينځې ته عقر ورکوي. او د بچې قيمت به هم اداء کوي. او دلته هم مالک د مغرور په درجه کې دی چې د مکاتب مينځه يې خپله مينځه ګڼلې ده او پر يوه دليل يعني د خپل مکاتب پر مال يې اعتماد کړی دی او په هغه کې يې تصرف کړی دی او په بچې کې هغه ته لږ غوندې ملکيت هم حاصل نه دی، نو ځکه به هغه د دې بچې قيمت اداء کوي. تر قيمت اداء کولو وروسته بچی آزاديږي، او د مالک سره د هغه نسب ثابتيږي.

ولا تصير الجارية إلخ: ځرنګه چې په مينځه کې د مالک هيڅ ملکيت نسته، نو ځکه دا مينځه د هغه أُمِ ولد نه جوړيږي. لکه ځرنګه چې د "ولدُ المغرور" په صورت کې مينځه د مالک أُمِ ولد نه جوړيږي.

وإن كذبه المكاتب إلخ: او که په پورتنۍ مسئله کې مکاتب د خپل مالک انکار وکړي (چې دا ستا بچی نه دی)، نو د بچې نسب د مالک سره نه ثابتيږي، ځکه چې دا مينځه د مکاتب ده. او د هغه تصديق ضروري دی. او که هغه انکار وکړي، نو نسب نه ثابتيږي (او بل دا چې د مکاتب د انکار کولو په وجه مينځه د مالک فراش جوړه نه سوه، نو په دې وجه به هم نسب نه ثابتيږي).

فلو ملكهُ إلخ: د مکاتب د انکار کولو په وجه خو د بچې نسب د مالک سره نه ثابتيدی، ليکن که مالک (مولیٰ) د هغه بچې مالک جوړ سو، نو بيا د هغه نسب ثابتيږي، ځکه چې اوس د نسب ثابتيدلو مُوجِب (يعني د مالک اقرار) موجود سو. او د مکاتب چې کوم حق وو (يعني د بچې پر مور د مکاتب ملکيت) هغه هم زائل سو، نو اوس هيڅ خنډ او ممانعت پاته نه سو او لاره بالکل صفا سوه. فقط والله أعلم وعلمهُ أتم



كِتَابُ الْأَيْمَانِ

(دا) كتاب د قسمونو (د احكامو په بيان كې) دى

تشريح: مخكې تر دې د نكاح، طلاق، او عتاق مسئلې بيان سوې چې په هغوى كې ځينې وخت د قسم او يمين ضرورت هم پيښېږي، او څرنګه چې دا ضرورت بالكل په آخر او انتهاء كې پيښېږي، نو ځكه صاحب د كتاب له ټولو بابونو څخه وروسته اوس "كتَابُ الأَيْمَان" بيانوي.

د يمين لغوي او اصطلاحي معنى: د يمين لغوي معنىٰ ده: قوت، طاقت، په سپېڅلي قرآن كې ذكر سوي دي "لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِيْنِ"، په دې آيت كې له "يَمِيْن" څخه مراد قوت دى.

د يمين شرعي او اصطلاحي معنىٰ ده: "عَقْدٌ يَقْوىٰ بِهٖ عَزْمُ الْحَالِفِ عَلَى الْفِعْلِ أَوِ التَّرْكِ" (يعني قسم يو داسي عقد دى چې د هغه په ذريعه د يو كار پر كولو يا نه كولو د قسم كونكي (قسم اخيستونكي) سړي عزم مضبوطيږي).

يمين (قسم) پر درې قسمه دى: ① يمين غموس، ② يمين منعقده، ③ يمين لغو، د ټولو تفصيل به په كتاب كې ذكر سي.

د قسم (يمين) أقسام او د يمين غموس تعريف

قَالَ: الْأَيْمَانُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَضْرُبٍ: الْيَمِيْنُ الْغَمُوْسُ وَيَمِيْنٌ مُنْعَقِدَةٌ وَيَمِيْنُ لَغْوٍ فرمايي: چې قسمونه پر درې قسمه دي: ① يمين غموس ② يمين منعقده ③ يمين لغو فَالْغَمُوْسُ هُوَ الْحَلْفُ عَلَى أَمْرٍ مَاضٍ يَتَعَمَّدُ الْكَذِبَ فِيهِ نو غموس پر يو تېر سوي كار قسم اخيستل [قسم كول] دي چې په هغه كې انسان قصداً دروغ وايي [يعني د غموس معنىٰ ده: په تېر سوي وخت كې قصداً پر يو كار د دروغو قسم اخيستل] فَهٰذِهِ الْيَمِيْنُ يَأْثَمُ فِيْهَا صَاحِبُهَا په دې قسم كې قسم اخيستونكى ګناهګاره كيږي لِقَوْلِهٖ عليه السلام: مَنْ حَلَفَ[1] كَاذِبًا أَدْخَلَهُ اللّٰهُ النَّارَ ځكه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: څوک چې د دواغو قسم

---

[1] تخريج: أخرجه مسلم، كتاب الأيمان، رقم الحديث: ٢٢٠ و ٣٢٤٢.

واخلي، الله تعالىٰ به دوږخ ته هغه داخل كړي وَلَا كَفَّارَةَ فِيهَا إِلَّا التَّوْبَةَ وَالِاسْتِغْفَارَ او په دې قسم [يمينِ غموس] كي كفاره نشته، ما سوا له توبې او استغفار څخه وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: فِيهَا الْكَفَّارَةُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په دې كي كفاره شته لِأَنَّهَا شُرِعَتْ لِرَفْعِ ذَنْبٍ هَتَكَ حُرْمَةَ اسْمِ اللهِ تَعَالَىٰ ځكه چي كفاره د هغه ګناه د ختمولو لپاره مشروع سوې ده په كومه ګناه سره چي د الله دنامه بې حُرمتي وسي وَقَدْ تَحَقَّقَ بِالِاسْتِشْهَادِ بِاللهِ كَاذِبًا او د الله په نامه سره په درواغه [او په ناحقه] ګواهي وركولو كي [هم] دا ګناه ثابتيږي فَأَشْبَهَ الْمَعْقُودَةَ نو دا د يمينِ منعقده سره مشابه سو وَلَنَا: أَنَّهَا كَبِيرَةٌ مَحْضَةٌ زموږ دليل دا دى: چي يمينِ غموس محض يوه كبيره ګناه ده وَالْكَفَّارَةُ عِبَادَةٌ تَتَأَدَّىٰ بِالصَّوْمِ او كفاره داسي عبادت دى كوم چي د روژې په ذريعه اداء كيږي وَيُشْتَرَطُ فِيهَا النِّيَّةُ او په هغه كي نيت [هم] شرط وي فَلَا تُنَاطُ بِهَا لهذا د كبيره ګناه سره به كفاره نه متعلق كيږي بِخِلَافِ الْمَعْقُودَةِ په خلاف د يمينِ منعقده لِأَنَّهَا مُبَاحَةٌ ځكه چي هغه مباح [روا] دى وَلَوْ كَانَ فِيهَا ذَنْبٌ فَهُوَ مُتَأَخِّرٌ مُتَعَلِّقٌ بِاخْتِيَارٍ مُبْتَدَإٍ او كه څه هم په هغه كي ګناه شته نو هغه [تر قسم] وروسته ده او د نوي اختيار سره متعلق ده وَمَا فِي الْغَمُوسِ مُلَازِمٌ او په يمينِ غموس كي ګناه [د قسم سره] لازم ده [يعني په يمينِ غموس كي په هغه ګړي انسان ګناهګاره كيږي] فَيَمْتَنِعُ الْإِلْحَاقُ نو ځكه د يمينِ غموس د يمينِ منعقده سره لاحقول [او يو پر بل قياسول] صحيح نه وي.

اللغات: ﴿الْأَيْمَان﴾ جمع د يَمِينٌ ده: قسم، سوګند، لوړه. ﴿أَضْرُب﴾ جمع د ضَرْبٌ ده: قسم، نوع. ﴿يَتَعَمَّد﴾ د تفعّل مضارع ده: قصداً يو كار كول (په قصده يو كار كول). ﴿هَتَكَ﴾ د ضرب ماضي ده: سپكاوى كول (توهين)، بې حرمتي او ناقدري كول. ﴿حُرْمَة﴾ احترام. ﴿إِسْتِشْهَاد﴾ د استفعال مصدر دى: ګواه جوړول، ګواه دروړل. ﴿لَا تُنَاطُ﴾ د فتح له باب څخه د نفي صيغه ده: متعلق كېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چي قسم (يمين) پر درې قسمه دى چي په هغوى كي اول قسم غموس دى، د غموس تعريف دا دى چي پر يو تېر سوي كار يا خبري قسم وخوړل سي، مثلاً يوه سړي پرون ډوډۍ خوړلې وي، لېكن هغه درواغ وواييې او قسم واخلي چي "قسم په خداى ما پرون ډوډۍ خوړلې نه ده"، نو دې ته يمين غموس (د غموس قسم وايي)، غموس ډوبېدلو او غرقېدلو ته

وايي، ځرنګه چي دا قسم خوړونكى هم په ګناهونو كي غرقيږي، نو ځكه هغه ته يمينِ غموس وايي، په حديث مبارک كي ذكر سوي دي "چي څوک د درواغو قسم واخلي، الله تعالىٰ به هغه دوږخ ته داخل كړي"، او په دوږخ كي فقط ګناهګار كس داخليږي، نو معلوه سوه چي د يمينِ غموس اخيستونكى ګناهګار دى، او د دې ګناه د ختمولو لاره توبه او استغفار دى. او زموږ په نيز په دې قسم كي كفاره نسته، ليكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز په يمينِ غموس كي هم كفاره واجب ده.

د امام شافعي دليل: دا دى چي كفاره ديو داسې ګناه دليري كولو لپاره مشروع سوې ده چي په هغه ګناه سره د الله د نامه بې حُرمتي او بې عزتي كيږي، او ښكاره خبره ده چي د الله په نامه سره د درواغو قسم خوړل دا د الله د نامه بې حُرمتي ده، نو د دې بې حُرمتى د ختمولو لپاره به هم كفاره مشروع وي. او په دې حواله سره يمينِ غموس د يمينِ منعقده سره مشابه دى، يعني ځرنګه چي په يمينِ منعقده كي كفاره مشروع ده. همداسي به په يمينِ غموس كي هم كفاره مشروع وي.

زموږ دليل: دا دى چي يمينِ غموس يوه كبيره ګناه ده، او په دې كي كفاره نه سته. لكه ځرنګه چي په حديث كي ذكر سوي دي "خَمْسٌ مِنَ الْكَبَائِرِ لَا كَفَّارَةَ فِيهِنّ..." چي پنځه داسي كبيره ګناهونه دي چي په هغوى كي كفاره نسته، او په هغه پنځو كي نبي ﷺ يمينِ غموس هم شمارلى دى، له دې حديث څخه معلومه سوه چي په يمينِ غموس كي كفاره نسته. او بل دا چي كفاره يو داسي عبادت دى كوم چي په روژو سره اداء كيږي، او په هغه كي نيت شرط دى. حالانكي كبيره ګناه عقوبت دى. او د عقوبت لپاره نيت شرط نه وي، نو په دې حواله سره به هم په يمينِ غموس كي كفاره واجب نه وي.

او د امام شافعي رَحِمَهُ الله قياس صحيح نه دى (چي هغه يمينِ غموس پر يمينِ منعقده قياسوي). ځكه چي يمينِ منعقده مباح او روا دى، او په يمينِ منعقده كي چي كومه ګناه ده، هغه سمدستي د حالف (قسم اخيستونكي) سره نه لازميږي، بلكي تر حانث كېدلو وروسته لازميږي (يعني كه چيري حالف هغه كار نه وكړي، نو ګناهكاره كيږي، يعني ګواكي حالف په خپل اختيار سره ځان ګناهګاره كوي، نو په دې وجه پر هغه كفاره واجبيږي)، او په يمينِ غموس كي ګناه تر قسم نه وروسته كيږي (بلكي د درواغو په قسم اخيستلو سره سمدستي حالف ګناهګاره كيږي)، نو ځكه يمينِ غموس د يمينِ منعقده سره يو ځاى كول او كفاره واجبول صحيح نه دي.

د يمين منعقده او يمين لغو بيان

وَالْمُنْعَقِدَةُ مَا يَحْلِفُ عَلَى أَمْرٍ فِي الْمُسْتَقْبَلِ أَنْ يَفْعَلَهُ أَوْ لَا يَفْعَلَهُ او منعقده هغه قسم دی چي انسان يې په راتلونکې زمانه کي د يو کار پر کولو يا نه کولو واخلي وَإِذَا حَنِثَ فِي ذٰلِكَ او کله چي [قسم اخيستونکی] په دې قسم کي حانث سي لَزِمَتْهُ الْكَفَّارَةُ نو پر هغه به کفاره لازم وي لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَٰكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ [المائدة: ۷۹] ځکه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: نه نيسي الله تعالیٰ تاسي په لغو قسمونو سره. لېکن الله تعالیٰ تاسي نيسي په [ماتولو سره] د هغه قسمونو کوم چي تاسي مضبوط کړي وي [يا يې معنیٰ دا ده: چي الله تعالي تاسي نيسي د هغه عهد په ماتولو سره چي تاسي پر هغه کلک قسمونه کړي وي] وَهُوَ مَا ذَكَرْنَا او د دې مطلب هغه دی کوم چي موږ بيان کړی [يعني د آيت له آخري حصې څخه همدغه يمين منعقده مراد دی چي د هغه تعريف اوس موږ ذکر کړی] وَالْيَمِينُ اللَّغْوُ أَنْ يَحْلِفَ عَلَى أَمْرٍ مَاضٍ وَهُوَ يَظُنُّ أَنَّهُ كَمَا قَالَ وَالْأَمْرُ بِخِلَافِهِ او يمين لغو دا دی چي انسان پر يو تېر سوي کار قسم واخلي او هغه دا ګومان کوي چي معامله [او قصه] همداسي ده لکه څرنګه چي ما وويل، حالانکي معامله د هغه په خلاف وي فَهٰذِهِ الْيَمِينُ نَرْجُو أَنْ لَا يُؤَاخِذَ اللهُ بِهَا صَاحِبَهَا نو دې قسم په هکله موږ ته دا اُميد سته چي په دې سره به الله تعالیٰ [قسم اخيستونکی] انسان نه ونيسي [يعني د الله له ذات څخه دا اُميد سته چي الله به پر داسي قسم د حالف مؤاخذه نه وکړي] وَمِنَ اللَّغْوِ أَنْ يَقُولَ: وَاللهِ إِنَّهُ لَزَيْدٌ وَهُوَ يَظُنُّهُ زَيْدًا وَإِنَّمَا هُوَ عَمْرٌو او [دا صورت هم] له يمين لغو څخه دی چي انسان ووايي: په خدای قسم چي دا زيد دی او هغه دا ګومان کوي چي دا زيد دی، حالانکي هغه عمرو وي وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ تَعَالَىٰ: لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَٰكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ او اصل په دې باره کي د الله تعالیٰ دا آيت دی: لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللهُ...(إلخ) إِلَّا أَنَّهُ عَلَّقَهُ بِالرَّجَاءِ لِلِاخْتِلَافِ فِي تَفْسِيرِهِ خو امام محمد رَحِمَهُ الله دا ځکه پر اُميد معلق کړی دی چي د دې په تفسير کي [د علماؤ] اختلاف سته.

اللغات: ﴿لَا يُؤَاخِذُكُمْ﴾ د مفاعلې مضارع ده: نيول، مؤاخذه کول. نيوکه کول (نيونه کول). ﴿عَقَّدْتُمْ﴾ د تفعيل ماضي ده، کله چي د قسم سره ذکر سي، نو معنیٰ يې راځي: قسم کلکول، قسم

مضبوطول (يعني کلک او پوخ قسم اخيستل)، ﴿تَرْجُوْ﴾ د نصر مضارع ده: اُميد کول. هيله او توقع کول. ﴿رَجَاء﴾ (د راء په فتحه سره): اُميد، هيله، توقع. ﴿عَلَّق﴾ د تفعيل ماضي ده: معلق کول (يو شی د بل شي سره تړل، ځوړند کول).

تشريح: په دې عبارت کې د يمينِ منعقده او يمينِ لغو تعريف او حکم بيان سوی دی. يمين منعقده دا دی چې يو سړی د مستقبل (را روان وخت) په باره کې قسم واخلي چې دا کار به کوم. مثلاً داسې ووايي "په خدای قسم که ستا کور ته داخل سم" (په الله مې قسم دی چې ستا کور ته به داخل نه سم)، يا په مستقبل کې د يو کار نه کولو قسم واخلي، مثلاً داسې ووايي: "په خدای قسم که زه د فلانکي سره خبرې وکړم"، اوس که چيرې دا سړی (حالف) په خپل قسم کې حانث سي، يعني قسم مات کړي او د کوم کار قسم چې يې کړی وي، د هغه خلاف عمل وکړي، نو په دې صورت کې پر هغه کفاره لازميږي، دليل دا آيت دی: "لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ أَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْأَيْمَانَ" يعني الله تعالیٰ تاسې په لغو قسمونو سره نه نيسي، لېکن تاسې چې کوم کلک او پوخ قسم کړی وي، د هغه په ماتولو سره مو نيسي، او په يمينِ منعقده کې مضبوط او کلک قسم اخيستل کيږي، نو ځکه به د يمينِ منعقده په صورت کې د الله له طرفه مؤاخذه او نيوکه کيږي.

ويمين اللغو إلخ: يمينِ لغو دا دی چې انسان پر يو تېر سوي کار قسم واخلي، او د ده يقين وي چې هغه کار همداسې سوی دی لکه څرنګه چې ده قسم اخيستی دی، لېکن هغه کار داسې نه وي سوی. نو دې ته يمينِ لغو وايي، مثلاً هغه ووايي: "په خدای قسم! زه دې کور ته داخل سوی وم"، حالانکې هغه د کور دروازې ته هم نژدې سوی نه وي، يا مثلاً ووايي: "په خدای قسم! دا زيد دی"، لېکن په واقع کې هغه عمر وي، نو دا هم يمينِ لغو دی، او د دې حکم دا دی چې د الله له سپېڅلي او کريم ذات څخه دا توقع او اُميد سته چې پر داسې قسم نيوکه (مؤاخذه) نه وکړي، ځکه چې په خپله ربُّ العالمين د نه نيوکې (عدمِ مؤاخذه) اعلان کړی دی، فرمايلي يې دي: "لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ أَيْمَانِكُمْ"، لېکن څرنګه چې په يمينِ لغو کې اختلاف او تفصيل سته، نو په دې وجه امام محمد رَحِمَهُ الله په صراحت سره د عدمِ مؤاخذه حکم نه دی ذکر کړی، بلکې هغه يې پر اُميد او رجاء پرې اېښی دی (چې له الله څخه دا اُميد سته چې پر داسې قسم مؤاخذه او نيوکه نه وکړي، بلکې بخښنه او معافي وکړي).

په يمين كي د قصد، هيري او إكراه د برابر والي بيان

قَالَ: وَالْقَاصِدُ فِي الْيَمِينِ وَالْمُكْرَهُ وَالنَّاسِي سَوَاءٌ فرمايي: او په قسم كي قصد كونكی كس [يعني قصداً قسم اخيستونكی] او مجبور كس او هېرونكی كس [ټوله] سره برابر دي حَتّٰى تَجِبُ الْكَفَّارَةُ تر دې چي [په دې دريو سره صورتونو كي] كفاره واجبيږي لِقَوْلِهِ الطَّيِّلاً [1]: ثَلَاثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ: النِّكَاحُ وَالطَّلَاقُ وَالْيَمِينُ ځكه چي نبي ﷺ فرمايلي دي: درې شيان داسي دي چي په هغوی كي حقيقت هم حقيقت دی او په هغوی كي مسخرې [او ټوكي] هم حقيقت دی وَالشَّافِعِيُّ يُخَالِفُنَا فِي ذٰلِكَ او امام شافعي رَحِمَهُ الله په دې باره كي زموږ مخالف دی وَسَنُبَيِّنُ فِي الْإِكْرَاهِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى او موږ به په كتابُ الإكراه كي إنشاء الله [د دې] بيان وكړو وَمَنْ فَعَلَ الْمَحْلُوفَ عَلَيْهِ مُكْرَهًا أَوْ نَاسِيًا فَهُوَ سَوَاءٌ او څوک چي مجبوراً يا په هيره محلوف عليه كار وكړي نو دا [دواړه] سره برابر دي لِأَنَّ الْفِعْلَ الْحَقِيقِيَّ لَا يَنْعَدِمُ بِالْإِكْرَاهِ ځكه چي فعل حقيقتاً په إكراه [جبر] سره نه نيستي كيږي وَهُوَ الشَّرْطُ او همدا [حقيقتاً د فعل موجودېدل] شرط دي [يعني د كوم كار قسم چي انسان وكړي (چي هغه ته محلوف عليه كار وايي)، نو انسان د هغه په كولو سره حانث كيږي، او په إكراه كي هم انسان هغه كار كوي، داسي نه ده چي د إكراه په صورت كي هغه دغه كار (محلوف عليه) نه كوي، بلكي د إكراه په صورت كي هم د هغه له طرفه دا كار صادرېږي] وَكَذَا إِذَا فَعَلَهُ وَهُوَ مَغْمِيٌّ عَلَيْهِ أَوْ مَجْنُونٌ او همدارنګه كله چي يو څوک محلوف عليه كار وكړي په داسي حال كي چي هغه بې هوښه وي يا لېونی وي لِتَحَقُّقِ الشَّرْطِ حَقِيقَةً ځكه چي په حقيقت كي شرط موجود سو وَلَوْ كَانَتِ الْحِكْمَةُ رَفْعَ الذَّنْبِ فَالْحُكْمُ يُدَارُ عَلَى دَلِيلِهِ وَهُوَ الْحِنْثُ او كه چيري د كفارې حكمت د ګناه ليري كول وي نو د حكم دار ومدار به د ګناه پر دليل وي، او هغه حانث كېدل دي لَا عَلَى حَقِيقَةِ الذَّنْبِ نه د ګناه پر حقيقت [يعني د حكم دار ومدار به د ګناه پر حقيقت نه وي].

اللغات: ﴿قَاصِد﴾ د نصر اسم فاعل دی: قصد كونكی، اراده كونكی. ﴿مُكْرَه﴾ د افعال اسم مفعول دی: مجبور كړی سوی سړی (هغه كس چي په زوره يو څوک كار په وكړي). ﴿جِدّ﴾ د "هَزْل" ضد

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد، باب:٩، رقم: ٢١٩٤.

دی: رښتیا وینا (یعني په مسخرو سره یوه خبره نه کول، بلکي رښتیا ویل)، حقیقت ویل. قصداً او په اراده سره ویل، ﴿هَزْل﴾ مسخرې، ټوکي، ملنډې، وشتې، ﴿مَحْلُوْف عَلَيْه﴾ پر کوم شي یا خبره چي قسم واخیستل سي، هغه ته "محلوف علیه" وایي. ﴿يُدَارُ﴾ د نصر مضارع مجهوله ده: دائر کېدل، مدار کېدل، ﴿حِنْث﴾ د سمع مصدر دی: قسم ماتول (قسم خوړل)، حانث کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي قصداً قسم اخیستونکی، او څوک چي پر قسم اخیستلو مجبور کړی سي، او په هېره قسم اخیستونکی، دا درې سره کسان د کفارې په وجوب کي مساوي او برابر دي. او له دوی څخه چي کوم کس هم په خپل قسم کي حانث سي، پر هغه کفاره واجبیږي؛ ځکه چي کفاره له هغه درو شیانو څخه ده چي په هغوی کي مسخره هم دقصد او حقیقت په څېر ده، یعني څرنګه چي په هغوی کي د قصد او حقیقت سره حکم متعلق کېږي، همداسي په هغوی کي د بېله قصده او بېله حقیقت (ویلو) سره هم حکم متعلق کېږي، او هغه دا درې شیان دي: ① نکاح، ② طلاق، ③ قسم (یمین).

والشافعي يخالفنا إلخ: فرمایي چي امام شافعي رَحِمَهُ الله د إکراه او هیرې په یمین کي زموږ مخالف دی، یعني که یو څوک پر قسم اخیستلو مجبوره کړی سي، نو د امام شافعي په نېز د هغه قسم نه واقع کېږي، همدارنګه که څوک په هېره قسم واخلي، نو د امام شافعي په نېز هغه نه حانث کېږي، او د دې پوره بحث به انشاء الله په بابُ الإكراه کي ذکر سي.

ومن فعل إلخ: د دې حاصل دا دی که یو سړی داسي قسم واخلي چي فلانکی کار به نه کوم، لېکن بیا دا سړی پر هغه کار مجبور کړی سي او دئ هغه کار وکړي، یا په هېره هغه کار وکړي، نو په دې دواړو صورتونو کي هغه حانث کېږي؛ ځکه چي د حانث کېدلو شرط دا دی چي حقیقتاً فعل موجود سي، او دلته حقیقتاً فعل موجود سو، ځکه چي په إکراه او هیرې سره حقیقتاً فعل نه معلوم کېږي، بلکي په إکراه او هیرې کي هم فعل اداء کېږي که څه هم فاعل هغه په رضا او خوښي سره نه اداء کوي، لېکن فعل خو خامخا اداء کېږي، او حنث (حانث کېدل) د فعل د اداء کولو سره متعلق دی، نو ځکه به په دې صورتونو کي فاعل حانث کېږي، او کله چي هغه حانث کېږي نو ښکاره خبره ده چي پر هغه به کفاره هم لازم وي.

وكذا إذا فعله إلخ: فرمایي: که یو سړی د بې هوښۍ یا لېونتوب په حالت کي محلوف علیه کار وکړي، مثلاً یو سړي د یو شي نه خوړلو قسم کړی وي، او د بې هوښۍ یا لېونتوب په حالت کي هغه وخوري، نو دا سړی هم په خپل قسم کي حانث کېږي، او پر هغه به کفاره لازم وي؛ ځکه چي د حانث کېدلو شرط یعني فعل حقیقتاً موجود سو.

ولو كانت الحكمة إلخ: په دې سره د یو مُقدّر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي موږ او ړ ب د لي دي چي د کفارې د اداء کولو حکمت د ګناه لیري کول او محوه کول دي، او بې هوښه او مجنون انسان دواړه د شریعت په خطاباتو سره مکلف نه دي، نو تاسي پر هغو څنګه کفاره واجبوی؟

دې په جواب کې صاحب هدايه فرمايي چې كه موږ ستاسي سره دا خبره ومنو چې د كفارې حكمت د ګناه ختمول او محوه كول دي، نو د حكم مدار به د ګناه (ذنب) پر دليل وي، نه د ګناه پر حقيقت. او د ګناه دليل حانث كېدل دي، او حانث كېدل د حقيقتاً فعل د مستحق كېدلو سره متعلق دي، او د بې هوښه او لېوني كس څخه كه څه هم د ګناه صدور نه كيږي، ليكن د فعل صدور خو خامخا ځني كيږي. والله أعلم وعلمه أتم



بَابُ مَا يَكُوْنُ يَمِيْنًا وَمَا لَا يَكُوْنُ يَمِيْنًا

(دا) باب د هغو الفاظو (په بيان کې) دی کوم چې قسم وي او کوم چې قسم نه وي (يعني كوم الفاظ چې قسم شمارل كيږي او كوم چې قسم نه شمارل كيږي)

د قسم د الفاظو بيان

قَالَ: وَالْيَمِيْنُ بِاللهِ تَعَالَى أَوْ بِاسْمٍ آخَرَ مِنْ أَسْمَاءِ اللهِ تَعَالَى كَالرَّحْمٰنِ وَالرَّحِيْمِ فرمايي: او [قسم منعقد كيږي او صحيح كيږي] د الله تعالىٰ په لفظ سره يا د الله تعالىٰ په نومونو كې په يو نوم سره لكه رَحْمٰن او رَحِيْم أَوْ بِصِفَةٍ مِنْ صِفَاتِهِ الَّتِي يُحْلَفُ بِهَا عُرْفًا كَعِزَّةِ اللهِ وَجَلَالِهِ وَكِبْرِيَائِهِ يا د الله په صفتونو كې په هغه صفت سره چې په هغه سره په عرف كې قسم اخيستل كيږي لكه د الله عزت [مثلاً عرب وايي چې د الله په عزت مې قسم دی] او لكه د الله جلال [شان او شوكت] او د الله لويي لِأَنَّ الْحَلِفَ بِهَا مُتَعَارَفٌ ځكه چې په دې [الفاظو او صفاتو] سره قسم اخيستل په عُرف كې مشهوره [ورواج] دي وَمَعْنَى الْيَمِيْنِ وَهُوَ الْقُوَّةُ حَاصِلٌ او د يمين معنىٰ چې هغه قوت دی [په دې الفاظو او صفاتو سره] حاصله ده [يعني د يمين معنىٰ ده: قوت حاصلول. او په دې نومونو په قسم اخيستلو سره د يو كار پر كولو يا نه كولو قوت حاصليږي] لِأَنَّهُ يَعْتَقِدُ تَعْظِيْمَ اللهِ وَصِفَاتِهِ ځكه چې هغه [قسم اخيستونكی] د الله او د هغه د صفاتو د تعظيم عقيده لري فَصَلُحَ ذِكْرُهُ حَامِلًا وَمَانِعًا نو د دې [الفاظو او صفاتو] ذكر كول به [د قسم اخيستونكي] د اماده كولو او منع كولو صلاحيت لري [خلاصه دا چې د قسم اخيستلو مقصد دا وي چې د هغه د كولو يا نه كولو قوت حاصل سي، او په دې نومونو سره قوت حاصليږي.

نو ځکه د دې نومونو په ذریعه قسم اخیستل کېدای سي. پوره تفصیل به په تشریح کې ذکر سي!
قَالَ: إِلَّا قَوْلَهُ: وَعِلْمِ اللهِ فرمايي: مګر د قسم اخیستونکي دا قول: د الله په علم سره مې قسم دی
فَإِنَّهُ لَا يَكُونُ يَمِينًا نو دا قسم نه دی [يعني په دې سره هغه قسم کونکی نه ګرځي] لِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَعَارَفٍ
ځکه چې [په دې لفظ سره قسم اخیستل] په عُرف کې مشهور نه دي وَلِأَنَّهُ يُذْكَرُ وَيُرَادُ بِهِ الْمَعْلُومُ
او ځکه [کله چې] د الله علم ذکر کیږي [نو] په هغه سره معلوم مرادیږي يُقَالُ: اللّٰهُمَّ اغْفِرْ عِلْمَكَ فِينَا
أَيْ مَعْلُومَكَ ویل کیږي: اې الله ستا د علم مطابق موږ ته بخښنه وکړه! يعني ستا د معلومات مطابق
[موږ ته بخښنه وکړه! (يعني اې الله! موږ هغه ټوله ګناهونه وبخښه! کوم چې زموږ څخه هېر او
نامعلوم دي او تا ته معلوم دي)] وَلَوْ قَالَ: وَغَضَبِ اللهِ وَسَخَطِهِ او که هغه ووايي: د الله په غضب سره
مې قسم دی او د الله په ناراضۍ سره مې قسم دی لَمْ يَكُنْ حَالِفًا نو [په دې سره] هغه قسم کونکی نه
ګرځي [يعني په دې سره د هغه قسم نه صحيح کیږي او په دې سره هغه قسم اخیستونکی نه
شمارل کیږي] وَكَذَا وَرَحْمَةِ اللهِ او همدارنګه [قسم کونکي نه ګرځي کله چې ووايي] د الله په
رحمت سره مې قسم دی لِأَنَّ الْحَلِفَ بِهَا غَيْرُ مُتَعَارَفٍ ځکه چې په دې [الفاظو] سره قسم اخیستل
په عرف کې مشهور نه دي وَلِأَنَّ الرَّحْمَةَ قَدْ يُرَادُ بِهَا أَثَرُهَا وَهُوَ الْمَطَرُ أَوِ الْجَنَّةُ او ځکه کله په رحمت
سره د رحمت أثر مرادیږي چې هغه باران یا جنت دی وَالْغَضَبُ وَالسَّخَطُ يُرَادُ بِهِمَا الْعُقُوبَةُ او په
غضب او ناراضۍ سره عقوبت [او سزا] مرادیږي وَمَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ لَمْ يَكُنْ حَالِفًا او څوک چې له
الله څخه بغیر په بل شي سره قسم واخلي، نو هغه قسم کونکي نه ګرځي كَالنَّبِيِّ وَالْكَعْبَةِ لکه د نبي
او کعبې قسم لِقَوْلِهِ الطَّيْلا [1]: مَنْ كَانَ مِنْكُمْ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللهِ أَوْ لِيَذَرْ ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي:
څوک چې په تاسي کې قسم کول [او قسم اخیستل] غواړي نو هغه دې په الله سره قسم واخلي یا
دې قسم پرېږدي وَكَذَا إِذَا حَلَفَ بِالْقُرْآنِ او همدارنګه [هغه قسم کونکي نه ګرځي] کله چې په
قرآن سره قسم واخلي لِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَعَارَفٍ ځکه چې [په قرآن سره قسم اخیستل هم] په عرف کې
مشهوره نه دي [اخو زموږ د پښتنو په عرف کې رواج دي او پر هره خبره قرآن اخیستل کیږي، نو ځکه به زموږ په

---

[1] تخريج: أ... جه البخاري، باب:۷۴، رقم:۶۱۰۸.

عرف کي قسم کونکی ګرځي] قَالَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ : مَعْنَاهُ: أَنْ يَقُولَ: وَالنَّبِيِّ وَالْقُرْآنِ صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي: د دې مطلب دا دی چې انسان [داسي] ووايي: په نبي سره مې قسم دی او په قرآن سره مې قسم دی أَمَّا لَوْ قَالَ: أَنَا بَرِيءٌ مِنْهُمَا لیکن که هغه ووايي: چې زه له نبي او قرآن څخه بري [بېزاره] يم [که مې دا کار وکړی یا مې دا کار نه وکړی] يَكُونُ يَمِينًا نو دا قسم دی لِأَنَّ التَّبَرِّيَ مِنْهُمَا كُفْرٌ ځکه چې له نبي او قرآن څخه بري کېدل کفر دي.

اللغات: ﴿يَعْتَقِدُ﴾ د افتعال مضارع ده: عقیده لرل. ﴿حَامِلٌ﴾ د ضرب اسم فاعل دی: پارونکی، هڅونکی، اماده کونکی. ﴿مَانِعٌ﴾ د فتح اسم فاعل دی: منع کونکی. ﴿سَخَط﴾ ناراضي (ناراضه کېدل)، ناخوښي. ﴿عُقُوبَة﴾ سزا. ﴿لِيَذَرْ﴾ د امر غائب صیغه ده: یو کار پرېښوول، ایله کول. ﴿التَّبَرِّي﴾ د تفعّل مصدر دی: بري کېدل، بېزاره کېدل (بېزاري ښکاره کول).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی د الله په نومونو کې په یو نوم سره مثلاً په اَللّٰه، یا الرَّحْمٰن، یا الرَّحِيْم سره قسم واخلي، یا د الله په صفاتو کې په یو داسې صفت سره قسم واخلي چې په هغه سره په عرف کې قسم اخیستل کیږي، مثلاً یو څوک د الله په عزت یا د هغه په جلال او لویی سره قسم واخلي، نو قسم صحیح کیږي او منعقد کیږي، ځکه چې د الله په نومونو سره د قسم په منعقد کېدلو (او صحیح کېدلو) کې د هیچا اختلاف نشته. او په عرف او رواج کې چې په کومو صفاتو سره قسم اخیستل کیږي، په هغوی سره د قسم معنیٰ (یعني قوت) حاصلیږي، ځکه چې حالف (قسم اخیستونکی) تعظیماً د الله په نامه او د هغه په صفاتو سره قسم اخلي، او د الله د نامه یا د صفت ذکر کول هغه د محلوف علیه کار پر کولو اماده کوي او هغه راپاروي، که چیرې هغه د محلوف علیه کار د کولو قسم اخیستی وي، او که چیرې هغه د نه کولو قسم اخیستی وي، نو د الله د نامه یا صفت ذکر کول هغه له محلوف علیه کار څخه منع کوي، په عبارت کې له حَامِلًا او مَانِعًا څخه همدغه مراد دي (چې قسم او د الله د نامه ذکر حالف پر محلوف علیه کار اماده کوي، یا یې ځني منع کوي).

قال إلا قوله إلخ: فرمايي که یو سړی د علمُ الله په الفاظو سره قسم واخلي (یعني داسې ووايي چې "د الله په علم سره مې قسم دی"، نو هغه قسم کونکی نه ګرځي (یعني په دې الفاظو سره د هغه قسم نه صحیح کیږي)، ځکه چې په علمُ الله سره قسم کول په عرف کې مشهور نه دي، او ځکه چې له علمُ

الله څخه معلومُ الله مراديږي، لكه څرنګه چي د مغفرت او بخښني لپاره داسي دعاء كيږي "اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ عِلْمَكَ" د دې معنیٰ ده: "اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ مَعْلُوْمَكَ" (ترجمه يې په عبارت كې ذكر سوه)، او په قسم كي هم له علم څخه معلوم مراديږي، او د معلوم په لفظ سره قسم نه صحيح كيږي.

ولو قال غضب الله إلخ: او كه يو څوک د غضبُ الله يا د سخطُ الله په الفاظو سره قسم وكړي، نو هغه قسم كونكى نه ګرځي، ځكه چي په دې الفاظو سره قسم كول هم په عرف كي رواج نه دی، همدارنګه په رحمةُ الله سره قسم كول هم رواج نه دی، او له رحمة څخه كله د هغه أثر مراديږي، يعني باران يا جنت، او له غضب او سخط څخه عقوبت مراديږي، حالانكي د قسم د انعقاد او صحيح كېدلو لپاره داسي الفاظ ضروري دي چي هغه خالص پر قسم دلالت كوي.

ومن حلف بغير الله إلخ: كه يو څوک له الله څخه بغير په بل چا سره قسم واخلي، مثلاً داسي ووايي: وَالنَّبِيِّ، يا وَالْكَعْبَةِ (په نبي سره مي قسم دی، يا په كعبه سره مي قسم دی)، نو هغه په دې الفاظو سره هم قسم كونكي نه ګرځي (يعني په دې الفاظو سره د هغه قسم نه صحيح كيږي)، ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي: "كه چيري په تاسي كي څوک قسم اخلي، نو هغه دي د الله په نامه سره قسم اخلي، يا دي بالكل قسم نه اخلي"، له دې څخه معلومه سوه چي په غيرُ الله سره قسم اخيستل ناجائز او غير صحيح دي، همدارنګه كه څوک په قران سره قسم واخلي، نو په دې سره هم هغه قسم كونكى نه ګرځي، ځكه چي دا هم متعارف نه دي (لېكن زموږ په سيمو كي متعارف دي)، ها! كه يو څوک داسي ووايي: "إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَأَنَا بَرِيْئٌ مِنَ النَّبِيِّ وَالْقُرْآن" (يعني كه چيري ما داسي وكړه، نو زه له نبي او قرآن څخه بري يم)، نو په دې سره هغه قسم كونكي ګرځي، ځكه چي له نبي او قرآن څخه بري كېدل كفر دی، او له كفر څخه د ځان ساتلو لپاره به يقيناً هغه دا كار نه كوي، يعني دا قول به هغه خامخا د محلوف عليه كار له كولو يا نه كولو څخه منع كوي [لكه څرنګه چي د الله په نامه سره قسم اخيستل هغه له دې څخه منع كوي] نو ځكه به په داسي الفاظو سره انسان قسم كونكی ګرځي، او پر هغه به قسم پوره كول ضروري او لازمي وي).

د قسم د حروفو بيان

قَالَ: وَالْحَلْفُ بِحُرُوفِ الْقَسَمِ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: او قسم اخيستل د قسم په حروفو سره [هم قسم دی، يعني د قسم په حروفو سره هم انسان قسم كونكي ګرځي] وَحُرُوفُ الْقَسَمِ الْوَاوُ كَقَوْلِهِ وَاللهِ وَالْبَاءُ كَقَوْلِهِ بِاللهِ وَالتَّاءُ كَقَوْلِهِ تَاللهِ او د قسم حروف "واو" دی لكه د قسم اخيستونكي دا قول "وَاللهِ" او "باء" ده لكه د هغه دا قول "بِاللهِ" او "تاء" ده لكه د هغه دا قول "تَاللهِ" [د دې ټولو معنیٰ

ده: "قسم په خدای" او "په الله سره مې قسم دی"] لِأَنَّ كُلَّ ذٰلِكَ مَعْهُودٌ فِي الْأَيْمَانِ وَمَذْكُورٌ فِي الْقُرْآنِ ځکه چې په دوی کې هر لفظ د قسم لپاره متعين [او معتارف] دی او په قرآن مجيد کې ذکر سوی دی وَقَدْ يُضْمِرُ الْحَرْفَ فَيَكُونُ حَالِفًا كَقَوْلِهِ اللهِ لَا أَفْعَلُ كَذَا او کله نا کله د قسم حرف پټول کيږي [حذفول کيږي] نو [په هغه وخت کې] هم قسم کونکی ګرځي، لکه د هغه دا قول: "اللهِ لَا أَفْعَلُ كَذَا" [په الله سره مې قسم دی زه به داسې نه کوم] لِأَنَّ حَذْفَ الْحَرْفِ مِنْ عَادَةِ الْعَرَبِ إِيجَازًا ځکه چې [د کلام] د مختصر کولو لپاره د قسم حرف حذف کول د عربو عادت دی ثُمَّ قِيلَ: يُنْصَبُ لِانْتِزَاعِ الْحَرْفِ الْخَافِضِ بيا ويل سوي دي: چې د حرفِ قسم مدخول ته به د حرفِ جر د حذف کېدلو په وجه نصب ورکول کيږي [يعني کله چې د قسم حرف حذف کړی سي، نو د هغه مدخول (مثلاً د الله لفظ) ته به فتحه ورکول کيږي، ځکه چې دلته حرفِ جر ساقط سوی، او کله چې حرفِ جر ساقط سي، نو د بصريينو په نيز د هغه مدخول ته فتحه ورکول، او همدې ته منصوب بنزع الخافض وايي، دا د بصريينو قول دی] وَقِيلَ: يُخْفَضُ فَتَكُونُ الْكَسْرَةُ دَالَّةً عَلَى الْمَحْذُوفِ او ويل سوي دي: چې [مدخول ته به] زېر ورکول کيږي، نو زېر به پر حذف سوي حرف دلالت کوي [کوفيين فرمايي چې کله د قسم حرف حذف کړی سي نو د هغه مدخول ته به کسره ورکول کيږي، د دې لپاره چې د حرفِ جر (حرفِ قسم) پر حذف کېدلو دلالت وکړي] وَكَذَا إِذَا قَالَ: لِلّٰهِ فِي الْمُخْتَارِ او همدارنګه کله چې هغه ووايي: "لِلّٰهِ [لَأَفْعَلُ كَذَا]" [نو هم قسم کونکی ګرځي] لِأَنَّ الْبَاءَ تُبَدَّلُ بِهَا ځکه چې "با" [کله نا کله] په "لام" سره بدليږي قَالَ اللهُ تَعَالَى آمَنْتُمْ لَهُ [طه: ۷۱] أَيْ آمَنْتُمْ بِهِ الله تعالیٰ فرمايلي دي: "اٰمَنْتُمْ لَهُ" يعني "اٰمَنْتُمْ بِهِ" [يعني دلته "لَهُ" د "بِهِ" په معنیٰ سره دی، او باء د قسم په معنیٰ سره استعماليږي، نو ځکه به "لِلّٰهِ" هم د قسم په معنیٰ سره وي] وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: إِذَا قَالَ: وَحَقِّ اللهِ او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چې که هغه ووايي: د الله په حق سره مې قسم دی فَلَيْسَ بِحَالِفٍ نو هغه قسم کونکی نه دی [يعني په دې سره هغه قسم اخيستونکی نه ګرځي] وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ * وَإِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ أَبِي يُوسُفَ او همدا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی او

* القول الراجح: قول الطرفين (أي قول أبي حنيفة ومحمد رَحِمَهُمَا الله)، كما في رد المحتار (ج:۳، ص:۶۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۰۸]

[احمدا] يو روايت له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه هم دى وَعَنْهُ رِوَايَةٌ أُخْرٰى: أَنَّهُ يَكُوْنُ يَمِيْنًا او له هغه څخه بل روايت دا دى: چي دا قسم دى [يعني په دې سره انسان قسم كونكي ګرځي] لِأَنَّ الْحَقَّ مِنْ صِفَاتِ اللهِ تَعَالٰى وَهُوَحَقِيْقَتُهٗ ځكه چي حق د الله له صفاتو څخه دى، او هغه د الله حق كېدل دي فَصَارَ كَأَنَّهٗ قَالَ: وَاللهِ الْحَقِّ نو داسي سو لكه هغه چي ووايي: "وَاللهِ الْحَقِّ" [په حق الله سره مي قسم دى] وَالْحَلْفُ بِهٖ مُتَعَارَفٌ او په دې لفظ [والله الحق] سره قسم اخيستل په عرف كي مشهور دي وَلَهُمَا: أَنَّهٗ يُرَادُ بِهٖ طَاعَةُ اللهِ تَعَالٰى د طرفينو دليل دا دى: چي د حق په لفظ سره د الله تعالىٰ اطاعت [او عبادت كول] مراديږي [مثلاً خلك وايي: د الله تعالىٰ دا پر موږ حق دي چي موږ د هغه عبادت او اطاعت وكړو] إِذِ الطَّاعَاتُ حُقُوْقُهٗ ځكه چي طاعات [او د الله لپاره عبادات كول] د الله حقوق دي فَيَكُوْنُ حَلْفًا بِغَيْرِاللهِ نو دا به له الله څخه بغير په بل شي سره قسم اخيستل وي [ځكه چي له حق څخه عبادت مراديږي، نه الله، نو ځكه به په دې لفظ سره قسم كونكي نه ګرځي] قَالُوا: وَلَوْقَالَ وَالْحَقِّ او فقهاؤ فرمايلي دي: كه چيري هغه "وَالْحَقِّ" ووايي [يعني پر حق "الف لام" داخل كړي] يَكُوْنُ يَمِيْنًا نو دا قسم دى [يعني په دې سره انسان قسم كونكى ګرځي] وَلَوْقَالَ: حَقًّا او كه ووايي: "حَقًّا" [يعني "الف لام" پر داخل نه كړي، بلكي نكره يې ووايي] لَايَكُوْنُ يَمِيْنًا نو دا قسم نه دى لِأَنَّ الْحَقَّ مِنْ أَسْمَاءِ اللهِ تَعَالٰى ځكه چي "اَلْحَقّ" [په الف لام سره] د الله تعالىٰ له نومونو څخه [يو نوم] دى وَالْمُنَكَّرُ يُرَادُ بِهٖ تَحْقِيْقُ الْوَعْدِ او په نكره سره [چي "الف لام" پر داخل نه كړي] وعده پوره كول مراديږي [مثلاً عرب وايي: حَقًّا عَلَيَّ أَنْ أَفْعَلَ كَذَا (پر ما حق دي چي زه به داسي كوم او دا وعده به پوره كوم)].

اللغات: ﴿مَعْهُوْد﴾ معروف، په ذهن كي متعين (ټاكل سوى)، مشهور، (د خلكو په عرف او أذهانو كي متعين)، ﴿يُضْمَر﴾ د افعال مضارع مجهوله ده: مضمر كول، پټول، مخفي كول، ﴿إِنْتِزَاع﴾ د افتعال مصدر دى: ليري كول، كشول، مراد ځني "حذفول" دي، ﴿خَافِض﴾ جرّ وركونكى حرف (زېر وركونكى حرف)، ﴿الْمُنَكَّر﴾ د اسم مفعول صيغه ده: نكره اسم (هغه اسم چي د تعريف حرف يعني "الف لام" پر داخل نه وي).

تشريح: عبارت په ترجمه كي تشريح سو.

د قسم د افعالو بيان

وَلَوْقَالَ: أُقْسِمُ أَوْ أُقْسِمُ بِاللّٰهِ او كه [يو څوک] ووايي: زه قسم اخلم [قسم مي دی] يا [ووايي] په الله سره قسم اخلم [په الله سره مي قسم دی] أَوْ أَحْلِفُ أَوْ أَحْلِفُ بِاللّٰهِ يا [ووايي] زه حلف كوم [يعني قسم اخلم، لوړه كوم] يا [ووايي] په الله سره حلف كوم أَوْ أَشْهَدُ أَوْ أَشْهَدُ بِاللّٰهِ يا [ووايي] زه ګواهي وركوم يا [ووايي] زه په الله سره ګواهي وركوم فَهُوَحَالِفٌ نو هغه قسم كونكی دی [يعني په دې ټولو الفاظو سره هغه قسم اخيستونكی شمارل كيږي، نو خپل قسم به پوره كوي] لِأَنَّ هٰذِهِ الْأَلْفَاظَ مُسْتَعْمَلَةٌ فِي الْحَلِفِ ځكه چې دا الفاظ په حلف كې مستعمل دي [يعني دا ټوله الفاظ په عُرف كې د قسم اخيستلو لپاره استعماليږي] وَهٰذِهِ الصِّيغَةُ لِلْحَالِ حَقِيقَةً وَتُسْتَعْمَلُ لِلِاسْتِقْبَالِ بِقَرِينَةٍ او دا صيغه [يعني له أقسمُ، أحلفُ، او أشهدُ څخه هره صيغه] په حقيقت كې د حال [اوسنی زمانې] لپاره ده، [لېكن] د استقبال [را رواني زمانې] لپاره په يوه قرينه سره استعماليږي فَجُعِلَ حَالِفًا فِي الْحَالِ نو ځكه به هغه فی الحاله [اوس] قسم كونكی ګرځول كيږي [ځكه چې هغه دلته له قرينې څخه بغير په دې صيغو سره قسم اخيستی دی، نو اوس (فی الحاله) به قسم اخيستونكی شمارل كيږي] وَالشَّهَادَةُ يَمِينٌ او د شهادت [أشهد] لفظ قسم دی قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: قَالُوا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ اللّٰهِ [المنافقون: ۱] الله تعالي فرمايلي دي: منافقان وايي: موږ ګواهي وركوو چې بېله شكه ته د الله رسول يې ثُمَّ قَالَ: اِتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً [المجادلة: ۱۶] [څه وروسته يې] فرمايلي دي: دغه منافقانو خپل قسمونه [د خپلو ځانو لپاره] ډال ګرځولي دي [چې د هغو په خلاف جهاد او كاروايي ونه كړی شي] (په دې آيت كې الله تعالیٰ د منافقينو "نشهدُ" ته قسم ويلي دي، نو معلومه شوه چې د شهادت لفظ هم د قسم لپاره استعماليږي) وَالْحَلْفُ بِاللّٰهِ هُوَ الْمَعْهُودُ الْمَشْرُوعُ وَبِغَيْرِهِ مَحْظُورٌ او [فقط] په الله سره قسم اخيستل متعين او مشروع دي او [د الله څخه بغير] په بل چا سره قسم اخيستل ممنوع دي [يعني كله چې څوک مطلق ووايي: قسم مي دی، يا حلف كوم، يا ګواهي وركوم، فقط په دې الفاظو سره ځكه هغه قسم كونكی ګرځي چې په شريعت او عرف كې په الله سره قسم اخيستل متعين دي او په غيرُ الله سره قسم اخيستل ممنوع او غير مقبول دي، نو ځكه موږ وايو چې په مطلق "قسم اخيستلو" سره هم انسان "په الله سره قسم كونكي" ګرځي] فَصُرِفَ إِلَيْهِ نو ځكه به [مطلق حلف] د حلف بالله وطرف ته ګرځول

کیږي وَلِهٰذَا قِيلَ: لَا يَحْتَاجُ إِلَى النِّيَّةِ او له همدې وجهې ویل سوي دي: چې [په دې الفاظو سره د قسم اخیستلو په وخت کې] د نیت ضرورت نسته وَقِيلَ: لَا بُدَّ مِنْهَا او ویل سوي دي: چې نیت ضروري دی [یعني دویم قول دا دی چې په دې الفاظو سره انسان هغه وخت قسم کونکی ګرځي کله چې هغه د قسم نیت کړی وي] لِاحْتِمَالِ الْعِدَةِ وَالْيَمِينِ بِغَيْرِ اللهِ ځکه چې [په دې الفاظو کې د وعدې او په غیرُ الله سره د قسم اخیستلو احتمال سته [ځکه چې أقسمُ او أحلفُ... د مضارع صیغې دي، نو دا احتمال سته چې په دې سره به د هغه مراد په مستقبل کې قسم اخیستل وي (یعني په دې سره به یې په مستقبل کې د قسم اخیستلو وعده کړې وي)، همدرنګه د غه الفاظ چې کله مطلق ذکر سي، نو په غیرُ الله سره د قسم اخیستلو احتمال پکښې وي، نو په دې دوو وجهو په مطلق قسم اخیستلو کې د قسم نیت کول ضروري دي].

اللغات: ﴿صِيْغَة﴾ لفظ، ﴿جُنَّة﴾ ډال، سپر، کنګل (هغه آله چې د توري او اسلحې د مخنیوي لپاره استعمالیږي)، ﴿مَحْظُوْر﴾ ممنوع، هغه څه چې په شریعت کې منع سوي وي، ناجائز.

تشریح: عبارت په ترجمه کې تشریح سو.

د فارسي کوم الفاظ قسم دي؟

وَلَوْ قَالَ بِالْفَارِسِيَّةِ: سُوْگَنْد مِيْخُوْرَم او که [یو څوک] په فارسي ژبه ووایي: "سوگند میخورم" [په الله سره قسم خورم] يَكُوْنُ يَمِيْنًا نو دا قسم دی [یعني په دې سره هغه قسم کونکی ګرځي، همدا د هرې ژبې حکم دی] لِأَنَّهُ لِلْحَالِ ځکه چې دا [میخورَم] د حال لپاره دی [نه د استقبال لپاره] وَلَوْ قَالَ سُوْگَنْد خُوْرَم او که ووایي: "سوگند خورم" قِيلَ: لَا يَكُوْنُ يَمِيْنًا نو ویل سوي دي [یعني ځینې علماؤ فرمایلي دي]: چې دا قسم نه دی [ځکه چې د دې معنیٰ ده: قسم خورم، نو په دې کې د استقبال معنیٰ سته (یعني دا د قسم وعده ده)، نو ځکه به قسم کونکی نه ګرځي] وَلَوْ قَالَ بِالْفَارِسِيَّةِ: سُوْگَنْد خُوْرَم بَطَلَاقِ زَنَم او که [یو څوک] په فارسي ژبه ووایي: قسم خورم د خپلې ښځې په طلاق [یعني: د خپلې ښځې په طلاق مې قسم دی] لَا يَكُوْنُ يَمِيْنًا نو دا قسم نه دی [یعني په دې سره هغه قسم کونکی نه ګرځي] لِعَدَمِ التَّعَارُفِ ځکه چې [داسې قسم اخیستل] متعارف نه دي قَالَ:

وَكَذَا قَوْلُهُ: لَعَمْرُ اللهِ وَأَيْمُ اللهِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: او همدارنګه د هغه دا قول [قسم نه دی]: "لَعَمْرُ الله [أَفْعَلُ كَذَا]" او "أَيْمُ الله [أَفْعَلُ كَذَا]" لِأَنَّ عَمْرَ اللهِ بَقَاءُ اللهِ ځکه چې له "عَمرُ الله" څخه مراد د الله بقاء [او همېشه والي] دی انو ځکه به هغه په دې سره قسم کوونکی نه ګرځي] وَأَيْمُ اللهِ مَعْنَاهُ: أَيْمَنُ اللهِ وَهُوَ جَمْعُ يَمِيْنٍ او د "أيمُ الله" معنیٰ ده: "أَيْمَنُ الله" او "أَيْمن" جمع د "يَمِيْن" ده وَقِيلَ او ويل سوي دي [چې په "لعمرُ الله" او "أيمُ الله" سره انسان قسم کونکی ګرځي] مَعْنَاهُ: وَاللهُ [ځکه چې] د "أيمُ الله" معنیٰ ده: "وَاللهِ" [په الله سره مې قسم دی] وَأَيْمُ صِلَةٌ كَالْوَاوِ او د "أيمُ" لفظ د "واو" په څېر صله ده [يعني د "واو" په څېر مستقله جمله ده] وَالْحَلِفُ بِاللَّفْظَيْنِ مُتَعَارَفٌ او په دې لفظونو [العمرُ الله او أيمُ الله] سره قسم اخيستل په عرف کې مشهور [او رواج] هم دي وَكَذَا قَوْلُهُ: وَعَهْدُ اللهِ وَمِيثَاقُهُ او همدارنګه د هغه دا قول [قسم دی]: "وَعَهْدُ اللهِ [أَفْعَلُ كَذَا]" او "مِيْثَاقُ اللهِ [أَفْعَلُ كَذَا]" [يعني په دې سره هم هغه قسم کونکی ګرځي] لِأَنَّ الْعَهْدَ يَمِيْنٌ ځکه چې عهد يمين دی [يعني عهد قسم ته وايي] قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ: وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللهِ [النحل: ٩١] الله تعالیٰ فرمايلي دي: "وَ أَوْفُوْا بِعَهْدِ اللهِ إِذَا عَاهَدْتُمْ وَلَا تَنْقُضُوا الأَيْمَان بَعْدَ تَوْكِيْدِهَا" [او کله چې تاسي په الله سره وعده وکړئ! نو هغه پوره کوئ! او قسمونه تر ټينګولو وروسته مه ماتوئ!] (وګورئ! په دې آيت کې الله تعالیٰ "عهد" او پېمان ته قسم ويلي دي. او د هغه له ماتولو څخه يې منع کړې ده] وَالْمِيثَاقُ عِبَارَةٌ عَنِ الْعَهْدِ او ميثاق [هم] له عهد څخه عبارت دی [يعني ميثاق هم عهد او پېمان ته وايي] وَكَذَا إِذَا قَالَ: عَلَيَّ نَذْرٌ أَوْ نَذْرُ اللهِ او همدارنګه کله چې هغه ووايي: [دا کار] پر ما نذر دی يا پر ما د الله نذر دی [يعني دا کار پر ما د الله لپاره نذر دی، نو هغه په دې سره قسم کونکی ګرځي] لِقَوْلِهِ الطَّيِّلا: مَنْ[1] نَذَرَ نَذْرًا وَلَمْ يُسَمِّ فَعَلَيْهِ كَفَّارَةُ يَمِينٍ ځکه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: څوک چې يو نذر ومني او هغه متعين نه کړي [يعني هغه پوره نه کړي سي] نو پر هغه د قسم کفاره واجب ده [د قسم کفاره واجبېدل د دې خبري دليل دی چې نذر هم قسم او يمين دی].

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد، باب:٢٥، رقم الحديث:٣٣٢٢.

اللغات: ﴿سوگند﴾ قسم، لوړه، ﴿ميخورم﴾ زه يې خورم (يعني زه قسم کوم، قسم اخلم)، ﴿زنم﴾ زما ښځه (زما زوجه)، ﴿أيم﴾ قسم، ﴿عهد﴾ ژمنه، وعده، قول، تړون، پېمان، همدا د مِيثَاق معنیٰ ده، ﴿لَمْ يُسَمِّ﴾ د تفعيل له باب څخه د جحد صيغه ده: متعين کول، مقرر کول (ټاکل).

تشريح: عبارت په ترجمه کي تشريح سو.

يو کار پر ايمان يا کفر مُعلق کول قسم دی

وَإِنْ قَالَ: إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَهُوَ يَهُودِيٌّ أَوْ نَصْرَانِيٌّ أَوْ كَافِرٌ او که [يو سړی] ووايي: که ما داسي وکړه نو زه به يهودي يم يا نصراني يم يا به کافر يم [يا لکه زموږ په سيمو کي چي خلک وايي: زه به مسلمان نه يم که مي دا کار نه وکړی] يَكُونُ يَمِينًا نو دا قسم دی لِأَنَّهُ لَمَّا جَعَلَ الشَّرْطَ عَلَمًا عَلَى الْكُفْرِ ځکه کله چي هغه شرط پر کفر باندي علامت وګرځوی فَقَدْ اعْتَقَدَهُ وَاجِبَ الِامْتِنَاعِ نو هغه له محلوف عليه کار څخه ځان منع کول واجب وګڼل [يعني کله چي هغه د يو کار کول يا نه کول د کفر نښه وګرځول (چي زه به مسلمان نه يم، کافر به يم که مي دا کار وکړی يا مي دا کار نه وکړی) يعني د هغه کار کول يا نه کول يې د ځان د کفر علامه وګرځوله، نو د هغه دا عقيده ده چي له هغه کار څخه ځان ساتل واجب دي] وَقَدْ أَمْكَنَ الْقَوْلُ بِوُجُوبِهِ لِغَيْرِهِ بِجَعْلِهِ يَمِينًا او دلته دا ويل [هم] ممکن دي چي د دې [امتناع] واجبېدل [يعني له محلوف څخه د امتناع واجب ګڼل] د بل شي په وجه دي په دې توګه چي د هغه [سړي] قول يمين وګرځول سي كَمَا نَقُولُ فِي تَحْرِيمِ الْحَلَالِ لکه موږ [علماء] چي د حلال شي د حرامولو په باره کي وايو [چي هغه قسم دی] (وقد أمكن الخ...: د دې جملې خلاصه دا ده، چي کله هغه سړی پر ځان د يو کار کول يا نه کول واجب کړه، حالانکي د هغه کار کول يا نه کول واجب نه وو، لېکن ده پر ځان واجب وګرځول او دا وجوب لغيره دي (لکه يو شی چي حلال وي، لېکن هغه پر ځان حرام کړی سي نو دا وجوب لغيره دي) او د قسم په معنیٰ سره دی، نو ځکه به د هغه قول هم د قسم په معنیٰ سره وي] وَلَوْ قَالَ ذَلِكَ لِشَيْءٍ قَدْ فَعَلَهُ فَهُوَ الْغَمُوسُ او که [يو انسان] دا خبره د داسي شي په باره کي وکړي چي هغه شی انسان [پخوا] کړی وي نو دا يمينِ غموس دی [مثلاً زيد په پخوا زمانه کي غلا کړې وي، او بيا ووايي: که ما غلا کړې وه نو زه دي کافر سم (يا زه به کافر يم)، نو دا يمينِ غموس دی، او پر هغه کفاره نه واجبيږي، او څرنګه چي په دې جملو (زه به کافر يم، زه به يهودي يم...) کي د استقبال معنیٰ هم سته، نو ځکه به هغه کافر نه ګرځول کيږي] وَلَا يُكَفَّرُ اعْتِبَارًا بِالْمُسْتَقْبَلِ او پر مستقبل باندي په قياسولو سره به هغه کافر نه ګرځول کيږي [يعني د استقبالي معنیٰ په وجه به هغه په دې جملو سره نه کافر کيږي] وَقِيلَ: يُكَفَّرُ او ويل سوي دي: چي هغه به کافر ګرځول کيږي لِأَنَّهُ تَنْجِيزُ مَعْنًى ځکه چي دا

[جملې] د معنیٰ په اعتبار سره في الحاله دیو کار واقع کول دي [یعني په دې جملو کې د حال معنیٰ سته] فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: هُوَ يَهُودِيٌّ نو داسې سو لکه هغه چې ووایي: زه یهودي یم [یعني مطلقا ووایي: زه یهودي یم، او داسې نه ووایي: که مې پخوا دا کار کړی وو نو زه دې کافر یا یهودي سم، نو په دې صورت کې یقیناً هغه کافر کیږي، همداسې به دلته هم کافر کیږي] وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ لَا يَكْفُرُ فِيهِمَا إِنْ كَانَ يَعْلَمُ أَنَّهُ يَمِينٌ [او صحیح خبره دا ده چې د ماضي او مستقبل په دواړو حالتونو کې به هغه کافر نه ګرځول کیږي، په دې شرط که هغه په دې خبر وي چې دا قول قسم دی وَإِنْ كَانَ عِنْدَهُ أَنَّهُ يَكْفُرُ بِالْحَلِفِ او که د هغه دا عقیده وي چې په داسې قسم اخیستلو سره هغه کافر کیږي يَكْفُرُ فِيهِمَا نو د ماضي او مستقبل په دواړو صورتونو کې به هغه کافر ګرځول کیږي [مثلاً زید دا قسم وکړي: که زه مسکین ته خیرات نه ورکړم نو زه به کافر یم، بیا هغه خیرات نه ورکړي، یا مثلاً زید پخوا غلا کړې وي، او اوس ووایي چې که ما غلا کړې وه نو زه دې کافر سم، نو که هغه ته معلومه نه وه چې داسې خبره او جمله ویل قسم دی، نو په دې جملې سره هغه نه کافر کیږي، او که د هغه دا عقیده وه چې په جملې سره زه کافر کېږم، نو بیا هغه کافر کیږي] لِأَنَّهُ رَضِيَ بِالْكُفْرِ حَيْثُ أَقْدَمَ عَلَى الْفِعْلِ ځکه چې پر فعل دإقدام کولو په وجه هغه په کفر باندې راضي سو [یعني زید د قصداً خیرات نه ورکولو یا د قصداً درواغ ویلو په وجه په کفر راضي سو، او په کفر راضي کېدل هم کفر دی] وَلَوْ قَالَ: إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَعَلَيَّ غَضَبُ اللهِ أَوْ سَخَطُ اللهِ او که [یو شوک] ووایي: که چیرې ما داسې وکړه نو پر ما دې د الله غضب وي یا پر ما دې د الله ناراضي وي فَلَيْسَ بِحَالِفٍ نو دا قسم نه دی [یعني په دې سره هغه قسم کونکی نه ګرځي] لِأَنَّهُ دُعَاءٌ عَلَى نَفْسِهِ ځکه چې دا ځان ته ښرا کول دي وَلَا يَتَعَلَّقُ ذَلِكَ بِالشَّرْطِ او دا د شرط سره تعلق نه لري [یعني دا پر شرط معلق کول نه دي] وَلِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَعَارَفٍ او ځکه چې [داسې قسم اخیستل] متعارف نه دي وَكَذَا إِذَا قَالَ: إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَأَنَا زَانٍ أَوْ سَارِقٌ أَوْ شَارِبُ خَمْرٍ أَوْ آكِلُ رِبًا او همدارنګه [هغه قسم کونکی نه ګرځي] کله چې ووایي: که ما داسې وکړه نو زه به زناکاره یم، یا زه به غل یم، یا زه به شراب خوره یم، یا زه به سود خوره یم لِأَنَّ حُرْمَةَ هَذِهِ الْأَشْيَاءِ تَحْتَمِلُ النَّسْخَ وَالتَّبْدِيلَ ځکه چې د دې شیانو حُرمت د منسوخ کېدلو او بدلون احتمال لري فَلَمْ تَكُنْ فِي مَعْنَى حُرْمَةِ الِاسْمِ نو ځکه به دا د الله د نامه د حُرمت په معنیٰ سره نه وي [یعني د الله تعالیٰ د نامه د حرمت او تعظیم په درجه کې به نه وي] وَلِأَنَّهُ لَيْسَ بِمُتَعَارَفٍ او ځکه چې [داسې قسم اخیستل] په عرف کې رواج [هم] نه دي.

اللغات: ﴿عَلَم﴾ علامت (علامه)، نښه، نښاني، ﴿إعْتَقَدَ﴾ دافتعال ماضي ده: عقيده لرل، يو شي منل، پر يو شي يقين كول، ﴿إمْتِنَاع﴾ دافتعال مصدر دى: منع كېدل، پرهېز كول، ﴿تَحْرِيْم﴾ د تفعيل مصدر دى: يو شى حرام ګرځول (حرامول)، ﴿غَمُوْس﴾ د تېر سوي شي يا خبري په هكله درواغ قسم اخيستل، ﴿تَنْجِيْز﴾ د تفعيل مصدر دى: فوراً واقع كول (سمدستي يو كار اجراء كول)، فوراً واقع كېدل، ﴿رِبوٰا﴾ رِبًا: سود.

تشريح:

وكذا إذا قال...فأنا زان: د دې حاصل دا دى چې كله يو انسان ووايي: كه ما دا كار وكړى، يا دا كار مي نه وكړى، نو زه به زناكاره يم (يا زه زناكاره يم) او داسي نور، نو په دې سره هغه قسم كونكي نه ګرځي، لأنّ حُرمةَ هٰذهِ الأشياء (ځكه چې د زنا، غلا او داسي په حُرمت كي د نسخ او تبديل احتمال سته)، د دې جملې يو مطلب دا دى "چې د نبي ﷺ تر زمانې پوري په دې شيانو كي د نسخ او تبديل احتمال وو"، يا به په دې جمله كي به تأويل كيږي چې مطلب يې دا دى "چې دا شيان په خپله د نسخ او تبديل قابل او لائق دي (يعني بدلون او نسخ پكښي راتلاى سي)"، يعني د زنا، سود او داسي نورو حرمت خو منسوخ سوى نه دى، لېكن د حالت په بدلېدلو سره په دوى كي هم بدلون راتلاى سي، مثلاً كه په دارُالحرب كي د حربي كافرانو سره د مسلمان سودا او معامله واقع سي، نو له هغو څخه د ربوا (سُود) اخيستلو ګنجائش سته، همدارنګه د كومي ښځي سره چي زنا حرامه وي، هغه په نكاح سره حلاليږي، همدارنګه د غلا شى په رانيولو سره حلاليږي، لنډه دا چې دا شيان (زنا، غلا او داسي نورو) د بدلون او نسخ قابل دي، او په دې شيانو كي د تغير او تبدّل إمكان سته، لېكن د الله په نامه كي هيڅ وخت هم د هيڅ تغيّر او بدلون ګنجائش نسته، بلكي د هغه د نامه تعظيم په هر وخت كي، په هر حالت كي واجب او ضروري دى، نو ځكه به د دې شيانو حرمت د الله د نامه د حرمت په درجه كي نه وي، نو په دې شيانو سره به انسان قسم كونكى نه ګرځي، او بل دا چې په داسي الفاظو او جملو سره قسم اخيستل په عُرف كي رواج او متعين هم نه دي، او په نا متعارفه الفاظو سره انسان قسم كونكى نه ګرځي. والله أعلم وعلمهٗ أتم



فَصْلٌ فِي الْكَفَّارَةِ

(دا) فصل (د قسم) د كفارې (په بيان کې) دی

تشریح: مخکې تر دې صاحب د کتاب د کفارې د سبب یعني د حنث (حانث کېدلو) او قسم اخیستلو احکام بیان کړل، اوس له دې ځایه د مُسبب یعني د کفارې احکام بیانوي، او دا معلومه خبره ده چې مُسبب تر سبب وروسته وي، نو ځکه صاحب د کتاب تر قسم وروسته اوس د کفارې احکام بیانوي.

د قسم د کفارې بیان

قَالَ: كَفَّارَةُ الْيَمِينِ عِتْقُ رَقَبَةٍ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: د قسم كفاره [۱] يو غلام آزادول دي يُجْزِي فِيهَا مَا يُجْزِي فِي الظِّهَارِ [او] د قسم په كفاره كې هغه غلام كافي كيږي [جائز كيږي] كوم چې د ظهار په كفاره كې كافي كيږي وَإِنْ شَاءَ كَسَا عَشَرَةَ مَسَاكِينَ [۲] او كه قسم ماتونكي [حانث] وغواړي نو په لسو مسكينانو ته دې جامې واغوندي [يعني لسو مسكينانو ته دې كپړې وركړي] كُلَّ وَاحِدٍ ثَوْبًا فَمَا زَادَ هر يوه ته دې يوه جامه يا تر [يوې جامې] زيات وركړي وَأَدْنَاهُ مَا يَجُوزُ فِيهِ الصَّلَاةُ او د جامې ادنیٰ مقدار دا دی چې لمونځ پكښې جائز وي [يعني هر مسكين ته دې كم از كم دومره مقدار جامه خامخا وركړي چې په هغه كې لمونځ صحيح كيږي، او د مسكين عورت په پټيږي] وَإِنْ شَاءَ أَطْعَمَ عَشَرَةَ مَسَاكِينَ [۳] او كه هغه وغواړي نو لسو مسكينانو ته دې خوراك وركړي كَالْإِطْعَامِ فِي كَفَّارَةِ الظِّهَارِ لكه څرنګه چې د ظهار په كفاره كې خوراك وركول كيږي وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ تَعَالَى: فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ [المائدة: ۷۹] او اصل په دې باره كې د الله تعالیٰ دا قول دی: نو د دې [قسم ماتولو] كفاره لسو مسكينانو ته خوراك وركول دي [أَوْ كِسْوَتُهُمْ: يا هغو ته جامې وركول دي، أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ: يا يو غلام آزادول دي، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ [سورة المائده: ۸۹]: او كه څوک (دا شيان) پيدا نه كړي، نو (بيا) درې ورځې روژه نيول دي)] وَكَلِمَةُ أَوْ لِلتَّخْيِيرِ [په دې آيت كې] د "أَوْ" كلمه د تخيير لپاره ده فَكَانَ الْوَاجِبُ أَحَدَ الْأَشْيَاءِ

الثَّلَاثَةِ نو ځکه به له دې دریو شیانو څخه یو شی واجب وي [یعني که د قسم ماتونکي (حانث) خوښه وي، نو لسو مسکینانو ته دې ډوډۍ ورکړي، یا دې لسو مسکینانو ته جامې ورکړي. یا دې یو غلام آزاد کړي، د روژې حکم به په راتلونکي عبارت کې بیان سي].

اللغات: ﴿يُجْزِئُ﴾ د افعال مضارع ده: کافي کېدل. ﴿كَسَا﴾ ور اغوستل. ﴿تَخْيِيْر﴾ د تفعیل مصدر دی: اختیار ورکول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله قسم اخیستونکی خپل قسم مات کړي (او په خپل قسم کې حانث سي)، نو پر هغه د قسم کفاره ورکول لازم دي (ځکه چې هغه غلط ځای د الله نوم استعمال کړی او د الله د نامه سپکاوی یې وکړی). او د قسم په کفاره کې یو شی د غلام آزادول دي. هغه که دا غلام مسلمان وي، یا کافر وي، مذکر وي او که مؤنث وي، لوی وي او که کوچنی وي. هر څنګه چې وي په هغه سره د قسم کفاره اداء کیږي، لکه څرنګه چې د ظهار په کفاره کې هم دا حکم دی (خو غلام به شل وشوټ او معیوب نه وي). دویم شی لسو مسکینانو ته جامې ورکول دي، هر مسکین ته دې یوه جامه ورکړي. یا تر دې زیات. خو کم از کم دومره جامه (او کپړه) دې ضرور ورکړي چې په هغه کې لمونځ جائز کیږي. دریم شی لسو مسکینانو ته د مینځوی درجې خوراک ورکول دي، او په هغه اندازه دې خوراک ورکړي کوم چې د ظهار په کفاره کې ورکول کیږي. یعني هر مسکین ته دې یو صاع خُرما یا اُوربشي، یا نیم صاع غنم ورکړي. او په دې شیانو کې چې حانث ته کوم شی آسانه وي، هغه دې اختیار کړي، ځکه چې په پورتني آیت کې (کوم چې د قسم د کفارې په هکله أصل او دلیل دی) د "أوْ" کلمه د اختیار ورکولو لپاره ده. او اختیار په هغه صورت کې ثابتیږي، کله چې په دې دریو شیانو کې یو شی په کفاره کې اداء کړی سي، او که حانث په دې شیانو کې پر هیڅ شي قدرت نه لري، نو بیا دې درې ورځې پرلپسې روژې ونیسي.

د قسم په کفاره کې د روژو نیولو بیان

فَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ عَلَى أَحَدِ الْأَشْيَاءِ الثَّلَاثَةِ او که قسم ماتونکي [حانث] په دې دریو شیانو کې پر یوه شي قدرت پیدا نه کړي صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ نو درې ورځې دې پرلپسې روژې ونیسي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُخَيَّرُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې هغه ته به اختیار وي [که درې ورځې پرلپسې روژې نیسي، او که یې جلا جلا نیسي] لِإِطْلَاقِ النَّصِّ ځکه چې [پورتنی] آیت مطلق دی وَلَنَا قِرَاءَةُ ابْنِ مَسْعُودٍ: فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ او زموږ دلیل د ابن مسعود رضي الله عنه قرائت دی [چې په

هغه کي ذکر سوي دي ا: فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ ايعني د ابن مسعود ﷺ په قرائت کي د "متتابعات" قيد هم ذکر سوی دی (چي درې ورځې پرلپسې به روژه نيول کيږي)ا وَهِيَ كَالْخَبَرِ الْمَشْهُورِ او دا اقرائت ا د حديثِ مشهور په درجه کي دی ثُمَّ الْمَذْكُورُ فِي الْكِتَابِ فِي بَيَانِ أَدْنَى الْكِسْوَةِ مَرْوِيٌّ عَنْ مُحَمَّدٍ بيا په متن کي چي د ادنیٰ جامې کوم مقدار ذکر سوی دی هغه له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت نقل سوی دی اوَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ أَدْنَاهُ مَا يَسْتُرُ عَامَّةَ بَدَنِهِ او له شيخينو رَحِمَهُمَا الله څخه دا روايت انقل سوی ا دی: چي د جامې ادنیٰ مقدار دا دی چي هغه د مسکين زياتره بدن پټ کړي حَتَّى لَا يَجُوزَ السَّرَاوِيلَ تر دې چي افقط ا پرتوګ اورکول ا جائز نه دي وَهُوَ الصَّحِيحُ او همدا صحيح قول دی لِأَنَّ لَابِسَهُ يُسَمَّى عُرْيَانًا فِي الْعُرْفِ څکه چي افقط ا پرتوګ اغوستونکي ته اد خلکو ا په عرف کي لڅ ويل کيږي لَكِنَّ مَا لَا يُجْزِيهِ عَنِ الْكِسْوَةِ يُجْزِيهِ عَنِ الطَّعَامِ بِاعْتِبَارِ الْقِيمَةِ لېکن کوم مقدار اپيسې ا چي د جامې لپاره کافي نه وي، هغه د قيمت په اعتبار سره د خوراک ورکولو په بدله کي کافي کيږي امثلاً زيد په خپل قسم کي حانث سي، او د جامې لپاره مسکين ته لس درهمه ورکړي، او په دې لسو درهمو سره د لسو مسکينانو جامې نه رانيول کيږي، لېکن لسو مسکينانو ته خوراک په ورکول کېدای سي، نو داسي به ګڼل کيږي چي زيد لسو مسکينانو ته خوراک ورکړی. يا مثلاً زيد هر مسکين ته د جامې لپاره يو درهم ورکړی، او په يوه درهم فقط پرتوګ کيږي. لېکن نيم صاع غنم هم په يوه درهم رانيول کيږي. نو په دې دواړو صورتونو کي که څه هم د جامو کفاره نه اداء کيږي، لېکن د خوراک ورکولو (إطعام) په حق کي کفاره اداء کيږي، او د زيد غاړه خلاصيږي. (د دې جملې دا دواړه مثالونه شارحينو ليکلي دي)ا.

اللغات: ﴿يَسْتُرُ﴾ د نصر مضارع ده: عورت پټول. ﴿سَرَاوِيلُ﴾ پرتوګ (پاجامه).

تشريح: عبارت په ترجمه کي تشريح سو.

تر قسم ماتولو مخکي کفاره اداء کول

وَإِنْ قَدَّمَ الْكَفَّارَةَ عَلَى الْحِنْثِ او که ايو څوک ا تر حانث کېدلو اقسم ماتولو ا مخکي کفاره ورکړي لَمْ يُجْزِهِ نو ادا کفاره ا د هغه لپاره نه کافي کيږي ايعني زموږ په نيز تر حِنث مخکي کفاره ورکول جائز نه دي ا وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُجْزِيهِ بِالْمَالِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د مال په ذريعه کفاره ورکول د هغه لپاره کافي کيږي لِأَنَّهُ أَدَّاهَا بَعْدَ السَّبَبِ وَهُوَ الْيَمِينُ څکه چي هغه تر سبب يعني تر قسم اخيستلو ا وروسته کفاره اداء کړه فَأَشْبَهَ التَّكْفِيرَ بَعْدَ الْجَرْحِ نو دا امسئله ا تر زخمي کولو

وروسته د کفارې ورکولو سره مشابه سوه وَلَنَا: أَنَّ الْكَفَّارَةَ لِسَتْرِ الْجِنَايَةِ او زموږ دليل دا دی: چي کفاره د جرم [او ګناه] د پټولو لپاره اداء کيږي وَلَا جِنَايَةَ هَاهُنَا او دلته [تر قسم ماتولو مخکي] هيڅ جرم نسته وَالْيَمِينُ لَيْسَتْ بِسَبَبٍ او قسم [اخيستل] د کفارې سبب نه دی لِأَنَّهُ مَانِعٌ غَيْرُ مُفْضٍ ځکه چي قسم [له حِنث څخه] مانع وي [حِنث ته] نه رسونکي [او د حِنث سبب جوړېدونکی] نه وي بِخِلَافِ الْجَرْحِ په خلاف د زخم لِأَنَّهُ مُفْضٍ ځکه چي زخم [مرګ ته] رسونکي وي ثُمَّ لَا يَسْتَرِدُّ مِنَ الْمِسْكِينِ بيا کفاره اداء کونکی سړی [ورکول سوی مال] له مسکين څخه واپس اخيستلای نه سي لِوُقُوعِهِ صَدَقَةً ځکه چي هغه صدقه وګرځېده [او د صدقې واپس اخيستل جائز نه دي].

اللغات: ﴿جِنَايَة﴾ جرم، ﴿مُفْضٍ﴾ د افعال اسمِ فاعل دی: رسونکی، سبب جوړېدونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دي که يو څوک له قسم ماتولو څخه مخکي د قسمِ کفاره اداء کړي، او بيا قسم مات کړي، نو د احنافو په نېز دا کفاره جائز نه ده (بلکي تر قسم ماتولو وروسته به هغه دويم ځل کفاره اداء کوي)، لېکن د شوافعو په نېز په مال سره تر قسم ماتولو مخکي کفاره اداء کول جائز دي (مثلاً مسکينانو ته ډوډی، جامې يا د دې شيانو پيسې ورکول، لېکن په روژو سره د شوافعو په نېز هم مخکي کفاره اداء کول جائز نه دي؛ ځکه چي روژه بدني عبادت دی، او بدني عبادات تر وخت مخکي اداء کول صحيح نه دي)، او په مال سره کفاره اداء کول ځکه د شوافعو په نېز جائز دي، ځکه چي دلته کفاره تر خپل سبب يعني تر قسم اخيستلو وروسته اداء سوې ده، د دې مثال داسي دی لکه يو سړی چي بل څوک سخت زخمي کړي او بيا د هغه تر مرګ مخکي کفاره اداء کړي، نو په دې صورت کي بالاتفاق د هغه کفاره صحيح ده.

زموږ دليل دا دی چي د کفارې ورکولو مقصد د جرم پټول دي، او تر قسم ماتولو (حنث) مخکي خو هيڅ جرم سوی نه دی، بلکي فقط قسم اخيستل سوی دی، حالانکي قسم اخيستل د کفارې د واجبېدلو سبب نه دي، ځکه چي انسان قسم د دې لپاره اخلي چي له محلوف عليه کار او قسم ماتولو څخه منع سي، د دې لپاره قسم نه اخلي چي هغه کار وکړي او قسم مات کړي، نو ځکه به تر قسم ماتولو مخکي کفاره اداء کول جائز او معتبر نه وي.

او د امام شافعي رَحِمَهُ الله قياس صحيح نه دی (يعني د قسم مسئله د زخم پر مسئلې باندي قياسول صحيح نه دي)، ځکه چي په مقيس عليه (زخم) او مقيس (قسم) کي هيڅ مناسبت نسته، ځکه چي د سخت او مُهلک زخم آخري انجام مرګ دی، لېکن د قسم اخيستلو آخري انجام قسم

ماتول او کفاره اداء کول نه دی، ځکه که یو څوک تېوله ژوند پر خپل قسم ټېنګ پاته سي. نو د هغه قسم په خپله نه ماتیږي او کفاره نه پر لازمیږي. نو ځکه به تر قسم ماتولو مخکي کفاره اداء کول جائز نه وي.

نو که یو څوک تر قسم ماتولو مخکي کفاره اداء کړي او مسکین ته مال ورکړي، نو د هغه کفاره هم نه اداء کیږي. او ورکول سوی مال هم له مسکین څخه واپس نه سي اخیستلای، ځکه چي هغه مال په ورکولو سره د ده له طرفه صدقه او خیرات وګرځېدی. او صدقه کړی سوی شی واپس اخیستل جائز نه دي.

د ګناه پر کار قسم اخیستل

قَالَ: وَمَنْ حَلَفَ عَلٰى مَعْصِيَةٍ مِثْلَ أَنْ لَا يُصَلِّيَ أَوْ لَا يُكَلِّمَ أَبَاهُ أَوْ لَيَقْتُلَنَّ فُلَانًا فرمایي: او کوم سړی چي د یو ګناه پر کار قسم واخلي مثلاً [داسي قسم واخلي] چي هغه به لمونځ نه کوي. یا به د خپل پلار سره خبري نه کوي. یا فلانکی به خامخا وژني يَنْبَغِي أَنْ يَحْنَثَ نَفْسَهُ وَيُكَفِّرَ عَنْ يَمِينِهِ نو هغه ته پکار دي چي خپل ځان حانث کړي [یعني خپل قسم مات کړي] او له خپل قسم څخه کفاره ورکړي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1]: "مَنْ حَلَفَ عَلٰى يَمِينٍ وَرَأٰى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا ځکه چي نبي ﷺ فرمایلي دي: څوک چي قسم واخلي او له قسم څخه بغیر [تر قسم] غوره وګني [یعني د قسم مخالف شی غوره وګني او د قسم په مخالفت کولو کي خیر وویني] فَلْيَأْتِ بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ ثُمَّ لِيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ" نو کوم چي غوره وي هغه دي وکړي بیا دي د خپل قسم کفاره ورکړي وَلِأَنَّ فِيمَا قُلْنَاهُ تَفْوِيتُ الْبِرِّ إِلٰى جَابِرٍ وَهُوَ الْكَفَّارَةُ او ځکه موږ چي کوم صورت بیان کړی دی په هغه کي د تلافي کونکي شي یعني د کفارې وطرف ته د قسم فوتول [او د قسم ماتول] دي وَلَا جَابِرَ لِلْمَعْصِيَةِ فِي ضِدِّهِ او زموږ د بیان سوي صورت په ضد کي د ګناه لپاره هیڅ تلافي کونکی شی نسته وَإِذَا حَلَفَ الْكَافِرُ ثُمَّ حَنِثَ فِي حَالِ كُفْرِهِ أَوْ بَعْدَ إِسْلَامِهِ او کله چي کافر کس قسم واخلي بیا د خپل کفر په حالت کي یا تر خپل اسلام وروسته حانث سي فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ نو پر هغه حنث [یعني کفاره] نسته لِأَنَّهُ لَيْسَ بِأَهْلٍ لِلْيَمِينِ ځکه چي کافر [بالکل] د قسم أهل نه دی لِأَنَّهَا تُعْقَدُ لِتَعْظِيمِ اللهِ تَعَالٰى ځکه چي قسم د الله د تعظیم لپاره اخیستل کیږي [یعني د قسم اخیستونکي کس په قسم اخیستلو کي د الله د تعظیم عقیده وي]

---

[1] تخریج: رواه البخاری، رقم الحدیث: ٦٦٢٢.

وَمَعَ الْكُفْرِ لَا يَكُونُ مُعَظِّمًا او د کفر سره انسان تعظیم کونکی نه سي کېدلای [یعني کافر کس تعظیم کونکي ګرځېدلای نه سي] وَلَا هُوَ أَهْلُ الْكَفَّارَةِ او نه کافر د کفارې أهل دی لِأَنَّهَا عِبَادَةٌ ځکه چي کفاره یو عبادت دی.

اللغات: ﴿مَعْصِيَةً﴾ ګناه، نافرماني (د ګناه کار). ﴿يَنْبَغِيْ﴾ د انفعال مضارع ده: مناسب دي، پکار دي. ﴿يُكَفِّرْ﴾ د تفعيل مضارع ده: کفاره ورکول، کفاره اداء کول. ﴿تَفْوِيْت﴾ د تفعيل مصدر دی: فوت کول (فوتول)، ختمول. ﴿بَرّ﴾ د "باء" په فتحه سره له سمع او ضرب دواړو څخه مصدر دی: قسم پوره کول، له قسم څخه بري کېدل. د "تَفْوِيْتُ الْبَرِّ" معنیٰ ده: د قسم پوره والي فوتول (يعني قسم نه پوره کول او قسم ماتول). ﴿جَابِر﴾ تلافي کونکی، (هغه شی چي د تاوان پر ځای ودرېږي). د تاوان او نقصان خلیفه (د تاوان په عوض کي درېدونکی شی).

تشریح: مسئله: دا ده چي څرنګه پر ښه او نېک قسم ټینګ پاتېدل غوره او مناسب دي، همداسي د ګناه او معصیت قسم ماتول غوره او مناسب دي. نو که یو څوک داسي قسم واخلي چي زه به لمونځ نه کوم، یا به د پلار سره خبري نه کوم، یا به فلانکی سړی وژنم. نو هغه ته پکار دي چي خپل قسم مات کړي او د قسم کفاره اداء کړي. ځکه چي په دې کارونو کي هر محلوف علیه کار معصیت او ګناه ده، او د ګناه قسم ماتول ډېر ضروري دي. په حدیث کي ذکر سوي دي چي که یو څوک پر یو شي قسم واخلي، او وروسته د قسم په مخالفت کولو کي خیر ووېني، نو په څه کي چي خیر ووېني، هغه دي اختیار کړي، او د خپل قسم ماتولو کفاره دي اداء کړي.

ولأن تفويت إلخ: عقلي دلیل دا دی چي د ګناه د قسم په ماتولو او د هغه په کفاره ورکولو کي قسم د جابر (تلافي کونکي شي) په عوض کي یعني د کفارې په عوض کي فوتول او ماتول دي. او د جابر په عوض کي فوتول د نه فوتولو په څیر دي. لهذا د قسم ماتولو په وجه چي کومه لږ ګناه واقع سي، کفاره به هغه ختمه او مسح کړي، او د قسم ماتولو په وجه به د هغه (قسم اخیستونکي) مؤاخذه نه کیږي (او سزا به نه ورکول کیږي). لیکن که هغه قسم مات نه کړي، بلکي قسم پوره کړي، لمونځ نه کوي، د خپل پلار سره خبري نه کوي، یا قتل وکړي، نو په دې صورت کي به سخته ګناه هم واقع سي، او د دې ګناه هیڅ جابر (تلافي کونکی شی) به هم نه وي (ځکه چي په دې صورت کي به هغه د قسم پوره کولو په وجه کفاره نه اداء کوي). صاحب د کتاب په "وَلَا جَابِرَ إلخ" سره همدا خبره بیان کړې ده.

وإذاحلف الكافر إلخ: او كه يو كافر سرې قسم واخلي. او بيا قسم مات كړي. لو پر هغه كفاره نشته. هغه كه د كفر په حالت كي قسم مات كړي. او كه تر اسلام راوړلو وروسته قسم مات كړي. ځكه چي هغه د كفر په حالت كي قسم اخيستى دى. او كافر د قسم اخيستلو أهل نه دى. ځكه چي قسم خو يا د الله په نامه سره صحيح كيږي (منعقد كيږي). يا د الله په ذاتي صفاتو سره صحيح كيږي. او كافر نه الله مني. او نه د هغه ذاتي صفات مني. او نه د الله تعظيم كوي. نو ځكه به د الله د نامه په اخيستلو سره هغه قسم كونكي نه ګرځي. او كله چي هغه قسم كونكي نه ګرځي. نو بيا كه د كفر په حالت كي قسم مات كړي يا د اسلام په حالت كي. كفاره به پر لازم نه وي.

پر خپل ځان يو شى حرامول

وَمَنْ حَرَّمَ عَلَى نَفْسِهِ شَيْئًا مِمَّا يَمْلِكُهُ او كه يو څوک پر خپل ځان له هغو شيانو څخه يو شى حرام كړي د كومو شيانو چي هغه مالک وي لَمْ يَصِرْ مُحَرَّمًا نو دا شى پر هغه حرام نه ګرځي وَعَلَيْهِ إِنْ اِسْتَبَاحَهُ كَفَّارَةُ يَمِيْنٍ [خو بيا هم] كه هغه دا شى [پر خپل ځان] مباح وګرځوي نو پر هغه [د قسم] كفاره واجب ده [خلاصه دا چي كوم شيان د انسان لپاره حلال وي او د هغه په ملكيت كي وي. نو كه انسان له هغو شيانو څخه يو شى پر خپل ځان حرام كړي. نو هغه خو په حقيقت كي نه حراميږي. خو كه انسان هغه شى استعمال كړي. نو پر هغه به د قسم كفاره لازم وي. نقلي دليل دا دى چي نبي ﷺ د خپلي بي بي د طعني (او پيغور) په وجه عسل پر خپل ځان حرام كړه. نو الله تعالىٰ هغه ته تنبيه وركړه او هغه يې قسم وګرځوى او پر دې باندي كفاره هم لازم سوه. آيت دا دى: "يَآ أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللهُ (سورة التحريم: ٦٦)"] وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي پر هغه كفاره نشته لِأَنَّ تَحْرِيمَ الْحَلَالِ قَلْبُ الْمَشْرُوعِ ځكه چي حلال شى حرامول د شرعي حكم چپه اړول دي. فَلَا يَنْعَقِدُ بِهِ تَصَرُّفٌ مَشْرُوعٌ وَهُوَ الْيَمِيْنُ نو ځكه به په دې سره شرعي تصرف يعني قسم نه منعقد كيږي ايعني حلال شى مشروع او په شريعت كي روا دى. او دلته قسم اخيستونكى د هغه برعكس كار وكړى او مشروع كار يې پر ځان ممنوع وګرځوى. نو ځكه به بالكل قسم نه صحيح كيږي] وَلَنَا: أَنَّ اللَّفْظَ يُنْبِئُ عَنْ إِثْبَاتِ الْحُرْمَةِ او زموږ دليل دا دى: چي ادلته د قسم الفظ ايعني حرام شى پر ځان حرامول] د حرمت ثابتولو خبر وركوي وَقَدْ أَمْكَنَ إِعْمَالُهُ بِثُبُوْتِ الْحُرْمَةِ لِغَيْرِهِ بِإِثْبَاتِ مُوجَبِ الْيَمِيْنِ او له دې لفظ څخه بغير د بل لفظ يعني د قسم د موجب په ثابتولو سره د حرمت

ثابتېدل او دغه لفظ ته عمل ورکول ممکن دي فَيُصَارُ إِلَيْهِ نو ځکه به د هغه وطرف ته رجوع کيږي ثُمَّ إِذَا فَعَلَ مِمَّا حَرَّمَهُ قَلِيلًا أَوْ كَثِيرًا بيا چي کله هغه دا حرام کړی سوی شی لږ وکړي يا زيات وکړي حَنِثَ نو هغه حانث کيږي [او قسم يې ماتيږي] وَوَجَبَتْ الْكَفَّارَةُ او [پر هغه] به کفاره واجب وي وَهُوَ الْمَعْنَى مِنَ الِاسْتِبَاحَةِ الْمَذْكُورَةِ او [په متن کي] د ذکر سوي وي استباحة همدغه مطلب دی لِأَنَّ التَّحْرِيمَ إِذَا ثَبَتَ تَنَاوَلَ كُلَّ جُزْءٍ مِنْهُ ځکه تحريم چي کله ثابت سي نو د حرام کړی سوي شي هر جزء ته شامليږي..

اللغات: ﴿اِسْتَبَاحَ﴾ د استفعال ماضي ده: حلال ګرځول (حلالو). د ځان لپاره روا ګڼل. ﴿قَلْب﴾ د ضرب مصدر دی: چپه اړول. ګرځول. لوړ طرف لاندي کول (نسکورول). ﴿تَنَاوَلَ﴾ د تفاعل ماضي ده: شامليدل.

تشريح:

ولنا إلخ: زموږ دليل دا دی چي هغه حرام ګرځونکي سړي چي کوم لفظ او جمله استعمال کړې ده (مثلاً حَرَّمْتُ عَلَىٰ نَفْسِيْ طَعَامِيْ يا داسي بله جمله). دا جمله د حرمت ثابتولو خبر ورکوي. لېکن څرنګه چي يو شی لذاته (لعينه) حرام ګرځول د انسان په وس کي نه دي (يعني د انسان په وس کي دا خبره نسته چي د يو حلال شی ذات او عين پر خپل ځان جرام وګرځوي. ځکه چي شريعت خو هغه حلال کړی دی. لېکن لغيره [د بل شي په وجه] يو شی پر ځان حرامول د انسان په وس کي دي). نو ځکه به دلته حرمت لذاته خو نه ثابتيږي. مګر د ده لفظ ته به په عمل ورکولو سره هغه (د ده لفظ) قسم ګرځول کيږي او د قسم د تقاضا او موجب مطابق به حرمت ثابتيږي. او دا به وېل کيږي. چي که دغه سړي په حرام کړي سوي شي (مُحَرَّم شي) کي لږ تصرف هم وکړی. نو هم به دئ په خپل قسم کي حانث کيږي. او پر ده به د قسم کفاره واجب وي. صاحب د هدايې فرمايي چي د متن په دې جمله "وعليه إن استباحه كفارة يمين" کي د إستباحة همدغه مطلب دی. يعني په مُحَرَّم شي کي تصرف کول. او دا تصرف قليل او کثير (لږ او ډېر) ټولو ته شامليږي. ځکه چي د حرمت ثبوت د مُحَرَّم شي هر. هر جزء ته شامليږي.

د "كُلُّ حِلٍّ عَلَيَّ حَرَامٌ" ويلو حكم

وَلَوْقَالَ: كُلُّ حِلٍّ عَلَيَّ حَرَامٌ او كه [يو څوک] ووايي: هر حلال شئ پر ما حرام دی فَهُوَعَلَى الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ نو دا قسم به [فقط] د خورک او څښاک [د شيانو] سره متعلق وي [مطلب دا چي په دې قسم او جملې سره خو پکار دا وه چي ښځه او داسي نور هم د ده لپاره حرام سي. لیکن حکم داسي نه دی. بلکي له دې قسم او جملې څخه فقط د خوراک او څښاک شيان مراديږي او پر ده خپله ښځه نه حراميږي. يعني د خوراک او څښاک د شيانو په استعمالولو سره پر ده کفاره لازميږي. حراميږي هغه هم نه] إِلَّا أَنْ يَنْوِيَ غَيْرَذَٰلِكَ مګر دا چي له دې څخه بغير [د بل شي] نيت وکړي [مثلاً پر ځان د خپلي ښځي د حرامولو نيت وکړي. نو ښځه هم پر هغه حراميږي] وَالْقِيَاسُ: أَنْ يَحْنِثَ كَمَا فَرَغَ او قياس دا دی: چي [د دې جملې له ويلو څخه] تر فراغت وروسته [سمدستي] هغه حانث سي لِأَنَّهُ بَاشَرَ فِعْلًا مُبَاحًا وَهُوَالتَّنَفُّسُ وَنَحْوُهُ ځکه چي هغه [تر دې وروسته] يو مباح کار پر ځان حرام کړی چي هغه ساه اخيستل او داسي نور دي [يعني دغه سړي هر حلال شی پر ځان حرام کړی. او په حلال شي کي خو ساه اخيستل هم راځي. او هغه به خامخا تر قسم اخيستلو وروسته ساه اخيستې وي. نو ځکه به تر قسم اخيستلو وروسته سمدستي حانث کيږي. همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله رايه ده] هَٰذَا قَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ الْمَقْصُودَ وَهُوَالْبِرُّ لَا يَتَحَصَّلُ مَعَ اعْتِبَارِ الْعُمُومِ د استحسان دليل دا دی: چي د قسم مقصود يعني د قسم پوره کول. هغه [دلته] د عموم په اعتبار سره نه حاصليږي [يعني دلته که د عموم اعتبار وکړی سي او هر شی پر هغه حرام کړی سي (چي په هغه کي ساه اخيستل هم راځي). نو په دې توګه انسان قسم پوره کولای نه سي او له قسم څخه بري کېدلای نه سي. ځکه چي دا ممکن نه دي] وَإِذَا سَقَطَ اعْتِبَارُهُ يَنْصَرِفُ إِلَى الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ لِلْعُرْفِ او کله چي د عموم اعتبار ساقط سو نو د عُرف په وجه به قسم د خوراک او څيښاک [د شيانو] وطرف ته ګرځول کيږي فَإِنَّهُ يُسْتَعْمَلُ فِيمَا يَتَنَاوَلُ عَادَةً ځکه چي داسي قسم [او جمله] هغو شيانو ته شامليږي کوم چي عادتاً استعماليږي [د استحسان د دليل خلاصه دا ده چي د قسم اخيستلو مقصد د قسم پوره کول او له قسم څخه بري کېدل دی. او که دلته په قسم کي د عموم اعتبار وسي او قسم دومره عام کړی سي چي ساه هم انسان نه سي اخيستلای. دا ممکن نه دي. لهذا کله چي د "کُل حِل" په جمله او قسم کي عموم پاته نه سو. نو د عادت په توګه چي کوم شيان

استعماليږي. فقط هغه به مراديږي. يعني د خوراک او څښاک شيان. نو ځکه به فقط د خوراک او څښاک په شيانو سره حانث کيږي [وَلَا يَتَنَاوَلُ الْمَرْأَةَ إِلَّا بِالنِّيَّةِ او دا قسم له نيت څخه بغير ښځې ته نه شامليږي لِإِسْقَاطِ اعْتِبَارِ الْعُمُومِ ځکه چې د عموم اعتبار ساقط کړی سو وَإِذَا نَوَاهَا كَانَ إِيلَاءً او که هغه [قسم اخيستونکی] د خپلې ښځې نيت [هم] وکړي نو دا به ايلاء وي [يعني په دې قسم او جمله "كُل حِل" کې ښځه نه شامليږي. لېکن که هغه د ښځې نيت هم وکړي، نو ښځه شامليږي او خاوند به ايلاء کونکې وي، لېکن تر دې وروسته هم د خوراک او څښاک له شيانو څخه قسم نه ختميږي، او هغه به د مخکې په څېر پر دغه سړي حرام وي، همدا ظاهر روايت دی] وَلَا تُصْرَفُ الْيَمِينُ عَنِ الْمَأْكُولِ وَالْمَشْرُوبِ لېکن د خوراک او څښاک د شيانو څخه به قسم نه ګرځول کيږي وَهَذَا كُلُّهُ جَوَابُ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ دا ټوله د ظاهر روايت حکم دی وَمَشَايِخُنَا قَالُوا: يَقَعُ بِهِ الطَّلَاقُ عَنْ غَيْرِ نِيَّةٍ لِغَلَبَةِ الِاسْتِعْمَالِ او زموږ علماؤ فرمايلي دي: چې د ډېر استعمال په وجه په داسې قسم [او جمله] له نيت څخه بغير [هم] طلاق واقع کيږي وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى او پر همدې باندې فتوی [هم] ده [ځکه چې د "کل حل" په جمله سره په عامو وختو کې ښځه مراديږي] وَكَذَا يَنْبَغِي فِي قَوْلِهِ [في الفارسية] : حلال بَرْ وَیْ حرام لِلْعُرْفِ همدارنګه [په فارسي ژبه] د يو چا په دې قول سره [هم طلاق واقع کېدل پکار دي] : "حلال بر وی حرام" [حلال شی پر هغه (ما) حرام دی] [يعني په عرف کې داسې جمله ښځې ته د طلاق ورکولو لپاره استعماليږي. نو ځکه به په دې سره طلاق واقع کيږي] وَاخْتَلَفُوا فِي قَوْلِهِ هرچه بردست رَاسْتُ گيرم بر وی حرام او علماؤ په دې قول کې اختلاف کړی دی: "هرچه بردست راست گيرم بر وی حرام" [هر هغه شی کوم چې زه په راسته لاس نيسم. پر ما حرام دی] أَنَّهُ هَلْ تُشْتَرَطُ النِّيَّةُ چې آيا [په دې جمله کې د طلاق واقع کېدلو لپاره] نيت شرط دی؟ [او که شرط نه دی؟] وَالْأَظْهَرُ أَنَّهُ يُجْعَلُ طَلَاقًا مِنْ غَيْرِ نِيَّةٍ لِلْعُرْفِ او ظاهر دا دي [يعني ظاهر روايت دا دی] چې د عرف په وجه به دا له نيت څخه بغير [هم] طلاق ګرځول کيږي [يعني ظاهر روايت همدا دی چې له نيت څخه بغير هم په دې جمله سره طلاق واقع کيږي. ځکه چې په عرف کې داسې جمله د طلاق لپاره استعماليږي].

اللغات: ﴿شَرَاب﴾ څښاک، مشروب (د څښاک شی). ﴿بَاشَرَ﴾ د مفاعلې ماضي ده: په خپله يو کار کول. ﴿تَنَفُّس﴾ ساه اخيستل (ژوند تېرول). ﴿بَرَّ﴾ قسم پوره کول. له قسم څخه بري کېدل.

تشريح: عبارت په ترجمه کې تشريح سو.

د مطلق او معلق نذر حکم

وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا مُطْلَقًا او څوک چي مطلق نذر ومني فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ نو پر هغه نذر پوره کول واجب دي لِقَوْلِهِ الْعَلِيْلاً [1]: مَنْ نَذَرَ وَسَمّٰى فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ بِمَا سَمّٰى ځکه چي نبي ﷺ فرمايلي دي: څوک چي يو نذر ومني او هغه متعين کړي نو پر هغه د متعين کړی سوي شي پوره کول واجب دي وَإِنْ عَلَّقَ النَّذْرَ بِشَرْطٍ او که [يو څوک] نذر پر يو شرط معلق کړي فَوُجِدَ الشَّرْطُ بيا هغه شرط موجود سي فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ بِنَفْسِ النَّذْرِ نو پر هغه خاص هغه [متعين] نذر پوره کول واجب دي لِإِطْلَاقِ الْحَدِيثِ ځکه چي حديث مطلق دی وَلِأَنَّ الْمُعَلَّقَ بِالشَّرْطِ كَالْمُنَجَّزِ عِنْدَهُ او ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز معلق بالشرط د منجز په څير دی [يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز شرطيه نذر کول د غير شرطيه نذر کولو په څير دی] وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ رَجَعَ عَنْهُ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه [دويم] روايت دا دی چي هغه له خپل دې قول څخه رجوع وکړه وَقَالَ: إِذَا قَالَ: إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَعَلَيَّ حَجَّةٌ أَوْ صَوْمُ سَنَةٍ أَوْ صَدَقَةُ مَا أَمْلِكُهُ او ويې فرمايل: که يو څوک ووايي: که زه داسي وکړم، نو پر ما حج لازم دی، يا د يوه کال روژه لازم ده، يا د هغه مال صدقه لازم ده چي زه يې مالک يم أَجْزَأَهُ مِنْ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ يَمِينٍ نو په دې کي د هغه لپاره د قسم کفاره کافي ده وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ او همدا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی وَيَخْرُجُ عَنِ الْعُهْدَةِ بِالْوَفَاءِ بِمَا سَمّٰى أَيْضًا او د متعين کړی سوي شي په اداء کولو سره هغه سړی له ذمه واري څخه وځي [يعني د نذر کړی سوي شي په اداء کولو سره هغه بري کيږي او غاړي يې خلاصيږي] وَهٰذَا إِذَا كَانَ شَرْطًا لَا يُرِيدُ كَوْنَهُ او دا [حکم] په هغه صورت کي دی کله چي شرط داسي وي چي نذر منونکی د هغه د واقع کېدلو اراده نه لري [يعني د هغه په وقوع راضي نه وي] لِأَنَّ فِيهِ مَعْنَى الْيَمِينِ وَهُوَ الْمَنْعُ ځکه چي په دې کي د قسم معنیٰ سته او هغه منع کېدل [امتناع] دي وَهُوَ بِظَاهِرِهِ نَذْرٌ او دا په ظاهر کي نذر دی [او د معنیٰ په اعتبار سره قسم دی] فَيَتَخَيَّرُ نو ځکه به هغه لره اختيار وي وَيَمِيلُ إِلَى أَيِّ الْجِهَتَيْنِ شَاءَ او [د نذر او کفارې] په دواړو طرفونو کي چي يې کوم طرف خوښ وي هغه طرف ته دي ميلان وکړي [يعني که کفاره اداء کوي. او که نذر پوره

[1] تخريج: رواه ابو داؤد رقم الحديث: ۳۲۹۱

کوي ا بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ شَرْطًا يُرِيدُ كَوْنَهُ په خلاف د هغه صورت کله چې شرط داسې وي چې نذر منونکی يې د واقع کېدلو اراده لري ايعني په واقع کېدلو يې راضي وي ا كَقَوْلِهِ: إِنْ شَفَى اللهُ مَرِيضِي لکه د هغه دا قول: که چیري الله تعالیٰ زما مريض ته شفاء ورکړې أنو پر ما د يوه کال روژې لازم دي (مثلاً) الِانْعِدَامِ مَعْنَى الْيَمِينِ فِيهِ ځکه چې په دې کې د قسم معنیٰ ايعني منع کېدل ا نسته وَهٰذَا التَّفْصِيلُ هُوَ الصَّحِيحُ او همدا تفصيل صحيح دی قَالَ: وَمَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ وَقَالَ: إِنْ شَاءَ اللهُ مُتَّصِلًا بِيَمِينِهِ فرمايي: او څوک چې قسم واخلي او د قسم سره متصل إنشاء الله ووايي فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ نو پر هغه حانثوالي نسته ايعني د قسم په مخالفت کولو سره هغه د قسم ماتونکي نه ګرځي او نه حانث کيږي ا لِقَوْلِهِ الطَّيِّلِا [1]: مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ وَقَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ فَقَدْ بَرَّ فِي يَمِينِهِ ځکه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: څوک چې قسم واخلي او انشاء الله ووايي نو هغه په خپل قسم کې بري سو إِلَّا أَنَّهُ لَا بُدَّ مِنَ الِاتِّصَالِ خو متصلاً اسمدستي ا انشاء الله ويل ضروري دي لِأَنَّهُ بَعْدَ الْفَرَاغِ رُجُوعٌ ځکه چې له قسم څخه تر فارغه کېدو وروسته إنشاء ويل اله قسم څخه ا رجوع کول دي وَلَا رُجُوعَ فِي الْيَمِينِ او په قسم کې رجوع نسته. ايعني په قسم کې رجوع جائز نه ده ا.

اللغات: ﴿وَفَاء﴾ پوره کول. ﴿سَمَّى﴾ د تفعيل ماضي ده: نوم اخيستل. مقرر کول (ټاکل). متعين کول (معلومول). ﴿مُنَجَّز﴾ فوراً واقع کېدونکی (هغه شی کوم چې سمدستي واقع کړی سي). ﴿عُهْدَة﴾ ذمه واري. ﴿بَرَّ﴾ د واحد مذکر غائب ماضي صيغه ده. له سمع او ضرب دواړو څخه راځي: قسم پوره کول. له قسم څخه بري کېدل.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو څوک مطلق نذر ومني او پر هيڅ شرط يې معلق نه کړي. مثلاً داسې ووايي: "لِلّٰهِ عَلَيَّ صَوْمُ سَنَةٍ" (پر ما د الله تعالیٰ لپاره د يوه کال روژې لازم دي). نو پر هغه دغه نذر پوره کول واجب او ضروري دي: د دې يو دليل خو د قرآن کريم دا آيت دی: "وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ". او دويم دليل دا حديث دی "مَن نذر وسمّٰى فعليه الوفاء بما سمّٰى". يعني څوک چې يو معلوم شی پر ځان نذر کړي. نو پر ده واجب دي چې هغه معلوم شی پوره کړي.

[1] تخريج: رواه ابو داؤد، رقم الحديث: ۳۲۶۲.

او که یو څوک مقید نذر ومني یعني نذر پر یو شرط معلق کړي. مثلاً داسي ووایي: "إِنْ شَفَانِي اللهُ فَعَلَيَّ صَوْمُ سَنَة" (که الله ماته [اله دې مرض څخه] شفاء راکړه، نو پر ما د ټوله کال روژي لازم دي). او بیا شرط موجود سي، یعني الله تعالیٰ هغه ته شفاء ورکړي، نو پر هغه نذر پوره کول واجب دي. او فقط په کفاره ورکولو سره د ده غاړي نه خلاصیږي، ځکه چي پورتنی حدیث "مَن نذر وسمّٰى... إلخ" مطلق دی، او په دې حدیث کي د هر ډول نذر پوره کولو حکم سوی دی. هغه که مطلق نذر وي. یا مقید نذر وي: او بل دا چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز مُعلق بالشرط د منجز په څیر دی. او څوک چي منجز نذر وکړي، نو پر هغه نذر پوره کول لازم دي. لهذا په معلق نذر کي به هم پر هغه د نذر پوره کول لازم وي. او فقط په کفارې سره به هغه نه بري کیږي.

خو امام صاحب رَحِمَهُ الله وروسته له خپل دغه قول څخه رجوع وکړه. او وېې فرمایل چي که یو څوک مقید نذر ومني او داسي ووایي: "إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَعَلَيَّ حَجَّة..." (که ما داسي وکړه نو پر ما حج لازم دی...). نو پر هغه نذر پوره کول ضروري نه دی. او فقط په کفاره ورکولو سره هم هغه بري کیږي. صاحب د بنایې د ولید بن أبان په حواله سره لیکلي دي چي امام صاحب رَحِمَهُ الله خپل تر وفات (مړیني) اووه ورځي مخکي له دغه قول څخه رجوع وکړه "وبه يُفتِي إسماعيل الزاهدي رَحِمَهُ الله. وشمس الأئمة السرخسي رَحِمَهُ الله لكثرة البلوى به في هذا الزمان". همدا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول هم دی. او که هغه مقید نذر پوره کړي، نو هم بري کیږي، او بیا د کفارې ضرورت نسته. (بنایة ج:۶، ص:۴۴)

وهذا إذا كان إلخ: فرمایي چي دا حکم په هغه صورت کي دی. کله چي پر داسي شرط نذر معلق وي چي نذر منونکی د هغه شرط په وقوع راضي نه وي (او د هغه اراده نه لري). مثلاً هغه داسي ویلي وي: "إِنْ شَرِبْتُ الْخَمْرَ فَعَلَيَّ صَوْمُ سَنَةٍ" (که ما شراب وچیښل، نو پر ما د یوه کال روژې لازم دي). ښکاره خبره ده چي په دې جمله کي د یمین (قسم) معنیٰ سته. ځکه چي د هغه مقصد تعلیق او شرط پوره کول نه دي. لهذا دا لفظاً نذر دی او معناً یمین دی. نو ځکه به دغه سړي ته د ایفاءُ النذر او تکفیر دواړو اختیار وي (یعني ده ته به دا اختیار وي که نذر پوره کوي او که کفاره ورکوي).

لېکن که نذر منونکي پر داسي شرط نذر معلق کړی وي چي هغه د شرط په وجوداو وقوع خوشحاله او راضي کېږي. مثلاً هغه داسي ويلي وي "که چيري الله تعالیٰ زموږ مريض ته شفاء ورکړه، نو پر ما حج لازم دی. يا سنت روژه لازه ده. يا پر ما د خپل مال صدقه کول واجب دي). نو دا فقط نذر دی. يمين نه دی. ځکه چي په دې کي د يمين معنیٰ (يعني د نذر او شرط له وقوع څخه منع کېدل) نسته. صاحب د هدايې فرمايي چي د ارادې او رضاء په حواله چي موږ کوم تفصيل ذکر کړی چي په يوه صورت کي د نذر منونکي قول يمين او نذر دواړه ګرځي او په يو صورت کي فقط نذر ګرځي. همدا تفصيل صحيح دی او د لمر په شان واضح دی.

قال: ومن حلف إلخ: مسئله دا ده که يو سړی قسم واخلي او د قسم سره متصل إنشاء الله ووايي. نو دا سړی د قسم په مخالفت کولو سره نه حانث کيږي (يعني که د قسم خلاف کار وکړي. نو قسم يې نه ماتيږي)، ځکه چي په حديث کي ذکر سوي دي: "من حلف علیٰ يمين. وقال إن شاء الله فقد بَرَّ فِي يمينه" او د "بَرَّ فِي يمينه" مطلب همدا دی چي د هغه قسم نه منعقد کيږي (يعني هغه قسم کونکی نه ګرځي)، نو ځکه به هغه هيڅکله هم نه حانث کيږي. د دې تأئيد د حضرت ابو هريره رضی الله عنه په هغه حديث سره هم کيږي کوم چي په ترمذي او نسائي کي ذکر سوی دی "أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ: مَنْ حَلَفَ عَلیٰ يَمِيْنٍ. فَقَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ لَمْ يَحْنث" (بنايه ج:۶. ص:۴۰)، خو دا په ياد لرئ! چي له حانثوالي څخه د ځان ساتلو لپاره متصلاً إنشاء الله ويل ضروري دي. او که له قسم څخه څه وخت وروسته إنشاء الله وويل سي، نو د دې هيڅ اعتبار نسته. ځکه چي له قسم څخه وروسته إن شاء الله ويل په حقيقت کي له قسم څخه رجوع کول دي، او په قسم کي رجوع جائز نه ده، نو په دې وجه تر قسم وروسته د ان شاء الله ويلو هيڅ اعتبار نسته. فقط والله أعلم وعلمه أتم



بَابُ الْيَمِيْنِ فِي الدُّخُوْلِ وَالسُّكْنٰى

(دا) باب (په کور کي) د داخلېدلو او استېدلو (په بيان کي) دی.

تشريح: قسم خو يا د يو کار د کولو لپاره منعقد کېږي (او اخيستل کيږي)، يا د يو د کار د نه کولو لپاره، نو کله چي په "بَابُ الْيَمِيْنِ" کي هغه الفاظ بيان سول چي په هغوی سره قسم منعقد کيږي (يعني په هغوی سره انسان قسم اخيستونکي ګرځي)، نو د هغه أحوالو او افعالو بيانول هم ضروري دي چي په هغوی کي قسم منعقد کيږي. نو په همدې وجه صاحب د هدايې په ترتيب سره په را روانو بابونو کي په انساني ژوند کي د راتلونکو أحوالو او افعالو په هکله د قسم أحکام او مسائل بيانوي. او څرنګه چي په کور کي داخلېدل او اوسېدل د انسان له نورو ضروريا تو څخه مُقدم (مخکي) دي. نو په دې وجه دا باب له نورو بابونو څخه مخکي بيانوي. (بنايه ج:۶، ص: ۴۷)

دخول: د دخول معنیٰ ده: له دباندي څخه دننه تلل (له ظاهر څخه په باطن ننوتل)، داخلېدل.

سکنٰی: د دې لفظ يوه معنیٰ ده: "إِسْکَان" (استوګنه ورکول، يعني د استوګني لپاره ځای ورکول).

لکه مخکي چي د نفقې په باب کي د دې يادونه وسوه، او د دې لفظ بل معنیٰ ده: په يو ځای کې په دائمي او مستقله توګه اوسېدل، استېدل، استوګنه کول (دلته يې همدغه معنیٰ مراده).

يادونه: د عبارت تر شروع مخکي دا خبره بايد تاسي په ياد ولرئ! چي په عربي کي "بَيْت" داسي ځای ته وايي چي چاردېواري، بام او دروازه لري (که هغه هر څومره غټ وي) چي هغه ته زموږ په اصطلاح کي خونه، کوټه يا کمره وايي (او که هغه غټ ځای وي نو زموږ په اصطلاح غټه کوټه او خونه ورته وايي). او کور ته په عربي کي "دَار" وايي.

خوني (کوټې) ته د نه داخلېدلو قسم اخيستل او بيا د خوني دالبز، چارچوب، او کعبې، مسجد او داسې نورو ته داخلېدل

وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ بَيْتًا او که يو څوک قسم واخلي چي هغه به بيت (خوني) ته نه داخليږي فَدَخَلَ الْكَعْبَةَ أَوِ الْمَسْجِدَ أَوِ الْبِيْعَةَ أَوِ الْكَنِيْسَةَ بيا کعبې (بيتُ الله) ته داخل سي يا مسجد ته. يا د کافرانو عبادت ځای ته. يا کليسا ته (داخل سي) لَمْ يَحْنَثْ نو هغه نه حانث کيږي لِأَنَّ الْبَيْتَ مَا أُعِدَّ

لِلْبَيْتُوتَةِ ځکه چې کور هغه ځای ته وايي کوم چې د شپې تېرولو او شپې بيدېدلو لپاره تيار سي وَهٰذِهِ الْبِقَاعُ مَا بُنِيَتْ لَهَا او دا ځايونه د شپې تېرولو لپاره نه جوړېږي ابلکې د عبادت لپاره جوړېږي ا وَكَذَا إِذَا دَخَلَ دِهْلِيْزًا أَوْ ظُلَّةَ بَابِ الدَّارِ او همدارنګه هغه انه حانث کيږي ا کله چې داخل سي اد خوني ا داليز اچارچوب ا ته يا اد خوني او ا د کور چتر او سايې ا ته ايعني که يو څوک قسم واخلي چې زه به دغه خوني ته نه داخلېږم، يا به دغه کور ته نه داخلېږم، او بيا د خوني او کور په راوتلي داليز او چارچوب کې پښه کښېږدي، نو نه حانث کيږي. همداسي د خوني او کور مخته چې د سايې لپاره کوم شی جوړ سوی وي چې هغه ته چتر يا کوچنی برنډه وايي. هغه ته په داخلېدلو سره هم نه حانثيږي، له "ظُلَّة" څخه همدغه د سايې شی مراد دی. او مصنف رَحِمَهُ الله چې يې کوم معنیٰ ذکر کړې ده، هغه هم د "ظُلَّة" په تعريف کې داخله ده ا لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی دي اچې دا د شپې تېر او بيدېدلو ځايونه نه دي ا وَالظُّلَّةُ مَا تَكُونُ عَلَى السِّكَّةِ او ظله د هغه شي سايې ته وايي کوم چې د ا کورنی ا لاري او کوڅې ا د پاسه وي اچې هغه ته چتر ويل کيږي، همدارنګه "ظله" هغه چتر ته وايي کوم چې کور ته د داخلېدونکي کوڅې پر سر جوړ سوی وي، چې داسي کوڅې ته ځيني خلک د کور سوپ وايي ا وَقِيلَ: إِذَا كَانَ الدِّهْلِيْزُ بِحَيْثُ لَوْ أُغْلِقَ الْبَابُ يَبْقَى دَاخِلًا وَهُوَ مُسَقَّفٌ او ويل سوي دي: که چيري دالېز داسي وي چې که اد خوني ا دروازه بنده کړی سي نو هغه دننه پاتېږي او هغه چت لرونکی وي اچې هغه ته زموږ په اصطلاح دالېز، دالان، هال او داسي نور ورته وايي او عموماً د زړ خانې د خونو مخته جوړ سوی وي، نو که چيري قسم اخيستونکی سړی داسي دالېز ته داخل سي ا يَحْنَثُ نو حانث کيږي لِأَنَّهُ يُبَاتُ فِيهِ عَادَةً ځکه چې په داسي دالېز کې عادتاً شپې تېرول کيږي ايعني په داسي دالېز کې عموماً خلک بيديږي او د بيدېدلو عادت پکښې جاري دی ا وَإِنْ دَخَلَ صُفَّةً او که هغه اقسم اخيستونکی ا دوکانچې ته داخل سي حَنِثَ نو حانث کيږي لِأَنَّهَا تُبْنَى لِلْبَيْتُوتَةِ فِيهَا فِي بَعْضِ الْأَوْقَاتِ ځکه چې هغه کله نا کله د شپې تېرولو او خوب کولو الپاره جوړېږي اخصوصاً د صحراء په خلکو کې دا رواج دی چې د ژمي په موسم کې جلا دوکانچه جوړوي. او د ګرمی په موسم کې يې جلا جوړوي. چې هغه ته د ژمي او ګرمۍ دوکانچه وايي ا فَصَارَ كَالشَّتْوِيِّ وَالصَّيْفِيِّ نو داسي سو لکه د ژمي او ګرمۍ دوکانچه وَقِيلَ: هٰذَا إِذَا كَانَتِ الصُّفَّةُ ذَاتَ حَوَائِطَ أَرْبَعَةٍ او ويل سوي دي: چې دا حکم په هغه صورت کې دی ايعني هغه وخت دا سړی حانث کيږي ا کله چې دوکانچه چار ديوارۍ والا

وي [يعني څلور سره طرفونو ته يې دېوال جوړ سوی وي] وَهٰكَذَا كَانَتْ صِفَافُهُمْ او د کوفې د خلکو دو کانچې همداسې وې [انو ځکه به چار ديواري والا دو کانچه مراد وي، ځکه چې همداسې دو کانچه د "بيت" په درجه کې ده] وَقِيلَ: الْجَوَابُ مُجْرَىٰ عَلَىٰ إِطْلَاقِهِ او ويل سوي دي: چې دا حکم پر خپل إطلاق جاري دی [يعني په هر صورت کې همدغه حکم دی چې دژمي او گرمی دو کانچې ته په داخلېدلو سره انسان حانث کيږي، هغه که چاردېواري لري، يا درې دېواله پر راګرځېدلي وي، يا داسې نور...] وَهُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح قول دی.

اللغات: ﴿بِيْعَةٌ﴾ د عيسايانو عبادت ځای، ګرجا. د کافرانو عبادت ځای لکه مندر، درمسال. ﴿كَنِيْسَةٌ﴾ کليسا. د يهوديانو او عيسايانو عبادت ځای. ﴿بَيْتُوْتَةٌ﴾ د ضرب مصدر دی: شپه تېرول، شپه تېر (مراد ځني د شپې بيدېدل او خوب کول دي. او په شپه کې د هر کار کولو لپاره هم دا باب استعماليږي، مثلاً عرب وايي: بَاتَ يَفْعَلُ: يعني هغه په شپه کې کار کوی). ﴿بِقَاعٌ﴾ جمع د بُقْعَةٌ ده: د ځمکې ټوکړه (قطعه). ﴿ظُلَّةٌ﴾ دا هر هغه شي ته وايي کوم چې د خوني (کوټې) يا خېمې مخته له باران او لمر څخه د حفاظت لپاره جوړ سوی وي، چې ځيني خلک يې له چيکانو او ټيمانو څخه جوړوي، او ځيني خلک يې پوخ جوړوي. ﴿دِهْلِيْزٌ﴾ (د دال په کسره سره)، دالېز. دالان. ډيوړي، د خوني د مخ چارچوب (چوکاټ)، خلاصه دا چې دالېز پر دوه قسمه دی: (۱) د خوني مخته پوښل سوی ځای (دباندينی چارچوب)، (۲) د خونو تر مينځ پوښل سوي ځای چې خوني پکښې را خلاصي وي او سر يې پټ وي، يعني بام لري (دا دواړه په دالېز کې داخل دي، په اول صورت کې نه حانث کيږي او په دويم صورت کې حانث کيږي). ﴿مُسَقَّفٌ﴾ چت لرونکی، بام لرونکی. ﴿صُفَّةٌ﴾ هغه څلور کونجه لوړ ځای يا اوږد لوړ ځای چې پر هغه خلک کښېني چې زموږ په اصطلاح دو کانچه ورته وايي (دا تعريف يې اُردو لغاتو ذکر کړی دی). سايه داره ځای (سايه لرونکی ځا). (دا تعريف يې عربي لغاتو کړی دی، په دې تعريف کې مَنَا (جونګړه) هم داخليږي کوم چې يې ځيني خلک په ګرمی او ژمی کې د خوب او استراحت لپاره جوړوي. صاحب د معجم الوسط وايي: "الصُّفَةُ: الظُّلَةُ...وَمَكَان مظلل فِي مَسْجِدِ الْمَدِينَةِ كَانَ يَأْوِي إِلَيْهِ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ وَيرعاهم الرَّسُول وهم أَصْحَابُ الصفة").

تشريح: عبارت په ترجمه کې تشريح سوه.

کور ته د نه داخلېدلو قسم اخيستل او بيا ويجاړ او ويران کور (کنډوالې) ته داخلېدل

وَمَنْ حَلَفَ لَايَدْخُلُ دَارًا او څوک چي قسم واخلي چي کور به ته نه داخليږي ايعني ووايي: قسم په خداى که کور ته داخل سم! يا په الله سره مي قسم دى کور ته به نه داخليږم| فَدَخَلَ دَارًا خَرِبَةً بيا ويجاړ سوي کور ته داخل سي لَمْ يَحْنَثْ نو هغه نه حانث کيږي [ځکه چي ويجاړ سوي او ويران کور ته کور نه وايي، او په هغه کي هيڅوک استوګنه نه کوي| وَلَوْحَلَفَ لَايَدْخُلُ هٰذِهِ الدَّارَ او که هغه قسم واخلي چي دغه کور ته به نه داخليږي فَدَخَلَهَا بَعْدَمَا انْهَدَمَتْ وَصَارَتْ صَحْرَاءَ [او بيا هغه دغه کور ته تر نړېدلو او صحراء ګرځېدلو [کنډواله کېدلو] وروسته داخل سي حَنِثَ نو حانث کيږي [يعني قسم ماتونکي ګرځي| لِأَنَّ الدَّارَ اِسْمٌ لِلْعَرْصَةِ عِنْدَ الْعَرَبِ وَالْعَجَمِ ځکه چي د عربو او عجمو په نېز کور د غولي [او د کور د ميدان] نوم دى ايعني دار جوړ سوي کور ته هم ويل کيږي. او هغه حويلي او ميدان ته هم ويل کيږي چي کور پر جوړ سوى وي. او که څه هم کور خراب او برباد سي. نو خلګ وايي: ويران کور. کنډواله کور| يُقَالُ: دَارٌ عَامِرَةٌ وَدَارٌ غَامِرَةٌ ويل کيږي: آباد [ودان] کور او ويران [ويجاړ] کور [يعني جوړ او آباد کور ته هم خلګ کور وايي، او ويجاړ کور ته هم خلګ وايي، او په ويجاړ او ويران کور کي خو فقط حويلي او ميدان پاته وي، خو بيا هم خلګ (عرب او عجم) هغه ته کور وايي، نو معلومه سوه چي وچ ميدان او حويلي ته هم کور وايي، نو ځکه به هغه حانث کيږي| وَقَدْ شَهِدَتْ أَشْعَارُ الْعَرَبِ بِذٰلِكَ او د عربو أشعار [هم] پر دې ګواه دي [چي پر حويلي او ميدان د کور إطلاق کيږي| وَالْبِنَاءُ وَصْفٌ فِيهَا [نو ځکه| وداني [عمارت] په کور کي فقط يو وصف دى غَيْرَأَنَّ الْوَصْفَ فِي الْحَاضِرِ لَغْوٌ وَفِي الْغَائِبِ مُعْتَبَرٌ لېکن په حاضر [مشارٌاليه کور] کي دا وصف لغو دى او په غائب [کور] کي معتبر دى ايعني په کور کي خوني او وداني جوړول (بناء) دا د کور يو صفت دى د کور سره لازم نه دي، لېکن دا صفت په حاضر او اشاره کړى سوي کور کي معتبر نه دى، فقط په غائب من النظر کور کي دا صفت معتبر دى، لهذا کله چي هغه "هذه الدار" ووايي نو هلته به ميدان مراد وي، او که "هذه الدار" نه ووايي، بلکي نکره فقط "دارا" نو هلته به ودان او جوړ سوى کور مراد وي| وَلَوْحَلَفَ لَايَدْخُلُ هٰذِهِ الدَّارَ او که هغه قسم واخلي چي دغه کور ته به نه داخليږي فَخَرِبَتْ ثُمَّ بُنِيَتْ أُخْرٰى او [بيا] دغه کور ويجاړ [او کنډواله] سي او بيا اله نوي سره] جوړ سي فَدَخَلَهَا او [بيا] هغه قسم اخيستونکى دغه کور ته داخل سي يَحْنَثُ نو حانث کيږي لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّ

اِلاسْمَ بَاقٍ بَعْدَ الاِنْهِدَامِ د هغه دليل په وجه ځکه چي مونږ ذکر کړی چي تر نړېدلو [او ويجاړېدلو]
وروسته هم د کور نوم پاته دی ايعني له "هذه الدار" څخه د کور حويلي او ميدان مراد دي. نو که په دې حويلي
کي هر کور هم جوړ سي، هغه ته په داخلېدلو سره به دا سړی حانث کيږي. فقط دا خبره ده چي دلته د کور په وصف
او صفت کي بدلون راغلی، او په حاضر دار کي د وصف بدلون لره هيڅ اعتبار نسته [وَإِنْ جُعِلَتْ مَسْجِدًا أَوْ حَمَّامًا
أَوْ بُسْتَانًا أَوْ بَيْتًا او که هغه ويجاړ سوی کور مسجد وګرځول سي يا حمام [غسل خانه] يا باغ يا
خونه [کوټه وګرځول سي [فَدَخَلَهُ او [بيا] قسم اخيستونکی هغه ته داخل سي لَمْ يَحْنَثْ نو نه
حانث کيږي لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ دَارًا لِاعْتِرَاضِ اسْمٍ آخَرَ عَلَيْهِ ځکه چي پر هغه [ځای] د بل نوم راتللو په
وجه هغه [اوس] کور پاته نه سو [حاصل يې دا دی که په "هذه الدار" سره تر قسم اخيستلو وروسته کور
ويجاړ سي. او بيا د هغه کور نوم بدل سي مثلاً پر هغه ځای مسجد. يا حمام. يا باغ. يا خونه او کوټه جوړ کړل سي. نو
بيا قسم اخيستونکی هغه ته په داخلېدلو سره نه حانث کيږي. ځکه چي د دې شيانو تر جوړېدلو وروسته هغه د دار
حويلي او ميدان پاته نه سو. بلکي اوس د مسجد او داسي نورو حويلي او ميدان وګرځېدی [وَكَذَا إِذَا دَخَلَهُ بَعْدَ
انْهِدَامِ الْحَمَّامِ وَأَشْبَاهِهِ او همدارنګه [نه حانث کيږي] کله چي تر نړېدلو وروسته حمام او داسي
نورو ته داخل سي [يعني که په پورتني صورت کي مسجد. حمام. باغ او خونه هم ويجاړ سي او بيا قسم کونکی
هغه ويجاړ سوي ځای ته داخل سي. نو هم نه حانث کيږي. ځکه کله چي يو وار له دې ځای څخه د دار او کور نوم
ختم سو. نو بيا پر هغه د دار نوم بيرته نه راګرځي. يعني بيا خلګ هغه ته دار او کور نه وايي. او نه پر هغه د دار إطلاق
کيږي. ځکه چي هغه اوس د مسجد. حمام او داسي نورو حويلي او ميدان وګرځېدی [لِأَنَّهُ لَا يَعُودُ اسْمُ الدَّارِ بِهِ
ځکه چي [پر هغه] د کور نوم بيا نه راګرځي وَإِنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ هٰذَا الْبَيْتَ او که [يو څوک] قسم
واخلي چي دغه خوني [کوټې] ته به نه داخليږي فَدَخَلَهُ بَعْدَمَا انْهَدَمَ وَصَارَ صَحْرَاءَ او [بيا] هغه
دغه خوني ته تر نړېدلو او کنډواله کېدلو وروسته داخل سي لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي لِزَوَالِ اسْمِ
الْبَيْتِ ځکه چي [اوس له هغه خونې څخه [د خوني نوم زائل سو [ځکه چي خونه او کوټه هغه ځای ته
وايي چي انسان شپه پکښي تېرولای سي او خوب پکښي کولای سي. او په کنډواله خونه کي شپه تېر او خوب نه
سي کېدلای [لِأَنَّهُ لَا يُبَاتُ فِيهِ ځکه چي په داسي خونه کي شپې تېرول کېدای نه سي حَتّٰى لَوْ بَقِيَتِ
الْحِيطَانُ وَسَقَطَ السَّقْفُ تر دې که [د خوني [ديوالونه پاته سي او [فقط] بام ولوېږي [او بيا قسم

اخیستونکی سړی هغه خوني ته داخل سي [يَحْنَثُ نو حانث کيږي لِأَنَّهُ يُبَاتُ فِيهِ ځکه چي په داسي خونه کي شپې تېرول کېدای سي وَالسَّقْفُ وَصْفٌ فِيهِ او بام [چت] خو په خونه کي يو وصف دی [الکه بناء او عمارت چي په کور کي يو وصف دی. نو په دې وجه بام لره هيڅ اعتبار نسته] وَكَذَا إِذَا بُنِيَ بَيْتًا آخَرَ او همدارنګه کله چي [د هغه خوني پر ځای] بله خونه جوړه کړی سي فَدَخَلَهُ او هغه [نوي] خوني ته داخل سي لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي لِأَنَّ الِاسْمَ لَمْ يَبْقَ بَعْدَ الِانْهِدَامِ ځکه چي تر نړېدلو وروسته [د خوني] نوم پاته نه سو. [حاصل دا چي که په هغه خونه کي لاس ووهل سي او جوړه کړی سي، نو حانث کيږي، لېکن که هغه خونه ويرانه او کنډواله سي، او د هغه پر ځای بله نوې خونه جوړه کړی سي، نو بيا نه حانث کيږي، ځکه چي اوس دا هغه خونه نه ده چي قسم اخيستونکي په "هذا البيت" سره اشاره ورته کړې وه].

اللغات: ﴿خَرِبَة﴾ ويران ځای، ويجاړ کور، کنډواله، خرابه. ﴿اِنْهَدَمَت﴾ د انفعال ماضي ده: نړېدل. ﴿عَرْصَة﴾ د کور دننه خالي ځمکه (غولی، حويلی، صحن، انګړ)، هغه ځای ته هم وايي، چي په هغه کي هيڅ آبادي او عمارت نه وي (خالي ميدان، ډګر). ﴿عَامِرَة﴾ جوړ، آباد، ودان. ﴿غَامِرَة﴾ کنډواله، خرابه. ﴿حَمَّام﴾ غسل خانه (د لمبېدلو ځای). ﴿حِيطَان﴾ جمع د حَائِطٌ ده: دېوال.

تشريح: مسئله په عبارت کي تشريح سوه.

په پورتني صورت کي د کور بام (چت) ته ختل

قال: وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ هَذِهِ الدَّارَ فرمايي: او څوک چي قسم واخلي چي دغه کور ته به نه داخليږي فَوَقَفَ عَلَى سَطْحِهَا او [بيا] هغه د دغه کور پر بام ودرېږي حَنِثَ نو حانث کيږي لِأَنَّ السَّطْحَ مِنَ الدَّارِ ځکه چي بام له کور څخه دی [يعني بام هم په کور کي داخل دی] أَلَا تَرَى أَنَّ الْمُعْتَكِفَ لَا يَفْسُدُ اعْتِكَافُهُ بِالْخُرُوجِ إِلَى سَطْحِ الْمَسْجِدِ آيا ته نه ګورې! چي د مسجد بام ته په وتلو [او ختلو] سره د اعتکاف کونکي سړي اعتکاف نه فاسديږي وَقِيلَ: فِي عُرْفِنَا لَا يَحْنَثُ او ويل سوي دي: چي زموږ [د عجمو] په عرف کي به نه حانث کيږي [دا قول فقيه ابو الليث رَحِمَهُ الله اختيار کړی دی] قال: وَكَذَا إِذَا دَخَلَ دِهْلِيزَهَا فرمايي: او همدارنګه [هغه حانث کيږي] کله چي د دغه کور

دالېز ته داخل سي وَيَجِبُ أَنْ تَكُونَ عَلَى التَّفْصِيلِ الَّذِي تَقَدَّمَ اخو په دې صورت کي ا دا ضروري ده چي دالېز به د هغه تفصيل مطابق وي کوم چي مخکي تېر سو ا يعني دې ته به کتل کيږي چي دالېز له کور او خوني څخه دباندي دی او که په کور کي دننه دی ا وَإِنْ وَقَفَ فِي طَاقِ الْبَابِ او که هغه د دروازې په محراب او چارچوب ا کي ودرېږي بِحَيْثُ إِذَا أُغْلِقَ الْبَابُ كَانَ خَارِجًا په دې توګه چي که دروازه بنده کړی سي نو هغه [قسم اخيستونکی] به دباندي پاته سي لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي لِأَنَّ الْبَابَ لِإِحْرَازِ الدَّارِ وَمَا فِيهَا ځکه چي دروازه د کور او د هغه سامان د حفاظت [او ساتني] لپاره وي کوم چي په کور کي [دننه] وي فَلَمْ يَكُنِ الْخَارِجُ مِنَ الدَّارِ نو ځکه به هغه حصه له کور څخه نه وي کوم چي اله کور څخه ا خارج وي قال: وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ هَذِهِ الدَّارَ وَهُوَ فِيهَا فرمايي: او څوک چي قسم واخلي چي دغه کور ته به نه داخلېږي حالانکي هغه په دغه کور کي وي لَمْ يَحْنَثْ بِالْقُعُودِ نو هغه [په دغه کور کي] په کښېنستلو [او توقف کولو] سره نه حانث کيږي حَتَّى يَخْرُجَ ثُمَّ يَدْخُلَ تر دې چي ووځي [او] بيا کور ته داخل سي، نو [په دې صورت کي] استحساناً [حانث کيږي، يعني استحساناً هغه وخت حانث کيږي کله چي يو وار له دغه کور څخه ووځي او بيا ور داخل سي] وَالْقِيَاسُ: أَنْ يَحْنَثَ او قياس دا دی چي [چي په توقف کولو او پاتېدلو سره] حانث کيږي لِأَنَّ الدَّوَامَ لَهُ حُكْمُ الِابْتِدَاءِ ځکه چي دوام [پاتېدلو] ته د ابتداء حکم [حاصل] دی وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ الدُّخُولَ لَا دَوَامَ لَهُ د استحسان دليل دا دی: چي دُخول لره دوام [حاصل] نه دی [يعني دخول لره دوام نسته] لِأَنَّهُ انْفِصَالٌ مِنَ الْخَارِجِ إِلَى الدَّاخِلِ ځکه چي دخول له خارج [دباندي] څخه داخل ته جلا کېدل ا راتلل ا دي [يعني د دخول معنیٰ ده: له دباندي څخه راجلا کېدل او دننه تلل].

اللغات: ﴿دِهْلِيز﴾ دالېز، دالان. (۱) د خوني مخته پوښل سوی ځای. (۲) د خونو تر مينځ پوښل سوي ځای چي خوني پکښي را خلاصي وي او سر يې پټ وي، يعني بام لري (دا دواړه په دالېز کي داخل دي، په اول صورت کي نه حانث کيږي او په دويم صورت کي حانث کيږي). ﴿قُعُوْد﴾ د نصر مصدر دی: کښېنستل. ﴿اِنْفِصَال﴾ د انفعال مصدر دی: جلا کېدل، بېلېدل. ﴿اِحْرَاز﴾ د افعال مصدر دی: حفاظت کول، ساتل (ژغورل).

تشريح: په دې عبارت کې ټوله څلور مسئلې بيان سوي دي: (۱)... که يو سړی دا قسم واخلي چي "لَا أَدْخُلُ هٰذِهِ الدَّار" زه به دغه کور ته نه داخلېږم. بيا هغه د کور بام ته وخيږي، نو حانث کيږي؛ ځکه چي بام هم په کور کي داخل او شامل دی. همدا وجه ده که يو مُعتکف د مسجد بام ته وخيږي او پر بام و ګرځيږي، نو د هغه اعتکاف نه فاسديږي. له دې ځخه هم معلومه سوه چي د کور بام په کوړ کي داخل دی، ځکه که بام له کور او خوني ځخه وتلی او خارج وي، نو د معتکف اعتکاف به فاسد بدای. فقيه ابو الليث رَحِمَهُ الله فرمايي چي که حالف (قسم اخيستونکی) عجمي وي، نو د کور بام ته په ختلو سره هغه نه حانث کيږي، ځکه چي د عجمو په عرف کي بام له کور ځخه نه شمارل کيږي، په قاضيخان کي هم دغه حکم ذکر سوی دی، لېکن صاحب د بنايې فرمايي چي "والصحيح جوابُ الكتاب أنّهُ يحنث"، يعني د حانث کېدلو قول زيات صحيح دی. (بنايه ج: ۶، ص: ۵۴)

(۲)... که دغه حالف (کوم چي په "لَا أَدْخُلُ هٰذِهِ الدَّار" سره قسم اخيستی وي) د کور دالېز ته داخل سي، او دالېز داسي جوړ وي چي د دروازې په بندېدو سره هغه په کور کي راځي، نو حالف حانث کيږي، ځکه چي داسي دالېز په کور کي داخل شمارل کيږي.

(۳)... که دغه حالف د دراوزې په محراب کي ودريږي، او محراب له دباندي طرف ځخه د دروازې پر سر جوړ سوی وي، نو هغه نه حانث کيږي، او که له دننه طرف ځخه پر دروازې جوړ سوی وي، نو بيا حانث کيږي (مطلب دا چي که حالف د دروازې په دننه چارچوب کي ودريږي، نو حانث کيږي، او که د دروازې په دباندیني چارچوب کي ودريږي، نو نه حانث کيږي)، ځکه چي دروازه د کور او د کورني سامان د حفاظت لپاره وي، نو کومه حصه وي له دروازې ځخه خارج او وتلې وي، هغه له کور ځخه هم خارج شمارل کيږي، او په هغه حصه کي داخلېدونکی سړی به نه حانث کيږي.

(۴)... که يو سړی قسم واخلي چي زه به دغه کور ته نه داخلېږم، حالانکي هغه په همدغه (محلوف عليها) کور کي موجود وي، نو تر قسم اخيستلو وروسته په دغه کور کي په پاتېدلو (او توقّف کولو) سره استحساناً هغه نه حانث کيږي؛ لېکن کله چي يو وار له کور ځخه ووځي او بيا کور ته داخل سي، نو حانث کيږي، لېکن قياس دا دی چي هغه په دغه کور کي په پاتېدلو (او توقف کولو) سره حانث کيږي، ځکه چي دوام او پاتېدلو ته د ابتداءً دخول درجه حاصله ده (يعني په محلوف عليها کور کي پاتېدل او توقف کول داسي دي، لکي د نوي سره هغه کور ته داخلېدل)، ځکه چي د دوام لپاره ابتداء لازم ده، نو ځکه به هغه حانث کيږي، د استحسان دليل دا دی چي دخول لره هيڅ دوام نسته، ځکه د دخول مطلب دا دی چي له خارج (بهر) ځخه دننه تلل، او دلته هغه له خارج ځخه دننه (کور ته) راغلی نه دی، بلکي هلته قائم او پاته دی، نو ځکه به نه حانث کيږي.

د محلوف عليه كار په كولو سره انسان كله حانث كيږي؟

وَلَوْحَلَفَ لَا يَلْبَسُ هٰذَا الثَّوْبَ وَهُوَ لَابِسُهُ او كه [يو څوک] قسم واخلي چي دغه جامې به نه اغوندي حالانكي هغه جامې يې [اوس] اغوستي وي [يعني هغه يې اوس په تن وي] فَنَزَعَهُ فِي الْحَالِ [خو] في الحاله [سمدستي] هغه وكاږي لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث كيږي وَكَذَا إِذَا حَلَفَ لَا يَرْكَبُ هٰذِهِ الدَّابَّةَ وَهُوَ رَاكِبُهَا او همدارنګه كه قسم واخلي چي پر دغه سپارلي به نه سپريږي حالانكي هغه پر دغه [سپارلي] سپور وي فَنَزَلَ مِنْ سَاعَتِهِ او بيا په هغه ګړي [ځنې] ښوه سي لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث كيږي وَكَذَا لَوْحَلَفَ لَا يَسْكُنُ هٰذِهِ الدَّارَ وَهُوَ سَاكِنُهَا او همدارنګه كه قسم واخلي چي په دغه كور كي به نه واسيږي، حالانكي هغه په دغه كور كي استوګن وي فَأَخَذَ فِي النُّقْلَةِ مِنْ سَاعَتِهِ او [بيا] په هغه ګړي د سامان په منتقل كولو شروع وكړي [نو نه حانث كيږي] وَقَالَ: زُفَرُ: يَحْنَثُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي [په دې ټولو صورتونو كي] حانث كيږي لِوُجُودِ الشَّرْطِ وَإِنْ قَلَّ ځكه چي شرط موجود سو كه څه هم دلږ وخت لپاره [موجود سو] وَلَنَا: أَنَّ الْيَمِينَ تُعْقَدُ لِلْبِرِّ او زموږ دليل دا دی: چي قسم د پوره كېدلو [او بري كېدلو] لپاره اخيستل كيږي فَيُسْتَثْنَى مِنْهُ زَمَانُ تَحْقِيقِهِ نو ځكه به د قسم پوره كېدلو [او بري كېدلو] زمانه مستثنیٰ وي فَإِنْ لَبِثَ عَلَى حَالِهِ سَاعَةً او كه هغه څه وخت پر خپل حال پاته سي حَنِثَ نو حانث كيږي لِأَنَّ هٰذِهِ الْأَفَاعِيلَ لَهَا دَوَامٌ ځكه چي دغه افعالو [اغوستلو، سپريدلو او اوسېدلو] لره دوام سته بِحُدُوثِ أَمْثَالِهَا ځكه چي داسي ډول افعال [په دوام] سره پيښيږي [او پيدا كيږي] أَلَا يَرَى أَنَّهُ يُضْرَبُ لَهَا مُدَّةٌ آيا هغه نه ګوري چي د دغه افعالو لپاره مودت ټاكل كيږي يُقَالُ: رَكِبْتُ يَوْمًا وَلَبِسْتُ يَوْمًا [مثلاً] ويل كيږي: زه تر يوې ورځي پوري سپور وم [مثلاً زه ټوله ورځ په موټر كي سپور وم] او ما تر يوې پوري جامې اغوستلې بِخِلَافِ الدُّخُولِ په خلاف د داخلېدلو [يعني دخول لره دوام نسته] لِأَنَّهُ لَا يُقَالُ: دَخَلْتُ يَوْمًا بِمَعْنَى الْمُدَّةِ وَالتَّوْقِيتِ ځكه چي داسي نه ويل كيږي: زه تر يوې ورځي پوري داخلېدم. د مودت او وخت ټاكلو په معنیٰ سره [يعني د دخول لپاره وخت او مودت نه ټاكل كيږي چي زه تر دومره وخته

پوري داخلېدم! وَلَوْ نَوَى الِابْتِدَاءَ الْخَالِصَ او كه حالف له نوي سره د ابتداء نيت وكړي [يعني وايي: زما نيت دا وو چې زه به له شروع څخه (بل وار) جامې نه اغوندم او داسي نورا يُصَدَّقُ نو د هغه تصديق به كيږي لِأَنَّهُ مُحْتَمَلُ كَلَامِهِ ځكه چې د هغه كلام د دې [معنی] احتمال [هم] لري. [او احتمالي معنیٰ مرادول معتبر او صحيح دي].

اللغات: ﴿دَابَّة﴾ سپارلي، د سپر تيا حيوان (لكه آس، اوښ او داسي نور)، ﴿مِنْ سَاعَتِهِ﴾ په هغه ګړي، په هغه ساتكي (په هغه ساعت)، ﴿بَرّ﴾ د سمع او ضرب مصدر دی: قسم پوره كېدل (قسم پوره كول)، له قسم څخه بري كېدل. ﴿تَوْقِيْت﴾ د تفعيل مصدر دی: وخت ټاكل. وخت مقرر كول. وخت متعينول.

تشريح: مسئله: دا ده كه يو سړي يو ډول كالي يا پتلون اغوستی وي او بيا د هغه وطرف ته اشاره وكړي او قسم واخلي چې په الله قسم! زه دا كالي يا پتلون نه اغوندم (يا مثلاً ووايي: په خدای قسم كه دا كالي واغوندم)، او د قسم اخيستلو سره سمدستي (فوراً) هغه وكاږي، نو هغه نه حانث كيږي. همدارنګه كه يو سړی په يو موټر كي ناست وي او په هغه حالت كي قسم واخلي چې په الله قسم! زه په دغه موټر كي نه سپرېږم، او سمدستي له موټر څخه كښته سي، نو هم نه حانث كيږي. يا يو سړی په يو كور كي استوګن وي او قسم واخلي چې زه په دې كور كي نه اوسېږم، او بيا سمدستي د كډې او سامان په ايستلو سره مشغول سي، نو هم نه حانث كيږي.

لېكن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دې ټولو صورتونو كي حالف حانث كيږي.

د امام زفر دليل: دا دی چې دلته د حنث شرط (يعني د محلوف عليه اغوستل. په هغه كي سپرېدل او په هغه كي اوسېدل) موجود سو كه څه هم د لږ ګړي لپاره موجود سو. ځكه چې د حنث په شرط كي قليل او كثير (لږ وخت او ډېر وخت) دواړه برابر دي، نو ځكه به د لږ وخت لپاره په اغوستلو. سپرېدلو او اوسېدلو سره هم حالف حانث كيږي.

زموږ دليل: دا دی چې قسم د دې لپاره اخيستل كيږي چې هغه پوره كړی سي او حالف له قسم څخه بري كړی سي. او څرنګه چې دلته حالف له فعل څخه د منع كېدلو (نه اغوستلو. نه سپرېدلو او نه اوسېدلو) قسم كړی دی. نو د دې منع كېدلو لپاره كم از كم دومره وخت ور كول پكار دي چې په هغه كي حالف خپل دا منع كېدل پوره كړي او له قسم څخه بري سي. او هغه دومره زمانه ده چې په هغه كي كالي وكښل سي، يا له موټر څخه را شوه سي، يا سامان له كور څخه را وباسي، نو ځكه به دومره زمانه

له قسم څخه مستثنىٰ وي، او په دومره وخت کي به د حالف فعل د قسم خلاف نه شمارل کيږي. نو له همدې وجهې زموږ په نيز په پورتنيو صورتونو کي ددغه لږ وخت او زمانې په اعتبار سره هغه نه حانث کيږي.

ها! که قسم ترا خيستلو وروسته حالف دلږ وخت لپاره پر خپل حالت قائم پاته سي (او په منع کېدلو مصروف نه سي) نو حانث کيږي، ځکه چي اغوستل، سپرېدل او اوسېدل په دغه فعلونو کي هر فعل لره دوام سته، او دوام د ابتداء په درجه کي دی، نو ځکه به حالف حانث ګرځول کيږي. او دې فعلونو لره ځکه دوام سته چي د دوی لپاره وخت او مودت ټاکل کيږي، لکه څرنګه چي ويل کيږي رَکِبْتُ يَوْمًا او لَبِسْتُ يَوْمًا، او په دې سره ټوله ورځ سپرېدل او ټوله ورځ اغوستل مراديږي (يعني زه ټوله ورځ په موټر کي سپورم، او زه تريوې ورځي پوري د جامو په اغوستلو مصروف وم. نو دا د مودت ټاکل کېدل د دې خبرې دليل دی چي دغه فعلونو لره دوام سته)، د دې په خلاف د دُخول فعل لره هيڅ دوام نسته (لکه مخکي چي موږ وويل)، ځکه چي دخول په يوه ثانيه او لمحه کي پوره کيږي. او د دَخَلْتُ يَوْمًا په ويلو سره ټوله ورځ داخلېدل نه مراديږي (چي زه تريوې ورځي پوري په کور کي داخليدم).

ولونویٰ إلخ: فرمايي که دغه حالف څه وخت پر خپل حالت قائم پاته سي (يعني په منع کېدلو مصروف نه سي)، او بيا ووايي چي زما نيت دا وو چي دغه کالي به زه له کښلو څخه وروسته بل وار نه اغوندم. يا په دې موټر کي به له شوه کېدلو څخه وروسته زه بل وار نه سپرېږم، نو د هغه د نيت تصديق به کيږي، او پر خپل حالت د قائم پاتېدلو باوجود به هم نه حانث کيږي، ځکه چي د ده په کلام کي د دغه نيت او معنیٰ احتِمال هم سته، نو د دې احتمال اعتبار به کيږي او هغه به نه حانث کيږي (ځکه چي د کلام احتمالي معنیٰ هم معتبره ده).

د پورتني مسئلې نور وضاحت

قال: وَمَنْ حَلَفَ لَا يَسْكُنُ هٰذِهِ الدَّارَ فرمايي: او څوک چي قسم واخلي چي په دې کور کي به نه اوسيږي فَخَرَجَ بِنَفْسِهِ بيا [خو] په خپله ووځي وَمَتَاعُهُ وَأَهْلُهُ فِيهَا [ليکن] د هغه أهل او سامان په کور کي [موجود] وي [يعني أهل او متاع په کور کي پرېږدي] وَلَمْ يُرِدِ الرُّجُوعَ إِلَيْهَا نو [که چيري] د هغه [حالف] اراده کور ته د واپس راتللو نه وي حَنِثَ نو هغه حانث کيږي لِأَنَّهُ يُعَدُّ سَاكِنَهَا بِبَقَاءِ أَهْلِهِ وَمَتَاعِهِ فِيهَا عُرْفًا ځکه چي په کور کي د حالف د أهل او سامان په پاتېدلو سره هغه په عرف

کي استوګن [اوسېدونکی] شمارل کيږي فَإِنَّ السُّوقَ عَامَّةَ نَهَارِهِ فِي السُّوقِ لکه څرنګه چې يو
بازاري کس زياتره ورځ په بازار کي وي وَيَقُولُ: أَسْكُنُ سِكَّةَ كَذَا اليکن که له هغه ځخه داوسېدلو د
ځاى پوښتنه وسي نو اوايي: زه په فلانکى کوڅه کي استوګن يم وَالْبَيْتُ وَالْمَحَلَّةُ بِمَنْزِلَةِ الدَّارِ
او خونه [کوټه] او محله [کلي] د کور په درجه کي دي وَلَوْكَانَ الْيَمِينُ عَلَى الْمِصْرِ او که قسم پر ښار
وي [يعني که هغه داسي قسم واخلي چي په دې ښار کي به نه اوسېږم] لَا يَتَوَقَّفُ الْبِرُّ عَلَى نَقْلِ
الْمَتَاعِ وَالْأَهْلِ فِيمَا رُوِيَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ نو [په دې صورت کي] د قسم پوره کېدل [او له قسم ځخه بري
کېدل] د سامان او أهل پر نقل کولو باندي نه موقوف کيږي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله ځخه په نقل
سوي روايت کي لِأَنَّهُ لَا يُعَدُّ سَاكِنًا فِي الَّذِي انْتَقَلَ عَنْهُ عُرْفًا ځکه انسان چي له کوم ښار ځخه
منتقل سي نو د عرف په اعتبار سره په هغه ښار کي اوسېدونکی نه شمارل کيږي بِخِلَافِ الْأَوَّلِ په
خلاف داولي مسئلې وَالْقَرْيَةُ بِمَنْزِلَةِ الْمِصْرِ فِي الصَّحِيحِ مِنَ الْجَوَابِ او په صحيح جواب کي قريه د
ښار په درجه کي ده ثُمَّ قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: لَا بُدَّ مِنْ نَقْلِ كُلِّ الْمَتَاعِ بيا امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايلي
دي: چي [له قسم ځخه دبري کېدلو لپاره] د ټول سامان نقل کول ضروري دي حَتَّى لَوْ بَقِيَ وَتَدٌ تر
دې که يو مېخ هم پاته سي يَحْنَثُ نو حالف حانث کيږي لِأَنَّ السُّكْنَى قَدْ ثَبَتَ بِالْكُلِّ ځکه چي د
ټوله سمان په وجه استوګنه ثابته سوه فَيَبْقَى مَا بَقِيَ شَيْءٌ مِنْهُ نو تر څو چي د سامان يو شی هم پاته
وي تر هغه وخته به استوګنه پاته وي وَقَالَ: أَبُو يُوسُفَ: يُعْتَبَرُ نَقْلُ الْأَكْثَرِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله
فرمايي: دأکثره سامان نقل کول معتبر دي لِأَنَّ نَقْلَ الْكُلِّ قَدْ يَتَعَذَّرُ ځکه کله نا کله د ټوله سامان
نقل کول ستونزمن وي وَقَالَ: مُحَمَّدٌ: يُعْتَبَرُ نَقْلُ مَا يَقُومُ بِهِ "كَدْ خُذَائِيَّتِهِ" او امام محمد رَحِمَهُ الله
فرمايي: چي د دومره سامان نقل کول معتبر دي چي په هغه سره د کورني معاملاتو بندوبست وسي
[يعني چي په هغه سره د کور ګزاره وسي] لِأَنَّ مَا وَرَاءَ ذَلِكَ لَيْسَ مِنَ السُّكْنَى ځکه چي له دې ځخه بغير
نور سامان له سکنیٰ ځخه نه دی [يعني له دې ځخه زائد سامان د استوګني لپاره ضروري نه دی]
قَالُوا: هَذَا أَحْسَنُ وَأَرْفَقُ بِالنَّاسِ مشائخ فرمايي: چي دا قول غوره دي او د خلکو لپاره نفع مند دی

[يعني د خلکو لپاره په دې کې آساني ده] وَيَنْبَغِي أَنْ يَنْتَقِلَ إِلَى مَنْزِلٍ آخَرَ بِلَا تَأْخِيرٍ او حالف ته پکار دي چې بيله ځنډه دويم کور ته منتقل سي حَتَّى يَبَرَّ د دې لپاره چې قسم پوره سي [او له قسم څخه بري سي] فَإِنِ انْتَقَلَ إِلَى السِّكَّةِ أَوْ إِلَى الْمَسْجِدِ لېکن که هغه کوڅې يا مسجد ته منتقل سي قَالُوا: لَا يَبَرُّ نو مشائخو فرمايلي دي: چې قسم نه پوره کيږي دَلِيلُهُ فِي الزِّيَادَاتِ: أَنَّ مَنْ خَرَجَ بِعِيَالِهِ مِنْ مِصْرِهِ په زيادات کې د دې دليل دا دی چې کوم سړی د خپل أهل او عيال سره له خپل ښار څخه ووځي فَمَا لَمْ يَتَّخِذْ وَطَنًا آخَرَ يَبْقَى وَطَنُهُ الْأَوَّلُ فِي حَقِّ الصَّلَاةِ نو تر څو چې دا سړی بل [ځای] وطن جوړ نه کړي تر هغه وخته پوري د هغه اول وطن د لمانځه په حق کې باقي پاتيږي كَذَا هٰذَا همداسي به دا [هم] وي [يعني همداسي به دلته هم دغه حکم وي].

اللغات: ﴿مَتَاع﴾ سامان. ﴿سُوقِي﴾ بازار ته منسوب، بازاري. ﴿سِكَّة﴾ کوڅه (ګلی). ﴿قَرْيَة﴾ قصبه (مراد ځني هغه علاقه او کلی دی چې له ښار څخه بهر وي، يعني د ښار د أطرافو علاقه او کلی). ﴿وَتَد﴾ مېخ. ﴿كَدْ خُدَائِيَة﴾ د کورني معاملاتو سامان (يعني د کتغ پخولو او داسي نورو ضروري شيانو سامان). دومره سامان چې د کور ګزار (چلاو) په وسي. ﴿يَبَرّ﴾ د سمع او ضرب مضارع ده: قسم پوره کېدل. له قسم څخه بري کېدل.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړی داسي قسم واخلي چې زه به په دغه کور کې نه اوسېږم، تر دې وروسته دا سړی له دغه کور څخه ووځي، او په دې نيت ووځي چې بيا به هيڅکله په دې کور کې قدم نه اږدم، لېکن د هغه أهل او عيال او د هغه د استوګني سامان د هغه تر وتلو وروسته هم په هغه کور کې پاته سي، نو دا سړی حانث کيږي؛ ځکه چې په کور کې د أهل او عيال او د سامان پاتېدلو په وجه عرفاً دغه سړی په کور کې پاتېدونکی او استوګن شمارل کيږي. او فقط د هغه وتل كما حقهٔ او په بشپړه توګه وتل نه شمارل کيږي، نو ځکه به هغه حانث کيږي. د دې ښکاره مثال دا دی چې که د يو سړي کاروبار په بازار کې وي او ټوله ورځ په بازار کې اوسيږي، که له هغه څخه پوښتنه وسي چې ته چيري اوسيږي. نو هغه همدا وايي چې زه په فلانکی کوڅه او فلانکي کور کې اوسېږم (داسي نه وايي چې زه په بازار کې اوسېږم)، ځکه چې د هغه أهل او عيال او د استوګني سامان په هغه کور کې

وي، نو ځکه به دلته هم هغه (حالف) په هغه کور کې مقيم او استوګن شمارل کيږي او حانث به ګرځي.

والبيت والمحلة بمنزلة الدار الخ: د دې حاصل که هغه د لَا أَسْكُنُ هٰذِهِ الدَّارَ پر ځای لَا أَسْكُنُ هٰذَا الْبَيْتَ يا لَا أَسْكُنُ هٰذِهِ الْمَحَلَّةَ ووايي، نو د هغه حکم هم د لَا أَسْكُنُ هٰذِهِ الدَّارَ په څير دی.

ولوكان اليمين الخ: د دې حاصل دا دی چې که يو څوک دا قسم واخلي لَا أَسْكُنُ هٰذَا الْمِصْرَ (په الله قسم زه په دې ښار کې نه اوسېږم)، نو فقط له ښار څخه د هغه (حالف) په وتلو سره قسم پوره کيږي، او په دې صورت کې د قسم پوره کېدل د هغه د أهل او متاع پر انتقال او خروج موقوف نه دي، يعني که د هغه أهل او متاع په هغه ښار کې پاته سي، او يوازې هغه (حالف) له ښار څخه ووځي، نو هم هغه نه حانث کيږي، دا روايت له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه نقل سوی دی.

د امام ابو يوسف دليل دا دی چې له کوم ښار څخه چې انسان ووځي، نو عرفاً ده ته د هغه ښار استوګن (اوسېدونکی) نه ورته وايي، که څه هم د هغه أهل او متاع په هغه ښار کې وي، لېکن که له کور يا محلې (کلي) څخه ووځي او په هغه ځای کې د ده أهل او متاع پاته سي، نو عرفاً ده ته د هغه ځای استوګن (اوسېدونکی) وايي.

والقرية بمنزلة المصر الخ: فرمايي چې د صحيح قول مابق قريه (د ښار د أطرافو مېنه او کلی) د ښار په حکم کې دی، نو کوم حکم چې د "لا أسكن هٰذا المصر" دی، هغه حکم د "لا أسكنُ هٰذه القَرية" هم دی. د "فِي الصَّحيح" په قيد سره د هغو مشائخو له قول څخه احتراز سوی دی کوم چې قريه د دَار (کور) په څير ګڼي. (بنايه)

ثم قال أبوحنيفة الخ: امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چې حالف هغه وخت د خپل قسم پوره کونکی ګرځي او هغه وخت له خپل قسم څخه بري کيږي کله چې له کور څخه خپل ټوله سامان نقل کړي او هيڅ شی هم نه پرېږدي، تر دې که يو مېخ هم پاته سي. نو هغه حانث ګيږي، ځکه چې په محلوف عليه کور کې په کُل سامان سره سُکنیٰ (استوګنه) ثابته سوې ده (مطلب دا چې په کور کې د هر

سامان په پاتې‌دلو سره حالف استوګن شمارل کیږي). لهذا تر څو چې د سامان یو شی هم په کور کې پاته وي، تر هغه وخت به سُکنیٰ پاته وي، او کله چې سُکنیٰ پاته سي، نو حالف حانث کیږي.

امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي چې د أکثره سامان نقل کول ضروري دي، او أکثره سامان به د کُل قائم مقام منل کیږي، ځکه چې همدا د فقهي قاعده ده "لِلْأَكْثَرِ حُكْمُ الْكُلِّ". او بل دا چې د ټوله سامان نقل کول متعذر او ستونزمن هم دی، نو په دې وجه به حالف د أکثره سامان په نقل کولو سره له خپل قسم څخه بري کیږي او نه به حانث کیږي.

او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چې فقط دومره اندازه سامان نقل کول ضروري دي چې په هغه سره د کور چلاو او ګزاره وسي، او کورني ضروریات په پوره کړل سي، ځکه چې د استوګني او ژوند تېرولو لپاره همدومره اندازه سامان کافي دی، او زائد سامان د استوګني لپاره ضروري نه دی. مشائخ فرمایي چې دا قول او تعبیر غوره هم دی او د خلکو لپاره آسانه هم دی.

وینبغي إلخ: د دې حاصل دا دی که چا د مخکي په څیر قسم اخیستی وي (چې په الله قسم! زه به په دغه کور کې نه اوسېږم). نو هغه ته پکار دي چې له هغه کور څخه بېله ځنډه سامان نقل کړي او په بل کور کې یې کښېږدي. د دې لپاره چې له خپل قسم څخه بري سي او له حانث کېدلو څخه وژغورل سي.

او په کوڅه یا مسجد کې سامان ایښول کافي نه دي. د دې خبري دلیل د امام محمد رَحِمَهُ الله د کتابُ الزیادات له دې مسئلې څخه را اخیستل سوی دی چې که یو څوک د خپلو بچیانو سره بل ښار ته ولاړسي نو تر څو چې هغه دا بل ښار خپل وطن جوړ نه کړي، تر هغه وخته د لمانځه په حق کې اول ښار او وطن باقي پاتې‌کیږي (یعني په اول ښار کې به هغه ته د قصر کولو اجازه نه وي). همداسي به دلته هم دا حکم وي چې تر څو په بل کور کې استوګن نه سي، تر هغه وخته به په اول کورم کې استوګن شمارل کیږي. نو د قسم پوره کولو او له قسم څخه د بري کېدلو لپاره بل کور ته منتقل کېدل ضروري دي. والله أعلم وعلمهٔ أتم



بَابُ الْيَمِيْنِ فِي الْخُرُوْجِ وَالْإِتْيَانِ وَالرُّكُوْبِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ

(دا) باب (له کور څخه) د وتلو، (کور ته) د راتللو، سپرېدلو او د داسې نورو قسمونو (په بيان کې) دی

له مسجد يا کور او داسي نورو څخه د هيڅکله نه وتلو قسم اخيستل

قال: وَمَنْ حَلَفَ لَا يَخْرُجُ مِنَ الْمَسْجِدِ [امام محمد رَحِمَهُ الله] فرمايي: که يو سړی قسم واخلي چي له مسجد څخه به نه وځي فَأَمَرَ إِنْسَانًا بيا هغه بل انسان ته حکم وکړي [چي ما مسجد څخه مي وباسه] فَحَمَلَهُ فَأَخْرَجَهُ نو هغه دا سړی پورته کړي او [له مسجد څخه] يې وباسي حَنِثَ نو حانث کيږي لِأَنَّ فِعْلَ الْمَأْمُورِ مُضَافٌ إِلَى الْآمِرِ ځکه چي د مأمور فعل د آمر وطرف ته منسوب کيږي فَصَارَ كَمَا إِذَا رَكِبَ دَابَّةً فَخَرَجَتْ نو داسي سو لکه هغه چي پر سپارلي سپور سي او سپارلي له مسجد څخه ووځي وَلَوْ أَخْرَجَهُ مُكْرَهًا او که يو څوک هغه [حالف] په زوره له مسجد څخه وباسي لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي لِأَنَّ الْفِعْلَ لَمْ يَنْتَقِلْ إِلَيْهِ لِعَدَمِ الْأَمْرِ ځکه چي د حکم د نشتوالي په وجه فعل د هغه وطرف ته منقل نه سو وَلَوْ حَمَلَهُ بِرِضَاهُ لَا بِأَمْرِهِ او که يو څوک حالف د هغه په رضا د هغه له حکم څخه بغير پورته کړي [يعني د حالف خو خوښه وي، لېکن حکم يې کړی نه وي چي ما له مسجد څخه وباسه!] لَا يَحْنَثُ فِي الصَّحِيحِ نو [هم] په صحيح قول کي نه حانث کيږي لِأَنَّ الْإِنْتِقَالَ بِالْأَمْرِ لَا بِمُجَرَّدِ الرِّضَا ځکه چي فعل په حکم سره منتقل کيږي، نه فقط په رضا سره قال: وَلَوْ حَلَفَ لَا يَخْرُجُ مِنْ دَارِهِ إِلَّا إِلَى جِنَازَةٍ فرمايي: او که [يو څوک] قسم واخلي چي له کور څخه به نه وځي، مګر يو جنازې ته [به وځي] فَخَرَجَ إِلَيْهَا بيا جنازې ته ووځي ثُمَّ أَتَى حَاجَةً أُخْرَى [او] بيا به بل ضرورت ته راسي لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي لِأَنَّ الْمَوْجُودَ خُرُوجٌ مُسْتَثْنًى ځکه چي د هغه شي لپاره وتل موجود سو چي د هغه استثناء سوې ده [يعني هغه فقط د جنازې په نيت له کور څخه راووتی]

وَالْمُضِيُّ بَعْدَ ذٰلِكَ لَيْسَ بِخُرُوجٍ او تر خروج مستثنیٰ وروسته تګ جاري ساتل خروج [من الدار] نه دي وَلَوْ حَلَفَ لَا يَخْرُجُ إِلَى مَكَّةَ او که څوک قسم واخلي چي هغه به مکي ته نه وځي فَخَرَجَ يُرِيدُهَا بيا دمکي په اراده سره ووځي ثُمَّ رَجَعَ [لیکن] بیا واپس را وګرځي حَنِثَ نو حانث کيږي لِوُجُودِ الْخُرُوجِ عَلَى قَصْدِ مَكَّةَ وَهُوَ الشَّرْطُ ځکه دمکي په اراده سره وتل موجود سو او همدا شی شرط وو إِذِ الْخُرُوجُ هُوَ الِانْفِصَالُ مِنَ الدَّاخِلِ إِلَى الْخَارِجِ ځکه چي خروج له داخل څخه بهر ته د تللو نوم دی وَلَوْ حَلَفَ لَا يَأْتِيهَا او که هغه [داسي] قسم واخلي چي مکي ته به نه راځي لَمْ يَحْنَثْ حَتَّى يَدْخُلَهَا نو نه حانث کيږي تر دې چي مکې ته داخل سي لِأَنَّهُ عِبَارَةٌ عَنِ الْوُصُولِ ځکه چي إتيان [راتلل] د رسېدلو په معنیٰ سره دي قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَا [الشعراء: ۱۶] الله تعالیٰ فرمايلي دي: بيا تاسي دواړه فرعون ته راسئ! [ورسئ!] او هغه ته ووایاست! [د دې مطلب همدا دی چي فرعون ته ځانونه ورسوئ!] وَلَوْ حَلَفَ لَا يَذْهَبُ إِلَيْهَا او که هغه قسم وکړي چي مکې ته به نه ځي قِيلَ: هُوَ كَالْإِتْيَانِ نو يو قول دا دی چي دا دإتيان [راتللو] په څير دی. وَقِيلَ: هُوَ كَالْخُرُوجِ او [دويم] قول دا دی: چي دا د خروج [وتلو] په څير دی هُوَ الْأَصَحُّ همدا [دويم] صحيح قول دی لِأَنَّهُ عِبَارَةٌ عَنِ الزَّوَالِ ځکه چي ذهاب دليري کېدلو [او دنقل کېدلو] څخه عبارت دی.

اللغات: ﴿حَمَلَهُ﴾ د ضرب ماضي ده: پورته کول. ﴿مُجَرَّدُ﴾ محض، فقط. ﴿مُضِيٌّ﴾ د ضرب مصدر دی: جاري کول (تګ جاري ساتل)، مدوامت کول، تېرېدل (وخت تېرېدل. ماضي له همدې معنیٰ څخه ده). ﴿إِنْفِصَالُ﴾ د انفعال مصدر دی: جلا کېدل، بېلېدل. ﴿فَأْتِيَا﴾ د ضرب له باب څخه د تثنيه مذکر حاضر صيغه ده: راتلل (د جَاءَ په معنیٰ سره دی). نژدي کېدل. ﴿لَا يَذْهَبُ﴾ د فتح نفي صيغه ده: تلل، تګ کول.

تشريح: په دې عبارت کي د خروج (او د باندي وتلو) د قسم سره اړوند څو مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... که يو څوک قسم واخلي چي له مسجد څخه به نه وځم. او بيا يو بل سړي ته حکم وکړي چي له مسجد څخه ما وباسه!. او چا ته چي يې حکم وکړی (يعني مأمور) هغه همداسي وکړي (يعني له مسجد څخه يې وباسي). نو آمر (حالف) حانث کيږي. ځکه چي د مأمور فعل د آمر وطرف ته منسوب کيږي او منتقل کيږي او داسي به ګڼل کيږي چي آمر په خپله وتلی دی. يا ګواکي حالف پر

يو سپارلی باندي سپور سوی او د سپارلی په ذريعه له مسجد څخه وتلی دی، نو په دې دوو صورتونو کي هغه حانث کيږي، لهذا په پورتنی مسئله کي به هم هغه حانث کيږي، لېکن که يو څوک حالف په زوره له مسجد ځخه وباسي، نو حالف نه حانث کيږي، ځکه چي حالف باسونکي سړي (مُخرِج) ته د باسلو حکم نه دي کړی (چي ما وباسه!)، نو د باسونکي سړي فعل د حالف وطرف ته منتقل نه سو. او په وتلو کي د حالف هيڅ دخل ثابت نه سو. همدارنګه که يو څوک حالف په زوره نه وباسي، بلکي د هغه په رضا او خوښی يې وباسي، خو حالف هغه ته حکم کړی نه وي، نو هم د صحيح قول مطابق حالف نه حانث کيږي، ځکه چي د باسونکي سړي فعل هغه وخت حالف ته منتقل کيږي کله چي حالف هغه ته أمر (حکم) کړی وي. فقط د حالف په رضا او خوښی سره نه منتقل کيږي. او دلته حالف أمر کړی نه دي فلا يحنث.

(٢)... که يو څوک قسم واخلي چي زه به په جنازه کي له شرکت کولو څخه بغير د بل هيڅ کار لپاره د کور څخه نه وځم. بيا هغه په جنازه کي د شرکت لپاره ووځي، او بيا له هغه ځای څخه د بل کار لپاره ولاړ سي. نو نه حانث کيږي. ځکه چي حالف د هغه کار په نيت د کور څخه را ووتی د کوم کار (جنازې) استثناء چي يې کړی وه. او تر دغه کار وروسته تګ جاري ساتل او په بل ضرورت پسي تلل خروج (وتل) نه دی، ځکه چي د خروج معنیٰ ده: له دننه څخه دباندي وتل، او دا معنیٰ دلته نسته.

(٣)... که يو څوک قسم واخلي چي مکې مبارکي ته به نه وځم، بيا د مکې په نيت له کور څخه ووځي، او بيا واپس را وګرځي. نو حانث کيږي. ځکه چي د مکې په نيت وتل موجود سو. او همدا شی شرط وو. لهذا کله چي شرط يعني خروج موجود سو، نو مشروط يعني حنث به هم موجوديږي.

(۴)... که يو څوک قسم واخلي چي مکې مبارکي ته به نه راځم، نو تر څو چي مکې ته داخل نه سي. تر هغه وخته پوري نه حانث کيږي (يعني په دې صورت کي محض د مکې وطرف ته په وتلو سره هغه نه حانث کيږي)، ځکه چي إتيان (راتلل) د "رسېدلو" په معنیٰ سره دي، لکه څرنګه چي په قرآني آيت کي هم له إتيان څخه د رسېدلو معنیٰ مراد ده، نو ځکه به مکې ته له داخلېدلو څخه بغير هغه نه حانث کيږي.

(۵)... که يو څوک قسم واخلي چي زه به مکې مبارکي ته نه ځم. نو يو قول دا دی چي د دې حکم د إتيان په څېر دی. يعني تر څو چي مکې ته داخل سوی نه وي، تر هغه وخته پوري نه حانث کيږي. دا د نصر بن يحيیٰ قول دی. او دويم قول دا دی چي د ذهاب (تللو) حکم د خروج په څېر دی. او د مکې وطرف ته په وتلو سره هغه حانث کيږي. ځکه چي د ذهاب معنیٰ او مطلب دی: "له خپل ځای څخه بنوربدل او ليري کېدل". او دا معنیٰ په خروجُ سره ثابتيږي. صاحب د هدايې فرمايي چي دويم قول صحيح او معتمد دی.

يو ځای ته د تللو قسم اخيستل

قال: وَإِنْ حَلَفَ لَيَأْتِيَنَّ الْبَصْرَةَ فرمايي: او که [يو څوک] قسم واخلي چې هغه به بصرې ته خامخا راځي فَلَمْ يَأْتِهَا حَتّٰى مَاتَ [خو] هغه [په خپل ژوند کې] بصرې ته رانه سي تر دې چې مړ سي حَنِثَ فِي آخِرِ جُزْءٍ مِنْ أَجْزَاءِ حَيَاتِهِ نو هغه د خپل ژوند په آخري جزء کې حانث کيږي لِأَنَّ الْبِرَّ قَبْلَ ذٰلِكَ مَرْجُوٌّ ځکه چې تر دې مخکې د قسم پوره کېدل متوقع دي [يعني د ژوند تر آخري سُلګۍ پورې د دې هيله او اُميد سته چې هغه بصرې ته ولاړ سي او خپل قسم پوره کړي] وَلَوْ حَلَفَ لَيَأْتِيَنَّهُ غَدًا إِنِ اسْتَطَاعَ او که [داسې] قسم واخلي چې سبا به خامخا فلانکي سړي ته ځي، که طاقت پيدا کړي [يعني که يو څوک داسې قسم واخلي چې: که زما په طاقت او استطاعت کې وه نو په الله قسم! سبا به د فلانکي کور ته ځم] فَهٰذَا عَلَى اسْتِطَاعَةِ الصِّحَّةِ دُونَ الْقُدْرَةِ نو له دې څخه به د روغتيا استطاعت مراديږي نه د قدرت استطاعت وَفَسَّرَهُ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ او امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کې د روغتيا استطاعت څرګند کړی دی [يعني د هغه تعريف يې بيان کړی دی] وَقَالَ: إِذَا لَمْ يَمْرَضْ وَلَمْ يَمْنَعْهُ السُّلْطَانُ وَلَمْ يَجِئْ أَمْرٌ لَا يَقْدِرُ عَلَى إِتْيَانِهِ او فرمايلي دي: که چيري حالف ناروغه نه سي او باچا هغه [له تللو څخه] منع نه کړي او يو داسې معامله پېښه نه سي چې د هغه په وجه حالف هغه ځای [بصرې] ته په راتللو باندې قدرت پيدا نه کړي فَلَمْ يَأْتِهِ او [بيا هم] هغه ځای ته رانه سي حَنِثَ نو حانث کيږي وَإِنْ عَنَى اسْتِطَاعَةَ الْقَضَاءِ او که حالف [له استطاعت څخه] د قضاء [او قدرت] استطاعت مراد کړي [يعني په دې سره د قدرت او قضاء د استطاعت نيت وکړي] دِيْنَ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ تَعَالٰى نو د هغه او د الله په مينځ کې به يې تصديق کيږي [يعني دياناتًا به د هغه تصديق کيږي] وَهٰذَا لِأَنَّ حَقِيقَةَ الِاسْتِطَاعَةِ فِيمَا يُقَارِنُ الْفِعْلَ او دا ځکه [يعني هغه د قضاء استطاعت ځکه مرادولای سي] چې حقيقي استطاعت د فعل سره متصل کيږي وَيُطْلَقُ الِاسْمُ عَلَى سَلَامَةِ الْآلَاتِ وَصِحَّةِ الْأَسْبَابِ فِي الْمُتَعَارَفِ او د استطاعت د لفظ إطلاق په عرف کې د آلاتو پر سلامتيا او د اسبابو پر روغوالي کيږي فَعِنْدَ الْإِطْلَاقِ يَنْصَرِفُ إِلَيْهِ نو [د استطاعت] د مطلق کېدلو په

وخت کي به هغه د عرفي معنیٰ وطرف ته ګرځول کيږي وَتَصِحُّ نِيَّةُ الْأَوَّلِ دِيَانَةً او دیانتاً به د اول استطاعت [د قضاء د استطاعت] نيت کول هم صحيح وي لِأَنَّهُ نَوَى حَقِيقَةَ كَلَامِهِ ځکه چي حالف د خپل کلام د حقيقت نيت کړی دی ثُمَّ قِيلَ: وَتَصِحُّ قَضَاءً أَيْضًا بيا ويل سوي دي: چي قضاءً [هم د قدرت د استطاعت نيت کول] صحيح دي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَقِيلَ: لَا تَصِحُّ او ويل سوي دي [يعني دويم قول دا دی]: چي صحيح نه دي لِأَنَّهُ خِلَافُ الظَّاهِرِ ځکه چي دا د ظاهر خلاف دي.

اللغات: ﴿مَرْجُوّ﴾ د نصر د باب اسمِ مفعول دی: د کوم شي چي اُميد وي (هغه څه چي اُميد يې کيږي). ﴿اِسْتِطَاعَة﴾ د استفعال مصدر دی: طاقت، وس، قدرت. استطاعت پر دوه قسمه دی: ① يو د قدرت استطاعت دی، همدې ته د قضاء استطاعت وايي، د دې مطلب دا دی چي له کار څخه مخکي ټوله اسباب موجود وي او د الله قضاء او فيصله هم داسي معلومه سي چي هغه کار کېدونکی دی (يعني د کار شروع کولو په وخت کي انسان پر هغه کار وس او طاقت لري)، نو دې ته د قضاء او قدرت استطاعت وي، ② دويم دا چي د کار کولو لپاره د انسان صحت برابر وي، جوړ او روغ وي، او نوږ خنډونه (موانع) نه وي، نو دې ته د صحت استطاعت وايي، په عُرف کي له دې لفظ "استطاعت" څخه همدغه استطاعت مراديږي. ﴿عَنَى﴾ د ضرب ماضي ده: مرادول. ﴿دُيِّنَ﴾ د تفعيل ماضي مجهوله ده: تصديق کول. ﴿يُقَارِن﴾ د مفاعلې مضارع ده: متصل کېدل، جوختېدل.

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... که يو سړی قسم واخلي چي زه به بصرې ته خامخا ځم، لېکن هغه په خپل ژوند کي بصرې ته ولاړ نه سي، نو داسي سړی د خپل ژوند په آخري جزء او آخري ساه کي حانث کيږي، ځکه چي تر مرګ مخکي دا اُميد او امکان سته چي هغه خپل قسم پوره کړي او بصرې ته ولاړ سي، نو ځکه به د ژوند له آخري جزء څخه مخکي هغه نه حانث کيږي.

(۲)... که يو څوک دا قسم واخلي چي زه به سبا خالد ته ځم په دې شرط که مي استطاعت (طاقت) وو، نو له دې استطاعت څخه د صحت او روغتيا استطاعت مراديږي، نه د قدرت او قضاء استطاعت، او د صحت د استطاعت تفسير او تعريف له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه داسي نقل سوی دی چي حالف به نه ناروغه نه وي، او په حکومتي توګه به له تګ کولو څخه ممانعت او بنديز نه وي، او يوه ناڅاپه

(نابېره) پېښه به واقع سوې نه وي چې د هغه په وجه حالف نه سي تللای، نو که په دې صورت کې هغه ولاړ نه سي، نو حانث کيږي.

او که حالف په دې سره د قدرت او قضاء استطاعت مراد کړي، نو دیانتاً به د هغه تصديق کيږي، ځکه چې په حقيقت کې د قضاء استطاعت اصل دی، موږ په خپل عرف کې وايو "که الله وغواړي نو دا کار به کووم".

وهذا لأن حقيقة إلخ: او دا ځکه چې حقيقي استطاعت د فعل سره متصل وي، يعني کله چې بنده د يو کار پخه اراده وکړي (چې اوس به دا کار کوم)، نو الله تعالىٰ په دې وخت کې د کار کولو قدرت پيدا کړي، او همدې ته د قضاء استطاعت وايي، خو کله چې د استطاعت لفظ مطلق وويل سي، نو په عرف کې له هغه څخه د صحت استطاعت مراديږي، نو ځکه به د مطلق ويلو په وخت کې د صحت استطاعت مراديږي، لېکن حقيقي د قدرت او قضاء استطاعت دی، نو د هغه نيت هم کولای سي. او کله چې حالف (قسم اخيستونکی) د هغه نيت وکړي، نو قضاءً به د حالف تصديق کيږي.

ثم قيل إلخ: د دې حاصل دا دی چې آيا قضاءً حالف د هغه نيت کولای سي او که نه؟. يعني که هغه ووايي چې ما په خپل کلام سره د قدرت د استطاعت نيت کړی دی، نو آيا قاضي به د هغه تصديق کوي او که نه؟، نو په هکله د علماؤ دوه قوله دي: ① د قدرت استطاعت د حالف د کلام حقيقت دی، نو ځکه د حالف لپاره قضاءً د دې نيت کول صحيح دي، يعني قضاءً به د هغه تصديق کيږي، ② دويم قول دا دی چې په عرف کې د قدرت استطاعت نه مراديږي، نو په دې وجه قضاءً د استطاعت نيت کول صحيح نه دي، او قضاءً به د هغه تصديق نه کيږي.

د قسم يو څو ځانګړي صورتونه

وَمَنْ حَلَفَ لَا تَخْرُجُ امْرَأَتُهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ که يو څوک قسم واخلي چې د هغه ښځه به نه وځي مګر د هغه په اجازه سره [يعني ښځي ته ووايي: په الله قسم! ته به زما له اجازې څخه بغير نه وځې او که زما له اجازې څخه بغير ووتلې، نو پر ما طلاقه يې] **فَأَذِنَ لَهَا مَرَّةً فَخَرَجَتْ ثُمَّ خَرَجَتْ مَرَّةً أُخْرَى بِغَيْرِ إِذْنِهِ** بيا حالف [خاوند] هغې ته يو وار [د وتلو] اجازه ورکړه او هغه ووتله [او] بيا بل وار د هغه له اجازې څخه بغير ووتله **حَنِثَ** نو [خاوند] حانث کيږي [او پر ښځې طلاق واقع کيږي، ځکه چې خاوند هغې ته ويلي وو "زما په اجازه سره"، او دلته خو اول وار هغې اجازه اخيستې ده، لېکن دويم وار يې اجازه نه واخيستله، نو ځکه به دويم وار حانث کيږي، او پر ښځې به طلاق واقع کيږي] **وَلَا بُدَّ مِنَ الْإِذْنِ فِي كُلِّ خُرُوجٍ** او [په داسې

قسم اخيستلو کي [هر وار اجازه اخيستل ضروري دي لِأَنَّ الْمُسْتَثْنٰى خُرُوجٌ مَقْرُونٌ بِالْإِذْنِ ځکه چي د هغه خروج [او تللو] استثناء سوې ده کوم چي [د خاوند] د إجازې سره متصل وي وَمَا وَرَاءَهٗ دَاخِلٌ فِي الْحَظْرِ الْعَامِّ او کوم خروج چي له مستثنیٰ خروج څخه بغير دی هغه په عام ممانعت [يعني د قسم په حکم کي] داخل دي (لأن المستثنى...الخ): دا جمله څه ستونزمنه ده، حاصل يې دا دی چي دلته خاوند نفي کړي دي چي ته به له کور څخه نه وځې او بيا يې له دې نفي څخه د هغه وتلو استثناء کړې ده کوم چي د خاوند د اجازې سره متصل وي، (يعني زما په اجازه سره ته وتلای سې)، نو د دې مطلب همدا دی چي د ښځي وتل به د خاوند د اجازې سره متصل وي (يعني ښځه به په هر وار وتلو کي له خاوند څخه اجازه غواړي) او که له اجازې څخه بغير ووځي، نو خاوند به حانث کيږي او پر ښځي به طلاق واقع کيږي] وَلَوْ نَوَى الْإِذْنَ مَرَّةً او که حالف [خاوند] يو وار د اجازه اخيستلو نيت وکړي [يعني هغه ووايي چي زما مقصد فقط يو وار د اجازې اخيستل وو] يُصَدَّقُ دِيَانَةً لَا قَضَاءً نو دياتناً به د هغه تصديق کيږي، نه قضاءً [يعني قاضي به د هغه تصديق نه کوي او په دې هکله به څه فيصله نه کوي] لِأَنَّهٗ مُحْتَمَلُ كَلَامِهٖ ځکه چي دا د حالف د کلام احتمالي معنیٰ ده [يعني که څه هم د هغه په خبره کي د دې احتمال هم سته] لٰكِنَّهٗ خِلَافُ الظَّاهِرِ خو دا د ظاهر خلاف دي [او په خلافُ الظاهر مسئله کي فقط دياتناً د يو چا تصديق کيږي، نه قضاءً] وَلَوْ قَالَ: إِلَّا أَنْ آذَنَ لَكِ او که حالف [خاوند] ووايي: إِلّا أَنْ آذَنَ لَکِ [يعني که خاوند ښځي ته داسي ووايي: ته به له کور څخه نه وځي مګر دا چي زه اجازه درکړم] فَأَذِنَ لَهَا مَرَّةً وَاحِدَةً فَخَرَجَتْ ثُمَّ خَرَجَتْ بَعْدَهَا بِغَيْرِ إِذْنِهٖ بيا [خاوند] ښځي ته اجازه ورکړي او هغه ووځي [او] تر دې وروسته [بل وار] ښځه د خاوند له اجازې څخه بغير ووځي لَمْ يَحْنَثْ نو [خاوند] نه حانث کيږي لِأَنَّ هٰذِهٖ كَلِمَةُ غَايَةٍ فَتَنْتَهِي الْيَمِينُ بِهٖ ځکه چي دا کلمه [إلا أن آذن لكِ] د غايت [او انتهاء] کلمه ده نو ځکه به په دې کلمه سره قسم ختميږي [يعني د دې کلمې (إلا أن آذن لكِ) معنیٰ ده: ته به له کور څخه نه وځې "تر دې چي زه تا ته اجازه درکړم"، او د دې مطلب همدا دی چي يو وار اجازه درکړم، نو ځکه دلته فقط په يوه وار اجازه سره قسم ختميږي، او د بار، بار اجازه اخيستلو ضرورت نسته، لکه په هغه صورت کي چي هم په يوه وار اجازه اخيستلو سره قسم ختميږي کله چي حالف ويلي وي: "حَتّٰى أَنْ آذَنَ لَكِ"] كَمَا إِذَا قَالَ حَتّٰى آذَنَ لَكِ لکه کله چي هغه "حَتّٰى أَنْ آذَنَ لَكِ" ويلي وي.

اللغات: ﴿حَظْر﴾ ممانعت، بندیز. ﴿مُحْتَمَل﴾ احتمالي مطلب، احتمالي معنیٰ. ﴿غَايَة﴾ انتهاء.

تشريح: عبارت په ترجمه کې تشریح سو.

د قسم یو څو ځانګړي صورتونه

وَلَوْ أَرَادَتِ الْمَرْأَةُ الْخُرُوجَ او که ښځې [له کور څخه] د وتلو اراده وکړه فَقَالَ: إِنْ خَرَجْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ نو خاوند [ورته] وویل: که چیري ته ووځې نو [پر ما] طلاقه یې فَجَلَسَتْ ثُمَّ خَرَجَتْ او ښځه کښېنسته بیا [څه وخت وروسته] ووتله لَمْ يَحْنَثْ نو [خاوند] نه حانث کیږي [او پر ښځې طلاق نه واقع کیږي] [دا مسئله پر دې أصول مبني ده چې که په هغه ګړي ښځه ووځي نو طلاق واقع کیږي، او که وروسته ووځي نو نه واقع کیږي، ځکه چې په هغه ګړي نه ووتل، دې ته یمینِ فور (فوراً قسم) وایي] وَكَذَلِكَ إِذَا أَرَادَ رَجُلٌ ضَرْبَ عَبْدِهِ او همدارنګه که یوه سړي د خپل غلام د وهلو اراده وکړه فَقَالَ لَهُ آخَرُ: إِنْ ضَرَبْتَهُ فَعَبْدِي حُرٌّ نو یو بل سړي ورته وویل: که چیري ته خپل غلام ووهې نو زما غلام آزاد دی فَتَرَكَهُ او هغه [اول سړي] د وهلو اراده پرېښووله ثُمَّ ضَرَبَهُ بیا یې [څه وخت وروسته] غلام ووهی [نو د دویم سړي غلام نه آزادیږي، دا مسئله هم پر پورتني أصول مبني ده] وَهَذِهِ تُسَمَّى يَمِينَ فَوْرٍ او داسې قسم ته "یمینِ فور" وایي وَتَفَرَّدَ أَبُوحَنِيفَةَ بِإِظْهَارِهِ او یوازې امام صاحب رَحِمَهُ الله د دې قسم څرګندونه کړې ده [یعني اول امام صاحب رَحِمَهُ الله د یمینِ فور استنباط وکړی، تر هغه مخکې په خلکو کې فقط دوه قسمونه پېژندل کېدل: ① مطلق یا مؤبد یمین، ② مقید بالوقت یمین، او امام صاحب رَحِمَهُ الله دغه دریم قسم هم ښکاره کړی کوم چې لفظاً مؤبد دی، او معناً مؤقت دی (عنایه)] وَوَجْهُهُ: أَنَّ مُرَادَ الْمُتَكَلِّمِ الرَّدُّ عَنْ تِلْكَ الضَّرْبَةِ وَالْخَرْجَةِ عُرْفًا او د دې وجه دا ده: چې د عرف په اعتبار سره د متکلم مراد د هغه [واقع کېدونکي] وهلو منع کول دي او د هغه [واقع کېدونکي] وتلو منع کول دي [د دې جملې پوره وضاحت او حاصل به تشریح کې ذکر سي] وَمَبْنَى الْأَيْمَانِ عَلَيْهِ او د قسمونو دار ومدار پر عرف دی وَلَوْ قَالَ لَهُ رَجُلٌ: اجْلِسْ فَتَغَدَّ عِنْدِي او که یوه سړي ته بل سړي وویل: کښېنه! او زما سره ډوډۍ وخوره! قَالَ إِنْ تَغَدَّيْتُ فَعَبْدِي حُرٌّ نو هغه وویل: که چیري زه ډوډۍ وخورم نو زما غلام دې آزاد دی فَخَرَجَ فَرَجَعَ إِلَى مَنْزِلِهِ وَتَغَدَّى او بیا [له هغه ځای څخه] ووتی او کور ته راغلی او ډوډۍ یې وخوړل لَمْ

يَحْنَثُ نو نه حانث کيږي **لِأَنَّ كَلَامَهٗ خَرَجَ مَخْرَجَ الْجَوَابِ** ځکه چي د هغه کلام د جواب مطابق صادر سوی دی **فَيَنْطَبِقُ عَلَى السُّؤَالِ** نو هغه به پر سوال منطبق کيږي [چسپيږي] **فَيَنْصَرِفُ إِلَى الْغَدَاءِ الْمَدْعُوِّ إِلَيْهِ** او د هغه ډوډۍ وطرف ته به راجع کيږي چي د هغه وطرف ته بلنه ورکول سوې ده [يعني که زيد خالد ته وويل: راسه! زما سره ډوډۍ وخوره! او خالد وويل: که ما ډوډۍ وخوړل نو زما غلام آزاد دی. نو دلته هغه ډوډۍ او خوراک مراد دی چي د هغه وطرف ته خالد رابلل سوی دی، که دا خوراک او ډوډۍ وخوري، نو غلام آزاديږي، لېکن که کور ته ولاړ سي او هلته بل خوراک او ډوډۍ وخوري، نو غلام نه آزاديږي، دا هم يمينِ فور دی]

بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: إِنْ تَغَدَّيْتُ الْيَوْمَ په خلاف د هغه صورت کله چي هغه [په جواب کي ورته] ووايي: که چيري ما نن ورځ ډوډۍ وخوړل [نو زما غلام آزاد دی، نو که هغه نن ورځ ډوډۍ وخوري، غلام آزاديږي] **لِأَنَّهٗ زَادَ عَلَى حَرْفِ الْجَوَابِ** ځکه چي هغه پر جواب اضافه وکړه **فَيُجْعَلُ مُبْتَدِأً** نو هغه به له شروع څخه قسم اخيستونکي ګرځول کيږي [يعني که زيد خالد ته وويل: راسه! زما سره ډوډۍ وخوره! او خالد په جواب کي ورته وويل: که ما نن ورځ ډوډۍ وخوړل، نو زما غلام آزاد دی؛ نو څرنګه چي دلته خالد په خپل جواب کي د نن ورځي (يوم) لفظ اضافه کړی دی، نو ځکه به مدعو ډوډۍ مراد نه وي، بلکي هره هغه ډوډۍ به مراد وي کوم چي په نن ورځ کي خوړل کيږي، نو ځکه به خالد داسي ګرځول کيږي لکه له نوي سره چي جلا قسم واخلي، او که نن ورځ هر ځای ډوډۍ وخوري نو هغه به حانث کيږي].

اللغات: ﴿تَغَدّٰى﴾ د تفعّل ماضي ده: د غرمې خوراک خوړل (د غرمې ډوډۍ خوړل)، مطلق خوراک خوړلو ته هم وايي.

تشريح: صورت د مسئلې ښکاره دی.

ووجهه أن مراد المتكلم إلخ: فرمايي او د دې قسم د ښکاره کولو وجه دا ده (يعني امام صاحب رَحِمَهُ الله ځکه دا قسم ښکاره او مستنبط کړی) چي په عرف کي له داسي قسم اخيستلو څخه مراد هغه کار درول او منع کول وي کوم چي اوس شروع وي (يعني که يوه سړي ديو کار کولو اراده کړي وي، او دوېم سړی په هغه ګړي قسم واخلي، نو په داسي قسم اخيستلو سره د دوېم سړي مراد دا وي چي اول سړی په هغه ګړي هغه اراده او کار پرېږدي، او په هغه ګړي له کار څخه را وګرځي، او د هغه مراد د همېشه لپاره منع کول نه وي)، او څرنګه چي د قسم دار ومدار پر عرف او رواج باندي زيات دی، نو ځکه امام صاحب د عرف په اعتبار سره د "يمينِ فور" استنباط وکړی، او پورتنۍ دوې مسئلې هم پر دغه يمينِ فور مبني دي، نو که ښځه په هغه ګړي ووځي يا سړی په هغه ګړي خپل غلام ووايي، نو ښځه طلاقيږي، او د دوېم سړي غلام آزاديږي، کنې طلاق او آزادي نه واقع کيږي.

د يو سړي پر سپارلي باندې نه د سپرېدلو قسم اخيستل

وَمَنْ حَلَفَ لَا يَرْكَبُ دَابَّةَ فُلَانٍ او كه څوک قسم واخلي چي د فلانکي سړي پر سپارلي [آس] به نه سپرېږي [مثلاً زيد قسم واخلي چي زه به د خالد پر آس نه سپرېږم] فَرَكِبَ دَابَّةَ عَبْدٍ مَأْذُونٍ لَهُ مَدْيُونٍ أَوْ غَيْرِ مَدْيُونٍ بيا هغه [زيد] د فلانکي سړي [خالد] د هغه غلام پر سپارلي سپور سي چي هغه ته [د خالد له طرفه] د تجارت اجازه ورکول سوې وي، هغه که دا غلام مقروض وي او كه مقروض نه وي [يعني خاوند خپل يو غلام ته د تجارت او کاروبار اجازه ورکړې وي او زيد د هغه پر آس سپور سي، او د قسم اخيستلو په وخت کي يې دا نيت کړی نه وي چي زه به د خالد د غلام پر آس هم نه سپرېږم] لَمْ يَحْنَثْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حالف [زيد] نه حانث کيږي [ځکه چي په عرف کي دې ته د مالک (خالد) آس نه وايي، بلکي د غلام آس ورته وايي، نو ځکه به د عرف په اعتبار سره هغه (زيد) نه حانث کيږي، ځکه چي هغه د خالد پر آس سپور نه سو، او که هغه د قسم اخيستلو په وخت کي د غلام د آس نيت هم کړی وي چي زه به د خالد د غلام پر آس هم نه سپرېږم، او بيا د خالد د غلام پر آس سپور سي، نو حانث کيږي] إِلَّا أَنَّهُ إِذَا كَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ مُسْتَغْرِقٌ مګر دا چي پر غلام محيط قرض وي [يعني دومره قرض پر باندې وي چي ټوله غلام يې لاندې کړی وي] لَا يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي وَإِنْ نَوَى که څه هم [زيد د خالد د غلام پر آس باندې د نه سپرېدلو] نيت کړی وي لِأَنَّهُ لَا مِلْكَ لِلْمَوْلَى فِيهِ عِنْدَهُ ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مالک لره د مقروض غلام په مال [آس] کي ملکيت نسته [حاصل دا چي که پر غلام د خلکو دومره قرض باندې وي چي که هغه د قرض لپاره خرڅ کړی سي نو هم قرض نه په اداء کيږي؛ که په داسي صورت کي خالد دا نيت هم کړی وي چي زه به د خالد د غلام پر آس هم نه سپرېږم، نو هم هغه نه حانث کيږي، ځکه چي د امام صاحب په نيز د مديون غلام په مال کي مالک لره هيڅ ملکيت نسته، او ښکاره خبره ده چي کله د غلام په آس کي د مالک ملکيت نسته، نو دغه آس به د زيد په قسم کي نه داخليږي او پر دې آس په سپرېدلو سره هغه نه حانث کيږي] وَإِنْ كَانَ الدَّيْنُ غَيْرَ مُسْتَغْرِقٍ أَوْ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ دَيْنٌ او که [پر غلام] محيط قرض نه وي يا پر غلام [بالکل] قرض نه وي لَا يَحْنَثُ مَا لَمْ يَنْوِهِ نو [په دې صورت کي] حالف [زيد] تر هغه وخته پوري نه حانث کيږي تر څو چي [د غلام د آس] نيت نه وکړي لِأَنَّ الْمِلْكَ فِيهِ لِلْمَوْلَى ځکه چي په دې [آس] کي مالک لره ملکيت سته [يعني دا آس په حقيقت کي د مالک دی] لَكِنَّهُ يُضَافُ إِلَى الْعَبْدِ عُرْفًا لېکن په عرف کي هغه [آس] د غلام وطرف ته منسوب کيږي [يعني په عرف کي د غلام آس او مال

شمارل کیږي] وَكَذَا شَرْعًا همدارنګه په شریعت کي [مالک لره په دې آس (یعني دغلام په مال) کي ملکیت سته] قَالَ الطَّيْلا [1]: مَنْ بَاعَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ فَهُوَ لِلْبَائِعِ نبي ﷺ فرمایلي دي: څوک چي یو غلام خرڅ کړي او د غلام سره مال وي نو هغه د بائع [مالک] لپاره دی فَتَخْتَلُّ الْإِضَافَةُ إِلَى الْمَوْلَى نو ځکه د مالک وطرف ته [د آس] په نسبت کولو کي خلل واقع کیږي [ځکه چي په عرف کي هغه د غلام مال شمارل کیږي] فَلَا بُدَّ مِنَ النِّيَّةِ نو ځکه به نیت ضروري وي وَقَالَ أَبُويُوسُفَ ۞: فِي الْوُجُوهِ كُلِّهَا: يَحْنَثُ إِذَا نَوَاهُ او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایلي دي: کله چي حالف [د غلام د آس] نیت کړی وي نو په ټولو صورتونو کي هغه حانث کیږي [هغه که پر غلام مستغرق قرض او که نه وي] لِاخْتِلَالِ الْإِضَافَةِ ځکه چي [د مالک وطرف ته د آس] په نسبت کولو خلل [او نقص] سته انو ځکه به فقط د نیت کولو په وخت کي حانث کیږي] وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَحْنَثُ وَإِنْ لَمْ يَنْوِهِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي: چي که څه هم حالف [د غلام د آس] نیت کړی نه وي نو هم حانث کیږي لِاعْتِبَارِ حَقِيقَةِ الْمِلْكِ د ملکیت د حقیقت په اعتبار کولو سره [یعني ځکه چي په حقیقت کي ملکیت د مالک دی] إِذِ الدَّيْنُ لَا يَمْنَعُ وُقُوعَهُ لِلسَّيِّدِ عِنْدَهُمَا ځکه چي د صاحبینو په نیز [د غلام] قرض د مالک د ملکیت ثبوت نه منع کوي [یعني که څه هم پر غلام قرض باندي وي. بیا هم د صاحبینو په نیز په هغه غلام کي د مالک ملکیت ثابتیږي].

اللغات: ﴿دَابَّة﴾ سپارلي، څاروی. ﴿عَبْد مَأْذُون﴾ هغه غلام چي مالک د کاروبار او تجارت کولو اجازه ورکړې وي. ﴿مُسْتَغْرِق﴾ د استفعال اسمِ فاعل دی: ډوبونکی، غرقونکي (لاندي کونکی). ﴿سَيِّد﴾ سردار، مولیٰ، مالک.

تشریح: صورت د مسئلې ښکاره دی.

وإن كان الدين غير مستغرق إلخ: د دې حاصل دا دی که پر غلام لږ قرض وي، یا بالکل پر هغه هیڅ قرض نه وي. نو په دې صورت کي خو په حقیقت کي د غلام آس د مالک دی، او په عرف کي د غلام دی، نو د آس دوه حیثیته سوه: ① د حقیقت، ② او د عرف، نو ځکه امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمایي

[1] تخریج: رواه ابو داؤد، باب:٢٢، رقم الحديث:٣٤٣٣. وابن ماجه، رقم الحديث:٢٢١١.

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما فی رد المحتار (ج:٣، ص:٩٤). [القول الراجح ج:١، ص:٤٠٩]

که زید د قسم اخیستلو په وخت کې دا نیت کړی وي چې د خالد د غلام پر آس به هم نه سپرېږم. او بیا پر سپور سي، نو هغه حانث کیږي، او که نیت یې کړی نه وي، نو په سپرېدلو سره نه حانث کیږي: ځکه چې د غلام مال په حقیقت کې د مالک دی لکه څرنګه چې د عبارت په حدیث کې ذکر سوه.

وقال أبويوسف إلخ: د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله رایه دا ده چې د حالف (زید) د حانث کېدلو لپاره نیت کول شرط دي. ځکه چې د مالک وطرف ته د غلام د مال (آس) نسبت ناقص دی (ځکه چې د عرفُ په اعتبار سره هغه د غلام مال شمارل کیږي، او په شریعت کې د مالک مال شمارل کیږي). نو که زید دا نیت کړی وي چې زه به د خالد پر آس هم نه سپرېږم، نو په ټولو صورتونو کې هغه حانث کیږي، هغه که پر غلام قرض وي او که نه وي، مستغرق وي او که غیرِ مستغرق وي، په هر صورت کې هغه حانث کیږي، او که نیت یې کړی نه وي، نو نه حانث کیږي.

وقال محمد إلخ: او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې که څه هم حالف (زید) نیت کړی نه وي. بیا هم په ټولو صورتونو کې حانث کیږي، ځکه چې په غلام او آس دواړو کې حقیقي ملکیت د مالک لپاره حاصل دی، نو په دې حواله سره د زید قسم د خالد د غلام آس ته هم شاملیږي، او د غلام په مقروض کېدلو سره په دې کې هیڅ فرق نه راځي، ځکه چې د صاحبینو په نېز د غلام مقروض کېدل د مالک د ملکیت له وقوع او ثبوت څخه مانع نه دي (یعني که څه هم غلام مقروض وي، نو هم د دوی په نېز د مالک ملکیت په غلام کې او د غلام په مال کې ثابتیږي).

خلاصه د کلام دا چې د عبدِ مأذون مال په حقیقت کې د مالک شمارل کیږي، لېکن په عرفِ عام کې د عبدِ مأذون شمارل کیږي، امام صاحب د عرف اعتبار کړی دی، ځکه چې د یمین دار و مدار پر عرف دی، که چیرې غلام مستغرق فی القرض وي، نو د عرف او حقیقت دواړو په اعتبار سره حالف نه حانث کیږي، ځکه چې د مقروض کېدلو په وجه په غلام او د غلام په مال کې د مالک (خالد) ملکیت نه ثابتیږي. لېکن د صاحبینو په نېز د مالک ملکیت ثابتیږي. خو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله پر قول د مالک په نسبت کې خلل او نقص واقع دی، نو په دې وجه د حانث کېدلو لپاره نیت ضروري دی. لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د حانث کېدلو لپاره نیت هم ضروري نه دی. لنډه دا چې که عبدِ مأذون مستغرق فی القرض نه وي، نو د امام صاحب او امام ابو یوسف پر قول نیت شرط دی. او د امام محمد په نېز شرط نه دی.



بَابُ الْيَمِينِ فِي الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ

(دا) باب د خوراک او څښاک په هکله د قسم اخیستلو (په بیان کې) دی

تشريح: له استوګنې او سُکنیٰ څخه وروسته د انسان تر ټولو مخکنی ضرورت خوراک او څښاک دی، نو ځکه صاحب د هدایې له سُکنیٰ او د هغه له متعلقاتو او لوازماتو څخه وروسته اوس د خوراک او څښاک سره متعلق د قسم اخیستلو مسئلې او أحکام بیانوي.

د أكل او شُرب تعريف: د أکل معنیٰ ده: معدې (نس) ته داسي شی رسول کوم چي ژوولو ته ضرورت لري (چي هغه ته خوراک وايي)، او د شُرب معنیٰ ده: داسي شی معدې ته رسول کوم چي ژوولو ته ضرورت نه لري (چي هغه ته څښاک وايي). (بناية ج:٦، ص:٧٣)

له درختي څخه د خوراک نه کولو قسم اخيستل

قَالَ: وَمَنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هٰذِهِ النَّخْلَةِ فرمايي: او که يو څوک قسم واخلي چي هغه به د خُرما له دغه درختي څخه خوراک نه کوي فَهُوَ عَلَىٰ ثَمَرِهَا نو دا قسم به د هغه درختي د مېوې سره متعلق وي لِأَنَّهُ أَضَافَ الْيَمِينَ إِلَىٰ مَا لَا يُؤْكَلُ ځکه هغه د داسي شي وطرف ته د قسم نسبت وکړی کوم چي نه خوړل کيږي [ځکه چي درخته نه خوړل کيږي، بلکي مېوه يې خوړل کيږي] فَيَنْصَرِفُ إِلَىٰ مَا يَخْرُجُ مِنْهُ وَهُوَ الثَّمَرُ نو ځکه به قسم د هغه شي وطرف ته راجع کيږي کوم چي له درختي څخه راوځي او هغه مېوه ده لِأَنَّهُ سَبَبٌ لَهُ ځکه چي درخته د میوې لپاره سبب ده فَيَصْلُحُ مَجَازًا عَنْهُ نو مېوه به له درختي څخه د مجازاً مرادولو صلاحيت لري [يعني له درختي څخه به مجازاً مېوه مرادول صحيح وي، ځکه چي له سبب څخه مُسبّب مرادول صحيح دي] لٰكِنَّ الشَّرْطَ أَنْ لَا يَتَغَيَّرَ بِصَنْعَةٍ جَدِيدَةٍ لیکن شرط دا دی چي مېوه به په نوي ترکيب [او کاريګري] سره بدله سوې نه وي حَتّٰى لَا يَحْنَثَ بِالنَّبِيذِ وَالْخَلِّ وَالدِّبْسِ الْمَطْبُوخِ تر دې چي دغه حالف [د خرما] په نبيذ سره او [د خرما] په سرکه سره او [د خرما] په پخه څوښا [شيره] سره نه حانث کيږي وَإِنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هٰذَا الْبُسْرِ او که قسم واخلي چي له دې نيم پخته

خرما څخه به خوراک نه کوي [يعني قسم واخلي چي زه به دغه نيم پخته خرماوي نه خورم] فَصَارَ رُطَبًا بيا هغه خُرما پخه سي فَأَكَلَهُ او حالف هغه وخوري لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي وَكَذَا إِذَا حَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هٰذَا الرُّطَبِ أَوْ مِنْ هٰذَا اللَّبَنِ او همدارنګه که قسم واخلي چي له دغه پخه خرما څخه يا له دغه شيدو څخه به خوراک نه کوي فَصَارَ تَمْرًا أَوْ صَارَ اللَّبَنُ شِيرَازًا بيا هغه پخه خرما وچه [چواره] وګرځي يا شيدې ګاټه [مستې] وګرځي لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي لِأَنَّ صِفَةَ الْبُسُورَةِ وَالرُّطُوبَةِ دَاعِيَةٌ إِلَى الْيَمِينِ ځکه چي د خرما نيم پختوالي او پخوالي د قسم وطرف ته بلونکی صفت دی وَكَذَا كَوْنُهُ لَبَنًا او همدارنګه شيدې والي [البنيّت] هم داسي دی فَيَتَقَيَّدُ بِهِ نو ځکه به قسم په شيدو [او نورو] سره مقيد کيږي وَلِأَنَّ اللَّبَنَ مَأْكُولٌ او ځکه چي شيدې هم خوړل کيږي فَلَا يَنْصَرِفُ الْيَمِينُ إِلَى مَا يُتَّخَذُ مِنْهُ نو ځکه به قسم د هغه شي وطرف ته راجع کيږي کوم چي له شيدو څخه جوړيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ هٰذَا الصَّبِيَّ أَوْ هٰذَا الشَّابَّ په خلاف د هغه صورت کله چي قسم واخلي چي د دغه کوچني يا د دغه ځوان سره به خبري نه کوي فَكَلَّمَهُ بَعْدَمَا شَاخَ بيا حالف د هغه تر بوډاتوب وروسته د هغه سره خبري وکړي [نو حانث کيږي] لِأَنَّ هِجْرَانَ الْمُسْلِمِ بِمَنْعِ الْكَلَامِ مَنْهِيٌّ عَنْهُ ځکه چي د خبرو په منع کولو سره د مسلمان پرېښوول ممنوع دي فَلَا يُعْتَبَرُ الدَّاعِي دَاعِيًا فِي الشَّرْعِ نو ځکه به په شريعت کي [په دې هکله] د را بلونکي شي اعتبار نه کيږي وَلَوْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ لَحْمَ هٰذَا الْحَمَلِ او که [يو سړی] قسم واخلي چي د دې مرغومي [يا اُوري] غوښي به نه خوري فَأَكَلَ بَعْدَمَا صَارَ كَبْشًا بيا دا سړی [د هغه مرغومي غوښي] وخوري وروسته تر دې چي هغه مينده وګرځي [يعني بيا مرغومی يا اُوری غټ سي او حالف د هغه غوښي وخوري] حَنِثَ نو حانث کيږي لِأَنَّ صِفَةَ الصِّغَرِ فِي هٰذَا لَيْسَتْ بِدَاعِيَةٍ إِلَى الْيَمِينِ ځکه چي د کوچنيوالي [کم سن والي] صفت په دې شيانو کي د قسم وطرف ته بلونکی نه دی فَإِنَّ الْمُمْتَنِعَ عَنْهُ أَكْثَرُ امْتِنَاعًا عَنْ لَحْمِ الْكَبْشِ ځکه چي د مرغومي [يا اُوري] له غوښو څخه منع کېدونکی سړی د مينده له غوښو څخه زيات منع کيږي.

[يعني د غټوالي او زوړوالي په وجه د مينده غوښي بې مزه او بې خونده کرځيدلي وي نو څوک چي د مرغومي له تازه غوښو څخه منع کيږي. هغه د مينده له غوښو څخه په درجه اولیٰ منع کيږي].

اللغات: ﴿نَخْلَة﴾ د خرما درخته (ونه)، ﴿صُنْعَة﴾ کاريګري، لاس وهنه، ترکيب (جوړښت، جوړونه) ﴿نَبِيْذ﴾ کله چې اوبو ته خرما (انګور، کشمس او داسې نور) واچول سي او دومره وخت پکښې پرېښوول سي چې اوبه خنډې او ګاټه وګرځي، نو دې ته نبيذ وايي. ﴿دِبْس﴾ (د دال په کسره سره صحيح دی) : د خرما ځوښا (د خرما دوښا او شيره، د خرما را نخوړل سوي اوبه). ﴿بُسْر﴾ اومه خرما، نيم پخته خرما. ﴿شِيْرَاز﴾ عربي لغاتو د دې لفظ معنیٰ داسې کړې ده: هغه مستې چې اوبه ځني ونتول سي او ګاټه کړی سي، ګاټه کړی سوي شيدې چې خوند يې تريوالي ته مائل سي. ﴿شَاخَ﴾ د ضرب ماضي ده، شَاخَ يَشِيْخُ شَيْخُوْخَةً: بوډا کېدل، سپين ږيري کېدل. ﴿هِجْرَان﴾ د نصر مصدر دی: پرېښوول، تعلق ختمول. ﴿حَمَل﴾ (د ميم په فتحه سره): د بزې يا ميږې کم عمره (کم سنه) بچی چې هغه ته زموږ په اصطلاح مرغومي (يا ورغومي) او اُوری وايي.

تشريح: په دې عبارت کې ټوله څلور مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... که يو سړی قسم واخلي چې هغه به له دغه درختي (د خُرما له درختي) څخه خوراک نه کوي، نو له درختي څخه به د هغې مېوه مراديږي او د ميوې په خوړلو سره به حالف حانث کيږي. او که چيري پر درختي مېوه نه وي، نو له دې څخه به د درختي قيمت مراديږي؛ د مېوې مرادېدلو دليل دا دی چې دلته حالف د غير مأکول (نا خوړونکي) شي وطرف ته قسم منسوب کړی دی. ځکه چې درخته خوړل ناممکن دي، نو ځکه به دغه قسم هغه شي ته راجع کيږي کوم چې له درختي څخه پيدا کيږي، يعني مېوه، ځکه چې درخته د ميوې د پيدا کېدلو او جوړېدلو سبب ده، او له سبب څخه مسبب مرادول صحيح او جائز دي. او بيا د فقهي دا مشهوره قاعده هم ده "إِذَا تَعَذَّرَ الْحَقِيْقَةُ يُصَارُ إِلَى الْمَجَازِ" يعني کله چې د يو لفظ حقيقي معنیٰ مرادول ناممکن وي نو د مجاز و طرف ته به رجوع کيږي. نو ځکه به دلته له نَخْلَة څخه مېوه (خُرما) مراديږي، ليکن مېوه مرادول په هغه صورت کې صحيح او جائز دي کله چې په دغه مېوه کې لاس وهل سوی نه وي (يعني کاريګري پکښې سوې نه وي) او پر خپلې اصلي حالت باقي وي، نو که له خُرما څخه نبيذ جوړ کړی سي، يا سرکه ځني جوړه کړل سي، يا يو بل شی ځني جوړ کړی سي، نو بيا د هغه شيانو په خوړلو سره حالف نه حانث کيږي، ځکه چې په هغوی کې د ثمر (مېوې) ثمريت ختم سو، او مېوه دومره بدله سوه چې د هغې رنګ، بوی او خوند حتیٰ چې نوم يې هم بدل سو.

(۲)... که یو څوک قسم واخلي چې زه به (د درختي) له دغه نیم پخته خُرما څخه خوراک نه کوم، بیا هغه د میوې تر پخېدلو او رطب کېدلو وروسته خوراک ځني وکړي، نو هم نه حانث کېږي. همدارنګه که قسم واخله چې زه به له دغه رطب (پخې خُرما) څخه او له دغه شیدو څخه خوراک نه کوم، بیا خُرما وچه سي او چواره (وچه کجوره) ځني جوړه سي، یا شیدې وچې سي او کوچي یا مستې وګرځي (یا مثلاً شلومبې او چکیده وګرځي)، او بیا حالف هغه وخوري، نو په دې صورتونو کې هم هغه نه حانث کیږي: ځکه چې په خُرما کې نیم پخته والي او پخوالي داسي صفت دی چې د هغه په وجه خُرما خوړل کیږي او په ډېر شوق سره خوړل کیږي، نو ځکه به دا صفت د قسم وطرف ته داعي (بلونکي) وي، او پر هغه صفت که یې حالف وخوري، نو حانث کیږي به. کنې نه به حانث کیږي، همدارنګه شیدې هم له کوچي او مستې ګرځېدلو څخه مخکې خوړل کیږي. نو ځکه به په شیدو کې هم د لبنیت (شیدې والي) لحاظ کیږي. او قسم اخیستونکی به د غیر لبن یعني د کوچي او مستې (همدا رنګه د شلومبو او چکیدې) په خوړلو سره نه حانث کیږي. که څه هم کوچي. مستې او داسي نور له شیدو څخه جوړیږي.

(۳)... د دې په خلاف که یو څوک قسم واخلي چې د دې کوچني هلک یا د دې ځوان سره به خبري نه کوم، او بیا هغه سپینږیری (بوډا) سي، او په هغه وخت کې حالف خبري ور سره وکړي، نو حانث کیږي، که څه هم په بوډاتوب کې د کوچنیوالي او ځوانوالي صفت ختم سوی دی او د قاعدې مطابق د هغه حانث کېدل پکار نه دي، خو بیا هم شریعت هغه ځکه حانث ګرځولی دی چې د یو مسلمان سره خبري پرېښودل ممنوع او ناروا دي، او په دې هکله شریعت د کوچنیوالي او ځوانوالي له صفت څخه قسم خارج کړی دی او د محلوف علیه د ذات سره یې متعلق کړی دی. او د هغه ذات په بوډاتوب کې هم موجود دی. نو ځکه به حالف په بوډاتوب کې د هغه سره د کلام کولو په وجه هم حانث کیږي.

ولوحلف لا يأكل إلخ: (۴)... څلورمه مسئله دا ده که یو څوک قسم واخلي چې زه به د دې مرغومي یا اُوري غوښې نه خورم، بیا هغه غټ سي او مینده ځني جوړ سي او حالف د هغه غوښې وخوري. نو حانث کیږ: ځکه چې په دې کوچني مرغومي یا اُوري کې د کوچنیوالي (کم عمری) صفت د قسم وطرف ته داعي نه دی، ځکه کوم سړی چې د کوچني مرغومي یا اُوري تازه غوښې نه خوري نو هغه به د زاړه مینده غوښې څنګه وخوري! (ځکه چې د زوړ والي په وجه د مینده غوښې بې خونده ګرځېدلي وي). نو ځکه به د دلته یمین د کوچني مرغومي یا اُوري سره مقید نه وي، بلکې د هغه د ذات سره به متعلق وي. او حالف چې کله هم د هغه غوښې وخوري، نو حانث به ګرځي.

د اومه (کچه) خُرما نه خوړلو قسم اخيستل

قَالَ: وَمَنْ حَلَفَ لَايَأْكُلُ بُسْرًا فرمايي: او که يو څوک قسم واخلي چي نيم پخته خُرما [کجوره] به نه خوري فَأَكَلَ رُطَبًا بيا پخه خرما وخوري لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِبُسْرٍ ځکه چي پخه خرما نيمه پخته خورما نه ده [يعني دواړې سره جلا دي] وَمَنْ حَلَفَ لَايَأْكُلُ رُطَبًا أَوْ بُسْرًا أَوْحَلَفَ لَايَأْكُلُ رُطَبًا وَلَا بُسْرًا او که يو څوک قسم واخلي چي هغه به پخه خرما يا نيم پخته خرما نه خوري يا قسم واخلي چي نه به پخه خرما خوري او نه به نيم پخته خرما خوري فَأَكَلَ مُذَنِّبًا او بيا داسي خرما وخوري چي لاندي سر [يو سر] يې پوخ وي حَنِثَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ۞ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حانث کيږي وَقَالَا: لَايَحْنَثُ فِي الرُّطَبِ او صاحبين فرمايي: چي د پخې خُرما په خوړلو سره نه حانث کيږي يَعْنِي بِالْبُسْرِ الْمُذَنِّبِ يعني کله چي هغه د بُسرِ مذنب نه خوړلو قسم اخيستی وي وَلَا فِي الْبُسْرِ بِالرُّطَبِ الْمُذَنِّبِ او نه د نيم پخته خرما په خوړلو سره حانث کيږي [يعني] کله چي هغه د رطبِ مذنب نه خوړلو قسم اخيستی وي لِأَنَّ الرُّطَبَ الْمُذَنِّبَ يُسَمَّى رُطَبًا ځکه چي رطبِ مذنب ته [په عرف کي] پخه خُرما ويل کيږي وَالْبُسْرَ الْمُذَنِّبَ يُسَمَّى بُسْرًا او بُسرِ مذنب ته نيم پخته خرما ويل کيږي فَصَارَ كَمَا إِذَا كَانَ الْيَمِينُ عَلَى الشِّرَاءِ نو داسي سو لکه قسم چي [د دې خرماوو] پر رانيولو [اخيستل سوی] وي وَلَهُ: أَنَّ الرُّطَبَ الْمُذَنِّبَ مَا يَكُونُ فِي ذَنَبِهِ قَلِيلُ بُسْرٍ د امام صاحب دليل دا دی: چي رطبِ مذنب هغه خرما ده چي [ټوله پخه وي خو] په لکۍ کي يې څه غوندي اومه والي وي وَالْبُسْرُ الْمُذَنِّبُ عَلَى عَكْسِهِ او بسر مذنب د دې برعکس وي [يعني ټوله اومه وي خو په لکۍ او لاندي سر کي يې څه غوندي پخوالي وي] فَيَكُونُ آكِلُهُ آكِلَ الْبُسْرِ وَالرُّطَبِ نو د رطب مذنب او د بسر مذنب خوړونکي به د اومې او پخې خرما خوړونکی وي وَكُلٌّ وَاحِدٍ مَقْصُودٌ فِي الْأَكْلِ او [په دوی کي] هره خرما په خوړلو کي مقصود ده [يعني د بُسر او رطب دواړو خوړل مقصود دي، يا دا چي د هري يوې د خوړلو مقصد جلا، جلا دی] بِخِلَافِ الشِّرَاءِ لِأَنَّهُ يُصَادِفُ الْجُمْلَةَ په خلاف د رانيولو، ځکه

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:٩٨)، وكذا في البحر الرائق (ج:٤، ص:٣٢٠). [القول الراجح ج:١، ص:٤١١]

چي رانيول پر ټوله [ډنډوري] واقع كيږي فَيَتْبَعُ الْقَلِيلُ فِيهِ الْكَثِيرَ نو په هغه كي به لږ د ډېر تابع كيږي وَلَوْحَلَفَ لَايَشْتَرِي رُطَبًا او كه قسم واخلي چي پخه خُرما به نه رانيسي فَاشْتَرَى كِبَاسَةَ بُسْرٍ فِيهَا رُطَبٌ بيا د نيم پخته خرماوو داسي ډونډري رانيسي چي په هغه كي څه پخې خرماوي [هم] وي لَايَحْنَثُ نو نه حانث كيږي لِأَنَّ الشِّرَاءَ يُصَادِفُ الْجُمْلَةَ ځكه چي رانيول پر ټوله [ډنډوري] واقع كيږي وَالْمَغْلُوبُ تَابِعٌ او مغلوب [لږ] شي [د غالب شي] تابع كيږي وَلَوْكَانَتِ الْيَمِينُ عَلَى الْأَكْلِ او كه قسم پر خوړلو وي [مثلاً داسي يې ويلي وي: په الله قسم! زه به پخه خرما نه خورم] يَحْنَثُ نو [بيا د دې ډنډوري په خوړلو سره] هغه حانث كيږي لِأَنَّ الْأَكْلَ يُصَادِفُهُ شَيْئًا فَشَيْئًا ځكه چي أكل [خوړل] لږ، لږ [په دانه، دانه] پر خرماوو واقع كيږي [يعني مثلاً څوك چي خورما خوري نو په كراره، كراره او په دانه، دانه يې خوري، ټوله ډنډوري په يوه وار نه خوري] فَكَانَ كُلٌّ مِنْهُمَا مَقْصُودًا نو له رطب او بُسر څخه به هر يوه مقصود وي [يعني كله چي په يوه وار ټوله ډنډوري نه خوړل كيږي نو نيم پخته او پخه خرما به جلا، جلا د حالف په لاس كي راسي، نو ځكه به هغه حانث كيږي] وَصَارَ كَمَا إِذَا حَلَفَ لَا يَشْتَرِي شَعِيرًا أَوْ لَا يَأْكُلُهُ او دا [قسم] داسي سو لكه كله چي هغه قسم واخلي چي اوربشي به نه رانيسي يا اوربشي به نه خوري فَاشْتَرَى حِنْطَةً فِيهَا حَبَّاتُ شَعِيرٍ وَأَكَلَهَا بيا هغه غنم رانيسي چي په هغه كي د اُوربشو يو څو داني وي او هغه [غنم] وخوري يَحْنَثُ فِي الْأَكْلِ دُونَ الشِّرَاءِ نو د خوړلو په صورت كي حانث كيږي، نه د رانيولو په صورت كي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ ذكر كړي.

اللغات: ﴿بُسر﴾ نيم پخته خرما، اُومه خرما. ﴿رُطَب﴾ (د راء په ضمه او د طاء په فتحه سره): پخه خُرما، خيشته او تازه خرما، واحد يې رُطَبَة راځي، جمع يې رِطَاب راځي، وچي خرما ته "تَمر" وايي. رَطْب (د طاء په سكون سره): لوند، خيشت، نازك او لوند نباخ. رُطَب او رُطَب: شنه وابنه. ﴿مُذَنِّب﴾ لكى داره شى، هغه اومه خُرما چي په لاندي سر كي يې څه پخوالي راسي. ﴿بُسْر مُذَنِّب﴾ هغه نيم پخته خرما چي په لاندي سر كي يې څه پخوالي او سور والي راسي، نو هغه ته بُسر مذنب وايي. ﴿رُطَب مُذَنِّب﴾ هغه پخه خرما چي په لاندي سر كي يې څه اومه والي پاته وي، نو هغه

ته رطب مذنب وايي. ﴿يُصَادِفُ﴾ د مفاعلې مضارع ده: واقع کېدل. مخامخ کېدل. ﴿كِبَاسَة﴾ ډنډوري، وابنکی. ﴿حَبَّات﴾ جمع د حَبَّةٌ ده: دانه.

تشريح: مسئله: دا ده که يو څوک قسم واخلي چي زه به نيم پخته خُرماوي (کجوري) نه خورم. او بيا هغه تازه پخې خرماوي وخوري نو نه حانث کيږي. ځکه چي پخه خرما له نيم پخته خرما څخه جلا شی ده. او محلوف عليها نيم پخته خرما (بُسر) وو. نه پخه خرما (رطب).

که يو سړی قسم واخلي چي زه به رطب يا بُسر نه خورم. يا داسي قسم واخلي چي زه به رطب او بُسر دواړه نه خورم. بيا هغه داسي خرما وخوري چي فقط لاندي سرېي څه پوخ سوی وی (يعني بُسر مُذنب وخوري)، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هغه حانث کيږي. لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په دې هکله تفصيل سته او هغه دا دی چي که هغه د رطب نه خوړلو قسم اخيستی وي. نو د بُسر مذنب په خوړلو سره نه حانث کيږي. او که هغه د بُسر نه خوړلو قسم اخيستی وی. نو د رطب مذنب په خوړلو سره نه حانث کيږي. ځکه چي رطب مذنب ته رطب وايي. او بُسر مذنب ته بُسر وايي. نو ګواکي په دې دواړو صورتونو کي هغه له محلوف عليه شي څخه بغير جلا او بېل شی خوړلی دی. او د غير محلوف عليه شي په خوړلو سره حالف نه حانث کيږي. نو ځکه به په دې صورتونو کي حالف نه حانث کيږي.

وله إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د رطب مذنب په لاندي سر کي معمولي غوندي اُومالي وي او د بسرِ مذنب په لاندي سر کي معمولي غوندي پخوالي وي. لهذا د رطب مذنب خوړونکي به د بُسر خوړنکي وي او د بُسر مذنب خوړونکي به د رطب خوړونکی وي؛ ځکه چي په دواړو خرماوو کي د يوې او بلي خرما څه غوندي حصه سته او په دواړو کي أکل مقصود دی. نو ځکه به په دواړو صورتونو کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حالف حانث کيږي. ځکه چي له محلوف عليه شي څخه لږ اندازه خوراک کول هم د حانث کېدلو سبب دی. او دلته لږ خوړل ثابت سو.

د دې په خلاف که يو څوک دا قسم واخلي چي رطب (پخې خرماوي) به نه رانيسم. بيا هغه د نيم پخته خرماوو يو ډنډوری رانيسي او په هغه کي څه رطب خرماوي هم وي. نو حالف نه حانث کيږي. ځکه کله چي يو ډنډوری رانيول کيږي نو ټوله او بشپړ ډنډوری رانيول کيږي. او په هغه کي قليل د کثير تابع کيږي او مغلوب کيږي. او بل دا چي د حالف نيت د نيم پخته خرماوو رانيول دي. او د هغه په ډنډوري کي ضمناً څه رطب خرماوي راغلي دي. او د ضمناً ثابتېدونکي شي سره قسم نه متعلق کيږي.

ها! كه هغه دا قسم اخيستى وي چي رطب خرماوي به نه خورم. بيا د بُسر خرماوو داسي ډنډورى وخوري چي په هغه كي رطب خرماوي هم وي. نو حانث كيږي. ځكه چي خوړل په يوه وار نه متحقق كيږي (يعني ټوله ډنډورى په يوه وار نه خوړل كيږي) بلكي په لږ. لږ او دانه. دانه سره خوړل كيږي. او په خوړلو كي په آسانه توګه بُسر او رطب سره جلا كېداى سي (او بل دا چي كله خرماوي په دانه. دانه سره خوړل كيږي. نو د حالف په لاس او خوراك كي به رطب خرما جلا راسي). نو ځكه به په دې صورت كي د رطب په خوړلو سره حالف حانث كيږي. لكه يو څوک چي قسم واخلي چي اُوربشي به نه رانيسم. او هغه داسي غنم رانيسي چي په هغه كي د اُوربشو يو څو داني هم راغلي وي. نو څرنګه چي دا دانې په ضمني توګه پكښي راغلي دي او د هغو رانيول مقصود نه دي. نو ځكه به حالف نه حانث كيږي. لېكن كه قسم د خوړلو سره متعلق وي. يعني حالف داسي ويلي وي چي په الله قسم! زه به اوربشي نه خورم او بيا حالف د غنمو سره د اُوربشو دري. څلور دانې وخوري. نو حانث كيږي. ځكه چي خوړل پر يوه ځاى نه واقع كيږي او د خوړلو په دوران كي د غنم او اُوربشو امتياز او توپير كېداى سي او دواړه سره جلا كېداى سي. همداسي حكم به د رطب او بُسر هم وي چي د شراء (رانيولو) په صورت كي به حالف نه حانث كيږي. او د خوړلو په صورت كي به حانث كيږي.

د غوښو نه خوړلو تر قسم وروسته د ماهي غوښي خوړل

قَالَ: وَلَوْحَلَفَ لَا يَأْكُلُ لَحْمًا فَأَكَلَ لَحْمَ السَّمَكِ فرمايي: كه يو څوک قسم واخلي چي غوښي به نه خوري او [بيا] د ماهي غوښي وخوري لَا يَحْنَثُ نو [استحساناً] نه حانث كيږي وَالْقِيَاسُ: أَنْ يَحْنَثَ او قياس دا دى: چي حانث سي لِأَنَّهُ يُسَمَّى لَحْمًا فِي الْقُرْآنِ ځكه چي د ماهي غوښو ته په قرآن كي غوښي ويل سوي دي وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ التَّسْمِيَةَ مَجَازِيَّةٌ د استحسان دليل دا دى: چي د ماهي غوښو ته غوښي ويل مجاز دي [يعني هغه ته مجازاً غوښي ويل سوي دي] لِأَنَّ اللَّحْمَ مُنْشَؤُهُ مِنَ الدَّمِ ځكه چي غوښي له ويني څخه پيدا كيږي وَلَا دَمَ فِيهِ او په ماهي كي وينه نسته لِسُكُونِهِ فِي الْمَاءِ ځكه چي هغه په اوبو كي اوسيږي وَإِنْ أَكَلَ لَحْمَ خِنْزِيرٍ أَوْ لَحْمَ إِنْسَانٍ او كه دغه حالف د خنزير يا انسان غوښي وخوري يَحْنَثُ نو حانث كيږي لِأَنَّهُ لَحْمٌ حَقِيقِيٌّ ځكه چي دا حقيقي غوښي دي إِلَّا أَنَّهُ حَرَامٌ خو دا [جلا خبره ده] چي دا حرامي دي وَالْيَمِينُ قَدْ يُعْقَدُ لِلْمَنْعِ مِنَ الْحَرَامِ او قسم كله نا كله له حرام شي څخه د ځان ساتلو لپاره اخيستل كيږي وَكَذَا إِذَا أَكَلَ كَبِدًا أَوْ كَرِشًا او همدارنګه

[هغه حانث كيږي] كله چې اينه يا لرى [او دلبند] وخوري لِأَنَّهُ لَحْمٌ حَقِيقَةً ځكه چې دا په حقيقت كې غوښې دي فَإِنَّ نُمُوَّهُ مِنَ الدَّمِ ځكه چې د دې وده او نما په وينو سره ده وَيُسْتَعْمَلُ اسْتِعْمَالَ اللَّحْمِ او د غوښو په څير استعماليږي وَقِيلَ: فِي عُرْفِنَا لَا يَحْنَثُ او ويل سوي دي: چې زموږ په عرف كې به نه حانث كيږي لِأَنَّهُ لَا يُعَدُّ لَحْمًا ځكه چې دا [زموږ په عرف كې] غوښې نه شمارل كيږي.

اللغات: ﴿لَحم﴾ غوښه، جمع: لُحُوم. ﴿سَمَك﴾ ماهي، كب، جمع: أَسمَاک. ﴿مَنشَأ﴾ د اسم ظرف صيغه ده: د پيدا كېدلو ځاى، د وده كولو ځاى. ﴿كَبِد﴾ اينه، ايينه (ينه)، ځيګر. ﴿كِرْش﴾ او كَرِش: لرى، د ښكاريو معده. ﴿نُمُوّ﴾ د نصر مصدر دى: وده كول، غټېدل (لويېدل).

تشريح: مسئله: دا ده كه يو څوك داسې قسم واخلي چې غوښې به نه خورم، بيا هغه د ماهي غوښې وخوري، نو استحساناً نه حانث كيږي، لېكن قياساً حانث كيږي؛ د قياس دليل دا دى چې د ماهي پر غوښو هم د لحم (غوښو) اطلاق كيږي، لكه څرنګه چې په قرآن كې هغه ته غوښې ويل سوي دي، په سورةُ الفاطر كې ذكر سوي دي: "وَمِنْ كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا" [سورةُ الفاطر: ١٢]. په دې آيت كې د ماهي غوښې ته لحم طري (تازه غوښې) ويل سوي دي، نو ځكه به حالف د ماهي د غوښې په خوړلو سره هم حانث كيږي.

د استحسان دليل دا دى چې د ماهي غوښو ته مجازاً غوښې ويل سوي دي، ځكه غوښې له وينو څخه پيدا كيږي، او په ماهي كې هيڅ وينه نه وي، ځكه چې ماهى په اوبو كې اوسيږي، او د وينې والا حيوان په اُوبو كې نه اوسيږي، په دې سلسله كې يو دا اُصول هم دى چې كه يو لفظ پر څو أفرادو مشتمل وي، نو په كوم فرد كې چې څه كمي او كوتاهي وي، هغه تر دې لفظ لاندې نه راځي (يعني ناقصې معنىٰ والا فرد په هغه لفظ كې نه شامليږي)، او څرنګه چې د لَحم (غوښو) لفظ پر ډېرو أفراد او أقسامو مشتمل دى، او د ماهي په غوښه كې د وينې د نشتوالي په وجه د هغې په لحميت (غوښه والي) كې څه كمي اونقصان سته، نو ځكه به د لَحم لفظ د ماهي غوښو ته نه شامليږي، او حالف به د ماهي د غوښو په خوړلو سره نه حانث كيږي. (عنايه)

وإن أكل إلخ: فرمايي كه حالف د خنزير يا انسان غوښې وخوري، نو حانث كيږي، ځكه چې د دوى غوښې هم په حقيقت كې لَحم دي، او دا جلا خبره ده چې د دوى غوښې خوړل حرام دي، لېكن په دوى كې لحميّت موجود دى، او د دوى حرامېدل د يمين له صحيحوالي او حانثوالي څخه مانع نه

وي، ځکه چې کله. کله له حرام شي څخه د ځان ساتلو لپاره هم قسم اخيستل کيږي. لکه څرنګه چې ويل کيږي: په الله قسم! زه به هيڅکله شراب نه څښم.

وكذا إلخ: مسئله دا ده که دغه حالف (کوم چې د غوښې نه خوړلو قسم اخيستى وي) د يو ځاروي اينه وخوري. يا لرى او دلبند وخوري، نو هم حانث کيږي؛ ځکه چې اينه. لرى او دلبند هم په حقيقت کې غوښې دي، ځکه دا شيان له وينو څخه جوړيږي او په وينو سره يې وده کيږي او دوى هم د غوښو په ځير او د غوښو پر ځاى استعماليږي. نو ځکه به د غوښو په حکم کې وي او د دوى په خوړلو سره به هم حالف حانث کيږي.

وقيل فى عرفنا إلخ: فرمايي چې د ځينې فقهاؤ رايه دا ده چې د اينې او لرې په خوړلو سره حانث کېدل د کوفې د خلکو عُرف دى، نو د هغوى په عرف کې خو به حالف حانث کيږي. لېکن زموږ په عرف کې به حالف نه حانث کيږي. ځکه چې موږ په عرف کې اينه او لرى لَحَم نه دى. نه د نامه په اعتبار سره او نه د کار په اعتبار سره. همدا وجه ده چې د اينې، لرې او دلبند خرڅونکي ته غوښه خرڅونکى (لحم فروش) نه وايي. صاحب د بنايې ليکلي دي چې زموږ د عرف په اعتبار سره دا قول صحيح معلوميږي، په خلاصة الفتاوىٰ او محيط کې هم دغه حکم ذکر سوى دى. (بناية ج:۶، ص: ۸۱)

د وازګې نه خوړلو قسم

قَالَ: وَلَوْحَلَفَ لَا يَأْكُلُ أَوْ لَا يَشْتَرِىْ شَحْمًا فرمايي: او که [يو څوک] قسم واخلي چې وازګه به نه خوري يا به يې نه رانيسي **لَمْ يَحْنَثْ إِلَّا فِى شَحْمِ الْبَطْنِ عِنْدَ أَبِى حَنِيفَةَ** نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هغه فقط د نس په وازګې سره حانث کيږي **وَقَالَا** ❁ **: يَحْنَثُ فِى شَحْمِ الظَّهْرِ أَيْضًا** صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د ملا په وازګې سره هم حانث کيږي **وَهُوَ اللَّحْمُ السَّمِيْنُ لِوُجُوْدِ خَاصِيَّةِ الشَّحْمِ فِيْهِ وَهُوَ الذَّوْبُ بِالنَّارِ** او هغه [د ملا وازګه] پنډه غوښه ده چې په هغې کې د وازګې خاصيت موجود دى او هغه په اُور سره ويلي کېدل دي **وَلَهُ: أَنَّهُ لَحْمٌ حَقِيقَةً** د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چې د ملا وازګه په حقيقت کې غوښه ده **أَلَا تَرَى أَنَّهُ يَنْشَأُ مِنَ الدَّمِ وَيُسْتَعْمَلُ اسْتِعْمَالَهُ** آيا ته نه ګورې! چې

❁ القول الراجح: قول أبى حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر فى رد المحتار (ج:۳، ص:۱۰۰)، وكذا فى الهندية: ولو حلف لا يأكل شحمًا، فأكل شحم البطن حنث، وإن أكل شحم الظهر وهو الذى خالطه لحم لم يحنث عند أبى حنيفة، وهو الصحيح (ج:۲، ص:۸۴). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۱۲]

هغه له وړنې څخه پیدا کیږي او د غوښو په څیر استعمالیږي وَتَحْصُلُ بِهٖ قُوَّتُهٗ او په هغه سره د غوښې قوت [غذا] حاصلیږي وَلِهٰذَا يَحْنَثُ بِأَكْلِهٖ فِي الْيَمِيْنِ عَلٰى أَكْلِ اللَّحْمِ همدا وجه ده چې د غوښو خوړلو په قسم کې د ملا د وازګې په خوړلو سره حالف حانث کیږي وَلَا يَحْنَثُ بِبَيْعِهٖ فِي الْيَمِيْنِ عَلٰى بَيْعِ الشَّحْمِ او د وازګې خرڅولو په قسم کې د وازګې په خرڅولو سره نه حانث کیږي وَقِيْلَ: هٰذَا بِالْعَرَبِيَّةِ او ویل سوي دي چې دا اختلاف په عربي ژبه کې دی فَأَمَّا اسْمُ "پِيَه" بِالْفَارِسِيَّةِ لَا يَقَعُ عَلٰى شَحْمِ الظَّهْرِ بِحَالٍ لیکن د فارسي د "پِیَه" لفظ په هیڅ حال کې هم د ملا پر وازګې نه واقع کیږي وَلَوْ حَلَفَ لَا يَشْتَرِيْ أَوْ لَا يَأْكُلُ لَحْمًا أَوْ شَحْمًا او که هغه قسم واخلي چې غوښې یا وازګه به نه رانیسي یا به یې نه خوري فَاشْتَرَى أَلْيَةً أَوْ أَكَلَهَا بیا هغه لم رانیسي لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کیږي لِأَنَّهٗ نَوْعٌ ثَالِثٌ ځکه چې لم دریم [جلا] قسم دی حَتّٰى لَا يُسْتَعْمَلَ اسْتِعْمَالَ اللُّحُوْمِ وَالشُّحُوْمِ همدا وجه ده چې لم د غوښې او وازګې په څیر نه استعمالیږي.

اللغات: ﴿شَحْم﴾ وازګه، وازده، ﴿سَمِيْن﴾ پنډ، چاغ، ﴿ذَوْب﴾ د نصر مصدر دی: ویلي کېدل (ویلېدل)، مایع کېدل (ټینګ شی د اُور په واسطه نری کېدل)، ﴿پِيَه﴾ په فارسي ژبه کې "خالص وازګې" ته وایي، ﴿أَلْيَة﴾ لم، د پسونو او میږو پلنه لکۍ.

تشریح: مسئله: دا ده که یو سړی قسم واخلي چې وازګه به نه خورم یا وازګه به نه رانیسم، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز له دې څخه فقط د نس وازګه مرادیږي، یعني فقط د نس د وازګې په خوړلو سره هغه حانث کیږي، لیکن له نس څخه بغیر د ملا او داسي نورو په وازګې سره نه حانث کیږي، او د صاحبینو په نېز دا قسم د ملا وازګې ته هم شاملیږي، او د هغه په خوړلو سره هم حالف حانث کیږي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چې د ملا په وازګه کې هم د وازګې خاصیت (یعني په اُور سره ویلېدل) موجود دي، نو ځکه به هغه هم د شَحْم تر لفظ لاندې داخل وي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چې د ملا وازګه په حقیقت کې غوښه ده، ځکه چې ① هغه له وړنو څخه پیدا کیږي، او د غوښې په څیر استعمالیږي او د غوښو په څیر په خوند خوړل کیږي، ② او بل دا چې که څوک قسم واخلي چې غوښې به نه خورم، نو د هغه د ملا د وازګې په خوړلو سره حانث کیږي، ③ او که قسم واخلي چې وازګه به خرڅوم، نو د ملا د وازګې په خرڅولو سره نه حانث

کيږي، نو ثابته سوه چي د ملا وازګه غوښه ده او د غوښي په حکم کي ده. نو ځکه به حالف د هغه په خوړلو سره حانث کيږي.

قيل هذا إلخ: فرمايي چي د امام صاحب او صاحبينو دا اختلاف په هغه صورت کي دی. کله چي حالف په عربي ژبه سره د شَحم لفظ استعمال کړی وي او قسم يې اخيستی وي، او که چيري هغه په فارسي ژبه سيږ د "پِيه" لفظ استعمال کړی وي، نو په دې صورت کي بالاتفاق فقط د نس وازګه مراديږي، او د ملا وازګي ته دا لفظ نه شامليږي، ځکه چي په فارسي کي "پِيه" خالص وازګي ته وايي، او د ملا وازګه خالص وازګه نه ده.

که يو شوک قسم واخلي چي زه به غوښي يا وازګه نه رانيسم، يا به يې نه خورم، بيا هغه د پُسه لَم رانيسي يا يې وخوري، نو نه حانث کيږي، ځکه چي لم د غوښي او وازګي شخه يلاّخ يو دريم شی دی، نه په هغه کي د غوښي شه حصه سته، او نه د وازګي، او نه هغه د غوښي او وازګي پر ځای استعماليږي، نو ځکه به حالف د هغه په خوړلو سره نه حانث کيږي.

فايده: وازګه پر شلور قسمه ده: ① هغه وازګه کوم چي د هډوکو سره لګېدلې وي. ② هغه وازګه چي د کولمو سره موښتې وي. ③ د ملا وازګه، په همدې دريو قسمونو کي د امام صاحب او صاحبينو اختلاف دی. ④ د نس وازګه. په دې کي زموږ د امامانو هيڅ اختلاف نسته.

د غنمو د نه خوړلو قسم

وَمَنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هَذِهِ الْحِنْطَةِ او شوک چي قسم واخلي چي له دې غنمو شخه به خوراک نه کوم لَمْ يَحْنَثْ حَتَّى يَقْضَمَهَا نو نه حانث کيږي تر دې چي هغه دا غنم په ژوولو سره وخوري [يعني هغه وخت حانث کيږي کله چي دا غنم وژويي او وېې خوري] وَلَوْ أَكَلَ مِنْ خُبْزِهَا او که له دې غنمو شخه [پخه سوې] ډوډۍ وخوري لَمْ يَحْنَثْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو [هم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نبز نه حانث کيږي وَقَالَا: إِنْ أَكَلَ مِنْ خُبْزِهَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: که له دې غنمو شخه [پخه سوې] ډوډۍ وخوري حَنِثَ أَيْضًا نو هم حانث کيږي [الکه شرنګه چي د غنمو د ژوولو او خوړلو په صورت کي حانث کيږي] لِأَنَّهُ مَفْهُومٌ مِنْهُ عُرْفًا ځکه چي په عرف کي له دې [يمين] شخه د ډوډۍ خوړل [هم] فهمول کيږي [او يمين پر عرف مبني دی] وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ لَهُ حَقِيقَةً مُسْتَعْمَلَةً د امام صاحب دليل دا دی: چي د غنمو لپاره حقيقت مستعمله سته [يعني د غنم خوړلو حقيقي

معنیٰ هم مستعمله ده. لنډه دا چي په حقیقت کي په خپله غنم هم استعمالیږي ا فَإِنَّهَا تُغْلَى وَتُقْلَى وَتُؤْكَلُ قَضْمًا ځکه چي غنم ایشول کیږي او وریتول کیږي [ننې کیږي] او دژوولو په توګه خوړل کیږي وَهِيَ قَاضِيَةٌ عَلَى الْمَجَازِ الْمُتَعَارَفِ عَلَى مَا هُوَ الْأَصْلُ عِنْدَهُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله د اُصول مطابق حقیقت پر عُرفي مجاز فیصله کونکی [او له عُرفي مجاز څخه أعلیٰ] وي وَلَوْ قَضَمَهَا حَنِثَ عِنْدَهُمَا او که حالف غنم په ژوولو سره وخوړي نو هغه [هم] د صاحبینو په نېز ادمجاز د عموم په وجه] حانث کیږي ایعني که څه هم د صاحبینو په نېز مجازاً له غنمو څخه ډوډۍ مرادیږي. لیکن په مجاز کي عموم سته. او دا عموم " په ژوولو سره خوړلو" ته هم شامل دی. د دې مثال داسي دی چي یو څوک قسم واخلي چي د فلانکي سړي په کور کي به قدم نه اېږدم، نو د مجاز د عموم په وجه له داسي قسم څخه دخول مرادیږي. نو کله چي هم حالف هغه کور ته قدم داخل کړي، نو حانث کیږي، که څه هم لڅ قدم کښیږدي، یا پر یو شي سپور وي او د هغه قدم کور ته داخل سي، او د متن په دې عبارت "وقالا: إن أكل من خبزها حنث أيضاً" کي همدغه د مجاز د عموم وطرف ته اشاره سوې ده] هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحیح ده لِعُمُومِ الْمَجَازِ د مجاز د عموم والي په وجه كَمَا إِذَا حَلَفَ لَا يَضَعُ قَدَمَهُ فِي دَارِ فُلَانٍ لکه هغه چي [داسي] قسم واخلي چي د فلانکي په کور کي به قدم نه ایږدي [نو که هغه له څپلۍ څخه بغیر قدم پکښې کښیږدي یا د سپرتیا په حالت کي یې قدم پکښې داخل سي نو بیا هم حانث کیږي] وَإِلَيْهِ الْإِشَارَةُ بِقَوْلِهِ فِي الْخُبْزِ حَنِثَ أَيْضًا او همدغه [د مجاز د عموم] وطرف ته د امام قدوري په دې قول کي اشاره سوې ده چي د ډوډۍ په خوړلو سره هم حانث کیږي.

اللغات: ﴿حِنْطَة﴾ غنم. ﴿يَقْضَمهَا﴾ د سمع له باب څخه د واحد مذکر غائب مضارع صیغه ده: د غاښو په أطرافو یو شی میده کول. ژوول. ﴿خُبْز﴾ ډوډۍ (روټۍ). ﴿تُغْلَى﴾ د ضرب مضارع مجهوله ده: ایشوول. جوش ورکول. ﴿تُقْلَى﴾ د نصر مضارع مجهوله ده: وریتول. کبابول. په اُور کي پخول.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی که یو څوک قسم واخلي چي زه به غنم نه خورم. نو تر هغه وخته پوري نه حانث کیږي، تر څو چي یې غنم ژوولي او خوړلي نه وي. ځکه چي د یو شي د خوړلو عمل هغه وخت واقع کیږي کله چي وژوول سي، "أکل" (خوراک کول) هم یو عمل دی. د هغه لپاره درې شیان ضروري دي: ① ژوول. ② تیرول. ③ نس ته رسول.

په پورتني صورت کي د امام صاحب او صاحبینو اختلاف دی (کوم چي په کتاب کي ذکر سو)، د اختلاف وجه دا ده چي د کوم لفظ حقیقي او مجازي دواړي معناوي مرادول کېدای سي. نو د امام

صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به هغه لفظ په حقيقي معنیٰ کي استعماليږي. لېکن د صاحبينو په نيز به په مجازي معنیٰ کي استعماليږي. څرنګه چي د "أکل" حقيقي معنیٰ په ژوولو سره د يو شي د خوړلو تقاضا کوي، نو ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز چي تر څو غنم په ژوولو سره نه وخوړل سي. تر هغه وخته پوري حالف نه حانث کيږي، برابره ده غنم که ايشول سوي وي. يا په اُور کي کباب سوي (نيني سوي) وي، ځکه چي دا هم په ژوولو سره خوړل کيږي. لهذا (دلته) د "أکل" حقيقي معنیٰ لره زياته ترجيح سته. (ياته عبارت په ترجمه کي تشريح سو)

د پورتني مسئلې يو څو نور صورتونه

وَلَوْحَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هٰذَا الدَّقِيقِ فرمايي: او که [يو څوک] قسم واخلي چي له دغه اُوړو څخه به خوراک نه کوي فَأَكَلَ مِنْ خُبْزِهٖ بيا د هغه اُوړو ډوډۍ وخوري حَنِثَ نو حانث کيږي لِأَنَّ عَيْنَهٗ غَيْرُ مَأْكُولٍ ځکه چي عين اُوړه نه خوړل کيږي فَانْصَرَفَ إِلٰى مَا يُتَّخَذُ مِنْهُ نو د هغه شي وطرف ته به قسم راجع کيږي کوم چي له اُوړو څخه جوړيږي [چي هغه ډوډۍ او ټکياني دي. يعني په دې صورت کي به له قسم څخه هغه شی مراديږي کوم چي له اُوړو څخه جوړيږي. د دې مثال دا دی لکه يو څوک چي قسم واخلي: چي له دغه درختي څخه به خوراک نه کوم، نو په دې صورت کي د درختي ميوه مراديږي، ځکه چي عين درخته نه خوړل کيږي، بلکي ميوه يې خوړل کيږي] وَلَوِاسْتَفَّهٗ كَمَا هُوَ او که حالف خودي هغه اُوړه کپه کړي [يعني خولې ته يې واچوي او ژوندي يې تېر کړي] لَا يَحْنَثُ نو نه حانث کيږي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح دي لِتَعَيُّنِ الْمَجَازِ مُرَادًا ځکه چي [په اُوړو کي] مجازي معنیٰ مرادول متعين دي [يعني په عرف کي د اُوړو خوړلو څخه د اُوړو ډوډۍ خوړل مرادول کيږي. د اُوړو ژوندي تېرول او اُوړه کپه کول نه څني مرادول کيږي. نو ځکه به دلته له اُوړو څخه د هغوی ډوډۍ مراد وي، که حالف ډوډۍ وخوري نو حانث کيږي به. کني نه به حانث کيږي] وَلَوْحَلَفَ لَا يَأْكُلُ خُبْزًا او که قسم واخلي چي ډوډۍ به نه خوري فَيَمِينُهٗ عَلٰى مَا يَعْتَادُ أَهْلُ الْمِصْرِ أَكْلَهٗ خُبْزًا نو د ده قسم به د هغه ډوډۍ سره متعلق وي کوم چي يې د ښار خلک عادتاً خوري وَذٰلِكَ خُبْزُ الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ او هغه د غنمو او اُوربشو ډوډۍ ده لِأَنَّهٗ هُوَ الْمُعْتَادُ فِي غَالِبِ الْبُلْدَانِ ځکه چي په زياتره ښارونو کي د همدې [دوو شيانو د ډوډۍ خوړلو] عادت دی اخلاصه دا چي د حالف په ښار کي چي د کوم شي ډوډۍ خوړل کيږي، نو د مطلق ډوډۍ له قسم څخه به د هغه شي ډوډۍ مراديږي او د هغه په خوړلو سره به حانث کيږي. لېکن که هغه د يو بل شي ډوډۍ وخوري کوم چي په عامه توګه نه خوړل کيږي

مثلاً زموږ په سیمو کي داُوربشو ډوډۍ. نو په هغه سره حالف نه حانث کیږي ا**وَلَوْأَكَلَ مِنْ خُبْزِالْقَطَائِفِ** او که د مغزونو والا ډوډۍ وخوري [کوم چي له ډول ډول مغزونو او د غنمو له اُوړو ځخه د ټکۍ (روغانۍ) په شکل په غوړو کي سره کیږي] **لَايَحْنَثُ** نو نه حانث کیږي **لِأَنَّهُ لَايُسَمّٰى خُبْزًا مُطْلَقًا** ځکه چي دې ته مطلق ډوډۍ نه وايي [بلکي د مغزونو ټکۍ او ډوډۍ ورته وايي] **إِلَّاإِذَانَوَاهُ** مګر دا چي د حالف ذ هغه نیت کړی وي [یعني که حالف د هغه ټکۍ نیت هم کړی وي. نو بیا یې په خوړلو سره حانث کیږي] **لِأَنَّهُ مُحْتَمَلُ كَلَامِهِ** ځکه د هغه په کلام کي د دې احتمال [هم] سته [ځکه چي دا هم یو ډول ډوډۍ ده له اُوړو او مغزونو ځخه جوړیږي. او دا تاسي ته هم معلومه ده چي د کلام د احتمالي معنیٰ نیت کول معتبر دی] **وَكَذَالَوْأَكَلَ خُبْزَالْأُرْزِ بِالْعِرَاقِ** او همدارنګه که په عراق کي د وریجو ډوډۍ وخوري [یعني که یو سړی داسي قسم اخیستی وي چي زه به ډوډۍ نه خورم او بیا په داسي وطن کي د وریجو ډوډۍ وخوري چي هلته د وریجو ډوډۍ خوړل رواج نه وي] **لَمْ يَحْنَثْ** نو نه حانث کیږي **لِأَنَّهُ غَيْرُ مُعْتَادٍ عِنْدَهُمْ** ځکه چي د عراقیانو په نیز د دې عادت نسته [یعني د عراق په خلګو د وریجو د ډوډۍ خوړل رواج او عادت نه دي. او قسم پر عرف او رواج مبني دي] **حَتّٰى لَوْ كَانَ بِطَبَرِسْتَانَ أَوْفِي بَلْدَةٍ طَعَامُهُمْ ذٰلِكَ** تر دې که حالف په طبرستان کي وي یا په داسي ښار کي چي د هغو خوراک د وریجو ډوډۍ وي [او حالف هلته د وریجو ډوډۍ وخوري] **يَحْنَثُ** نو حانث کیږي.

اللغات: ﴿**إِسْتَفَّ**﴾ د استفعال ماضي ده: کپه کول (خولې ته اچول، ژوندۍ تېرول)، میده سوی شی (لکه اُوړه، سفوف، پوډري دواء) خولې ته اچول او تېرول. ﴿**قَطَائِفُ**﴾ دا یو ډول ټکۍ (روغانۍ) ده چي د غنمو له اُوړو او ډول، ډول مغزو خصوصاً د جوز او بادامو ځخه جوړیږي. او د غوا په غوړو (لاسي غوړو) یا په عامو غوړو کي سره کیږي. دا د عربو په ښارونو کي رواج ده خصوصاً د رمضان په میاشته کي زیاته پخیږي. او دا جمع د قَطِيْفَةٌ نه ده لکه ځیني شارحینو چي لیکلي دي. بلکي دا لفظ همدغسي جمع استعمالیږي (معجم الوسيط). ﴿**أُرْزٌ**﴾ او آرُز: وریجي، برنج. **خُبْزُ الأَرُز**: د وریجو له اُوړو ځخه پخه سوی ډوډۍ.

تشریح: عبارت په ترجمه کي تشریح سو.

د کباب سوي یا پوخ سوي شي د نه خوړلو قسم

وَلَوْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ الشِّوَاءَ فَهُوَ عَلَى اللَّحْمِ دُوْنَ الْبَاذِنْجَانِ وَالْجَزَرِ او که څوک قسم واخلي چي کباب سوی [او سور کړی] شی به نه خوري نو هغه [فقط] پر غوښو حمل کیږي. نه پر بانجڼ او زردکي لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ اللَّحْمُ الْمَشْوِيُّ عِنْدَ الْإِطْلَاقِ ځکه چي [د شواء] د مطلق ویلو په وخت کي په هغه سره کباب سوي غوښي مرادیږي إِلَّا أَنْ يَنْوِيَ مَا يُشْوٰى مِنْ بِيضٍ أَوْ غَيْرِهٖ خو دا چي حالف [په دې سره] د کباب سوي هګۍ او داسي نورو نیت وکړي لِمَكَانِ الْحَقِيقَةِ ځکه چي دا [د شواء] حقيقي معنیٰ ده وَإِنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ الطَّبِيْخَ او که قسم واخلي چي پوخ سوی شی به نه خورم فَهُوَ عَلَى مَا يُطْبَخُ مِنَ اللَّحْمِ نو دا قسم [فقط] پر پخي کړل سوو غوښو حمل کیږي [محمول کیږي] وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ اعْتِبَارًا لِلْعُرْفِ او د عرف په اعتبار کولو سره دا استحسان دی وَهٰذَا لِأَنَّ التَّعْمِيمَ مُتَعَذِّرٌ او دا ځکه چي په عمومي اعتبار سره هر مطبوخ [پاخه سوي شي] ته قسم شاملېدل مشکل دي فَيُصْرَفُ إِلَى خَاصٍّ هُوَ مُتَعَارَفٌ وَهُوَ اللَّحْمُ الْمَطْبُوخُ بِالْمَاءِ نو ځکه به قسم د داسي خاص مطبوخ شي وطرف ته ګرځول کیږي کوم چي په عرف کي مشهوره وي او هغه [خاص شی] په اوبو سره پخي کړل سوي غوښي دي إِلَّا إِذَا نَوٰى غَيْرَ ذٰلِكَ خو دا چي کله حالف له دې څخه بغیر [د بل شي] نیت کړی وي لِأَنَّ فِيهِ تَشْدِيدًا ځکه چي په دې کي [په خپله پر حالف] سختي سته وَإِنْ أَكَلَ مِنْ مَرَقِهٖ او که هغه د دې [مطبوخه غوښو] ښوروا وخوري يَحْنَثُ نو [هم] حانث کیږي لِمَا فِيهِ مِنْ أَجْزَاءِ اللَّحْمِ ځکه چي په ښوروا کي د غوښو اجزاء وي وَلِأَنَّهُ يُسَمّٰى طَبِيْخًا او ځکه چي ښوروا ته [هم] پخه کړی سوې ویل کیږي [یعني ښوروا هم پخول کیږي او خلک هغه مطبوخ شی شماري، نه غیر مطبوخ] وَمَنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ الرُّءُوسَ او که یو څوک قسم واخلي چي سرونه به نه خوري فَيَمِينُهُ عَلَى مَا يُكْبَسُ فِي التَّنَانِيرِ وَيُبَاعُ فِي الْمِصْرِ نو د هغه قسم پر هغه سرونو حمل کیږي کوم چي په تنور کي [د الویلو لپاره] اچول کیږي او په ښار [بازار] کي خرڅیږي [چي هغه د غوایي، پسه او داسي نورو سرونه دي. او د چرګي، هیلي او داسي نورو سرونه په بازار کي الېیل سوي نه خرڅیږي] وَيُقَالُ: يُكْنَسُ او [کله. کله د يُكْبَسُ پر ځای] يُكْنَسُ ویل کیږي [د دې معنیٰ هم داخلول او اچول دي] وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَلَوْ

حَلَفَ لَايَأْكُلُ رَأْسًا او په جامع صغير كي ذكر سوي دي: او كه [يو څوک] قسم واخلي چي سر به نه خوري فَهُوَعَلىٰ رُءُوسِ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا قسم د غوايي او پُسه [او داسي نورو] پر سرونو حمل كيږي وَقَالَ أَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: عَلَى الْغَنَمِ خَاصَّةً او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي خاص [فقط] د پُسه [بزې او داسي نورو] پر سرو به حمل كيږي وَهٰذَا اخْتِلَافُ عَصْرٍ وَزَمَانٍ او دا [صرف] د وخت او زماني اختلاف دی كَانَ الْعُرْفُ فِي زَمَنِهِ فِيهِمَا [ځكه چي] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په زمانه كي په دواړو كي عرف وو وَفِي زَمَنِهِمَا فِي الْغَنَمِ خَاصَّةً او د صاحبينو په زمانه كي خصوصاً په پُسه كي عرف وو وَفِي زَمَانِنَا يُفْتَى عَلىٰ حَسَبِ الْعَادَةِ او زموږ په زمانه كي به د عادت [او عرف] مطابق فتویٰ وركول كيږي كَمَا هُوَ الْمَذْكُورُ فِي الْمُخْتَصَرِ لكه په مختصرُ القدوري چي هم داسي ذكر سوي دي.

اللغات: ﴿يُكْبَسُ﴾ د ضرب مضارع مجهوله ده: ننه باسل، داخلول (دننه كول)، ټېل وهل، اچول، مطلب يې الويل (اليږل) او وريتول دي، ﴿يُكْنَسُ﴾ دا هم د ضرب مضارع مجهوله ده: داخلول، دننه كول (د دې دواړو بابونو نوري معناوي هم راځي، خو دلته يې همدغه معناوي مراد وي، او مطلب يې الويل دي (كوم ته چي پر اُور كړول هم وايي)، ﴿التَّنُّورُ﴾ تنور، تندور، د ډوډۍ پخولو ځاى، صاحب د مصباح يې داسي تفسير كړى دی "التَّنُّوْرُ: الَّذِيْ يُخْبَزُ فِيهِ، وَافَقَتْ فِيهِ لُغَةُ الْعَرَبِ لُغَةَ الْعَجَمِ وَقَالَ أَبُو حَاتِمٍ لَيْسَ بِعَرَبِيٍّ صَحِيحٍ وَالْجَمْعُ التَّنَانِيرُ"، ﴿الْغَنَمُ﴾ دا لفظ پُسه، سېرلي، وزګړي، مېنده، مېږي او بزې (وزې) ټولو ته شامليږي، صاحب د معجم لغة الفقهاء يې داسي تعريف كړى دى "لَا وَاحِدَ لَهُ مِنْ لَفْظِهِ، اِسْمٌ يَشْمَلُ الشَّاءَ وَالْمَاعِزَ"، الشَّاء عموما پُسونو ته وايي او مَاعِز وزګړو (سېرليانو) ته وايي، او صاحب د معجم الوسيط يې داسي تعريف كړى دی: الْقَطِيْعُ مِنَ الْمَعْزِ وَالضَّأْنِ (د وزو او پُسونو رمه)، مَعْز وزو (بزو) ته وايي او ضَأْن پسونو او مېږو ته وايي، د قَطِيْع معنىٰ ده رمه.

تشريح: مسئله: دا ده كه يو څوک قسم واخلي چي كباب سوى او سور كړى شى به نه خوري، نو دا قسم د كباب سوو غوښو سره متعلق كيږي، او د كباب سوو غوښو په خوړلو سره حالف حانث كيږي، ليكن د كباب سوي او سور كړي بانجڼ، زردكه او رومي په خوړلو سره نه حانث كيږي، ځكه كله چي په عربي كي شواء (كباب سوى او سور كړى شى) ذكر سي، نو له هغه څخه كباب سوې

غوښې مرادیږي. هاں! که حالف د سره کړي او کباب سوي هګۍ د نه خوړلو نیت کړی وي. نو دا نیت هم د هغه په قسم کې شاملیږي او هغه کباب سوي هګۍ په خوړلو سره حانث کیږي. ځکه چې دا د حالف د کلام حقیقي منعی ده. او د شواء صفت په دې هګۍ کې موجود دی. لیکن څرنګه چې د شواء لفظ د کباب سوي هګۍ لپاره زیات متعارف نه دی. نو ځکه په قسم کې د هغه د شاملېدلو لپاره نیت ضروري دی. او له نیت څخه بغیر دا معنیٰ د قسم سره نه متعلق کیږي.

وإن حلف إلخ: او که یو څوک قسم واخلي چې پوخ سوی شی به نه خورم. نو د عرف په اعتبار سره به استحساناً له هغه څخه پخې سوې غوښې مرادیږي. ځکه چې په پاخه سوي شیانو کې عموم دی. او د هر پوخ سوي شي سره د قسم متعلق کول او د هغه وطرف ته د قسم ګرځول ناممکن دي. نو ځکه به له هغه څخه یو داسې خاص پوخ کړی سوی شی مرادیږي کوم چې متعارف وي (یعني په عرف کې مشهور وي او په عرف کې زیات کارول کیږي). او د عربو په عرف کې له دې څخه هغه غوښې مرادیږي کوم چې په اوبو سره پخې سوې (یعني د بوړ او ښوروا غوښې). نو ځکه به فقط هغه مرادیږي. هاں! که حالف په دې سره د بل شي نیت هم کړی وي نو د هغه تصدیق به کیږي. ځکه چې د هغه په کلام کې د بل د شي د معنیٰ احتمال سته. او د بل شي په مرادولو سره حالف په خپله پر خپل ځان تشدید او سختي کوي. نو ځکه به د هغه د نیت کولو په صورت کې احتمالي معنیٰ هم مرادیږي (او قاضي به د هغه تصدیق کوي). او که حالف د غوښو ښوروا وخوري. نو هم حانث کیږي. ځکه چې په ښوروا کې د غوښو اجزاء موجود دي. او ښوروا هم پخول کیږي. او هغې ته هم طبیخ ویل کیږي.

ومن حلف إلخ: که یو څوک قسم واخلي چې زه به سرونه (رُؤس) نه خورم. نو له دې څخه به د ذبح کړی سوي څارویانو یعني د پسه، سېرلي، غوایي او داسې نور سرونه او د هغو مازغه مراد وي. ځکه چې د همدې شیانو سرونه او پښې په بازار کې الېیل سوي او تیار سوي خرڅیږي (د چرګې، هیلۍ او داسې نورو سرونه نه خرڅول کیږي). په جامع صغیر کې ذکر سوي دي که یو څوک قسم واخلي چې سر به نه خورم. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز له دې څخه د غوایي، سېرلي او پسه سر مرادیږي او د صاحبینو په نیز له دې څخه فقط د پسه او سېرلي سر مرادیږي (دا خبره په یاد لرئ! چې د غَنَم لفظ اسم جنس دی. د دغه ټوله څارویانو ته شاملیږي: پسه، مېږه، سېرلی، بزه). د امام صاحب او صاحبینو دا اختلاف د دوی د خپلې زمانې پر عرف مبني دی. د امام صاحب رَحِمَهُ الله په زمانه کې به له سر څخه د غوایي. پسه او داسې نورو سرونه مرادېدل (لکه اوس چې زموږ په سیمو کې هم دغه عُرف دی). او د صاحبینو په زمانه کې به د سر إطلاق فقط د پسه او داسې نورو پر سرونو کېدی. نو ځکه صاحبینو قسم د رَأْسُ الغَنَمِ سره متعلق کړی دی. لهذه دا چې زموږ په زمانه کې به د عرف او عادت مطابق فتویٰ ورکول کیږي. او په کومه علاقه کې چې له سر (رَأْس) څخه د کومو څارویانو سرونه مرادیږي. هلته به د هغه مطابق فیصله کیږي.

د مېوې نه خوړلو قسم

قَالَ: وَمَنْ حَلَفَ لَايَأْكُلُ فَاكِهَةً [امام محمد رَحِمَهُ الله] په جامع صغير کي فرمايلي دي: که يو څوک قسم واخلي چي مېوه به نه خوري [يعني مطلق قسم واخلي او داسي ووايي: په الله قسم مېوه به نه خورم] فَأَكَلَ عِنَبًا أَوْ رُمَّانًا أَوْ رُطَبًا أَوْ قِثَّاءً أَوْ خِيَارًا بيا هغه انګور، يا انار، يا تازه خرما، يا چمبر خيال، يا بادرنګ وخوري لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي وَإِنْ أَكَلَ تُفَّاحًا أَوْ بِطِّيخًا أَوْ مِشْمِشًا او که سېب، يا خټکی [او هندوانه]، يا کشمش [وچکي، کبنتي او داسي نور] وخوري حَنِثَ نو حانث کيږي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَ أَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ ✿: حَنِثَ فِي الْعِنَبِ وَالرُّطَبِ وَالرُّمَّانِ أَيْضًا او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله فرمايلي دي: چي د انګورو، تازه خرما او دانارو په خوړلو سره هم حانث کيږي وَالْأَصْلُ: أَنَّ الْفَاكِهَةَ اسْمٌ لِمَا يُتَفَكَّهُ بِهِ قَبْلَ الطَّعَامِ وَبَعْدَهُ او د دې مسئلې اصل دا دی: چي مېوه داسي شي ته وايي چي په هغه سره تر ډوډۍ مخکي يا وروسته خوند [مزه] حاصليږي أَيْ يُتَنَعَّمُ بِهِ زِيَادَةً عَلَى الْمُعْتَادِ يعني [داسي شي ته وايي] چي په هغه سره تر عادت کړی سوي شي زيات عيش او عشرت [مېله او چړچه] کيږي [او خوندي پري اخيستل کيږي] [يعني خلګ چي عموماً کوم شيان خوري په هغه سره دومره خوند نه اخلي لکه په هغه شي سره، داسي شي ته فاکهه وايي] وَالرُّطَبُ وَالْيَابِسُ فِيهِ سَوَاءٌ بَعْدَ أَنْ يَكُونَ التَّفَكُّهُ بِهِ مُعْتَادًا او په دې [معتاده] مېوه کي لنده او وچه مېوه دواړه سره برابر دي په دې شرط چي په هغه سره عادتاً خوند [او مزه] اخيستل کيږي [د دې جملې مطلب همدا دی] حَتَّى لَايَحْنَثَ بِيَابِسِ الْبِطِّيخِ تر دې چي په وچ خټکي [او هندوانه] سره حالف نه حانث کيږي [ځکه چي وچ خټکی او هندوانه فاکهه نه ده، يعني په هغوی سره په عامو ښارونو کي تفکه او تنعم نه حاصليږي، ها! که په هغوی سره په يو ځای کي تفکه او تنعم حاصلول معتاد وي، نو بيا حانث کيږي] وَهَذَا الْمَعْنَى مَوْجُودٌ فِي التُّفَّاحِ وَأَخَوَاتِهِ او دا معنیٰ د سېب او د سېب سره په مشابهو مېوو [مثلاً انګور، زردالو او داسي نورو] کي

✿ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله ، کما قال العلامة ابن عابدين: وأما عندهما فهی فاکهة نظراً للأصل، وعليه الفتوی (رد المحتار ج:٣، ص:١٠٣)، وقال فی الهندية: قال الفقيه ابو الليث: بقولهما نأخذ للفتوی، لأنه أظهر (الهندية ج:٢، ص:٨٨). [القول الراجح ج:١، ص:٢١٣]

موجود ده [يعني په دوی کې د تفکّه ستته، او که دا ميوې وچې سي، نو هم د تفکّه معنیٰ پکښې پاتيږي] فَيَحْنَثُ بِهَا نو د داسې مېوو په خوړلو سره به هغه حانث کيږي وَغَيْرُ مَوْجُودٍ فِي الْقِثَّاءِ وَالْخِيَارِ او دا [د تفکّه] معنیٰ په چمبرخيال او بادرنګو کې موجود نه ده لِأَنَّهُمَا مِنَ الْبُقُولِ بَيْعًا وَأَكْلًا ځکه چې دا شيان د خرڅلاو او خوراک په اعتبار له سبزيجاتو [سابه جاتو] څخه دي [يعني دا شيان خلک د سبزيجاتو په نامه خرڅوي او خوري] فَلَا يَحْنَثُ بِهِمَا نو ځکه به د دوی په خوړلو سره نه حانث کيږي وَأَمَّا الْعِنَبُ وَالرُّطَبُ وَالرُّمَّانُ فَهُمَا يَقُولَانِ إِنَّ مَعْنَى التَّفَكُّهِ مَوْجُودٌ فِيهَا لیکن د انارو. تازه خرماوو او د انګور په باره کې صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې د تفکّه معنیٰ په دوی کې هم موجود ده فَإِنَّهَا أَعَزُّ الْفَوَاكِهِ ځکه چې دا له ټولو څخه غوره [او خوندوري] مېوې دي وَالتَّنَعُّمُ بِهَا يَفُوقُ التَّنَعُّمَ بِغَيْرِهَا او په دې مېوو سره عيش [او خوند] حاصلول لوړ [او أعلیٰ] دي په نورو مېوو سره د عيش تر حاصلولو [يعني په دې مېوو سره تر نورو مېوو زيات خوند او مزه اخيستل کيږي] وَأَبُو حَنِيفَةَ يَقُولُ: إِنَّ هَذِهِ الْأَشْيَاءَ مِمَّا يُتَغَذَّى بِهَا وَيُتَدَاوَى بِهَا او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په دې مېوو سره غذا حاصليږي او علاج او درملنه په کيږي [يعني دا ميوې فقط د تفکّه او غذا لپاره نه استعماليږي، بلکې د تداوي او علاج په توګه هم استعماليږي] فَأَوْجَبَ قُصُورًا فِي مَعْنَى التَّفَكُّهِ نو په دې وجه د دوی د تفکّه په معنیٰ کې نقصان [او کمي] ثابته سوه لِلِاسْتِعْمَالِ فِي حَاجَةِ الْبَقَاءِ ځکه چې د ژوندي پاتېدلو په ضرورت کې [هم دوی] استعماليږي [يعني ځکه چې دوی د تداوي او درمل په توګه هم مستعمل دي] وَلِهَذَا كَانَ الْيَابِسُ مِنْهَا مِنَ التَّوَابِلِ أَوْ مِنَ الْأَقْوَاتِ همدا وجه ده چې له دوی څخه کومې مېوې وچې سي نو هغه د مسالې [دارو] په توګه يا د خوراک [او غلې] په توګه استعماليږي [لهذا په دې مېوو کې په پوره توګه د تفکّه (خوند اخيستلو) او مېوه والي معنیٰ پاتې نه سوه. نو ځکه به د دوی په خوړلو سره حالف نه حانث کيږي].

اللغات: ﴿فَاكِهَة﴾ مېوه. ﴿قِثَّاء﴾ چمبرخيال (دا معنیٰ يې أردو شارحينو کړې ده). ﴿خِيَار﴾ بادرنګ. ﴿بِطِّيخ﴾ دا لفظ چې کله مطلق ذکر سي، نو اسمِ جنس وي او خټکي او هندوانه دواړه ځني مراديږي. صاحب د معجمُ العربي يې داسې تعريف کړی دی: "بِطِّيخ: نَبَاتٌ يَمْتَدُّ حِبَالًا عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ. ثَمَرُهُ لَذِيذٌ مُرَطِّبٌ. لَهُ قِشْرَةٌ قَاسِيَةٌ خَضْرَاءُ. وَلُبٌّ أَحْمَرُ أَوْ أَصْفَرُ أَوْ أَخْضَرُ" (المعجم العربي الميسر

ص:١٥١). ﴿يَتَفَكَّهُ﴾ د تفعّل مضارع ده: خوند اخيستل، مزه اخيستل. ﴿يَتَنَعَّمُ﴾ د تفعّل مضارع ده: عيش او عشرت کول، مېله کول (چړچې وهل، مزې کول). خوند او مزه اخيستل. ﴿مُعْتَادُ﴾ د افتعال اسمِ مفعول دی، او اسمِ فاعل يې هم پر دغه وزن راځي، دلته څني مراد مفعولي معنیٰ ده. يعني: عادت کړی سوی شی، د عادت مطابق، د معمول مطابق، او فاعلي معنیٰ يې ده: روږد، هغه کس چې د يو شي سره عادت وي. ﴿تَوَابِلُ﴾ مساله جات، دارو او درمل. ﴿أَقْوَات﴾ جمع د قُوْتٌ ده: خوراک، د خوړلو شی.

تشريح: مسئله په عبارت کي تشريح سوه.

د "کتغ" نه خوړلو قسم

قَالَ: وَلَوْ حَلَفَ لَا يَأْتَدِمُ [امام محمد په جامع صغير کي] فرمايي: او که يو څوک قسم واخلي چې کتغ [المده بل] به نه خوري ايعني که يوڅوک ووايي: په الله قسم! زه به کتغ او سالن نه خورم] فَكُلُّ شَيْءٍ اُصْطُبِغَ بِهِ فَهُوَ إِدَامٌ نو هر هغه شی چې په هغه سره [ډوډۍ] ولړل سي [او تېره کړی سي] نو هغه إدام دی [يعني إدام په عربي کي هر هغه شي ته وايي چې خلک په هغه سره ګوله لړي، او ګوله په لندوي چې تېره کړی سي، چې هغه ته زموږ په اصطلاح کتغ، سالن، او لمده بل وايي، نو په دې شيانو سره دغه حالف حانث کيږي] وَالشِّوَاءُ لَيْسَ بِإِدَامٍ او کباب سوی شی إدام نه دی [ځکه چې هغه له ډوډۍ څخه بغير هم خوړل کيږي] وَالْمِلْحُ إِدَامٌ او مالګه إدام دی [ځکه چې په دې سره هم ډوډۍ لړل کيږي، يعني په مالګه کي هم خلک ډوډۍ لت پت کوي او ګوله ور سره لګوي بيا يې خوري، خصوصاً په پخوا زمانه کي] وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ او دا قول د شيخينو رَحِمَهُمَا الله [ظاهر روايت] دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ ۞: كُلُّ مَا يُؤْكَلُ مَعَ الْخُبْزِ غَالِبًا فَهُوَ إِدَامٌ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چې هر هغه شی کوم چې په عامه توګه د ډوډۍ سره خوړل کيږي، هغه إدام دی وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي يُوسُفَ او دا له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه هم يو روايت دی [او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول هم دی] لِأَنَّ الْإِدَامَ مِنَ الْمُوَادَمَةِ وَهِيَ الْمُوَافَقَةُ ځکه چې د إدام لفظ له مودامت څخه مشتق دی چې د هغه معنیٰ "موافق کېدل" دي ايعني "يو شي د بل

۞. القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:١٠٤)، وكذا في الهندية (ج:٢، ص:٨٨)، وكذا في البحر الرائق (ج:٤، ص:٣٢٥)، [القول الراجح، ج:١، ص:٢١٢]

شي سره يو ځای کېدل" ا وَكُلُّ مَا يُؤْكَلُ مَعَ الْخُبْزِ مُوَافِقٌ لَهُ كَاللَّحْمِ وَالْبِيْضِ وَنَحْوِهِ او کوم شی چي د ډوډۍ سره خوړل کيږي هغه ډوډۍ سره موافق دی لکه غوښي، هګۍ او داسي نور النده چي د صاحبينو په نيز هر هغه شي ته إدام وايي کوم چي د ډوډۍ سره خوړل کيږي او په ډوډۍ کي راپورته کيږي. نو په دې اعتبار سره غوښې او هګۍ هم إدام دی، ځکه چي دا شيان د ډوډۍ سره خوړل کيږي ا وَلَهُمَا: أَنَّ الْإِدَامَ مَا يُؤْكَلُ تَبَعًا د شيخينو دليل دا دی: چي إدام په عرف کي داسي شي ته وايي کوم چي ا د ډوډۍ سره ا د تابع شي په توګه خوړل کيږي ايعني کوم چي د ډوډۍ تابع کړی سي او وخوړل سي ا وَالتَّبَعِيَّةُ فِي الْاِخْتِلَاطِ حَقِيقَةٌ او تابع کېدل په ګډېدلو ا لت پت کولو ا کي حقيقت دی ايعني تابع کېدل په حقيقت کي ګډولو او لړلو ته وايي چي ډوډۍ په يو شي ګډه او ولړل سي ا لِيَكُونَ قَائِمًا بِهِ د دې لپاره چي إدام د هغه سره قائم ا او موجود ا سي ايعني د دې لپاره چي هغه شی (إدام) د ډوډۍ سره ولګيږي او ګوله په لنده کړی سي ا وَفِي أَنْ لَا يُؤْكَلَ عَلَى الْاِنْفِرَادِ حُكْمًا او ابل تابع کېدل ا حکماً دي او هغه دا دی چي اډوډۍ ا يوازي نه وخوړل سي ابلکي فقط د يو شي سره يو ځای کړی سي ا وَتَمَامُ الْمُوَافَقَةِ فِي الْاِمْتِزَاجِ أَيْضًا او بشپړ موافقت ايو ځای کېدل ا په پوره ګډون ا او لړلو ا کي دی ا د شيخينو د دليل حاصل دا دی چي إدام هغه شی ته وايي کوم چي د بل شي تابع سي او وخوړل سي، او حقيقتاً تابع دې ته وايي چي د يو شي سره ګډ سي او په ولړل سي، او کوم شی چي يوازي نه خوړل کيږي، هغه هم حکماً تابع دی. او پوره موافقت او متابعت په هغه صورت کي ثابتيږي کله چي متبوع او تابع (ډوډۍ او إدام) بنه سره يو ځای کړي سي چي هغه ته د ډوډۍ لړل، لنده کول يا لت پت کول وايي.

نو ځکه به له إدام څخه همدغه شی مراد وي ا وَالْخَلُّ وَغَيْرُهُ مِنَ الْمَائِعَاتِ لَا يُؤْكَلُ وَحْدَهُ او سرکه او نور باريک شيان يوازي نه خوړل کيږي بَلْ يُشْرَبُ بلکي چيښل کيږي ايعني سرکه إدام دی. ځکه چي هغه هم يوازي نه خوړل کيږي. بلکي د اوبو تابع کيږي. يعني د اوبو سره ګډول کيږي او چيښل کيږي ا وَالْمِلْحُ لَا يُؤْكَلُ بِانْفِرَادِهِ عَادَةً او مالګه هم په عامه توګه يوازي نه خوړل کيږي ابلکي د ډوډۍ تابع کيږي يعني د ډوډۍ سره خوړل کيږي. نو ځکه مالګه هم إدام دی ا وَلِأَنَّهُ يَذُوبُ او ځکه چي مالګه ا په کتغ او داسي نورو شيانو کي ا ويلي کيږي ا او د هغه شيانو تابع کيږي ا فَيَكُونُ تَبَعًا نو ځکه به هغه تابع وي ا او إدام تابع شي ته وايي. نو ځکه به مالګه إدام وي ا بِخِلَافِ اللَّحْمِ وَمَا يُضَاهِيهِ په خلاف د غوښو او د غوښو په څير نور شيان لِأَنَّهُ يُؤْكَلُ وَحْدَهُ ځکه چي هغه يوازي اهم ا خوړل کيږي إِلَّا أَنْ يَنْوِيَهُ خو دا چي حالف د قسم په

وخت کې د إدام [کتغ] د لفظ سره د غوښو او داسې نورو نيت هم وکړي لِمَا فِيهِ مِنَ التَّشْدِيدِ ځکه چې په دې کې [پر خپل ځان] سختي کول دي [يعني کله چې حالف ووايي چې ما په إدام سره د غوښو نيت هم کړی دی، نو د دې مطلب همدا دی چې هغه په خپله پر خپل ځان سختي کوي، نو ځکه به د حالف د نيت په وخت کې غوښې او د غوښو په څير نور شيان هم د هغه په قسم کې شامليږي، او قاضي به په دې نيت کې د هغه تصديق کوي، ځکه چې هغه په خپله پر خپل ځان تشديد کوي] وَالْعِنَبُ وَالْبِطِّيخُ لَيْسَا بِإِدَامٍ انګور او خټکي [او هندواڼه] إدام نه دی [ځکه چې د دې شيانو سره ډوډۍ نه خوړل کيږي] هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح قول دی.

اللغات: ﴿لَا يَأْتَدِمُ﴾ د افتعال له باب څخه د نفي صيغه ده، اِئْتَدَمَ يَأْتَدِمُ اِئْتِدَامًا: کتغ خوړل، سالن خوړل. ﴿إِدَام﴾ کتغ، سالن، لمده بل (لند بل)، هغه شی چې ډوډۍ ور سره خوړل کيږي (هغه شی چې ګوله په ولړل سي يا پکښې لنده کړی سي چې په خوند او آسانۍ سره تېره کړی سي)، ﴿شِوَاء﴾ کباب سوی شی، سور کړی شی، (په اُور، انګار يا غوړو کې کباب سوی شی)، ﴿بَيْض﴾ اسمِ جنس دی: هګۍ (هګيانې)، يوې هګۍ ته بَيْضَةٌ وايي، ﴿يَذُوبُ﴾ د نصر مضارع ده: ويلې کېدل (ويلېدل)، نرۍ کېدل، ﴿يُضَاهِيهِ﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: مشابه کېدل، ورته کېدل، ﴿بِطِّيخ﴾ (د باء په کسره سره): اسمِ جنس دی: خټکي او هندوانې دواړو ته وايي.

تشريح: عبارت په ترجمه کې تشريح سو.

د سهار چای (ناشته) يا د غرمې د ډوډۍ نه خوړلو قسم

وَإِذَا حَلَفَ لَا يَتَغَدَّى او که څوک [په عربي کې] قسم واخلي چې هغه به غداء نه خوري فَالْغَدَاءُ الْأَكْلُ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ إِلَى الظُّهْرِ نو "غداء" هغه خوراک ته ويل کيږي کوم چې د لمر راختو څخه وروسته د ماپښين تر وخته پوري وي [يعني د سهار چای (ناشتې) او د غرمې ډوډۍ دواړو ته "غداء" وايي، نو که دغه حالف د لمر راختو څخه تر زواله پوري يو شی وخوري، نو حانث کيږي] وَالْعَشَاءُ مِنْ صَلَاةِ الظُّهْرِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ او "عَشاء" د هغه وخت خوراک ته ويل کيږي کوم چې د ماپښين د لمانځه څخه وروسته د شپې تر نيمايي پوري خوړل کيږي لِأَنَّ مَا بَعْدَ الزَّوَالِ يُسَمَّى عِشَاءً ځکه چې تر زوال وروسته وخت ته [په عربي کې] عِشَاء وايي وَلِهَذَا تُسَمَّى الظُّهْرُ إِحْدَى صَلَاتَيِ الْعِشَاءِ فِي الْحَدِيثِ او له همدې وجهې په حديث کې د ماپښين لمانځه ته د عشاء له دوو لمونځونو څخه يو لمونځ ويل سوی دی [يعني همدا وجه ده چې په حديث کې ذکر سوي دي: چې د ماپښين لمونځ د عشاء له دوو لمونځونو

څخه يو لمونځ دی، دا حديث د بخاري او مسلم په كتاب الصلاة، باب السهو كي ذكر سوی دی، نو كه يو څوک قسم
واخلي چي زه به "عَشَاء" نه خورم، نو همدغه وخت به څني مرادوي | وَالسُّحُورُ مِنْ نِصْفِ اللَّيْلِ إِلَى طُلُوعِ الْفَجْرِ
او پېشلمی | يعني د پېشلمي د خوراک وخت | له نيمي شپې څخه تر لمر راختو پوري دی | لِأَنَّهُ مَأْخُوذٌ
مِنَ السَّحَرِ ځكه چي دا لفظ له "سَحَر" څخه را اخيستل سوی دی | چي هغه په عربي كي د شپې آخري
برخي ته وايي، يعني تر صبح صادق لږ څه مخكي وخت | وَيُطْلَقُ عَلَى مَا يَقْرُبُ مِنْهُ او كوم | خوراک | چي د
سَحَر سره نژدې وي | يعني كوم خوراک چي د شپې د آخري حصې سره نژدې خوړل كيږي | پر هغه د سُحور
إطلاق كيږي | مطلب دا چي كوم خوراک چي د شپې د آخري حصې څخه لږ مخكي خوړل كيږي، هغه ته هم
پېشلمی وايي، نو خلاصه يې دا سوه چي د شپې له نيمايي څخه د پېشلمي وخت شروع كيږي، لهذا كه يو څوک
قسم واخلي چي زه به پېشلمی نه كوم، نو هغه وخت به حانث كيږي كله چي د شپې له نيمايي څخه تر صبح صادق
پوري خوراک وكړي | ثُمَّ الْغَدَاءُ وَالْعَشَاءُ مَا يُقْصَدُ بِهِ الشِّبَعُ عَادَةً بيا غداء او عَشاء هغه خوراک ته
وايي چي په هغه سره عادتاً موړ تيا | د نس ډكوالی | مقصود وي | نو كه يو څوک د سهار په وخت كي يا د
ماخوستن په وخت كي فقط دوې ګولې وخوري، نو دې ته غداء او عَشاء نه وايي. بلكي په ماړه نس خوراک ته غداء
او عَشاء وايي | وَتُعْتَبَرُ عَادَةُ أَهْلِ كُلِّ بَلْدَةٍ فِي حَقِّهِمْ او د هر ښار د خلكو په حق كي به د هغو د عادت
| او عرف | اعتبار كيږي | نو كه د يو ښار خلک د سهار په وخت كي وريجي خوري، نو هلته د وريجو په خوړلو
سره "غداء" متحقق كيږي، او كه يو سړی د سهار په وخت كي د خپل ښار د عرف مخالف شی وخوري، نو هغه نه
حانث كيږي، ځكه چي "غداء" ثابته نه سوه | وَيُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونَ أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ الشِّبَعِ او | د غداء او عَشاء
لپاره | شرط دا دی چي هغه به تر نيمي موړ تيا زيات وي | يعني د غداء يا عَشاء قسم اخيستونكی سړی
(حالف) هغه وخت حانث كيږي چي تر نيم زيات موړ سي، فقط په يوه يا دوو ګولو سره نه حانث كيږي | وَمَنْ
قَالَ: إِنْ لَبِسْتُ أَوْ أَكَلْتُ أَوْ شَرِبْتُ فَعَبْدِي حُرٌّ او څوک چي ووايي: كه ما واغوستل يا مي خوراک
وكړی يا مي څښاک وكړی نو زما غلام آزاد دی | يعني د "ثَوب" "د خوراک شی" او "د څښاک شی" په
صراحت سره ذكر نه كړي، نو دا قسم به عام وي او هر شي ته به شامل وي | وَقَالَ: عَنَيْتُ شَيْئًا دُونَ شَيْءٍ | انو كه
وروسته هغه | ووايي: زما مراد هغه شی وو دغه شی نه وو | يعني ووايي: زما په دې سره فلان (مخصوص)
شي مراد وو، او فلان شی مي مراد نه وو | لَمْ يُدَيَّنْ فِي الْقَضَاءِ وَغَيْرِهِ نو قضاءً او ديانتاً | دواړه ډوله | به د هغه
تصديق نه كيږي | خلاصه دا چي مثلاً يو څوک داسي ووايي: كه چيري ما واغوستل نو زما غلام آزاد دی يعني
ثَوب او جامه ذكر نه كړي، او بيا وروسته ووايي چي ما په دې سره فلانكی جامه مراد وه، نو نه به قاضي د هغه تصديق

کوي، نه به دیانتاً د هغه تصدیق کیږي [لِأَنَّ النِّيَّةَ إِنَّمَا تَصِحُّ فِي الْمَلْفُوظِ ځکه چي نیت په هغه شي کي صحیح کیږي کوم چي په لفظ کي [یعني په خوله] ذکر سوی وي [یعني دا سړي هغه وخت نیت کولای سو، کله چي یې د ثَوْب او جامې لفظ په صراحت سره ذکر کړي وای] وَالثَّوْبُ وَمَا يُضَاهِيهِ غَيْرُ مَذْكُورٍ تَنْصِيصًا حالانکي [دلته] جامې او داسي نور [یعني د خوراک او څښاک شی او داسي نور] په صراحت سره نه دي ذکر سوي وَالْمُقْتَضَى لَا عُمُومَ لَهُ او د مقتضیٰ لپاره عموم نه وي [دا دیو سوال جواب دی. سول دا دی چي دلته که څه هم دا شیان (جامې، د خوراک او څښاک شی) په صراحت سره نه دي ذکر سوي، خو د لَبِسْتُ او نورو فعلونو څخه په خپله (اقتضاءً) دا شیان فهمول کیږي یعني لَبِسْتُ او داسي نور (أَكَلْتُ او شَرِبْتُ) په خپله د دې شیانو تقاضا کوي، لهذا په دې شیانو کي د حالف نیت معتبر کېدل پکار دي، نو فرمایي چي که څه هم اقتضاءً دا شیان فهمول کیږي، خو په اقتضاء او تقاضا کي عموم نسته. او د نیت صحیح کېدلو لپاره عموم ضروري دی. نو ځکه به د مخصوص شي نیت کول لغو وي] فَلَغَتْ نِيَّةُ التَّخْصِيصِ فِيهِ نو ځکه به په دې کي د مخصوص شي نیت کول لغو وي وَإِنْ قَالَ: إِنْ لَبِسْتُ ثَوْبًا أَوْ أَكَلْتُ طَعَامًا أَوْ شَرِبْتُ شَرَابًا او که هغه ووایي: که چیري چي ما جامې واغوستې یا مي ډوډۍ وخوړله یا مي د څښاک یو شی وڅیښی [نو زما غلام آزاد دی. او بیا یې د تخصیص نیت او دعویٰ وکړه] لَمْ يُدَيَّنْ فِي الْقَضَاءِ خَاصَّةً نو فقط قضاءً به د هغه تصدق نه کیږي [یعني صرف قاضي به د هغه تصدیق نه کوي، لېکن دیانتاً به د هغه تصدیق کیږي] لِأَنَّهُ نَكِرَةٌ فِي مَحَلِّ الشَّرْطِ ځکه [دلته] چي کوم ألفاظ دغه سړي بیان کړي دي [یعني ثَوْب، طَعَام، او شَرَاب] هغه د شرط په محل کي نکره دي [دا دلیل دی، خلاصه یې دا ده چي دلته تر لَبِسْتُ او نورو فعلونو مخکي إن شرطیه دی، او تر لبستُ وروسته ثوباً (او طعاماً او شراباً) نکره دی، او نکره چي د شرط سره ذکر سي نو د عموم معنیٰ ورکوي، لهذا کله چي په دې شیانو او الفاظو کي عموم راغلی، نو ځکه به د مخصوص شي نیت کول صحیح وي] فَتَعُمُّ نو ځکه به دا الفاظ عام وي فَعَمِلَتْ نِيَّةُ التَّخْصِيصِ فِيهِ او [اوس] به په دوی کي د تخصیص نیت عمل [او غېز] کوي إِلَّا أَنَّهُ خِلَافُ الظَّاهِرِ خو اخرنګه چي [د دې سړي نیت د ظاهر خلاف دی فَلَا يَدِينُ فِي الْقَضَاءِ نو ځکه به قضاءً د دد تصدیق نه کیږي [یعني قاضي به د تخصیص په نیت کي د هغه تصدیق نه کوي].

اللغات: ﴿لَا يَتَغَدّٰى﴾ د تفعّل له باب څخه د نفي صيغه ده: د سهار په وخت کې خوراک کول (په دې معنیٰ کې د سهار ناشته او د غرمې ډوډۍ دواړه داخلیږي). ﴿سُحُوْر﴾ پیشلمی (د شپې په آخري حصو کې خوراک کول)، ﴿السَّحَر﴾ د شپې آخري حصه کوم چې تر صبح صادق څه مخکې وي. صاحب د معجم الوسيط وايي: "السَّحَرُ: آخِرُ اللَّيْلِ قُبَيْلَ الصُّبْحِ". ﴿شِبَع﴾ د فتح مصدر دی: مړېدل (موړ تیا)، نس ډکېدل. ﴿عَنَيْتُ﴾ د ضرب له باب څخه د واحد متکلم صيغه ده: مرادول. مطلب اخیستل. ﴿تَخْصِيْص﴾ د تفعيل مصدر دی: یو شی خاص کول (خاصول). یو شی متعینول (معلومول).

تشريح: مسئله په عبارت کې تشریح سوه.

د "دجلې" له دریاب څخه د اوبو نه چیښلو قسم

وَمَنْ حَلَفَ لَا يَشْرَبُ مِنْ دِجْلَةَ او که یو څوک قسم واخلي چې له "دریائي دجله" څخه به اوبه نه چیښي فَشَرِبَ مِنْهَا بِإِنَاءٍ بیا هغه په لوښي سره اوبه څښي وچیښي لَمْ يَحْنَثْ حَتّٰى يَكْرَعَ مِنْهَا كَرْعًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز نه حانث کیږي تر دې چې د خولې په ذریعه اوبه څښي وچیښي وَقَالَا*: إِذَا شَرِبَ مِنْهَا بِإِنَاءٍ يَحْنَثُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې که په لوښي سره اوبه څښي وچیښي نو [هم] حانث کیږي لِأَنَّهُ الْمُتَعَارَفُ الْمَفْهُومُ ځکه چې همدا په عرف کې مشهور [او] مفهوم دی [يعني له دې څخه په عرف کې "د لوښي په ذریعه د اوبو چیښل" فهمول کیږي] وَلَهُ: أَنَّ كَلِمَةَ مِنْ لِلتَّبْعِيضِ د امام صاحب دلیل دا دی چې د مِنْ کلمه د تبعیض لپاره ده وَحَقِيقَتُهُ فِي الْكَرْعِ او د دې حقیقي معنیٰ د خولې په ذریعه چیښل دي وَهِيَ مُسْتَعْمَلَةٌ او دا حقیقي معنیٰ مستعمله [هم] ده وَلِهٰذَا يَحْنَثُ بِالْكَرْعِ إِجْمَاعًا همدا وجه ده چې د خولې په ذریعه په چیښلو سره حالف بالاتفاق حانث کیږي فَمَنَعَتِ الْمَصِيرَ إِلَى الْمَجَازِ نو د مجاز وطرف ته رجوع کول منع کړی سو ایمني

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۱۰۸). وقال المفتي غلام قادر النعماني: وحاصله أن الحلف قد يكون على النهر وقد يكون على مائها، فلو كان على النهر يحنث بالكرع، ولا يحنث بشرب الماء بالإناء، ولو كان على مائها فيحنث بشرب ماء النهر بأيّ طريق كان وفي أيّ موضع. [القول الراجح ج:۱، ص:۴۱۶]

کله چې دغه حقيقي معنیٰ مستعمله هم ده، نو ځکه به د مجاز وطرف ته رجوع نه کيږي [وَإِنْ كَانَ مُتَعَارَفًا که څه هم [دلته] مجاز متعارف دی وَإِنْ حَلَفَ لَا يَشْرَبُ مِنْ مَاءِ دِجْلَةَ او که [داسي] قسم واخلي چې "د دريائي دجله" له اوبو څخه به چښاک نه کوي فَشَرِبَ مِنْهَا بِإِنَاءٍ او [بيا] په لوښي سره اوبه څني وچيښي حَنِثَ نو حانث کيږي لِأَنَّهُ بَعْدَ الِاغْتِرَافِ بَقِيَ مَنْسُوبًا إِلَيْهِ ځکه چې په لپه کې د اُوبو تر اخيستلو وروسته [هم] دغه اُوبه "دريائي دجلې" ته منسوب پاته سوې [يعني په لوښي کې تر اخيستلو وروسته هم دا د "دجلې" اوبه دي] وَهُوَ الشَّرْطُ او همدا شرط وو فَصَارَ كَمَا إِذَا شَرِبَ مِنْ مَاءِ نَهْرٍ يَأْخُذُ مِنْ دِجْلَةَ نو داسي سو لکه حالف چې د يو داسي والې [ويالې] څخه اوبه چيښلي وي کوم چې له "دجلې" څخه را وتلې وي.

اللغات : ﴿إِنَاء﴾ لوښی، ﴿يَكْرَعُ﴾ د فتح مضارع ده : په خوله سره اوبه چيښل، د خولې په ذريعه اوبه چيښل (يعني اوبو ته ټيټېدل او په خوله سره اوبه چيښل)، صاحب د مصباح يې داسي تعريف کړی دی : "كَرَعَ : شَرِبَ بِفِيهِ مِنْ مَوْضِعِهِ فَإِنْ شَرِبَ بِكَفَّيْهِ أَوْ بِشَيْءٍ آخَرَ فَلَيْسَ بِكَرْعٍ". ﴿تَبْعِيض﴾ د تفعيل مصدر دی : يو شی بعض بعض ګرځول، بعض مرادول (يعني د يو شي يوه حصه مرادول). ﴿مَصِير﴾ د ضرب له باب څخه مصدرِ ميمي دي : ګرځېدل، ﴿إِغْتِرَاف﴾ د افتعال مصدر دی : په لپه اوبه را اخيستل، په لاس اوبه را اخيستل (مراد څني په لپه سره د لوښي ډکول دي).

تشريح : مسئله : دا ده که يو څوک قسم واخلي چې له "دريائي دجله" څخه به اوبه نه چيښم، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز له داسي قسم څخه د خولې په ذريعه د اوبو چيښل مراديږي، او که حالف په لوښي کې اوبه را واخلي نو نه حانث کيږي، ها ! کله چې هغه د دغه درياب سره خوله ولګوي او اوبه څني وچيښي، نو حانث کيږي، د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چې څرنګه د خولې په ذريعه د اوبو په چيښلو سره حانث کيږي، همداسي د لوښي په ذريعه د اوبو په را اخيستلو او چيښلو سره هم حانث کيږي. ځکه چې د خلکو په عرف کې له اوبو چيښلو څخه "د لوښي په ذريعه اوبه چيښل" مرادول کيږي، او قسم (يمين) پر عرف مبني دی، نو ځکه به په دې سره هم حالف حانث کيږي.

وله أن كلمة مِنْ إلخ : د امام صاحب دليل دا دی چې دلته حالف "مِنْ دَجْلَةَ" ويلي دي، او "مِنْ" د تبعيض (بعض والي) لپاره استعماليږي نو د دې حقيقت همدا دی چې حالف له دجلې څخه د خولې په ذريعه اوبه وچيښي، او د صحراء په خلکو کې د دې عادت هم سته چې د حوض او داسي

نورو سره خوله لګوي او اوبه چيښي (يعني د خولې په ذريعه اوبه چيښي). همدا وجه ده چې د خولې په ذريعه د اوبو په چيښلو سره د ټولو په نيز حالف حانث کيږي. نو معلومه سوه چې د خولې په ذريعه چيښل د شُرب (چيښلو) حقيقي معنیٰ ده. او دا حقيقي معنیٰ په خلکو کي مستعمله هم ده. نو دا حقيقت مستعمله سو. نو ځکه به پر همدغه حقيقت عمل کيږي او د مجاز و طرف ته به رجوع کول صحيح نه وي. او د لوښي په ذريعه به د اوبو په چيښلو سره حالف نه حانث کيږي.

د دې په خلاف که حالف دا قسم واخلي چي زه به د "دريائي دجله" اوبه نه چيښم. او بيا هغه د لوښي په ذريعه د دې درياب اوبه را واخلي او ويې چيښي، نو د ټولو په نيز حانث کيږي. ځکه چي دغه اُوبه په هر حالت کي د "دجلې" وطرف منسوب دي. هغه که په لوښي کي را وخيستل سي. يا په لپه کي را وخيستل سي. او د حانث کېدلو شرط همدا وو چي هغه به د "دجلې" اوبه نه چيښي. لهذا کله چي شرط موجود سو. نو مشروط (حانث کېدل) هم به موجوديږي او حالف به حانث کيږي. د دې مثال داسي دی لکه دغه حالف چي له هغه والې (نهر) څخه اوبه وچيښي کوم چي له "دجلې" څخه راغلې وي. نو په دې صورت کي هم هغه حانث کيږي. ځکه چي په هغه واله کي هم د "دجلې" اوبه را رواني دي.

د قسم يو ځانګړی صورت

وَمَنْ قَالَ: إِنْ لَمْ أَشْرَبِ الْمَاءَ الَّذِي فِي هٰذَا الْكُوزِ الْيَوْمَ او که يو څوک ووايي: که زه نن ورځ هغه اوبه نه وچيښم کوم چي په دې کوزه کي دي فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ نو زما ښځه طلاقه ده وَلَيْسَ فِي الْكُوزِ مَاءٌ او په کوزه کي اوبه نه وي لَمْ يَحْنَثْ نو حالف نه حانث کيږي فَإِنْ كَانَ فِيهِ مَاءٌ فَأُهْرِيقَ قَبْلَ اللَّيْلِ [ليکن] که په هغه کوزه کي اوبه وي او د شپې [تر راتلو] مخکي توی کړی سي [چپه کړی سي] لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا [حکم] د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ◆: يَحْنَثُ فِي ذٰلِكَ كُلِّهِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چي په دې ټولو صور تونو کي حانث کيږي يَعْنِي إِذَا مَضَى الْيَوْمُ يعني کله چي ورځ تېره سي وَعَلَىٰ هٰذَا الْخِلَافِ إِذَا كَانَ الْيَمِينُ بِاللهِ

◆ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله ، كما ذكر في الدر المختار (ج:٣، ص:١٠٩)، وكذا في الهندية (ج:٢، ص:٩٥)، وكذا في البحر الرائق (ج:۴، ص:٣٩٢). [القول الراجح ج:١، ص:٢١٧]

تَعَالٰى او پر پر همدغه اختلاف دي كله چي قسم په الله سره [اخيستل سوى] وي وَأَصْلُهُ: أَنَّ مِنْ شَرْطِ اِنْعِقَادِ الْيَمِيْنِ وَبَقَائِهِ التَّصَوُّرُ عِنْدَهُمَا او ددې اصل دا دى: چي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د قسم د منعقد كېدلو او د هغه د باقي پاتېدلو شرط دا دى چي د قسم پوره كولو تصوّر به وي ايعني د هغه پوره كول به متصوّر وي، يا ددې جملې معنىٰ دا ده: چي د قسم د منعقد كېدلو او د هغه د باقي پاتېدلو لپاره د قسم د كېدلو تصوّر هم ضروري دى (يعني د قسم د باقي پاتېدلو اسباب به هم موجود وي او د هغه د پوره كېدلو تصوّر به كېداى سي) دا دويمه معنىٰ ده، خو موږ د اولي معنىٰ مطابق تشريح كوو] خِلَافًا لِأَبِيْ يُوْسُفَ په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله لِأَنَّ الْيَمِيْنَ إِنَّمَا تُعْقَدُ لِلْبِرِّ ځكه چي قسم د پوره كولو لپاره منعقد كيږي فَلَا بُدَّ مِنْ تَصَوُّرِ الْبِرِّ نو د پوره كولو تصوّر ضروري دى لِيُمْكِنَ إِيْجَابُهُ ددې لپاره چي د قسم ثابتول ممكن وي وَلَهُ أَنَّهُ أَمْكَنَ الْقَوْلُ بِانْعِقَادِهِ مُوْجِبًا لِلْبِرِّ عَلٰى وَجْهٍ يَظْهَرُ فِيْ حَقِّ الْخَلَفِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي د قسم منعقد كېدلو خبره كول ممكنه ده په دې توګه چي هغه پر داسي طريقه د بِرّ ايعني د قسم پوره كولو] مُوجِب وي چي د بِرّ په خليفه كي د هغه اثر ښكاره سي وَهُوَ الْكَفَّارَةُ او د بِرّ خليفه كفاره ده قُلْنَا: لَا بُدَّ مِنْ تَصَوُّرِ الْأَصْلِ لِيَنْعَقِدَ فِيْ حَقِّ الْخَلَفِ موږ وايو چي د أصل [يعني د بِرّ] تصوّر ضروري دي، ددې لپاره چي د خليفه په حق كي هغه منعقد كړى سي وَلِهٰذَا لَا يَنْعَقِدُ الْغَمُوْسُ مُوْجِبًا لِلْكَفَّارَةِ او له همدې وجهي يمين غموس د كفارې د موجب [او سبب] په توګه نه منعقد كيږي [يعني همدا وجه ده چي د دروغو قسم كفاره نه واجبوي، ځكه چي د دروغ كېدلو په وجه په هغه كي د قسم پوره كولو هيڅ تصوّر نه سي كېداى] وَلَوْ كَانَتِ الْيَمِيْنُ مُطْلَقَةً فَفِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ لَا يَحْنَثُ عِنْدَهُمَا وَعِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ يَحْنَثُ فِي الْحَالِ او كه چيري قسم مطلق وي نو په اول صورت كي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز حالف نه حانث كيږي او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز في الحاله [اسمدستي] حانث كيږي وَفِي الْوَجْهِ الثَّانِيْ يَحْنَثُ فِيْ قَوْلِهِمْ جَمِيْعًا او په دويم صورت كي د ټولو په نېز حانث كيږي فَأَبُوْ يُوْسُفَ فَرَّقَ بَيْنَ الْمُطْلَقِ وَالْمُوَقَّتِ نو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په مطلق [خالي عن اليوم] صورت او مؤقت [مقيد باليوم] صورت كي فرق كړى دى وَوَجْهُ الْفَرْقِ: أَنَّ التَّوْقِيْتَ لِلتَّوْسِعَةِ او وجه د فرق دا ده چي وخت مقرر كول اليَوْم ذكر كول] د پراخولو لپاره وي ايعني دلته يَوْم ذكر كول تر

مانامه پورې قسم وسیع کول دي] فَلَا يَجِبُ الْفِعْلُ إِلَّا فِي آخِرِ الْوَقْتِ نو ځکه به فعل د وخت په آخري

اجزاء] کې واجبيږي فَلَا يَحْنَثُ قَبْلَهُ او تر دې مخکې به حالف نه حانث کیږي وَفِي الْمُطْلَقِ يَجِبُ الْبِرُّ

كَمَا فَرَغَ او په مطلق [خالي عن اليوم] صورت کې چې ځرنګه حالف له قسم څخه فارغ سي [په

هغه کړي پر هغه] د قسم پوره کول واجبيږي وَقَدْ عَجَزَ حالانکې حالف [له دې څخه] عاجز دی

[ځکه چې محلوف علیه نسته، یعني په کوزه کې اوبه نسته] فَيَحْنَثُ فِي الْحَالِ نو ځکه به فی الحاله

[سمدستي] حانث کیږي وَهُمَا فَرَّقَا بَيْنَهُمَا او طرفينو رَحِمَهُمَا الله [هم] په مطلق او مؤقت صورت

کې فرق کړی دی وَوَجْهُ الْفَرْقِ: أَنَّ فِي الْمُطْلَقِ يَجِبُ الْبِرُّ كَمَا فَرَغَ او وجه دفرق يې دا بيان کړې [ده:

چې په مطلق صورت کې چې ځرنګه حالف له قسم څخه فارغ سي [په هغه کړي پر هغه] قسم

پوره کول واجب دي فَإِذَا فَاتَ الْبِرُّ بِفَوَاتِ مَا عُقِدَ عَلَيْهِ الْيَمِينُ [لیکن] کله چې د محلوف علیه د

فوتېدلو په وجه د قسم پوره کول فوت سو يَحْنَثُ فِي يَمِينِهِ نو [ځکه] به حالف حانث کیږي كَمَا إِذَا

مَاتَ الْحَالِفُ وَالْمَاءُ بَاقٍ لکه کله چې حالف مړ سي او اوبه [په کوزه کې] پاتې وي أَمَّا فِي الْمُؤَقَّتِ

فَيَجِبُ الْبِرُّ فِي الْجُزْءِ الْأَخِيرِ مِنَ الْوَقْتِ او په مؤقت کې صورت کې د وخت په آخري جزء کې د قسم

پوره کول واجبيږي وَعِنْدَ ذٰلِكَ لَمْ تَبْقَ مَحَلِّيَّةُ الْبِرِّ لِعَدَمِ التَّصَوُّرِ [حال دا چې] د آخري جزء په

وخت کې د قسم پوره کولو محليّت نه پاتيږي، د تصوّر د معدوم کېدلو [ختمېدلو] په وجه فَلَا

يَجِبُ الْبِرُّ فِيهِ نو په دې وجه به د هغه پوره کول واجب نه وي فَتَبْطُلُ الْيَمِينُ او قسم به باطليږي كَمَا

إِذَا عَقَدَهُ ابْتِدَاءً فِي هٰذِهِ الْحَالَةِ لکه په هغه صورت کې [اچې قسم باطليږي] کله چې هغه په دې

حالت کې ابتداءً قسم منعقد کړی وي [یعنې لکه په هغه صورت کې چې هم قسم باطليږي کله چې له شروع

څخه په کوزه کې اوبه نه وي او حالف قسم واخلي].

اللغات: ﴿الْكُوْزُ﴾ کوزه (هغه لاستي لرونکی یا بې لاستي لوښی چې له خاورېا مسو څخه جوړ وي

او د چينبلو اوبه پکښې ساتل کیږي). ﴿أُرِيْقَ﴾ د افعال ماضي مجهوله ده: بيول (بهول). ﴿مَضٰى﴾ د

ضرب ماضي ده. د دې باب دوې معناوې دي: تېرېدل (وخت تېرېدل). ﴿البِرّ﴾ د سمع او ضرب

مصدر دی: قسم پوره کېدل. قسم پوره کول. له قسم څخه بري کېدل. ﴿إِيْجَاب﴾ د افعال مصدر دی:

ثابتول، واجبول. ﴿تَوْقِيْت﴾ د تفعيل مصدر دی: وخت مقرر کول (وخت ټاکل). ﴿تَوْسِعَة﴾ د تفعيل مصدر دی: پراخول (پراخي کول). ګنجائش ورکول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که یو څوک داسې قسم واخلي چې: که ما نن په دغه کوزه کې موجوده اوبه نه وڅیښلې، نو زما ښځه پر ما طلاق ده (یعني طلاق د کوزې د اوبو پر نه څیښلو معلق کړي)، حالانکې په هغه (مشارٌإليه) کوزه کې هیڅ اوبه نه وي، نو حالف نه حانث کیږي. هغه که حالف ته دا معلومه وي او که نه وي چې په دې کوزه کې اوبه نشته. لیکن که په کوزه کې اوبه وي. خو د شپې تر راتللو مخکې هغه یو بل څوک څپه کړي (توی کړي)، نو هم د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نیز حالف نه حانث کیږي. لیکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز په دې ټولو صورتونو کې حالف حانث کیږي. هغه که په دې کوزه کې اوبه یا نه وي. په هر صورت کې د ورځې تر تیریدلو وروسته حالف حانث کیږي. او که هغه په خپل کلام کې طلاق ذکر کړی نه وي. بلکې د الله قسم یې ذکر کړی وي مثلاً هغه ویلي وي "والله لا أشرب الماء الذي في هٰذا الكُوز اليوم". نو دا مسئله هم د طرفینو او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په مینځ کې مختلف فیه ده.

صاحب د هدایې فرمایي چې د دې اختلاف اصل او بنیاد دا دی چې د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د قسم د منعقد کیدلو او د هغه د باقي پاتیدلو لپاره دا شرط دی چې حالف به د قسم پوره کولو تصور کړی وي. لیکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز دا تصور شرط نه دی. د طرفینو دلیل دا دی چې قسم فقط د پوره کولو لپاره اخیستل کیږي او منعقد کیږي.

د طرفینو دلیل دا دی چې کله هم حالف قسم واخلي، نو ښکاره خبره ده چې هغه منعقد سو. اوس که هغه د پوره کولو (بَرّ) تصور کړی نه وي. بیا به هم د خلیفه یعني د کفارې په حق کې دا قسم مُوجِب للبَرّ وي. او د دغه قسم سره به د کفارې وجوب متعلق وي (که څه هم حالف د دې قسم د پوره کولو تصور کړی نه وي)، ځکه چې د قسم پوره کولو د تصور هیڅ ضرورت نشته. لیکن صاحب د هدایې د طرفینو رَحِمَهُمَا الله له طرفه امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ته دا جواب ورکړی دی چې د قسم پوره کول أصل دي. او د قسم نه پوره کولو په صورت کې د کفارې وجوب د دې أصل خلیفه دی. او ښکاره خبره ده چې کله د أصل تصور سوی نه وي. نو د هغه د خلیفه تصور هم کیدلای نه سي. نو ځکه مورد د أصل یعني د قسم د پوره کولو تصور ضروري ګرځولی دی. او څرنګه چې په یمین غموس کې د قسم پوره کولو نوم او نښان هم نشته. نو له همدې وجهې هغه (یمین غموس) د کفارې لپاره مُوجِب (واجبونکې) نه ګرځي. او د مُوجِب للکفارة په توګه نه منعقد کیږي.

ولو كانت اليمين مطلق إلخ: د دې حاصل دا دی چي که قسم مطلق وي او په هغه کې د "اليَوْم" (نن ورځې) قيد نه وي يعني حالف داسې ويلې وي "إن لم أشرب الماء الّذي في هٰذا الكُوز"، او په کوزه کې اوبه نه وي، نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز حالف نه حانث کيږي، (او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز فوراً حانث کيږي، د "الوَجْهُ الأوّل" څخه مراد همدغه صورت دی، او په دويم صورت کې يعني کله چي په کوزه کې اوبه وي او د شپې له راتګ څخه مخکې چپه سوي وي، نو د ټولو په نېز حالف حانث کيږي.

امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په دې دواړو کې يعني په مطلق او مقيد صورتونو کې داسې فرق کړی دی چي په اول صورت کې يعني په مقيد بالیوم والا صورت کې چي کوم وخت متعين سوی دی، هغه د وسعت او ګنجائش لپاره دی، او تر يوې ورځې پوري حالف ته د قسم پوره کولو اختيار سته، او د ورځې په آخري جزء کې پر هغه قسم پوره کول اجب دي، او که تر دغه وخته پوري حالف قسم پوره نه کړي او ورځ تېره سي، نو هغه حانث کيږي، او په دويم صورت کې يعني په مطلق عن اليوم والا صورت کې له قسم اخيستلو څخه تر فراغت وروسته سمدستي د هغه پوره کول اجب دي، حالانکي په کوزه کې د اوبو د نشتوالي په وجه حالف له قسم پوره کولو څخه عاجز دی، او څرنګه چي په دې مطلق صورت کې توقيت نسته (چي د ورځې تر آخري جزء پوري حالف ته اختيار ثابت سي)، نو ځکه به حالف فوراً (سمدستي) حانث کيږي.

وهما فرقا إلخ: فرمايي چي طرفيينو هم په مطلق او مقيد کې فرق کړی دی، او وجه د فرق يې دا بيان کړې ده چي په مطلق قسم کې له قسم اخيستلو څخه وروسته سمدستي پر حالف قسم پوره کول واجب دي، لېکن څرنګه چي دلته (په مطلق عن اليوم قسم کې) په کوزه کې د اوبو د نشتوالي په وجه د قسم پوره کول فوت سو، نو ځکه به حالف حانث کيږي، لکه کله چي حالف مړ سي او په کوزه کې اوبه وي، نو هغه به هم حانث شمارل کيږي، په همدې وجه په دغه صورت کې د "يَحْنَثُ فِيْ قَوْلِهِمْ جَمِيْعًا" حکم سوی دی.

د دې په خلاف که چيري قسم مؤقت او مقيد باليوم وي، نو په دې صورت کې حالف ته د وخت تر آخري جزء پوري د قسم پوره کولو اختيار سته، او د وخت په آخري جزء کې د همدې قسم پوره کول واجب دي، لېکن پرېشاني او ستونزه دا ده چي د وخت په آخري جزء کې د قسم پوره کولو تصوّر معدوم کيږي، او د قسم پوره کولو محليّت (محل والي) باقي نه پاتيږي، او کله چي محليّت باقي نه پاتيږي، نو د قسم پوره کول به هم واجب نه وي، او قسم به باطليږي، نو په همدې وجه موږ په دغه صورت کې د "لَمْ يَحْنَث" حکم کړی دی. لکه کله چي په کوزه کې د اوبو د نشتوالي په صورت کې ابتداءً د کوزې پر اُوبو قسم اخيستل سوی او منعقد سوی وي، نو هغه قسم هم باطليږي، ځکه څرنګه چي د قسم د بقاء لپاره د محل بقاء او وجود ضروري دی، همدغسې په ابتداء او شروع کې هم د قسم د منعقد کېدلو لپاره د محل بقاء شرط او ضروري ده.

آسمان ته د ختلو او د ناممکن کار کولو قسم

قَالَ: وَمَنْ حَلَفَ لَيَصْعَدَنَّ السَّمَاءَ فرمايي: او که يو څوک قسم واخلي چې خامخا به هغه آسمان ته خيږي [يعني داسې ووايي: په الله! قسم آسمان ته به خيږم] أَوْ لَيَقْلِبَنَّ هٰذَا الْحَجَرَ ذَهَبًا يا [قسم واخلي] چې خامخا به دا ډبره په سرو زرو بدلوي [يعني ووايي: په الله قسم! دا ډبره به سره زر ګرځوم] اِنْعَقَدَتْ يَمِينُهُ نو د هغه قسم منعقد کيږي [يعني هغه حالف او قسم کونکی ګرځي] وَحَنِثَ عَقِيبَهَا او تر قسم وروسته حانث کيږي وَقَالَ زُفَرُ: لَا تَنْعَقِدُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې [دلته] قسم نه منعقد کيږي لِأَنَّهُ مُسْتَحِيلٌ عَادَةً ځکه چې داسې کېدل په عامه توګه محال [ناممکن] دي فَأَشْبَهَ الْمُسْتَحِيلَ حَقِيقَةً نو دا به د حقيقتاً محال شي سره مشابه وي فَلَا يَنْعَقِدُ نو ځکه به قسم نه منعقد کيږي وَلَنَا: أَنَّ الْبِرَّ مُتَصَوَّرٌ حَقِيقَةً زموږ دليل دا دی: چې [دلته] قسم پوره کېدل حقيقتاً متصوّر دي [يعني دلته په حقيقت کې د قسم پوره کېدلو تصوّر کېدای سي] لِأَنَّ الصُّعُودَ إِلَى السَّمَاءِ مُمْكِنٌ حَقِيقَةً ځکه په حقيقت کې آسمان ته ختل ممکن دي أَلَا تَرَى أَنَّ الْمَلَائِكَةَ يَصْعَدُونَ السَّمَاءَ آيا ته نه ګورې؟ چې فرښتې [روزانه] آسمان ته خيږي وَكَذَا تُحَوَّلُ الْحَجَرُ ذَهَبًا بِتَحْوِيلِ اللهِ تَعَالَى او همدارنګه د الله تعالیٰ په ګرځولو سره ډبره سره زر ګرځېدلای سي وَإِذَا كَانَ مُتَصَوَّرًا او کله چې دا مُتصوّر دي [يعني تصوّر يې کېدای سي. او امکان لري] يَنْعَقِدُ الْيَمِينُ مُوجِبًا لِخَلَفِهِ نو قسم به د خپل خليفه [کفارې] لپاره مُوجب [واجبونکی] منعقد کيږي ثُمَّ يَحْنَثُ بِحُكْمِ الْعَجْزِ الثَّابِتِ عَادَةً بيا [تر قسم وروسته] به د عادتاً ثابتېدونکي عاجزۍ په حکم سره حالف حانث کيږي كَمَا إِذَا مَاتَ الْحَالِفُ لکه کله چې حالف مړ سي فَإِنَّهُ يَحْنَثُ مَعَ احْتِمَالِ إِعَادَةِ الْحَيَاةِ نو [په دې صورت کې] حالف د دويم وار د ژوندي کېدلو د احتمال سره حانث کيږي [يعني که څه هم په دې صورت کې دا احتمال سته چې حالف به بيرته د الله په قدرت سره را ژوندی سي. خو بيا هم هغه د دې احتمال باوجود حانث کيږي] بِخِلَافِ مَسْأَلَةِ الْكُوزِ په خلاف د کوزې د مسئلې لِأَنَّ شُرْبَ الْمَاءِ الَّذِي فِي الْكُوزِ وَقْتَ الْحَلِفِ وَلَا مَاءَ فِيهِ لَا يُتَصَوَّرُ ځکه چې د قسم اخيستلو په وخت کې په کوزه کې موجوده اوبه څښل

(حال دا چي په کوزه کي هيڅ اوبه هم نه وي) متصوّر کېدای نه سي فَلَمْ يَنْعَقِدْ نو په دې وجه [هلته] قسم منعقد نه سو.

اللغات: ﴿لَيَصْعَدَنَّ﴾ د فتح له باب څخه د مضارع صيغه (په اول او آخري کي يې د تأکيد لپاره لام او نون ثقيله راغلی دی): ختل (لوړ ځای ته پورته کېدل). ﴿لَيُقَلِّبَنَّ﴾ د تفعيل له باب څخه د مضارع صيغه ده: اړول، بدلول. ﴿مُسْتَحِيْل﴾ محال، ناممکن، ناشوني. ﴿تُحَوَّلُ﴾ د تفعيل له باب څخه د واحد مؤنث غائب مضارع مجهولي صيغه ده: ګرځول، بدلول. ﴿إِعَادَة﴾ د افعال مصدر دی: يو کار دويم ځل کول، راګرځول، راګرځېدل. ﴿كُوْز﴾ کوزه.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو څوک قسم واخلي چي زه به آسمان ته خامخا خېږم، يا دا قسم واخلي چي دغه ډبره به خامخا سره زر (سونا) ګرځوم (او سره زر به څني جوړوم)، نو زموږ په نېز دا قسم منعقد کيږي (يعني دا قسم صحيح کيږي، او په دې سره انسان قسم اخيستونکی ګرځي)، خو تر قسم وروسته سمدستي حالف حانث کيږي، لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز قسم نه منعقد کيږي، ځکه چي آسمان ته ختل او ډبره سره زر ګرځول په عامه توګه (عادتاً) ناممکن دي (يعني که څه هم په ځانګړي حالاتو کي ممکن دي، لېکن عادةً يعني په عامو حالاتو کي داسي کېدل محال (ناممکن) او ناشوني دي)، نو دا د حقيقتاً محال سره مشابه سو، او کوم شی چي حقيقتاً محال وي، په هغه شي سره يمين نه منعقد کيږي (او په هغه شي سره قسم اخيستل نه صحيح کيږي)، لهذا کوم شی چي عادتاً محال وي، په هغه سره به هم يمين نه منعقد کيږي.

زموږ دليل: دا دی چي حقيقتاً د دې قسم پوره کېدل هم ممکن دي، ځکه حقيقتاً آسمان ته ختل ممکن دي، فرشتې روزانه خيږي راخيږي او ستر پېغمبر ﷺ هم آسمانو ته ختلی دی، همدارنګه که الله وغواړي، نو ډبره سره زر ګرځېدلای سي، همدارنګه د کېميا يا د يو بل شي په ذريعه يا د يو بزرګ او ولي په کرامت سره ډبره سره زر ګرځېدلای سي، نو کله چي دا شيان ممکن دي، نو يمين به منعقد او صحيح وي، او د خپل خليفه يعني کفارې لپاره به مُوجِب (واجبونکی) وي، لېکن څرنګه چي عادتاً او عموماً داسي کېدل محال او ناممکن دي، نو ځکه به تر قسم اخيستلو وروسته سمدستي حالف حانث کيږي، لکه څرنګه چي په هغه وخت کي حالف حانث کيږي، کله چي تر قسم اخيستلو وروسته مړ سي، نو که څه هم په دې وخت کي د الله په قدرت او منشاء سره د هغه د ژوندي کېدلو احتمال سته، خو څرنګه چي دا احتمال شاز ونادر دی او تقريباً ناممکن غوندي دی، نو په دې وجه تر مرګ وروسته حالف حانث کيږي، همداسي به دلته هم هغه حانث کيږي.

د دې په خلاف د کوزې او اُوبو مسئله ده، ځکه کله چي د قسم اخيستلو په وخت کي په کوزه کي اُوبه نه وي، نو ښکاره خبره ده چي هلته د قسم پوره کېدلو يوه ذره إمکان هم نسته، نو ځکه په هغه صورت کي بالکل قسم نه منعقد کيږي او نه صحيح کيږي، او چيري چي د قسم پوره کېدلو څه احتمال او امکان وي، هلته به قسم منعقد کيږي. فقط والله أعلم وعلمهُ أتم

بَابُ الْيَمِيْنِ فِي الْكَلَام

(دا) باب په خبرو کې د قسم اخیستلو (په بیان کې) دی

تشریح: کله چې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د سکنی، دخول، خروج او د أکل او شُرب په هکله د قسم د أحکامو او مسئلو څخه فارغ سو، نو اوس د کلام او خبرو په هکله د قسم أحکام او مسائل بیانوي: او د کلام باب یې ځکه په آخر کې بیان کړی دی چې دا خبره څرګنده سي چې دغه باب مخکني ټولو بابونو لره جامع دی، ځکه مخکي چې د قسم په هکله څومره بابونه ذکر سول، په هغوی ټولو کې د کلام ضرورت سته. (عنایه)

د یو چا سره د کلام نه کولو قسم

قَالَ: وَمَنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ فُلَانًا فرمایي: او که یو څوک قسم واخلي چې هغه به د فلانکي سره خبري نه کوي فَكَلَّمَهُ وَهُوَ بِحَيْثُ يَسْمَعُ إِلَّا أَنَّهُ نَائِمٌ بیا حالف د فلانکي سره خبري وکړي او هغه په دې ډول وي [یعني پر دومره فاصله وي] چې [د حالف خبري] اورېدای سي خو دا چې هغه بیده وي حَنِثَ نو حالف حانث کیږي لِأَنَّهُ قَدْ كَلَّمَهُ وَوَصَلَ إِلَى سَمْعِهِ ځکه چې هغه د فلانکي سره خبري وکړي او د هغه خبري د فلانکي تر غوږو پوري ورسېدې [یعني د فلانکي سره د حالف خبري او کلام ثابت سو] لَكِنَّهُ لَمْ يَفْهَمْ لِنَوْمِهِ لېکن د خوب په وجه فلانکي [د حالف کلام] نه وفهموی [یعني د خوب په وجه هغه د حالف په خبرو پوه نه سو] فَصَارَ كَمَا إِذَا نَادَاهُ وَهُوَ بِحَيْثُ يَسْمَعُ لَكِنَّهُ لَمْ يَفْهَمْ لِتَغَافُلِهِ نو [د فلانکي سره د حالف خبري کول] داسي سو لکه حالف چې هغه ته [د لیري څخه] آواز وکړي او هغه [فلانکی] پر دومره فاصله وي چې [د حالف آواز] وري، لېکن د غفلت په وجه هغه نه وفهموي وَفِي بَعْضِ رِوَايَاتِ الْمَبْسُوطِ شَرَطَ أَنْ يُوقِظَهُ او د مبسوط په ځیني روایاتو کي دا شرط لګول سوی دی چې حالف به [په خپل کلام سره] هغه را وېښوي [او په هغه به خپل کلام اوري] وَعَلَيْهِ مَشَايِخُنَا او پر همدې [حکم] زموږ مشایخ دي لِأَنَّهُ إِذَا لَمْ يَتَنَبَّهْ ځکه کله چې فلانکی را وېښ نه سي كَانَ كَمَا إِذَا نَادَاهُ مِنْ بَعِيدٍ وَهُوَ بِحَيْثُ لَا يَسْمَعُ صَوْتَهُ نو [د هغه سره خبري کول] به داسي وي لکه

حالف چې د لیرې شخه هغه ته آواز وکړي او هغه پر دومره فاصله وي چې د حالف آواز نه اوري وَلَوْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ او که هغه قسم واخلي چې د فلانکي سره به خبرې نه کوي مګر د هغه په اجازه سره فَأَذِنَ لَهُ وَلَمْ يَعْلَمْ بِالْإِذْنِ بيا فلانکی هغه ته اجازه ورکړي [خو] حالف په اجازه خبر نه سي [چې ما ته فلانکي د خبرو اجازه راکړې ده] حَتّٰى كَلَّمَهُ [او همدغسې ناخبر پاته وي] تر دې چې د فلانکي سره خبرې وکړي حَنِثَ نو حانث کیږي [د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز] لِأَنَّ الْإِذْنَ مُشْتَقٌّ مِنَ الْأَذَانِ الَّذِي هُوَ الْإِعْلَامُ ځکه چې إذن [اجازه] مشتق دی له أذان شخه کوم چې د خبر ورکولو په معنیٰ سره دی أَوْ مِنَ الْوُقُوعِ فِي الْإِذْنِ يا په غوږ کې د آواز لوېدلو شخه [إذن مشتق دی] وَكُلُّ ذٰلِكَ لَا يَتَحَقَّقُ إِلَّا بِالسَّمَاعِ او دا دواړه شيان له سماع [اورېدلو] شخه بغير ثابتېدای نه سي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ ❁: لَا يَحْنَثُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې حالف نه حانث کيږي لِأَنَّ الْإِذْنَ هُوَ الْإِطْلَاقُ ځکه چې إذن د جائز [مباح] ګرځولو په معنیٰ سره دی وَأَنَّهُ يَتِمُّ بِالْإِذْنِ كَالرِّضَا او دا معنیٰ په اجازه ورکولو سره پوره کيږي قُلْنَا: الرِّضَا مِنْ أَعْمَالِ الْقَلْبِ موږ جواب ورکوو: چې رضا د زړه له أعمالو شخه [يو عمل] دی وَلَا كَذٰلِكَ الْإِذْنُ او اجازه داسې نه ده عَلٰى مَا مَرَّ لکه مخکې چې دا [خبره] تېره سو.

اللغات: ﴿نَادٰى﴾ د مفاعلې ماضي ده: رابلل، آواز کول. ﴿تَغَافُل﴾ د تفاعل مصدر دی: غفلت کول، بې پروايي کول، بې غورې کول. ﴿لَمْ يَنْتَبِهِ﴾ د افتعال له باب شخه د جحد صيغه ده: وېښېدل، بيداره کېدل. ﴿إِذْن﴾ د ضرب مصدر دی: اجازه (اجازت)، رخصت. ﴿إِعْلَام﴾ د افعال مصدر دی: خبر ورکول، اطلاع ورکول.

تشريح: په دې عبارت کې دوې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که يو څوک قسم واخلي چې د فلانکي سره به خبرې نه کوم، او بيا هغه د فلانکي سره په داسې حالت کې خبرې وکړي چې فلانکی بيده وي خو دومره نژدې چې که وېښ سي نو د متکلم (حالف) خبرې به واوري، نو په دې صورت کې دغه متکلم حالف حانث کيږي، ځکه چې د فلانکي سره د هغه کلام ثابت سو، او د فلانکي تر غوږو پورې د هغه خبره ورسېده، او دا جلا خبره ده چې فلانکی بيده دی او هغه د حالف په خبره پوه نه سو، ځکه چې شرط خبرې کول دي، او دا شرط موجود

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَاالله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۱۱۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۱۸]

سو، نو ځکه به حالف حانث کيږي، د دې مثال داسي دی لکه حالف چي دغه فلانکي ته آواز وکړي، او هغه دومره نژدې وي چي د حالف آواز اوري، لېکن د غفلت او بې پروايۍ په وجه هغه د حالف په آواز او خبره پوه نه سي، نو په هغه صورت کي هم حالف حانث کيږي، همداسي به په دغه مسئله کي هم حالف حانث کيږي.

وفي بعض إلخ: فرمايي چي د مبسوط په يوه روايت کي دا شرط لګول سوی دی چي که حالف دا فلانکی سړی له خواب څخه را ويښ کړي او خپله خبره په واوري، نو په دغه صورت کي حانث کيږي، کنې نه حانث کيږي، ځکه بيده سړی خبري نه اوري، او څوک چي د هغه سره خبري کوي، هغه ته مُتکلِّم نه وايي، لهذا تر څو چي حالف هغه راويښ نه کړي، تر هغه وخته پوري به نه حانث کيږي، او د دې مثال داسي دی لکه حالف چي د ليري ځای څخه فلانکي ته آواز وکړي، او هغه ته بالکل د حالف هيڅ آواز نه رسيږي، نو په هغه صورت کي حالف نه حانث کيږي، همداسي به دلته هم له ويښولو (إيقاظ) څخه بغير حالف نه حانث کيږي.

(۲)... که يو څوک قسم واخلي چي زه به د خالد له اجازې څخه بغير د هغه سره خبري نه کوم، بيا خالد هغه ته اجازه ورکړي، لېکن حالف د هغه په اجازه خبره نه سي (او د اجازې خبر د حالف غوږ ته نه ورسيږي)، او په دې صورت کي هغه د خالد سره خبري وکړي، نو حانث کيږي، ځکه چي إذن له أذان څخه مشتق دی، او د أذان معنیٰ ده: إعلام يعني خبر ورکول، يا د هغه معنیٰ ده: غوږ ته آواز رسېدل، او دا دواړي معناوي له سماع (اورېدلو) څخه بغير نه ثابتيږي، او حال دا دی چي حالف د خالد په اجازه خبر نه دی او د هغه غوږ ته د اجازې خبر رسېدلی نه دي، نو ځکه به خامخا هغه حانث کيږي، دا حکم د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی.

امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي إذن د إباحت يعني د مباح او روا کولو په معنیٰ سره دی، او په اجازه ورکولو سره إباحت ثابتيږي، لکه يو څوک چي قسم واخلي چي د فلانکي له رضاء څخه بغير به د هغه سره خبري او کلام نه کوم، بيا فلانکی (محلوف عليه) په زړه کي د هغه (حالف) سره پر کلام کولو راضي سي، او حالف په هغه خبر نه سي، نو هم حالف نه حانث کيږي، ځکه چي محلوف عليه د هغه سره پر کلام او خبرو کولو راضي سو.

صاحب د هدايې د طرفينو له طرفه امام ابو يوسف ته په جواب کي فرمايي چي د إذن مسئله د رضاء پر مسئلې باندي قياسول صحيح نه دي، ځکه چي د رضاء تعلق د زړه (قَلْب) سره دی، او د زړه په خبره خبرېدل مشکل او ستونزمن دي، خو د إذن تعلق د اورېدلو (سماع) سره دی، او په سماع خبرېدل او خبره اورېدل آسانه دي، لېکن څرنګه چي دلته سماع معدوم ده يعني حالف بالکل د اجازې خبره اورېدلې نه ده، نو ځکه به هغه نه حانث کيږي.

تر معلوم وخته پورې د کلام نه کولو قسم

قَالَ: وَإِنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُهُ شَهْرًا او که [يو څوک] قسم واخلي چې هغه به د فلانکي سره [تړوله] مياشته خبرې نه کوي فَهُوَ مِنْ حِيْنِ حَلَفَ نو دا مياشته به د قسم اخيستلو له وخت څخه شروع کيږي لِأَنَّهُ لَوْلَمْ يَذْكُرِ الشَّهْرَ لَتَأَبَّدَ الْيَمِيْنُ ځکه که هغه مياشته ذکر کړې نه واى نو قسم به مؤبد [همېشنى] ګرځيدلې واى فَذِكْرُ الشَّهْرِ لِإِخْرَاجِ مَا وَرَاءَهُ نو د مياشتې ذکر کول به د هغه مودت د ايستلو لپاره وي کوم چې له يوې مياشتې څخه پرته [علاوه] وي [يعنې حالف د مياشتې په ذکر کولو سره هغه زمانه د قسم له حکم څخه خارج کړه کوم چې تر مياشتې وروسته راځي] فَبَقِيَ الَّذِى يَلِىْ يَمِيْنَهُ دَاخِلًا نو [د قسم په حکم کې] هغه زمانه داخله پاته سوه کوم چې د حالف د قسم سره متصل وي [يعنې يوه مياشته. او تر يوې مياشتې وروسته هغه ته رخصت دى] عَمَلًا بِدَلَالَةِ حَالِهِ د حالف پر دلالتُ الحال باندې په عمل کولو سره [يعنې د حالف چې کوم موجوده حالت دى. په هغه باندې په دليل نيولو سره هغه زمانه د قسم په حکم کې داخله پاته سوه. له موجوده حالت څخه هغه خپګان او نفرت مراد دى کوم چې د قسم اخيستلو په وخت کې د حالف په زړه کې راپورته سوى دى] بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: وَاللهِ لَأَصُوْمَنَّ شَهْرًا په خلاف د هغه صورت کله چې حالف ووايي: په الله قسم! زه به [تړوله] مياشته روژې نيسم لِأَنَّهُ لَوْلَمْ يَذْكُرِ الشَّهْرَ لَمْ تَتَأَبَّدُ الْيَمِيْنُ ځکه که هغه [د روژې په قسم کې] مياشته ذکر نه کړې نو [هم] قسم مؤبد نه ګرځي فَكَانَ ذِكْرُهُ لِتَقْدِيْرِ الصَّوْمِ بِهِ لهذا د شَهر ذکر کول به، په مياشتې سره د روژې د اندازه کولو لپاره وي وَأَنَّهُ مُنَكَّرٌ حالانکې هغه غير متعين ده فَالتَّعْيِيْنُ إِلَيْهِ نو ځکه به حالف لره د متعينولو حق وي وَإِنْ حَلَفَ لَا يَتَكَلَّمُ او که [يو څوک] قسم واخلي چې هغه به خبرې نه کوي فَقَرَأَ الْقُرْآنَ فِىْ صَلَاتِهِ بيا په لمانځه کې قرآن ولوستې [تلاوت کړي] لَا يَحْنَثُ نو نه حانث کيږي وَإِنْ قَرَأَ فِىْ غَيْرِ صَلَاتِهِ او که د لمانځه څخه بغير [په بل حالت کې] قرآن ولوستې حَنِثَ نو حانث کيږي وَعَلٰى هٰذَا التَّسْبِيْحُ وَالتَّهْلِيْلُ وَالتَّكْبِيْرُ او پر همدغه حکم دې سُبْحَانَ اللهِ ويل. او لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ويل. او اللهُ أَكْبَر ويل وَفِى الْقِيَاسِ يَحْنَثُ فِيْهِمَا او قياساً په دواړو صورتونو کې حالف حانث کيږي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دى لِأَنَّهُ

كَلَامٌ حَقِيقَةٌ ځکه چي دا په حقيقت کي کلام دی وَلَنَا أَنَّهُ فِي الصَّلَاةِ لَيْسَ بِكَلَامٍ عُرْفًا وَلَا شَرْعًا او زموږ دليل دا دی: چي په لمانځه کي قرآن لوستل نه د عرف په اعتبار سره کلام دی. او نه د شريعت په اعتبار سره قَالَ الْعَلِيْلًا [1]: إِنَّ صَلَاتَنَا هَذِهِ لَا يَصْلُحُ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: زموږ دا لمونځ د خلکو د خبرو صلاحيت نه لري [يعني زموږ په دې لمانځه کي د خلکو د خبرو هيڅ گنجائش او اجازه نسته] وَقِيلَ: فِي عُرْفِنَا لَا يَحْنَثُ فِي غَيْرِ الصَّلَاةِ أَيْضًا او ويل سوي دي: چي زموږ عرف کي به له لمانځه څخه بغير هم حالف [د قرآن په لوستولو سره] نه حانث کيږي لِأَنَّهُ لَا يُسَمَّى مُتَكَلِّمًا بَلْ قَارِئًا وَمُسَبِّحًا ځکه چي د قرآن لوستونکي ته متکلم [خبري کونکی] نه ويل کيږي. بلکي هغه ته قارئ [لوستونکی او تلاوت کونکی] يا تسبيح ويونکی ويل کيږي.

اللغات: ﴿تَتَأَبَّدُ﴾ د تفعّل مضارع ده: همېشه کېدل. أبدي گرځېدل. ﴿تَهْلِيْل﴾ د تفعيل مصدر دی: کلمه شريفه ويل (لَا إِلٰهَ إِلَّا الله).

تشريح: په دې عبارت کي هم دوې مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... که يو سړی قسم واخلي چي تر يوې مياشتي پوري به د فلانکي سره خبري نه کوم. نو د يوې مياشتي شمار به د قسم اخيستلو له وخت څخه کيږي. او که د يوې مياشتي تر پوره کېدلو مخکي هغه خبري وکړي. نو حانث کيږي. ځکه چي دلته حالف د "شَهْرًا" (مياشتي) په ذکر کولو سره د خپل قسم لپاره وخت متعين کړی. او که هغه "شَهْرًا" ويلي نه وای. نو د هغه قسم به مؤبد وای. ليکن د شَهْرًا په ذکر کولو سره به د يوې مياشتي څخه بغير نور وخت او زمانه له قسم څخه جلا او عليحده وي. او کومه وخت او زمانه چي د قسم سره متصل وي. هغه به د حالف په دلالة الحال يعني د هغه د خښم او غضب په وجه په قسم کي داخليږي. د دې په خلاف که يو څوک قسم واخلي چي په الله قسم يوه مياشت روژې به نيسم، نو په دې صورت کي د شَهْرًا (مياشتي) په ذکر کولو سره هيڅ يوه مياشته نه متعين کيږي (چي خاص په هغه مياشته کي به حالف روژې نيسي). ځکه که حالف شَهْرًا نه وواېي، نو هم قسم مؤبد نه گرځي، ځکه چي په ابدي او دائمي توگه روژه نيول ممکن نه دي، ځکه چي په مينځ کي داسي ورځي (د اخترونو او تشريق ورځي) هم راځي چي په هغوی کي روژه نيول ممنوع دي. لهذا د روژې په قسم کي به د شَهْرًا ذکر کول د اندازې لپاره وي (يعني په داسي قسم

[1] تخريج: أخرجه أبو داؤد في باب تشميت العاطس في الصلاة، ص: ۱۴۲، حديث رقم: ۹۳۰.

کي به په يوې مياشتې سره د روژې اندازه کېدل مراديږي). او څرنګه چې شَهْرًا نکره دی. نو ځکه به حالف ته اختيار وي چې هره مياشته وغواړي هغه د روژو نيولو لپاره متعينولای (او ټاکلی) سي

(۲)... او که يو څوک مطلق قسم واخلي چې زه به خبري نه کوم. بيا هغه په لمانځه کي د قرآن شريف تلاوت وکړي. نو نه حانث کيږي. او که هغه د لمانځه څخه دباندي د قرآن شريف تلاوت وکړي. نو حانث کيږي. همدا حکم د "سُبْحَانَ الله. لا إِلٰه إِلَّا الله او اَللّٰهُ أَكْبَر" هم دی. يعني په لمانځه کي په دې سره حالف نه حانث کيږي. او په غير لمانځه کي په حانث کيږي. د قياس تقاضا دا ده چي په لمانځه او غير لمانځه دواړو کي حانث سي. همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دی. د هغه دليل دا دی چي قرآن شريف لوستل او سُبْحَانَ الله او داسي نور ويل هم په حقيقت کي کلام (خبري) دي. او حالف د کلام نه کولو (خبرو نه کولو) قسم اخيستی وو. نو ځکه به هغه په دې سره هم حانث کيږي.

ولنا إلخ: زموږ دليل دا دی چي په لمانځه کي قرآن شريف لوستل او داسي نوري کلمې ويل نه د عرف په اعتبار سره کلام دی. او نه د شريعت په اعتبار سره کلام دی. عرفاً خو ځکه کلام نه دی چي په عرف کي قرآن لوستونکي يا تسبيح ويونکي ته متکلم (خبري کونکی) نه ويل کيږي. بلکي هغه ته قارئ او مُسبّح ويل کيږي. او شرعاً ځکه کلام نه دی چي نبي ﷺ فرمايلي دي "زموږ په دې لمانځه کي د خلګو کلام لره هيڅ ګنجائش نسته". له دې څخه معلومه سوه چي په لمانځه کي د قرآن لوستل. کلمات او تسبيحات ويل کلام نه دی. نو ځکه به حالف په لمانځه کي د دې په ويلو سره نه حانث کيږي. لېکن په غير لمانځه کي به حانث کيږي.

وقيل في عرفنا إلخ: فرمايي چي د ځيني فقهاؤ رايه دا ده چي زموږ په عرف کي به حالف د لمانځه څخه دباندي هم د قرآن په لوستلو او د کلماتو او تسبيحاتو په ويلو سره نه حانث کيږي. ځکه چي د قرآن شريف لوستونکي او د کلماتو او تسبيحاتو ويونکي ته قارئ او مُسبّح ويل کيږي. هغه ته متکلم (او خبري کونکی) نه ويل کيږي. همدا د فقيه ابو الليث. علامه صدر الشهيد. عتابي او داسي نورو فقهاؤ قول دی. او زموږ زمانه کي فتویٰ هم پر دغه قول ده. (بنايه ج:۶. ص:۱۱۴)

په قسم کي د "ورځي" د لفظ مراد او وضاحت

وَلَوْقَالَ: يَوْمَ أُكَلِّمُ فُلَانًا فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ او که ايو څوک اووايي: په کوم ورځ چي زه د فلانکي سره خبري وکړم نو زما ښځه اپر ماا طلاقه ده فَهُوَعَلَى اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ نو دا اقسم اپر شپه او ورځ ادواړوا محمول کيږي لِأَنَّ اسْمَ الْيَوْمِ إِذَا قُرِنَ بِفِعْلٍ لَا يَمْتَدُّ يُرَادُ بِهِ مُطْلَقُ الْوَقْتِ ځکه د يَوْم لفظ چي کله د

غيرِ ممتد فعل [نه اوږدېدونکي کار] سره متصل سي نو په هغه سره مطلق وخت مراديږي قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهٗ [الأنفال: ١٦] الله تعالىٰ فرمايلي دي: او کوم سړی چي په دې ورځ کافرانو ته شا کړي وَالْكَلَامُ لَا يَمْتَدُّ او کلام [خبري] نه اوږديږي [يعني کلام غيرِ ممتد فعل دی] وَإِنْ عَنَى النَّهَارَ خَاصَّةً او که حالف فقط د ورځي نيت کړی وي [چي په دې سره زما صرف ورځ مراد ده] دُيِّنَ فِي الْقَضَاءِ نو قضاءً به د هغه تصديق کيږي [د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز] لِأَنَّهُ مُسْتَعْمَلٌ فِيهِ أَيْضًا ځکه چي دا لفظ په دې معنىٰ کي هم استعمال سوی دی وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ❁: أَنَّهُ لَا يُدَيَّنُ فِي الْقَضَاءِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چي قضاءً به د هغه تصديق نه کيږي لِأَنَّهُ خِلَافُ الْمُتَعَارَفِ ځکه چي دا معنىٰ له عرفي معنىٰ څخه خلاف ده وَلَوْ قَالَ: لَيْلَةَ أُكَلِّمُ فُلَانًا او که ووايي: په کومه شپه چي زه د فلانکي سره خبري وکړم [نو زما ښځه پر ما طلاقه ده] فَهُوَ عَلَى اللَّيْلِ خَاصَّةً نو دا قسم فقط پر شپې محمول کيږي لِأَنَّهُ حَقِيقَةٌ فِي سَوَادِ اللَّيْلِ ځکه چي د لَيل لفظ د شپې د تيارې [تاريکۍ] لپاره حقيقت دی كَالنَّهَارِ لِلْبَيَاضِ خَاصَّةً لکه نهار چي فقط د ورځي د رڼا لپاره [حقيقت] دی وَمَا جَاءَ اسْتِعْمَالُهُ فِي مُطْلَقِ الْوَقْتِ او د لَيل استعمال راغلی نه دی په مطلق وخت کي [يعني لَيل د يَوم په څېر د مطلق وخت په معنىٰ سره نه استعماليږي] وَلَوْ قَالَ: إِنْ كَلَّمْتُ فُلَانًا إِلَّا أَنْ يَقْدَمَ فُلَانٌ او که حالف [قسم اخيستونکی] ووايي: که چيري ما د فلان سره خبري وکړي خو دا چي فلان راسي [نو زما ښځه پر ما طلاقه ده] أَوْ قَالَ: حَتَّى يَقْدَمَ فُلَانٌ يا ووايي: تر دې چي فلان راسي [نو زما ښځه پر ما طلاقه ده] أَوْ قَالَ: إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ فُلَانٌ أَوْ حَتَّى يَأْذَنَ فُلَانٌ فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ يا ووايي: خو دا چي فلان اجازه راکړي يا [ووايي] تر دې چي فلان اجازه راکړي نو زما ښځه [پر ما] طلاقه ده فَكَلَّمَهُ قَبْلَ الْقُدُومِ وَالْإِذْنِ بيا حالف [د فلان] تر راتللو او اجازه ورکولو مخکي د هغه سره خبري وکړي حَنِثَ نو حانث کيږي [يعني ښځه پر طلاقيږي] وَلَوْ كَلَّمَهُ بَعْدَ الْقُدُومِ وَالْإِذْنِ او که [د فلان] تر راتللو او اجازه ورکولو وروسته خبري ور سره وکړي لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي لِأَنَّهُ غَايَةٌ

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:١١٢). [القول الراجح ج:١، ص:٤١٩]

ځکه چي [دلته] قدوم او إذان غايت دی وَالْيَمِينُ بَاقِيَةٌ قَبْلَ الْغَايَةِ وَمُنْتَهِيَةٌ بَعْدَهَا او تر غايت مخکي قسم پاته دی او تر غايت وروسته ختمېدونکی [او پوره کېدونکی] دی فَلَا يَحْنَثُ بِالْكَلَامِ بَعْدَ انْتِهَاءِ الْيَمِينِ نو ځکه به تر قسم ختمېدلو وروسته هغه په خبرو کولو سره نه حانث کيږي [ځکه چي د قسم قصه ختمه سوه] وَإِنْ مَاتَ فُلَانٌ سَقَطَتِ الْيَمِينُ او که فلان مړ سي نو قسم ساقطيږي [دَ طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز] خِلَافًا لِأَبِي يُوسُفَ ❁ په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله [يعني په دې صورت کي د امام ابو يوسف اختلاف دی] لِأَنَّ الْمَمْنُوعَ عَنْهُ كَلَامٌ يَنْتَهِي بِالْإِذْنِ وَالْقُدُومِ ځکه چي د حالف لپاره هغه کلام ممنوع وو کوم چي [د فلان] په اجازه او راتګ سره پوره کېدی [او ختمېدی] وَلَمْ يَبْقَ بَعْدَ الْمَوْتِ مُتَصَوَّرُ الْوُجُودِ لېکن [د فلان] تر مرګ وروسته د دې [إذن او قدوم] د کېدلو تصور پاته نه سو فَسَقَطَتِ الْيَمِينُ نو ځکه قسم ساقط سو وَعِنْدَهُ التَّصَوُّرُ لَيْسَ بِشَرْطٍ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز [د قسم پوره کېدلو] تصوّر شرط نه دی فَعِنْدَ سُقُوطِ الْغَايَةِ تَتَأَبَّدُ الْيَمِينُ نو ځکه [د هغه په نېز] د غايت ساقطېدلو په صورت کي قسم مؤبد [همېشنی] ګرځي.

اللغات: ﴿قُرِنَ﴾ د ضرب له باب څخه د ماضي مجهولي صيغه ده: يو ځای کول، متصل کول (ور سره لګول)، متصل کېدل. ﴿لَا يَمْتَدُّ﴾ د افتعال له باب څخه د نفي صيغه ده: کشېدل، اوږدېدل، غوړېدل. ﴿يُوَلِّهِمْ﴾ د تفعيل له باب څخه د مضارع صيغه ده، په آخر کي يې د جمع غائب ضمير دی کوم چي کفارو ته راجع دی: ګرځول، اړول، وَلَّى دُبُرَهُ: شا يې واړول (شا يې وګرځول). ﴿قُدُوْم﴾ د سمع مصدر دی: راتلل (راتګ). ﴿غَايَة﴾ انتهاء.

تشريح: مسئله: دا ده که يو څوک قسم واخلي او داسي ووايي چي: "که زه په کمه ورځ د فلانکي سره خبري وکړم، نو زما ښځه پر ما طلاقه ده". نو دا قسم فقط د ورځي سره نه متعلق کيږي، بلکي د ورځي او شپې دواړو سره متعلق کيږي، او کله چي هم حالف د هغه فلانکي سري سره د ورځي يا د شپې خبري وکړي، نو حانث کيږي؛ د دې دليل دا دی چي د "يَوْم" (ورځي) لفظ چي کله د غير

❁ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَاالله ، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۱۱۵)، وكذا في الهندية (ج:۳، ص:۱۱۵).
[القول الراجح ج:۱، ص:۴۲۰]

ممتد فعل سره متصل سي (يعني كله چې د يَوْمِ لفظ د داسي فعل سره متصل سي چې هغه فعل ډېر وخت نه نيسي او نه اوږديږي)، نو په دې وخت کې له يَوْم څخه مطلق وخت مراديږي. لکه څرنګه چې په دې آيت "وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ" کې له يَوْمَئِذٍ څخه مطلق وخت مراد دی. فقط ورځ ځني مراد نه ده (او مطلب يې دا دی چې د جهاد د جريان په هر وخت وخت کې کافرانو ته شا اړول او تښتېدل جرم دی)، معلومه سوه چې په دې آيت کې له يَوْم څخه مطلق وخت مراد دی. او څرنګه چې زموږ په دې مسئله کې هم يَوْم د غيرِ ممتد فعل يعني د کلام سره متصل دی (ځکه چې کلام بذت خود نه اوږديږي او إمتداد نه قبلوي)، نو ځکه به دلته هم له يَوْم څخه مطلق وخت مراد وي. او حالف چې د ورځې او شپې په هر وخت کې د فلانکي سره خبري وکړي، نو حانث به ګرځي.

وإن عنى إلخ: فرمايي: که حالف ووايي چې له يَوْم څخه زما ورځ مراد وه. نو قضاءً به د هغه تصديق کيږي او قاضي به د هغه خبره تسليموي، ځکه چې د يَوْم لفظ د ورځې لپاره هم استعماليږي. که څه هم هغه دلته د غيرِ ممتد فعل سره متصل سوی دی، خو د حالف کلام د هغه احتمال لري. لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا هم دی چې قضاءً به په دې مسئله کې د حالف تصديق نه کيږي، ځکه کله چې يَوْم د غيرِ ممتد فعل سره متصل سي نو له هغه څخه فقط ورځ مرادول د عرف او رواج خلاف دي. نو ځکه به د هغه اعتبار نه کيږي.

ولو قال ليلة إلخ: او که حالف د يَوْمَ أُكَلِّمُ پر ځای لَيْلَةَ أُكَلِّمُ ... إلخ ويلي وي. نو په دې صورت کې قسم فقط د شپې سره متعلق کيږي. او فقط په شپه کې په کلام سره حالف حانث کيږي. ځکه چې د لَيْلَةٌ په لفظ سره په حقيقت کې د شپې تياره (تاريکه) مراديږي. لکه څرنګه چې په نَهَار سره په حقيقت کې د ورځې رڼا مراديږي. او د لَيْل لفظ د مطلق وخت په معنىٰ سره نه استعماليږي. نو ځکه به له دې څخه صرف او ضرف شپه مراد وي.

ولو قال إن كلمت فلاناً إلخ: د دې حاصل دا دی چې که حالف داسي ووايي: "که چيري ما د فلان (زيد) سره خبري وکړي، مګر تر دې چې فلان (خالد) راسي، نو زما ښځه پر ما طلاقه ده. يا ووايي: مګر دا چې فلان (خالد) راسي. نو زما ښځه پر ما طلاقه ده". يا مثلاً هغه ووايي: "که چيري ما د فلان (زيد) سره خبري وکړي مګر تر دې چې فلان راسي. يا مګر دا چې فلان راسي. نو پر ما ښځه طلاقه ده". نو اوس که حالف د فلان (خالد) تر راتللو او اجازه ورکولو مخکې د هغه (زيد) سره خبري وکړي. نو

حانث کیږي، یعني ښځه پر طلاقیږي، او که حالف د فلان (خالد) تر راتللو او اجازه ورکولو وروسته د هغه (زید) سره خبري وکړي، نو نه حانث کیږي (مطلب دا چي د خالد تر راتلو یا اجازه ورکولو مخکي د حالف لپاره د زید سره خبري کول ممنوع دي، نه وروسته)، ځکه چي دلته د فلان اجازه ورکول او د فلان راتلل غایت دی، او تر غایت مخکي قسم پاته دی، نو ځکه به د فلان تر راتلو او اجازه ورکولو مخکي د کلام کولو په صورت کي حالف حانث کیږي، او تر راتلو او اجازه ورکولو وروسته به په کلام کولو سره هغه نه حانث کیږي، ځکه کله چي هم غایت موجود سو نو قسم پوره سو او ختم سو (ځکه چي د غایت په موجود یدلو سره سمدستي قسم پوره کیږي، او قصه یې ختمیږي)، نو ځکه به د فلان (خالد) له راتلو او اجازه ورکولو څخه وروسته حالف په کلام کولو سره نه حانث کیږي.

وإن مات فلان إلخ: فرمایي حالف چي د چا پر اجازه او راتګ قسم موقوف کړی وي، که هغه مړ سي (یعني که خالد مړ سي)، نو له حالف څخه قسم ساقطیږي، ځکه چي له حالف څخه هغه کلام ممنوع وو کوم چي د فلان (خالد) په اجازه او راتګ سره پوره کېدی او انتهاء ته رسېدی (یعني قسم د خالد په اجازه ورکولو یا د هغه په راتلو سره پوره کېدی او له منځه تلی او د کلام ممانعت ختمېدی)، لېکن کله چي فلان (خالد) مړ سو، نو د هغه د مرګ په وجه د اجازه ورکولو او د هغه د راتللو تصوّر محال او ناممکن سو، حالانکي د طرفینو په نېز د قسم پوره کېدلو تصوّر د قسم د صحّت او بقاء لپاره شرط دی، لهذا کله چي دا تصوّر ختم سو، نو ښکاره خبره ده چي د دې حضراتو په نېز قسم هم ختمیږي. او څرنګه چي د امام ابویوسف رَحِمَهُ الله په نېز د "بَرّ تصور" (د قسم پوره کېدلو) تصوّر شرط نه دی، نو ځکه د هغه په نېز د تصوّر په ختمېدلو سره دا قسم له مُعلّق یمین څخه وځي او په مُؤبّد یمین بدلیږي، یعني د هغه په نېز د همېشه لپاره دا قسم پاتیږي، او کله چي هم حالف د فلان (زید) سره خبر وکړي، نو حانث کیږي، او پر ښځي طلاق واقع کیږي.

د محلوف علیه د حالت بدلېدلو حکم

قال: وَمَنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ عَبْدَ فُلَانٍ فرمایي: او که یو سړی قسم واخلي چي هغه به د فلانکي د غلام سره خبري نه کوي وَلَمْ يَنْوِ عَبْدًا بِعَيْنِهِ او دا سړی د یو متعین غلام نیت نه وکړي أَوِ امْرَأَةَ فُلَانٍ أَوْ صَدِيقَ فُلَانٍ یا (داسي قسم واخلي چي) د فلانکي د ښځي سره یا د فلانکي د دوست سره به خبري نه کوي فَبَاعَ فُلَانٌ عَبْدَهُ أَوْ بَانَتْ مِنْهُ امْرَأَتُهُ أَوْ عَادَى صَدِيقَهُ بیا فلانکی خپل غلام خرڅ کړي، یا ښځه له هغه څخه بائنه سي، یا هغه د خپل دوست دښمن سي (یعني د دواړو په مینځ کي خوابدي.

نفرت او دښمني پيدا سي] فَكَلَّمَهُمْ او [بيا حالف] د هغو سره خبري وکړي لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي لِأَنَّهُ عَقَدَ يَمِينَهُ عَلَى فِعْلٍ وَاقِعٍ فِي مَحَلٍّ مُضَافٍ إِلَى فُلَانٍ ځکه چي حالف خپل قسم پر داسي فعل منعقد کړی دی چي هغه په يو داسي محل کي واقع کيږي کوم چي د فلانکي وطرف ته مضاف دی إِمَّا إِضَافَةُ مِلْكٍ أَوْ إِضَافَةُ نِسْبَةٍ چي هغه يا د ملکيت اضافت دی يا د نسبت [تعلق] اضافت دی [يعني دا محل يا د ملکيت په اضافت سره فلانکي ته مضاف دی لکه غلام، يا د تعلق په اضافت سره هغه ته مضاف دی لکه ښځه او ملګری] وَلَمْ يُوجَدْ حالانکي [دلته له دواړو اضافتونو څخه] يو اضافت [هم] موجود نه سو فَلَا يَحْنَثُ نو ځکه به حالف نه حانث کيږي قَالَ: هٰذَا فِي إِضَافَةِ الْمِلْكِ بِالِاتِّفَاقِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا حکم د ملکيت د اضافت په صورت کي متفق عليه دی وَفِي إِضَافَةِ النِّسْبَةِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ ۞ يَحْنَثُ كَالْمَرْأَةِ وَالصَّدِيقِ او د نسبت [يعني د تعلق] د اضافت په صورت کي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز حالف حانث کيږي لکه څرنګه چي د ښځي او ملګري [سره د کلام کولو په صورت کي حالف حانث کيږي] قَالَ فِي الزِّيَادَاتِ: لِأَنَّ هٰذِهِ الْإِضَافَةَ لِلتَّعْرِيفِ [د دي په دليل کي] امام محمد رَحِمَهُ الله په زيادات کي فرمايلي دي: ځکه چي دا نسبت د پېژندګلوی [اور پېژندني] لپاره دی لِأَنَّ الْمَرْأَةَ وَالصَّدِيقَ مُتَصَوَّرَانِ بِالْهِجْرَانِ ځکه چي له ښځي او ملګري [دواړو] څخه د کلام پرېښوول متصوّر دي فَلَا يُشْتَرَطُ دَوَامُهَا نو ځکه د دې نسبت همېشه باقي پاتېدل شرط نه دي فَيَتَعَلَّقُ الْحُكْمُ بِعَيْنِهِ نو ځکه به حکم [د هر يوه] د ذات سره متعلق وي كَمَا فِي الْإِشَارَةِ لکه په اشاره کي [چي هم د ذات سره حکم متعلق کيږي] وَوَجْهُ مَا ذُكِرَ هٰهُنَا وَهُوَ رِوَايَةُ الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: أَنَّهُ يُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ غَرَضُهُ هِجْرَانَهُ لِأَجْلِ الْمُضَافِ إِلَيْهِ او دلته [په متن کي] چي کومه مسئله ذکر سوې ده چي هغه د جامع صغير روايت دی، د هغه دليل دا دی: چي کېدای سي د حالف مقصد به د مضاف إليه [فلانکي] په وجه [د دوی دواړو سره] د کلام پرېښوول وي [يعني کېدای سي هغه به د فلانکي د ښځي او ملګري سره په دې وجه د کلام نه کولو قسم اخيستی وي چي فلانکي ته د دوی اضافت

۞ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:۳، ص:۱۱۷)، وكذا في مجمع الأنهر (ج:۱، ص:۵۷۶). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۲۱]

او نسبت کيږي] وَلِهٰذَا لَمْ يُعَيِّنْهُ همدا وجه ده چي هغه محلوف عليه متعين کړی نه دی فَلَا يَحْنَثُ بَعْدَ زَوَالِ الْإِضَافَةِ بِالشَّكِّ لهذا د اضافت تر ختمېدلو وروسته به د شک په وجه حالف نه حانث کيږي وَإِنْ كَانَتْ يَمِينُهُ عَلٰى عَبْدٍ بِعَيْنِهِ او که د حالف قسم پريو متعين غلام [واقع] وي بِأَنْ قَالَ: عَبْدُ فُلَانٍ هٰذَا أَوْ امْرَأَةُ فُلَانٍ بِعَيْنِهَا أَوْ صَدِيقُ فُلَانٍ بِعَيْنِهِ په دې توګه چي هغه ويلي وي: چي [په الله قسم! زه به خبري نه کوم] د فلانکي د دغه غلام سره، يا د فلانکي د هغه متعيني ښځي سره، يا د فلانکي د هغه متعين ملګري سره لَمْ يَحْنَثْ فِي الْعَبْدِ وَحَنِثَ فِي الْمَرْأَةِ وَالصَّدِيقِ نو په غلام کي نه حانث کيږي او په ښځه او ملګري کي حانث کيږي وَهٰذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ او دا د شيخينو رَحِمَهُمَا الله قول دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ ✽: يَحْنَثُ فِي الْعَبْدِ أَيْضًا او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په غلام کي هم حانث کيږي وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول [هم] دی وَإِنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ دَارَ فُلَانٍ هٰذِهٖ او که دا قسم واخلي چي د فلانکي دغه کور ته به نه داخليږي فَبَاعَهَا او [بيا] فلانکی هغه کور خرڅ کړي ثُمَّ دَخَلَهَا بيا حالف هغه ته داخل سي فَهُوَ عَلٰى هٰذَا الْاِخْتِلَافِ نو دا [مسئله] هم پر دغه اختلاف ده.

اللغات: ﴿بَانَتْ﴾ د ضرب ماضي ده: بائنه کېدل، جلا کېدل، پر ښځي طلاقِ بائن واقع کېدل. ﴿عَادٰى﴾ د مفاعلې ماضي ده: دښمن کېدل (دښمني کول)، د دښمن سره جنګ کول. ﴿إِضَافَة﴾ د افعال مصدر دی: مضاف کول، نسبت کول، منسوب کول، په دې عبارت کي له ملک څخه مراد د غلام ملکيت او مملوک کېدل دي، او له نسبت څخه مراد تعلق دی کوم چي د فلانکي او د ښځي او ملګري په مينځ کي دی. ﴿هِجْرَان﴾ د نصر مصدر دی: تعلق پرېښوول (تعلق ختمول). ﴿دَوَام﴾ د نصر مصدر دی: همېشتوب، همېشه پاتېدل (باقي کېدل، پاتېدل).

تشريح: مسئله: دا ده که يو څوک قسم واخلي چي زه به د فلانکي سري د غلام سره يا د هغه د ښځي سره يا د هغه د ملګري سره خبري او کلام نه کوم، او حالف (قسم اخيستونکی) د غلام او نورو تعيين نه وکړي، بلکي مطلق قسم واخلي، بيا فلانکی سړی خپل غلام خرڅ کړي، يا هغه خپلي ښځي ته طلاق ورکړي او ښځه بائنه وګرځي، يا د هغه او د خپل ملګري په مينځ کي دوستي او ملګرتيا ختمه سي او په مينځ کي يې نفرت او دښمني پيدا سي، بيا حالف په دوی کي له يوه سره خبري وکړي، نو

✽ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في الدر المختار (ج:۳، ص:۱۱۷). [القول الراجح ج:۲، ص:۴۲۳]

په دې صورت کې حالف نه حانث کیږي، ځکه چې دلته حالف خپل قسم پر داسې فعل منعقد کړی دی کوم چې د فلان وطرف ته په مضاف سوي (منسوب سوي) محل کې واقع دی. په بله وینا دا چې دلته حالف د داسي کسانو سره پر کلام نه کولو خپل قسم معلق کړی دی چې هغه کسان د فلان سره تعلق لري (یعني د دې کسانو او د فلان په مینځ کي تعلق ستته)، ځکه چې د فلان او غلام په مینځ کې د ملکیت په اعتبار ستته تعلق ستته (یعني فلان د غلام مالک دی. او غلام یې مملوک دی). او د ښځې او فلان یا د ملګري او فلان په مینځ کي د نسبت په اعتبار سره تعلق ستته (یعني د دواړو نسبت یوه او بل ته کیږي چې دا د فلانکي ښځه ده او دا د فلانکي ملګری دی). لېکن کله چې فلانکي سړی غلام خرڅ کړی، یا یې ښځې ته طلاق ورکړی، یا د هغه او خپل ملګري په مینځ کي دښمني پیدا سوه. او فلانکي د دوی سره خپل تعلق ختم کړی. او تر دې وروسته حالف په دوی کې د یوه سره خبري وکړي، نو ښکاره خبره ده چې هغه به نه حانث کیږي، ځکه پر کوم تعلق او پر کوم نسبت چې حالف قسم معلق کړی وو، هغه تعلق او نسبت ختم سو (د مسئلې غورچاڼ دا سو چې که حالف د یو سړي سره د کلام نه کولو قسم واخلي، نو که د حالف مراد د هغه سړي ذات وي، نو دا قسم به د همېشه لپاره پاتیږي، او که د حالف مراد د فلانکي وطرف ته د هغه اضافت او نسبت وي، مثلاً ووایي چې د فلانکي سړي د ملګري سره به خبري نه کوم، نو په دې صورت کي چې هر وخت اضافت او نسبت ختم سي، نو قسم هم ختمیږي. او بیا حالف په کلام کولو سره نه حانث کیږي).

قال ﷺ هذا إلخ: فرمایي چې د ملک د اضافت (مضاف کولو) په صورت کې یعني د غلام په صورت کي د حالف نه حانث کېدل خو متفق علیه دي، لېکن د نسبت (تعلّق) د اضافت په صورت کي د امامانو اختلاف دی. هغه دا چې د نسبت (تعلّق) والا په اضافت کي یعني د ښځې او ملګري په صورت کي د شیخینو په نیز حالف نه حانث کیږي، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز حانث کیږي که څه هم نکاح او ملګرتیا ختمه سي؛ په زیادات کي امام محمد رَحِمَهُ الله د دې خبري دلیل دا بیان کړی دی چې د نسبت والا اضافت د پېژندګلوی (تعارف) لپاره وي، او أصل مقصود یې دا وي چې حالف د هغه ښځې او سړي سره خبري کول نه غواړي کوم چې د فلانکي ښځه ده او د فلانکي ملګری دی (یعني په دې سره د حالف مقصد فقط تعارف دی). او د دوی سره (یعني د ښځې او ملګري سره) د حالف نفرت او عداوت هغه وخت هم باقي پاتیږي کله چې د فلانکي سره د دوی تعلق ختم سي (یعني تر تعلق او نسبت ختمېدلو وروسته هم د حالف زړه دا نه غواړي چې د دوی سره خبري وکړي). نو په دې وجه د حانث کېدلو لپاره د تعلق او نسبت پاتېدل شرط نه دی، بلکي د دې دواړو کسانو د ذات سره به قسم متعلق وي. لهذا کله چې هم حالف د دوی سره خبري وکړي، نو حانث به ګرځي. د دې مثال دا دی لکه یو سړی چې د یو چا د ملګري وطرف ته اشاره وکړي او داسي ووایي چې په الله قسم زه به د خالد د دغه ملګري سره

خبري نه کوم، او بيا د دې ملګري او خالد په مينځ کي دښمني او نفرت پيدا سي او دوستي يې ختمه سي، که په دې صورت کي حالف د هغه (يعني د خالد د ملګري) سره خبري وکړي، نو هم حانث کيږي، ځکه چي د حالف مقصد د مشارٌإليه ذات سره خبري نه کول وو، همداسي زموږ په دې مسئله کي هم د حالف مقصد د فلانکي د ښځي او ملګري سره خبري نه کول دي، او د فلانکي سره د دې ښځي د نکاح نسبت يا د دې ملګري د ملګرتيا نسبت يو ضمني او عارضي شی دی، نو ځکه به د دغه ضمني او عارضي نسبت او تعلق سره قسم نه متعلق کيږي، بلکي د دوی د ذات سره به قسم متعلق کيږي.

ووجه ما ذکر ههنا إلخ: صاحب د هدايې فرمايي چي دلته (په متن کي) چي کوم روايت ذکر سو (چي حالف نه حانث کيږي) هغه د جامع صغير روايت دی، او په دې روايْت کي چي د نه حانث کېدلو کوم حکم ذکر سوی دی، د هغه دليل دا دی چي کېدای سي حالف په دې وجه د دوی سره د کلام نه کولو قسم اخيستی وي چي د فلانکي سره د دوی تعلق سته، ځکه چي حالف د فلانکي وطرف ته د دوی اضافت کړی دی او "اِمْرَأَةَ فُلَانٍ يا صَدِيْقَ فُلَانٍ" يې ويلي دي او د فلانکي د ښځي يا د ملګري تعيين يې نه دی کړی (يعني داسي يې نه دي ويلي چي زه به د فلانکي د دغه ښځي او د دغه غلام سره خبري نه کوم، بلکي مطلق يې ويلي دي چي زه به د فلانکي د ښځي او د غلام سره خبري نه کوم، نو دا پر دې دلالت کوي چي حالف له فلانکي څخه نفرت کوي)، او دا هم کېدای سي چي حالف به له ښځي او ملګري څخه نفرت کوي لکه څرنګه چي په زيادات کي ذکر سوي دي، نو په دې حواله سره د حالف مقصد مشکوک سو، او څرنګه چي د فلانکي سړي سره د ښځي او ملګري نسبت ختم سوی دی، نو د دغه شک په وجه به حالف نه حانث کيږي. (دا د جامع صغير د روايت دليل سو).

وإن کانت إلخ: فرمايي که حالف د يو متعين (او معلوم) غلام سره د کلام نه کولو قسم اخيستی وي يعني هغه ويلي وي "وَاللهِ لَا أُكَلِّمُ عَبْدَ فُلَانٍ هٰذَا"، يا هغه د فلانکي د يوې متعيني ښځي يا متعين ملګري سره د کلام نه کولو قسم اخيستی وي، نو که په دې صورت فلانکی سړی خپل غلام خرڅ کړي (يعني غلام د فلانکي له ملکيت څخه ووځي)، او بيا حالف د هغه سره خبري وکړي، نو نه حانث کيږي، او که د فلانکي سره د ښځي او ملګري نسبت او تعلق ختم سي، او بيا حالف خبري ورسره وکړي، نو حانث کيږي (يعني د غلام په صورت حالف په کلام کولو سره نه حانث کيږي، او د ښځي او ملګري په صورت کي حانث کيږي)، لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي د غلام په صورت کي هم حانث کيږي. همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی.

او که يو څوک قسم واخلي چي د فلانکي سړي کور ته به نه داخلېږم، تر دې وروسته فلانکی سړی هغه کور خرڅ کړي، او بيا حالف په هغه کور کي داخل سي، نو دا مسئله هم د شيخينو او امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز مختلف فيه ده "أي لا يحنث عندهما ويحنث عند محمد".

د پورتنۍ مسئلې دلائل او نور وضاحت

وَجْهُ قَوْلِ مُحَمَّدٍ وَزُفَرَ: أَنَّ الْإِضَافَةَ لِلتَّعْرِيفِ د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله د قول دليل دا دی: چې اضافت د پېژندګلوۍ [تعارف] لپاره وي وَالْإِشَارَةُ أَبْلَغُ مِنْهَا او [په دې باره کې] اشاره له اضافت څخه زياته بليغه [او مؤثره] ده لِكَوْنِهَا قَاطِعَةً لِلشَّرِكَةِ ځکه چې اشاره [په پوره توګه] د شرکت ختمونکې ده بِخِلَافِ الْإِضَافَةِ په خلاف د اضافت فَاعْتُبِرَتِ الْإِشَارَةُ وَلُغِيَتِ الْإِضَافَةُ نو ځکه د اشارې اعتبار وسو او اضافت لغو سو وَصَارَ كَالصَّدِيقِ وَالْمَرْأَةِ او غلام د ملګري او ښځې په څېر سو وَلَهُمَا: أَنَّ الدَّاعِيَ إِلَى الْيَمِينِ مَعْنًى فِي الْمُضَافِ إِلَيْهِ د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې د قسم طرف ته ور بلونکې داسې معنیٰ [او خبره] ده کوم چې په مضاف إليه [فلانکي] کې سته لِأَنَّ هَذِهِ الْأَعْيَانَ لَا تُهْجَرُ وَلَا تُعَادَى لِذَوَاتِهَا ځکه دا ذاتونه د خپل ذات په وجه نه پرېښوول کيږي او نه د دوی سره د خپل ذات په وجه دښمني [عدوات] کيږي وَكَذَا الْعَبْدُ او همدارنګه د غلام [سره هم د خپل ذات په وجه دښمني نه کيږي] لِسُقُوطِ مَنْزِلَتِهِ ځکه چې د غلام درجه [او مرتبه] ډېره لوېدلې دی [او د دې قابل نه دی چې انسان دښمني ور سره وکړي] بَلْ لِمَعْنًى فِي مُلَّاكِهَا بلکې د دوی سره هجران او دښمني د يو داسې سبب په وجه سره وي کوم چې د دوی په مالکانو کې وي فَتَتَقَيَّدُ الْيَمِينُ بِحَالِ قِيَامِ الْمِلْكِ نو ځکه به قسم د ملکيت د قيام [بقاء] په حالت سره مقيد کيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَتِ الْإِضَافَةُ نِسْبَةً كَالصَّدِيقِ وَالْمَرْأَةِ په خلاف د هغه صورت کله چې اضافت د يو نسبت [تعلق] پر بنياد وي لکه ملګری او ښځه لِأَنَّهُ يُعَادَى لِذَاتِهِ ځکه [په دوی کې] د هر يوه سره د هغه د ذات په وجه دښمني کيږي فَكَانَتِ الْإِضَافَةُ لِلتَّعْرِيفِ نو [په دوی کې] به دا اضافت [نسبت] د پېژندګلوۍ لپاره وَالدَّاعِي لِمَعْنًى فِي الْمُضَافِ إِلَيْهِ غَيْرُ ظَاهِرٍ او په مضاف إليه کې د قسم و طرف ته ور بلونکې معنیٰ [او سبب] ښکاره نه دی لِعَدَمِ التَّعْيِينِ ځکه حالف [هغه] متعين کړی نه دی بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د هغه صورت کې کوم چې مخکې ذکر سو [يعني د ملکيت اضافت].

اللغات: ﴿أَبْلَغ﴾ د ضرب له باب څخه اسمِ تفضيل دی: زيات رسونکی. ﴿قَاطِعَة﴾ د فتح مؤنث اسمِ فاعل دی: غوڅونکی (قطع کوونکی)، ختمونکی. ﴿مُلَّاك﴾ جمع د مَالِک ده. لکه طُلَّاب چې جمع د طَالِب ده: مالک، څښتن، خاوند. ﴿لا تُعَادَى﴾ د مفاعلې له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: دښمني کول، دښمن کېدل، عداوت کول.

تشريح: په مختلف فيه مسئلو کې د امام محمد رَحِمَهُ الله او د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې اضافت د پېژندګلوی (تعارف) لپاره وي، او د دې کار (تعارف) لپاره اشاره تر اضافت زيات مناسبه او اغېزمنه ده، ځکه چې په اشاره سره شرکت بالکل ختمېږي، لېکن په اضافت کې بيا هم د شرکت احتمال پاتېږي، او څرنګه چې په دې مسئله کې حالف "عَبْدَ فُلَانٍ هٰذَا" ويلې دي او اشاره يې کړې ده، نو ځکه به د اشارې اعتبار کېږي، او حالف چې کله هم د دې غلام سره خبرې وکړي، نو حانث کېږي به، که څه هم دا غلام د فلانکي له ملکيت څخه وتلی وي، لکه څرنګه چې د ښځې او ملګري په مسئله کې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز تر تعلق او نسبت ختمېدلو وروسته هم حالف حانث کېږي.

ولهما إلخ: د شيخينو رَحِمَهُمَا الله د دليل حاصل دا دی چې په غلام او کور کې د نفرت او عداوت وجه د هغو ذات نه وي، بلکې د هغو مالک (فلانکی) وي، (يعني حالف د فلانکي سره د نفرت په وجه د هغه د غلام سره هم خبرې نه کوي، يا د هغه کور ته هم نه داخلېږي)، لهذا تر څو چې دا شيان (کور او غلام) د فلانکي په ملکيت کې وي، نو حالف به د غلام سره په کلام کولو يا کور ته په داخلېدلو سره حانث کېږي، لېکن کله چې د فلانکي ملکيت ختم سي، نو په کلام کولو يا داخلېدلو سره به حالف نه حانث کېږي، او په ښځه او ملګري کې د عداوت وجه او بنياد په خپله ښځه او ملګری وي، او حالف دوی ته په "هٰذِهٖ او هٰذَا" سره اشاره هم کړې ده، نو ځکه به د دوی ذات مقصود وي، او تر تعلق او نسبت ختمېدلو وروسته هم که حالف د دوی سره خبرې وکړي، نو حانث به ګرځي (دا د شيخينو د دليل غورچاڼ او خلاصه وه، تاسې عبارت ښه په توجه سره مطالعه کړئ!).

بخلاف ما إذا كانتِ الإضافة نسبةً: د دې په خلاف د ملګري او ښځې معامله ده، نو د فلانکي سره چې د دوی کوم تعلق او نسبت دی، هغه پر نکاح او ملګرتيا مبني دی، نو ځکه به په دوی کې چې د فلان وطرف ته کوم نسبت وي هغه به د تعارف لپاره وي، او حالف په تعيين نه کولو سره دې خبرې ته اشاره هم کړې ده (چې په دې سره به د حالف مراد فقط تعارف وي)، لهذا د دوی د قسم او يمين مُحرّک او داعي به خپله د دوی په ذات کې موجود وي (يعني په ښځه او ملګري کې به د عداوت وجه او بنياد په خپله ښځه او ملګری وي)، او له فلان څخه به د دوی تر تعلق او نسبت ختمېدلو وروسته هم حالف په کلام کولو سره حانث کېږي، د دې په خلاف په اول صورت کې يعني د ملکيت د اضافت په صورت کې (چې کوم غلام او کور دي، په هغه کې) د قسم داعي په مضاف إليه يعني په فلان کې دی، نو تر څو چې هغه (غلام او کور) د فلانکي په ملکيت کې وي، تر هغه وخته پورې به حالف په کلام کولو او داخلېدلو سره حانث کېږي، لېکن کله چې د هغه ملکيت ختم سي، نو بيا به حالف په دې سره نه حانث کېږي.

د پورتنۍ مسئلې يو بل صورت

قَالَ: وَإِنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ صَاحِبَ هٰذَا الطَّيْلَسَانِ فرمايي: که [يو شوک] قسم واخلي چې هغه به د دې څادر [پټو] والا سره خبرې نه کوي [يعني مثلاً ووايي: په الله قسم! زه به د دې کمر پټولو والا سره خبرې نه کوم] فَبَاعَهُ ثُمَّ كَلَّمَهُ او [بيا] هغه سړي خپل څادر خرڅ کړي بيا حالف د هغه سره خبرې وکړي حَنِثَ نو حالف حانث کيږي لِأَنَّ هٰذِهِ الْإِضَافَةَ لَا تَحْتَمِلُ إِلَّا التَّعْرِيفَ ځکه چې دا نسبت فقط د تعارف احتمال لري لِأَنَّ الْإِنْسَانَ لَا يُعَادٰى لِمَعْنًى فِي الطَّيْلَسَانِ ځکه چې د انسان سره د يو داسې معنیٰ په وجه دښمني نه کيږي کوم چې په څادر کې وي فَصَارَ كَمَا إِذَا أَشَارَ إِلَيْهِ نو داسې سو لکه حالف چې د څادر والا ته اشاره کړې وي [حاصل دا چې دلته د پټو والا شخصه مراد د هغه ذات دی، ځکه چې د پټو په وجه د يو چا سره دښمني نه کيږي، نو ځکه دا نسبت فقط د تعارف او پېژندګلوی لپاره سو، او کله چې پټو والا خپل پټو خرڅ کړي او حالف خبرې ور سره وکړي، نو د هغه د ذات سره يې خبرې وکړې، نو ځکه به حانث کيږي] وَمَنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ هٰذَا الشَّابَّ او که يو شوک قسم واخلي چې د دې ځوان سره به خبرې نه کوي فَكَلَّمَهُ وَقَدْ صَارَ شَيْخًا او [بيا] حالف د هغه سره د هغه د بوډاتوب [سپين بږيرتوب] په حالت کې خبرې وکړي حَنِثَ نو حانث کيږي لِأَنَّ الْحُكْمَ تَعَلَّقَ بِالْمُشَارِ إِلَيْهِ ځکه چې حکم د مشارٌ إليه سره متعلق سو إِذِ الصِّفَةُ فِي الْحَاضِرِ لَغْوٌ ځکه چې په حاضر کې صفت لغو دی وَهٰذِهِ الصِّفَةُ لَيْسَتْ بِدَاعِيَةٍ إِلَى الْيَمِينِ او دا صفت د قسم وطرف ته بلونکی هم نه دی. عَلٰى مَا مَرَّ مِنْ قَبْلُ لکه مخکې چې دا [بحث] تېر سو. [حاصل دا چې که شوک قسم واخلي چې زه به د دې ځوان سره خبرې نه کوم، بيا هغه سپين بږيری سي، او حالف خبرې ور سره وکړي، نو نه حانث کيږي، ① ځکه چې دلته د ځوان والي صفت مراد نه دی، بلکې د چا وطرف ته چې اشاره سوې ده، د هغه ذات مراد دی، ② او بل دا چې دلته ځوانوالی د دښمنۍ بنياد دی، نو ځکه به د ځوان ذات مقصود وي، او په سپين بږيرتوب کې هم د هغه ذات موجود دی، نو ځکه به حالف د هغه سره د خبرو کولو په وجه حانث کيږي].

اللغات: ﴿طَيْلَسَان﴾ يو ډول حاشيه دار او ګلداره څادر (پټو) دی، ﴿شَابّ﴾ ځوان، زلمی، جمع: شُبَّاب.

تشريح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بيان سوي دي، چې د هغه څه تشريح موږ په ترجمه کې ذکر کړه، او نوري تشريح ته ضرورت نسته، ځکه چې دواړي مسئلې نهايت آسانه دي او پر مخکنې دليل مبني دي.



فَصْلٌ

دا فصل د کلام او خبرو په قسم کي د مودت ذکر کولو په بيان کي دی

تشريح: مخکي تر دې چي کومي مسئلې بيان سوې، د هغوی تعلق د أعيانو سره وو. او په دې فصل کي د "حلف بالكلام" په هکله هغه مسئلې بيانيږي کوم چي د مودت او زمان سره تعلق لري. او په همدغه سبب دا مسئلې په جلا (عليحده) فصل کي ذکر کيږي.

د "حِيْنٌ" يا "زمان" قسم

قَالَ: وَمَنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ حِينًا أَوْ زَمَانًا أَوِ الْحِينَ أَوِ الزَّمَانَ فرمايي: او که څوک قسم واخلي چي هغه به [د فلانکي سره] تر يوه حين يا يوې زمانې پورې، يا تر حين او زمانې پورې خبرې نه کوي فَهُوَ عَلَى سِتَّةِ أَشْهُرٍ نو دا قسم به پر شپږو مياشتو [محمول] وي لِأَنَّ الْحِينَ قَدْ يُرَادُ بِهِ الزَّمَانُ الْقَلِيلُ ځکه چي د حِيْن په لفظ سره کله لږ زمانه مراديږي وَقَدْ يُرَادُ بِهِ أَرْبَعُونَ سَنَةً او کله په دې سره څلوېښت کاله [مُدّت] مراديږي قَالَ اللهُ تَعَالَى هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ [الإنسان: ١] الله تعالىٰ فرمايلي دي: هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ ...إلخ [په دې آيت کي د ځيني مفسرينو په نيز له "حِيْن" څخه مراد څلوېښت کاله دي] وَقَدْ يُرَادُ بِهِ سِتَّةُ أَشْهُرٍ او کله په دې سره شپږ مياشتي مرادي وي. قَالَ اللهُ تَعَالَى تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ [إبراهيم: ٢٥] الله تعالىٰ فرمايلي دي: تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِيْنٍ...إلخ وَهَذَا هُوَ الْوَسَطُ او همدا د مېنځوی درجې وخت دی فَيَنْصَرِفُ إِلَيْهِ نو ځکه به حِيْن د هغه و طرف ته راجع کيږي وَهَذَا لِأَنَّ الْيَسِيرَ لَا يُقْصَدُ بِالْمَنْعِ او دا ځکه چي لږ وخت په منع کېدلو سره مقصود نه وي [يعني د لږ ګړي لپاره د قسم اخيستلو او د کلا څخه د منع کېدلو اراده نه کيږي] لِوُجُودِ الْامْتِنَاعِ فِيهِ عَادَةً ځکه چي د لږ ګړي لپاره [د کلام څخه] منع کېدل خو عادتاً موجود [او جاري] دي [يعني په عامه توګه خلک په خپل مېنځ کي د لږ ګړي لپاره ديو او بل سره خبري نه کوي. همدارنګه د لږ

ګړي لپاره خو يو انسان هم په خپلو خبرو کې دريږي] وَالْمُؤَبَّدُ لَا يُقْصَدُ غَالِبًا او په دې سره غالباً د ډېر وخت [څلويښتو کالو] اراده [هم] نه کيږي لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْأَبَدِ ځکه چې دا هم د أبد [هميشني وخت] په درجه کې دي وَلَوْ سَكَتَ عَنْهُ او که حالف دَ حِيْن د لفظ څخه چپ پاته سي [يعني که حالف په خپل قسم کې د حِيْن لفظ ذکر کړي نه وای] يَتَأَبَّدُ نو [هم] قسم مؤبد ګرځي [معلومه سوه چې په دې سره د حالف اراده د هميشه لپاره قسم اخيستل او امتناع عنِ الکلام نه دی. لهذا مؤبد (څلويښت کاله) هم متعين کېدلای نه سي] فَتَعَيَّنَ مَا ذَكَرْنَا نو ځکه هغه [مُدّت] متعين سو کوم چې موږ ذکر کړی [يعني شپږ مياشتي] وَكَذَا الزَّمَانُ يُسْتَعْمَلُ اسْتِعْمَالَ الْحِيْنِ همدارنګه زمانه هم د حِيْنِ په څير استعماليږي يُقَالُ مَا رَأَيْتُكَ مُنْذُ حِيْنٍ وَمُنْذُ زَمَانٍ بِمَعْنًى الکه څرنګه چې [مَا رَأَيْتُكَ مُنْذ حِيْنٍ او مُنْذ زَمَانٍ [دواړه] په يوه معنیٰ سره ويل کيږي وَهَذَا إِذَا لَمْ تَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ او دا [يعني پر شپږو مياشتو د حِيْن لفظ حمل کول] په هغه صورت کې دي کله چې [په حِيْن سره] د حالف هيڅ نيت نه وي أَمَّا إِذَا نَوَى شَيْئًا فَهُوَ عَلَى مَا نَوَى لېکن که هغه [په دې سره] ديو [معلوم] مودت نيت کړی وي نو قسم به د هغه د نيت مطابق وي لِأَنَّهُ نَوَى حَقِيقَةَ كَلَامِهِ ځکه چې حالف د خپل کلام د حقيقي معنیٰ نيت وکړی وَكَذٰلِكَ الدَّهْرُ عِنْدَهُمَا او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دَهر هم داسي دی [يعني د حِيْن په څير شپږ مياشتي به څني مراديږي] وَقَالَ أَبُوحَنِيفَةَ ◆: الدَّهْرُ لَا أَدْرِيْ مَا هُوَ؟ او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چې ما ته معلومه نه ده چې د دَهر مودت څومره دی ؟ وَهَذَا الِاخْتِلَافُ فِي الْمُنَكَّرِ او دا اختلاف په دَهر نکره کې دی وَهُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده أَمَّا الْمُعَرَّفُ بِالْأَلِفِ وَاللَّامِ يُرَادُ بِهِ الْأَبَدُ عُرْفًا او کوم چې معرّف باللام [الدّهر] دی. نو په هغه سره په عرف کې أبد [او هميشتوب] مراديږي لَهُمَا: أَنَّ دَهْرًا يُسْتَعْمَلُ اسْتِعْمَالَ الْحِيْنِ وَالزَّمَانِ د صاحبينو دليل دا دی: چې دَهر [نکره] د حِيْن او زمان په څير استعماليږي يُقَالُ مَا رَأَيْتُكَ مُنْذُ حِيْنٍ وَمُنْذُ

◆ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَاالله ، كما قال العلامة ابن نجيم رَحِمَهُالله : وأما الدهر المنكر، فقال أبو حنيفة رَحِمَهُالله : لا أدري ما هو، وقالا: هو كالحين، وهذا هو الصحيح. (البحر الرائق ج:۴، ص:۳۳۹)، وكذا في الدر المختار (ج:۳، ص:۱۱۸). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۲۴]

دَهْرٍ بِمَعْنًى [لکه څرنګه چي] مَا رأَيْتُکَ مُنْذ حِيْنٍ او مُنْذ دَهْرٍ [دواړه] په يوه معنىٰ سره ويل کيږي وَأَبُوحَنِيفَةَ تَوَقَّفَ فِي تَقْدِيرِهِ او امام صاحب رَحِمَهُ الله د دې په اندازه بيانولو کې توقف کړی دی لِأَنَّ اللُّغَاتِ لَاتُدْرَکُ قِيَاسًا ځکه چي په قياس سره لغات معلومېدای نه سي وَالْعُرْفُ لَمْ يُعْرَفْ اسْتِمْرَارُهُ او [د دَهْر (نکره) په باره کي] د عرف استمرار پېژندل سوی نه دی [يعني په عرف کي د دې لفظ لپاره يو معلوم مودت پېژندل سوی نه دی] لِاخْتِلَافٍ فِي الِاسْتِعْمَالِ ځکه چي [د دې لفظ] په استعمال کي اختلاف دی.

اللغات: ﴿حِيْن﴾ مودت، وخت. ﴿مُؤَبَّد﴾ همېشني، همېشه والا، أبدي. ﴿دَهْر﴾ زمانه، وخت. ﴿لَا أَدْرِيْ﴾ د ضرب له باب څخه د نفي صيغه ده: زه په خبر نه يم، ما ته معلومه نه ده (نه يې پېژنم). ﴿لَا تُدْرَک﴾ د افعال له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده: فهم او إدراک کول، ځان ته معلومول. ﴿اِسْتِمْرَار﴾ د استفعال مصدر دی: پر يوه حالت باقي پاتېدل، همېشه پاتېدل (تلوالی).

تشريح: مسئله: دا ده که يو څوک داسي قسم واخلي: "وَاللهِ! لَا أُكَلِّمُهُ حِيْنًا يا زَمَانًا. يا ووايي "لَا أُكَلِّمُهُ الحِيْنَ يا الزَّمَانَ" (په الله قسم! زه به د فلانکي سره يو حين يا يوه زمانه خبري نه کوم). نو حِيْنَ او زَمَان که نکره وي يا الحِيْن او الزَّمَان معرفه وي، د دې څلورو سره لفظونو إطلاق پر شپږو مياشتو کيږي، نو په دې څلورو سره صور تونو کي به د حالف قسم پر شپږو مياشتو محمول وي، او د هغه د قسم حدّ به شپږ مياشتي وي.

ځکه چي د حِيْن په لفظ سره کله لږ مودت مراديږي. لکه د قرآن په دې آيت "فَسُبْحَانَ اللهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ" کي چي له حِيْن څخه معمولي مودت يعني د لمانځه وخت مراد دی (او کله په دې سره يو ګړی او يوه ثانيه مراديږي). او کله په حِيْن سره زيات (اوږد) مودت مراديږي. لکه په "هَلْ أَتَىٰ عَلَى الإِنْسَانِ حِيْنٌ مِنَ الدَّهْرِ" کي چي کوم حِيْن دی. له هغه څخه د ځينو مفسرينو په قول د څلوېښتو کالو مودت مراد دی. او کله په دې لفظ (حِيْن) سره مېنځوی (درميانه) مودت يعني شپږ مياشتي مراديږي. لکه په "تُؤْتِيْ أُكُلَهَا كُلَّ حِيْنٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا" کي چي کوم حِيْن دی، له هغه څخه د شپږو مياشتو مودت مراد دی. او څرنګه چي دا يعني د شپږو مياشتو والا مودت د قليل او کثير په مېنځ کي (مېنځوی) مودت دی، نو ځکه به د حالف قسم پر همدغه مودت حمل کيږي.

په دې هکله دويم دليل دا دی چې په داسې قسم اخيستلو کې د حالف مقصد د مېنځوی درجې مودت وي، ځکه چې په معمولي مودت کې خو عام خلک هم د يوه او بل سره خبرې نه کوي، بلکې کله نا کله د دوو خوږو ملګرو د کلام او ملاقات په مېنځ کې څو ورځې وقفه او فاصله راسي، نو ځکه لږ او قليل مودت مرادېدای نه سي، او په داسې قسم سره د حالف مقصد کثير مودت هم نه وي، ځکه چې د ټولو ژبنتو کالو وقفه د مؤبد (همېشني) قسم په درجه کې ده، او که حالف د حِيْن لفظ ذکر کړي نه وای، نو هم د هغه قسم مؤبد ګرځېدای او د همېشه لپاره کلام حرامېدی، لهذا د حِيْن يا زمان لفظ ذکر کول د دې خبرې دليل دی چې د حالف مقصد د همېشه لپاره قسم اخيستل او کلام حرامول نه دي، نو په دې وجه دلته أبد او اکثر مودت هم مرادېدلای نه سي، نو ځکه به مېنځوی مودت (شپږ مياشتې) مرادېږي، او دا قسم به تر شپږو مياشتو پوره مؤثر او اغېزمن وي.

وكذا الزمان إلخ: فرمايي: کوم حکم چې د حِيْنًا يا الحِيْن دی، هغه حکم د زَمَانًا يا الزَّمَان هم دی، ځکه چې زَمَان هم د حِيْن په څېر استعمالېږي، لکه څرنګه چې مَا رَأَيْتُكَ مُنْذُ حِيْنٍ او مَا رَيْتُكَ مُنْذ زَمَانٍ دواړه په يوه معنیٰ سره استعمالېږي، او په دواړو کې هيڅ فرق نسته.

وهذا إلخ: فرمايي چې له حِيْن او زمان څخه شپږ مياشتې په هغه صورت کې مرادېږي کله چې حالف هيڅ نيت کړی نه وي، لېکن که حالف په حِيْن او زمان سره د يو معلوم مودت نيت کړی وي، نو هغه نيت (او ټاکلی مودت) به مرادېږي، او تر هغه وخته پورې به قسم مؤثر وي، ځکه چې د حالف کلام د دې معنیٰ احتمال هم لري، او هغه د حالف د کلام حقيقي معنیٰ ده، نو ځکه هغه مرادول او د هغې نيت کول هم صحيح او جائز دي.

وكذلك الدهر إلخ: فرمايي: کوم حکم چې د حِيْن او زمان دی، هغه حکم د صاحبينو په نېز د دَهْر هم دی، يعني که حالف لَا أُكَلِّمُ فُلَانًا الدَّهْرَ يا دَهْرًا ووايي، نو د صاحبينو په نېز له دې څخه شپږ مياشتې مرادېږي، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز له دې څخه هيڅ مودت نه مرادېږي، د دې حضراتو دغه اختلاف په دَهْرًا نکره کې دی، لېکن که الدَّهْر معرفه وي، نو په دې کې د دوی هيڅ اختلاف نسته او له معرفه (الدَّهْر) څخه بالاتفاق په عُرف کې أبديت او همېشتوب مرادېږي.

په مختلف فيه مسئله کې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې د حِيْن او زمان په څېر دَهْرًا هم په يوه معنیٰ سره استعمالېږي، لهذا کم حکم چې د حِيْنًا او زَمَانًا وي، هغه حکم به د دَهْرًا هم وي.

وَأَبُوْحَنِيْفَةَ إِلَخْ: امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چي لغات په قياس سره نه سي معلومول کېداى. او نکره دَهْرًا د معرفه الدَّهر په څېر د يوې معنىٰ لپاره نه استعمالېږي، او په عرف کي د نکره دَهْرًا لپاره هيڅ مطلب او هيڅ مودت مشهور نه دى، نو ځکه غوره دا ده چي د دَهْرًا د مودت پهٔ متعينولو کي توقف وسي، او په دې هکله بايد سکوت اختيار سي او په قياس، ګومان او خيال سره بايد د دَهْرًا لپاره هيڅ معنىٰ او مودت متعين نه کړى سي.

فايده: امام صاحب رَحِمَهُ الله په څوارلسو (۱۴) مسئلو کي توقف کړى دى چي له هغو څخه يوه د "دَهْر" مسئله ده. (رد المحتار ج:۳، ص:۱۱۸)

د "يو څو ورځو" يا "ډېرو ورځو" قسم

وَلَوْحَلَفَ لَايُكَلِّمُهُ أَيَّامًا او که [يو څوک] قسم واخلي چي هغه به [د فلانکي سره] څو ورځي خبري نه کوي فَهُوَعَلٰى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ نو دا قسم به پر درېو ورځو [محمول] وي لِأَنَّهٗ اِسْمُ جَمْعٍ ذُكِرَ مُنَكَّرًا ځکه أَيَّام اسمِ جمع دى چي هغه [دلته] نکره ذکر سوى دى فَيُتَنَاوَلُ أَقَلَّ الْجَمْعِ وَهُوَالثَّلَاثُ نو د جمع کم عدد ته به شامل وي، او د جمع کم عدد درې دى وَلَوْحَلَفَ لَايُكَلِّمُهُ الْأَيَّامَ او که هغه [داسي] قسم واخلي چي لَا يُكَلِّمُهُ الْأَيَّام فَهُوَعَلٰى عَشَرَةِ أَيَّامٍ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا قسم پر لسو ورځو [محمول] دى وَقَالَا❁: عَلٰى أَيَّامِ الْأُسْبُوعِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د اوونۍ [هفتې] پر ورځو [محمول] دى وَلَوْحَلَفَ لَايُكَلِّمُهُ الشُّهُوْرَ او که هغه [داسي] قسم واخلي چي لَا يُكَلِّمُهُ الشُّهُوْر فَهُوَعَلٰى عَشَرَةِ أَشْهُرٍعِنْدَهٗ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا قسم پر لسو مياشتو [محمول او مشتمل] دى وَعِنْدَهُمَا عَلَى اثْنَيْ عَشَرَ شَهْرًا او د صاحبينو په نيز پر دوولسو مياشتو [محمول] دى لِأَنَّ اللَّامَ لِلْمَعْهُوْدِ ځکه چي لام د متعين [مطلب او مقدار] لپاره وي وَهُوَمَا ذَكَرْنَا او متعين [مطلب] هغه دى کوم چي موږ ذکر کړى [يعني د هفتې ورځي او دوولس

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ، كما قال العلامة داما افندي رَحِمَهُ الله: وإن عرّف أى قال: لا أكلمه الأيام أو الشهور أو السنين فعلى عشرة كأيام كثيرة؛ لأنه جمع معرف فينصرف إلى أقصى ما يذكر من الجمع وهو العشرة عند الإمام وهو الصحيح (مجمع الأنهر ج:۱، ص:۵۷۷)، وكذا في رد المحتار (ج:۳، ص:۱۱۹). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۲۵]

مياشتي، ځکه چي خلک له أيام او الشهور څخه همدغه مطلب اخلي] لِأَنَّهُ يَدُورُ عَلَيْهَا ځکه چي د کال مدار پر همدغه [مقدار] دی [يعني کالي پر همدې دوولسو مياشتو گرځي راگرځي. همدارنگه هفته (اونۍ) پر اوو ورځو گرځي راگرځي] وَلَهُ: أَنَّهُ جَمْعٌ مُعَرَّفٌ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي دا جمع معرف باللام ده فَيَنْصَرِفُ إِلَى أَقْصَى مَا يُذْكَرُ بِلَفْظِ الْجَمْعِ نو د جمع د لفظ په ذکر کولو سره چي کوم آخري عدد مراديږي دا لفظ [الشهور] به د هغه وطرف ته راجع کيږي وَذٰلِكَ عَشَرَةٌ او هغه عدد لس دی وَكَذَا الْجَوَابُ عِنْدَهُ فِي الْجُمَعِ وَالسِّنِينَ او په جُمَع [جمعه ګانو] او سِنِين [کلونو] کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هم دغه حکم دی وَعِنْدَهُمَا يَنْصَرِفُ إِلَى الْعُمُرِ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د دوی قسم ټوله عمر ته راجع کيږي [يعني د صاحبينو په نيز په جُمَع او سنين کي قسم د ټوله عمر لپاره ثابتيږي] لِأَنَّهُ لَا مَعْهُودَ دُونَهُ ځکه چي [د داسي لفظونو لپاره] تر دې کم [مقدار] متعين نه دی وَمَنْ قَالَ لِعَبْدِهِ: إِنْ خَدَمْتَنِي أَيَّامًا كَثِيرَةً او څوک چي خپل غلام ته ووايي: که چيري ته زما ډيري ورځي خدمت وکړي فَأَنْتَ حُرٌّ نو ته آزاد يې فَالْأَيَّامُ الْكَثِيرَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ عَشَرَةُ أَيَّامٍ ◈ نو ډيري ورځي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز لس ورځي دي لِأَنَّهُ أَكْثَرُ مَا يَتَنَاوَلُهُ اِسْمُ الْأَيَّامِ ځکه چي دا هغه أکثر مقدار دی چي هغه ته د أيام لفظ شامليږي وَقَالَا: سَبْعَةُ أَيَّامٍ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي [هغه] اووه ورځي دي لِأَنَّ مَا زَادَ عَلَيْهَا تَكْرَارٌ ځکه چي له اوو ورځو څخه په زياتو ورځو کي تکرار دی وَقِيلَ: لَوْ كَانَ الْيَمِينُ بِالْفَارِسِيَّةِ او ويل سوي دي: که چيري قسم په فارسي ژبه سره وي يَنْصَرِفُ إِلَى سَبْعَةِ أَيَّامٍ نو هغه [د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هم] د اوو ورځو وطرف ته ګرځول کيږي لِأَنَّهُ يُذْكَرُ فِيهَا بِلَفْظِ الْفَرْدِ دُونَ الْجَمْعِ ځکه چي په فارسي ژبه کي د "رُوز" لفظ مفرد ذکر کيږي، نه جمع.

اللغات: ﴿أُسْبُوْع﴾ اونۍ، هفته، اووه ورځي. ﴿مَعْهُوْد﴾ متعين، معروف، معلوم (له مخکي څخه په ذهنو کي موجود). ﴿أَقْصَى﴾ انتهائي (آخري)، ډېر لري.

١

◈ القول الراجح: قول أبي حنيفه رَحِمَهُ الله، كما ذكر في البحر الرائق (ج:١، ص:٣٤٠)، وكذا في الدر المختار (ج:٣، ص:١١٩). [القول الراجح ج:١، ص:٤٢٦]

تشريح: په دې عبارت کې د يَوْم، شَهْر او داسې نورو په هکله د قسم څو مسئلې ذکر سوې دي: تاسې ورته ګورئ!:

(١)... که يو څوک أَيَّامًا نکره ذکر کړي او داسې قسم واخلي: وَاللهِ! لَا أُکَلِّمُ فُلَانًا أَيَّامًا. نو په دې سره بالاتفاق درې ورځې مراديږي، او تر دريو ورځو پورې به دا قسم مؤثر وي؛ دليل دا دی چې أَيَّامًا اسمِ جمع دی او نکره دی. لهذا دا به د جمع أقل فرد ته شامل وي. او د جمع أقل فرد "درې" (ثَلَاث) دی. نو ځکه به له أَيَّامًا نکره څخه درې ورځې قسم مراديږي.

(٢)... که دا قسم واخلي: "وَاللهِ! لَا أُکَلِّمُ فُلَانًا الْأَيَّامَ". يعني الْأَيَّام په الف لام سره معرفه ذکر کړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز له دې څخه لس (١٠) ورځې مراديږي. لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز له دې څخه اووه (٧) ورځې مراديږي. يعني دا قسم به تر اوو ورځو پورې مؤثر وي. (٣)... او که وايي "وَالله! لَا أُکَلِّمُهُ الشُّهُوْر"، يعني الشُّهُوْر په الف لام سره معرفه ذکر کړي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز له دې څخه لس (١٠) مياشتې مراديږي. او د صاحبينو په نيز دوولس (١٢) مياشتې ځني مراديږي.

د صاحبينو دليل: په دواړو مسئلو کې د صاحبينو دليل دا دی چې په الْأَيَّام او الشُّهُوْر کې چې کوم د معرفې الف لام ذکر سوی دی، دا الف لام د متعين مقدار وطرف ته د اشارې کولو لپاره او د متعين مقدار د مرادولو لپاره راځي، او په الْأَيَّام کې اووه (٧) ورځې متعين دي او په الشُّهُوْر کې دوولس (١٢) مياشتې متعين دي، ځکه چې ورځې ټوله أووه دي (يعني شنبه. يکشنبه... ټولې اووه ورځې دي)، او مياشتې ټوله دوولس دي. نو ځکه به له الْأَيَّام څخه اووه ورځې او له الشُّهُوْر څخه دوولس مياشتې مراديږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې الْأَيَّام او الشُّهُوْر دواړې د جمع صيغې دي او دواړې په الف لام سره معرفه ده (يعني دواړې معرف باللام جمع دي). لهذا له دې څخه به هغه مقدار مراديږي کوم چې د جمع انتهائي او آخري مقدار وي. او په عرف کې د دې انتهائي مقدار لس (١٠) دی (يعني په عرف کې د دې جمع د انتهائي مقدار لپاره د لس (١٠) عدد متعين دی. او تر لس عدده پورې خلک د جمع صيغه استعمالوي). لکه څرنګه چې خلک وايي: "ثَلَاثَةَ أَيَّام... خَمْسَةَ أَيَّام... عَشَرَةَ أَيَّام". يعني له دريو څخه تر لسو پورې خلک أَيَّام جمع ذکر کوي. او تر لسو وروسته أَيَّام جمع نه ذکر کوي. بلکې

هغه مفرد ذکر وي او وايي: "أَحَدَ عَشَرَ يَوْمًا... خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا... إلخ". له دې څخه معلومه سوه چې د أَيَّام آخري مقدار په عرف کې لس (١٠) دی. نو ځکه به په دواړو صورتونو کې (د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز) همدغه مقدار مرادیږي.

وكذا الجواب إلخ: فرمايي که يو څوک په خپل قسم کې جُمُعَة د جمع په صيغه سره الجُمَع ذکر کړي يا سَنَة د جمع په صيغه سره السِّنِيْن ذکر کړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز له دې څخه لس جُمعې او لس کاله مراديږي، ځکه چې د خلکو په عرف او خبرو اترو کې له جمع څخه د لسو (عَشَرَة) مقدار مراديږي، او د صاحبينو په نېز له دې څخه ټوله ژوند مراديږي، او دا قسم به د ټوله عمر لپاره وي، ځکه چې د داسي جمع لپاره له دې څخه کم بل معهود او متعين مقدار نسته (لهذا که حالف په ټوله عمر کي د فلان سره خبري وکړي، نو د صاحبينو په نېز حانث کيږي، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز تر لسو جمعو يا لسو کالو وروسته نه حانث کيږي).

(۴)... که يو څوک خپل غلام ته ووايي: إِنْ خَدَمْتَنِيْ أَيَّامًا كَثِيْرَةً فَأَنْتَ حُرٌّ. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز له أَيَّامًا كَثِيْرَة څخه لاس ورځې مراديږي، ځکه چې لس هغه أکثر مقدار دی کوم ته چې د أيَّام لفظ شامليږي، او د صاحبينو په نېز له دې څخه اووه (۷) ورځې مراديږي، ځکه چې اوونۍ (هفته) ټوله اووه ورځي ده. او له يوې اونۍ (هفتې) څخه وروسته بله اونۍ (هفته) شروع کيږي. يعني تر يوې اونۍ وروسته بيرته هغه اونۍ تکرايږي (مثلاً د جمعې له ورځې څخه اووه ورځي وروسته بله د جمعې ورځ راګرځي، همدارنګه له شنبې څخه وروسته بله شنبه راګرځي). لنډه دا چې ټوله ورځي اووه دي، نو ځکه به اووه ورځي مراديږي. او د اوو ورځو په خدمت سره به غلام آزاديږي.

ها! که هغه په فارسي ژبه سره قسم واخلي او داسي ووايي "اگر مرا روز بسيار خدمت كنى تو آزاد شدى"، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هم له دې څخه اووه ورځي مراديږي: ځکه چې په فارسي ژبه کي د "روز" لفظ مفرد استعماليږي، د عربي په څېر جمع نه استعماليږي، نو ځکه به په فارسي ژبه کي له دې لفظ "بسيار روز" څخه د اونۍ اووه ورځي مراديږي، او د اوو (۷) ورځو په خدمت سره به غلام آزاديږي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



بَابُ الْيَمِيْنِ فِي الْعِتْقِ وَالطَّلَاقِ

(دا) باب د آزادۍ او طلاق په هکله د قسم اخيستلو (په بيان کې) دی

تشريح: له بيع او شراء څخه د دې باب د مخکې کولو وجه دا ده چې د بيع او شراء په نسبت په عتق او طلاق کې يمين کثيرُ الوقوع دی. او کوم شی چې کثيرُ الوقوع وي. هغه ته أهميت ورکول کيږي او مخکې بيانول کيږي. نو په دې وجه صاحب د هدايې دا باب مخکې بيان کړی دی. (عنايه)

عتق يا طلاق د هلک پر ولادت معلق کول

وَمَنْ قَالَ لِامْرَأَتِهِ: إِذَا وَلَدْتِ وَلَدًا فَأَنْتِ طَالِقٌ او څوک چې خپلې ښځې ته ووايي: که چيرې ته هلک وزېږوې. نو ته [پر ما] طلاقه يې فَوَلَدَتْ وَلَدًا مَيِّتًا بيا هغې مړ هلک وزېږوی طُلِّقَتْ نو هغه طلاقيږي وَكَذٰلِكَ إِذَا قَالَ لِأَمَتِهِ: إِذَا وَلَدْتِ وَلَدًا فَأَنْتِ حُرَّةٌ او همدارنګه که هغه خپلې مينځې ته ووايي: که چيرې ته هلک وزېږوې. نو ته آزاده يې [بيا مينځه مړ هلک وېږوي. نو مينځه هم آزاديږي] لِأَنَّ الْمَوْجُودَ مَوْلُودٌ ځکه چې دغه موجود بچی [حقيقتاً] پيدا سوی دی [يعني دغه مړ هلک هم په حقيقت کې مولود شمارل کيږي. داسې نه ده چې هغه ګرسره مولود نه دی] فَيَكُونُ وَلَدًا حَقِيقَةً نو ځکه به هغه حقيقتاً وَلَد وي وَيُسَمّٰى بِهِ فِي الْعُرْفِ او په عرف کې [هم] هغه ته وَلَد ويل کيږي وَيُعْتَبَرُ وَلَدًا فِي الشَّرْعِ او په شريعت کې هم د وَلَد اعتبار ورکول کيږي حَتّٰى تَنْقَضِيَ بِهِ الْعِدَّةُ تر دې چې په هغه سره عدت پوره کيږي وَالدَّمُ بَعْدَهُ نِفَاسٌ او تر هغه وروسته راتلونکې وينه د نفاس وينه ده وَأُمُّهُ أُمُّ وَلَدٍ لَهُ او د هغه مور د مالک أُمِ ولد ده فَتَحَقَّقَ الشَّرْطُ نو [د طلاق او عتق] شرط ثابت [او موجود] سو وَهُوَ وِلَادَةُ الْوَلَدِ او هغه د هلک ولادت [او زېږول] دي [نو ځکه به ښځه طلاقيږي. او مينځه به آزاديږي] وَلَوْ قَالَ: إِذَا وَلَدْتِ وَلَدًا فَهُوَ حُرٌّ او که [هغه خپلې مينځې ته] ووايي: کله چې ته هلک وېږوې. نو هغه آزاد دی فَوَلَدَتْ وَلَدًا مَيِّتًا او هغې مړ هلک وزېږوی ثُمَّ

آخَرَ حَيًّا تر هغه وروسته يې ژوندى هلک وزېږوى عَتَقَ الْحَيُّ وَحْدَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ❀ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز يوازې ژوندى هلک آزادېږي وَقَالَا: لَا يُعْتَقُ وَاحِدٌ مِنْهُمَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې له دوى څخه يو هلک [هم] نه آزادېږي [نه ژوندى هلک، او نه مړ هلک] لِأَنَّ الشَّرْطَ قَدْ تَحَقَّقَ بِوِلَادَةِ الْمَيِّتِ عَلَى مَا بَيَّنَّا ځکه چې د مړ هلک په پيدا کېدلو سره شرط پوره سو. لکه [اوس] چې موږ بيان کړه فَيَنْحَلُّ الْيَمِينُ لَا إِلَى جَزَاءٍ نو قسم به له جزاء څخه بغير واقع سي لِأَنَّ الْمَيِّتَ لَيْسَ بِمَحَلٍّ لِلْحُرِّيَّةِ ځکه چې مړ بچى د حُرّيّت [او آزادېدلو] محل نه دى وَهِيَ الْجَزَاءُ او همدغه حُرّيّت جزاء ده وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ مُطْلَقَ اسْمِ الْوَلَدِ مُقَيَّدٌ بِوَصْفِ الْحَيَاةِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چې مطلق د وَلَد نوم د ژوند په وصف سره مقيد دى [يعني له مطلق وَلَد څخه ذلته ژوندى وَلَد مراد دى] لِأَنَّهُ قَصَدَ إِثْبَاتَ الْحُرِّيَّةِ جَزَاءً ځکه چې حالف د جزاء په توګه د هغه د حريّت ثابتولو اراده کړې ده وَهِيَ قُوَّةٌ حُكْمِيَّةٌ تَظْهَرُ فِي دَفْعِ تَسَلُّطِ الْغَيْرِ او حرّيت داسي حکمي [او شرعي] قوت دى چې د غَير [مالک] د تسلط په دفع کولو کي ښکاره کيږي [يعني آزادي يو داسي شرعي قوت کوم چې د بل چا (مالک) تسلط دفع کوي] وَلَا تَثْبُتُ فِي الْمَيِّتِ [ليکن] په مړه بچي کي دا قوت ثابتېداى نه سي فَيَتَقَيَّدُ بِوَصْفِ الْحَيَاةِ نو ځکه به دا [اسمُ الولد] د ژوند په وصف سره متّصف کيږي [يعني نو ځکه به له وَلَد څخه ژوندى وَلَد مراد وي] فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: إِذَا وَلَدْتِ وَلَدًا حَيًّا نو [د حالف کلام] به داسي وي لکه هغه چې [دا ووائي] ويلي وي: کله چې ته ژوندى هلک وزېږوې [نو ته آزاده يې] بِخِلَافِ جَزَاءِ الطَّلَاقِ وَحُرِّيَّةِ الْأُمِّ په خلاف د طلاق او د اُم ولد د حُرّيت د جزاء لِأَنَّهُ لَا يَصْلُحُ مُقَيِّدًا ځکه چې دا جزاء مقيّد جوړېدلو صلاحيت نه لري [يعني د مقيّد جوړېدلو تقاضا نه کوي].

اللغات: ﴿تَنْقَضِيَ﴾ د انفعال مضارع ده: ختمېدل، پوره کېدل. ﴿عَتَقَ﴾ د ضرب ماضي ده: آزادېدل. ﴿حُرِّيَّة﴾ آزادي. ﴿إِثْبَات﴾ د افعال مصدر دى: ثابتول.

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي:

❀ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:١٢٣). [القول الراجح ج:١، ص:٢٢٧]

(۱)... كه يو سړى خپلې ښځې ته ووايي: "كه چيري تا هلک وزېږوى (يعني كه چيرې ستا څخه نر بچى پيدا سو، نو ته پر ما طلاقه يې"، يا خپلې مينځې ته ووايي: "كه چيري تا هلک وزېږوى، نو ته آزاده يې" بيا ښځې يا مينځې مړ هلک وزېږوى (يعني هلک مړ پيدا سو)، نو ښځه طلاقيږي، او مينځه آزاديږي ځكه چي شرط د هلک زېږول (ولادت) وو، او هغه موجود سو، او پاته سوه د هلک د ژوند يا مرګ مسئله نو دا په هلک كي يو وصف دى، او وصف مشروط نه وو (يعني دې سړي د ژوند او مرګ شرط لګولى نه وو، فقط د هلک شرط يې لګولى وو)، نو ځكه به د مړه هلک په پيدا كېدلو سره هم شرط ثابتيږي، ځكه چي دا مړ هلک په حقيقت كي هم وَلَد او بچى دى، او په عرف كي هم هغه ته وَلَد وايي، او شريعت هم هغه وَلَد شمارلى دى، همدا وجه ده چي د هغه په ولادت سره د مور عدت پوره كيږي، او د هغه تر ولادت وروسته راتلونكي وينې ته د نفاس وينه وايي، او مينځه د مړه بچي په زېږولو سره د خپل مالک اُمِ ولد ګرځي، لهذا كله چي په دې ټولو حوالو سره د دې هلک ولديّت (بچى كېدل) تامّ او بشپړ دى، نو ښكاره خبره ده چي اوس به هغه شى هم ثابتيږي كوم چي د دې شرط (مړه بچي) جزاء ده، چي هغه طلاق او آزادي ده.

(۲)... كه مالک خپلې مينځې ته ووايي: "كه چيري ته هلک وزېږوې، نو هغه هلک آزاد دى". بيا دا مينځه له يو حمل څخه دوه هلكان وزېږوي، او په هغو كي يو مړ وي، او بل ژوندى وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز ژوندى هلک آزاديږي، صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي يو هلک هم نه آزاديږي، ځكه چي شرط د مړه بچي په پيدا كېدلو سره ثابت سو، او څرنګه چي مړ بچى د حُريت (آزادۍ) أهل نه دى، نو ځكه پر هغه آزادي واقع كېداى نه سي، او د دويم بچي سره شرط متعلق نه سو، او قسم له جزاء څخه بغير واقع سو، نو ځكه به قسم باطليږي.

ولأبي حنيفة إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى چي په دې مسئله كي د وَلَد لفظ مطلق دى، لېكن دلالة الحال ته او د حالف قول ته په كتلو سره په هغه كي د ژوند وصف (حيات) مقصود دى، ځكه چي حالف په هغه بچي كي د حُريّت او آزادۍ اثبات جزاء ګرځولې ده، او جزاء (آزادي) يو شرعي قوت دى چي هغه په يو محل كي ثابتيږي او له هغه محل څخه د غَير تسلّط ليري كوي، او ښكاره خبره دا چي دا قوت په ژوندي هلک كي شامليږي، په مړه هلک كي نه ثابتيږي، نو ځكه د حالف په كلام او مقصد كي په غور كولو سره په هغه بچي كي د ژوند وصف مقصود او ملحوظ دى، لهذا كوم بچى چي ژوندى وي، هغه به آزاديږي، او دا به داسي وي لكه مالک چي إذَا وَلَدتِ حَيًّا ويلي وي، او ښكاره خبره ده چي كله مالک د حَيًّا (ژوندي بچي) قيد لګولى وي، نو ژوندى بچى به آزاديږي. همداسي به دلته هم ژوندى بچى آزاديږي.

د دې په خلاف په اوله مسئله کې چې کومه جزاء ده. هغه د ښځې طلاق دی. یا د مینځې حُریّت دی. او دا دواړه شیان د شرط په موجودېدلو سره یعني د بچي (هلک) په ولادت سره موجودیږي. هغه که بچی ژوندی وي یا مړ وي. ځکه چې په هغه مسئله کې د بچي د ژوند یا مرګ سره د جزاء هیڅ تعلق نسته.

که یو څوک ووایي چې زما اول یا آخري غلام آزاد دی؟ (حکم او اختلاف)

وَإِذَا قَالَ: أَوَّلُ عَبْدٍ أَشْتَرِيهِ فَهُوَ حُرٌّ او که [یو څوک] ووایي: کوم غلام چې اول زه رانیسم. نو هغه آزاد دی فَاشْتَرَى عَبْدًا بیا هغه یو غلام رانیسي عَتَقَ نو هغه آزادیږي لِأَنَّ الْأَوَّلَ اسْمٌ لِفَرْدٍ سَابِقٍ ځکه چې "اول" مخکني فرد ته وایي فَإِنِ اشْتَرَى عَبْدَيْنِ مَعًا او که چیرې هغه دوه غلامان یو ځای رانیسي ثُمَّ آخَرَ بیا بل غلام رانیسي لَمْ يُعْتَقْ وَاحِدٌ مِنْهُمْ نو له دوی څخه یو غلام [هم] نه آزادیږي لِانْعِدَامِ التَّفَرُّدِ فِي الْأَوَّلَيْنِ وَالسَّبْقِ فِي الثَّالِثِ ځکه چې په اولو دوو غلامانو کې یوازې والي [فرد والی] نسته او په دریم غلام کې مخکې والي نسته فَانْعَدَمَتِ الْأَوَّلِيَّةُ نو ځکه اول والي معدوم سو [یعني په هغه کې اول والي ثابت نه سو. نو ځکه به یو غلام هم نه آزادیږي] وَإِنْ قَالَ: أَوَّلُ عَبْدٍ أَشْتَرِيهِ وَحْدَهُ فَهُوَ حُرٌّ او که ووایي: کوم غلام چې زه اول یوازې رانیسم. نو هغه آزاد دی عَتَقَ الثَّالِثُ نو [په دې صورت کې] دریم غلام آزادیږي لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ التَّفَرُّدُ فِي حَالَةِ الشِّرَاءِ ځکه چې په دې جملې سره د شراء په حالت کې تفرّد مرادیږي لِأَنَّ وَحْدَهُ لِلْحَالِ لُغَةً ځکه چې په لغت کې وَحْدَهُ د حال لپاره ده [یعني په دې لفظ "وحده" سره د رانیولو په حال کې یوازې والي مرادیږي] وَالثَّالِثُ سَابِقٌ فِي هٰذَا الْوَصْفِ او دریم غلام په دې صفت [تفرّد] کې مخکې دی وَإِنْ قَالَ: آخِرُ عَبْدٍ أَشْتَرِيهِ فَهُوَ حُرٌّ او که هغه ووایي: کوم غلام چې زه آخري رانیسم. نو هغه آزاد دی فَاشْتَرَى عَبْدًا مَاتَ بیا دا سړی یو غلام رانیسي او [بیا دا سړی] مړ سي لَمْ يُعْتَقْ نو هغه غلام نه آزادیږي لِأَنَّ الْآخِرَ اسْمٌ لِفَرْدٍ لَاحِقٍ ځکه چې آخر وروستني [آخریني] فرد ته وایي وَلَا سَابِقَ لَهُ او [دلته] تر هغه مخکنی غلام نسته [یعني تر دې غلام مخکې بل هیڅ غلام نسته چې دا غلام وروسته او آخر وګرځي] فَلَا يَكُونُ لَاحِقًا نو ځکه به وروستنی [آخرینی] نه وي وَلَوِ اشْتَرَى عَبْدًا ثُمَّ عَبْدًا ثُمَّ مَاتَ او که دا سړی یو غلام رانیسي بیا [بل]

غلام رانيسي بيا مړ سي عَتَقَ الْآخَرُ نو دا بل ادويم اغلام آزاديږي لِأَنَّهُ فَرْدٌ لَاحِقٌ ځکه چي دا غلام وروستنی [آخرنی] فرد دی فَاتَّصَفَ بِالْآخِرِيَّةِ نو ځکه به دا غلام د آخر والي په وصف سره متصف وي وَيُعْتَقُ يَوْمَ اشْتَرَاهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ۞ حَتّٰى يُعْتَبَرَ مِنْ جَمِيعِ الْمَالِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به دا غلام په هغه ورځ آزاديږي په کومه ورځ چي مالک هغه رانيولی وي. تر دې چي [د مالک] اله ټوله مال ځخه به د هغه د آزادی [او عتق] اعتبار کيږي [يعني د مړه سوي مالک له ټوله مال ځخه به آزاديږي] وَقَالَا: يُعْتَقُ يَوْمَ مَاتَ حَتّٰى يُعْتَبَرَ مِنَ الثُّلُثِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي په کومه ورځ مالک مړ سي په هغه ورځ به آزاديږي. تر دې چي [د مالک] د مال له دريمي حصې ځخه به د هغه د آزادی اعتبار کيږي لِأَنَّ الْآخِرِيَّةَ لَا تَثْبُتُ إِلَّا بِعَدَمِ شِرَاءِ غَيْرِهِ بَعْدَهُ ځکه چي د هغه په حق کي آخر والي هغه وخت ثابتيږي کله چي تر هغه وروسته بل غلام رانيول سوی نه وي وَذٰلِكَ يَتَحَقَّقُ بِالْمَوْتِ او دا "نه رانيول" د مالک په مرګ سره ثابتيږي فَكَانَ الشَّرْطُ مُتَحَقِّقًا عِنْدَ الْمَوْتِ نو د [آزادی] شرط به هم د مالک د مرګ په وخت کي ثابتيږي فَيَقْتَصِرُ عَلَيْهِ او آزادي به [د هغه] پر منحصر کيږي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْمَوْتَ مُعَرِّفٌ د امام صاحب دليل دا دی: چي [د مالک] په مرګ سره دا معلومه سوه چي همدا [دويم رانيول سوی غلام] آخري غلام دی فَأَمَّا اتِّصَافُهُ بِالْآخِرِيَّةِ فَمِنْ وَقْتِ الشِّرَاءِ او کوم چي په آخر والي سره د دې غلام متصف کېدل دي. نو هغه د رانيولو له وخت ځخه دي [يعني دا غلام د رانيولو له وخت ځخه د آخر کېدلو او آخرِيت په صفت سره متصف سو] فَيَثْبُتُ مُسْتَنِدًا نو ځکه به آزادي د رانيولو د وخت وطرف ته منسوب کېدونکې ثابتيږي [يعني نو ځکه به د رانيولو د ورځي وطرف ته د دې غلام د آزادېدلو نسبت کيږي] وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ تَعْلِيقُ الطَّلْقَاتِ الثَّلَاثِ بِهِ او پر همدغه په آخر والي [آخرِيت] سره د دريو طلاقونو معلق کول [هم] دي وَفَائِدَتُهُ تَظْهَرُ فِي جَرَيَانِ الْإِرْثِ وَعَدَمِهِ چي د هغه فايده د ميراث په جاري کېدلو يا نه جاري کېدلو ښکاره کيږي.

اللغات: ﴿فَرْد﴾ يوازي. يو کس. ﴿سَابِق﴾ مخکني. مخکي والا. ﴿لَاحِق﴾ وروستنی (وروسته راتلونکی). آخرني (چي تر هغه مخکي بل شی وي). ﴿إِرْث﴾ ميراث.

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:١٢٢). [القول الراجح ج:١، ص:٢٢٨]

تشریح: په دې عبارت کې د عتق او آزادۍ په هکله څو مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که يو سړی ووايي: "کوم غلام چي زه اول رانيسم، هغه آزاد دی". بيا هغه يو غلام رانيسي، نو ښکاره خبره ده چي هغه به آزاديږي، ځکه چي د "اول" لفظ د "مخکي کېدونکي" په معنیٰ سره دی. ځکه کوم شی چي اول وي هغه تر ټولو مخکي وي (او شرط د اول غلام آزادول دي). نو ځکه به د شرط په موجودېدلو سره دا غلام آزاديږي. لېکن که دا سړی پر يوه ځای دوه غلامان رانيسي او بيا يو غلام رانيسي، نو اوس يو غلام هم نه آزاديږي، ځکه چي په اول غلام کي "مخکي والي" او "تفرّد" دواړه شيان نسته، او په دريم غلام کې که څه هم "تفرّد" سته، يعني که څه هم هغه يوازي او تنها رانيول سوی دی، لېکن په هغه کي اوّليت او مخکي والي نسته، حالانکي په "أَوَّلُ عَبْدٍ أَشْتَرِيْه..." کي په شرط (آزادي) کي دننه اوّليت او مخکي والي شرط وو، او هغه شرط موجود نه سو. نو ګوکي د آزادۍ او حُرّيت شرط موجود نه سو، او کله چي د آزادۍ شرط موجود نه سو، نو آزادي او حُرّيت به څرنګه ثابت سي!.

ها! که هغه مالک "أَوَّلُ عَبْدٍ وَحْدَهٗ أَشْتَرِيْه..." ويلي وي، نو تر دوو غلامانو وروسته چي هغه کوم دريم غلام يوازي او تنها رانيسي، هغه آزاديږي، ځکه چي وَحْدَهٗ په لغت کي د حال لپاره راځي. او په دې سره تَفَرّد في الشراء مراديږي، او څرنګه چي دا دريم غلام په شراء (رانيولو) کي منفرد او يوازي دی، نو ځکه په هغه کي د آزادۍ او حُرّيت شرط موجود سو، په دې وجه به هغه آزاديږي.

(۲)... که يو څوک ووايي: "کوم غلام چي زه آخري رانيسم، هغه آزاد دی"، بيا دا سړی (مالک) يو غلام رانيسي او تر دې وروسته مالک مړ سي، نو دا رانيول سوی غلام نه آزاديږي، ځکه چي آخري و هغه شي ته وايي کوم چي لاحق وي يعني چي تر هغه مخکي کم از کم يو بل شی هم وي، او دلته فقط يو غلام موجود دی، او تر هغه مخکي بل هيڅ غلام نسته، نو ځکه به دا غلام لاحق او آخري نه وي او نه به آزاديږي.

ها! که مالک ديوه غلام تر رانيولو وروسته بل غلام رانيسي او بيا مالک مړ سي، نو دا دويم (آخري) غلام لاحق دی او آزاديږي، ځکه چي تر هغه مخکي يو غلام موجود دی؛ پاته سوه د مسئله چي دا غلام به له کومي ورځي څخه آزاد شمارل کيږي؟ نو په دې هلکه د أحنافو اختلاف دی. د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا غلام له هغه ورځي څخه آزاد شمارل کيږي په کومه ورځ چي دغه سړي (مالک) هغه رانيولی دی که څه هم د دې عتق (آزادۍ) ثمر د مالک تر مرګ وروسته پر غلام ښکاره کيږي، او دا عتق به د مالک له ټوله مال څخه معتبر وي (يعني د مالک له ټوله مال څخه به دا غلام

آزاديږي)، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز چي په کومه ورځ مالک مړ سي. له هغه ورځي څخه غلام زاد شمارل کيږي. او په همدې وجهي به د دې غلام عتق د مالک له ثلثُ المال (د مال له دريمي حصې) څخه معتبر وي. او که د مالک د مال دريمه حصه د هغه لپاره ناکافي وي (يعني د مالک د مال دريمه حصه د غلام د قيمت په اندازه نه وي)، نو مابقي قيمت به د غلام پر ذمه دَين (قرض) وي چي هغه به غلام ګټي او د مالک وارثانو ته به يې ورکوي.

د صاحبينو دليل: په دويمه مسئله کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي دلته د عتق شرط "آخِرُ عَبْدٍ..." (آخري غلام) دی. او د دې غلام آخري والی هغه وخت ثابتيږي کله چي مالک تر ده وروسته بل غلام نه رانيسي. او د مالک بل غلام نه رانيول د مالک په مرګ سره ثابتيږي. ځکه چي تر مرګ مخکي د مالک د رانيولو احتمال سته (چي کېدای سي مالک به بل غلام هم رانيسي). نو ځکه به د "آخِرُ عَبْدٍ" والا شرط د مالک د مرګ په وخت کي ثابتيږي او عتق به د مالک پر مرګ موقوف وي. يعني تر مرګ لږ مخکي (د زنکندن په حالت کي) به دا غلام آزاديږي. او په دې حالت کي د مالک د هر مال سره د وارثانو حق متعلق کيږي. نو ځکه به د مال له دريمي حصې څخه د هغه آزادي معتبره وي (يعني د مالک د مال له دريمي حصې څخه به دا غلام آزاديږي).

د امام صاحب دليل: دا دی چي د دې غلام تر رانيولو وروسته د مالک په مرګ سره دا خبره ښکاره سوه چي همدا آخري غلام دی او د رانيولو له وخت څخه دا غلام د آخريت (آخر والي) په صفت سره متصف دی. لېکن تر مرګ مخکي د هغه آخر والي قطعي او يقيني نه وو. نو ځکه موږ د هغه د آزادۍ أثر د مالک تر مړګه پوري مؤخر کړی. لېک کله چي واقعتاً مالک تر هغه وروسته بل غلام نه رانيوی او مړ سو. نو ځکه به دا غلام په يقيني توګه د رانيولو (شراء) له وخت څخه آخري غلام وي. او له هغه وخت څخه به آزاد شمارل کيږي. او څرنګه چي د رانيولو په وخت کي مالک صحيح سالم وو. نو ځکه به له ټوله مال څخه د غلام آزادي معتبره وي (او د مالک له ټوله مال څخه به دا غلام آزاديږي).

وعلى هٰذا الخلاف إلخ: د دې حاصل دا دی چي که يو سړی داسي ويلي وي: "زه چي آخري د کومي ښځي سره نکاح وکړم. هغې ته ثلاثاً طلاق دی". بيا هغه د يوې ښځي سره نکاح وکړي. تر دې وروسته د بلي ښځي سره نکاح وکړي او بيا مړ سي. نو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دا دويمه ښځه د خاوند د مرګ په وخت کي طلاقيږي او د ميراث مستحقه به وي. لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د نکاح له وخت څخه طلاقيږي. نو په دې وجه به د ميراث مستحقه هم نه وي.

د معلق عتق (آزادۍ) يو څو مثالونه

وَمَنْ قَالَ: كُلُّ عَبْدٍ بَشَّرَنِي بِوِلَادَةِ فُلَانَةَ فَهُوَ حُرٌّ او څوک چې ووايي: هر هغه غلام کوم چې ماته د فلانۍ ښځې [د بچې] زېږولو زيری راکړي [چې هغې بچی وزېږوی] نو هغه آزاد دی فَبَشَّرَهُ ثَلَاثَةٌ مُتَفَرِّقِينَ بيا درې غلامانو هغه ته جلا. جلا زيری ورکړی عَتَقَ الْأَوَّلُ نو اول غلام آزادېږي لِأَنَّ الْبِشَارَةَ اسْمٌ لِخَبَرٍ يُغَيِّرُ بَشَرَةَ الْوَجْهِ ځکه چې بشارت [زيری] د داسې خبر نوم دی کوم چې د مخ رنګ بدل کړي وَيُشْتَرَطُ كَوْنُهُ سَارًّا بِالْعُرْفِ [ليکن] په عرف کې د دې "خوشالونکي کېدل" شرط دي [يعني دا خبر به په عرف کې خوشحاله کونکی شمارل کېږي. ځکه چې همدا د زيري تعريف دی] وَهَذَا إِنَّمَا يَتَحَقَّقُ مِنَ الْأَوَّلِ او دا [د مخ رنګ بدلېدل] فقط په اول خبر ورکونکي [اول غلام] سره ثابتېږي وَإِنْ بَشَّرُوهُ مَعًا او که درې سره غلامان پر يوه ځای هغه ته زيری ورکړي عَتَقُوا نو ټوله آزادېږي لِأَنَّهَا تَحَقَّقَتْ مِنَ الْكُلِّ ځکه چې بشارت [زيری] له ټولو څخه ثابت سو وَلَوْ قَالَ: إِنِ اشْتَرَيْتُ فُلَانًا فَهُوَ حُرٌّ او که چيري [يو سړی داسې] ووايي: که چيري زه فلانکی [غلام] رانيسم. نو هغه آزاد دی فَاشْتَرَاهُ يَنْوِي بِهِ كَفَّارَةَ يَمِينِهِ بيا دا سړی هغه غلام رانيسي [او] د هغه په رانيولو سره د خپل کفارهٔ يمين [د اداء کولو] نيت وکړي لَمْ يُجْزِهِ نو دا د هغه [د کفارې] لپاره کافي نه دی [يعني په داسې کولو سره د هغه کفاره نه اداء کېږي] لِأَنَّ الشَّرْطَ قِرَانُ النِّيَّةِ بِعِلَّةِ الْعِتْقِ وَهِيَ الْيَمِينُ ځکه چې [د کفارې د اداء کېدلو لپاره] د عتق د علت يعني د يمين سره د نيت متصل کېدل شرط دي فَأَمَّا الشِّرَاءُ فَشَرْطُهُ او کوم چې شراء [رانيول] دي. نو هغه د عتق شرط دی وَإِنِ اشْتَرَى أَبَاهُ يَنْوِي عَنْ كَفَّارَةِ يَمِينِهِ او که دا سړی خپل پلار رانيسي [او] په هغه سره د خپل کفارهٔ يمين [د اداء کولو] نيت وکړي أَجْزَأَهُ عِنْدَنَا نو زموږ په نيز د هغه لپاره دا کافي دی [يعني په دې سره د هغه کفارهٔ يمين اداء کېږي] خِلَافًا لِزُفَرَ وَالشَّافِعِيِّ په خلاف د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله [د دوی په نيز په دې صورت کې کفاره نه اداء کېږي] لَهُمَا: أَنَّ الشِّرَاءَ شَرْطُ الْعِتْقِ د دوی دليل دا دی: چې شراء [رانيول] د عتق شرط دی فَأَمَّا الْعِلَّةُ فَهِيَ الْقَرَابَةُ او کوم چې علت دی. نو هغه قرابت دی وَهَذَا لِأَنَّ الشِّرَاءَ

إِثْبَاتُ الْمِلْكِ او دا ځکه چې شراء د ملکيت ثابتول دي وَالْإِعْتَاقُ إِزَالَتُهُ او إعتاق آزادول ا د ملکيت زائلول او ختمول ا دي وَبَيْنَهُمَا مُنَافَاةٌ او په ثابتولو او زائلولو کې منافات دی وَلَنَا: أَنَّ شِرَاءَ الْقَرِيبِ إِعْتَاقٌ او زمونږ دليل دا دی: چې د خپل قريب رانيول إعتاق دی لِقَوْلِهِ ﷺ [1]: لَنْ يَجْزِيَ وَلَدٌ وَالِدَهُ إِلَّا أَنْ يَجِدَهُ مَمْلُوكًا فَيَشْتَرِيَهُ فَيُعْتِقَهُ ځکه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: هيڅ بچی خپل پلار ته ا تر دې غوره ا بدله ورکولای نه سي خو دا چې هغه خپل پلار ديو چا غلام وموميي. بيا هغه رانيسي او آزاد يې کړي جَعَلَ نَفْسَ الشِّرَاءِ إِعْتَاقًا ا په دې حديث کې ا نبي ﷺ نفسِ شراء ا خودي رانيول ا إعتاق ګرځولی دی لِأَنَّهُ لَا يُشْتَرَطُ غَيْرُهُ ځکه چې ا په دې حديث کې ا له شراء څخه بغير ابل ا شرط لګېدلی نه دي فَصَارَ نَظِيرَ قَوْلِهِ: سَقَاهُ فَأَرْوَاهُ نو دا ا شراء د إعتاق علت ګرځېدل ا د دې قول سره مشابه سو: سَقَاهُ فَأَرْوَاهُ ا يعني فلانکي سړي وبل سړي ته اوبه ورکړې او هغه يې اوبه کړی ا وَلَوِ اشْتَرَى أُمَّ وَلَدِهِ او که هغه خپل أُم ولد ا د کفارې په نيت سره ا رانيسي لَمْ يُجْزِهِ نو دا د هغه لپاره کافي نه دي وَمَعْنَى هَذِهِ الْمَسْأَلَةِ: أَنْ يَقُولَ لِأَمَةٍ قَدِ اسْتَوْلَدَهَا بِالنِّكَاحِ: إِنِ اشْتَرَيْتُكِ فَأَنْتِ حُرَّةٌ عَنْ كَفَّارَةِ يَمِينِي او د دې مسئلې مطلب دا دی: چې دا سړی يو داسي مينځې ته چې هغه يې د نکاح په ذريعه أُم ولد جوړه کړې وي، ووايي: که چيري زه تا رانيسم نو ته زما له کفارهٔ يمين څخه آزاده يې ثُمَّ اشْتَرَاهَا بيا دا سړی هغه مينځه رانيسي فَإِنَّهَا تُعْتَقُ نو هغه آزاديږي لِوُجُودِ الشَّرْطِ ځکه چې شرط موجود سو وَلَا يُجْزِيهِ عَنِ الْكَفَّارَةِ اليکن ا له کفارې څخه نه کافي کيږي لِأَنَّ حُرِّيَّتَهَا مُسْتَحَقَّةٌ بِالِاسْتِيلَادِ ځکه چې د هغې آزادي په استيلاد ا ام ولد جوړېدلو ا سره مستحقه سوې ده ا مطلب دا چې دا مينځه د أُم ولد کېدلو په وجه د آزادۍ مستحقه سوې ده ا فَلَا تُضَافُ إِلَى الْيَمِينِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ نو ځکه به د ا کفاره ا يمين وطرف ته ا د هغې ا آزادي من کل وجه ا په هر اعتبار سره ا نه منسوب کيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ لِقِنَّةٍ: إِنِ اشْتَرَيْتُكِ فَأَنْتِ حُرَّةٌ عَنْ كَفَّارَةِ يَمِينِي په خلاف د هغه صورت کله چې هغه خالص مينځې ته ووايي: که چيري زه تا رانيسم، نو ته زما له کفارهٔ يمين څخه آزاده يې حَيْثُ يُجْزِيهِ عَنْهَا ا...

---

[1] تخريج: متفق عليه، ورواه ابو داؤد في الأدب، باب: ١٢٠، رقم الحديث: ٥١٣٧.

اشْتَرَاهَا نو دا مينځه له کفارې څخه کافي کيږي [او کفاره په اداء کيږي] کله چې دا سړی هغه رانيسي لِأَنَّ حُرِّيَّتَهَا غَيْرُ مُسْتَحِقَّةٍ بِجِهَةٍ أُخْرَى ځکه چې د هغې آزادي په يو بله وجه سره مستحقه سوې نه ده فَلَمْ يَخْتَلِّ الْإِضَافَةُ إِلَى الْيَمِينِ نو ځکه به د [کفاره] يمين وطرف ته د حُريّت په نسبت کولو کي خلل نه راځي وَقَدْ قَارَنَتْهُ النِّيَّةُ حال دا دی چې د شراء [رانيولو] سره د کفارې نيت [هم] متصل سوی دی.

اللغات: ﴿بَشَّرَنِي﴾ د تفعيل ماضې ده: زيری ورکول، خوشخبري ورکول. ﴿مُتَفَرِّقِيْنَ﴾ د تفعل جمع اسم فاعل دی: جلا جلا (عليحده عليحده). ﴿بَشَرَة﴾ د ځرمني لوړه حصه (د انساني پوست سرپېرنه برخه، د پوست ښکاره حصه)، مراد ځني د مخ او څيرې رنګ دی. ﴿سَارٌ﴾ د نصر اسم فاعل دی: خوشحاله کونکی، خوشالونکی. ﴿إِزَالَة﴾ د افعال مصدر دی: ليرې کول، ختمول. ﴿لَنْ يَجْزِيَ﴾ د ضرب له باب څخه د مضارع صيغه ده، په شروع کي يې لَنْ ناصبه راغلی دی کوم چې د نفي او استقبال فايده ورکوي: بدله ورکول، جزاء ور کول. ﴿سَقَاهُ﴾ د ضرب له باب څخه د ماضي صيغه ده، سَقَى يَسْقِيْ سَقْيًا: اوبه په چينبل، اوبه ورکول. ﴿أَرْوَاهُ﴾ د افعال ماضي ده: أبول، سېرابول. ﴿اِسْتَوْلَدَ﴾ د استفعال ماضي ده: أُم ولد جوول. ﴿قِنَّة﴾ خالص مينځه (په هر اعتبار سره مملوکه مينځه، چې هغه نه اُم ولد وي، او نه مدبرّه او مکاتبه وي).

تشريح: په دې عبارت کي د عتق او آزادی په هکله څلور مسئلې ذکر سوي دي، چې هغه به انشاء الله د مصنف د ترتيب مطابق ستاسي مخته بيان سي:

(۱)... که يو سړی ووايي: "زما هر غلام چې ما ته زما د فلانکی ښځي د بچي پيدا کېدلو زېری راکړي، هغه آزاد دی". تر دې وروسته درې غلامان په متفرقه توګه هغه ته زېری ورکړي (چې ستاد فلانکی ښځي بچی پيدا سو)، يعني يو غلام زېری ورکړي، بيا دويم غلام زيری ورکړي، بيا دريم غلام زيری ورکړي، نو کوم غلام چې اول زيری ورکړی وي هغه آزاديږي، ځکه چې بشارت (زيری) هغه خبر ته وايي چې په هغه سره د مخ رنګ بدل سي او سامع (اورېدونکی) په هغه سره په جوش کي راسي او خوشحاله سي، له همدې وجهي دا شرط لګول سوی دی چې زېری به داسي خبر وي چې هغه په عُرف کي خوشحاله کونکی خبر شمارل کيږي، او څرنګه چې د انسان خوشالېدل او د هغه د مخ رنګ بدلېدل د اول خبر ورکونکي په خبر سره ثابتيږي. نو ځکه به اول خبر ورکونکی غلام آزاديږي. ها! که دوی ټوله پريوه ځای او په يوه آواز سره دا زېری ورکړي، نو ټوله آزاديږي، ځکه چې په دې صورت کي د ټولو له طرفه بشارت (زيری) متحقق او صادر سو.

(۲)...دويمه مسئله دا ده که يو سړی داسې ووايي: "که چيرې زه فلانکی غلام رانيسم. نو هغه آزاد دی". تر دې وروسته دا سړې هغه غلام رانيسي، او د رانيولو په وخت کي په دې غلام سره د خپلي کفارۀ يمين نيت هم وکړي (يعني پر هغه د قسم کفاره لازمه وي. او د رانيولو په وخت کي هغه په دې غلام سره د کفارې اداء کولو نيت هم وکړي). نو غلام خو آزاديږي. لېکن کفارۀ يمين نه آداء کيږي، ځکه چي د کفارې د جواز او اداء کېدلو لپاره شرط دا دی چي په کفاره کي به (د غلام) د ورکولو او اداء کولو نيت د عتق د علت سره متصل وي. او په دې مسئله کي د عتق علت يمين (قسم) دی، او دا نيت دلته د هغه علت (د عتق د علت) سره متصل نه دی، بلکي دا نيت خو د شراء (رانيولو) سره متصل دی، ځکه چي دغه سړي د رانيولو په وخت کي د کفارې اداء کولو نيت کړی دی، نو ځکه به غلام خو آزاديږي، لېکن کفارۀ يمين به نه په اداء کيږي.

(۳)... دريمه مسئله دا ده که يو سړی د خپل کفارۀ يمين د اداء کولو په نيت خپل پلار رانيسي، نو زموږ په نېز دا شراء (رانيول) د کفارې لپاره کافي کيږي او په دې سره کفاره اداء کيږي، لېکن د امام شافعي او امام زفر په نېز په دې شراء سره کفاره نه اداء کيږي؛ د دوی دليل دا دی چي شراء خو فقط د عتق لپاره شرط دی، لېکن د عتق علت قرابت دی، او څرنګه چي د شراء په وخت کي قرابت معدوم دی، نو ځکه به د شراء په وخت کي د کفارې اداء کولو نيت مُفيد او مؤثر نه وي، او شراء ځکه د عتق لپاره شرط او علت دی چي شراء د ملکيت د إثبات لپاره وي (چي پريو شي د مُشتري ملکيت ثابت سي)، لېکن په إعتاق او عتق سره ملکيت زائليږي، او په إثبات او إزاله کي شکاره تضاد سته، نو په دې وجه شراء د عتق علت ګرځول د ظلم او نا انصافی خبره ده.

ولنا إلخ: زموږ دليل دا دی چي د امام شافعي او امام زفر دليل په هغه صورت کي صحيح دی، کله چي مُشتری يعني رانيول سوی غلام د مُشتري قريب نه وي، او دلتهٔ مسئله دا ده چي مشتریٰ د مشتري نژدې او خاص قريب دی يعني د هغه پلار دی، او د نژدې قريب رانيول د إعتاق او عتق علت دی لکه څرنګه چي په حديث کي ذکر سوي دي: "مَنْ مَلَكَ ذَا رَحِمٍ مَحْرَمٍ عَتَقَ عَلَيْه". او دويم حديث دا دی: "لَنْ يُجْزِيَ وَالِدٌ وَالِدَهٗ...إلخ" (يعني هيڅ زوی خپل پلار ته تر دې غوره بدله ورکولای نه سي چي هغه مملوک پلار رانيسي او آزاد يې کړي)، په دې حديث سره موږ په دې توګه دليل نيسو چي په دې حديث کي نبي ﷺ نفسِ شراء ته إعتاق ويلي دي (يعني خودي شراء يې إعتاق ګرځولی دی). او له دې څخه بغير يې بل شرط هم لګولی نه دی، نو معلومه سوه چي د قريب شراء د عتق علت دی. او په دې مسئله کي شراء د عتق علت کېدل داسې دي لکه د عربو په کلام کي چي سقاء (اوبه ورکول) د سېرابه کېدلو (اوبه کېدلو) علت دی. لکه څرنګه چي ويل کيږي: "سَقَاهُ فَأَرْوَاه" يعني فلانکي و بل

چا ته اوبه ورکړي او هغه يې سړابه (اوبه) کړي، مطلب دا دی چې په نفسِ سقاء سره هغه سړابه سو. همداسې په دې مسئله کې په نفسِ شراء سره هغه (پلار) آزادیږي، او څرنګه چې د آزادونکي (زوی) نيت د شراء په وخت کې دا وو چې کفارهٔ يمين اداء سي، نو په دې وجه کفاره هم اداء کيږي.

(۴)... څلورمه مسئله دا ده که يو سړی د بل چا د مينځې سره نکاح وکړي او هغه خپل اُمِ ولد جوړه کړي. او د اُمِ ولد جوړولو (استيلاد) په وخت کې دا سړی هغې ته داسې ووايي "چې هر کله زه تا رانيسم، نو ته زما د قسم په کفاره (کفارهٔ يمين) کې آزاده يې"، بيا هغه څو وخت وروسته دا اُمِ ولد رانيسي، نو د شرطُ العتق يعني د شراء په موجوديدلو سره دا اُمِ ولد آزاديږي، لېکن کفارهٔ يمين نه په اداء کيږي. ځکه چې دغه اُمِ ولد خو د استيلاد په وجه د حُريّت (آزادی) مستحقه سوې ده. نه د يمين (قسم) په وجه. او په دې سره هغه وخت کفارهٔ يمين اداء کيږي کله چې دا اُمِ ولد مِنْ كُلّ وجه په يمين سره د حُريت مستحقه سوې وي (يعني د کفارې د اداء کېدلو لپاره په يمين سره د هغې د حُريّت مستحقه کېدل شرط دي). صاحب د هدايې په دې جمله "فلا تُضا إِلَى اليمينِ مِن كُلِّ وجه" سره همدا خبره بيان کړې ده.

د دې په خلاف که يو څوک خالص مينځې ته (چې هغه اُمِ ولد نه وي) ووايي "هر کله چې زه تا رانيسم، نو ته زما د قسم په کفاره کې آزاده يې"، او بيا حالف هغه رانيسي، نو هغه په کفارهٔ يمين کې آزاديږي (يعني په دې صورت کې په هغې سره کفارهٔ يمين اداء کيږي)، ځکه چې دلته هغه من كُلّ وجه په يمين سره د حُريّت مستحقه سوې ده، او له يمين څخه بغير په بله وجه سره د حُريّت مستحقه سوې نه ده. نو ځکه به حريّت مِن کله وجه د يمين وطرف ته مضاف وي، او څرنګه چې د هغې سره د شراء په وخت کې د کفارهٔ يمين نيت هم متصلِ دی، نو ځکه به دا مينځه په کفاره کې اداء کيږي.

د عتق او طلاق د تعليق يو څو مسئلې

وَمَنْ قَالَ: إِنْ تَسَرَّيْتُ جَارِيَةً فَهِيَ حُرَّةٌ او څوک چې [داسې] ووايي: که چيري زه د يوې مينځې سره جماع وکړم، نو هغه آزاده ده فَتَسَرَّى جَارِيَةً كَانَتْ فِي مِلْكِهِ بيا هغه د يو داسې مينځې سره جماع وکړي کوم چې د هغه په ملکيت کې وي عَتَقَتْ نو هغه مينځه آزاديږي لِأَنَّ الْيَمِينَ انْعَقَدَتْ فِي حَقِّهَا ځکه چې قسم د دې مينځې په حق کې منعقد سو لِمُصَادَفَتِهَا الْمِلْكَ ځکه چې هغه [د مالک] په ملکيت کې واقع ده وَهَذَا لِأَنَّ الْجَارِيَةَ مُنَكَّرَةٌ فِي هَذَا الشَّرْطِ او دا [حکم] ځکه دی چې په دې شرط [يعني د دې سړي په کلام] کې جاريه نکره [ذکر سوې] ده فَتَتَنَاوَلُ كُلَّ جَارِيَةٍ عَلَى الِانْفِرَادِ نو ځکه

به په جلا جلا توګه [دهغه] هري مينځي ته شامليږي [او دا مملوکه هم دهغه مينځه ده. نو ځکه به هغې ته شامليږي] وَإِنِ اشْتَرَى جَارِيَةً فَتَسَرَّاهَا او که دا سړی [په دې صورت کي] يوه مينځه رانيسي او د هغې سره جماع وکړي لَمْ تُعْتَقْ نو هغه نه آزاديږي خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله [دهغه په نېز آزاديږي] فَإِنَّهُ يَقُولُ: التَّسَرِّيْ لَا يَصِحُّ إِلَّا فِي الْمِلْكِ هغه فرمايي: چي تسرّی [جماع] فقط په ملکيت کي صحيح ده فَكَانَ ذِكْرُهُ ذِكْرَ الْمِلْكِ نو د تسرّی ذکر کول به د ملکيت ذکر کول وي فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ لِأَجْنَبِيَّةٍ: إِنْ طَلَّقْتُكِ فَعَبْدِيْ حُرٌّ نو داسي سو لکه هغه چي يوې پردۍ ښځي ته [داسي] ووايي: که چيري زه تا ته طلاق درکړم. نو زما غلام آزاد دی يَصِيرُ التَّزَوُّجُ مَذْكُورًا [په دې قول کي] نکاح کول [هم] مذکور ګرځي [يعني په دې جمله کي د طلاق سره نکاح هم مقدّره ذکره کيږي. ځکه چي له نکاح څخه بغير طلاق ورکول کېدای نه سي] وَلَنَا: أَنَّ الْمِلْكَ يَصِيرُ مَذْكُورًا ضَرُورَةَ صِحَّةِ التَّسَرِّيْ زموږ دليل دا دی: چي ملکيت به د تسرّی د صحيح کېدلو د ضرورت په خاطر مذکور ګرځي وَهُوَ شَرْطٌ او همدا شی شرط دی فَيَتَقَدَّرُ بِقَدْرِهِ لهذا د ضرورت په اندازه به ملکيت مقدر کيږي [او ثابتيږي] وَلَا يَظْهَرُ فِي حَقِّ صِحَّةِ الْجَزَاءِ او د جزاء [آزادۍ] د صحيح کېدلو په حق کي به ملکيت نه ښکاره کيږي وَهُوَ الْحُرِّيَّةُ او جزاء آزادي ده وَفِي مَسْأَلَةِ الطَّلَاقِ إِنَّمَا يَظْهَرُ فِي حَقِّ الشَّرْطِ دُونَ الْجَزَاءِ او د طلاق په مسئله کي ملکيت فقط د شرط په حق کي ښکاره کيږي. نه د جزاء په حق کي حَتَّى لَوْ قَالَ لَهَا: إِنْ طَلَّقْتُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا همدا وجه ده که هغه پردۍ ښځي ته [داسي] ووايي: که چيري زه تا ته طلاق درکړم. نو ته په دريو طلاقو سره [پر ما] طلاقه يې فَتَزَوَّجَهَا وَطَلَّقَهَا وَاحِدَةً او [بيا] هغه د دې پردۍ ښځي سره نکاح وکړي او [بيا] يو طلاق ورکړي لَا تَطْلُقُ ثَلَاثًا نو دا ښځه په دريو طلاقو سره نه طلاقيږي [يعني دري طلاقه نه پر واقع کيږي] فَهَذِهِ وِزَانُ مَسْأَلَتِنَا نو دا مسئله زموږ د مسئلې سره مشابه ده [او زموږ د مسئلې لپاره مثال ده] وَمَنْ قَالَ: كُلُّ مَمْلُوكٍ لِيْ حُرٌّ او که [يو شوک] ووايي: زما هر مملوک آزاد دی تُعْتَقُ أُمَّهَاتُ أَوْلَادِهِ وَمُدَبَّرُوهُ وَعَبِيدُهُ نو د هغه [ټولي] أم ولد مينځي او د هغه ټوله مدبر غلامان او خالص غلامان آزاديږي لِوُجُودِ

الْإِضَافَةِ الْمُطْلَقَةِ فِي هٰؤُلَاءِ ځکه چې په دوی [ټولو] کې مطلق اضافت موجود دی إِذِ الْمِلْكُ ثَابِتٌ فِيهِمْ رَقَبَةً وَيَدًا ځکه چې په دوی کې د رقبې [ذات] او قبضې دواړو په اعتبار سره [د مالک] ملکيت ثابت دی وَلَا يُعْتَقُ مُكَاتَبُهُ او د هغه مکاتب غلامان نه آزاديږي إِلَّا أَنْ يَنْوِيَهُمْ خو دا چې مالک د هغو نيت [هم] وکړي لِأَنَّ الْمِلْكَ غَيْرُ ثَابِتٍ يَدًا ځکه چې [په مکاتب کې] د قبضې په اعتبار سره [د مالک] ملکيت ثابت نه دی وَلِهٰذَا لَا يَمْلِكُ أَكْسَابَهُ او له همدې کبله هغه د مکاتب د ګټو مالک نه دی وَلَا يَحِلُّ لَهُ وَطْءُ الْمُكَاتَبَةِ [همدارنګه] د مالک لپاره د مکاتبه مينځې سره وطي کول روا نه دي بِخِلَافِ أُمِّ الْوَلَدِ وَالْمُدَبَّرَةِ په خلاف د اُم ولد او مدبره مينځې فَاخْتَلَّتِ الْإِضَافَةُ نو [د مالک سره د مکاتب] په نسبت کې خلل راغلی فَلَا بُدَّ مِنَ النِّيَّةِ نو په دې وجه به نيت ضروري وي وَمَنْ قَالَ لِنِسْوَةٍ لَهُ: هٰذِهٖ طَالِقٌ أَوْ هٰذِهٖ وَهٰذِهٖ او که يو شوک خپلو ښځو ته ووايي: دا طلاقه ده يا دا او دا [طلاقه ده] طُلِّقَتِ الْأَخِيرَةُ نو آخري يوه طلاقيږي وَلَهُ الْخِيَارُ فِي الْأُولَيَيْنِ او په اولو دوو ښځو کې به هغه ته اختيار وي لِأَنَّ كَلِمَةَ أَوْ لِإِثْبَاتِ أَحَدِ الْمَذْكُورَيْنِ ځکه چې د "أَوْ" کلمه په دوو ذکر سوو شيانو کې د يوه شي د ثابتولو لپاره [وضع سوې] ده وَقَدْ أَدْخَلَهَا بَيْنَ الْأُولَيَيْنِ ثُمَّ عَطَفَ الثَّالِثَةَ عَلَى الْمُطَلَّقَةِ او حالف دا کلمه [أَوْ] د اولو دوو ښځو په مينځ کې داخله کړې ده بيا يې [په دوی کې] پر طلاق سوې ښځې دريمه ښځه عطف کړې ده لِأَنَّ الْعَطْفَ لِلْمُشَارَكَةِ فِي الْحُكْمِ ځکه چې عطف په حکم کې د شرکت [او ګډون] لپاره وي فَيَخْتَصُّ بِمَحَلِّهِ نو هغه به د خپل محل سره خاص وي فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: إِحْدَاكُمَا طَالِقٌ وَهٰذِهٖ نو داسي سو لکه هغه چې [داسي] ويلي وي: په تاسي دواړو ښځو کې يوه طلاقه ده او دا طلاقه ده وَكَذَا إِذَا قَالَ لِعَبِيدِهٖ: هٰذَا حُرٌّ أَوْ هٰذَا وَهٰذَا او همدارنګه که [يو شوک] خپلو غلامانو ته ووايي: دا آزاد يا دا آزاد دی او دا آزاد دی عَتَقَ الْأَخِيرُ نو آخري غلام آزاديږي وَلَهُ الْخِيَارُ فِي الْأُولَيَيْنِ او په اولو دوو غلامانو کې به هغه ته اختيار وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ [اوس] بيان کړی.

اللغات: ﴿تَسَرَّيْتُ﴾ د تفعل له باب څخه د واحد متکلم ماضي صيغه ده: وطي او جماع کول. ﴿جَارِيَة﴾ مينځه. ﴿مُصَادَفَة﴾ د مفاعلې مصدر دی: واقع کېدل، يو شی د بل شي سره مخامخ کېدل. ﴿عَلَى الإنْفِرَاد﴾ په انفرادي توګه، جلا جلا، يو يو. ﴿وِزَان﴾ مماثل، مشابه. ﴿أكْسَاب﴾ ګټې (مراد ځني ګټل سوی مال دی).

تشريح: په دې عبارت کې درې مسئلې بيان سوي دي:

(١)... اوله مسئله دا ده که يو سړی داسي ووايي: "که چيري زه د يوې مينځي سره خلوت وکړم يعني جماع وکړم، نو هغه آزاده ده"، او د دې سړي په ملکيت کي يوه مينځه وي او د هغې سره دئ جماع وکړي، نو هغه آزاديږي؛ ځکه چي حالف جَارِيَةً نکره ذکر کړي دي، نو دا به هري مينځي ته شامل وي، او څرنګه چي د هغه دغه مملوکه مينځه هم جَارِيَه ده، نو ځکه به د هغې په حق کي هم يمين منعقد او قائم وي، او د شرط موجودېدلو يعني د جماع په وجه به هغه آزاديږي. او که دا سړی تر دې خبري او قسم وروسته يوه مينځه رانيسي، او بيا د هغې سره جماع وکړي، نو په مخکني قسم سره دا رانيول سوې مينځه نه آزاديږي. امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا مينځه هم آزاديږي؛ د امام زفر دليل دا دی چي جماع کول په ملکيت کي صحيح دي، لهذا د دې سړي دا قول "تَسَرَّيْتُ..." داسي دی لکه هغه چي ووايي "إنْ وَطِئْتُ مَمْلُوْكَةً لِيْ فَهِيَ حُرَّة"، او په خپل قول کي د "مَمْلُوْكَة" په ذکر کولو سره مينځه په قسم کي داخليږي، لهذا دا (رانيول سوې) مينځه به هم په قسم کي داخليږي او تر شرط موجودېدلو يعني تر جماع وروسته به آزاديږي. امام زفر رَحِمَهُ الله د خپل قول او دليل په تائيد کي يو مثال ذکر کړی دی، فرمايي که يو څوک أجنبيه (پردۍ) ښځي ته داسي ووايي: "که چيري زه تا ته طلاق درکړم، نو زما غلام آزاد دی"، نو د هغه په دې قول کي به اقتضاءً نکاح هم مذکوره وي، ځکه چي د طلاق نوبت تر نکاح وروسته راځي، نو ګواکي هغه سړي أجنبيه ښځي ته داسي وويل: "إنْ نَكَحْتُكِ وَطَلَّقْتُكِ فَعَبْدِيْ حُرٌّ". همداسي به زموږ په دې مسئله کي هم د حالف دا قول "إنْ تَسَرَّيْتُ... إلخ" داسي وي لکه هغه چي "إنْ وَطِئْتُ يا إنْ تَسَرَّيْتُ مَمْلُوْكَةً لِيْ" ويلي وي.

ولنا إلخ: زموږ دليل دا دی چي د "إنْ تَسَرَّيْتُ... إلخ" د ويلو په صورت کي هم موږ ملکيت اقتضاءً ثابت منو، لېکن دا ثبوت به د شرط د ضرورت په اندازه وي (يعني د تسرّي [جماع] د صحيح کېدلو د ضرورت په اندازه به وي) او د رانيول سوي مينځي سره به وطي کول حلال وي لېکن هغه به نه آزاديږي، ځکه چي د عتق (آزادۍ) په حق کي ملکيت اقتضاءً نه ثابتيږي، ځکه چي آزادېدل جزا

ده. او ملکيت د شرط يعني د تسرّي په حق کي د ضرورت په وجه ثابت دی. او ضرورتاً ثابتېدونکی شی د ضرورت له محل څخه تجاوز نه کوي. لکه څرنګه چي همدا د فقهي مشهوره قاعده ده چي "اَلثَّابِتُ بِالضَّرُوْرَةِ لَا يَتَعَدّٰى عَمَّا عَدَاهُ".

پاته سو هغه مثال کوم چي امام زفر په خپل تائيد کي ذکر کړی. نو د هغه جواب دا دی چي د طلاق والا په مسئله کي هم د نکاح ملکيت فقط د شرط يعني د طلاق په حق کي ښکاره کيږي او د جزاء په حق کي نه ښکاره کيږي. همدا وجه ده که يو سړی يوې أجنبي ښځي ته ووايي: "إِنْ طَلَّقْتُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا" (که چيري زه تا ته طلاق درکړم. نو ثلاثاً طلاقه يې". بيا دا سړی د هغې سره نکاح وکړي. او يو طلاق ورکړي. نو پر هغې ثلاثاً طلاق (درې طلاقه) نه واقع کيږي. ځکه چي دلته د نکاح ملکيت د شرط د صحيح کېدلو د ضرورت په وجه ثابت سوی دی. نو ځکه دا ملکيت د جزاء وطرف ته يعني د ثلاثاً طلاق وطرف ته متعدي کيږي (يعني د ضرورت له محل څخه د ثلاثاً طلاق وطرف ته تجاوز نه کوي). همداسي به په پورتني مسئله کي هم ملکيت فقط د وطي په حق کي ثابت وي. او د عتق وطرف ته به نه متعدي کيږي: په دې حواله سره د طلاق والا مسئله کي زموږ د (پورتني د قسم) د مسئلې سره مشابه ده او د هغې لپاره مثال ده.

(٢)... که يو څوک قسم واخلي چي: "په الله قسم زما هر مملوک آزاد دی" (يعني کوم غلام چي هم زما په ملکيت کي دی هغه آزاد دی). نو په دې قول سره د دې سړي ټوله اُم ولد مينځي. او د ده ټوله مدبر او خالص غلامان آزاديږي. ځکه ده چي کوم اضافت ځان ته کړی دی يعني "لِيْ" (زما هر مملوک) هغه مطلق او کامل دی (يعني ده خپل ځان ته مطلق او کامل اضافت کړی دی). او په دغه مينځو او غلامانو کي مالک لره د رقبې او قبضې دواړو په اعتبار سره ملکيت حاصل دی. نو ځکه به دا ټوله آزاديږي. لېکن د ده مکاتب غلامان نه آزاديږي. ها! که دا سړی د هغو د عتق او آزادی نيت وکړي. نو هغه هم آزاديږي: د نيت څخه بغير د مکاتب غلام د نه آزادېدلو وجه دا ده چي د قبضې په اعتبار سره پر مکاتب د دې سړي (مالک) ملکيت حاصل نه دی. ځکه چي مکاتب په خپله د خپل ګټل سوي مال مالک وي. او مولیٰ (مالک) په هغه کي تصرّف نه سي کولای او نه مالک د مکاتبه مينځي سره وطي کولای سي. نو په دې حواله سره په مکاتب کي د مالک ملکيت ناقص پاته وي او کله چي ملکيت ناقص دی نو په "لِيْ" کي چي کوم نسبت او اضافت دی هغه به هم ناقص وي. حالانکي په يمين (قسم) سره هغه وخت عتق ثابتيږي کله چي اضافت او ملکيت دواړه کامل وي. نو په دې

وجه موږ د مكاتب د عتق لپاره د هغه د عتق نيت كول لازم وګرځوی. د دې په خلاف په اُم ولد او مدبر كې د مالک ملكيت كامل پاتې وي او د دوی له طرفه اضافت او نسبت هم كامل وي. او د مدبره مينځې سره د مالک لپاره وطې كول هم حلال دي. نو ځکه به دا ټوله كسان له نيت څخه بغير آزاديږي.

(۳)... كه يو سړی خپلو ښځو ته ووايي: دا طلاقه ده. يا دا طلاقه ده او دا طلاقه ده"، مثلاً خالد درې ښځې لري: ① سلمىٰ، ② فاطمه، ④ زينب. او خالد ورته ووايي: سلمىٰ طلاقه ده. يا فاطمه طلاقه ده او زينب طلاقه ده. نو په دې صورت كې په اولو دوو ښځو كې (يعني په سلمىٰ او فاطمه كې) پر يوې طلاق واقع كيږي. او خاوند ته به دا اختيار وي چې په دې دواړو كې يوه د طلاق لپاره متعينه كړي (يعني كه هغه پر سلمىٰ طلاق واقع كوي او كه پر فاطمې طلاق واقع كوي. هغه ته د دې اختيار سته)، ځکه چې هغه د سلمىٰ او فاطمې په مينځ كې د "أَوْ" كلمه داخله كړې ده. او د "أَوْ" كلمه په دوو شيانو كې د يوه د إثبات لپاره راځي، لهذا په سلمىٰ او فاطمه كې چې كومه يوه خالد اختيار كړي پر هغې به طلاق واقع كيږي، او دريمه ښځه يعني زينب فوراً طلاقيږي، ځکه چې خالد دا زينب په اولو دوو (سلمىٰ او فاطمه كې) پر مطلقه ښځې عطف كړې ده (يعني په اولو دوو كې چې خالد كومه يوه د طلاق لپاره اختيار كړي. دا دريمه ښځه [زينب] پر هغې عطف سوې [معطوف] ده)، او د معطوف او معطوف عليه حكم يو وي. لهذا عطف به د خپل محل (زينب) سره خاص وي او هغه به فوراً طلاقيږي. د دې مثال دا دی لكه حالف چې داسې ويلې وي "إِحْدَاكُمَا طَالِقٌ وَهٰذِهٖ" يعني په تاسې دواړو ښځو كې يوه طلاقه ده او دا طلاقه ده. نو ښكاره خبره ده چې په دې صورت كې دواړې ښځې طلاقيږي. همداسې به زموږ په دغه مسئله كې هم دوې ښځې طلاقيږي (او يوه به پاتيږي).

همدارنګه كه يو څوک په خپلو غلامانو كې درې غلامانو ته ووايي: "هٰذَا حُرٌّ أَوْ هٰذَا وَهٰذَا"، نو په دې صورت كې هم هغه ته دا اختيار سته چې په اولو دوو غلامانو كې يو غلام د آزادۍ (عتق) لپاره متعين كړي او دريم غلام فوراً آزاديږي. په لِمَا بَيَّنَّا سره صاحب د هدايې د "أَوْ" حكم او حيثيت ته اشاره كړې ده چې هغه اوس ذكر سو.



بَابُ الْيَمِيْنِ فِي الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ وَالتَّزَوُّجِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ

(دا) باب د رانیولو، خرڅولو، نکاح کولو او د داسي نورو په هکله د قسم اخیستلو (په بیان کي) دی.

د بیع، شراء، نکاح او د داسي نورو معاملاتو د نه کولو قسم

وَمَنْ حَلَفَ لَا يَبِيْعُ أَوْ لَا يَشْتَرِيْ أَوْ لَا يُؤَاجِرُ او څوک چي قسم واخلي چي خرڅول به نه کوي یا رانیول به نه کوي یا په اُجرت [کرایه] به [شی] نه ورکوي فَوَكَّلَ مَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ بیا هغه یو داسي سړی وکیل جوړ کړي چي دا کارونه [او عقدونه] هغه وکړي لَمْ يَحْنَثْ نو حالف نه حانث کیږي لِأَنَّ الْعَقْدَ وُجِدَ مِنَ الْعَاقِدِ ځکه چي عقد د عقد کونکي [وکیل] له طرفه موجود سو حَتّٰى كَانَتِ الْحُقُوْقُ عَلَيْهِ تردې چي د عقد حقوق پر عاقد [وکیل] دي [یعني همدا وجه ده چي د عقد حقوق د وکیل سره متعلق دي] وَلِهٰذَا لَوْ كَانَ الْعَاقِدُ هُوَ الْحَالِفُ يَحْنَثُ فِيْ يَمِيْنِهِ او همدا وجه ده که حالف په خپله عاقد وي نو په خپل قسم کي به حانث وګرځي فَلَمْ يُوْجَدْ مَا هُوَ الشَّرْطُ نو کوم شی چي شرط وو هغه موجود نه سو وَهُوَ الْعَقْدُ مِنَ الْآمِرِ او هغه د حکم کونکي له طرفه عقد دی [یعني هغه له حالف څخه د عقد صادرېدل دي، او عقد هغه کړی نه دی] وَإِنَّمَا الثَّابِتُ لَهُ حُكْمُ الْعَقْدِ [بلکي] د هغه لپاره خو [فقط] د عقد حکم ثابت سوی دی [نو ځکه به نه حانث کیږي] إِلَّا أَنْ يَّنْوِيَ ذٰلِكَ خو دا چي حالف د هغه نیت کړی وي لِأَنَّ فِيْهِ تَشْدِيْدًا ځکه چي په دې کي [په خپله پر هغه] سختي ده [ځکه چي هغه د یو زائد شي نیت وکړی] أَوْ يَكُوْنَ الْحَالِفُ ذَا سُلْطَانٍ لَا يَتَوَلَّى الْعَقْدَ بِنَفْسِهِ یا [دا چي] حالف د لوی قدرت [او شان] خاوند وي چي هغه په خپله عقد نه کوي [نو هغه د وکیل په عقد کولو سره حانث کیږي] لِأَنَّهُ يَمْنَعُ نَفْسَهُ عَمَّا يَعْتَادُهُ ځکه چي [په دې صورت کي] ده خپل ځان له داسي کار څخه منع کړی دی چي د هغه په نه کولو دی عادت دی وَمَنْ حَلَفَ لَا يَتَزَوَّجُ أَوْ لَا يُطَلِّقُ أَوْ لَا يُعْتِقُ او څوک چي قسم واخلي چي نکاح به نه کوي، یا طلاق به نه ورکوي، یا [څوک] به نه آزادوي فَوَكَّلَ بِذٰلِكَ بیا هغه [بل

ځوک] پر دې کار وکیل جوړ کړي حَنِثَ نو حانث کیږي لِأَنَّ الْوَكِيلَ فِي هٰذَا سَفِيرٌ وَمُعَبِّرٌ ځکه چې وکیل په دې سلسله کې [فقط] استازی او [د خبرو] نقل کونکی دی وَلِهٰذَا لَا يُضِيفُهُ إِلَى نَفْسِهِ او له همدې کبله هغه د خپل ځان وطرف ته د عقد نسبت نه کوي بَلْ إِلَى الْآمِرِ بلکې د آمر وطرف ته د هغه نسبت کوي] وَحُقُوقُ الْعَقْدِ تَرْجِعُ إِلَى الْآمِرِ لَا إِلَيْهِ او [په دې عقدونو کې] د عقد حقوق د آمر وطرف ته راجع کیږي، نه د وکیل وطرف ته وَلَوْ قَالَ: عَنَيْتُ أَنْ لَا أَتَكَلَّمَ بِهِ او که هغه ووايي: چې [په دې قسم سره] زما مراد [او نیت] دا وو چې زه به [په خپله] په دې کار کې خبرې نه کوم لَمْ يُدَيَّنْ فِي الْقَضَاءِ خَاصَّةً نو فقط قضاءً به د هغه تصدیق نه کیږي وَسَنُشِيرُ إِلَى الْمَعْنٰى فِي الْفَرْقِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى او انشاء الله موږ به ژر د دې فرق ته اشاره وکړو.

اللغات: ﴿لَا يُؤَاجِرُ﴾ د مفاعلې له باب څخه د نفي صیغه ده: په أجرت ورکول (په مزدورۍ ورکول)، په کرایه ورکول. ﴿وَكَّلَ﴾ د تفعیل ماضي ده: وکیل جوړول، خپل کار بل چا ته سپارل. ﴿سُلْطَان﴾ غلبه، قدرت، واک او طاقت. ﴿لَا يَتَوَلّٰى﴾ د تفعّل له باب څخه د نفي صیغه ده: ذمه واري اخیستل. ﴿مُعَبِّر﴾ د تفعیل اسم فاعل دی: ترجمان، خبره بیانونکی (د بل چا د خبرې نقل کونکی).

تشریح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بیان سوي دي:

(۱)... که یو سړی قسم واخلي چې "په الله قسم! زه به هیڅ شی نه خرڅوم، یا نه به یې رانیسم، یا په أجرت او کرایه به شی نه ورکوم". بیا دغه سړي په دې کارونو (بیع، شراء او اجاره) کې د دې کار لپاره بل څوک خپل وکیل جوړ کړی، او وکیل هغه کار وکړی، نو حالف (مؤکِّل) نه حانث کیږي، ځکه چې د بیع یا شراء یا اجارې عقد د وکیل یعني د عاقد له طرفه صادر سوی دی، او د دې عقودو (بیع شراء او اجارې) حقوق د عاقد وطرف ته راجع کیږي، نو ځکه به د آمر او مؤکِّل (وکیل جوړونکي) سره د دې کار او عقد هیڅ واسطه نه وي او هغه به نه حانث کیږي، ها! که هغه بذاتِ خود په دې عقدونو کې یو عقد وکړي، نو حانث کیږي، ځکه چې هغه بیا په خپله عاقد ګرځي او د عقد حقوق د هغه وطرف ته راجع کیږي، لیکن څرنګه چې دلته هغه په خپله عاقد نه دی، بلکې د هغه لپاره فقط د عقد حکم (یعني په بیع او شراء سره حاصلیدونکی ثمن یا مبیع) ثابت دی، او د حنث (حانث کېدلو) شرط عقد دی، نه د عقد حکم، لهذا د حنث شرطْ موجود نه سو، نو ځکه به حالف (مؤکِّل) نه حانث کیږي؛ لیکن که حالف د قسم په وخت کې دا نیت وکړي چې "زه به نه په خپله دا عقدونه کوم، او نه به یې په بل

چا کوم". نو په دې صورت کې د هغه دا نيت معتبر کيږي (يعني که بل څوک [وکيل] د هغه له طرفه دا عقدونه وکړي. نو هم هغه حانث کيږي). ځکه چې په دې نيت سره د هغه قسم نور سختيږي. او په خپله د هغه پر ذات سختي او پابندي لازميږي، نو ځکه به د داسي نيت کولو په صورت کې حالف د وکيل په عقد کولو سره هم حانث کيږي.

أو يكون الحالف إلخ: د دې حاصل دا دې که حالف (مؤکل) د لوی قدرت او لوی عزت خاوند وي. او داسي کارونه هغه په خپله نه کوي. او بيا هغه يو بل څوک خپل وکيل جوړ کړي او عقد په وکړي. نو هم حانث کيږي: ځکه چې دلته هغه خپل د قسم په وجه (له عقد څخه) نه دي منع سوی. بلکي هغه خو د خپل عادت مطابق منع سوی دی ځکه چې داسي کارونه هغه په خپله نه کوي بلکي په خپلو خادمانو او نوکرانو يې کوي. لهذا د هغه لپاره بل څوک خپل وکيل جوړول او بل چا ته د عقد أمر کول داسي دي لکه د قسم مخالفت کول. نو ځکه به په دې صورت کې هم هغه حانث کيږي.

(۲)... که يو قسم واخلي چې "زه به نکاح کوم، يا طلاق به نه ورکوم، يا څوک به نه آزادوم". بيا هغه په دې کارونو کې د يو کار لپاره بل څوک وکيل جوړ کړي. او وکيل هغه کار وکړي. نو حالف (مؤکل) حانث کيږي؛ ځکه چې په نکاح، طلاق او إعتاق کې وکيل فقط د استازي او ترجمان (خبره نقل کونکي) حيثيت لري. او حقيقي عاقد مؤکل او آمر وي. همدا وجه ده چې وکيل په دې عقدونو کې د خپل ځان وطرف ته د عقد نسبت نه کوي، بلکي د مؤکل وطرف ته د هغه نسبت کوي. او د عقد حقوق هم د مؤکل وطرف ته راجع کيږي. نو ځکه به په دې صورتونو کې د وکيل په عقد کولو سره حالف يعني مؤکل او آمر حانث کيږي. او که حالف او مؤکل داسي ووايي چې په دې عقدونو کې په قسم اخيستلو سره زما نيت دا وو چې زه به خپله په دې سلسله کې خبري نه کوم. او اوس ما خبري نه دي کړي، بلکي زما وکيل خبري کړي دي او زما لپاره يې دا کار او عقد کړی دی. نو ځکه زه حانث نه يم. نو په دې صورت کې به دیانتاً د هغه تصديق کيږي، ځکه چې د هغه کلام د دې نيت احتمال هم لري. لېکن قضاءً به د هغه تصديق نه کيږي، ځکه چې د هغه دغه نيت د ظاهر خلاف دی. په بيع، شراء او نکاح کې چې کوم فرق دی هغه به په راتلونکي عبارت کې ضمناً او اشارتاً ذکر سي.

د يو کار نه کولو قسم اخيستل او بيا بل چا ته د هغه کار کولو حکم کول

وَلَوْ حَلَفَ لَا يَضْرِبُ عَبْدَهُ أَوْ لَا يَذْبَحُ شَاتَهُ او که [يو سړي] قسم واخلي چې خپل غلام به نه وهي يا خپل پسه به نه ذبح کوي فَأَمَرَ غَيْرَهُ فَفَعَلَ بيا دا سړي بل چا ته حکم وکړي او هغه [دا کار] وکړي يَحْنَثُ فِي يَمِينِهِ نو دا سړی [حالف] په خپل قسم کې حانث کيږي لِأَنَّ الْمَالِكَ لَهُ وِلَايَةُ ضَرْبِ عَبْدِهِ

وَذَبْحِ شَاتِهِ ځکه چي د خپل غلام د وهلو او د خپل پسه د ذبح کولو ولايت مالک [حالف] لره حاصل دی فَيَمْلِكُ تَوْلِيَتَهُ غَيْرَهُ نو ځکه به هغه بل چا ته [هم] د دې کار [يعني د ضرب او ذبح] ور سپارلو ملکيت لري ثُمَّ مَنْفَعَتُهُ رَاجِعَةٌ إِلَى الْآمِرِ بيا د دې کار منفعت د آمر [حالف] وطرف ته راجع دی فَيُجْعَلُ هُوَ مُبَاشِرًا نو ځکه به همدا آمر مباشر [په خپله کار کونکی] ګرځول کيږي ايعني ګواکي حالف په خپله پسه ذبح کړی، او په خپله يې غلام ووهی] إِذْ لَا حُقُوقَ لَهُ تَرْجِعُ إِلَى الْمَأْمُورِ ځکه د دې کار داسي حقوق نسته چي هغه د مأمور وطرف ته راجع سي وَلَوْ قَالَ: عَنَيْتُ أَنْ لَا أَتَوَلَّى ذٰلِكَ بِنَفْسِي او که حالف ووايي: زما نيت دا وو چي زه به په خپله دا کار نه کوم دُيِّنَ فِي الْقَضَاءِ نو قضاءً به د هغه تصديق کيږي بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ مِنَ الطَّلَاقِ وَغَيْرِهِ په خلاف د طلاق او د إعتاق د مسئلې کوم چي مخکي تېره سوه وَوَجْهُ الْفَرْقِ: أَنَّ الطَّلَاقَ لَيْسَ إِلَّا تَكَلُّمًا بِكَلَامٍ يُفْضِي إِلَى وُقُوعِ الطَّلَاقِ عَلَيْهَا او وجه د فرق دا ده: چي طلاق فقط داسي کلام [او الفاظ] ويل دي کوم چي پر ښځي د طلاق واقع کېدلو سبب جوړيږي وَالْأَمْرُ بِذٰلِكَ مِثْلُ التَّكَلُّمِ بِهِ او [بل چا ته] د طلاق حکم ورکول داسي دي لکه په طلاق سره تکلم کول [او د طلاق الفاظ ويل] وَاللَّفْظُ يَنْتَظِمُهُمَا او د قسم لفظ دې دواړو ته شامليږي فَإِذَا نَوَى التَّكَلُّمَ بِهِ لهذا کله چي حالف په دې سره د تکلم [ويلو] نيت وکړي فَقَدْ نَوَى الْخُصُوصَ فِي الْعَامِّ نو هغه [ګواکي] په عام کي د خصوص نيت وکړی [يعني ګواکي هغه عام لفظ خاص وګرځوی. او دا د ظاهر خلاف دي] فَيُدَيَّنُ دِيَانَةً لَا قَضَاءً نو ځکه به ديانتاً [فقط] د هغه تصديق کيږي. نه قضاءً أَمَّا الذَّبْحُ وَالضَّرْبُ فَفِعْلٌ حِسِّيٌّ او کوم چي ذبح کول او وهل دی نو هغه حسّي کارونه دي [چي په حس سره د هغوی إدراک کيږي او محسوسيږي. او د تکلم په څېر نه دي] يُعْرَفُ بِأَثَرِهِ [او] په خپل أثر سره دوی پېژندل کيږي وَالنِّسْبَةُ إِلَى الْآمِرِ بِالتَّسْبِيبِ مَجَازٌ او [د حالف] د سبب کېدلو په وجه د دوی نسبت د آمر [حالف] وطرف ته مجازاً وي فَإِذَا نَوَى الْفِعْلَ بِنَفْسِهِ فَقَدْ نَوَى الْحَقِيقَةَ لهذا کله چي حالف په خپله د دې کارونو د کولو نيت وکړي نو [ګواکي] هغه د حقيقت نيت وکړی فَيُصَدَّقُ دِيَانَةً وَقَضَاءً نو ځکه به ديانتاً او قضاءً [دواړه ډوله] د هغه

تصديق کيږي وَمَنْ حَلَفَ لَا يَضْرِبُ وَلَدَهُ او کوم سړی چې قسم واخلي چې خپل زوی به نه وهي فَأَمَرَ إِنْسَانًا فَضَرَبَهُ بيا دا سړی بل انسان ته [د خپل زوی د وهلو] حکم وکړي او هغه د ده زوی ووهي لَمْ يَحْنَثْ فِي يَمِينِهِ نو حالف [پلار] په خپل قسم کې نه حانث کيږي لِأَنَّ مَنْفَعَةَ ضَرْبِ الْوَلَدِ عَائِدَةٌ إِلَيْهِ ځکه چې د بچي د وهلو فايده [په خپله] د هغه وطرف ته راجع ده وَهُوَ التَّأَدُّبُ وَالتَّثَقُّفُ او هغه [فايده] ادب او انسانيت زده کول دي فَلَمْ يُنْسَبْ فِعْلُهُ إِلَى الْآمِرِ نو ځکه به د آمر وطرف ته د مأمور د فعل نسبت نه کيږي بِخِلَافِ الْأَمْرِ بِضَرْبِ الْعَبْدِ په خلاف د غلام د وهلو د حکم لِأَنَّ مَنْفَعَتَهُ الِائْتِمَارُ بِأَمْرِهِ ځکه چې د هغه فايده د آمر حکم پر ځای کول دي [او د آمر فرمان برداره کېدل دي] فَيُضَافُ الْفِعْلُ إِلَيْهِ نو ځکه به [د غلام په صورت کې] د آمر وطرف ته [د مأمور] د فعل نسبت کيږي.

اللغات: ﴿شَاة﴾ عام اسم دی: پسه، وزګړي، بزه، ټولو ته وايي. ﴿عَنَيْتُ﴾ د ضرب له باب څخه د واحد متکلم صيغه ده: مرادول، مراد اخيستل. ﴿تَسْبِيْب﴾ د تفعيل مصدر دی: سبب جوړېدل. ﴿تَأَدُّب﴾ ادب زده کول. ﴿تَثَقُّف﴾ مهذب جوړېدل، ښه خوی او چلند والا جوړېدل (انسان جوړېدل، انسانيت زده کول). ﴿اِئْتِمَار﴾ او اِيْتِمَار: د افتعال مصدر دی: اطاعت کول، حکم پر ځای کول (حکم منل)، فرمان برداري کول.

تشريح: په دې عبارت کې دوې مسئلې ذکر سوي دي:

(١)... که يو سړی قسم واخلي چې "په الله قسم! زه به خپل غلام نه وهم، يا خپل پسه به نه ذبح کوم (حلالوم)"، بيا دا سړی (حالف) يو بل چا ته حکم وکړي چې دا کار وکړه!، او هغه دا کار وکړي، نو حالف په خپل قسم کې حانث کيږي؛ ځکه چې حالف د خپل غلام او د خپل پسه مالک دی او هغه ته د دې ولايت حاصل دی چې خپل غلام ووهي يا پسه ذبح کړي، نو ځکه به هغه ته دا حق وي چې بل څوک د دې کار مالک او نائب جوړ کړي. همدا د فقهي قاعده ده چې "مَنْ مَلَكَ شَيْئًا يَمْلِكُ تَمْلِيكَهُ" (يعني څوک چې د يو شي مالک وي، هغه ته د دې اختيار هم سته چې بل څوک د هغه شي مالک جوړ کړي). او څرنګه چې د غلام وهلو او د پسه ذبح کولو نفع او فايده په خپله د حالف يعني د آمر وطرف ته راجع کيږي (چې غلام به د هغه فرمانبرداره سي او د پسه غوښې به هغه ته حاصلې سي)، نو ځکه به حالف په داسي عقدونو کې عاقد او مباشر (په خپله کار کونکی) ګرځول

کيږي (يعني ګواکي حالف په خپله غلام ووهی او پُسه يې ذبح کړی). لهٰذا کله چې حالف په خپله مباشر دی، نو ښکاره خبره ده چې خامخا به هغه حانث کيږي.

إذ لاحقوق له إلخ: د دې حاصل دا دی چې په دغه عقودو کې د آمر (حالف) وطرف ته عقد راجع کيږي، او په دې عقدونو کې تر عقد وروسته هيڅ داسې حق نه پاتيږي چې هغه د مأمور وطرف ته راجع سي، لهٰذا په هر حال کې به دلته آمر مباشر او په خپله د عقد کونکی وي او حانث به ګرځي.

ولو قال عنيت إلخ: فرمايي که حالف ووايي چې زما نيت فقط دا وو چې زه به خپله غلام نه وهم او پُسه به نه ذبح کوم که څه هم په بل چا يې کوم، نو په دې صورت کې به دياتناً هم د هغه تصديق کيږي او قضاءً هم، او که دا معامله د طلاق او نکاح وي او حالف داسې خبره وکړي چې زما نيت په خپله نه کول وو، نو هلته به فقط دياتناً د هغه تصديق کيږي، نه قضاءً، لکه په تېر عبارت کې چې دا مسئله بيان سوه.

ووجه الفرق إلخ: له دې ځای څخه د ضرب (وهلو) او طلاق ورکولو او داسې نورو فرق بيانوي، فرمايي چې طلاق د يو څو الفاظو ويلو ته وايي چې د هغوی په ويلو سره پر ښځې طلاق واقع کيږي، او بل چا ته د طلاق حکم کول په خپله د طلاق ورکولو په څير دي، او حالف چې په کوم لفظ سره قسم واخلي هغه لفظ "په خپله ويلو" ته او "په بل چا ويلو" دواړو ته شامليږي، اوس که چيري حالف بذات خود په هغه سره د تکلّم (ويلو) نيت وکړي، نو هغه په عام سره د خاص نيت وکړی، او بيله دليله په عام سره د خاص نيت کول د ظاهر خلاف دی، نو ځکه به د طلاق والا په مسئله کې قضاءً د حالف تصديق نه کيږي، لېکن د هغه په کلام کې د هغه د نيت احتمال هم په پوره توګه سته، نو ځکه به دياتناً د هغه تصديق کيږي. د دې په خلاف د ضرب او ذبح مسئله ده نو دا دواړه حسي فعلونه او عقدونه دي (او محسوس شيان دي) او په خپل أثر سره پېژندل کيږي، لېکن څرنګه چې آمر (حالف) د دوی د وقوع سبب دی، نو ځکه مجازاً د هغه وطرف ته د دې فعلونو نسبت کيږي، لېکن که حالف په خپله د دې کارونو د نه کولو نيت وکړي (چې په لَا أَضْرِبُ عَبْدِيْ وَلَا أَذْبَحُ شَاتِيْ سره زما نيت په خپله نه وهل او نه ذبح کول دي)، نو هغه به د خپل کلام د حقيقي معنیٰ نيت کونکی وي، لهٰذا قضاءً به هم د هغه تصديق کيږي او دياتناً هم.

(۲)... که يو سړی قسم واخلي چې زه به خپل أولاد (زامن) نه وهم، بيا دې بل چا ته حکم وکړي چې زما أولاد ووهه! او هغه د ده أولاد ووهي نو په دې صورت کې آمر (حالف) په خپل قسم کې نه حانث کيږي، ځکه چې د ضرب او وهلو نفع د ده د زامنو وطرف ته راجع کيږي، نه د حالف وطرف ته، يعني په دې وهلو سره به د هغه زوی ادب او انسانيت زده کړي او برابر به سي، نو ښکاره خبره ده چې په

دې کي د زوی فايده ده. نو ځکه به په دې مسئله کي د مأمور (وهونکي) فعل د آمر (حالف) وطرف ته نه منسوب کيږي او آمر به مباشر نه ګرځول کيږي. او ښکاره خبره ده چي کله آمر مباشر نه وی نو هغه به حانث هم نه ګرځي. د دې په خلاف د غلام په صورت کي د وهلو نفع (يعني د غلام فرمان بردار جوړيدل) د آمر وطرف ته راجع دي. نو ځکه به هلته د مأمور فعل د آمر وطرف ته منسوب کيږي او نتيجتاً به آمر په خپله مباشر وي او حانث به ګرځي.

د "إِنْ بِعْتُ لَكَ" او د "إِنْ بِعْتُ ثَوْبًا لَكَ" حکم

وَمَنْ قَالَ لِغَيْرِهِ: إِنْ بِعْتُ لَكَ هٰذَا الثَّوْبَ فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ او کوم شوک چي بل چا ته ووايي: که چيري زه ستا لپاره دا جامه [کپړه] خرڅه کړم نو زما ښځه [پر ما] طلاقه ده فَدَسَّ الْمَحْلُوفُ عَلَيْهِ ثَوْبًا فِي ثِيَابِ الْحَالِفِ بيا محلوف عليه د حالف په جامو [کپړو] کي هغه جامه پټه کړه فَبَاعَهُ وَلَمْ يَعْلَمْ او حالف هغه خرڅه کړه [په داسي حال کي چي] هغه په دې تلبيس [پټولو] خبر نه وو لَمْ يَحْنَثْ نو هغه نه حانث کيږي لِأَنَّ حَرْفَ اللَّامِ دَخَلَ عَلَى الْبَيْعِ ځکه چي د "لام" حرف پر بيع داخل سوی دی فَيَقْتَضِيْ اخْتِصَاصَهُ بِهِ نو دا د محلوف عليه سره د بيع د خاصېدلو تقاضا کوي وَذٰلِكَ بِأَنْ يَفْعَلَهُ بِأَمْرِهِ او هغه په دې توګه چي حالف د محلوف عليه په حکم سره دا کار وکړي إِذِ الْبَيْعُ تَجْرِي فِيهِ النِّيَابَةُ ځکه چي په بيع کي نيابت جاري کيږي وَلَمْ تُوجَدْ او [دلته] نيابت موجود نه سو بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ: إِنْ بِعْتُ ثَوْبًا لَكَ په خلاف د هغه صورت کله چي هغه [داسي] ووايي: که ما ستا جامه [کپړه] خرڅه کړه [نو زما ښځه پر ما طلاقه ده] حَيْثُ يَحْنَثُ إِذَا بَاعَ ثَوْبًا مَمْلُوكًا لَهُ نو که حالف [په دې صورت کي] د محلوف عليه مملوکه جامه [کپړه] خرڅه کړي. نو حانث کيږي سَوَاءٌ كَانَ بِأَمْرِهِ أَوْ بِغَيْرِ أَمْرِهِ عَلِمَ بِذٰلِكَ أَوْ لَمْ يَعْلَمْ برابره ده که [دا خرڅول] د محلوف عليه په حکم سره وي يا د هغه له حکم څخه بغير وي او [برابره ده] حالف په دې [تلبيس] خبر وي او که په خبر نه وي لِأَنَّ حَرْفَ اللَّامِ دَخَلَ عَلَى الْعَيْنِ ځکه چي [په دې صورت کي] د "لام" حرف پر ذات [کپړه] باندي داخل سوی دی لِأَنَّهُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ ځکه چي دا عَين [کپړه] "لام" ته نژدې دی فَيَقْتَضِي الِاخْتِصَاصَ بِهِ نو دا د محلوف عليه سره د عَين [کپړې] د خاصېدلو تقاضا کوي وَذٰلِكَ بِأَنْ يَكُونَ مَمْلُوكًا لَهُ او هغه په دې

توګه چې دا جامه [کپړه] د محلوف عليه په ملکيت کې وي وَنَظِيرُهُ الصِّيَاغَةُ وَالْخِيَاطَةُ وَكُلُّ مَا تَجْرِي فِيهِ النِّيَابَةُ او د دې مثال د زرګرۍ او خياطۍ کار دی او هر هغه کار دی چې په هغه کې نيابت جاري کيږي بِخِلَافِ الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ وَضَرْبِ الْغُلَامِ په خلاف د خوراک، څښاک او د غلام د وهلو لِأَنَّهُ لَا يَحْتَمِلُ النِّيَابَةَ ځکه چې [په دې کارونو کې] يو کار هم ـ نيابت احتمال، نه لري [يعني په دې کارونو کې د نيابت هيڅ احتمال نسته] فَلَا يَفْتَرِقُ الْحُكْمُ فِيهِ فِي الْوَجْهَيْنِ نو ځکه به په دې [کارونو] کې په دواړو صورتونو کې حکم نه سره جلا کيږي [بلکې د دواړو صورتونو حکم به يو وي]

اللغات: ﴿ثَوْب﴾ کالي، جامه (کپړه، ټوکر). ﴿لَبَّسَ﴾ د تفعيل ماضي ده: يو شی مبهم ساتل. پټ ساتل، نا څرګندول. ﴿النِّيَابَة﴾ نائب کېدل، قائم مقام کېدل. ﴿صِيَاغَة﴾ زرګري، د زرو کسب او پېشه، له سرو او سپينو زرو څخه زېورات او د ښکلا شيان جوړول (لکه والي، غاړګۍ او داسې نور).
﴿خِيَاطَة﴾ خياطي (درزي توب)، ټوکر او کپړه ګنډل، کالي او جامې جوړول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که خالد و زيد ته ووايي: "په الله قسم! که چيري دا کپړه (ټوکر) ستا لپاره (يعني ستا په حکم سره) خرڅ کړم، نو زما ښځه پر ما طلاق ده"، بيا محلوف عليه يعني زيد هغه کپړه د خالد په کپړو کې پټه کړي، او خالد په دې خبر نه سي چې زما په کپړو کې د زيد کپړه هم سته، او بيا خالد خپله کپړه خرڅه کړي (چې په هغه کې د زيد کپړه هم خرڅه سي)، نو په دې صورت کې خالد (حالف) په خپل قسم کې نه حانث کيږي، يعني د هغه ښځه نه طلاقيږي؛ ځکه چې دلته د "لام" پر بيع داخل دی يعني د بيع سره متعلق دی، او دا دخول او تعلق د دې خبرې تقاضا کوي چې (حالف هغه وخت حانث کيږي کله چې) دا بيع د محلوف عليه (زيد) سره خاص وي او د هغه په حکم سره وي ځکه چې په بيع کې هم نيابت جاري کيږي. لېکن دلته د محلوف عليه له طرفه هغه ته حکم سوی نه دی، بلکې محلوف عليه دا کار په پټه کړی دی. نو ځکه به حالف او بائع (خالد) نه حانث کيږي.

ها! که حالف لام پر عين (او ذات) باندې داخل کړي، يعني پر "ثَوْب" يې داخل کړي او د "ثَوْب" سره يې متعلق کړي او داسې ووايي: "إِنْ بِعْتُ ثَوْبًا لَكَ..." (که چيري زه ستا کپړه خرڅه کړم، نو زما ښځه پر ما طلاقه ده)، نو په دې صورت کې حالف د محلوف عليه د کپړې په خرڅولو سره نه حانث کيږي، هغه که محلوف عليه و حالف ته د دې کپړې د خرڅولو اجازه ور کړې وي او که نه وي، همدارنګه حالف په دې خبر وي چې دا د محلوف عليه کپړه ده او که په خبر نه وي. په هر

صورت کي هغه حانث کيږي، ځکه چي دلته د "لام" حرف پر عين يعني پر ثَوْب داخل دی او د ثَوْب سره متعلق دی، او په بِعْتُ ثَوْبًا لَکَ کي ثَوْب تر بِعْتُ لام ته ډېر نژدې دی (ځکه چي ثَوْبًا او لَکَ سره متصل دی، او بِعْتُ په شروع کي دی او د لَکَ څخه ليري دی). مطلب دا چي دلته "لام" د ثَوْب سره متعلق دی، نو دا د دې خبرې تقاضا کوي چي (حالف هغه وخت حانث کيږي کله چي) هغه د محلوف عليه کپړه خرڅه کړي هغه که محلوف عليه له طرفه حالف ته حکم وسي او که نه وسي (په دواړو صورتونو کي هغه حانث کيږي)، او دلته هغه د محلوف عليه کپړه خرڅه کړې ده، نو ځکه به حانث کيږي.

ونظيره إلخ: د دې عبارت حاصل دا دی چي په کومو کارو کي چي نيابت جاري کيږي او هلته د مؤکل پر ځای وکيل کار کوي يعني د وکيل کار د مؤکل کار شمارل کيږي، لکه د زرگری، کسب، خياطي (کپړې جوړول) او داسي نور، په داسي کارونو کي هم پورتنی حکم دی، مثلاً که خياط قسم واخلي او وايي: إِنْ خِطْتُ لَکَ هٰذَا الثَّوْب. فَامْرَئِيْ طَالِقٌ (په الله قسم! که ما ستا لپاره (يعني ستا په حکم سره) دا کپړه وګنډله او جوړه کړه، نو پر ما ښځه طلاقه ده)، يا داسي ورته ووايي: إِنْ خِطْتُ ثَوْبًا لَکَ... إلخ) "په الله قسم! که ما ستا کپړه وګنډله، نو پر ما ښځه طلاق ده)، نو په دې دواړو جملو او صورتونو کي هم هغه فرق دی کوم چي د بيع په مسئله کي اوس ذکر سو، يعني د دواړو حکم سره جلا دی (يعني که په اوله جمله او صورت کي خياط په ناخبرۍ سره د محلوف عليه کپړې جوړې کړي، نو نه حانث کيږي، او که په دويم صورت کي خياط د هغه کپړې جوړې کړي، نو په هر حالت کي حانث کيږي). لېکن په کومو کارو کي چي نيابت نه جاري کيږي، لکه خوراک، څښاک، خپل أولاد وهل، په داسي کارونو کي حکم نه سره جلا کيږي، مثلاً که حالف ووايي: "إِنْ أَکَلْتُ لَکَ طَعَامًا... إلخ" يا ووايي: "إِنْ کُلْتُ طَعَامًا لَک... إلخ"، نو د دې دواړو صورتونو په حکم کي هيڅ فرق نه راځي، بلکي د دواړو حکم به يو وي، او په هر صورت کي به حالف حانث کيږي، همدغه خبره صاحب د هدايې په "لا يفترق الحکم فيه فى الوجهين" سره بيان کړې ده.

د طلاق او عتاق يو څو مسئلې

وَمَنْ قَالَ: هٰذَا الْعَبْدُ حُرٌّ إِنْ بِعْتُهُ او که يو څوک ووايي: دا غلام آزاد دی که چيري زه هغه خرڅ کړم **فَبَاعَهُ عَلٰى أَنَّهُ بِالْخِيَارِ** بيا هغه پر دې شرط غلام خرڅ کړي چي هغه ته به اختيار وي [يعني له رانيونکي (مشتري) څخه اختيار واخلي چي که زما بيع ناخوښه سوه، نو بيرته يې فسخ کوم، او

دې ته "خيارِ شرط" وايي] عَتَقَ نو غلام آزاديږي لِوُجُودِ الشَّرْطِ وَهُوَ الْبَيْعُ ځکه چي شرط موجود سو او هغه بيع ده وَالْمِلْكُ فِيهِ قَائِمٌ او په غلام کي [اوس هم د غلام] ملکيت موجود [او باقي] دی فَيَنْزِلُ الْجَزَاءُ نو ځکه به جزاء [آزادي] واقع کيږي وَكَذٰلِكَ لَوْ قَالَ الْمُشْتَرِيْ: إِنْ اشْتَرَيْتُهُ فَهُوَ حُرٌّ همدارنګه که رانيونکي ووايي: که چيري زه دا غلام رانيسم، نو هغه آزاد دی فَاشْتَرَاهُ عَلَىٰ أَنَّهُ بِالْخِيَارِ بيا هغه په دې شرط سره غلام رانيسي چي هغه ته به اختيار وي عَتَقَ أَيْضًا نو هم دا غلام آزاديږي لِأَنَّ الشَّرْطَ قَدْ تَحَقَّقَ وَهُوَ الشِّرَاءُ ځکه چي شرط ثابت سو او هغه رانيول دي وَالْمِلْكُ قَائِمٌ فِيهِ او په هغه کي [د مشتري] ملکيت موجود [او ثابت] دی وَهٰذَا عَلَىٰ أَصْلِهِمَا ظَاهِرٌ او دا [د ملکيت وجود او ثبوت] خو د صاحبينو پر اُصول ښکاره دي [چي د مشتري ملکيت په دې غلام کي ثابتيږي] وَكَذَا عَلَىٰ أَصْلِهِ او همدارنګه د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر اُصول هم [د مشتري ملکيت موجود [او ثابت] دی لِأَنَّ هٰذَا الْعِتْقَ بِتَعْلِيقِهِ ځکه چي دا عتق د مشتري په معلق کولو سره [مُعلق ګرځېدلی] دی وَالْمُعَلَّقُ كَالْمُنَجَّزِ او معلق عتق د منجز په څير دی وَلَوْ نَجَّزَ الْعِتْقَ يَثْبُتُ الْمِلْكُ سَابِقًا عَلَيْهِ او که چيري مشتري عتق منجز ګرځولي وای، نو تر عتق مخکي به [د هغه] ملکيت ثابتېدلای فَكَذَا هٰذَا نو همداسي به دلته [هم] کيږي. وَمَنْ قَالَ: إِنْ لَمْ أَبِعْ هٰذَا الْعَبْدَ أَوْ هٰذِهِ الْأَمَةَ او که يو څوک ووايي: که چيري زه دا غلام يا مينځه نه رانيسم فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ نو زما ښځه [پر ما] طلاقه ده فَأَعْتَقَ أَوْ دَبَّرَ بيا هغه دا [مينځه يا غلام] آزاد کړي يا يې مدبر جوړ کړي طَلُقَتْ امْرَأَتُهُ نو د هغه ښځه طلاقيږي لِأَنَّ الشَّرْطَ قَدْ تَحَقَّقَ ځکه چي شرط ثابت سو وَهُوَ عَدَمُ الْبَيْعِ او هغه نه خرڅول دي لِفَوَاتِ مَحَلِّيَّةِ الْبَيْعِ ځکه چي د بيع محل والی [د إعتاق په وجه] فوت سو وَإِذَا قَالَتِ الْمَرْأَةُ لِزَوْجِهَا: تَزَوَّجْتَ عَلَيَّ او که ښځه خپل خاوند ته ووايي: آيا تا پر ما [بل] واده کړی دی [يعني ورته ووايي: ته قسم واخله! آيا تا زما څخه بغير د بلي ښځي سره نکاح کړې ده] فَقَالَ: كُلُّ امْرَأَةٍ لِي طَالِقٌ ثَلَاثًا او خاوند [په جواب کي] ورته ووايي: زما هري ښځي ته درې طلاقه دي طَلُقَتْ هٰذِهِ الَّتِي حَلَّفَتْهُ فِي الْقَضَاءِ نو قضاءً دغه ښځه هم طلاقيږي چي هغې په خاوند قسم اخيستی دی او

پوښتنه يې څنې کړې ده] وَعَنْ أَبِيْ يُوسُفَ ❁: أَنَّهَا لَا تَطْلُقُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چې دا ښځه نه طلاقيږي لِأَنَّهُ أَخْرَجَهُ جَوَابًا ځکه چې خاوند خپل کلام [د هغې د پوښتنې] په جواب کې را ايستلی [صادر کړی] دی فَيَنْطَبِقُ عَلَيْهِ نو ځکه به سوال پر هغه منطبق کيږي وَلِأَنَّ غَرَضَهُ إِرْضَاؤُهَا او ځکه چې د خاوند مقصد د هغې راضي کول دي وَهُوَ بِطَلَاقِ غَيْرِهَا او دا [د دې ښځې راضي کېدل] د بلې ښځې په طلاق سره ثابتيږي [يعني دا ښځه هغه وخت راضي کيږي. کله چې د خاوند پر بلې ښځې طلاق واقع کړی سي، نه پر دغه سائله ښځې] فَيَتَقَيَّدُ بِهِ نو ځکه به طلاق د بلې په بلې ښځې سره مقيد کيږي وَجْهُ الظَّاهِرِ عُمُومُ الْكَلَامِ د ظاهر روايت دليل [د خاوند] د کلام عام کېدل دي وَقَدْ زَادَ عَلَى حَرْفِ الْجَوَابِ او هغه د جواب پر حروفو اضافه هم کړې ده فَيُجْعَلُ مُبْتَدِئًا نو ځکه به هغه له نوي سره کلام کونکی شمارل کيږي [مطلب دا چې د هغه کلام به مستقله جمله شمارل کيږي، نه جواب] وَقَدْ يَكُونُ غَرَضُهُ إِيحَاشُهَا حِيْنَ اعْتَرَضَتْ عَلَيْهِ فِيمَا أَحَلَّهُ الشَّرْعُ او کله نا کله په داسې کلام سره د خاوند مقصد [د ښځې] بېرول [او دمکي ورکول] وي، په هغه وخت [کله] چې ښځه پر خاوند د شريعت د حلال سوي کار په باره کې اعتراض وکړي وَمَعَ التَّرَدُّدِ لَا يَصْلُحُ مُقَيِّدًا او د تردّد سره دا کلام د مُقيّد جوړېدلو صلاحيت نه لري وَإِنْ نَوَى غَيْرَهَا او که خاوند [په خپل کلام کې] [له دغه [سائله] ښځې څخه بغير [بلې ښځې ته د طلاق ورکولو] نيت وکړي يُصَدَّقُ دِيَانَةً لَا قَضَاءً نو دياتنا به د هغه تصديق کيږي، نه قضاءً لِأَنَّهُ تَخْصِيصُ الْعَامِّ ځکه چې دا عام [کلام] خاص ګرځول دي.

اللغات: ﴿مُنَجَّز﴾ د تفعيل اسمِ مفعول دی: فوراً واقع کېد، غيرِ معلق، غيرِ مشروط. ﴿دَبَّر﴾ د تفعيل مصدر دی: مدبّر جوړول، د غلام آزادي پر خپل مرګ معلق کول. ﴿إِرْضَاء﴾ د افعال مصدر دی: راضي کول، خوشالول. ﴿إِيْحَاش﴾ دا هم د افعال مصدر دی: په وحشت کې اچول (ترهول)، بېرول. ﴿تَرَدُّد﴾ د تفعّل مصدر دی: شکمن کېدل (مشکوک او غيرِيقيني کيفيت) ﴿تَخْصِيْص﴾ د تفعيل مصدر دی: خاص کول (خاصول)، عام شی خاص ګرځول.

❁ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله ، قال العلامة ابن الهمام: وذكروا عن أبي يوسف رَحِمَهُ الله في شروح الجامع الصغير أنها لا تطلق، واختاره شمس الائمة وكثير من المشائخ، لأن الكلام خرج جواباً فينطبق على السوال (فتح القدير ج:٤، ص:٤٢٩)، وكذا في رد المحتار (ج:٣، ص:١٣٥). [القول الراجح ج:١، ص:٤٢٩]

تشریح: په دې عبارت کې ټوله څلور مسئلې ذکر سوي دي:

(١)... که یو سړی قسم واخلي او ووایي: "په الله قسم! که چیري زه دغه غلام خرڅ کړم، نو آزاد دی"، بیا دا سړی په خیارِ شرط سره هغه غلام خرڅ کړي، نو غلام آزادیږي ځکه چي د عتـق (آزادی) شرط موجود سو یعني حالف دا غلام خرڅ کړی، خو څرنګه چي حالف (بائع) د خپل ځان لپاره د خیار شرط لګولی وو، نو د دې شرط په وجه دا غلام د بائع له ملکیت څخه نه وځي، او جزاء (عتق) د هغه په ملکیت کي ثابتیږي (یعني د هغه په ملکیت کي دا غلام آزادیږي، ځکه چي د خیارِ شرط په وجه د هغه ملکیت اوس هم پاته دی).

(٢)... او که یو څوک داسي قسم واخلي چي "په الله قسم! که چیري زه فلانکی غلام رانیسم، نو هغه آزاد دی"، تر دې وروسته دا سړی په خیارِ شرط سره هغه غلام رانیسي، نو غلام آزادیږي، ځکه چي د عتـق شرط یعني شراء (رانیول) موجود سو، او د شراء په وجه په دې غلام کي د حالف (مشتري) ملکیت ثابت سو، پاته سوه د خیارِ شرط مسئله، نو د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله د اُصول مطابق دغه خیار د مشتري لپاره د ملکیت له ثبوت څخه مانع نه دی، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هم دغه خیار د ملکیت له ثبوت څخه مانع نه دی (یعني د خیارِ شرط با وجود په غلام کي د مشتري ملکیت ثابتیږي)، ځکه چي دلته عتق پر شرط معلق دی، او مُعلّق بالشرط د مُنجز او فی الحاله واقع کولو په څیر دی، او که چیري په خیارِ شرط سره یو څوک غلام رانیسي او پر هغه عتق معلق کړي، او بیا هغه تر وخت مخکي خیارِ شرط ختم کړي نو دا مُعلّق عتق مُنجز ګرځي (یعني فی الحاله واقع کیږي) او هلته به د مشتري ملکیت له عتق څخه مخکي شمارل کیږي، همداسي به دلته هم دغه مُعلّق عتـق مُنجز وي، او د مشـتري (حالف) ملکیت به له عتـق څخه مخکي شمارل کیږي، او رانیول سوی غلام به آزادیږي.

(٣)... که یو سړی داسي قسم واخلي چي "په الله قسم! که چیري ما دغه مینځه یا غلام خرڅ نه کړی، نو زما ښځه طلاقه ده"، بیا حالف دا مینځه یا غلام آزاد کړی، یا یې مدبر جوړ کړی، نو د هغه ښځه طلاقیږي، ځکه چي د إعتاق یا تدبیر په وجه په غلام او مینځه کي د بیع محلیّت فوت سو (یعني دوی اوس د بیع او خرڅولو محل او قابل پاته نه سول)، او "د دوی نه خرڅول" د طلاق شرط وو، لهذا کله چي دا شرط موجود سو، نو ځکه به د حالف ښځه طلاقیږي.

(٤)... که زینب له خپل خاوند څخه داسي پوښتنه وکړه، چي "آیا زما څخه بغیر تا د بلي ښځي سره نکاح کړې ده"، او خاوند په جوش کي راغلی، په جواب کي یې ورته وویل: "كُلُّ اِمْرَأَةٍ لِيْ طَالِقٌ ثَلَاثًا" (یعني زما هره ښځه پر ما ثلاثاً طلاقه ده)، نو قضاءً به پر دې ښځي (زینب) هم درې طلاقه واقع کیږي (یعني قاضي به د دې خبري فیصله کوي چي کومي ښځي له خاوند څخه پوښتنه کړې ده او د هغې په وجه خاوند طلاق او قسم اخیستی دی، هغه ښځه به هم ثلاثاً طلاقیږي)، دا ظاهرِ روایت دی، له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا دی چي دا پوښتونکې ښځه (زینب) به نه طلاقیږي، ځکه چي د خاوند کلام "كُلُّ اِمْرَأَةٍ لِيْ...اِلخ" د هغې د سوال په جواب کي صادر سوی دی، لهذا دا جواب به فقط د هغې پر سوال منطبق کیږي (او له دې څخه به

تجاوز نه کیږي)، ګواکي خاوند داسي ووېل: "كُلُّ امْرَأَةٍ لِيْ غَيْرُكِ طَالِقٌ ثَلَاثًا" (یعني ستا څخه بغیر زما هره ښځه ثلاثاً طلاقه ده)، او ښکاره خبره ده چي په دې صورت کي زینب نه طلاقیږي، په دې هکله دویم دلیل دا دی چي د حالف مقصد د دې ښځي (زینب) راضي کول دي، او دا په هغه صورت کي کېدای سي کله چي پر زینب طلاق واقع نه سي، نو ځکه به طلاق په نورو ښځو سره مقید کیږي، (یعني نو ځکه به د خاوند جواب له زینب څخه بغیر د حالف د نورو ښځو په طلاق سره مقید کیږي، او د هغه پر نورو ښځو به طلاق واقع کیږي).

ووجه الظاهر إلخ: د ظاهر روایت دلیل دا دی چي خاوند دلته د کُلّ لفظ استعمال کړی ده او د کُلّ لفظ عام دی، او په جواب کي خاوند اضافه هم کړې دی، ځکه که دا جواب د سوال مطابق وای نو فقط دومره به وای "إِنْ تَزَوَّجْتُ فَهِيَ طَالِقٌ"، لیکن هغه اضافه وکړه او جواب یې جامع وګرځوی چي "كُلُّ امْرَأَةٍ لِيْ..."، او څرنګه چي د کُلّ لفظ عام دی چي هغه د حالف هري ښځي ته شامل دی او په هغه کي سائله ښځه (زینب) هم داخله دي، نو ځکه به هغه هم طلاقیږي.

وقد يكون غرضه إلخ: په دې سره امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ته جواب ورکوي، هغه ویلي وو چي د خاوند مقصد د دې سائله ښځي (زینب) راضي کول دي؟ د جواب حاصل دا دی چي په شریعت کي د خاوند لپاره له یوې څخه زیاتي (څلور) ښځي روا دي، او دغه ښځي (زینب) د شریعت پر حلال او روا شي باندي د اعتراض کولو کوښښ کړی دی، نو کېدای سي چي خاوند دېر صوفي مسلکه (او ساده بزرګ) وي چي هغه به د ښځي (زینب) دا خبره د شریعت خلاف محسوسه کړې وي، نو هغه به د إیحاش (بېرولو) لپاره هغې ته په طلاق سره دمکي ورکړې وي، یا کېدای سي چي هغه د غصې په وجه دا ښځه هم په طلاق کي داخله کړې وي (او دا هم کېدای سي چي د هغه به دا ښځه خوښه نه وي، نو د بلي ښځي سره د نکاح کولو په نیت به یې هغه هم په طلاق کي داخله کړې وي)، لنډه دا چي کله د خاوند په دغه کلام کي د إرضاء او إیحاش دواړو احتمال سته، نو دا کلام به د سائله ښځي (زینب) څخه بغیر د نورو ښځو په طلاق سره نه مُقیّد کیږي، بلکي په یوه وار به پر ټولو طلاق واقع کیږي.

او که خاوند داسي ووایي چي ما له سائله ښځي (زینب) څخه بغیر نورو ښځو ته د طلاق په نیت سره دا کلام او جمله ویلې وه، نو دیانتاً به د هغه تصدیق کیږي، ځکه چي د خاوند په کلام کي د دې نیت احتمال سته، لیکن قضاءً به د هغه تصدیق نه کیږي، ځکه چي دا کلام "كُلُّ امْرَأَةٍ..." عام دی، د خاوند ټولو ښځو ته شاملیږي، لیکن کله چي خاوند له یوې ښځي څخه بغیر په دې کلام سره د نورو ښځو نیت وکړی، نو هغه دا عام کلام خاص وګرځوی، او عام خاص ګرځول د ظاهر خلاف دي، او کوم أمر او مسئله چي د ظاهر خلاف وي، په هغه کي قضاءً تصدیق نه کیږي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



بَابُ الْيَمِيْنِ فِي الْحَجِّ وَالصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ

(دا) باب د حج، لمانځه او روژې په هکله د قسم اخيستلو (په بيان کې) دی

تشريح: په حج، لمانځه او روژه کې د قسم مسئله ډېره کمه پيښيږي، په دې وجه دا باب تر نورو بابونو وروسته بيان سوی دی، لېکن څرنګه چې حج، لمونځ او روژه عبادات دي، نو په دې وجه بيا دا باب د "لُبْس" او "لِبَاس" پر باب مخکې بيان سوی دی. (عنايه او بنايه: ج:۶، ص:۱۵۹)

د پياده حج کولو قسم او نذر

وَمَنْ قَالَ وَهُوَ فِي الْكَعْبَةِ أَوْ فِي غَيْرِهَا: عَلَيَّ الْمَشْيُ إِلَى بَيْتِ اللهِ تَعَالَى أَوْ إِلَى الْكَعْبَةِ او کوم سړی چې ووايي (په داسې حال کې چې هغه په کعبه شريفه کې وي يا بل ځای وي): پر ما بيتُ الله ته يا کعبې شريفې ته په پښو [پياده] تلل واجب دي فَعَلَيْهِ حَجَّةٌ أَوْ عُمْرَةٌ مَاشِيًا نو پر هغه په پياده تګ سره حج يا عمره کول واجب دي وَإِنْ شَاءَ رَكِبَ وَأَهْرَاقَ دَمًا او که وغواړي نو [پر سپارلې] دې سپور سي او وينه دې وبيوي [يعني دَم دې ورکړي (اوبن دې ذبح کړي)] وَفِي الْقِيَاسِ لَا يَلْزَمُهُ شَيْءٌ او قياس دا دی چې پر هغه هيڅ شی هم نه لازميږي لِأَنَّهُ الْتَزَمَ مَا لَيْسَ بِقُرْبَةٍ وَاجِبَةٍ وَلَا مَقْصُودَةٍ فِي الْأَصْلِ ځکه چې هغه يو داسې شی پر ځان لازم کړی دی کوم چې يو واجب عبادت نه دیٰ او نه مقصود بالذات عبادت دی وَمَذْهَبُنَا مَأْثُورٌ عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه [1] او زموږ مذهب له حضرت علي رضي الله عنه څخه نقل سوی دی وَلِأَنَّ النَّاسَ تَعَارَفُوا إِيجَابَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ بِهَذَا اللَّفْظِ او ځکه چې په دې لفظ سره حج او عمره واجبول د خلکو په عُرف کې متعارف دي فَصَارَ كَمَا إِذَا قَالَ: عَلَيَّ زِيَارَةُ الْبَيْتِ مَاشِيًا نو داسې سو لکه هغه چې ووايي: پر ما په پياده تګ سره د بيتُ الله زيارت کول واجب دي فَيَلْزَمُهُ مَاشِيًا نو [په دې صورت کې] به پر هغه په پياده تګ سره [د بيتُ الله زيارت کول] لازم وي وَإِنْ شَاءَ رَكِبَ وَأَهْرَقَ

[1] تخريج: رواه البيهقي في السنن الكبرى، باب الهدى فيما ركب، حديث رقم: ۲۰۶۲۱، ۱۹۹۱.

دَمًا او که هغه وغواړي نو سپور دې سي او وينه دې وبيوي وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِي الْمَنَاسِكِ او په کتاب المناسک کي موږ دا [مسئله] ذکر کړې ده وَلَوْقَالَ: عَلَيَّ الْخُرُوجُ أَوِ الذَّهَابُ إِلَى بَيْتِ اللهِ تَعَالَى او که [يو څوک] ووايي: پر ما د بيتُ الله وطرف ته وتل يا تلل واجب دي فَلَاشَيْءَ عَلَيْهِ نو پر هغه هيڅ شی هم واجب نه دي لِأَنَّ الْتِزَامَ الْحَجِّ أَوِ الْعُمْرَةِ بِهٰذَا اللَّفْظِ غَيْرُمُتَعَارَفٍ ځکه چي په دغه لفظ سره حج يا عمره پر ځان لازمول متعارف نه دي. [يعني په عرف کي مشهور او معهود نه دي].

اللغات: ﴿مَشْي﴾ د ضرب مصدر دی: پياده تلل، په پښو تلل. ﴿أَهْرَقَ﴾ د افعال ماضي ده: بيول (بهول). ﴿دَمْ﴾ وينه (مراد ځني قرباني ده). ﴿قُرْبَةٌ﴾ د نېکۍ کار (داسي کار چي په هغه سره د الله نژدېک حاصل سي)، عبادت. ﴿مَأْثُور﴾ نقل سوی (منقول). ﴿إِلْتِزَام﴾ د افتعال مصدر دی: پر ځان يو شی لازمول (پر ځان منل)، ديو شي ذمه واري پر ځان واجبول. (په غاړه اخيستل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی داسي قسم واخلي چي "په الله قسم! پر ما بيتُ الله يا کعبې شريفي ته په پښو تلل واجب دي"، نو پر دې سړي حج يا عمره کول واجب دي. هغه که دې سړي په کعبه شريفه کي دا خبره کړې وي يا يې بهر بل ځای کړې وي، په هر صورت کي پر ده استحساناً پياده تلل او حج يا عمره کول واجب دي، او که هغه په سپرتيا حج ته ولاړ سي، نو دَم به ورکوي (چي هغه د اوبښ ذبح کول دي)، او د قياس تقاضا دا ده چي پر هغه حج، عمره او هيڅ شی هم واجب نه سي، ځکه چي هغه د پياده تللو نذر منلی دی. او پياده تلل (مَشْي) خو نه قُربت او عبادت دی او نه بذاتِ خود مقصود دی، بلکي دا بيتُ الله او کعبې ته د رسېدلو ذريعه او وسيله ده. نو ځکه پر حالف قياساً هيڅ شی هم واجبېدل پکار نه دي.

زموږ دليل دا دی چي له حضرت علي ﷺ څخه په دې سلسله کي أثر نقل سوی دی. أثر دا دی "عَنْ عَبْدِ اللهِ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلِيٍّ ﷺ فِيمَنْ نَذَرَ أَنْ يَمْشِيَ إِلَى الْبَيْتِ. قَالَ يَمْشِيْ فَإِذَا أَعْيٰى رَكِبَ وَيُهْدِيْ جَزُوْرًا" (مصنف عبد الرازق ج:٨، ص:٣٩١، رقم:١٦١٤٩). دا أثر په بيهقي کي هم ذکر سوی دی چي د هغه تخريج موږ په عبارت کي ذکر کړه. د دې ترجمه دا ده چي "له حضرت علي ﷺ څخه د هغه کس په باره کي (کوم چي بيتُ الله ته د پياده تګ کولو نذر منلی وي) داسي نقل سوي دي چي هغه به بيتُ الله ته پياده ځي، او که ستړی سي (د پياده تللو قدرت نه لري). نو په سپرتيا دي ولاړ سي او د هدی ښاروی دي ذبح کړي (يعني دَم دي ورکړي)"، په همدې معنیٰ سره په

ابو داؤد شريف کي هم يو حديث ذکر سوى دی. (ابو داؤد، باب من رأى عليه كفارة إذا كان فى معصية ص: ۴۷۹، حديث رقم: ۳۲۹۷)

عقلي دليل دا دی چي د خلکو په عرف کي په داسي خبره او جمله سره پياده حج او عمره کول واجبيږي، او په شريعت کي عرف ته اعتبار ورکول سوى دی، او ډيري مسئلې پر عرف مبني دي. نو له دې دواړو دليلونو څخه دا خبره ښکاره سوه چي په دې مسئله کي پر حالف پياده حج يا عمره کول واجب دي، کنې دم به ورکوي.

ولو قال على الخروج إلخ: فرمايي که يو څوک داسي ووايي "په الله قسم پر ما د بيتُ الله لپاره وتل يا تر بيتُ الله پوري تلل واجب دي" نو په دې خبره سره حج يا عمره نه واجبيږي. ځکه چي په داسي جمله سره په عرف کي حج يا عمره کول مشهور او متعارف نه دي.

حرم ته د پياده تللو نذر

وَلَوْ قَالَ: عَلَيَّ الْمَشْيُ إِلَى الْحَرَمِ أَوْ إِلَى الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ او که [يو څوک] ووايي: پر ما حرم او صفا و مروه ته پياده تلل واجب دي فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ نو پر هغه هيڅ شی واجب نه دي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: فِي قَوْلِهِ عَلَيَّ الْمَشْيُ إِلَى الْحَرَمِ حَجَّةٌ أَوْ عُمْرَةٌ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د هغه په دې قول "عَلَيَّ الْمَشْيُ إِلَى الْحَرَم" کي [پر هغه حج يا عمره کول واجب دي وَلَوْ قَالَ إِلَى الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ فَهُوَ عَلَى هٰذَا الاِخْتِلَافِ ۞ او که هغه "إِلَى الْمَسْجِدِ الْحَرَام" ووايي، نو دا [هم] پر دغه اختلاف دي لَهُمَا: أَنَّ الْحَرَمَ شَامِلٌ عَلَى الْبَيْتِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي حرم بيتُ الله ته شامل دی بِالاِتِّصَالِ ځکه چي [دوی دواړه] سره متصل دي [يعني کعبه په حرم کي دننه ده، نو دواړه سره متصل او يو ځای دي] وَكَذَا الْمَسْجِدُ الْحَرَامُ او همدارنګه مسجد حرام هم بيتُ الله ته شامل دی فَصَارَ ذِكْرُهُ كَذِكْرِهِ نو د حرم ذکر کول د بيتُ الله د ذکر کولو سره مشابه سو بِخِلَافِ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ په خلاف د صفا او مروه لِأَنَّهُمَا مُنْفَصِلَانِ عَنْهُ ځکه چي دا دواړه له بيتُ الله څخه جلا دي وَلَهُ: أَنَّ الْتِزَامَ الْإِحْرَامِ بِهٰذِهِ الْعِبَارَةِ غَيْرُ مُتَعَارَفٍ د

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الخانية (ج: ۲، ص: ۲۹۲)، وكذا في الدر المختار (ج: ۳، ص: ۱۳۷).
[القول الراجح ج: ۱، ص: ۴۳۰]

امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي په دې جملې سره احرام پر ځان لازمول [په خلګو کي] متعارف نه دي وَلَا يُمْكِنُ إِيجَابُهُ بِاعْتِبَارِ حَقِيقَةِ اللَّفْظِ او د لفظ د حقيقي معنیٰ په اعتبار کولو سره احرام واجبول ممکن [هم] نه دي فَامْتَنَعَ أَصْلًا نو دا بالکل ممتنع سو [نو ځکه به نه حج پر واجب وي او نه عمره].

اللغات: ﴿بَيْت﴾ کور، مراد ځني بيتُ الله (کعبه شريفه) ده. ﴿إِتِّصَال﴾ د افتعال مصدر دی: متصل کېدل، جوختېدل، سره يو ځای کېدل. ﴿مُنْفَصِلَان﴾ د مُنْفَصِلٌ تثنيه ده: جلا، بېل، عليحده. ﴿إِلْتِزَام﴾ د افتعال مصدر دی: پر ځان يو شی لازمول (پر ځان منل).

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړی ووايي: "په الله قسم! پر ما حرم يا صفا ومروه ته پياده تلل واجب دي"، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر دې سړي نه حج واجبېږي او نه عمره. صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي د صفا ومروه د ويلو په صورت کي خو پر هغه هيڅ شی نه واجبېږي. لېکن د عَلَيَّ الْمَشْيُ إِلَى الْحَرَم د ويلو په صورت کي پر هغه پياده حج يا عمره کول واجبېږي. همدارنګه د إِلَى الْمَسْجِدِ الْحَرَام د ويلو په صورت کي هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه هيڅ شی نه واجبېږي. لېکن پر د صاحبينو په نېز پر هغه پياده حج يا عمره واجب دي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي الْحَرَم بيتُ الله ته شامل دی. همدارنګه الْمَسْجِد الْحَرَام هم بيتُ الله ته شامل دی. نو ځکه به د الْحَرَم او المَسجد الْحَرَام ذکر کول د بيتُ الله د ذکر کولو سره مشابه وي. او د عَلَيَّ الْمَشْيُ إِلَى الْبَيْت د ويلو په صورت کي پر حالف حج يا عمره واجبېږي. نو ځکه به د عَلَيَّ الْمَشْيُ إِلَى الْحَرَمِ أَو الْمَسْجِدِ الْحَرَام د ويلو په صورت کي هم پر هغه حج يا عمره واجبېږي. د دې په خلاف د عَلَيَّ الْمَشْيُ إِلَى الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ د ويلو په صورت کي پر حالف حج يا عمره نه واجبېږي. ځکه چي صفا ومروه د بيتُ الله څخه خارج او بهر دي.

د امام صاحب دليل: چي په دې داسي جمله او الفاظو سره د إحرام د تړلو التزام کول (يعني په داسي خبره او جمله سره پر ځان حج يا عمره لازمول) په عرف کي متعين او مشهور نه دي. او د مَشْي د حقيقي معنیٰ (يعني د پياده تللو) په اعتبار سره هم په دې الفاظو سره د إحرام التزام کېدای نه سي. ځکه چي دا الفاظ د إحرام د التزام لپاره موضوع نه دي. لهذا کله چي د وضع او حقيقت او عرف ټولو په اعتبار سره د داسي جملې په ذريعه د إحرام التزام کېدای نه سي. نو ځکه موږ دا جمله د حج يا عمرې د واجبولو له معنیٰ څخه بالکل خارج او مستردّ کړه.

په مُعيّن كال كې د حج كولو نذر

وَمَنْ قَالَ: عَبْدِي حُرٌّ إِنْ لَمْ أَحُجَّ الْعَامَ او كوم كس چې ووايي: كه چيرې زه سږكال حج نه وكړم، نو زما غلام آزاد دى فَقَالَ: حَجَجْتُ بيا هغه ووېل: چې ما حج وكړى وَشَهِدَ شَاهِدَانِ أَنَّهُ ضَحَّى الْعَامَ بِالْكُوفَةِ او دوو خلكو دا ګواهي وركړه چې حالف [خو] سږكال په كوفه كې قرباني وكړه لَمْ يَعْتِقْ عَبْدُهُ نو د هغه غلام نه آزادېږي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ او دا [حكم] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دى وَقَالَ مُحَمَّدٌ ✿: يَعْتِقُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې [د هغه] غلام آزادېږي لِأَنَّ هَذِهِ شَهَادَةٌ قَامَتْ عَلَى أَمْرٍ مَعْلُومٍ وَهُوَ التَّضْحِيَةُ ځكه چې دا شهادت [ګواهي] پر معلوم كار يعني پر قربانۍ كولو باندې واقع سوې ده [چې دغه سړي په كوفه كې قرباني كړې ده] وَمِنْ ضَرُورَتِهِ انْتِفَاءُ الْحَجِّ او د هغه د لوازماتو څخه د حج منتفي كېدل دي [يعني د هغه اثر دا دى چې حج نفي سي] فَيَتَحَقَّقُ الشَّرْطُ نو شرط به ثابتيږي وَلَهُمَا: أَنَّهَا قَامَتْ عَلَى النَّفْيِ د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چې دا شهادت پر نفي واقع سوى دى لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْهَا نَفْيُ الْحَجِّ لَا إِثْبَاتُ التَّضْحِيَةِ ځكه چې له دې شهادت څخه مقصود د حج نفي كول دي، نه د قربانۍ ثابتول لِأَنَّهُ لَا مُطَالِبَ لَهَا ځكه چې د قربانۍ هيڅ مُطالبه كونكى نسته [يعني د قربانۍ ثابتولو دعوىٰ هيچا نه ده كړې] فَصَارَ كَمَا إِذَا شَهِدُوا أَنَّهُ لَمْ يَحُجَّ نو داسې سو لكه څو خلك چې دا ګواهي وركړي چې هغه [سږكال] حج نه دى كړى غَايَةُ الْأَمْرِ أَنَّ هَذَا النَّفْيَ مِمَّا يُحِيطُ عِلْمُ الشَّاهِدِ بِهِ آخر دا [سوال] كېداى سي چې دا نفي داسې دي چې پر هغه د ګواه علم احاطه كولا سي وَلَكِنَّهُ لَا يُمَيَّزُ بَيْنَ نَفْيٍ وَنَفْيٍ تَيْسِيرًا ليكن د آسانۍ [او د حرج دفع كولو] لپاره به ديوې نفي او بلې نفي په مينځ كې فرق نه كول كيږي.

اللغات: ﴿الْعَامَ﴾ (په الف لام سره): دغه كال، سږكال، ﴿غَايَةُ الْأَمْرِ﴾ آخري نتيجه، ﴿لَا يُمَيَّزُ﴾ د تفعيل مضارع مجهوله ده: فرق كول، توپير كول، ﴿تَيْسِيرًا﴾ د تفعيل مصدر دى: آساني كول (آساني پيدا كول).

✿ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في رد المحتار (ج:٣، ص:١٣٧)، وكذا في فتح القدير (ج:٤، ... [illegible] ج:١، ص:٤٣١]

تشريح : مسئله: دا ده كه يو سړي مثلاً وويل "په الله قسم! كه زه سږكال حج نه وكړم، نو زما غلام آزاد دى". بيا هغه دا دعوىٰ وكړه چي ما سږكال حجْ وكړى، او دوو خلكو دا ګواهي وركړه چي دې سړي خو سږكال په كوفه كي قرباني وكړه (يعني په كوفه كي يې د قربانۍ څاروى ذبح كړى). نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د هغه غلام نه آزاديږي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز آزاديږي.

د امام محمد دليل : دا دى چي د دې كسانو ګواهي پر يو معلوم شي يعني پر تضحيه (قرباني كولو) باندي واقع سوې ده، له دې څخه دا معلوميږي چي هغه سږكال حج نه دي كړى، ځكه كه هغه حج كړي واى نو په مكه او منىٰ كي به يې قرباني كولاى، نه په كوفه كي، معلومه سوه چي هغه په سږكال حج كړى نه دي. او څرنګه چي حج نه كول د غلام د عتق لپاره شرط وو، او دا شرط موجود سو، نو ځكه به د هغه غلام آزاديږي.

د شيخينو دليـــل : دا دى چي دغه شهادت (ګواهي) د حج پر نفي وركول سوې ده او په دې سره د قربانۍ ثابتول مقصود نه دي؛ ځكه چي دلته د قربانۍ هيڅ مطلب نسته، نو دا د حج پر نفي كولو شهادت دى، او د نفي كولو شهادت (شهادت على النفى) مقبول او معتبر نه دى، مثلاً كه يو څو خلك دا ګواهي وركړي چي دغه سړي (حالف) حج نه دي كړى، نو دا شهادت هم نه قبليږي. همداسي به په دې مسئله كي شهادت نه قبليږي، بلكي د حالف قول او دعوىٰ به منل كيږي او غلام به نه آزاديږي، ځكه چي د غلام آزادي او عتق د حج پر نه كولو معلق او مشروط وو. او هغه حج نه دي كړى. نو ځكه به غلام نه آزاديږي.

غاية الأمر الخ : په دې سره د يو مُقدّر سوال جواب وركوي، سوال دا دى چي شهادت على النفى هغه وخت نه قبليږي، كله چي شاهد (ګواه) په نفي خبر نه وي، او كه شاهد په نفي خبر وي او په هغه علم لري، نو بيا شهادت قبليږي، او څرنګه چي په دې مسئله كي شاهد په نفي خبر دى (چي هغه حج نه دي كړى)، او كه خبر نه وي، نو هغه په دې هكله نور معلومات تر لاسه كولاى سي، نو ځكه د هغه شهادت قبلول پكار دي. حالانكي تاسي دلته هم د هغه شهادت ردّ كړى دى، آخر د دې څه وجه ده؟

د جواب حاصل دا دى چي په دې خبره كي فرق او تميز كول چي آيا شاهد ته د نفي پوره علم او خبر سته، او كه هغه ته د نفي پوره علم او خبر نسته مشكل دي (يعني د خلكو لپاره دا خبره معلومول مشكل او ستونزمن دي چي آيا هغه رښتيا په نفي خبر دي او كه نه دى، او هغه رښتيا معلومات لري، كنه؟ ځكه چي په نفي د هغه خبرېدل يا نه خبرېدل مخفي شى دى)، نو ځكه د آسانۍ او حرج دفع كولو په خاطر مطلقاً دا حكم سوى دى چي شهادت على النفى بالكل مقبول نه دى، لهذا په دې باره كي دي سوال او اعتراض نه كيږي.

د روژې یا لمانځه د نه اداء کولو تر قسم وروسته بیرته هغه شروع کول

وَمَنْ حَلَفَ لَا يَصُومُ او کوم څوک چې قسم واخلي چې روژه به نه نیسي فَنَوَى الصَّوْمَ بیا هغه د روژې نیت وکړي وَصَامَ سَاعَةً او څه ګړی روژه ونیسي ثُمَّ أَفْطَرَ مِنْ يَوْمِهِ بیا په هغه ورځ کې افطار وکړي حَنِثَ نو حانث کیږي لِوُجُودِ الشَّرْطِ ځکه چې [د حنث] شرط موجود سو إِذِ الصَّوْمُ هُوَ الْإِمْسَاكُ عَنِ الْمُفْطِرَاتِ عَلَى قَصْدِ التَّقَرُّبِ ځکه چې "روژه" د عبادت په نیت له روژه ماتونکو شیانو څخه منع کېدلو ته وایي [که څه هم هغه لږ ګړی وي] وَلَوْ حَلَفَ لَا يَصُومُ يَوْمًا أَوْ صَوْمًا او که هغه [داسي] قسم واخلي چې یوه ورځ به روژه نیسي یا یوه روژه به نه نیسي فَصَامَ سَاعَةً بیا لږ ګړی روژه ونیسي ثُمَّ أَفْطَرَ بیا روژه ماته کړي لَا يَحْنَثُ نو نه حانث کیږي لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ الصَّوْمُ التَّامُّ الْمُعْتَبَرُ شَرْعًا ځکه چې په دې [جمله] سره پوره روژه مرادیږي کوم چې شرعاً معتبره وي وَذَٰلِكَ بِإِنْهَائِهِ إِلَى آخِرِ الْيَوْمِ او هغه د ورځې تر آخره پوري روژه رسول [پوره کول] دي وَالْيَوْمُ صَرِيحٌ فِي تَقْدِيرِ الْمُدَّةِ بِهِ او د روژې د مودت د اندازه کولو لپاره د يَوْم لفظ صریح دی وَلَوْ حَلَفَ لَا يُصَلِّي او که [یو څوک] قسم واخلي چې لمونځ به نه کوي فَقَامَ وَقَرَأَ وَرَكَعَ او [بیا] هغه ودریږي او قرائت وکړي او رکوع وکړي لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کیږي وَإِنْ سَجَدَ مَعَ ذَٰلِكَ او که د دې [أرکانو] سره سجده [هم] وکړي ثُمَّ قَطَعَ بیا لمونځ قطع کړي [یعني تر سجدې وروسته لمونځ پریږدي] حَنِثَ نو حانث کیږي وَالْقِيَاسُ: أَنْ يَحْنَثَ بِالِافْتِتَاحِ او قیاس دا دی چې هغه [محض] په شروع کولو سره حانث سي اِعْتِبَارًا بِالشُّرُوعِ فِي الصَّوْمِ د روژې په شروع کولو باندې په قیاس کولو سره وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ: أَنَّ الصَّلَاةَ عِبَارَةٌ عَنِ الْأَرْكَانِ الْمُخْتَلِفَةِ د استحسان دلیل دا دی: چې لمونځ له بېلابېلو أرکانو څخه عبارت دی [یعني لمونځ د مختلفه أرکانو مجموعې ته وایي] فَمَا لَمْ يَأْتِ بِجَمِيعِهَا لَا يُسَمَّى صَلَاةً نو تر څو چې ټول أرکان اداء نه کړي [تر هغه وخته پوري] هغه ته لمونځ نه ویل کیږي بِخِلَافِ الصَّوْمِ لِأَنَّهُ رُكْنٌ وَاحِدٌ وَهُوَ الْإِمْسَاكُ په خلاف د روژې، ځکه چې هغه [فقط] یو رکن دی او هغه إمساک دی وَيَتَكَرَّرُ فِي الْجُزْءِ الثَّانِي او دا إمساک په دویم جزء کې تکراریږي [مطلب دا چې تر یوه ګړي وروسته په دویم

ګړي کي هغه روژه مکروه کیږي] وَلَوْحَلَفَ لَايُصَلِّ صَلَاةً او که هغه [داسي] واخلي چي يو لمونځ به نه کوي لَايَحْنَثُ مَالَمْ يُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ نو تر څو چي دوه رکعته نه وکړي، نه حانث کیږي لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ الصَّلَاةُ الْمُعْتَبَرَةُ شَرْعًا ځکه چي په دې [جملې] سره داسي لمونځ مرادیږي کوم چي په شریعت کي معتبر وي وَأَقَلُّهَا رَكْعَتَانِ او د هغه کمه اندازه دوه رکعته دي لِلنَّهْيِ عَنِ الْبُتَيْرَاءِ ځکه چي [په شریعت کي] له يو رکعتيز لمانځه څخه منع سوې ده.

اللغات: ﴿سَاعَةً﴾ يو ګړى (لږ ګړى)، يوه شېبه. ﴿إِمْسَاك﴾ د افعال مصدر دى: منع کېدل، پرهېز کول. ﴿تَقَرُّب﴾ د تفعّل مصدر دى: د الله نژدېکت تر لاسه کول، نېکي ګټل. ﴿تَامّ﴾ پوره، بشپړ، مکمّل. ﴿إِنْهَاء﴾ تر آخره پوري رسول، پوره کول. ﴿يَتَكَرَّرُ﴾ د تفعّل مضارع ده: مکرر کېدل، راګرځېدل. ﴿بُتَيْرَاء﴾ يو رکعتيز لمونځ (يو رکعت والا لمونځ).

تشريح: په دې عبارت کي ټوله څلور مسئلې ذکر سوي دي:


(۱)... که يو څوک قسم واخلي چي "په الله قسم! روژه به نه نيسم"، بيا هغه د روژې نيت وکړي، او د لږ ګړي لپاره روژه ونيسي او بيا يې ماته کړي، نو حانث کيږي (يعني که محض په روژه شروع وکړي نو حانث کيږي)؛ ځکه چي د حِنث (حانث کېدلو) شرط يعني روژه نيول موجود سو، او د عبادت او روژې په نيت د لږ ګړي لپاره هم له مفطرات ثلاثه (خوراک، څښاک او جماع) څخه منع کېدلو ته روژه وايي، او حالف د مطلق روژې د نه نيولو قسم کړى دى، نو ځکه به هغه حانث کيږي.

(۲)... که يو څوک داسي قسم واخلي چي "په الله قسم! زه به يوه ورځ روژه نه نيسم، يا داسي ووايي: زه به يوه روژه نه نيسم"، بيا هغه د څه وخت لپاره روژه ونيسي او بيرته يې ماته کړي، يعني پوره ورځ روژه نه ونيسي، نو هغه نه حانث کيږي؛ ځکه چي د حِنث شرط يوه ورځ روژه نيول دي، او د دې مطلب دا دى چي هغه يوه پوره روژه ونيسي کوم چي شرعاً معتبره وي، او شرعاً هغه روژه معتبره ده کوم چي له صبح صادق څخه تر لمر لوېدلو پوري ونيول سي، حالانکي دلته حالف فقط د معمولي وخت لپاره روژه نيولې ده، نو د حِنث شرط موجود نه سو، نو ځکه به هغه نه حانث کيږي.

(۳)... که يو سړى قسم واخلي چي "لمونځ به نه کوم"، بيا هغه د لمانځه په نيت سره ودريږي، قرائت او رکوع وکړي، لېکن سجده نه وکړي، نو استحساناً نه حانث کيږي، او که سجده وکړي، نو

حانث کيږي. لېکن د قياس تقاضا دا ده چې محض د لمانځه په شروع کولو سره هغه حانث کيږي لکه څرنګه چې د مطلق روژې د نه نيولو په قسم کې محض په روژه شروع کولو سره هغه حانث کيږي. لېکن موږ استحساناً ځکه هغه فقط د لمانځه په شروع کولو سره حانث نه ګرځوو. ځکه چې لمونځ د څلورو أرکانو مجموعې ته وايي: قيام. قرائت. رکوع او سجده. (مطلب دا چې ولاړه هغه وخت لمونځ شمارل کيږي کله چې تر قرائت او رکوع کولو وروسته سجده هم وسي). لهذا تر څو چې هغه سجده نه وکړي، تر هغه وخته پورې به لمونځ کونکی نه شمارل کيږي او نه به حانث کيږي. د دې په خلاف د روژې معامله ده. نو روژه فقط إمساک ته وايي (يعني له خوراک. څښاک او جماع څخه ځان نيول)، او دا إمساک تر لمر لوېدلو پورې مکرّر کيږي (يعني د ورځې چې څومره اجزاء او ساعتونه دي په هغه کې تر هر ساعت او ګړي وروسته په دويم ساعت او ګړي کې إمساک مکرر کيږي، مطلب دا چې د وخت په هر دويم جزء کې امساک مکرر کيږي)، لهذا کله چې په يوه جزء او ګړي کې هم إمساک مؤجود سي، نو سمدستي به حالف حانث کيږي.

(۴)... که يو سړی قسم واخلي چې "لَا أُصَلِّيْ صَلَاةً" (زه به "يو لمونځ" نه کوم)، نو له "صَلَاةً" نکره څخه دوه رکعته لمونځ کول مراديږي (يعني له "يوه لمونځ" څخه به پوره دوه رکعته لمونځ کول مراديږي)، لهذا تر څو چې هغه پوره دوه رکعته لمونځ نه وکړي، تر هغه وخته پورې نه حانث کيږي. ځکه چې په حديث کې له "صلاةِ بتيراء" يعني له يو رکعتيز لمانځه څخه منع سوې ده. له دې څخه معلومه سچه چې د صَلَاةً مصداق او مفهوم دوه رکعته دي، نو ځکه به حالف د دوو رکعتو په کولو سره حانث کيږي، د يوه رکعت يا يو نيم رکعت او داسې نورو په کولو سره به نه حانث کيږي. والله أعلم



بَابُ الْيَمِيْنِ فِيْ لُبْسِ الثِّيَابِ وَالْحُلِيِّ وَغَيْرِ ذٰلِكَ

(دا) باب د جامو (کالو)، زېوراتو او داسي نورو په هکله د قسم اخيستلو (په بيان کې) دی

تشريح: الثِّيَاب جمع د ثَوْبٌ ده، ثَوْبٌ جامه او کالی ته وايي، او حُلِيّ د حَلْيٌ جمع ده. د حَلْيٌ معنیٰ ده: زېو، ګاڼه، پسول، د دې جمع حِلِيّ هم راځي، او حِلْيَة هم خلافُ القياس زېور ته وايي، چي د هغه جمع حُلًى او حِلًى راځي، صاحب د بنايې ليکلي دي چي حُلِي هغه زېوراتو ته وايي کوم چي له سرو او سپينو زرو څخه بغير وي (يعني له سونې او سپينو زرو څخه بغير نور زېورات کوم چي يې ښځه استعمالوي).

د نذر يو ځانګړی صورت

وَمَنْ قَالَ لِامْرَأَتِهٖ: إِنْ لَبِسْتُ مِنْ غَزْلِكِ او کوم سړی چي خپلي ښځي ته ووايي: که زه ستا د وودل سي تار [مالوچو] جامه واغوندم فَهُوَ هَدْيٌ نو هغه هدی دي [يعني د مکې د فقيرانو لپاره صدقه دي] فَاشْتَرٰى قُطْنًا بيا ده [خاوند] مالوچ رانيول فَغَزَلَتْهُ وَنَسَجَتْهُ او د ده ښځي له هغه مالوچو څخه تارونه وودل [جوړ کړل] او له هغو څخه يې جامه تياره کړه فَلَبِسَهُ او خاوند هغه جامه واغوستل فَهُوَ هَدْيٌ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا جامه هدی ده وَقَالَا ❁: لَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ يُهْدِيَ حَتّٰى تَغْزِلَ مِنْ قُطْنٍ مَلَكَهٗ يَوْمَ حَلَفَ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي پر خاوند [دغه جامه] هدی کول واجب نه دي تر دې چي ښځه له هغو مالوچو څخه تارونه وودي [او جامه ځني تياره کړي] چي خاوند د قسم اخيستلو په ورځ د هغوی مالک وي وَمَعْنَى الْهَدْيِ: التَّصَدُّقُ بِهٖ بِمَكَّةَ او د هدی معنیٰ ده: په مکه مکرّمه کي هغه صدقه کول لِأَنَّهُ اسْمٌ لِمَا يُهْدٰى إِلَيْهَا ځکه چي هدی هغه شی ته

❁ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في فتح القدير (ج:۴، ص:۴۵۷)، وكذا في رد المحتار (ج:۴، ص:۱۴۱). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۳۳]

وايي كوم چي مكې ته د هديه په توګه واستول سي لَهُمَا: أَنَّ النَّذْرَ إِنَّمَا يَصِحُّ فِي الْمِلْكِ أَوْ مُضَافًا إِلَى سَبَبِ الْمِلْكِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چي نذر خو يا په [اخپل] ملكيت كي صحيح كيږي يا د ملكيت د سبب وطرف ته د هغه په نسبت كولو سره صحيح كيږي وَلَمْ يُوجَدْ دلته [له دواړو څخه] يو [هم] موجود نه دى لِأَنَّ اللُّبْسَ وَغَزْلَ الْمَرْأَةِ لَيْسَا مِنْ أَسْبَابِ مِلْكِهِ ځكه چي جامې اغوستل او د ښځي تارونه [او جامه] جوړول د خاوند د ملكيت سبب نه دى [يعني په دې سره خاوند د مالوچو او جامې مالک نه جوړيږي، بلكي خاوند په رانيولو سره د هغه مالک جوړيږي] وَلَهُ: أَنَّ غَزْلَ الْمَرْأَةِ عَادَةً يَكُونُ مِنْ قُطْنِ الزَّوْجِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي ښځه عادتاً [عموماً] د خاوند له مالوچو څخه تارونه [او جامه] جوړوي وَالْمُعْتَادُ هُوَ الْمُرَادُ او كوم شى چي عادت [او رواج] وي [په قسم كي] هغه مراديږي وَذٰلِكَ سَبَبٌ لِمِلْكِهِ او دا د خاوند د ملكيت سبب دى وَلِهٰذَا يَحْنَثُ إِذَا غَزَلَتْ مِنْ قُطْنٍ مَمْلُوكٍ لَهُ وَقْتَ النَّذْرِ او همدا وجه ده كه چيري ښځي د نذر په وخت كي د خاوند له مملوكه مالوچو څخه تارونه [او جامه] جوړ كړي، نو خاوند حانث كيږي لِأَنَّ الْقُطْنَ لَمْ يَصِرْ مَذْكُورًا ځكه چي قُطْن [دلته] ذكر سوى نه دى.

اللغات: ﴿غَزْلِهَا﴾ غَزْل د مَغْزُوْل په معنىٰ سره دى: يعني هغه تار كوم چي له مالوچو (پمبې) څخه وودل سي، له مالوچو څخه جوړ سوى تار (مځكې به د څرخې په ذريعه له مالوچو څخه تارونه جوړېدل، او بيا به له هغو تارو څخه كالي او جامه جوړېدله، له غَزْل څخه همدغه مراد دي). ﴿قُطْن﴾ مالوچ (صفا سوې پنبه چي پنبه دانه څني كښل سوې وي). ﴿مُعْتَاد﴾ د افتعال اسم مفعول دى: د عادت مطابق.

تشريح: مسئله: دا ده كه يو سړى خپلي ښځي ته ووايي "په الله قسم! كه ما ستا په لاس د "وودل سوي تارونو" جامه واغوستل، نو هغه جامه د مكې د فقيرانو لپاره صدقه ده" (يا مثلاً ورته ووايي: كه ما ستا د لاس جوړ سوي كالي واغوستل، نو هغه زما له طرفه فقيرانو ته صدقه او خيرات دي)، ترڅو وروسته خاوند مالوچ (پنبه) رانيول، او ښځي له دې مالوچو څخه تارونه وودل (يعني تارونه يې څني جوړ كړل)، او له هغه تارو څخه يې تهوكر او جامه جوړه كړه (يا مثلاً خاوند تيار تهوكر رانيوى، او ښځي له هغه څخه كالي او جامه جوړه كړه)، او خاوند هغه جامه واغوستل، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر خاوند دا جامه صدقه كول او خيراتول واجب دي.

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي پر خاوند دا جامه صدقه كول واجب نه دي. هـا! كـه د قسم اخيستلو په ورځ هغه مالوچ (يا هغه ټوكر) د خاوند په ملكيت كي وو. او ښځي له هغو څخه ټوكر او جامه تياره كړه، او خاوند هغه واغوستل، نو په دې صورت كي پر خاوند دا جامه صدقه كول واجب دي، لېكن تر قسم وروسته د رانيول سوي مالوچو څخه د تياري سوي جامې اغوستل واجبُ التصدق نه دي (يعني د صاحبينو په نېز تر قسم وروسته د رانيول سوي مالوچو يا ټوكر څخه د تيار سوي كالو په اغوستلو سره پر خاوند دا نه واجبېږي چي هغه صدقه او خيرات كړي).

د صاحبينو دليل: دا دی چي د خاوند دا كلام په حقيقت كي نذر دی. او نذر په خپل مملوک شي كي صحيح كېږي، يا په هغه شي كي صحيح كېږي كوم چي د ملكيت د سبب وطرف ته منسوب وي، ځكه چي په حديث كي ذكر سوي دي "لَا نَذْرَ فِيمَا لَا يَمْلِكُهُ ابْنُ آدَمَ" يعني په هغه شي كي نذر نه صحيح كېږي چي انسان د هغه مالک نه وي، (د ملكيت له سبب څخه مراد رانيول دي، يا په هبه، وصيت يا ميراث سره يو شی حاصلول دي، ځكه چي رانيول يا حاصلول د انسان د ملكيت سبب جوړېږي، يعني په رانيولو يا حاصلولو سره انسان د يو شي مالک جوړېږي)، او په دې مسئله كي حالف نه د مالوچو مالک دی (ځكه چي هغه مالوچ وروسته رانيولي دي)، او نه حالف د ملكيت د سبب وطرف ته هدی او صدقه مضاف كړي دي، ځكه چي اغوستل او د ښځي وودل او جوړول د ملكيت سبب نه دي، نو ځكه به تر قسم وروسته په رانيول سوي مالوچو كي قسم صحيح نه وي او پر خاوند به د داسي مالوچو جامه هديه كول او صدقه كول به واجب نه وي.

امام صاحب دليل: دا دی چي ښځه عموماً او عادتاً د خپل خاوند له مالوچو څخه تارونه او ټوكر يـاروي، لهذا د خاوند دا وينا "إِنْ لَبِسْتُ مِنْ غَزْلِكِ" به داسي وي لكه خاوند چي ويلي وي "إِنْ لَبِسْتُ مِنْ غَزْلِكِ مِنْ قُطْنٍ أَمْلِكُهُ..." (كه ما هغه جامه واغوستل كوم چي تا زما د مملوكه مالوچو له وودل سوي تارونو" څخه جوړه كړې وي، نو هغه د مكې د فقيرانو لپاره صدقه ده)، لهذا د خاوند دا قسم به د عرف او عادت په وجه د رانيول سوي مالوچو جامې ته هم شامل وي او داسي به ګڼل كيږي كه خاوند چي د خپل مملوكه مالوچو په هكله دا قسم اخيستی وی، نو ځكه به هغه حانث كيږي، همدا وجه ده كه چيري د نذر او قسم په وخت كي خاوند د مالوچو مالک وي (او خاوند فقط داسي قسم واخلي چي "إِنْ لَبِسْتُ مِنْ غَزْلِكِ..."، او په خپل كلام كي "مِنْ قُطْنٍ أَمْلِكُهُ" ذكر نه كړي")، نو هم خاوند د هغه جامو په اغوستلو سره حانث كيږي، ځكه چي د عرف او عادت په اعتبار سره ښځه د خپل خاوند له مالوچو څخه تارونه، ټوكر او جامه تياروي، او د قسم اخيستلو په وخت كي كه څه هم مالوچ د خاوند په ملكيت كي نه وي، په عرف كي په دې سره د قسم په صحيح كېدلو كي هيڅ فرق نه راځي.

د زېور نه اغوستلو تر قسم وروسته د سپينو زرو ګوتمۍ په ګوته کول

وَمَنْ حَلَفَ لَا يَلْبَسُ حَلْيًا او کوم کس چې قسم واخلي چې زېور به نه اغوندي [دا لفظ حُلِيًّا ويل هم صحيح دي، په دې صورت کې به يې د جمع معنیٰ کيږي. يعني زېورات] فَلَبِسَ خَاتَمَ فِضَّةٍ بيا دا [حالف] کس د سپينو زرو ګوتمۍ واغونډي لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِحُلِيٍّ عُرْفًا وَلَا شَرْعًا ځکه چې دا نه په عُرف کې زېور دی او نه په شريعت کې حَتَّى أُبِيحَ اسْتِعْمَالُهُ لِلرِّجَالِ همدا وجه ده چې د خلکو لپاره هغه [د سپينو زرو ګوتمۍ] استعمال روا دی وَالتَّخَتُّمُ بِهِ لِقَصْدِ الْخَتْمِ او هغه د مُهر لګولو په غرض سره اغوستل کيږي [لکه په پخوا زمانه کې چې داسې کېدل، لهذا چې د سپينو زرو ګوتمۍ د خلکو لپاره روا ده، لهذا هغه په زېوراتو کې نه داخليږي، نو ځکه به د هغه په اغوستلو سره حالف نه حانث کيږي] وَإِنْ كَانَ مِنْ ذَهَبٍ او که ګوتمۍ له سرو زرو څخه وي حَنِثَ نو حالف حانث کيږي لِأَنَّهُ حُلِيٌّ ځکه چې هغه زېور دی [يعني د سوني ګوتمۍ له زېوراتو څخه شمارل کيږي] وَلِهَذَا لَا يَحِلُّ اسْتِعْمَالُهُ لِلرِّجَالِ او له همدې کبله د خلکو لپاره د هغه استعمالول جائز نه دي وَلَوْ لَبِسَ عِقْدَ لُؤْلُؤٍ غَيْرِ مُرَصَّعٍ او که حالف د ملغلرو نا پېيودل سوی هار واغوندي [يعني د ملغلرو داسې ساده هار په غاړه کړي چې په هغه کې ملغلرې په ترتيب سره پېيوول سوي نه وي او نور ښکلي غميان ور سره استعمال سوي نه وي] لَمْ يَحْنَثْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو [په دې صورت کې] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حالف نه حانث کيږي وَقَالَا يَحْنَثُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې حانث کيږي لِأَنَّهُ حُلِيٌّ حَقِيقَةً ځکه چې دا [هم] په حقيقت کې زېور دی حَتَّى سُمِّيَ بِهِ فِي الْقُرْآنِ همدا وجه ده چې په قرآن شريف کې هغه ته زېور ويل سوي دي وَلَهُ: أَنَّهُ لَا يُتَحَلَّى بِهِ عُرْفًا إِلَّا مُرَصَّعًا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې په عُرف کې فقط د ملغلر پېيوول سوی [مُرتَّب] هار اغوستل کيږي [ساده او نابښکلی هار نه اغوستل کيږي] وَمَبْنَى الْأَيْمَانِ عَلَى الْعُرْفِ او د قسمونو دار ومدار پر عرف دی [نو ځکه به د هغه په اغوستلو سره حالف نه حانث کيږي] وَقِيلَ: هَذَا اخْتِلَافُ عَصْرٍ وَزَمَانٍ او ويل سوي دي: چې دا د وخت او زمانې اختلاف دی [يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په زمانه کې رواج دا وو چې د ملغلرو ساده او نا پېيوول سوی هار به

اغوستل کېدی، نو ځکه هغه فرمایلي دي چي دا زېور نه دی. او د صاحبینو په زمانه کي بیا د زېور او ښکلا په توګه د داسي ساده هار اغوستل رواج او عادت سو، نو ځکه هغو وفرمایل چي دا زېور دي.
او اوس فتویٰ هم د هغو پر قول ده] وَيُفْتَى بِقَوْلِهِمَا او [په دې زمانه کي به] د صاحبینو پر قول فتویٰ ورکول کیږي لِأَنَّ التَّحَلِّيَ بِهِ عَلَى الِانْفِرَادِ مُعْتَادٌ ځکه چي [په دې زمانه] یوازي ملغلري [هم د زېور او ښکلا په توګه] اغوستل عادت دي.

اللغات: ﴿حَلْيٌ﴾ زېور، پښول (غاړګۍ او داسي نور د ښکلا شیان کوم چي یې ښځه استعمالوي)، جمع: حُلِيٌّ او حِلِيٌّ، ﴿تَخَتُّم﴾ د تفعّل مصدر دی: ګوتمۍ په ګوته کول، ګوتمۍ اغوستل، ﴿الخَتْم﴾ د ضرب له باب څخه اسمِ مصدر دی: مُهر لګول، ټاپه لګول، نښه لګول. ﴿عِقْد﴾ (د عین په کسره سره): هار، غاړګۍ (غاړهکۍ)، امیل، په تار پېیول سوي ګلان او داسي نور شیان. ﴿لُؤْلُؤ﴾ ملغلره، مرغلره، ﴿مُرَصَّع﴾ د تفعیل اسمِ مفعول دی: ناښکلی، ساده، غیرِ مرتّب (بې ترتیبه). رَصَّعَ يُرَصِّعُ تَرْصِيعًا: په ترتیب سره پېیول (پېیل)، اندازه کول، وودل، (په اندازه او ترتیب سره جوړول). ﴿لَا يُتَحَلَّى﴾ د تفعّل له باب څخه د نفي صیغه ده: زېور اغوستل، ښائسته کول (ښکلی کول).

تشريح:

ولولبس عِقد لؤلؤ إلخ: د دې حاصل دا دی که یو څوک قسم واخلي چي زېورات به نه استعمالوم، او بیا د ملغلرو ساده ملنګی هار واغوندي چي په هغه کي په ترتیب او بازاري شکل سره ملغلري نصب سوي نه وي او نور ښکلي غمیان ور سره استعمال سوي نه وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا سړی نه حانث کیږي، او صاحبین فرمایي چي حانث کیږي.

د صاحبینو دلیل دا دی چي په قرآن کي یوازي ملغلرو ته هم زېور ویل سوي دي، آیت دا دی: يُحَلَّوْنَ فِيهَا أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا [سورة الحج: ٢٣]، (او په دې جنت کي به په مؤمنانو ته د سرو زرو کړی (حلقی) او ملغلري د زېور په توګه ور اغوستل کیږي)، په دې آیت کي لُؤْلُؤ ته هم حُلِيٌّ یعني زېور ویل سوي دي، معلومه سوه چي یوازي ملغلري هم زېور دي، نو ځکه به یوازي د ملغلرو په اغوستلو سره هم حالف حانث کیږي.

د امام صاحب دلیل او پاته عبارت په ترجمه کي تشریح سو، نوري تشریح ته ضرورت نه لري.

د نه کښېنستلو يا نه بيدېدلو قسم

وَمَنْ حَلَفَ لَا يَنَامُ عَلٰى فِرَاشٍ او کوم سړی چې قسم واخلي چې هغه به پر بستره نه بديږي فَنَامَ عَلَيْهِ وَفَوْقَهُ قِرَامٌ بيا هغه پر داسې بستره بيده سي چې پر هغې د پاسه نرۍ څادر [هوار] وي حَنِثَ نو حانث کيږي لِأَنَّهُ تَبَعٌ الْفِرَاشِ ځکه چې څادر د بسترې تابع دی فَيُعَدُّ نَائِمًا عَلَيْهِ نو هغه به پر بسترې باندې بيدېدونکی شمارل کيږي وَإِنْ جُعِلَ فَوْقَهُ فِرَاشًا آخَرَ او که پر دغه بسترې د پاسه بله بستره واچول سي فَنَامَ عَلَيْهِ او [بيا] حالف پر هغې بيده سي لَا يَحْنَثُ نو نه حانث کيږي لِأَنَّ مِثْلَ الشَّيْءِ لَا يَكُونُ تَبَعًا لَهُ ځکه چې د يو شي سره مشابه شی د هغه تابع نه ګرځي فَيَنْقَطِعُ النِّسْبَةُ عَنِ الْأَوَّلِ نو له اولي بسترې څخه به [د سرېږني بسترې] نسبت ختم سي وَلَوْ حَلَفَ لَا يَجْلِسُ عَلَى الْأَرْضِ او که قسم واخلي چې پر ځمکه به نه کښېني فَجَلَسَ عَلٰى بِسَاطٍ أَوْ حَصِيرٍ بيا هغه پر فرش يا چټايي [سترنجي] باندې کښېني لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي لِأَنَّهُ لَا يُسَمّٰى جَالِسًا عَلَى الْأَرْضِ ځکه چې هغه ته پر ځمکه کښېنستونکی نه ويل کيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا حَالَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْأَرْضِ لِبَاسُهُ په خلاف د هغه صورت کله چې د حالف او ځمکې په مينځ کې [فقط] د هغه کالي حائل وي لِأَنَّهُ تَبَعٌ لَهُ ځکه چې کالي د هغه تابع دي فَلَا يُعْتَبَرُ حَائِلًا نو ځکه به هغه [د ده او ځمکې په مينځ کې] حائل نه ګڼل کيږي وَإِنْ حَلَفَ لَا يَجْلِسُ عَلٰى سَرِيرٍ او که قسم واخلي چې پر کټ به نه کښېني فَجَلَسَ عَلٰى سَرِيرٍ فَوْقَهُ بِسَاطٌ أَوْ حَصِيرٌ بيا هغه پر داسې کټ کښيني چې پر هغه د پاسه فرش يا چټايي [هواره] وي حَنِثَ نو حانث کيږي لِأَنَّهُ يُعَدُّ جَالِسًا عَلَيْهِ ځکه چې [هغه په دې حال کې هم] پر کټ باندې کښېنستونکی شمارل کيږي وَالْجُلُوْسُ عَلَى السَّرِيرِ فِي الْعَادَةِ كَذٰلِكَ او په عادت [او عرف] کې پر کټ باندې کښېنستل همداسې وي [چې پر کټ د پاسه يو شی هوارول کيږي او پر هغه ناسته کيږي] بِخِلَافِ مَا إِذَا جُعِلَ فَوْقَهُ سَرِيرًا آخَرَ په خلاف د هغه صورت کله چې پر دغه کټ د پاسه بل کټ کښېښول سي لِأَنَّهُ مِثْلُ الْأَوَّلِ ځکه چې دا [دويم کټ] د اول کټ په څېر دی [او د هغه سره مشابه دی، او يو مشابه شی د بل مشابه شي نه تابع کيږي] فَقَطَعَ النِّسْبَةَ عَنْهُ نو ځکه له اول کټ څخه [د دويم سرېږن کټ] نسبت ختم سو.

اللغات: ﴿فِرَاش﴾ بستر، بستره، د بيدېدلو ځاى، ﴿قِرَام﴾ نرى څادر، ﴿بِسَاط﴾ فرش، ټاټ، ﴿حَصِيْر﴾ چټايي، سترنجي، (حصير هغه چټايي ته کوم چي له پستو خاشو څخه جوړه سوې وي، دلته څني مراد مطلق چټايي او دناستي شى دى)، ﴿سَرِيْر﴾ کټ، چپرکټ، چارپايي.

تشريح: په دې عبارت کي دړې مسئلې ذکر سوي دي:

(١)... که يو څوک قسم واخلي چي زه به پر بسترې او نالي نه بيدېږم، بيا هغه پر داسي بسترې او نالي بيده سي چي پر هغه نرى څادر (ټوکر) هوار وي، نو حالف حانث کيږي، ځکه چي څادر د بسترې او نالي تابع دى او د هغه سره متصل دى، لهذا پر هغه بيدېدل داسي دي لکه پر بسترې او نالي بيدېدل، نو ځکه به حالف حانث کيږي، او که پر محلوف عليه يعني پر بسترې د پاسه بله بستره هواره سوې وي، او حالف پر بيده سي، نو نه حانث کيږي، ځکه کوم شى چي د بل شى سره مشابه وي، هغه د دې مشابه شي تابع نه وي، او دلته هم يوه بستره د بلي بسترې سره مشابه ده، نو دويمه بستره د لاندي بسترې تابع نه سوه، لهذا پر دې (دويمي) سربېرني بسترې بيدېدل داسي نه شمارل کيږي لکه پر محلوف عليه بسترې بيدېدل، نو ځکه به حالف نه حانث کيږي.

(٢)... که يو څوک قسم واخلي چي "زه به پر ځمکه نه کښېنم"، بيا هغه پر فرش او چټايي (ټاټ او سترنجي) باندي کښيني، نو نه حانث کيږي؛ ځکه چي پر فرش يا چټايي باندي کښېنستونکي انسان ته پر ځمکه کښېنستونکى نه ويل کيږي، لېکن که د ځمکي او حالف په مينځ کي فقط د حالف کالي او جامه وي، نو بيا حانث کيږي، ځکه چي جامه او کالي د انسان تابع وي، لهذا هغه حائل شمارل کېداى نه سي (ځکه چي حائل هغه شى شمارل کيږي کوم چي تابع نه وي، بلکې جلا او عليحده وي لکه ټاټ، فرش، چټايي او سترنجي)، نو ځکه به په دې صورت کي حالف حانث کيږي.

(٣)... او که يو سړى قسم واخلي چي "زه به پر کټ (چارپايي) نه کښېنم"، بيا هغه سړى پر داسي کټ کښيني چي فرش يا چټايي (سترنجي) پر هواره وي، نو هغه حانث کيږي، ځکه چي دا فرش يا چټايي د کټ تابع ده، نو ځکه به حالف پر کټ کښېنستونکى شمارل کيږي، او بل دا چي عموماً پر کټ يو شى هوارول کيږي، نو په دې حواله سره به هم حالف حانث کيږي.

د دې په خلاف که پر کټ د پاسه بل کټ کښېښول سي، او بيا حالف پر دويم کټ باندي کښيني، نو نه حانث کيږي، ځکه چي يو کټ د بل کټ سره مشابه دى او تابع يې نه دى، لهذا د دويم کټ په ايښولو سره د يمين نسبت له اول کټ څخه ختم او قطع سو، او کله چي د يمين نسبت ختم سو، نو ښکاره خبره ده چي پر دويم کټ باندي په کښېنستلو سره به حالف نه حانث کيږي.

✿✿✿

بَابُ الْيَمِيْنِ فِي الْقَتْلِ وَالضَّرْبِ وَغَيْرِهٖ

(دا) باب د وژلو، وهلو او داسې نورو په هکله د قسم اخيستلو (په بيان کې) دی

د نه وهلو يا غسل نه ورکولو تر قسم وروسته د مړيني په حالت کې وهل يا غسل ورکول

وَمَنْ قَالَ: إِنْ ضَرَبْتُكَ فَعَبْدِي حُرٌّ او څوک چې [بل چا ته] ووايي: که چيرې ما ته ووهلې، نو زما غلام آزاد دی فَهُوَ عَلَى الْحَيَاةِ نو دا قسم به د ژوند سره متعلق وي لِأَنَّ الضَّرْبَ اِسْمٌ لِفِعْلٍ مُؤْلِمٍ يَتَّصِلُ بِالْبَدَنِ ځکه چې ضرب تکليف ورکونکي [دردونکي] فعل ته وايي کوم چې پر بدن ولګيږي وَالْإِيلَامُ لَا يَتَحَقَّقُ فِي الْمَيِّتِ او په مړي کې إيلام نه ثابتيږي وَمَنْ يُعَذَّبُ فِي الْقَبْرِ تُوضَعُ فِيهِ الْحَيَاةُ فِي قَوْلِ الْعَامَّةِ او چا ته چې په قبر کې عذاب ورکول کيږي، د زياتره فقهاؤ په نيز په هغه کې [دوباره] ژوند اينبول کيږي وَكَذٰلِكَ الْكِسْوَةُ او د جامې د ور اغوستلو هم دغه حکم دی [يعني کسوة به هم د ژوند سره متعلق وي] لِأَنَّهُ يُرَادُ بِهِ التَّمْلِيكُ عِنْدَ الْإِطْلَاقِ ځکه چې په مطلق کسوة سره "مالک جوړول" مراديږي وَمِنْهُ الْكِسْوَةُ فِي الْكَفَّارَةِ او له همدې معنیٰ څخه په کفاره کې جامه ور اغوستل هم دي [يعني مسکين د جامې مالک جوړول] وَهُوَ مِنَ الْمَيِّتِ لَا يَتَحَقَّقُ او تمليک په مړي کې نه ثابتيږي [يعني مړی ديو شي مالک نه شي جوړېدای] إِلَّا أَنْ يَنْوِيَ بِهِ السَّتْرَ خو دا چې حالف په دې [کسوة] سره د ستر [عورت پټولو] نيت وکړي وَقِيلَ: بِالْفَارِسِيَّةِ يَنْصَرِفُ إِلَى اللُّبْسِ او ويل سوي دي: چې په فارسي کې به دا [کسوة] د لُبس د معنیٰ وطرف ته ګرځول کيږي وَكَذَا الْكَلَامُ وَالدُّخُولُ او همدا حکم د خبرو کولو او داخلېدلو هم دی [يعني که يو څوک قسم واخلي چې د فلانکي سره به خبرې نه کوم، يا پر فلانکي به نه داخلېږم، نو هغه به هم د ژوند سره متعلق وي] لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنَ الْكَلَامِ الْإِفْهَامُ ځکه چې له کلام څخه مقصد پوهول دي وَالْمَوْتُ يُنَافِيهِ او مرګ د دې مخالف دی

[ځکه چي مړی خبري فهمولای نه سي] وَالْمُرَادُ مِنَ الدُّخُولِ عَلَيْهِ زِيَارَتُهُ او پر يو چا باندي د داخلېدلو څخه مراد د هغه زيارت [او ديدار کول] دي وَبَعْدَ الْمَوْتِ يُزَارُ قَبْرُهُ لَا هُوَ او تر مړګ وروسته د يو چا د قبر زيارت کېږي، د هغه زيارت نه کېږي وَلَوْ قَالَ: إِنْ غَسَّلْتُكَ فَعَبْدِي حُرٌّ او [که حالف بل چا ته] ووايي: که چيري ما تا ته غسل درکړی، نو زما غلام آزاد دی] فَغَسَّلَهُ بَعْدَ مَا مَاتَ بيا حالف هغه ته د هغه تر مړګ وروسته غسل ورکړي يَحْنَثُ نو حانث کېږي [يعني د حالف غلام آزادېږي] لِأَنَّ الْغُسْلَ هُوَ الْإِسَالَةُ ځکه چي د غسل معنیٰ ده: اوبه بيول [پر بدن اوبه بهول] وَمَعْنَاهُ: التَّطْهِيرُ او د اوبو بيولو معنیٰ ده: پاکول [صفا کول] وَيَتَحَقَّقُ ذٰلِكَ فِي الْمَيِّتِ او مړي ته [په غسل ورکولو سره] هم دا معنیٰ ثابتېږي [يعني د هغه بدن پاکېږي، نو ځکه به مړي ته په غسل ورکولو سره حالف حانث کېږي، او د هغه غلام به آزادېږي].

اللغات: ﴿إِيْلَامٌ﴾ د افعال مصدر دی: دردول، خوږول، تکليف ورکول. مُؤْلِمٌ له همدې باب څخه د اسمِ فاعل صيغه ده. ﴿يَتَّصِل﴾ د افتعال مضارع ده: متصل کېدل، ور سره لګېدل، يو ځای کېدل. ﴿كِسْوَة﴾ جامه ورکول (کالي ورکول)، جامه په اغوستل. ﴿إِسَالَة﴾ د افعال مصدر دی: بيول (بهول). ﴿تَطْهِيْر﴾ د تفعيل مصدر دی: پاکول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که يو سړی مثلاً خپل ګران زوی ته ووايي: ''په الله قسم! که چيري ما (بل وار) ته ووهلې، نو زما غلام آزاد دی''، نو په دې سره په ژوند کي د محلوف عليه (زوی) وهل مرادېږي، ځکه چي ضرب (وهل) داسي فعل دی چي په هغه سره بدن ته درد او تکليف رسيږي (او په هغه سره بدن خوږېږي)، او د مړي پر بدن ضرب هيڅ أثر نه کوي، نو ځکه به د ضرب قسم د ژوند سره متعلق وي (نو که زوی مړ سي، او بيا دا سړی هغه ووهي، نو غلام نه آزادېږي)، او پاته سوه دا خبره چي په قبر کي مړي ته عذاب ورکول کېږي او هغه ته سخت درد او تکليف رسيږي، نو په دې هکله د زياتره فقهاؤ رايه دی چي په قبر کي مړي ته د الله له طرفه روح ورکول کېږي (او د عذاب پر وخت هغه په قبر کي ژوندی کېږي)، لهذا پر دې باندي دنياوي حکم او دنياوي مسئله قياسول صحيح نه دي.

وكذالك الكسوة إلخ: فرمايي کوم حکم چي د وهلو دی، هغه حکم د ور اغوستلو هم دی، نو که يو سړی بل چا ته ووايي: ''إِنْ كَسَوْتُكَ فَعَبْدِي حُرٌّ'' (که ما په تا جامې واغوستلې، نو زما غلام آزاد

دی)، نو دا قسم هم د ژوند سره متعلق کیږي. او فقط د محلوف علیه په ژوند کي به د جامې په ور اغوستلو سره د حالف غلام آزادیږي: ځکه کله چي کِسوة مطلق ذکر سي، نو له هغه څخه مالک جوړول (تملیک) مرادیږي. او مړي د یو شي مالک جوړول ممکن نه دي. نو ځکه به دا قسم د محلوف علیه د ژوند سره متعلق وي. ها! که حالف ووایي: چي زما نیت ستر او پټول وو (چي که ما ستا عورت پټ کړی، نو زما غلام آزاد دی)، نو بیا مړي ته هم دا قسم شاملیږي. او فقیه ابوالليث رَحِمَهُ الله فرمایلي دي چي په فارسي ژبه کي له کِسوة (ور اغوستلو) څخه تملیک او مالک جوړل نه مرادیږي. بلکي فقط خپله معنیٰ ځني مرادیږي. یعني جامې ور اغوستل (نو که په فارسي ژبه څوک داسي قسم واخلي او بیا محلوف علیه مړ سي او حالف جامې ور واغوندي نو هغه حانث کیږي او غلام آزادیږي. ځکه چي جامې ور اغوستل ثابت سو).

وكذا الكلام والدخول إلخ: فرمایي که یو څوک مثلاً ووایي "که ما د خالد سره خبري وکړي. یا زه پر خالد داخل سوم. نو زما غلام آزاد دی". نو په دې صورت کي هم قسم د محلوف علیه د ژوند سره متعلق کیږي: ځکه چي په کلام کولو سره د انسان مقصد دا وي چي مخاطب په خبرو پوه سي. او په دخول سره د انسان مقصد زیارت او ملاقات کول وي. او ښکاره خبره دا ده چي دا شیان فقط په ژوند کي ثابتېدی سي. او تر مرګ وروسته د دې امکان نسته. ځکه چي مړی نه په خبرو پوهیږي. او نه انسان د هغه سره ملاقات کولای سي. بلکي فقط د هغه قبر زیارت او دیدار کیږي.

ولو قال إن غسلتُك إلخ: دا مسئله ښکاره ده.

د نه وهلو تر قسم وروسته تر وربښتانو کشول، خپه کول او په غاښول

وَمَنْ حَلَفَ لَا يَضْرِبُ امْرَأَتَهُ او که یو څوک قسم واخلي چي خپله ښځه به نه وهي فَمَدَّ شَعْرَهَا بیا د هغې وربښتان کش کړي [یعني تر وربښتانو یې کش کړي] أَوْ خَنَقَهَا یا هغه خپه کړي [یعني تر ستوني یې ونیسي] أَوْ عَضَّهَا یا یې وچیچي [یعني په غاښ یې کړي] حَنِثَ نو [په دې ټولو صورتونو کي خاوند] حانث کیږي لِأَنَّهُ اسْمٌ لِفِعْلٍ مُؤْلِمٍ ځکه چي "وهل" تکلیف ورکونکي فعل ته وایي وَقَدْ تَحَقَّقَ الْإِيلَامُ او [دلته] تکلیف ورکول ثابت سو [یعني د وهلو مطلب دی: تکلیف ورکول (دردول)، خوږول. او د وربښتانو په کشولو. خپه کولو او په غاښ لګولو سره هم ښځي ته تکلیف او درد رسیږي. نو ځکه به خاوند په دې افعالو سره هم حانث کیږي] وَقِيلَ: لَا يَحْنَثُ فِي حَالِ

الْمُلَاعَبَةِ او وړل سوي دي: چي د بازۍ او لوبي په حالت کي نه حانث کيږي ايعني که حالف (خاوند) د بازۍ او لوبي په حالت کي دا افعال وکړي، نو نه حانث کيږي| لِأَنَّهُ يُسَمَّى مُمَازَحَةً لَا ضَرْبًا ځکه چي په دغه حالت کي دې |افعالو| ته مسخرې |او ساعت تېرى| وايي انو ځکه به نه حانث کيږي|

اللغات: ﴿مَدَّ﴾ د نصر ماضي ده: کشول. ﴿خَنَقَ﴾ دا هم د نصر ماضي ده: خپه کول (غاړه کنښکاږل). تر ستوني نيول. ﴿عَضَّ﴾ د سمع ماضي ده: په غاښول (غاښونه لګول). چيچل. ﴿مُلَاعَبَةٌ﴾ د مفاعلې مصدر دى: يو د بل سره بازي کول (لوبي کول). ﴿مُمَازَحَةٌ﴾ د مفاعلې مصدر دى: يو د بل سره مسخرې کول (ټوکي کول. ګپه کول).

تشريح: مسئله په ترجمه کي تشريح سو.

د يو چا پر قتل کولو د طلاق معلق کولو يو صورت

وَمَنْ قَالَ: إِنْ لَمْ أَقْتُلْ فُلَانًا فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ او کوم څوک چي |داسي| ووايي: که چيري ما فلانکى قتل نه کړى نو زما ښځه طلاقه ده وَفُلَانٌ مَيِّتٌ وَهُوَ عَالِمٌ بِهِ او فلانکى مړ وي او حالف په هغه خبر وي |چي مړ دى| حَنِثَ نو حانث کيږي لِأَنَّهُ عَقَدَ يَمِينَهُ عَلَى حَيَاةٍ يُحْدِثُهَا اللهُ فِيهِ ځکه چي هغه خپل قسم د داسي ژوند پر بنياد واخيستى چي الله به يې په هغه مړي کي پيدا کړي |يعني د دې قسم بنياد پر دې خبره دى چي الله به په هغه کي روح او ژوند پيدا کړي| وَهُوَ مُتَصَوَّرٌ او د دې تصوّر کېداى سي |يعني دا ممکن دي| فَيَنْعَقِدُ نو ځکه به |د حالف| قسم منعقد کيږي |يعني د هغه قسم به صحيح وي او په دې سره به هغه قسم کونکى ګرځي| ثُمَّ يَحْنَثُ لِلْعَجْزِ الْعَادِيِّ بيا به د عادتاً |عموماً| عاجزه کېدلو په وجه هغه حانث کيږي وَإِنْ لَمْ يَعْلَمْ بِهِ او که هغه په فلانکي خبر نه وي |چي مړ دى| لَا يَحْنَثُ نو نه حانث کيږي لِأَنَّهُ عَقَدَ يَمِينَهُ عَلَى حَيَاةٍ كَانَتْ فِيهِ ځکه چي هغه خپل قسم د داسي ژوند پر بنياد واخيستى. کوم چي په مړي |فلانکي| کي وو وَلَا تُتَصَوَّرُ لېکن د هغه تصور نه سي کېداى |ځکه چي هغه مړ دى| فَيَصِيرُ قِيَاسَ مَسْأَلَةِ الْكُوزِ عَلَى الِاخْتِلَافِ نو دا مسئله په اختلاف کي د کوزې د مسئلې قياس ګرځي ايعني دا مسئله به د کوزې پر مسئله قياس کيږي. لکه څرنګه چي په هغه مسئله کي اختلاف وو. هغسي اختلاف به دلته هم وي| وَلَيْسَ فِي تِلْكَ الْمَسْأَلَةِ تَفْصِيلُ الْعِلْمِ لېکن د کوزې په مسئله کي د خبرتيا |او ناخبرۍ| تفصيل |او بحث| نه وو |لکه څرنګه چي دلته سته چي حالف په يوه

صورت کي د محلوف عليه (زيد) په مرګ خبر دی او په بل صورت کي په خبر نه دی ا وَهُوَ الصَّحِيحُ او صحيح اخبره اهمدا ده.


اللغات: ﴿عَقَدَ﴾ د ضرب ماضي ده: تړل، مضبوطول (قسم پخول). مراد ځني د قسم اخيستل او منعقد کول دي. ﴿يَصِيرُ﴾ د ضرب مضارع ده:

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که خالد په دې خبر وي چي زيد مړ سوی دی. بيا قسم واخلي چي که ما هغه مړ نه کړی، نو زما ښځه پر ما طلاقه ده. نو ځرنګه چي دا ممکن دي چي د معجزې په توګه الله هغه (زيد) ژوندی کړي، نو ځکه به قسم منعقد کيږي. ليکن عادتاً او په عامو حالاتو کي داسي کېدل ناممکن دي. نو ځکه به خالد په قسم کي حانث کيږي، يعني د هغه پر ښځي به طلاق واقع کيږي.

وإن لم يعلم به: او که خالد په دې خبر نه وي چي زيد مړ سوی دی. بيا قسم واخلي چي که ما زيد مړ نه کړی، نو زما ښځه پر ما طلاق ده: ځرنګه چي دلته خالد د زيد په مرګ خبر نه دی، نو د هغه قسم پر دې بنياد منعقد سو چي زيد به ژوندی وي، حال دا چي په زيد کي بالکل ژوند نسته. نو ځکه به هغه نه حانث کيږي. يعني د هغه پر ښځي به طلاق نه واقع کيږي.

فيصير قياس إلخ: مخکي يوه مسئله تېره سوه چي که څوک داسي قسم واخلي: "که چيري زه په دغه کوزه کي موجوده اوبه نه وچيښم، نو زما ښځه پر ما طلاقه ده"، حال دا چي په کوزه کي هيڅ اوبه نه وي. نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هغه نه حانث کيږي. او ښځه يې نه يې طلاقيږي. ليکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز حانث کيږي (د کوزې له مسئلې څخه همدغه مسئله مراد ده). صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د کوزې والا په مسئله کي چي د طرفينو او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په مېنځ کي کوم اختلاف وو. هغه دلته هم جاري کيږي. يعني ځرنګه چي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د قسم د منعقد کېدلو او پاتېدو لپاره د برّ متصور کېدل شرط دي (يعني د هغو په نيز دا شرط دي چي د قسم د پوره کېدلو تصوّر به کېدای سي او هغه به ممکن او متصوّر الوجود وي). او هغه دلته نسته. نو ځکه به د هغو په نيز په دې مسئله کي حالف نه حانث کيږي. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به حانث کيږي. ځکه چي د هغه په نيز د قسم متصورُ الوجود کېدل شرط نه دي.

ها! په دې مسئله او د کوزې په مسئله کي نقط دومره فرق سته چي هلته د دې تفصيل بيان سوی نه وو چي حالف به په محلوف عليه (د کوزې په اوبو) خبر وي او که نه!. او دلته د دې تفصيل او فرق بيان سو.



بَابُ الْيَمِيْنِ فِيْ تَقَاضِى الدَّرَاهِمِ

(دا) باب د دراهمو د تقاضا کولو (او اداء کولو) په هکله د قسم اخيستلو (په بيان کې) دى

په مختصر وخت کې د قرض اداء کولو قسم

قَالَ: وَمَنْ حَلَفَ لَيَقْضِيَنَّ دَيْنَهُ إِلَى قَرِيبٍ فرمايي: او که څوک قسم واخلي چې هغه به ژر [په لنډ وخت کې] د فلانکي قرض خامخا اداء کوي فَهُوَ عَلَى مَا دُونَ الشَّهْرِ نو دا به له يوې مياشتې څخه پر کم وخت [محمول] وي [يعني تريوې مياشتې کم وخت به له دې څخه مراديږي] وَإِنْ قَالَ: إِلَى بَعِيدٍ او که هغه ووايي: تر ليرې وخته [يعني په ډېر وخت کې به زه د هغه قرض اداء کوم] فَهُوَ أَكْثَرُ مِنَ الشَّهْرِ نو دا به له يوې مياشتې څخه پر زيات وخت [محمول] وي لِأَنَّ مَا دُونَهُ يُعَدُّ قَرِيبًا ځکه چې تريوې مياشت کم وخت قريب [نژدې او لنډ وخت] شمارل کيږي وَالشَّهْرُ وَمَا زَادَ عَلَيْهِ يُعَدُّ بَعِيدًا او يوه مياشته يا تر دې زيات وخت بعيد [ليرې او ډېر وخت] شمارل کيږي وَلِهَذَا يُقَالُ عِنْدَ بُعْدِ الْعَهْدِ: مَا لَقِيتُكَ مُنْذُ شَهْرٍ او همدا وجه ده چې د زمانې تر ليرې کېدلو [يعني تر څه وخت تېرېدلو] وروسته ويل کيږي: چې "له يوې مياشتې څخه ما ستا سره ملاقات کړی نه دی" [يعني يوه مياشت کيږي چې ما او تا سره ليدلي نه دي]

اللغات: ﴿لَيَقْضِيَنَّ﴾ د ضرب مضارع ده. په شروع او آخر کې يې د تأکيد لپاره لام او نون ثقيله ذکر سوي دي: خامخا اداء کول. ضرور اداء کول. ﴿قَرِيْب﴾ نژدې وخت. لږ وخت. ﴿بُعْد﴾ ليرې والی. ﴿عَهْد﴾ زمانه.

تشريح: په دې عبارت کې دا رابنيي چې د قَرِيْب او بَعِيْد زمانې إطلاق پر څومره وخت کيږي؟ نو فرمايي چې قَرِيْب تريوې مياشتې کم وخت ته وايي. او بَعِيْد يوه مياشت يا تر دې زيات وخت وايي. نو که يو څوک قسم واخلي چې زه به په نژدې او لنډ وخت (قريب) کې قرض اداء کوم. نو هغه به په يوه مياشت کې دننه قرض اداء کوي، کنې حانث کيږي. او که ووايي: چې زه به وروسته او په

ليري وخت (بعيد) کي قرض اداء کوم، نو که په دې صورت کي حالف تر يوې مياشت وروسته قرض اداء کړي، نو هم نه حانث کيږي.

وَمَنْ حَلَفَ لَيَقْضِيَنَّ فُلَانًا دَيْنَهُ الْيَوْمَ او که يو څوک قسم واخلي چي د فلانکي قرض به خامخا نن اداء کوي فَقَضَاهُ بيا هغه [د فلانکي] قرض اداء کړي [او هغه ته خپل دراهم ورکړي] ثُمَّ وَجَدَ فُلَانٌ بَعْضَهَا زُيُوفًا أَوْ نَبَهْرَجَةً أَوْ مُسْتَحَقَّةً بيا فلانکی په هغه [دراهمو] کي ځيني کوټه يا ناچله دراهم پيدا کړي يا ځيني دراهم [د بل چا] مستحق پيدا کړی [يعني هغه د بل چا حق وي، او حالف ده ته ورکړې وي] لَمْ يَحْنَثِ الْحَالِفُ نو [په دې صورت کي] قسم اخيستونکی نه حانث کيږي لِأَنَّ الزِّيَافَةَ عَيْبٌ ځکه چي کوټه کېدل خو يو عيب دی وَالْعَيْبُ لَا يُعْدِمُ الْجِنْسَ او عيب جنس نه ختموي [يعني د دراهمو جنس خو اوس هم پاته دی] وَلِهٰذَا لَوْ تَجَوَّزَ بِهِ او همدا وجه ده که چيري دا فلانکی [قرض غوښتونکی] په هغو اکتفاء وکړي [او د هغو کوټه والي او داسي نور برداشت کړي او په راضي سي] صَارَ مُسْتَوْفِيًا نو فلانکی د خپل حق حاصلونکی ګرځي [يعني قرض اداء کيږي] فَوُجِدَ شَرْطُ الْبِرِّ نو د قسم پوره کولو شرط موجود سو [نو ځکه به حالف نه حانث کيږي] وَقَبْضُ الْمُسْتَحَقَّةِ صَحِيحٌ او پر مستحقه دراهمو قبضه کول صحيح دي وَلَا يَرْتَفِعُ بِرَدِّهِ الْبِرُّ الْمُتَحَقِّقُ او د مستحق کس وطرف ته د دې دراهمو په واپس کولو سره پوره کړی سوی قسم نه ختميږي

اللغات: ﴿زُيُوْف﴾ کوټه پيسې، کوټه سکه. ﴿نَبَهْرَجَة﴾ دا هم کوټه او ناچله سکې ته ويل کيږي. خو دا به تر زُيُوْف هم ردّي او بده وه. او بَنَهْرَجَة يا نَهْرَجَة به ورته ويل کېده، ﴿مُسْتَحَقَّة﴾ هغه دراهم او پيسې چي د بل چا وخيږي. ﴿تَجَوَّزَ﴾ د تفعّل ماضي ده: چشم پوشي کول (ځان پر اچول). اکتفاء کول، برداشتول (زغمول)، جائز ګرځول. ﴿مُسْتَوْفِيًا﴾ د استفعال اسم فاعل دی: خپل حق پوره اخيستونکی، حاصلونکی، اِسْتَوْفٰى يَسْتَوْفِيْ اِسْتِيْفَاءً: پوره اخيستل، وصول کول، حاصلول. ﴿البِرّ﴾ د ضرب او سمع مصدر دی: قسم پوره کول، قسم پوره کېدل، له قسم څخه بري کېدل.

تشريح: د دې عبارت مسئله پر دې أصول مبني ده چي که يو څوک ديوشي قسم واخلي او بيا د هغه جنس شی اداء کړي، لېکن په هغه شي کي څه خامي او عيب وي، نو نه حانث کيږي، لېکن که د هغه

جنس شی نه وی. یا مثلاً د نامه په اعتبار سره یو شی وي او په حقیقت کي بل شی وي. مثلاً د نامه په اعتبار سره درهم وي. کنې په حقیقت کي درهم نه وي. نو د هغه په اداء کولو سره حالف (قسم اخیستونکی) حانث کیږي.

صورت د مسئلې: دا دی که یو څوک قسم واخلي چي زه به خامخا نن د فلانکي قرض اداء کوم. او بیا هغه د فلانکي قرض اداء هم کړي او دارهم ورکړي. خو په دې دراهمو کي ځیني (یا ټوله) کوټه دراهم وي. یا ناچله او ردّي دراهم وي. یا د بل چا مستحق دراهم وي. نو هغه په قسم کي نه حانث کیږي: ځکه چي زُیُوف او بَنَهْرَجَة خو هم دراهم دي (جنس یې هغه جنس دی). او دا جلا خبره ده چي هغه کوټه دي. او که فلانکی (قرض غوښتونکی) په دې دراهمو اکتفاء وکړي او په قرض کي یې قبول کړي. نو قرض اداء کیږي او قسم پوره کیږي. نو ځکه به هغه نه حانث کیږي.

وقبض المستحقة إلخ: او کوم درهم چي د بل چا ثابت سي. هغه خو دراهم دي او حالف اداء کړي دي. او دا جلا خبره ده چي فلانکی به دا مستحق دراهم بیرته خپل مستحق کس ته واپس ورکوي. لېکن په دې سره چي کله د حالف قسم پوره سو (او د حالف غاړي خلاصي سوې). نو بیا د دې په واپس کولو سره د هغه قسم نه ختمیږي. بلکي د ده قسم هغسي پوره او بشپړ پاتېږي.

وَإِنْ وَجَدَهَا رَصَاصًا أَوْ سَتُّوقَةً او که فلانکی [قرض غوښتونکی] هغه دراهم د سرپو یا جعلي دراهم وموندي [پیدا کړي] حَنِثَ نو حالف حانث کیږي لِأَنَّهُمَا لَيْسَا مِنْ جِنْسِ الدَّرَاهِمِ ځکه چي دا دواړه د درهمو له جنس څخه نه دي حَتَّى لَا يَجُوزَ التَّجَوُّزُ بِهِمَا فِي الصَّرْفِ وَالسَّلَمِ همدا وجه ده چي په بیع سلم او بیع صرف کي پر داسي درهمو اکتفاء کول جائز نه ده وَإِنْ بَاعَهُ بِهَا عَبْدًا وَقَبَضَهُ او که حالف د قرض په عوض کي پر فلانکي [یعني پر قرض غوښتونکي] غلام خرڅ کړي او فلانکي پر هغه قبضه وکړي [یعني غلام ځني واخلي] بَرَّ فِي يَمِينِهِ نو حالف خپل په قسم کي بري کیږي [او قسم یې پوره کیږي] لِأَنَّ قَضَاءَ الدَّيْنِ طَرِيقُهُ الْمُقَاصَّةُ ځکه چي د قرض اداء کولو یو طریقه مُقاصه هم ده [یعني د یو شی په یو عوض کي بل شی ورکول. چي هغه ته ادل بدل هم وایي] وَقَدْ تَحَقَّقَتْ بِمُجَرَّدِ الْبَيْعِ او محض [د غلام] په خرڅولو سره مقاصه ثابته سوه فَكَأَنَّهُ شَرَطَ الْقَبْضَ لِيَتَقَرَّرَ بِهِ نو ګواکي امام محمد رَحِمَهُ الله د قبضې شرط [ځکه الکولی دی چي په قبضه سره بیع ثابته [او پخه] سي

وَإِنْ وَهَبَهَا لَهُ يَعْنِي الدَّيْنَ او که قرض غوښتونکي خپل قرض حالف ته هبه کړی لَمْ يَبَرَّ نو حالف نه بري کيږي [او د خپل قسم پوره کونکی نه ګرځي] لِعَدَمِ الْمُقَاصَّةِ ځکه چي مقاصه نه راغله لِأَنَّ الْقَضَاءَ فِعْلُهُ ځکه چي اداء کول خو د مقروض [حالف] کار دی وَالْهِبَةُ إِسْقَاطٌ مِنْ صَاحِبِ الدَّيْنِ او هبه د قرض غوښتونکي له طرفه إسقاط دی [يعني دلته قرض غوښتونکي د هبې په ذريعه قرض ساقط کړی].

اللغات: ﴿رَصَاص﴾ سرَبْ (مراد ځني له سرپو څخه جوړ سوي درهم دي)، د سرپو سکه (د سرپو دراهم).

﴿سَتُّوقَة﴾ جعلي سکه (جعلي درهم)، هغه درهم چي دننه ټوله سُرپ وي او شاوخوا د سپينو زرو رنګ ورکول سوی وي. ﴿مُقَاصَّة﴾ د مفاعلې مصدر دی: ادل بدل کول (يو شی د بل شي په بدله کي خرڅول)، بدلونه، اليشونه، سامان د سامان په عوض کي خرڅول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی که حالف قرض غوښتونکي (فلانکي) ته د سرپو دراهم ورکړي يا بالکل جعلي دراهم ورکړي چي هغه ته سَتُّوقَه وايي، نو په دې صورت کي حالف حانث کيږي: ځکه چي درهم ټوله د سپينو زرو څخه جوړ وي، او دلته حالف د سرپو څخه جوړ سوي دراهم ورکړي دي، نو دا خو دراهم نه دي (بلکي جنس يې بدل دی)، همدارنګه سَتُّوقَه هم دراهم نه دی، هغه هم له سرپو څخه جوړ دي، فقط د سپينو زر رنګ ورکول سوی دی، نو ګواکي حالف هغه ته بالکل دراهم ورکړي نه دي، نو ځکه به حانث کيږي.

وإن باعه بها إلخ: د دې حاصل دا دی که څوک قسم واخلي چي زه به نن خامخا د فلانکي (قرض غوښتونکي) قرض اداء کوم، بيا هغه پر فلانکي خپل غلام خرڅ کړي، او فلانکي پر غلام قبضه وکړي، نو د هغه قسم پوره کيږي اوله خپل قسم څخه بري کيږي، او په دې صورت کي فقط د غلام په خرڅولو سره مقاصه ثابتيږي، ځکه کله چي حالف غلام پر قرض غوښتونکي خرڅ کړی، نو د غلام قيمت د قرض غوښتونکي پر ذمه واجب سو، نو د غلام قيمت د قرض په بدله کي راغلی، نو ګواکي حالف قرض اداء کړی، ځکه چي د قرض اداء کولو يوه طريقه مقاصه هم ده (يعني د قرض په بدله کي بل شي ورکول)، نو ځکه به د حالف قسم پوره کيږي، او هغه به خپل قسم کي نه حانث کيږي.

او د قبضې د شرط کېدلو وجه دا ده چي کله قرض غوښتونکی پر غلام قبضه هم وکړي، نو په دې سره بيع او مقاصه نوره مضبوطيږي، لنډه دا چي د قبضې شرط فقط د بيع او مقاصې د مضبوطېدلو لپاره لګول سوی دی (کنې قبضه ضروري نه ده).

وإن وهبها إلخ: او که قرض غوښتونکی خپل قرض و مديون يعني حالف ته هبه کړي، نو دا اداء کول نه شمارل کيږي، او په دې سره د حالف قسم نه پوره کيږي، يعني له خپل قسم څخه نه بري کيږي بلکي حانث کيږي؛ ځکه په دې صورت کي مقاصه نه راغله، ځکه چي حالف و هغه (قرض غوښتونکي) ته هيڅ شی ورکړی نه دی، بلکي هغه په هبه کولو سره خپل قرض ساقط کړی دی، نو ځکه به حالف حانث کيږي.

د قرض او داسي نورو په هکله د قسم اخيستلو يو څو صورتونه

وَمَنْ حَلَفَ لَا يَقْبِضُ دَيْنَهُ دِرْهَمًا دُونَ دِرْهَمٍ او که يو څوک قسم واخلي چي هغه به خپل قرض په يوه يوه درهم سره نه قبضه کوي [بلکي ټوله قرض به پريوه ځای قبضه کوي] فَقَبَضَ بَعْضَهُ بيا هغه پر بعضي قرض قبضه وکړي لَمْ يَحْنَثْ حَتّٰى يَقْبِضَ جَمِيعَهُ مُتَفَرِّقًا نو نه حانث کيږي تر دې چي پر ټوله قرض په جلا، جلا توګه قبضه وکړي لِأَنَّ الشَّرْطَ قَبْضُ الْكُلِّ لٰكِنَّهُ بِوَصْفِ التَّفَرُّقِ ځکه چي پر ټوله قرض قبضه کول شرط دي لېکن د تفريق په صفت سره [يعني په متفرقه توګه] أَلَا يَرٰى أَنَّهُ أَضَافَ الْقَبْضَ إِلٰى دَيْنٍ مُعَرَّفٍ مُضَافٍ إِلَيْهِ آيا هغه نه ګوري چي حالف د داسي قرض وطرف ته قبضه منسوب کړې ده کوم چي معروف [معلوم] دی او د هغه وطرف مضاف دی فَيَنْصَرِفُ إِلٰى كُلِّهِ لهذا دا حکم به د ټوله قرض وطرف ته منسوب کيږي فَلَا يَحْنَثُ إِلَّا بِهِ او په متفرقه توګه د ټوله قرض له قبضه کولو څخه بغير به حالف نه حانث کيږي فَإِنْ قَبَضَ دَيْنَهُ فِي وَزْنَيْنِ او که هغه په دوه واره وزن کولو سره پر خپل قرض قبضه وکړي وَلَمْ يَتَشَاغَلْ بَيْنَهُمَا إِلَّا بِعَمَلِ الْوَزْنِ او د دوه واره وزن کولو په مينځ کي مشغول نه سي مګر د وزن په عمل سره لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث کيږي وَلَيْسَ ذٰلِكَ بِتَفْرِيقٍ [ځکه چي] دا په متفرقه توګه اخيستل [قبضه کول] نه دي لِأَنَّهُ قَدْ يَتَعَذَّرُ قَبْضُ الْكُلِّ دَفْعَةً وَاحِدَةً عَادَةً ځکه چي ځيني وخت په يوه وار پر ټوله قرض قبضه کول عادتاً مشکل وي فَيَصِيرُ هٰذَا الْقَدْرُ مُسْتَثْنًى عَنْهُ نو د تفريق دا مقدار به له هغه څخه مستثنیٰ ګرځي وَمَنْ قَالَ: إِنْ كَانَ لِي إِلَّا مِائَةُ دِرْهَمٍ فَامْرَأَتُهُ طَالِقٌ او څوک چي ووايي: که له سلو دراهمو څخه بغير زما سره نور څه وي ايعني که زما سره تر سلو زيات دراهم وي] نو زما ښځه طلاقه ده فَلَا يَمْلِكُ إِلَّا خَمْسِينَ دِرْهَمًا [لېکن] هغه فقط د پنځوسو درهمو مالک وي ايعني د هغه په ملکيت کي فقط پنځوس درهمه وي] لَمْ يَحْنَثْ نو نه حانث

کیږي ایمني د هغه پر ښځې طلاق نه واقع کیږي] لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْهُ عُرْفًا نَفْيُ مَا زَادَ عَلَى الْبِائَةِ ځکه چې په عرف کې له دې څخه مقصود تر سلو د زیاتو درهمو نفي کول وي وَلِأَنَّ اسْتِثْنَاءَ الْبِائَةِ اسْتِثْنَاؤُهَا بِجَمِيعِ أَجْزَائِهَا او ځکه چې د سلو استثناء کول د سلو د ټولو اجزاؤ استثناء کول دي وَكَذٰلِكَ لَوْقَالَ غَيْرَ مِائَةٍ أَوْ سِوٰى مِائَةٍ او همدارنګه که حالف غَيْرَ مِائَةٍ یا سِوىٰ مِائَةٍ ووایي [نو نه حانث کیږي، او پر ښځې یې طلاق نه واقع کیږي] لِأَنَّ كُلَّ ذٰلِكَ أَدَاةُ الِاسْتِثْنَاءِ ځکه چې دا ټوله د استثناء حروف دي.

اللغات: ﴿مُتَفَرِّقًا﴾ جلا جلا، په متفرّقه توګه، په جلا جلا توګه، ﴿يَتَعَذَّرُ﴾ د تفعّل مضارع ده: مشکل کېدل (سختېدل)، ناممکن کېدل.

تشریح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بیان سوي دي:

(۱)... که یو سړی قسم واخلي چې زه به خپل قرض په لږ لږ او په یوه یوه دراهم سره نه قبضه کوم، بلکې ټوله به پر یوه ځای قبضه کوم، بیا هغه د قرض پر څه حصې مثلاً له زرو درهمو څخه پر دوو سوو درهمو قبضه وکړي، نو فقط د دوو سو درهمو په قبضه کولو سره دا حالف نه حانث کیږي؛ تر دې چې پر ټوله قرض په دې توګه په لږ لږ سره قبضه نه وکړي؛ ځکه چې شرط دا دی چې هغه به پر ټوله قرض په لږ لږ او جلا جلا توګه سره قبضه کوي، او دلته هغه فقط د قرض پر معمولي او څه حصې قبضه کړې ده، نو ځکه به حالف نه حانث کیږي، او بیا چې کله حالف قبضه د معلوم قرض یعني د خپل قرض وطرف مضاف او منسوب کړی، نو ښکاره خبره ده چې فقط پر ټوله قرض باندې په قبضه کولو سره د هغه قسم پوره کیږي، نو ځکه به هغه د قرض د معمولي حصې په قبضه کولو سره نه حانث کیږي.

او که چیرې قرض یو وزني (مأزون) شی وي، او حالف په دوو وارو سره هغه وزن وکړي او قبضه پر وکړي، او په دواړو وارو کې فقط د وزن په کار مشغول وي، له وزن څخه بغیر په یو بل کار مشغول نه سي، نو هم نه حانث کیږي، ځکه چې کله نا کله په یوه وار پر قرض قبضه کول مشکل وي، او پر هغه په متفرقه توګه او په څو واره وزن کولو سره قبضه کېدای سي، نو ځکه به دا تفریق له شرط څخه مستثنیٰ، او په دې متفرقه توګه قبضه کولو سره به حالف نه حانث کیږي.

(۲)... که یو سړي ووېل "که چیرې له سلو درهمو څخه بغیر زما سره نور درهم وي، نو زما ښځه پر ما طلاقه ده"، بیا چې کله د هغه تلاشي او پلټنه وسو، نو د هغه سره فقط پنځو درهمه موجود و، نو په دې صورت کې هغه نه حانث کیږي، یعني د هغه پر ښځې طلاق نه واقع کیږي، ځکه چې په عرف کې له داسې کلام او جملې څخه مقصود دا وي چې د هغه سره تر سلو زیات دراهم نه وي، او دلته د هغه ټوله شتمني او سرمایه پنځوس درهمه ده، او کله چې هغه د سلو استثناء کړې ده، نو په هغه کې د پنځوسو استثناء هم داخله ده (یعني د سلو پهاستثنا سره به د پنځوسو استثناء هم کیږي)، ځکه چې پنځوس د سلو جزء دی، او ښکاره خبره ده چې کله

د حالف په حق کې کُل معدوم او نيستي دی. نو جزء به هم معدوم وي. لهذا د پنځوسو دراهمو د مالک کېدلو په وجه به هغه نه حانث کيږي.

وکذلک الخ: فرمايي د إِنْ كَانَ لِيْ إِلَّا مَائَةَ دِرْهَمٍ د وېلو چي کوم حکم دی هم، هغه حکم د إِنْ كَانَ لِيْ غَيْرَ مِائَةٍ او سِوىٰ مِائَةٍ د وېلو هم دی. ځکه چي د إِلَّا په شان غَيْر او سِوىٰ هم د استثناء حروف دي.

د يو کار نه کولو يا کولو په هکله د مطلق قسم اخيستلو بيان

مَسَائِلُ مُتَفَرِّقَةٌ بېلا بېلي مسئلې وَإِذَا حَلَفَ لَا يَفْعَلُ كَذَا تَرَكَهُ أَبَدًا او کله چي [يو څوک] قسم واخلي چي دا کار به نه کوي نو هغې دي د همېشه لپاره هغه کار پرېږدي لِأَنَّهُ نَفَى الْعَامَّ مُطْلَقًا ځکه چي هغه مطلقاً د عام نفي وکړي فَعَمَّ الِامْتِنَاعُ ضَرُورَةَ عُمُومِ النَّفْيِ لهذا د نفي د عامولي په وجه به إمتناع هم عامه وي وَإِنْ حَلَفَ لَيَفْعَلَنَّ كَذَا او که قسم واخلي چي دا کار به خامخا کوي فَفَعَلَهُ مَرَّةً وَاحِدَةً بيا حالف هغه کار يو وار وکړي بَرَّ فِي يَمِينِهِ نو هغه په قسم کې بري کيږي [او د قسم پوره کونکی ګرځي] لِأَنَّ الْمُلْتَزَمَ فِعْلٌ وَاحِدٌ غَيْرُ عَيْنٍ ځکه هغه چي کوم کار پر ځان لازم کړی هغه په غير متعينه توګه يو وار د کار کول دي إِذِ الْمَقَامُ مَقَامُ الْإِثْبَاتِ ځکه چي دا ځای د إثبات ځای دی فَيَبَرُّ بِأَيِّ فِعْلٍ فَعَلَهُ لهذا کوم کار چي هغه [يو وار] وکړي نو بري کيږي به وَإِنَّمَا يَحْنَثُ بِوُقُوعِ الْيَأْسِ عَنْهُ او [فقط] هغه وخت به حانث کيږي کله چي له هغه کار څخه [د ده] نا اُميدي واقع سي وَذَٰلِكَ بِمَوْتِهِ أَوْ بِفَوْتِ مَحَلِّ الْفِعْلِ او دا نا اُميدي خو يا د ده په مرګ سره واقع کيږي او يا د کار د محل په فوتېدلو سره واقع کيږي وَإِذَا اسْتَحْلَفَ الْوَالِي رَجُلًا لِيُعْلِمَنَّهُ بِكُلِّ دَاعِرٍ دَخَلَ الْبَلَدَ او کله چي حاکم له يو سړي څخه قسم واخلي چي هغه به د هر هغه شرپسند [بدکاره] اطلاع حاکم ته ورکوي کوم چي دې ښار ته داخل سي فَهَذَا عَلَى حَالِ وِلَايَتِهِ خَاصَّةً نو دا قسم به [فقط] د هغه د ولايت [او حکومت] د وخت سره متعلق وي لِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْهُ دَفْعُ شَرِّهِ أَوْ شَرِّ غَيْرِهِ بِزَجْرِهِ ځکه چي له دې [قسم] څخه د حاکم [مقصود دا دی چي په خپل زجر [اغندلو] سره د شرپسند کس يا د نورو شرپسندانو [بدکارانو] شر ختم کړي فَلَا يُفِيدُ فَائِدَتَهُ بَعْدَ زَوَالِ سَلْطَنَتِهِ او ښکاره خبره ده چي [د حاکم تر حکومت ختمېدلو سره دا زجر [اغندل] هيڅ فايده نه کوي وَالزَّوَالُ بِالْمَوْتِ وَكَذَا بِالْعَزْلِ فِي ظَاهِرِ

الرِّوَايَةِ او [د هغه] حکومت [د هغه] په مرګ سره ختميږي او همدارنګه په ظاهر روايت کي د هغه په معزوله کېدلو سره [هم ختميږي].

اللغات: ﴿بَرَّ﴾ د ضرب او سمع ماضي ده: قسم پوره کول، له قسم څخه بري کېدل. ﴿مُلْتَزَم﴾ د افتعال اسم مفعول دی: پر خپل ځان لازم کړی سوی شی او کار. ﴿يَأْس﴾ نا اُميدي. ﴿دَاعِر﴾ بدکاره، فسادي (پساتي). شر پسند. ﴿زَجْر﴾ د نصر مصدر دی: غندل، رټل (ترټل)، ځورول، دمکي ورکول. ﴿عَزْل﴾ د ضرب مصدر دی: معزوله کول، له منصب څخه ليري کول (ګوښه کول)، برطرفه کول.

تشريح: په دې عبارت کي درې مسئلې بيان سوي دي:

(۱) که يو سړی قسم واخلي چي "په الله قسم هيڅکله به چاى نه چيښم"، نو اوس پر هغه لازم دي چي د همېشه لپاره چاى پرېږدي، ځکه چي هغه مطلقاً د چاى چيښلو نفي کړې دي، او مطلق نفي د عموم تقاضا کوي، نو ځکه به هغه د همېشه لپاره د چاى له خوند څخه محروموي، او که هغه چاى وچيښي، نو د قسم کفاره به اداء کوي.

(۲)... که يو سړی قسم واخلي چي "په الله قسم! زه به خامخا پر دغه مسئله (جاى نماز) لمونځ کوم". نو که چيري هغه يو وار پر هغه مسئلې باندي لمونځ وکړي، نو له قسم څخه بري کيږي، ځکه چي هغه په غيرِ متعينه توګه لمونځ کول پر ځان لازم کړي دي، او څرنګه چي په داسي قسم کي إثبات مطلوب دی يعني "کول" (لمونځ کول)، نو ځکه فقط يو وار د لمانځه په إثبات (کولو) سره هم حالف له خپل قسم څخه بري کيږي، او تر هغه وخته پوري دا حالف نه حانث کيږي، تر څو چي هغه د لمونځ کولو څخه مايوس او نا اُميده نه سي، او دغه نا اُميدي خو يا د هغه په مرګ سره ثابتيږي، يا د دغه مسئلې په نيستېدلو (او غائبېدلو) سره ثابتيږي، لېکن تر څو چي دا دواړه شيان قائم او باقي وي، تر هغه وخته پوري دا حالف نه حانث کيږي.

(۳)... که د وخت حاکم (واکمن) له يو سړي څخه قسم واخلي چي "ته قسم واخله! که چيري زموږ ملک ته شر پسند يا دهشتګر داخل سي، نو موږ ته به خامخا د هغه اطلاع راکوې"، او دغه سړی په قسم سره د اطلاع ورکولو وعده وکړي، نو دا قسم تر هغه وخته پوري باقي او مؤثر پاتيږي، تر څو چي د هغه حاکم حکومت باقي وي؛ ځکه چي دلته د قسم اخيستلو فايده او مقصد دا دی چي حاکم هغه شرپسند او دهشتګر ورتهي او هغه ته زجر او شکنجه ورکړي چي د هغه شر ليري سي، او هغه له خپل غلط حرکت او کاروايي څخه منع سي، او چي هغه ته په کتلو سره د ملک نور دهشتګران هم عبرت واخلي او له ناوړه حرکتونو او حملو څخه منع سي، او ښکاره خبره ده چي دا مقصد او فايده هغه وخت حاصليږي کله چي د دغه مذکوره حاکم حکومت باقي وي، نو ځکه به دا قسم د هغه د حکومت تر بقاء پوري مؤثر او باقي وي، او څرنګه چي د حکومت تر زوال او نړېدلو وروسته د زجر او توبيخ هيڅ فايده نسته، نو ځکه به د حکومت او سلطنت تر زوال وروسته قسم باقي نه پاتيږي، او د حکومت زوال خو يا د دې حاکم په مرګ سره ثابتيږي، يا هغه وخت ثابتيږي کله چي دا حاکم له خپل منصب څخه ليري او معزول سي، او د هغه پر ځاى بل حاکم راسي.

د يو شي د هديه کولو په هکله د قسم اخيستلو بيان

وَمَنْ حَلَفَ أَنْ يَهَبَ عَبْدَهُ لِفُلَانٍ او څوک چي قسم واخلي چي هغه به فلانکي ته خپل غلام هديه کوي [په تحفه کي ورکوي] فَوَهَبَهُ وَلَمْ يَقْبَلْ بيا هغه وفلانکي ته غلام هديه کړي [لېکن] فلانکي دا غلام قبول نه کړي بَرَّ فِي يَمِينِهِ نو حالف په خپل قسم کي بري کيږي [ځکه چي هغه خو خپل قسم پوره کړی او غلام يې هبه کړی. نور قبلول او نه قبلول د موهوب لهٔ کار دی] خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله [يعني په دې مسئله کي د امام زفر رَحِمَهُ الله اختلاف دی] فَإِنَّهُ يَعْتَبِرُهُ بِالْبَيْعِ هغه هديه [هبه] پر بيع قياسوي لِأَنَّهُ تَمْلِيكٌ مِثْلُهُ ځکه چي د بيع په شير هبه هم تمليک ده [امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي څرنګه په بيع کي د بائع او مشتري دواړو په قبول سره بائع له بيع څخه بري کيږي، همداسي به په هبه کي د موهوب لهٔ په قبول سره واهب بري کيږي. لهذا کله چي موهوب لهٔ هبه قبوله نه کړي، نو حالف به حانث کيږي] وَلَنَا: أَنَّهُ عَقْدُ تَبَرُّعٍ او زموږ دليل دا دی: چي هبه د يو إحسان عقد دی فَيَتِمُّ بِالْمُتَبَرِّعِ نو ځکه به د احسان کونکي له طرفه هبه پوره کيږي [يعني کله چي محض احسان کونکی يو شی هبه کړي، نو په دې سره به هبه پوره کيږي] وَلِهَذَا يُقَالُ: وَهَبَ وَلَمْ يَقْبَلْ له همدې کبله ويل کيږي چي يوه سړي خپل شی هبه کړی [لېکن] هغه بل قبول نه کړی وَلِأَنَّ الْمَقْصُودَ إِظْهَارُ السَّمَاحَةِ او ځکه چي هبه د سخاوت څرګندول دي وَذَلِكَ يَتِمُّ بِهِ او دا [د سخاوت څرګندول] محض په هبه کولو سره پوره کيږي [زموږ د دليل حاصل دا دی چي دلته د هبه کولو مقصد إحسان کول دي، او حالف خو إحسان وکړی نو ځکه د هغه له طرفه هبه پوره سوه. دويم دليل دا دی چي دلته د هبې مقصد د سخاوت ښکاره کول دي، او حالف خو سخاوت ښکاره کړی. لهذا قسم پوره سو. نو ځکه به حالف نه حانث کيږي] أَمَّا الْبَيْعُ فَمُعَاوَضَةٌ او کوم چي بيع ده، نو هغه خو د معاوضې عقد دی فَاقْتَضَى الْفِعْلَ مِنَ الْجَانِبَيْنِ نو ځکه هغه له دواړو طرفونو څخه د فعل تقاضا کوي [أَمَّا الْبَيْعُ په دې جمله سره امام زفر ته جواب ورکوي چي بيع معاوضه ده يعني مشتري بائع ته عوض (ثمن) ورکوي او بائع هغه ته عوض (مبيع) ورکوي، نو په دې وجه په بيع کي له دواړو طرفونو څخه د قبول کولو ضرورت سته. لېکن هبه معاوضه نه ده. نو ځکه به په هبه کي د موهوب لهٔ قبول کولو ته هيڅ ضرورت نه وي] وَمَنْ حَلَفَ لَا يَشَمُّ رَيْحَانًا [او څوک چي قسم واخلي چي هغه به ريحان نه بويوي فَشَمَّ وَرْدًا أَوْ يَاسَمِينًا بيا ګلاب يا چمبلی بوی وکړي لَا يَحْنَثُ نو نه حانث کيږي لِأَنَّهُ اسْمٌ لِمَا لَا سَاقَ لَهُ ځکه چي ريحان هغه ګياه [او نبات]

ته وايي كوم چي تنه نه لري وَلَهُمَا سَاقٌ حال دا چي ګلاب او چمبېلي تنه لري وَلَوْحَلَفَ لَا يَشْتَرِي بَنَفْسَجًا او كه [يو څوك] قسم واخلي چي ګلِ بنفشه به نه رانيسي وَلَا نِيَّةَ لَهُ او [په هغه وخت كي] د ده هيڅ نيت نه وي فَهُوَعَلَى دُهْنِهِ اِعْتِبَارًا لِلْعُرْفِ نو د عرف په اعتبار كولو سره به دا قسم د بنفشې د روغنو سره متعلق وي وَلِهٰذَا يُسَمّٰى بَائِعُهُ بَائِعَ الْبَنَفْسَجِ همدا وجه ده چي د بنفشې د روغنو خرڅونكي ته "بَائِعُ البَنَفْسَج" [د بنفشې خرڅونكى] وايي وَالشِّرَاءُ يَبْتَنِي عَلَيْهِ او رانيول پر بيع مبني كيږي وَقِيلَ: فِي عُرْفِنَا يَقَعُ عَلَى الْوَرَقِ او ويل سوي دي چي زموږ په عرف كي به دا قسم د بنفشې پر پاڼو واقع كيږي وَإِنْ حَلَفَ عَلَى الْوَرْدِ او كه [يو څوك] د ګلاب په هكله قسم واخلي فَالْيَمِينُ عَلَى الْوَرَقِ نو [د هغه] قسم به د ګلاب د پاڼو سره متعلق وي لِأَنَّهُ حَقِيقَةٌ فِيهِ ځكه چي د "وَرْد" لفظ د پاڼو لپاره حقيقت دى وَالْعُرْفُ مُقَرِّرٌ لَهُ او عرف هم د دغه معنىٰ لپاره ثابتونكى دى وَفِي الْبَنَفْسَجِ قَاضٍ عَلَيْهِ او همدا عرف [د بنفشې په باره كي فيصله مند [او حاكم] دى.

اللغات: ﴿يَهَبُ﴾ د فتح مضارع ده: هبه كول. هديه كول. په تحفه كي وركول. ډالۍ كول. ﴿إِظْهَارٌ﴾ د افعال مصدر دى: ښكاره كول. څرګندول. ﴿تَبَرُّعٌ﴾ د تفعّل مصدر دى: إحسان كول. صدقه كول (خيرات كول). بېله عوضه يو شى وركول. ﴿تَمْلِيكٌ﴾ مالک جوړول. ﴿سَمَاحَةٌ﴾ سخاوت. فياضي. ﴿لَا يَشُمُّ﴾ د نصر له باب څخه د نفي صيغه ده: بوېول. بوى كول. ﴿رَيْحَانٌ﴾ دا لفظ چي كله په عربي كي مطلق ذكر سي نو معنىٰ يې دا ده: هره شنه او خوشبويه ګياه (نبات). دلته يې همدغه معنىٰ مراد ده. ﴿وَرْدٌ﴾ ګلاب. ګل ګلاب (مشهوره ګل دى). ﴿يَاسَمِينٌ﴾ چمبېلي. چمبيل. دا هم يو مشهوره ګل دى چي ژړ او سپين ګلان كوي او ښه بوى لري. ﴿سَاقٌ﴾ تنه. ډډ. ﴿دُهْنٌ﴾ تېل. روغن. ﴿مُقَرِّرٌ﴾ د تفعيل اسم فاعل دى: ثابتونكى.

تشريح: په دې عبارت كي څلور مسئلې بيان سوي دي، اوله مسئله د ترجمې په ضمن كي تشريح سوه.

ومن حلف لا يشم ريحانا: (٢)... دويمه مسئله دا ده كه يو څوك قسم واخلي چي زه به ريحان نه بويوم (يعني زه به هره هغه ګياه نه بويوم كوم چي خوشبويه وي). بيا هغه ګلاب يا چمبېلي بوى كړي، نو نه حانث كيږي. ځكه چي ريحان (په عربي كي) هغه ګياه او هغه ګلانو ته وايي كوم چي تنه

نه لري (بلکې محض د تار په څير تنه لري چې هغه ته په عرف کې تنه نه ويل کېږي. او د ګلاب بوټي او د چمبېلي بوټي تنه لري. نو ځکه به د دې په نوبولو سره حالف نه حانث کېږي.

ولوحلف لايشترى إلخ: (۳)... دريمه مسئله دا ده که يو څوک قسم واخلي چې ګل بنفشه به نه رانيسم. او د قسم اخيستلو په وخت کې د هغه هيڅ نيت نه وي يعني د هغه په نيت کې د ګل بنفشه روغن يا د هغه پاڼې نه وي. نو د عرف او رواج په اعتبار کولو سره به د هغه دا قسم د ګل بنفشې د روغنو سره متعلق وي. همدا وجه ده چې په عرف کې د ګل بنفشې د روغنو خرڅونکي ته د ګل بنفشه خرڅونکی (بائعُ البنفسج) وايي. او شراء پر بيع مبني ده. لهذا کوم عرف چې په بيع کې وي، هغه عرف به شراء کې هم وايي (يعني څرنګه چې په عرف کې د بيع په صورت کې له ګل بنفشه څخه د هغه روغن مراديږي، همداسې به د شراء په صورت کې هم د عرف اعتبار کيږي او د ګل بنفشه د رانيولو قسم به د هغه د روغنو سره متعلق کيږي. ځکه چې شراء پر بيع مبني ده). او يو قول دا دی چې زموږ په عرف (يعني د مصنف رَحِمَهُ الله د زمانې په عرف) کې به دا قسم د ګل بنفشې د پاڼو سره متعلق وي، خو زموږ په عرف کې (يعني د ژباړن په عرف کې) له ګل بنفشې څخه د هغه ګلان مراديږي. نو ځکه به دا قسم د هغه سره متعلق وي.

وإن حلف على الورد إلخ: (۴)... څلورمه مسئله دا ده که يو څوک قسم واخلي چې زه به ګلاب نه رانيسم. نو دا قسم به د ګلاب د پاڼو سره متعلق وي؛ ځکه چې د "وَرْد" لفظ د وَرَق (پاڼو) لپاره حقيقت دی. او د عربو په عرف کې هم "وَرْد" د ګلاب پاڼو ته وايي. نو ځکه به همدغه معنیٰ ځني مراديږي. ليکن له بنفشې څخه په عرف کې د هغه روغن مراديږي. نو په دې وجه هلته عرف پر حقيقت (يعني د بنفشې پر ګل) باندې حاکم او غالب دی. خو زموږ په اوسنی زمانې کې به له هغه څخه ګل بنفشه مراديږي. والله أعلم وعلمهُ أتم

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ، وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَأَهْلِ بَيْتِهٖ وَعِتْرَتِهٖ أَجْمَعِيْنَ، بِرَحْمَتِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ. آمين

